مظاهر حق

د مشکوٰة المصابیح پښتو شرحه

تالیف

علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوی رحمه الله

تزئین او ترتیب

مولانا عبدالله جاوید غازی پوری (فاضل دار العلوم دیوبند)

لسم جلد ۱۰

ځانګړتیاوې

۱. حدیثونه د اعراب سره
۲. تحت لفظي ترجمه
۳. حدیثونو تخریج
۴. دلغاتو حل

مباحث

کتاب الفضائل والشمائل
کتاب المناقب
اسماء الرجال

صداقت کتب خانه
ارگ بازار کندهار

مظاهر حق جدید

د مشکوه المصابیح پښتو شرحه

لسم جلد

۱۰

تالیف

علامه نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمه الله علیه

تزئین اوترتیب

مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دارالعلوم دیوبند)

ځانګړتیاوي

۱: حدیثونه د اعراب سره.

۲: تحت لفظي ترجمه.

۳: د حدیثونو تخریج.

٤: د لغاتو حل.

مباحث

کتاب الفضائل والشمائل

کتاب المناقب

اسماء الرجال

صداقت کتب خانه

بسم الله الرحمن الرحيم

(د مشکٰوة المصابیح پښتو شرحه)

مظاهر حق

تالیف: نواب محمدقطب الدين خان دهلوي رحمة الله عليه

ترتیب او تزئین: مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دیوبند)

خپرندوی: صداقت خپرندویه ټولنه

پښتو ژباړه: محمد رسول سعید

تصحیح کوونکي: بسم الله رحيمي، مولوي عبدالکریم کریمي، مولوي عبدالجبار

لومړی چاپ: ۱۳۹۲ش - ۲۰۱٤ ع.

پنځم چاپ: ۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.

د خپرونو لړ: ۱۸۳

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځایونه:

صداقت خپرندویه ټولنه-کندهار

اوله ناحیه، نوی سړک- کریم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه- ارگ بازار- قلم او کتاب مارکېټ **۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴** .

کابل: صداقت خپرندویه ټولنه،کوټه سنگي مینه یار مارکېټ او **اکسوس کتاب پلورنځی**. **هلمند**: تاج منور خپرندویه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه گدام. **جلال آباد:** مومند خپرندویه ټولنه.ننگرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د مظاهر حق لسم جلد فهرست

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بَابُ الْكَرَامَاتِ

(د کرامت بیان)

د کرامت تعریف : کرامات د کرامت جمع ده چي د اکرم او تکریم اسم دی، دد غه لفظ لغوي معنی د عزتمند کېدو او سخي کېدو ده، مګر په اصطلاحي توګه کرامت هغه خارق العادة (د عادت خلاف) کار ته وايي چي د نېک مؤمن په لاس څرګندېږي، مګر هغه نه د نبوت په دعوه وي او نه د هغه مقصد د کفارو معارضه او مقابله وي ځکه چي کوم خارق العادة کار د نبوت سره وي او د کفارو د معارضې او مقابلې لپاره وي نو هغه ته معجزه وايي ، اهل سنت د کرامت اقرار کوونکي او ویونکي دي ، او معتزله له دې څخه انکار کوي .

د کرامت اثبات : اهل حق (یعني ټول اهل سنت والجماعت) پر دې خبره متفق دي چي د ولي څخه د کرامت څرګندېدل یو حقیقي شی دی، ولي الله هغه نېک بنده ته وايي چي د الله ﷻ د ذات او صفاتو د توان سره سم بشري عرفان ولري، پر طاعت (یعني نېکۍ کولو) او منهیات (یعني د بدۍ پرېښودو) باندي قائم او دائم وي، په دنیوي خوندونو او خواهشاتو کي بوخت نه وي، د سنت په پیروۍ او تقوا کي کامل وي ، د اولیاء د کرامتونو د ظهور او وقوع اثبات عقلا ناممکن نه دی چي د الله ﷻ په نزد هیڅ شی مشکل او بعید الزمان نه دی ، د هغه ذات چي څرنګه دخپلو پیغمبرانو په ذریعه د معجزو ظهور کولای سي همدارنګه د خپل پیغمبر د رېښتونو پیروانو او نیکو مؤمنانو په لاس د کرامت ظهور هم کولای سي.

او کوم چي د نقلا اثبات تعلق دی نو په قرآن کریم او حدیثو دواړو کي د کرامت ثبوت په ډاګه مذکور دی، بیا صحابه کرام او له هغوی وروسته اولیاء الله څخه د صادرېدونکو کرامتونو روایتونه چي په کوم تسلسل سره منقول دي هغه د تواتر حد ته رسېدلي دي، او په قدر مشترک کي خو د تواتر معنی ددې درجې ده که په پاک ذهن او خلاص زړه سره وکتل سي نو په دې اړه هیڅ ته د شک او شبهې امکان نسي پاته کېدای، په خاصه توګه د ځینو اکابرو او مشائخو طریقت لکه د حضرت سیدنا عبدالقادر جیلاني رحمه الله کرامتونه نه یوازي دا چي دومره زیات دي چي د هغو شمېر ناممکن دی بلکه هغوی دومره په تواتر سره منقول دي چي د هغوی څخه انکار یوازي د عقل دښمن کولای سي، د هغه د زمانې د ځینو مشائخو دا قول

منقول دی چي د سيدنا عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه كرامتونه د مروارېد په ډول وه چي پرله پسې
به صادرېدل ، كله به خپله د هغه په ذات كي څرګندېدل او كله به د هغه د ذات څخه څرګندېدل.

د كرامت صدور اختياري هم وي او غير اختياري هم وي:

ځينو حضراتو دا ليكلي دي چي د ولي څخه هيڅ كرامت د هغه په قصد او اختيار سره نه
صادرېږي بلكه بېله قصده او اختياره صادرېږي، همدارنګه د ځينو حضراتو قول دادی چي
كرامت د معجزې د جنس څخه دی يعني كوم شيان چي د معجزې په توګه څرګند سوي دي لكه د
لږ خوراك زياتوب، د ګوتو څخه داوبو بهېدل او داسي نور، هغه د كرامت په توګه نه څرګندېږي مګر په
دې اړه تحقيقي قول دادی چي كرامت په قصد او اختيار سره هم صادرېږي او بېله قصده او اختياره هم،
همدارنګه د كرامت ظهور د هغه شيانو په صورت كي هم كيدای سي چي د معجزې په توګه څرګند
سوي دي او د دې څخه پرته په نورو صورتو كي هم كيدای سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د دوو صحابه كرامو كرامت

﴿۵۶۹۲﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أُسَيْدَ بْنَ حُضَيْرٍ وَعَبَّادَ بْنَ بِشْرٍ تَحَدَّثَا عِنْدَ النَّبِيِّ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي اسيد بن حضير او عباد بن بشر د شپې تر ډېره وخته

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَاجَةٍ لَّهُمَا حَتَّى ذَهَبَ مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةٌ فِيْ لَيْلَةٍ شَدِيْدَةِ

پوري د خپل يو حاجت په اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره خبري كولې، تر هغو چي شپه ډېره

الظُّلْمَةِ ثُمَّ خَرَجَا مِنْ عِنْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْقَلِبَانِ وَبِيَدِ

تاريكه سوه بيا دواړه خپلو خپلو كورونو ته روان سول د دواړو په لاسونو كي كوچنۍ

كُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا عُصَيَّةٌ فَأَضَاءَتْ عَصٰى أَحَدِهِمَا لَهُمَا حَتّٰى مَشَيَا فِيْ ضَوْئِهَا

لكړي وې په هغه دواړو كي د يوه لكړه روښانه سوه او بيا دواړو ته لاره صفا معلوميدل ،

حَتّٰى إِذَا افْتَرَقَتْ بِهِمَا الطَّرِيْقُ أَضَاءَتْ لِلْآخَرِ عَصَاهُ فَمَشٰى كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا فِيْ
ضَوْءِ عَصَاهُ حَتّٰى بَلَغَ أَهْلَهُ. رواه البخاري.

بيا چي د دواړو لارجلا سوه نو د دويم لکړي هم رڼا شروع کړه او هر يو د خپلي لکړي په رڼا کي خپل خپل کور ته ورسيدی . بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\ ۱۲۴، رقم: ۳۸۰۵.

تشريح د بخاري په يو بل روايت کي دا الفاظ دي: هغه دواړه صحابه کرام په سخته تياره شپه کي د رسول الله ﷺ څخه ولاړ سول او دباندي ووتل، نو هغه داسي پيښبه سول لکه د هغوی دواړو سره چي دوه څراغونه وي چي د هغوی د لاري په ځلانده کولو سره ورسره روان وه، بيا کله چي هغه صحابه کرام خپل ځای ته ورسېدل او د يو بل څخه بېل سول نو يو يو څراغ له هر يوه سره روان سو تر دې چي هغه دواړه خپلو خپلو کورو ته ورسېدل .

څه چي يې وويل هغه وسول

﴿۵۶۹۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا حَضَرَ أُحُدٌ دَعَانِي أَبِي مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ مَا أُرَانِي

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله د احد غزا پيښبه سول نو زما پلار يوه شپه زه را وغوښتلم او وه يې ويل : زما خيال دی چي

إِلَّا مَقْتُولًا فِي أَوَّلِ مَنْ يُقْتَلُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنِّي لَا

د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کي تر ټولو لومړنی مقتول (شهيد) زه يم ،

أَتْرُكُ بَعْدِي أَعَزَّ عَلَيَّ مِنْكَ غَيْرَ نَفْسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنَّ

د رسول الله ﷺ څخه وروسته ته ما ته تر هر چا ګران يې

عَلَيَّ دَيْنًا فَاقْضِ وَاسْتَوْصِ بِأَخَوَاتِكَ خَيْرًا فَأَصْبَحْنَا فَكَانَ أَوَّلَ قَتِيلٍ وَدَفَنْتُهُ مَعَ آخَرَ فِي قَبْرٍ. رواه البخاري.

پر ما چي کوم پور دی هغه ادا کړه او د خپلو خويندو سره نيک چلن کوه سبا چي جنګ شروع سو نو تر ټولو مخکي زما پلار شهيد سو او ما هغه د يو بل سړي سره په قبر کي ښخ کړ . بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۱۴، رقم: ۱۳۵۱.

تشريح د أحد د غزا د شهيدانو د ښخولو په اړه رسول الله ﷺ ته حکم سوی وو چي دوه دوه په يوه قبر کي ښخ کړل سي، نو حضرت جابر رضي الله عنه خپل پلار د يو بل شهيد سره په يوه قبر کي ښخ کړ،

او هغه دوهم شهید حضرت عمرو بن الجموع رضی اللہ عنہ وو، چي د حضرت جابر رضی اللہ عنہ د پلار ملگری هم وو او د هغه اخښی (د خور خاوند) هم وو، ددغه حدیث څخه معلومه سول چي د ضرورت په وخت کي په یوه قبر کي دوه کسان ښخول جائز دي.

په خوراک کي زیاتوب

《۵۶۹۴》: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ قَالَ انَّ أَصْحَابَ الصُّفَّةِ كَانُوا أُنَاسًا

د حضرت عبدالرحمن بن ابوبکر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي اصحاب صفه

فُقَرَاءَ وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ طَعَامُ اثْنَيْنِ فَلْيَذْهَبْ

مفلس او فقیر خلک وه، یوه ورځ رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمایل: د کوم چا سره چي د دوو کسانو خوراک وي هغه دي

بِثَالِثٍ ومن كان عنده طعام اربعة فليذهب بِخَامس أَوْ سَادِسٌ وَأَنَّ أَبَا بَكْرٍ

دریم سړی د ځان سره بوځي او د چا سره چي د څلورو کسانو خوراک وي هغه دي پنځم بوځي او که تر دې زیات وي شپږم دي بوځي، نو ابوبکر رضی اللہ عنہ

جَاءَ بِثَلَاثَةٍ فَانْطَلَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَشَرَةٍ وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ تَعَشَّى عِنْدَ

درې کسان بوتلل او رسول الله ﷺ لس کسان بوتلل، په دغه شپه ابوبکر رضی اللہ عنہ

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ لَبِثَ حتى صُلِّيَتْ الْعِشَاءُ ثُمَّ رَجَعَ فَلَبِثَ حَتَّى

د رسول الله ﷺ سره ډوډۍ وخوړل او د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وو تر څو چي د ماخستن لمونځ وسو بیا د لمانځه څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغوی کور ته راغلی

تَعَشَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ بَعْدَ مَا مَضَى مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ اللّٰهُ قَالَتْ

او تر څو پوري چي رسول الله ﷺ د شپې ډوډۍ نه خوړل تر هغو پوري حاضر وو بیا څه شپه تیریدو څخه وروسته خپل کور ته راغلی د هغه (یعني ابوبکر رضی اللہ عنہ) بي بي پوښتنه وکړه

لَهُ امْرَأَتُهُ وَمَا حَبَسَكَ عَنْ أَضْيَافِكَ او قَالَ أَوَمَا عَشَّيْتِيهِمْ قَالَتْ أَبَوْا حَتَّى

ته خپلو میلمنو ته ولي نه راغلې، ابوبکر رضی اللہ عنہ ورته وویل ایا تا تر اوسه پوري په دوی ډوډۍ نه

ده خوړلې، بي بي ورته وویل دوی تر هغه وخته پورې د خوراک څخه انکار وکړ تر څو پورې چې

تَجِيءَ فغضبه وقال والله لااطعمه ابدا فحلفت المراة ان لا تطعمه وخلف

ته رانه سې، ابوبکر رضی الله عنه په قهر سره وویل قسم په خدای زه به دا ډوډۍ هیڅکله ونه خورم، د هغه ښځې هم قسم وخوړی چې هغه به هم دا ډوډۍ نه خوري

الاضياف ان لايطعموه قال ابوبكر كان هذا من شيطان فدعا بالطعام فاكل و

او میلمنو هم قسم وخوړی چې هغوی به هم دا ډوډۍ نه خوري، ددې څخه وروسته ابوبکر رضی الله عنه وویل زما غصه کیدل او قسم خوړل د شیطان د لوري څخه دي، ددې ویلو سره هغه ډوډۍ

اكلوا فجعلوا لايرفعون لقمة الا ربت من اسفلها اكثر منها فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ يَا

وغوښتل او د ټولو سره یې ډوډۍ وخوړل او مېلمنو هم وخوړل دوی چې به کومه ګوله د لوښي څخه را پورته کول نو د لوښي دومره ځای به نه خالي کیدی څومره چې به د لاندي خوا څخه ډکیدی، ابوبکر رضی الله عنه خپلي ښځي ته وویل

أُخْتَ بَنِي فِرَاسٍ مَا هَذَا قَالَتْ وَقُرَّةِ عَيْنِي انها الْآنَ لَأَكْثَرُ مِنْهَا قَبْلَ ذَلِكَ

اې د بنو فراس خور! دا څه معامله ده؟ هغې ورته وویل د خپلو سترګو د یخوالي قسم دا خوراک خو د مخکې څخه زیات سو

بِثَلَاثِ مرارًا فَأَكَلُوا وَبَعَثَ بِهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذُكِرَ أَنَّهُ أَكَلَ

درې چنده زیات، غرض دا چې ټولو ډوډۍ وخوړل او بیا هغه لوښی یې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ور ولیږی، ویل کیږي چې د هغه لوښي څخه نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم وخوړل،

مِنْهَا .متفق عليه وذكر حديث عبدالله بن مسعود كنا نسمع تسبيح الطعام في المعجزات.

بخاري او مسلم او د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه حدیث چې موږ به د خوراک تسبیح اوریدل په المعجزات کې تیر سوی دی.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٨٧، رقم: ٣٥٨١، ومسلم ١٣\١٦٢٨، رقم: ١٧٦-٢٠٥٧.

تشریح: د نبي کریم ﷺ په زمانه کي د مسجد نبوي سره متصل او د نبوي حجرې شمال خوا ته واقع یوه منا وه چي هغه ته یې صفه ویل، کومو غریبو او مفلسو مهاجرو صحابه کرامو چي کور نه درلودی او نه یې کورنۍ وه نو هغوی په دغه منا کي شپه تېرول، په دغه نسبت سره هغوی ته اصحاب صفه وویل سول، دغه صحابه کرامو ته د مسلمانانو مېلمانه هم ویل کېدل ځکه چي دهغوی د فقر او مفلسۍ په وجه دهغوی د خوراک او څښاک بندوبست عامو مسلمانانو د خپل توان سره سم کوی او یوازي پر اخلاقي او انساني بنیاد باندي د هغوی د مېلمستیا فریضه یې ادا کول، کوم خلک چي به ړ دباندي څخه مدینې ته راتلل که چیري په مدینه کي به د هغوی یو قریب وو نو له هغه سره به پاته کېدی کنه نو دغه صفه به د هغوی هستوګن ځای وو، مشهور صحابه کرام ابوذر غفاري رضی الله عنه، عمار ابن یاسر رضی الله عنه، سلمان فارسي رضی الله عنه، صهیب رضی الله عنه، ابو هریره رضی الله عنه، خباب ابن ارت رضی الله عنه، حذیفه بن الیمان رضی الله عنه، ابو سعید خدري رضی الله عنه، بشیر بن انحصاصیه رضی الله عنه، او د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام ابو مویهبه رضی الله عنه له اصحاب صفه څخه دي.

یا دي شپږم کس هم بوځي، دا حکم ددې لپاره وو چي د چا په کور کي د هغه د کورنۍ د څلورو کسانو خوراک موجود وي او هغه دا ګڼي چي هغه خوراک د پنځو کسانو لوږه دفع کولای سي نو د ځان سره دي پنځم سړی یعني د اصحاب صفه څخه دي یو سړی بوځي او که هغه پوهېږي چي د څلورو کسانو خوراک دومره دی چي شپږم سړی هم په مړېږي نو بیا هغه دي د پنځم سره شپږم سړی هم یعني د اصحاب صفه څخه دوه کسان له ځان سره بوځي، په دغه صورت کي باید دا په ذهن کي وي چي دغه لفظ د او د شک ظاهرولو لپاره دی یعني د اصل حدیث برخه نه ده بلکه راوي ددغه لفظ په ذریعه د خپل شک اظهار کړی دی او یوه خبره دا هم کیدای سي چي د او لفظ په اصل کي د بل په معنی کي وي چي د مېلمستیا لپاره د مبالغې په توګه استعمالیږي، مطلب دا چي په دغه وخت کي رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي د کوم چا سره د څلورو کسانو خوراک وي نو هغه دي له ځان سره پنځم سړی بلکه شپږم سړی هم بوځي، ددغه وضاحت بنیاد هغه تناسب دی چي ارشاد نبوي، له کوم چا سره چي د دوو کسانو خوراک وي نو هغه دي دریم کس له ځان سره بوځي، څخه څرګندیږي، چي تقاضا یې داده چي د کوم چا سره د خپلي کورنۍ د څلورو کسانو خوراک وي نو هغه لره یو نه بلکه د دوو مېلمنو بېولو حکم ورکول کیدی بلکه احمد، مسلم، ترمذي او نسائي له حضرت جابر رضی الله عنه څخه مرفوعا دا روایت نقل کړی دی چي د یوه سړي خوراک د دوو لپاره کافي کیدای سي او د دوو کسانو خوراک د څلورو

لپاره کافي کيدای سي، او د ځلورو کسانو خوراک د اتو لپاره کافي کيدای سي.

او تر هغه وخته د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وو، تر څو چي نبي کريم ﷺ خوراک نه وو کړی، دغه جمله په ظاهره تکرار معلوميږي يعني رسول الله ﷺ ته د خوراک يادونه مخکي سوې وه او س بيا دلته د هغه په يادونه کولو سره واقعه بېرته بيانول مقصد دي مګر دا هم کيدای سي چي مخکي خو يوازي د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د خوراک ذکر سوی وي چي هغه په کور کي د خپلي لور بي بي عائشي رضي الله عنها سره په ناسته سره خوراک خوړلی وي او دلته د رسول الله ﷺ د خوراک ذکر دی چي رسول الله ﷺ د ماخستن د لمانځه وروسته يوازي يا د خپلو هغه مېلمنو سره خوراک وکړ کوم چي له اصحاب صفه څخه راوستل سوي وه.

هغوی خوراک وغوښتئ، او بيا ټولو خلکو خوراک وکړ، دلته دا سوال پيدا کيږي چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه خو مخکي د خوراک خوړلو څخه قسم وکړ او بيا يې خوراک وکړ، هغه د قسم خلاف ورزي ولي وکړل، ددې جواب دادی چي هغه په غصه کي قسم وکړ مګر کله چي بيا هغه ته پر خپله غصه باندي پښېماني وسول او د رسول الله ﷺ دغه ارشاد ته يې فکر سو که چيري يو څوک پر يوه خبره باندي قسم وکړي او بيا هغه کار کول ورته غوره ښکاره سي نو هغه ته پکار ده چي د قسم خلاف کار وکړي مګر د قسم کفاره دي ادا کړي نو هغه د قسم په ماتولو سره خوراک وکړ او د قسم ماتولو کفاره يې ورکړل.

اې د بنو فراس خور!، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په دغه وخت کي خپله ښځه د زيات حيرت څخه د هغې پلرنۍ قبيلې ته منسوب کړل او متوجه يې کړل، له کومي قبيلې سره چي د هغې پلرنی تعلق وو د هغه قبيلې نوم فراس وو.

د خپلو سترګو د يخوالي قسم: دا د ښځي والهانه انداز وو چي هغې خپل محبوب خاوند، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د حيرت څخه په ډک جواب کي اختيار کړ مګر دا خبره په هغه صورت کي ويل کيدای سي چي کله دا ومنل سي چي د سترګو د يخوالي څخه مراد حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وو ځکه چي ځينو حضراتو ويلي دي چي دلته د سترګو د يخوالي څخه د رسول الله ﷺ ذات مراد دی.

قرة العين: (د سترګو يخوالي) دا په اصل کي د عربو يوه محاوره ده چي په هغه سره د خپل محبوب ديدار او د هغه د ديدار څخه تر لاسه کېدونکي خوند او خوشحالي تعبير کيږي، د قره يا قر لفظ د قاف په پېښ او زور دواړو سره بېلي معناوي لري مګر دغه محاورتي اصطلاح (قرة العين) په دواړو معناوو کي صادقيږي، ځکه که چيري د قاء په پېښ سره وي نو معنی يې د

خنکي او يخوالي ده او د محبوب ديدار بېله شبهې سترګي يخوي، او که دغه لفظ د قاف په زور سره وي نو معنى يې د قرار ده او ظاهره ده چي کله محبوب مخته راسي نو سترګي کرار تر لاسه کړي او نظر د محبوب په مخ کي داسي درېږي چي بيا راسته او چپه خوا ته ګرځول يې ممکن نه دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د نجاشي پر قبر نور

﴿۵۶۹۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا مَاتَ النَّجَاشِيُّ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ لَا يَزَالُ يُرَى عَلَى قَبْرِهِ نُورٌ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عائشي ﷺ څخه روايت ديچي کله (د حبش پاچا) نجاشي مړ سو نو موږ په خپل منځ کي دا ډول خبري کولې چي د نجاشي پر قبر هميشه نور معلوميږي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۳\۳۴، رقم: ۲۵۲۳.

تشريح: د نجاشي څخه مراد د حبشې هغه پاچا دی چي د رسول الله ﷺ د نبوت په وخت کي د خپل هيواد پاچا وو، هغه مخکي د نصرانيت (عيسائيت) د دين پيروان وو او بيا په رسول الله ﷺ باندي په ايمان راوړلو سره پوخ مسلمان سوی وو، هغه د اسلام او مسلمانانو ستر خدمت وکړ او د رسول الله ﷺ په زړه کي يې لوړ ځای تر لاسه کړ، کله چي هغه په حبشه کي وفات سو او رسول الله ﷺ په خبر سو نو ډېر افسوس يې وکړ او له خپلو صحابه کرامو سره يې په مدينه کي د هغه غائبانه د جنازې لمونځ ورکړ، د هغه د وفات څخه وروسته بي بي عائشه ﷺ فرمايي چي په مدينه کي دا مشهوره سوې وه چي د نجاشي پر قبر باندي نور ليدل کيږي ځکه چي کوم صحابه کرام حبشې ته تلل او راتلل هغوی هلته د هغه د قبر په لېدو سره مدينې ته راتلل او دا يې ويل. او د ټولو خلکو پر يوه غلطه خبره باندي متفق کېدل ممکن نه وو ځکه دا خبره د خبر متواتر نژدې وه، پاته سوه دا خبره چي د نور ښکاره کېدو څخه څه مراد دی نو په ظاهره دا معلوميږي چي د نجاشي پر قبر باندي نور داسي لېدل کيدی لکه څرنګه چي د څراغ، سپوږمۍ او لمر رڼا ليدل کيږي مګر دا هم کيدای سي چي د نور ښکاره کېدل په اصل کي د هغه د نورانيت، تازګۍ او روحاني طمانيت تعبير وي چي د هغه قبر زيارت کوونکي ته حاصل سوی وي.

رسول الله ﷺ ته د غسل ورکونکو د غيب څخه رهنمائي

﴿۵۶۹۶﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ لَمَّا أَرَادُوْا غُسْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا لاَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته چي رسول الله ﷺ ته د غسل ورکولو اراده وسول نو خلکو وويل:

نَدْرِيْ أَنُجَرِّدُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ثِيَابِهٖ كَمَا تُجَرِّدُ مَوْتَانَا أَمْ

ايا موږ رسول الله ﷺ هم هغسي څرګند کړو لکه څرنګه چي موږ خپل مړي څرګندوو او که

نَغْسِلُهُ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ فَلَمَّا اخْتَلَفُوْا أَلْقَى الله عَلَيْهِمُ النَّوْمَ حَتّٰى مَا مِنْهُمْ

رسول الله ﷺ ته د کالو سره غسل ورکړو، هر کله چي پر دې خبره اختلاف زيات سو نو الله تعالى پر دغه خلکو خوب راوستى تر دې چي هيڅ سړى هلته داسي نه وو

رَجُلٌ إِلاَّ وَذَقْنُهُ فِيْ صَدْرِهٖ ثُمَّ كَلَّمَهُمْ مُكَلِّمٌ مِنْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ لاَ يَدْرُوْنَ مَنْ

چي د هغه زنه دي پر سينه نه وي بيا دغه خلکو ته يو ويونکي چي خلکو نه پېژندى د کور د يو

هُوَ اِغْسِلُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ فَقَامُوْا فَغَسَلُوْهُ وَعَلَيْهِ

کونج څخه وويل چي نبي کريم ﷺ ته د کالو سره غسل ورکړئ، ددې اوريدو سره هغه ټول خلک را پورته سول او د رسول الله ﷺ مبارک بدن ته يې غسل ورکړ دغه وخت د رسول الله ﷺ

قَمِيْصُهُ يَصُبُّوْنَ الْمَاءَ فَوْقَ الْقَمِيْصِ وَيَدْلُكُوْنَهُ بِالْقَمِيْصِ . رواه البيهقي في دلائل النبوة.

پر بدن مبارک قميص وو چي پر هغه به يې او به تويولې او د قميص سره به يې بدن موږى. بيهقي.

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

تشريح: نووي رحمة الله عليه په دې اړه دا هم نقل کړي دي چي صحيح روايت دادى چي د غسل ورکولو په وخت کي پر بدن مبارک باندي چي کومه جامه وه هغه د ددفن کولو په وخت کي ايسته کړل سوې وه، دغه روايت ضعيف دى چي دتکفين په وخت کي هغه قميص نه وو ايسته

کړل سوی بلکه هغه د کفن لاندي پرېښودل سوی وو ، نو ددغه روایت څخه استناد او استدلال صحیح نه دی .

د سفینه رضي الله عنه کرامت

﴿۵۶۹۷﴾: وَعَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ أَنَّ سَفِينَةَ مَوْلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن منکدر رضي الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ ازاد سوي غلام سفینه نامي په

أَخْطَأَ الْجَيْشَ بِأَرْضِ الرُّوْمِ أَوْ أُسِرَ فَانْطَلَقَ هَارِبًا يَلْتَمِسُ الْجَيْشَ فَإِذَا هُوَ

ملځکه د روم کي د لښکر لار خطا کړه ، یا بندي کړل سو بیا چي هغه د کافرانو دلاس څخه خلاص سو د لښکر په لټه کي وتښتیدی ، نو ناڅاپه

بِالْأَسَدِ فَقَالَ يَا أَبَا الْحَارِثِ أَنَا مَوْلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مِنْ

د يو زمري سره مخ سو هغه زمري ته وويل اې ابو حارث زه د رسول الله ﷺ ازاد کړل سوی غلام

أَمْرِيْ كَيْتَ وَكَيْتَ فَأَقْبَلَ الْأَسَدُ لَهٗ بِصَبْصَةٌ حَتّٰى قَامَ إِلٰى جَنْبِهٖ كُلَّمَا سَمِعَ

يم او ما ته دا پېښه سوې ده ، زمری په لکۍ ښورولو سره مخته سو او د هغه پر څنګ ودریدی ،

صَوْتًا أَهْوٰى إِلَيْهِ ثُمَّ أَقْبَلَ يَمْشِيْ إِلٰى جَنْبِهٖ حَتّٰى بَلَغَ الْجَيْشَ ثُمَّ رَجَعَ الْأَسَدُ . رواه في شرح السنة.

زمري چي به يو خوفناکه اواز واوریدی نو هغه خوا ته به متوجه سو او د سفینه پر بغل به تلی تر دې چي سفینه خپل لښکر ته را ورسیدی او زمری بیرته ولاړی . شرح السنه.

تخريج لم نجده في شرح السنة.

د لغاتو حل: بصبصة: اي تحريک ذنب کفعل الکب (د لکۍ ښورول).

تشريح ایا د دښمن په لاس بندي سو ، دلته راوي خپل شک څرګند کړی دی چي یا خو دا صورت وو چي په هغه سیمه کي حضرت سفینه رضي الله عنه د خپل اسلامي لښکر څخه بېل سوی وو او د هغه په پلټنه کي آخوا دېخوا سرګردانه وو ، یا دا چي د موقع په تر لاسه کولو سره دښمن هغه نیولی وو او بندي کړی یې وو ، د هغه نوم سفینه نه دی بلکه دا یې لقب دی او په دې اړه اختلاف

دی چي د هغه اصل نوم څه شي وو ، د غه لقب يې ځکه مشهور سو چي هغه په يو سفر کي د رسول الله ﷺ سره وو او ډېر زيات سامان يې پر ځان بار کړی وو ، له دې سره د سفر په ملګرو کي کوم څوک چي به ستړی سو نو هغه به هم خپل سامان پر هغه اچوی او هغه به په خندا او خوشحالۍ سره د ټولو بار وړی ، رسول الله ﷺ هغه په دغه حالت کي وليدی نو د ټوکو په توګه يې وفرمايل چي : انت السفينة ، يعني ته کښتۍ يې ، د هغه ورځي څخه د سفينه لقب د هغه لپاره مشهور سو چي خلکو ته د هغه د اصل نوم معلومات هم ونه سو ، که يو چا به پوښتنه ځيني وکړل چي ستا نوم څه شي د ی نو هغه به جواب ورکوی چي زما نوم همدغه دی کوم چي رسول الله ﷺ ايښی دی يعني سفينه .

د قبر په ذريعه استسقاء

﴿۵٦۹۸﴾ : وَعَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ قَالَ قُحِطَ أَهْلُ الْمَدِيْنَةِ قَحْطًا شَدِيْدًا فَشَكَوْا إِلٰى

د حضرت ابو الجوز ﷺ څخه روايت دی چي د مدينې خلک په سخته وچ کالي اخته سول ،

عَائِشَةَ فَقَالَتْ انْظُرُوْا قَبْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاجْعَلُوْا مِنْهُ كُوًى إِلٰى

هغوی د بي بي عائشې ﷺ په خدمت کي شکايت وکړ ، هغې ورته وويل : تاسو د نبي کريم ﷺ مبارک قبر ته ورسئ او د قبر د حجرې په بام کي يو موری خلاصه کړئ

السَّمَاءِ حَتّٰى لَا يَكُوْنَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ سَقْفٌ فَفَعَلُوْا فَمُطِرُوْا مَطَرًا حَتّٰى

چي د قبر او آسمان په منځ کي هيڅ پرده پاته نه سي ، هغه خلکو هم داسي وکړل نو ښه باران وسو

نَبَتَ الْعُشْبُ وَسَمِنَتِ الْإِبِلُ حَتّٰى تَفَتَّقَتْ مِنَ الشَّحْمِ فَسُمِّيَ عَامُ الْفَتْقِ .

رواه الدارمي .

تر دې چي واښه شنه سول او ښان او به سول تر داسي حده چي د چاغوالي د سببه حيوانان وچاودل نو د دغه کال نوم فتق کښېښودل سو . دارمي .

تخريج : سنن الدارمي ۱\۵٦ ، رقم : ۹۲ .

د لغاتو حل : كوي : نقب البيت . (د کور سوري کول)

تشريح : (کوی) د کاف په زور او پېښ سره هم په اصل کي د کوة جمع ده چي معنی يې د هغه

سوري یا روشن دان ده چي د خوني په بام یا دېوال کي جوړ سوی وي، د بي بي عائشې ﷺ مطلب دا وو چي د رسول الله ﷺ قبر مبارک چي په کومه خونه کي دی د هغه په بام کي داسي ډېر سوریان جوړ سوي دي چي د قبر مبارک او آسمان په منځ کي یو حجاب حائل نه وي چي آسمان د رسول الله ﷺ قبر وویني او د رسول الله ﷺ د وفات په یادوني سره به وژاړي، او پر تاسو به اوبه و اوروي، او همداسي وسول چي د حجرې مبارکي په بام کي لوی لوی سوریان ورکړل سول او آسمان قبر مبارک ولیدی نو په ژړا سو او د هغه د ژړا په وجه شپلې وبهېدلې ، څرګنده دي وي چي د آسمان د ژړا یادونه په قرآن کریم کي هم ده: (فما بکت علیهم السماء والارض) په دغه آیت کي پر هغه کسانو باندي د آسمان د نه ژړېدو یادونه ده چي د الله ﷻ مبغوض بندګان وه نو د الله ﷻ د محبوب او غوره بندګانو په حق کي ددې برعکس وي چي آسمان د هغوی لپاره ژاړي، او ځینو حضراتو دا لیکلي دي چي د بي بي عائشې ﷺ په مشوره سره د قبر شریف په بام کي د سوریانو جوړول په اصل کي د قبر مبارک څخه وسیله تر لاسه کول وو،"

مطلب دا چي په ژوند کي خو به خلکو د رسول الله ﷺ د ذات مبارک په ذریعه د باران غوښتونکي کېدل او کله چي د هغه ﷺ ذات له دنیا څخه پرده وکړل او د استسقاء اړتیا پېښه سول نو بي بي عائشې ﷺ حکم وکړ چي د قبر مبارک څخه بام دي ایسته کړل سي چي رحمت په جوش کي راسي او اوبه و اوریږي، یا دا چي هغې په څرګنده قبر مبارک د باران د غوښتونکو په ذریعه جوړ کړ مګر په حقیقت کي د رسول الله ﷺ ذات مبارک د هغه غوښتني ذریعه او وسیله وو او د قبر مبارک بام ایسته کول د هغه غوښتني د زیاتي مؤثر او د پریشانه خلګو د اضطراري کیفیت څرګندولو لپاره وو.

د فتق معنی د پرسېدو ده او ځینو ددې معنی د شکېدو او ځیني د خپرېدو هم بیان کړې ده ، مطلب دا چي د باران په اورېدو سره د وچ کالۍ اثر ختم سو، څلورو خواوو ته ارزاني سول ، ځنګلونه او کښتونه شنه سول او شنګیا دومره زیاته سول چي څاروي په خوراک ماړه سول او بیا په هغوی کي وازګه دومره زیاته سول چي نسونه یې و پړسېدل یا د هغوی بدنونه پراخ سول.

د بي بي عائشې ﷺ د باران په غوښتنه کي د قبر مبارک په ذریعه د ذات مبارک څخه سفارش او وسیله تر لاسه کول او د هغه اثر څرګندېدل د بي بي عائشې ﷺ کرامت هم دی او د رسول الله ﷺ معجزه هم ده ، او هسي هم د امت او اولیاؤ کرامتونه د پیغمبر په معجزو کي شمېرل کیږي.

یوه معجزه او یو کرامت

﴿۵۶۹۹﴾: وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ قَالَ لَمَّا كَانَ أَيَّامُ الْحَرَّةِ لَمْ يُؤَذَّنْ فِيْ

د حضرت سعید بن عبدالعزیز رضي الله عنه څخه روایت دی چي کله د حره پېښه رامنځته سوه (د حره پېښه د سختو پېښو څخه ده ،د حضرت معاویه زوی یزید پر مدینې لښکر کښي وکړه او مدینه یې تباه کړل ، حره د مدینې څخه د باندي د مځکي یوه ټوټه ده دا لښکر ددغه خوا څخه راغلی

مَسْجِدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا وَّلَمْ يُقَمْ وَلَمْ يَبْرَحْ سَعِيْدُ بْنُ

وو) نو تر درو ورځو پوري په مسجد نبوي کي اذان ونه سو او نه تکبیر وویل سو ، سعید بن

الْمُسَيَّبِ الْمَسْجِدَ وَكَانَ لَا يَعْرِفُ وَقْتَ الصَّلَاةِ إِلَّا بِهَمْهَمَةٍ يَسْمَعُهَا مِنْ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الدارمي.

مسیب په دغه ورځو کي په مسجد کي د ننه وو او هلته پاته سو دباندي نه راوتی ، په دغه ورځو کي به سعید بن مسیب دلمانځه وخت یوازي په هغه اواز سره پیژندی چي د رسول الله ﷺ د قبر مبارک څخه به راتلی . دارمي.

تخریج: سنن الدارمي ۱\۵٦۱، رقم: ۹۳.

د لغاتو حل: الحرة: ارض بظاهر المدینة بها احجار سود کثیرة. (په مدینه کي یوه ډبرینه سیمه)

تشریح: حره د مدینې څخه دباندي د مځکي هغه ټوټې ته وایي چي توري ډبري لري ، او د حره د پیښي څخه مراد د مدینې پر اوسېدونکو باندي د یزید ابن معاویه هغه برید دی چي د هغه په نتیجه کي د مدینې منورې ښار د سختي تباهۍ او بربادۍ سره مخامخ سو ، دغه دردناکه پېښه د اسلامي تاریخ د سختو پېښو څخه ده ، ددغه دردناکه پېښي اندازه ددې خبري څخه لګیدلای سي چي پرله پسې درې ورځي مسجد نبوي د آذن او اقامت څخه محروم پاته سو .

د یزید لښکر ددغه حره څخه پر مدینې منورې حمله وکړل ځکه چي دغه پېښه په حره سره ونومول سول .

حضرت سعید ابن مسیب رحمه الله د سترو تابعینو څخه دی، نوموړی لوی فقیه، محدث، عابد او متقي وو ، نوموړي څلوېښت حجونه کړي وه او په ۹۳ هجري کال کي وفات سو .

د حضرت انس رضی اللہ عنہ كرامت

﴿۵۷۰۰﴾: وَعَنْ أَبِي خَلْدَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي الْعَالِيَةِ سَمِعَ أَنَسٌ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى

د حضرت ابو خلده رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي ما د ابو العاليه څخه پوښتنه وکړه چي انس رضی اللہ عنہ د

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَدَمَهُ عَشْرَ سِنِينَ وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله ﷺ څخه حديثونه اوريدلي دي، ابو العاليه وويل هو انس رضی اللہ عنہ لس کاله د رسول الله ﷺ په خدمت کي تير کړي دي او نبي کريم ﷺ هغه ته دعاء کړې وه،

وَكَانَ لَهُ بُسْتَانٌ يَحْمِلُ فِي السَّنَةِ الْفَاكِهَةَ مَرَّتَيْنِ وَكَانَ فِيهَا رَيْحَانٌ كَانَ يَجِيءُ مِنْهُ رِيحُ الْمِسْكِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

د انس رضی اللہ عنہ يو باغ وو چي هغه به په کال کي دوه واره ميوه کول او په هغه باغ کي ريحان وه چي د هغه د ګلانو څخه به د مشکو بوى تلى. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۴۱، رقم: ۳۸۳۳.

تشريح: حضرت ابو خلده چي د حضرت انس رضی اللہ عنہ په اړه د حضرت ابو العاليه رحمۃ اللہ علیہ څخه پوښتنه وکړل، هغه مطلب دا وو چي حضرت انس رضی اللہ عنہ کوم حديثونه روايت کوي هغه يې د رسول الله ﷺ څخه بېله واسطې اورېدلي دي او که هغه مرسل روايتونه دي، که څه هم د مرسل روايتو په حجيت کي چا ته کلام نسته، د دغه سوال څخه دا خبره څرګندېږي چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته ځينو خلکو ته د حضرت انس رضی اللہ عنہ د حديثو د روايت کولو په اړه شک وو، نو حضرت ابو العاليه رحمۃ اللہ علیہ چي له سترو تابعينو څخه وو، د ابو خلده جواب په ژوندۍ بڼه ورنه کړ بلکه هغه دا خبره وکړل چي د هغه څخه د حضرت انس رضی اللہ عنہ ارزښت څرګندېږي، هغه وويل چي حضرت انس رضی اللہ عنہ د لسو کالو په عمر کي يا د ځينو روايتو سره سم د اته کالو په عمر کي د رسول الله ﷺ په خدمت کي وقف سوى وو، پرله پسې تر لسو کالو پوري د رسول الله ﷺ خدمت يې وکړ او دا د هغه د مخلصانه خدمت صله وه چي رسول الله ﷺ د هغه په حق کي د عمر او مال د برکت دعاء کړې وه او د هغه د دعاء دا اثر وو چي د هغه عمر يو سل او ديرش کاله وو، او الله جل جلالہ هغه ته ډېر اولادونه هم ورکړل چي د هغه درو اويا زامن وه او اووه ويشت لوڼي يې وې، او په مال کي د برکت دا حال وو چي د نورو خلکو باغونو به په کال کي يو وار ميوه ورکول مګر د هغه

باغ به په کال کي دوه واره ميوه ورکول، د هغه د عظمت اندازه ددې څخه معلوميداى سي چي د هغه په باغ کي به کوم ګلان وه د هغو څخه به د مشکو په ډول خوشبويي راتلل نو څرګنده سول چي کوم ذات پر داسي لوړه مرتبه وي چي تر دومره اوږده وخت پوري د رسول الله ﷺ په خدمت کي د پاته کېدو شرف يې تر لاسه کړى وي نو هغه به د رسول الله ﷺ څخه خپله حديثونه څرنګه نه وي اورېدلي او هغه به حديثونه ولي نه روايت کوي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث　　(دريم فصل)

د حضرت سعيد ابن زيد رضی اللہ عنہ کرامت

﴿۵۷۰۱﴾: عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ اَنَّ سَعِيْدَ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ خَاصَمَتْهُ

د عروه بن زبير رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي د سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل او اروى بنت اويس په

أَرْوَى بِنْتَ أُوَيْسٍ إِلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ وادعت انه اخذ شيئا من ارضها فَقَالَ

منځ کي پر يو مځکه جګړه وسوه، او اروى، سعيد بن زيد مروان بن حکم ته بوتلي (چي د مديني حاکم وو) بي بي اروى دا دعوه وکړه چي سعيد بن زيد زما د مځکي څه برخه نيولې ده،

سَعِيدٌ أَنَا كُنْتُ آخُذُ مِنْ أَرْضِهَا شَيْئًا بَعْدَ الَّذِي سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

ددې دعوا اوريدو سره سعيد وويل ايا زه ددې مځکه يو برخه په زور اخيستلاى سم، هر کله چي ما د رسول الله ﷺ دا وعيد (سزا) اوريدلې ده،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَمَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمِعْتُ

مروان پوښتنه ځيني وکړه تا د رسول الله ﷺ څخه څه اوريدلي دي؟ سعيد وويل ما د رسول الله

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا طُوِّقَهُ إِلَى

ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوک چي د يو چا څخه يوه لويشت مځکه په زور واخلي نو د هغه

سَبْعِ أَرَضِينَ فَقَالَ لَهُ مَرْوَانُ لَا أَسْأَلُكَ بَيِّنَةً بَعْدَ هٰذَا فَقَالَ اللّٰهُمَّ إِنْ كَانَتْ

مځکي اووه طبقې به (د قيامت په ورځ) د هغه په غاړه کي د طوق په ډول پرتې وي، ددې اوريدو سره مروان وويل، ددې دليل څخه وروسته زه ستا څخه يو شاهد نه غواړم، ددې

اوريدو سره سعيد وويل اې الله! كه

كَاذِبَةً فَعَمِّ بَصَرَهَا وَاقْتُلْهَا فِي أَرْضِهَا قَالَ فَمَا مَاتَتْ حَتَّى ذَهَبَ بَصَرُهَا و بينما

دا درواغجنه وي نو دا ړنده كړې او په دغه مځكه كي ورته مرګ راولې چي د هغه دعوا كوي، د عروه بن زبير بيان دى چي د مرګ څخه مخكي هغه ښځه ړنده سوه

هِيَ تَمْشِي فِي أَرْضِهَا إِذْ وَقَعَتْ فِي حُفْرَةٍ فَمَاتَتْ. متفق عليه و في رواية لمسلم

او يوه ورځ د دعوې په مځكه كي روانه وه چي په ژور غار كي ولويدل او مړه سوه، بخاري او

عن محمد بن زيد بن عبدالله بن عمر بمعناه وانه راها عمياء تلتمس الجدر تقول اصابتني دعوة سعيد وانها مرت على بئر في الدار التي خاصمته فيها فوقعت فيها فكانت قبرها.

مسلم او د مسلم په يوه روايت كي دي چي محمد بن زيد بن عبد الله بن عمر څخه ددې روايت هم منقول دى په هغه كي داسي دي چي محمد بن زيد هغه ښځه ړنده وليدل چي هغه به پر ديوال لاس اېښود و سره تلل او ويل به يې د سعيد ښيرا پر ما اثر كړى دى، بيا يوه ورځ هغه په هغه مځكه كي كور ته تلل چي پر هغه مځكه يې د سعيد سره جنګ كړى وو چي په يو څاه يا ژور غار كي ولويدل او هغه يې قبر جوړ سو.

تخريج: صحيح البخاري ۶\۲۹۳، رقم: ۳۱۹۸، ومسلم ۳\۱۲۳۱، رقم: ۱۳۶- ۱۶۱۰.

تشريح: حضرت سعيد ابن زيد رضي الله عنه هم له عشره مبشره (يعني هغه سترو صحابه كرامو څخه دى چي رسول الله ﷺ په دنيا كي د جنت زيرى وركړى وو) نوموړى د حضرت عمر رضي الله عنه اخښى (د خور خاوند)، بابركته او مستجاب الدعوات وو، د اروى په اړه ددغه تحقيق څخه معلوميږي چي هغه صحابيه وه يا تابعيه وه، په هر حال هغه ښځي چي د مروان په غدالت كي د حضرت سعيد ابن زيد رضي الله عنه پر خلاف كومه د درواغو دعوه كړې وه چي هغه په زور زما د مځكي يوه برخه اخيستې ده، حال دا چي په حقيقت كي هغه مځكه د حضرت سعيد رضي الله عنه خپله مځكه او ملكيت وو، هغه پر دغه درواغجنه دعوه باندي د سختي حيرانتيا اظهار وكړ او د مروان په وړاندي يې وويل: چا چي د يو چا څخه په زور د مځكي اخيستلو وعيد په خپله اورېدلى وي هغه به څرنګه دا كولاى سي چي د يو چا مځكه په زور واخلي. مروان د حضرت سعيد رضي الله عنه څخه ددغه وعيد په اړه د حديث اورېدو خواهش وكړ. حضرت سعيد رضي الله عنه هغه حديث چي خپله يې د

رسول الله ﷺ څخه اورېدلی وو، بیان کړ، مروان ته د حضرت سعید رضی اللہ عنہ د صداقت یقین وسو او هغه وخت چي هغه حضرت سعید رضی اللہ عنہ ته څه وویل د هغه مطلب دا وو چي ما ته ستا په رښتوني کېدو پوره یقین دی ځکه چي ستا په ژوند زه خبر یم، ته پر چا باندي ظلم نه سې کولای، او بیا ستا څخه د دغه حدیث اورېدو وروسته دد اړتیا پاته نه سوه چي په عدالتي توګه ستا د خبري د منلو لپاره ستا څخه شاهد وغواړم، یا د مروان مطلب دا وو چي ستا په روایت کي ما ته هیڅ شک نسته او نه د دغه حدیث په صحیح ګڼلو کي د بل راوي د روایت محتاج یم ته خپله د خپل حیثیت په اعتبار د دوو راویانو بلکه تر دې هم د زیاتو برابر یې،

خلاصه دا چي مروان د هغه ښځي دعوه وایستل، مګر څرنګه چي کرماني رحمہ اللہ لیکلي دي او خپله د روایت څخه هم دا مفهوم اخیستل کیږي، خو حضرت سعید رضی اللہ عنہ احتیاطا د هغه مځکي څخه لاس واخیست او هغه ښځي ته یې ورکړل، مګر بیا هم هغه ښېرا وکړل، که چیري هغه ښځه درواغجنه وي نو په دنیا کي دي د خپلو درواغو سزا تر لاسه کړي او د نړیوالو په نظر کي دي د هغې درواغجن کېدل ثابت سي، نو الله جل جلالہ د هغه د ښېرا اثر ظاهر کړ او څرنګه چي حضرت سعید رضی اللہ عنہ ویلي وه هغه ښځه د مرګ څخه مخکي ړنده هم سول او هغه مځکه د هغې قبر هم جوړ سو ځکه چي هغه په دغه مځکه د یو کور په نږدې سره مړه سول او چا د هغې د راکښلو اړتیا هم محسوس نه کړل.

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ کرامت

﴿۵۷۰۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بَعَثَ جَيْشًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ رَجُلاً يُدْعٰى سَارِيَةُ

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي حضرت عمر رضی اللہ عنہ یو لښکر ولیږی او پر هغه یې یو سړی وټاکی چي نوم یې ساریه وو،

فَبَيْنَمَا عُمَرُ يَخْطُبُ فَجَعَلَ يَصِيحُ يَا سَارِيَ الْجَبَلَ فَقَدِمَ رَسُوْلٌ مِنَ

یوه ورځ حضرت عمر رضی اللہ عنہ په مسجد کي د جمعې خطبه ویل چي ناڅاپه یې په لوړ اواز سره وویل اې ساریه! دې خوا ته غر ونیسه، ددې واقعې څخه څو ورځي وروسته د لښکر یو قاصد

الْجَيْشِ فَقَالَ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَقِيْنَا عَدُوَّنَا فَهَزَمُوْنَا فَاِذَا بِصَائِحٍ يَصِيحُ

راغلی، د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په خدمت کي حاضر سو عرض یې وکړ اې امیر المؤمنین! زموږ د ښمن پر موږ حمله وکړه او موږ ته یې ماته راکړه، ناڅاپه موږ د یو اواز کونکي اواز واورېدی

يَاسَارِيَ الْجَبَلَ فَأَسْنَدْنَا ظُهُوْرَنَا إِلَى الْجَبَلِ فَهَزَمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى. رواه البيهقي في دلائل النبوة.

چي ويل يې اې ساريه! د غره خوا ته، نو موږ خپل شاوي غره ته تكيه كړلې نو بيا الله ﷻ دښمنانو ته ماته وركړل. بيهقي.

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

تشريح: په روايا تو كې داهم راځي چي كله خلكو د خطبې په دوران كې د حضرت فاروق ﷺ په داسي لوړ آواز باندې د ساريه په مخاطب كولو سره واورېدى نو په حيرانتيا سره يې وويل چي دلته ساريه ته آواز كيږي، هغه خو به د سوونو ميله ليري څخه د نهاوند په ځاى كې له دښمن سره په مقابله كې مصروف يې، فاروق اعظم ﷺ وفرمايل: ما داسي منظر وليدى چي مسلمانان په جګړه بوخت دي او د هغوى لپاره د غره پناه اخيستل ډېر ضروري دي ځكه بې اختياره زما د ژبي څخه دغه الفاظ ووتل، كله چي د ساريه ليک او قاصد راغلى نو همدارنګه د جمعې په ورځ او د جمعې د لمانځه په وخت كې د دغه تاريخ پېښنه په هغه ځاى كې ليكلې وه او قاصد په ژبه هم بيان وكړ.

د دغه يوې پېښي څخه د حضرت عمر فاروق ﷺ څو كرامتونه څرګند سول، يو خو دا چي هغه د نهاوند د غزا منظر په سوونو ميله ليري په مدينه كې وليدى، دوهم دا چي د هغه آواز چي په مدينه كې لوړ سوى وو په سوونو ميله ليري نهاوند ته ورسېدى او هلته د لښكر ټولو خلكو هغه واورېدى، او دريم دا چي د هغه په بركت الله ﷻ په هغه جګړه كې مسلمانانو ته فتح وركړل.

د حضرت كعب احبار ﷺ كرامت

﴿۵۷۰۳﴾: وَعَنْ نُبَيْهَةَ بْنِ وَهْبٍ أَنَّ كَعْبًا دَخَلَ عَلٰى عَائِشَةَ فَذَكَرُوْا رَسُوْلَ

د حضرت نبيهه بن وهب ﷺ څخه روايت دى چي كعب ﷺ د بي بي عائشې ﷺ په خدمت كې حاضر سو، د هغې په مجلس كې د رسول الله ﷺ ذكر راغلى،

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَعْبٌ مَا مِنْ يَوْمٍ يَطْلَعُ إِلاَّ نَزَلَ سَبْعُوْنَ أَلْفًا

كعب ﷺ وويل هيڅ يوه ورځ داسي نه تيريږي چي په هغه كې لمر راخيژي مګر اويا زره

مِّنَ الْمَلَائِكَةِ حَتَّى يَحُفُّوا بِقَبْرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْرِبُوْنَ

ملائكي د آسمان څخه راكښته او د رسول الله ﷺ د قبر مبارك څخه چاپيره كيږي، او خپروي

بِأَجْنِحَتِهِمْ وَيُصَلُّوْنَ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى إِذَا أَمْسَوْا

خپل وزرونه پر قبر مبارك د هر طرف څخه او پر رسول الله ﷺ درود شريف وايي، ترد ې چي مابنام سي

عَرَجُوْا وَهَبَطَ مِثْلُهُمْ فَصَنَعُوْا مِثْلَ ذٰلِكَ حَتّٰى إِذَا انْشَقَّتْ عَنْهُ الْأَرْضُ

خَرَجَ فِيْ سَبْعِيْنَ أَلْفًا مِّنَ الْمَلَائِكَةِ يَزُفُّوْنَهُ. رواه الدارمي.

نو دغه ملائكي آسمان ته وخيژي او دغومره ملائكي نوري راكښته سي او تر سهاره پوري همداسي كوي او دا لړۍ به تر هغه وخته پوري جاري وي چي (د قيامت په ورځ) قبر وچوي او رسول الله ﷺ ځيني راووځي او د اويا زره ملائكو په منځ كي به الله تعالى ته ورځي. دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۱\۵۷، رقم: ۹۴.

تشريح: حضرت كعب احبار رحمة الله عليه له سترو تابعينو څخه دی، نوموړي د رسول الله ﷺ زمانه تر لاسه كړې وه مگر رسول الله ﷺ يې ليدلی نه وو او د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه كي مسلمان سوی دي، د ملائكو د راكښته كېدو دغه خبره حضرت كعب رضي الله عنه ته يا خو په پخواني آسمانو كي د ذكر سوو وړاندوينو څخه معلومه سوې ده او يا هغه د سپين ږيرو او د پخواني كتابو له عالمانو څخه اورېدلي ده، يا دا چي خپله د هغه كشف او كراماتي ليدنه وه، او دا خبره زياته صحيح معلوميږي ځكه چي په دې سره د هغه كرامت څرگنديږي.

=========

بَابُ وَفَاتِ النَّبِيِّ ﷺ

(د نبي كريم ﷺ دوفات بيان)

د مشكوة المصابيح په اكثرو نسخو كي دلته يوازي د باب لفظ منقول دی، په يوه نسخه كي د باب وفات النبي ﷺ الفاظ دي چي د هغه څخه د باب د موضوع اظهار كيږي، او همدغه زيات صحيح او مناسب معلوميږي ځكه چي د مشكوة د مؤلف دا معمول دی چي هغه يوازي د

باب لفظ په هغه ځای کي راوړي چيري چي د مخکني باب سره اړه لرونکي حديثونه نقل کول مقصد وي، حال دا چي دلته داسي نه ده ، په دغه باب کي چي کوم حديثونه نقل سوي دي هغه د مخکني باب سره تعلق نه لري بلکه ځانګړې موضوع يعني د رسول الله ﷺ د وصال د حالاتو سره اړه لري، او ددغه باب څخه وروسته چي کوم باب راځي هلته مؤلف د موضوع ذکر کولو پرته يوازي د باب لفظ ليکلی دی او په دغه باب کي ددغه باب موضوع يعني د نبي کريم ﷺ سره اړوند حديثونه منقول دي ، ددې خبري تقاضا هم داده چي دلته د باب ذکر د خپلي موضوع يعني د نبي کريم ﷺ د وفات د اظهار سره وسي ، راتلونکی باب د خپلي موضوع د اظهار څخه پرته دی چي په هغه کي ددغه باب سره اړوند پاته حديثونه منقول دي .

د مرض الموت پيل : د رسول الله ﷺ د مرض الموت (د مرګ ناروغي) پيل په کومه ورځ وسو ، په دې اړه مختلف اقوال دي، يو قول دادی چي د هجرت په يوولسم کال د صفري د مياشتي په پای کي په ۲۷ يا ۲۸ نېټه د سر د درد د سختي حملې سره د رسول الله ﷺ د مرض الموت پيل وسو ، او د يوه روايت سره سم د محرم په مياشت کي پر رسول الله ﷺ باندي د تبي حمله سوې وه او په ۲۶ صفر کي يې له ناروغۍ څخه لږ افاقه محسوس سوې وه او په ۲۸ صفر کي په ناروغۍ کي سختوالی څرګند سو ، يو روايت دادی چي د مرض الموت پيل د ربيع الاول په مياشت کي وسو ، د ابن جوزي په کتاب الوفاء کي دا ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ د مرض الموت پيل د صفري د مياشتي په هغه تاريخ وسو کله چي د مياشتي په ختمېدو کي لس شپې پاته وې او د رسول الله ﷺ وصال په ۱۲ ربيع الاول کي وسو ، سليمان تيمي چي يو باوري او ستر راوي دی خپل دا يقين بيان کړ چي د رسول الله ﷺ د مرض الموت پيل د چارشنبې په ورځ په دوه ويشتمه (۲۲) نېټه د صفري وسو او د رسول الله ﷺ وصال د دوشنبې په ورځ د ربيع الاول په دوهمه نېټه وسو ، ډېر علماء دغه قول ته ځکه ترجيح ورکوي چي د بي بي فاطمې ﷺ وفات د رمضان المبارک په دريمه نېټه سوی دي او د ټولو علماوو پر دې اتفاق دی چي د بي بي فاطمې ﷺ وفات د رسول الله ﷺ د وفات څخه شپږ مياشتي وروسته سوی دی مګر دا هم حقيقت دی چي په اکثرو روايتو کي د رسول الله ﷺ د وفات نېټه ۱۲ ربيع الاول منقول دی .

د ناروغۍ سختي : د سخت سر درد او تبي په صورت کي چي کومه ناروغي رسول الله ﷺ ته لاحقه سوې وه هغه زياتيدی، د ناروغۍ له سختوالي څخه د رسول الله ﷺ د تکليف دا حال وو چي پر بستره باندي به اړخ پر اړخ کيدی مګر په هيڅ صورت کي آرام نه ور ته راتلی، هغه وخت به رسول الله ﷺ فرمايل چي زموږ خلګو (يعني انبياؤ) ناروغي ډومره سخته وي هغومره

سخته د بل هيچا نه وي، او په دې كي هيڅ شک نسته چي اجر او ثواب هم موږ ته زيات وي ، رسول الله ﷺ د خپلي دغه ناروغۍ په دوران كي څلوېښت غلامان ازاد كړل او تر درو ورځو ماسوا په نورو ټولو ورځو كي يې له خپلو صحابه كرامو سره د جماعت لمونځ ادا كړ، ځينو حضراتو ليكلي دي چي رسول الله ﷺ اووه لس لمونځونه نه وركړل او حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته يې حكم وركړ چي هغه خلكو ته لمونځ وركړي .

آخري تلقين او نصيحت : په روايتو كي راځي چي رسول الله ﷺ په خپلي ناروغۍ كي تر ټولو زيات چي د كوم شي نصيحت كوی په هغه كي يو دا وو چي د لمانځه څخه مه غافله كيږي او دوهم دا وو چي د خپلو غلامانو او مينزو سره ښه چلن او احسان كوئ ، د وفات په ورځ رسول الله ﷺ د خپلي مباركي حجرې څخه په راوتلو سره مسجد ته راغلی او د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په امامت كي يې د سهار لمونځ ادا كړ، د لمانځه وروسته يې صحابه كرامو په آخري وار خطاب وكړ او وه يې فرمايل: اې مسلمانانو ! زه تاسو ته د خدای په امان وايم او تاسو ټول د الله جل جلاله په ساتنه كي وركوم، الله جل جلاله ستاسو په حق كي زما خليفه يعني غوره كارساز دی اوس چي زه دنيا پرېږدم او ستاسو څخه بېلېږم ځكه تاسو ته دا نصيحت كول ضروري گڼم چي تقوا اختيار كړئ او نېک كارونه تل كوئ .

د مرض الموت دوران : د وفات د ناروغۍ په دوران كي چي كومي پېښي رامنځته سوې د هغو څخه يوه دا هم ده چي د پنجشنبې په ورځ چي پر رسول الله ﷺ باندي د ناروغۍ د سختۍ غلبه وه ، رسول الله ﷺ د يوې وصيت نامې د ليكلو اراده وفرمايل او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته يې وفرمايل چي د پسه د ملا هډوكي يا يوه تخته راوړه چي زه پر هغه باندي د ابوبكر صديق رضي الله عنه لپاره وصيت وليكم، حضرت عبدالرحمن رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د وينا سره سم د هډوكي يا تختۍ راوړلو لپاره تلل وغوښتل چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پرېږده، اوس يې اړتيا نه محسوسوم ، (زما يقين دی) چي الله جل جلاله او مسلمانان به د ابوبكر صديق رضي الله عنه په حق كي اختلاف نه كوي، (مطلب دا چي د ابوبكر صديق رضي الله عنه خلافت به الله ﷺ هم خوښ كړي او ټول مسلمانان به هم په اتفاق سره د هغه په لاس بيعت وكړي) ،

نقل سوي دي چي كله د رسول الله ﷺ ناروغي سخته سول نو حضرت عباس رضي الله عنه، و حضرت علي رضي الله عنه ته وويل: د عبدالمطلب د اولاد د مخونو ما ته ښه شناخت دی چي د مرگ آثار پر هغوی څرنگه ظاهرېږي ، زما سره ښېره ده چي رسول الله ﷺ كيدای سي له دغه ناروغۍ څخه پاته نه سي ، نو زما رايه ده چي آخري وخت غنيمت وگڼئ او د رسول الله ﷺ په خدمت كي په

حاضرېدو سره د دغه شي (يعني خلافت) غوښتنه وکړئ، حضرت علي رضي الله عنه جواب ورکړ، تاسو پوهيږئ که زه د رسول الله ﷺ څخه دغه شی وغواړم او رسول الله ﷺ يې نه راکړي نو بيا به هم خلک دغه شی ما ته راکړي، مطلب دا چي د خلافت مسئله د عامو مسلمانانو د رايي او د هغوی د اتفاق سره تعلق لري، که ما ته دا يقين وي چي ټول مسلمانان په هر حالت کي ما ته ترجيح راکوي نو ما به د رسول الله ﷺ څخه غوښتنه کړې وي مګر کله چي زه په دې پوهيږم نو په دې اړه رسول الله ﷺ ته څه ويل مناسب نه ګڼم.

په روايتو کي راځي چي د مرض الموت په دوران کي د رسول الله ﷺ سره پنځه يا شپږ او يا اووه ديناره وه چي د بي بي عائشې رضي الله عنها په تحويل کي وه، رسول الله ﷺ د هغه دينارو د صدقه کولو حکم وکړ د دې لپاره چي رسول الله ﷺ خپل وروسته يو شی نه پرېږدي.

د وفات ورځ: د مرض الموت د پيل د ورځي او نېټې، او د وفات د ورځي او نېټې په اړه اختلافي اقوال دي، ځکه نو دا ويل هم مشکل دي چي رسول الله ﷺ څو ورځي په مرض الموت کي اخته وو، علماؤ ليکلي دي چي د ذکر سوو اختلافو پر بنياد رسول الله ﷺ دوولس يا اتلس ورځي ناروغ وو، او د علماؤ د باوري قول سره سم د ربيع الاول پر دوهمه نېټه په ۱۱ هجري کال کي د دوشنبې په ورځ له دغه فاني دنيا څخه رحلت وکړ، نقل سوي دي چي هغه وخت ځينو کسانو شک وکړ چي د رسول الله ﷺ روح مبارک د بدن څخه پرواز کړی دی که يا، نو بي بي اسماء بنت عميس رضي الله عنها چي مخکي د جعفر رضي الله عنه ابن ابوطالب په نکاح کي وه او د هغه د شهادت وروسته د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په نکاح کي سول او بيا د هغه د وفات وروسته د حضرت علي رضي الله عنه په نکاح کي راغلې وه، د رسول الله ﷺ د بدن مبارک د اوږو په منځ کي په لاس اېښودو سره څرګنده کړل او هغې وويل چي رسول الله ﷺ په فاني دنيا څخه رحلت کړی دی او د رسول الله ﷺ د دواړو اوږو په منځ کي چي کوم د نبوت مهر وو هغه پورته کړل سو، ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها بيان کوي چي د وفات په ورځ ما خپل لاس د رسول الله ﷺ پر سينه مبارکه راتېر کړ او د هغه ورځي څخه وروسته تر څو اونيو پوري زما د هغه لاس څخه د مشکو خوشبويي راتلل، حال دا چي د هر خوراک په وخت کي او همدارنګه د اوداسه او نورو کارو لپاره مي په پابندۍ سره لاس پرېولی، په شواهد النبوة کي د حضرت علي رضي الله عنه په اړه منقول دي چي يو چا له هغه څخه پوښتنه وکړل چي ستاسو حافظه او فهم دومره ښه ولي سو؟ نو هغه ورته وويل چي ما د رسول الله ﷺ مبارک بدن ته غسل ورکړ نو د رسول الله ﷺ په وريزو مبارکو کي چي کومي اوبه جمع سوي وې ما هغه په خپله ژبه سره پورته کړلې او وه مي څښښلې، همدغه کار زه د خپلي

حافظې او فهم د قوت ذریعه ګنم.

تکفین : د رسول الله ﷺ د کفن په اړه مختلف روایتونه منقول دي، مګر صحیح روایت چې له بي بي عائشې ﷝ څخه منقول دی، دادی چې رسول الله ﷺ ته په درو جامو کي کفن ورکړل سوی وو، په هغو کي قمیص او لنګوټه نه وه، د بي بي عائشې ﷝ د دغه روایت د مطلب په بیان کي هم اختلافي اقوال دي، ځینو حضراتو دا ویلي دي چې د بي بي عائشې ﷝ د ارشاد، چې په هغه کي قمیص او لنګوټه نه وه، مطلب دادی چې قمیص او لنګوټه په هغه درو جامو کي نه وه بلکه قمیص او لنګوټه له هغه درو جامو څخه ماسوا وه، یعني د رسول الله ﷺ په کفن کي پنځه جامې وې، مګر دا خبره د قیاس څخه معلومېږي اصل مطلب هغه دی چې نورو حضراتو بیان کړی دی چې د رسول الله ﷺ په کفن مبارک کي له هغه درو جامو څخه ماسوا قمیص او لنګوټه بالکل نه وه یعني یوازي درې جامې وې، له همدې کبله د حنفیه په نزد درې جامې یعني لونګ، کفن او لفافه مستحب کفن دی.

د جنازې لمونځ : د رسول الله ﷺ د جنازې لمونځ په جماعت سره ادا نه کړل سو او نه چا امامت ورکړ، بلکه دا صورت اختیار کړل سو چې بدن مبارک ولمبول سي او کفن ورکړل سي، بیا په حجره مبارکه کي چیري چې تدفین سوی وو، کښېښودل سو، خلک به د ډلو په شکل کي یوازي یوازي د جنازې په لمونځ کولو سره دباندي وتل، همدارنګه لومړی نارینوو، بیا ښځو او بیا ماشومانو بېل بېل د جنازې لمونځ اډا کړ.

تدفین : د بي بي عائشې ﷝ په حجره مبارکه کي چیري چې د رسول الله ﷺ پاک روح له بدن مبارک څخه پرواز کړی وو، قبر تیار کړل سو او تدفین په عمل کي راغلل، کله چې قبر ته کښته کېدی نو د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام حضرت شقران ﷛ په لحد کي د رسول الله ﷺ لاندي د رسول الله ﷺ څادر وغوړوی او هغه وویل: زه دا نه خوښوم چې د رسول الله ﷺ وروسته بل څوک دغه څادر استعمال کړي، مګر د یوه روایت سره سم صحابه کرامو د شقران دا خبره خوښه نه کړل او د خاورو اچولو څخه مخکي هغه څادر ځیني ایسته کړل سو، ځکه ټولو علماؤ په قبر کي د مړي لاندي څادر او بل شی غوړول مکروه ګرځولي دي، د رسول الله ﷺ تدفین د چارشنبې په شپه یا د یوه روایت سره سم د سه شنبې په ورځ د لمر زوال څخه وروسته په عمل کي راغلی وو.

قبر شریف : د رسول الله ﷺ قبر مبارک بغلي (لحد) جوړ کړل سو، او د لحد له خوا نهه اومې خښتي ودرول سوې او بند کړل سو، او هغه قبر مسنم (یعني د اوښ د بوک په ډول پورته سو)

بيا پر هغه د بري واچول سوې او اوبه ورباندي وپاشل سوې، له دې کبله په اتفاق سره د ځلورو امامانو په نزد مسنم قبر جوړول مستحب دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

کله چي د اهل مدينه نصيب وېښ سو

﴿۵۷۰۴﴾: عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ أَوَّلُ مَنْ قَدِمَ عَلَيْنَا مِنْ أَصْحَابِ رسول الله صَلَّى

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کي چي کوم خلک تر ټولو لومړی (مديني ته د هجرت کولو څخه مخکي) موږ ته راغلل هغه

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَجَعَلَا يُقْرِئَانِنَا الْقُرْآنَ

مصعب بن عمير او ابن ام مكتوم وه، دوی به موږ ته قرآن وايه،

ثُمَّ جَاءَ عَمَّارٌ وَبِلَالٌ وَسَعْدٌ ثُمَّ جَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي عِشْرِينَ ثُمَّ جَاءَ

د دوی څخه وروسته عمار رضي الله عنه، بلال رضي الله عنه او سعد رضي الله عنه راغلل، بيا حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه د لس صحابه کرامو سره راغلل، د هغه څخه وروسته

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْتُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَرِحُوا بِشَيْءٍ فَرَحَهُمْ بِهِ

رسول الله ﷺ تشريف راوړ، د مديني او سيدونکي چي د رسول الله ﷺ په راتلو څومره خوشحاله سوه دومره ما هيڅکله خوشحاله نه وه ليدلي

حَتَّى رَأَيْتُ الْوَلَائِدَ وَالصِّبْيَانَ يَقُولُونَ هَذَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

تر دې چي ما د هلکانو او انجونو څخه دا واوريدل چي دا دی رسول الله ﷺ تشريف راوړ، د

قَدْ جَاءَ فَمَا جَاءَ حَتَّى قَرَأْتُ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى فِي سُوَرٍ مِثْلِهَا مِنَ الْمُفَصَّلِ. رواه البخاري

رسول الله ﷺ د راتلو څخه مخکي ما سورة سبح اسم ربک الاعلى او څو نور مفصل سورتونه زده کړي وه. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۶۹۹، رقم: ۴۹۴۱.

د لغاتو حل: اولائد: جمع وليدة وهي الجارية الصغيرة (كوچنۍ انجلۍ)

تشريح: ددغه حديث شريف څخه ثابته سول چي سورة سبح اسم ربک الاعلی په مکه کي نازل سوی دی مګر ځيني حضرات وايي چي ددغه سورت آيت: (قد افلح من تزکی و ذکر اسم ربه فصلی) د صدقه فطر په اړه دی او د صدقه فطر او اختر د لمونځو واجب کېدل د دوهم هجري کال پېښه ده ځکه نو سورة سبح اسم ربک الاعلی ته مکي سورت ويلو باندي سوال کېدای سي، مګر که چيري دا وويل سي چي ددغه دوو آياتو څخه پرته نور ټول سورت په مکه کي نازل سوی دی نو بيا ذکر سوی سوال نه پيدا کېږي، مګر په حقيقت کي نه دغه سوال صحيح دی او نه دا احتمال، ځکه چي د صحيح روايت سره سم دغه پوره سورت په مکه کي نازل سوی دی او وروسته مدينې ته په راتلو سره چي صدقه فطر او د اختر لمونځ واجب سو نو رسول الله ﷺ هغه وخت ددغه دواړو اياتو مراد بيان کړ چي ددغه مضمون په اصل کي د صدقه فطر او اختر د لمانځه د اهميت او فضيلت سره تعلق لري، په نورو الفاظو دغه خبره داسي هم کېدای سي چي په دغه دواړو آياتو کي يوازي د مالي او بدني عباداتونو، تلقين او ترغيب دی چي په هغه کي د اصل مراد بيان نسته، دغه اصل مراد وروسته هغه وخت بيان کړل سو کله چي صدقه فطر او د اختر لمونځونه واجب وګرځول سول.

هغه راز چي يوازي ابوبکر صديق رضي الله عنه و پيژندی

﴿۵۷۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ

جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ إِنَّ عَبْدًا خَيَّرَهُ اللّٰهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا

پر منبر کښېنستی، ارشاد يې وفرمايه: الله تعالی خپل يو بنده ته دا اختيار ورکړی دی چي هغه خو دي يا ددې دنيا نعمتونه چي خدای تعالی ورکوي

مَا شَاءَ وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ فاختار ماعنده فَبَكَى أَبُو بَكْرٍ قَالَ فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا

يا خو مره چي بنده خوښوي اختيار کړي يا د الله تعالی قربت دي اختيار کړي، بنده د الله تعالی قربت اختيار کړي. ددې اوريدو سره حضرت ابوبکر رضي الله عنه په ژړا سو او عرض يې وکړ اې د الله

وَأُمَّهَاتِنَا فَعَجِبْنَا لَهُ فَقَالَ النَّاسُ انْظُرُوا إِلَى هَذَا الشَّيْخِ يُخْبِرُ رَسُولُ اللَّهِ

رسوله ! زموږ مور او پلار دي پر تا قربان سي ، موږ خلک د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ دد ې خبري په اوريدو سره په تعجب کي سو ، ځيني خلکو وويل دغه سپين ږيري ته وګورئ رسول الله ﷺ د يو

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَبْدٍ خَيَّرَهُ اللَّهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا

بنده حال بيانوي چي خداى تعالى د دنيا د نعمتونو او آخرت په منځ کي اختيار ورکړى دى او

وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ وَهُوَ يَقُولُ فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ الْمُخَيَّرَ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ هُوَ أَعْلَمَنَا. متفق عليه.

دى دا وايي چي موږ او زموږ مور او پلار دي پر تاسو قربان سي ، (مګر وروسته معلومه سوه) چي کوم بنده ته اختيار ورکړل سوى وو هغه رسول الله ﷺ وو او ددې حقيقت څخه حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ تر موږ زيات خبر وو ، . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۲۲۷، رقم: ۳۹۰۴، ومسلم ۴\۱۸۵۴، رقم: ۲- ۲۳۸۲.

تشريح: دا د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ د فهم او ادراک کمال وو چي هغوى د رسول الله ﷺ د ارشاد په اوريدو سره پوه سول چي د رسول الله ﷺ د بېلوالي وخت نژدې راغلى دى او زموږ په منځ کي رسول الله ﷺ د څو ورځو مېلمه دى، هغوى دغه حقيقت يا خو د رسول الله ﷺ د سختي ناروغۍ څخه وپېژندى ، يا هغه ژوروالي ته په تللو سره د ارشاد رمز وپلټه چي د دنيا د عزت او نعمتونو څخه مخ اړول او د آخرت ابدي حقيقتونه په رضا او رغبت سره اختيارول هغه وصف دى چي يوازي د الله جل جلالہ د نيکو او مقربو بندګانو مقام تسليم او قرب ظاهروي، بلي خوا ته هغه پوهيدى چي د دغه دنيا نعمتونه د مقام سيد الانبياء د شان وړ نه دي نو د هغه ذهن دې ته منتقل سو چي رسول الله ﷺ د يو بنده په ذريعه په اصل کي خپل ذات ته اشاره کوي چي د دنيوي ژوند په پرېښودو سره د مرګ او بقاء حق اختيارولو فيصله يې وکړل .

وداعي لمونځ او وداعي خطبه

﴿۵۷۰۶﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عقبه بن عامر رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د احد پر شهيدانو اته کاله

عَلَى قَتْلَى أُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِي سِنِينَ كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ ثُمَّ طَلَعَ الْمِنْبَرَ

وروسته لمونځ وکړ لکه رخصت اخیستونکی له ژوندو او مړو څخه، ددې څخه وروسته رسول

فَقَالَ إِنِّي بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فَرَطٌ وَأَنَا عَلَيْكُمْ شَهِيدٌ وَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْحَوْضُ وَإِنِّي

الله ﷺ منبر ته وختی اووه يې فرمايل: زه ستاسو په مخکي پیشوا يم او زه پر تاسو شاهد يم او ستاسو سره زما د ملاقات مقام حوض کوثر دی، او

لَأَنْظُرُ إِلَيْهِ وانا في مَقَامِي هَذَا واني قد اعطيت مفاتيح خزائن الارض وَإِنِّي

اوس پر دې ځای ولاړ زه حوض کوثر وينم او البته ما ته د مځکي د خزانو کيلياني راکړل سوي

لَسْتُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بعدي وَلَكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ

دي، او زه ددې څخه نه بيربږم چي تاسو ټول به زما څخه وروسته مشرکان سئ بلکه ددې څخه بيربږم چي تاسو به د دنيا په لور رغبت کوئ او په دنيا کي به اخته سئ

تَنَافَسُوهَا فيها وَزَادَ بَعْضُهُمْ فَتَقْتَتِلُوا فَتَهْلِكُوا كَمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ. متفق عليه.

او ځيني راويانو په دغه روايت کي دا الفاظ زيات بيان کړي دي چي بيا به تاسو په خپل منځ کي قتل او مقاتلې کوئ او هلاک به سئ، لکه څرنګه چي ستاسو څخه مخکي خلک هلاک سوي دي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۳۴۸، رقم: ۴۰۴۲، ومسلم ۴\۱۷۹۵، رقم: ۳۰- ۲۲۹۶.

د لغاتو حل: فرط: هو الذي يقدم الواردة فيهيئ لهم الرشاء والدلاء ويسقى لهم.

تشريح: لکه څرنګه چي په عامه توګه کيږي چي يو څوک د خپل اوسني ځای څخه بل ځای ته نقل کيږي او د بېلوالي څخه مخکي خپلو لوړنيو خلګو ته وداعي سلام او کلام کوي، همدارنګه رسول الله ﷺ د ژوند په آخره وخت کي د خپلو صحابه کرامو په مخکي د وفات د ورځي څخه څو ورځي مخکي د احد د شهيدانو لپاره لمونځ وکړ، يعني مړو ته يې خدای په اماني ووېل، او بيا منبر ته په ختلو سره يې د خپلو صحابه کرامو په مخکي داسي بليغ ارشاد

وفرمايه چې د هغه څخه د رسول الله ﷺ د دنيا څخه رخصت کېدل او ژوند ته وداع ويل مفهوم وو، مړو ته د خداى په اماني ويلو مطلب خو دا وو چې له هغوى سره د دنيوي تعلق او لړۍ اوس ختمېدونکي ده چې د دعاء او استغفار په صورت کې تړول عمري جاري وه او ژوندو ته د وداع ويلو مطلب دا وو چې رسول الله ﷺ د ډېر ژر د خپلو صحابه کرامو او خپلو قريبانو څخه تلونکى دى او په دغه دنيا کې د ذات رسالت له وجود څخه چې کوم نور هدايت او فيضان تر لاسه کېدى هغه به بيا هيچا ته په دې دنيا کې تر لاسه نه سي.

د اُحد د شهيدانو لپاره يې لمونځ وکړ: په دې اړه يو کوچنى فقهي بحث دى او هغه دا چې د حنفيه په مذهب کې د شهيدانو لپاره هم د جنازې لمونځ سته ځکه د حنفي علماؤ په نزد دلته د لمانځه لفظ پر خپل معروف معنى يعني د جنازې د لمانځه لپاره استعمال سوى دى، حال دا چې شافعي علماء چې د هغوى په مذهب کې د شهيدانو لپاره د جنازې لمونځ نسته، وايي چې د احد د شهيدانو لپاره د لمانځه ورکولو څخه مراد دادى چې رسول الله ﷺ د احد د شهيدانو په حق کې د استغفار دعاء وکړل.

زه ستاسو په وړاندې ستاسو امير منزل وينم، امير منزل د فرط ترجمه ده او فرط په عربي کې هغه چا ته وايي چې د قافلې په پرېښودو سره خپل منزل ته مخکې ورسيږي چې هلته د قافلې لپاره د هستوګن ځاى، خوراک او نورو شيانو بندوبست وکړي، نو رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذريعه دې ته اشاره وکړل چې زه ستاسو څخه مخکې آخرت ته ځم چې هلته ستاسو د کار جوړولو، خلاصون او شفاعت اسباب تيار کړم يا دا چې په حشر کې ستاسو شفاعت ما ته راکول کيږي ځکه ستاسو څخه مخکې هلته په رسېدو سره زه به د شفاعت لپاره تيار يم.

زه ستاسو شاهد يم، د دې څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو که زه تاسو خلک پرېږدم او ځم مګر ستاسو احوال او معاملاتو څخه به بې تعلق او لا علم نه يم ځکه چې ستاسو اعمال او حالات به هلته ما ته وړاندې کيږي يا دا چې زه ستاسو شاهد يم، هلته به زه ستاسو د فرمانبردارۍ او اطاعت او ستاسو د دعوت اسلام قبلولو شاهدي ورکوم.

د وعدې پوره کېدو ځاى حوض کوثر دى، د دې مطلب دادى چې په آخرت کې حوض کوثر هغه ځاى دى چې هلته په رسېدو سره د نېک باطن او بدباطن او مؤمن او منافق په منځ کې امتياز قائم کړل سي، همدارنګه په محشر کې ستاسو د خاص شفاعت چې زما وعده ده هغه به پر حوض کوثر باندې پوره سي، چې هلته به يوازې مؤمنانو ته زما شفاعت د حوض کوثر څخه د اوبه کېدو موقع تر لاسه کيږي، دا مطلب ملا علي قاري رحمة الله عليه ليکلى دى، او شيخ عبدالحق

رحمة الله عليه دا مطلب بيان کړی دی چي په محشر کي زما د ليدني چي ستاسو سره وعده ده ځ هغه پوره کولو او زما او ستاسو په منځ کي د ملاقات ځای حوض کوثر دی .

حوض کوثر وينم، دغه ارشاد پر خپله ظاهري معنی باندي محمول وو ، په دې کي د تاويل امکان نسته، مطلب دا چي هغه وخت رسول الله ﷺ پر خپل منبر باندي ناست صحابه کرامو ته يې خطاب کوی يعني د رسول الله ﷺ لپاره د حوض کوثر د آخرت د پردې څخه بې حجابه کړل سو او رسول الله ﷺ په خپلو ظاهرو سترګو سره هغه وليدی .

ما ته د مځکي د خزانو کيلي راکړل سوي دي، مطلب دا چي زما څخه وروسته به د امت د مجاهدينو په لاسو لوی لوی سيمي او ښارونه فتح سي او د هغه خلګ به ايمان او اسلام قبول کړي د هغوی خزانې به زما د امت په لاس ورسي .

په دنيا کي به ستاسو زړه لګېدل زيات سي، ددغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمايل چي زما څخه وروسته هم تاسو خلک به ان شاء الله پر دين باندي قائم ياست ، دا بېله خبره ده چي ځيني بدبخته خلګ د کفر او شرک تيارو ته بېرته وګرځي، مګر په مجموعي توګه ټول امت په دوهم ځل ګمراه کيدای نسي، مګر دا خو کيدای سي چي د وخت په تېرېدو سره ستاسو په ديني ژوند کي هم کمزوري راسي او تاسو په دنيا کي ډېره برخه اخيستل پيل کړي چي ستاسو د شان او حيثيت څخه به ليري خبري وي او ستاسو ديني او ملي ژوند به هم د هغه مضرو اثراتو ښکاره سي، دغه ارشاد په اصل کي د امت لپاره خبرداری دی چي د مؤمنانو شان دا نه دی چي هغوی د دنيا د فاني نعمتونو او خوندونو په لور د ضرورت څخه زيات مائل وي او دهغوی مقصد دنيا جوړه سي، د هغوی شان خو دا دی چي هغوی خپل ټول مقصد او خپل ټول رغبت د آخرت نعمتونه وګرځوي ځکه چي باقي او پاته کېدونکی خو هغه دی، دا حقيقت قرآن کريم داسي بيان کړی دی :

وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ

امام نووي رحمة الله عليه ليکلي دي: ددغه حديث څخه د رسول الله ﷺ د زياتو معجزو اظهار کيږي ، يو خو دا چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما امت به د مځکي د خزانو خاوندان سي، بالکل رېښتيا او د واقعې مطابق ثابت سو ، دوهم دا چي رسول الله ﷺ د خپل امت په اړه دا خبر ورکړ چي هغوی به نه مرتد کيږي نو همداسي وسول، چي الله جل جلاله ، امت محمدي د کفر او ارتداد څخه وژغوری، او دريم دا چي د رسول الله ﷺ دا فرمايل هم چي زما د امت خلک به په دنيا کي اخته سي ، بالکل صحيح سو .

د رسول الله ﷺ د ژوند اخيري لمحې

﴿۵۷۰۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ مِنْ نِعَمِ اللّٰهِ عَلَيَّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دی چې د خدای ﷻ د نعمتونو څخه چې زما لپاره خاص سوي دي تر ټولو لوی نعمت دادی چې رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ فِي بَيْتِي وَفِي يَوْمِي وَبَيْنَ سَحْرِي وَنَحْرِي وَأَنَّ اللّٰهَ جَمَعَ بَيْنَ

زما په کور زما نمبر په ورځ وفات سو ، او رسول الله ﷺ زما د سينې او غاړې په منځ کې وفات سو ، او د الله تعالی يو خاص نعمت پر ما دا وسو چې خدای تعالی

رِيقِي وَرِيقِهِ عِنْدَ مَوْتِهِ دَخَلَ عَلَيَّ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَبِيَدِهِ السِّوَاكُ وَأَنَا

د رسول الله ﷺ د وفات پر وخت زما او د رسول الله ﷺ لعاب (نارې) يو ځای کړې، (چې هغه داسې پېښه سوه چې عبدالرحمن بن ابي بکر هغې ته راغلی دغه وخت د هغه په لاس کې مسواک وو

مُسْنِدَةٌ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَيْتُهُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ وَعَرَفْتُ أَنَّهُ

او رسول الله ﷺ زما د سينې سره ښکنگ وهلی وو ، ما وليدل چې رسول الله ﷺ د عبدالرحمن يا مسواک په لور ګوري ما ته معلومه سوه چې د رسول الله ﷺ

يُحِبُّ السِّوَاكَ فَقُلْتُ آخُذُهُ لَكَ فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ فَتَنَاوَلْتُهُ فَأَمَرَّهُ وَبَيْنَ

مسواک ډېر خوښ وو ما ورته عرض وکړ اې د الله رسوله ! ايا ستاسو لپاره د عبدالرحمن څخه مسواک واخلم، رسول الله ﷺ د سر مبارک په اشارې سره ظاهره کړه چې هو، نو ما د عبدالرحمن څخه مسواک واخيستی او رسول الله ﷺ ته مې ورکړ ، رسول الله ﷺ ته د هغه

يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فِيهَا مَاءٌ فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْمَاءِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ يَقُولُ

مسواک ژوول مشکل سول ځکه چې هغه سخت وو نو ما ورته عرض وکړ ايا زه دا مسواک نرم کړم ؟ رسول الله ﷺ اجازه راکړه نو ما هغه مسواک په خوله سره نرم کړ ، بيا رسول الله ﷺ په خپلو غاښونو مبارکو وګرځوی او دغسې زما نارې د رسول الله ﷺ د ناوړ مبارکو سره د وفات پر وخت يو ځای سوې او د رسول الله ﷺ مخکې د اوبو يو لوښی ايښودل سوی وو ، رسول الله ﷺ به د هغه اوبو څخه په لاس کې را اخيستې او پر مخ مبارک به يې ګرځولې او فرمايل به يې

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ ثُمَّ نَصَبَ يَدَهُ فَجَعَلَ يَقُولُ فِي الرَّفِيقِ الْأَعْلَى حَتَّى قُبِضَ وَمَالَتْ يَدُهُ. رواه البخاري

لااله الاالله ، بېشکه د مرګ پر وخت سختي ده، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ لاس مبارک پورته کړ او دا يې و فرمايل ما د رفيق اعلى سره يو ځاى کړئ، رسول الله ﷺ دا فرمايل تر دې چې روح مبارک يې قبض کړل سو او لاسونه مبارک يې کښته ولويدل . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٨\ ١۴۴، رقم: ۴۴۴٩.

د لغاتو حل: نحري: موضع القلادة من اعلى الصدر.

تشريح: او زما د وار په ورځ يې وفات وکړ، بي بي عائشې رضي الله عنها دې ته اشاره وکړل چي که څه هم رسول الله ﷺ د وفات تر ورځي پوري د مرض الموت په ټول وخت کي زما په کور کي وو، مګر زما نوره خوشبختي دا وه چي په کومه ورځ رسول الله ﷺ وفات سو ، د هغه حساب په اعتبار هغه ورځ وه چي په هغه کي به رسول الله ﷺ زما سره وو ، په جامع الاصول کي يې ليکلي دي چي په کومه ورځ د رسول الله ﷺ د مرض الموت پيل د سردرد مبارک څخه وسو په هغه ورځ هم له بي بي عايشې رضي الله عنها سره وو او د هغه وروسته چي په کومه ورځ د سر په درد او ناروغۍ کي سختوالى راغلى نو رسول الله ﷺ د بي بي ميمونې رضي الله عنها سره وو ، هغه وخت د رسول الله ﷺ ازواج مطهرات په خوښي او رغبت سره رسول الله ﷺ ته اجازه ورکړل ، دمرض الموت سختوالى دوولس ورځي وو او د رسول الله ﷺ وفات د ربيع الاول په مياشت کي د دوشنبې په ورځ د څاښت په وخت کي وسو ، د نېټې په اړه ځينو حضراتو د ربيع الاول ١٢ نېټه بيان کړې ده او له اکثرو روايتو څخه هم دا ثابتيږي .

زما د سينې او اوږو په منځ کي، مطلب دا چي پاک روح کله د بدن مبارک څخه پرواز وکړ نو رسول الله ﷺ د بي بي عائشې رضي الله عنها د سينې او غاړي سره څنګ وهلى وو ، دا خبره د بي بي عائشې رضي الله عنها د مقام محبوبيت او کمال قرب باندي دلالت کوي، د بي بي عائشې رضي الله عنها دغه ارشاد ډېر نقل سوى دى او د ابن سعد رضي الله عنه دا روايت چي هغه وخت د رسول الله ﷺ سر مبارک د حضرت علي رضي الله عنه په غېږ کي وو ، خلاف نه دى ځکه چي لومړى خو هغه دواړو چي په کومو طريقو سره دا روايت نقل کړى دى په هغه کي هيڅ يو طريقه داسي نه ده چي په هيڅ ډول د يوې خرابۍ څخه خالي نه وي، دوهم دا که چيري دا طريقه صحيح هم ومنل سي نو د دغه روايت به دا

تاویل کیږي چي د رسول الله ﷺ سر مبارک د حضرت علي رضی الله عنه په غیږ کي د وفات ځخه مخکي وو.
زما او د رسول الله ﷺ ناړي یې جمع کړي وې، یعني کله چي رسول الله ﷺ د عبدالرحمن مسواک په خوله مبارکه واخیست او استعمالول یې وغوښتل او د هغه د سخت کېدو په وجه دا مشکله سول نو بیا بي بي عائشې رضی الله عنها هغه مسواک په خپلو غاښو سره نرم کړ او رسول الله ﷺ هغه نرم سوی مسواک په خپلو غاښو پوري وموږی، همدارنګه د دواړو ناړي د بي بي عائشې رضی الله عنها په خوله مبارکه کي هم جمع سوې، او د رسول الله ﷺ په خوله مبارکه کي هم، نو بي بي عائشې رضی الله عنها دا ځرګنده کړل چي د رسول الله ﷺ د مقدسو ناړو د برکت تر لاسه کول زما لپاره ډېر لوی نعمت وو ځکه چي هغه وخت د ټولو برکتونو او سعادتونو منتهاء وه، یا د دغه جملې په ذریعه بي بي عائشې رضی الله عنها دې ته اشاره وکړل چي د رسول الله ﷺ د ناوړ برکت ما ته هغه وخت تر لاسه سو او تر دې مخکي هیڅکله دا نعمت ما ته تر لاسه سوی نه وو.

او په لندولو سره پر خپل مخ مبارک یې راتېروی، ددې ځخه یوه خبره خو دا معلومه سول چي هغه وخت د رسول الله ﷺ پر مزاج مبارک د تودوخي ډېره غلبه وه او د لانده لاس پر مخ باندي را تېرولو سره تر څه حده ډاډ تر لاسه کیدی. مګر په دې کي د رسول الله ﷺ له خوا د خپل عجز او عبودت د اظهار اشاره هم وه او ددې ځخه دا خبره هم راووتل چي د سکرات الموت په وخت کي دا عمل د هر ناروغ لپاره صحیح دی او که خپله ناروغ پر دې قادر نه وي نو روغ کسان دي په دغه سنت عمل باندي په عمل کولو سره لاس لندوي او د ناروغ پر مخ دي یې راتېروي، یا دهغه په ستوني کي او به ځځوي، ځکه چي په دې سره په تکلیف کي سپکوالی رائحي، بلکه که چیري حالات سخت وي نو بیا او به ځځول واجب کیږي.

سکرات په اصل کي د سکرة جمع ده چي معنی یې د سختی ده، او د سکرات الموت ځخه د ساه ختلو په وخت کي هغه سختي او تکلیف مراد دی چي په دننه سوزش او طبیعت ته د پېښېدونکو سختیو په صورت کي مړ کېدونکي ته زغمل وي، او دغه سختی انبیاء او ارباب حق ته هم وي، او یوازي د الله جل جلاله فضل او کرم د داسي سختی په وخت کي مرسته کوونکي وي، نو د سکرات الموت ځخه پناه غوښتل او د مړ کېدونکي ناروغ لپاره په دغه سختیو کي د اسانی دعاء کول ډېر ضروري وي.

په یو بل روایت کي د بي بي عائشې رضی الله عنها ځخه دا الفاظ منقول دي چي ما رسول الله ﷺ د نزع (زکندن) په وخت کي ولیدی چي رسول الله ﷺ له ځان سره اینبی د اوبو په پیاله کي خپل لاس مبارک لندوی او پر مخ یې راتېروی او پر ژبه مبارکه یې دا دعاء جاري وه: لااله الا الله ان

الموت سكرات، په يو بل روايت كي د سكرات الموت پر ځای د منكرات الموت الفاظ دي، مطلب په دواړو صورتو كي يو دی چي اې الله! د مرګ د دغه سختيو په وخت كي زما مرسته وكړې.
په رفيق اعلى كي شامل كړې: د رفيق لفظ اسم جنس دی او د دغه لفظ اطلاق پر فرد واحد باندي هم كيږي او پر ډېرو باندي هم كيږي، د رفيق اعلى څخه مراد انبياء كرام دي چي اعلي عليين ته رسيدلي دي، د دې تائيد د هغه روايت څخه هم كيږي چي په هغه كي د دغه دعاء الفاظ مذكور دي (يعني له انبياؤ سره)، صديقينو سره، شهيدانو او صالحانو سره چي هغوی ښه رفيقان دي، يا دا چي د رفيق اعلى څخه مراد ملاء اعلى او عالم ملكوت يعني په آسمانو كي اوسېدونكي ملائكي او نور وي، او ځينو حضراتو دا ليكلي دي چي د رفيق اعلى څخه مراد الله ﷻ دی چي پر الله ﷻ باندي هم د رفيق اطلاق منقول دی لكه په يوه روايت كي راغلي دي چي د هغه له خوا رسول الله ﷺ ته دا اختيار وركړل سوی دی كه تاسو په دنيا كي څو ورځي نور اوسېدل خوښوئ او كه هغه (الله ﷻ) ته ورځي ، رسول الله ﷺ وفرمايل: اخترت الرفيق الاعلى، يعني ما رفيق اعلى اختيار كړ.

انبياؤ ته د مرګ څخه مخكي اختيار

﴿۵۷۰۸﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي هر

نَبِيٍّ يَمْرَضُ إِلَّا خُيِّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَكَانَ فِي شَكْوَاهُ الَّذِي قُبِضَ أَخَذَتْهُ

نبي ته د مرګ پر وخت د دنيا او آخرت په منځ كي اختيار وركول كيږي ، او د رسول الله ﷺ د وفات په وخت كي سخت ټوخی كېدی ما په دې حالت كي د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل

بُحَّةٌ شَدِيدَةٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ مَعَ الَّذِينَ أَنْعمت عليهم مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ فَعَلِمْتُ أَنَّهُ خُيِّرَ. متفق عليه.

چي اې الله! ما په هغه خلكو كي شامل كړې چي پر هغوی تا خپل انعام كړی دی يعني په نبيانو، صديقانو، شهيدانو او صالحانو كي، د دغه آواز اوريدو سره ما معلومه كړه چي رسول الله ﷺ د آخرت سفر ته اختيار وركړ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۲۵۵، رقم: ۴۵۸۶، ومسلم ۴\ ۱۸۹۳، رقم: ۸۶- ۲۴۴۴.

د بي بي فاطمې ﷺ پريشاني

﴿۵۷۰۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ يَتَغَشَّاهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله د رسول الله ﷺ د ناروغۍ سختي دې حد ته ورسيدل چي د مرض سختي به سخت خفګان پر راويستی

الكرب فَقَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَامِ وَا كَرْبَ أَبَاهُ فَقَالَ لَهَا لَيْسَ عَلَى أَبِيكِ

نو بي بي فاطمې وويل: آه زما باباجان، څومره سختي او تکليف دی، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: د نن ورځې څخه وروسته ستا پر پلار هيڅ

كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ فَلَمَّا مَاتَ قَالَتْ يَا أَبَتَاهُ أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ يَا أَبَتَاهُ مَنْ جَنَّةُ

سختي او تکليف نسته، بيا چي رسول الله ﷺ وفات سو نو بي بي فاطمې ﷺ وويل باباجانه تاسو د خدای ﷻ دعوت قبول کړ او خپل پروردګار ته ولاړې، باباجانه! اې هغه شخصيته!

الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ يَا أَبَتَاهُ إِلَى جِبْرِيلَ نَنْعَاهُ فَلَمَّا دُفِنَ قَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا

چي د هغه ځای جنت الفردوس دی، باباجانه! موږ ستاسو د وفات خبر جبرائيل عليه السلام ته رسوو، بيا چي رسول الله ﷺ دفن کړل سو نو بي بي فاطمې وويل:

السَّلَامِ يَا أَنَسُ أَطَابَتْ أَنْفُسُكُمْ أَنْ تَحْثُوا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ. رواه البخاري.

اې انس! تاسو دا څنګه زغمل چي پر رسول الله ﷺ مو خاوري اچولې؟. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۱۴۹، رقم: ۴۴۶۲.

په دې اړه د حضرت بي بي فاطمې رضي الله عنها دوه شعرونه په لاندي ډول دي:

ماذا على من شم تربة احمد ان لم يشم مدى الزمان غوالبا

صبت على مصائب لوانها صبت على الايام صرن لياليا

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

مدينه په غم كې ډوبه سوه

﴿۵۷۱۰﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی كله چې رسول الله ﷺ مدينې ته تشريف راوړ

لَعِبَتِ الْحَبَشَةُ بِحِرَابِهِمْ فَرَحًا لِقُدُوْمِهِ. رواه أبو داود وفي رواية الدارمي

نو حبيشانو د نيزو لوبه ښودل له وجهې د خوشحالۍ په راتللو دده، ابوداؤد، او د دارمي په

قَالَ مَا رَأَيْتُ يَوْمًا قَطُّ كَانَ أَحْسَنَ وَلاَ أَضْوَأَ مِنْ يَوْمٍ دَخَلَ عَلَيْنَا فِيْهِ رَسُوْلُ

روايت كې دا الفاظ دي چې انس رضي الله عنه وويل: ما هيڅ يو ورځ د هغه ورځې څخه زيات حسينه او روښانه نه ده ليدلې په كومه ورځ چې رسول الله ﷺ مدينې ته تشريف راوړی وو،

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا رَأَيْتُ يَوْمًا كَانَ أَقْبَحَ وَلاَ أَظْلَمَ مِنْ يَوْمٍ مَاتَ

او د هغه ورځې څخه زياته بده او تياره ورځ مې نه ده ليدلې په كومه ورځ چې رسول الله ﷺ

فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ رِوَايَةِ التِّرمذي قَالَ لَمَّا كَانَ الْيَوْمُ

وفات سو، او د ترمذي په روايت كې دا الفاظ دي چې انس رضي الله عنه وويل هر كله چې هغه ورځ

الَّذِيْ دَخَلَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ أَضَاءَ مِنْهَا كُلُّ

راغلل په كومه ورځ چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته تشريف راوړ نو روښانه سو هر

شَيْءٍ فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ أَظْلَمَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ وَمَا نَفَضْنَا أَيْدِيَنَا عَنِ التُّرَابِ وَإِنَّا لَفِيْ دَفْنِهِ حَتَّى أَنْكَرْنَا قُلُوْبَنَا.

شی د رسول الله ﷺ په تشريف راوړلو سره هر شی روښانه سو، بيا چې هغه ورځ راغلل چې رسول الله ﷺ وفات سو نو پر ټولو شيانو تاريكي خپره سول، او د رسول الله ﷺ د دفن كيدو څخه وروسته موږ لا د خاورو څخه لاس نه وه څنډلي چې موږ خپل زړونه نا اشنا وليدل.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۲۱، رقم: ۴۹۲۳، والدارمي ۱\۵۴، رقم: ۸۸، والترمذي ۵\۵۴۹، رقم: ۳۶۱۸

د لغاتو حل: نزل به: اي الموت يعني علاماته (د مرگ نښي راتلل)

تشريح: په مدينه منوره کي د رسول الله ﷺ راتگ ورځ ډېره ښکلې هم وه او ډېر د افسوس هم وه ځکه چي هغه ورځ مشتاقان جمال لپاره د وصال او قرب ورځ وه ، د هغوی د غوښتنو د تکميل ورځ وه نه يوازي دا چي د هغوی زړه او دماغ خلاص سوی وو بلکه د هغوی تر ډېوالو پوري د نبوت نور ځليدی او بيا چي هغه ورځ راغلل چي د نبوت لمر له دنيا څخه رخصت سو نو د مدينې اوسېدونکو ته تياره سول ، هري خوا ته د غم تياره خپره سوه ځکه چي هغه ورځ مشتاقان جمال د نبوت لپاره د فراق ورځ وه د هغوی د خوشحاليو د بېلوالي ورځ وه .

د يو بل څخه نه پېژندنه مو محسوس کړل، مطلب دا چي زموږ څخه د رسول الله ﷺ تلل او د دنيا څخه د نبوت د لمر د رخصتېدو په وجه پر موږ چي کومه تياره خپره سول چي زموږ د زړونو هغه پاکي او نورانيت چي د رسول الله ﷺ د ليدني او ملگرتيا په نتيجه کي تر لاسه کېدی، د هغه لړۍ قطع سوې ده او زموږ په زړو کي د صدق او اخلاق هغه پخوانی کيفيت پاته نه دی.

د رسول الله ﷺ د تدفين په اړه اختلاف

﴿۵۷۱۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَلَفُوا

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي کله رسول الله ﷺ وفات سو نو د رسول الله ﷺ د

فِي دَفْنِهِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ شَيْئًا مَا نَسِيتُهُ قَالَ مَا

دفن کيدو په ځای کي اختلاف واقع سو، ابوبکر ﷺ وفرمايل په دې اړه ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي

قَبَضَ اللَّهُ نَبِيًّا إِلَّا فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُدْفَنَ فِيهِ ادْفِنُوهُ فِي مَوْضِعِ فِرَاشِهِ. رواه الترمذي.

الله تعالی د يو نبي روح قبض کوي کوم ځای چي هغه دفن کيدل خوښوي، په دې وجه رسول الله ﷺ د خپلي بستري پر ځای بايد دفن سي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۳\۳۳۸، رقم: ۱۰۱۸.

تشريح: د صحابه کرامو په منځ کي اختلاف را منځته سو، يعني د ځينو حضراتو دا وينا وه

چي د رسول الله ﷺ ښخېدل بايد په بقيع هديره کي وسي او ځينو حضراتو دا وويل چي په مسجد نبوي کي ښخېدل زيات مناسب دي، حال دا چي د ځينو صحابه کرامو رايه دا هم وه چي د رسول الله ﷺ تدفين په بيت المقدس کي وسي ځکه چي د اکثرو نبيانو قبرونه هلته دي يا دا چي د دفن کولو په اړه اختلاف را منځته سو چي ايا رسول الله ﷺ دفن کړل سي که يا؟ د ترمذي په يوه روايت کي داسي دي چي په هغه وخت کي صحابه کرامو ، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته رجوع وکړل او له هغه څخه يې پوښتنه وکړل چي اې د رسول الله ﷺ ملګرې! ايا رسول الله ﷺ ښخ کړل سي که يا؟ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل: هغه ځای چيري چي الله جل جلاله د رسول الله ﷺ روح قبض کړل ، هغه پاک او طاهر ځای دی ، صحابه کرام پوه سول چي ابوبکر صديق رضي الله عنه څه وايي هغه صحيح دي او همدارنګه د عائشې رضي الله عنها په حجره کي چيري چي رسول الله ﷺ وفات سوی وو ، تدفين په عمل کي راغلی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

دوفات څخه مخکي نبي کريم ﷺ ته د هغه ځای و ښودل سو

﴿۵۷۱۲﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د روغتيا په حالت کي وفرمايل :

صَحِيحٌ إِنَّهُ لَمْ يُقْبَضْ نَبِيٌّ حَتّٰى يَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرُ قالت

د يو نبي روح تر هغه وخته پوري نه قبض کيږي تر څو پوري چي په جنت کي خپل ځای ورته ونه ښودل سي ، هر کله چي هغه خپل ځای په جنت کي ووينې هغه ته به اختيار ورکړل سي، بي بي

عائشة فَلَمَّا نَزَلَ بِهِ وَرَأْسُهُ عَلَى فَخِذِي غُشِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَأَشْخَصَ بَصَرَهُ

عائشه رضي الله عنها فرمايي : کله چي رسول الله ﷺ ته مرګ راغلی نو سر مبارک يې زما پر ورانه پروت وو چي رسول الله ﷺ بې هوشه سو ، بيا په هوش کي سو سترګي مبارکي يې پورته کړلې

إِلَى السَّقْفِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى قُلْتُ إِذًا لَا يَخْتَارُنَا وَعَرَفْتُ أَنَّهُ

بام ته يې وکتل او وه يې فرمايل : اللهم الرفيق الاعلى، اې الله زه رفيق اعلی خوښوم، ما وويل دوی به موږ نه اختياروي ، بي بي عائشه وايي د رسول الله ﷺ الفاظ اوريدو سره ما ته د رسول

الْحَدِيثُ الَّذِي كَانَ يُحَدِّثُنَا بِهِ وهو صحيح في قوله انه لن يقبض نبي قط

الله ﷺ هغه خبره راياد سوه كومه چې يې د روغتيا په حالت كې موږ ته بيان كړې وه يعني دا چې د يو نبي روح تر هغه وخته پورې نه قبض كيږي

حتى يرى مقعده من الجنة ثم يخير قَالَتْ عائشة فَكَانَ آخِرَ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ

تر څو پورې په جنت كې هغه ته خپل ځاى ونه ښودل سي او بيا هغه ته اختيار وركول كيږي كه په دنيا كې ژوند كوي يا عالم آخرت ته ځي، بي بي عائشه فرمايي : د وفات پر وخت

بِهَا النَّبِيُّ ﷺ قَوْلُهُ اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى. رواه البخاري و مسلم.

د رسول الله ﷺ آخري كلام دا الفاظ وه (اللهم الرفيق الاعلى). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۳۵۷، رقم: ٦٥٠٩، ومسلم ۴\ ۱۸۹۴، رقم: ۸۷- ۲۴۴۴.

تشريح: د رسول الله ﷺ د ژبې مباركې څخه وتونكي آخري الفاظ : اللهم رفيق الاعلى، وه او څرنګه چې سهيلي رحمه الله ليكلي دي چې د رسول الله ﷺ د ژبې مباركې څخه تر مخكې چې كوم الفاظ ووتل هغه دا وه: الله اكبر، او دا دهغه وخت پېښه ده كله چې رسول الله ﷺ د خپل تې رودلو په زمانه كې له حليمه رضي الله عنها سره وو، او په يوه روايت كې دا راغلي دي چې په كومه ورځ الله جل جلاله د ټول عالم د ارواحو څخه د خپل ربوبيت عهد اخيستى وو چې هغه ته عهد الست وايي نو هغه وخت د الله جل جلاله د سوال : (الست بربكم) ايا زه ستاسو رب نه يم؟ ، په جواب كې بلى، (هو) يقينا تاسو زموږ رب ياست، تر ټولو مخكې د رسول الله ﷺ روح پاك ويلي وه.

دزهرو اثر

﴿۵۷۱۳﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ يَا عَائِشَةُ مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ وَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذَلِكَ السُّمِّ. رواه البخاري.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به د خپل ناروغۍ په وخت كې فرمايل : اې عائشې ! زه همېشه د هغه طعام تكليف محسوسوم چې ما په خيبر كې خوړلى وو

(یعني د زهرو غوښه) اوس هغه وخت دی چي د هغه زهرو د اثر څخه زما د شا رګ پرې کړی معلومیږي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۱۳۱، رقم: ۴۴۲۸،

د لغاتو حل: ابهري: وهو عرق يتعلق به القلب.

تشريح: د زهرجن خوراک څخه مراد هغه پسه دی چي یوې یهودي ښځي د خیبر د فتح په وخت کي د رسول الله ﷺ په خدمت کي وړاندي کړی وو او رسول الله ﷺ د هغه څخه یو څه خوړلي وه، د هغه ذکر په تفصیل سره مخکي تېر سوی دی ، هغه وخت که څه هم د ظهور د معجزې سره سم داسي اثر ونه سو چي هلاکت واقع سوي وي مګر د هغه مضر اثرات په هر حال قائم پاته سوي وه چي د هغه ظهور کله نا کله پیښېدی، بیا الله ﷻ په ظاهره ددې حکمت سره سم چي رسول الله ﷺ د شهادت درجه تر لاسه کړي په مرض الموت کي د هغه زهرو اثر ظاهر کړ ، لکه څرنګه چي ویل کیږي چي د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه مرګ د هغه مار د زهرو د اثر څخه واقع سوی وو چي هغه ډېر وخت مخکي د مدینې د هجرت د سفر په دوران کي په غار ثور کي چیچلی وو .

په مرض الموت کي یوه واقعه

﴿۵۷۱۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا حُضِرَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي کله د رسول الله ﷺ د وفات وخت را نژدې سو هغه

الْبَيْتِ رِجَالٌ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلُمّوا

وخت په کور کي ډېر خلک وه چي په هغوی کي حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه هم وو ، نبي کریم ﷺ وفرمایل : راسئ چي

أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ فقَالَ عُمَرُ قد غُلِبَ عليه الْوَجَعُ وَعِنْدَكُمُ

ستاسو لپاره یو تحریر ولیکم، چي ددې څخه وروسته تاسو ګمراه نه سئ ، حضرت عمر رضی الله عنه خلکو ته وویل پر رسول الله ﷺ د مرض غلبه او شدت دی او ستاسو سره

الْقُرْآنُ حَسْبُكُمْ كِتَابُ اللّٰهِ فَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْبَيْتِ وَاخْتَصَمُوا فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ

قرآن موجود دی د خدای کتاب ستاسو لپاره کافي دی، کوم خلک چي هغه وخت په کور کي موجود وه په هغوی کي د رایې اختلاف سو ، ځینو وویل

قَرِّبُوا يَكْتُبْ لَكُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ مَا قَالَ عُمَرُ

د ليكلو سامان رسول الله ﷺ ته نژدې راوړئ چې رسول الله ﷺ ستاسو لپاره ليكنه وكړي، او ځينو هغه الفاظ وويل كوم چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ فرمايلي وه،

فَلَمَّا أَكْثَرُوا اللَّغَطَ وَالِاخْتِلَافَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُومُوا عَنِّي

آخر چې خلكو ډير شور جوړ كړ او اختلاف زيات سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل: زما څخه ولاړ سئ

قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ إِنَّ الرَّزِيَّةَ كُلَّ الرَّزِيَّةِ مَا حَالَ بَيْنَ رَسُولِ

د عبيد الله راوي بيان دی چې ابن عباس رضی اللہ عنہ وويل مصيبت او پوره مصيبت هغه حالت وو چې د رسول الله ﷺ او هغه تحرير په منځ كې حائل سو

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ أَنْ يَكْتُبَ لَهُمْ ذٰلِكَ الْكِتَابَ لِاخْتِلَافِهِمْ وَلَغَطِهِمْ.

كله چې رسول الله ﷺ ليكل غوښتل او دا حالت په خپلو كې د اختلاف او شور څخه پيدا سو، د

وفي رواية سليمان ابن ابي مسلم الاحول قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَوْمُ الْخَمِيسِ وَمَا

سليمان بن ابو مسلم احول په روايت كې دا الفاظ دي چې ابن عباس رضی اللہ عنہ وويل: د پنجشنبې په

يَوْمُ الْخَمِيسِ ثم بكى حتي بل دمعه الحصى قلت يا ابن عباس وما اليوم

ورځ آه او د پنجشنبې ورځ څه ده؟ ددې ويلو سره ابن عباس رضی اللہ عنہ په ژړا سو او دومره يې وژړل چې د هغه اوښكو هغه باجرى چې هلته پروت وو لوند كړ، ما وويل اې ابن عباس!

الخميس قال اشْتَدَّ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعُهُ فَقَالَ ائْتُونِي بكتف

د پنجشنبې ورځ څه شي ده؟ ابن عباس رضی اللہ عنہ وويل: د رسول الله ﷺ ناروغۍ چې په دغه ورځ شدت اختيار كړ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته د ورانه هډوكي راوړئ

أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ أَبَدًا فَتَنَازَعُوا وَلَا يَنْبَغِي عِنْدَ نَبِيٍّ تَنَازُعٌ

چې زه ستاسو لپاره يو تحرير وليكم چې بيا تاسو هيڅكله ګمراه نه سئ، په خلكو كې اختلاف سو او د نبي كريم ﷺ په حضور كې اختلاف مناسب نه وو.

فَقَالُوا مَا شَأْنُهُ أَهَجَرَ اسْتَفْهِمُوهُ فَذَهَبُوا يَرُدُّونَ عَلَيْهِ فَقَالَ دَعُونِي ذروني

ځيني صحابه كرامو وويل د رسول الله ﷺ څه حال دی چي دنيا ترک کوي، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړئ چي د هغوی څه خوښه ده، نو ځيني صحابه كرامو د رسول الله ﷺ څخه پوښتني كول پيل كړل، رسول الله ﷺ وفرمايل ما پريږدئ، ما پريږدئ

فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِي إِلَيْهِ فَأَمَرَهُمْ بِثَلَاثٍ فقَالَ أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ

په دغه حالت كي په كوم كي چي زه يم ځكه چي زما دا حالت تر هغه غوره دی كوم ته چي تاسو ما بلئ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د درو خبرو حكم وكړ: يو خو دا چي مشركان د جزيره

مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ أَوْ قَالَهَا فَنَسِيتُهَا قال سفيان هذا من قول سليمان. متفق عليه

عرب څخه وباسئ، دويم دا چي د قاصدانو احترام كوئ، او د هغوی سره احسان كوئ، لكه څرنګه چي ما ورسره احسان كوي، او دريمه خبره ابن عباس رضي الله عنه ونه ښودل يا داسي يې وفرمايل: چي هغه زما څخه هيره سوه، د سفيان بيان دی چي آخري قول د سليمان راوي دی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۰۸، رقم: ۱۱۴، ومسلم ۱۳\۱۲۵۹، رقم: ۲۲- ۱۶۳۷.

د لغاتو حل: اللغط: الصوت الذي لايفهم مبناه. الرزيئة: اي المصيبة. اهجر: اي اختلاف كلامه.

تشريح: راوړئ، چي زه ستاسو لپاره ليكنه وكړم، په دې اړه نووي رحمه الله د مسلم په تشريح كي ليكلي دي چي دا ناممكن او محال وه چي رسول الله ﷺ درواغ ويلي وای، دا هم ناممكن او محال وه چي رسول الله ﷺ د شريعت د احكامو څخه په يو شي كي تغير او تبديل كړی وای، كه څه هم رسول الله ﷺ روغ او توانا وو يا په ناروغۍ كي اخته وو، دا هم ناممكن او محال وه چي رسول الله ﷺ د هغه شي بيان او نافذ كول غير ضروري ګڼلای چي د هغه د بيان او نفاذ حكم رسول الله ﷺ ته د الله جل جلاله له خوا وركړل سوی وي او دا هم ناممكن وه چي د كوم شي تلقين او تبليغ يې كوی الله جل جلاله د رسول الله ﷺ لپاره واجب او ضروري ګرځولي وه د هغه د تلقين او تبليغ څخه رسول الله ﷺ صرف نظر كړی وي، دا ټول هغه قبائح دي چي له هغه څخه الله جل جلاله، رسول الله ﷺ معصوم ګرځولی وو، ځكه د رسول الله ﷺ څخه د داسي شيانو د صدور تصور هم نه سو كيدای، مګر دا خبره ناممكن نه وه چي رسول الله ﷺ په يوه داسي بدني ناروغۍ كي

اخته نه وي چي په هغه سره نه د رسول الله ﷺ د نبوت مرتبې او د رسالت شان ته تاوان رسیدي
او نه د رسول الله ﷺ پر راوړي شریعت باندي اثر لویدی، همدا وجه ده چي په رسول الله ﷺ
باندي جادو وکړل سو نو رسول الله ﷺ د هغه تر تاثیر لاندي راغلی او د رسول الله ﷺ اندامونه
او حواس تر دې حده متاثر سوي وه چي دا فکر به یې کوی چي ما دا کړی دی حال دا چي رسول
الله ﷺ به هغه نه وو کړی، مګر په دغه حالت کي هم الله جل جلاله د رسول الله ﷺ د عصمت مرتبه
داسي خوندي وساتل چي په هغه دوران کي د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه د شریعت د
احکامو په اړه یوه داسي خبره نه ووتل چي د رسول الله ﷺ د مخکي خبري مخالفي وه یا د رسول
الله ﷺ د خیال او عمل ذکر سوي تخالف په یوه داسي معامله کي ظاهر نه سو چي د هغه تعلق
دیني او شرعي معمولاتو او عباداتو سره وي او په روایت کي دا هم بیان سوي دي چي رسول
الله ﷺ د مرض الموت په آخري ورځو کي د یو څه لیکلو اراده فرمایلې وه او بیا هغه اراده یې
پوره نه کړل نو په دې اړه مختلف قولونه دي، د مثال په توګه ځیني حضرات دا وایي چي رسول
الله ﷺ دا غوښتل چي په تحریري توګه په خپلو صحابه کرامو کي یو کس د خلافت لپاره وټاکي
چي وروسته د عامو مسلمانانو په منځ کي اختلاف رامنځته نه سي.

د ځینو نورو حضراتو قول دی چي د رسول الله ﷺ اصل مقصد یو داسي لیک تیارول وو
چي په هغه کي د دین او شریعت د ارزښتناکو احکامو او مسائلو تدوین او د هغه وضاحت وي
چي وروسته د امت علماء د هغه احکامو او هدایاتو بیان او د هغه په وضاحت کي د اختلاف
ښکار نه سي او پر منصوص علیه باندي د ټول امت اتفاق او اتحاد وي ، تر دغه ځایه د نووي
رحمة الله علیه الفاظ وه، او دغه الفاظ ملا علي قاري رحمة الله علیه نه یوازي دا چي نقل کړي دي بلکه پر دغه
ذکر سوو اقوالو یې نقد هم کړی دی، نوموړي د اول قول په اړه لیکلي دي چي دا خو د حقیقت
څخه لیري ده ځکه چي د رسول الله ﷺ په خپلو صحابه کرامو کي یو څوک د خلافت لپاره ټاکل
او د مثال په توګه په حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر، حضرت عباس، حضرت علي او
نورو رضي الله عنهم کي د یو سړي نوم ټاکل، نو د هغه لپاره رسول الله ﷺ ته د لیکني اړتیا هیڅکله نه وه
یوازي په ژبه سره د رسول الله ﷺ دا فرمایل کافي وه ،

او همدارنګه وسول چي ابوبکر صدیق رضي الله عنه په خپل ژوند مبارک کي د لمانځه لپاره امام
وټاکی او په دې سره یې په عملي توګه د هغه خلافت ته اشاره وفرمایل بلکه د خپل ارشاد
(یابي الله والمؤمنین الا ابابکر) په ذریعه یې په ژبه سره هم وضاحت وکړ، مګر که چیري دا
وویل سي چي رسول الله ﷺ په اصل کي یو داسي لیک لیکل غوښتل چي په هغه کي د خلافت

اهل او مستحق کسانو د ټاکني داسي طريقه ليکلې وي چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته د امام مهدي ﷷ د ظهور او د حضرت عيسي ﷷ تر نزول پوري يو په بل پسې بېله اختلافه د خلافت ټاکل وسي ، نو دا يوه داسي خبره کيدای سي چي تر يو حده پوري معقول او قرين قياس ورته ويل کيدای سي او په دغه صورت کي به ويل کيږي چي الهي حکمت دا وو چي د خلافت مسئله د تل لپاره ټاکل سوې او د ظاهرېدو پر ځای غير متعين او پټه وي ځکه رسول الله ﷺ هغه ليک ونه ليکلای سو.

د دوهم قول په اړه ملا علي قاري رحمة الله عليه ليکلي دي : څومره چي خپله د رسول الله ﷺ د زمانې تعلق دی نو ظاهره ده چي هغه وخت د دين او شريعت د ارزښتناکو احکامو او مسائلو متعلق اختلاف او نزاع نه وو چي هغه يې ختم کړی وي، او د صحابه کرامو په منځ کي د اتحاد او اتفاق قائمولو لپاره رسول الله ﷺ ته د يو ليکني اړتيا محسوس کېدل، پاته سوه دا خبره چي د رسول الله ﷺ ددغه ليکني د ارادې تعلق د رسول الله ﷺ وروسته په زمانه کي د ممکن اختلاف د دفع سره وو نو دا خبره هم د قرين قياس څخه معلوميږي ځکه چي د نبوت د زمانې څخه وروسته د ديني احکامو او مسائلو په وضاحت او ترجمانی او قياسي مسائلو کي د علماؤ اختلاف پيدا کېدل محض د امکان د درجې شی نه وو بلکه يو حقيقي شی وو چي د هغه په اړه خپله رسول الله ﷺ د مخکي څخه خبر ورکړی وو ،

دمثال په توګه رسول الله ﷺ فرمايلي وه : اختلاف امتي رحمة، يا د رسول الله ﷺ دغه ارشاد : اصحابي کالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم، يا د رسول الله ﷺ دغه فرمان: عليکم بالسواد الاعظم، او د رسول الله ﷺ دغه فرمان : استفت قلبک وان افتاک المفتون، هسي هم د ټولو خلګو پر يوه نکته باندي جمع کېدل او په دين او مذهب کي اختلاف نه واقع کېدل يوه داسي ناممکن خبره ده چي د هغه خبر خپله قرآن کريم هم ورکړی دی، د مثال په توګه فرمايي: (ولايزالون مختلفين الا من رحم ربک وبذالک خلقهم) ژباړه: او خلک به اختلاف کوي مګر پر چا چي ستا د رب رحمت وي او الله ﷻ دغه بزرګان ددې لپاره پيدا کړي دي که د رسالت د زمانې وروسته په ديني معاملاتو او مسائلو کي د امت (يعني علماؤ او مجتهدينو) په منځ کي پيدا کېدونکي اختلاف په اړه رسول الله ﷺ ته څرګند احکام او هدايت ترتيب کول وي نو د هغه لپاره به رسول الله ﷺ د خپل ژوند په هغه آخري وخت کي اراده فرمايلې وه بلکه دېر مخکي کله چي رسول الله ﷺ د هغه راتلونکو اختلافاتو خبر ورکولو ذکر سوې ليکنه به يې ليکلې وای، ددې څخه ماسوا دا خبره هم په ذهن کي راتلونکې نه ده چي د دين او شريعت هغه ټول

احکام او مسائل چي د هغه د نزول او وجوب د نفاذ زمانه شل کاله وخت باندي خپره وه آخري ایام حیات هغه مختصر وخت کي څرنګه یو ځای کیدای سول او دا څرنګه ممکن وه چي رسول الله ﷺ هغه وخت هغه ټول احکام او مسائل داسي مخلص او مرتب کړي وای چي په راتلونکي کي د هغه په اړه د اختلاف ذره هم پاته نه وای، نو دا قول منل کول ممکن نه دي، مګر دا خبره په یوه درجه کي ویل کیدای سي چي رسول الله ﷺ هغه وخت د یوې داسي لیکني اراده وفرمایل چي په هغه کي د هغه احکامو او مسائلو ذکر وي چي په تېرو زمانو کي خو موجود وو مګر په کتاب او سنت کي د هغه ذکر نسته، یا دا چي رسول الله ﷺ په هغه لیکنه کي د مسلمانانو د ناجیه ډلي د طریقو ذکر کول او د هغه ګمراه ډلو احوال په تفصیل سره بیانول غوښتل چي وروسته د دغه امت په منځ کي پیدا سوي لکه معتزله، خوارج، روافض او ټول بدعتیان، مګر د الله جل جلاله حکمت ته دا منظور نه وه ځکه رسول الله ﷺ هغه لیکنه ونه کړل.

دغه وخت پر رسول الله ﷺ باندي د ناروغۍ سخته غلبه ده: د دغه خبري څخه د حضرت عمر رضي الله عنه مطلب دا وو چي ستاسو لپاره د دیني ژوند ښکلي کولو او مستحکم کولو لپاره د الله جل جلاله کتاب موجود دی چي د هغه په اړه خپله الله جل جلاله فرمایلي دي.

یعني تاسو ټول د الله جل جلاله رسۍ (قرآن کریم) په ټینګه ونیسئ، پاته سوه د حدیث او سنت خبره نو هغه هم د قرآن په ضمن کي راځي ځکه چي د حدیث او سنت اصل موضوع د قرآن کریم وضاحت او ترجماني ده، نو د حضرت عمر رضي الله عنه مقصد د رسول الله ﷺ خبره پرېکول نه وو بلکه د هغه مخاطب هغه کسان وه چي هغوی هغه وخت بحث او جګړه پیل کړې وه او په دې خبره یې ټینګار کوی چي رسول الله ﷺ ته د لیکني سامان راوړل سي چي رسول الله ﷺ د خپلي ارادې سره سم هدایت ولیکي، او د دې خبري محرک د هغوی دا جذبه وه چي دا وخت په رسول الله ﷺ باندي د سختي ناروغۍ غلبه وه او په سخت تکلیف کي اخته دی، رسول الله ﷺ ته د راحت موقع ورکول پکار دي، دوهم دا چي د هغوی فراست پوه سوی وو چي د رسول الله ﷺ دا حکم د لزوم سره نه دی بلکه خپله د صحابه کرامو او مسلمانانو د مصلحت سره سم دی، او که هغوی په دې عمل وکړي نو هغوی ته اختیار دی او که عمل ونه کړي نو د هغوی خوښه ده، دا د رسول الله ﷺ تل معمول وو چي کله به یې په یوه معامله کي داسي حکم کوی چي په وجوب او لزوم سره به نه وو نو صحابه کرامو ته به په هغه کي د رایې د اظهار پوره ازادي وه، که چیري هغوی به د اشکال او تردد اظهار وکړ نو رسول الله ﷺ به د هغه حکم تعمیل ضروري نه ګرځوی، بلکه د صحابه کرامو پر رایه باندي به یې پرېښبودی، مګر کوم حکم چي به د وجوب او لزوم په توګه وو

او د هغه عملي كول به ضروري وو نو هغه به يې د صحابه كرامو په رايه باندي نه پرېښودي او حضرت عمر رضي الله عنه ته به دا احساس هم سوى وي چي دغه وخت رسول الله ﷺ څه ليكل غواړي كيداى سي هغه يو داسي حكم وي چي د هغه عملي كول به د صحابه كرامو لپاره د سختۍ سبب جوړ سي او بيا د هغه په وجه به ټول امت د فتنې سره مخامخ سي نو دخپلو ذكر سوو الفاظو په ذريعه هغه دې ته اشاره وكړل چي د رسول الله ﷺ دغه اراده پرېښودل غوره دي او د هغه په دغه اشاره پوهېدو سره رسول الله ﷺ هغه اراده پرېښودل، ددې مثال هغه پېښه ده چي د كتاب په پيل كي (باب الايمان) كي تېره سول، چي كله رسول الله ﷺ حضرت ابو هريره رضي الله عنه ته وويل: ولاړ سه او خلكو ته زيرى وركړه چي كوم څوك لااله الاالله وايي هغه به په جنت كي داخليږي،

بيا كله چي ابوهريره رضي الله عنه دغه زيرى تر ټولو مخكي حضرت عمر رضي الله عنه ته ورسوى نو هغه نه يوازي دا چي حضرت ابو هريره رضي الله عنه ددغه زيري نورو خلكو ته رسولو څخه منع كړ بلكه د رسول الله ﷺ په وړاندي يې عرض وكړ چي دغه زيرى مه عام كوئ كنه نو خلك به په دغه زيري باندي په باور كولو سره كښېني او په عمل كولو كي به سست سي، نو رسول الله ﷺ د حضرت عمر رضي الله عنه دغه مشوره قبوله كړل او ددغه زيري عامو خلكو ته د رسولو حكم يې بېرته واخيست، ددغه وضاحت څخه ماسوا يوه خبره دا هم ويل كيداى سي چي څرنګه د حضرت عمر رضي الله عنه نور موافقات دي چي په ځيني مسئلو كي د هغه اتفاق د اختلاف په صورت كي ظاهر سوى دى همدارنګه دغه پېښه او د هغه ذكر سوى قول هم پر موافقت باندي محمول كړل سي ، په دغه صورت كي د مخالفت الزام به د هغه څخه پورته سي ، ددې تائيد ددې خبري څخه هم كيږي چي رسول الله ﷺ د حضرت عمر رضي الله عنه د خبري اورېدو سره سكوت وفرمايه يعني د هدايت نامې ليكني اراده يې پرېښودل .

د يوې ډلي وينا ده چي رسول الله ﷺ د غه حكم د ځان څخه نه وو وركړى بلكه دا صورت رامنځته سوى وو چي مخكي ځينو صحابه كرامو رسول الله ﷺ ته درخواست كړى وو چي يو څه وصيتي كلمات وليكي ، دهغوى په غوښتنه رسول الله ﷺ د څه ليكلو خپل رجحان ظاهر كړ، او د كتاب د سامان راوړلو حكم يې وكړ، مګر كله چي رسول الله ﷺ وليدل چي ځيني صحابه كرام لكه حضرت عمر رضي الله عنه او د هغوى د تائيد كونكو رجحان ددې خلاف دى نو رسول الله ﷺ د ليكني اراده پرېښودل، بيهقي ليكلي دي: سفيان ابن عينيه د باوري عالمانو څخه نقل كړي دي چي هغه وخت رسول الله ﷺ دا غوښتل چي د خلافت د منصب لپاره حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه وټاكي او په دې اړه يو تحريري ليک وليكي مګر وروسته رسول الله ﷺ په دې باور د تحرير

اراده پرېښودل چي د تقدير الهي فيصله به خپله مخته راسي او عام مسلمانان به د هغه فيصلې څخه مخ نه اړوي نو د رسول الله ﷺ ارشاد: يابي الله والمؤمنون الا ابابكر، او ټول مسلمانان به د ابوبكر رضي الله عنه څخه ماسوا د بل چا خلافت قبول نه کړي، ددې څخه ددې تائيد هم کيږي. (دغه حديث په تفصيل سره مخته را روان دی).

پاته سول د شيعه ګانو دا خبره چي هغوی دا دعوه کوي چي هغه وخت د رسول الله ﷺ د ليکني د ارادې اصل مقصد د حضرت علي رضي الله عنه په حق کي د خلافت وصيت کول وو، نو هغوی خپله د خپلو دعوو د تضاد ښکار دي، يوې خوا ته خو هغوی دا دعوه کوي او بلي خوا ته د هغوی دا دعوه ده چي رسول الله ﷺ په غدير خم کي مخکي د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت معامله فيصله کړې وه، يو چا د هغه څخه پوښتنه وکړل چي ستاسو د قول مطابق هر کله چي رسول الله ﷺ د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت فيصله مخکي کړې وه نو بيا د وصيت نامې ليکني څه اړتيا پاته وه.

تاسو ټول زما څخه ولاړ سئ: يعني رسول الله ﷺ هغه خلګو ته څرګنده کړل چي ما له دې کبله اوس د ليکني قصد پرېښود چي د کتاب او سنت شتون ستاسو د هدايت او لارښووني لپاره کافي دي، په دې اړه نووي رحمه الله عليه ليکلي دي چي هغه وخت يا خو دا صورت پېښ سوی وو چي رسول الله ﷺ د خپل امت په ګټه او مصلحت کي ځيني شيان ليکل په خپل رايه او د خپل خيال مطابق مناسب ګڼلي وه مګر بيا کله چي رسول الله ﷺ وليدل چي نه ليکل مصلحت دی نو رسول الله ﷺ خپله رايه او خيال بدل کړ، يا دا سوي وه چي رسول الله ﷺ دغه اراده د وحي په ذريعه د الهي هدايت راتللو څخه وروسته وکړل مګر بيا وروسته د دوهمي وحي په ذريعه چي ددغه ارادې موقوف کولو حکم راغلی نو رسول الله ﷺ د ليکني اراده پرېښودل، نووي رحمه الله عليه دا هم ليکلي دي چي حضرت عمر رضي الله عنه په دغه وخت کي هلته موجود خلګ مخاطب کړل او وېې فرمايل: حسبكم كتاب الله، يعني ستاسو لپاره د الله جل جلاله كتاب كافي دی، نو ددې څخه د هغه كمال تفقه او د فهم اظهار کيږي، په اصل کي حضرت عمر رضي الله عنه ته دا بېره پيدا سول که چيري رسول الله ﷺ داسي احکام وليکي چي په هغه عمل کول د عامو مسلمانانو لپاره ممکن کيدای نه سي نو د هغه احکامو د منصوص کېدو په سبب په هغه کي به د اجتهاد او تاويل هيڅ امکان نه وي او خلګ به په هغه د عمل نه کولو په وجه د الهي عذاب مستحق سي، او هغه خپل قول: حسبكم كتاب الله، په ذريعه د الله جل جلاله د ارشاد: (ما فرطنا في الكتاب من شئ) او دغه ارشاد: اليوم اكملت لكم دينكم واتممت عليكم نعمتي، ته اشاره وکړل.

مصیبت دی: ددغه جملې په ذریعه حضرت ابن عباس رضی الله عنه په اصل کي هغه وخت د صحابه کرامو د اختلاف او شور په یو داسي خراب صورت سره تعبیر کړ چي هغه رسول الله ﷺ د لیکني د ارادې څخه منع کړ، د هغه د وینا مطلب دا وو چي ارمان هغه خلګو د اختلاف او نزاع اظهار نه وای کړی نو رسول الله ﷺ به یو داسي لیکنه ترتیب کړې وای چي د امت لپاره به د تل هدایت او لارښوونې ذریعه وای، یعني د حضرت ابن عباس رضی الله عنه میلان د حضرت عمر رضی الله عنه او د هغه د تاکید کوونکو د رایې خلاف وو، هغه ددې خبرې په حق کي وو چي رسول الله ﷺ ته دغه وخت د لیکلو موقع خامخا ورکول پکار دي. بیهقي په خپل کتاب دلائل النبوة کي لیکلي دي چي د حضرت عمر رضی الله عنه اصل مقصد دا وو چي رسول الله ﷺ د ناروغۍ ددغه سختۍ غلبې په وخت کي د لیکني تکلیف ونه زغمي، که چیري رسول الله ﷺ هغه وخت د یو شي لیکل واجب ګڼلای نو د حضرت عمر رضی الله عنه یا د بل چا د اختلاف په وجه به یې خپله اراده موقوف کړې نه وای، ځکه چي رسول الله ﷺ ته د الله جل جلاله حکم وو: بلغ ما انزل الیک من ربک، څه چي ستا د رب له خوا پر تا نازل سي نو هغه خلګو ته ورسوه، نو کومې خبرې چي خلګو ته رسول ضروري وې د هغو تبلیغ او اشاعت پر رسول الله ﷺ باندي په هر صورت کي لازم دی، که څه هم د دین دښمنانو او د اسلام په لکونو مخالفینو د رسول الله ﷺ مخالفت وکړي، یا څرنګه چي په هغه وخت کي وسول چي د کوم شي وصیت او هدایت کول رسول الله ﷺ ضروري وګڼل یعني د عربو د جزیرې څخه د یهودیانو ایستل او داسي نور، نو د هغه هدایت رسول الله ﷺ وکړ، خلاصه دا چي هغه وخت رسول الله ﷺ څه لیکل غوښتل هغه ضروري نه وه ځکه د حضرت عمر رضی الله عنه په عقل کي راغلل چي د ناروغۍ د سختۍ په وخت کي د بې ارامۍ په حالت کي رسول الله ﷺ ته د لیکني تکلیف ولي ورکړل سي او بیا ددین او شریعت داسي کوم حکم او هدایت دی چي په کتاب الله او سنت رسول الله کي موجود نه دی، لکه څرنګه چي الله جل جلاله فرمایلي دي: الیوم اکملت لکم دینکم، ددغه ارشاد څخه چي کوم مفهوم اخیستل کیږي هغه دادی چي د دین او شریعت اړوند تر قیامت پورې پېښېدونکي داسي هیڅ شی نسته چي د هغه حکم او مسئله په کتاب او سنت کي دلالة یا صراحتا موجود نه وي، د حضرت عمر رضی الله عنه په فهم او ادراک کي یوه دا خبره هم راغلې وه که چیري رسول الله ﷺ یوه داسي لیکنه ترتیبول غواړي چي په هغه کي د دین احکام او مسائل د اتمام په توګه بیان وي نو په دغه صورت کي به د اجتهاد جواز ختم سي. او پر عالم او استنباط باندي به د اجتهاد دروازه بنده سي، نو هغه رسول الله ﷺ د ناروغۍ په سختوالي کي د لیکني د تکلیف څخه وژغوری او د ارباب اجتهاد د فضیلت څخه د نه محروم

كېدو په نيت سره يې دا خبره زياته ښه وګڼل چي رسول الله ﷺ د ليکني اراده پرېږدي، او رسول الله ﷺ د حضرت عمر رضي الله عنه د خبري په نه رد کولو سره او د خپلي ارادې په پرېښودو سره د حضرت عمر رضي الله عنه او د هغه د تائيد کونکو د فهم او ادراک څخه ډېر زيات قوي وو.

په دغه ويلو سره هغه په ژړا سو، او دومره يې وژړل، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د ژړا سبب يا خو دا وو چي د هغه ورځي په ذکر کولو سره هغه ته د رسول الله ﷺ د وفات وخت په ياد سو، يا دا چي د هغه د ګمان مطابق رسول الله ﷺ په هغه ورځ چي کومه ليکنه کول غوښتل هغه د امت په حق کي د ډېر خير باعث ګرځېدی، ځکه په دغه فکر سره چي د هغه ليکني په نه ليکلو سره امت د خير کثير څخه محروم سو، د هغه زړه ډک سو او په ژړا سو، دغه دوهم احتمال د دغه ځای سره ډېر مناسبت لري.

يوه داسي ليکنه وکړم چي د هغه څخه وروسته به تاسو هيڅکله ګمراه نه سئ: علماؤ ليکلي دي چي د عبارت ظاهري اسلوب په څرګنده ښيي چي د رسول الله ﷺ اراده د دين او شريعت د احکامو او مسائلو په تفصيل سره د ليکلو نه وه، او نه د خلافت په اړه د وصيت کولو وه.

د نبي په مخکي د اختلاف او جګړې اظهار مناسب نه دی، د عبارت د سياق څخه په ظاهره دا مفهوم اخيستل کېږي چي دغه جمله د حضرت ابن عباس رضي الله عنه خپله ده چي هغه د روايت په منځ کي داخله کړې ده، حال دا چي ځيني حضرات وايي چي په اصل کي دا د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي په دغه وخت کي ابن عباس رضي الله عنه د استدلال په توګه نقل کړی دی.

ايا رسول الله ﷺ دنيا پرېږدي؟: دغه لفظ د اهجر معنی ده، په فتح الباري کي د قرطبي په حواله سره د دغه لفظ په معنی کي څو احتماله بيان سوي دي، په هغو کي يو احتمال دا نقل سوی دی چي لفظ د اهجر په اصل کي د هجر (پرېښودو) فعل ماضي دی او مفعول يې (الحيوة) محذوف دی، د دغه احتمال په زيات مناسب ګڼلو سره په معنی کي اختيار سوی دی او شيخ عبدالحق رحمة الله عليه دا معنی بيان کړې ده چي (دا خبره د رسول الله ﷺ د کوم حالت غمازه وه؟) ايا د ناروغۍ د سختوالي په وجه د رسول الله ﷺ کلام مختلط سوی دی؟ لکه چي په عامو ناروغيو کي ګڼل کېږي، چي د هغه د ژبي څخه کله يو څه وځي او کله بل څه، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي دغه جمله پر استفهام انکاري باندي محمول ده، او د هغه د خبري پرېکولو لپاره استعمال سوې وه چي دا يې ويل چي رسول الله ﷺ دي هيڅ نه ليکي، يعني د دغه جملې قائلينو دا ويل غوښتل چي ايا ستاسو دا خيال دی چي رسول الله ﷺ د ليکني د سامان راوړلو حکم په حواس او شعور سره نه دی ورکړی بلکه د ناروغۍ د سختوالي په وجه د

رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه دا خبره هسي وتلې ده، د رسول الله ﷺ په اړه داسي گمان او خيال مناسب نه دی ، نو د رسول الله ﷺ دا حکم پوره کړئ او د ليکني سامان راوړئ چي رسول الله ﷺ څه ليکل غواړي هغه وليکي .

تر هغه حالت غوره او افضل دی چي هغه ته تاسو ما متوجه کوئ، ددې خبري څخه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي دغه وخت زه د عالم آخرت د سفر تياري، د پروردگار سره د يو ځای کېدو په شوق کي د تفکر او استغراق په اعلی حالت کي يم، مگر تاسو خلک په خپلو کي د لفظي تکرار او بحث او شور په ذريعه زما توجه بلي خوا ته کول غواړئ او خپلي خوا ته مي متوجه کوئ، نو تاسو ټول خلک زما څخه ليري سئ چي زه ستاسو د ادنا حالت پر ځای خپل اعلی حالت ته متوجه سم، په دې اړه ملا علي قاري رحمة الله عليه د خطابي رحمة الله عليه په حواله سره مشهور حديث (اختلاف امتي رحمة) زما د امت اختلاف رحمت دی، په دې اړه ليکلي دي چي په دين او شريعت کي د اختلاف درې ډولونه وي،

۱: يو خو صانع يعني د الله جل جلاله اثبات او د هغه په وحدانيت کي اختلاف، نو دغه اختلاف چي د هغه بنياد د الله جل جلاله د وجود او وحدانيت څخه پر انکار باندي کيږي ، صريح کفر دی، دوهم د الله جل جلاله په صفاتو او مشيت کي اختلاف نو دغه اختلاف چي د هغه بنياد د الله جل جلاله د صفاتو او مشيت څخه پر انکار باندي کيږي بدعت او گمراهي ده او دريم اختلاف چي د هغه بنياد هغه دی چي د دين او شريعت د داسي فروعي احکامو او مسائلو د استنباط او بيان سره تعلق لري چي د مختلفو وجهو او ډېرو معناوو احتمال لري او دا هغه اختلاف دی چي د ارباب علم او اجتهاد په منځ کي دی چي الله جل جلاله د علماؤ او مجتهدينو لپاره رحمت او کرامت گرځولی دی.

ملا علي قاري رحمة الله عليه د مازري رحمة الله عليه په حواله سره دا هم ليکلي دي چي که چيري يو څوک دا اعتراض وکړي چي کله رسول الله ﷺ هلته موجود صحابه کرامو ته امر وکړ چي ما ته د ليکني سامان راوړئ چي زه ستاسو لپاره يوه ليکنه وليکم، نو د صحابه کرامو لپاره د اختلاف گنجائش څه وو او هغوی د سمدستي عمل کولو پر ځای د اختلاف اظهار څرنگه وکړ؟ نو ددې جواب به دا وي چي په اصل کي هغه اوامر (احکام) چي د هغو په صدور کي خارجي قرائن هم وي د هغو حيثيت او نوعيت بدلېدای سي ، نو کوم حضرات چي وايي چي د اوامرو اصل وجوب دی د هغوی په نزد هم د هغه قرائنو په سبب د وجوب حکم په استحباب کي بدليږي لکه څرنگه چي ځيني حضرات وايي چي د اوامر اصل استحباب دی، د هغوی په نزد هم د قرائنو په سبب د استحباب حکم په وجوب بدليږي، نو کېدای سي چي د دغه حکم ورکولو پر وخت د رسول الله

ﷺ څخه داسي قرائن ظاهر سوي وي چي د هغه څخه دا څرګندیږي چي ددغه حکم تعمیل واجب او ضروري نه دی بلکه اختیاري دی، نو صحابه کرامو د خپل خپل اجتهاد په وجه چي کوم اړخ مناسب وګڼی هغه یې اختیار کړ، او ددې څخه ثابته سول چي صحابه کرامو د دین او شریعت په معاملاتو کي د ضرورت په وخت کي د اجتهاد مرسته اخیستل، پاته سوه دا خبره چي د حضرت عمر رضی الله عنه اجتهاد د لیکني نه لیکلو اړخ چي اختیار کړ ددې بنیاد څه وو؟ نو کېدای سي چي هغه ته دا یقین تر لاسه سوی وي چي د رسول الله ﷺ د ارادې او حکم عدم وجوب څرګندېدی.

مشرکان د عربو د جزیرې څخه وباسئ: په دې اړه وضاحت په باب اخراج الیهود من جزیرة العرب کي تېر سوی دی، همدارنګه د جزیره عرب تشریح هم د کتاب په لومړني بابو کي په باب الوسوسة کي سوې ده.

کوم قاصد چي راسي: ددغه حکم مطلب دا وو چي د نورو هیوادونو د پاچاهانو کوم قاصدان او سفیران چي تاسو ته راسي د هغوی د مرتبو او حیثیت سره سم د هغوی عزت او تکریم او له هغوی سره د احسان معامله کوئ کوم چي زما معمول وو، رسول الله ﷺ دغه حکم ددې لپاره ورکړی وو چي یوې خوا ته د اسلامي اخلاقو او معاملاتو د لوړتیا اظهار وي، او بلي خوا ته هغه قاصدانو او سفیرانو ته خوښي او اطمینان وي او هغوی د مسلمانانو د ښه چلن په لېدو سره په مؤلفة القلوب کي د نورو خلکو میلان اسلام او مسلمانانو ته زیات سي، علماؤ لیکلي دي چي د ښه چلن دغه حکم د هر قاصد په اړه دی که هغه مسلمان وي یا کافر وي.

مګر زما څخه هېر سوي دي: په دې اړه ملا علي قاري رحمه الله د نووي رحمه الله په حواله سره دا لیکلي دي چي سفیان ابن عینیه ددغه جملې نسبت په کومه طریقه سره چي سلیمان احول رحمه الله ته دی هغه صحیح نه دی بلکه په حقیقت کي سکوت اختیارونکی حضرت ابن عباس رضی الله عنه وو، مګر زما څخه هېر سوي دي، ددې ویونکي حضرت سعید ابن جبیر رضی الله عنه دی چي د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه ددغه روایت راوي دی، او له هغه څخه سلیمان احول رحمه الله نقل کوي، شیخ عبدالحق رحمه الله په خپله تشریح کي د سکت فاعل رسول الله ﷺ ګرځولی دی، د هغه په آند دا خبره حضرت ابن عباس رضی الله عنه بیانوي چي یا خو یې دریمه خبره فرمایلې نه ده یا دا چي رسول الله ﷺ دریمه خبره هم فرمایلې وه مګر زما څخه هېره سوې ده په هر حال محدثینو لیکلي دي چي هغه وخت رسول الله ﷺ کومه دریمه خبره فرمایلې وه هغه د حضرت اسامه رضی الله عنه د لښکر د سامان بندوبست کولو حکم وو چي د هغه په تیاري کي رسول الله ﷺ بوخت وو چي په مرض

الموت کي اخته سو ، يا هغه دريمه خبره د قبر پرستي اړوند وه لکه څرنګه چي په يوه روايت کي د هغه لپاره دا الفاظ منقول دي: (لا تتخذوا قبري وثنا يعبد) زما قبر بت مه ګرځوئ چي د هغه عبادت کول پيل کړئ.

د وحي د منقطع کېدو غم

﴿۵۷۱۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ لِعُمَرَ بَعْدَ وَفَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته يوه ورځ حضرت ابوبکر رضي الله عنه حضرت عمر رضي الله عنه ته وويل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى أُمِّ أَيْمَنَ نَزُورُهَا كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

راځه چي ام ايمن ته ورسو ، او د هغې سره ملاقات وکړو لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ به د هغې

وَسَلَّمَ يَزُورُهَا فَلَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَيْهَا بَكَتْ فَقَالَا لَهَا مَا يُبْكِيكِ اما تعلمين اني ما

سره ملاقات کوی، کله چي موږ دړي سره هغې ته ورسيدو نو هغه په ژړا سوه ، حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما وويل اې ام ايمن ولي ژاړې؟ تا ته معلومه نه ده چي

عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اني لا أَبْكِي أَنِّي لا أَكُونَ

خدای تعالی سره د رسول الله ﷺ لپاره څه شي دي هغه د غوره څخه غوره دي، ام ايمن وويل : زه پر دې نه ژاړم چي ما ته ددې علم نسته چي د خدای تعالی سره د رسول الله ﷺ

أَعْلَمُ أَنَّ مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِرَسُولِهِ ﷺ وَلَكِنْ أَبْكِي أَنَّ الْوَحْيَ قَدْ انْقَطَعَ مِنَ

لپاره خير او خير دی بلکه پر دې ژاړم چي د آسماني وحي لړۍ قطع سول ، د ام ايمن دغه الفاظو

السَّمَاءِ فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَاءِ فَجَعَلَا يَبْكِيَانِ مَعَهَا. رواه مسلم.

د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما زړونه دومره نرم کړل چي هغوی هم ورسره په ژړا سول . مسلم.(ام ايمن د رسول الله ﷺ آزاده سوې مينزه او د اسامه بن زيد رضي الله عنه مور وه) .

تخريج: صحيح مسلم ۱۹۰۷/۴، رقم: ۱۰۳- ۲۴۵۴.

تشريح ام ايمن د حضرت اسامه ابن زيد رضي الله عنه مور ده او د رسول الله ﷺ ازاده سوې مينزه وه، د هغې اصل نوم برکة وو او د رسول الله ﷺ د پلار مبارک حضرت عبد الله مينزه وه، وروسته کله

چي د هغې د ملکيت حق د وراثت په توګه رسول الله ﷺ ته تر لاسه سو نو رسول الله ﷺ هغه ازاده کړل او د حضرت زيد ﷛ په نکاح يې کړل، حضرت زيد ﷛ هم مخکي غلام وو او د بي بي خديجة الکبری ﷞ په ملکيت کي وو، رسول الله ﷺ د بي بي خديجې ﷞ څخه غوښتنه وکړل نو هغې د تحفې په توګه رسول الله ﷺ ته وړاندي کړ او بيا رسول الله ﷺ هغه ازاد کړ، بي بي ام ايمن ﷞ حبشي النسل وه او په صحابي ښځو کي د لوړي درجې څښتنه وه. رسول الله ﷺ به دهغې ډېر درناوی کوی، ام ايمن ﷞ هم د اسلام او مسلمانانو په مينه ماموره وه، د جنګ په ميدان کي مجاهدينو ته اوبه ورکول، دزخميانو درملنه کول او خدمت کول د هغې غوره بوختيا وه، د حضرت عمر فاروق ﷛ د وفات څخه شل ورځي وروسته وفات سوه.

د مسجد نبوي پر منبر اخيري خطبه

﴿۵۷۱۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت بو سعيد خدري ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په خپل هغه ناروغۍ کي چي په هغه کي وفات سو د کور څخه دباندي تشريف راوړ،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ وَنَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ عَاصِبًا رَأْسَهُ

دغه وخت موږ په مسجد کي وو، او سر مبارک يې په جامه کي تړلی وو،

بِخِرْقَةٍ حَتّٰى أَهْوٰى نَحْوَ الْمِنْبَرِ فَاسْتَوٰى عَلَيْهِ وَاتَّبَعْنَاهُ قَالَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ

رسول الله ﷺ مسجد ته داخليدو سره منبر ته راغلی بيا پر منبر کښېنستی، رسول الله ﷺ وفرمايل: په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واک کي زما ساه ده

بِيَدِهِ إِنِّيْ لَأَنْظُرُ إِلَى الْحَوْضِ مِنْ مَّقَامِيْ هٰذَا ثُمَّ قَالَ إِنَّ عَبْدًا عُرِضَتْ عَلَيْهِ

زه پر دغه منبر ناست حوض کوثر وينم، بيا يې وفرمايل: د خدای ﷻ يو بنده چي هغه ته دنيا او

الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا فَاخْتَارَ الْآخِرَةَ قَالَ فَلَمْ يَفْطِنْ لَهَا أَحَدٌ غَيْرَ أَبِيْ بَكْرٍ

د دنيا زينت وړاندي کړل سو مګر هغه آخرت اختيار کړ، د ابو سعيد بيان دی د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په مطلب د حضرت ابو بکر صديق ﷛ څخه ماسوا بل څوک پوه نه سول،

فَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ فَبَكٰى ثُمَّ قَالَ بَلْ نَفْدِيْكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا وَأَنْفُسِنَا وَأَمْوَالِنَا يَا

رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ثُمَّ هَبَطَ فَمَا قَامَ عَلَيْهِ حَتَّى السَّاعَةَ . رواه الدارمي.

د هغه د سترګو څخه اوښکي جاري سوې ، بيا په ژړا سو ، بيا يې عرض وکړ بلکه موږ پر تاسو خپل پلرونه ، خپل ميندي ، خپل مالونه او خپل ځانونه اې د الله رسوله ! قربانوو ، ابوسعيد ﷺ وايي ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د منبر څخه راکښته سو او بيا رسول الله ﷺ تر دې وخته پوري پر منبر ونه درېدی . دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ١\٤٩، رقم: ٧٧.

تشريح: په نورو رواياتو کي دي چي حضرت جبرائيل ؈ د رسول الله ﷺ په خدمت کي په حاضرېدو سره عرض وکړ چي الله ﷻ فرمايي: که تاسو غواړئ چي په دنيا کي نور پاته سئ او موږ د دنيا خزانې تاسو ته حواله کړو او که دغه غرونه ستا لپاره د سرو زرو وګرځوو ، پر ته له دې څخه چي زموږ په نزد (په آخرت کي) ستاسو لپاره کومه درجه ، اجر او انعام ټاکلی دی په هغه کي به د ذرې په اندازه کمي نه راځي، او که ته موږ ته راتلل غواړې، ددې په اورېدو سره رسول الله ﷺ سر مبارک کښته کړ ، او دا هم ويل کيږي چي هغه وخت د رسول الله ﷺ د غلامانو څخه يو غلام هلته موجود وو ، کله چي هغه دا خبره واورېدل چي رسول الله ﷺ ته د شتمنۍ او زرو دومره لويه وعده او په دنيا کي د اوسېدو اختيار ورکول کيږي نو هغه وويل: اې د الله رسوله! په دې کي څه حرج دی، که تاسو يو څه وخت نور په دنيا کي اوسېدل وغواړئ نو ستاسو په برکت تر لاسه کېدونکی مال او زر به زموږ لپاره د اسانۍ سبب سي، مګر رسول الله ﷺ د هغه غلام خبري ته د توجه کولو پر ځای په نظر پورته کولو سره حضرت جبرائيل ؈ ته وکتل او پوهېدل يې وغوښتل چي ددغه اختيار اصل مقصد څه دی او کله چي پوه سو چي د الله ﷻ اصل مقصد ځان ته بلل دي نو وه يې فرمايل: زه هلته ورتلل غواړم، همدارنګه رسول الله ﷺ اخرت اختيار کړ چي هغه ته فناء نسته ، زوال نسته او دنيا يې پرېښودل چي د هغه له زوال او فناء څخه پرته بل هيڅ نه دي، له دې کبله ډېرو عارفينو ډېر ښه ويلي دي: که يو هوښيار سړي ته د داسي دوو پيالو څخه د يوې پيالې د خوښولو اختيار ورکړل سي چي په هغو کي يوه پياله د خاورو وي مګر ټينګه وي او بله پياله د سرو زرو وي مګر ټينګه نه وي نو هغه هوښيار به يقينا پر هغه پيالې باندي که څه هم د سرو زرو وي هغه پيالې ته ترجيح ورکړي چي د خاورو کېدو سربېره ټينګه او پاته کېدونکي وي او که چيري صورت حال ددې برعکس وي يعني د سرو زرو ټينګه پياله او د خاورو کمزورې پيالې کي د يوې خوښولو اختيار ورکړل سي نو بيا به داسي

کس ډېر ناپوه او بې عقل وي د ټېنګې او د سرو زرو د پيالې په پرېښودو سره ژر ضائع کېدونکي د خاورې پيالې ته ترجيح ورکړي، نو بايد پوه سو چې د آخرت مثال د هغه پيالې دي چې ټينګه هم ده او د سرو زرو هم ده حال دا چې د دنيا مثال د هغه پيالې دي چې نه يوازې دا چې د خاورو ده بلکه ژر ضائع او فناء کېدونکې هم ده ، په قرآن کريم کي دغه حقيقت ته په دغه الفاظو اشاره سوې ده : (والاخرة خير و ابقى) بېله شکه آخرت غوره او اعلى هم دى او تل هم دى.

بي بي فاطمې ته د وفات پيشګوئي

﴿۵۷۱۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ دَعَا رَسُوْلُ

د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چې کله سورة (اذا جاء نصر الله) نازل سو، نو رسول الله ﷺ

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ قَالَ نُعِيَتْ إِلَيَّ نَفْسِيْ فَبَكَتْ قَالَ لَا تَبْكِيْ

بي بي فاطمه رضي الله عنها راوغوښتل ورته وه يې فرمايل: ما ته د مرګ خبر راکړل سوى دى ، د دې اوريدو سره بي بي فاطمه په ژړا سوه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې فاطمې ! مه ژاړه ،

فَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِيْ لَاحِقٌ بِيْ فَضَحِكَتْ فَرَآهَا بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

زما په اهل بيتو کي به ته تر ټولو مخکي زما سره يو ځاى کيږې ، د دې اوريدو سره بي بي فاطمه په خندا سوه ، کله چې يې بي بي فاطمه په خندا وليدل نو د نبي کريم ﷺ ځينو بيبيانو د هغې

وَسَلَّمَ فَقُلْنَ يَا فَاطِمَةَ رَأَيْنَاكِ بَكَيْتِ ثُمَّ ضَحِكْتِ قَالَتْ إِنَّهُ أَخْبَرَنِيْ أَنَّهُ قَدْ

څخه پوښتنه وکړه چې اې فاطمې! اول مو ته په ژړا وليدلې او بيا په خندا د دې سبب څه دى؟ بي بي فاطمې ورته وويل رسول الله ﷺ زه خبره کړې وم چې

نُعِيَتْ إِلَيْهِ نَفْسُهُ فَبَكَيْتُ فَقَالَ لِيْ لَا تَبْكِيْ فَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِيْ لَاحِقٌ بِيْ

ما ته د خپل مرګ خبر راکړل سوى دى ، د دې اوريدو سره زه په ژړا سوم ، نو رسول الله ﷺ را ته وفرمايل مه ژاړه زما په اهل بيتو کي به تر ټولو مخکي ته زما سره يو ځاى کيږې، د دې اوريدو

فَضَحِكْتُ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ

سره زه په خندا سوم، او رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله جل جلاله مرسته را ورسيدل مکه فتحه سوه، د

وَجَاءَ أَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَالْإِيْمَانُ يِمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ. رواه الدارمي

يمن خلک راغلل چي ډير نرم زړونه يې وي، او د هغوی ايمان هم يمني دی. او د هغوی علم او حکمت هم يمني دی. دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۱\۵۱، رقم: ۷۹.

تشريح: ما ته زما د مرګ خبر راکړل سوی دی: يعني رسول الله ﷺ دغه ارشاد وفرمايه چي دغه سورت په اصل کي د دنيا څخه زما د رحلت اعلان دی ځکه چي په دې کي د الله ﷻ د مرستي، نصرت، فتح او په دين کي د خلګو په ډلو ډلو داخلېدو خبر راکړل سوی دی او ددې سره د تسبيح او تحميد حکم راکړل سوی دی، او ددې مطلب ما سوا ددې څخه نور څه نه دی چي په دنيا کي زما د اوسېدو او زما د پيغمبرۍ مقصد يعني د دعوت اتمام او ددين تکميل هغه پوره سوی دی ، اوس ما لره د تسبيح او تحميد او الله ﷻ ته د کاملي توجه او استغراق په ذريعه د آخرت د سفر تياري کول پکار دي .

ته به تر ټولو مخکي زما سره يو ځای کيږې: دغه الفاظ محض د بي بي فاطمې ﷞ د ډاډ لپاره نه وه بلکه هغې ته ددغه حقيقت د وړاندويني په توګه وو چي زما د رحلت څخه وروسته زما په کورنۍ کي چي د چا مرګ تر ټولو مخکي واقع کيږي هغه ته يې، او زما د بېلوالي غم به تا ته زيات نه وي نو همدارنګه وسول چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه شپږ مياشتي وروسته بي بي فاطمه ﷞ له دنيا څخه رخصت سول، زيات صحيح روايت دادی مګر په يوه روايت کي د رسول الله ﷺ د رحلت څخه اته مياشتي وروسته او په يوه روايت کي درې يا دوې مياشتي وروسته او په يوه روايت کي اويا ورځي وروسته د هغې د وفات ذکر دی .

د ځينو ازواج مطهرات څخه بي بي عائشه ﷞ مراد ده ، لکه څرنګه چي طيبي ﷫ ليکلي دي، نو ويل کيږي چي د فقلن الفاظ هغوی وويل ، او د جمع صيغه د بي بي عائشې ﷞ د تعظيم لپاره استعمال سوې ده مګر دا ليري خبره نه ده چي په دغه وخت کي د بي بي عائشې ﷞ څخه ماسوا نوري بيبياني هم موجود وې او هغوی ټولو د بي بي فاطمې په ژړا او بيا په خندا لېدو سره د صورت حال پوښتنه کړې وي بلکه ظاهري عبادت يعني بعض ازواج النبي او فقلن څخه دا احتمال زيات قوي معلوميږي او رسول الله ﷺ بي بي فاطمې ﷞ ته ذکر سوې خبره ډېره پټه کړې وه ځکه د بي بي فاطمې ﷞ څخه ماسوا بل چا دا خبره اورېدلې نه وه او ځکه هغوی د بي بي فاطمې ﷞ څخه پوښتنه وکړل، په ځينو روايتو کي دا هم راغلي دي چي بي بي فاطمې ﷞ د

ازواج مطهراتو پر پو ښتنه هغه وخت اصلي خبره ونه ښودل بلکه يوازي دا جواب يې ورکړی وو چي دا زما او د خدای د رسول په منځ کي يو راز دی ، زه يې بل چا ته نه ښيم او بيا د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته هغې دا خبره ښودلې وه .

او ديمن خلک راغلل: د دغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ ، حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه او د هغه د قوم خلکو ته اشاره وکړل چي هغوی اسلام قبول کړی وو ، په نحوي توګه د (وجاء اهل اليمن) الفاظ عطف دي پر (جاء نصر الله) باندي او په اصل کي دغه جمله چي ديمن خلک راغلل د ذکر سوي سورت د دغه الفاظ : (ورايت الناس يدخلون في دين الله افواجا) وضاحت او تفسير دی ، مطلب دا چي په دغه آيت کي فرمايل سوي دي چي رسول الله ﷺ خلک په دين کي داخلېدل ولېدل نو د خلکو څخه مراد د يمن او سېدونکي دي .

چي د نرم زړو خاوندان دي: دغه الفاظ رسول الله ﷺ د يمن د او سېدونکو په مدح او تعريف کي وفرمايل چي هغه خلک احکام او هدايات ژر مني ، د هغوی زړونه د وعظ او نصيحت څخه ډېر زيات متاثره کيږي ، د حق قبلېدو استعداد په هغوی کي زيات دی او د زړه د سختوالي څخه هغوی خوندي دي.

ايمان يمني دی: يعني د ايمان لفظ د يمن څخه وتلی دی چي د يمن هيواد سره لفظي نه بلکه معنوي مناسبت هم لري، په اصل کي دغه جمله هم د اهل يمن په مدح کي يعني د هغوی د درجې ښکندولو لپاره ده چي هغوی ايمان او اسلام او اطاعت او انقياد کي لري .

او حکمت هم يمني دی: مطلب دا چي علم او حکمت چي د شيانو د حقيقت او د هغه د احوالو د معرفت څخه عبارت دی اهل يمن ته ځانګړی نسبت تر لاسه دی ځکه چي هغوی د تحقيق او پلټني خاص ذهن لري ، د دغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ د حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه هغه سوالو ته اشاره وفرمايل چي هغوی د احوال مبداء و معاد او لومړني زېږېدني د حقائقو په اړه له رسول الله ﷺ څخه کړي وه، دغه روايت چي په هغه کي د حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه سوالونه او د رسول الله ﷺ جوابونه دي د کتاب بدء الخلق په پيل کي تېر سوی دی او ځيني حضرات وايي چي د ايمان او حکمت نسبت يمن ته په دې اعتبار سوی دی چي ايمان د مکې څخه پيل سو او مکه د تهامه د مځکي څخه ده او د تهامه تعلق د يمن سره هم دی ځکه کعبې ته يمانيه هم ويل کيږي، او د ځينو حضراتو وينا ده چي رسول الله ﷺ دغه حديث په تبوک کي ارشاد فرمايلي وو چي د شام د هيواد سيمه ده او هلته د مکې او مدينې خواوي هغه دي چي ديمن دي نو رسول الله ﷺ اشاره خو يمن ته وکړه مګر مراد د رسول الله ﷺ د مکې او مدينې

څخه وو او د ابو عبيد رحمة الله عليه قول دی چي ديمن څخه مراد دمديني انصار دي چي د هغوی اصل هيوادیمن وو نو د مديني د انصارو تعريف او صفت بيانولو لپاره د ايمان او حکمت نسبت يمن ته سوی دی، په هر حال ددغه حديث مقصد محض دا ظاهرول دي چي د يمن خلک کامل ايمان لري او په دې سره د بل چا د ايمان نفي نه ظاهرېږي ځکه په دغه حديث او د هغه روايتو په منځ کي اختلاف نسته چي په هغو کي فرمايل سوي دي چي : الايمان في اهل الحجاز، يعني ايمان په اهل حجاز کي دی، او ددغه ارشاد څخه د يمن هغه کلمه ويونکي مراد دي چي په هغه زمانه کي وه نه د هري زمانې يمنيان، څرګنده دي وي چي د حديث د سياق څخه دا معلومېږي چي دغه ارشاد : ايمان يمني دی، او حکمت هم يمني دی، د رسول الله ﷺ د مرض الموت د زمانې دی ، بيا هم دا خبره ويل کيدای سي چي دا خبره رسول الله ﷺ مخکي په بل ځای کي فرمايلي وي مګر دلته په روايت کي د اهل يمن ذکر وو ، په دې مناسبت سره مؤلف دغه ارشاد چي د يو بل حديث ټوټه ده د هغه ځای څخه په را پورته کولو دلته نقل کړې ده .

د حکمت معنی : د حکمت لغوي معنی د عقل او پوهي ده ، ځيني حضرات وايي : حکمت د هر شي د حقيقت د پلټني علم ته وايي، د طيبي رحمة الله عليه وينا ده : حکمت هر هغه صالح کلام ته وايي چي متکلم په تاوان او هلاکت کي د لوېدو څخه وژغوري، او ځيني حضرات وايي چي د حکمت لفظ د علم تر لاسه کولو او ښه عمل کولو څخه عبارت دی .

په قرآن کريم کي د حکمت داسي يادونه سوې ده : (ومن يؤت الحكمة فقد اوتي خيرا كثيرا): (او حقيقت دا دی) چا ته چي حکمت تر لاسه سو نو هغه ته لوی خير ورکړل سو .

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي :

(الحكمة تزيد الشريف شرفا وترفع العبد المملوک حتي تجلسه مجالس الملوک)

ژباړه: حکمت هغه جوهر دی چي د عزتمند او شريف عزت او شرف زياتوي او د يو مملوک غلام مرتبه او حيثيت زياتولو سره د پاچاهانو په مجلس کي د ناستي وړ ګرځوي .

او له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه منقول دي چي د حکمت لس برخي دي، په هغو کي نهه برخي په عزلت يعني ګوشه نشيني کي دي او يوه برخه په سکوت کي .

د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په اړه وصيت

﴿۵۷۱۸﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَتْ وَا رَأْسَاهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي يوه ورځ هغې د رسول الله ﷺ په حضور کي د

سخت درد په حالت کي وويل آه زما سر درد کوي، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ ذَاكِ لَوْ كَانَ وَأَنَا حَيٌّ فَأَسْتَغْفِرَ لَكِ وَأَدْعُوَ لَكِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ وَا ثُكْلِيَاهْ

که مرګ واقع سو او زه ژوندی وم نو ستا لپاره به د بخښني دعاء کوم او تا ته به دعاء کوم، بي بي عائشي ﷵ عرض وکړ آه مصيبت او هلاکت دی،

وَاللَّهِ إِنِّي لَأَظُنُّكَ تُحِبُّ مَوْتِي فَلَوْ كَانَ ذَاكَ لَظَلِلْتَ آخِرَ يَوْمِكَ مُعَرِّسًا بِبَعْضِ

په خدای دي مي قسم وي زما خيال دا دی تاسو غواړئ چي زه مړه سم که داسي وسول نو تاسو به د هغه ورځي په آخر کي د خپلي يوې بلي بي بي سره شپه تيره کړئ، الله ﷻ فرمايي ددې الفاظو څخه زما مطلب دا وو چي ما قصد کړی وو

أَزْوَاجِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ أَنَا وَا رَأْسَاهْ لَقَدْ هَمَمْتُ أَوْ أَرَدْتُ

رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عائشې! زما د سردرد او زما د مرګ په ذکر کي بوخته سه، رسول

أَنْ أُرْسِلَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ وَابْنِهِ وَأَعْهَدَ أَنْ يَقُولَ الْقَائِلُونَ أَوْ يَتَمَنَّى الْمُتَمَنُّونَ ثُمَّ

يا ما ددې خبري اراده کړې وه چي يو څوک سړی واستوم ابوبکر او د هغه زوی را وغواړم او د هغه لپاره (ابوبکر ﷛ لپاره) د خلافت وصيت وکړم، لپاره ددې چي بيا وينا ونه کړي وينا کونکی، يا تمنا ونه کړي تمنا کونکی،

قُلْتُ يَأْبَى اللَّهُ وَيَدْفَعُ الْمُؤْمِنُونَ أَوْ يَدْفَعُ اللَّهُ وَيَأْبَى الْمُؤْمِنُونَ. رواه البخاري.

بيا ما په خپل زړه کي وويل چي خدای تعالی منعه کوي او مؤمنان دفع کوي يا خدای ﷻ دفعه کوي او مؤمنان منعه کوي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۲۳، رقم: ۵۶۶۶.

تشريح اُف زما سر: په ښکاره دا معلوميږي چي دا د رسول الله ﷺ د مرض الموت د زمانې پېښه ده، په يو بله ورځ به بي بي عائشې ﷵ په سر کي درد پيدا سوی وي او هغې دغه شکايت اظهار د رسول الله ﷺ په مخکي په هغه الفاظو کړي وي، او ځينو حضراتو ليکلي دي چي د سر څخه مراد ذات دی چي د هغه په ذريعه بي بي عائشې ﷵ خپل مرګ ته اشاره وکړل.

واثکلياه: اُف زما د سرد درد، د ثکل لفظ د ثاء په زېر او پېښ دواړو سره د هلک يا مړ

کېدو ده او دلته د دغه لفظ څخه بي بي عایشې ﷞ خپل ذات مراد اخیستی دی چې د مرګ ذکر مرګ په یادوي ، دا یو محاوراتي لفظ دی چې د هري پریشانۍ په وخت کي د عربو پر ژبه راځي که د هغه حقیقي معنی مراد وي یا حقیقي معنی مراد نه وي .

تاسو زما مرګ خوښوئ: رسول الله ﷺ په مخاطب کولو سره بي بي عائشې ﷞ دغه الفاظ د هغې د ناز او میني په توګه وویل، چې د هغې او د رسول الله ﷺ په منځ کي وو ، یعني بي بي عائشې ﷞ دا وویل: که زه مړه سم نو ستاسو یې څه ، تاسو خو به ما سمدستي هېره کړئ او په خپلو نورو بیبیانو کي به بوخت سئ .

زما د سر درد او زما د مرګ ذکر کوه ، یعني ته د خپل سر درد او د خپل مرګ د ذکر کولو لپاره ولي کښېنستلې ، تا لره خو زما د سردرد او زما په اړه فکر کول پکار دي زه د دغه دنیا څخه ځم تا لره تر اوسه ډېر ژوندی اوسېدل دي او زما وروسته هم تر ډېري زمانې پوري په دنیا کي اوسېدل دي ، د دې څخه معلومه سوه چې رسول الله ﷺ ته د وحي په ذریعه معلومات سوی وو چې د سر درد په اصل کي زما مرض الموت دی ، او د حضرت عائشې ﷞ د سر درد ناڅاپه دی ، او د هغې ژوند تر اوسه ډېر پاته دی ، د رسول الله ﷺ او د بي بي عائشې ﷞ د ناروغۍ په یو ډول والي کي هغه کمال محبت ته اشاره ده چې د هغوی دواړو په منځ کي وو .

زما قصد وو : کله چې رسول الله ﷺ د بي بي عائشې ﷞ په مخکي د خپل مرګ یادونه وکړل نو په قدرتي توګه د دې خبري ته متوجه کېدل هم ضروري وو چې د رسول الله ﷺ وروسته به کوم څوک د ملت دیني او دنیوي مشرتوب سنبالوي نو رسول الله ﷺ د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ خلافت ته څرګنده اشاره وفرمایل او هغه مقصد د بي بي عائشې ﷞ د زړه ښه کولو او د هغې د پلار لپاره د هغې عظیم دولت او نعمت زیری ورکول هم وو .

چې بیا ویونکي هیڅ ونه وایي: د (ان یقول القائلین) یوه ترجمه خو دا ده او په دغه صورت کي مطلب دا دی چې ابوبکر صدیق ﷛ د خپل ولي عهد جوړولو سره د هغه د خلافت په وصیت کولو سره بیا وروسته خلګو ته د څه ویلو موقع پاته نه سي او یوه ترجمه به دا وي چې ویونکي څه چې وایي، په دغه صورت کي د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب به دا وي چې زما د دغه ارادې بنیاد دا وو که ما د ابوبکر صدیق ﷛ لپاره د خلافت کبری وصیت ونه کړ نو کیدای سي خلک به دا وایي چې رسول الله ﷺ د ابوبکر صدیق ﷛ لپاره د خلافت صغری (د لمانځه امامت) باندي اکتفاء کړې وه ، دهغوی لپاره د خلافت کبری څرګنده وصیت یې ولي ونه کړ، سره د دې چې په خلافت صغری کي د خلافت کبری اشاره هم موجود وه .

بیا ما په خپل زړه کي وویل: دلته رسول الله ﷺ خپله ذکر سوې اراده باندي د عمل نه کولو سبب بیان نه کړ چي لومړی خو د الله جل جلاله فیصله به دا وي چي زما څخه وروسته لومړی خلیفه به ابوبکر صدیق رضی الله عنه وي، دوهم دا چي مسلمانان به هم د ابوبکر رضی الله عنه خلافت په شوق او رضا سره قبول کړي ځکه چي هغوی لیدلي دي چي ما د خپلي ناروغۍ په حالت کي د لمانځه لپاره ابوبکر صدیق رضی الله عنه ټاکلی دی چي د دې خبري څرګنده اشاره یې وکړل چي د مسلمانانو د قیامت عظمی ذمه داري پوره کولو ترټولو زیات اهلیت په ابوبکر صدیق رضی الله عنه کي دی، نو کله چي تقدیر الٰهي داسي وي او عام مسلمانان به هم د ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه ماسوا د بل چا خلافت ته تیار نه سي نو زه پوهیږم چي د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت لپاره د وصیت کولو سره اړتیا نسته نو همداسي وسول چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته الله جل جلاله داسي حالات پیدا کړل چي لومړنی خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وټاکل سو او کله چي د ځینو خلګو له خوا په دې اړه لږ اختلاف پیدا سو نو حضرت علي رضی الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په حق کي په خلافت صغری (د لمانځه امامت) سره په استدلال کولو وفرمایل چي کله رسول الله ﷺ، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه زموږ د دین په معامله کي ټاکلی دی نو دا څرنګه ممکن ده چي موږ هغه په خپلو دنیوي معاملاتو کي ونه ټاکو، په اصل کي د خلافت په اړه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په حق کي تر دې لوی دلیل بل هیڅ نه سي کیدای.

او مسلمانان به هم د بل چا خلافت ونه مني: په دغه جمله کي نه یوازي دا چي د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت ته څرګنده اشاره ده بلکه په دې کي د هغه خلګو تکفیر ته هم اشاره ده چي د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت برحق نه مني.

د مرض الموت پیل کیدل

﴿۵۷۱۹﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ رَجَعَ إِلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ مِنْ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي یوه ورځ د بقیع په هدیره کي د یوې جنازې دفن

جَنَازَةٍ مِنَ الْبَقِيْعِ فَوَجَدَنِيْ وَأَنَا أَجِدُ صُدَاعًا وَأَنَا أَقُوْلُ وَارَأْسَاهُ قَالَ بَلْ أَنَا يَا

کولو څخه وروسته رسول الله ﷺ ما ته تشریف راوړ، او زه یې په داسي حال کي ولیدم چي زما سر خوږیدی او ما ویل: آه زما د سر درد، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: اې

عَائِشَةَ وَارَأْسَاهُ قَالَ وَمَا ضَرَّكِ لَوْ مُتِّ قَبْلِيْ فَغَسَّلْتُكِ وَكَفَّنْتُكِ وَصَلَّيْتُ

عائشې ! بلکه زما سر درد کوي، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : او په دې کې ستا تاوان څه دی ؟ که ته زما څخه مخکې مړه سوې نو زه به غسل درکړم ، کفن به درکړم او د جنازې لمونځ به درکړم

عَلَيْكِ وَدَفَنْتُكِ قُلْتُ لَكَأَنِّيْ بِكَ وَاللهِ لَوْ فَعَلْتَ ذٰلِكَ لَرَجَعْتَ إِلٰى بَيْتِيْ

او تا به دفن کړم، ما وویل: په خدای ﷻ مې دې قسم وي که تاسو داسې وکړل نو خپل کور ته په راستنیدو سره به د خپلې بلې یوې بي بي سره

فَعَرَسْتَ فِيْهِ بِبَعْضِ نِسَائِكَ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ بُدِيَ ءِ فِيْ وَجْعِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ. رواه الدارمي.

شپه تیره کړې ، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ په مسکا سو ، او د هغه وخت څخه د رسول الله ﷺ د هغه ناروغۍ لړۍ پیل سوه چې په هغه کې وفات سو . دارمي

تخریج: سنن الدارمي ۱\ ۵۱، رقم: ۸۰.

تشریح: او زه به تا ښخه کړم: د رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کې دې ته اشاره ده که چیرې بي بي عائشه ﷦ د رسول الله ﷺ په شتون کې وفات سي نو یقینا به ورته د سعادت هغه خاص مرتبه تر لاسه سوې وای چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته په ژوندۍ پاته کېدو کې او بیا د وفات کېدو په صورت کې به هغې ته تر لاسه نه سي .

د حضرت خضر ؈ تعزیت

﴿۵۷۲۰﴾: وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ رَجُلاً مِنْ قُرَيْشٍ دَخَلَ عَلٰى أَبِيْهِ

حضرت جعفر بن محمد ﵁ د خپل پلار څخه روایت کوي چې یو قریشي سړی زما پلار علي بن

عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ فَقَالَ أَلاَ أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَلٰى

حسین ته راغلی او علي بن حسین هغه ته وویل : ایا ستا مخکې د رسول الله ﷺ حدیث بیان کړم، هغه سړي وویل : هو ،

حَدِّثْنَا عَنْ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا مَرِضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

موږ ته د ابو القاسم ﷺ حدیث بیان کړئ، علي بن حسین ﵁ ورته وویل رسول الله ﷺ چې کله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ جِبْرِيْلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ أَرْسَلَنِيْ إِلَيْكَ تَكْرِيْمًا لَكَ

ناروغ سو نو جبرائیل علیه السلام یې په خدمت کې حاضر سو ورته وه یې ویل اې محمد! خدای تعالی زه تا ته په خاصه توګه د تعظیم او تکریم لپاره رالیږلی یم

وَتَشْرِيْفًا لَكَ خَاصَّةً لَكَ يَسْأَلُكَ عَمَّا هُوَ أَعْلَمُ بِهِ مِنْكَ يَقُوْلُ كَيْفَ تَجِدُكَ قَالَ

او هغه ستا څخه د دې خبرې پوښتنه کوي چې ستا څخه زیات په پوهیږي یعني خدای تعالی ستا څخه پوښتنه کوي چې ستا څه حال دی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

أَجِدُنِيْ يَا جِبْرِيْلُ مَغْمُوْمًا وَأَجِدُنِيْ يَا جِبْرِيْلُ مَكْرُوْبًا ثُمَّ جَاءَهُ الْيَوْمَ الثَّانِيْ

اې جبرائیل! زه خپل ځان رنجیده او غمګین وینم، او اې جبرائیل! زه خپل ځان مضطرب او پریشانه وینم، په دویمه ورځ بیا جبرائیل علیه السلام رسول الله ﷺ ته راغلی

فَقَالَ لَهُ ذٰلِكَ فَرَدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا رَدَّ أَوَّلَ يَوْمٍ ثُمَّ جَاءَهُ

او هغه الفاظ یې وویل کوم چې یې په لومړۍ ورځ ویلي وه او رسول الله ﷺ ورته هغه جواب ورکړ کوم چې یې ورته په لومړۍ ورځ ورکړي وه، په دریمه ورځ بیا جبرائیل علیه السلام راغلی

الْيَوْمَ الثَّالِثَ فَقَالَ لَهُ كَمَا قَالَ أَوَّلَ يَوْمٍ وَرَدَّ عَلَيْهِ كَمَا رَدَّ عَلَيْهِ وَجَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ

او هغه پوښتنه یې وکړه چې په لومړنۍ ورځ یې کړې وه او رسول الله ﷺ هم هغه جواب ورکړ کوم چې یې په لومړنۍ ورځ ورکړی وو، او د جبرائیل علیه السلام سره یوه ملائکه بله هم وه

يُقَالُ لَهُ إِسْمَاعِيْلُ عَلٰى مِائَةِ أَلْفِ مَلَكٍ كُلُّ مَلَكٍ عَلٰى مِائَةِ أَلْفِ مَلَكٍ فَاسْتَأْذَنَ

چې نوم یې اسماعیل وو او د زرو داسې ملائکو سرداره وه چې په هغو کې هره ملائکه د یو لک ملائکو سرداره وه، اسماعیل ملائکې د حاضرۍ اجازه وغوښتل،

عَلَيْهِ فَسَأَلَهُ عَنْهُ ثُمَّ قَالَ جِبْرِيْلُ هٰذَا مَلَكُ الْمَوْتِ يَسْتَأْذِنُ عَلَيْكَ مَا اسْتَأْذَنَ

رسول الله ﷺ د جبرائیل علیه السلام څخه د هغې د نوم پوښتنه وکړه او بیا یې ورته د حاضرۍ اجازه ورکړه، د دې څخه وروسته جبرائیل علیه السلام وویل دا ملائکه د مرګ حاضره ده د حاضرۍ اجازه غواړي او د نن څخه مخکې نه د غه ملائکې د چا څخه اجازه غوښتې ده

عَلٰى آدَمِيٍّ قَبْلَكَ وَلاَ يَسْتَأْذِنُ عَلٰى آدَمِيٍّ بَعْدَكَ فَقَالَ ائْذِنْ لَهُ فَأَذِنَ لَهُ فَسَلَّمَ

او نه به دداسې څخه وروسته د چا څخه اجازه وغواړي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل را وه يې غواړه ، نو جبرائيل علیه السلام هغه ملائکه را وغوښتل هغه حاضره سوه سلام يې وکړ

عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ أَرْسَلَنِيْ إِلَيْكَ فَإِنْ أَمَرْتَنِيْ أَنْ أَقْبِضَ رُوْحَكَ

او بيا يې عرض وکړ اې محمد ﷺ ! خدای تعالی زه ستاسو په خدمت کي را ليږلی يم که تاسو حکم کوئ نو زه به ستاسو روح قبض کړم

قَبَضْتُ وَإِنْ أَمَرْتَنِيْ أَنْ أَتْرُكَهُ تَرَكْتُهُ فَقَالَ وَتَفْعَلُ يَا مَلَكَ الْمَوْتِ قَالَ نَعَمْ

او که منع کوئ نو روح به ستاسو په بدن کي پرېږدم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا ته به داسي وکړې؟ ، د مرګ ملائکي ورته عرض وکړ هو ،

بِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأُمِرْتُ أَنْ أُطِيْعَكَ قَالَ فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى

ما ته همداسي حکم راکړل سوی دی چي څه تاسو فرمایاست زه به د هغه اطاعت کوم. د راوي بيان دی چي نبي کريم ﷺ

جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فَقَالَ جِبْرِيْلُ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ قَدِ اشْتَاقَ إِلٰى لِقَائِكَ فَقَالَ

جبرائيل علیه السلام ته وکتل نو جبرائيل علیه السلام ورته عرض وکړ اې محمد ! خدای تعالی ستاسو د ملاقات مشتاق دی ،

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَلَكِ الْمَوْتِ امْضِ لِمَا أُمِرْتَ بِهِ فَقَبَضَ رُوْحَهُ فَلَمَّا

نبي کريم ﷺ د مرګ ملائکي ته حکم ورکړ د کومي خبري چي تا ته حکم سوی دی هغه په عمل کي راوله، نو د مرګ ملائکي د رسول الله ﷺ روح مبارک قبض کړی ، کله چي

تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَاءَتِ التَّعْزِيَةُ سَمِعُوْا صَوْتًا مِنْ نَاحِيَةِ

رسول الله ﷺ وفات سو . او يو سړی د تعزيت لپاره راغلی نو د سرای د يوه کونج څخه يو آواز واوريدل سو چي کورنۍ يې مخاطب کړل ورته يې وويل :

الْبَيْتِ اَلسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ إِنَّ فِي اللهِ عَزَاءً مِنْ كُلِّ

اې د پيغمبر اهل بيتو! پر تاسو دې سلامتيا وي د خداى مهرباني دې وي او د خداى ﷻ برکتونه دې پر تاسو نازل وي، د خداى په کتاب کې،

مُصِيْبَةٍ وَخَلَفًا مِنْ كُلِّ هَالِكٍ وَدَرَكًا مِنْ كُلِّ فَائِتٍ فَبِاللّٰهِ فاتقوا وَإِيَّاهُ فَارْجُوْا

د خداى په دين کې د هر مصيبت د تسکين او تسلۍ سامان موجود دى، او خداى تعالى د هر هلاکيدونکي شي بدله ورکونکى او د هر فوت کيدونکي شي تدارک کونکى دى، هر کله چې صورت حال داسې دى نو د خداى ﷻ په مرسته سره تقوا اختيار کړئ او د هغه څخه اميد ساتئ،

فَإِنَّمَا الْمُصَابُ مَنْ حُرِمَ الثَّوَابَ فَقَالَ عَلِيٌّ أَتَدْرُوْنَ مَنْ هٰذَا هُوَ الْخَضِرُ عَلَيْهِ السَّلَامُ. رواه البيهقي في دلائل النبوة.

ځکه چې هيڅ مصيبت وهلى د ثواب څخه محرومه سوى نه دى، ددې خطاب اوريدو سره حضرت علي رضي الله عنه وويل تاسو ته معلومه ده چې دا تسکين ورکونکى سړى څوک دى، دا حضرت خضر عليه السلام دى. بيهقي.

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د لغاتو حل: درکا: اي تدارکا. (بدله ورکول)

تشريح: خپل ځان اضطراري او پريشانه وينم: په ښکاره دا معلوميږي چې رسول الله ﷺ د حضرت جبرائيل عليه السلام په وړاندې د خپل غم او پرېشانۍ اظهار وکړ ددې تعلق د امت د راتلونکي سره وو چې زما څخه وروسته به زما امت له کوم حالت سره مخامخ کيږي او مسلمانان به په کومو تاوانو او مصيبتو اخته سي.

د اسماعيل ملائکي په اړه علماؤ ليکلي دي چې دا د دنيا د آسمان چوکېداره ده، او په حديث کې څرنګه چې د اسماعيل ملائکي د راتللو يادونه ده همدارنګه د مرګ د ملائکي يعني عزرائيل عليه السلام د راتګ يادونه نسته، ددې وجه داده چې هغه وخت د مرګ د ملائکي راتلل څرګنده خبره ده چې د هغه د بيانولو اړتيا نه وه يا دا چې د مرګ ملائکه د حضرت جبرائيل عليه السلام او اسماعيل ملائکي د راتلو وروسته هغه وخت حاضر سوي وي کله چې جبرائيل عليه السلام د هغې د حاضرې خبر او د هغې له خوا د اجازې غوښتنه رسول الله ﷺ ته وکړل، سيوطي رحمه الله د بيهقي رحمه الله څخه دا روايت نقل کړى دى چې په دريمه ورځ کله چې حضرت جبرائيل عليه السلام د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو نو د هغه سره د مرګ ملائکه هم وه او له هغوى دواړو سره په هواء

كي يوه بله ملائكه وه چي اسماعيل ورته ويل كيږي چي پر داسي اويا زره ملائكو باندي حاكم ده چي په هغو كي يوه يوه ملائكه د نورو اوويا زرو ملائكو مشره ده،

د مرګ ملائكي د رسول الله ﷺ روح مبارک قبض کړ، په دې اړه شيخ عبدالحق رحمه الله ليكلي دي چي كله حضرت جبرائيل عليه السلام او د هغه سره د مرګ ملائكه او يوه بله دريمه ملائكه حضرت اسماعيل راغلل او ذكر سوي خبري پوره سوې نو تر دې وروسته رسول الله ﷺ ته لږ وخت تر لاسه سو او په دغه وخت كي رسول الله ﷺ صحابه كرامو ته ددغه ټولو پېښو او خبرو خبر وركړ، بيا ددې وروسته د مرګ ملائكي د رسول الله ﷺ روح مبارک قبض کړ، يا داسي وسول چي د عالم غيب دغه ټوله پېښه او خبري پر ځينو هغه صحابه كرامو باندي منكشف سوي وې چي هغه وخت د رسول الله ﷺ سره موجود وه او د هغه صحابه كرامو څخه يو چا امام علي زين العابدين ته دغه پېښه بيان كړه چي امام علي زين العابدين روايت په پيل كي د قرېشو په يو سړي سره تعبير كړ، مګر زموږ زړه دا وايي چي كيداى سي حضرت خضر عليه السلام د يو قريشي سړي په صورت كي امام علي زين العابدين ته راغلى وي او دغه حديث يې هغه ته بيان كړي وي ځكه امام زين العابدين رحمه الله د راوي ذكر په مبهمو الفاظو كي وكړ .

په يوه روايت كي د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه منقول دي چي د وفات په وخت كي د نبي كريم ﷺ پر ژبه مباركه د وصيت او نصيحت كوم الفاظ چي ډېر زيات راتلل هغه دا وه : الصلوة وما ملكت ايمانكم، يعني لمونځ او دخپلو غلامانو او مينځو خاص پام لرنه كوئ .

ان في الله عزاء: ددې په معنى او مطلب كي د حديثو د شارحينو مختلف اقوال دي، يو قول دادى چي د في الله الفاظ په اصل كي د في كتاب الله مفهوم لري مطلب دا چي د مصيبت او غم په وخت كي د ډاډ وركولو او يا تسكين وركولو لارښوونه په كتاب الله كي موجود ده نو په دغه الفاظ، كي دغه آيت كريمه ته اشاره ده :

وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ

ژباړه: او تاسو داسي شاكرينو ته زيري وركړئ چي كله پر هغوى مصيبت راسي نو هغوى وايي چي موږ خو د الله جل جلاله يو او هغه ته ورتلونكي يو .

دوهم قول دادى چي في الله په اصل كي د في دين الله، په معنى كي دى، او مطلب دا چي د الله جل جلاله په دين كي د هر مصيبت او غم په وخت كي د هغه صبر په صورت كي د ډاډ سامان موجود دى چي د هغه تلقين شارع عليه السلام كړى دى ، او ځيني حضرات وايي چي په الله جل جلاله كي د

تسکین او ډاډ سامان موجود دی، مطلب دا چي الله ﷻ د هر مصیبت او غم په وخت کي د صبر او تسکین ورکوونکی دی، یعني د علم بیان په اصطلاح کي دا خبره د تجرید په توګه ویل سوې ده او ددې مثال دادی چي په عربي کي ویل کیږي: رایت في زید اسد، یعني ما په زید کي زمری ولیدی، او ددې مطلب دادی چي ما زید د زمري په ډول طاقتور ولیدی، دغه احتمال د وروستني عبارت په اعتبار زیات مناسب معلومیږي.

خلفا من کل هالک و درکا من کل فائت: ددې یوه معنی خو هغه ده چي په ترجمه کي ذکر سوې ده چي الله ﷻ د هر هلاکت کونکي شي بدله ورکونکی او د هر فوت کېدونکي شي تدارک کوونکی دی، او یوه معنی دا هم کیدای سي چي د الله ﷻ دین یا د الله ﷻ په کتاب کي هغه تعلیمات مذکور دي چي په هغه عمل کولو سره انسان د لوی محرومی او لوی تاوان نعم البدل یعني د اخروي اجر او انعام سبب کیدای سي.

د الله ﷻ په مرسته تقوا اختیار کړه: یعني د الله ﷻ حکم او فیصله په خوښي سره قبوله کړه او د هغه د مرستي په ذریعه صبر او استقامت اختیار کړه، ژړاوي، بې صبري او بې قراري مه کوه، په دغه الفاظو کي د الله ﷻ پر دغه ارشاد باندي د عمل کولو تلقین دی:

وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلاَّ بِاللهِ

ژباړه: او صبر کوه، او ستا صبر کول د الله ﷻ په توفیق سره دی.

په یوه روایت کي دلته د (فاتقوا) یعني تقوا اختیار کړه، پر ځای د (فتقوا) لفظ دی لکه څرنګه چي په حصن حصین کي هم منقول دی، په دغه صورت کي به معنی دا وي چي په الله ﷻ باور کوه، او ویل کیږي چي د دغه الفاظو په ذریعه د الله ﷻ دغه ارشاد ته اشاره ده:

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لاَ يَمُوتُ. ژباړه: او پر حي لا یموت (الله ﷻ) باندي توکل کوه.

د هغه څخه امید لره، مطلب دا چي د الله ﷻ څخه ماسوا د بل چا څخه خپل امید مه ساته ځکه چي امید د هغه چا څخه کیدای سي چي معبود وي او معبود د الله ﷻ څخه ماسوا بل څوک نسته، یا دا مطلب دی چي په صبر سره ستا لپاره د الله ﷻ سره چي کوم اجر او ثواب دی د هغه پوره امید لره.

چي د ثواب څخه محروم کړل سو: مطلب دا چي حقیقي ستونزمن هغه څوک دی چي په دنیوي مصیبت اخته وي ځکه چي په دنیوي مصیبت باندي په صبر کولو سره د مرتبې مطابق ډېر ثواب تر لاسه کیږي بلکه حقیقي ستونزمن هغه دی چي پر مصیبت باندي صبر ونه کړي او

بيا د اخروي اجر او ثواب څخه محروم سي، ځکه ګنده دي وي چي د الله ﷻ په نزد هغه صبر معتبر دی چي د مصيبت د پيل په وخت کي تر لاسه سي ، حضرت علي رضي الله عنه وويل: تاسو پوهيږئ چي دا د هغه نامعلوم آواز وضاحت وو چي د کور د يو کونج څخه راتلی، حضرت علي رضي الله عنه وښودل چي دغه اواز په اصل کي د حضرت خضر عليه السلام دی چي د اهل بيت او صحابه کرامو سره د تعزيت لپاره دلته راغلی دی، او د عبارت د ظاهري سياق څخه معلوميږي چي دلته د علي څخه مراد د امير المؤمنين حضرت علي رضي الله عنه ذات دی چي هغه وخت هلته موجود وو، او دا احتمال هم نظر انداز کېدای نه سي چي د حديث راوي امام زين العابدين مراد دی او هغه د دغه حديث روايت کولو په وخت کي د هغه آواز په وضاحت کي دا خبره کړې وي.

په حصن حصين کي دا روايت نقل سوی دی چي کله د رسول الله ﷺ روح مبارک پرواز وکړ نو ملائکو (د غيبي آواز په صورت کي) د صحابه کرامو او اهل بيت سره تعزيت وکړ، د تعزيت د الفاظو نقل کولو څخه وروسته کوم چي مخکي په حديث کي نقل سوي دي، په يو بل روايت کي داسي نقل سوي دي چي (د رسول الله ﷺ د وفات وروسته) يو سپين ږيری سړی چي ډېر خوښ شکله وه، ناڅاپه (د نبي کريم ﷺ حجرې) ته داخل سو او صحابه کرامو ته په متوجه کېدو سره يې دغه الفاظ وويل: في الله عزاء، يعني د الله ﷻ په کتاب ، يا د الله ﷻ په دين کي د هر مصيبت او تکليف په وخت کي د تسکين او ډاډ سامان موجود دی، حضرت علي او حضرت ابوبکر رضي الله عنهما هلته موجود خلګو ته وښودل چي دا حضرت خضر عليه السلام دی. د دغه روايت څخه دا هم ثابتيږي چي په ذکر سوي حديث کي د علي څخه مراد حضرت علي کرم الله وجهه دی.

============

بَابُ

(د تېر سوي باب اړوند حديثونه)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

رسول الله ﷺ هيڅ مال وصيت نه دی کړی

﴿۵۷۲۱﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا شَاةً وَلَا بَعِيرًا وَلَا أَوْصَى بِشَيْءٍ. رواه مسلم.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د خپل وفات څخه وروسته نه يو دينار پريښود ی نه درهم، نه يې پسه پريښودی نه اوښ او نه يې د يو شي وصيت کړی دی . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۲۵۶، رقم: ۱۸– ۱۶۳۵.

تشريح: او نه رسول الله ﷺ د يو شي وصيت وکړ: د دې مطلب دادی چې رسول الله ﷺ د مال څخه د يو شي په اړه وصيت ونه کړ ځکه چې رسول الله ﷺ هيڅ مال او جائيداد نه پرېښودی نو وصيت به يې ولي کولای، پاته سوه د بني نضير او فدک د مځکې معامله نو هغه رسول الله ﷺ په خپل ژوند کي د ټولو مسلمانانو لپاره صدقه کړې وه يوازې د خپلي کورنۍ د نفقې په اندازه يې د هغه څخه اخيستل .

په دې اړه نووي رحمه الله ليکلي دي چې په يو بل روايت کي منقول دي چې کله خلګو د بي بي عائشې رضي الله عنها په وړاندې يادونه وکړل چې ځيني خلګ وايي چې رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه خپل وصي ګرځولی دی، نو بي بي عائشې رضي الله عنها وويل: رسول الله ﷺ کله وصيت کړی دی؟ زه خو تر آخري وخته پوري له رسول الله ﷺ سره وم او تر څو چې د رسول الله ﷺ روح مبارک پرواز نه وو کړی زه د رسول الله ﷺ سره ناسته وم، که چيري رسول الله ﷺ د حضرت علي رضي الله عنه په اړه وصيت کړی وای او هغه يې خپل وصي يعني د خپل مال او جائيداد وصي يا څارونکي ګرځولی وای نو د هغه علم به زما څخه زيات چا ته وای، او څوک چې څه وايي هغه غلط وايي، رسول الله ﷺ هيڅوک وصي ګرځولی نه دی، نو د حديث الفاظ : (ولا اوصی بشئ) موضوع مالي وصيت دی، د هغه مطلب دادی چې رسول الله ﷺ نه خو د خپل مال د دريمي برخي وصيت وکړ او نه يې د دريمي برخي څخه د زيات يا کم، ځکه چې د رسول الله ﷺ سره نه مال وو او نه جائيداد چې د هغه په اړه يې وصيت کړی وای، او نه د بل چا په حق کي لکه څرنګه چې د شيعه ګانو غلط ګمان دی ، او کوم چې د هغه صحيح حديثو تعلق دی چې په هغو کي د کتاب الله اړوند د وصيت کولو يا د پرديو قومو د قاصدانو سره د ښه چلن کولو د وصيت ذکر دی نو هغه بله موضوع ده چې د حديث د ذکر سوو الفاظو : ولا وصي شئ، مراد نه دی، ځيني سيرت ليکونکو چې دا ليکلي دي چې د رسول الله ﷺ سره ډېر اوښان وه او لس اوښې وې، او هغه اوښان به د مدينې شاوخوا کتل کېدلې ،هلته د اوښو څخه د شېدو په لوښلو سره به خلګو هره ورځ د شېې راوړلې او د رسول الله ﷺ سره اووه مېږې هم وې چې د هغه شېدې به رسول الله ﷺ څښېلې نو د غه روايت اول خو د دې حيثيت نه دی چې د ذکر سوي حديث خلاف سي ، دوهم دا که چيري د غه روايت صحيح هم ومنل سي نو په دې خبره به محمول کيږي چې هغه اوښان او نور

شيان د صدقې مالونه وه او د هغه په ذريعه چي كومي شيدې تر لاسه كېدلې هغه به اصحاب صفه او نورو خلكو ته ښبنلې.

رسول الله ﷺ ميراث نه دى پرې ايښى

﴿۵۷۲۲﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ أَخِي جُوَيْرِيَةَ قَالَ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ مَوْتِهِ دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا عَبْدًا وَلَا أَمَةً وَلَا شَيْئًا إِلَّا بَغْلَتَهُ الْبَيْضَاءَ وَسِلَاحَهُ وَأَرْضًا جَعَلَهَا صَدَقَةً. رواه البخاري.

د حضرت عمرو بن حارث رضي الله عنه څخه روايت دى چي د جويرې ورور دى چي رسول الله ﷺ د خپل وفات په وخت نه يو دينار پرېښودى نه درهم، نه يې غلام پرېښودى نه مينزه او نه بل يو شى خو يو سپينه غاتره او خپله وسله او مځكه چي په خپل ژوند كي يې صدقه كړې وه. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۳۵۶، رقم: ۲۷۳۹.

تشريح: نه يې غلامان پرېښودل او نه مينځي، ددې مطلب دادى چي د رسول الله ﷺ سره داسي مينزه او غلام نه وو چي رق يعني د مملوك په توګه د رسول الله ﷺ په غلامي كي وه، ددې څخه معلومه سول چي په ځينو روايتو كي د رسول الله ﷺ د مينځو او غلامانو ذكر راغلى دى نو هغوى يا خو د رسول الله ﷺ په ژوند كي مړه سوي دي او يا دا چي رسول الله ﷺ ازاد كړي دي.

د رسول الله ﷺ يو وسله وه: دلته د وسلې څخه مراد هغه وسله ده چي په خاصه توګه د رسول الله ﷺ په استعمال كي وه يعني برچه، په يوه روايت كي يوازي د يوې زغرې يادونه ده چي د وفات په وخت كي رسول الله ﷺ پرې ايښې وه او هغه هم د يو يهودي سره ګرو پرته وه، څرګنده دې وي چي په حديث كي كوم حصر دى او پر دې خبره مبني دى چي د استعمال جامې او معمولي د كور سامان لكه د كوچنيو شيانو اعتبار نه وي او نه هغه شيان په مال او جائيداد كي شمېرل كيږي او ثابته ده چي رسول الله ﷺ جامې او ځيني نور شيان پرې ايښي دي او هغه يې هم صدقه كړي وي، په دې اړه يو شارح ليكلي دي چي د جعلها ضمير ټولو ذكر سوو شيانو يعني غاترې، وسله او مځكي ته راجع دى حال دا چي په ظاهره دا متبادر كيږي چي د جعلها ضمير يوازي مځكي ته راجع دى او عسقلاني ليكلي دي چي هغه يې صدقه كړي دي، مطلب دا چي رسول الله ﷺ د مځكي ګټه اخيستل صدقه كړي وه يعني دلته صدقه د وقف په حكم كي دى، يا داسي ويل كيداى سي چي رسول الله ﷺ هغه مځكه د هغه باقي او قائم ساتلو پوري په خپل

ژوند کي صدقه جاريه کړې وه، همدارنګه هغه ځمکه چي تر څو پوري پاته وي د هغې د صدقې ثواب به رسول الله ﷺ ته رسيږي، نو دا خبره ددې خلاف نه ده چي کوم شيان د رسول الله ﷺ سره وه هغه د رسول الله ﷺ د وفات کېدو سره په خپله صدقه سول، علامه کرماني رحمه الله د بخاري شريف په تشريح کي ليکي: په حديث کي چي د کومي ځمکي يادونه ده نو د هغه څخه د وادي قرى نيمه ځمکه، د خيبر دځمکي پنځمه برخه او د بنو نضير د ځمکي هغه برخه مراد ده چي رسول الله ﷺ د خپل ځان لپاره خاص کړې وه، او د جعلها ضمير په حديث کي ذکر سوو درو شيانو (يعني غاتري، وسله او ځمکي ته) راجع دی ، نه يوازي ځمکي ته، او دا خبره د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد څخه ثابتيږي چي موږ انبياء ميراث نه پرېږدو بلکه زموږ ترکه (ميراث) ټوله صدقه کيږي .

د رسول الله ﷺ ترکه د وارثانو حق نه دی

﴿۵۷۲۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ لَا تَقْتَسِمُ وَرَثَتِي دِينَارًا مَا تَرَكْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمَئُونَةِ عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ وفرمايل : زما د مرګ څخه وروسته به زما وارثان دينار نه ويشي ، د بيبيانو مصارف او د عامل د اجرت څخه وروسته چي څه پرېږدم هغه صدقه ده . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۴۰۶، رقم: ۲۷۷۶، ومسلم ۳\۱۳۸۲، رقم: ۵۵- ۱۷۶۰.

تشريح: زما وارثان به دينار نه ويشي: دا د رسول الله ﷺ په حقيقي توګه خبر ورکول دي چي ما خپله په ميراث کي هيڅ دينار او درهم نه دي پرې ايښې او کله چي ما دينار او درهم نه دی پرې ايښې نو زما د مرګ وروسته به زما د وارثانو په منځ کي د دينار او درهم ويشلو نوبت نه راځي، يا دغه جمله د ظاهري طرز په اعتبار د خبر ورکولو په توګه ده ، مګر په حقيقت کي د نهي مفهوم لري ، مطلب دادی چي زه څه پرېږدم هغه زما وارثان په خپلو کي نه ويشي او بيا مخته ددغه منع علت يې بيان کړی دی چي زما ټوله ځمکه زما د ښځو د مصرف او زما د کارکوونکو د مزدوري څخه وروسته پاته ټوله صدقه ده، څرګنده دي وي چي د رسول الله ﷺ د ازواج مطهراتو حکم هغه نه دی کوم چي د عدت والا ښځو وي ځکه چي د رسول الله ﷺ د وفات وروسته د بل چا سره نکاح کول د هغوی لپاره جائز نه وه . ځکه د هغوی د مصرف ذمه داري او د هغوی نفقه د رسول الله ﷺ د ترکې (ميراث) سره متعلق سو ، او د کارکوونکي څخه مراد هغه

کسان دي چي د رسول الله ﷺ وروسته پر خلافت باندي فائز سول نو د ارشاد خلاصه دا سول چي زما د ترکې څخه دي زما د ښځو نفقه پوره ورکړل سي او زما خلفاء دي هم په خپل مصرف کي لګوي او بیا چي څه پاته سي هغه دي په فقیرانو او مسکینانو باندي مصرف کړل سي، لکه څرنګه چي ما به کول، دلته دا خبره هم د یادوني وړ ده چي رسول الله ﷺ د خپلي کورنۍ نفقه د صفایا د ګټي څخه پوره کول چي د بني نضیر د جائیداد څخه د رسول الله ﷺ برخي او د فدک پر مځکه مشتمل وه، د نفقې په اندازه د اخیستلو وروسته د ګټي ټوله برخه به یې د مسلمانانو په مصالح او مصارف کي مصرف کول، د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته د ذکر سوي جائیداد متولي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سو او هغه د خپل ذاتي مال او دولت په وجه د هغه مځکي څخه مستغني وو، نو هغه ټوله مځکه په خپلو قریبانو کي مروان او نورو ته ورکړل چي پر هغه باندي هغه خلک قابض وه تر دي چي حضرت عمر ابن عبدالعزیز رحمه الله خلیفه د مروان او نورو کسانو څخه هغه مځکه بېرته واخیستل او د پخوا په ډول یې د مصارفو لپاره خاص کړل.

د نبیانو په ترکه میراث نه ستنه

﴿۵۷۲۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ. متفق علیه.

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زموږ د مال وارث نه وي موږ چي څه پرېږدو هغه صدقه ده. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۵، رقم: ۶۷۲۶، ومسلم ۱۳۸۰\۳، رقم: ۵۲– ۱۷۵۹

تشریح: مطلب دا چي انبیاء د مال او جائیداد څخه څه پرېږدي هغه د میراث په توګه د هغوی د پاته سوو حق نه وي بلکه د صدقې مال وي چي د هغه مصرف فقیران او مسکینان وي.

د صوفیانو په نزد د فقیر تعریف دادی چي یو څوک د هیڅ شي مالک نه وي، نو د انبیاؤ سره چي څه وي هغه په ظاهره د هغوی وي مګر په حقیقت کي امانت یا وقف او یا د صدقې په توګه د هغوی سره وي او څرنګه چي ځیني حضراتو ویلي دي: له دې کبله نه د انبیاؤ په مال کي مېراث جاري کیږي او نه یو څوک د هغوی وارث ګرځېدای سي او کله چي د هغوی وراثت قائم نه وي نو د هغوی په وارثانو او پاته سوو کسانو کي هیڅ ته دا موقع نه تر لاسه کیږي چي هغه د هغوی د ترکې تر لاسه کولو په غوښتنه د هغوی په مرګ خوشحاله سي، په تفصیلي روایتو کي

راځي چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دغه حدیث هغه وخت بیان کړی وو کله چې د بي بي فاطمة الزهرا رضي الله عنها له خوا د میراث غوښتنه وړاندې سوې وه، هغه بي بي فاطمې رضي الله عنها ته وفرمایل: زه د رسول الله ﷺ خلیفه یم، زه د رسول الله ﷺ میراث په هغه مصارفو کې مصرفوم چیرې چې رسول الله ﷺ مصرف کول، او په دې اعتبار زه ستا غمخواري همداسې کوم لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ کول، دغه حدیث ما خپله د رسول الله ﷺ څخه اورېدلی دی چې زموږ انبیاؤ وراثت نه قائمیږي، دا هم منقول دي چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دغه خبره یوازې بي بي فاطمې رضي الله عنها ته نه وه کړې بلکه ازواجِ مطهراتو ته یې هم کړې وه چې هغوی د میراث غوښتنه کړې وه، او ابوبکر صدیق رضي الله عنه دا فیصله وکړل چې د رسول الله ﷺ مالي میراث نه قائمیږي، دا یې یوازې د خپلې خوښې څخه نه وه ویلې بلکه هغه ټول لوی صحابه کرام راجمع کړل او مشوره یې ورسره وکړل، کله چې ټولو صحابه کرامو وویل چې د رسول الله ﷺ وراثت نه سي قائمیدلای ځکه چې موږ خپله د رسول الله ﷺ څخه داسې اورېدلي دي نو حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ذکر سوې فیصله وکړل.

د امت مرحومه د نبي او د امت غیر مرحومه د نبي د وفات په مینځ کې فرق

﴿۵۷۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ

د حضرت ابوموسی رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی چې په بندګانو

وَجَلَّ إِذَا أَرَادَ رَحْمَةَ أُمَّةٍ مِنْ عِبَادِهِ قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا فَجَعَلَهُ لَهَا فَرَطًا

کې پر کوم قوم د خپلې مهربانۍ اراده کوي نو د هغوی نبي د هغه قوم څخه مخکې وفات کړي او بیا هغه نبي د هغه قوم امام وګرځوي،

وَسَلَفًا بَيْنَ يَدَيْهَا وَإِذَا أَرَادَ هَلَكَةَ أُمَّةٍ عَذَّبَهَا وَنَبِيُّهَا حَيٌّ فَأَهْلَكَهَا وَهُوَ يَنْظُرُ فَأَقَرَّ عَيْنَهُ بِهَلَكَتِهَا حِينَ كَذَّبُوهُ وَعَصَوْا أَمْرَهُ. رواه مسلم.

او هر کله چې الله تعالی د یو قوم د هلاکولو اراده وکړي نو د هغه نبي په ژوند او شتون کې هغه قوم په عذاب کې اخته کړي، هغه نبي هغه قوم په عذاب کې نیولی ویني او خوشحالیږي او خپلې سترګې یخوي، ځکه چې هغوی دې دروغجن او د ده د امر نافرماني به یې کوله. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۷۹۱/۴، رقم: ۲۴– ۲۲۸۸.

د لغاتو حل: سلفا: اي سابقا ومقدما وشفيعا.

يوه پشګوئي

﴿۵۷۲۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ فِي يَدِهِ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى أَحَدِكُمْ يَوْمٌ وَلَا يَرَانِي ثُمَّ لَأَنْ يَرَانِي أَحَبُّ إِلَيْهِ مَنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ مَعَهُمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په قبضه کي د محمد ﷺ روح دی پر تاسو به يوه ورځ داسي راسي چي تاسو به ما ونه وينئ، بيا به تاسو ته زما ليدل تر اهل، مال او هر شي چي د‌رسره وي تر هغه عزيز او محبوب وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۸۳٦\۴، رقم: ۱۴۲- ۲۲٦۴.

تشريح: د دغه ارشاد تعلق يا خو د رسول الله ﷺ په ژوند کي د رسول الله ﷺ د ليدو او د رسول الله ﷺ د ميني اختيارولو سره دی چي زما د صحابوو زما سره دومره زياته مينه او تعلق دی که هغوی ما يوه ورځ نه ويني او زما د صحبت څخه محروم سي نو دهغوی شوق او مينه زياته سي، په دغه صورت کي هغوی د خپل کورنۍ او خپل مال ليدو او دهغوی سره د اوسېدو څخه زيات دا خبره خوښوي چي زما ليدنه وکړي او زما په ملګرتيا کي پاته سي، يا په دغه ارشاد کي په اصل کي ددې خبري وړاند وينه ده چي زما سره د امت عقيدت او مينه به زما د وفات څخه وروسته هم کمه نه سي بلکه مسلمانان به خپلي کورنۍ او مال ته تر رغبت کولو او شوق ساتلو څخه زيات دا غواړي چي په يو ډول که په خوب کي وي يا په وېښه کي زما ليدنه وکړي او ما ووينې، د کلام سياق ته په کتلو سره دا مطلب زيات مناسب معلومېږي، نو دا هغه کيفيت دی چي د هغه د جمال مشتاقان د نبي د حيات سرمايه وي چي د رسول الله ﷺ د جمال او کمال په تصور کي مستغرق وي.

===========

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بَابُ مَنَاقِبِ قُرَيْشٍ وَذِكْرُ الْقَبَائِلِ

(د قریشو مناقب او د قبائلو یادونه)

د مناقب لفظ د منقب جمع ده چې معنی یې د شرف او فضیلت ده، قریش د عربو د مشهوري قبیلې نوم دی، د قریش لغوي معنی د یو لوی خطرناک او توانا سمندري حیوان ده مګر په اصل کې دا د نضر ابن کنانه یا فهر ابن مالک ابن نضر لقب وو چې د هغه اولاد په مختلفو ښاخو او کورنیو کې خپور سو، او پر دغه ټولو کورنیو باندي مشتمل قبیله د مورث اعلی د لقب په مناسبت سره قریش ورته وویل سول،

قبائل د قبیلة جمع ده چې معنی یې د یوه پلار د اولادې ده، او د قبائلو د ذکر څخه مراد د عربو د مختلفو قبیلو خصوصیات او دهغوی نیکۍ او بدۍ بیانول دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د قریشو فضیلت

﴿۵۷۲۷﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي هَذَا الشَّأْنِ مُسْلِمُهُمْ تَبَعٌ لِمُسْلِمِهِمْ وَكَافِرُهُمْ تَبَعٌ لِكَافِرِهِمْ. متفق علیه

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: خلک د قریشو تابع دي یعني مسلمان د مسلمانانو قریشو تابع او کافران د کافرانو قریشو تابع دي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٢٦، رقم: ۳۴۹۵، ومسلم ۳\۱۴۵۱، رقم: ۲– ۱۸۱۸.

تشریح: د حدیث د ظاهري سیاق څخه دا معلومېږي چې د دغه خبري څخه مراد دین او شریعت دی که د هغه د وجود اعتبار وي یا د هغه د عدم، مطلب دا چې د دین قبلول او نه قبلول یعني د ایمان او کفر په اړه ټول خلک په قریشو پسې دي او قریش اقدامي او پیشوایي حیثیت لري، په دې توګه چې یوې خوا ته د دین ظهور تر ټولو مخکې په قریشو کې وسو او تر ټولو مخکې قریشو ایمان راوړ، او بیا د هغوی په اتباعو کې نورو خلګو هم ایمان راوړل پیل کړل، بلې خوا ته د هغوی یعني د قریشو خلګ وه چې هغوی د دین تر ټولو مخکې مخالفت وکړ او د

مسلمانانو د لاري منع كولو لپاره يې تر ټولو مخكې اقدام وكړ، همدارنګه كه چيرې د قريشو د كافرانو تابعدار سول نو د اسلام تاريخ پوهان ښه پوهيږي چې د مکې د فتح څخه مخکې ټول عرب د قريشو د اسلام راوړلو په انتظار وه، کله چې د مسلمانانو په لاس مکه فتح سول او د مکې قريش مسلمانان سول نو د ټول عرب خلګ هم ډلې ډلې په اسلام کې داخل سول لکه څرنګه چې د سورة اذا جاء نصر الله، څخه څرګنديږي، په هر حال د دغه ارشاد مقصد د قريشو د مشرانو حيثيت بيانول دي چې د قيامت او امارت جوهر هغوی ته په برخه دی که څه هم هغوی د جاهليت د زمانې سره وابسته وه او يا د اسلام د عهد سره، مګر د هغوی دغه قيادت او امارت ته د فضل او شرف په اعتبار يوازې د اسلام په صورت کې حاصل دی نه د کفر په حالت کې، او که د فضل او شرف قيد مقصد نه وي نو ويل کيږي چې په دغه ارشاد کې د قريشو مطلق د قيادت او امارت ذکر دی که د هغه تعلق د دنيوي امورو سره وي او که د مذهبي امورو سره وي، نو د جاهليت په زمانه کې هم نه يوازې په دنيوي اعتبار قريش په ټولو عربي قبائلو کې د سردار حيثيت درلود بلکه د هغه وخت د هغوی مذهبي معاملات لکه د بيت الله توليت او مشرتوب، داوبو څښلو او داسې نورو ذمه داريو اعزاز هم هغوی ته په برخه وو .

ځينو حضراتو ويلي دي چې د دې خبرې څخه مراد د خلافت منصب دی لکه څرنګه چې په نورو حديثو کې په وضاحت سره منقول هم دی او د دغه ارشاد مقصد د قريشو قيادت منل او د هغوی د پيروي حکم ورکول دي او که خلک د دغه ارشاد روح او د دې څخه اخذ سوي حکم باندې عمل نه کولو سره د قريشو قيادت ونه منې او د هغوی د پيروۍ څخه انکار وکړي نو دا خبره به د ارشاد خلاف نه وي ځکه چې د يو عمل د اثبات لپاره دا ضروري نه ده چې عملي او واقعي توګه سره د هغه ظهور هم وي د حکم مقصد خو د يو شي ثابتول وي او که څوک په هغه حکم باندې عمل ونه کړي نو د هغه دا مطلب هيڅکله نه دی چې هغه حکم د خپل اثبات څخه خالي دی نو رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذريعه د قريشو قيادت او امارت اختيارولو چې کوم حکم ورکړی دی د دې مقصد دا ثابتول دي چې قريش د قيادت او امارت استحقاق او د هغه ذمه داري سنبالولو اهليت لري که څه هم د هغوی قيادت او امارت ومنل سي او د هغوی پيروي وکړل سي يا ونه کړل سي .

قريش سرداران دي

﴿۵۷۲۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ

فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خلک د خير او شر په دواړو حالتونو کي د قريشو تابع دي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۴۵۱، رقم: ۳- ۱۸۱۹.

تشريح: د خير مراد اسلام دی او د شر څخه مراد کفر دی لکه څرنګه چي په تېر سوي حديث کي په تفصيل سره بيان سو.

د قريشو خلافت

﴿۵۷۲۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَزَالُ هٰذَا الْأَمْرُ فِي قُرَيْشٍ مَا بَقِيَ مِنْهُمُ اثْنَانِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هميشه دا امر (يعني دين يا امر خلافت) به په قريشو کي وي تر څو پوري چي په دوی کي دوه کسان هم پاته وي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۵۳۳، رقم: ۳۵۰۱، ومسلم ۳\۱۴۵۲، رقم: ۴- ۱۸۲۰.

تشريح: همېشه په قريشو کي وي: مطلب دا چي د خلافت وړتيا تر ټولو زيات قريش لري نو له همدې کبله د خلافت منصب هم بايد د قريشو سره وي او د بېله قريشو خليفه ګرځولو فيصله شرعا جائز نه ده، د صحابه کرامو په زمانه کي پر دې اجماع وه او دغه ارشاد د هغو انصارو صحابه کرامو په مقابله کي د مهاجرو صحابه کرامو دليل سو چا چي خلافت د انصارو حق کېدل غوښتل.

تر څو چي په هغوی کي دوه کسان پاته وي، دا خبره رسول الله ﷺ د خلافت د منصب په اړه د قريشو ترجيحي استحقاق په زيات ارزښت سره بيانولو لپاره وفرمايل، که چيري په قريشو کي دوه کسان هم پاته وي چي يو خليفه سي او دوهم د هغه فرمانبردار نو بيا هم خلافت د قريشو حق دی، ددغه حديث په تشريح کي نووي رحمه الله ليکلي دي: دغه او داسي نور حديثونه چي په هغو کي د خلافت حق د قريشو لپاره خاص دی ، د غير قريشي خليفه ګرځول جائز نه دي نو په دې اړه نه يوازي د صحابه کرامو په زمانه کي بلکه د صحابه کرامو وروسته هم د امت اجماع

راغلې ده، اهل بدعت د اهل سنت والجماعت د اتفاقي مذهب څخه په سرغړوني چي کومو خلګو په دغه مسئله کي د اختلاف او انکار لار اختيار کړې ده د هغوی خبره نه يوازي دا چي د امت سواد اعظم ونه منی بلکه دهغوی د ترديد او تغليظ لپاره دا دليل وړاندي کړل سو چي د قريشو د خلافت پر استحقاق باندي د صحابه کرامو اجماع وه ، امام نووي رحمه الله دا هم ليکلي دي چي رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذريعه دا خبر ورکړی دی چي دغه حکم (چي د هغه څخه د خلافت منصب د قريشو سره خاص کېدل ظاهرېږي) تر آخري زمانې پوري جاري او نافذ دی، تر څو چي په دنيا کي دوه کسان هم پاته وي نو رسول الله ﷺ چي څه وفرمايل او کوم خبر يې ورکړ هغه د واقعې په اعتبار هم ثابت سو چي تر ننه پوري د قريشو خلافت او دهغوی بالادستي قائمه ده، مګر د نووي رحمه الله دا نتيجه بيانول د تاريخي حقيقت مطابق نه ده ، د هغوی تر زمانې پوري خو د قريشو خلافت قائم وو مګر وروسته د قريشو خلافت او امامت پر ټولي اسلامي نړۍ باندي پاته نه سو ، په پيل کي تر دوو سوو کالو پوري داسي تېره سوه چي په هغو کي د اکثرو اسلامي هيوادو خلافت د قريشو وو مګر د هغه وروسته د خودمختارۍ دور شروع سو او په اسلامي نړۍ کي د مختلفو حکمرانانو او پاچاهانو خپل خپل حکومت قائم سو، نو په دې اړه تحقيقي قول دادی چي دا خبر په اصل کي د امر يعنې حکم په معنی کي دی، يعني رسول الله ﷺ د خبر په طرز کي دا حکم ورکړی دی چي کوم ثوک په اسلام او ايمان برخه وي نو پر هغه لازمه ده چي هغه قريشي خپل مشر ومني ، د هغه پيروي وکړي او دهغوی امامت او قيادت څخه سرغړونه ونه کړي، هسي دا هم ويل کيدای سي چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد پر خپلې ظاهري معنی محمول دی مګر د (ما اقاموا الدين) په الفاظو مقيد دی، چي په تېر سوي حديث کي مذکور دي، په دغه صورت کي د دغه حديث مطلب دادی چي د خلافت منصب او امارت به تر هغه وخته پوري په قريشو کي وي تر څو چي هغوی پر دين قائم وي نو همداسي وسول چي قريش تر څو پوري خلافت د دين تابع کړ او د اسلام په خدمت او خپرولو کي بوخت وه ، د خلافت منصب د هغوی په لاس کي وو مګر کله چي هغوی نه يوازي دا چي دين ته بې توجهي وکړل بلکه حرام او ناجائز کارو کي اخته سول او د دين بې حرمتي يې وکړل نو د خلافت واګي د هغوی د لاس څخه ووتې او غير قريشو ته په لاس ورغلې .

د قريشو استحقاق

﴿۵۷۳۰﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

إِنَّ هَذَا الْأَمْرَ فِي قُرَيْشٍ لَا يُعَادِيهِمْ أَحَدٌ إِلَّا كَبَّهُ اللَّهُ عَلَى وَجْهِهِ مَا أَقَامُوا الدِّينَ. رواه البخاري.

د حضرت معاويه رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي دا (يعني خلافت يا دين) به هميشه په قريشو كي وي تر څو پوري چي د قريشو خلک دين قائم ساتي ځوک چي د دوی سره عداوت او دښمني كوي خدای جل جلاله به هغه پرمخي راوغورځوي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٣٢، رقم: ٣٥٠٠.

د لغاتو حل: كبه: اي اسقطه (غورځول)

تشريح: مطلب دا چي د خلافت اصل مقصد د دين قائمول او د اسلام بيرغ لوړ ساتل دي ځکه نو قريش چي تر څو پوري د دين او شريعت په ترويج او خپرېدو كي بوخت وي او د اسلام د بيرغ د لوړ ساتلو هڅه كوي نو هغوی د خلافت د منصب استحقاق لري او الله جل جلاله به د هغوی مشري او قيادت قائم وساتي مګر كله چي هغوی د خپل فرض يعني د دين او اسلام د اقامت څخه غافل سي او د خلافت حقيقي غوښتنه پوره كول پرېږدي نو د عزل (برطرفه كېدو) سبب به وي، او د خلافت او امارت واكي به د هغوی د لاس څخه واخيستل سي او ځينو شارحينو دا ليكلي دي چي د دين قائمولو څخه مراد لمونځ قائمول دي لكه څرنګه چي په يوه روايت كي د (ما اقاموا الصلوة) الفاظ هم نقل سوي دي، او هسي هم په ځينو ځايو كي د دين او ايمان اطلاق پر لمانځه راغلی دی، له دې كبله دځينو وينا ده چي د دغه ارشاد اصل مقصد قريشو ته د لمانځه قائمولو تلقين او ترغيب دی او د دې څخه بېرول دي كه چيري لمونځ قائم نه كړي نو كيدای سي چي د خلافت منصب يې د لاسه ووځي او نور خلک پر هغوی غلبه او تسلط تر لاسه كړي.

د قريشو د دوولس خلفاؤ ذكر

﴿٥٤٣١﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ اوريدلي دي چي

يَقُولُ لَا يَزَالُ الْإِسْلَامُ عَزِيزًا إِلَى اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيفَةً كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ. وفي

فرمايل يې: اسلام به تر دوولس خليفه ګانو پوري قوي او عزيز وي او دا ټول خلفاء به د قريشو

روایة لایزال امر الناس ماضیا ما ولیهم اثنی عشر رجلا کلهم من قریش وفي روایة لایزال الدین قائما حتی تقوم الساعة او یکون علیهم اثنا عشر خلیفة کلهم من قریش. متفق علیه.

څخه وي، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خلکو دا کار به برابر جاري وي تر څو پوري چي دوولس کسان به حکمراني کوي او دا ټول به د قریشو د کورنۍ څخه وي، او په یوه روایت کي داسي دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: تر قیامته پوري به دین قائم او مستقیم وي او پر خلکو به دوولس خلیفه ګان وي چي ټول به د قریشو څخه وي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۲۱۱، رقم: ۷۲۲۲، ومسلم ۳\۱۴۵۳، رقم: ۷-۱۸۲۱.

تشریح: د دغه حدیث په معنی کي او مفهوم کي مختلف قولونه دي، او علماؤ د سوال اظهار هم کړی دی، سوال دا دی چي د حدیث څخه په ظاهره کومه خبره مفهوم کیږي هغه داده چي د رسول الله ﷺ څخه وروسته پرله پسې دوولس خلیفه ګان به وي چي دهغوی د خلافت په زمانه کي به د دین نظام مستحکم او برقرار وي، د هغوی په وجود سره به اسلام ته شان او شوکت تر لاسه کیږي او نه یوازي دا چي خپله به هغه ټول دوولس خلیفه ګان د دین او مذهب ریښتوني پابند او پیروان وي بلکه د هغوی په خلافت او عدالت سره به د حق او انصاف مطابق د احکامو او هدایاتو نفاذ وي حال دا چي د تاریخ له رویه چي څه پېښ سوي دي هغه د دې خبري شاهدي نه ورکوي. نو د رسول الله ﷺ څخه وروسته د خلافت پر منصب باندي په فائز کېدونکي د بني سروان هغه خلیفه ګان او امیران هم وه چي نه یوازي دا چي د خپل سیرت او طریقو په اعتبارې د دین او مذهب سره څه مناسبت نه درلود بلکه د هغوی په ظالمانه او مفسدانه کړنو سره اسلام او مسلمانانو ته سخت تاوانونه رامنځته سول، د دې څخه ماسوا هغه حدیث هم دی چي د هغه مطابق رسول الله ﷺ فرمایلي وه چي زما څخه وروسته به تر دېرشو کالو پوري د خلافت نظام قائم وي او د هغه وروسته به پر ظلم او زیاتوب باندي مبني پاچاهي پیل سي، د ټولو علماؤ پر دې اتفاق دی چي دېرش کاله وخت یعني د خلافت راشده څخه وروسته چي کوم حکومت څرګند. سو هغه ته خلافت نه بلکه پاچاهي او امارت ویل پکار دي،

دا هم یو سوال دی او له دې کبله علماؤ د دغه حدیث په توجیه او تاویل کي مختلف قولونه وړاندي کړي دي، په هغو کي یو قول دادی چي د دوولس خلیفه ګانو څخه مراد هغه دوولس

کسان دي چي د رسول الله ﷺ څخه وروسته به د خلافت او حکومت خاوندان سي او د هغه د اقتدار په زمانه کي به د مسلمانانو ظاهري حالات او معاملات او د رعیت د ګټي په اعتبار د پاچاهي او حکومت نظام به مستحکم او متوازن وي ، که څه هم په هغوی کي به ځیني مشران د ظلم او بې انصافۍ پر لار روان وي ، د منځني اختلاف ، جګړو او خرابیو ظهور د ولید بن یزید بن عبدالملک بن مروان په وخت کي وسو چي په دوی کي دوولس کسان وه، د هغه امارت به هغه وخت قائم سي کله چي دهغه اکا هشام ابن عبدالملک وفات سي، مخکي چي خلګو د ولید ابن یزید په امارت اتفاق وکړ او دهغوی اتفاق تر څلورو کلو پوري قائم وو مګر څلور کاله وروسته خلګ د هغه پر خلاف را پورته سول او هغه یې ووژی، دهغه ورځي څخه بدلون پیدا سو او فتنه او فساد خپور سو، دا قول قاضي عیاض مالکي رحمۃ اللہ علیہ ته منسوب دی او علامه ابن حجر عسقلاني رحمۃ اللہ علیہ ددغه قول تحسین کړی دی او ویلي یې دي چي ددغه حدیث څومره توجیهات سوي دي او په دې اړه چي څومره خبري منقول دي په هغو ټولو کي دغه قول تر ټولو زیات مناسب او تر ټولو زیات د ترجیح وړ دی، او ددې تائید په دغه الفاظو سره کیږي چي ددغه حدیث د جزء په توګه په ځینو صحیح طریقو سره منقول دی چي : کلهم یجتمع علیه امر الناس، او د جمع څخه مراد د هغه خلیفه ګانو پر بیعت باندي د خلګو اتفاق او اجماع او دهغوی قیادت او مشري منل دي ، که څه هم په کراهت سره وي، او ددغه حدیث څخه د هغه خلیفه ګانو مدح او توصیف مفهوم کیږي هغه ددین ، عدالت او حقانیت په اعتبار نه دي بلکه په سیاسي او انتظامي چارو کي د استحکام او د حکومت د امارت په اړه د اتفاق او اتحاد په اعتبار دی، پاته سوه ددغه صحیح حدیث خبره چي په هغه کي رسول الله ﷺ خلافت په دېرش کاله کي منحصر کړی دی، نو هلته د خلافت څخه مراد خلافت کبری دی چي په اصل کي خلافت نبوت دی ، او په دغه حدیث کي خلافت امارت مراد دی نو د خلفاء راشدینو څخه وروسته چي کوم امیران تېر سول هغوی ته هم خلیفه ګان ویل کیږي که څه هم هغوی ته خلیفه ویل د مجازي معنی په اعتبار دي ، ذکر سوی لومړنی قول که څه هم علامه ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ غوره او راجح ګرځولی دی مګر حقیقت دادی چي د حدیث د دغه الفاظو : لایزال الاسلام عزیزا ، او لایزال الدین قائما ، سره دغه قول څرګند مناسبت نه لري ځکه چي دغه الفاظ د هغو دوولسو خلیفه ګانو د مدح او تعریف صریح مظهر دی چي دهغوی د خلافت په زمانه کي به دین ته استحکام حاصل وي ، د حق وینا به لوړه وي او د هغوی د عدل او انصاف په ذریعه به د اسلام د شان او شوکت او قوت اظهار وي

دوهم قول دادی چي د خليفه ګانو څخه مراد عادل او انصاف كوونكي خليفه ګان مراد دي، چي د خپل ذاتي او ښو صفاتو په وجه د خلافت صحيح مصداق او د منصب امارت اهل وي، په دغه صورت كي د حديث لازمي مطلب به دا بيانول نه وي چي دغه دوولس خليفه ګان به د رسول الله ﷺ د زمانې څخه وروسته يو په بل پسې وي بلكه كيداى سي چي اصل مقصد د داسي خليفه ګانو او اميرانو محض شمېر بيانول وي كه د هغوی ظهور په هره زمانه كي وي او د دوولس شمېر تر قيامته پوري په هر وخت كي چي پوره سي، د توربشتي رحمه الله عليه د قول مطابق دغه حديث او په دې اړه منقول نورو حديثو مفهوم او معنى كي دا قول زيات مناسب دی، دريم قول دادی چي په دغه حديث كي د داسي دوولس خليفه ګانو ذكر مراد دی چي د حضرت مهدي عليه السلام د زمانې څخه وروسته به د خلافت او امارت پر منصب فائز وي، (يعني مخبر صادق ﷺ دا وړاند وينه وفرمايل چي په آخره زمانه كي به د قريشو سره نسبي تعلق لرونكي داسي دوولس كسان د مسلمانانو د ملي او ملكي قيادت آمين جوړ سي چي د هغوی د حكومت په زمانه كي به دين او مذهب ته عروج حاصل سي او د اسلام شان او شوكت به لوړ سي، په يو بل حديث كي راغلي دي چي كله حضرت مهدي عليه السلام وفات سي نو د حكومت خاوند به يو په بل پسې پنځه كسان وي، هغه به سبط اكبر يعني د حضرت امام حسن رضي الله عنه د اولاد څخه وي، د هغوی څخه وروسته د قيامت او حكومت واكي به يو په بل پسې د هغه پنځو كسانو په لاس راسي چي د سبط اصغر يعني حضرت امام حسين رضي الله عنه د اولاد څخه به وي او په هغوی كي به آخري سړی خپل مشر هغه ځوک جوړ كړي چي د حضرت امام حسن رضي الله عنه د اولاد څخه به وي او د هيواد او ملت د امامت او مشرۍ د دغه لړۍ يوولسم كس به وي، بيا كله چي دغه يوولسم سړی د خپل حكومت د زمانې په پوره كولو سره مړ سي نو د هغه پر ځای به د هغه زوی وي او هغه به د حكومت خاوند سي، همدا رنګه د دولس شمېر به پوره سي او په دغه دوولس كي به هر يو امام عادل او هادي او مهدي وي چي د هغه عدالت، انصاف او د رعيت سره د ښه چلن كولو په وجه به اسلام او مسلمانانو ته ستر شان او شوكت په برخه سي، كه دغه حديث صحيح وي نو بيا د ذكر سوي دوهم قول يو معقول او غوره توجيه ګرځول كيداى سي، په يوه روايت كي د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه هم نقل كيږي چي په هغه كي د حضرت امام مهدي عليه السلام اوصاف او محاسن بيانولو سره دا يې ويلي دي چي الله جل جلاله به د هغه (امام مهدي عليه السلام) په وجود سره هر غم او فكر ليري كړي او د هغه په عدل او انصاف سره به هر ظلم او فتنه ختمه سي د هغه د زمانې څخه وروسته به بيا د مشرتوب واكي د دوولس كسانو په لاس ورسي چي يو په بل پسې به تر يونيم

سل کالو پوري د حکومت نظام سنبالوي.

او ځلورم قول دادی چي اصل مراد په يوه زمانه کي د دوولس خليفه ګانو راتلل دي چي پر خپل خپل ځای به د خود مختار حيثيت دعوه کوي او په هغوی کي به د هر يوه د اطاعت خلګ بېل بېل وي، ددې تائيد ددغه روايت څخه کيږي چي (رسول الله ﷺ وفرمايل) هغه وخت راتلونکی دی چي زما څخه وروسته به خليفه ګان وي او ډېر به وي، ددغه ارشاد څخه د رسول الله ﷺ اصل مقصد دا خبر ورکول وو چي زما څخه وروسته به د نوو فتنو ظهور وسي او ډول ډول اختلافي او نزاعي معاملات به راپورته سي تر دې چي په يوه زمانه کي به دوولس خليفه ګان د خپل بېل بېل خلافت دعوه کوي او د آخري قول مطابق د حديث مراد به دا وي چي په يوه وخت کي د دوولس خليفه ګانو وجود د زمانې څخه تر مخکي زمانې پوري خو د مسلمانانو مؤثر اجتماعي او تنظيمي حيثيت برقرار وي، د دين نظام به مستحکم او استوار وي او د اسلام عزت او شان به زياتيږي مګر په هغه زمانه کي به اختلاف او جګړې را پورته سي او د مسلمانانو ټولنه به منتشر سي مګر د مخکنيو قولونو مطابق د حديث مراد دا معلوميږي چي د هغه دوولس خليفه ګانو تر زمانې پوري به د اسلام او مسلمانانو نظام مستحکم او استوار وي د هغه په نظام کي چي کوم خلل او اضطراب پيدا سي هغه به ددغه زمانې څخه وروسته وي.

شيعه ګانو په دغه حديث کي د دوولس خليفه ګانو ذکر پر دې محمول کړی دی چي هغوی به د اهل بيت څخه وي که څه هم هغوی پر حقيقي منصب باندي فائز وي او که د خلافت د استحقاق درلودلو سربېره پر خلافت باندي فائز نه سي، ددغه شيعه ګانو مطابق تر ټولو لومړنی خليفه حضرت علي رضي الله عنه دی، بيا حضرت حسن رضي الله عنه، بيا حضرت حسين رضي الله عنه، بيا حضرت زين العابدين، بيا حضرت محمد باقر، بيا حضرت جعفر صادق، بيا حضرت موسی کاظم، بيا حضرت علي رضا، بيا حضرت محمد نقي، بيا حضرت علي نقي، بيا حضرت حسين عسکري، بيا حضرت محمد مهدي.

د عربو قبائل

﴿۵۷۳۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِفَارُ غَفَرَ اللّٰهُ لَهَا وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللّٰهُ وَعُصَيَّةُ عَصَتِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قبيله غفار خدای جل جلاله وبخښل، قبيله اسلم يې سلامت وساتل او قبيله عصيه د خدای او د هغه د رسول نافرماني وکړه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٤٢، رقم: ٣٥١٣، ومسلم ٤\١٩٥٣، رقم: ١٨٧- ٢٥١٨.

تشریح: غفار د عربو یوه مشهوره قبیله ده، ستر صحابي حضرت ابوذر غفاري ﷛ ددغه قبیلې سره تعلق درلود، ویل کیږي چي د جاهلیت په زمانه کي به دغه قبیلې د حاجیانو مالونه غلا کول او د خپلي دغه خرابۍ په وجه به د عامو عربو په نظر کي بد وه، له دې کبله رسول الله ﷺ د دوی په اړه دعاء وفرمایل چي ددغه قبیلې پر لمن باندي کوم داغ لګیدلی دی الله ﷻ د هغه داغ پاکولو او په بخښني سره ونازول ځکه چي اوس ددغه قبیلې خلک په خوښي سره په اسلام کي داخل سوي دي او دا هم ویل کیدای سي چي دغه ارشاد د دعائیه جملې پر ځای د خبریه جمله ده، یعني رسول الله ﷺ ددغه الفاظو په ذریعه خبر ورکړ چي الله ﷻ ددغه قبیلې د جاهلې ژوند پېښي نیستي ګرځولي دي او اوس دغه قبیله د ایمان او اسلام په برکت په بخښنه او مغفرت سره نازول سوې ده.

اسلم هم د یوې قبیلې نوم دی، ددغه قبیلې خلګو بېله جګړې کولو اسلام ومنی ځکه رسول الله ﷺ د دوی په اړه دعاء وکړل چي الله ﷻ ددغه قبیلې خلک سلامت ولري، ددغه قبیلې په اړه ذکر سوې جمله هم د خبریه احتمال لري یعني دا هم کیدای سي چي رسول الله ﷺ ددغه جملې په ذریعه خبر ورکړی وي چي دا هغه قبیله ده چي د مسلمانانو پر خلاف وسله پورته کول یې خوښ نه کړل ځکه الله ﷻ ددغه قبیلې خلک د قتل او تباهۍ څخه سلامت او خوندي وساتل.

عصیه، د هغه بدبختي قبیلې نوم دی چي هغوی مسلمانان قاریان د بئرمعونه سره په چمبازۍ په ډېره بې دردۍ سره شهیدان کړل، رسول الله ﷺ ته په دغه پېښه ډېر غم ورسېدی او په قنوت کي یې ددغه قبیلې پر خلګو لعنت وکړ او د هغوی لپاره یې ښېرا وکړل، ددغه قبیلې په اړه د ذکر سوي حدیث الفاظ یوازي د جمله خبریه په توګه دي، په دې کي د جمله دعائیه هیڅ احتمال نسته، بیا هم په دغه الفاظو کي ددغه قبیلې یادونه څرنګه چي شکوه ظاهروي هغه پر خپل ځای ښېرا لره هم مستلزم ده مګر په دغه مفهوم کي نه چي ددغه قبیلې خلک په دغه ګناه او معصیت کي زیات تر زیاته اخته سي بلکه په دغه مفهوم کي چي د قبیلې خلګو کومه لویه سرکښي او ګناه کړې وه د هغه په سبب په دنیا او آخرت کي د ذلت او خوارۍ خاوندان سي.

د یو څو قبائلو فضیلت

﴿۵۷۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشٌ وَالْأَنْصَارُ وَجُهَيْنَةُ وَمُزَيْنَةُ وَأَسْلَمُ وَغِفَارُ وَأَشْجَعُ مَوَالِيَّ لَيْسَ لَهُمْ مَوْلًى

دُونَ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ. متفق عليه.

حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قريش، انصار جهينه، مزينه، اسلم، غفار، اشجع زما دوستان دي او د هغوى مرستيال د خداى جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ څخه پرته بل څوک نسته. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٤٢، رقم: ٣٥١٢، ومسلم ٤\١٩٥٤، رقم: ١٨٩- ٢٥٢٠.

تشريح: د موالي لفظ د متكلم ياء ته مضاف دى او د مولى جمع ده، په يوه روايت كي دغه لفظ موال نقل سوى دى په دغه صورت كي به معنى دا وي چي (د دغه قبيلې مسلمانان) په خپلو كي د يو بل مرسته كوونكي او ملګري دي.

د دوو قبيلو ذكر

﴿٥٤٣٤﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمُ وَغِفَارُ وَمُزَيْنَةُ وَجُهَيْنَةُ خَيْرٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ وَبَنِي عَامِرٍ وَالْحَلِيفَيْنِ أَسَدٍ وَغَطَفَانَ. متفق عليه.

حضرت ابوبكره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اسلم، غفار، مزينه او جهينه د قبائل بنو تميم او بنو عامر څخه غوره دي او د دواړو يعني بنو اسد او عطفان څخه هم غوره دي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٤٣، رقم: ٣٥٢٣، ومسلم ٤\١٩٥٥، رقم: ١٩٠- ٢٥٢١.

تشريح: بنو اسد او غطفان هم د دوو قبيلو نومونه دي، دغه دواړي قبيلې په خپلو كي د يو بل حليف (مرسته كوونكي) وې لكه څرنګه چي په هغه زمانه كي د عربو عام رواج وو او دواړو قبيلې د يو بل په وړاندي په قسم كولو سره عهد كړى وو چي په خپلو كي به د يو بل مرسته كوونكي يو. په حديث كي ذكر سوو قبيلو ته يې ځكه غوره وفرمايل چي د دغه قبيلو خلګو په اسلام كي د سبقت (مخته والي) شرف تر لاسه كړ او د خپل ښه حالاتو او كړنو څرګندونه يې وكړل.

د بنو تميم تعريف

﴿٥٤٣٥﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَا زِلْتُ أُحِبُّ بَنِي تَمِيمٍ مُنْذُ ثَلَاثٍ سَمِعْتُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي زه بنو تميم د هغه وخت څخه هميشه محبوب ګڼم د کوم وخت څخه چي ما د هغوى د درو خويونو ذکر

مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِيهِمْ سَمِعْتُهُ يَقُولُ هُمْ أَشَدُّ أُمَّتِي

د رسول الله ﷺ څخه اوريدلى دى، رسول الله ﷺ فرمايلي وه بني تميم به زما د امت څخه پر

عَلَى الدَّجَّالِ قَالَ وَجَاءَتْ صَدَقَاتُهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دجال تر ټولو زيات سخت وي، د ابو هريره رضي الله عنه بيان دى چي يو وار د قبيله بنو تميم صدقې راغللې، د هغه په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل:

هَذِهِ صَدَقَاتُ قَوْمِنَا وَكَانَتْ سَبِيَّةٌ مِنْهُمْ عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَ أَعْتِقِيهَا فَإِنَّهَا مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ. متفق عليه.

دا زموږ د قوم صدقې دي، ابو هريره رضي الله عنه وايي د بي بي عائشې سره د بنو تميم يوه مينزه وه، رسول الله ﷺ بي بي عائشې رضي الله عنها ته وفرمايل چي دا آزاده کړه دا د حضرت اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه ده. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۷۰، رقم: ۲۵۴۳، ومسلم ۴\۱۹۵۷، رقم: ۱۹۸- ۲۵۲۵.

د لغاتو حل: سبية: اي اسيرة (بندي).

تشريح: تر ټولو زيات سخت او دروند ثابت سي: يعني کله چي لعين دجال ښکاره سي نو د بني تميم خلک به تر ټولو زيات د هغه مقابله کوي، د هغه په ماتولو کي به تر ټولو زياته هڅه او کوښښ کوي او د هغه په ترديد او تغليظ کي به تر ټولو مخکي وي، همدا رنګه په دغه الفاظو کي د بني تميم د ځانګړتيا او فضيلت ذکر دى مګر له دې سره دا وړاند وينه هم ده چي د بنو تميم د کورنۍ خلک د دجال د ښکاره کېدو په وخت کي زيات وي.

دا زموږ د قوم صدقات دي: د دغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ بنو تميم په داسي شرف او فضيلت سره ونازول چي هغوى خپل ځان ته په منسوب کولو سره د هغوى قوم ته يې خپل قوم وفرمايل.

دا د حضرت اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه ده، مطلب دا چي دغه مينزه د بني تميم څخه دکېدو په وجه عربي النسله ده او عرب د حضرت اسماعيل عليه السلام اولاده ده، ځکه نو دغه مينزه هم

دحضرت اسماعيل عليه السلام د اولادې څخه سول، که څه هم دغه نسلي وصف د ټولو عربو مشترکه وصف دی او يوازي د بنوتميم سره خاص نه دی مگر رسول الله ﷺ د يو ډول فضل او شرف ورکولو لپاره دغه الفاظ وفرمايل.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

قريش مه ذليل کوئ

﴿۵۷۳۶﴾: عَنْ سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يُرِدْ هَوَانَ قُرَيْشٍ أَهَانَهُ اللّٰهُ. رواه الترمذي.

د حضرت سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د قريشو د ذلت او خوارۍ غوښتونکی وي خدای جل جلاله به هغه ذليل او خوار کړي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۷۱، رقم: ۳۹۰۵.

د لغاتو حل: هوان: اي ذلهم واهانتهم (سپکاوی)

تشريح: مطلب دا چي د قريشو عزت او احترام په هر صورت کي لازم دی، د هغوی بې عزتي کول او د هغوی رسوائي او ذلت غوښتل د الله جل جلاله ناراضگي اخيستل دي، که څه هم هغه پر امارت کبری يعني خلافت او امارت باندي فائز وي يا نه وي، دهغوی خليفه او امير کېدو په صورت کي د هغوی د بې عزتۍ کولو منع او د تمهيد وجه خو ښکاره ده، پاته سو هغه صورت چي هغوی دخلافت او امارت پر منصب باندي نه وي نو په دغه صورت کي هم دهغوی د بې عزتۍ کولو منع به په دې اعتبار وي چي هغوی ته د رسول الله ﷺ نسبت حاصل دی او دهغوی دغه خاص فضل او شرف د دې خبري متقاضي دی.

د قريشو لپاره دعاء

﴿۵۷۳۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ أَذَقْتَ أَوَّلَ قُرَيْشٍ نَكَالًا فَأَذِقْ آخِرَهُمْ نَوَالًا. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې الله! تا په اول کي پر قريشو عذاب وڅکی (يعنی د بدر او احزاب په جگړو کي) اوس د خپل بخښني او ورکړي خوند

په وشكې. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦٧٢، رقم: ٣٩٠٨.

دوې يمني قبيلې

﴿٥٤٣٨﴾: وَعَنْ أَبِي عَامِرٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الْحَيُّ الْأَسْدُ وَالْأَشْعَرِيُّونَ لَا يَفِرُّونَ فِي الْقِتَالِ وَلَا يَغُلُّونَ هُمْ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو عامر اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمايل: قبيله اسد او قبيله اشعري ډيري ښه قبيلې دي، دا دواړي قبيلې د جنګ د ميدان څخه نه تښتي او د غنيمت په مال كي خيانت نه كوي، هغوی زما څخه دي او زه د هغوی څخه يم. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي: ٥\٦٨٧، رقم: ٣٩٤٧.

تشريح: اسد د يمن د يوې قبيلې د مورث اعلی نوم دی او دغه قبيله د هغه په نامه سره مشهوره او متعارفه سول، دغه قبيلې ته ازد او ازدشنوه هم وايي، ټولو د مدينې انصارو له دغه قبيلې سره تعلق درلود، اشعر په اصل كي د عمرو ابن حارثه اسعدي لقب وو چي په خپله زمانه كي د يمن يو ستر سړی وو، دی هم د خپلي قبيلې مورث اعلی وو او د هغه د لقب د نسبت څخه د هغه قبيلې ته اشعري ويل كيدل او د قبيلې خلكو ته اشعريون او اشعرون هم ويل كيږي، مشهور او ستر صحابي حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه او د هغه د قوم خلګ د دغه قبيلې سره تعلق لري.

هغوی زما څخه دي، مطلب دا چي هغوی زما پيروي كوونكي او زما پر سنت باندي تلونكي خلګ دي، يا دا چي د دغه قبيلو خلګ زما ملګري او مرسته كوونكي دي، همدارنګه زه د هغوی څخه يم، مطلب دا چي زه هم د هغوی ملګری او د هغوی مرسته كوونكی يم، يعني د دغه الفاظو په ذريعه دې ته اشاره وسول چي د دغه قبيلو مؤمنان او مسلمانان د تقوا او پرهيزګاری پر مقام دي او دا خبره د قرآن كريم د دغه الفاظو څخه ثابتيږي چي:

وان اولياؤه الا المتقون: او د هغه (محمد ﷺ) ملګري ټول متقيان او پرهيزګاره دي.

ازد د الله ﷻ لښکر دي

﴿۵۷۳۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَزْدُ أَزْدُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ وَ يُرِيدُ النَّاسُ أَنْ يَضَعُوهُمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يَرْفَعَهُمْ وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَقُولُ الرَّجُلُ يَا لَيْتَ أَبِي كَانَ أَزْدِيًّا يَا لَيْتَ أُمِّي كَانَتْ أَزْدِيَّةً. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قبیله ازد په مځکه کي د خدای ﷻ زمریان او د خدای ﷻ لښکر دي، خلک د هغوی ذلیل او خوار کول غواړي مګر خدای ﷻ د هغوی د خواهش خلاف د هغوی درجه لوړوي، او یوه زمانه به پر خلکو داسي راسي چي سړی به دا وایي کاش چي زما پلار او مور د قبیله ازد څخه وای،. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۸۳، رقم: ۳۹۳۷.

تشریح: د ازد قبیلې نسبت الله ﷻ ته په کولو سره هغوی ته ازد الله ویل یا خو د هغوی په دغه لقب سره متعارف کول وو، یا په دې اعتبار چي د دغه قبیلې خلک د الله ﷻ د دین او د الله ﷻ د رسول مرسته کوونکي او د الله ﷻ لښکر وه، د هغوی فضل او شرف څرګندولو لپاره د هغوی نسبت یې الله ﷻ ته وکړ، او ځینو حضراتو ویلي دي چي ازد الله په اصل کي د اسد الله په معنی کي استعمال سوی دی، مطلب دا چي د ازد قبیلې خلک په جګړه کي زړه ور ثابت سوي دي،

کاش زما پلار ازدي وای: مطلب دا چي په یوه زمانه کي د دغه قبیلې مرتبه به داسي وي او د دغه قبیلې سره تعلق لرونکي خلک به دومره عزتمند او سرلوړي وي چي د نورو قبیلو خلک به از په کوي او دا خواهش به کوي چي کاش مور هم د دغه قبیلې څخه وای.

د درو قبیلو څخه ناراضي

﴿۵۷۴۰﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَكْرَهُ ثَلَاثَةَ أَحْيَاءٍ ثَقِيفًا وَبَنِي حَنِيفَةَ وَبَنِي أُمَيَّةَ. رواه الترمذي.

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په داسي حالت کي وَفات سو چي درې قبيلې يې خوښې نه وې (او هغه درې قبيلې دادی قبيله ثقيف، قبيله بنو حنيفه، او قبيله بنو اميه). ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۸۵، رقم: ۳۹۴۳.

تشريح: په ذکر سوو درو قبيلو کي داسي خلک پيدا سول چي هغوی د اسلام مخالفينو ته ګټه ورسول او مسلمانان د سخت غم او تکليف سره مخامخ سول، او الله جل جلاله خپل رسول خبردار کړی وو چي په راتلونکي کي د هغه قبيلو څخه څرنګه فتنې او څرنګه ظالمان خلک پيدا سول، ځکه رسول الله ﷺ دغه درو سره قبيلو ته په ښه نظر ونه کتل، ثقيف هغه قبيله ده چي په هغه کي حجاج ابن يوسف په ډول مشهور ظالم سړی پيدا سو، بنوحنيفه هغه قبيله ده چي د مسلمه کذاب په ډول فتنه کوونکي سړی يې پيدا کړ او بنو اميه هغه قبيله ده چي په هغه کي عبيدالله ابن زياد پيدا سو، دا هغه عبيدالله ابن زياد دی چي د يزيد بن معاويه له خوا د کوفې او بصرې والي وو چي محض د امارت تر لاسه کولو لپاره يې حضرت سيد الشهداء امام حسين رضي الله عنه شهيد کړ، عبيدالله ابن زياد ډېر بدبخته او بد سړی وو.

نقل سوي دي چي کله د هغه فوج د کربلا د ميدان څخه د حضرت حسين رضي الله عنه سر مبارک هغه ته راوړی نو هغه سر مبارک په يوه تالۍ کي کېښود او د يوې لښتي په ذريعه يې هغه وهی او د رسول الله ﷺ د زړه د ټوټې په اړه يې بې ادبه الفاظ ويل، مګر د دغه بدبخته پايله هم ډېره خرابه سول، په ډېره بې دردۍ سره په يوه جګړه کي ووژل سو، ترمذي په خپل جامع کي د عماره ابن عمر رحمه الله عليه څخه نقل کړي دي چي هغه بيا ن وکړ: کله چي عبيدالله ابن زياد د جنګ په ميدان کي ووژل سو نو د هغه دښمن د هغه مړی په اورکي وسوځوی، بيا د هغه فوجيانو د هغه د سر په اخيستلو سره ښار ته راوړ او د مسجد په دوکانچه کي يې کېښود، چيري چي د هغه نور ملګري او مرسته کوونکي ناست وه، عماره ابن عمر رحمه الله عليه وايي په دغه وخت کي زه هم هلته ورسېدم، بيا ما ولېدل چي د هغه ملګرو چغي کړې چي هغه راغلی، (ما په حيرت سره وکتل نو) ناڅاپه يو مار راښکاره سو او بيا هغه په ډېره تيزي سره د عبيدالله ابن زياد سر ته ورغلی او د هغه په پزه ننوتی، يو څه وخت دننه وو او بېرته دباندي راووتی تر دې چي هغه غائب سو، د دغه حيرانوونکې پېښي په لېدو سره تر اوسه پر خلګو حيراني خپره وه چي ناڅاپه هغوی بيا شور جوړ کړ چي هغه راغلی، هغه مار بيا راغلی، په دغه وخت کي هغه مار سر ته نژدې ورسېدی او بيا په پزه ننوتی او څه وخت وروسته بېرته دباندي راووتی، همدارنګه دوه يا درې ځله وسول.

سوال پیدا کیږي چي دلته د حدیث په وضاحت کي د بنوامیه په اړه یوازي د عبیدالله ابن زیاد ذکر ولي سوی دی، حال دا چي یزید ابن معاویه هم د بنوامیه شخه وو، او په دې اعتبار د هغه ذکر کول زیات ضروري وه، چي عبیدالله ابن زیاد خو د هغه تاکل سوی والی او د هغه لاندي کارکوونکی وو، او عبیدالله چي څه وکړل د یزید حکم او د هغه په خوښي یې وکړل، مګر ددې خبري څه زیات اهمیت نسته، دبني امیه پاته خلګو په خپلو بدیو کي څه کسر پرې ایښی وو، د دولت او مشرتوب په اخته کېدو سره هغوی اسلام او مسلمانانو ته تاوانونه ورسول، هغه ټول د ځلانده ورځي په ډول څرګند دي، یو یزید ابن معاویه یا عبیدالله ابن زیاد ته څه وویل سي، مقصد خو د بنوامیه بدي بیانول دي، د مثال په توګه د عبیدالله ابن زیاد ذکر وکړل سو، اوس نور ټول پر ده قیاس کیدای سي، په یو بل حدیث کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ یوه ورځ خوب ولیدی چي یو څو بېزوګان د مسجد نبوي پر منبر لوبه بنیي، رسول الله ﷺ ددغه خوب په تعبیر کي د بنوامیه ذکر وکړ.

د بنو ثقیف د دوو کسانو په اړه پیشګوئي

﴿۵۷۴۱﴾: وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَقِيفٍ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ثقیف په قبیله کي به د

كَذَّابٌ وَمُبِيرٌ قَالَ عبدالله ابن عصمة يُقَالُ الْكَذَّابُ الْمُخْتَارُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ

انتها درجې یو درواغجن وي او یو سړی به هلاکونکی وي، د عبدالله بن عصمه راوي بیان دی چي په حدیث کي د کوم درواغجن ذکر دی ددې څخه مراد مختار بن ابي عبید دی،

وَالْمُبِيرُ الْحَجَّاجُ بْنُ يُوسُفَ وقال هِشَامُ بْنِ حَسَّانَ أَحْصَوْا مَا قَتَلَ

او هلاکونکی حجاج بن یوسف دی، او هشام بن حسان وایي حجاج بن یوسف چي زموږ څومره خلک بندیان کړي او قتل کړي دي

الْحَجَّاجُ صَبْرًا فَبَلَغَ مِائَةَ أَلْفٍ وَعِشْرِينَ أَلْفًا. رواه الترمذي و روی مسلم

د هغوی شمیر خلکو شمیرلی دی چي یو لک شل زره دی، ترمذي، د مسلم په صحیح روایت

في الصحيح حين قتل الحجاج عبدالله ابن الزبير قالت اسماء ان رسول

كي ويل سوي دي چي كله حجاج حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه شهيد كړنو د هغه مور بي بي اسماء (بنت ابوبكر) وويل مونږ ته رسول الله ﷺ

الله ﷺ حدثنا ان في ثقيف كذابا و مبيرا فاما الكذاب فرايناه واما المبير فلا اخالك الا اياه و سيجئ تمام الحديث في الفصل الثالث.

فرمايلي وه چي په قبيله ثقيف كي به يو ډير لوی دروا غجن پيدا كيږي او يو ډير لوی هلاكونكی ، نو لوی دروا غجن خو مونږ وليدی (يعني مختار) اوس پاته سو مفسد او هلاكونكی نو گمان نه كوم پر تا مگر د هغه (يعني حجاج هلاكونكی دی)، دا پوره حديث په دريم فصل كي دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۴۳۲، رقم: ۲۲۲۰.

د لغاتو حل: مبير: اي مفسد (فساد كوونكی)

تشريح: حجاج په لغوي توگه د حاج اسم مبالغه ده چي د هغه معنی د بحث كوونكي، دليل او ثبوت راوړونكي ده، حجاج بن يوسف د تاريخ اسلام مشهور ظالم سړی دی چي هغه په زرگونو ښه او نېک خلک چي په هغو كي صحابه كرامو او تابعين هم شامل دي، په ناحقه وژلي دي، عبدالله ابن زبير رضي الله عنه يې شهيد كړ او په زرگونو بې گناه انسانان يې بنديان كړل، ويل كيږي چي ځيني خلک يې ښيله جګړې كولو همدا رنگه بې گناه ونيول او په بنديخانو كي يې واچول او بيا يې ووژل، د هغوی شمېر يو لک او شل زره كسان دي او كوم خلک چي په جګړو كي ووژل سول د هغوی شمېر بېل دی، دا هم ويل كيږي چي د هغه په بنديخانه كي د پنځوسو زرو شمېر رسېدلی دی، او ددغه سړي د بدبختۍ اندازه ددې څخه لګيږي چي هغه كومي بنديخانې جوړي كړي وې په هغو كي د بام هيڅ نوم او نښان نه وو، د هغه ټولو بنديانو تر شنه آسمان لاندي د ګرمۍ او يخ ، لمر او باران ورځي تېرولې، حجاج ابن يوسف ثقفي په اصل كي د اموي امير عبدالملک ابن مروان تر لاسه لاندي او باوري كس وو، او د امارت او پاچاهۍ په معاملاتو كي يې ډېر اثر درلود، عبدالملک ابن مروان هغه د عراق او خراسان والي جوړ كړی وو او د حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته د حجاز والي هم جوړ سو، دعبدالملک ابن مروان څخه وروسته وليد ابن عبدالملک د امارت په زمانه كي هم پر عراق او خراسان باندي د هغه مشري وه، دهغه د ظلم څخه ډكو كړنو څخه د تاريخ كتابونه ډک دي، د شوال دمياشتي په نيمايي كي په ۹۵ هجري كال كي د ۵۴ كلو په عمر مړ سو.

مختار د يو ستر صحابي حضرت ابو عبيد ابن مسعود ثقفي رضي الله عنه زوى وو، مختار تر هجرت يو كال مخكي پيدا سو، هغه ته د رسول الله ﷺ صحبت او روايت يعني د صحابيت شرف تر لاسه نه سو، په پيل كي دغه كس په علم، فضل او نيكۍ سره مشهور وو مګر وروسته څرګنده سول چي د باطني خباثت ښكار دى او محض د دنيا تر لاسه كولو لپاره يې د علم او تقوا جامې اغوستي دي، په پيل كي يې له اهل بيت سره سخت بغض او عناد درلود، ناڅاپه كي په هغه كي داسي انقلاب راغلى چي د اهل بيتو دميني ساه يې اخيستل او په دې اړه د صحيح فكر او عقيدې معلوميدى، د اهل بيتو په اړه د هغه دغه ظاهري مينه دومره زياته سول چي د حضرت امام حسين رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته د يزيديانو څرګنده دښمن سو او په هغوى كي ډېر خلګ هغه د حسين رضي الله عنه په قصاص كي ووژل، خلاصه دا چي د دنيا په طلب كي يې ډېر اړخونه بدل كړل او په خپلو نوو نوو كړنو يې فتنې را پورته كړې، د حضرت عبد الله ابن زبير رضي الله عنه د عراق په خلافت كي يې د بغاوت بېرغ پورته كړ، د مكر او چم په ذريعه يې جاهل او كمزوري خلک د خپل ځان په بزرګۍ او كرامت داسي خطا كړل چي د هغه د پيروانو يوه لويه ډله پر هغه را ټوله سول او څومره چي د هغه خلګ زيات بېدل هغومره د بدي عقيدې او ګمراهۍ ښكار كېدى، د درواغو په چم كولو سره هغه پر ټول اسلامي خلافت باندي د قبضې كولو فلان جوړ كړ او د خپلو فتنو په ذريعه پر كوفه هم قابض سو، د نبوت مدعي هم سو او ددې خبري دعوه يې كول چي جبرائيل عليه السلام ما ته وحي راوړي، په پاى كي حضرت معصب ابن زبير رضي الله عنه چي د حضرت عبد الله ابن زبير رضي الله عنه له خوا د بصرې والي وو، د خپل فوج په بېولو سره پر كوفه باندي حمله وكړل، مختار هم مقابله وكړل مګر ماته يې وخوړل او بيا د رمضان د مياشتي پر څوارلسمه نېټه په ۶۷ هجري كال كي ووژل سو، د مختار د دغه چمبازۍ او درواغو په وجه علماؤ هغه په كذابو كي يو لوى كذاب (درواغجن) شمېرلى دى، او د حديث الفاظ: يخرج من ثقيف كذاب ومبير، د ثقيف په قبيله كي به يو سخت درواغجن او سخت مفسد پيدا كيږي، ددغه حديث مصداق مختار او حجاج ګرځول سوي دي.

د قبيله ثقيف لپاره دعاء

﴿۵۷۴۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَخْرَقَتْنَا نِبَالُ ثَقِيفٍ فَادْعُ اللّٰهَ عَلَيْهِمْ قَالَ اللّٰهُمَّ اهْدِ ثَقِيفًا. رواه الترمذي.

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي خلکو وويل: اې د الله رسوله د ثقيف غشو موږ وسوځلو ،نو د خدای جل جلاله څخه د هغوی لپاره ښيرا وکړه، رسول الله ﷺ وفرمايل : اې الله ! د ثقيف قبيلې ته هدايت وکړې . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي : ۵\۶۸۵، رقم: ۳۹۴۲.

د حمير قبيله لپاره دعاء

﴿۵۷۶۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ مِينَاءَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا

عبدالرزاق رضی اللہ عنہ د خپل پلار څخه او هغه د ميناء څخه او هغه د ابو هريره رضی اللہ عنہ څخه روايت کوي

عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَجُلٌ أَحْسِبُهُ مِنْ قَيْسٍ فَقَالَ يَا

چي موږ د نبي کريم ﷺ سره ناست وو چي يو سړی زما په خيال کي د قبيله قيس څخه وو حاضر سو او وه يې ويل: اې

رَسُوْلَ اللّٰهِ الْعَنْ حِمْيَرًا فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ فَأَعْرَضَ

د الله رسوله ! پر قبيله حمير باندي لعنت وکړئ (يعني ښيرا ورته وکړئ) د دې او ريدو سره رسول الله ﷺ مخ مبارک ځيني واړوی،

عَنْهُ ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

هغه بيا د بل طرف څخه راغلی نبي کريم ﷺ مخ ځيني وګرځوی بيا د بل طرف څخه ورته راغلی نو د ښيرا څخه يې اعراض وکړی او وه يې فرمايل :

وَسَلَّمَ رَحِمَ اللّٰهُ حِمْيَرًا أَفْوَاهُهُمْ سَلَامٌ وَأَيْدِيهِمْ طَعَامٌ وَهُمْ أَهْلُ أَمْنٍ

خدای جل جلاله دي پر حمير رحمت نازل کړي د هغوی خولې سلام دي (يعني ډير سلام کوي) او د هغوی په لاسونو کي خوراک دي (يعني ډير خوراک ورکونکي دي) او هغوی د امن او ايمان

وَإِيمَانٍ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ وَيُرْوَى عَنْ مِينَاءَ هٰذَا أَحَادِيثُ مَنَاكِيرُ. رواه الترمذي.

خاوندان دي ، ترمذي . او ویلي یې دي چي دا حدیث غریب دی چي د عبدالرزاق څخه پرته بل چا نه دی روایت کړی او دی له میناء څخه روایت کوي منکر احادیث .

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۶۸۴، رقم: ۳۹۳۹.

تشريح: د هغوی خولې سلام وي او دهغوی لاسونه خوراک وي: ددغه جملې په ذریعه دوو لویو ښېګڼو ته اشاره ده، یو دا چي د هغوی په نزد سلام لوی شی دی ، کله چي د یو بل سره یو ځای کیږي نو د هغوی د خولې څخه سلام علیک خامخا راوځي ، اودوهمه ښېګڼه داده چي په خپل لاس سره په خلکو ډوډۍ خوري او ښه ویش کوي، په دې اعتبار دغه خلک د خاکسارۍ او سخاوت په ډول د دوو سترو صفتو جامع دي چي ددې خبري ښنبه ده چي هغوی ته د فضیلت او بزرګۍ مقام او د حقوق العباد د ادا کولو سعادت تر لاسه دی .

هغوی اهل امن هم دی او اهل ایمان هم، یعني دغه خلک د پاخه ایمان خاوندان هم دي او د هر ډول آفاتو او مصیبتو څخه خوندي او مامون هم دي .

قبیله دوس

﴿۵۷۴۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ أَنْتَ قَالَ قُلْتُ مِنْ دَوْسٍ قَالَ مَا كُنْتُ أَرَى أَنَّ فِي دَوْسٍ أَحَدًا فِيهِ خَيْرٌ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي یوه ورځ رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چي ته د کومي قبیلې څخه یې ؟ ما وویل د قبیله دوس څخه. رسول الله ﷺ وفرمایل : زما دا خیال نه وو چي په دوس کي به داسي یو سړی وي چي په هغه کي به خیر وي، ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۶۴۳، رقم: ۳۸۳۸.

تشريح: په دغه حدیث کي د حضرت ابو هریره رضی الله عنه تعریف او تحسین دی اود هغه د قبیلې دوس بدي، که ابو هریره رضی الله عنه نه وای نو په دغه قبیله کي به هیڅ خیر او نیکي نه وای .

د عربو سره دښمني مه کوئ

﴿۵۷۴۵﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُبْغِضْنِي فَتُفَارِقَ دِينَكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ أُبْغِضُكَ وَبِكَ هَدَانَا اللّٰهُ قَالَ تُبْغِضُ الْعَرَبَ فَتُبْغِضُنِي. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت سلمان رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل : ته زما سره بغض مه ساته کنه نو د دين څخه به بيل سې، ما وويل: اې د الله رسوله ! زه به څنګه ستاسو سره بغض ساتم، حال دا چي ستاسو په ذريعه خدای تعالی موږ ته سيده لار ښودلې ده،رسول الله ﷺ وفرمايل : که ته د عربو سره بغض ساتې نو لکه زما سره چي بغض ساتې . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۸۰، رقم: ۳۹۲۷.

تشريح: د رسول الله ﷺ مطلب دا وو که چيري ته په عامه توګه د ټولو عربو سره بغض او عداوت وکړې نو زه هم په عربو کي يم ځکه نو زما سره هم ستا دښمني لازميږي، نو په دې اعتبار ما ويلي دي چي ته زما سره دښمني مه کوه، ددې څخه څرګنده سول چي د عربو سره بغض او عداوت درلودل د سيد الخلق عليه السلام په اړه د بغض او عداوت سبب هم په ځينو صورتو کي ګرځېدای سي، ځکه د عربو په اړه د بغض او عداوت درلودلو څخه په هر صورت کي ځان ساتل ضروري دي چي د دومره لوی خرابۍ رامنځته کېدو نوبت را نه سي .

په ښکاره دا معلوميږي چي حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه عجمي او فارسي النسل وو، ځکه د هغه پخواني او اصل وطن ته په نسبت کولو سره د هغه د ژبي څخه به داسي خبره وتلې وي يا يو داسي کړنه به ځيني سوې وي چي د هغه څخه به د ټولو عربو لپاره يا د ځينو عربو په اړه سپکاوی يا د بې ادبي اظهار سوی وي، کنه نو تر څو چي د حقيقي بغض او عداوت تعلق دی نو د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه په اړه دا تصور هم نسي کيدای، چي هغه به د عربو په اړه داسي جذبه ولري بيا هم د هغه داسي خبره يا کړنه صورتا د بغض او عداوت مظهر کيدای سو ځکه رسول الله ﷺ هغه خبردار کړ چي په دې اړه احتياط وکړه او د خپلي ژبي څخه داسي خبره مه باسه چي په هغه سره حقيقتا نه بلکه صورتا هم د عربو ددښمني اظهار کيږي ځکه که دا لړۍ حقيقتا بغض او عداوت ته ورسيږي نو دغه کار به زما سره د بغض او عداوت درلودلو مترادف وي .

د عربو سره خيانت

﴿۵۷۴۶﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَشَّ الْعَرَبَ لَمْ يَدْخُلْ فِي شَفَاعَتِي وَلَمْ تَنَلْهُ مَوَدَّتِي. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث حصين بن عمر وليس هو عند اهل الحديث بذات القوی.

د حضرت ثمان بن عفان ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د عربو سره خيانت وکړي هغه به زما په شفاعت کي داخل نه سي او نه به زما د دوستۍ شرف ورته تر لاسه سي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی .

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۶۸۰، رقم ۳۹۲۸.

تشريح: د غش مطلب د دوکې ورکول، په زړه کي يو څه او په ژبه بل څه ويل ، خيرخواهي نه کول او څوک پر هغه خبره راپارول چي د هغه د مفاد او مصلحت خلاف وي، د شفاعت څخه شفاعت صغری يعني خاص شفاعت مراد دی نه شفاعت کبری چي په هرحال د هر امتي لپاره به وي، د ملګرتيا د سعادت نه تر لاسه کېدو څخه يا خو دا مراد دی چي هغه سړي ته دا مرتبه هيڅکله نه سي تر لاسه کېدای چي زه هغه خپل دوست کړم يا د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي هغه سړي ته دغه سعادت هيڅکله نه سي تر لاسه کيدای چي هغه ما خپل دوست او محبوب کړي په هر حال د دواړو صورتو څخه مراد نفي کمال دی .

او هغه دومره قوي نه دی، د امام ترمذي ﷫ د الفاظو مطلب دا سو چي عمران ابن حصين د حديث په روايت کي قوي نه ګڼل کيږي ځکه د هغه روايت سوي حديث ته به ضعيف ويل کيږي مګر اول خو دا چي د فضائلو په اړه ضعيف حديث هم معتبر منل کيږي دوهم دا چي ددغه روايت تائيد د هغه ډېر حديثو څخه کيږي چي د تواتر معنوي حد ته رسيدلي دي،دمثال په توګه د حضرت انس ﷛ څخه د رسول الله ﷺ دغه ارشاد نقل سوی دی : (حب العرب ايمان وبغضهم نفاق) د عربو سره مينه درلودل ايمان دی او د هغوی سره بغض درلودل نفاق دی .

طبراني په اوسط کي د حضرت انس ﷛ څخه دا روايت نقل کړی دی:

حب قريش ايمان وبغضهم کفر وحب العرب ايمان وبغضهم کفر فمن احب العرب فقد احبني ومن ابغض العرب فقد ابغضني :

د قريشو سره مينه درلودل ايمان دی او دهغوی سره بغض کول کفر دی، د عربو سره مينه درلودل ايمان دی او د هغوی سره بغض درلودل کفر دی چا چي د عربو سره مينه وکړل نو هغه په حقيقت کي زما سره مينه وکړل او چا چي د عربو سره بغض وکړ نو هغه په حقيقت کي زما سره بغض وکړ .

طبراني په کبير کي د حضرت سهل ابن سعد ﷛ څخه دا حديث نقل کړی دی:

احبوا قريشا فانه من احبهم احبه الله :

د قريشو سره مينه ولرئ ځکه څوک چي د قريشو سره مينه ولري نو الله ﷻ به دهغه سره مينه ولري .

حاکم په مستدرک کي د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه د رسول الله ﷺ دغه ارشاد نقل کړی دی:
احبو الفقراء وجالسوهم واحبو العرب من قلبک ویسرک من الناس ما تعلم من نفسک:
د فقیرانو او مسکینانو سره مینه ولره او د هغوی سره کښېنئ، او د عربو سره د زړه مینه ولرئ او پکار ده چي هغه عیبونه چي تاسو یې په خپل ځان کي تر لاسه کوئ تاسو دنورو د عیب ویني څخه منع کړي.

یوه پشګوئي

﴿۵۷۴۷﴾: وَعَنْ أُمِّ الْحُرَيْرِ مولاة طلحة بن مالك قَالَتْ سَمِعْتُ مَوْلَايَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مِنْ اقْتِرَابِ السَّاعَةِ هَلَاكُ الْعَرَبِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوطلحه د ازاد کړل سوي مینزي ام حریر څخه روایت دی چي ما د خپل بادار (ابوطلحه بن مالک) څخه دا اوریدلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت د نژدېوالي د نښو څخه یوه نښه د عربو هلاکیدل دي،. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۸۱، رقم: ۳۹۲۹.

تشریح: د عربو څخه مراد یا خو مسلمان عرب دي او یا جنس عرب مراد دي، په هر حال مطلب دادی چي کله عرب د دنیا څخه پورته سي نو پوه سئ چي قیامت راتلونکی دی، په دغه حدیث کي دې ته اشاره ده چي عربو ته د قیادت او سیاست مقام حاصل دی، ټول غیر عرب د هغوی تابع دي، څرګنده دي وي چي کله قیامت راسي نو هغه وخت به یوازي بدکاره خلګ په دنیا کي وي، هیڅوک کلمه ویونکی به پاته نه وي.

خلافت او امارت قریشو ته ښایي

﴿۵۷۴۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُلْكُ فِي قُرَيْشٍ وَالْقَضَاءُ فِي الْأَنْصَارِ وَالْأَذَانُ فِي الْحَبَشَةِ وَالْأَمَانَةُ فِي الْأَزْدِ يَعْنِي الْيَمَنَ وفي رواية موقوفا. رواه الترمذي وقال هذا اصح.

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خلافت او حکومت په قریشو کي دی او قضاء په انصارو کي او آذان په قوم حبشه کي او امانت داري په ازد کي ده، او دا حدیث موقوف هم روایت سوی دی، ترمذي ویلي دي دا موقوف والی ډېر صحیح دي.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦٨٣، رقم: ٣٩٣٦.

تشريح: د قضاء څخه مراد نقابت دی، دنقابت معنی د نقیب جوړېدو یعني نګران، خبر اخیستونکي ده، نبي کریم ﷺ په لیلة العقبه کي د انصارو د هر ښاخ او قبیلې یو نقیب ټاکلی وو، د هغه کار دا وو چي هغه په خپل قوم کي د اسلام تبلیغ او خپرېدل وکړي، خلګ په پوهولو سره اسلام ته مائل کړي او کوم خلګ چي مسلمانان سي د هغوی د حالاتو او چارو نګراني وکړي، نو هغه نقیبانو خپل دغه کار په ډېره ښه توګه سرته ورسوی او د رسول الله ﷺ له خوا د تحسین او تعریف مستحق وګرځېدل.

ځینو حضراتو دا لیکلي دي چي په دغه ارشاد کي د قضاء لفظ په خپل معروف معنی کي استعمال سوی دی او ددې دلیل دادی چي رسول الله ﷺ، حضرت معاذ رضي الله عنه د یمن قاضي وټاکی، دا قول زیات واضح او د قیاس زیات قرین دی.

آذان په حبشیانو کي دی، مطب دا چي د آذان کولو خدمت د حبشي خلګو لپاره زیات مناسب دی، رسول الله ﷺ دغه خبره د حضرت بلال رضي الله عنه په مخکي وفرمایل چي د رسول الله ﷺ د مؤذنانو سردار وو، او هغه حبشي وو.

امانت په ازد کي دی: دلته د ازد څخه څه مراد دی، په دې اړه دوه قوله دي، یو خو دا چي ددې څخه دیمن هغه مشهوره قبیله مراد ده چي هغې ته ازد شنوه ویل کیږي او د ارشاد مطلب دادی چي د امانت ذمه داري په ډېر اطمینان سره د ازد شنوه قبیلې خلګ ادا کوي، او دوهم قول د هغه راوي دی چي د هغه په روایت کي د یعني الیمن الفاظ زیات کړل او دا یې ښودلي دي چي د ازد څخه دیمن یوازي یوه قبیله ازد شنوه مراد نه ده بلکه اهل یمن مراد دي، لکه څرنګه چي په یوه روایت کي د اهل یمن په اړه په عامه توګه فرمایل سوي دي چي هغوی د نرم زړو خاوندان دي، اهل امن او اهل ایمان دي.

په هر حال د حدیث خلاصه دا سول چي ددغه کارو یعني قضاء، نقابت، مؤذني او امانت لپاره د کسانو د ټاکني په وخت کي د ذکر سوو قبیلو خلګو ته ترجیح ورکول پکار دي ځکه چي ددغه قبیلو په خلګو کي ددغه منصب د ذمه دارۍ او خدمت خاص صلاحیت دی، او په دې اړه هغوی ته یو خاص نسبت تر لاسه دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د قریشو په باره کي پیشګوئي

﴿۵۷۴۹﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُطِيعٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ لَا يُقْتَلُ قُرَشِيٌّ صَبْرًا بَعْدَ هَذَا الْيَوْمِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه مسلم.

حضرت عبد الله بن مطیع رضی الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چي ما د رسول الله ﷺ څخه د مکې د فتح په ورځ واوریدل چي د نن څخه وروسته به هیڅ قریشي په بندي خانه کي نه وژل کیږي تر ورځي د قیامت پوري. مسلم.

تخريج: صحیح مسلم ۳\۱۴۰۹، رقم: ۸۸- ۱۷۸۲.

د لغاتو حل: صبرا: اي لا في معركة. (په جنګ کي)

تشريح: په بندي کولو سره نه وژل کیږي: ددې څخه څه مراد دی؟ په دې اړه د علماؤ اختلاف دی، ملا علي قاري رحمه الله د طیبي رحمه الله دا قول نقل کړی دی چي دلته د نفي څخه نهي مراد ده، مطلب دا چي د ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مقصد ددې خبري منع کول دي چي قریشي خلګ په بندیخانه کي په اچولو سره ووژل سي مګر ملا علي قاري رحمه الله د طیبي رحمه الله پر دغه قول مختلف اعتراضات کړي دي او بیا یې د حمیدي دغه قول نقل کړی دی چي ځینو محدثینو ددغه ارشاد تاویل کړی دی او ویلي یې دي چي ددې معنی داده: نن د مکې د فتح د ورځي څخه وروسته د قیامت تر ورځي پوري به داسي نوبت هیڅکله نه راځي چي یو قریشي سړی دی د اسلام څخه مرتد سي او بیا د اسلامي قانون مطابق هغه دي بندي کړل سي او هغه دي پر ارتداد باندي ثابت او قائم پاته سي تر دې چي هغه ووژل سي، ددغه تاویل بنیاد دادی چي د رسول الله ﷺ څخه وروسته داسي مثالونه خو موجود دي چي قریشي خلګ په دې وجه بندي سوي او وژل سوي دي چي هغوی د اسلام څخه پر کفر او انکار او د اسلام پر دښمني قائم وه مګر هیڅ داسي مثال نه سي تر لاسه کیدای چي یو قریشي دي مرتد سوی وي او په دې وجه دي هغه په بند کي اچولو سره وژل سوی وي چي هغه د خپل ارتداد څخه منع نه سو او پر کفر باندي قائم او ثابت پاته سو، نو ددغه ارشاد خلاصه به دا وي چي الله جل جلاله به د قریشو په زړو کي دین

او ايمان داسي راسخ کړي او هغوی به د اسلام پر لاره داسي ټينګ کړي چي هيڅکله به په هغوی کي يو څوک مرتد نه سي چي د هغه په سبب به هغه په بند کي واچول سي او د وژني نوبت به راسي ، ددې تائيد ددغه روايت څخه کيږي چي : ان الشيطان قد ايس من جزيرة العرب، بېله شکه شيطان د جزيرة العرب څخه مايوس سوی دی .

د حجاج په مخکي د بي بي اسماء حق ويل

﴿۵۷۵۰﴾: وَعَنْ أَبِي نَوْفَلٍ معاوية بن مسلم قال رَأَيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ عَلَى

: حضرت ابو نوفل معاويه بن مسلم رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما وليدی د عبد الله بن زبير رضي الله عنه

عَقَبَةِ الْمَدِينَةِ قَالَ فَجَعَلَتْ قُرَيْشٌ تَمُرُّ عَلَيْهِ وَالنَّاسُ حَتَّى مَرَّ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ

مړی د مديني پر غونډۍ ، قريش ددغه مړي سره تيريدل تر دې چي عبد الله بن عمر رضي الله عنه د مړي

بنُ عُمَرَ فَوَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ

نژدې ودريدی وه يې ويل : السلام عليک اې ابو خبيب (د عبد الله بن زبير رضي الله عنه کنيت دی) السلام عليک اې ابو خبيب،

السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ

السلام عليک اې ابو خبيب، خبر سه ! قسم په خدای ما ته ددې کار څخه منع کولې، خبرسه! قسم په خدای ما ته ددې کار څخه منع کولې،

أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللهِ إِنْ كُنْتَ مَا عَلِمْتُ

خبرسه! قسم په خدای ما ته ددې کار څخه منع کولې، (د کار څخه مراد خلافت دی)، خبر سه! قسم په خدای ما ته معلومه وه چي ته

صَوَّامًا قَوَّامًا وَصُولًا لِلرَّحِمِ أَمَا وَاللهِ لَأُمَّةٌ أَنْتَ أَشَرُّهَا لَأُمَّةٌ سوء وفي رواية لامة

زيات روژې نيونکی وې ډير شب بيدار وې او د قريبانو سره ډير احسان او ښه چلن کونکی وې، قسم په خدای هغه ډله چي د هغوی خيال او په اعتقاد کي ته خراب يې البته يو خراب ډله ده، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي کومه ډله چي پر تا خراب خيال کوي

خير ثُمَّ نَفَذَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ فَبَلَغَ الْحَجَّاجَ مَوْقِفُ عَبْدِ اللهِ وَقَوْلُهُ فَأَرْسَلَ

څه بنه ډله ده، (د تعريض او طعن په ډول چي ستا په ډول نيک سړي باندي دا ډله بد وايي)، ددې څخه وروسته عبدالله بن عمر رضي الله عنه ولاړی، بيا دا خبر چي حجاج بن يوسف ته ورسيدی چي عبدالله بن عمر رضي الله عنه د مړي سره ولاړ وو او داسي يې ويلي دي،

إِلَيْهِ فَأُنْزِلَ عَنْ جِذْعِهِ فَأُلْقِيَ فِي قُبُورِ الْيَهُودِ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى أُمِّهِ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي

نو هغه مړی يې د لرګي څخه راکښته کړ او د يهودو په هديره کي يې وغورځوی، بيا حجاج سړی وليږی او د عبدالله بن زبير رضي الله عنه مور بي بي اسماء بنت ابوبکر يې وغوښتل،

بَكْرٍ فَأَبَتْ أَنْ تَأْتِيَهُ فَأَعَادَ عَلَيْهَا الرَّسُولَ لَتَأْتِيَنِّي أَوْ لَأَبْعَثَنَّ إِلَيْكِ مَنْ يَسْحَبُكِ

هغې د راتلو څخه انکار وکړ، حجاج بيا سړی ور وليږی، او حکم يې وکړ چي سمدستي حاضره سه کنه نو داسي سړی به در واستوم چي تا به د سر ورېښتانو څخه نيولې راولي،

بِقُرُونِكِ قَالَ فَأَبَتْ وَقَالَتْ وَاللهِ لَا آتِيكَ حَتَّى تَبْعَثَ إِلَيَّ مَنْ يَسْحَبُنِي بِقُرُونِي

د راوي بيان دی چي اسماء بنت ابوبکر بيا انکار وکړا و وه يې ويل: قسم په خدای چي هيڅکله به در نه سم، که څه هم ته هغه سړی راوليږې چي ما تر سر نيولې راکشوي،

قَالَ فَقَالَ أَرُونِي سِبْتَيَّ فَأَخَذَ نَعْلَيْهِ ثُمَّ انْطَلَقَ يَتَوَذَّفُ حَتَّى دَخَلَ عَلَيْهَا فَقَالَ

ددې اوريدو سره حجاج وويل: زما څپلۍ راوړه، بيا هغه څپلۍ په پښو کړې او په کبر سره روان سو، تر دې چي اسماء بنت ابوبکر ته راغلل او ورته وه يې ويل:

كَيْفَ رَأَيْتِنِي صَنَعْتُ بِعَدُوِّ اللهِ قَالَتْ رَأَيْتُكَ أَفْسَدْتَ عَلَيْهِ دُنْيَاهُ وَأَفْسَدَ عَلَيْكَ

تا زه د خدای د دښمن (يعني ابن زبير رضي الله عنه) سره په چلن کولو کي څنګه وليدم؟ بي بي اسماء ورته وفرمايل: ما وليدل چي تا دده دنيا تباه او برباد کړه او هغه ستا آخرت تباه کړ،

آخِرَتَكَ بَلَغَنِي أَنَّكَ تَقُولُ لَهُ يَا ابْنَ ذَاتِ النِّطَاقَيْنِ أَنَا وَاللهِ ذَاتُ النِّطَاقَيْنِ أَمَّا

زه خبره سوې يم چي تا ده ته د ذات النطاقين زوی ويل، قسم په خدای هغه دوه کمر بنده والا ښځه زه يم،

أَحَدُهُمَا فَكُنْتُ أَرْفَعُ بِهِ طَعَامَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَعَامَ أَبِي بَكْرٍ

زما يو کمر بند خو هغه وو چي په هغه سره ما د رسول الله ﷺ او د ابوبکر ﷛ خوراک تړلو سره

مِنَ الدَّوَابِّ وَأَمَّا الْآخَرُ فَنِطَاقُ الْمَرْأَةِ الَّتِي لَا تَسْتَغْنِي عَنْهُ أَمَا إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ

زړوی چي د حيوانانو څخه خوندي وي او زما دويم کمر بند هغه وو چي د هغه څخه هيڅ يوه ښځه بې پروا کيدلای نه سي .، خبر سه ! رسول الله ﷺ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنَا أَنَّ فِي ثَقِيفٍ كَذَّابًا وَمُبِيرًا فَأَمَّا الْكَذَّابُ فَرَأَيْنَاهُ وَأَمَّا الْمُبِيرُ فَلَا إِخَالُكَ إِلَّا إِيَّاهُ قَالَ فَقَامَ عَنْهَا وَلَمْ يُرَاجِعْهَا. رواه مسلم.

حديث بيان کړی دی چي د ثقيف په قبيله کي به يو لوی درواغجن او يو لوی مفسد او لوی وينه بيونکي وي ، هغه لوی درواغجن خو موږ وليدی او س پاته سو هغه فاسد او قاتل نو زما خيال دی چي هغه هم ته يې، د ابونقل راوي بيان دی د بي بي اسماء د دغه الفاظو اوريدو سره حجاج پورته ولاړ سو او هغې ته يې هيڅ جواب ورنه کړ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\ ۱۹۷۱، رقم: ۲۲۹- ۲۵۴۵.

د لغاتو حل: لامة سوء: فساد فهمهم. جذعة: المصلوب عليه. قرونک: بظفائرک شعرک (کوڅی). سبتي: اي نعلي (څپلی). يتوذف: يسرع و قيل يتبختر.

تشريح: د مدينې د غونډۍ څخه مراد د مکې د ښار لوړه برخه ده چي لويديځي خوا ته واقع ده، د مدينې لارې پر هغه ځای تېرېږي، او د مدينې څخه راتلونکي کسان به د دغه ځای څخه مکې ته داخلېدل، په دغه مناسبت سره هغه د مدينې په غونډۍ تعبير کړل سو، کله چي ظالم حجاج ابن يوسف د خپل لښکر په ذريعه حضرت عبد الله ابن زبير ﷛ په مسجد حرام کي په چاپېره کولو سره په ډېره بې دردۍ شهيد کړ نو وروسته هغوی د هغه مړی پر ذکر سوي ځای باندي په دار و زړوی او بيا هغه ځای ته نژدې په حجون يعني جنت المعلاة کي هغه ښخ کړل سو ، مګر اوس د هغه د قبر نښه هم نسته او نه څوک دا ښودلای سي چي د هغه قبر چيري وو ، همدارنګه په جنت المعلی کي چي کوم صحابه کرامو ښخ سول د هغوی قبرونه هم معلوم نه دي ، د بي بي خديجة الکبری ﷞ قبر هم په دغه جنت المعلاة کي دی ،د هغې قبر هم نامعلوم وو بيا په يوه زمانه کي يو بزرګ د خوب په بنياد د هغې قبر معلوم کړ او پر هغه قبر يې ګونبده هم جوړه کړې

وه، مګر اوس هغه هم معلومه نه ده.

ما ته ددغه کار څخه منع کړې وې: دلته دکار څخه مراد د یزید ابن معاویه څخه وتل او دخپل خلافت دعوه ده چې حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه کړې وه، د هغه مختصر تفصیل دادی چې کله د حضرت امیر معاویه رضي الله عنه څخه وروسته د هغه زوی د خلافت پر تخت کښېنستی نو حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه د هغه د پیروی او بیعت څخه انکار وکړ او د مکې مکرمې خلګو د هغه په لاس د بیعت کولو اعلان وکړ، حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه ستر صحابي اود لوړې درجې درلودلو په وجه ډېر عزت درلود ځکه نو ډېر ژر د هغه د پیروانو او منونکو ډله پراخه سول او پر مختلفو سیمو باندي هغه ته واک تر لاسه سو، بلکه څرنګه چې تاریخ پوهانو لیکلي دي: د شام څخه تقریبا ټولو مسلمانانو هغه خلیفه ومنی، د یزید څخه وروسته د مروان ابن حکم او د هغه څخه وروسته د عبدالملک ابن مروان امارت هم هغوی ونه منی او د خپل خلافت پر دعوه باندي قائم وو، مګر عبدالملک ابن مروان د هغه پر خلاف سخته کاروایي وکړل او حجاج ابن یوسف ثقفي یې د لښکر جرار سره پر مکه باندي د حملې کولو لپاره ولېږی.

حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه د خپلو لږ ملګرو د حجاج د لوی فوج سخته مقابله وکړل او په پای کي په شهادت ورسېدل، بدبخته حجاج د هغوی سرونه پرې کړل او مدینې منورې ته یې واستول او پاته بدنونه یې په دار وزړول، تر دې مخکي دغه لښکر پر مدینه منوره باندي حمله وکړل، هغه وخت یزید ژوندی وو، هغه لښکر چې څرنګه مدینه منوره تباه او برباد کړل او د هغه ځای خلګ یې ووژل هغه د حره پېښې په نامه سره د تاریخ په کتابو کي په تفصیل سره ذکر ده، نو حضرت عبدالله رضي الله عنه ابن عمر رضي الله عنه پر دار باندي زړېدلی د حضرت ابن زبیر رضي الله عنه د مړي مخته درېدی او ددغه دردناکه پېښو او د ظالم او فاسد خلګو د هغه ډلي پر وحشیانه کړنو باندي یې د تاسف او افسوس اظهار وکړ او حضرت ابن زبیر رضي الله عنه ته مخاطب سو او دا یې ورته وویل: ما ته د مخکي څخه منع کولې چې ته ددغه ظالمانو مقابلې ته مه راځه او دهغوی معامله الله جل جلاله پرېږده، مګر تا ونه منل، د حق حکمرانۍ قائمولو لپاره ستا پاکي جذبې ته د خلافت پر دعوه باندي مجبور کړلې او ته د پایلو څخه په بې پروا کېدو د هغه شتمن او مفسد حکمران پر خلاف ټینګ ولاړ وې، او په پای کي ته د زړه سوځونکي پایلي سره مخامخ سوې.

ته ډېر زیات روژې نیونکی وې: ویل کیږي چې حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه ډېري زیاتي روژې نیولې، داسي به هم کېدل چې پنځلس ورځې پرله پسې به یې روژې نیولې چې د طي روژې ورته ویل کیږي او پوره میاشت به یې نفلونه، تلاوت او ذکر الله کوی، د قریبانو سره یې

ښه چلن کوی، حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه په دغه وخت کي د حضرت ابن زبير رضی الله عنه د هغه صفتو یادونه ځکه وکړل چي حجاج هغه ته د الله جل جلاله دښمن او ظالم ويلي وه او ځرګنده نه ده چي نور څه بدي خبري يې ورته کړي وې، نو حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه ضروري وګڼل چي د حضرت عبدالله ابن زبير رضی الله عنه هغه ښګېڼي او نيکۍ بيان کړي چي په هغه کي د حجاج د پالتو او لغو خبرو ترديد وسي او پر عامو خلکو ځرګنده سي چي ابن زبير رضی الله عنه د کومي درجې عابد، زاهد او د لوړي درجې مسلمان وو.

په يوه روايت کي د : (لامة خير) الفاظ دي، يعني په اصل روايت کي خو دادي چي حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه د حجاج ابن يوسف او د هغه د ملګرو په اړه په ځرګنده الفاظو خپل دا تاثر بيان کړ چي کومه ډله حضرت عبدالله ابن زبير رضی الله عنه ته خراب او د حق څخه بهل سوی وايي، په اصل کي هغه ډله د خپلي بدي عقيدې او خپل فاسد خيال په وجه خرابه او تباه ډله ده، چي ستا په ډول سړی خلګ په شرير او فسادي کي شمېري، مګر په يوه روايت کي دلته د خرابي او بدي ډلي پر ځای دادي چي هغه ځومره ښه ډله ده، په دغه الفاظو کي هم د هغه تاثر اظهار مقصد دی کوم چي د اصل روايت څخه ظاهر دی، فرق يوازي دادی چي د دغه روايت مطابق حضرت ابن عمر رضی الله عنه د پېغور او تعريض طرز اختيار کړ لکه ځرنګه چي په عامه توګه د يو خراب او فسادي سړي د بد ويلو لپاره وايي چي واه ته ځومره ښه يې، په خپلو کي بهلوالي راولې، مګر زيات مناسب او قريب الفهم هغه الفاظ دي کوم چي په اصل روايت کي مذکور دي.

د يهوديانو په هديره کي وغورځوی، يعني په مکه کي اوسېدونکي يهوديان يا د دباندي څخه راغلي يهوديان چي به چيري دفن کېدل هلته حجاج د حضرت عبدالله ابن زبير رضی الله عنه مړی وغورځوی مګر دا خبره ددې خلاف نه ده چي د حضرت عبدالله ابن زبير رضی الله عنه تدفين په جنت المعلاة کي وسو ځکه چي دغه صورت حال د پيل دی چي د هغه مړی د يهوديانو په هديره کي غورځول سوی وو مګر وروسته د هغه مړی د هغه ځای څخه را پورته کړل سو او په جنت المعلاة کي دفن کړل سو، ځرګنده دي وي چي اوس خو د ډېري زمانې څخه هغه ځای معلوم نه دی چي په کوم ځای کي د يهوديانو هديره وه يا د هغوی قبرونه وه مګر په هغه زمانه کي به داسي خامخا وه چي د يهوديانو د قبرو لپاره خاص وو، او ځکه حجاج حکم کړی وو چي د عبدالله ابن زبير رضی الله عنه مړی د دار څخه راکښته کړل سي او د يهوديانو په هديره کي وغورځول سي.

زما ښېلۍ را وړئ او زما مخته يې کښېږدئ: دا د (اروني سبتي) معنی ده، سبتی په اصل کي د ياء په متکلم سره د سبتيه تثنيه ده او سبتيه هغه ښپلۍ ته وايي چي دباغت کړل سوي او د

وېښتانو ښځه پاکي سوې وي، په هغه زمانه کي اميرانو او پاچاهانو دغه ډول ښځي په ښو کولې.

دوه کمر بند والا ښځه، دا د ذات النطاقين معنی ده او دا د بي بي اسماء بنت ابوبکر صديق رضي الله عنهما لقب وو چي رسول الله ﷺ د يوې خاصي پېښي په وجه ورکړی وو، دا سي پېښه سوې وه چي کله رسول الله ﷺ د هجرت په وخت کي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه سره ملګری د هغه د ځای ښځه روانيدی نو بي بي اسماء رضي الله عنها د هغه دواړو لپاره ښه توښه تياره کړې وه، د توښه دان تړلو لپاره هغې رسۍ يا بل شي پيدا نه کړ نو هغې خپل کمر بند ښيري کړ او هغه يې دوې ټوټې کړ، په يوه ټوټه يې توښه دان وتړی او په بلي ټوټې يې خپله ملا وتړل، دا په اصل کي د نطاق ترجمه دکمر بند پر ځای د کمر پټه کول زيات مناسب دي، په هغه زمانه کي د عربو په خلګو کي پرتوګ زيات رواج نه وو نو هغوی به د خپل لونګ سربېره د ملا پټه استعمالول چي د کار په وخت کي د لونګ خلاصېدو امکان پاته نه سي، په هر حال په دغه وخت کي بي بي اسماء رضي الله عنها چي کوم کار وکړ په دغه مناسبت سره رسول الله ﷺ هغې ته د ذوالنطاقين لقب ورکړ، په دې اعتبار دغه لقب خپله دهغې لپاره خو د فخر سبب وو چي خپل يو شی د رسول الله ﷺ په استعمال کي راولي، او ددې ښځه نور لوی فضيلت هم ښکاريږي مګر ناپوه حجاج دغه لقب د هغې پر سپکاوي باندي محمول کړ چي هغه په يو داسي شي سره ملقب کړل سول چي په عامه توګه په کورو کي د کار کوونکو ښځو او دباندي د وتونکو خادمانو ښځو نښه وي.

هو، قسم په خدای زه دوه کمر بنده والا ښځه يم، ذوالنطاقين لقب د حجاج د فاسد خيال پر خلاف د بي بي اسماء رضي الله عنها لپاره د دارينو د تفاخر سبب وو ځکه هغې نه يوازي دا چي دغه لقب په فخر سره استعمالوی او د حجاج مخکي د هغې ښکاره اظهار او اعتراف هم وکړ بلکه ددې ښځه وروسته هغه وجه يې هم بيان کړل چي د هغه په وجه دې ته دغه شرف تر لاسه سو، نو هغې ښکاره کړل چي ما دخپل کمر بند ښځه دوه کمر بندونه جوړ کړي وه، په هغو کي د يوه په ذريعه د رسول الله ﷺ او د ابوبکر صديق رضي الله عنه خوراک په دسترخوان کي په نغښتلو سره يو لوړ ځای به مي زړوی چي د مېږيانو او نورو شيانو ښځه خوندي وي او دوهم کمر بند ددې لپاره وو چي د هغه ښځه هيڅ يوه ښځه بې پروا کېدای نه سي، ددې مطلب خو دا کيدای سي چي د يوې ښځي تعريف او تحسين په دغه صورت کي کيږي کله چي هغه د خپل کور په پوره بوختيا او ذمه دارۍ سره کوي، د نطاق يعني کمر بند اصل مقصد دا وو چي ښځه هغه پر خپل لونګ وتړي چي د هغې د لونګ خلاصېدو بېره نه وي، او هغه د خپل کور کار په اطمينان سره وکړي، نو بي بي اسماء رضي الله عنها دې ته اشاره وفرمايل چي کومه ښځه د خپل کور کار د کار سره مينه لري نو هغه د

کمر بند څخه بې نیازه کیدای نه سي ، دوهم مطلب دادی چي په ښځو کي د نطاق یو استعمال به ددې مقصد لپاره هم وو چي نس يې غټ نه سي لکه څرنګه چي په يوه زمانه کي د عربو په ښځو کي ددې ډېر رواج وو چي هغوی د خپل نس د هيئت سمولو لپاره د پوست کمر بند استعمالوی بلکه شتمنو ښځو به د سرو زرو کمر بند تړی ، نو بي بي اسماء ﷺ دې ته اشاره وکړل چي دوهم نطاق ما ددې مقصد لپاره استعمالوی او دا يو داسي مقصد وو چي د هغه څخه هيڅ ښځه بې پروا کیدای نه سي .

او هغې ته يې هيڅ جواب ور نه کړ، دا د بي بي اسماء ﷺ د حق ويني اثر وو چي د ظالم حجاج په ډول سړی د هغه د خبرو په اورېدو سره پټه خوله سو او دهغې د جواب ورکولو جرئت يې ونه کړ، نقل سوي دي چي بي بي اسماء ﷺ د خپل زوی حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه د شهادت څخه شل ورځي وروسته وفات سول، هغه وخت دهغې عمر سل کاله وو او د هغې يو غاښ هم مات سوی نه وو، علامه نووي رحمة الله عليه ددغه حديث په تشريح کي ليکلي دي چي حضرت ابن عمر رضي الله عنه د حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه د مړي مخته په درېدو سره هغه ته سلام وکړ، ددې څخه معلومه سول چي مړي ته سلام کول او تر يو وار زيات کول مستحب دي، ددغه حديث څخه دا هم څرګنده سول چي مړي په مخکي د هغه ښېګڼې او صفتونه بيانول چي د هغه په ذريعه هغه مشهور وو، جائز دي، ددغه حديث څخه د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ستر فضيلت او ځانګړتيا څرګندېږي چي هغه د حق ويلو څخه منع نه سو ، سره ددې چي هغه پوهيدی چي دلته زه څه وايم ددې يو يو لفظ به حجاج ظالم ته ورسيږي .

د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه د خلافت څخه انکار

﴿۵۷۵۱﴾: وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَتَاهُ رَجُلَانِ فِي فِتْنَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ فَقَالَا إِنَّ

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي د عبدالله بن زبير رضي الله عنه د فتنې په ورځو کي دوه خلک عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته راغلل ورته وه يې ويل

النَّاسَ صَنَعُوا وَأَنْتَ ابْنُ عُمَرَ وَصَاحِبُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا

خلکو چي څه وکړل هغه ته ويني او ته د حضرت عمر رضي الله عنه زوی او د رسول الله ﷺ صحابي يې بيا

يَمْنَعُكَ أَنْ تَخْرُجَ فَقَالَ يَمْنَعُنِي أَنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ دَمَ أَخِي قَالَا أَلَمْ يَقُلِ اللّٰهُ

كوم امر مانع دى چي ته هم ووځې ، ددې اوريدو سره ورته عبدالله بن عمر رضي الله عنه وويل : الله جل جلاله د يو مسلمان ورور وينه بيول زما لپاره حرام ګرځولي دي ، هغوى ورته وويل ايا الله جل جلاله داسي نه

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَقَالَ ابن عمر قد قَاتَلْنَا حَتَّى لَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ

دي فرمايلي : (وقاتلوهم حتى لا تكون فتنة)، (د خلكو سره جنګ كوئ تر دې چي فتنه ختمه سي)، عبدالله بن عمر رضي الله عنه ورته وويل موږ د هغه خلكو سره قتل وكړ تر دې چي فتنه ختمه سوه ،

وَكَانَ الدِّينُ لِلَّهِ وَأَنْتُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تُقَاتِلُوا حَتَّى تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِغَيْرِ اللَّهِ. رواه البخاري.

او خالص دين الهي پاته سو او تاسو اوس دا غواړئ چي زه جنګ وكړم چي فتنه خپره سي او د دين الهي پر ځاى د غير الله دين قائم سي . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۱۸۳، رقم: ۴۵۱۳.

تشريح: الله جل جلاله زما لپاره حرام ګرځولي دي: د دغه جملې په ذريعه د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه مقصد د دغه خبري په ارزښت او تاكيد سره بيانول وو چي د ويني تويولو څخه ځان ساتل او د مسلمانانو په منځ كي د جګړې څخه منع كول پكار دي ، دا د ځان لپاره په هر حالت كي ضروري ګنم او په خاصه توګه په هغه صورت كي كله چي د خلافت مسئله او د امارتِ خواهش وي نو په دغه جمله كي د علي لفظ ددې مقصد لپاره استعمال سوى دى ، كنه نو ددې ضرورت نه وو ځكه چي د مسلمان ورور وينه بيول خو د هر سړي لپاره حرام ګرځول سوي دي .

او د غير الله دين قائم سي، په اصل كي دهغه دوو كسانو خيال دا وو چي لومړى خو حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه د خپل خلافت دعوه وكړي مګر كه چيري هغه دې ته تيار نه وي نو بيا كم از كم دا پكار دي چي د هغه خلګو پر خلاف توره پورته كړي كوم چي د حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه خلافت نه مني او دهغوى په مقابله كي د ظالمانو او نااهلو د امارت وفادار دي مګر د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه خيال دا وو چي عام مسلمانان د خپل منځي اختلاف او جګړې څخه د ژغورني لپاره داسي اقدام مناسب نه دى ځكه چي د مسلمان د مسلمان پر خلاف توره پورته كول او هغه هم د خلافت او امارت لپاره د خپل منځي افتراق او انتشار يو داسي صورت حال كېدو سبب ګرځېداى سي چي د اسلام نظام دين او شريعت او د مسلمانانو ملي

ژوند کمزوري کړی تر دې چي د اسلام دښمنانو ته د خپلي غلبې او واک موقع تر لاسه سي، له دې کبله حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه د حضرت ابن زبیر رضي الله عنه په اړه هم دا غوره ګڼل چي هغه د خلافت په مسئله کي جګړه او قتال پرېږدي او د یوازیوالي په اختیارولو سره خلک پر خپل حال پرېږدي.

قبیله دوس ته دعاء

﴿۵۷۵۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو الدوسي إِلَى رسول

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي طفیل بن عمر دوسي د رسول الله ﷺ په خدمت کي

الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ دَوْسًا قَدْ هَلَكَتْ عَصَتْ وَأَبَتْ فَادْعُ اللَّهَ

حاضر سو او عرض یې وکړ چي د دوس قبیله هلاکه سوه نافرماني یې وکړه د اطاعت څخه یې انکار وکړ تاسو د دوی لپاره ښیرا وکړئ،

عَلَيْهِمْ فظن الناس انهم يدعوا عليهم فَقَالَ اللَّهُمَّ اهْدِ دَوْسًا وَأْتِ بِهِمْ. متفق عليه.

نو د خلکو ګمان سو چي رسول الله ﷺ به هغوی ته ښیرا وکړي، مګر رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله! د دوس قبیلې ته سیده لار وښیې، هغوی د مدینې په لور راولې. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۹۶، رقم: ۶۳۹۷، ومسلم ۴\۱۹۵۷، رقم: ۱۹۷ - ۲۵۲۴.

تشریح: حضرت طفیل ابن عمرو دوسي رضي الله عنه یو ستر صحابي دی او د اوس قبیلې سره یې تعلق درلود، او په اهل حجاز کي شمېرل کیدی، په مکه کي په اسلام مشرف سو او بیا خپلي قبیلې ته بېرته ولاړی، کله چي رسول الله ﷺ مدینې ته په هجرت کولو سره راغلی نو هغه هم د خپلي قبیلې او وطن په پرېښودو سره هجرت وکړ او د رسول الله ﷺ په خدمت کي هغه وخت حاضر سو کله چي رسول الله ﷺ په خیبر کي وو او بیا د رسول الله ﷺ تر رحلت کولو پوري په مدینه منوره کي له رسول الله ﷺ سره وو، هغه ته د ذوالنور لقب حاصل وو، او دا لقب ځکه مشهور سوی وو چي کله رسول الله ﷺ هغه خپلي قبیلې ته د اسلام د تبلیغ لپاره واستوی نو هغه وویل: اې دالله رسوله! ما ته یوه داسي نښه راکړه چي د هغه په لېدو سره خلک زما تصدیق وکړي، رسول الله ﷺ دعاء وفرمایل: اې الله! ده ته نور ورکړې، الله جل جلاله دعاء قبوله کړل او د

هغه د دواړو سترګو په منځ کي نور وځلېدی، اوس هغه وويل: اې د الله رسوله! ما ته بېره ده چي خلک زما دغه نور پر بدشکلي باندي محمول نه کړي، ددې څخه وروسته هغه نور د هغه ځای څخه د هغه سينې ته منتقل سو، په تياره شپه کي به د هغه د سينې دغه برخه داسي ځلېدل لکه د هغه په سينه کي چي څراغ بليږي، حضرت طفيل رضي الله عنه خپلي قبيلې ته په رسېدو سره د اسلام په تبليغ او دعوت کي بوخت سو، د هغه پلار رحمه الله هغه د تبليغ په نتيجه کي د اسلام په دائره کي داخل سوی وو مګر د هغه مور ته د ايمان هدايت په برخه نه سو.

د عربو سره مينه

﴿۵۷۵۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحِبُّوا الْعَرَبَ لِثَلَاثٍ لِأَنِّيْ عَرَبِيٌّ وَالْقُرْآنُ عَرَبِيٌّ وَكَلَامُ أَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د درو خبرو په سبب د عربو سره مينه کوئ: يو خو دا چي زه په عربو کي يم، دويم دا چي قرآن کريم په عربي ژبه کي دی او دريم دا چي د جنتيانو ژبه عربي ده. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۲\۲۳۰، رقم: ۱۶۱۰.

تشريح: د جنتيانو ژبه عربي ده: دلته دا خبره مفهوم کيږي چي د دوږخيانو ژبه به عربي نه وي، په هر حال د حديث خلاصه داده چي عربو ته په دنيا کي او اخرت دواړو کي فضيلت تر لاسه دی، او په دغه حديث کي د ميني کولو يوازي هغه درې اسباب بيان سول چي په دې اړه ډېر اعلی دی، کنه نو ددې څخه ماسوا نور اسباب هم سته چي د هغو په وجه د عربو سره مينه کول لازمي شی دی، دمثال په توګه دا چي عربو د شارع عليه السلام څخه مخامخ د دين او شريعت علم تر لاسه کړ او بيا هغه علم يې موږ ته راورسوی، بيا هغوی د رسول الله صلى الله عليه وسلم اقوال، افعال، عادات او معجزې خوندي کړلې، او دغه سرمايه يې موږ ته رانقل کړل، عرب په اصل کي د اسلام مرسته کوونکي او زموږ د ملي ژوند توانايي ده، هغوی د اسلام لپاره د لويو لويو طاقتونو سره جنګونه وکړل، د ځان او مال په قرباني ورکولو سره يې لوی لوی سيمي فتح کړلې، په ښارو او کليو کي يې اسلام خپور کړ، د نړۍ په شاوخوا کي يې د دين بيرغ لوړ کړ او مسلمانانو ته چي کوم عزت او شان حاصل سو هغه د دوی د هڅو او کوښښو نتيجه ده، زموږ د ملي تاريخ ټول

عظمت او سرلوړي د دوی په وجه ده، عرب د حضرت اسماعيل ﷺ اولاد دي، د هغوی نسل د نساني ځانګړتياوو او ښېګڼو امين دی او نه يوازي دا چي د هغوی ژبه به جنتيانو ژبه وي بلکه په قبر کي د منکر او نکير سوال به هم د هغوی په ژبه وي او له همدې کبله ويل سوي دي :
مَن اسلم فهو عربي : څوک چي د اسلام په دائره کي داخل سو نو هغه عربي دی.

==========

بَابُ مَنَاقِبِ الصَّحَابَةِ رضي الله عنهم

(د صحابه کرامو رضي الله عنهم د مناقبو بيان)

مناقب په اصل کي د منقبت جمع ده چي معنی يې د فضيلت ده، او فضيلت هغه ښه عادت او ځانګړتيا ته وايي چي د هغه په سبب د الله جل جلاله په نزد يا د مخلوق په نظر کي شرف او عزت تر لاسه کيږي مګر اصل اعتبار د هغه شرف او عزت دی چي د الله جل جلاله په نزد تر لاسه سي، د مخلوق په نظر کي د تر لاسه کېدونکي عزت او شرف هيڅ اعتبار نسته، مګر که چيري دغه عزت او شرف د الله جل جلاله په نزد د لوړي وسيله او ذريعه جوړيږي نو په دغه صورت کي به د دې هم اعتبار وي، کله چي دا ويل کيږي چي فلانی سړی با فضيلت او د لوړي درجې دی او دا خبره هم په ذهن کي وي چي فضيلت او لوړې مرتبې ته نسبت په هغه صورت کي معتبر دی کله چي هغه د رسول الله ﷺ څخه منقول وي يعني د يو چا په اړه دا ويل چي هغه د منزلت او قدر وړ دی، دا څه معنی لري، نو هغه سړي ته افضل او د لوړي درجې ويل به معتبر وي چي د هغه د فضيلت او لوړي درجې په اړه د رسول الله ﷺ ارشاد موږ ته را رسېدلی وي.

صحابي رضي الله عنه چا ته وايي ؟ صحابي هغه مسلمان ته وايي چي د هغه د وېښتي په حالت کي په خپلو سترګو سره رسول الله ﷺ ليدلی وي، يا د رسول الله ﷺ ملګرتيا کي پاته سي او د ايمان په حالت کي پر دين او اسلام باندي د هغه خاتمه وسي، که څه هم په دغه منځ کي ارتداد رامنځته سوی وي لکه د اشعب يا د اشعث بن قيس رضي الله عنه په اړه چي ويل کيږي، او ځينو حضراتو د صحابي کېدو لپاره اوږده ملګرتيا شرط ګرځولې ده يعني د هغوی په نزد صحابي هغه مسلمان ته وايي چي د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کي تر ډېره وخته پوري پاته سوی وی، هغه د رسول الله ﷺ څخه علم تر لاسه کړی وي او له رسول الله ﷺ سره يې په غزاوو کي ګډون کړی وي، دغه حضراتو اوږد وخت کم از کم شپږ مياشتي بيان کړي دي مګر د دغه شپږو مياشتو د

تعين دليل د هغوی سره نسته، بيا هم په دې كي شک نسته چي چا زيات وخت د رسول الله ﷺ خدمت او ملگرتيا كي تېر كړ او له رسول الله ﷺ سره يې په جهاد كي گډون وكړ د هغه مرتبه د هغه كسانو په نسبت لوړه ده چا ته چي د زيات وخت د خدمت او ملگرتيا موقع په لاس نه ورغلل، څوک چي له رسول الله ﷺ په يوې غزا كي گډون ونه كړ، چا چي رسول الله ﷺ محض د ليري څخه وليدی، د رسول الله ﷺ سره د خبرو كولو په سعادت ډېر لږ برخمن سو يا چا چي د خپل ماشومتوب په زمانه كي رسول الله ﷺ وليدی، كه څه هم د محض صحبت شرف ټولو ته تر لاسه دی.

د صحابي ﷺ د پېژندو ذريعه: څوک چي صحابي دی د هغه صحابي كېدل د تواتر په ذريعه پېژندل كيږي لكه د حضرت ابوبكر صديق ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ صحابي كېدل په تواتر سره ثابت دي، يا د خبر مشهور په ذريعه پېژندل كيږي، يا بل صحابي د خپل غير په اړه بيان وكړي چي هغه صحابي دی يا خپله صحابي د خپل ځان په اړه ووايي چي زه صحابي يم، په شرط د دې چي هغه روايت د معيار پر لړې باندي روان وي او عادل وي، دا خبره هم بايد په ذهن كي وي چي په كتاب، سنت او اجماع سره په څرگنده ثابته ده چي ټول صحابه كرام عادل دي.

دصحابه كرامو ﷺ فضيلت: په شرح السنه كي دا بو منصور بغدادي رحمة الله عليه په حواله سره ليكلي دي چي زموږ د ټولو علماؤ پر دې اجماع ده چي په صحابه كرامو كي تر ټولو افضل خلفاء اربعه دي او په هغوی كي هم د خلافت د ترتيب اعتبار دی يعني تر ټولو افضل حضرت ابوبكر صديق ﷺ دی، د هغه څخه وروسته حضرت عمر فاروق ﷺ، دهغه څخه وروسته حضرت عثمان غني ﷺ او دهغه څخه وروسته حضرت علي ﷺ، د خلفاء اربعه څخه وروسته تر ټولو افضل هغه ټول صحابه كرام دي چي هغوی ته عشره مبشره ويل كيږي، د هغوی څخه وروسته تر ټولو افضل هغه صحابه كرام دي چي د بدر په غزا كي يې گډون وكړ، دهغوی څخه وروسته تر ټولو افضل هغه صحابه كرام دي چي د اُحد په غزا كي يې گډون كړی وو، د هغوی څخه وروسته په بيعت رضوان كي گډون كونكي صحابه كرام افضل دي، د هغوی څخه وروسته هغه انصار صحابه كرام چي هغوی دوه واره د بيعة العقبة الاولی او بيعة العقبة الثانيه په وخت كي مكې ته په راتلو سره د رسول الله ﷺ سره بيعت كړی وو، همدارنگه هغه صحابهٔ كرام چي هغوی ته سابقون الاولون ويل كيږي، يعني هغوی په اسلام منلو كي مخته والی وكړ، او د اسلام په پيل كي مسلمانان سوي دي، او هغوی ته د دواړو قبلو يعني بيت المقدس او كعبې شريفي په خوا د لمانځه كولو موقع تر لاسه سول، دغه صحابه كرام تر هغه صحابه كرامو افضل

دي چي هغوی وروسته د اسلام په دائره کي داخل سول.

د بي بي عائشې او بي بي خديجې رضي الله عنهما په اړه د علماؤ اختلاف دی چي کومه یوه تر بلي افضله ده، همدارنګه د بي بي عائشې او بي بي فاطمې رضي الله عنهما په اړه هم اختلاف دی، د هغوی په اړه خراب فکر کول او د هغوی په شان کي داسي خبره کول چي د صحابت د مرتبې خلاف وي داسي منع دي لکه څرنګه چي د نورو صحابه کرامو په اړه منع ده، پاته سوه دا خبره چي د ځينو صحابه کرامو په منځ کي چي کومه جګړه وسول یا د جګړې نوبت راغلی نو پر دې باندي بحث او تمحيص کول او د هغه یوه نتيجه را ايستل زموږ مقام نه دی، هغه ټول معاملات د خپل اجتهاد سره تعلق لري په هغوی کي هيڅ صحابي هم داسي نه وو چي هغه په دغه معاملاتو کي د نفساني غوښتنو یا دنيوي مقاصدو لپاره ګډون کړی وي، هغه ټول صحابه کرام د خپل خپل موقف صحيح ګڼلو عقيده درلودل او د خپل منځي جګړو تاويل يې کوی، هغه صحابه کرامو ته مجتهدانه مقام او مرتبه تر لاسه وه، په مسائلو کي د یو بل سره د اختلاف درلودلو حق يې درلود، ځکه د هغوی ددغه جګړو په وجه په هغوی کي هيڅوک به د لوی عادل له ډلي څخه وتلی نه وي، او نه د هغوی حيثيت او د هغوی په مرتبه کي څه نقص راځي، لنډه دا چي د اهل سنت والجماعت مذهب دادی چي دهغوی په اړه د ژبي خلاصولو پر وخت احتياط کول پکار دي د هغوی په حق کي د ژبي څخه هغه خبره را ايستل پکار دي چي د تعريف او خير وي که په هغوی کي د یو چا په اړه داسي خبره منقول وي چي په ظاهره د تعريف خلاف وي نو دهغه څخه دي صرف نظر وکړل سي، د دين او ايمان سلامتيا په همدې کي ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

اصحابو ته بد مه وایاست

﴿۵۷۵۴﴾: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ. متفق عليه.

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زما صحابه کرامو ته بد مه وایاست ځکه که په تاسو کي څوک د غره برابر سره زر خرڅ کړي نو د صحابي د یو مد یا

نيم مد برابر هم ثواب نه سي تر لاسه كولاى (مد يو پيمانه ده چي د سير په اندازه اوربشي پكښي راځي). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۲۱، رقم: ۳۶۷۳، ومسلم ۴\۱۹۶۷، رقم: ۲۲۲- ۲۵۴۱.

تشريح: د (تاسو) مخاطب خپله په صحابه كرامو كي ځيني حضرات وه، لكه چي په يوه روايت كي ددغه ارشاد دا بيان سوى دى چي د حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه او حضرت عبد الرحمن ابن عوف رضي الله عنه په منځ كي كومه جګړه رامنځته سوه او حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه، حضرت عبد الرحمن ابن عوف رضي الله عنه ته بد او رد وويل، هغه وخت رسول الله ﷺ، حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه او نورو ته په خطاب كولو سره وفرمايل: زما صحابوو ته بد مه وايه، نو زما د صحابوو څخه هغه خاص صحابه مراد دي چي د هغه مخاطب صحابي يعني حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه او نورو څخه يې مخكي اسلام راوړى وو، او دا هم كيداى سي چي په دغه حديث كي د (تاسو) په ذريعه ټول امت مخاطب وي او نور نبوت د مخكي څخه دا ليدلي وي چي په راتلونكو خلكو كي به داسي خلګ هم پيدا سي چي زما صحابوو ته به بد وايي، دهغوى په شان كي به بې ادبي كوي، لكه څرنګه چي د روافضو او خوارجو په صورت كي مختلفي ډلي د صحابه كرامو په اړه بد وايي ځكه رسول الله ﷺ د مسلمانانو په راتلونكو پېړيو كي د صحابه كرامو د احترام ښداره كولو لپاره حكم وكړ چي هيڅوك دي زما صحابي ته بد نه وايي.

مُد په هغه زمانه كي د يوې پيمانې نوم وو چي په هغه كي د سېر په اندازه اوربشي او نوره غله راتلل، د حديث ددغه برخي مراد د هغه صحابوو د لوړي درجې تعين كول دي چي د هغه خلګو د كمال اخلاص په وجه د هغه لږ نيک عمل د خپل وروستنيو پر لوى عمل باندي دروند دي، دمثال په توګه كه په صحابه كرامو كي يو څوک سېر يا نيم سېر اوربشي يا بل شى د الله جل جلاله په لاره كي مصرف كړي نو په دغه عمل چي هغه ته څومره ثواب تر لاسه كيږي هغومره ثواب د هغوى څخه وروسته راتلونكو ته په هغه صورت كي نه تر لاسه كيږي كه څه هم هغوى د الله جل جلاله په لاره كي د اُحد د غره په اندازه سره زر مصرف كړي، ددې وجه دا ده چي د اخلاص او صفا نيت چي كوم كمال په هغوى كي وو هغه په وروسته خلګو كي تر لاسه كيداى نه سي.

دوهم دا چي دهغوى مال طيب او پاک وو، او دهغوى خپلو اړتياوو ددې خبري تقاضا كول چي د هغوى سره څه دي په خپل ذاتي مصرف كي يې مصرف كړي مګر ددې سربېره د خپل توان مطابق هغوى د الله جل جلاله په لاره كي په پراخ زړه سره مصرفول، او خپل ټولي اړتياوي يې تر شا

پرېښودلې، دا خو د هغوی د الله ﷻ په لاره کي د اجر او ثواب ذکر دی، پر دې باندي په قياس کولو سره اندازه لګيږي چي هغوی په سختو حالاتو کي د الله ﷻ د دين بېرغ لوړوی او د الله ﷻ د پيغام رسولو لپاره يې د رياضت او مجاهدې سخت پړاوونه پر ځان وګالل، تر دې چي د خپلو ځانو قرباني يې ورانديږي کړل، له دې کبله هغوی ته به کوم اجر او ثواب تر لاسه سوی وي او د هغوی درجې او مرتبې به څومره لوړې وي، د حديث د لومړنۍ برخي څخه که څه هم دا معلوميږي چي دغه ارشاد (زما صحابوو ته بد مه واياست) د خاصو صحابه کرامو په اړه دی مګر د دې څخه دا خبره په هر حال ثابتيږي چي د غير صحابي، صحابي ته بد ويل په طريقه اولی منع دي ځکه چي د حديث اصل مقصد د هغه خلکو په اړه د بدويلو څخه د منع تلقين او هدايت کول دي چا ته چي د اسلام په منلو کي د سبقت فضيلت او غوره والي تر لاسه دی، او د خپل دغه فضيلت او غوره والي په وجه د وروسته کسانو لپاره يقينا واجب التعظيم دي، علي ابن حرب طائي او خثمه ابن سلمان رحمهما الله د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه نقل کړي دي:

ولا تسبوا اصحاب محمد فلمقام احدهم ساعة خير من عمل احدكم عمره.

ژباړه: د محمد ﷺ اصحابو ته مه واياست، (په حقيقت کي هغوی ته د خپلو عبادتونو) دا مقام تر لاسه دی چي د هغوی د يوه ساعت نيک عمل ستاسو د ټول عمر د نيک عمل څخه غوره دی.

عقيلي رحمة الله عليه په ضعفا کي نقل کړي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

ان الله اختارلي واختار لي اصحابا وانصارا واصحارا وسياتي قوم يسبونهم ويستنقصونهم فلا تجالسوهم ولا تشاربوهم ولا تواكلوهم ولا تناكحوهم.

ژباړه: بېله شکه الله ﷻ زه ټاکلی يم او زما لپاره يې زما اصحاب، زما انصار او زما قريبان ټاکلي دي، په ياد ولرئ ډېر ژر به داسي خلک پيدا سي چي زما اصحابو ته به بد وايي او په هغوی کي به نقص راباسي نو تاسو د هغو خلکو سره تعلق مه اختياروئ، د هغوی سره خوراک او څښاک مه کوئ او د هغوی سره ودونه مه کوئ.

صحابوو ته د بدويونکي په اړه شرعي حکم: د مسلم په شرح کي ليکلي دي: بايد پوه سو چي صحابه کرامو رضي الله عنهم ته بد ويل حرام دي او د لويو ګناهو څخه دي، زموږ او د جمهورو علماؤ دا مذهب دی چي څوک يو صحابي رضي الله عنه ته بد ووايي هغه ته دي سزا ورکړل سي، او ځينو مالکيه وو ليکلي دي چي هغه دي قتل کړل سي، همدارنګه خبره طيبي رحمة الله عليه هم ليکلې ده او قاضي عياض رحمة الله عليه ويلي دي چي په صحابه کرامو کي يو چا ته بد ويل لويه ګناه ده او زموږ ځينو علماؤ صراحت کړی دی چي کوم څوک شيخينو (يعني حضرت ابوبکر صديق او حضرت

عمر فاروق رضی اللہ عنہما) ته بد ووايي نو هغه د وژلو وړ دی، په مشهور کتاب، الاشباه والنظائر په کتاب السير کي ليکلي دي : کوم کافر چي د خپل کفر څخه توبه وکړي هغه لره د دنيا او آخرت معافي ده مگر کوم خلک چي په دې وجه کافران سوي دي چي هغوی نبي ته بد ويلي دي يا شيخينو ته يا په هغوی دواړو کي يوه ته بد ويلي دي يا د جادو مرتکب سوی وي او بيا د توبې کولو څخه مخکي ونيول سي اوس که چيري هغه توبه کوي نو د هغوی توبه به د منلو وړ نه وي او هغوی ته به معافي نه کيږي، همدارنگه د اشباه مؤلف علامه زين ابن نجيم دا هم ليکلي دي چي شيخينو رضی اللہ عنہما ته بد ويل يا پر هغوی لعنت کول کفر دی او کوم څوک چي حضرت علي رضی اللہ عنہ ته پر شيخينو رضی اللہ عنہما فضيلت ورکړي نو هغه مبتدع دی، د مناقب په کردري کي ليکلي دي : که چيري هغه سړی چي پر شيخينو رضی اللہ عنہما باندي د حضرت علي رضی اللہ عنہ د فضيلت قائل وي او د دواړو يعني شيخينو رضی اللہ عنہما د خلافت منکر وي نو هغه ته به هم کافر ويل کيږي، په دې سبب چي هغه د دغه سترو صحابه کرامو سره بغض او عناد وکړ، چي د هغوی سره د رسول الله ﷺ د زړه مينه وه، مگر که چيري دا صورت وي چي يو سړی نه خو پر شيخينو رضی اللہ عنہما باندي د حضرت علي رضی اللہ عنہ د فضيلت قائل وي ، نه د شيخينو رضی اللہ عنہما د خلافت منکر وي او نه هغه د دواړو سره بغض او عناد لري او نه هغوی ته بد وايي مگر د شيخينو رضی اللہ عنہما په نسبت د حضرت علي رضی اللہ عنہ سره زياته مينه لري نو هغه به يوازي په دې وجه ماخوذ نه وي ، په دې اړه د هغه دواړو يعني د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رضی اللہ عنہما د تخصيص وجه کيداې سي داوي چي د هغه دواړو په فضيلت کي د رسول الله ﷺ کوم حديثونه چي په خاصه توگه منقول دي هغسي د بل صحابي په اړه منقول نه دي، لکه څرنگه چي د راتلونکي باب د نقل سوو حديثو څخه څرگنديږي، يا د تخصيص وجه داده چي د هغه دواړو پر خلافت د مسلمانانو پوره اجماع وه ، د هغوی قيادت او مشري د هيچا له خوا رد سوې نه ده ، ددې پر خلاف د حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت معاويه او نورو خلفاؤ رضی اللہ عنہم پر خلافت باندي دومره اجماع نه وه بلکه په هغوی کي د هر يوه په زمانه کي د بغاوت او خروج عمل ظاهر سو .

د ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ د خلافت څخه انکار کوونکی د اسلام څخه وتلی دی:

حضرت شاه عبدالعزيز رحمۃ اللہ علیہ ليکلي دي: په دې کي هيڅ شک نسته چي د اماميه ډلي خلک د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ د خلافت منکر دي او د فقهي په کتابو کي ليکلي دي چي کوم څوک د ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ د خلافت څخه انکار وکړي نو هغه د اجماع قطعي منکر گرځول کيږي او د اجماع قطعي منکر کافر کيږي لکه چي په فتاوی عالمگيريه کي دي :

الرافضي اذا کان یسب الشیخین ویلعنهما العیاذ باالله فهو کافر وان کان یفضل علیا کرم الله تعالی وجهه علی ابي بکر لایکون کافرا لکنه مبتدع ولو قذف عائشة ﷞ کفر باالله.

ژباړه: او رافضي که شیخینو ﷠ ته بد ووایي او العیاذ باالله، پر هغوی لعنت ووایي نو هغه کافر دی او که حضرت علي ﷜ ته پر حضرت ابوبکر ﷜ فضیلت ورکړي نو کافر خو نه دی مګر مبتدع ګرځول کیږي او که څوک د بي بي عائشې ﷞ پر پاک لمنۍ تهمت ولګوي نو الله ﷻ چې د بي بي عائشې ﷞ د پاک لمنۍ تصدیق په قرآن کریم کې کړی دی د هغه څخه به منکر وي. په فتاوی عالمګیري کې داسې دي:

من انکر امامة ابي بکر الصدیق فهو کافر علی قول بعضهم وقال بعضهم هو مبتدع ولیس کافر والصحیح انه کافر کذالک من انکر خلافة عمر في اصح الاقوال ویجب اکفار الروافض في قولهم برجعة الاموات الی الدنیا وتناسخ الارواح.

ژباړه: کوم څوک چې د حضرت ابوبکر صدیق ﷜ د امامت کبری څخه انکار وکړي نو هغه د ځینو په نزد کافر دی او د ځینو په نزد مبتدع ګرځول کیږي او هغه ته به کافر نه وایو، مګر صحیح خبره داده چې هغه کافر دی، همدارنګه د صحیح قول مطابق هغه سړی هم کافر کیږي چې د حضرت عمر ﷜ د خلافت څخه انکار وکړي او رافضیان ځکه کافر ګرځول واجب دي چې هغوی د مړو دنیا ته بېرته راتللو او د تناسخ ارواح قائل دي.

د اسلام څخه د وتلو دلیلونه: سوال پیدا کیږي چې د امامیه ډلي خلګ (یا روافض او شیعه ګان) که صحابه کرامو ته په خاصه توګه شیخین ﷠ ته بد ووایي یا د هغوی د خلافت منکر وي ددې په وجه هغوی په کوم دلیل سره کافران ګرځول کیږي، نو باید پوه سو چې دهغوی د کفر ډیر دلائل او براهین دي، لومړۍ خبره چې صحابه کرامو په اصل کې دوحي حاملان، د قرآن راویان او ناقلان دین او شریعت دي، څوک چې د صحابه کرامو د حقانیت او صداقت منکر وي نو څرنګه کیدای سي چې د قرآن کریم او نورو ایمانیاتو سره د هغه ایماني تعلق قائم وي او کله چې د قرآن کریم او نورو سره د هغه ایماني تعلق قائم نه وي نو هغه ته به مؤمن کوم ناپوه وایي، دوهم دا چې ددغه صحابه کرامو د حقانیت، صداقت او فضیلت شاهد خپله قرآن کریم دی، د قرآن کریم منکر هیڅکله مؤمن نه دی، بل دا چې هغه حدیثونه چې په هغو کې د حضرت علي ﷜ څخه پرته د درو خلفاء راشده فضائل او مناقب هم منقول دي د هغو شمېر ډېر زیات دی او هغه حدیثونه د ډېرو طریقو او زیاتوب په سبب متواتر بالمعنی ګرځول سوي دي نو ددغه حدیثونو او روایتونو مفهوم او معنی او مدلول او مضمون څخه انکار د کفر په ډله کې

راځي او دا خبره باید په ذهن کي وي چي ددغه درجې د حدیثو د استناد او اعتبار څخه په مجتهدینو امامانو کي هیڅا هم اختلاف نه دی کړی بلکه حضرت امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه چي په مجتهدینو امامانو کي ستر مقام لري ، خبر واحد ته هم پر قیاس باندي ترجیح ورکوي تر دې چي د صحابه کرامو اقوالو ته هم ، نو څه چي متواتر بالمعنی حیثیت لرونکي احادیث.

راځئ ! تر ټولو مخکي قرآن کریم وګورو چي د الله جل جلاله د کلام څخه موږ ته د صحابه کرامو په اړه ، او صحابه کرامو یا د رسول الله ﷺ یو صحابي ته د بد ویونکو او لعنت کوونکو په اړه څه لارښوونه تر لاسه کیږي :

۱ : الله جل جلاله د صحابوو څخه راضي کېدل او خوشحاله کېدل بیان کړي دي لکه څرنګه چي په دغه آیت کریمه کي راغلي دي :

لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ

ژباړه: بېله شکه الله د هغه مسلمانانو څخه راضي او خوشحاله سو کله چي د دغه کسانو ستاسو سره د درختي لاندي بیعت کوی .

په یو بل ځای کي داسي فرمایي :

وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ

ژباړه: او کومو مهاجرینو او انصارو چي د ایمان په راوړلو کي تر ټولو سبقت کړی دی (او په پاته امت کي چي) څو مره خلګ په اخلاص سره د هغوی پیروان دي ، الله جل جلاله د هغوی ټولو څخه راضي او خوشحاله سو .

نو الله جل جلاله په خپل کتاب کي د کومو خلګو تعریف وکړ ، د چا څخه چي یې خپله رضا او خوشحالي څرګنده کړل او د چا چي یې لوړه درجه او مقام وښودی ، پر هغوی دغه خلګ (روافض او شیعه ګان) لعنت کوي بلکه هغوی غاصب او کافر ګڼي ، په دغه دواړو خبرو کي بالکل تضاد دی نو دا خلګ هغه صحابه کرامو ته په بد ویلو سره او پر هغوی په لعنت کولو سره د قرآن کریم مخالفت کوي او د قرآن کریم مخالفت کوونکي کافر دی ځکه هغوی د اسلام څخه خارج کړل سول .

۲ : د خلفاء راشدینو خلافت د قرآن کریم څخه ثابت دی په دې توګه چي فرمایل سوي دي :

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ

ژباړه: اې مؤمنانو! په تاسو کي چي کومو خلگو ایمان راوړ او نیک عمل یې وکړ د هغوی سره الله ﷻ وعده کوي چي هغوی ته به د مځکي پر مخ اقتدار او حکومت ورکړي.

مستندو او معتبرو مفسرینو وضاحت کړی دی چي دغه آیت د خلفاء راشدینو پر خلافت باندي مبني د صداقت او صحت کېدو څرګند دلیل دی چي په آیت کي د ذکر سوې وعدې مطابق کومو خلګو ته چي پر مځکه باندي حکومت او اقتدار په برخه سو او د دغه آیت مطابق د ایمان او عمل صالح خاوندان وه هغوی همدغه خلفاء راشدین دي کوم خلک چي د دوی خلافت صحیح او پر حق نه مني هغوی د قرآن کریم په تردید او تغلیط کولو په سبب د ایمان څخه خارج ګرځول کیږي ځکه چي په دغه آیت کي مخکي دا هم څرګنده سوې ده چي: من کفر ذلک فاولئک هم الفاسقون، چا چي کفر وکړ نو هغه فاسقان دي او د قرآن کریم په اصطلاح کي د فاسق څخه مراد فاسق کامل دی او فاسق کامل کافر ته وایي ځکه هغوی فاسقان دي، ددې مطلب دادی چي هغوی کافران دي، ددې خبري دلیل چي د قرآن په اصطلاح کي د فاسق څخه مراد فاسق کامل دی، دغه آیت دی:

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّٰهُ فَأُولَـٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ

ژباړه: او کوم څوک چي د الله ﷻ د نازل سوي حکم مطابق عمل ونه کړي نو داسي خلک بالکل فاسقان (یعني کافران) دي.

۳: قرآن کریم صحابه کرامو ته صادق یعني رښتوني ویلي دي لکه څرنګه چي په دغه آیت کریمه کي ذکر سوي دي:

لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَيَنصُرُونَ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ

ژباړه: او دغه اړو مهاجرینو (په خاصه توګه) حق دی کوم چي د خپلو کورو څخه او د خپلو مالو څخه (په زور او ظلم) بېل کړل سول، هغوی دا لله ﷻ د فضل (یعني جنت) او رضا غوښتونکي دي او هغوی د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ (د دین) مرسته کوي او همدغه کسان رینښتوني دي.

ټولو صحابه کرامو به حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ته په یا خلیفه الله، ویلو سره مخاطب کوی

مگر شيعه هغوی ته كاذب يعني دروا غجن وايي، څرگنده ده چي د صادق او كاذب په منځ كي څرگند فرق دی كوم څوک چي هغوی ته كاذب وايي هغه په اصل كي د قرآن كريم ترديد او مخالفت كوي او كه دا كفر نه وي نو څه دي ؟

۴: صحابه كرام كامياب دي، او دهغوی كامياب كېدل د قرآن كريم د نص څخه ثابت دي چي دهغوئ په حق كي (اولئک هم المفلحون) او هم دغه خلگ كامياب دي، فرمايل سوي دي، نو كوم خلگ چي د دغه نص خلاف هغوی ته دا وايي چي اولئک هم الخاسرون، دغه خلگ ناكام او تاوانيان دي، نو د قرآن كريم دغه مخالفينو ته د اسلام څخه وتلي څرنگه نه ويل كيږي.

۵: الله ﷻ په ډېرو ځايو كي په خپل كلام كي د صحابه كرامو ښېگڼي بيان كړي دي او ځای پر ځای يې تعريف او توصيف سره د دوی ذكر كړی دی د مثال په توگه يو ځای ارشاد دی :

مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا.

ژباړه: محمد (ﷺ) د الله ﷻ رسول دی او كوم خلگ چي د دوی ملگري دي هغوی د كافرانو په مقابله كي تېز او په خپلو كي مهربان دي ، اې مخاطب! ته به دوی وينئ چي كله ركوع كوي او كله سجده كوي ، د الله ﷻ فضل او رضا تر لاسه كولو كي لگيدلي دي چي د هغه آثار د سجدې د تاثير په وجه دهغوی پر مخونو ښكاره دي، ددوی دغه اوصاف په تورات كي دي او په انجيل كي د دوی وصف دادی چي څرنگه كښت خپل تيغ راباسي بيا يې قوي كړي بيا هغه نوره غټه سي بيا پر خپل زور ودريږي چي كښت كوونكو ته ښه معلوميږي چي په دې سره كافرانو ته غصه ورسي ، الله ﷻ د دغه صحابوو سره چي ايمان يې راوړی دی او نيک كارونه كوي د مغفرت او اجر عظيم وعده كړې ده .

نو دداسي خلگو په اړه څه ويل كيدای سي چي د قرآن كريم د دومره ستري شاهدۍ سربېره صحابه رسول ته بد وايي او هغوی ملعون گرځوي او په دغه آيت كي د صحابه كرامو چي كوم وصف بيان سوی دی چي هغوی د كفارو په مقابله كي تېز او سخت دي مگر په خپلو كي نرم او مهربان دي ددې څخه ثابته سول چي كوم څوک صحابوو ته په خپلو كي بې ميني او بې مهربانه

او د یو بل سره دښمني کوونکي ګڼي (لکه چې د شیعه ګانو وینا ده) نو هغوی د قرآن کریم منکر دي ، همدارنګه کوم څوک چې د صحابوو سره بغض او حسد لري او دهغوی په اړه په غضب کې اخته وي نو خپله پر هغه باندې د کفر اطلاق مذکور دی ځکه د (لیغیظ بهم الکفار) څخه دا مطلب څرګندیږي چې د صحابوو په اړه د غیظ او غضب اظهار او هغوی ته غصه کېدل د کافرانو کار دی، د دغه آیت څخه د هغو خلګو تردید هم کیږي چې وایي چې صحابه د رسول الله ﷺ په زمانه کې که څه هم د ښه عقیدو او اعمالو خاوندان وه مګر د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته بې دینه سول ، څرګنده ده چې د الله ﷻ له خوا د مغفرت او اجر عظیم وعده د هغه کسانو لپاره وي چې تر مرګه پوري پر ایمان او عمل صالح قائم وي چې هغوی ته تر آخري وخت پوري د ایمان او عمل صالح توفیق تر لاسه کیږي، اوس که څوک د هغوی په اړه داسې خبره کوي نو نه یوازي دا چې هغه د نص قرآن خلاف خبره کوي بلکه العیاذ بالله، الله ﷻ ته د جهل او بې علمی نسبت هم کوي.

۶: کومو کسانو چې مخلفین اعراب (وروسته پاته کېدونکي صحرایان) د جهاد لپاره راوبلل، هغه خلیفه اول حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دی ، پر دې خبره نه یوازې دا چې د ټولو اهل سنت اتفاق دی بلکه خپله شیعه ګانو ته هم د انکار او اختلاف ګنجائش نسته، د مخلفین اعراب په اړه قرآن کریم داسې فرمایلي دي :

قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ الْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ فَإِن تُطِيعُوا يُؤْتِكُمُ اللَّهُ أَجْرًا حَسَنًا وَإِن تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا

ژباړه: تاسو هغه وروسته پاته کېدونکي صحرانیانو ته وواياست چې ډېر ژر به تاسو له داسې خلګو سره (د جګړې کولو) په لور وبلل سئ چې سخته جګړه کوونکي به وي چې یا به د هغوی سره جګړه کوئ یا هغوی مسلمانان سي، که تاسو پیروي کوئ نو تاسو ته به الله ﷻ ښکه بدله درکړي او که تاسو مخ اړوئ لکه چې تر دې مخکې مو سرغړونه کړې ده نو دردناک عذاب به درکړي.

په دغه آیت کې د ذکر سوي وړاند ویني مطابق هغه مخلفین اعراب د اسلام د دښمنانو مقابلې ته د جنګ لپاره حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کې وبلل ، په دې اعتبار د دغه آیت څخه نه یوازې دا چې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت ثابتیږي لکه څرنګه چې ابن ابي حاتم، ابن قتیبه، شیخ ابوالحسن او امام ابوالعباس رحمهم الله او نورو هم وضاحت کړی

دی بلکه دا خبره هم ثابتيږي چي د جهاد لپاره د هغه د بلني څخه سرغړونه کوونکي ته دردناک عذاب ورکړل کيږي بلکه د کوم چا په اړه چي د قرآن کريم دومره لويه خبره ثابتيږي پر هغه لعنت کونکو او هغه ته د کافر ويونکو لپاره د خپل حشر څخه بېرېدل پکار دي .

۷ : د دغه صحابه کرامو جنتي کېدل د نصوص قطعيه څخه ثابت دي لکه چي په قران کريم کي الله جَلَّ جَلَالُهُ داسي فرمايلي دي :

لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ .

ژباړه : په تاسو کي چي کومو کسانو د مکې د فتح څخه مخکي (د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کي) مصرف کړی دی او جګړه يې کړې ده ، برابر نه دي د هغه خلګو سره په درجه کي ، د هغه کسانو څخه لوی دي چا چي د مکې د فتح څخه وروسته مصرف وکړ او جګړه يې وکړل او الله جَلَّ جَلَالُهُ د نيکۍ وعده د ټولو سره کړې ده ، نو د دغه صحابه کرامو د جنتي کېدو څخه انکار کول د نصوص څخه انکار کوي او دا کفر دی .

۸ : الله جَلَّ جَلَالُهُ د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په شان کي داسي فرمايلي دي :

ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا .

ژباړه : (د مکې څخه مدينې منورې ته د هجرت په وخت کي) په دوو کسانو کي يو رسول الله صلى الله عليه وسلم کله چي دواړه د ثور په غار کي وه ، کله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل ملګري ته وفرمايل : ته فکر مه کوه ، يقينا الله جَلَّ جَلَالُهُ زموږ سره دی .

الله جَلَّ جَلَالُهُ په خپل کلام کي د کوم کس يادونه چي د خپل رسول په ملګرۍ او قربانۍ په حيثيت سره وکړل هغه د بد ويونکو پايله به څه وي د دې اندازه خپله لګول پکار دي .

۹ : د قرآن کريم دغه آيت کريمه :

وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ .

ژباړه : او کوم خلک چي په تاسو کي (ديني) بزرګي والا او (دنياوي) پراخي والا دی .

په دغه آيت کريمه کي چي کوم ذات ته اشاره کول مقصد ده هغه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ذات مبارک دی لکه څرنګه چي محققو مفسرينو او د اسلام علماؤ وضاحت کړی دی نو د هغوی د فضل څخه انکار کول د قرآن کريم په ډاګه رد کول دي .

۱۰: د الله ﷻ ارشاد دی:

وَسَيُجَنَّبُهَا الأَتْقَى الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى وَمَا لأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَى إِلاَّ ابْتِغَاء وَجْهِ رَبِّهِ الأَعْلَى . وَلَسَوْفَ يَرْضَى .

ژباړه: او د هغه (دوزخ) څخه داسي کس ليري ساتل کيږي چي لوی پرهيزګار دی چي خپل مال ددې لپاره ورکوي چي پاک سي او بېله د خپل پروردګار د رضا څخه د هغه پر ذمه د چا احسان نه وو چي د هغه بدله ورکول مقصد وو او دغه سړی به ډېر ژر خوشحاله سي (يعني په اخرت کي به داسي نعمتونه ورکړل سي).

دغه آياتونه هم د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په اړه دي، د حضرت علي رضي الله عنه په اړه نه سي کيدای، د تفسير ماهرين ددغه حقيقت سره سم ددغه آياتو محمول او مدلول حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ګرځولی دی او ثابته کړې يې ده چي ددغه آياتو شان نزول د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه واقعه ده چي هغه محض د الله ﷻ د رضا لپاره خپل ډېر مال مصرف کړ او حضرت بلال رضي الله عنه او نور کسان يې د کافرانو څخه رانيول او ازاد يې کړل، نو کوم چا ته چي الله ﷻ لوی پرهيزګار وايي هغه به د رحمت او رضوان مستحق وي که د لعنت او خذلان مستوجب؟

اوس صحيح حديثونه کتل پکار دي چي د هغو څخه ثابتيږي د روافضو کفر يا ايمان؟ څرګنده دي وي چي دلته پر څو حديثو باندي اکتفاء کيږي، حال دا چي په دې ډېره بې شمېره حديثونه نقل سوي دي:

عن عويمر ابن ساعدة انه ﷺ قال ان الله اختارلي واختار لي اصحابا فجعل لي منهم وزراء وانصارا واصهارا فمن سبهم فعليه لعنة الله والملائكة والناس اجمعين ولايقبل الله منه صرفا ولا عدلا. (طبراني، حاکم)

ژباړه: د عويمر ابن ساعد رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ زه ټاکلی يم او زما لپاره يې ملګري او رفيقان هم ټاکلي دي، او بيا د هغه ملګرو څخه څوک يې زما وزير، څوک مرسته کوونکي او څوک زما قريب وګرځوی نو کوم څوک چي هغوی ته بد ووايي پر هغه د الله ﷻ لعنت، د ملائکو لعنت او د ټولو خلکو لعنت دي وي، الله ﷻ به د هغوی توبه قبوله نه کړي او نه د هغوی فديه، يا دا چي نه به يې نفل قبلوي او نه فرض.

عن علي عن النبي ﷺ قال سياتي من بعدي قوم يقال لهم الرفضة فان ادركتهم فاقتلهم فانهم مشركون قال قلت يا رسول الله ما العلامة فيهم؟ قال يفرطونک بماليس فيک ويطعنون على السلف. دار قطني.

ژباړه: حضرت علي ﷛ له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ډېر ژر به زما وروسته یوه ډله پیدا سي چي رافضي به ورته ویل کیږي که تاسو هغه تر لاسه کړئ نو قتل یې کړئ ځکه چي هغوی به مشرکان وي، حضرت علي ﷛ وایي: ما عرض وکړ چي اې دالله رسوله! د هغوی پېژندنه څه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه خلک به تا د داسي شیانو په ذریعه لوړ ښیي چي په تا کي به نه وي او پر صحابه کرامو به لعن او طعن کوي. دار قطني.

د دارقطني په یو بل روایت کي دا الفاظ دي:

وذلک یسبون ابابکر وعمر ومن سب اصحابي فعلیه لعنة الله والملائکة والناس.

ژباړه: او هغه کسانو د مشرک ویلو وجه داده چي هغوی به ابوبکر او عمر ﷠ ته بد وایي او کوم څوک چي زما صحابوو ته بد وو وایي نو پر هغه دي د الله ﷻ، د ملائکو او خلکو لعنت وي.

همدارنګه روایت د حضرت انس، حضرت عیاض انصاري، حضرت جابر، حضرت حسن ابن علي، حضرت ابن عباس، بي بي فاطمة الزهرا، او بي بي ام سلمه ﷡ څخه هم نقل سوی دی، او دا هم راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

من ابغضهم فقد ابغضني ومن اذا هم فقد اذاني ومن اذاني فقد اذی الله.

ژباړه: کوم څوک چي صحابه کرام خپل دښمن وګڼي نو هغه په حقیقت کي زه خپل دښمن وګڼلم او څوک چي هغوی ته تکلیف ورکړي نو هغه په حقیقت کي ما ته تکلیف راکړ او چا چي ما ته تکلیف راکړ نو هغه په حقیقت کي الله ﷻ ته تکلیف ورسوی.

ابن عساکر ﷫ دا حدیث نقل کړی دی:

ان رسول الله ﷺ قال: حب ابي بکر وعمر ایمان وبغضهما کفر.

ژباړه: رسول الله ﷺ وفرمایل: د ابوبکر او عمر ﷠ سره مینه لرل ایمان دی او د هغوی سره بغض لرل کفر دی.

عبدالله ابن احمد د حضرت انس ﷛ څخه مرفوعا دا روایت نقل کړی دی:

اني لارجو لامتي في حبهم لابي بکر وعمر ما ارجو لهم في قول لااله الاالله.

ژباړه: بېله شکه زه د خپل امت لپاره د هغوی د میني په عوض کي چي هغوی یې د ابوبکر او عمر ﷠ سره لري د هغه امید لرم چي د هغوی لپاره د کلمې: لااله الاالله، په عوض کي تاکل سوی دی.

د محبت او بغض په منځ کي ضد دی ځکه د ابوبکر او عمر ﷠ سره د مینه لرلو چي دا حال معلوم سو چي د هغه اجر، سلامتیا، ایمان، په دنیا او آخرت کي د کامیابۍ په صورت کي دی

نو په منطقي توګه دا نتیجه راووتل چي د هغوی سره بغض او نفرت کول کفر، او د هغوی پایله په دنیا او آخرت کي د ذلت او تباهی په صورت کي ده .

د دغه حدیثو څخه وروسته اوس دا کتل هم ضروري دي چي په دې اړه د دین د امامانو او د شریعت د لاربنوونکو ارشادات او ویناوي څه دي، تر ټولو مخکي باید هغه اصول په ذهن کي وي چي د مؤمنانو تکفیر یعني یو مؤمن او مسلمان ته کافر ویل خپله کافر دی ځکه چي په صحیح حدیث کي نقل سوي دي چي کوم څوک یو چا ته کافر ووايي یا عدو الله (د خدای دښمن) ورته وايي او په حقیقت کي داسي نه وي نو هغه کفر په بېرته راګرځېدو سره خپل پر ویونکي باندي راګرځي، د صحابه کرامو مؤمن او مسلمان کېدل قطعي دي ځکه کوم څوک چي هغوی ته کافر وايي هغه کفر خپله هغه ته راګرځي ، دلته دا خبره ذکر کول مناسب دي چي روافض نه یوازي دا چي د صحابه کرامو د تکفیر او د حضرت عائشي رضي الله عنها د قذف مرتکب کېږي بلکه دغه دواړه شیان چي د کفر د سترو موجباتو څخه دي په درجو کي د پرمختګ سبب یې هم مني حال دا چي خبره د ټولو په نزد منل سوې ده چي محض د معصیت استحلال کفر دی ، څه دا چي کفر دي د درجو د پرمختګ موجب ومنل سي .

امام ابو زرعه رضي الله عنه چي د امام مسلم رحمة الله علیه د سترو شیوخو څخه دی ، ویلي دي: که یو څوک د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کي د یو چا سپکاوی وکړي نو بېله شکه هغه زندیق دی او د دې وجه دا ده چي قرآن کریم حق دی او رسول الله ﷺ چي څه راوړي دي هغه حق دي او دا ټول د نقل او روایت په ذریعه موږ ته را رسونکي بېله صحابه کرامو بل څوک نسته، کوم څوک چي په دغه صحابوو کي عیب او نقص راباسي هغه په اصل کي کتاب او سنت باطل او لغو ګرځولو اراده وکړل، په دې اعتبار تر ټولو لوی عیب دار او ناقص خپله هغه سړی وګرځېدی او په هغه د زندقه او ضلالت حکم صحیح کېږي .

د حضرت سهل ابن عبدالله تستري رحمة الله علیه وینا ده: هغه چا ته پر رسول الله ﷺ ایمان راوړونکی نه سي ویل کیدای چا چي د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو عزت ونه کړ .

په محیط کي د حضرت امام محمد رحمة الله علیه څخه منقول دي چي په رافضیانو پسي لمونځ کول جائز نه دي ځکه چي هغوی د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت منکر دي .

په خلاصه کي لیکلي دي : من انکر خلافة الصدیق فهو کافر، څوک چي د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت څخه انکار وکړي نو هغه کافر دی .

په مرغیناني کي ذکر سوي دي چي په اهل هوا او بدعتیانو پسي لمونځ کول مکروه دی او

په رافضیانو پسې ناجائز دی.

قاضي رحمة الله عليه په شفاء کي ليکلي دي چي د حضرت مالک ابن انس رحمة الله عليه او نورو وينا ده:

من ابغض الصحابة وسبهم فليس له في المسلمين حق.

ژباړه: څوک چي د صحابه کرامو سره بغض ولري او هغوی ته بد وايي نو هغه د مسلمانانو د فئ په مال کي هيڅ حق نه لري.

د هغوی دا وينا هم ده:

من غاظه اصحاب محمد ﷺ فهو کافر، قال الله تعالى ليغيظ بهم الكفار.

ژباړه: چا چي د محمد ﷺ د اصحابو سره بغض وکړ، هغه د الله جل جلاله د دغه ارشاد: چي په هغه سره کافر په غصه کړي، په سبب کافر دی.

قاضي ابوبکر باقلاني رحمة الله عليه هم داسي خبره کړې ده، او بيهقي رحمة الله عليه د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه څخه هم داسي وينا نقل کړې ده بلکه فقهاء حنفيه چي شيعه ګانو ته کافر ويلي دي د هغه بنياد د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه دا قول دی، دا خبره په خاصه توګه د يادوني وړ ده چي د شيعه ګانو او رافضيانو د عقيدو تر ټولو زيات پېژندونکی حضرت امام اعظم رحمة الله عليه دی ځکه چي هغه کوفي دي او د رفض او تشيع اصل منبع او مرکز کوفه پاته سوې ده، که امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه د خلافت صديق د منکر تکفير کړی دی نو پر ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما يا يو بل صحابي باندي لعنت کونکي به د هغوی په نزد په درجه اولی کافر وي.

امام مالک رحمة الله عليه د نبي کريم ﷺ په صحابوو کي چا ته هم د بدويونکي په اړه د حکم بيانولو سره داسي فرمايلي دي:

فان قال کانوا على ضلال او کفر قتل.

ژباړه: که هغه سړی دا ووايي چي هغوی (صحابه کرام) پر ګمراهي وه يا کافران وه نو هغه سړي دي وو وژل سي.

د حضرت امام احمد ابن حنبل رحمة الله عليه د قول او نورو ارشاداتو ته په کتلو سره دا معلومېږي چي هغوی هم د روافضو د ارتداد قائل وه، په هر حال د روافضو په کفر دا څو دليلونه دي، که څه هم دديې څخه ماسوا نور هم ډېر دليلونه سته مګر د اوږدوالي د بيرې څخه د دغه څو دليلو په راوړلو اکتفاء سوې ده، او دا هم ځکه چي عام مسلمانان وړونه د شک او شبهې ښکار نه سي' هغوی ته د صحابه کرامو عظمت او هغوی ته د بدويونکو خرابي معلومه سي، د رافضيانو د دوکې څخه هوښيار اوسي، خپله عقيده خرابه نه کړي د هغوی د ناستي او ولاړي څخه ځان

وساتي او د هغوی سره هر ډول تعلق پرې کړي، او که چیري د صحابه کرامو د فضائل او مناقبو سره متعلق ددغه آیاتو او حدیثو په لېدو سره یو شیعه ته توفیق الهي په برخه سي نو هغه به په توبه کولو سره خپل عاقبت درست کړي .

یو اعتراض او دهغه جواب: کیدای سي یو رافضي دا اعتراض وکړي چي په مشهور کتاب شرح عقائد نسفي کي دا خبره اسانه نه ده ښودل سوې چي شیخینو رحمهما الله ته بد ویونکي دي کافر وګرځول سي او صاحب جامع الاصول او صاحب مواقف شیعه ګان په اسلامي ډلو کي شمېرلي دي، همدارنګه شیخ ابوالحسن اشعري او امام غزالي رحمة الله علیهما هم دا مناسب نه دي ګڼلي چي اهل قبله ته دي کافر وویل سي ، کوم خلک چي شیعه ګانو ته کافر وایي دهغوی قول د سلف اهل سنت موافق نه دی؟ ددې جواب دادی چي بېله شکه هغه د امت بزرګانو او د علم اساطینو د شیعه ګانو په تکفیر کي د احتیاط څخه کار اخیستی دی او ددغه ډلي د اسلام د دائرې څخه په ایستلو کي یې تامل کړی دی مګر ددې وجه دا نه ده چي دغه حضراتو د شیعه ګانو ټول عقائدِ او نظریات او د هغوی احوال او معاملات په پوره توګه پېژندو سربېره د هغوی د تکفیر څخه اعتراض کړی دی،

بلکه اصل خبره داده چي د هغو بزرګانو په ذهن کي د شیعیت مسئلې په پوره توګه واضحه سوي نه دي او د شیعه ګانو متعلق د ټولو شیانو حقیقي اوواقعاتي حیثیت په پوره توګه د هغوی په علم کي نه وو چي د هغه په وجه هغوی د شیعه ګانو په باره کي ددغه خیال او نظر اظهار وکړ، چي دهغوی د هغه وخت د علم او معلوماتو مطابق وو او همدارنګه ډېر مثالونه تر لاسه کیږي چي سترو صحابه کرامو په ځینو مسئلو کي اشتباه کړې ده او دهغوی قول یا عمل د هغه مسائلو د حقیقي اړخ څخه مختلف ظاهر سو، د مثال په توګه حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه ته په لمانځه کي د اطباق یدین په مسئله کي اشتباه کېدل یا حضرت علي رضي الله عنه ته د بیع امهات اولاد او د زندیقانو په اور کي د سوځلو په مسئله کي اشتباه کېدل او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته د جنب د تیمم په اړه اشتباه کېدل نو د ذکر سوو بزرګانو نظر محض د هغوی د تکفیر څخه احتیاط وکړ که د هغوی په عمل کي د شیعه ګانو هغه ټول عقائد او حالات په تفصیل سره راسي چي دهغوی د اهل قبله او کلمه ویلو صریح خلاف دي او د هر سړي د تکفیر لپاره د واضح ثبوت او دلیل حیثیت لري نو یقینا هغه بزرګان به هم د هغوی د تکفیر قائل سوي وای ، حال دا چي خلیفة المسلمین حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د زکوة د فرضیت او ادا کولو څخه د انکار کونکو خلاف د توري پورته کولو فیصله وکړل ، نو حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت

علي رضي الله عنه د هغه خلګو د کلمه ويلو په وجه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په مخکي دهغوی شفاعت وکړ او هغوی وويل: موږ د دغه خلګو خلاف جنګ او قتال څرنګه وکړو حال دا چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:

امرت ان اقاتل الناس حتی يقولوا لا اله الا الله.

ژباړه: ما ته د الله جل جلاله له خوا حکم سوی دی چي زه د خلګو سره جګړه وکړم تر ډي چي هغوی لا اله الا الله، ووايي.

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په پوره عزم سره جواب ورکړ چي زه به د هر هغه سړي پر خلاف جنګ وکړم چي د لمانځه او روژې په منځ کي فرق کوي، حضرت عمر رضي الله عنه وويل: ما ولېدل چي په دغه مسئله کي الله جل جلاله، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته شرح صدر ورکړی وو او اوس زه ويلای سم چي حق هغه دی کوم چي ابوبکر صديق رضي الله عنه وايي.

دا هم کيدای سي چي ذکر سوو بزرګانو د خپلو اقوالو او نظرياتو اظهار د هغه شيعه ګانو په اړه فرمايلي وي چي په هغه زمانه کي داسي خراب او فاسدو عقيدو والا نه وه لکه څرنګه چي وروسته شيعه ګان او رافضان پيدا سول، ددې تائيد په مرقاة کي د ملا علي قاري رحمة الله علیه ددغه الفاظو څخه هم کيږي:

قلت وهذا في حق الرافضة والخارجة في زماننا كانهم يعتقدون كفرا اكثر اكابر الصحابة فضلا من سائر اهل السنة والجماعة فهم كفرة بالاجماع بلا نزاع.

ژباړه: زه وايم چي دا خبره زموږ د زمانې د رافضيانو او خارجيانو په حق کي صادقيږي ځکه چي ددغه ډلي خلګ په سترو صحابه کرامو کي اکثر د کفر عقيده لري او ټول اهل سنت والجماعت هم کافر ګڼي نو ددغه ډلو پر کافر باندي اجماع ده چي په هغه کي هيڅ اختلاف نسته.

د صحابه کرامو وجود د امت لپاره د امن باعث وو

﴿۵۷۵۵﴾: وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَفَعَ يَعْنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابوبرده رضي الله عنه د خپل پلار ابوموسی رضي الله عنه څخه نقل کوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم پورته کړ

رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ وكان كثيرا مما يرفع راسه الى السماء فَقَالَ النُّجُومُ أَمَنَةٌ

خپل سر مبارک د آسمان خوا ته او رسول الله صلی الله علیه وسلم به سر مبارک د اسمان طرف ته ډېر پورته کوی او وه يې فرمايل: ستوري د آسمان لپاره د امن سبب وي

لِلسَّمَاءِ فَإِذَا ذَهَبَتِ النُّجُومُ أَتَى السَّمَاءَ مَا تُوعَدُ وَأَنَا أَمَنَةٌ لِأَصْحَابِي فَإِذَا

كله چي دا ستوري ولاړ سي نو د آسمان لپاره به هغه شي راسي چي د هغه وعده سوې ده او زه د خپل اصحابو لپاره د امن سبب یم چي

ذَهَبْتُ أَتَى أَصْحَابِي مَا يُوعَدُونَ وَأَصْحَابِي أَمَنَةٌ لِأُمَّتِي فَإِذَا ذَهَبَ أَصْحَابِي أَتَى أُمَّتِي مَا يُوعَدُونَ. رواه مسلم.

زه ولاړ سم نو زما پر اصحابو باندي به هغه شی نازل سي چي د هغه وعده سوې ده (خپل منځي اختلاف) او زما اصحاب زما د امت لپاره د امن سبب دي او هر کله چي زما اصحاب ولاړ سي نو زما پر امت به هغه څه نازل سي چي د هغه وعده سوې ده (یعني بدعت او فساد). مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۹۶۱\۴، رقم: ۲۰۷-۲۵۳۱.

د لغاتو حل: النجوم امنة: اي امان ومرحمة.

تشريح: د ستوري لفظ لمر او سپوږمۍ ته هم شامل دی او د ستورو له تللو څخه مراد د لمر او سپوږمۍ او ټولو ستورو بې نوره کېدل، ماتېدل او را لوېدل دي، لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي:

اذا الشمس كورت واذا النجوم انكدرت.

ژباړه: کله چي (د قيامت په ورځ) لمر بې نوره سي او ستوري په ماتېدو سره را ولوېږي.

د آسمان لپاره چي کوم شی موعود او مقدر دی: ددې څخه مراد د قيامت په ورځ د آسمانو چاودل، ټوټې کېدو سره د پمبوو په شان الوتل دي، ددې خبر په قرآن کريم کي ورکړل سوی دی: (اذا السماء انفطرت) کله چي آسمان وچوي، او: (اذا السماء انشقت) او کله چي آسمان ټوټې ټوټې سي، په الفاظو کي ورکړل سوی دی.

د صحابه کرامو لپاره موعود او مقدر شی: ددې څخه مراد فتنه، فساد، اختلافات او جګړې دي او د ځينو اعرابي قبائلو مرتد کېدل دي، همدارنګه د امت لپاره موعود او مقدر شی څخه مراد د بدي عقيدې او د بدعملۍ د فتنو را پورته کېدل، د بدعتو زياتېدل، پر مسلمانانو باندي ديني او ملي پېښو واقع کېدل، د اهل خير او برکت له دنيا څخه پورته کېدل، اهل شر باقي پاته کېدل او پر هغه اهل شر باندي قيامت راتلل دي، نو په دې کي دې ته اشاره ده

چي د اهل خير وجود د شر د لاري تر ټولو لوی خنډ دی ، کله چي اهل خير ولاړ سي نو شر ته د راتللو موقع تر لاسه کيږي نو د رسول الله ﷺ وجود د صحابه کرامو لپاره د شر څخه د ساتني ضامن وو ، په يوې ټولنه کي د فتنې پيل د مختلف الذهن او مختلف الخيال خلګو د يو بل پر خلاف رايي درلودلو په وجه کيږي ، د رسول الله ﷺ په زمانه کي دا صورت حال وو چي کله به په يوه مسئله کي اختلاف پيدا سو نو رسول الله ﷺ به هغه اړخ بيانوی کوم چي به د حقيقت مطابق وو او ټول صحابه کرام به پر هغه متفق کېدل ، په دغه صورت کي د فتنې پيدا کېدو سوال هم نه پيدا کيدی ، کله چي رسول الله ﷺ له دنيا څخه رخصت سو نو صورت حال مختلف سو ، د رسول الله ﷺ د صحبت څخه د محرومو مسلمانانو کثرت سو ، د خپل رايي رجحان پيدا سو او ددغه خپلي رايي بنياد ذاتي اغراض او نفساتي خواهشات وه ځکه فتنه او فساد ظاهر سو ، هغه وخت ډېر صحابه کرام موجود وه چي په يوه معامله کي به يې خپل ذاتي خواهش او رجحان ته ارزښت نه ورکوی بلکه په هره معامله او هره مسئله کي د رسول الله ﷺ د قول يا فعل يا دلالت سره به يې په سند کي د يو چا قول وړاندي کوی او د رسول الله ﷺ د صحبت او ملګرتيا د انوارو څخه معمور وه ځکه د هغوی وجود په هر حال دومره د خير باعث وو چي د فتنو او خرابو تياري زياتي خپري نه سوې مګر د هغه صحابه کرامو وجود هم چي له دنيا څخه رخصت سو نو په انوارو او برکاتو کي ډېره کمي راغلل او د تيارو د خپرېدو موقع پيدا سول ، دا حقيقت رسول الله ﷺ د ستورو او آسمان د مثال په ذريعه د مخکي څخه بيان کړ او داسي دي لکه څرنګه چي د آسمان وجود تر هغه وخته پوري وي تر څو چي سپوږمۍ ، لمر او ستوري د خپلو رڼاوو په خپرولو سره موجود وي ، کله چي دا ستوري ختم سي نو د آسمان د وجود د خاتمې وخت به راسي او کله چي د آسمان وجود ختم سي نو ټول کائنات به د عدم په تياره کي ورک سي ، نو صحابه کرام د هغه ستورو په ډول دي چي د هغوی د وجود څخه ټولو کائناتو ته رڼا رسيږي او ځکه رسول الله ﷺ وفرمايل :

اصحابي كالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم .

ژباړه : زما صحابه د ستورو په ډول دي تر څو چي د هغوی پيروي کوئ نو سېده لاره به تر لاسه کړئ .

د صحابه کرامو برکت

﴿۵۷۵۲﴾ : وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيَقُولُونَ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ

يو زمانه به داسي راسي چي د خلکو يو ډله به جهاد کوي ، خلک به په خپل منځ کي پوښتني کوي ايا په موږ کي داسي څوک هم سته چي

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ

د رسول الله ﷺ په صحبت کي پاته سوی وي ، خلک به وايي هو سته نو د هغه خلکو لپاره به ښار او قلعه فتح کړل سي ، بيا به پر خلکو يو داسي زمانه راسي چي

زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيُقَالُ هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ أَصْحَابَ

هغوی به جهاد کوي او په خپلو کي به يو بل څخه پوښتني کوي ايا په تاسو کي يو تابعي سته ،

رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ يَأْتِي عَلَى

خلک به وايي هو سته نو خلک به ښارونه او قلعي فتح کړي ، بيا به پر خلکو يو داسي زمانه

النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيُقَالُ هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ مَنْ

راسي چي د خلکو يو ډله به غزا کوي او په خپل منځ کي به پوښتنه کوي ايا په تاسو کي يو تبع

صَاحَبَ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ

تابعي سته ، خلک به وايي هو سته نو د هغوی لپاره به ښارونه او قلعې فتح کړل سي .

لَهُمْ. متفق عليه وفي رواية لمسلم قَالَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يُبْعَثُ مِنْهُمْ

بخاري او مسلم او د مسلم په يوه روايت کي داسي دي چي پر خلکو به يوه داسي زمانه راسي چي په هغه زمانه کي به خلکو ته يو لښکر وليږل سي

الْبَعْثُ فَيَقُولُونَ انْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ فِيكُمْ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ رسول الله

او لښکريان به يو د بل څخه پوښتنه کوي وګورئ چي په موږ کي يو داسي څوک سته چي د

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُوجَدُ الرَّجُلُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ بِهِ ثُمَّ يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّانِي

رسول الله ﷺ صحابي وي، يو سړی به داسي پيدا کړي او د هغه د برکته به يې فتح نصيب سي، بيا به دوهم لښکر وليږل سي

فَيَقُولُونَ هَلْ فِيهِمْ مَنْ رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُفْتَحُ

او لښکر والا به وايي ايا په دوی کي يو داسي ځوک سته چي هغه د رسول الله ﷺ يو صحابي ليدلی وي نو يو سړی به پيدا کړي چي د هغه د برکته به فتحه حاصله کړي،

لَهُمْ ثُمَّ يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّالِثُ فَيُقَالُ انْظُرُوا هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ مَنْ رَأَى مَنْ

بيا به دريم لښکر وليږل سي او وه به ويل سي وګورئ ايا په دوی کي يو داسي ځوک سته چي

رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَكُونُ الْبَعْثُ الرَّابِعُ فَيُقَالُ

هغه يو صحابي ليدلی وي ، بيا به څلورم لښکر وليږل سي او وه به ويل سي

انْظُرُوا هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ أَحَدًا رَأَى مَنْ رَأَى أَحَدًا رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُوجَدُ الرَّجُلُ فَيُفْتَحُ لَهُ.

وګورئ چي په دوی کي يو داسي ځوک سته چي هغه د يو صحابي ليدونکی ليدلی وي نو يو سړی به پيدا کړي او د هغه په سبب به فتح ورپه برخه سي .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۳۱، رقم: ۳۶۴۹، ومسلم ۱۴\۱۹۶۲، رقم: ۲۰۸- ۲۵۳۲.

تشريح: په دغه دواړو روايتو کي د رسول الله ﷺ د هغه معجزې يادونه ده چي رسول الله ﷺ د يو داسي حقيقت وړاندي وينه وفرمايل چي د رسول الله ﷺ وروسته درې يا څلور پېړيو کي رامنځته کېدونکې ده، د دې سره په دغه روايتو کي د رسول الله ﷺ دصحابه کرامو، تابعينو، تبع تابعينو او تبع اتباع تابعينو فضيلت او دهغوی د خير او برکت سبب کېدل هم ذکر سوي دي، په دغه دواړو روايتو کي فرق دادی چي په لومړني روايت کي د درو ډلو يعني صحابه کرامو، تابعينو او تبع تابعينو يادونه ده او د مسلم په نورو روايتو کي د څلورو ډلو يعني صحابه کرامو، تابعينو، تبع تابعينو او تبع اتباع تابعينو يادونه هم ده .

خير القرون کوم قرنونه دي: د بخاري په يو صحيح روايت کي دي چي کوم حديث د خير القرون په اړه روايت دی هلته د څلورو پېړيو ذکر دی، دغه اهل خير په دغه څلورو پېړيو کي ډېر

کامیاب وه او په مخکني درو قرنو کي د اهل خیر او برکت، اهل علم او پوهي زیاتوب وو، د لنډ نظرۍ، ناپوهۍ او فتنې لاره بنده وه ځکه په اکثرو روایتو کي پر دغه درو قرنو باندي اکتفاء سوې ده، په صحیح مسلم کي د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه مرفوعا منقول دي:

خیر الناس القرن الذي انا فیه ثم الثاني ثم الثالث.

ژباړه: رسول الله ﷺ وفرمایل: غوره خلګ هغه دي چي زما په زمانه کي دي، بیا د دوهمي زمانې خلګ او بیا د دریمي زمانې خلګ.

طبراني د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه مرفوعا روایت نقل کړی دی:

خیر الناس من قرني ثم الثاني ثم الثالث ثم تجئ قوم لا خیر فیهم.

ژباړه: غوره خلګ هغه دي چي زما په زمانه کي دي، بیا د دوهمي زمانې خلګ بیا د دریمي زمانې خلګ او بیا کوم قومونه چي راسي نو هغوی به (د مخکې زمانې په ډول) غوره خلګ نه وي.

چا چي د رسول الله ﷺ زمانه لېدلې وي: دا د مسلم د بل روایت الفاظ دي او د هغه څخه معلومېږي چي د تابعي کېدو لپاره دومره کافي دي چي هغه صحابه لیدلي وي لکه څرنګه چي د صحابي کېدو لپاره دومره کافي دي چي هغه د رسول الله ﷺ لېدنه کړې وي، مګر د تابعي کېدو لپاره دا ضروري دي چي هغه ته د صحابه کرامو صحبت او خدمت هم په برخه سوی وي لکه څرنګه چي په لومړني روایت کي د شرف صحبت ذکر دی، په دغه صورت کي به ویل کیږي چي دلته د صحابي د لېدو څخه مراد دادی چي هغه د صحابي په ملګرتیا کي پاته سوی وي.

﴿۵۷۵۷﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

خَيْرُ أُمَّتِي قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ إِنَّ بَعْدَكُمْ قَوْمًا

زما د امت غوره زما د قرن خلک دي (قرن یو دور دی یعني یوه زمانه ده، ځینو څلوېښت کاله، ځینو پنځوس کاله، ځینو اتیا کاله او ځینو سل کاله ټاکلي دي)، بیا هغه خلک غوره دي کوم چي د هغوی سره متصل دي بیا هغه خلک غوره دي چي د هغوی سره متصل دي بیا د دې قرن

يَشْهَدُونَ وَلَا يُسْتَشْهَدُونَ وَيَخُونُونَ وَلَا يُؤْتَمَنُونَ وَيَنْذُرُونَ وَلَا يَفُونَ

څخه وروسته د خلکو یو داسي ډله به پیدا سي چي شاهدي به وایي خو د وی څخه به څوک د شاهدۍ طلب نه کوي او خیانت به کوي امینان کیدلای به نسي او داسي خلک به وي چي نذر به مني او وفا به نه کوي

وَيَظْهَرُ فِيهِمُ السِّمَنُ، وفي رواية و يحلفون ولا يستحلفون. متفق عليه

وفي رواية لمسلم عن ابي هريرة ثم يحلف قوم يحبون السمانة.

په هغوی کې به چاغوالی پیداسي، او په یوه روایت کې داسې الفاظ دي چې بیا به داسې خلک پیداسي چې پرته د قسم ورکولو به قسمونه خوري، بخاري او مسلم، او د مسلم په یوه روایت کې چې د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی دا الفاظ دي چې د دغه خلکو څخه وروسته به یو داسې ډله پیداسي چې چاغوالی به خوښوي.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۳، رقم: ۳۶۵۰، ومسلم ۴\۱۹۶۴، رقم: ۲۱۴- ۲۵۳۵.

د لغاتو حل: السِّمَن: التوسع في الماكل والمشارب (چاغښت)

تشریح: قرن، عهد یا زماني ته وایي چې د هغه اندازه د ځینو حضراتو په نزد څلوېښت کاله، د ځینو په نزد اتیا کاله او د ځینو په نزد سل کاله ده، مګر صحیح دادی چې د قرن اطلاق د میاشتي او کال د تعین په اعتبار نه دی بلکه هر هغه عهد یا زماني ته وایي چې تقریبا پر یو ډول عمر لرونکو باندي مشتمل وي، یعني د قرن لفظ د اقتران څخه ماخوذ دی، داسې مقدر دی چې په هغه کې د هغه زمانې خلک د خپل عمرونو او احوالو په اعتبار یو بل ته نژدې وي، نو د رسول الله ﷺ د قرن څخه مراد د صحابهٔ کرامو قرن دی، د دغه قرن پیل د رسالت څخه کیږي او د هغه آخري زمانه هغه ده تر څو چې یو صحابي هم په دنیا کې ژوندی وو، یعني تر ۱۲۰ هجري کال پوري، دوهم قرن چې د تابعینو قرن دی د ۱۰۰ هجري کال څخه تر ۱۷۰ هجري پوري دی، او دریم قرن چې د اتباع تابعینو قرن دی د تابعینو د قرن څخه وروسته کیږي او تقریبا تر ۲۲۰ هجري کال پوري دی، د دغه قرن څخه وروسته د هغه خاص خیر او برکت لړۍ ختمه سول چې قرن اول (یعني د رسالت او صحابه کرامو زمانه) او د هغه سره متصل دواړو قرنو ته د زمانې فرق په نسبت سره کم او زیات (خیر او برکت) تر لاسه وو، بیا د بدعتونو ظهور پیل سو، د دین په نامه عجیب او غریب شیان پیدا سول، فلاسفه او په نامه پوهانو سر را پورته کړ، معتزله پیدا سول او هغوی د دین د مسح کولو ذمه داري واخیستل، قرآن ته د مخلوق ویلو فتنه را پورته سول چې اهل علم یې له سخت امتحان سره مخامخ کړل د خلکو دیني ژوند کمزوری سو، نوي افکار او خیالات پیدا سول، اختلافات او جګړې خپرې سوې، د آخرت بېره کمه سول او دنیا ته رجحان زیات سو، په احکام شریعت او سنت کې دومره خنډ او تاوان راغلی چې اخلاقي ژوند مجروح

سو او د خلګو هغه حال پیل سو چي د هغه خبر مخبر صادق ﷺ په حدیث کي بیان کړی دی،
چي خپله به شاهدي ورکوي او څوک چي شاهدي ور څخه نه غواړي، د حدیث د دغه الفاظو څخه دا معلومیږي چي بېله شاهدۍ غوښتني شاهدي ورکول یو خراب کار دی، حال دا چي په یو بل حدیث کي دا راغلي دي چي په شاهدانو کي غوره شاهد هغه دی چي شاهدي ورکړي مخکي تر دې چي د هغه څخه د شاهدۍ ورکولو غوښتنه وسي، په ظاهره په دغه دواړو حدیثو کي اختلاف دی مګر په حقیقت کي د هغوی په منځ کي څه اختلاف نسته ځکه چي بېله غوښتني د شاهدۍ ورکولو خرابۍ ظاهرونکي حدیث تعلق د هغه سړي سره دی چي د هغه په اړه معلومه وي چي هغه د فلانۍ پېښي یا معاملې شاهد دی مګر ددې سربېره صاحب معامله نه خو د هغه څخه د شاهدۍ ورکولو غوښتنه کوي، او نه هغه په عدالت کي د شاهدۍ په توګه وړاندي کول غواړي، په داسي صورت کي که چیري هغه سړی په خپله شاهدي ورکوي نو ښکاره خبره ده چي د هغه د شاهدۍ به څه معنی وي مګر دا به خامخا ثابت وي چي هغه د شاهدۍ په پرده کي یو فاسد مقصد لري،
ددې پر خلاف که چیري دا صورت وي چي یو سړی د یوې پېښي شاهد وي مګر د هغه شاهد کېدل معلوم نه وي، هغه ته معلومیږي که چیري زه شاهدي ورکړم نو د یو مسلمان حق به تلف سي یا هغه ته به بېله وجه ځاني او مالي تاوان پېښ سي، د دغه خیر په جذبه سره هغه صاحب معامله ته ووایي چي زه د دغه پېښي یا معاملې شاهد یم او که ته غواړې نو ستا له خوا په عدالت کي زه شاهدي ورکولای سم، نو بېله غوښتني کولو دغه شاهدي ورکونکی به یقینا د تعریف وړ وي، او ویل کیږي چي په دوهم حدیث کي (چي په هغه کي بېله شاهدۍ غوښتني د شاهدي ورکوونکي ته غوره شاهد ویل سوي دي) د داسي کسانو په اړه دی، یا دا چي بېله غوښتني کولو د شاهدي ورکونکي ښه والي حدیث په اصل کي دا خبره د مبالغې په توګه بیانولو لپاره ده چي کوم څوک د یوې پېښي یا معاملې ریښتونی شاهد وي هغه ته پکار ده چي د شاهدۍ ورکولو څخه اعراض ونه کړي او کله چي د هغه څخه شاهدي وغوښتل سي نو ځنډ دي نه پکښي کوي او سمدستي دي د شاهدي لپاره حاضر سي.
همدارنګه دا هم ویل کیدای سي چي بېله غوښتني کولو د شاهدۍ ورکولو خرابي بیانونکي حدیث د هغه سړي په حق کي دی چي هغه د شاهدۍ اهل نه وي یا پر هغه سړي باندي محمول دی چي د دروغو شاهدي ورکوي، ځینو حضراتو دا هم لیکلي دي چي بېله غوښتنه کولو د شاهدي ورکونکي بدي بیانونکي حدیث تعلق د حقوق العباد سره متعلق شاهدي

ورکولو لپاره دی او د ښه والي بیانونکي حدیث پر حقوق الله باندي اړوند معاملو کي شاهدي ورکول دي، مګر دا په هغه صورت کي وي کله چي په شاهدي پټولو کي یو حکمت نه وي او ځیني حضرات وايي چي په دغه حدیث کي د شهادت څخه مراد قسم دی، په دغه صورت کي د حدیث د هغه الفاظو ترجمه به دا وي : په هغوی کي به داسي کسان هم وي چي د دروا‌غو قسمونه به اخلي مخکي تر دې چي څوک هغه ته قسم ورکړي.

چي خیانت به کوي او د هغوی پر دیانت او امانت به باور نه کیږي: مطلب دا چي په خیانت او بدیانتي کي به هغوی دومره مشهور سي چي خلک به هغوی امانت دار نه مني او هغوی به د امانت د وصف څخه خالي ګڼل کیږي، مګر که چیري د یو چا څخه کله نا کله خیانت وسي نو ددې اعتبار نسته.

چي نذر به مني او خپل نذر به نه پوره کوي: یعني نه یوازي دا چي نذر به نه پوره کوي بلکه دې خبري ته به څه ارزښت هم نه ورکوي چي په نذر منلو سره هغه نه پوره کول څومره خرابه خبره ده، حال دا چي نذر پوره کول لازم دي او د الله ﷻ کوم نیک بندګان چي په دې عمل کوي د هغوی تعریف په قرآن کریم کي داسي بیان سوی دی:

يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا

ژباړه: هغوی (یعني نیک بندګان) نذر پوره کوي او د قیامت د ورځي څخه بیریږي.

او په هغوی کي به چاغ والی پیل سي، د سمن معنی د غټ والي ده چي د زیات خوراک او څښناک په سبب پیدا کیږي مګر دلته هغه غټ والی مراد نه دی چي په خلقي او طبعي توګه وي، ځینو حضراتو لیکلي دي چي دلته د غټ والي څخه مراد په احوالو کي غټ والی دی یعني د فخر او ناز له موخي خپل ځان خوشحاله او شتمن ښکاره کوي، او د عزت او شرف هغه دعوه کوي چي په انسان کي نه وي، ځیني حضرات وايي چي د چاغ والي څخه مال او دولت جمع کول دي، توربشتي رحمه الله لیکلي دي: په هغوی کي به چاغ والی پیدا سي، دغه الفاظ په اصل کي ددې خبري کنایه ده چي د دیني معاملاتو او د شریعت د احکامو پر ځای راوړلو کي به د غفلت او کوتاهی ښکار سي او د اوامرو او نواهیو خیال به نه ساتي چي د دین او شریعت اصل تقاضا ده، دا خبره په چاغ والي سره د تعبیر کولو وجه داده چي په عامه توګه چاغ خلک سست او کهاله وي، محنت او تکلیف نه خوښوي، خپل نفس په مشکل کي له اچولو څخه ساتي او د هغوی زیات بندوبست د نفس په لذت او خوند کي وي، په راحت او آرام کي د خپلو بسترو سره محدود وي.

د مسلم په شرح کي ليکلي دي: علماؤ وضاحت کړی دی چي چاغ والی هغه بد شی دی چي د عيش او تنعم په ذريعه قصدا پيدا کړل سي ، خلقي او طبعي چاغ والی بد نه دی او نه پر هغه باندي ددغه روايتو اطلاق کيږي، په دې وضاحت سره ددغه روايت معنی هم څرګنده سول چي په هغه کي فرمايل سوي دي :

ان الله يبغض الحبر السمين، ژباړه: الله جَلّ جَلَالُهُ چاغ عالم نه خوښوي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د صحابه کرامو عزت او تکريم لازم دی

﴿٥٧٥٨﴾: عَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْرِمُوا أَصْحَابِيْ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د صحابه کرامو تعظيم

فَإِنَّهُمْ خِيَارُكُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ يَظْهَرُ الْكِذْبُ

(عزت) کوئ، ځکه چي هغوی ستاسو غوره خلک دي، بيا هغه خلک غوره دي چي هغوی ته نژدې دي او بيا هغه خلک غوره دي چي هغوی ته نژدې دي، ددې څخه وروسته به درواغ

حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَيَحْلِفُ وَلاَ يُسْتَحْلَفُ وَيَشْهَدُ وَلاَ يُسْتَشْهَدُ أَلاَ مَنْ سَرَّهُ

ښکاره سي تر دې چي يو سړی به قسم خوري او د هغه څخه به د قسم خوړلو غوښتنه نه وي ، او شاهدي به ورکوي او د شاهدي خواهش به ځيني نه کيږي ،

بُحْبُوحَةُ الْجَنَّةِ فَلْيَلْزَمِ الْجَمَاعَةَ فان الشيطان مع الفذ وهو من الاثنين

خبردار سئ! په تاسو کي چي څوک په جنت کي بالکل په منځ کي د اوسيدو خواهش لري هغه ته پکار ده چي هغه جماعت لازم ونيسي ځکه چي شيطان د هغه سړي سره وي چي د ډلي څخه بيل

ابعد ولا يخلو رجل بامراة فَإِنَّ الشَّيْطَانَ ثَالِثُهُمْ وَمَنْ سَرَّتْهُ حَسَنَتُهُ

او يوازي وي او شيطان د دو خلکو څخه هم چي متحد وي ليري اوسي ، او سړی دي د پردی ښځي سره په يوازيوالي کي نه اوسيږي، ځکه چي د هغوی سره دريم شيطان وي، او څوک چي

وَسَاءَتْهُ سَيِّئَتُهُ فَهُوَ مُؤْمِنٌ. رواه النسائي واسناده صحيح ورجاله رجال الصحيح

الا ابراهيم ابن الحسن الخثعمي فانه لم يخرج عنه الشيخان وهو ثقة ثبت.

په خپل نيکۍ سره خوشحاله سو او په بدۍ سره غمگين سو نو هغه مؤمن دی.، نسائي.

تخريج: سنن النسائي الكبرى ۵/ ۳۸۷، رقم: ۹۲۲۲.

د لغاتو حل: بحبوحة: اي وسطها و خيارها.

تشريح: په دغه حديث کي هم د اسلام د لومړنيو درو ډولو خلکو يعني صحابه کرام، تابعين، او تبع تابعينو فضيلت پر ټول امت باندي ظاهر سوی دی، چي دغه کسان د امت هغه درې ډلي دي چي په امت کي تر ټولو غوره خلک دي، د ملت مشران او مقتدا دي او دغه درو ډولو خلکو ته او د هغوی په زمانو کي غلبه صدق او ديانت تر لاسه وو، تر دې چي د دغه ډلو د کومو خلکو احوال او کوائف نامعلوم وو (چي په اصطلاح کي ورته مستور الحال ويل کيږي) هغوی هم عادل منل سوي دي، دا بېله خبره ده چي په هغوی کي د يو نادر کس په اړه داسي ونه ويل سي، ځکه چي د دغه ډلو خلک هم په هر حال غير معصوم انسانان وه بيا د دغه درو ډولو خلکو څخه هم لومړۍ ډله يا د قرن اول خلک يعني د صحابه کرامو د عظمت او درجې څه ځای نسته د هغوی تعظيم او تکريم کول پر هر امتي باندي لازم دي دا حکم د هغوی په ژوند کي هم د هر مسلمان لپاره وو او د هغوی د مرګ څخه وروسته هم پاته سو او تر قيامته پوري به همداسي پاته وي، که يو څوک هر څومره د علم او فضل، تقوا او پرهيزګارۍ لوړ مقام ته و رسيږي مګر هغه د رسول الله ﷺ د صحابي پر عمل او کړني باندي بد نه سي ويلای که يو سړی دا جرئت وکړي نو هغه د رسول الله ﷺ د ارشاد خلاف کوي، او د صحابوو د عزت او حرمت مجروح کولو په سبب خپل ايمان په خطره کي اچوي.

بېله شکه صحابه کرام د امت هغه بزرګان او نيک کسان دي چي د رسول الله ﷺ ملګري او خادمان وه چي د رسول الله ﷺ څخه يې د علم او عمل روزنه تر لاسه کول، په هغوی کي کومو بزرګانو ته چي د صحبت او خدمت شرف تر لاسه نه سو او محض د جمال باکمال ليدنه يې په برخه سول د هغوی مقام هم د امت تر لوی عالم او فاضل، عابد او زاهد، غازي او مجاهد زيات دی، شيخ ابوطالب مکي رحمة الله عليه ډېره ربښتونې خبره کړې ده چي د رسول الله ﷺ پر مخ مبارک باندي د لوېدونکي يو نظر څخه دومره څه تر لاسه کېدل او د مطلب رسېدو هغه دولت په لاس راتلی چي د نورو لويو لويو خلوتونو څخه هم نه سو تر لاسه کېدای، د ايمان عياني او يقين شهودي کوم مقام چي د هغوی په برخه وو په هغوی کي هيڅوک د هغوی شريک نسته.

تر دې وروسته به درواغ ظاهر سي: يعني په دغه درو زمانو کي خو دين پر خپل اصلي حالت وو او په اخلاص سره ټول کارونه تر سره کېدل مګر د قرن ثالث يعني تبع تابعينو د زمانې څخه وروسته چي کومه زمانه راځي هغه به دين او ديانت لپاره خوندي نه وي ، يعني په دې کي دې ته اشاره ده چي د تبع تابعينو د قرن د خاتمې څخه وروسته به د بدعاتو او نفساني خواهشاتو دور شروع سي ، که څه هم د غير اسلامي افکارو او نظرياتو لرونکو خلګو لکه معتزله، قدريه ، مرجيه او داسي نورو ظهور په نورو وروستو زمانو کي وسو مګر د هغوی څخه مخکي د بدعاتو ظهور سوی وو .

جماعت لازم ونيسئ : دلته د جماعت څخه مراد د ملت سواد اعظم دی، مطلب دا چي په ديني او ملي چارو کي هغه اصول او تعليمات لاربنود کړل سي کوم چي د جمهورو صحابه کرامو، تابعينو او سلف صالحينو څخه منقول دي او د هغوی پيروي دي اختيار کړل سي، نو په دغه حکم کي د صحابه کرامو، تابعينو او سلف صالحينو مينه او دهغوی تعظيم هم شامل دی .

هغه مؤمن دی، يعني د کامل مؤمن نښه داده چي په نيکۍ کولو سره مطمئن سي او که بدي رامنځته سي نو ناراضه سي ، دغه خبره علماؤ د زړه د ژوندي او حساس کېدو علامه ګرځولې ده، نو کوم څوک چي په نيکي سره نه خوشحاله کيږي او نه په بدي سره خفه کيږي د هغه زړه مړ سوي وي او احساسات يې فنا سوي وي او داسي وي لکه منافق چي د قيامت او اخرت د عقيدې څخه خالي وي، د هغه په نزد نيکي او بدي دواړه برابر دي حال دا چي د الله جل جلاله ارشاد دی : (ولا تستوي الحسنة ولا السيئة) نيکي او بدي برابر نه دي .

د صحابه کرامو او تابعينو فضيلت

﴿۵۷۵۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَمَسُّ النَّارُ مُسْلِمًا رَآنِي أَوْ رَأَى مَنْ رَآنِي. رواه الترمذي.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه مسلمان چي هغه زه ليدلی يم ، يا هغه سړي يې وليدی چي هغه زه ليدلی يم نو اور به يې نه مس کوي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۱۱ ، رقم: ۳۸۵۸.

تشريح: مطلب دا چي کوم چا رسول الله ﷺ وليدی يا د رسول الله ﷺ ليدونکی يعني صحابي يې وليدی نو هغه به جنت ته ځي، په شرط ددې چي د هغه خاتمه پر ايمان او اسلام باندي سوې

وي، ددغه شرط پر بنیاد د رسول الله ﷺ ددغه زیري سره سم صحابي او تابعي خو جنتي دي مگر د الله جلّ جلاله د فضل څخه امید دی چي هر مسلمان جنتي دی ، څرګنده دي وي چي د هغه چا د جنتي کېدو امید کیږي چي په ایمان او اسلام سره له دنیا څخه رخصت سي مگر ځیني خاص خلګ داسي دي چي د هغوی د جنتي کېدو څرګند زیری رسول الله ﷺ داسي ورکړ چي په دنیا کي یې وښودل چي دغه خلګ په یقیني توګه جنتي دي، لکه عشره مبشره، یا لکه د صحابه کرامو او تابعینو په اړه د رسول الله ﷺ په دغه حدیث کي عمومي زیری ورکړل سوی دی مگر ددې مطلب دا نه دی چي د رسول الله ﷺ د زیري څخه نور مسلمانان محروم دي، حقیقت دادی چي کله رسول الله ﷺ احساس وکړ چي د صحابه کرامو او تابعینو په اړه ددغه زیري په لېدو سره هغه مسلمان چي نه هغه ته د رسول الله ﷺ د لیدني او ملګرتیا شرف تر لاسه سوی وي او نه د صحابي د لېدني شرف تر لاسه سوی وي هغوی به پر محرومۍ باندي زړه سي نو رسول الله ﷺ د هغوی د ډاډ لپاره وفرمایل: طوبی لمن رانی وامن بي مرة وطوبي لمن لم یرني وامن بي سبع مرات.

د صحابه کرامو فضیلت

﴿۵۷۶۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مغفل رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

اللّٰهَ اللّٰهَ فِي أَصْحَابِي اللّٰهَ اللّٰهَ فِي أَصْحَابِي لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي فَمَنْ

د خدای جلّ جلاله څخه وبیریږئ او بیا د خدای جلّ جلاله څخه وبیریږئ ، زما د اصحابو په اړه د خدای جلّ جلاله څخه وبیریږئ او زما د اصحابو په اړه د خدای جلّ جلاله څخه وبیریږئ ، زما څخه وروسته تاسو

أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ

هغوی د بد او رد ښنه مه جوړوئ څوک چي د هغوی سره مینه ساتي زما د میني په سبب هغوی محبوب ساتئ او څوک چي د هغوی سره دښمني کوي نو زما سره د دښمنۍ په سبب د هغوی سره دښمني ساتي ، او چا چي هغوی ته تکلیف ورسوئ

آذَانِي وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللّٰهَ وَمَنْ آذَى اللّٰهَ يُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

هغه ما ته تكليف ورسوئ، او چا چي ما ته تكليف ورسوئ هغه خداى ﷻ ته تكليف ورسوئ او چا چي خداى ﷻ ته تكليف ورسوى خداى ﷻ به هغه ډير ژر ونيسي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي: ۵\۶۵۳، رقم: ۳۸۶۲.

تشريح: د الله ﷻ څخه و بيريږئ: دغه الفاظ رسول الله ﷺ په تاكيد او مبالغې سره دوه واره وفرمايل، د صحابه كرامو په حق كي د الله ﷻ څخه د بيرېدو مفهوم دادى چي د هغوى عزت او توقير دي وكړل سي، دهغوى د عظمت او فضيلت دي په هرحال كي لحاظ وساتل سي او د رسول الله ﷺ د ملګرتيا چي هغوى ته حاصله ده د هغه حق دي اداء كړل سي.

زما څخه وروسته تاسو هغوى د بد او رد نښه مه جوړوئ: مطلب دا چي د هغوى په اړه مه بد ګمانه كيږئ، دهغوى د عظمت خلاف هيڅ خبره د ژبي څخه مه باسئ د هغوى د عيبو او غلطيو ويلو څخه ځان وساتئ.

زما د مينې په سبب هغوى محبوب وساتئ: ددې مطلب دادى چي د هغوى سره مينه ځكه وكړئ چي زه د هغوى سره مينه لرم، د ارشاد خلاصه داده چي زما د صحابوو سره مينه كوونكي زما سره مينه كونكي دي او زما د صحابوو سره دښمني كوونكي زما سره دښمني كوونكي وي، ددې څخه معلومه سول چي د مالكيه مذهب حق دى چي كوم څوك صحابي ته بد ووايي نو په دنيا كي واجب القتل ګرځي.

علماؤ ليكلي دي: د يو چا سره د صحيح او ريښتوني ميني نښه داده چي د هغه مينه د محبوب د ذات څخه په تېرېدو سره د هغه متعلقينو ته ورسيږي، نو د الله ﷻ سره د ميني نښه داده چي د هغه د رسول سره هم مينه وي او د رسول سره د ميني نښه داده چي د هغه د كورنۍ او صحابو سره هم مينه وي.

كله چي الله ﷻ هغه ونيسي: ددې مطلب دادى چي كوم څوك د خپلي جذبي او عمل په ذريعه دا ښكاره كړي چي هغه الله ﷻ ته تكليف رسوي نو هغه سړى د الله ﷻ د نيوكي څخه ساتل كيداى نه سي، يعني په آخرت كي به په عذاب اخته وي او په دنيا كي به هم عذاب پر راځي، دا په دې اعتبار ويل سوي دي چي دغه حديث كيداى سي د الله ﷻ ددغه ارشاد څخه ماخوذ وي:

إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا.

ژباړه: بېله شکه کوم کسان چې الله ﷻ او د هغه رسول ته تکلیف ورکوي، الله ﷻ پر هغوی په دنیا او آخرت کې لعنت کوي او د هغوی لپاره ذلیل کونکي عذاب تیار کړی دی، او کوم کسان چې مؤمنو نارینوو او مؤمنو ښځو ته بېله ددې چې هغوی یو څه کړي وي، تکلیف رسوي نو هغه خلک د بهتان او څرګنده ګناه بار اخلي.

د صحابه کرامو او امت مثال

﴿۵۷۶۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ أَصْحَابِيْ فِيْ أُمَّتِيْ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ لاَ يَصْلَحُ الطَّعَامُ إِلاَّ بِالْمِلْحِ قَالَ الْحَسَنُ فَقَدْ ذَهَبَ مِلْحُنَا فَكَيْفَ نَصْلَحُ. رواه في شرح السنة.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما اصحاب زما په امت کې داسي مثال لري لکه مالګه په کتغ کې، خوراک تر هغه پوري خوند نه کوي تر څو پوري چې مالګه پکښي وانه چول سي، ددغه حدیث اوریدو سره حسن وفرمایل زموږ مالګه ولاړل بیا به خپل خوراک موږ څنګه خوندور جوړ کړو. شرح السنه.

تخریج: البغوي في شرح السنة ۱۴\۷۲، رقم: ۳۸۶۳.

تشریح: حضرت حسن بصري رحمه الله چې ددغه حدیث په اورېدو سره خپل کوم تاثر بیان کړ هغه مطلب دا وو چې اوس خو صحابه کرام له دنیا څخه رخصت سوي دي نو دا څرنګه کیدای سي چې موږ دي ښه سو، د حضرت حسن بصري رحمه الله په دغه تاثر کې ډېر افسوس دی او هغه ددغه افسوس اظهار ددغه حقیقت سره وکړ چې د هغوی په زمانه کې ځیني صحابه کرام موجود وه، څرګنده دي وي چې حضرت حسن بصري رحمه الله په ۱۱۰ هجري کال کې وفات سوی دی.

ملا علي قاري رحمه الله د حضرت حسن بصري رحمه الله ددغه قول نقل کولو څخه وروسته یوه لویه عارفانه خبره کړې ده چې که څه هم په دغه دنیا کې او د امت په منځ کې صحابه کرام موجود نه دي مګر موږ ښه کېدلای سو، د هغوی د اقوالو او ارشاداتو څخه، دهغوی د نقل سوو روایتو څخه، دهغوی د سترو کړنو او حالاتو د رڼا څخه او د هغوی د اخلاقو او اوصافو د پیروۍ څخه، ځکه چې اصل اعتبار خو ددغه شیانو دی نه د ذات او بدن.

د صحابي خلک جنت ته بیول

﴿۵۷۶۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِي يَمُوتُ بِأَرْضٍ إِلَّا بُعِثَ قَائِدًا وَنُورًا لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب ، وذكر حديث ابن مسعود لا يبلغني احد في باب حفظ اللسان.

حضرت عبدالله بن بریده رضی الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : زما په اصحابو کې چې څوک پر کومه مځکه مړ سي نو د هغه ځای څخه به په داسې حال کې پورته کیږي چې هغه به د هغه مځکي خلک د جنت خوا ته بیایي او د قیامت په ورځ به د خلکو لپاره نوروي. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\ ۶۵۴، رقم: ۳۸۶۵.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دریم فصل)

صحابه کرامو ته بدویل د لعنت سبب دی

﴿۵۷۶۳﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الَّذِينَ يَسُبُّونَ أَصْحَابِي فَقُولُوا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى شَرِّكُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چې تاسو هغه خلک ووینئ چې زما اصحابو ته بد وایي نو تاسو ورته وواياست چې ستاسو پر دغه شریر کار دي د خدای جل جلاله لعنت وي . ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵\ ۶۵۴، رقم: ۳۸۶۶.

د لغاتو حل: شرکم: اهل الشر والفتنة.

تشریح: په دغه حدیث کې دې ته اشاره ده چې صحابه کرامو ته د بد ویونکي بدي خپله هغه ته راګرځي ځکه چې فتنه او شر والا هغه دی او صحابه کرامو خو په خپلو قبرو کې دي، او په دې اعتبار هغوی یوازې د رضا او رحمت لائق دي او په حدیث کې ذکر سوی حکم دې ته اشاره

کوي چي د هغه سړي (چي صحابي ته بد وايي) پر ذات د لعنت کولو پر ځاى د هغه پر فعل باندي لعنت کول احتياط ته نژدې دى.

ذکر سوى روايت د ترمذي څخه ماسوا خطيب رحمة الله عليه هم نقل کړى دى او ابن عدي رحمة الله عليه د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه مرفوعا نقل کړى دى چي:

ان اشرار امتي اجرؤهم على اصحابي.

ژباړه: بېله شکه زما د امت خراب خلګ هغه دي چي زما د صحابوو په اړه بې ادبي کوي.

په يو بل مرفوع حديث کي دي چي:

يکون في آخر الزمان قوم يسمون الرافضة يرفضون الاسلام فاقتلوهم فانهم مشرکون.

ژباړه: په اخره زمانه کي به داسي خلګ پيدا سي چي هغوى ته به رافضي ويل کيږي دغه خلګ به د اسلام پرېښودونکي وي نو تاسو هغه ووژنئ ځکه چي هغوى مشرکان دي.

په يو بل روايت کي داسي فرمايل سوي دي:

وينتحلون حب اهل البيت وليسوا کذلک واية ذلک انهم يسبون ابابکر وعمر.

ژباړه: او هغه خلګ به د اهل بيتو د صحبت دعوه کوي حال دا چي هغوى به داسي نه وي، د هغه خلګو علامه به دا وي چي هغوى به ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ته بد وايي.

په دغه دنيا کي د داسي خلګو پيدا کېدل چي ځينو سترو صحابه کرامو ته بد وايي لکه روافض يا د ځينو سترو اهل بيتو په اړه خرابي عقيدې لري او بد ويل کوي لکه خوارج، کيداى سي د دې لپاره وي چي کله هغه ستر کسان د دنيا څخه رخصت سوي دي او د هغوى په عمل نامه کي د ثواب زياتوب تل جاري وي چي په جنت کي د هغوى د درجو د لوړوالي سبب دى او د هغوى دښمنان د سخت عذاب سره مخامخ کيږي، نو دغه سترو کسانو ته بد ويونکي د هغوى په ثواب کي د زياتوب سبب ګرځي او د خپل ځان عذاب زياتوي.

د صحابه کرامو اقتداء د هدايت ذريعه ده

﴿۵۷۶۴﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چي

يَقُوْلُ سَأَلْتُ رَبِّيْ عَنْ اِخْتِلَافِ أَصْحَابِيْ مِنْ بَعْدِيْ فَأَوْحٰى إِلَيَّ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ

فرمايل يې: ما د خپل پروردګار څخه د خپل وفات وروسته د صحابه کرامو د اختلاف په اړه پوښتنه وکړه، نو خداى تعالى زه د وحي په ذريعه خبر کړم چي اې محمد! (صلى الله عليه وسلم)

أَصْحَابَكَ عِنْدِيْ بِمَنْزِلَةِ النُّجُوْمِ فِي السَّمَاءِ بَعْضُهَا أَقْوٰى مِنْ بَعْضٍ وَلِكُلٍّ

ستا اصحاب زما په نزد داسي دي لکه په آسمان کي ستوري، ځيني په هغو کي د ځينو څخه

نُوْرٌ فَمَنْ أَخَذَ بِشَيْءٍ مِمَّا هُمْ عَلَيْهِ مِنْ اِخْتِلَافِهِمْ فَهُوَ عِنْدِيْ عَلٰى هُدٰى

قوي دي مګر پر هر حال ټول روښانه دي چا چي د هغوی د اختلاف څخه څه واخيستل زما په نزد

قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابِيْ كَالنُّجُوْمِ فَبِأَيِّهِمْ

اِقْتَدَيْتُمْ اِهْتَدَيْتُمْ. رواه رزين.

هغه پر هدايت دی، د حضرت عمر رضي الله عنه بيان دی چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي زما اصحابه په مثال د ستورو دي په هغوی کي چي د چا پيروي کوئ هدايت به تر لاسه کړئ. رزين.

تخريج: رواه رزين.

تشريح: داسي دي لکه د آسمان ستوري: مطلب دا چي څرنګه په تياره شپه کي پر آسمان باندي ځلېدونکي ستوري مسافرو ته د درياب او ځنګل د لارو ښيي چي قرآن کريم ورته په دغه الفاظو اشاره کړې ده (وبالنجوم هم يهتدون) او د ستورو په ذريعه هغوی لاره تر لاسه کوي، همدا رنګه صحابه کرام کي هم د صداقت لاربښوونکي او د بدۍ ليري کوونکي دي چي د هغوی نوراني وجود د هغوی اخلاق او کړني او دهغوی د رواياتو او تعليماتو په رڼا کي حق لار څرګنديږي او د بدۍ تيارې ليري کيږي.

زما په نزد هغه پر هدايت دی، ددې څخه ثابته سول چي د امامانو خپل منځي اختلاف د امت لپاره رحمت دی مګر څرنګه چي طيبي رحمه الله وضاحت کړی دی چي د اختلاف څخه مراد هغه اختلاف دی چي د دين په فروعي مسائلو کي وي نه د دين په اصولو کي، سيد جمال الدين ليکلي دي: په ظاهره داخبره صحيح ده چي په دغه حديث کي د صحابه کرامو کوم اختلاف ته اشاره ده د هغه څخه هغه اختلاف مراد دی چي په ديني معاملاتو او مسائلو کي څرګند سي نه هغه اختلاف چي په دنيوي چارو کي ظاهر سي، ددغه وضاحت په رڼا کي پر هغه اختلاف باندي سوال نه کيږي کوم چي د خلافت او امامت په اړه د ځينو صحابه کرامو په منځ کي څرګند سوی وو.

مګر په دې اړه ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي: زما په نزد صحيح خبره داده چي د خلافت او امارت سره پېښېدونکي اختلافات هم په فروع دين کي د اختلاف په ډله کي راځي ځکه چي

په دې اړه د هغوی په منځ کې کوم اختلاف چې واقع سو هغه اجتهاد وو نه د دنیوي مقصد او نفساني جذبې په وجه، لکه څرنګه چې د پاچاهانو په نزد وي.

د چا چې پیروي کوئ نو هدایت به تر لاسه کړئ: ولکل نور، په هغوی هر یوه کې نور دی، دغه جملې په ذریعه دې حقیقت ته اشاره وکړل سوه چې هر صحابي د خپلې خپلې مرتبې او استعداد مطابق د علم او فقه نور لري او په دې اعتبار هیڅ صحابي د دین او شریعت د علم څخه خالي نه دی ځکه کوم صحابي چې د خپلې مرتبې او استعداد مطابق د دین او شریعت کومه خبره بیانوي د هغه پیروي به د هدایت ضامن وي.

څرګنده دې وي چې په دغه حدیث کې (اصحابي کالنجوم ...) علماؤ کلام کړی دی، ابن حجر رحمه الله پر دغه حدیث باندې اوږد بحث کړی دی چې دغه حدیث موضوع باطل دی مګر له دې سره د بیهقي دغه قول هم ذکر کړی دی چې د مسلم د یوه حدیث څخه د دغه حدیث ځیني معنی ثابتیږي، د مسلم په حدیث کې دي: النجوم امنة السماء، ستوري د آسمان محافظین او آمین دي او بیا په دغه حدیث کې دا الفاظ دي: واصحابي امنة لامتي، او زما اصحاب زما د امت امین او محافظین دي.

===========

بَابُ مَنَاقِبِ اَبِيْ بَكْرٍ رضي الله عنه

(د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د مناقبو او فضائلو بیان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه مقام

﴿۵۷۶۵﴾: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ

د حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : بېشکه

مِنْ أَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ فِي صُحْبَتِهِ وَمَالِهِ أَبَا بَكْرٍ وعند البخاري ابابكر وَلَوْ

د ډېر احسان کونکی د خلکو زما سره په صحبت خپل کې او په مال خپل کې ابوبکر دی او په نزد د بخاري ابابکر دی او که چیري

كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ وَلَكِنْ أُخُوَّةُ الْإِسْلَامِ وَمَوَدَّتُهُ لَا تَبْقَيَنَّ

ما يو ثوک خپل خليل نيولای نو ابوبکر رضي الله عنه به مي نيولی وای مګر وروروليي د اسلام ده او

فِي الْمَسْجِدِ خوخة الا خوخة ابي بكر، وفي رواية لوكنت متخذا خليلا غير

ربي لااتخذت ابابكر خليلا. متفق عليه.

دوستي د اسلام ده او په مسجد نبوي کي دي د هيڅ کلکين پاته نه سي مګر د ابوبکر رضي الله عنه د کور کلکين، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي که ما د خدای جل جلاله څخه پرته بل ثوک خليل جوړولای نو ابوبکر رضي الله عنه به مي جوړ کړی وای. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\ ۲۲۷، رقم: ۳۹۰۴، ومسلم ۱۴\ ۱۸۵۴، رقم: ۲– ۲۳۸۲.

د لغاتو حل: امن: انعمهم. الخوخة: باب صغير (دريچه).

تشريح: هغه ابوبکر رضي الله عنه دی، مطلب دا چي په کوم تندي سره ابوبکر رضي الله عنه زما خدمت کړی دی او په کومي قرباني او اخلاص سره يې زما پر ذات باندي يا زما د رضا لپاره د دين په لاره کي خپل مال ډېر زيات مصرف کړ دا د هغه امتيازي وصف دی چي زما په اصحابو او زما په ټول امت کي هغه تر ټولو لوړ مقام ورکوي.

خليل، که چيري د خلة څخه مشتق وي نو معنی يې د ريښتوني ملګري ده، او د خلة لفظ په اصل کي د سرايت کونکي ملګري او ميني مفهوم لري، يعني هغه ريښتوني ملګرتيا او مينه چي په زړه کي دننه داسي سرايت وکړي چي محبوب د محب پر ظاهر او باطن حکمران او د هغه محرم اسرار جوړولو تقاضا وکړي، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: که زما لپاره روا وای چي زه په مخلوق کي ثوک په دغه صفت سره خپل ريښتونی دوست جوړ کړم چي د هغه محبت زما په زړه کي سرايت وکړي او هغه زما محرم اسرار سي نو يقينا ما به ابوبکر رضي الله عنه خپل داسي دوست جوړ کړی وای ځکه چي هغه د دوستۍ د دغه صفت استعداد او اهليت لري مګر زما دومره مينه يوازي د الله جل جلاله سره ده چي د هغه مينه زما پر ظاهر باندي هم حکمرانه ده او زما پر باطن باندي هم، او هغه زما محرم اسرار دی مګر د ظاهر زړه د ميني زما کوم تعلق چي د ټولو مسلمانانو سره دی په هغه کي د ابوبکر رضي الله عنه مقام يقينا تر ټولو لوړ دی.

يا دا چي خليل په اصل کي دخلة څخه مشتق دی چي د هغه معنی د احتياج ده، په دغه صورت کي به د ارشاد خلاصه دا وي که چيري ما يو ثوک خپل داسي دوست جوړولای چي هغه

ته زه د خپلو اړتیاوو په وخت کي رجوع وکړم او په خپلو چارو کي پر هغه باور وکړم نو یقینا ابوبکر رضي الله عنه به مي داسي دوست جوړ کړی وای مگر په داسي ټولو چارو کي زما واحد رجوع الله جل جلاله ته ده، او په ټولو حالاتو کي زما واحده مرسته او ملجا د هغه ذات دی، مگر د اسلامي اخوت او میني چي زما ظاهري او قلبي تعلق د ټول امت سره دی په هغه کي د ابوبکر رضي الله عنه مقام تر ټولو لوړ دی، دغه دوهمه معنی که څه هم د حدیث د سیاق سره زیات مناسبت لري مگر محدثینو لومړنۍ معنی غوره گرځولې ده.

د ابوبکر رضي الله عنه د کلکین څخه ماسوا: په حدیث کي د خوخة لفظ دی چي د هغه معنی د کلکین او روشن دان ده، یعني سوری چي د کور یا خوني د رڼا لپاره په دیوال کي جوړیږي، ځینو حضراتو ویلي دي چي د خوخة معنی د کلکین ده، په پیل کي د مسجد نبوي سره متصل چي کوم سرایونه وه د هغو کلکینان مسجد نبوي ته را خلاص وه چي د هغه په ذریعه مسجد ته تلل او راتلل یا د هغوی په سرایو کي مسجد شریف ته خلاص سوي وه چي د هغه په ذریعه مسجد دننه برخه معلومېدل او د هغه سرایو خلک به دخپلو هغه کلکینانو په ذریعه کتل چي رسول الله صلی الله علیه وسلم مسجد ته راغلی دی که یا، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په مرض الموت کي چي آخري خطبه وفرمایل په هغه کي یې دا حکم وکړ چي مسجد ته د کورو کلکینان دي بند کړل سي یوازي د ابوبکر رضي الله عنه د کور کلکین دي خلاص وي، ددغه حکم په ذریعه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه افضیلت او د هغه د تکریم اظهار خو مقصد وو مگر په اصل کي ددې خبري څخه کنایه هم وه چي زما څخه وروسته د امت مشرتوب، قیادت او امامت کبری یعني خلافت لپاره دي ابوبکر رضي الله عنه وټاکل سي، او په دغه مسئله کي دبحث او خبرو کولو دروازه دي هیڅ خوا ته نه خلاصیږي، نقل سوي دي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددغه حکم په اورېدو سره کله چي خلکو خبري وکړلې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دغه خبره زما د خپل ځانه نه ده کړې بلکه د الله جل جلاله په حکم مي کړې ده" په یوه روایت کي راغلي دي چي حضرت عمر رضي الله عنه غوښتنه وکړل چي ما ته په خپل دېوال کي د یو کلکین خلاصولو اجازه راکړل سي چي د هغه په ذریعه ما ته په مسجد کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتللو علم کیږي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: نه،، د ستني د سوري په اندازه سوری دي هم نه پرېښنودل کیږي.

د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت علي رضي الله عنهما په اړه د روایتونو اختلاف:

حافظ ابن حجر عسقلاني رحمة الله علیه د صحیح بخاري په شرح کي لیکلي دي چي په ډېرو طریقو سره داسي حدیثونه نقل سوي دي چي په ظاهره ددغه حدیث مخالف او معارض معلومیږي چي

ه هغه كي د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په اړه دا حكم دی چي د مسجد نبوي خوا ته د هغه د كور كلكين يا روشندان څخه پرته د بل چا كلكين يا روشن دان دي نه پاته كيږي، په دې كي يو حديث خو هغه دی چي د حضرت سعد ابن وقاص رضي الله عنه څخه منقول دي چي رسول الله ﷺ د صحابه كرامو د كورو د هغه دروازو بندولو حكم وكړ چي مسجد نبوي خوا ته وې مګر د حضرت علي رضي الله عنه دروازه يې خلاصه پرېښودل، دغه حديث احمد او نسائي نقل كړی دی او د سنادو په قوي كيدو كي يې شک نسته، او طبراني په اوسط كي د باوري راويانو په حواله سره دا روايت نقل كړی دی چي صحابه كرام يو ځای سول او د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سول او عرض يې وكړ چي اې د الله رسوله! تاسو د نورو صحابوو د دروازو بندولو حكم وكړ مګر د علي رضي الله عنه دروازه مو خلاصه پرېښودل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دروازې نه ما بندي كړي دي او نه مي خلاصي پرې ايښي دي بلكه الله جل جلاله بندي كړي او خلاصي كړي دي، په حقيقت كي د الله جل جلاله له خوا ما ته حكم سوی دی چي د علي رضي الله عنه د دروازې څخه ماسوا نوري ټولي دروازې بندي كړم.

همدارنګه روايت احمد او نسائي د حضرت ابن عباس او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه نقل كړی دی، ابن حجر رحمة الله عليه وايي: په دې كي هر يو حديث د حجت وړ دی په خاصه توګه په هغه صورت كي چي په هغه كي ځيني حديث ته د ځيني حديث څخه زيات قوت حاصل سوی وي، ابن حجر رحمة الله عليه دا هم ليكلي دي چي كوم حديث د حضرت علي رضي الله عنه په شان كي وارد سوی دی هغه ابن جوزي موضوع ګرځولی دی او د هغه په ځينو طريقو كي په دې وجه خبري سوي دي چي دا حديث د هغه صحيح احاديثو خلاف دی كوم چي د ابوبكر صديق رضي الله عنه په شان كي منقول دي، او ويلي يې دي چي روافض د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په شان كي د منقولو حديثونو په مقابله كي دغه حديث وضع كړی دی مګر ابن حجر د ابن جوزي دا خبره منلې نه ده او ويلي يې دي چي محض د دې مفروضي په وجه چي دا حديث د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه سره د متعلق حديث معارض دی دا موضوع ګرځول مناسب نه دي بلكه حقيقت دا دی چي د حضرت علي رضي الله عنه سره متعلق حديث په داسي طريقو سره منقول دي چي په هغه كي ځيني طريقې حد صحت ته رسيدلي دي او ځيني وختونه د حسن حديث په اړه په اصل كي ابن حجر په بنياد دي توګه دا خبره نه مني چي د دغه دواړو حديثو په منځ كي څه تعارض او تضاد دی ، هغه په ښكاره ليكلي دي چي د حضرت علي رضي الله عنه سره اړوند هغه حديث او د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په شان كي منقول حديث په منځ كي معارضه نسته او وجه توافق هغوی دا ليكلې وه چي د نورو صحابه كرامو د

دروازو بندولو حکم او د حضرت علي رضي الله عنه د دروازې د خلاصي پاتېدو اجازه د هغه لومړنی زمانې واقعه ده کله چي مسجد نبوي نوی جوړ سوی وو ،
د حضرت علي رضي الله عنه سرای هم د مسجد نبوي سره ملحق وو او د هغه د سرای دروازه مسجد نبوي ته داسي وه چي حضرت علي رضي الله عنه د مسجد څخه په تېرېدو سره خپل سرای ته تللی او راتلی او دا په طریقه د صحت منقول دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت علي رضي الله عنه په وړاندي فرمایلي وه چي دغه مسجد ته هيڅ جنب نه راځي مگر ما ته او تا ته په دغه مسجد کي د تېرېدو اجازه ده ، پاته سوه د هغه حدیث خبره چي په هغه کي د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه څخه ماسوا د نورو کورو د کلکینانو بندولو حکم منقول دي نو دغه ارشاد د هغه زمانې دی کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په مرض الوفات کي وو او د وفات څخه دوې یا درې ورځي مخکي رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حکم صادر کړی وو ، ددې خبري اصل هغه روایت دی چي په هغه کي بیان سوی دی چي کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت علي رضي الله عنه څخه ماسوا د نورو ټولو دروازو بندولو حکم وکړ نو حضرت حمزه ابن عبدالمطلب د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کي حاضر سو ، دا په اصل کي هغه وخت حضرت حمزه رضي الله عنه د سترگو په درد اخته وو او دهغه د سترگو څخه اوبه بهېدلې ، له دې کبله د هغه له خوا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ذکر سوي حکم په تعمیل کي توقف سوی وو ، هغه وویل: اې د الله رسوله! تاسو خپل اکا (یعني زه) خو وایستی او د اکا زوی (یعني علي رضي الله عنه) مو دننه پرېښود ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې اکا! حقیقت دادی چي په دې اړه زما څه اختیار نسته ، ما هغه کړي دي کوم چي ما ته حکم سوی دی نو په دغه پېښه کي د حضرت حمزه رضي الله عنه د یادوني څخه ثابته سول چي د حضرت علي رضي الله عنه سره متعلق ذکر سوی حدیث بالکل د لومړنی زمانې دی ځکه چي حضرت حمزه رضي الله عنه د احد په غزا کي شهید سوی وو چي د دریم هجري کال پېښه ده .

ابوبکر صدیق رضي الله عنه غوره صحابي دی

﴿۵۷۶۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا وَلٰكِنَّهُ أَخِي وَصَاحِبِي وَقَدِ اتَّخَذَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلًا . رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که ما یو څوک خپل خاص دوست جوړولای نو ابوبکر رضي الله عنه به مي جوړ کړی وای مگر ابوبکر رضي الله عنه زما ورور او زما

صحابي دی او البته ستاسو دوست (یعني رسول الله ﷺ) خدای ﷻ خپل خلیل جوړ کړی دی. مسلم.

تخريج: صحیح مسلم ۱۸۵۵\۴، رقم: ۳- ۲۳۸۳.

تشريح: د امام احمد ابن حنبل رحمة الله عليه په روایت کي داسي دي:

اخي في الدين وصاحبي الغار، ابوبکر رضي الله عنه زما ديني ورور دی او زما د غار ملګری دی.

په مسند ابوليلی کي د حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا روایت داسي نقل سوی دی:

ابوبکر صاحبي ومونسي في الغار سدوا کل خوخة في المسجد غير خوخة ابي بكر.

ژباړه: ابوبکر زما د غار ملګری او مونس دی، مسجد ته ټول کلکينان بند کړئ ماسوا د ابوبکر رضي الله عنه د کلکين څخه.

دغه روایت ابوحاتم هم نقل کړی دی او ویلي یې دي چي د رسول الله ﷺ ارشاد: سدوا...الخ: دا په اصل کي ددې خبري اشاره ده چي زما څخه وروسته د خلافت لومړی حق د ابوبکر رضي الله عنه دی، دده څخه ماسوا د نورو ټولو خلګو د خلافت دغوښتني دروازه بنده ده.

الله ﷻ خپل خلیل ګرځولی دی، د لومړني حدیث څخه دا معلومه سول چي رسول الله ﷺ، الله ﷻ خپل خلیل جوړ کړی دی او دلته په دغه حدیث کي دا ذکر سوي دي چي الله ﷻ، رسول الله ﷺ خپل خلیل جوړ کړی دی، ددې مقصد دا ښودل دي چي کوم څوک په مینه کي صادق او خالص وي هغه مرتبه محبوبیت ته رسیږي،

هر که او درعشق صادق آمده است   بر سرش معشوق عاشق آمده است

په اصل کي رسول الله ﷺ حبيب الله وو او حبيب هغه محب ته وايي چي د محبوبيت مرتبې ته ورسیږي، ځیني حضرات خلت اعلی اخص ګرځوي او رسول الله ﷺ ته د میني او خلت جامع وايي او امام غزالي رحمة الله عليه ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ خلت د حضرت ابراهيم عليه السلام د خلت څخه زیات کامل او اتم دی، په هر حال ذکر سوی حدیث ددغه حقیقت څرګند دلیل دی چي حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په صحابه کرامو کي افضل دی.

د خلافت وصيت

﴿۵۷۶۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ما ته د خپل مرض الموت په زمانه

مَرَضِهِ ادْعِي لِي أَبَا بَكْرٍ أَبَاكِ وَأَخَاكِ حَتَّى أَكْتُبَ كِتَابًا فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَتَمَنَّى

کي وفرمایل : زما د لوري خپل پلار ابوبکر او خپل ورور راوغواړه، چي زه یو تحریر ولیکم ځکه چي زما سره دا اندیښنه ده چي یو څوک آرزو ونه کړي (یعني د خلافت)

مُتَمَنٍّ وَيَقُولُ قَائِلٌ أَنَا أَوْلَى وَيَأْبَى اللّٰهُ وَالْمُؤْمِنُونَ إِلَّا أَبَا بَكْرٍ. رواه مسلم وفي كتاب الحميدي انا اولى بدل انا ولا.

او زما سره دا بیره ده چي یو ویونکی دا ونه وایي چي زه د خلافت وړ یم، او الله ﷻ او مؤمنان به د ابوبکر رضی الله عنه د خلافت څخه ماسوا بل څوک خلافت ته پرې نه ږدئ، مسلم او د حمیدي په کتاب کي د انا اولی پر ځای انا ولا راغلي دي.

تخریج: صحیح مسلم ۴\۱۸۵۷، رقم: ۱۱- ۲۳۸۷.

تشریح: طیبي رحمة الله علیه د قاضي عیاض رحمة الله علیه په حواله سره نقل کړي دي چي دغه روایت اجود دی او په دغه حدیث کي د رسول الله ﷺ څخه وروسته د حضرت ابوبکر رضی الله عنه خلافت ته څرګنده اشاره ده، پاته سوه د روافضو دا وینا چي د حضرت علي رضی الله عنه پر خلافت نص وارد دی او رسول الله ﷺ د هغه د خلافت وصیت کړی وو، نو دا بالکل بې اصله خبره او یو لغو دعوه ده، د ټولو مسلمانانو اجماع ده چي د حضرت علي رضی الله عنه په اړه نه یو نص وارد سوی دی او نه رسول الله ﷺ په ژبه یا لیکنه وصیت کړی وو بلکه حقیقت دا دی چي د دغه دعوې تر ټولو لوړنی تردید خپله د حضرت علي رضی الله عنه له خوا سوی وو، کله چي له هغه څخه پوښتنه وسول چي ایا ستاسو سره یو داسي شی سته چي په قرآن کریم موجود نه دی؟ حضرت علي رضی الله عنه په جواب کي وویل: نه، زما سره چي څه دي هغه دي کوم چي په دغه صحیفه کي موجود دي، که چیري د هغه سره یو نص وای نو یقینا به یې هغه ظاهر کړی وای.

(۵۷٦۸): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةٌ

د حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه څخه روایت دي چي یوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره

فكلمته في شئ فَأَمَرَهَا أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْهِ قَالَتْ يارسول الله أَرَأَيْتَ إِنْ جِئْتُ

سوه او پر یو شي یې خبري ورسره وکړې، رسول الله ﷺ هغې ته وفرمایل : بیا یو وخت راسه، هغه ښځي وویل: اې د الله رسوله ! دا راته وفرمایاست که زه راسم

وَلَمْ أَجِدْكَ كَأَنَّهَا تَقُولُ الْمَوْتَ قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ لَمْ تَجِدِينِي فَأْتِي أَبَا بَكْرٍ. متفق عليه.

او ته مي پيدا نه کړلې لکه چي ددې ښځي د رسول الله ﷺ وفات مقصد وو نو زه بيا څه وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که زه نه وم نو ابوبکر ؓ ته ولاړه سه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۷، رقم: ۳۶۵۹. ومسلم ۴\۱۸۵۶، رقم: ۱۰- ۲۳۸۶.

تشريح: دغه حديث بېله شکه دې ته څرګنده اشاره وه چي د رسول الله ﷺ څخه وروسته لومړنی خليفه به ابوبکر ؓ وي، که څه هم په دې اړه دغه حديث ته د نص قطعي درجه نه سي ورکول کيدای مګر د حضرت ابوبکر صديق ؓ د فضيلت او منقبت څرګند دليل خامخا دی.

څرګنده دې وي چي د جمهورو علماوو په نزد نقص قطعي د هيڅا د خلافت په اړه وارد نه دی او د حضرت ابوبکر صديق ؓ د خلافت حقانيت او صحت په دې دليل دی چي د هغه پر خلافت د صحابوو اجماع وه، علامه ابن همام په مشائره کي د حضرت ابوبکر صديق ؓ د خلافت په اړه د نص دعوه کړې ده او خپله هغه دعوه يې ثابته کړې هم ده.

اسمعيلي په خپل معجم کي د حضرت سهل ابن ابي حثمه رحمه الله دا روايت نقل کړی دی چي يو صحرائي سړي په رسول الله ﷺ يو څو اوښان په دې وعده وپلورل چي د هغه قيمت به وروسته ورکړي، حضرت علي ؓ هغه صحرائي ته وويل: ولاړ سه او د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه که چيري زه ددغه اوښانو د قيمت اخيستلو لپاره داسي وخت راسم چي تاسو په دنيا کي نه ياست نو بيا د قيمت ادا کول به څوک کوي؟ صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پوښتنه يې وکړل نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ابوبکر ؓ به د هغه قيمت ادا کړي، هغه صحرائي بېرته ولاړی او حضرت علي ؓ ته راغلی او د رسول الله ﷺ جواب يې ورته ووايه، حضرت علي ؓ هغه ته وويل: اوس بيا ولاړ سه او پوښتنه وکړه که چيري ابوبکر ؓ ته هم هغه وخت راسم چي هغه له دنيا څخه رخصت سوي وي نو بيا به د اوښانو قيمت څوک ادا کوي؟ صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پوښتنه يې وکړل، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: عمر ؓ به د هغه قيمت ادا کړي، هغه صحرائي بېرته حضرت علي ؓ ته راغلی او د رسول الله ﷺ په جواب يې خبر کړ، حضرت علي ؓ ورته وويل: بيا ولاړ سه او د رسول الله ﷺ د حضرت عمر ؓ د وروسته کس په اړه پوښتنه وکړه، نو صحرائي

بيا د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سو او د حضرت عمر رضي الله عنه څخه وروسته د بل چا په اړه يې پوښتنه وكړل، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: حضرت عثمان رضي الله عنه به د هغه قيمت ادا كوي، صحرائي راغلی او دغه جواب يې وښودی، حضرت علي رضي الله عنه ورته وويل: بيا ولاړ سه او پوښتنه وكړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي ابوبكر رضي الله عنه مړ سي، عمر رضي الله عنه هم مړ سي او عثمان رضي الله عنه هم مړ سي نو بيا به ته په ژوندي پاته كېدو سره څه كوې.

د رسول الله ﷺ محبوب كس ابوبكر صديق رضي الله عنه وو

﴿۵۷۶۹﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ عَلَى

د حضرت عمر بن عاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زه د يو لښكر امير وټاكلم و ذات

جَيْشِ ذَاتِ السُّلَاسِلِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ عَائِشَةُ

السلاسل ته يې وليږلم، بيا چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم نو ما وويل چې اې دالله رسوله! ستاسو زياته مينه د چا سره ده؟ وه يې فرمايل: د بي بي عائشې سره،

قُلْتُ مِنَ الرِّجَالِ قَالَ أَبُوهَا قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ عُمَرُ فَعَدَّ رِجَالًا فَسَكَتُّ مَخَافَةَ أَنْ يَجْعَلَنِي فِي آخِرِهِمْ. متفق عليه.

بيا ما پوښتنه وكړه او په نارينوو كي مو زياته مينه د چا سره ده؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د بي بي عائشې د پلار (حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه) سره، ما وويل: بيا د چا سره؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د عمر رضي الله عنه سره، عمروبن عاص رضي الله عنه وايي همداسي رسول الله ﷺ يو څو كسان وشميرل، بيا زه په دې خيال پټه خوله سوم چي داسي نه وي زما نوم بالكل په پاى كي راسي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۷۴، رقم: ۴۳۵۸، ومسلم ۴\ ۱۸۵۶، رقم: ۸- ۲۳۸۴.

د لغاتو حل: السلاسل: رمل ينعقد بعضه ببعض.

تشريح: زما سوال د نارينوو په اړه وو، يعني د حضرت عمرو ابن العاص رضي الله عنه مراد يا خو د هغه ټولو نارينوو څخه وو چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي وه يا دا چي د هغه لښكر خلك مراد وه چي هغه يې امير جوړ كړل سوی وو، د حضرت عمرو ابن العاص رضي الله عنه د دغه سوال سبب په اصل كي دا وو چي كله هغه د ذكر سوي لښكر امير وګرځول سو او د دښمن په مقابله كي وليږل

سو نو وروسته دهغه د مرستي لپاره د دوو سوو اسلامي مجاهدينو يو بل لښکر د حضرت ابو عبيده بن الجراح رضي الله عنه په مشرتوب کي وليږل سو ، په دغه دوو سوو مجاهدينو کي د انصارو او مهاجرينو چي کوم لوی لوی صحابه کرام وه په هغو کي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه هم شامل وه او د لښکر د امامت لمونځ به حضرت عمر رضي الله عنه ورکوی، الله جل جلاله اسلامي مجاهدينو ته فتح ورکړل او ددين دښمنان وتښتېدل، په دغه وخت کي به د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه په خيال کي دا خبره راغلې وي چي ددغه لښکر په ټولو خلګو کي زما مرتبه تر ټولو لوړه ده ځکه زه د دوی ټولو امير جوړ سوی يم. او هغوی زما په واک کي د دښمن مقابلې ته واستول سول، نو هغه د خپل لښکر سره په کاميابۍ بېرته راغلی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه يې ذکر سوی سوال وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم چي کوم جواب ورکړ د هغه څخه معلومه سوه چي زما په خيال کي کومه خبره راغلې وه هغه صحيح نه وه ، ددې څخه دا معلومېږي چي دوهم احتمال زيات قوي دي يعني دا چي د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه د سوال مراد د هغه لښکر د خلګو څخه وو مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه په اول وار پوښتنه کولو چي کوم جواب ورکړ د هغه څخه د اول احتمال تائيد کيږي چي د هغه مراد د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمانې د ټولو خلګو څخه وو .

د ابوبکر صديق رضي الله عنه د فضيلت شاهدي د حضرت علي رضي الله عنه په ژبه

﴿۵۷۷۰﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَنَفِيَّةِ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ بَعْدَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ عُمَرُ وَخَشِيتُ أَنْ يَقُولَ عُثْمَانُ قُلْتُ ثُمَّ أَنْتَ قَالَ مَا أَنَا إِلَّا رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ. متفق عليه.

د حضرت محمد بن حنفيه رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د خپل پلار (حضرت علي رضي الله عنه) څخه پوښتنه وکړه چي د نبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته کوم سړی تر ټولو غوره دی ، هغه وفرمايل : ابوبکر رضي الله عنه، ما بيا پوښتنه وکړه د ابوبکر رضي الله عنه څخه وروسته کوم سړی غوره دی ؟ هغه وفرمايل : عمر رضي الله عنه، بيا ما له دې کبله پوښتنه ونه کړل چي هغه د حضرت عثمان رضي الله عنه نوم وانه خلي، بلکه ما د سوال طرز بدل کړ او دا پوښتنه مي وکړه چي بيا تاسو غوره ياست؟ نو هغه راته وفرمايل زه خو د مسلمانانو څخه يو فرد يم . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷/ ۲۰، رقم: ۳۶۷۱.

تشريح: زه خو يو مسلمان نارينه يم، د حضرت علي رضي الله عنه دغه ارشاد پر تواضع او خاکسارۍ

مبني وو، کنه نو حقیقت دادی چې هغه وخت د هغه شخه دا پوښتنه سوې وه یعني د حضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت څخه وروسته په ټول اسلامي ملت کې تر ټولو غوره او افضل د هغه ذات والاصفات وه.

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه فضیلت ټولو صحابه کرامو ته تسلیم وو

﴿۵۷۷۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَعْدِلُ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې موږ به د نبي کریم ﷺ په زمانه کې هیڅوک

بِأَبِي بَكْرٍ أَحَدًا ثُمَّ عُمَرَ ثُمَّ عُثْمَانَ ثُمَّ نَتْرُكُ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د ابوبکر رضی الله عنه برابر نه ګڼئ، (یعني تر هغه غوره) او د هغه څخه وروسته عمر رضی الله عنه، او بیا عثمان رضی الله عنه او د عثمان رضی الله عنه څخه وروسته به صحابه کرام موږ پر خپل حال پریښودل،

وَسَلَّمَ لَا نُفَاضِلُ بَيْنَهُمْ. رواه البخاري وفي رواية لابي داؤد قال كُنَّا نَقُولُ

او د هغوی په منځ کې به مو چا ته فضیلت نه ورکوی، بخاري، او د ابوداؤد په روایت کې دا

وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيٌّ أَفْضَلُ أُمَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَهُ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ عُمَرُ ثُمَّ عُثْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ.

الفاظ دي چې د رسول الله ﷺ په ژوند کې به موږ دا ویل چې د رسول الله ﷺ په امت کې د نبي کریم ﷺ څخه وروسته ابوبکر رضی الله عنه غوره دی، بیا عمر رضی الله عنه بیا عثمان رضی الله عنه. الله جل جلاله دې د دوی ټولو څخه راضي سي.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵۳/۷، رقم: ۳۶۸۷، وسنن ابي داود ۲۶/۵، رقم: ۴۶۲۸.

تشریح: د هغوی په منځ کې به مو چا ته پر چا فضیلت نه ورکوی، ددې څخه مراد دادی چې کوم صحابه یو شان حیثیت او مرتبه درلودل په هغوی کې چا ته پر چا فضیلت مو نه ورکوی کنه نو تر څو پورې چې د ځینو صحابه کرامو د ځینو څخه د افضل کېدو سوال دی نو دا خبره ثابته ده چې اهل بدر، اهل احد، اهل بیعت الرضوان، او اعلم صحابه پر پاته ټولو صحابه کرامو باندې فضیلت لري، همدارنګه دا احتمال هم نظر انداز کېدای نه سي چې کیدای سي تفاضل بین الاصحاب مراد وي یعني د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه وروسته بیا چا ته پر بل صحابي

فضيلت نه وركوى، ځركنده دي وي چي د اهل بيتو نبوي حيثيت اخص دى ، او په دې وجه د هغوى حكم د نورو صحابه كرامو څخه بالكل بېل نوعيت لري چي هغوى د خپل خاص نسبت په اعتبار بېله شكه هغه خاص فضيلت لري چي د هغوى څخه ماسوا نورو ته حاصل نه دى او دهغوى خپل خاص فضيلت د لمر په څېر ښكاره دى، دلته دا سوال كول نه دى پكار چي د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه وروسته د حضرت علي رضي الله عنه ذكر ولي ونه سو يا د حضرت امام حسن او حضرت امام حسين رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ د دوو اكاګانو يعني حضرت امير حمزه او حضرت عباس رضي الله عنهما فضيلت ولي بيان نه سو ،يو شارح ليكلي دي چي دلته د صحابو څخه د حضرت ابن عمر رضي الله عنه مراد هغه سپين ږيري صحابه دي چي د رسول الله ﷺ په وړاندي اصحاب الرايه او د اصحابو د مشورې حيثيت يې درلود او د هغوى څخه به رسول الله ﷺ راتلونكي معاملاتو او مسائلو كي مشوره اخيستل، تر څو چي د حضرت علي رضي الله عنه تعلق دى نو هغه د رسول الله ﷺ په زمانه كي ځوان وو او په دې اعتبار د ذكر سوو صحابه كرامو په ډله كي يې تعلق نه درلود، په دې وجه حضرت ابن عمر رضي الله عنه د هغه يادونه ونه كړل ، كنه نو د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه وروسته پر ټولو صحابه كرامو باندي دهغه فضيلت څخه هيڅوك منكر نه دى، او د صحابه كرامو په منځ كي تفاضل بېله شكه ثابت دى لكه څرنګه چي اهل بدر، اهل بيعت الرضوان او علماء صحابه كرامو ته پر نورو ټولو صحابه كرامو باندي فضيلت او غوره والى تر لاسه دى .

امام احمد رحمة الله عليه د حضرت ابن عمر رضي الله عنه يو روايت داسي نقل كړى دى چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي موږ حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه (د رسول الله ﷺ وروسته) تر ټولو افضل انسان ګڼې او دهغه وروسته حضرت عمر رضي الله عنه، پاته سوه د حضرت علي رضي الله عنه خبره نو حقيقت دادى چي هغه ته هغه درې خاصيتونه حاصل دي كه په هغه كي يو ما ته حاصل سي نو زه به ځان د دنيا او مافيها څخه غوره وګڼم ، رسول الله ﷺ د هغه نكاح د خپلي لور بي بي فاطمې رضي الله عنها سره وكړل او د رسول الله ﷺ نسل د هغه څخه پيدا سو ، رسول الله ﷺ د هغه د دروازې څخه ماسوا نوري ټولي دروازې (د مسجد خوا ته) بندي كړې، رسول الله ﷺ د خيبر د غزا په ورځ خپله نيزه هغه ته وركړل او د نسائي په روايت كي داسي چي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه د حضرت عثمان رضي الله عنه او د حضرت علي رضي الله عنه په اړه پوښتنه وسول نو هغه ذكر سوى حديث بيان كړ او د هغه وروسته يې وويل: دعلي رضي الله عنه په شان كي پوښتنه مه كوه او مه څوك پر هغه قياس كوه ،د هغه مقام خو دادى چي د هغه څخه پرته د نورو ټولو دروازې بندي كړل سوې .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي　　(دوهم فصل)

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه فضیلت

﴿۵۷۷۲﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لِأَحَدٍ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي زموږ سره یو

عِنْدَنَا يَدٌ إِلَّا وَقَدْ كَافَيْنَاهُ مَا خَلَا أَبَا بَكْرٍ فَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا يَدًا يُكَافِيهِ اللّٰهُ بِهَا

احسان کړی دی موږ یې بدله ورکړې ده پرته د ابوبکر رضی الله عنه څخه چي هغه زموږ سره داسي نیکي او بخښنه کړې ده چي د هغه بدله به

يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَا نَفَعَنِي مَالُ أَحَدٍ قَطُّ مَا نَفَعَنِي مَالُ أَبِي بَكْرٍ وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا

د قیامت په ورځ هغه ته الله جل جلاله ورکوي، او د یو سړي مال ما ته دومره ګټه نه ده راکړې لکه څومره چي د ابوبکر رضی الله عنه مال ما ته ګټه را رسولې ده که ما یو څوک

خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا أَلَا وَإِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ اللّٰهِ. رواه الترمذي.

خپل خلیل جوړولای نو ابوبکر رضی الله عنه به مي خپل خلیل جوړ کړی وای، یاد لرئ ستاسو دوست د خدای خلیل دی. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۶۸، رقم: ۳۶۶۱.

تشریح: د ید څخه مراد هغه شی دی چي د هغه څخه ګټه تر لاسه کړل سي، په دې اعتبار د غه لفظ مال، شتمنۍ، ځان او آل ټولو ته شامل دی او په دې کي شک نسته چي د الله جل جلاله او رسول ﷺ رضا او خوشحالي تر لاسه کولو لپاره حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپل هر څه د الله جل جلاله په لاره کي او د الله جل جلاله د رسول د خدمت لپاره وقف کړي وه او دا هم کیدای سي چي: فان له عندنا یدا یکافئه الله...الخ، په ذریعه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه کومه ورکړې او عظیم چلن ته اشاره سوې ده د دې څخه د هغه ستري مالي قرباني مراد ده چي هغه حضرت بلال رضی الله عنه د کافرانو څخه رانیوی او د الله جل جلاله او د هغه د رسول د رضا لپاره یې ازاد کړ، او هغه ته په قرآن کریم کي په دغه آیت کي اشاره سوې ده:

وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى

ژباړه: او د هغه (دوږخ د اور څخه) به داسي کس ليري ساتل کيږي ،او خپل مال ددې لپاره د الله ﷻ په لاره کي مصرف کوي چي د ګناهو څخه پاک سي.

څومره چي د ابوبکر رضي الله عنه مال ګټه را رسولې ده، ددې تر ټولو لوی دليل هغه پېښه ده چي کله رسول الله ﷺ خپلو صحابوو ته د الله ﷻ په لاره کي د مالي مرستي او تعاون لپاره وويل نو هر سړي د خپل خپل حيثيت او توان سره سم څه چي مناسب وګڼل هغه يې راوړل او وړاندي يې کړل، او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د کور ټول سامان راوړی او د رسول الله ﷺ په خدمت کي يې وړاندي کړ، د خپل ځان او کورنۍ د اړتيا سامان يې هم په کور کي نه پرېښود، تر دې چي ټول مال او سامان يې د الله ﷻ په لاره کي مصرف کړ او د بدن جامې يې هم ورسره پاته نه سوې نو کمبله يې پر بدن داسي واچول چي د ازغو په لګولو سره يې د هغه څخه چپنه جوړه کړل. په دې مناسبت سره د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه يو لقب ذو الخلال هم دی، خلال ازغي ته وايي.

په رياض الصالحين کي دا روايت دی چي کله رسول الله ﷺ دا وفرمايل: د هيچا مال ما ته دومره ګټه نه ده رسولې څومره چي د ابوبکر صديق رضي الله عنه مال رسولې ده، نو د دې په اورېدو سره حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په ژړا سو او عرض يې وکړ چي اې د الله رسوله! نه زما ځان خپل دی ، نه زما مال خپل دی، زما سره چي څه دي هغه ټول د الله ﷻ ملکيت دی.

په موافقاتو کي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هيڅ مسلمان سړي مال زما لپاره د ابوبکر رضي الله عنه تر مال زيات نافع نه دی او د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په مال کي به رسول الله ﷺ داسي حکم کوی لکه په خپل مال کي، په روايتو کي راځي چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په رسول الله ﷺ باندي څلوېښت زره درهم مصرف کړل، د عروه روايت دی چي کله حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه اسلام قبول کړ نو هغه وخت د هغه سره څلوېښت زره درهم وه او هغه ټول يې د رسول الله ﷺ په زمانه کي د الله ﷻ په لاره کي مصرف کړل، د عروه په يوه روايت کي دي چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هغه اووه غلامان رانيول او د الله ﷻ په لاره کي يې ازاد کړل چي د اسلام منلو په وجه د خپلو بادارانو له خوا د سخت ظلم او تکليف ښکاره وه، حضرت بلال او حضرت عامر ابن فهيره رضي الله عنهما د هغه اوو څخه دي.

ابوبکر رضي الله عنه د صحابه کرامو سردار دی

﴿۵۷۷۳﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ سَيِّدُنَا وَخَيْرُنَا وَأَحَبُّنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الترمذي.

د حضرت عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چي ابوبکر رضی الله عنه زموږ سردار دی او زموږ غوره دی او په موږ کي رسول الله ﷺ ته زيات محبوب دی. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۶۶، رقم: ۳۶۵۶.

د رسول الله ﷺ د غار ملګری

﴿۵۷۷۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ أَنْتَ صَاحِبِي فِي الْغَارِ وَصَاحِبِي عَلَى الْحَوْضِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ رسول الله ﷺ ابوبکر رضی الله عنه ته وفرمايل: ته زما د غار ملګری يې او پر حوض کوثر باندي به زما ملګری يې. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي: ۵\۵۷۲، رقم: ۳۶۷۰.

تشريح: مطلب دا وو چي ته زما د دنيا ملګری هم يې او د آخرت هم، څرګنده دي وي چي د غار څخه مراد د مکې څخه درې پر درې ميله فاصله باندي واقع د جبل ثور هغه غار دی چيري چي د هجرت په دوران کي رسول الله ﷺ او ابوبکر صديق رضی الله عنه هلته پټ وه او د دغه آيت کريمه (ثاني اثنين اذ هما في الغار اذ يقول لصاحبه لاتحزن ان الله معنا) کي د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه صحابيت او ملګرتيا ته اشاره ده.

علماؤ او مفسرينو وضاحت کړی ديچي په دغه آيت کي د صاحبه څخه مراد حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه دی، له دې کبله علماء وايي چي د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د صحابيت او ملګرتيا رسول څخه انکار کوونکي کافر کيږي ځکه چي د هغه څخه انکار د نص جلي څخه انکار دی، د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه پر خلاف د نورو يعني د حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت علي رضی الله عنه او نورو صحابه کرامو د صحابيت څخه انکار کوونکی نه کافر کيږي، په هر حال د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو چي اې ابوبکر! ته زما داسي ملګری او دوست يې چي الله جل جلاله ستا د دوستی او ملګرتيا شاهدي ورکړې ده او غالبا له دې کبله د يار غار لفظ د رينښتوني او پخې ملګرتيا او رفيق په معنی کي د محاورې په توګه استعماليږي.

د ابوبکر صديق رضی الله عنه فضيلت

﴿۵۷۷۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْبَغِي

لِقَوْمٍ فِيهِمْ أَبُو بَكْرٍ أَنْ يَؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په کومه ډله کي چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه موجود وي مناسب نه دي چي د هغه څخه پرته بل سړی امام جوړ سي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي: ۵\ ۵۷۳، رقم: ۳۶۷۳.

تشريح: دغه حديث د امامت په اړه د يو اصولي حکم حيثيت هم لري چي د يوې ډلي د امامت وړ هغه سړی دی چي په هغوی کي تر ټولو افضل وي او هغه ددې خبري څرګند دليل هم ګرځول کيږي، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په ټولو صحابوو کي تر ټولو افضل دی، کله چي دا خبره ثابته سول نو دا هم ثابته سول چي د رسول الله ﷺ څخه وروسته د خلافت اصل مستحق هغه وو، ځکه چي د فاضل په موجودتيا کي يو مفضول خليفه جوړول غير مناسب خبره ده ځکه حضرت علي رضي الله عنه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په مخاطب کولو سره فرمايلي وه چي کله رسول الله ﷺ تاسو (د لمانځه لپاره امام وګرځولاست) او زموږ د دين پيشوا يې وګرځولې نو بيا زموږ د دنيا په معامله (يعني خلافت) کي کوم څوک تاسو ترشا غوړځولای سي.

ابوبکر رضي الله عنه سبقت يوړی

﴿۵۷۷۶﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَصَدَّقَ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ موږ ته د خدای جل جلاله په لار کي د

وَوَافَقَ ذٰلِكَ عِنْدِي مَالًا فَقُلْتُ الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَا بَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا قَالَ

صدقې او خيرات کولو حکم راکړ، په حسن اتفاق سره هغه وخت زما سره ډير مال وو، ما په خپل زړه کي وويل که تر ابوبکر رضي الله عنه مخته والی زما لپاره يو ورځ ممکن وای نو نن به ممکن وي، او

فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِي فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ

زه به د ډير مال ورکولو سره مخته والی تر لاسه کړم، نو زه د نيم مال راوړلو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم، رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه د کورنۍ لپاره دي څومره مال

قُلْتُ مِثْلَهُ وَأَتَى أَبُو بَكْرٍ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ قَالَ

پرېښنود، ما عرض وکړ: نیم مال، بیا ابوبکر رضي الله عنه څه چي د هغه سره وه ټول یې راوړل، رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه اې ابوبکر! کورنۍ ته دي څه پرې ایښي دي؟ هغه عرض وکړ د

أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ قُلْتُ وَاللَّهِ لَا أَسْبِقُهُ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا. رواه الترمذي وابوداؤد.

هغوی لپاره مي خدای او د هغه رسول پرې ایښي دي، ما په زړه کي وویل چي زه به پر ابوبکر رضي الله عنه هیڅکله مخته والی تر لاسه نه کړم. ترمذي او ابوداؤد

تخریج: سنن الترمذي ۵\ ۵۷۴، رقم: ۳۶۷۵، وابوداود ۲\ ۳۱۲، رقم: ۱۶۷۸،

تشریح: او د هغه سره چي څه وه، ددغه الفاظو څخه اشارتًا دا خبره مفهوم کیږي چي حضرت عمر رضي الله عنه د خپل مال څخه کومه نیمه برخه راوړل هغه کیدای سي د مالیت او مقدار په اعتبار د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د مال او اسباب څخه زیاته وه مګر په دې اعتبار چي حضرت عمر رضي الله عنه خو خپل نیم مال د کورنۍ لپاره پرې ایښی وو او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خپلي کورنۍ لپاره هیڅ نه وه پرې ایښي هر څه یې راوړي وه، دا فضیلت حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته حاصل سو، حقیقت دادی چي اصل قیمت د جذبې وي، د یو سړي سره لس لکه روپۍ وي او د هغه څخه پنځه لکه د الله جل جلاله په لاره کي مصرف کړي نو یقینا هغه ته به لویه مرتبه او مقام تر لاسه کیږي مګر تر دې لویه مرتبه او مقام به د هغه سړي وي چي د هغه ټوله سرمایه پنځه سوه روپۍ وي او هغه پنځه سوه ددې خبري څخه په بې نیازه کېدو سره د الله جل جلاله په لاره کي وړاندي کړي چي وروسته به د هغه او دهغه د کورنۍ اړتیا په څه شي پوره کیږي، ددې سره سم په یو حدیث کي فرمایل سوي دي: افضل الصدقة جهد المقل، غوره صدقه هغه ده چي کم مال والا یې په قربانۍ کولو سره ورکړي.

الله جل جلاله او دهغه رسول ﷺ مي پرې ایښي دي: ددغه جواب په ذریعه حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خپل یقین اظهار وکړ چي د الله جل جلاله او د هغه د رسول رضا او خوشحالي زما او زما د کورنۍ لپاره د دواړو جهانو لویه سرمایه ده، ددغه سرمایې په مقابله کي دنیوي مال او سامان بې حیثیته دي، یا د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د جواب مطلب دا وو چي زما په کور کي کوم مال او سامان وو هغه ټول ما راوړی دی او د الله جل جلاله په لاره کي مي وړاندي کړی دی، او کوم چي د کورنۍ د اړتیاوو سوال دی نو د الله جل جلاله فضل او احسان، د هغه رزاقیت او د هغه د

رسول د مرستي او اعانت يقين د هغوى لپاره كافي دى، كه د حضرت ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ ټول مال د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د نيم مال څخه زيات وو نو په دې كې د ابوبكر رضی اللہ عنہ فضيلت بېله شكه مسلم او ظاهرېږي او كه د هغه مال د حضرت عمر رضی اللہ عنہ تر مال كم وي نو بيا هم د هغه فضيلت په دې اعتبار منل كيږي چې هغه د خپل ټول سامان په راوړلو سره د الله جل جلالہ په لاره كې وړاندې كړ.

زه پر ابوبكر رضی اللہ عنہ باندې هيڅكله فضيلت تر لاسه كولاى نه سم، حضرت عمر رضی اللہ عنہ فكر كړى وو چې په هر نېك كار كې ابوبكر رضی اللہ عنہ پر ما مخته وي، نن داسې موقع ده چې زه هغه تر شا كړم، مګر كله چې هغه د حضرت ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ قرباني او اطاعت وليدى نو وه يې ويل: كه د مخته والي كېدو د دومره پوره ذريعې موجود كېدو سربېره زه نن هم د هغه څخه تر شا سوم نو يقين دى چې بيا هيڅكله د هغه څخه مخته كيداى نه سم، په ځينو روايتو كې راغلي دي چې په دغه وخت كې رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم دواړو ته وفرمايل: ما بينكما كما بين كلمتكما: ستاسو په منځ كې هغه فرق دى كوم چې ستاسو د دواړو په الفاظو كې تر لاسه كيږي.

د عتيق د نامه سبب

﴿۵۷۷۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَنْتَ عَتِيقُ اللهِ مِنَ النَّارِ فَيَوْمَئِذٍ سُمِّيَ عَتِيقًا. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چې يوه ورځ ابوبكر رضی اللہ عنہ د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم په خدمت كې حاضر سو، رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم هغه ته وفرمايل: ته د دوږخ د اور څخه الله جل جلالہ آزاد كړي (انت عتيق من النار) نو د هغه ورځې څخه د ابوبكر رضی اللہ عنہ نوم عتيق سو. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۵۷۵، رقم: ۳۶۷۹.

د لغاتو حل: عتيق: المتقدم في الزمان.

تشريح: د عتيق معنى د ازاد ده، د حضرت ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ يو نوم عتيق هم دى او د دې وجه دغه حديث بيانوي چې عتيق د حسن او جمال، شرافت او نجابت په معنى راځي او دغه ټولې ښېګڼې د حضرت ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ په ذات كې موجود دې ځكه ورته عتيق ويل كېدل، مګر خپله حديث د دغه نامه صراحت كړى دى چې د عتيق څخه مراد د دوږخ د اور څخه د ازاد سړي دى ځكه نو بله وجه بيانول به معتبر نه وي او په يوه روايت كې دا هم راغلي دي:

قال صلی اللہ علیہ وسلم: من اراد ان ينظر بنظر الى عتيق من النار فلينظر الى ابي بكر.

ژباړه: رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم وفرمايل: څوك چې د دوږخ د اور څخه د ازاد سړي د ليدلو خواهش لري

نو هغه دي ابوبکر ﷛ ته وګوري.

اصلي نوم او نسب: د حضرت ابوبکر ﷛ اصل نوم عبدالله دی او د ابوقحافه عثمان زوی دی، د نسب لړۍ يې عبدالله ابن ابوقحافه عثمان ابن عامر ابن عمرو ابن کعب ابن سعد ابن تميم ابن مره دی، چي په اووم نيکه کي د نبي کريم ﷺ د نسب سره يو ځای کيږي، حضرت ابوبکر صديق ﷛ لومړنی هغه سړی دی چي تر ټولو مخکي يې د رسول الله ﷺ تصديق وکړ او په ايمان او اسلام مشرف سو، د نبي کريم ﷺ د ژوند هيڅ داسي غزا او ښېښه نسته چي په هغه کي د ګډون او ملګرتيا شرف تر لاسه سوی نه وي، نوموړي يوازينی سړی دی چي نه خو د جاهليت په زمانه کي د رسول الله ﷺ څخه بېل وو او نه د اسلام په زمانه کي هيڅ وخت ځيني بېل سوی دی، خپله هم صحابي دی او مور و پلار يې هم صحابي دي او اولاد يې هم صحابي دي، که دغه عظيم خصوصيت يو چا ته حاصل وي نو هغه يوازي حضرت ابوبکر صديق ﷛ دی، حضرت ابوبکر صديق ﷛ نه يوازي د سيرت او باطن په اعتبار په ټولو صحابه کرامو کي بې مثاله وو بلکه هغه سر تر پايه او په ظاهري جمال کي هم بې مثاله وو، سپين رنګ، سپک بدن، ډک تندی، او ښکلې سترګي دا ټول په يو ځای کېدو سره د هغه شخصيت يې ډېر زړه وړونکی ګرځولی وو، د فيل د پېښي څخه دوه کاله، څلور مياشتي او څو ورځي وروسته په مکه معظمه کي پيدا سو او په ۱۳ هجري کال د جمادي الثاني په دوه وېشتمه نېټه (يا اتمه نېټه) د سه شنبې په ورځ د ماښام او ماخستن په منځ کي د ۶۳ کالو په عمر په مدينه منوره کي وفات سو، حضرت ابوبکر صديق ﷛ وصيت کړی وو چي ما ته دي غسل زما ښځه بي بي اسماء بنت عميس ﷝ راکړي، نو بي بي اسماء ﷝ هغه ته غسل ورکړ او حضرت عمر فاروق ﷛ هغه ته د جنازې لمونځ ورکړ، دوه کاله او څلور مياشتي د حضرت ابوبکر صديق ﷛ خلافت وو، ډېرو صحابه کرامو او تابعينو ته د نوموړي څخه د حديث د روايت کولو شرف تر لاسه دی مګر د رسول الله ﷺ وروسته لږ وخت ژوندی وو ځکه نو د نوموړي روايتونه ډېر کم دي.

د قبر چاودل

﴿۵۷۷۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به تر ټولو

مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ ثُمَّ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ عُمَرُ ثُمَّ آتِي أَهْلَ الْبَقِيعِ فَيُحْشَرُونَ

مخكي زما قبر چوي او تر ټولو مخكي به زه د قبر څخه راپورته سم ، بيا دابوبكر رضي الله عنه قبر او بيا دعمر رضي الله عنه ، بيا به زه د بقيع په هديره كي ښخ سوو ته راسم او هغوى به زما سره راپورته سي

مَعِي ثُمَّ أَنْتَظِرُ أَهْلَ مَكَّةَ حَتَّى أُحْشَرَ بَيْنَ الْحَرَمَيْنِ. رواه الترمذي.

او جمع به كړل سي ، بيا به زه د مكې والاوو انتظار كوم تر دې چي د حرم مكه او حرم مدينه په منځ كي به زه د هغوى سره يو ځاى سم. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٥٨١، رقم: ٣٦٩٢.

تشريح: د قيامت په ورځ به تر ټولو مخكي رسول الله ﷺ د خپل قبر څخه را پورته كيږي، د رسول الله ﷺ څخه وروسته به تر ټولو مخكي راپورته كېدونكى سړى حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه وي، او بيا به حضرت عمر رضي الله عنه را پورته كيږي، رسول الله ﷺ به د خپل قبر څخه په را پورته كېدو سره د بقيع هديرې ته راسي او هلته به اهل بقيع د رسول الله ﷺ په مخكي د خپلو خپلو قبرو څخه راووځي او د رسول الله ﷺ سره به يو ځاى سي، دلته به رسول الله ﷺ د اهل مكه انتظار كوي چي هغوى به هم د خپلو خپلو قبرو څخه په را پورته كولو سره دلته راوستل سي او د رسول الله ﷺ سره به يو ځاى كړل سي ، بيا به د اهل مكه او اهل مدينه سره رسول الله ﷺ د حشر ميدان ته روان سي او هلته به د ټولو خلكو سره يو ځاى سي .

جنت ته داخليدل

﴿٥٧٧٩﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِي

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يوه ورځ

جِبْرِيلُ فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَرَانِي بَابَ الْجَنَّةِ الَّذِي تَدْخُلُ مِنْهُ أُمَّتِي فَقَالَ أَبُو

جبرائيل عليه السلام ما ته راغلى او زما لاس يې په خپل لاس كي واخيستى (دا واقعه د معراج ده) او ما ته يې د جنت هغه دروازه وښودل چي پر هغه به زما امت په جنت كي داخليږي،

بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ مَعَكَ حَتَّى أَنْظُرَ إِلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ

ابوبكر رضي الله عنه عرض وكړ اې دالله رسوله ! كاش چي زه هم ستاسو سره واى چي هغه دروازه مي

أَمَا إِنَّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ أَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي. رواه ابوداؤد.

لیدلی وای، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: اې ابوبکر! خبردار سه! زما په امت کي به تر ټولو لومړنی سړی ته یې چي په جنت کي به داخلیږې. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۵\۴۱، رقم: ۴۶۵۲.

تشریح: ما ته یې د جنت دروازه وښودل: دغه پیښه یا خو د معراج د شپې ده چي رسول الله ﷺ یې یادونه وکړل او یا د بل وخت پیښه ده کله چي رسول الله ﷺ ته د جنت لیدنه ور په برخه سول.

په هغوی کي تر ټولو لومړنی سړی ته یې: یعني ته به جنت ځې او تر ټولو مخکي به ځې، نو هغه وخت د جنت دروازه هم ووینه یا د دغه الفاظو څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي د جنت د دروازې څه خواهش کوې ستا لپاره خو هغه شی مقدر دی چي تر دې ډېر لوړ او افضل دی یعني زما سره ستا په جنت کي داخلېدل، په هر حال دغه حدیث د دې خبري دلیل دی چي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په امت محمدي کي تر ټولو افضل سړی دی، که هغوی ته افضیلت حاصل نه وای نو د امت په خلګو کي به تر ټولو مخکي په جنت کي د داخلېدو شرف د هغه لپاره ولي ټاکل سوی وای.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دریم فصل)

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه دوه عملونه

﴿۵۷۸۰﴾: عَنْ عُمَرَ ذُكِرَ عِنْدَهُ أَبُوْ بَكْرٍ فَبَكٰى وَقَالَ وَدِدْتُ أَنَّ عَمَلِيْ كُلَّهُ مِثْلُ

د حضرت عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي یوه ورځ د هغه په مخکي د ابوبکر رضی الله عنه ذکر وسو، نو دی په ژړا سو او وه یې ویل زما خوښه ده چي زما ټول عمل د ابوبکر د یوې ورځي د ورځو

عَمَلِهِ يَوْمًا وَاحِدًا مِنْ أَيَّامِهِ وَلَيْلَةً وَاحِدَةً مِّنْ لَيَالِيْهِ أَمَّا لَيْلَتُهُ فَلَيْلَةٌ سَارَ

په شان سي او په شان د یوې شپې سي له شپو د ده څخه، د هغه د یوې شپې عمل خو دا دی چي

مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْغَارِ فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَيْهِ قَالَ وَاللهِ لَا

هغه د رسول الله ﷺ سره د هجرت په شپه روان سو غار ثور ته ورسیدل او رسول الله ﷺ ته یې عرض وکړ قسم په خدای (تاسو به تر هغه وخته پوري په غار کي قدم نه ایږدئ)

تَدْخُلُهُ حَتّٰى أَدْخُلَ قَبْلَكَ فَإِنْ كَانَ فِيْهِ شَيْءٌ أَصَابَنِيْ دُوْنَكَ فَدَخَلَ فَكَسَحَهُ

تر څو پوري چي زه په هغه کي داخل نه سم او وه ګورم چي په دې کي خو به یو مضر شی نه وي که

يو داسي شی وي نو چي د هغه ضرر ما ته ورسيږي او تاسو خوندي پاته سئ، نو ابو بکر رضی الله عنه په غار کي ننوتی او هغه يې جارو کړ،

وَوَجَدَ فِي جَانِبِهِ ثُقْبًا فَشَقَّ إِزَارَهُ وَسَدَّهَا بِهِ وَبَقِيَ مِنْهَا اثْنَانِ فَأَلْقَمَهُمَا

بيا ابوبکر رضی الله عنه په غار کي دننه يو سوری وليدی يو خو يې په خپل لونګ څيرلو سره بند کړی او په دوو سوريانو کي يې خپلي پوندي داخلي کړې

رِجْلَيْهِ ثُمَّ قَالَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُدْخُلْ فَدَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ

او د هغه وروسته يې رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي تشريف راوړئ، رسول الله ﷺ غار ته دننه

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوَضَعَ رَأْسَهُ فِيْ حِجْرِهِ وَنَامَ فَلُدِغَ أَبُوْبَكْرٍ فِيْ رِجْلِهِ مِنَ

راغلی او د ابوبکر رضی الله عنه په غيږ کي يې خپل سر مبارک کښېښود او بيده سو، په دغه حالت کي د سوري دننه ابوبکر رضی الله عنه پر پښه (مار) وچيچی،

الْجُحْرِ وَلَمْ يَتَحَرَّكْ مَخَافَةَ أَنْ يَّنْتَبِهَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مګر هغه هم هغسي ناست وو او له دې کبله يې حرکت ونه کړ چي د رسول الله ﷺ سترګي

فَسَقَطَتْ دُمُوْعُهُ عَلٰى وَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا لَكَ يَا أَبَا

مبارکي ونه لغړيږي، مګر د زيات درد له کبله د هغه پر سترګو اوښکي راغلې چي د رسول الله ﷺ پر مخ مبارک پريوتې، د رسول الله ﷺ سترګي مبارکي ولغړيدې او پوښتنه يې وکړه اې

بَكْرٍ قَالَ لُدِغْتُ فِدَاكَ أَبِيْ وَأُمِّيْ فَتَفَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابوبکره! څه وسوه؟ هغه عرض وکړ زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي زه (مار) وچيچلم، رسول الله ﷺ د خپلي خولې مبارکي ناړي د هغه پر پښه په زخم پوري کړې

فَذَهَبَ مَا يَجِدُهُ ثُمَّ انْتَقَضَ عَلَيْهِ وَكَانَ سَبَبَ مَوْتِهِ وَأَمَّا يَوْمُهُ فَلَمَّا قُبِضَ

او د هغه تکليف ختم سو، د دې پېښي څخه وروسته ډير وخت وروسته د مار زهرو بيا اثر وکړ او هم دغه زهر د هغه د مرګ سبب جوړ سو، د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د يوې ورځی عمل دا دی

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْتَدَّتِ الْعَرَبُ وَقَالُوْا لاَ نُؤَدِّيْ زَكَاةً فَقَالَ لَوْ

کله چي رسول الله ﷺ وفات سو نو د عربو خلک مرتد سول (یعني د دین څخه واوښتل) او هغوی اعلان وکړ چي موږ زکوة نه ورکوو ، ابوبکر رضی الله عنه وفرمایل : که

مَنَعُوْنِيْ عِقَالاً لَجَاهَدْتُهُمْ عَلَيْهِ فَقُلْتُ يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

خلک ما ته د اوښ د رسۍ راکولو څخه هم انکار وکړي نو زه به د هغوی سره جهاد کوم، ما ورته وویل (حضرت عمر رضی الله عنه فرمایي) اې د رسول الله ﷺ خلیفه !

وَسَلَّمَ تَأَلَّفِ النَّاسَ وَارْفُقْ بِهِمْ فَقَالَ لِيْ أَجَبَّارٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَخَوَّارٌ فِي الْإِسْلَامِ إِنَّهُ قَدِ انْقَطَعَ الْوَحْيُ وَتَمَّ الدِّيْنُ أَيَنْقُصُ وَأَنَا حَيٌّ. رواه رزين.

د خلکو سره الفت او موافقت کوئ او د نرمۍ څخه کار واخلئ، نو ابوبکر رضی الله عنه راته وفرمایل : اې عمر ! د جاهلیت په ورځو کي خو ته ډېر سخت مزاجه وې ایا په اسلام کي د داخلید و سره دومره نرم سوې، د وحي لړۍ بنده سوه او دین پوره سوی دی ایا دین به کمیږي او زه به ژوندی یم . رزین.

تخريج: رواه رزين.

د لغاتو حل: كسحه: اي كنسه . (جارو يې كړ). انتقض: اي رجع(راستون سو). عقالا: اي حبلا صغير (كوچنۍ رسۍ). خوار: اي جبان وعطوف.

تشريح: او له همدې کبله د هغه مرګ واقع سو، یعني په هغه شپه چي د ثور په غار کي د سوري څخه مار پر پښه چیچلی وو، هغه وخت هم د هغه زهرو اثر د رسول الله ﷺ د لعاب مبارک په برکت زائل سوی وو بیا د دغه پېښي څخه ډېر وخت وروسته د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په آخر عمر کي د هغه زهرو اثرات څرګند سول او په همدغه سبب د هغه مرګ واقع سو ، همدارنګه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته هغه مرتبه تر لاسه سول کوم چي د الله جل جلاله په لاره کي شهید ته تر لاسه کیږي، ځکه چي د کومو زهرو د اثر څخه هغه وفات سو دا هغه ته هغه وخت رسېدلي وو کله چي هغه د الله جل جلاله او د هغه د رسول د رضا لپاره د هجرت په سفر کي د الله جل جلاله د رسول معیت اختیار کړ او د الله جل جلاله د رسول د ضرر څخه د خوندي کولو لپاره خپله هر ضرر ته ور وړاندي کېدی، د زهرو د اثر بېرته راګرځېدو پېښه رسول الله ﷺ ته هم پېښه سوې وه، د خیبر د غزا په وخت کي د پسه په غوښو کي د زهرو په ګډولو سره رسول الله ﷺ ته ورکړل سوي وي هغه وخت خو الله جل جلاله

د هغه زهرو د ضرر څخه خوندي کړی وو مګر په مرض الموت کي بیا د زهرو اثرات ظاهر سول.

موږ زکوة نه ادا کوو: د هغه قبائلو د زکوة ادا کولو په اړه دا ویل د انکار په توګه وه یعني یا خو هغوی د زکوة د وجوب څخه منکر سوي وه یا په ډاګه د زکوة نه ورکولو اعلان یې کړی وو، ددې تفصیل مخکي په کتاب الزکوة کي تېر سوی دی، زموږ ځینو علماؤ لیکلي دي: که یو چا ته په شرعي توګه حکم ورکړل سي چي زکوة ادا کړي او هغه جواب ورکړي چي زه زکوة نه ادا کوم نو هغه سړی کافر کیږي.

که دغه خلګ د رسۍ راکولو څخه هم انکار وکړي، دا خو د (لو منعوني عقالا) معنی ده، عقال په اصل کي هغه رسۍ ته وایي چي په هغه سره د اوښ پښې تړل کیږي، که د چا سره اوښان وي او په هغه اوښانو کي زکوة واجب وي او بیا هغه د نصاب مطابق یو یا تر یو زیات اوښان په زکوة ورکړي نو د هغه لپاره ضروري ده چي هغه د رسۍ سره اوښ ورکړي ځکه چي د زکوة پر ادا کوونکي لازم ده چي هغه په زکوة کي د زکوة شیان د زکوة اخیستونکي په قبضه کي ورکړي، څرګنده ده چي اوس په پوره توګه په قبضه کي هغه وخت راتلای سي چي په رسۍ یا بل شي سره تړلی واخیستل سي او ځینو حضراتو ویلي دي چي عقال په اصل کي د اوښ یا پسه د یوه کال زکوة ته وایي، په لغت کي د عقال دغه دواړي معناوي راغلي دي مګر زیاته مشهور او متعارف معنی لوموړنۍ یعني د رسۍ ده، صاحب قاموس دغه لفظ په بلي معنی کي ذکر کړی دی او ویلي یې دي چي د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ په الفاظو: لومنعوني عقالا، کي د عقل دا معنی مراد ده چي د اوښ یا پسه د یوه کال زکوة، په یوه روایت کي د عقالا پر ځای د عناقا الفاظ نقل سوي دي چي معنی یې د پسه د هغه وري ده چي د یوه کال پوره سوی نه وي.

بې زړه او نرم سوی یې: د دغه الفاظو په ذریعه حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د حضرت عمر ﷛ د رایي خلاف د سختي ناخوښۍ اظهار وکړ، د هغه د وینا مطلب دا وو چي کله ته مسلمان سوی نه وې او د جاهلیت په زمانه کي وې نو هغه وخت خو ته ډېر زړه ور او غیور وې، پر معمولي خبره دي دومره غصه کول چي توره به دي راوکښل مګر اوس په تا څه سوي دي چي د اسلام د دومره لوی حکم څخه د انکار کونکو په اړه د نرمۍ اختیارولو مشوره ماته راکوې، ددغه مرتدانو پر خلاف ما د تورو پورته کولو څخه منع کوې، داسي مشوره خو ستا په ډول د زړه ورو او غیور مسلمانانو شان نه دی، دا خو د بې زړه توب او نرمۍ خبره ده، د هغه عربو په قبیلو کي د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ سخت رویه او د هغوی فیصله په اصل کي د هغه د بې مثاله مېړانه او د هغه د سخت دیني حمایت او غیرت غماز ده،

که څه هم د حضرت عمر رضی الله عنه په ذکر سوې رايه کي حضرت علي رضی الله عنه هم شريک وو مګر ددې سربېره د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه باکمال بصيرت هغه رايي ته ارزښت ور نه کړ او په پوره مېړانه يې د هغه مرتدو پر خلاف د توري چلولو فيصله وکړل، د هغه د کلکي ارادې په لېدو سره حضرت عمر رضی الله عنه خپله رايه بدله کړل او نه يوازي دا بلکه هغه په دغه وخت کي په ډاګه اعتراف وکړ چي اوس الله جل جلاله زما سينه خلاصه کړې ده او زما يقين دی چي هغه خبره صحيح ده کوم چي د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د فيصلې په صورت کي مخته راغلې ده، بلکه هغه د دغه پېښي څخه وروسته هم زيات وختونه د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د دغه باعزيمت فيصلې تعريف کوی او څرنګه چي په دغه حديث کي دی چي دا به يې هم ويل: حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د ژوند محض دغه يوه فيصله دومره عظيمه کړنه ده که زما د ټول ژوند نېک اعمال د هغه د يوه عمل برابر وګرځول سي نو زه به يې خپله نيک بختي ګڼم.

د وحي لړۍ منقطع سوې ده: دغه خبره حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه په دې معنی وکړل چي مخکي خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په دنيا کي موجود وو، ديني هدايات او لارښوونې د وحي په صورت کي تر لاسه کېدلې مګر اوس حالت بدل سوی دی، د اجتهاد څخه ماسوا داسي يوه ذريعه زموږ سره نسته چي موږ په راتلونکو مسئلو کي چي په قرآن کريم او حديثو کي په څرګنده ذکر سوي نه وي، صحيح فيصله وکړای سو، نو په يوه ديني معامله او مسئله کي د رايي ورکولو پر وخت ښه فکر کول پکار دي او د معاملې ټول اړخونه بايد په ذهن کي وي.

ددې څخه ماسوا د الله جل جلاله ارشاد دی:

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي...

ددې سره سم دين د الله جل جلاله د رسول په ذريعه په خپل مکمل صورت کي موږ ته را رسېدلی دی ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خليفه په حيثيت سره زما ذمه داري ده چي د دين د دغه اصل او په پوره توګه ساتنه وکړم او هيڅ داسي فتنه نه پرېږدم چي په هغه سره دين ته د تاوان رسېدو بېره وي.

==========

بَابُ مَنَاقِبِ عُمَرَ رضي الله عنه

(د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د مناقبو او فضائلو بيان)

د امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه مناقب او فضائل بې شمېره دي، د نوموړي په عظيم شخصيت او حيثيت او د هغه په لوړ مقام او مرتبې کي دا يوه خبره کافي ده چي الله جل جلاله د خپل رسول ﷺ د دعاء په قبلولو سره هغه ته د اسلام قبلولو توفيق ورکړ او د هغه په ذريعه يې خپل دين ته ستر شان او شوکت ورکړ، د هغه تر ټولو لوی فضيلت دادی چي د الله جل جلاله له لوري به هغه ته صحيح لار روښانه کېدل، د الهام او القاء په ذريعه به په غيبي توګه د هغه لاربښوونه کېدل، د هغه په زړه کي به هغه خبره اچول کېدل چي حق به وه او د هغه رايه به د وحي الهي او کتاب الله موافق کېدل، له دې کبله علماؤ ليکلي دي چي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په حق کي د هغه رايه د خلافت صديق د حق کېدو دليل دی لکه څرنګه چي د حضرت عمار ابن ياسر رضي الله عنه شاهدي د حضرت علي مرتضی رضي الله عنه په حق کېدو باندي دليل منل کيږي.

ابن مردويه رضي الله عنه د حضرت مجاهد رحمة الله عليه قول نقل کړی دی چي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به يو رايه ورکول د هغه موافق به قرآني آياتونه نازلېدل، ابن عساکر د سيدنا علي رضي الله عنه دا الفاظ نقل کړي دي: قرآن د حضرت عمر رضي الله عنه د رايي څخه يوه رايه ده، يعني د قرآني آياتونو يوه لويه برخه د حضرت عمر رضي الله عنه د رايي مطابق ده، د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه مرفوعا روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که چيري (په يوه مسئله کي) د ټولو خلګو رايه يوه وي او د عمر رضي الله عنه رايه بله وي او (د هغه مسئلې په اړه) د قرآن آيت نازل سي نو هغه به د عمر رضي الله عنه د رايي مطابق وي، دغه روايت سيوطي رحمة الله عليه په تاريخ الخلفاء کي نقل کړی دی او ليکلي يې دي چي موافقات عمر يعني د حضرت عمر رضي الله عنه د رايي سره په قرآن کريم کي چيري چي اتفاق سوی دی داسي ځايونه شل دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

حضرت عمر رضي الله عنه محدث وو

﴿۵۷۸۱﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ كَانَ فِيمَا قَبْلَكُمْ مِنَ الْأُمَمِ مُحَدَّثُونَ فَإِنْ يَكُ فِي أُمَّتِي أَحَدٌ فَإِنَّهُ عُمَرُ. متفق عليه.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ستاسو څخه مخکني امتونو کي محدثون وه (یعني الهام به ورته کیدی) که زما په امت کي یو څوک محدث وي نو هغه به عمر وي . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۲، رقم: ۳۶۸۹، ومسلم ۴\۱۸۶۴، رقم: ۲۳-۲۳۹۸.

د لغاتو حل: محدثون: اي ناس ملهمون. (الهام ورته کېدونکی)

تشریح: که زما په امت کي څوک محدث وای، دد ې څخه مقصد په امت کي د محدث وجود مشکوک او مشتبه کول نه دی ، امت محمدي خو تر مخکنیو ټولو امتونو افضل او اعلی دی، که په تېرو امتونو کي محدث وو نو په دغه امت کي د هغه وجود په یقیني توګه په طریقه اولی دی، نو ددغه الفاظو مقصد تاکید او تخصیص دی یعني په دغه امت کي یوازي حضرت عمر رضی الله عنه ددغه ځانګړتیاوو او اوصافو حامل دی چي د هغه څخه د هغه محدث کېدل ظاهرېږي، ددغه جملې مثال داسي دی لکه یو سړی د خپل مخلص ملګري د خاص حیثیت په څرګندولو سره ووایي که په دنیا کي څوک زما دوست وي نو بس هغه دی، لکه څرنګه چي ددغه جملې مراد دهغه سړي د کمال او ډېري ځانګړتیاوي بیانول دي همدارنګه د حدیث د ذکر سوي جملې مراد په ذکر سوي وصف سره د حضرت عمر رضی الله عنه زیاته ځانګړتیا بیانول دي .

د محدث معنی : محدث دلته د ملهم (صاحب الهام) په معنی کي دی یعني هغه څوک چي د هغه په زړه کي د غیب څخه یوه خبره لوېږي، هغه ته محدث په دې اعتبار ویل کیږي چي د هغه سره په غیبي طاقت خبره کوي، هغه ته هغه خبره ښیي چي نورو ته معلومه نه وي او بیا هغه سړی دغه خبره نورو خلګو ته رسوي، په مجمع البحار کي لیکلي دي: محدث هغه سړي ته وایي چي د هغه په زړه کي (د الله جل جلاله له خوا) یوه خبره واچول سي او بیا هغه سړی د ایماني فراست په ذریعه هغه خبره نورو ته رسوي او دغه مرتبه هغه سړي ته په برخه کیږي چي الله جل جلاله یې نازول غواړي، ځینو حضراتو ویلي دي چي محدث هغه سړي ته وایي چي د هغه ګمان (د اختلافي خبرو) هغه اړخ اختیار کړي چي صواب یعني صحیح وي، او په آخر کي د هغه رایه داسي صحیح ثابته سي لکه یو پوهېدونکي چي هغه ته ښودلې وي او ځینو حضراتو دا لیکلي دي چي د محدث اطلاق پر هغه سړي کیږي چي ملائکي د هغه سره کلام (خبري) کوي، دغه قول غالبا په دې وجه دی چي په یوه روایت کي د محدثون پر ځای د متکلمون لفظ نقل سوی دی .

د عمر ﷺ څخه د شیطان بیره

﴿۵۷۸۲﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روایت دی چي عمر بن خطاب رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کي د حاضری اجازه وغوښتل،

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ نِسَاءٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُكَلِّمْنَهُ وَيَسْتَكْثِرْنَهُ عَالِيَةً

دغه وخت د رسول الله ﷺ سره د قریشو ځیني ښځي (یعني بیبیاني مبارکي) ناستي وې، په زوره زوره یې خبري کولې او زیاته غوښتنه یې کول،

أَصْوَاتُهُنَّ فَلَمَّا اسْتَأْذَنَ عُمَرُ قُمْنَ يَبْتَدِرْنَ الْحِجَابَ فدخل عمر وَرَسُولُ

کله چي حضرت عمر رضي الله عنه اجازه وغوښتل نو هغوی پورته سوې او د پردې په لور وځغاستې، عمر رضي الله عنه چي دننه راغلی نو رسول الله ﷺ

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُ فَقَالَ عُمَرُ أَضْحَكَ اللهُ سِنَّكَ يَا رَسُولَ اللهِ

خندل نو حضرت عمر رضي الله عنه وویل خدای جل جلاله دي ستا غاښونه په خندا ولري ای د الله رسوله،

فقَالَ النبي صلى الله عليه وسلم عَجِبْتُ مِنْ هَؤُلَاءِ اللَّاتِي كُنَّ عِنْدِي فَلَمَّا

نبي کریم ﷺ وویل د دغه ښځو پر حالت ما ته تعجب راځي (زما سره ناستي وې شور یې کوی)

سَمِعْنَ صَوْتَكَ ابْتَدَرْنَ الْحِجَابَ قَالَ عُمَرُ يا عَدُوَّاتِ أَنْفُسِهِنَّ أَتَهَبْنَنِي وَلَا

او چي کله یې ستا آواز واوریدی نو پردې ته ولاړې، عمر رضي الله عنه هغه بیبیاني مخاطب کړې ورته وویې ویل ای د خپل ځان د ښمنانو بیبیانو! زما څخه بیریږئ

تَهَبْنَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقُلْنَ نَعَمْ أَنْتَ أَفَظُّ وَأَغْلَظُ فقال

او د رسول الله ﷺ څخه نه بیریږئ، هغوی ورته وویل هو (ستا څخه ځکه بیریږو چي) ته سخت طبیعته یې او سخت ویونکی یې،

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ایة یا ابن الخطاب وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا

رسول الله ﷺ حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته وفرمایل : اې د خطاب زویه! بله خبره کوه (دوی پرېږده) په هغه ذات دې مې قسم وي چې د چا په لاس کې زما ساه ده

لَقِيَكَ الشَّيْطَانُ سَالِكًا فَجًّا إِلَّا سَلَكَ فَجًّا غَيْرَ فَجِّكَ. متفق عليه وقال الحميدي زاد البرقاني بعد قوله يا رسول الله ما اضحك.

کله چې ته پر یوه لاره ځې نو شیطان در ته مخته نه راځي بلکه پر کومه لاره چې ته ځې هغه پرېږدي او پر بله لار روان سي . بخاري او مسلم ، او حمیدي وویل چې برقاني د یارسول الله څخه وروسته ما اضحک الفاظ زیات کړي دي .

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۱، رقم: ۳۶۸۳، ومسلم ۴\۱۸۶۳، رقم: ۲۲-۲۳۹۶.

تشریح: او خبرې یې په زوره کولې، یعني د هغه آواز د رسول الله ﷺ پر آواز لوړ وو، نو په دې اړه یو احتمال دادی چې دغه پېښه د هغه وخت ده کله چې د رسول الله ﷺ په وړاندې د شور کولو یعني د رسول الله ﷺ د آواز څخه د خپل آواز پورته کولو منع په قرآن کریم کې نازله سوې نه وه ، او بل احتمال دادی چې د هغه ټولو آوازو نو په یو ځای کېدو سره شور جوړ سوی وو لکه څرنګه چې په عامه توګه کېږي چې کله یو څو ک خلک یو ځای په کراره خبرې کوي نو د ټولو د آوازونو په یو ځای کېدو سره شور ځیني جوړېږي، دا صورت نه وو چې په هغوی کې د هرې یوې یا د یوې آواز د هغه حد څخه لوړ وو کوم چې منع یې راغلې ده، دغه دواړه احتمالونه ملا علي قاري رحمۃ اللہ علیہ نقل کړي دي او بیا یې لیکلي دي: زه دا وایم چې د حدیث د الفاظو څخه دا چیرې ثابتیږي چې د هغه آواز دومره زیات لوړ وو چې د رسول الله ﷺ د آواز څخه پورته سوی وو او کله چې دا نه ثابتیږي نو بیا د الله جل جلالہ د ارشاد :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ...الاية.

اشکال نه پیدا کیږي،د حدیث د الفاظو څخه چې کومه خبره مفهوم کیږي هغه داده چې ازواج مطهرات و به په عامه توګه د رسول الله ﷺ په مخکې په کښته آواز خبرې کولې ، په دغه وخت کې د هغوی اواز د هغه عادت او معمول څخه لږ پورته سوی وو چې نه خو د حد ادب څخه متجاوز وو او نه د رسول الله ﷺ د خوش خلقی او خوش مزاجی د ناخوښی باعث سوی وو .

هغه د لارې څخه په آخوا کېدو سره بله لار اختیاروي، مطلب دا چې ستا هیبت دومره دی چې شیطان ستا د تصور څخه هم رپیږي، د هغه دومره توان نسته چې ستا مخته راسي ، په کوم

ځای کي چي ته یې هلته د شیطان تیریدل هم نه سي کیدای، په یوه روایت کي داسي راغلي دي چي شیطان د عمر رضي الله عنه د سایې څخه هم بیریږي، څرګنده دي وي چي د فج څخه مطلق لار مراد ده که هغه تنګه وي یا پراخه وي، مګر قیاس ته نژدې دادی چي دغه لفظ دلته پر خپل ظاهري معنی یعني پراخي لاري لپاره استعمال سوی دی او په دې کي دا نکته پټه ده چي شیطان د عمر رضي الله عنه پر پراخي لاري لېدو سره هم تښتي او بله لار اختیاروي، حال دا که چیري هغه وغواړي نو د پراخي لاري پر بلي غاړي هم تېرېدای سي مګر پر هغه باندي د عمر رضي الله عنه خوف او هیبت دومره غالب وي چي هغه د بلي لاري اختیارولو ته مجبور سي.

په جنت کي د حضرت عمر رضي الله عنه محل

﴿۵۷۸۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه چي جنت ته ولاړم (یعني د

أَنَا بِالرُّمَيْصَاءِ امْرَأَةِ أَبِي طَلْحَةَ وَسَمِعْتُ خَشَفَةً فَقُلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالَ هَذَا

معراج په شپه) نو ناڅاپه زما ملاقات د ابو طلحه د ښځي رمیصاء سره وسو او ما د قدمونو آواز واوریدی، ما پوښتنه وکړه دا د چا د قدمونو آواز دی، جبرائیل علیه السلام راته وویل دا

بِلَالٌ وَرَأَيْتُ قَصْرًا بِفِنَائِهِ جَارِيَةٌ فَقُلْتُ لِمَنْ هَذَا فَقَالَ لِعُمَرَ فَأَرَدْتُ أَنْ

د بلال رضي الله عنه د قدمونو آواز دی، بیا ما یوه ماڼۍ ولیدل چي په غولي کي یې یوه پیغله ښځه ناسته وه، ما پوښتنه وکړه دا د چا محل دی، هغوی راته وویل دا د عمر ابن خطاب رضي الله عنه محل دی، ما

أَدْخُلَهُ فَأَنْظُرَ إِلَيْهِ فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ فَقَالَ عُمَرُ بِأَبِي وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعَلَيْكَ أَغَارُ. متفق عليه.

غوښتل چي دننه ورسم محل وګورم مګر بیا (اې عمره!) ستا غیرت را ته یاد سو، عمر رضي الله عنه عرض وکړ اې د الله رسوله! زما مور او پلار دي پر تاسو قربان سي ایا زه به ستاسو پر داخلیدو غیرت کوم. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۰، رقم: ۳۶۷۹، ومسلم ۴\۱۸۶۲، رقم: ۲۰-۲۳۹۴.

د لغاتو حل: الرميضاء: تصغير رمضاء، امراة في عينها رمض. خشفة: اي حركة.

تشریح: رمیصا د حضرت ابو طلحه انصاري رضی الله عنه ښځه او د حضرت انس ابن مالک رضی الله عنه مور ده، مخکي د مالک ابن نضر په نکاح کي وه چي د هغه څخه حضرت انس رضی الله عنه پیدا سو، د مالک څخه وروسته ابو طلحه رضی الله عنه ورسره نکاح وکړل، د هغې د اصل نامه په اړه اختلاف دی، ام سلیم هم ورته ویل سوي دي او رمیصاء هم، یو مشهور نوم یې غمیصاء هم دی، رمیصاء په اصل کي د رمص څخه دی چي د هغه معنی د هغه سپینو خیرو ده چي د سترګو په کونج کي جمع کیږي او غمیصاء د غمص څخه دی چي معنی یې د سترګو خیره بهېدل دي.

ایا زه ستاسو سره غیرت کوم، دا د (اعلیک اغار) معنی ده او ځینو حضراتو ویلي دي چي په دغه جمله کي قلب الفاظ دی یعني اصل جمله داسي ده: اغار منک، او په ځینو روایتو کي دا هم دي چي حضرت عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د ارشاد په اورېدو سره دا هم وویل: وهل رفعني الله الا بک وهل هداني الله الا بک، یعني ما ته چي دا کومه مرتبه راکړل سوې ده دا محض ستاسو په وجه ده ما ته الله جل جلاله هدایت کړی دی دا ستاسو په ذریعه دی.

د دین فهم

﴿۵۷۸۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا اَنَا

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: یو وخت زه بیده وم وینم

نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُوْنَ عَلَيَّ وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ وَمِنْهَا

چي خلک زما مخته راوستل سي او ما ته وښودل سي، دغه ټولو خلکو قیمصونه اغوستي وه په هغوی کي د ځینو قیمصونه دومره وه چي سینو ته رسیدل او د ځینو

مَا دُوْنَ ذٰلِكَ وَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ قَمِيْصٌ يَجُرُّهُ قَالُوْا فَمَا اَوَّلْتَ ذٰلِكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ الدِّيْنَ. متفق عليه.

تر دې لاندي، بیا زما مخته عمر بن خطاب رضی الله عنه راوستل سو چي هغه دومره اوږد قمیص اغوستی وو چي پر مځکه راکښېدی، خلکو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله! ددغه خوب تعبیر څه شي دی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دین، (یعني د حضرت عمر رضی الله عنه دین کامل دی) بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۳، رقم: ۳۶۹۱، ومسلم ۴\۱۸۵۹، رقم: ۱۵– ۲۳۹۰.

تشریح: او د ځینو قمیصونه د هغه ځخه هم کوچني وه، یعني د ځینو خلګو د بدن قمیصونه دومره وه چې سینې ته رسېدل او د ځینو خلګو قمیصونه دومره کوچني وه چې د هغوی سینې ته هم نه رسېدل بلکه د سینې ځخه پورته وه.

ومنها دون ذلک، ددې مطلب دا بیان سوی دی، مګر ملا علي قاري رحمه الله د دغه جملې چې کوم وضاحت کړی دی د هغه ځخه معلومېږي چې د هغه په نزد دا معنی هم ده او دا معنی هم کیدای سي چې د هغوی قمیصونه د هغوی د قمیصونو ځخه اوږده وه.

د حضرت عمر رضي الله عنه د قمیص د اوږدوالي په تعبیر کي د دین او مذهب د ذکر ځخه دا مراد دی چې د حضرت عمر رضي الله عنه د ذات ځخه به دین ته تقویت تر لاسه کیږي او د هغه د خلافت زمانه به اوږده وي، د هغوی په زمانه کي به د دین شان او شوکت ډېر لوړ سي، بې شمېره ښارونه او هیوادونه به فتح سي او د هغه د فتوحاتو په نتیجه کي به د بیت المال آمدني پراخه سي، یا دا چې دین ته په قمیص سره تشبیه ورکول دې ته اشاره کول وو چې ځرنګه د انسان جامه نه یوازي دا چې د هغه د ښکلا او د مختلفو مضرو اثراتو ځخه ساتنه کوي او د آرام ذریعه وي بلکه په حقیقت کي د هغه د بدن لازمي تقاضا هم وي، همدارنګه د دین ځخه نه یوازي دا چې د انسان تهذیب او ښکلا او د هغه د روحاني اطمینان او سکون ذریعه ده او په دواړو جهانو کي د هغه د ساتني ضامن دی بلکه په حقیقت کي د انسانیت لازمي جزء او د انساني فطرت سلیم عین تقاضا هم ده.

د حضرت عمر رضي الله عنه علم

﴿۵۷۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه ځخه روایت دی چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه اوریدلي دي چې وه یې

بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِقَدَحِ لَبَنٍ فَشَرِبْتُ حَتَّى إِنِّي لَأَرَى الرِّيَّ يَخْرُجُ فِي

فرمایل: یو وخت زه بیده وم چې په خوب کي ما ته د شیدو پیاله راوړل سوه، ما شیدې وځښلې، ما د هغه شیدو د موړوالي حالت ولیدی چې د هغه اثر زما

أَظْفَارِي ثُمَّ أَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ الْعِلْمَ. متفق علیه.

د نوکانو څخه څرګندیدی، ما د شیدو څخه پاته سوي شیدې عمر بن خطاب رضي الله عنه ته ورکړې، خلکو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! ددې خوب تعبیر څه شي دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: علم، (د علم څخه مراد علم دین دی. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۴۰، رقم: ۳۶۸۱، ومسلم ۱۴\۱۸۵۹، رقم: ۱۶- ۲۳۹۱.

د لغاتو حل: الرِي: اثر اللين من الماء.

تشریح: علماؤ لیکلي دي چې د علم صورت مثالیه په عالم بالا کي شېدې دي، ځکه که یو سړی په خوب کي ووینې چې هغه شېدې څښي نو ددې تعبیر دادی چې هغه سړي ته به خاص او نافع علم په برخه سي، د علم او شېدو په منځ کي د مشابهت وجه داده چې څرنګه شېدې د انساني بدن لومړنۍ غذا او د بدن د اصلاح او تقویت بنیاد دی همدارنګه انساني علم د روح لومړنۍ غذا او د بدن د اصلاح او تقویت بنیادي ذریعه ده، ځینو عارفینو دا لیکلي دي چې د عالم مثال څخه د تجلي علم انعکاس یوازي په څلورو شیانو یعني اوبه، شېدو، شراب او د عسلو په صورت کي کیږي او دا هغه څلور شیان دي چې د هغه ویالې په جنت کي بهیږي، قرآن کریم ددغه څلورو شیانو د ویالو داسي یادونه کړې ده :

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى

ژباړه: جنت چي د پرهیزګارانو سره یې وعده سوې ده، د هغه صفت دادی چې په هغه کي به د اوبو ویالې وي چې بوی به نه کوي او د شېدو ویالې دي چې خوند یې نه بدلیږي او د شرابو ویالې دي چې د څښونکو لپاره خوند دی او د عسلو پاکي ویالې دي.

نو کوم څوک چې په خوب کي اوبه وڅښي هغه ته به د علم لدني ورکړل سي او کوم څوک چې شېدې وڅښي نو هغه ته به د اسرار شریعت علم ورکړل سي او چا چې شراب وڅښل (په خوب کي) نو هغه ته به علم کمال ورکړل سي او چا چې عسل وڅښل نو هغه ته به د وحي په طریقه علم ورکړل سي، په عارفینو کي ځینو په دې اړه دا نکته بیان کړې ده چې د جنت دغه څلور ویالې په حقیقت کي د څلورو خلفاء څخه عبارت دي او په دې اعتبار په حدیث کي د شېدو نسبت یوازي د حضرت عمر رضي الله عنه ذکر کول د هر مناسب دي، د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه منقول دي چې هغه وفرمایل: که د حضرت عمر رضي الله عنه علم د ترازو په یوه پله کي واچول سي او په دوهمي پلې کي د عربو د ټولو قبیلو په جمع کولو سره واچول سي او بیا وتلل سي نو د

حضرت عمر رضی اللہ عنہ د علم پله به د هغه ټولو د علم د وزن څخه درنه وي، او په دې وجه د ټولو صحابه کرامو عقيده وه چي د لسو برخو څخه نهه برخي علم يوازي حضرت عمر رضی اللہ عنہ تر لاسه کړی دی.

د رسول الله ﷺ يو خوب

﴿۵۷۸۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چي فرمايل يې:

بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي عَلَى قَلِيبٍ عَلَيْهَا دَلْوٌ فَنَزَعْتُ مِنْهَا مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ

زه يو وخت بيده وم چي ما خپل ځان د يو څاه سره وليدی چي پر هغه سلواغه پرته وه، ما د هغه سلواغې څخه څومره چي خدای جل جلاله ته منظوره وه اوبه راوکښلې، بيا

أَخَذَهَا ابْنُ أَبِي قُحَافَةَ فَنَزَعَ بِهَا ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ وَفِي نَزْعِهِ ضَعْفٌ وَاللّٰهُ يَغْفِرُ

ابن ابي قحافه رضی اللہ عنہ سلواغه واخيستل او د څاه څخه يې يوه يا دوې سلواغې اوبه راوکښلې، د ابن ابي قحافه رضی اللہ عنہ په اوبو راکښلو کي کمزوري وه، خدای جل جلاله به د ابوبکر رضی اللہ عنہ کمزوري معاف

لَهُ ضَعْفَهُ ثُمَّ اسْتَحَالَتْ غَرْبًا فَأَخَذَهَا ابْنُ الْخَطَّابِ فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا مِنَ

کړي، بيا هغه سلواغه (لويه سلواغه) جوړه سوه او عمر بن خطاب رضی اللہ عنہ واخيستل، او ما هيڅ پهلوان په خلکو کي داسي نه دی ليدلی چي

النَّاسِ يَنْزِعُ نَزْعَ عُمَرَ حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ، وفي رواية بن عمر قال ثُمَّ

د عمر رضی اللہ عنہ په ډول هغه سلواغه راوکاږي تر هغو چي خلکو د اوبو اخورونه جوړ کړل او د ابن عمر رضی اللہ عنہ په يو روايت کي دا الفاظ دي چي بيا

أَخَذَهَا ابن الخطاب من يد ابي بكر فَاسْتَحَالَتْ فِي يَدِهِ غَرْبًا فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا يَفْرِي فَرِيَّهُ حَتَّى روى الناس وضَرَبوا بِعَطَنٍ. متفق عليه.

هغه سلواغه د ابوبکر رضی اللہ عنہ د لاس څخه عمر رضی اللہ عنہ واخيستل، سلواغه چي د هغه لاس ته ورسيدل نو لويه سلواغه ځيني جوړه سوه، ما هيڅ پهلوان سړی داسي نه دی ليدلی چي د عمر رضی اللہ عنہ په ډول کار

كوي تر دې چي هغه خلک په اوبو ماړه سول او د اوبو اخوروته يې جوړ كړل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۸، رقم: ۳۶۶۴، ومسلم ۴\۱۸۶۰، رقم: ۱۷- ۲۳۹۲.

د لغاتو حل: قليب: اي بئر لم تطو. غربا: اي دلوا عظيمة (لويه سلواغه). بعطن: مبرك الابل حول الماء.

تشريح: قليب هغه څاه ته وايي چي هغه غاړه نه لري، ددې پر خلاف پر كوم څاه چي د ډبرو يا خښتو غاړه جوړه سوې وي د هغه لپاره د طوي لفظ راځي، علماؤ دا نكته ليكلې ده چي په خوب كي د طوى پر ځاى د قليب لېدل دې ته اشاره كوي چي د اهل دين عزم او حوصله پر حقيقي مطلوب او مراد باندي موقوف ده نه پر سربېرن جوړ سوي قالب باندي.

د يوې يا دوو سلواغو څخه زيات، دلته راوي ته شک سوى دى چي رسول الله ﷺ د يوې سلواغې يادونه وفرمايل او كه د دوو، مګر صحيح داده چي دلته اصل لفظ د ذنوبين (دوو سلواغو) دى، په دغه لفظ كي د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د خلافت زمانې ته اشاره ده چي تر دوه كاله زياته نه وه، يو احتمال دا هم دى چي په ذنوبا او ذنوبين كي د او حرف په اصل كي د بل په معنى كي استعمال سوى دى، په دغه صورت كي ددې ويلو اړتيا نه پاته كيږي چي دلته راوي د اصل لفظ يادولو څخه خطا سو چي د هغه په وجه هغه خپل شک ظاهروى او دواړه لفظونه يې نقل كړل.

هغه سست او كمزورى كېدى، په دغه الفاظو كي د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د مرتبې او مقام تخصيص نسته او نه د الفاظ مقصد پر حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه باندي د حضرت عمر رضي الله عنه فضيلت او غوره والى ثابتول دي بلكه اصل مقصد دې ته اشاره كول وو چي د ابوبكر رضي الله عنه د خلافت زمانه به ډېره مختصره وي او د عمر رضي الله عنه د خلافت زمانه به ډېره اوږده وي او په هغه زمانه كي به مخلوق ته ډېره ګټه ورسيږي، ځينو شارحينو د ضعف معنى د سستۍ او كمزورۍ پر ځاى د نرمۍ او مروت كړې ده،

الله جل جلاله دي معاف كړي، د دغه دعائيه جملې مقصد حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته د ګناه او كوتاهۍ نسبت ثابتول نه دي بلكه دا يوه داسي جمله ده چي د محاورې په توګه ويل كيږي لكه څرنګه چي د يو چا د كار يا قول په بيانولو سره دا سي ويل كيږي هغه دا او دا كار وكړ، يا دا خبره يې وكړل الله جل جلاله دي د هغه معفرت وكړي.

هغه ځاى د اوښانو د ناستي ځاى جوړ كړ، عطن په اصل كي هغه ځاى ته ويل كيږي چيري چي اوبه جمع كيدى او د هغه شاوخوا به اوښان كښېنستل، څرګنده دې وي چي د رسول الله ﷺ په دغه خوب كي مختلفو شيانو ته اشاره وه، يعني څاه، دين ته اشاره كوي لكه څرنګه چي څاه

دهغه اوبو منبع ده چي د دنيوي ژوند د حيات او بقاء بنياد دی، همدارنګه دين هم د هغه حقائقو سرچينه ده چي په هغه د انسانيت د حيات او بقاء انحصار دی، چي د انسان د فکري او روحاني اقدارو بنياد دی، د څاه څخه اوبه راکښل دې ته اشاره کوي چي د دين کار د رسول الله ﷺ څخه حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ته او له هغه څخه به حضرت عمر رضی الله عنه ته منتقل سي، د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د څاه څخه يوه يا دوې سلواغې اوبه راکښل دې ته اشاره کوي چي دهغه د خلافت زمانه به لږ وي يعني دين او هغه تو سط سره د ملت د قيادت او کار به دهغه په لاس کي تر يوه يا دوو کلو پوري وي، او بيا به حضرت عمر رضی الله عنه ته منتقل سي چي د هغه د خلافت زمانه به د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت په نسبت ډېره زياته وي ، لکه چي حضرت عمر رضی الله عنه لس کاله او درې مياشتي خليفه وو، د اوبو په راکښلو کي د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه سست او کمزوری کېدل يا خو دې ته اشاره کوي چي د هغه د خلافت په زمانه کي به د دين د کمزوري کولو هڅه کيږي لکه څرنګه چي د ځينو عربو د ارتداد په صورت کي د اضطراب او اختلاف کيفيت پيدا سو، يا دې ته اشاره کوي چي ابوبکر صديق رضی الله عنه فطرتا نرم مزاج ، بردبار او بامروت واقع سوی دی ځکه په حکومتي چارو کي به د رعب او دبدبې څخه زيات کار نه اخلي، ددې تائيد د رسول الله ﷺ د ارشاد : ان الله يغفر له ضعفه، د هغه سستي او کمزوري دي الله جل جلاله معاف کړي، څخه هم کيږي مګر دغه جمله معترضه ده ، ددې مقصد دا څرګندول دي چي د هغه دغه سستي او کمزوري يا نرمي داسي شی دی چي د الله جل جلاله په نزد د عفوي او بخښني وړ دی او ددې سره د هغه په مرتبه او مقام کي هيڅ فرق نه راځي، او د سلواغې د حضرت عمر رضی الله عنه لاس ته په رسېدو سره لويه سلواغه کېدل دې ته اشاره کوي چي هغه به دين څلور کونجه دنيا ته ورسوي، په زياتولو او ټينګولو کي به داسي هڅه او کوښښ وکړي چي د هغه اتفاق به نه دهغه څخه مخکي او نه وروسته بل چا ته تر لاسه سي،

امام نووي رحمه الله ليکلي دي: د رسول الله ﷺ ارشاد : ما د هغه څاه څخه اوبه راوکښلې ځومره چي د الله جل جلاله خوښه وه، او زما څخه وروسته ابن ابوقحافه يعني ابوبکر صديق رضی الله عنه سلواغه واخيستل ، په دې کي د رسول الله ﷺ څخه وروسته د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت او نيابت او له دنيا څخه د رخصت کېدو په صورت کي د رسول الله ﷺ د دنيا د غم او تکليفو څخه راحت تر لاسه کولو ته اشاره ده او د رسول الله ﷺ ارشاد: بيا هغه سلواغه د ابوبکر رضی الله عنه د لاس څخه عمر رضی الله عنه واخيستل او خلګو هغه ځای د اوښانو د ناستي ځای جوړ کړ، په دې کي دې ته اشاره ده چي د مرتدانو سرونه پرې کول او اهل اسلام د جمع کولو په صورت

کي د دين د ټينګ ساتلو او فتوحات اسلام چي پيل يې حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وکړ هغه به د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کي د خپلو ثمراتو سره عروج ته ورسيږي او يو شارح ليکلي دي چي د حضرت عمر رضي الله عنه دومره زياتي او به راکښل دې ته اشاره کوي چي د هغه د خلافت زمانه به هر خاص او عام، هر کوچني او لوی لپاره د ديني او دنيوي ګټو څخه ډک وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د حضرت عمر رضي الله عنه حق وينه

﴿۵۷۸۷﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ جَعَلَ الْحَقَّ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِه. رواه الترمذي و في رواية ابي داؤد وعن ابي ذر قال ان الله وضع الحق على لسان عمر يقول به.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جل جلاله د عمر رضي الله عنه پر ژبه او زړه حق جاري کړی دی، ترمذي، او د ابوداؤد په روايت کي چي د ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی دا الفاظ دي چي الله تعالی حق د عمر رضي الله عنه پر ژبه جاري کړی دی نو هغه حق خبره کوي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۷٦، رقم: ۳٦۸۲.

د حضرت عمر رضي الله عنه پر ژبه سکينت

﴿۵۷۸۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا كُنَّا نُبْعِدُ اَنَّ السَّكِيْنَةَ تَنْطِقُ عَلٰى لِسَانِ عُمَرَ. رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ خلکو دا خبره (د عقل څخه) ليري نه بلل چي سکينت د عمر رضي الله عنه پر ژبه دی يعني هغه چي کومه خبره کوي د هغه سره سکون او اطمينان تر لاسه کيږي. بيهقي.

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د لغاتو حل: نُبعِد: بمعنى الاستبعاد. (ليري ګڼل)

تشريح: د حضرت علي رضي الله عنه مطلب دا وو چي حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ته دا ځانګړتيا تر لاسه

ده چي هغه كله په يوه مسئله يا معامله كي د خپل خيال اظهار كوي نو داسي خبره كوي چي اورېدونكي ته سكون او اطمينان تر لاسه كيږي او بې قراره زړه ته هم قرار تر لاسه كيږي، يا د سكينه څخه مراد ملائكه هم كيداى سي چي حق او مناسب خبره په زړه كي اچوي او بيا هغه خبره په ژبه سره ادا كيږي ، ددې تاييد د حضرت علي رضي الله عنه د يو بل روايت څخه كيږي چي طبراني په اوسط كي نقل كړې دى چي هغه وفرمايل: اې خلكو! كله چي د صالحينو يادونه كوئ نو د عمر رضي الله عنه يادونه مخكي كړئ ځكه كيداى سي چي د هغه قول الهام وي او هغه د ملائكي زباني بيان كوي، په دې اړه دا روايت هم بايد په ذهن كي وي چي په هغه كي نقل سوي دي چي حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل: كله چي ما عمر رضي الله عنه وليدى نو داسي راته محسوسه سول چي د هغه د دواړو سترګو په منځ كي ملائكه موجود ده چي هغه ته صحيح لار ښيي.

د حضرت عمر رضي الله عنه لپاره دعاء

﴿۵۷۸۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ أَعِزَّ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه دعاء وكړه چي اې الله !

الْإِسْلَامَ بِأَبِي جَهْلِ ابْنِ هِشَامٍ أَوْ بِعُمَرَ ابن الخطاب فَأَصْبَحَ فَغَدَا عُمَرُ عَلَى

د ابو جهل بن هشام په ذريعه يا د عمر بن خطاب رضي الله عنه په ذريعه د اسلام عزت او عظمت نصيب كړې، ددې دعاء څخه وروسته سبا ته حضرت عمر رضي الله عنه

النبي صلى الله عليه وسلم فَأَسْلَمَ ثم صلى في المسجد ظاهرا. رواه احمد والترمذي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر سو او اسلام يې قبول كړې، ددې څخه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم به په ښكاره په مسجد كي لمونځ كوى. احمد او ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۷۷، رقم: ۳۶۸۳، ومسند الامام احمد ۲\۹۵. بلفظ قريب.

تشريح: د دعوت اسلام په لومړني زمانه كي كله چي د مكې قريشو د حق داعي صلى الله عليه وسلم او د حق نوم اخيستونكو پر خلاف ظالمانه محاذ قائم كړى وو او اهل اسلام يې د سختي او تكليفو په ذريعه مجبوره كول، نو په مكه كي هيڅ مسلمان په ډاګه لمونځ نه سو كولاى، رسول الله صلى الله عليه وسلم په دار ارقم كي اوسېدى او په هغه سرا يكي هم په پټه توګه د الله جل جلاله نوم اخيستى، د الله جل جلاله بندګي كېدل او د الله جل جلاله د رسول، د الله جل جلاله د دين په زياته خپرېدو كي بوخت وو، رسول الله صلى الله عليه وسلم

پوهېدی چې د قریشو په مشرانو کې دوه کسان یعني ابوجهل او عمر دا حیثیت لري که په هغوی کې یو اسلام قبول کړي او موږ ته راسي نو اسلام چې نن د مکې د قریشو د ظلم او ستم په وجه په دارارقم کې محدود سوی دی، دومره توان به تر لاسه کړئ چې مسلمانان به په پټه د الله ﷻ نوم اخیستلو او د الله ﷻ پر عبادت کولو باندې مجبور نه سي، هغوی به په ډاګه لمونځ کولای سي او په څرګنده به د اسلام دعوت وړاندې کولای سي نو رسول الله ﷺ ذکر سوې دعاء وکړل.

دغه دعاء څرنګه قبوله سول، او حضرت عمر رضی الله عنه څرنګه په اسلام مشرف سو ددې تفصیل په یوه روایت کې چې ابوحاکم عبدالله په دلائل النبوة کې نقل کړی دی، حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما یې داسې بیانوي چې یو وار ابوجهل اعلان وکړ: کوم څوک چې محمد ﷺ ووژني نو هغه ته به په انعام کې سل اوښې او زر سپین زر ورکوم، عمر (د دې په اورېدو سره) وویل: الضمان صحیح، یعني تاوان صحیح دی، ابوجهل وویل: هو، سمدستي به یې ادا کړم، هیڅ ځنډ به پکښې ونه کړم، عمر د هغه ځای څخه روان سو او په لاره کې د یو سړي سره یو ځای سو، هغه پوښتنه وکړل چې چیرې د تللو اراده ده، عمر جواب ورکړ، محمد ﷺ ته ځم، اراده مې ده چې نن د هغه کار خلاص کړم، هغه سړي ورته وویل: ایا ته د (محمد ﷺ) د کورنۍ بني هاشم د غچ بیره نه لرې؟ عمر ورته وویل: معلومیږي چې تا هم خپل مذهب بدل کړی دی، کله چې ته د بني هاشم د غچ اخیستلو څخه په بېرولو سره ما د محمد (ﷺ) د قتل څخه منع کوې، هغه سړي ورته وویل: ایا تر دې خطرناکه خبره تا ته وښیم، چې ستا خور او اخښې خپل زوړ مذهب پرې ایښی دی او د محمد (ﷺ) سره یو ځای سوي دي، ددې په اورېدو سره عمر د خپل خور کور ته روان سو، هلته چې ورسېدی نو هغه وخت د هغه په کور کې دننه د قرآن کریم تلاوت کېدی، او سورة طه یې ویل، عمر لږ وخت په دروازه کې ودرېدی او د هغه تلاوت یې واورېدی، بیا یې دروازه وټکول، کله چې دننه داخل سو نو پوښتنه یې وکړل چې دا د څه شي د ویلو آواز وو، خور یې ورته ټوله خبره بیان کړل او هغه ته یې څرګنده کړل چې موږ د زړه په صدق سره مسلمانان سوي یو اوس که ته یا بل څوک هر څومره سختي راسره وکړي کوم دین چې موږ قبول کړی دی د هغه څخه نه ایسته کیږو، د عمر دپاره دغه صورت حال ډېر پریشانه کوونکي وو، یوې خوا ته خو هغه د خور او اخښې پر وهلو باندې مجبور کړ بلې خوا ته خپله دهغه په ژوند کې راتلونکي انقلاب د هغه پر زړه او دماغ باندې اثر کړی وو، په دغه اضطرابي حالت کې ټوله شپه اخته وو، بلې خوا ته د هغه خور او اخښې د شپې را پورته سول او د الله ﷻ په عبادت او د قرآن کریم په

تلاوت کي بوخت سول، هغوی سورة طه ما انزلنا علیک القرآن لتشقی، طه موږ پر تا قرآن ددې لپاره نه دی نازل کړی دی چي ته تکلیف پورته کړې، ددغه ځای څخه یې لوستل پیل کړل، داسي معلومه سول چي د قرآن کریم د تلاوت هغه آواز د هغه روح په آخري توګه سره هغه تیار کړی دی ، د کلام الله ابدي صداقت د هغه پر زړه او دماغ خپور سو او په ډیره بې تابي سره یې وویل: راوړه دغه کتاب ما ته راکړه، چي زه یې هم لږ وګورم، خور یې محسوسه کړل چي د ورور سخت زړه چي کفر او شرک ډېره جوړ کړی وو ، کرار کرار ویلي کیږي، او الهي آواز ته متوجه کیږي نو هغې ورته وویل: داسي نه سي کیدای ، دغه مقدس کتاب یوازي پاک خلک مس کولای سي نو عمر غسل وکړ ، پاک سو او کلام الله یې په لاس کي واخیست او کښېنست، کله چي یې د طه څخه لوستل پیل کړل او دغه آیت : لااله الاهو له الاسماء الحسنی، الله جلاله داسي دي چي د هغه څخه ماسوا بل معبود نسته د هغه ښه ښه نومونه دي، دغه ځای ته راورسېدی نو بې اختیاره یې وویل: اې خدایه! بېله شکه ته د عبادت لائق یې ستا څخه ماسوا بل څوک د عبادت لائق نسته چي هغه معبود وګرځول سي، اشهد ان لااله الاالله واشهد ان محمد رسول الله، بیا هغه ټوله شپه همداسي په ږېښه تېره کړل چي لږ لږ وخت وروسته یې د شوق نعره کول چي سهار سو، نو خباب ابن ارت رضی الله عنه چي په هغه کور کي د مخکي څخه موجود وو او د عمر د داخلېدو سره پټ سوی وو اوس چي هغه ولیدل چي د عمر دنیا بدله سوې ده د کفر او شرک تیاره ور څخه لیري سوې ده او داسلام رڼا د هغه په وجود کي ځای نیولی دی ، نو عمر ته راغلی او ورته یې وویل: عمر! مبارک دي وي الله جلاله ته په خپل دین سره ونازولې، کیدای سي تا ته معلومه نه ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ټوله په ویښ پاته کېدو سره په دغه دعاء کي تېره کړه چي الهي ، ابوجهل یا عمر بن الخطاب په ذریعه اسلام ته قوت ورکړې، زه خو دا ګڼم چي دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعاوه چي ستا د قبول اسلام خیمه جوړه سوې ده ، ددې څخه وروسته عمر رضی الله عنه توره په غاړه کي واچول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تم ځای ته روان سو ، هلته چي ورسېدی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دباندي راووتی او د هغه استقبال یې وکړ، او د اسلام دعوت یې ورته وړاندي کړ چي اې عمره! د باطلو معبودانو په پرېښودو سره د الله جلاله واحد په درګاه کي سرکښته کړه ، سرلوړي په دې کي ده چي اسلام قبول کړې کنه نو پر تا باندي به ددنیا او اخرت هغه عذاب نازل سي کوم چي پر ولید ابن مغیره باندي نازل سو ، عمر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د آواز په اورېدو سره په رپېدو سو او توره یې د لاس څخه ایله سول، او بې واکه یې د ژبي څخه ووتل: اشهد ان لا اله الاالله واشهد ان محمد رسول الله، او بیا هغه وویل: کله چي موږ د لات او عزی بندګي په غرونو او شېلو کي په ډاګه کوو نو دا څرنګه

کیدای سي چي د الله ﷻ عبادت دي په ببره کي په پټه کوو ، قسم په خدای! د نن څخه وروسته به د الله ﷻ عبادت هیڅکله په پټه نه کوو ، دد ې څخه وروسته عمر ﷛ ټول مسلمانان د ځان سره کعبې ته بوتلل او هلته یې په ډاګه لمونځ او عبادت وکړ ، او همدارنګه د حضرت عمر ﷛ په ذریعه اسلام ته توان پیدا سو .

سیدنا فاروق اعظم ﷛ : د حضرت عمر ﷛ د نسب لړۍ داده : عمر بن خطاب بن فضیل بن عبدالعزی بن ریاح بن قرط بن رزاح بن عدي بن کعب بن لوی کعب ته په رسېدو سره دغه لړۍ د رسول الله ﷺ د نسب د لړۍ سره یو ځای کیږي ، د حضرت عمر ﷛ کنیت ابوحفص او لقب یې فاروق دی ، د امام نووي ﷫ د تحقیق سره سم د نوموړي زېږېدل د فیل د کال څخه دیارلس کاله وروسته وسو ، او څرنګه چي ذهبي ﷫ لیکلي دي چي عمر ﷛ د اووه لس کالو په عمر په شپږم هجري کال کي په اسلام مشرف سو ، د ځینو حضراتو وینا ده چي حضرت عمر فاروق ﷛ په پنځم هجري کال کي اسلام راوړ تر هغه وخته پوري څلوېښت نارینوو او یوولس ښځو اسلام قبول کړی وو ، نوموړي ته د فاروق لقب د هغه پېښي څخه وروسته تر لاسه سو چي د یو یهودي او یو منافق په منځ کي پر یوه خبره جګړه وسول ، او د صلح لپاره یهودي رسول الله ﷺ د ثالث په توګه وټاکی ، منافق د قریشو د مشرکینو یو سردار کعب ابن اشرف د دریم کس جوړولو هڅه کول ، د ډېرو خبرو او دلیلو وروسته دواړو رسول الله ﷺ خپل دریم ومنی ، نو هغو دواړو خپله قضیه د رسول الله ﷺ په خدمت کي وړاندي کړل ، رسول الله ﷺ د یهودي په حق کي فیصله وکړل ځکه چي د هغه پر حق کېدل ثابت وو مګر منافق دا فیصله ونه منل او هغه وویل : اوس موږ عمر ﷛ دریم جوړوو ، هغه چي څه فیصله وکړي نو موږ دواړو ته د منلو وړ ده ، یهودي د معاملې ختمولو لپاره د منافق دا خبره هم ومنل او د هغه سره حضرت عمر ﷛ ته ولاړی او یهودي حضرت عمر ﷛ ته وښودل چي موږ دواړه مخکي رسول الله ﷺ خپل دریم جوړ کړ او هغه زما په حق کي فیصله وکړل مګر دا سړی د محمد ﷺ په فیصله راضي نه دی او اوس یې زه تا ته راوستلی یم ، حضرت عمر ﷛ د هغه منافق څخه پوښتنه وکړل چي دغه یهودي څه وایي هغه صحیح دی ، منافق تصدیق وکړ چي هو ، د ده بیان صحیح دی ، نو حضرت عمر ﷛ ورته وویل : تاسو دواړه دلته ودرېږئ تر څو چي زه بېرته نه راسم تر هغه وخته پوري مه ځئ ، ددې په ویلو سره کورته ولاړی او توره یې راوړل او بیا یې په هغه توره د منافق سر پرې کړ ، او وه یې فرمایل : کوم څوک چي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ فیصله نه مني د هغه په حق کي زما دا فیصله ده ، پر دغه پېښه باندي دغه آیت نازل سو :

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ

ژباړه: ايا تا هغه خلک ونه ليدل چي دعوه کوي چي هغوی پر کتاب باندي هم ايمان لري کوم چي پر تا نازل سوی دی او پر هغه کتاب هم چي ستا څخه مخکي نازل سوی دی، هغوی خپلي مقدمې شيطان ته وړل غواړي (حال دا چي هغوی ته دا حکم سوی دی چي هغه ونه مني).

او حضرت جبرائيل عليه السلام په راتللو سره وويل: عمر رضي الله عنه د حق او باطل په منځ کي فرق کوونکی دی نو د هغه ورځي څخه د حضرت عمر رضي الله عنه لقب په فاروق مشهور سو.

د حضرت عمر رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۷۹۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ لِأَبِي بَكْرٍ يَا خَيْرَ النَّاسِ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ عمر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وروسته

فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَمَا إِنَّكَ إِنْ قُلْتَ ذَاكَ فَلَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

ابوبکر رضي الله عنه ته په غوره سړي ويلو سره مخاطب کړ، ابوبکر رضي الله عنه ورته وويل اې عمر! تا زه په دې خطاب سره مخاطب کړی يم نو زه تا خبروم چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چي

وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا طَلَعَتْ الشَّمْسُ عَلَى رَجُلٍ خَيْرٍ مِنْ عُمَرَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

لمر پر هيڅ داسي سړي نه راخيژي چي د عمر رضي الله عنه څخه غوره وي.، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۷۷، رقم: ۳۶۸۴.

تشريح: د حضرت عمر رضي الله عنه په حق کي د دغه ارشاد يا خو د هغه د خلافت پر زمانه محمول دی يعني هغه به د خپل خلافت په زمانه کي تر ټولو انسانانو غوره وي او دا حقيقت رسول الله صلى الله عليه وسلم مخکي بيان کړی وو، يا دا چي په ارشاد کي د ابوبکر رضي الله عنه څخه وروسته الفاظ محذوف او مقدر دي يعني رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وفرمايل: چي د ابوبکر رضي الله عنه څخه وروسته حضرت عمر رضي الله عنه غوره دی يا دا چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دغه ارشاد مقصد د عدالت او سياست په باب کي د حضرت عمر رضي الله عنه پر افضيلت او غوره والي باندي محمول دی، خلاصه دا چي دغه حديث د هغه حديثو

خلاف نه دى چي په هغو كي د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه افضيلت او غوره والى ثابتيږي ځكه ددغه حديثونو په منځ كي د تطبيق لپاره ذكرسوي توجيهات بيانيږي.

د حضرت عمر رضي الله عنه منقبت

﴿۵۷۹۱﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ بَعْدِي نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه زما څخه وروسته يو نبي واى نو هغه به عمر رضي الله عنه واى. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۷۸، رقم: ۳۶۸۶.

تشريح: دا ډول خبره په امر محال كي هم د مبالغې په توګه كيږي، د رسول الله ﷺ مطلب دا وو كه چيري فرضا زما څخه وروسته څوك نبي راتلاى نو هغه به عمر رضي الله عنه واى، مګر حقيقت دا دى چي د نبوت دروازه بنده سوې ده او زما څخه وروسته د هيڅ يو نبي راتلو سوال هم نه پيدا كيږي ځكه د عمر رضي الله عنه مرتبه پر نبوت باندي فائز كيداى نه سي او نه صاحب وحي كيداى سي مګر په هغه كي ځيني ځانګړتياوي داسي دي چي د انبياوو څخه ماسوا د نورو ټولو انسانانو په منځ كي د هغوى يوازيني حيثيت څرګندوي او د عالم وحي سره د هغه يو ډول مناسبت هم څرګنديږي، د مثال په توګه دا چي د الله جل جلاله له خوا هغه ته الهام كيږي، د الله جل جلاله په حكم سره ملائكه د هغه په زړه او دماغ كي القاء كوي او په غيبي توګه د حق لاره هغه ته روښانه كيږي.

شيطان د عمر رضي الله عنه څخه بيريږي

﴿۵۷۹۲﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ

د حضرت بريده رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ يوې غزا ته تشريف وړى وو كله چي

مَغَازِيهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ جَاءَتْ جَارِيَةٌ سَوْدَاءُ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي كُنْتُ

راوګرځېدى نو د رسول الله ﷺ په خدمت كي يوه توره (حبشي) انجلۍ حاضره سوه او عرض يې وكړاى دالله رسوله! ما

نَذَرْتُ إِنْ رَدَّكَ اللَّهُ سَالِمًا أَنْ أَضْرِبَ بَيْنَ يَدَيْكَ بِالدُّفِّ وَأَتَغَنَّى فَقَالَ لَهَا

دا نذر منلی وو چي کله تاسو د غزا څخه کامیاب را سئ نو زه به ستا په مخکي دریا وهم او سندره به وایم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كُنْتِ نَذَرْتِ فَاضْرِبِي وَإِلَّا فَلَا فَجَعَلَتْ

که تا نذر منلی وي نو دریه ووهه او که دي نذر منلی نه وي نو مه یې وهه نو هغه انجلۍ دریه

تَضْرِبُ فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عَلِيٌّ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ

وهل شروع کړل ابوبکر رضی الله عنه راغلی او هغې دریه وهل، بیا حضرت علي رضی الله عنه راغلی او هغې دریه وهل، بیا

عُثْمَانُ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَأَلْقَتْ الدُّفَّ تَحْتَ اسْتِهَا ثُمَّ قَعَدَتْ

عثمان رضی الله عنه راغلی او هغې دریه وهل، بیا عمر رضی الله عنه راغلی نو هغه انجلۍ دریه وهل پرېښودل او تر خپلو کوناټو لاندي یې کښېښودل او پر هغه سربېره کښېنستل،

عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَخَافُ مِنْكَ يَا

ددې لیدو سره نبي کریم ﷺ وفرمایل اې عمر! بېشکه شیطان هم ستا څخه بیرېږي،

عُمَرُ إِنِّي كُنْتُ جَالِسًا وَهِيَ تَضْرِبُ فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ

زه ناست وم او دې انجلۍ دریه وهل، ابوبکر رضی الله عنه راغلی او دې دریه وهل بیا

عَلِيٌّ وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ وَهِيَ تَضْرِبُ فَلَمَّا دَخَلْتَ أَنْتَ يَا عُمَرُ أَلْقَتْ الدُّفَّ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب صحيح.

علي رضی الله عنه راغلی او دې دریه وهل بیا عثمان رضی الله عنه راغلی او دا په دریه وهلو کي بوخته وه بیا چي ته راغلې نو ستا په لیدو سره یې دریه د ځان څخه بیله کړه، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب صحیح دی.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۷۹، رقم: ۳۶۹۰.

تشریح: د دُف لفظ زیات صحیح او فصیح د دال په پېښ سره دی مگر په ځینو روایتو کي د دال په زور سره هم منقول سوی دی او د دف څخه مراد دریه ده.

که تا په حقیقت کي نذر منلي وي، دغه جمله دديے خبري دليل دی چي د هغه نذر پوره کول چي په هغه کي د الله ﷻ رضا او خوښي تر لاسه کيږي، واجب دی، د رسول الله ﷺ په ستنېدو او په خاصه توګه د جهاد د سفر څخه په سلامتيا بېرته راتلو باندي چي په هغه کي ځانونه له منځه ځي، د خوشحالۍ اظهار کول يقينا داسي شی وو چي په هغه سره د الله ﷻ رضا تر لاسه کيږي.

کنه نو داسي مه کوه، دديے څخه ثابته سول چي هسي د دريے وهل جائز نه دي مګر په داسي وخت کي جائز دي چي په هغه کي د شارع ﷺ اجازه منقول وي لکه د ذکر سوي نذر پوره کول يا دنکاح اعلان کول نو د کومو سيمو (لکه يمن) د مشائخو په اړه چي منقول دي چي هغوی به د ذکر په حالت کي دريه وهل نو دديے هيڅ اعتبار بايد ونه سي د هغوی دغه فعل د حديث بالکل خلاف وو، څرګنده دي وي چي ملا علي قاري رحمه الله ددغه حديث جمله (او سندري به وايم) په اړه چي څه ليکلي دي د هغه څخه دا ثابتيږي چي د ښځي داسي غزلي او رېدل چي ساز ورسره نه وي، او نه پر فحش او غير اخلاقي مضامينو باندي مشتمل وي او د هغه په وجه په کوچنۍ يا لويه خرابۍ کي د اخته کېدو بېره هم نه وي، جائز دي.

او همدارنګه ځينو حضراتو په ودونو، اخترو او نورو خوشحاليو کي ديے ته جائز او مختار ويلي دي مګر دا خبره د حنفي فقهي د روايتونو خلاف ده ځکه چي په ظاهر ګمان سره د فقهاؤ د روايت څخه غزل مطلق حرامه ده لکه څرنګه چي په درمختار، بحر الرائق او نورو کي ليکلي دي بلکه په هدايه کي خو يے ديے ته لويه ګناه ويلي دي، که څه هم غزلي د خپل زړه د خوشحاله کولو لپاره وي، ددغه فقهاؤ په نزد د جواز حديثونه منسوخ دي.

ستا څخه شيطان هم په بېره کي وي، دلته د شيطان څخه مراد هغه توره انجلۍ وه چي هغے ځان د شيطاني کارو په کولو سره د انساني شيطان مصداق جوړ کړی وو، يا هغه شيطان مراد دی چي پر هغه انجلۍ باندي مسلط وو چي هغه يے يو غير مناسب او مکروه کار باندي را پاروليے وه او هغه مکروه فعل د دريے وهل او په غزلو کي د حد څخه زيات بوخت کېدل وو چي هغه تفريح د لهوي حد ته رسوليے وه.

يو سوال او دهغه جواب: دا خو دحديث وضاحت وو، دديے څخه قطع نظر که د حديث سياق او سباق ته وکتل سي نو په ذهن کي يو سوال را پيدا کيږي چي هغه انجلۍ د رسول الله ﷺ په وړاندي د دريے وهلو اجازه وغوښتل او بيا هغے دريه وهل پيل کړل، نو رسول الله ﷺ پټه خوله وو، نه يے د ناخوښۍ اظهار وکړ او نه د خفګان، يعني هغه صورت وو چي هغه ته د حديث په اصطلاح کي تقرير ويل کيږي او دغه صورت هغه وخت هم وو کله چي حضرت ابوبکر صديق

رضی اللہ عنہ راغلی ، بیا حضرت علي رضی اللہ عنہ راغلی او بیا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ راغلی مګر کله چي حضرت عمر رضی اللہ عنہ راغلی او هغه انجلۍ دریه وهل بند کړل نو په پای کي رسول الله ﷺ هغه په شیطان سره تعبیر کړل ، نو دا ولي ؟په دې اړه علماؤ لیکلي دي چي دلته خبره ونه چلېدل ، کله چي رسول الله ﷺ د سفر جهاد ته ووتی نو هغه انجلۍ په ډېره مینه او عقیدې سره د رسول الله ﷺ د فتح او سلامتیا دعاء وغوښتل ، کله چي رسول الله ﷺ د فتح او سلامتیا سره را ستون سو نو هغه انجلۍ په خیر راتګ د الله ﷻ یو ډېر لوی نعمت وګڼي چي د هغې په نزد د شکر ادا کولو موجب هم وو ، او د خوشحالۍ د اظهار متقاضي هم ، له دې کبله رسول الله ﷺ هغې ته د نذر پوره کولو اجازه ورکړل نو د هغې د یو ښه نیت او ښه جذبې په وجه او د رسول الله ﷺ د خاص اجازې په وجه د لهو د حکم څخه په وتلو سره د حقانیت په حکم کي او د کراهت د صورت څخه په وتلو سره د استحباب په صورت کي داخل سو ، مګر داسي کېدل پر دې منحصر وو چي دغه عمل تر ډېر محدود وخت پوري وي چي د هغې د نذر پوره کېدو مقصد پوره سي ، مګر داسي وسول چي هغه انجلۍ دریه وهل پیل کړل او دومره بوخته سول چي د حد څخه تېره سول او دهغې دغه عمل د کراهت په دائره کي داخل سو مګر په اتفاق سره کله چي هغه د حد څخه متجاوز سول هم هغه وخت حضرت عمر رضی اللہ عنہ راغلی نو رسول الله ﷺ ذکر سوی ارشاد وفرمایه چي په هغه کي دې ته اشاره وه چي دغه کار بس همدومره جائز دی څومره چي اجازه ورکړل سوې ده تر دې زیات منع دی او بیله اړتیا دریه وهل د دې بالکل اجازه نسته ، پاته سوه دا خبره چي رسول الله ﷺ صریحا هغه انجلۍ ولي منع نه کړل نو په دې کي دا نکته وه چي په صریحا منع کولو سره د تحریم حد ته رسېدل ، دغه احتمال هم د قیاس څخه لیري نسي ګرځېدای چي په هغه زمانه کي د ضرورت په وخت کي تر څومره وخته پوري چي د دریې وهلو او د جواز په دائره کي راتلی هغه بس د دومره وخت برابر وو چي د هغه انجلۍ د دریې وهلو د پیل څخه په مجلس نبوي کي د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د راتګ تر وخت پوري مشتمل وو ، نو د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په راتګ سره مخکي خو د هغې دریه وهل د جواز په حد کي وو ځکه رسول الله ﷺ تر دغه وخت پوري پټه خوله وو مګر څرنګه چي د جواز وخت ختم سو او د حضرت عمر رضی اللہ عنہ راتګ د هغې انجلۍ لپاره خبرداری ثابت سو مګر ددغه احساس سره چي هغې د رسول الله ﷺ د حد څخه متجاوز کېدل او د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د بیري څخه هغې دریه پټه کړل له دې کبله رسول الله ﷺ وفرمایل چي اې عمر ! ستا څخه شیطان هم دومره بیرېږي چي چیري ستا قدم پورته سي د هغه ځای څخه شیطان تښتي ، او س هغه وخت شیطان هغه انجلۍ را پارول او غوښتل یې چي تر دومره وخت پوري دریه ووهي چي په هغه سره

د هغې دغه کار د بدۍ په دائره کي داخل سي مګر ستا په راتلو سره شیطان وتښتېدی او دغه انجلۍ دریه وهل سمدستي بند کړل.

یوه توجیه دا هم بیانیږي چي په اصل کي حضرت عمر رضی الله عنه هغه مباح کار هم نه خوښوی چي د خرابۍ مشابه وي، که څه هم د یوې خوا په هغه کي څه بنه والي وي، ددې تائید د ډېرو روایتو څخه کیږي چي صاحب مرقاة نقل کړی دی نو د دریې په مسئله کي که څه هم د ضرورت په وجه د جواز امکان سته او ځکه رسول الله ﷺ هغې انجلۍ ته اجازه ورکړل چي هغه د خپل نذر پوره کولو لپاره دریه ووهي مګر د دریې وهل په هر حال د یو منع شی صورت لري ځکه حضرت عمر رضی الله عنه به دا نه خوښول، ددغه خبري په پوهېدو سره هغې انجلۍ د حضرت عمر رضی الله عنه په لېدو سره نه یوازي دا چي دریه وهل یې بند کړل بلکه هغه دریه یې د هغه څخه پټه کړل او رسول الله ﷺ د حضرت عمر رضی الله عنه ددغه ځانګړتیا په وجه ذکر سوی ارشاد وفرمایه.

﴿۵۷۹۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ناست وو،

فَسَمِعْنَا لَغَطًا وَصَوْتَ صِبْيَانٍ فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا

چي موږ سخت اوازونه او د کوچنیانو شور واوریدی، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ ولاړ سو

حَبَشِيَّةٌ تَزْفِنُ وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهَا فَقَالَ يَا عَائِشَةُ تَعَالَيْ فَانْظُرِي فَجِئْتُ

دباندي یې تشریف یووړ، وه یې لیدل چي یو حبشي ښځه رقص کوي او کوچنیان د هغې شاوخوا دي، ددې لیدو سره نبي کریم ﷺ وفرمایل: اې عائشې! دېخوا راسه! ته هم وګوره،

فَوَضَعْتُ لَحْيَيَّ عَلَى مَنْكِبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ

نو زه ورغلم او د رسول الله ﷺ شا ته ودریدم او زنه مي د رسول الله ﷺ پر اوږه مبارک کښېښودل، او ما د رسول الله ﷺ د

إِلَيْهَا مَا بَيْنَ الْمَنْكِبِ إِلَى رَأْسِهِ فَقَالَ لِي أَمَا شَبِعْتِ أَمَا شَبِعْتِ قَالَتْ فَجَعَلْتُ

اوږې او سر مبارک په منځ کي هغه حبشي ښځې ته کتل لږ وخت وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل ایا تر اوسه پوري دي زړه نه دی موړ سوی، لا تر اوسه دي زړه نه دی موړ سوی او ما

أَقُولُ لَا لِأَنْظُرَ مَنْزِلَتِي عِنْدَهُ إِذْ طَلَعَ عُمَرُ قَالَتْ فَارْفَضَّ النَّاسُ عَنْهَا قَالَتْ

ورته هر وار دا وويل چي اوس لا نه، او ددې څخه زما مقصد دا وو چي زه دا معلومه کړم چي د رسول الله ﷺ په زړه کي زما څه مرتبه ده، (يعني زما سره يې څومره مينه ده) ناڅاپه حضرت عمر رضي الله عنه راغلی، کوم خلک چي ولاړ وه د هغه ښځي تماشه يې کول آخوا دېخوا وپاشل سول،

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى شَيَاطِينِ الْإِنْسِ وَالْجِنِّ

رسول الله ﷺ وفرمايل: زه وينم چي د انسانانو او پيريانانو شيطانان هم د عمر رضي الله عنه د بيري څخه

قَدْ فَرُّوا مِنْ عُمَرَ قَالَتْ فَرَجَعْتُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب.

تښتي، د بي بي عائشې (رض) بيان دی چي ددې څخه وروسته زه هم ولاړمه، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ٥\ ٥٨٠، رقم: ٣٦٩١.

د لغاتو حل: تزفن: اي ترقص. (نڅا کول). لحي: منبت الانسان. (زنه)

تشريح: په اصل کي ما معلومول غوښتل، يعني زما ددغه جواب دا مطلب نه وو چي په حقيقت کي زما زړه نه دی موړ سوی او د هغه د ليدني زما ډېر شوق وو بلکه ما خو يوازي دا لېدل غوښتل چي د رسول الله ﷺ زما سره څومره تعلق دی او د رسول الله ﷺ په زړه کي زما د محبوبيت څومره لوړ مقام دی.

د انسانانو او پيريانو شيطان، ددې څخه مراد هغه ماشوم وو چي د هغه حبشي ښځي د غورځېدو ليدنه يې کول او هغه يې په دغه الفاظو تعبير کوی، يو خو د هغه ماشومانو د شرارت او شور کولو په وجه وو لکه څرنګه چي په عامه توګه شور کوونکي ماشومانو ته وايي چي څرنګه شيطان يې، او دوهم د هغې لوبه د هغې ظاهري صورت په اعتبار چي د لهو و لعب د صورت مشابه وو داسي نه وو چي هغه په حقيقت کي هم هغه هر څه د لهو ولعب په حکم کي وو که داسي وای نو رسول الله ﷺ به خپله ولي ورته کتلای او بي بي عائشې رضي الله عنها ته به يې ولي ښودلای، دا هم ويل کيدای سي چي په اصل کي هغه ښځي د نېزي او نورو شيانو په ذريعه بازی کولې چي د جهاد لپاره يو ګټهور شی وو او ځکه رسول الله ﷺ د هغې دغه لوبه خپله هم وليدل او

بي بي عائشې ﷺ ته يې هم وښودل مگر په دغه لوبه کي مقصد هغه تر وخته پوري وو تر څو چي د هغې ليدنه د ضرورت سره سم وه او هغه ضرورت په يو محدود وخت کي پوره کېدی مگر عين هغه وخت کله چي د هغه لوبي ضرورت او د جواز وخت متجاوز سو او دلهب ولعب او شيطان کار په دائره کي داخل سو نو حضرت عمر ﷺ هلته راغلی او شيطان ته دخپل چم کولو موقع په لاس نه ورغلل نو دحضرت عمر ﷺ د راتلو څخه مخکي هغه لوبه د جواز په حد کي وه چي رسول الله ﷺ او بي بي عائشې ﷺ هم وليدل او تر دې مخکي چي شيطاني اثرات خپل کار وکړي او د هغه ښځي شاوخوا ماشومان او خلک د هغې د اثراتو ښکار سي د حضرت عمر ﷺ راتګ هغه ټول شيطانان پر تېښته مجبور کړل ، په هر حال توجيه چي هر څه وکړل سي يوه خبره چي د حديث څخه په څرګنده ثابته ده هغه داده چي په رسول الله ﷺ باندي د صفت جمال غلبه وه چي هغه د رسول الله ﷺ خوش اخلاقي، خوش طبعي او مروت درجمه کمال ته رسولې وه ، او پر حضرت عمر ﷺ باندي د صفت جلال غلبه وه چي د هغه شخصيت دومره د رعب او هيبت څخه ډک وو چي د هغه په مخکي د بدۍ او کراهت شبه لرونکي کار هم نه سو کيدای .

دغه حديث صحيح غريب دی، په دې اړه بايد دا خبره په ذهن کي وي چي د حبشيانو د لوبو کولو په اړه يو بل روايت په بله طريقه په صحيحينو (بخاري او مسلم) کي هم منقول دی ، په هغه کي بيان سوی دی چي يوه ورځ ځيني حبشيانو په مسجد نبوي کي د نيزې لوبي کولې او رسول الله ﷺ ، بي بي عائشې ﷺ ته هغه لوبه ښودل چي حضرت عمر ﷺ راغلی نو هغه حبشيان د هغه لوبي څخه منع کول وغوښتل بلکه د هغوی خوا ته يې ډبري وغورځولې نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې عمر! دوی پر خپل حال پرېږده، نن دا ختر ورځ ده .

په ذکر سوي حديث شريف کي چونکه ښځه او نندارہ چيانو د کوچنيانو ذکر وو نو له همدې کبله دا سوال نه پيدا کيږي چي حضرت عائشې رضي الله عنها وغيرو ته کتله او نه د دې د جواب ضرورت سته ، چونکه هغه وخت بي بي عائشه رضي الله عنها په خپله کوچنۍ وه او بيا و پرديو ته د هغې کتل منعه نه وو دلته په ظاهره دا معلوميږي چي د ترمذي په نقل سوي روايت کي چي د کومي واقعې ذکر دی هغه د دې واقعې څخه جلا وه د کوم ذکر چي په بخاري او مسلم کي سوی وو .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د حضرت عمر رضي الله عنه موافقات

﴿۵۷۹۴﴾: عَنْ اَنَسٍ وَابْنِ عُمَرَ اَنَّ عُمَرَ قَالَ وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ قُلْتُ يَا

د حضرت انس او ابن عمر (رضي الله عنهما) څخه روایت دی چي عمر رضي الله عنه وویل: زه په درو کارو کي د خپل پروردګار سره موافق سوی یم: یو وار ما

رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ اتَّخَذْنَا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى فَنَزَلَتْ وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ

رسول الله ﷺ ته عرض وکړ که مقام ابراهیم موږ د لمانځه کولو ځای وټاکو نو غوره به وي، زما د دې مشورې سره سم دا آیت نازل سو: (واتخذوا من مقام ابراهیم مصلی)،

إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ يدخل على نسائك الْبَرُّ وَالْفَاجِرِ فلو امر

یعني مقام ابراهیم تاسو د لمانځه ځای وټاکئ، بیا یو وار ما دا عرض وکړ چي اې د الله رسوله! ستاسو د بیبیانو مخته هر ډول ښه او بد خلک راځي که تاسو خپلو بیبیانو ته د پردې کولو حکم

تهن يحتجبن فَنَزَلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ وَاجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ورکړئ نو غوره به وي، زما پر دې مشوره د پردې په اړه آیت نازل سو. بیا یو وار د رسول الله ﷺ

فِي الْغَيْرَةِ فَقُلْتُ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبَدِّلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ فَنَزَلَتْ

بیبیاني د عسلو په قصه کي راجمع سوې نو ما ورته وویل: اې بیبیانو! که رسول الله ﷺ تاسو ته طلاق درکړي نو امید دی چي الله جل جلاله ستاسو څخه غوره بیبیاني ورکړي، (حضرت عمر رضي الله عنه فرمایي) زما د دې قول سره سم د خدای جل جلاله د طرف څخه داسي آیت نازل سو،

كذالك. وفي رواية لابن عُمَرَ قَالَ قال عمر وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ فِي مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ وَفِي الْحِجَابِ وَفِي أُسَارَى بَدْرٍ. متفق عليه

او د ابن عمر رضي الله عنه په روایت کي دا الفاظ دي چي ابن عمر رضي الله عنه وویل چي حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل: د خپل پروردګار سره په درو شیانو کي موافق سوی یم: یو د مقام ابراهیم په باره

کي، دويم د پردې په باره کي او دريم د بدر د بنديانو په باره کي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۵۰۴، رقم: ۴۰۲.

تشريح: حافظ عسقلاني رحمة الله عليه ليکلي دي چي دلته يوازي د يوازي درو خبرو د ذکر کولو څخه دا نه لازميږي چي د موافقات عمر شمېر تر دغه درو زيات نه دی، په حقيقت کي ددغه موقعو شمېر تر درو زيات دی چي په هغه کي د حضرت عمر رضي الله عنه د رايي او مشورې مطابق الهي حکم نازل سو، په هغو کي چي زياتي مشهوري وې هغه خو يوه د بدر د بنديانو معامله ده، يوه د منافقانو د جنازې د لمانځه کولو پېښه هم ده، همدارنګه ځينو محققين د پلټني څخه وروسته چي کوم موافقات عمر جمع کړي دي د هغو شمېر تر پنځلس زيات دی (لکه چي علامه سيوطي رحمة الله عليه د شلو موافقات عمر رضي الله عنه يادونه کړې ده).

د مقام ابراهيم څخه مراد هغه ډبره ده چي پر هغه باندي د حضرت ابراهيم عليه السلام د قدم مبارک نښه د معجزې په توګه پاته ده او پر هغه ډبره باندي په درېدو سره د بيت الله جوړونه يې کول، په يوه روايت کي راغلي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د حضرت عمر رضي الله عنه لاس ونيوی او ورته يې وښودل چي دا مقام ابراهيم دی، هغه وخت حضرت عمر رضي الله عنه وويل: اې د الله رسوله! ايا دا مناسب نه دي چي موږ دغه مقام د لمانځه کولو ځای وګرځوو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ما ته په دې اړه څه حکم نه دی راکړل سوی دی او بيا په هغه ورځ لمر لا نه وو لويدی چي ذکر سوی آيت نازل سو، د هغه مطلب دا دی چي د هر طواف څخه وروسته کوم دوه رکعته لمونځ کول چي واجب دی هغه دي د مقام ابراهيم سره کوي چي مقام ابراهيم هم مخته وي او بيت الله شريف هم، په دغه آيت کي د امر صيغه د استحباب لپاره ده او ځينو حضراتو د وجوب لپاره ويلې ده، يعني د طواف څخه وروسته دوه رکعته کول واجب دي مګر مستحب دا دي چي دغه دواړه رکعتونه خاص د مقام ابراهيم تر شا متصل وکړل سي، مګر کوم څوک چي د مقام ابراهيم سره ځای پيدا نه کړي او هغه په حرم کي چيري چي دغه دوه رکعته وکړي نو د دغه حکم پوره تعميل به وسي، د امام شافعي رحمة الله عليه په مذهب کي د دغه دوو رکعتو د وجوب په اړه دوه قوله دي.

نو د پردې دغه آيت نازل سو، هغه آيت دغه دی:

وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ

ژباړه: او کله چي تاسو د دوی (ازواج مطهرات) څخه يو شی غواړئ نو د پردې تر شا يې ځيني غواړئ.

څرګنده دي وي چي د ازواج مطهراتو په اړه کومه پرده واجب سوې ده دا د هغه پردې څخه ماسوا ده چي د نورو ټولو ښځو لپاره واجب سوې ده، يعني د دغه آيت کريمه په ذريعه ازواج مطهراتو ته دا حکم ورکړل سوی وو چي د غير محرمو مخته بالکل نه راځي که څه هم په جامو کي پټي وي، دغه حکم په خاصه توګه يوازي د ازواج مطهراتو لپاره وو ، حال دا چي نورو ښځو ته اجازه ده که خپل بدن په ښه ډول پټ کړي او د باندي راوتل غواړي نو راوتلای سي.

د رسول الله ﷺ بيبياني د عسلو په قصه کي راجمع سوې: ددې څخه د رسول الله ﷺ د عسلو څښلو په اړه مشهوره معامله مراد ده ، د رسول الله ﷺ عادت وو چي د مازديګر څخه وروسته به ولاړه به يې خپلو ازواجو ته تشريف وړی ، يو وار د دغه عادت سره سم رسول الله ﷺ خپلي بي بي ، زينب ﷺ ته ورغلی نو هغې رسول الله ﷺ ته عسل ورکړل چي د رسول الله ﷺ ډېر خوښ وه او ددې لپاره بي بي زينب ﷺ د رسول الله ﷺ لپاره ايښي وه، د عسلو په څښلو کي رسول الله ﷺ يو څه ځنډ وکړ او له دې کبله رسول الله ﷺ د بي بي زينب ﷺ سره د عادت څخه زيات پاته سو ، دغه خبره بي بي عائشې ﷺ او نورو ازواجو ته د غيرت باعث سوه، ام المؤمنين بي بي عائشې ﷺ او ام المؤمنين بي بي حفصې ﷺ مشوره وکړه او دواړي پر دې متفقي سوې چي رسول الله ﷺ په موږ کي هري يوې ته راسي نو هغه به ورته داسي وايي چي ستاسو څخه د مغافر بوی راځي او بيا چي رسول الله ﷺ هغوی ته راغلی نو په هغوی کي هري يوې همداسي وويل، رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمايل: ما خو مغافير ته لاس هم نه دی وروړی، يوازي عسل مي څښلي دي، هغوی ورته وويل: کيدای سي چي د عسلو موچۍ پر مغافير باندي ناستي وي چي د هغه په سبب د مغافير بوی په دغه عسلو کي ګډ سوی دی، ددې خبري څخه د هغوی مقصد دا وو چي رسول الله ﷺ د عسلو څښلو لپاره د بي بي زينب ﷺ سره پاته نه سي مګر رسول الله ﷺ د هغوی خبره پر صداقت باندي محمول کړل او احتياطا يې د عسلو څښل پر ځان حرام کړل، بيا وروسته ټول راز څرګند سو چي دا خو د بن توب کار وو چي په هغه کي رسول الله ﷺ اخته سو ، او يو بد صورت حال رامنځته سو ، په دغه وخت کي حضرت عمر ﷺ د ازواج مطهراتو د خبردار کولو لپاره دغه الفاظ وويل او بيا چي په قرآن کريم د دغه پېښي په اړه الهي فرمان نازل سو نو په هغه کي د حضرت عمر ﷺ هغه الفاظ او مفهوم هم هغسي شامل کړل سو ، په سورة تحريم کي دي :

عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبْدِلَهُۥٓ أَزْوَٰجًا خَيْرًا مِّنكُنَّ.... الاية

ژباړه: که چیري (رسول الله ﷺ) تاسو ته طلاق درکړي نو هغه پروردګار به ډېر ژر ستاسو په بدله کي هغه ته ستاسو څخه غوره بیبیاني ورکړي.

د بدر د بندیانو په اړه، یعني د بدر په غزا کي د فتح وروسته د جنګي بندیانو په اړه رسول الله ﷺ له صحابه کرامو سره مشوره وکړل چي د هغوی سره څرنګه چلن کول پکار دي او دهغوی معامله څرنګه فیصله کړل سي، ابوبکر صدیق ﷺ رایه ورکړل چي دفدیې په اخیستلو سره دي هغوی ازاد کړل سي مګر د حضرت عمر ﷺ رایه دا وه چي د اسلام دښمنان دي ووژل سي، رسول الله ﷺ د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ رایه خوښه کړل او د هغه بندیانو څخه یې د هغوی د توان مطابق فدیه واخیستل او ایله یې کړل مګر کله چي وروسته په قرآن کریم کي په دې اړه آیت نازل سو نو هغه د حضرت عمر ﷺ د رایي مطابق سو، په دې اړه تفصیل مخته را روان دی.

هغه څلور خبري چي د هغو په وجه حضرت عمر ﷺ ته فضیلت حاصل سو

﴿۵۷۹۵﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ فَضَلَ النَّاسَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي عمر بن خطاب ﷺ ته پر نورو خلکو د څلورو

تَعَالَى عَنْهُ بِأَرْبَعٍ بِذِكْرِ الْأَسْرَى يَوْمَ بَدْرٍ أَمَرَ بِقَتْلِهِمْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ

خاصو خبرو په سبب فضیلت ورکړل سوی دی: (۱): یو خو د جنګ بدر د بندیانو په اړه کي ددې مشوره ورکولو په سبب چي هغوی دي قتل کړل سي نو د هغه سره سم خدای تعالی دا آیت

لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ وَبِذِكْرِهِ

نازل کړ: (لو لا کتب من الله سبق لمسکم فیما اخذتم عذاب عظیم)، (که لوح محفوظ یا علم الهي کي دا خبره ثبت کل سوې نه وای نو تاسو ته به پر فدیه اخیستو باندي لوی عذاب رسیدلی

الْحِجَابَ أَمَرَ نِسَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَحْتَجِبْنَ فَقَالَتْ لَهُ زَيْنَبُ

وای)، (۲): او دویم د پرې د مشورې په سبب، یعني عمر ﷺ د رسول الله ﷺ بیبیانو ته د پردې کولو مشوره ورکړل، د رسول الله ﷺ کوروالا بي بي زینب ددې اوریدو سره وویل

وَإِنَّكَ عَلَيْنَا يَا ابْنَ الْخَطَّابِ وَالْوَحْيُ يَنْزِلُ فِي بُيُوتِنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ

اې ابن خطاب ! ته په پرده کې د پاته کېدو حکم کوې حال دا چې زموږ په کورونو کې وحي نازلېږي، پر دې خبره الله تعالی دا آيت نازل کړ :

وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ وَبِدَعْوَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

(واذا سالتموهن متاعا فاسئلوهن من وراء حجاب)، ، (هر کله چې د رسول الله ﷺ د بيبيانو څخه څه غواړئ نو د پردې تر شا يې غواړئ)، (۳) : او دريم عمر رضي الله عنه ته د هغه دعاء په سبب

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ أَيِّدْ الإِسْلَامَ بِعُمَرَ وَبِرَأْيِهِ فِي أَبِي بَكْرٍ كَانَ أَوَّلَ النَّاسِ بَايَعَهُ. رواه احمد.

فضيلت تر لاسه دی چې رسول الله ﷺ د هغه په حق کې داسې کړې وه چې اې الله ! اسلام ته د عمر رضي الله عنه په ذريعه قوت ورسوې ، (۴) : او څلورم د هغه اجتهاد په سبب چې عمر رضي الله عنه د ابوبکر رضي الله عنه د خلافت په باره کې کړی وو او تر ټولو مخکې يې د ابوبکر رضي الله عنه پر خلافت بيعت کړی وو . احمد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱\۴۵۶.

تشريح: د بدر د غزا د بنديانو په اړه، ددې تفصيل خپله حضرت عمر رضي الله عنه په يوه روايت کې چې په رياض الصالحين کې نقل سوی دی، داسې بيانوي: د بدر په ورځ چې الله جل جلاله مسلمانانو ته فتح او غلبه ورکړل او ډېر بنديان د مسلمانانو لاس ته راغلل نو رسول الله ﷺ د صحابه کرامو مشوره وغوښتل او د هغه بنديانو په اړه يې مشوره وغوښتل، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خپلې رايې په اظهار کولو سره وويل: اې دالله رسوله! په دغه بنديانو کې ټول خپل قريبان دي څوک د اکا زوی دی، څوک وراره دی، څوک د کورنۍ سړی دی او څوک د قبيلې، که موږ د دوی ټولو څخه فديه واخلو او ايله يې کړو نو په دې سره به موږ ته د دين د دښمنانو په مقابله کې ډېره مرسته تر لاسه سي او کېدای سي چې الله جل جلاله دوی ته هدايت وکړي او دوی هم د اسلام په منلو سره زموږ مرسته کوونکي جوړ سي، رسول الله ﷺ د ابوبکر صديق رضي الله عنه د رايې په اورېدو سره وفرمايل چې اې عمر! په دې اړه ستا څه رايه ده، ما وويل: اې دالله رسوله! زه د ابوبکر رضي الله عنه رايه مناسب نه ګڼم، دغه ټول بنديان د کفر او ضلالت مشرتابه او ددين د دښمنانو مشران دي ، د دوی ژوندي پرېښودل خطره ده ، د دوی ټولو سرونه پرې کول مناسب دي، په پای کې رسول الله ﷺ د ابوبکر صديق رضي الله عنه رايه خوښه کړل او د فديې په اخيستلو سره يې هغه بنديان ايله کړل، په بله ورځ سهار چې زه (حضرت عمر رضي الله عنه وايي) د رسول الله ﷺ په خدمت کې

حاضر سم نو وه مي لېدل چي رسول الله ﷺ او ابوبکر صديق ﷛ په ژړا ناست دي، ما پوښتنه وکړل چي اې دالله رسوله! خير دی، تاسو او ابوبکر ولي ژاړئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عمر! څه پوښتنه کوې ، پوه سه چي الله ﷻ خير کړ، کنه نو عذاب خو زما مخته تر دغه درختي هم نژدې راغلی وو، الله ﷻ دغه آيت نازل کړی دی :

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ لَّوْلَا كِتَابٌ مِّنَ اللهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝

ژباړه: پېغمبر ته مناسب نه ده چي د هغه بنديان دي پاته سي (بلکه وژل پکار دي) تر څو چي هغه په مځکه کي په ښه ډول (د دين د دښمنانو) وينه توی نه کړي، تاسو خو د دنيا مال او اسباب غواړئ او الله ﷻ د آخرت مصلحت غواړي او الله ﷻ ډېر زبردست او حکمت والا دی که د الله ﷻ يوه ليکنه مقدر نه وای نو کوم امر چي تاسو اختيار کړی دی په دې اړه به پر تاسو يوه لويه سزا راتلای.

څرګنده سول چي د بدر د بنديانو په اړه مناسبه رايه هغه وه کوم چي حضرت عمر ﷛ ظاهره کړې وه، د حضرت ابوبکر صديق ﷛ رايه پردغه مصلحت مبني وه چي دا وخت مسلمانانو ته د مالي تنګۍ وخت دی ،د دين دښمنان په دغه جګړه کي د ماتي خوړلو سربېره خپله دښمني نه پرېږدي د مسلمانانو پر خلاف د هغوی عزائم جاري دي او هغوی د خپل ټول مالي او انساني قوت په جمع کولو سره د مسلمانانو بيا د جنګ لپاره راوستلو هڅه کوي نو مناسب ده چي د دغه بنديانو څخه د فديې په اخيستلو سره ايله کړل سي ، د هغوی د ايله کولو په صورت کي يوې خوا ته به په موږ کي د چا پر زړه او دماغ دا بار نه وي چي خپل قريب په خپلو لاسو قتل کړي او کيدايسي چي دغه احسان خپله دغه بنديان محسوس کړي او هغوی ته د ايمان قبلولو او زموږ مرستي کولو توفيق په برخه سي، بلي خوا ته د فديې په شکل کي د هغوی څخه تر لاسه کېدونکی مال او اسباب زموږ ډېره مرسته کوي، د دې په ذريعه به زموږ توان زيات سي او د دين د دښمنانو سره د جګړې لپاره به جنګي سامان هم برابر کړو، په يوه اعتبار د حضرت ابوبکر صديق ﷛ رايه د صفت جمالي مظهر هم وو او دا وجه ده چي په صحابه کرامو کي د کومو حضراتو په مزاج کي نرمي او مروت زيات وو هغو ټولو هم د دغه رايي تائيد وکړ ، بلي خوا ته د حضرت عمر ﷛ رايه د هغه د صفت جلال مظهر وو او په کومو صحابه کرامو کي چي د دغه صفت غلبه وه هغوی د حضرت عمر ﷛ د رايي تائيد وکړ، نبي کريم ﷺ که څه هم د

ټولو صفاتو او کمالاتو جامع وو مګر ښېښه داده چي رسول الله ﷺ صَفت جمال ته مائل وو او په دې وجه هغه د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ رایه خوښه کړل مګر د الله جل جلالہ شخه پرته بل کوم ذات ددې فیصلې په اصل عواقبو او نتائجو پوهیدای سو، د هغه په حکمت کي د بندیانو د ایله کولو دغه فیصله غیر مناسب وګرځېدل او په دې اړه ذکر سوی آیت نازل سو چي په هغه سره د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د رایي توثیق وسو.

په جنت کي مرتبه

﴿۵۷۹۶﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ الرَّجُلُ أَرْفَعُ أُمَّتِي دَرَجَةً فِي الْجَنَّةِ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ وَاللّٰهِ مَا كُنَّا نُرَى ذٰلِكَ الرَّجُلَ إِلَّا عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ حَتّٰى مَضٰى لِسَبِيلِ. رواه ابن ماجه.

د حضرت ابوسعید رضی اللہ عنہ شخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه سړی زما په امت کي په جنت کي د لوړي مرتبې والا دی، د ابو سعید رضی اللہ عنہ بیان دی چي زموږ په رایه کي هغه سړی چي د هغه ذکر رسول الله ﷺ فرمایلی وو عمر بن خطاب رضی اللہ عنہ وو، تر څو چي هغه وفات سو او زموږ پر ده خیال وو. ابن ماجه

تخریج: سنن ابن ماجه ۲\۱۳۵۹، رقم: ۴۰۷۷.

تشریح: هغه سړی، دغه خبره رسول الله ﷺ مبهم وکړل او تعین یې ونه فرمایه چي هغه سړی څوک دی او ددغه ابهام شخه مقصد دا وو چي د امت هر سړی په طاعت او عبادت کي زیاته هڅه وکړي او ددغه لوی مرتبې تر لاسه کولو هڅه دي کوي او پوه دي سي چي دغه مرتبه یوازي هغه چا ته تر لاسه کېدای سي چي په طاعت او عبادت کي ډېره هڅه کوي او د اخلاقو او کمالاتو په متصف کېدو سره ددې استحقاق پیدا کړي، یا دا هم کیدای سي چي په مجلس نبوي کي د یو داسي سړي ذکر راغلی وي چي په ذکر سوو صفتو سره متصف وي او د هغه په ضمن کي رسول الله ﷺ فرمایلي وي چي کوم څوک ددغه اوصافو حامل وي هغه ته به په جنت کي لوړه درجه تر لاسه کیږي.

او حضرت عمر رضی اللہ عنہ چي تر څو پوري په دنیا کي وو، دغه الفاظ ددغه شک د دفع لپاره دي چي کیدای سي په دې ترڅ کي حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته د خلګو خیال تللی وي او بیا وروسته هغه بدل سوی وي، دلته دا سوال پیدا کیږي چي د حضرت ابوسعید رضی اللہ عنہ د الفاظو شخه دا لازمیږي

چي حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه افضل وو، حال دا چي په حقیقت کي داسي نه وه، ددې جواب د الفاظ حدیث د ذکر سوي وضاحت څخه تر لاسه کیږي یعني دا چي د رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کي د مبهم اشارې مقصد دې ته متوجه کول وو چي په امت کي د هر چا د شریعت اطاعت او فرمانبرداري او په نیکو کارو کي لګېدل په محنت او اخلاص سره زیاته هڅه او کوښښ وکړي چي دغه لوړي درجې ته ورسیږي ، هغه لوړه درجه هغه چا ته تر لاسه کیږي چي په طاعت او عبادت کي هڅه کوونکی وي، په اخلاص او کمالاتو سره متصف وي، په دین کي د ښه غور او فکر په ذریعه اجتهاد کوي او په نیکو کارو کي لګیدلی وي، نو په کومو خلګو کي چي دغه ښېګڼه څومره زیاته وي د حضرت عمر رضی الله عنه په ذات کي د پیل څخه د هغه تر ژوند پوري دومره زیاته او کامله وه چي په بل صحابي کي هغوی ته نه معلومیدل، ځکه هغوی دا ګمان وکړ چي د رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کي د هغه سړي څخه مراد یوازي د حضرت عمر رضی الله عنه ذات وو نه بل څوک ، که چیري د اخفاء لیلة القدر مسئله په ذهن کي وي نو بیا دا خبره په اساني سره په فکر کي راتلای سي چي په دغه روایت کي د حضرت عمر رضی الله عنه په ذکر سره پر حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه باندي د هغه د فضیلت مفهوم نه لازمیږي، خلاصه دا چي د هغه سړي څخه د حضرت عمر رضی الله عنه مراد کېدل بې ګمانه خبره ده او هغه هم د ځینو حضراتو په نزد د یقین خبره ده، نو په دغه روایت کي استدلال کول به صحیح نه وي چي حضرت عمر رضی الله عنه تر ابوبکر صدیق رضی الله عنه افضل وو بلکه د جمهورو علماؤ اتفاق د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه پر افضیلت باندي ثابت دی او د اهل سنت والجماعت متفق عقیده هم پر دې ده ، که چیري دا وویل سي چي حضرت ابوسعید رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه په اړه دا خبره د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د وفات څخه وروسته د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کي کړې ده چي هغه وخت د رسول الله ﷺ د ارشاد مصداق د حضرت عمر رضی الله عنه څخه لوی بل څوک نه سو کیدای، نو بیا د اصل حدیث په اړه هیڅ سوال نه پیدا کیږي ځکه چي حضرت عمر رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کي تر ټولو افضل وو

په نیکیو کي هڅه کونکی

﴿۵۷۹۶﴾: وَعَنْ أَسْلَمَ قَالَ سَأَلَنِي ابْنُ عُمَرَ بَعْضَ شَأْنِهِ يَعْنِي عُمَرَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا قَطُّ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حِينَ قُبِضَ كَانَ أَجَدَّ وَأَجْوَدَ حَتَّى انْتَهَى مِنْ عُمَرَ . رواه البخاري.

د حضرت اسلم رضي الله عنه څخه روایت دی چي ابن عمر رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه یو څه حالات زما څخه و پوښتل، ما عرض وکړ د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته ما هیڅوک د عمر رضي الله عنه څخه زیات په نیک کار کي کوښښ کونکی او د نیک کار کونکی نه دی لیدلی تر دې چي عمر رضي الله عنه آخري عمر ته ورسیدی. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۲، رقم: ۳۶۸۷.

د لغاتو حل: اجد: اي اجهد في الدين. (په دین کي هڅه کوم)

تشریح: علماؤ لیکلي دي چي دغه روایت دي د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت پر زمانه محمول وګڼل سي چي د دغه الفاظو څخه کوم عام مفهوم اخیستل کیږي د هغه څخه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ذات مستثنی دی.

د دین او ملت غم

﴿۵۷۹۸﴾: وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ لَمَّا طُعِنَ عُمَرُ جَعَلَ يَأْلَمُ فَقَالَ لَهُ

د حضرت مسور بن مخرمه رضي الله عنه څخه روایت دی چي کله حضرت عمر رضي الله عنه په نېزه زخمي کړل سو نو ده فریاد وکړ،

ابْنُ عَبَّاسٍ وَكَأَنَّهُ يُجَزِّعُهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ولا كل ذلك لَقَدْ صَحِبْتَ رَسُولَ

ابن عباس رضي الله عنه د ډاډ او تسکین لپاره ورته وویل: اې امیر المؤمنین! فریاد کول ستاسو د شان سره نه ښایي، تاسو د رسول الله ﷺ په صحبت کي پاته سوي یاست

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ ثُمَّ فَارَقْتَهُ وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ ثُمَّ

او ستاسو ملګرتیا ډیره ښه پاته سوې ده، بیا چي رسول الله ﷺ ستاسو څخه رخصت سو نو رسول الله ﷺ در څخه خوشحاله او راضي وو، بیا

صَحِبْتَ أَبَا بَكْرٍ فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ ثُمَّ فَارَقْتَهُ وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ ثُمَّ صَحِبْتَ

تاسو د ابوبکر رضي الله عنه په صحبت کي پاته سوا است او هغه سره هم ستاسو ملګرتیا ډیره پاته سوه بیا چي در څخه بیل سو نو هغه هم در څخه خوشحاله او راضي وو، بیا د خپل خلافت په ورځو کي

المسلمين فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُمْ وَلَئِنْ فَارَقْتَهُمْ لَتُفَارِقَنَّهُمْ وَهُمْ عَنْكَ

تاسو د مسلمانانو په صحبت کې واست او هغوی سره مو هم صحبت ښه پاته سو او س که تاسو د مسلمانانو څخه بیلیږئ نو مسلمانان ستاسو څخه خوشحاله او راضي دي،

رَاضُونَ قَالَ أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِضَاهُ

ددې او ریدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وویل تا چې د رسول الله ﷺ د صحبت کوم ذکر کړی دی او د رسول الله ﷺ د خوشحاله او راضي رخصتیدو

فَإِنَّمَا ذَالِكَ مَنٌّ مِنَ اللّٰهِ تَعَالَى مَنَّ بِهِ عَلَيَّ وَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ أَبِي بَكْرٍ

نو دا د خدای جل جلاله یو احسان دی چې خدای جل جلاله پر ما کړی دی ، بیا تا دابوبکر د صحبت او رضا

وَرِضَاهُ فَإِنَّمَا ذَاكَ مَنٌّ مِنَ اللّٰهِ جَلَّ ذِكْرُهُ مَنَّ بِهِ عَلَيَّ وَأَمَّا مَا تَرَى مِنْ جَزَعِي

ذکر وکړ نو هغه هم پر ما د خدای جل جلاله احسان دی ، او اوس چې ته ما د فریاد په حالت کې وینې نو هغه ستا او ستا د دوستانو په سبب دی، (یعني دا بیره ده چې زما څخه وروسته تاسو په فتنه

فَهُوَ مِنْ أَجْلِكَ وَأَجْلِ أَصْحَابِكَ وَاللّٰهِ لَوْ أَنَّ لِي طِلَاعَ الْأَرْضِ ذَهَبًا لَافْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ قَبْلَ أَنْ أَرَاهُ. رواه البخاري.

کې اخته نه سئ)، په خدای جل جلاله دې مې قسم وي که زما سره د مځکې برابر هم سره زر وي نو د عذاب الهي په بدله کې به مې هغه قربان کړي وای ددې څخه مخکې چې زه هغه عذاب ووینم . بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۴۳/۷، رقم: ۳۶۹۲.

د لغاتو حل: یجزعه: اي ینسبه الی الجزع ویلومه علیه. جزعي: اي فزعي . طلاع: اي مایملؤها ذهبا حتی یطلع ویسیل.

تشریح: حضرت ابن عباس رضي الله عنه دې ته اشاره وکړل چې کله د الله جل جلاله رسول ستاسو څخه راضي او خوشحاله ولاړی ، د الله جل جلاله د رسول محبوب (حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه) ستاسو څخه راضي او خوشحاله له دنیا څخه رخصت سو او ټول مسلمانان ستاسو څخه راضي او خوشحاله دي نو دا ددې خبرې دلیل دی ، یعني الله جل جلاله ستاسو څخه راضي او خوشحاله دی او تاسو د خپل الله جل جلاله څخه راضي او خوشحاله یاست، په دغه صورت کې خو تاسو ددغه ارشاد د زیري مصداق یاست :

يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً

ژباړه: اې ډاډه روح! ته د خپل پروردګار رحمت ته ځه ، داسي چي ته د هغه څخه راضي او هغه ستا څخه راضي دی.

نو بيا تاسو ولي پرېشانه یاست او ولي دومره بې قراره یاست، ایا د دغه زخم تکلیف تاسو بې ارامه کړي یاست او که د مرګ تصور، مګر خو د هر مؤمن لپاره تحفه ده ، هغه تحفه چي په لوړ مقام کي بنده د خپل بادار سره یو ځای کوي، د مولی د ابدي نعمتونو او سعادتونو ته یې رسوي، حضرت عمر رضي الله عنه چي ابن عباس رضي الله عنه ته کوم جواب ورکړ د هغه خلاصه دا وه چي دا محض ستا خیال دی چي زما بې ارامي د زخم د تکلیف یا د مرګ د بیري څخه ده، په حقیقت کي دغه ټول حالت او اظهار ستاسو خلګو د راتلونکي په اړه د څو خطراتو او بیرو تاثر دی ، زما سره بېره ده چي زما څخه وروسته به فتنې را پورته سي ، اختلاف او انتشار او ددین څخه بې توجهي کي به مسلمانان اخته سي، د فتنې او فساد دروازې چي ما پر ملت اسلامیه باندي ډیري ټینګي بندي کړي وي ، سستي نه سي، ددې څخه ماسوا زه د خپل ځان په اړه د آخرت بېره هم زما لپاره د اضطراب سبب دی بېله شکه الله جل جلاله زه په ډېرو سعادتونو نازولی یم او په دنیا کي یې پر ما ډېر فضل او انعام کړی دی مګر ما د الله جل جلاله د حقوقو په ادا کولو کي کوتاهي کړي دي چي د هغه په اړه په آخرت کي نیوکه کیدای سي ، که الله جل جلاله زه د عذاب وړ وګرځولم نو څه حشر به مي وي، په استیعاب کي منقول دي چي کله حضرت عمر رضي الله عنه په زخمي کېدو سره ولویدی نو د خپل زوی عبد الله ابن عمر رضي الله عنه په غېږ کي یې سر کېښېښود او پروت وو، او په وار واریې ویل: ظلوما لنفسي غیر اني مسلم اصلي صلاتي کلها واصوم، زه پر خپل ځان ډېر ظلم کوونکی یم سره ددې چي زه مسلمان یم ټول لمونځونه هم کوم او روژې هم نیسم.

وژونکې حمله او شهادت : په مدینه منوره کي یو فارسي غلام چي فیروز نومیدی او کنیت یې ابولولو وو، هغه یوه ورځ د حضرت عمر رضي الله عنه په خدمت کي حاضر سو او د خپل بادار مغیره ابن شیبه رضي الله عنه شکایت یې وکړ، چي هغه پر ډېر زیات محصول عائد کړی دی ، تاسو دا کم کړئ ، حضرت عمر رضي الله عنه د هغه محصول مقدار او د هغه د کار صلاحیت او ګټې په اړه د معلومات تر لاسه کولو سره هغه ته وویل چي دغه محصول زیات نه دی ، ابولولو د دغه په اورېدو سره سخت ناراضه سو او د حضرت عمر رضي الله عنه څخه ولاړی، په دوهمه ورځ ابولولو په زهرو لړلی یو خنجر واخیست او مسجد ته راغلی او یو کونج کي پټ کېښېنست، کله چي حضرت عمر رضي الله عنه د سهار د

لمانځه لپاره راغلی او د امامت لپاره مخته سو نو ابولولو ناڅاپه د کونج څخه په راوتلو سره پر حضرت عمر رضي الله عنه د خنجر شپږ وارونه وکړل چي په هغه کي یو د نامه لاندي وموښتی، زخم دومره سخت وو چي حضرت عمر رضي الله عنه تاب نه راوړی او سمد ستي را ولوېدی، حضرت عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه د کوچني کوچني سورتو په ویلو سره ژر د سهار لمونځ ورکړ، د لمانځه څخه وروسته بیې حضرت عمر رضي الله عنه کورته راوړی.

د حملې څخه درې ورځي وروسته حضرت عمر رضي الله عنه په حق ورسېدی او د محرم د میاشتي په لومړۍ نېټه په ۲۴ هجري کال کي د شنبې په ورځ دفن کړل سو، حضرت صهیب رضي الله عنه د جنازې لمونځ ورکړ. ځینو حضراتو د حملې پېښه د ذي الحجې اووه ویشتمه نېټه، ۲۳ هجري کال د چارشنبې ورځ لیکلې ده او د تدفین نېټه یې د محرم لسمه د ۲۴ هجري کال د یکشنبې ورځ بیان کړې ده، د حضرت عمر رضي الله عنه خلافت لس نیم کاله وو او عمر یې د تحقیقي قول سره سم ۶۳ کاله وو، د صحابه کرامو او تابعینو لوی ډلي د هغه څخه حدیثونه روایت کړي دي چي په هغو کي حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه او عشره مبشره هم شامل دي.

د حضرت عمر رضي الله عنه یو لوی کرامت: په مستندو کتابو کي د غوره او باوري راویانو په حواله بیان سوي دي چي کله مصر فتح سو نو هلته حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه والي وټاکل سو، هغه ته یوه ورځ مصریانو وویل چي د پخوا زمانې څخه د نیل سیند هر کال د یوې پېغلي انجلۍ نذرانه اخلي، ترڅو چي دا نه ورکړل سي او به نه جاري کېږي، ددې صورت دا وي چي هر کال د میاشتي په یوولسمه نېټه یوه پېغله انجلۍ د هغه د مور او پلار په رضا سره ښه جامې واغوندي او ګڼې او سنګار کولو سره په سیند کي اچوي، که داسي نه کوي نو دریاب وچېږي او بیا په ښارو او کلیو کي د اوبو د کمي په سبب وچ کالي راځي، حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه مصریانو ته وویل: دا پالتو رواج دی، په اسلام کي د داسي لغو رواجو هیڅ ځای نسته، ځکه زه ددې اجازه نه سم درکولای، نو په هغه کال دغه رواج پر ځای نه سو او د نیل سیند وچېدو ته نژدې سو، په ټول مصر کي د وچ کالۍ کیفیت پیدا کېدو په سبب اهل مصر د خپل وطن پرېښودو ته مجبور سول، حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه د صورت حال تفصیلي خبر د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په خدمت کي ولیږی، فاروق اعظم رضي الله عنه هغه لیک وکتی او عمرو بن العاص رضي الله عنه ته یې ولیکل چي تا د هغه رواج د پوره کولو اجازه نه ورکول ښه کار کړی دی، حقیقت دادی چي اسلام د داسي رواجونه بیخ کاږي، زه یو لیک در استوم ته هغه په نیل دریاب کي واچوه، په هغه لیک کي لیکلي وه:

بسم الله الرحمن الرحیم، د الله ﷻ د بنده، عمربن الخطاب رضی الله عنه امیر المؤمنین له خوا د نیل سیند په نامه ، وروسته تر حمد او صلوة، اې د نیل سینده! که ته په خپل اختیار او قوت سره بهیږې نو زما تا ته هیڅ وینا نسته او که د الله ﷻ په حکم او د هغه په مرضۍ سره بهیږې نو زه د الله ﷻ واحد او قهار په نامه تا ته حکم درکوم چي جاري او روان سه ، عمرو بن العاص رضی الله عنه د مصر والي هغه لیک د نیل په سیند کي واچوی او سهار چي را پورته سو نو خلکو ولیدل چي په یوه شپه کي د نیل د سیند اوبه شپاړلس ګزه پورته راغلی دی او په پوره زور سره روان او جاري دی، او بیا هر کال شپږ لاسه زیاتېدی ، همدارنګه الله ﷻ د مصر د اوسېدونکو د هغه پخواني رواج خاتمه وکړل او د هغه ورځي څخه تر ننه پوري د نیل سیند جاري او روان دی .

==========

بَابُ مَنَاقِبِ اَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ رضی الله عنهما

(د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهما د مناقبو بیان)

ځیني داسي روایتونه نقل سوي دي چي په هغو کي د شیخینو (یعني حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهما) ذکر یو ځای سوی دی ځکه د مشکوة مؤلف پر هغه روایتو مشتمل یو بېل باب دلته قائم کړ .

په دې کي شک نسته چي دغه دواړه حضرات د خپلو مشترکه ځانګړتیاوو په وجه پر اکثرو ځایو باندي یو ځای ذکر کیږي چي دواړه د رسول الله ﷺ خاص مرسته کوونکي او د رسول الله ﷺ په خدمت کي وخت پر وخت د حاضرۍ او تقرب سعادت لرونکي د ټولو دیني او ملي معاملاتو او مسائلو مشیر او آمین او د رسول الله ﷺ د ټولو وختو او احوالو مصاحب او هم نشین وه .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۵۷۹۹﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : یو وخت

رَجُلٌ يَسُوقُ بَقَرَةً إِذْ اَعْيٰى فَرَكِبَهَا فَقَالَتْ إِنَّا لَمْ نُخْلَقْ لِهٰذَا إِنَّمَا خُلِقْنَا

یو سړي غوا روانه کړې وه، ناګاه هغه ستړی سو نو پر هغه غوا سپور سو، غوا ورته وویل موږ

ددې کار (يعني سپرلی) لپاره نه يو پيدا کړل سوي بلکه پيدا کړل سوي يو

لِحِرَاثَةِ الْأَرْضِ فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللّٰهِ بَقَرَةٌ تَكَلَّمُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

د مځکي د قلبه کولو لپاره، خلکو پر دې خبره د تعجب اظهار وکړ او وه يې ويل سبحان الله غوا هم خبري کوي، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل:

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي أُومِنُ بِهِ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَمَا هُمَا ثَمَّ وقَالَ وَبَيْنَمَا

زه پر دې خبره (د غوا پر خبرو کولو) ايمان راوړم، او ابوبکر رضی اللہ عنہ او عمر رضی اللہ عنہ هم ايمان راوړي حال دا چي هغه وخت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هلته موجود نه وه، د ابوهريره رضی اللہ عنہ بيان

رَجُلٌ فِي غَنَمٍ له إِذْ عَدَا الذِّئْبُ عَلَى شَاةٍ مِنْهَا فاخذها فادركها صاحبها

دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: يو وخت يو سړي د خپلو پسو په رمه کي وو چي يو شرموښ پر يو پسه حمله وکړه او وه يې تښتول، بيا د پسو خاوند هلته ورورسيدی

فَاسْتَنْقَذَهَا فَقَالَ لَهُ الذِّئْبُ فَمَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ يَوْمَ لَا رَاعِيَ لَهَا غَيْرِي

او د شرموښ څخه يې پسه خلاص کړی، هغه شرموښ شپانه ته وويل د غه پسه به د سبع په ورځ (يوم السبع) هر کله چي انسانان ختم سي او حيوانان پاته سي څوک به ساتونکی وي، چي په هغه ورځ به زما څخه پرته د پسو لپاره بل راعي نه وي،

فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللّٰهِ ذِئْبٌ يَتَكَلَّمُ فَقَالَ أُومِنُ بِهِ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَمَا هُمَا ثَمَّ. متفق عليه.

ددې پېښي اوريدو سره خلکو وويل: سبحان الله شرموښ هم خبري کوي؛ نبي کريم ﷺ ددې اوريدو سره وفرمايل: ما، ابوبکر او عمر پر دې ايمان راوړی دی او دغه وخت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما موجود نه وه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۵۱۲، رقم: ۳۴۷۱، ومسلم ۴\۱۸۵۷، رقم: ۱۳ – ۲۳۸۸.

د لغاتو حل: اعيي: اي تعب. ثم: اي وليس في المكان (نه سته).

تشريح: زموږ تخليق د دغه کار لپاره نه دی، ددې څخه دا خبره ثابتيږي چي پر غوا باندي

سپړتیا او بار باندي وړل مناسب نه دي، علامه ابن حجر رحمه الله لیکلي دي: علماؤ د حدیث دغه الفاظو څخه استدلال کړی دی چي څاروی باید د هغه مقصد څخه ماسوا د بل کار لپاره استعمال نه کړل سي کوم چي په عامه توګه د هغوی سره منسوب ګڼل کیږي او د څه لپاره چي د هغوی استعمال د عادت سره سم وي، مګر دا احتمال هم دی چي ددې خبري مقصد محض غوره والي او افضیلت ته اشاره کول دي نه حصر کول یعني غوره داده چي د څارویو څخه هغه کار واخیستل سي چي د هغه لپاره پیدا سوي دي او په کوم کار کي چي استعمالول د هغوی په عادت کي شامل وي، نو کوم حیوان چي د حلالولو لپاره وي د هغه پر ذبح کولو باندي سوال کول نه دی پکار ځکه چي د انساني خوراک لپاره غوښه تیارول د هغه حیوان په مقصد تخلیق کي شامل دی او په ذبح کولو سره د هغه غوښه خوړل د عادت او معمول مطابق دی.

زه پر دې خبره ایمان راوړم، یعني زه په دغه خبره کي خپل کامل یقین څرګندوم چي د الله جل جلاله قدرت او د هغه په حکم سره غوا د انسان په ژبه خبري کولای سي، یا دا خبره په زړه منم چي غوا په حقیقت کي د کښت او انساني خوراک لپاره پیدا سوې ده نه د سپرلۍ او بار وړلو لپاره،

ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هم ایمان راوړي: یوازي د دوی په ذکر کولو کي دې ته اشاره وه چي د ټینګ ایمان او عقیدې خاصه درجه هغوی ته حاصله ده، دلته باید دا سوال پیدا نه سي چي ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هلته موجود نه وه، نه هغوی دغه پېښه لیدلې وه او نه یې اورېدلې وه او نه یې په دغه خبره د خپل یقین او عقیدې اظهار کړی وو، نو بیا د هغوی په اړه یې ولي وفرمایل چي ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هم ایمان راوړ، په اصل کي رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خبره ددې لپاره کړې وه چي دغه پېښه یعني د غوا خبري کول یو داسي حقیقت دی که د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما مخته راسي نو هغوی به هم سمدستي ایمان پر راوړي، ددغه پېښي په حقیقت کي هغوی دواړو ته د ذرې په اندازه شک هم نه پیدا کیږي.

ابوبکر او عمر رضي الله عنهما په هغه مجلس کي موجود نه وه، یعني کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه دواړو په اړه ذکر سوی ارشاد وفرمایه هغه وخت دوی دواړه موجود نه وه نو دهغوی په نه موجودتیا کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم داسي فرمایل د هغو دواړو د قوي ایمان او عقیدې په تعریف او توصیف کي وو، په وضاحت سره داسي ویل کیږي چي هغو دواړو حضراتو ته د ایمان او اعتقاد په تعلق سره د رسالت په دربار کي د تقرب چي کوم خاص مقام حاصل وو د هغه د صفت او ستایني یو عام صورت خو دا وو چي د نورو سره دغه دواړه حضرات هم هغه وخت په مجلس کي حاضر وي او رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ذکر سوې پېښه باندي د عقیدې او یقین په اظهار کي د ځان

سره ددوی دواړو په ذکر کولو سره د ایمان او یقین متعلق د هغوی خاص حیثیت او دهغوی مرتبه څرګنده کړل مګر کله چې رسول الله ﷺ د هغوی دواړو په غیر موجودتیا کې ذکر سوي الفاظ وفرمایل نو ګویا دهغوی د مدح او ستاینې هغه غیر معمولي صورت څرګند سو چې په هغه سره د هغو دواړو پر نورو ټولو صحابه کرامو باندې افضیلت هم معلوم سو او صراحتا دا هم ثابته سول چې د دواړو په یقین او ایمان کې تر ټولو لوړه درجه ده.

د سبع ورځ، دا د یوم السبع معنی ده، د سبع لفظ د باء په جزم سره هم نقل سوی دی او په پېښ سره هم، د سبع په وضاحت کې مختلف قولونه بیان سوي دي، ځینو حضراتو لیکلي دي چې د سبع او سباع معنی د تښتولو ده یعني د یو شي بیکاره او پالتو ګڼلو سره پرېښودل او بل ځوک هغه یوسي، د سبع لفظ د بېکاره او پالتو شي په معنی کې هم استعمال سوی دی، په دې اعتبار د یوم السبع، (د باء په جزم) څخه مراد فتنه او فساد دي یعني کله چې په خلګو کې اختلاف او انتشار خپور سي او په خپلو کې د جګړې میدان ګرم سي نو نه چا ته د خپلو څارویو خیال کول پاته کیږي او نه دخپلو پسو، هغه وخت پسونه د خپلو ګلو څخه بېل آخوا او دېخوا ګرځي د هغوی هیڅوک سرپرست او وارث نه وي، نو شرموښ د قادر مطلق په حکم سره انسانانو په ژبه شپون په هغه مصیبتو خبر کړ چې په راتلونکو زمانو کې پېښېدونکي دي، شرموښ پیغور ورکړ چې هغه وخت به وینم چې په تاسو کې به ځوک دخپلو پسو ساتونکی یې، ټول خلګ به په خپلو جګړو کې اخته وي او دهغوی پر پسو به زه څارونکی یم او په خوند سره به یې خورم، د ځینو حضراتو وینا ده چې یوم السبع یوې میلې ته وایي چې د جاهلیت په زمانه کې عربو جوړول، یوه ورځ به یوه خاص مېله جوړېدل او ټول خلګ به هغه میلې ته راتلل، بیا به هغوی ته د هیڅ شي خبر نه وو، څاروي به یې همداسي خلاص پرېښودل چې په ځنګل او دښت کې به ګرځېدل او شرموښانو به په ډېر اطمینان سره هغه خوړل، نو شرموښ د جاهلیت د زمانې هغه میله ور په یاد کړل چې په هغه ورځ به د پسو ساتنه څوک کوي چې نن ورځ یې ته دومره ساتونکی یې، یا دا چې د اختر ورځ خوس اوس هم هر کال راځي اوس چې د اختر ورځ راسي او تاسو په اختر کې بوخت سئ نو بیا به وینم چې ستاسو د پسو ساتنه څوک کوي او زما څخه یې څرنګه خلاصوي.

سَبُع، د باء په پېښ سره درنده ته وایي، په دغه صورت کې هم د یوم السبع مطلب ذکر سوی مفهوم کیږي، یعني دا چې کله د فتنې او فساد زور سي او خلګ په خپلو جګړو کې اخته وي یا د فتنې او فساد د بیرې څخه د مال او سامان په پرېښودو سره د خپلو کورو څخه وتښتي نو

پسونه به د خپل وارث څخه پرته ګرځي هغه وخت به درنده يعني شرموښ د هغوی ساتونکي وي او په خوند سره به يې خوري، په دې اعتبار سره به هغه ته د درندو ورځ ويل کيږي، او ځيني حضرات وايي چي سبُع معنى هم د ميلې د ورځي ده، په مشارق کي ليکلي دي چي دغه لفظ په اصل کي يوم السيع (په ياء سره) دی چي د هغه څخه مراد د تاوان ورځ ده ځکه چي د سيع لفظ د ضياع په معنى کي هم راځي.

د قدم، قدم ملګري

﴿۵۸۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنِّي لَوَاقِفٌ فِي قَوْمٍ فَدَعَوُا اللَّهَ لِعُمَرَ بْنِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د خلکو په منځ کي وم چي خلکو د عمر رضي الله عنه لپاره

الْخَطَّابِ وَقَدْ وُضِعَ عَلَى سَرِيرِهِ إِذَا رَجُلٌ مِنْ خَلْفِي قَدْ وَضَعَ مِرْفَقَهُ عَلَى

د خير دعاء وکړل (يعني د هغه پر وفات) دغه وخت د عمر رضي الله عنه بدن د غسل ورکولو لپاره پر تخته اينبنودل سوی وو، زه ولاړ وم چي يو سړی زما وروسته راغلی او خپل څنګل يې

مَنْكِبِي يَقُولُ رَحِمَكَ اللَّهُ اني لَأَرْجُو أَنْ يَجْعَلَكَ اللَّهُ مَعَ صَاحِبَيْكَ لِأَنِّي

زما پر اوږه کښېښود ی او وه يې ويل: اې عمر! خدای دې پر تا رحم وکړي زه اميد لرم چي الله تعالى به تا ستاسو دواړو دوستانو (رسول الله ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه) ته ورسوي،

كَثِيرًا مَا كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُنْتُ وَأَبُو بَكْرٍ

ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي زه وم او ابوبکر

وَعُمَرُ وَفَعَلْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَانْطَلَقْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَإِنْ كُنْتُ لَأَرْجُو أَنْ يَجْعَلَكَ اللَّهُ مَعَهُمَا فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ. متفق عليه.

او عمر، زه ولاړم ابوبکر او عمر زه داخل سوم، ابوبکر او عمر زه ووتلم ابوبکر او عمر (يعني رسول الله ﷺ به په خپل هر کار کي هغوی د ځان سره ګډول)، ما چي وروسته وکتل نو هغه ويونکی علي ابن اطالب رضي الله عنه وو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۲۲، رقم: ۳۶۷۷، ومسلم ۱۴\۱۸۵۸، رقم: ۱۴- ۲۳۸۹.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په عليين كي لوړ مقام

﴿۵۸۰۱﴾: عَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَهْلَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءُوْنَ أَهْلَ عِلِّيِّيْنَ كَمَا تَرَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ فِيْ أُفُقِ السَّمَاءِ وَإِنَّ

په جنت كي د ننه به جنتيان عليين داسي ويني لكه څرنګه چي تاسو د آسمان پر غاړه ځلانده

أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ مِنْهُمْ وَأَنْعَمَا. رواه في شرح السنة، و روى نحوه ابوداؤد والترمذي وابن ماجه.

ستوري وينئ، او ابوبكر او عمر د عليين والاوو څخه دي بلكه هغوى تر دې درجې هم زيات وي . شرح السنه.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۵۶۷، رقم: ۳۶۵۸، وابوداؤد ۴\ ۲۸۷، رقم: ۳۹۸۷، والبغوي في شرح السنة ۱۴\۱۰۰، رقم: ۳۸۹۳، سنن ابن ماجه ۱\۳۷، رقم: ۹۶.

د لغاتو حل: ليترادون: اي يرى بعضهم بعضا. انعما: اي زادا في الدرجة والرتبة.

تشريح: عليين په اووم آسمان كي د يوم ځاى نوم دى چي هلته د نيكو بندګانو روحونه خيژي، ځينو حضراتو ويلي دي چي عليين د حفظه ملائكي د دفتر نوم دى چيري چي د نيكو خلګو اعمال رسول كيږي يا دا چي عليين د جنت هغه درجې ته وايي چي تر نورو ټولو درجو زياته لوړه او الله جل جلاله ته نژدې ده .

ډېر ځلانده ستوري، دا د الكواب الدري، معنى ده، په دري كي ياء د نسبت ده او د در معنى د ملغلري ده، د ستوري په لوى ملغلري يادول د هغه د رڼا او ځلا په اعتبار دي .

د جنتيانو سرداران

﴿۵۸۰۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ سَيِّدَا كُهُوْلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْأَوَّلِيْنَ وَالْآخِرِيْنَ إِلَّا النَّبِيِّيْنَ وَالْمُرْسَلِيْنَ .

رواه الترمذي وابن ماجه عن علي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي د دننه مخکني او وروستني څومره خلک چي وي د هغه ټولو سرداران به ابوبکر او عمر وي، پرته د نبيانو او رسولانو څخه چي د هغوی سرداران به نه وي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵/ ۵۷۰، رقم: ۳۶۶۴.

تشريح: څرګنده ده چي په جنت کي به هيڅوک د پاخه عمر نه وي، ټول به ځوانان وي ځکه د پاخه عمر والا څخه مراد هغه خلک دي چي په پاخه عمر کي له دنيا څخه رخصت سوي وي.

د مخکنيو څخه مراد تېرو امتو خلک دي چي په هغوی کي اصحاب کهف، آل فرعون، اهل ايمان او حضرت خضر عليه السلام هم دی، په شرط ددې چي هغه قول صحيح وي چي د هغه مطابق حضرت خضر عليه السلام نبي نه دی بلکه ولي دي، او د وروستنيو خلکو څخه مراد ددغه امت خلک دي چي په هغه کي ټول اولياء الله او شهيدان هم شامل دي.

ماسوا د نبيانو او رسولانو څخه، ددغه قيد څخه د حضرت عيسى عليه السلام او نورو نبيانو او رسولانو استثنى هم وسول او د هغه حضراتو مطابق حضرت خضر عليه السلام هم مستثنى سو چي د هغه وينا ده چي حضرت خضر عليه السلام نبي نه دی.

﴿۵۸۰۳﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَا أَدْرِي مَا بَقَائِي فِيكُمْ فَاقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي أَبُوبَكْرٍ وَعُمَرَ. رواه الترمذي.

د حضرت حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته نه ده معلومه چي تر څو پوري به ستاسو په منځ کي يم زما څخه وروسته تاسو د ابوبکر او عمر پيروي کوئ. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵/ ۵۷۰، رقم: ۳۶۶۳.

يو بل خصوصيت

﴿۵۸۰۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ لَمْ يَرْفَعْ أَحَدٌ رَأْسَهُ غَيْرَ أَبِي بَكْرٍ وَّعُمَر كَانَا يَتَبَسَّمَانِ إِلَيْهِ

وَيَتَبَسَّمُ إِلَيْهِمَا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ مسجد ته تشريف راوړ نو پرته د ابوبكر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه څخه به بل چا سر نه سو پورته كولاى، دوى دواړو چي به رسول الله ﷺ ته كتل نو مسكا كيدل به او نبي كريم ﷺ به د دوى طرف ته كتلو سره مسكا كيدى. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۷۱، رقم: ۳٦٦٨.

تشريح: دا د ميني ځانګړتيا او په خپلو كي د ميني لرونكو عادت دى چي كله په خپلو كي يو بل ووينى نو بې اختياره په مسكا سي او خوشحاله سي.

د قيامت په ورځ

﴿۵۸۰۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ ذَاتَ يَوْمٍ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دى چي يوه ورځ رسول الله ﷺ د حجرې مباركي څخه راووتى

وَدَخَلَ الْمَسْجِدَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ أَحَدُهُمَا عَنْ يَمِينِهِ وَالْآخَرُ عَنْ شِمَالِهِ وَهُوَ

او مسجد ته يې داسي تشريف يووړ چي ابوبكر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه او يو نفر يې راسته طرف ته وو

آخِذٌ بِأَيْدِيهِمَا وَقَالَ هٰكَذَا نُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

او بل چپه طرف ته، او رسول الله ﷺ د دواړو لاسونه په خپلو لاسونو مباركو كي نيولي وه او وه يې فرمايل: د قيامت په ورځ به موږ همداسي د قبرونو څخه را پورته كيږو، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۷۲، رقم: ۳٦٦۹.

خصوصي حيثيت او اهميت

﴿۵۸۰٦﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَنْطَبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ فَقَالَ هٰذَانِ السَّمْعُ وَالْبَصَرُ. رواه الترمذي مرسلا.

د حضرت عبدالله بن حنطب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه په ليدو سره وفرمايل: دا دواړه (د مسلمانانو لپاره) په منزله د غوږو او سترګو دي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ٥\٥٧٢، رقم: ٣٦٧١.

تشريح: مطلب دا چي ځرنګه دبدن په اندامو کي غوږ او سترګه د خپل خاص اهميت او حيثيت په وجه پر نورو ټولو اندامو باندي ښېګڼه لري همدارنګه دغه دواړه حضرات يعني حضرت ابوبکر صديق او عمر فاروق رضي الله عنهما د خپل خاص اهميت او حيثيت په اعتبار په ملت اسلاميه کي تر ټولو زيات شرف او فضيلت لري، او ځينو حضراتو تقريبا دا مطلب داسي ليکلي دي چي په دين کي د دغه دواړو هغه حيثيت او اهميت دی کوم چي دبدن په اندامو کي د غوږ او سترګي دی، يا د دغه ارشاد يو مطلب دا هم کيدای سي چي دغه دواړه زما لپاره د غوږ او سترګي په درجه کي دي چي زه د دوی په واسطه ليدل او اورېدل کوم، دا مطلب دې خبري ته اشاره کوي چي رسول الله ﷺ دغه دواړه حضرات په خپل غوږ او سترګه تعبير کولو سره دا ځرګنده کړل چي دغه دواړه زما وزير، زمانائب او زما وکيلان دي، يا دا چي دواړه په منزله د غوږ او سترګي ګرځول په حقيقت کي دې ته اشاره کول دي چي په حق اورېدو او د هغه په اتباع کي د حق په مشاهده کي دغه دواړه زيات حريص دي.

د نبي وزيران

﴿٥٨٠٧﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا لَهُ وَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ وَوَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَأَمَّا

هيڅ يو نبي داسي نه دی تير سوی چي د هغه دوه وزيران د آسمان او دوه وزيران په مځکه کي نه

وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ فَجِبْرِيلُ وَمِيكَائِيلُ وَأَمَّا وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ. رواه الترمذي.

وي، زما دوه وزيران د آسمان جبرائيل او ميکائيل عليهما السلام دي او د مځکي دوه وزيران مي ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه دي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٥٧٦، رقم: ٣٦٧٠.

تشريح: د آسمان والا څخه مراد ملائکي دي، په هغه ملائکو کي چي کومي دوې ملائکي د نبي او رسول وزيران ښاکل کيږي د هغوی کار د عالم ملکوت څخه د هغه نبي او رسول مرسته کول وي، د ځمکي والا څخه مراد د هغه نبي او رسول د امت خلک او دهغه ملګري او محبين وي، د هغه ملګرو او محبينو څخه چي کوم دوه کسان د هغه نبي او رسول ډېر نژدې او ډېر زيات پوه او باصلاحيته وي د هغوی هغه مقام او مرتبه وي کوم چي د يو پاچا د وزيرانو وي، په عالم ناسوت کي د خپل نبي او رسول خدمت او مرسته کول وي او کله چي يوه مشوره غوښتونکې پيښه رامنځته سي نو نبي او رسول د هغوی څخه مشوره اخلي.

ددغه حديث څخه څرګنده سول چي رسول الله ﷺ د حضرت جبرائيل عليه السلام، او حضرت ميکائيل عليه السلام بلکه ټولو ملائکو څخه افضل او اعلی دی، دا خبره هم ثابته سول چي حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما د ټولو صحابه کرامو څخه افضل او اعلی دی، او ټول صحابه کرامو د ټولو خلکو څخه افضل او اعلی دی، د ابوبکر او عمر الفاظ ددې دليل دی چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه څخه افضل دی ځکه چي په دغه الفاظو کي د واو حرف که څه هم د مطلق جمع لپاره دی مګر دا خبره بايد په ذهن کي وي چي دا د صاحب حکمت او پوهي کلام دی او ممکن نه ده چي ددغه دوو نومو په ذکر کولو کي ذکر سوی ترتيب (چي اول حضرت ابوبکر رضي الله عنه ذکر سو او بيا د حضرت عمر رضي الله عنه يادونه وسول) حکمت او مصلحت څخه خالي نه دي او حکمت ددې څخه ماسوا بل څه کيدای سي چي کله دوه نومونه يو ځای ذکر کيږي نو مخکي هغه نوم راځي چي تر دوهم افضل او اعلي وي.

د خلافت نبوت دور

﴿۵۸۰۸﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوبکره رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي

رَأَيْتُ كَأَنَّ مِيزَانًا نَزَلَ مِنَ السَّمَاءِ فَوُزِنْتَ أَنْتَ وَأَبُو بَكْرٍ فَرَجَحْتَ أَنْتَ

ما په خوب کي وليدل چي يو ترازو د آسمان څخه راکښته سوی دی په هغه کي تاسو او ابوبکر وتلل سوا ست نو ستاسو وزن زيات سو،

وَوُزِنَ عُمَرُ وَأَبُو بَكْرٍ فَرَجَحَ أَبُو بَكْرٍ وَوُزِنَ عُمَرُ وَعُثْمَانُ فَرَجَحَ عُمَرُ ثُمَّ رُفِعَ

بیا عمر رضی اللہ عنہ او ابوبکر رضی اللہ عنہ وتلل سوه نو ابوبکر رضی اللہ عنہ زیات سو بیا عمر رضی اللہ عنہ او عثمان ووتلل سول نو د عمر وزن زیات سو بیا ترازو پورته کړل سو ،

الْمِيزَانُ فاستاءلها رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي فَسَاءَهُ ذَلِكَ

ددې خوب اوریدو سره رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم غمگین سو ، بیا یې وفرمایل تا چې څه لیدلي دي دا

فَقَالَ خِلَافَةُ نُبُوَّةٍ ثُمَّ يُؤْتِي اللَّهُ الْمُلْكَ مَنْ يَشَاءُ. رواه الترمذي وابوداؤد.

خلافت نبوت دی یعني تر حضرت عمر رضی اللہ عنہ پوري خلافت نبوت دی ددې څخه وروسته چې الله جل جلالہ چا ته وغواړي حکومت به ورکړي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۶۸، رقم: ۲۲۸۷، وابوداود ۵\۲۹، رقم: ۴۶۳۵.

تشریح: غمجن سو، یعني رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم ددغه خوب په اوریدو سره دا تعبیر وکړ چې د عمر رضی اللہ عنہ د خلافت څخه وروسته به د فتنو دور پیل سي ، په دیني او ملي چارو کي به کمزوري او انتشار پیدا سي او د عالم اسلام دغه شان او شوکت ته به د تاوان رسولو هڅه پیل سي چې په خلافت عمر کي به خپل عروج ته رسیدلی وي .

دا خلافت نبوي دی، یعني د ابوبکر او عمر رضی اللہ عنہما خلافت په حقیقت کي د خاص خلافت نبوت ویلو مستحق دی چې په هغه کي د پاچاهۍ او ملوکیت هیڅ امکان نسته او دهغوی دخلافت څخه اختلاف او انکار کوونکي به هیڅوک نه وي، یعني رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د ترازو پورته کېدو تعبیر دا وکړ چې حقیقي، خاص او متفق علیه خلافت به پر ابوبکر او عمر رضی اللہ عنہما باندي کامل او منتهي وي، د عمر رضی اللہ عنہ څخه وروسته چې دخلافت کوم دور راځي په هغه کي به د ملوکیت ځای وي، د نبوت او خلافت نبوت د طریقې خلاف خبري به پکښي شامل سي او دحکومت او ملت انتظامي غالب کي به ځیني بې قانونۍ لار پیدا کړي او بیا به د خلافت اربعه څخه وروسته په پوره توګه ملکویت قائم سي چې هغه په پاچاهۍ سره تعبیر کیدای سي، پاته سوه دا خبره چې د ترازو په پورته کېدو سره ذکر سوی تعبیر په کومه وجه وګڼل سو نو هغه په دغه سیاق کي کتل پکار دي چې د یو بل سره هغه شیان تلل کیږي چې په خپلو کي د یو بل سره نژدې وي کوم شی چې په خپلو کي لیري او متبائن وي د هغه د یو بل سره تلل څه معنی نه لري ځکه د ترازو پورته کېدل او په خپلو کي د یو بل سره د تللو لړۍ موقوف کیدل ددې خبري نښه ده چې کوم شیان په خپلو کي د یو بل سره نژدې سي او دهغوی تلل مقصد کیدای سي هغه ختم

سوي دي په دې وجه رسول الله ﷺ تعبير وکړ چي دغه خوب د ابوبکر او عمر رضی اللہ عنہما څخه وروسته په خلافت کي انحطاط ته اشاره کول دي .

د ابوبکر رضی اللہ عنہ وزن زيات سو ، ددې څخه دا مطلب را ووتی چي حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ تر حضرت عمر رضی اللہ عنہ افضل دی .

خوب ليدونکي د حضرت عثمان او حضرت علي رضی اللہ عنہما تلل ونه لېدل، دا دې ته اشاره کوي چي د حضرت عثمان او حضرت علي رضی اللہ عنہما د تفاضل مسئله د سلفو په منځ کي مختلف فيه راغلې ده لکه څرنګه چي په ځينو کتابو کي مذکور هم دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رض) د جنتي کېدو زيری

﴿۵۸۰۹﴾: عَنِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَاطَّلَعَ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ قَالَ يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَاطَّلَعَ عُمَرُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو ته به يو سړی د جنتيانو څخه رابنکاره سي ، نو ابوبکر رضی اللہ عنہ رابنکاره سو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو ته به يو بل د جنتيانو څخه را بنکاره سي نو عمر رضی اللہ عنہ را بنکاره سو . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۸۱، رقم: ۳۶۹۴.

د لغاتو حل: ضاحية: مي مقمرة. (د سپوږمۍ په شپه)

تشريح: د جنت زيری په مختلفو حديثو کي د ډېرو صحابه کرامو لپاره راغلی دی ، په دغه حديث کي دغه زيری د حضرت ابوبکرصديق او حضرت عمر رضی اللہ عنہما لپاره يو ځای مذکور دی ځکه دا حديث دلته نقل کړل سو .

د ابوبکر او عمر (رض) نيکۍ

﴿۵۸۱۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ بَيْنَا رَأْسُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي د سپوږمۍ په يوه شپه کي چي د رسول الله ﷺ سر

حَجْرِيْ فِيْ لَيْلَةٍ ضَاحِيَةٍ إِذْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلْ يَكُوْنُ لِأَحَدٍ مِّنَ

زما په غيږ كي وو ما عرض وكړ اې د الله رسوله ! ايا د چا دومره نيكي هم سته څومره چي د

الْحَسَنَاتِ عَدَدَ نَجُوْمِ السَّمَاءِ ؟ قَالَ نَعَمْ عُمَرُ . قُلْتُ فَأَيْنَ حَسَنَاتُ أَبِيْ بَكْرٍ

آسمان ستوري دي؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : هو د عمر رضي الله عنه ، بيا ما پوښتنه وكړه او د ابوبكر د نيكيو څه حال دى ؟

قَالَ إِنَّمَا جَمِيْعُ حَسَنَاتِ عُمَرَ كَحَسَنَةٍ وَّاحِدَةٍ مِنْ حَسَنَاتِ أَبِيْ بَكْرٍ . رواه رزين

رسول الله ﷺ و فرمايل د عمر رضي الله عنه د ټول عمر نيكي د ابوبكر رضي الله عنه د يوې نيكۍ برابر ده .رزين

تخريج: رواه رزين.

د لغاتو حل: ضاحية: اي مقمرة (د سپوږمۍ شپه)

تشريح: د يوې نيكۍ برابر دي، مطلب دا چي د ابوبكر رضي الله عنه نيكي د عمر رضي الله عنه تر نيكيو ډيري زياتي دي او كه داهم ومنل سي چي د عمر رضي الله عنه نيكۍ د ابوبكر رضي الله عنه تر نيكيو زياتي دي نو بيا هم ابوبكر صديق رضي الله عنه افضل دى ځكه چي هغه ته د كمال اخلاص او شهود معرفت كومه خاص مرتبه تر لاسه ده هغه د هغه د نيكيو د كيفيت او حقيقت په اعتبار تر ټولو زيات د قدر وړ او د لوړي مرتبې دي، لكه څرنگه چي په يو حديث كي فرمايل سوي دي: ابوبكر ته پر تا باندي چي كوم فضيلت او غوره والى تر لاسه دى هغه په دې وجه نه دى چي د هغه لمونځونه ستا تر لمونځو زيات دي او هغه روژې ستا تر روژو زياتي دي بلكه د هغه جوهر په وجه دي چي د هغه په زړه كي ايښودل سوى دى .

==========

بَابُ مَنَاقِبِ عُثْمَانَ رضي الله عنه

(د حضرت عثمان رضي الله عنه د مناقبو بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۵۸۱۱﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُضْطَجِعًا فِيْ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ په خپل کور کې څنګ وهلی وو

بَيْتِهٖ كَاشِفًا عَنْ فَخِذَيْهِ اَوْ سَاقَيْهِ فَاسْتَاْذَنَ اَبُوْبَكْرٍ فَاَذِنَ لَهٗ وَهُوَ عَلٰى تِلْكَ

ورنونه يا پنډۍ يې لوڅې کړې وې او ابوبکر رضي الله عنه د راتلو اجازه وغوښتل ، رسول الله ﷺ هغه ته اجازه ورکړل او رسول الله ﷺ په هغه حالت کې وو ،

الْحَالِ فَتَحَدَّثَ ثُمَّ اسْتَاْذَنَ عُمَرُ فَاَذِنَ لَهٗ وَهُوَ كَذٰلِكَ فَتَحَدَّثَ ثُمَّ اسْتَاْذَنَ

بيا عمر رضي الله عنه اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ هغه هم راوغوښتی او رسول الله ﷺ هم هغسې وو

عُثْمَانُ فَجَلَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَوّٰى ثِيَابَهٗ فَلَمَّا خَرَجَ

، بيا عثمان رضي الله عنه اجازه وغوښتل رسول الله ﷺ کښېنستی او جامې يې سمې کړې، بيا چې دا

قَالَتْ عَائِشَةُ دَخَلَ اَبُوْ بَكْرٍ فَلَمْ تَهْتَشَّ لَهٗ وَلَمْ تُبَالِهٖ ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَلَمْ

خلک ولاړل نو بي بي عائشې رضي الله عنها پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! ابوبکر رضي الله عنه راغلی نو تا سو حرکت ونه کړ او پروا دې ونه کړل بيا عمر رضي الله عنه راغلی

تَهْتَشَّ لَهٗ وَلَمْ تُبَالِهٖ ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ فَجَلَسْتَ وَسَوَّيْتَ ثِيَابَكَ فَقَالَ اَلَا

تاسو څه حرکت ونه کړ او پروا دې ونه کړل ، بيا چې عثمان رضي الله عنه راغلی نو ته کښېنستلې جامې دې سمې کړې، رسول الله ﷺ وفرمايل ايا

اَسْتَحِيْ مِنْ رَجُلٍ تَسْتَحِيْ مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ. وفي رواية قَالَ اِنَّ عُثْمَانَ رَجُلٌ

زه د هغه سړي څخه حيا ونه کړم چي د هغه څخه ملائکي هم حيا کوي، او په يوه روايت کي راځي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: عثمان رضي الله عنه

حَيِيٌّ وَإِنِّي خَشِيتُ إِنْ أَذِنْتُ لَهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ أَنْ لَا يَبْلُغَ إِلَيَّ فِي حَاجَتِهِ.

رواه مسلم.

حياناک سړی دی زما سره دا خيال پيدا سو که زه په دې حالت کي هغه راوغواړم نو هغه د حيا او شرم څخه و نه ګرزي او کوم کار ته چي هغه راتلی هغه به و نه ويلای سي.

تخريج: صحيح مسلم ۱۸۶۶\۴، رقم: ۲۶- ۲۴۰۱.

د لغاتو حل: تهتش: اي لم تتحرک لاجله. (ونه ښوريدی)

تشريح: خپل ورنونه يا پنډۍ يې لوڅ کړې وه، د حديث په تشريح کي د دغه عبارت په اړه امام نووي رحمه الله ليکلي دي چي مالکي او نورو حضراتو د دغه حديث څخه استدلال کړی دی چي ورون د بدن هغه برخه نه ده چي هغه په ستر کي شمېرل کيږي مګر دغه استدلال صحيح نه دی ځکه چي اول خو دا خبره يقيني نه وه چي هغه وخت رسول الله ﷺ خپل ورنونه لوڅ کړي پروت وو، او که چيري دا يقيني وي نو د حديث راوي ته د ورنونو يا پنډۍ د الفاظو څخه د دغه شک او تردد ظاهرولو ضرورت نه وو چي هغه وخت رسول الله ﷺ د خپل بدن مبارکه کومه برخه لوڅه کړې پروت وو، ايا هغه ورنونه وه که پنډۍ؟ او د حديث د الفاظو څخه د ورنو لوڅېدل په يقيني توګه ثابت نه دي نو بيا د ورنو ستر کېدل يعني د ورنو لوڅولو جواز د دغه حديث څخه ثابتول غير مناسب خبره ده، دوهم د دې خبري قوي امکان دی چي د ورنو لوڅولو څخه مراد دادی چي د ورنو څخه د قميص لمن اخوا سوې وه يعني د دغه الفاظو دا مطلب نه دی چي د رسول الله ﷺ ورنونه بالکل لوڅ سوي وه چي پر هغه لونګ نه وو او نه د قميص لمن وه، بلکه مطلب دادی چي رسول الله ﷺ لونګ تړلی وو چي په هغه کي ورنونه پټ وه مګر د ورنو سربېره د قميص لمن ليري سوې وه، د دغه تائيد څخه نه يوازي دا چي مخکنی عبارت په پوهه کي راځي بلکه د رسول الله ﷺ د عادت او معمول سره سم دا خبره زيات ه مناسب معلوميږي چي د آل او اصحاب سره د مخالطت او مجالست په وخت کي د رسول الله ﷺ وه.

او جامې يې سمي کړلې، په دغه الفاظو کي دې ته اشاره ده چي د رسول الله ﷺ د ورنو يا پنډۍ يوه برخه هم په پوره توګه لوڅه نه وه بلکه د لونګ څخه ماسوا بله جامه پر ورنو يا پنډۍ

باندي نه وه ، ددې دليل دادی چي د رسول الله ﷺ ورنونه په پوره توګه لوڅ وه نو دلته د (وسوی ثيابه) او خپل ورنونه يې پټ کړل، پر ځای د دغه الفاظ دي چي خپل ورون يې پټ کړ، چي د هغه شخه ملائکي هم حياء کوي ، امام نووي رحمة الله عليه ليکلي دي چي دغه ارشاد د حضرت عثمان رضي الله عنه فضيلت ثرګندوي ځکه چي حياء د ملائکو يو ستر صفت دی چي د ذکر سوو الفاظو په ذريعه په حضرت عثمان رضي الله عنه کي ثابت کړل سو ، او مظهر ليکلي دي چي دغه الفاظ د حضرت عثمان رضي الله عنه هغه عزت او توقير ثرګندوي کوم چي د رسول الله ﷺ په نزد وو مګر ددې څخه نه خو د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رضي الله عنهما پر هغه مقام او مرتبې فرق اچوي کوم چي د نبي کريم ﷺ په نزد هغوی ته حاصل وو او نه دا لازميږي چي رسول الله ﷺ د حضرت عثمان رضي الله عنه په نسبت حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما ته زيات اهميت ور نه کړ، په اصل کي حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما ته چي د تعلق او ميني کوم خاص مقام تر لاسه وو هغه د بې تکلفۍ متقاضي وو چي دهغو اظهار د هغه دواړو په راتګ سره رسول الله ﷺ وکړ چي ثرنګه پروت وو هم هغسي پروت پاته سو ، ټول پوهيږي چي کله محبت کامل او زيات سي نو دتکلف حجاب له منځه پورته سي او بې تکلفي او هم نشينۍ جذباتي تقاضا جوړه سي لکه چي ويلي يې دي: اذا حصلت الالفة بطلت الکلفة، په دې اعتبار که وکتل سي نو دغه حديث د فضليت عثمان څخه زيات د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما سره تعلق لرونکی معلوميږي مګر د حديث ظاهري مفهوم او د هغه سياق او سباق د حضرت عثمان رضي الله عنه پر تعظيم باندي دلالت کوي ځکه دغه حديث د حضرت عثمان رضي الله عنه د مناقبو په باب کي ذکر کول زيات مناسب دي ، دا حقيقت هم بايد په ذهن کي وي چي د رسول الله ﷺ د ملګرو او صحابه کرامو څخه کوم ثرک چي به د کوم صفت زيات خاوند وو او د چا پر طبيعت او مزاج چي به د کوم خصلت او خوبۍ غلبه وه ، رسول الله ﷺ به د هغه صفت او خصلت په رعايت کولو سره د هغه سره هم هغسي چلن کوی ، پر حضرت عثمان رضي الله عنه باندي د صفت حياء غلبه وه ځکه رسول الله ﷺ به تل د هغه د حجاب لحاظ کوی ، حال دا چي د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رضي الله عنهما سره رسول الله ﷺ بې تکلفه وو ، ځکه دهغوی سره يې د تکلفۍ معامله کول.

ملائکو چي د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه په کومو ځايو کي حياء کړې ده په هغو کي يو دا نقل سوي دي چي په مدينه کي د يوې معاملې په دوران کي حضرت عثمان رضي الله عنه چي مخکي سو نو دهغه سينه خلاصه سول ، نو ملائکي سمدستي تر شا سوې ، هغه وخت رسول الله ﷺ ، حضرت عثمان رضي الله عنه خبر کړ چي خپله سينه پټه کړي ، ددې څخه وروسته ملائکي خپل ځای ته

بهرته راغلې، رسول الله ﷺ د هغه ملائکو څخه د وروسته کېدو د سبب پوښتنه وکړل نو هغوی وویل چې د عثمان رضی الله عنه د حیاء څخه موږ تر شا سوو او کله چې هغه ستاسو په خبردار کولو باندې خپله سینه پټه کړل نو موږ خپل ځای ته بېرته راغلو .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

حضرت عثمان رضی الله عنه د رسول الله ﷺ رفیق جنت دی

﴿۵۸۱۲﴾ : وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ

د حضرت طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د هر

نَبِيٍّ رَفِيقٌ وَرَفِيقِي يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ عُثْمَانُ. رواه الترمذي ورواه ابن ماجه

نبي یو ملګری وي او زما ملګری (په جنت کې) عثمان رضی الله عنه دی، ترمذي ، ابن ماجه د

عن ابي هريرة وقال الترمذي هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَهُوَ مُنْقَطِعٌ. رواه الترمذي.

ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کړی او ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی ددې اسناد قوي نه دي او دا منقطع دی . ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۸۳، رقم: ۳۶۹۸.

تشریح: یعني په جنت کې، د (یعني في الجنة) جمله معترضه ده چې د مبتدا او خبر په منځ کې واقع سوې ده، او دا د رسول الله ﷺ الفاظ نه دي بلکه د حضرت طلحه رضی الله عنه یا بل راوي الفاظ دي چې زما رفیق عثمان رضی الله عنه دی، ددې څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چې په جنت کې زما رفیق عثمان رضی الله عنه دی، په هر حال د حدیث د الفاظو څخه دا خبره هیڅکله نه مفهوم کیږي چې د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه ما سوا بل ثوک رسول الله ﷺ خپل رفیق نه دی ګرځولی او ځکه د غه حدیث ته د هغه روایت خلاف نه سي ویل کیدای کوم چې طبراني د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه نقل کړی دی او په هغه کې بیان سوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر نبي د خپلو ملګرو څخه یو ثوک خپل مقرب او خاص دوست جوړ کړی دی زما په اصحابو کې زما مقرب او خاص دوست ابوبکر او عمر رضی الله عنهما دي ، مګر دا خبره خامخا معلومه سول چې هر نبي یو رفیق

درلود ، حال دا چي د رسول الله ﷺ د پر رفیقان وه .
دغه حدیث غریب دی، مګر دغه غرابت د مضمون حدیث د صحیح کېدو خلاف نه دی ځکه چي ترمذي وضاحت وکړ چي ددغه په اسنادو کي ضعف دی او د اسناد په اعتبار دې ته منقطع ویل سوي دي، په هر حال د ترمذي د وینا مطلب دادی چي دغه روایت ضعیف دی مګر د فضائلو په اړه د ضعیف روایت هم اعتبار کیږي ، ددې ځخه ماسوا ددغه حدیث تائید د هغه روایت ځخه هم کیږي کوم چي ابن عساکر د حضرت ابوهریره رضی الله عنه ځخه نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: لکل نبي خلیل في امته وان خلیلي عثمان ابن عفان، هر نبي په خپل امت کي یو خلیل جوړ کړی وي او زما خاص دوست عثمان رضی الله عنه دی .

د الله جل جلاله په لار کي مالي قرباني

﴿۵۸۱۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَبَّابٍ قَالَ شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د عبدالرحمن بن خباب رضی الله عنه ځخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم

وَسَلَّمَ وَهُوَ يَحُثُّ عَلَى جَيْشِ الْعُسْرَةِ فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقَالَ يَا رَسُولَ

کله چي رسول الله ﷺ د جیش عسرت د مرستي لپاره خلکو ته جذبه ورکول ، د رسول الله ﷺ جذبه ناکو الفاظو اوریدو سره حضرت عثمان رضی الله عنه ولاړ سو او عرض یې وکړ اې د الله رسوله !

اللَّهِ عَلَيَّ مِائَةُ بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ

سل اوښان چي ځلونه او کتي ورسره وي پر ما دي د الله جل جلاله په لار کي ، ددې ځخه وروسته رسول الله ﷺ د لښکر دَ سامان برابرولو لپاره خلکو ته بلنه ورکول ،

فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقَالَ عَلَيَّ مِائَتَا بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ

حضرت عثمان رضی الله عنه ولاړ سو او عرض یې وکړ اې د الله رسوله ! دوه سوه اوښان سره د ځلونو او کتو د خدای جل جلاله په لار کي ورکوم،

اللَّهِ ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقَالَ عَلَيَّ ثَلَاثُ مِائَةِ

ددې ځخه وروسته رسول الله جل جلاله خلک د سامان راوړلو لپاره وهڅول حضرت عثمان رضی الله عنه ولاړ سو او عرض یې وکړ اې د الله رسوله ! درې سوه اوښان د

بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

ځلونو او کتو سره د خدای ﷻ په لار کي ورکوم، بیا ما ولیدل چي رسول الله ﷺ د منبر څخه

وَسَلَّمَ يَنْزِلُ عَنِ الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُولُ مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهِ مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهِ. رواه الترمذي.

راکښته سو او فرمایل یې اوس به عثمان ﷛ ته هغه شی تاوان نه رسوي چي دده څخه وروسته یې کوي اوس به عثمان ﷛ ته عمل هیڅ تاوان ونه رسوي چي دده وروسته یې کوي ، او هیڅ بدي به هغه ته ضرر نه رسوي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۵۸۴، رقم: ۳۷۰۰.

د لغاتو حل: احلاسها : اي اجلالها (ځلونه). اقتابها : اي رحالها . (کجاوه)

تشريح: جیش عسرة، هغه اسلامي لښکر ته وایي چي د تبوک د غزا لپاره تیار سوی وو، عسرة تنګۍ او مالي بدحالۍ ته وایي او هغه زمانه کله چي د تبوک جګړه رامنځته سول د مسلمانانو لپاره د سختي تنګۍ زمانه وه، یوې خوا ته د وچ کالۍ څخه نه یوازي دا چي د خوراک او اوبو د کموالي په وجه انسانانو د درختي بلګونه او د خولې د وچ والي دفع کولو لپاره د اوښانو پر کولمو نستېړلو باندي مجبور کړي وه ، بلي خوا ته د مسلمانانو کمي او دهغوی په مقابله کي د دښمنانو زیاتوب د جنګ د ځای ډېر لیري والی، د سامان او خوراک کمي، د ګرمۍ سختوالي او د سامان نه درلودو پریشانۍ ډیري سخت حالت پیدا کړی وو ځکه د تبوک د غزا د لښکر نوم جیش عسرة سو .

د دغه روایت مطابق حضرت عثمان ﷛ شپږ سوه اوښان د هغه لښکر لپاره د الله ﷻ په لاره کي ورکړل ، په لومړي ځل یې سل اوښان ورکړل بیا دوه سوه اوښان بیا درې سوه اوښان همدارنګه ټول اوښان شپږ سوه سول، په ځینو روایتو کي راغلي دي چي حضرت عثمان ﷛ د تبوک د غزا په وخت کي نهه نیم سوه اوښان د خپل ځان څخه ورکړي وه او د زرو شمېر پوره کولو لپاره یې پنځوس آسونه هم ورکړي وه .

د حضرت عثمان ﷛ د دغه ستري مالي مرستي او دهغه د حوصلې لپاره چي رسول الله ﷺ کوم الفاظ وفرمایل او دهغه د ارزښت څرګندولو لپاره چي یې په وار وار ارشاد وفرمایه د هغه خلاصه دا وه چي د عثمان ﷛ دغه عمل نه یوازي دا چي د هغه تیرو ګناهو کفاره سوه بلکه په

راتلونكي كي هم كه چيري د هغه څخه يوه خطا وسي نو هغه به د دغه عمل په سبب معاف سي نو په دغه الفاظو كي دغه زيري ته اشاره وه چي عثمان رضي الله عنه ته به د خاتمة بالخير سعادت تر لاسه كيږي ، يو شارح ليكلي دي چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دغه الفاظو مطلب دا وو چي د دغه عمل څخه وروسته عثمان رضي الله عنه او س كه د نفل څخه څه عبادت او نيک كار هم ونه كړي نو دهغه تاوان نسته ځكه چي دهغه د دغه عظيم عمل د ټولو نفلي عبادتو او نيكو كارو لپاره كافي سوى دى .

د عثمان رضي الله عنه قرباني

﴿۵۸۱۴﴾ : وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ جَاءَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ إِلَى النَّبِيِّ

د حضرت عبد الرحمن بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دى چي حضرت عثمان رضي الله عنه د جيش عسره د

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَلْفِ دِينَارٍ فِي كُمِّهِ حِينَ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ فَنَشَرَهَا

تيارى په زمانه كي زر ديناره د خپل قميص په لستوڼي كي راوړل او هغه يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په

فِيْ حَجْرِهِ فرايت النبي صلى الله عليه وسلم يقبلها في حجره وَهُوَ يَقُولُ مَا ضَرَّ ابْنُ عَفَّانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ. رواه احمد.

غيږ مباركه كي كښېښودل، ما وليدل چي رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه دينار په خپل غيږ كي اړول را اړول او كتل يې او وه يې فرمايل د نن څخه وروسته چي عثمان رضي الله عنه څه عمل كوي هغه به ورته تاوان نه رسوي ، دوه واره رسول الله صلى الله عليه وسلم دا الفاظ وفرمايل. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۶۳.

تشريح: د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه هم روايت سوى دى چي هغه بيان وكړ: زه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كي هغه وخت حاضر وم كله چي حضرت عثمان رضي الله عنه د جيش عسره لپاره د سروزرو نهه سوه اوقيې راوړلې ، همدا رنګه د جيش عسره لپاره د حضرت عثمان رضي الله عنه د مالي مرستي او معاونت په اړه ډېر روايتونه راغلي دي چي په خپلو كي مختلف دي او د تناقض ګمان كيداى سي ځكه په دغه روايتو كي د تطبيق لپاره دا وضاحت ضروري دى چي په اصل كي حضرت عثمان رضي الله عنه مخكي خو شپږ سوه اوښان سره له سامان د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كي وړاندي كړل لكه چي په لومړني حديث كي تېر سول ، بيا د لښكر د خلګو دنورو اړتياوو لپاره هغه نقده مرسته هم ضروري وګڼله او زر ديناره يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كي راوړل ، ددې څخه

وروسته هغه محسوسه کړل چي د لبنکر لپاره د سپړلۍ نوره اړتیا ده او د نورو اړتیاوو پوره کولو لپاره نوره مرسته هم ضروري ده نو هغه یوې خوا ته په نورو اوښانو او پنځوس آسونو د زر شمېر پوره کړ او بلي خوا ته یې نور نهه اوقیه د سرو زرو په ورکولو سره په زرو دینارو کي هم زیاتوب وکړ.

د حضرت عثمان رضي الله عنه فضیلت

﴿۵۸۱۵﴾: وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا أَمَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَيْعَةِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی کله چي رسول الله ﷺ د بیعت رضوان حکم وکړ

الرِّضْوَانِ كَانَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رَسُولَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى

نو هغه وخت حضرت عثمان رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د قاصد په حیثیت مکې ته تللی وو ،

مَكَّةَ فَبَايَعَ النَّاسَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عُثْمَانَ فِي حَاجَةِ

خلکو د رسول الله ﷺ په لاس بیعت وکړ ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : عثمان رضي الله عنه د خدای جل جلاله

اللّٰهِ وَحَاجَةِ رَسُولِهِ فَضَرَبَ بِإِحْدَى يَدَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى فَكَانَتْ يَدُ رَسُولِ اللّٰهِ

او رسول ﷺ په کار پسي تللی دی بیا یې خپل یو لاس پر بل لاس ووهی (یعني د حضرت عثمان رضي الله عنه د طرفه یې بیعت وکړ) نو د رسول الله ﷺ لاس مبارک د

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعُثْمَانَ خَيْرًا مِنْ أَيْدِيهِمْ لِأَنْفُسِهِمْ. رواه الترمذي.

عثمان رضي الله عنه لپاره د هغوی د لاسونو څخه غوره وو چي هغوی په خپلو لاسونو سره د ځان لپاره بیعت کړی وو . ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۸۵، رقم: ۳۷۰۲.

تشریح بیعت رضوان ، هغه بیعت ته وایي چي د مکې څخه تقریبا پر پنځلس یا شپاړلس میله فاصله باندي د حدیبیه پر ځای د یوې درختي لاندي په ناسته سره رسول الله ﷺ د ټولو مسلمانانو څخه اخیستی وو ، د غه نوم د قرآن کریم د دغه آیت څخه اخیستل سوی دی چي د دغه پېښي په اړه نازل سوی وو :

لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ

ژباړه: په تحقيق سره الله ﷻ د هغه مسلمانانو څخه راضي سو كله چي دغه كسانو ستاسو سره تر درختي لاندي بيعت كوی.

د دغه پېښي لنډ تفصيل دادی چي په شپږم هجري كال د ذي قعده په مياشت كي رسول الله ﷺ د مسلمانانو د يو ډېر شمېر سره د عمرې لپاره مكې ته روان سول، كله چي حديبيې ته نژدې ورسېدل نو معلومه سول چي د مكې قريشو د مسلمانانو د عمرې لپاره په مكه كي د داخلېدو د اجازې څخه انكار كړی دی، رسول الله ﷺ د حضرت عثمان ﷺ په خپل خاص نمائنده ګرځولو سره د مكې قريشو ته واستوی چي هغوی پوهه كړي چي د مسلمانانو د راتګ مقصد جنګ نه دی بلكه يوازي عمره كول دي، نو بايد د مكې اوسېدونكي مسلمانان په مكه كي داخلېدو ته پرېږدي، حضرت عثمان ﷺ په مكه كي وو چي په حديبيه كي مشهوره سوه چي حضرت عثمان ﷺ د مكې د اوسېدونكو له خوا وژل سوی دی، د دغه خبر په اورېدو سره په مسلمانانو كي سخت اضطراب پيدا سو او فيصله وسول چي د عثمان ﷺ بدله به اخيستل كيږي، په دغه وخت كي رسول الله ﷺ د يوې درختي لاندي ناست له ټولو مسلمانانو څخه د دې خبري عهد او اقرار واخيست چي د خپلو ځانونو په لګولو سره به د حضرت عثمان ﷺ دويني بدله اخلو، په صحابه كرامو كي يو يو سړی راتلی او د رسول الله ﷺ پر لاس مبارك باندي د لاس په اېښودو سره به يې بيعت كوی، كله چي ټولو خلګو بيعت وكړ نو رسول الله ﷺ په خپلو دواړو لاسو كي يو لاس د حضرت عثمان ﷺ د لاس قائم مقام كړ او د هغه لاس پر بل لاس وهلو سره د حضرت عثمان ﷺ له خوا يې بيعت وكړ، همدارنګه حضرت عثمان ﷺ ته خاص فضيلت حاصل سو او كه هغه خپله په دغه وخت كي موجود وای او خپل لاس يې د رسول الله ﷺ پر لاس مبارك په وهلو سره بيعت كړی وی لكه څرنګه چي نورو خلګو وكړ نو هغه ته به دا شرف نه تر لاسه كيدی چي د رسول الله ﷺ لاس مبارك د هغه د لاس قائم مقام سو، او له دې كبله د هغه بيعت د ټولو خلګو تر بيعت افضل او اشرف سو، نو په دې سره د هغه نه موجودتيا د هغه په مرتبه كي د تاوان سبب نه سو بلكه د هغه د فضيلت او منقبت سبب جوړ سو، دځينو حضراتو وينا ده چي رسول الله ﷺ كوم لاس د حضرت عثمان ﷺ قائم مقام كړی وو هغه چپه لاس وو مګر زيات صحيح قول دادی چي هغه راسته لاس وو.

باغيانو ته خطاب

﴿٥٨١٦﴾: وَعَنْ ثُمَامَةَ بْنِ حَزْنٍ الْقُشَيْرِيِّ قَالَ شَهِدْتُ الدَّارَ حِينَ أَشْرَفَ

د حضرت ثمامه بن حزن قشيري رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د حضرت عثمان رضي الله عنه په کور کي هغه وخت حاضر سوم چي باغيانو د هغه محاصره کړې وه ،

عَلَيْهِمْ عُثْمَانُ فَقَالَ أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ وَالْإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ

حضرت عثمان رضي الله عنه ښکاره سو او هغه خلکو ته چي دده وژلې غوښتل وويل زه د خدای او اسلام واسطه درکولو سره ستاسو څخه دا پوښتنه کوم تاسو ته به دا خبره خو معلومه وي کله

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ يُسْتَعْذَبُ غَيْرَ بِئْرِ رُومَةَ

چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په هجرت مديني ته تشريف راوړی هغه وخت په مدينه کي د رومه د څاه څخه پرته د خوږو اوبو بل څاه نه وو ،

فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِي بِئْرَ رُومَةَ فَيَجْعَلَ دَلْوَهُ مَعَ دِلَاءِ الْمُسْلِمِينَ بِخَيْرٍ لَهُ مِنْهَا

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه وخت وفرمايل څوک سته چي د رومي څاه رانيسي او خپل سلوا غه د مسلمانانو د سلواغو سره په څاه کي واچوي ، او د هغه په ثواب کي به رانيونکی ته

فِي الْجَنَّةِ فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونِي أَنْ أَشْرَبَ منها

جنت ورکول کيږي ، ما دا څاه په خپل خالص او اصلي مال سره رانيوی او نن تاسو ددغه څاه د اوبو څښلو څخه ما منع کوئ

حَتَّى أَشْرَبَ مِنْ مَاءِ الْبَحْرِ فَقَالُوا اللَّهُمَّ نَعَمْ فَقَالَ أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ

تر دې چي زه د درياب اوبه څښم ، خلکو وويل :هو ، اې الله ! موږ په دې خبريو بيا يې وفرمايل : زه تاسو ته د الله جل جلاله

وَالْإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ الْمَسْجِدَ ضَاقَ بِأَهْلِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

او اسلام واسطه درکولو سره پوښتنه کوم چي تاسو ته دا معلومه ده چي د مديني مسجد د لمونځ کونکو د زياتوب په سبب تنګ سو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَشْتَرِي بُقْعَةَ آلِ فُلَانٍ فَيَزِيدَهَا فِي الْمَسْجِدِ بِخَيْرٍ له

داسي ځوک سته چې د فلاني سړي د اولاد ځمکه رانيسي او هغه په مسجد کي ګډه کړي او مسجد پراخ کړي، د هغه د ثواب په بدله کي به تر دې ښه ځمکه ورکول سي

مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونِي أَنْ أُصَلِّيَ

په جنت کي، ما هغه ځمکه په خپل خالص مال سره رانيول، او نن تاسو ما په دغه مسجد کي

فِيهَا رَكْعَتَيْنِ قَالُوا اللَّهُمَّ نَعَمْ قَالَ أَنْشُدُكُمُ اللَّهَ وَالْإِسْلَامَ هَلْ تَعْلَمُونَ

ددوو رکعته لمونځ کولو څخه منع کوئ، خلکو ويل هو، اې الله! موږ ددې څخه خبر يو، بيا حضرت عثمان رضي الله عنه وفرمايل: زه ستاسو څخه د الله جل جلاله او اسلام په حق پوښتنه کوم ايا تاسو ددې څخه خبر ياست؟

أَنِّي جَهَّزْتُ جَيْشَ الْعُسْرَةِ مِنْ مَالِي قَالُوا اللَّهُمَّ نَعَمْ قَالَ أَنْشُدُكُمُ اللَّهَ

چي ما د جيش عسره سامان په خپل مال سره برابر کړ، خلکو وويل هو، اې الله! موږ په دې خبر يو، بيا حضرت عثمان رضي الله عنه وويل: زه تاسو ته د خداى

وَالْإِسْلَامَ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَى ثَبِيرِ مَكَّةَ

او اسلام واسطه درکوم او دا پوښتنه در څخه کوم ايا تاسو ددې څخه خبر ياست چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې پر ثبير غونډۍ ولاړ وو

وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَأَنَا فَتَحَرَّكَ الْجَبَلُ حَتَّى تَسَاقَطَتْ حِجَارَتُهُ بِالْحَضِيضِ

او ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه هم ورسره وه، غره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وجود مبارک پر ځان باندي ليدو

فَرَكَضَهُ بِرِجْلِهِ قَالَ اسْكُنْ ثَبِيرُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ قَالُوا

سره د خوښي څخه حرکت پيل کړ، تر دې چي د هغه ډبري پر ځمکه لوېدلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم غر په لغته وواهه او وه يې فرمايل: اې ثبير! کرار سه حرکت مه کوه پر تا يو نبي، يو صديق او دوه شهيدان دي، خلکو وويل:

اللَّهُمَّ نَعَمْ قَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ شَهِدُوا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ أَنِّي شَهِيدٌ ثَلَاثًا. رواه الترمذي والنسائي والدار قطني.

اې الله! دا صحيح ده، عثمان رضي الله عنه وويل الله اکبر، خلکو ريښتوني شاهدي ورکړه او د کعبي په رب ر دي مي قسم وي چي زه شهيد يم، درې واره يې دا الفاظ وفرمايل. ترمذي، نسائي او دار قطني.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۸۵، رقم: ۳۷، والنسائي ۶\۲۳۵، رقم: ۳۶۰۸، والدار قطني ۴\۱۹۶، رقم۲

د لغاتو حل: يستعذب: اي يعد عذبا اي حلوا. ثبير: جبل بمكة (په مكه كي يو غر)، ركض: اي ضربه.

تشريح: بئر رومه، يعني د رومه څاه، د مديني منورې د هغه لوى څاه نوم دى چي په وادي عقيق كي د مسجد قبلتين شمال خوا ته واقع دى، ددغه څاه اوبه ډېري خوږې او پاكي دي، په دې مناسبت چي د رسول الله ﷺ د زيري سره سم ددغه څاه رانيولو او وقف كولو په سبب د حضرت عثمان ﷛ جنتي كېدل ثابت سول، ددغه څاه يو نوم بئر جنت يعني د جنت په څاه سره هم مشهور دى، په هغه زمانه كي حضرت عثمان ﷛ دغه څاه په يو لك درهم رانيولى وو.

او خپله سلواغه د مسلمانانو سلواغه وګرځوم، دا د وقف څخه كنايه ده يعني كوم څوک چي دغه څاه رانيسي او خپل ذاتي ملكيت يې ونه ګرځوي بلكه د عامي ګټې لپاره يې وقف كړي لكه څرنګه چي خپله هغه سړى ددغه څاه څخه ګټه ترلاسه كوي، ددې څخه معلومه سول چي د سقايات (يعني څاه، تالاب، حوض او داسي نورو شيانو) وقف كول جائز دي، او دا چي وقف سوى شى د وقف كونكي د ملكيت څخه وځي.

هو، اې الله! ددغه الفاظو په ذريعه هغه خلګو د حضرت عثمان ﷛ تصديق وكړ چي تاسو څه وايا ست د هغه په صداقت كي موږ ته د ذرې په اندازه شک نسته، تر دې مخكي د اللهم، لفظ راوړل د الله ﷻ په نامه سره د بركت ترلاسه كولو لپاره هم دى او په خپله خبره كي د زور پيدا كولو لپاره هم دى.

د فلاني سړي د اولاد څخه مراد د انصارو سره تعلق لرونكي د يوې كورنۍ هغه خلک وه چي د مسجد نبوي سره نژدې پراته وه او دهغوى په ملكيت كي يوه داسي مځكه وه چي په مسجد نبوي كي په شاملولو سره مسجد شريف پراخ كېدى، نو رسول الله ﷺ صحابه كرام متوجه كړل چي كوم څوک توان لري چي دا مځكه په رانيولو سره په مسجد كي د شاملولو لپاره وقف كړي نو حضرت عثمان غني ﷛ د رسول الله ﷺ د غوښتني سره سم هغه مځكه په شل يا پنځه ويشت زره درهمه رانيول او په مسجد نبوي كي د شاملولو لپاره يې وقف كړل، د مسجد نبوي اصل جوړښت د رسول الله ﷺ په زمانه كي سوى وو او د رسول الله ﷺ د هجرت په لومړني كال له صحابه كرامو سره په خپل لاس مبارک سره د دغه مسجد جوړښت وكړ، بيا دهجرت په اووم كال رسول الله ﷺ په دغه مسجد كي په زياتوب كولو سره مربع شكل يې وركړ، هغه وخت ددغه مسجد دېوالونه د خښتو وه او بام يې د خرماد څانګو او بلګو څخه جوړ سوى وو او دهغه ستني د خرماو پر تنو مشتمل وې، د حضرت ابوبكر صديق ﷛ د خلافت په زمانه كي په دغه

مسجد کي پراخي ونه سول ، بيا په ۱۷ هجري کال کي حضرت عمر ﷛ ددغه مسجد جوړښت او زياتوب وکړ ، ددې څخه وروسته په ۲۹ هجري کي حضرت عثمان ﷛ د نوي سره جوړ کړ او په پراخوالي کي يې هم زياتوب وکړ، هغه د مسجد دېوال او ستني په نقش لرونکو ډبرو او چونې سره جوړ کړل او بام يې د لرګيو څخه جوړ کړ، د حضرت عثمان ﷛ څخه وروسته خليفه ګانو او پاچاهانو په خپل خپل دور کي زياتوب کوی تر دې چي په ۱۲۶۵ هجري کال کي سلطان عبدالحميد عثماني په نوې نقشه سره ددغه مسجد ستر جوړښت وکړ او بيا ددغه جوړښت دوهم وار تجديد او پراخوالی په ۱۳۷۲هجري کال کي د شاه ابن مسعود مرحوم په حکم سره وسو.

او دوه (حقيقي) شهيدان دي، يعني رسول الله ﷺ وړاند وينه وفرمايل چي دغه وخت دلته پر غره باندي کوم څلور کسان موجود دي په هغو کي زما او د ابوبکر ﷛ څخه ماسوا دوه کسان يعني عمر او عثمان ﷛ ته به حقيقي شهادت تر لاسه سي نو دغه دواړه حضرات په حقيقي معنی کي شهيدان سول، چي حضرت عمر ﷛ خو د وړونکې حملې په نتيجه کي د خنجر په زخم سره شهادت تر لاسه کړ او حضرت عثمان ﷛ د باغيانو په کور کي ننوتلو سره په ډېره بې رحمي سره شهيد کړل سو ، نو د حديث دغه الفاظ ددې خبري خلاف نه دي چي شهادت حکمي رسول الله ﷺ او ابوبکر صديق ﷛ ته هم تر لاسه سو ځکه چي د رسول الله ﷺ مرګ هغه زهرو په اثر سره سوی دي چي رسول الله ﷺ ته ډېر وخت مخکي د خيبر د غزا په وخت کي يوې يهودي ښځي د پسه په غوښو کي ورکړي وه او د حضرت ابوبکر صديق ﷛ مرګ د هغه مار د زهرو په اثر سره سوی وو چي د هجرت د سفر په دوران کي د ثور په غار کي يې چيچلی وو .

د الله اکبر نعره يې وکړل، يعني حضرت عثمان ﷛ تر دغه وخت مخکي الله اکبر وويل او بيا وروسته يې ذکر سوي الفاظ وفرمايل، او دغه الله اکبر ويل پر خپلو هغه باغيانو او دښمنانو باندي د زيات حجت قائمولو په نيت هم وو او پر دې امر اظهار تعجب هم وو چي دغه خلګ يوې خوا ته زما د خبرو تصديق کوي او په خپله ژبه سره هغه حقائق مني چي د هغه څخه زما منقبت څرګنديږي او بلي خوا ته په خپلو مفسدانه او باغيانه کړنو کي لګيدلي دي او د فتنې او فساد خپرولو او زما هلاکولو لپاره د خپلو عزائمو څخه منع کېدو ته تيار نه دي .

د حق وينې پيشګوئي

﴿۵۸۱۷﴾: وَعَنْ مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ قَالَ سَمِعْتُ مِنْ رَّسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت مرة بن کعب ﷛ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د فتنو په ذکر کولو کي

وَذَكَرَ الْفِتَنَ فَقَرَّبَهَا فَمَرَّ رَجُلٌ مُقَنَّعٌ فِي ثَوْبٍ فَقَالَ هَذَا يَوْمَئِذٍ عَلَى الْهُدَى

اوريدلي دي او هغه يې ډيري نژدې وبنودلې، په دې وخت كي يو سړي چي په جامه كي نغښتى وو د هغه په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: دغه سړى به په هغه ورځو كي پر سيده لاروي،

فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ قَالَ فَأَقْبَلْتُ عَلَيْهِ بِوَجْهِهِ فَقُلْتُ هَذَا

د مره بن كعب رضي الله عنه بيان دى چي د رسول الله ﷺ د الفاظو اوريدو سره زه ولاړ سوم او هغه پسي ولاړم نو هغه حضرت عثمان رضي الله عنه وو، بيا ما د حضرت عثمان رضي الله عنه مخ رسول الله ﷺ ته كړ او پوښتنه مي وكړه ايا دا سړى به پر سيده لاروي،

قَالَ نَعَمْ. رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح

رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، ترمذي او ابن مجه ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۸۶، رقم: ۳۷۰۴، وابن ماجه ۱\۴۱، رقم: ۱۱

د لغاتو حل: قربها: اي قرب النبي ﷺ الفتن يعني وقوعها.

د خلافت پيشگوئي

﴿۵۸۱۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا عُثْمَانُ إِنَّهُ لَعَلَّ اللَّهَ يُقَمِّصُكَ قَمِيصًا فَإِنْ أَرَادُوكَ عَلَى خَلْعِهِ فَلَا تَخْلَعْهُ لَهُمْ. رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي في الحديث قصة طويلة.

د حضرت عائشې (رض) ښځه روايت دى چي رسول الله ﷺ يوه ورځ حضرت عثمان رضي الله عنه ته وفرمايل: كيداى سي الله جل جلاله تا ته يو قميص در واغوندي، (يعني د خلافت خلعت به در كړي) بيا كه خلك ستا ښځه غوښتنه كوي چي قميص وكاږه نو ته د هغوى پر خواهش دا قميص مه كاږه. (يعني خلافت مه پريږده). ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۸۷، رقم: ۳۷۰۵، وابن ماجه ۱۴ رقم: ۱۱۳.

تشريح: كه خلك، د هغه هدايت مطلب دا وو چي ځيني خلك به ستا د خلافت او حكومت په اړه باغيانه رويه اختيار كړي او ستا ښځه به غوښتنه كوي چي د خلافت منصب پرېږده نو د هغه

خلاف واک او اختيار د خپل لاس څخه مه ليږي ګوره څکه چې هغه خلګ به پر مفسدانه غوښتنه باندې د خلګو په وينا کې هيڅکله مه راځه او محض د هغوی پر باطل باندې وي او ته به پر حق يې، د هغوی مقصد به ستا د خلافت په ختمولو سره په ملت اسلاميه کې افتراق او انتشار خپرول وي، حال دا چې ستا خلافت به د حق او صداقت نښه وي، نو دا هغه حديث وو چې حضرت عثمان رضی الله عنه يې د باغيانو او مفسدانو په مخکې د سر کښنته کولو څخه منع کړ، هغه د ظالمانو په محاصره کې د شهادت تر لاسه کولو ته ترجيح ورکړه مګر د رسول الله ﷺ د هغه ارشاد په عملي کولو کې د زړهاوو غوښتنو او ټينګار سربېره د خلافت څخه منع اختيار نه کړل.

يو اوږده قصه ده، د دغه الفاظو په ذريعه ترمذي هغه پېښنو او واقعو ته اشاره کړې ده چې د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت په آخري زمانه کې رامنځته سوې او په هغه سره د اسلام شان او شوکت او د مسلمانانو اتفاق ته ډېر تاوان ورسېدی، په مصر کې د حضرت عثمان رضی الله عنه تاکل سوی والي (عبدالله ابن ابي سرح) پر خلاف په شکايت کولو سره مصريانو حضرت عثمان رضی الله عنه ته راتلل، د مصريانو په شکايت او د صحابه کرامو په مشوره سره حضرت عثمان رضی الله عنه، عبدالله ابن سرح معزول کړ او د محمد ابن ابي بکر رضی الله عنه په نوي والي ټاکلو سره يې مصر ته وليږی، د مروان د سازش په نتيجه کې د محمد ابن ابي بکر رضی الله عنه مصر ته نه رسېدل او د لاري په منځ کې راستنېدل، د دې په نتيجه کې د مصريانو او د هغوی په جګړه اخته کېدل د حضرت عثمان رضی الله عنه د سرای محاصره کول او بيا د هغوی په لاس د حضرت عثمان رضی الله عنه مظلومانه شهادت هغه دردناکه پېښې دي چې په دې اړه هغه دردناکه اوږده قصه مشتمل ده چې په اصل کې د اسلام او ملت اسلاميه په تاريخ کې د فتنې او فساد پيل منل کيږي، د دې تفصيل د تاريخ په کتابو کې کتلای سئ.

مظلومانه شهادت

﴿٥٨١٩﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِتْنَةً فَقَالَ يُقْتَلُ فِيهَا هَذَا مَظْلُومًا لِعُثْمَانَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب اسنادا.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د فتنې په ذکر کولو کې وفرمايل: په دغه فتنه کې به دا سړی په داسي حال قتل کړل سي چې مظلوم به وي، د دې ويلو سره رسول الله ﷺ عثمان رضی الله عنه ته اشاره وکړل، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دی او د اسناد له خوا غريب دی

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۸۸، رقم: ۳۶۹۸.

د صبر او استقامت څرګندونه

﴿۵۸۲۰﴾: وَعَنْ اَبِي سَهْلَةَ قَالَ قَالَ لِي عُثْمَانُ يَوْمَ الدَّارِ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ عَهِدَ إِلَيَّ عَهْدًا وَأَنَا صَابِرٌ عَلَيْهِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابو سهله رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما ته حضرت عثمان رضي الله عنه په يوم الدار (هغه ورځ په کومه ورځ چي شهيد کړل سو) وويل، رسول الله ﷺ ما ته وصيت کړی وو (چي خلافت مه پرېږده) او زه پر هغه وصيت په صبر سره قائم يم. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۸۳، رقم: ۳۶۹۸.

تشريح: د دار د ورځي څخه مراد هغه ورځ ده په کومه ورځ چي حضرت عثمان رضي الله عنه ته د مظلومانه شهادت دردناکه پېښه رامنځته سوې وه، دغه ورځي ته يوم الدار، يعني د کور ورځ په دې اعتبار ويل کيږي چي مفسدانو د حضرت عثمان رضي الله عنه د کور سخته محاصره کړې وه او د هغه محاصرې په دوران کي په کور ورننوتلو سره يې هغه شهيد کړ.

صبر او تحمل مي اختيار کړی دی، دغه الفاظ په حقيقت کي اشاره کوي که چيري رسول الله ﷺ وصيت نه وای کړی او حضرت عثمان رضي الله عنه غوښتلای نو د طاقت په ذريعه يې د مفسدانو خاتمه کولای سول، ځينو صحابه کرامو مشوره ورکړې وه چي تاسو د وخت خليفه ياست، د مسلمانانو ستر طاقت ستاسو تر شا دی د کور څخه دباندي راووځئ او ددغه مفسدانو پر خلاف توره پورته کړئ، دغه خلګ به ستاسو دمقابلې توان ونه لري مګر حضرت عثمان رضي الله عنه هغه مشوره قبوله نه کړل او د صبر او تحمل لمن يې ټينګه نيولې وه تر دې چي د مفسدانو په لاس شهيد سو. انا لله وانا اليه راجعون.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

مخالفينو ته مسکت جواب

﴿۵۸۲۱﴾: عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَوْهَبٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ مِصْرَ

د حضرت عثمان بن عبدالله بن موهب ﷺ څخه روايت دی چي يو مصری سړی

يُرِيْدُ حَجَّ الْبَيْتِ فَرَأَى قَوْمًا جُلُوسًا فَقَالَ مَنْ هٰؤُلَاءِ الْقَوْمُ قَالُوا هٰؤُلَاءِ

د حج په اراده راغلی ، هغه يو ځای يو ډله ناسته وليدل ، پوښتنه يې وکړه دا کوم خلک دي ، خلکو ورته وويل دا

قُرَيْشٌ قَالَ فَمَنِ الشَّيْخُ فِيهِمْ قَالُوا عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ قَالَ يَا ابْنَ عُمَرَ إِنِّي

قريش دي ، هغه پوښتنه وکړه د دوی مشر څوک دی؟ خلکو ورته وويل عبدالله بن عمر ﷺ، هغه سړی عبدالله بن عمر ﷺ ته متوجه سو ورته وه يې ويل : اې ابن عمر! زه

سَائِلُكَ عَنْ شَيْءٍ فَحَدِّثْنِي هَلْ تَعْلَمُ أَنَّ عُثْمَانَ فَرَّ يَوْمَ أُحُدٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ

ستا څخه د يو شي پوښتنه کوم ته د هغه جواب را کړه، ايا تا ته معلومه ده چي حضرت عثمان ﷺ د احد په جنګ کي تښتيدلی وو؟ ابن عمر ﷺ وويل هو داسي سوي وه، بيا هغه سړي

هل تَعْلَمُ أَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَدْرٍ وَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ تَعْلَمُ أَنَّهُ

پوښتنه وکړه : ايا تا ته معلومه ده چي عثمان ﷺ د بدر د غزا څخه غائب وو او د بدر په جنګ کي نه وو شريک سوی، ابن عمر ﷺ ورته وويل هو د بدر په جنګ کي هغه موجود نه وو ، بيا هغه سړي پوښتنه وکړه تا ته معلومه ده چي

تَغَيَّبَ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ قَالَ ابْنُ

حضرت عثمان ﷺ په بيعت رضوان کي هم نه وو شريک سوی او پر دې موقع غائب وو ، ابن عمر ﷺ ورته وويل : هو هغه په بيعت کي هم شامل نه وو ، هغه سړی چي د ابن عمر ﷺ څخه د درو سره خبرو تصديق واوريدی نو الله اکبر يې وويل ، بيا

عُمَرَ تَعَالَ أُبَيِّنْ لَكَ أَمَّا فِرَارُهُ يَوْمَ أُحُدٍ فَأَشْهَدُ أَنَّ اللّٰهَ عَفَا عَنْهُ وَغَفَرَ لَهُ

ابن عمر رضي الله عنه هغه ته وويل : اوس درته زه حقيقت حال بيانوم: د احد په ورځ د حضرت عثمان رضي الله عنه د تيښتي په اړه دا درته وايم چي الله تعالى د هغه دا قصور معاف كړ لكه په قرآن كريم كي دا آيت شريف دى: (ان الذين تولوا منكم يوم التقى الجمعان.... سورة آل عمران)،

وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَدْرٍ فَإِنَّهُ كَانَتْ تَحْتَهُ رقية بِنْتُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

او د بدر په ورځ د حضرت عثمان رضي الله عنه د غائب كيدو واقعه داده چي بي بي رقيه د رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ وَكَانَتْ مَرِيضَةً فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لَكَ أَجْرَ

لور مباركه او د حضرت عثمان رضي الله عنه ښځه په هغه زمانه كي ناروغه وه، رسول الله ﷺ د هغې د خيال ساتلو لپاره په مدينه كي پريښود او فرمايلي يې وه چي عثمان رضي الله عنه ته په بدر كي د

رَجُلٍ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا وَسَهْمَهُ وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَوْ كَانَ أَحَدٌ

حاضريدونكو شخه د يو سړي ثواب تر لاسه كيږي او د غنيمت د مال شخه به هم د يو سړي برخه وركول كيږي، پاته سو په بيعت رضوان كي د عثمان رضي الله عنه غائب كيدل، نو د هغه وجه داوه كه په

أَعَزَّ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ عُثْمَانَ لَبَعَثَهُ فَبَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مكه كي د عثمان رضي الله عنه شخه زيات هر باعزت سړى واى نو رسول الله ﷺ به هغه مكې ته ليږلى واى چي د رسول الله ﷺ د لوري د مكې د كفارو سره خبري اتري وكړي،

عُثْمَانَ وَكَانَتْ بَيْعَةُ الرِّضْوَانِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ عُثْمَانُ إِلَى مَكَّةَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

عثمان رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په حكم سره مكې ته ولاړى او د هغه په نه شتون كي د بيعت رضوان پيښه رامنځته سوه، او د بيعت رضوان په وخت كي رسول الله ﷺ خپل راسته لاس پورته كړ او وه

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ الْيُمْنَى هَذِهِ يَدُ عُثْمَانَ فَضَرَبَ بِهَا عَلَى يَدِهِ قَالَ هَذِهِ لِعُثْمَانَ ثم قَالَ ابْنُ عُمَرَ اذْهَبْ بِهَا الْآنَ مَعَكَ. رواه البخاري.

هي ويل دا د حضرت عثمان رضي الله عنه لاس دى بيا پر هغه لاس يې بل لاس راتير كړ او وه يې فرمايل دا

دعثمان رضي الله عنه بیعت دی، ددې څخه وروسته ابن عمر رضي الله عنه وویل: ته زما بیان هغه سرې ته اوس ور

ورسوه. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷/ ۵۴، رقم: ۳۶۹۸.

د لغاتو حل: اذهب بها: اي بالكمات التي اجبت لک عن اسئلتک.

تشريح: د هغه دغه خبره الله جل جلاله معاف کړې ده، حضرت ابن عمر رضي الله عنه ددغه الفاظو په ذريعه

دغه آيت کريمه ته اشاره وکړل:

إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ

ژباړه: بېله شکه په تاسو کې چې کومو خلکو شا کړځولې وه په کومه ورځ چې دواړې ډلې په خپلو کې مخامخ سوې، ددې څخه ماسوا بله څه خبره نه وه چې هغوی ته شيطان لړزه ورکړل د هغوی د ځينو اعمالو په سبب او يقين وکړئ چې الله هغوی معاف کړل، په تحقيق سره الله جل جلاله لوی مغفرت کوونکی او د لوی حلم خاوند دی.

په اصل کې داسې سوې وه چې د احد د غزا په ورځ رسول الله ﷺ د صحابه کرامو يوه ډله چې په هغه کې حضرت عثمان رضي الله عنه هم وو پر يوه ډېره مهمه مورچه باندې درولې وه او هغوی ته يې حکم ورکړی وو چې دغه مورچه په هيڅ حالت کې خالي مه پرېږدئ او هر سړی دې پر خپل ځای اوسي، مګر کله چې دښمن ماته وخوړل او هغوی وتښتېدل نو اسلامي مجاهدينو دهغوي تعاقب پيل کړ، ددښمن تېښته او دمجاهدينو په تعاقب سره په هغه مورچه کې ناستو خلکو دا وګڼل چې جنګ ختم سوی دی او دښمن په پوره توګه ماته خوړلې ده او بيا د هغه خزې اکثره مجاهدين.هم د-خزې په پرېښودو سره د تښتېدونکو دښمنانو تعقب وکړ او دهغوی د غنيمت د مال په جمع کولو کې بوخت سول، د تښتېدونکي دښمن هوښيار قومندان چې د هغه خزې اهميت ورته معلوم وو اوس چې هغه خزه يې خالي وليدل نو د خپل لښکر سره تقريبا د يو ميل فاصلې په قطع کولو سره د شا له خوا هغه خزې ته ورسېدل او د هغه ځای څخه په ښنه کولو سره يې د اسلام پر مجاهدينو حمله وکړل، د شا له خوا د دښمن دغه ناڅاپه حملې د جګړې پله بدله کړل او فتح د مسلمانانو په لاس راتللو سره بېرته واخيستل سول، د خزې پرېښودل د رسول الله ﷺ د حکم خلاف ورزي وه او د هغه مجاهدينو کوتاهي او کمزوري وه، ځکه الله جل جلاله خبرداری ورکړ مګر په خپل فضل او کرم سره يې هغه کوتاهي هم ور معاف کړل،

نو د حضرت عثمان رضي الله عنه سره عناد کوونکو دغه پېښه د حضرت عثمان رضي الله عنه د سپکاوی او تنقیص ذریعه جوړه کړل، حال دا چي اول خو الله جل جلاله چي د دغه واقعې عفوه وفرمایل نو اوس نورو ته د نیوکي یا پېغور ورکولو څه حق پاته سو، دوهمه خبره داده چي په پېښه کي یوازي د حضرت عثمان رضي الله عنه ذات ماخوذ نه وو دا چي پرېښودونکي ټول صحابه کرام په دې کي شامل وه کله چي کوتاهي وسول نو د ټولو څخه وسول او بیا چي عفوه وسول نو ټولو ته وسول، یوازي حضرت عثمان رضي الله عنه نښه کول غیر منصفانه خبره وه.

تا ته به هم هغه ثواب او برخه درکول کیږي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم مطلب دا وو چي د بدر په جګړه کي ستا ګډون نه کول د عذر او زما د حکم په وجه دی ځکه ته د دنیا او آخرت دواړو په اعتبار د هغه خلګو په حکم کي ګڼل کیږي کوم چي په دغه جګړه کي یې ګډون کړی دی، نو د حضرت عثمان رضي الله عنه د بدر په غزا کي ګډون نه کول د هغه په حق کي هیڅکله د تاوان سبب نه سو او نه په دې وجه د هغه د تنقیص کولو چا ته حق دی، په دغه غزا کي د هغه عدم شرکت داسي دی لکه څرنګه چي د تبوک په غزا کي رسول الله صلی الله علیه وسلم، حضرت علي رضي الله عنه د خپلي کورنۍ د ساتني لپاره په مدینه کي پرې ایښی وو او هغه د اسلامي لښکر سره تبوک ته نه وو تللی، بیا هم دا خبره په یقیني توګه معلومه نه ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر د غزا په غنیمت کي د حضرت عثمان رضي الله عنه برخه ورکړل که یا.

بي بي رقیه رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لوڼو مبارکو کي تر ټولو مشره لور وه، د بدر په غزا کي هغه ناروغه وه او رسول الله صلی الله علیه وسلم، حضرت عثمان رضي الله عنه ته حکم ورکړی وو چي هغه دي د بدر په غزا کي ګډون نه کوي بلکه د بي بي رقیه رضي الله عنها د خبر لپاره دي په مدینه کي وي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حضرت عثمان رضي الله عنه سره څومره تعلق وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم څومره ځیني راضي او خوشحاله وو ددې اندازه ددې څخه لګېدای سي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله یوه لور د هغه په نکاح کړل او بیا په هغه ناروغۍ کي چي بي بي رقیه رضي الله عنها وفات سول نو بله لور ام کلثوم رضي الله عنها یې هم حضرت عثمان رضي الله عنه ته په نکاح ورکړل، په دې سبب حضرت عثمان رضي الله عنه د ذوالنورین په لقب سره مشهور سو، او بیا کله چي بي بي ام کلثوم رضي الله عنها هم وفات سول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي وه که زما بله لور وای نو هغه به مي هم عثمان رضي الله عنه ته په نکاح ورکړې وای، په یوه روایت کي چي طبراني نقل کړی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم وفرمایل: ما د عثمان رضي الله عنه سره د خپلو دواړو لوڼو نکاح د وحي په ذریعه د الله جل جلاله د حکم په راتللو سره کړې وه.

عثمان رضي الله عنه یې مکې ته واستوی، حضرت عثمان رضي الله عنه ددې لپاره استول سوی وو چي هغه

د رسول الله ﷺ له خوا د اهل مكه سره خبري وكړي او هغوی دې ته اماده كړي چي هغوی دي رسول الله ﷺ او مسلمانان د عمرې كولو څخه نه منع كوي، د كوم حكمت په وجه چي حضرت عثمان رضي الله عنه د دغه كار لپاره تاكل سوی وو هغه صحيح ثابت سو، په مكه كي اسلام او د اهل اسلام معاندينو او مخالفينو ته د حضرت عثمان رضي الله عنه پر خلاف د داسي اقدام كولو جرئت ونه سو چي په هغه سره ځينو صحابه كرامو د خطرې اظهار كړی وو، د حضرت عثمان رضي الله عنه خپلوانو او قريبانو په مكه كي د هغه د راتگ په خبرېدو سره د هغه ډېر ښه استقبال وكړ، پر سپرلۍ باندي يې كښېنوی او د جلوس په شكل يې بوتلی، هغه ټولو خلگو دا اعلان هم وكړ چي عثمان زموږ گران ميلمه او زموږ په پناه كي دی، څوك دي ورسره د تعرض جرئت نه كوي نه يوازي دا بلكه هغه خلگو حضرت عثمان رضي الله عنه ته وويل: تاسو د عمرې په نيت د كعبې شريفي طواف هم كولای سئ، هيڅوك تاسو نه منع كوي، مگر عثمان رضي الله عنه د هغوی دغه وړانديز رد كړ او وه يې ويل: نه، زه د رسول الله ﷺ څخه ماسوا د هغه په غير موجودتيا كي يوازي طواف هيڅكله نه كوم.

د عثمان رضي الله عنه مكې ته تللو څخه وروسته، يعني د بيعت رضوان پېښنه د حضرت عثمان رضي الله عنه په موجودتيا كي نه وه پېښنه سوې، چي په هغه كي د هغه د گډون يا نه گډون بحث راپورته سي، صورت حال دا وو چي كله حضرت عثمان رضي الله عنه مكې ته ورسېدی او هلته خبري پيل سوې نو هغه خبري اوږدې سوې او د حضرت عثمان رضي الله عنه په ستنېدو كي ځنډ وسو، په دې سره په مسلمانانو كي بې ارامي پيدا سول او دا خبر هم راغلی چي حضرت عثمان رضي الله عنه نه يوازي دا چي په دغه كار كي ناكام سوی دی بلكه اهل مكه تر دې حده شر ته اماده دي چي هغوی د خپل لښكر په جمع كولو سره پر مسلمانانو د حملې كولو په نيت حديبيې ته را روان دي بلكه يو خبر دا هم راغلی چي هغوی حضرت عثمان رضي الله عنه شهيد كړی دی، له دې كبله رسول الله ﷺ ټول صحابه كرام راجمع كړل او د دين دښمنانو په مقابله كي تياري يې پيل كړل، رسول الله ﷺ د يوې درختي لاندي د يوه يوه مسلمان څخه دا بيعت واخيست چي هيڅوك به د دغه ځايه نه تښتي بلكه د خپل سر په بازي لگولو سره به د دښمن مقابله كوي او كه عثمان رضي الله عنه په حقيقت كي وژل سوی وي نو د هغه دويني بدله به اخلي.

دا له ځان سره يوسه، يعني د عثمان رضي الله عنه په اړه كه ته زما څخه د معلومات جمع كول او وړل غواړې نو زما دا خبري د ځان سره يوسه، ستا سوالونه او زما جواب كه چا ته تا وان رسولای سي نو تاسو ته تقصان رسيدای سي نه موږ ته، يا د دغه الفاظو څخه د ابن عمر رضي الله عنه مراد دا وو كه ته د حق په پلټنه كي يې او د رښتيا خواهش لرونكي يې نو ما په تفصيل سره كوم حقائق چي ستا

مخکي بيان کړي دي هغه د ځان سره په زړه او د دماغ کي يو سه او د حضرت عثمان رضي الله عنه په حق کي چي ته کوم بد خيالات او بد ګماني لري د هغه څخه خپل ذهن پاک کړه.

د عثمان رضي الله عنه ثابت قدمي

﴿۵۸۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَهْلَةَ مَوْلَى عُثْمَانَ قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عثمان رضي الله عنه د ازاد کړل سوي غلام ابوسهله رضي الله عنه څخه روايت دی چي (يوه ورځ) رسول

يُسِرُّ إِلَى عُثْمَانَ وَلَوْنُ عُثْمَانَ يَتَغَيَّرُ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الدَّارِ قُلْنَا أَلاَ نُقَاتِلُ؟ قَالَ

الله ﷺ د حضرت عثمان رضي الله عنه سره پټي خبري کولې او د خبرو اوريدو سره د حضرت عثمان رضي الله عنه د مخ رنګ متغير کيدی، بيا چي هغه ورځ راغلل چي حضرت عثمان رضي الله عنه په خپل کور کي خلکو محاصره کړ نو موږ عثمان رضي الله عنه ته وويل ايا موږ د دې خلکو سره وجنګيږو نو عثمان رضي الله عنه وويل:

لاَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهِدَ إِلَيَّ أَمْرًا فَأَنَا صَابِرٌ نَفْسِي عَلَيْهِ.

نه، ځکه چي رسول الله ﷺ ما ته وصيت کړی دی او زه پر هغه صابر او شاکر يم. بيهقي

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د امير اطاعت

﴿۵۸۲۳﴾: وَعَنْ أَبِي حَبِيْبَةَ أَنَّهُ دَخَلَ الدَّارَ وَعُثْمَانُ مَحْصُوْرٌ فِيْهَا وَأَنَّهُ سَمِعَ

د حضرت ابو حبيبه رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د حضرت عثمان رضي الله عنه په سرای کي داخل سوم، کله چي خلکو د هغه محاصره کړې وه او حضرت عثمان رضي الله عنه بند کړل سوی وو، ما واوريدل چي

أَبَا هُرَيْرَةَ يَسْتَأْذِنُ عُثْمَانَ فِي الْكَلاَمِ فَأَذِنَ لَهُ فَقَامَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ

ابوهريره رضي الله عنه حضرت عثمان رضي الله عنه څخه د څه ويلو اجازه غواړي، حضرت عثمان رضي الله عنه اجازه ورکړل، ابوهريره رضي الله عنه ولاړ سو اول يې د خدای حمد او ثناء وويل

ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِي

بيا يې وويل: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي زما څخه وروسته به تاسو په

فِتْنَةً وَاخْتِلاَفًا أَوْ قَالَ اِخْتِلاَفًا وَفِتْنَةً فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ مِنَ النَّاسِ فَمَنْ لَنَا

فتنو او په خپلو کي په جګړو اخته سئ ، ددې اوريدو سره يو سړي وويل :

يَارَسُوْلَ اللهِ أَوْ مَا تَأْمُرُنَا بِهٖ قَالَ عَلَيْكُمْ بِالْأَمِيْرِ وَأَصْحَابِهٖ وَهُوَ يُشِيْرُ إِلٰى عُثْمَانَ بِذٰلِكَ . رواهما البيهقي في دلائل النبوة.

اې د الله رسوله ! دغه وخت به موږ د چا پيروي کوو، يا دا چې په هغه زمانه کي موږ ته د څه کولو حکم راکوئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د امير او د هغه د دوستانو اطاعت پر تاسو لازم دی ، د امير لفظ ويلو سره رسول الله ﷺ حضرت عثمان رضي الله عنه ته اشاره وکړه. بيهقي.

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

تشريح: حضرت عثمان رضي الله عنه ته اشاره وکړه، يعني حضرت ابوهريره رضي الله عنه د دغه حديث څخه دا ثابته کړل چي دغه وخت د مسلمانانو امير حضرت عثمان رضي الله عنه دی ځکه په هر حالت کي د هغه اطاعت پر هر مسلمان لازم دی.

د حضرت عثمان غني رضي الله عنه مختصر حالات : سيدنا عثمان غني رضي الله عنه د عام فيل په شپږم کال پيدا سو، د اسلام د دعوت په پيل کي په ايمان برخمن سوی وو او سيدنا ابوبکر صديق رضي الله عنه په لاس يې اسلام قبول کړ، تر هغه وخته پوري نبي کريم ﷺ دار ارقم ته نه وو تللی، حضرت عثمان رضي الله عنه دوه واره هجرت وکړ، لومړی حبشې ته او بيا مدينې ته، نوموړی ميانه قده، سور او سپين رنګ، ښکلې او ګڼه ږيره او د ښکلي رنګ خاوند وو، د سيدنا عمر فاروق رضي الله عنه څخه وروسته دريم خليفه سو او د محرم په لومړۍ نېټه په ۲ هجري کال کي يې د خلافت اقتدار سنبال کړ، د سخت انتشار په دوران کي په ۳۵ هجري کال کي د ذي الحجې په اتلسمه نېټه د مصر د باغيانو او مفسدانو له خوا يو سړي اسود بحنسي د خپلو څو ملګرو سره په محاصره کولو حضرت عثمان رضي الله عنه هغه وخت شهيد کړ کله چي د کلام الله په تلاوت کي بوخت وو، ځينو حضراتو د حضرت عثمان رضي الله عنه د قاتل نوم بل څه ذکر کړی دی ، تر درو ورځو پوري د حضرت عثمان رضي الله عنه مړی بېله کفن او دفن پروت وو، په پای کي د ځينو صحابه کرامو په هڅه سره تر درو ورځو وروسته د شپې په وخت کي د ماښام او ماخستن په منځ کي تدفين په عمل کي راغلی، حضرت جبير ابن مطعم رضي الله عنه د جنازې لمونځ ورکړ، بېله غسل ورکولو د هغه په جامو کي يې دفن کړ، په هغه ورځ د حضرت عثمان رضي الله عنه عمر ۸۲ کاله يا د يوه قول مطابق ۸۸ کاله وو، د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت زمانه يو څو ورځي کم دوولس کاله وو، او د صحابه کرامو او تابعينو يوې لوی ډلې د نوموړي څخه احاديث نبوي روايت کړي دي.

بَابُ مَنَاقِبِ هٰؤُلاَءِ الثَّلٰثَةِ رضي الله عنهم

(د دغه درو (يعني خلفاء ثلاثه) رضي الله عنهم د مناقبو بيان)

مخکي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه پر مناقبو باندي مشتمل حديثونه نقل سول بيا د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د مناقبو سره اړوند حديثونه نقل کړل سو ، تر دې وروسته يو بېل باب قائم کړل سو او هغه حديثونه پکښي نقل سول چي په هغو کي د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما مناقب يو ځای ذکر وه، بيا د حضرت عثمان رضي الله عنه د مناقبو حديثونه د تېر سوي باب لاندي نقل کړل سول او ځيني داسي حديثونه هم منقول دي چي په هغو کي د درو سره حضراتو يعني ابوبکر صديق، عمر فاروق او سيدنا عثمان رضي الله عنهم مناقب يو ځای مذکور دي نو ددغه حديثونو د نقل کولو لپاره ذکر سوی باب قائم سوی دی .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

يو نبي، يو صديق او دوه شهيدان

﴿۵۸۲۴﴾: عَنْ اَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَعِدَ أُحُدًا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ فَرَجَفَ بِهِمْ فضربه برجله فَقَالَ اثْبُتْ أُحُدُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ نبي کريم ﷺ ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم د احد پر غره وختل ، د احد غره حرکت پيل کړ، رسول الله ﷺ غر په پښه ووهی او وه يې فرمايل اې احد! کرار سه پر تا يو نبي ، يو صديق او دوه شهيدان ولاړ دي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۲، رقم: ۳۶۸۶.

د جنت زيری

﴿۵۸۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره

فِي حَائِطٍ مِنْ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ فَجَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

د مدينې په يو باغ كي وم ، يو سړى راغلى او د هغه باغ د دروازې خلاصولو طلب يې وكړ،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَفَتَحْتُ لَهُ فَإِذَا أَبُو بَكْرٍ فَبَشَّرْتُهُ بِمَا

رسول الله ﷺ وفرمايل: دروازه خلاصه كړئ او راتلونكي سړي ته د جنت زيرى وركړئ ، ما دروازه خلاصه كړه وه مې ليدل چې هغه ابوبكر رضي الله عنه وو ، څرنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي وه ما

قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللّٰهَ ثُمَّ جَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ

هغه ته د جنت زيرى وركړ، پر دې خبره ابوبكر رضي الله عنه د خداى جل جلاله حمد او ثناء او شكر ادا كړ، بيا يو بل سړى راغلى او د دروازې خلاصولو طلب يې وكړ،

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَفَتَحْتُ لَهُ فَإِذَا هُوَ

رسول الله ﷺ وفرمايل: دروازه ور خلاصه كړئ او راتلونكي ته د جنت زيرى وركړئ، ما چې دروازه خلاصه كړه نو

عُمَرُ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللّٰهَ ثُمَّ اسْتَفْتَحَ

عمر رضي الله عنه مې وليدى هغه مې د رسول الله ﷺ د زيري څخه خبر كړ هغه د خداى جل جلاله حمد ،ثناء او شكر ادا كړ ، بيا يو بل سړي د دروازې خلاصولو طلب وكړ،

رَجُلٌ فَقَالَ لِي افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُهُ فَإِذَا عُثْمَانُ

رسول الله ﷺ وفرمايل: دروازه ور خلاصه كړه او د جنت زيرى وركړه او د بلا او مصيبت څخه يې خبر كړه چې ده ته به ورسيږي ، ما دروازه ور خلاصه كړه نو هغه حضرت عثمان رضي الله عنه وو ،

فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللّٰهَ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ. متفق عليه.

ما هغه د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه خبر كړ ، هغه د خداى حمد ،ثناء او شكر ادا كړ،بيا يې وويل: د الله جل جلاله څخه پر هغه مصيبتونو مرسته غواړم. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۳، رقم: ۳۶۹۳، ومسلم ۴\۱۸۶۷، رقم: ۲۸- ۲۴۰۳.

د لغاتو حل: حيطان: اي بستان (باغ).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د اصحاب ثلاثه ذكر

﴿۵۸۲۶﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا نَقُولُ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيٌّ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ رضي الله عنهم. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دی چي موږ به د رسول الله ﷺ په ژوند كي دا ويل: ابوبكر ،عمر او عثمان ، الله ﷻ دي ددوی ټولو څخه راضي سي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۸۸، رقم: ۳۷۰۷.

تشريح: مطلب دا چي درو سره صحابه كرامو د رسول الله ﷺ په دربار كي تر ټولو زيات تقرب او درجه درلودل او دخپل دغه حيثيت په وجه په ټولو صحابه كرامو كي د غوره او يوازيني شهرت خاوندان وه، د صحابه كرامو په مجلسو كي به زيات وختونه د دوی خبري كېدلې ، د دوی د صفتو او ښېګڼو يادونه به كېدل او د اسلام او مسلمانانو په اړه چي به د يوې مسئلې او معاملې يادونه كېدل نو تر ټولو مخكي به ددغه درو كسانو يادونه كېدل او كله چي به ددغه درو كسانو ذكر كېدی نو د دوی نومونه به په دغه ترتيب سره اخيستل كيدل چي مخكي د حضرت ابوبكر صديق ﷛ بيا د حضرت عمر فاروق ﷛ او بيا به د حضرت عثمان غني ﷛ نوم يادېدی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د خلافت ترتيب

﴿۵۸۲۷﴾: عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيَ اللَّيْلَةَ رَجُلٌ

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نن شپه يو صالح سړی ما ته په

صَالِحٌ كَان أَبَا بَكْرٍ نِيطَ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنِيطَ عُمَرُ بِأَبِي بَكْرٍ

خوب كي وښود ل سو ، گويا ابوبكر رضي الله عنه پر رسول الله ﷺ متصل كړل سو او عمر رضي الله عنه د ابوبكر رضي الله عنه سره متصل كړل سوي دي

وَنِيطَ عُثْمَانُ بِعُمَرَ قَالَ جَابِرٌ فَلَمَّا قُمْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

او عثمان رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه سره متصل كړل سوي دی ، د جابر رضي الله عنه بيان دی چي موږ د رسول الله ﷺ څخه ولاړ سو او روان سو ،

وَسَلَّمَ قُلْنَا أَمَّا الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَّا نوط

نو موږ دا رايه قائمه كړه چي د صالح سړي څخه رسول الله ﷺ مراد دی او متصل كېدل يو په بل

بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ فَهُمْ وُلَاةُ الْأَمْرِ الَّذِي بَعَثَ اللَّهُ بِهِ نَبِيَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه ابوداؤد.

پسې نو د دوی څخه مراد خلافت دی، چي پر هغه الله جل جلاله رسول الله ﷺ ماموره كړی دی. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵/۳۰، رقم: ۴۶۳۶.

د لغاتو حل: نيط: اي علق (متصل)

=========

بَابُ مَنَاقِبِ عَلِيِّ بْنِ أَبِيْ طَالِبٍ رضي الله عنه

(د حضرت علي رضي الله عنه بن ابي طالب د مناقبو بيان)

د سيدنا حضرت علي رضي الله عنه مناقب او فضائل بې شمېره دي ، څو مره زيات حديثونه چي د حضرت علي رضي الله عنه په تعريف او توصيف كي نقل سوي دي دومره حديثونه په صحابه كرامو كي د هيچا په اړه منقول نه دي ، كه څه هم په دې كي ډېر روايتونه موضوع (يعني دځان څخه جوړ سوي) هم دي ، حضرت شيخ مجدالدين شيرازي رحمه الله د هغه ځينو روايتونو په اړه كوم چي د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په مناقبو كي نقل سوي دي ، دا وضاحت كړی دی چي دا موضوع روايتونه دي ځكه ددې پر بې اصل او بې بنياده كېدو باندي معمولي عقل او فهم لرونكي هم پوهېدای سي، همدا رنگه هغه ليكلي دي چي د حضرت علي ابن ابي طالب رضي الله عنه په مناقبو كي

خلگو بې شمېره د دروا غو حديثونه جوړ کړي دي او د دغه دروا غجنو حديثونو تر ټولو لويه ذخيره هغه ده چې په وصايا نامي كتاب كي يې جمع کړي دي او په هغه كي هر حديث د يا علي په الفاظو سره شروع كيږي ، مگر په هغو كي يو ازې يو حديث (يا علي انت مني بمنزلة هارون من موسى) بېله شكه دغه حديث ثابت دى .

په هر حال د حضرت علي رضي الله عنه په مناقبو كي چې كوم صحيح حديثونه منقول دي د هغو په اړه امام احمد او امام نسائي او نورو ويلي دي چې د هغو شمېر د هغه حديثونو څخه ډېر زيات دى كوم چې د نورو صحابه كرامو په حق كي منقول دي، سيوطي رحمة الله عليه د دې سبب دا بيان کړى دى چې سيدنا علي رضي الله عنه متاخر دى او د هغه په زمانه كي نه يوازې دا چې د مسلمانانو په منځ كي داختلاف او جگړې خراب صورت پيدا سوى وو بلكه خپله د سيدنا علي رضي الله عنه د مخالفت كوونكو يوه ډېره لويه ډله پيدا سوې وه چې هغوى د حضرت علي رضي الله عنه پر خلاف جگړې هم وکړلې او د هغه خلافت يې هم له منځه يووړ، نو علماؤ او محدثينو د مقام علي رضي الله عنه حفاظت او د مخالفين علي رضي الله عنه د ترديد او تغليظ په وجه د منقبت علي سره اړوند حديثونه جمع کړل او د هغه حديثونو په خپرولو كي يې ډېرې هڅې وکړلې ، او كوم چې د خلفاء ثلاثه د مناقبو تعلق دى نو هغه خو په حقيقت كي د حضرت علي رضي الله عنه د مناقبو څخه هم زيات دي .

نوم او نسب : علي ابن ابي طالب بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصى بن كلاب بن مره بن كعب بن لوى بن غالب بن فهر بن مالك بن نضر ابن كنايه .

د نومورې يو نوم حيدر هم دى، حيدر په اصل كي د حضرت علي رضي الله عنه د نيكه اسد نوم وو، كله چې حضرت علي رضي الله عنه پيدا سو نو هغه وخت د هغه مور فاطمه بن اسد د نومورې نوم د خپل پلار پر نامه (حيدر) كېښېښود ، بيا وروسته ابو طالب د خپل ځانه د زوى نوم علي كېښېښود ، او څرنگه چې په يوه روايت كي راغلي دي چې حضرت علي رضي الله عنه به فرمايل: زما په نزد د ابو تراب څخه غوره نوم نسته .

كنيت: ابو تراب د سيدنا علي رضي الله عنه كنيت دى، او دغه كنيت داسې كېښېښودل سو چې يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم د بي بي فاطمې رضي الله عنها كورته ورغلى نو وه يې ليدل چې حضرت علي رضي الله عنه په كور كي نسته ، پوښتنه يې وکړل چې علي رضي الله عنه چيري دى؟ بي بي فاطمې رضي الله عنها ورته وويل: نن زما او د هغه په منځ كي خوابدتيا رامنځته سوه، په همدغه غصه كي هغه د كور څخه وتلى دى ، نن خو هغه په كور كي قيلوله (د غرمې خوب) هم ونه کړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم، حضرت انس رضي الله عنه ته حكم وکړ چې ولاړ سه او وگوره علي رضي الله عنه چيري دى، حضرت انس رضي الله عنه وښودل چې اې د الله رسوله! هغه په

ه سوی دی، رسول الله ﷺ سمدستي مسجد ته ولاړی نو وه یې لېدل چي حضرت
جد د دېوال سره پر وچه مځکه پروت او بېده دی، څادر یې د اوږې څخه بېل
ٔنا او بغل یې خاوري لګېدلي دي، هغه وخت رسول الله ﷺ د هغه د بدن څخه
و فرمایل یې: ولاړ سه، اې ابوتراب! پورته سه، نو د هغه وخت څخه د حضرت
په ابوتراب مشهور سو.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

علي رضي الله عنه او هارون علیه السلام

نْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي. متفق عليه.

بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د حضرت علي علیه السلام په اړه
ما لپاره داسي یې لکه څرنګه چي د موسی علیه السلام لپاره هارون علیه السلام وو، البته دومره
ا څخه وروسته به هیڅوک نبي نه وي، بخاري.

ح البخاري (فتح الباري): ۷۱\۱۷، رقم: ۳۷۰٦، ومسلم ۱۸۷۰\۱۴. رقم: ۳۰- ۲۴۰۴.

چي رسول الله ﷺ د خپلي آخري غزا، تبوک لپاره ولاړی نو حضرت علي رضي الله عنه یې د
: ساتني لپاره په مدینه کي پرېښود، پر دې خبره منافقینو هغه ته پېغور ورکړ چي
ته بې قدره وګڼلې او په مدینه کي یې پرېښودلې، حضرت علي رضي الله عنه چي د
پېغور واورېدل نو ډېر غیرت یې محسوس کړ او سمدستي د وسلې په اخیستلو
جرف نامي ځای ته ورسېدی چي د مدینې منورې څخه تقریبا پر درې میله فاصله
اقع دی، هلته رسول الله ﷺ د اسلام لښکر سره کښېنته سوي وه، هغه د رسول الله
کي په حاضرېدو سره عرض وکړ چي دالله رسوله! منافقین زما په اړه داسي او
وي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هغوی درواغجن دي، ما ته په مدینه کي د
خلیفه ټاکلی یې، او بیا هغه وخت رسول الله ﷺ دا هم فرمایلي وه چي اې علي!
شحاله نه یې چي ستا زما سره هغه تعلق دی کوم چي دهارون او موسی علیهما السلام
سی علیه السلام د طور غره ته ولاړی نو په خپل قوم کي یې هارون علیه السلام خپل خلیفه ټاکلی وو.

د شیعه ګانو غلطه وینا: حضرت علي رضي الله عنه ته د رسول الله ﷺ د ویل سوو الفاظو څخه شیعه ګانو دغه بې بنیاده عقیده دلیل وګرځوی چي د دغه ارشاد په ذریعه رسول الله ﷺ په هغه وخت کي حضرت علي رضي الله عنه ته د خلافت دنده سپارلې وه، نو د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته د خلافت لومړنی مستحق حضرت علي رضي الله عنه وو، یوازي دا نه بلکه روافض خو تر دې حده تللي دي چي ټولو صحابه کرامو ته کافر وایي، له دې کبله چي د هغوی په قول هغه صحابه کرامو د رسول الله ﷺ د وصیت څخه مخ وګرځوی او د خلافت په اړه یې پر حضرت علي رضي الله عنه نور مقدم کړل، بلکه په هغوی کي ځینو جاهلانو حضرت علي رضي الله عنه هم نه دی پرې ایښی او ویلي یې دي چي حضرت علي رضي الله عنه خپل حق طلب نه کړ او د خلافت د دعوې لپاره په ټینګه ولاړ نه سو نو هغه هم کافر دی، داسي ناپوهانو ته داویل ضروري دي چي ستاسو څخه زیات کافر بل څوک کیدای سي کوم چي ټول امت ته کافر وایي په خاصه توګه پر طبقه اول (صحابه کرامو رضي الله عنهم) باندي د کفر اطلاق کوي او دا ثابتوي چي هغوی پوره شریعت غیر معتبر ګرځوي او د اسلام ټول عمارت نړوي نو د هغوی په کفر کي به چا ته شک وي.

په هر حال علماء اهل سنت والجماعت د دغه حدیث څخه د شیعه ګانو ذکر سوی استدلال د عقل څخه لیري ګرځولی دی او وایي چي د حدیث د الفاظو څخه کومه خبره مفهوم کیږي هغه داده چي رسول الله ﷺ، حضرت علي رضي الله عنه خپل خلیفه محض تر هغه وخته پوري ټاکلی وو چي د تبوک د غزا لپاره رسول الله ﷺ د مدینې څخه دباندي وي لکه څرنګه چي حضرت موسی علیه السلام، حضرت هارون علیه السلام تر هغه وخته پوري پر خپل قوم خلیفه ګرځولی وو چي هغه د طور غره چله (څلوېښت ورځي) تیري کړي، که چیري د هغه وخت لپاره د حضرت علي رضي الله عنه خپل خلیفه جوړولو څخه د رسول الله ﷺ د دغه خبري وصیت کول یا دې ته اشاره کول وای چي همدارنګه زما د وصال څخه وروسته به لومړنی خلیفه علي رضي الله عنه وي نو رسول الله ﷺ به په هغه وخت کي حضرت علي رضي الله عنه ته د حضرت هارون علیه السلام سره تشبیه هیڅکله نه ورکولای ځکه چي حضرت هارون علیه السلام د حضرت موسی علیه السلام د وفات څخه وروسته د هغه خلیفه نه وو، هغه د حضرت موسی علیه السلام د وفات څخه څلوېښت کاله مخکې وفات سوی وو، د دې څخه ماسوا رسول الله ﷺ په مدینه کي د خپل نه موجودتیا په زمانه کي په وخت کي د امامت لپاره خپل خلیفه بل صحابي حضرت ام مکتوم رضي الله عنه جوړ کړی وو، په دغه وخت کي که چیري د حضرت علي رضي الله عنه د خپلي کورنۍ خلیفه ګرځول او د حضرت ام مکتوم رضي الله عنه د خلکو امام کولو څخه مراد مطلق خلافت وای نو د اصولو مطابق به رسول الله ﷺ د امامت ذمه داري هم حضرت علي رضي الله عنه ته سپارلې

وای او دهغه لپاره به یې دوهم سړی نه ټاکلای.

د تشبیه وجه: رسول الله ﷺ، حضرت علي ﷺ ته فرمایلي وه: ته زما لپاره داسې یې لکه څرنګه چې د موسی ﷺ لپاره هارون ﷺ وو، ددغه الفاظو په ذریعه حضرت علي ﷺ ته د حضرت هارون ﷺ سره تشبیه ورکولو باندې هر څوک پوهیږي مګر د تشبیه وجه ظاهر سوې نه وه چې رسول الله ﷺ هغه ته د حضرت هارون ﷺ سره په کوم اعتبار تشبیه ورکړل، ددې خبرې د وضاحت لپاره رسول الله ﷺ مخکې وفرمایل چې فرق دادی چې زما څخه وروسته به څوک نبي نه وي یعني که چیرې په تاسو دواړو کې فرق سته نو هغه دادی چې هارون ﷺ نبي وو او ته نبي نه یې، نو معلومه سول چې د حضرت موسی ﷺ او حضرت هارون ﷺ د قرابت او یووالي د مثال په ذریعه رسول الله ﷺ خپل او د حضرت علي ﷺ په منځ کې چې کوم قرابت او یووالی ظاهر کړ هغه د نبوت په اعتبار نه وو بلکه د خلافت په اعتبار وه چې په مرتبه کې خلافت ته نژدې وو، مګر د خلافت اعتبار هم په دواړو صورتو کې متحمل کیدای سو چې یا خو د رسول الله ﷺ مراد په خپل ژوند کې د یو خاص وخت لپاره د حضرت علي ﷺ خپل خلیفه ټاکل او دهغه په اړه د خپل قرابت او یووالي اعتماد ظاهرول وو، یا د خپل وفات څخه وروسته د هغه د خلافت وړتیا ته په اشاره کولو سره د قرابت او یووالي ظاهرول وو، کوم چې د دوهم صورت تعلق دی نو دا داسې د امکان څخه لیرې ګرځول کیږي چې حضرت هارون ﷺ خو د حضرت موسی ﷺ څخه مخکې وفات سوی وو او هغه د حضرت موسی ﷺ څخه وروسته کله خلیفه سو، ددغه مثال په ذریعه رسول الله ﷺ د خپل وفات څخه وروسته د حضرت علي ﷺ خلافت ته اشاره کول لامحاله ده چې د رسول الله ﷺ د ذکر سوو الفاظو څخه چې کوم مفهوم ثابتیږي هغه دادی کوم چې په مخکې صورت کې بیان سو، یعني دا چې رسول الله ﷺ په دغه وخت کې حضرت علي ﷺ یوازې د هغه وخت لپاره خلیفه وګرځوی چې د تبوک د غزا لپاره رسول الله ﷺ د مدینې څخه دباندې وي، د خلاصې په توګه دا خبره داسې هم ویل کیږي چې د رسول الله ﷺ د حکم سره سم د حضرت علي ﷺ هغه خلافت او د وختي انتظام په توګه په عمل کې راغلی وو، په دغه صورت کې چې د هغه وخت پر ختمېدو باندې یعني د تبوک د غزا څخه د رسول الله ﷺ د ستنېدو څخه وروسته هغه خلافت هم ختم سوی وو، هغه جزوي خلافت د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته د هغه د کلي خلافت دلیل څرنګه کیدای سي.

ځینو حضراتو لیکلي دي چې د رسول الله ﷺ دغه ارشاد (زما څخه وروسته به څوک نبي نه وي) ددې خبرې دلیل هم دی چې حضرت عیسی بن مریم ﷺ چې د آسمان څخه راکښته سي

نو دنبي په توگه به نه وي بلکه د دين محمدي جاري کوونکی او د اسلامي اميرانو او حاکمانو څخه يو امير او حاکم به وي او د هغه کار به دا وي چي خلک د شريعت محمدي پابند او پيروان جوړ کړي ، مګر د ملا علي قاري رحمة الله عليه وينا ده چي د حديث الفاظ د دې خبري خلاف نه دي چي حضرت عيسى عليه السلام به د نبي په حيثيت کي راکښته کيږي او زموږ د نبي ﷺ د شريعت د متبع په توګه به د دين محمدي اجراء او نفاذ او د اسوه رسالت محمدي د ترويج او خپرېدو دنده به سرته رسوي او په دې کي هم څه استبعاد نسته چي د هغه د دندي په ادا کولو کي د هغه لارښوونه به د وحي په ذريعه وي ، په دغه صورت کي به د (زما څخه وروسته به ځوک نبي نه وي) دغه مراد دا بيان کړل سي چي د رسول الله ﷺ څخه وروسته بل نوی نبي نه پيدا کيږي او رسول الله ﷺ خاتم النبيين په دې اعتبار دی چي د نوي پيدا کېدونکو نبيانو لړۍ پر رسول الله ﷺ ختمه سوې ده ، د رسول الله ﷺ څخه وروسته به او س بل يو نوی نبي دنيا ته نه راځي .

په دغه حديث کي چي د حضرت علي رضي الله عنه کوم فضيلت ته اشاره سوې ده که چيري رسول الله ﷺ خاتم النبيين نه وای او د رسول الله ﷺ څخه وروسته د نبوت دروازه بنده سوې نه وای نو حضرت علي رضي الله عنه به هم يو نبي وای مګر د دې مطلب دا نه دی چي دغه حديث د هغه حديث خلاف سي کوم چي په صراحت سره د حضرت عمر رضي الله عنه په حق کي نقل سوی دی که چيري زما څخه وروسته نبي وای نو هغه به حضرت عمر رضي الله عنه وای ، په حقيقت کي د دغه دواړو حديثونو مفهوم فرضي او تقديري دی يعني رسول الله ﷺ د يو امر محال په فرض کولو سره داسي وفرمايل که چيري بالفرض زما څخه وروسته د نبوت دروازه خلاصه وای نو زما په صحابه کرامو کي به ډېر خلک نبيان وای مګر دغه حقيقت پر خپل ځای محکم دی چي زما څخه وروسته به هيڅ نبي نه پيدا کيږي .

د يوې غلط فهمۍ دفع : د يو حديث : (علماء امتي کانبياء بني اسرائيل) يعني زما د امت علماء د بني اسرائيلو د نبيانو په ډول دي ، دغه حديث ډېر ويل کيږي او ښه پوهان خلک هم د دغه غلط فهمۍ ښکار دي چي دغه په حقيقت کي حديث دی مګر څرنګه چي د حديثو حافظانو لکه زرکشي ، عسقلاني ، دميري او سيوطي رحمهم الله څرګندونه کړې ده چي د دغه حديث هيڅ اصل نسته .

د علي رضي الله عنه سره مينه د ايمان علامه ده

﴿۵۸۲۹﴾ : وَعَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ

إِنَّهُ لَعَهْدُ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيَّ أَنْ لَا يُحِبَّنِي إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضَنِي إِلَّا مُنَافِقٌ. رواه مسلم.

د حضرت رزين حبيش رضي الله عنه څخه روايت دی چي حضرت علي رضي الله عنه ويلي دي په هغه ذات دي مي قسم وي چي دانې يې شنې کړې او ذي روح يې پيدا کړل چي نبئ کريم ﷺ ما ته حکم راکړ او وصيت يې وکړ چي زما سره به هغه سړي محبت کوي (يعني حضرت علي رضي الله عنه سره) چي مؤمن وي او زما سره به هغه سړي بغض او عداوت ساتي کوم چي منافق وي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۸۶، رقم: ۱۳۱ – ۷۸.

تشريح: د محبت څخه مراد هغه محبت دی چي د شرعي تقاضاوو مطابق او د تاوان څخه پرته وي لکه څرنګه چي هغه خلک چي د حضرت علي رضي الله عنه حقيقي مقام او مرتبه کموي لکه د فرقه خارجيه خلک د حب علي د محرومۍ په سبب په دغه حديث کي د ذکر سوي مؤمن مصداق نه سي جوړيدای، همدارنګه هغه خلک هم چي د حضرت علي رضي الله عنه په محبت کي غير شرعي او غير حقيقي کارونه کوي او د هغه کړنو په نتيجه کي د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما سره بغض او عداوت کوي لکه د شيعه ګانو ځيني ډلي، په دغه حديث کي د ذکر سوي مؤمن مصداق هيڅکله نه سي ګرځېدای، په هر حال د حضرت علي رضي الله عنه سره مينه درلودل د ايمان نښه ده او د هغه سره دښمني کول د نفاق نښه ده، په يو بل روايت کي چي د حضرت علي رضي الله عنه څخه منقول دی، داسي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

من احبني واحب هذين واباهما وامهما كان معي في درجتي يوم القيامة،

ژباړه: کوم څوک چي زما سره او د هغه دوو (حسن او حسين رضي الله عنهما) سره او د هغه دواړو له پلار او مور سره مينه وکړي نو هغه به د قيامت په ورځ زما سره وي. (احمد او ترمذي).

مګر د رسول الله ﷺ، حضرت علي رضي الله عنه او اهل بيت سره د ميني تقاضا داده چي د هغه ټولو صحابه کرامو سره مينه وکړل سي کوم چي له هغوی ټولو سره رسول الله ﷺ، حضرت علي رضي الله عنه او اهل بيتو مينه او تعلق درلود، لکه څرنګه چي د حضرت علي رضي الله عنه مينه د ايمان علامه ده همدارنګه د ټولو صحابه کرامو مينه د ايمان نښه ده او څرنګه چي د حضرت علي رضي الله عنه سره بغض او دښمني د نفاق نښه ده همدارنګه د هر صحابي رضي الله عنه سره دښمني کول د نفاق نښه ده، ابن عساکر د حضرت جابر رضي الله عنه څخه د رسول الله ﷺ دغه ارشاد نقل کړی دی:

حب ابي بكر وعمر من الايمان و بغضهما كفر وحب الانصار منَ الايمان وبغضهم كفر وحب العرب من الايمان وبغضهم كفر ومن سب اصحابي فعليه لعنة الله ومن حفظني فيهم انا احفظه يوم القيامة.

ژباړه: د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما سره مينه لرل د ايمان برخه ده او د هغوی سره بغض کول کفر دی، د انصارو سره مينه درلودل د ايمان برخه ده او د هغوی سره بغض کول کفر دی، کوم څوک چې زما صحابي ته بد وو ايي پر هغه دي د الله جل جلاله لعنت وي او کوم څوک چې صحابه کرامو د نورو د بد ويلو څخه منع کړي نو هغه به د قيامت په ورځ د سختيو څخه زه وساتم.

د خيبر فتح

﴿۵۸۳۰﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ وفرمايل:

خَيْبَرَ لَأُعْطِيَنَّ هَذِهِ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَى يَدَيْهِ يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

زه به دا بيرغ يو داسي سړي ته ورکوم چې د هغه په لاس به الله تعالی د خيبر قلعه فتح کړي، او هغه سړی د الله جل جلاله او رسول ﷺ سره مينه لري،

وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

او الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ هم د هغه سره مينه لري، کله چې سبا سو نو ټول خلک په دې اميد د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوه چې

وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَرْجُو أَنْ يُعْطَاهَا فَقَالَ أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالُوا هُوَ يَا

بيرغ به په هغوی کي يو چا ته ورکړل سي، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه: علي بن ابي طالب رضي الله عنه چيري دی؟ خلکو عرض وکړ اې

رَسُولَ اللَّهِ يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ قَالَ فَأَرْسِلُوا إِلَيْهِ فَأُتِيَ بِهِ فَبَصَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

د الله رسوله! هغه دی د هغه خو سترګي خوږيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: يو څوک يې راولئ، نو هغه راوستل سو، رسول الله ﷺ د هغه پر سترګو د خپلي خولې مبارکي ناړي ومږلې،

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عَيْنَيْهِ فَبَرَأَ حَتَّى كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ

او هغه ښه سوې داسي لکه بالکل چي خوږ سوي نه وي، بيا يې بيرغ ورکړ ،

فَقَالَ عَلِيٌّ يَا رَسُولَ اللهِ أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا قَالَ انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ

حضرت علي رضي الله عنه عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه به دهغه خلکو سره تر هغه وخته پوري جنګیږم ترڅو پوري چي زموږ په ډول (مسلمانان) سي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ولاړ سه او د خپلي فطري نرمۍ څخه کار واخله،

حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ

هر کله چي د جنګ ميدان ته ورسيږې نو اول د ښمنانو ته دعوت ورکړه او هغوی ته وښيه چي د اسلام قبلولو څخه وروسته د اسلام د مخه پر هغوی

مِنْ حَقِّ اللهِ فِيهِ فَوَاللهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ

د خدای جل جلاله حق دی ، په خدای جل جلاله دي مي قسم وي که ستا د تحريک او تبليغ په وجه الله تعالی د يوه سړي هم هدايت په برخه کړي نو دا به ستا لپاره

يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ. متفق عليه وذكر حديث البراء قال لعلي انت مني وانا منك في باب بلوغ الصغير.

د سرو اوښانو څخه هم ډير غوره وي، بخاري او مسلم او د حضرت براء رضي الله عنه حديث چي حضرت علي رضي الله عنه ته يې وفرمايل : ته زما څخه يې او زه ستا څخه يم په باب د بلوغ الصغير کي ذکر دی .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۷۶، رقم: ۴۲۱۰، ومسلم ۴\۱۸۷۳، رقم: ۳۴-۲۴۰۶.

د لغاتو حل: رِسلک: اي رفقک ولينک (نرمي)

تشريح: خيبر د يو ځای نوم دی چي د مدينې منورې څخه شپېته ميله ليري د شام په لور واقع دی، دغه غزا د هجرت په اووم کال رامنځته سوې وه ، نو (اې علي!) قسم په خدای، رسول الله ﷺ چي د حضرت علي رضي الله عنه کومه لارښوونه کړې وه چي کفارو ته د اسلام دعوت ورکړه نو د هغه د تاکيد لپاره رسول الله ﷺ ذکر سوې جمله په قسم کولو سره وفرمايل، د هغه تاکيد او لارښووني وجه دا احساس وو چي د جګړې او قتال په صورت کي که څه هم د غنيمت مال او نور شيان تر لاسه کيږي مګر کله چي کفارو ته په نرمۍ او حلم سره د اسلام دعوت ورکول کيږي نو

هغه دعوت زيات وختونه ګټه کوونکی سي او د مخالفينو ډېر زيات خلک د جګړې څخه پرته مسلمانان کيږي چي د اسلام اصل مقصد دی، علامه ابن همام رحمة الله عليه له همدې کبله ډېره خوږه خبره کړې ده چي د يوه مؤمن پيدا کېدل د زرو کفارو تر معدوم کولو غوره دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د کمال قرب او تعلق اظهار

﴿۵۸۳۱﴾: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ ارقم اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ عَلِيًّا مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ وَهُوَ وَلِيُّ كُلِّ مُؤْمِنٍ. رواه الترمذي.

د حضرت عمران بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: علي رضي الله عنه زما څخه دی او زه د علي رضي الله عنه څخه يم او علي رضي الله عنه د هر مؤمن دوست او مرستيال دی. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۵۹۰، رقم: ۳۷۱۲.

تشريح: علي رضي الله عنه زما څخه دی....: دغه اشاد په اصل کي د کمال قرب او تعلق، په نسب او نسل کي د اشتراک څخه کنايه ده، هغه (علي رضي الله عنه) د ټولو مؤمنانو....: په دغه الفاظو کي د قرآن کريم دغه آيت ته اشاره ده:

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ.

ژباړه: بېله شکه ستاسو دوست او مرستيال خو الله جل جلاله او د هغه رسول (صلى الله عليه وسلم) او مؤمنان دي، داسي چي د لمانځه پابندي کوي او زکوة ورکوي او عاجزي کوونکي وي.

﴿۵۸۳۲﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ حُصَيْنٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت زيد بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د چا چي زه دوست يم، علي رضي الله عنه هم د هغه دوست دی، احمد او ترمذي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\ ۳۶۸، وسنن الترمذي ۵\ ۵۹۱، رقم: ۳۷۱۳.

تشريح: د دغه حديث يو مطلب خو دا دی چي له کوم چا سره زه مينه لرم هغه د علي رضي الله عنه سره هم مينه لري او يو مطلب دا هم کيدای سي چي کوم څوک زما حمايت کوونکی او مرسته کوونکي

وي د هغه مرسته کوونکی او حمایت کوونکی علي رضي الله عنه هم دی، ددغه حدیث نور وضاحت په دریم فصل کي راځي.

﴿۵۸۳۳﴾: وَعَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيٌّ مِنِّي وَأَنَا مِنْ عَلِيٍّ وَلَا يُؤَدِّي عَنِّي إِلَّا أَنَا أَوْ عَلِيٌّ. رواه الترمذي و رواه احمد عن ابي جنادة.

د حضرت حبشي بن جناده رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: علي رضي الله عنه زما څخه دی او زه د علي څخه یم او زما د جانب څخه دي څوک وعده نه کوي خو زه په خپله یا زما د لوري علي رضي الله عنه. ترمذي او احمد

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۵۹۴، رقم: ۳۷۱۹، واحمد في مسنده ۴\ ۱۶۴.

تشريح: د یوې معاهدې داسي ماتول چي دوهمه ډله د مخکي څخه خبرداره سوې وي، نبد عهد ورته ویل کیږي، په عربو کي دا اصل وو چي کله به د دوو ډلو په منځ کي یوه صلح یا معاهده کېدل او یا به صلح او معاهده ماتېدل نو ددغه لړۍ او ضروري کړنو ذمه دار به په هره ډله کي هغه څوک وو چي دخپل قوم او ډلي مشر به وو، یا بیا د هغه په نه موجودتیا کي د هغه نیابت یوازي هغه سړی کولای سو چي دهغه مشر او سردار نژدې قریب وو، ددغه حدیث پېښه داده چي د مکې د فتح څخه وروسته په نهم هجري کال کي د حج په وخت کي دځینو ضروري دیني او ملي بوختیاوو په وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم د حج لپاره تشریف نه یووړ، نو پر خپل ځای یې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د حج امیر کړ او هغه یې ولیږی، او هغه ته یې د خپلي خوا دا ذمه داري ورکړل چي هغه د حج په وخت کي د هغه صلح نامې او معاهدې د منسوخۍ اعلان وکړي کوم چي درې کاله مخکي په شپږم هجري کال کي د حدیبیې په ځای کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د مکې د قریشو په منځ کي په عمل کي راغلې وه، چي سورة براة (سورة توبة) مشرکانو ته وواياست چي په هغه کي ددغه خبري اړوند آیاتونه نازل سوي وه او دا اعلان وکړئ چي مشرکان نجس او ناپاک دي، ددې څخه وروسته به هیڅ یو مشرک مسجد حرام ته نه راځي او په دې ضمن کي چي نور احکام او فرمانونه نازل سوي دي د هغو ټولو څخه به یې خبردار کړې.

په دغه وخت کي رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر سوی حدیث وفرمایه چي د هغه مقصد د حضرت علي رضي الله عنه د عزت ښوونه هم وه او په حقیقت کي ذکر سوې ذمه داري حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته د

نه سپارلو عذر بيانول هم وو چي د حج د امير په حيثيت په دغه سفر کي د رسول الله ﷺ لومړنی نمائنده خو ابوبکر رضی الله عنه دی مګر په عربو کي د رواجي اصولو په وجه د نقض عهد (عهد ماتولو) د منسوخۍ د اعلان ذمه داري علي رضی الله عنه ته سپارل سوې ده ځکه حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه حضرت علي رضی الله عنه ته هغه وخت وضاحت کړی وو کله چي هغه په وروسته راتګ سره د هغوی په قافله کي شامل سو چي ايا ته د امير کېدو سره راغلی يې او که د مامور کېدو سره، حضرت علي رضی الله عنه څرګنده کړل چي زه په امير کېدو سره نه يم راغلی بلکه په مامور کېدو سره راغلی يم.

د دغه پېښي څخه محققين د دغه نتيجې په اخيستلو مجبوره سوي دي چي په دغه پېښه کي دې ته اشاره وه چي د حضرت علي رضی الله عنه خلافت به د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت وروسته قائميږي.

﴿۵۸۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ آخَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَصْحَابِهِ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په منځ کي وروروَلي

فَجَاءَ عَلِيٌّ تَدْمَعُ عَيْنَاهُ فَقَالَ آخَيْتَ بَيْنَ أَصْحَابِكَ وَلَمْ تُؤَاخِ بَيْنِي وَبَيْنَ

قائمه کړې وه، بيا حضرت علي رضی الله عنه راغلی په داسي حال کي چي د سترګو څخه يې اوښکي رواني وې، او رسول الله ﷺ ته يې عرض وکړ چي تاسو د صحابه کرامو په منځ کي اخوت (وروروَلي) قائمه کړل مګر زه مو د چا ورور نه يم جوړ کړی،

أَحَدٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتَ أَخِي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ.

رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: په دنيا او آخرت دواړو کي ته زما ورور يې. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۹۵، رقم: ۳۷۲۰.

تشريح: رسول الله ﷺ د مکې مکرمې څخه په هجرت کولو سره مدينې منورې ته په راتللو سره چي تر ټولو مخکي کوم شي ته خاصه توجه وکړل هغه د مدينې د اوسېدونکو يعني انصارو او مکې څخه راتلونکو مهاجرينو په منځ کي د وروروَلۍ پر بنياد باندي د مخلصانه او ټينګ تعلق قائمول وو، نو مدينې ته د رسېدو په پنځمه مياشت رسول الله ﷺ يوه ورځ هغه ټول انصار

او مهاجرين را جمع کړل او د اخوت اسلامي فلسفه يې ورته وړاندي کړل او په انفرادي توګه يې د يوه يوه مهاجر او يوه يوه انصاري په منځ کي ورورولي قائمه کړل.

حضرت علي رضي الله عنه د هغه صحابه کرامو څخه وو چي د چا سره يې ورورګلوي نه وه قائمه سوې، په دې خبره حضرت علي رضي الله عنه سخت غمجن سو او هغه يوه سو چي کيدای سي زه نظر انداز کړل سوی يم نو هغه په ژړا د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر سو او ګيله يې وکړل چي تاسو د نورو صحابه کرامو لکه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او خارجه ابن زبير انصاري رضي الله عنه په منځ کي، د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه او حضرت عتبان بن مالک انصاري رضي الله عنه په منځ کي، د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه او حضرت عتبان بن مالک انصاري رضي الله عنه په منځ کي، د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه او حضرت ثابت بن منذر انصاري رضي الله عنه په منځ کي، د حضرت سلمان رضي الله عنه او حضرت ابودرداء انصاري رضي الله عنه په منځ کي او داسي نورو صحابه کرامو په منځ کي د ورورګلوۍ په قائمولو سره د يو بل ديني وړونه ګرځولي دي مګر د يو انصاري صحابي سره مو زما ورورګلوي نه ده قائمه کړې، پر دغه خبره باندي رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل: زه خو ستا ورور موجود يم، د دنيوي قرابت په اعتبار هم، نو بيا تا ته څه اړتيا ده چي د بل چا سره ستا ورورګلوي قائمه کړم.

حضرت علي رضي الله عنه د الله جل جلاله محبوب بنده دی

﴿٥٨٣٥﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَيْرٌ فَقَالَ اللَّهُمَّ ائْتِنِي بِأَحَبِّ خَلْقِكَ إِلَيْكَ يَأْكُلُ مَعِي هَذَا الطَّيْرَ فَجَاءَ عَلِيٌّ فَأَكَلَ مَعَهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخکي يو (پوخ) مرغه پروت و، رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه دعاء وکړل اې الله! ما ته هغه سړی راولېږې چي تا ته په خپل مخلوق کي ډير خوږ وي چي زما سره دغه مرغه وخوري، ددې دعاء څخه وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کي حضرت علي رضي الله عنه حاضر سو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې د مرغه غوښه وخوړل. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٥٩٥، رقم: ٣٧٢١.

تشريح: د ابن جوزي رحمه الله وينا ده چي دغه حديث موضوع دی او حاکم رحمه الله هم دا موضوع

ګرځولی دی او په مختصر کي لیکلي دي چي دغه روایت که څه هم په ډېرو طریقو منقول دی مګر هغه ټولي طریقې ضعیفي دي، په هر حال دغه حدیثددې خبري دلیل دی چي سیدنا علي رضي الله عنه د الله جل جلاله په نزد د هغه په مخلوق کي محبوب بنده وو، مګر شارحینو د حدیث دغه مطلب د ځینو تخصیصاتو او قیودو سره بیان کړی دی د مثال په توګه دا چي سیدنا علي رضي الله عنه د الله جل جلاله محبوب بنده وو، ددې څخه مراد دادی چي هغه د الله جل جلاله د محبوبو بندګانو څخه یو وو، یا دا چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اکا په زامنو یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په قریبانو کي د الله جل جلاله محبوب بنده حضرت علي رضي الله عنه وو، یا دا مراد دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښه چلن او ترجیحي بنیاد په وجه تر ټولو زیات استحقاق لرونکو کي د الله جل جلاله په نزد محبوب بنده حضرت علي رضي الله عنه وو، ددغه تخصیصاتو او قیودو څخه د شارحینو مقصد دادی چي د حدیث د الفاظو څخه دا مطلب واخیستل سي چي سیدنا علي رضي الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما څخه هم زیات محبوبیت درلود حال دا چي په حقیقت کي ددغه تخصیصاتو او قیودو ضرورت نسته ځکه چي اول خو دا یقیني خبره ده چي په حدیث کي د مخلوق څخه علی العموم ټول مخلوق مراد نه دی که علی العموم ټول مخلوق مراد واخیستل سي نو دا مطلب به وي چي د سیدنا علي رضي الله عنه مرتبه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم زیاته سوې وه چي نه یوازي علی الاطلاق هغه محبوب بنده دی بلکه سید المحبوبین او افضل المخلوقین هم دی، نو په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي سیدنا علي رضي الله عنه ته هیڅ ډول فضیلت نصیب کیدای نه سي، دوهم دا که چیري د یو خاص نسبت او خاص حیثیت په اعتبار حضرت علي رضي الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما څخه هم محبوب بنده کېدل ثابت وي نو بجمیع وجوه مراد نه کېدو په سبب دې ته به پر ابوبکر او عمر رضي الله عنهما باندي د علي رضي الله عنه جزوي فضیلت وایو، نو دغه جزوي فضیلت به د هغو دواړو د کلي فضیلت هیڅکله برابر نه وي چي د کثرت اجر او ثواب په وجه او بجمیع وجوه هغه ته حاصل دی نو روافض که ددغه حدیث څخه د حضرت علي رضي الله عنه خلافت پر بلا فصل باندي دلیل اخلي او پر حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما باندي د حضرت علي رضي الله عنه کلي فضیلت او غوره والی ثابتول غواړي نو دا د هغوی ناپوهي ده،

هغوی باید وګوري چي داسي الفاظ د حضرت عمر رضي الله عنه په منقبت کي هم دي لکه څرنګه چي په یو حدیث کي فرمایل سوي دي: ماطلعت الشمس علی خیر من عمر، یعني تر عمر رضي الله عنه غوره پر هیڅ انسان باندي لمر راختلی نه دی، یا په یو حدیث کي دغه الفاظ دي چي: ارفع درجة في الجنة عمر، یعني په جنت کي به د عمر رضي الله عنه درجه لوړه وي، نو ایا ددغه حدیثونو الفاظ د هغه پر

ظاهري معنی باندي په محمولو کولو سره روافض او شيعه ګان دا مني چي علي العموم په ټولو انسانانو کي تر ټولو زيات افضل او اعلی حضرت عمر رضي الله عنه دی ځکه چي د دغه حديثونو څخه دا مطلب راوځي چي د مځکي پر مخ باندي د عمر رضي الله عنه څخه غوره هيڅ انسان نسته او په جنت کي به د هيڅا درجه د عمر رضي الله عنه تر درجې لوړه نه وي ، څرګنده ده چي اهل رفض او تشيع دا خبره منلای نه سي ځکه چي دا مطلب خو اهل سنت هم مراد نه اخلي بلکه په څو تخصيصاتو او قيدو سره د حديث د الفاظو مطلب بيانوي نو بيا د حضرت علي رضي الله عنه سره اړوند دغه روايت مطلق د هغه پر ظاهري معنی باندي په محمول کولو سره علی الاطلاق د هغه پر افضيلت باندي روافضو او شيعه ګانو ته ټينګار ولی دی، يوه خبره اهل سنتو ته کول هم ضروري دي چي د دغه فضيلت مسئله ظني ده دا د ايمان او کفر معامله ګرځول نه دي پکار ، همدارنګه د دغه روايت پر موضوع ګرځولو باندي زور کول پکار دي ، په فني او تحقيقي توګه هر څومره چي صحيح وي خو په ظاهري توګه دغه سختي او تنګي بلکه پر تعصب باندي محمول کول ليري نه دي .

دور کړي او بخښني خاصه معامله

﴿۵۸۳۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنْتُ إِذَا سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَانِي وَإِذَا سَكَتُّ ابْتَدَأَنِي. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يو شی غوښتی نو ما ته به يې راکوی او که به زه پټه خوله وم نو خپله به يې راکوی ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۹۵، رقم: ۳۷۲۲.

د علم او حکمت دروازه

﴿۵۸۳۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا دَارُ الْحِكْمَةِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : زه د حکمت کور يم

وَعَلِيٌّ بَابُهَا. رواه الترمذي وقال هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وقال رَوَى بَعْضُهُمْ

او علي رضي الله عنه د حکمت د کور دروازه ده، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی او ويلي يې دي

هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ شَرِيكٍ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنِ الصُّنَابِحِيِّ وَلَا نَعْرِفُ هَذَا

الْحَدِيثَ عَنْ اَحَدٍ مِنَ الثِّقَاتِ غَيْرَ شَرِيكٍ.

چي ځينو دا د شريک څخه روايت کړی دی او د صنابحي ذکر يې ونه کړ او موږ د شريک څخه پرته دا حديث د يو ثقه سړي څخه نه پيژنو.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٥٩٦، رقم: ٣٧٢٣،

تشريح: په يوه روايت کي داسي راغلي دي: انا مدينة العلم وعلي بابها، يعني زه د علم ښار يم او علي ﷛ د دغه ښار دروازه ده، په يو بل روايت کي دغه الفاظ هم دي: فمن اراد العلم فلياته من بابه، يعني څوک چي د علم تر لاسه کول غواړي نو هغه دي د دغه دروازې په ذريعه راسي.

په هر حال علي ﷛ دروازه ده، ددې څخه دا مراد نه دی چي يوازي حضرت علي ﷛ دروازه ده بلکه دا معنی مراد ده چي علي ﷛ د دروازو څخه يوه دروازه ده مګر په دې معنی کي هم د حضرت علي ﷛ يادونه د هغه فضيلت او تکريم ظاهروي او په حقيقت کي حضرت علي ﷛ داسي مرتبه لري، په دې کي هيڅ شک نسته چي په صحابه کرامو کي د علم او حکمت کومه خاص درجه سيدنا علي ﷛ ته تر لاسه وه هغه يو څو صحابه کرامو ته په برخه سوه او په دې اعتبار سيدنا علي ﷛ ته که د اکثرو صحابه کرامو په نسبت تر ټولو زيات علمي فضيلت لرونکي وويل سي نو غير مناسب به نه وي، پاته سوه دا خبره چي ددغه روايت د ظاهري معنی مطابق يوازي علي ﷛ ددغه دروازې ولي نه ګرځول کيږي، او نورو صحابه کرامو ددغه دروزې ولي و نه ګرځول سي، نو په دې اړه دا حقيقت بايد په ذهن کي وي چي د رسول الله ﷺ څخه د فيض تر لاسه کوونکو ټولو صحابه کرامو په اړه داسي نه سي ويل کيدای چي امت ته علم نبوت يوازي هغه منتقل کړی دی او د رسول الله ﷺ څخه وروسته د علوم دين واحد مدار هغه دی، ددې په دليل کي ډېر حديثونه وړاندي کيدای سي، په هغو کي يو حديث خو د رسول الله ﷺ دغه ارشاد دی چي: اصحابي کالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم، زما ټول صحابه کرامو د آسمان ستوري په هغوی کي چي د چا اقتداء وکړئ نو هدايت به تر لاسه کړئ، ددغه څخه ماسوا دا خبره په تاريخي او واقعي توګه ثابته ده چي تابعينو د دين او شريعت کوم مختلف علوم او فنون اخذ کړل بلکه قرائت او تجويد، تفسير، حديث، فقه او نور هغه ټول هغوی يوازي د حضرت علي ﷛ څخه نه دي اخذ کړي بلکه د ټولو صحابه کرامو څخه يې اخذ کړي دي، نو ددې څخه ماسوا بله چاره نسته چي د علم او حکمت د ښار دروازه کېدل يوازي د حضرت علي ﷛ په حق کي منحصر نه کړل سي، مګر که د قضا، عدالت او منصفي، علم او فن سره

مخصوص كولو سره د حضرت علي رضي الله عنه په اړه دا وويل سي چي د هغه ذات بې مثاله وو او په دې اړه هغه پر ټولو صحابه كرامو باندي فضيلت درلود نو يقينا پر ځاى به وي ځكه چي د هغه په حق كي په ښكاره فرمايل سوي دي : انه اقضاكم، يعني علي رضي الله عنه په تاسو ټولو كي لوى قاضي دى لكه څرنګه چي د حضرت ابى په حق كي يې وفرمايل: انه اقراكم، أبى په تاسو كي تر ټولو لوى قاري دى، او د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه په حق كي يې وفرمايل: انه اعلمكم بالحلال والحرام، يعني حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه په تاسو كي د حلال او حرام په علم كي تر ټولو زيات دى.

علامه طيبي رحمه الله ليكلي دي: شيعه ګان په دغه حديث كي د ذكر سوي تمثيل څخه تمسک كوي چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د علم او حكمت د رسېدو يوازينى ذريعه حضرت علي رضي الله عنه دى، د هغه څخه ماسوا بل چا ته په دغه (علم او حكمت) كي هيڅ هم تر لاسه كيداى نه سي ځكه چي په كور كي د داخلېدو اصل ذريعه دروازه كيداى سي لكه څرنګه چي په قرآن كريم كي هم فرمايل سوي دي: واتوا البيوت من ابوابها، او رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل ځان د علم او حكمت كور ښودلى دى او د دغه كور دروازه يې حضرت علي رضي الله عنه ګرځولى دى، ځكه خضرت علي رضي الله عنه هغه دروازه ده چي د هغه په ذريعه د علم او حكمت په كور كي داخلېدل كيداى سي، مګر حقيقت دادى چي شيعه ګان څه وايي د هغه هيڅ دليل په دغه حديث كي نسته ، بېله شكه د حضرت علي رضي الله عنه د علم او حكمت كور د جنت تر كور زيات پراخ نه دى حال دا چي د جنت اته دروازې دي نو د علم او حكمت د كور دروازې تر دې زياتي ولي نه سي.

په پاى كي دا يادونه كول ضروري ده چي د دغه حديث اصل ناقل ابى الصلت عبد السلام بن صلاح هروي دى ، كه څه هم شيعه دى مګر د محدثينو په نزد رېښتونى دى، د دې څخه ماسوا د دغه حديث په اړه د محدثينو اختلافي اقوال دي ، ځينو محدثينو دغه حديث ته صحيح ويلي دي او ځينو ورته حسن ، همدارنګه ځينو ضعيف ورته ويلي دي ، او ځيني ويلي دي چي منكر دى، يحيى بن معين ويلي دي: د دغه حديث هيڅ بنياد نسته ، ځينو خلكو د دغه حديث د موضوع ګرځولو هڅه هم كړې ده مګر حافظ ابو سعيد رحمه الله وضاحت كړى دى چي دغه حديث د طريقو په اعتبار حسن دى ، نه صحيح دى او نه ضعيف دى او نه موضوع، محدثينو دغه حديث په دغه الفاظو كي نقل كړى دى: انا مدينة العلم وابوبكر اساسها وعمر حيطانها وعثمان سقفها وعلي بابها، يعني زه د علم ښار يم، ابوبكر رضي الله عنه د دغه ښار بنياد دى، عمر رضي الله عنه د دغه ښار فصيل دى، عثمان رضي الله عنه د دغه ښار بام دى او علي رضي الله عنه د دغه ښار دروازه ده.

خاص فضیلت

﴿۵۸۳۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ دَعَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا يَوْمَ الطَّائِفِ فَانْتَجَاهُ فَقَالَ النَّاسُ لَقَدْ طَالَ نَجْوَاهُ مَعَ ابْنِ عَمِّهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا انْتَجَيْتُهُ وَلَكِنَّ اللّٰهَ انْتَجَاهُ. رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د طائف په ورځ حضرت علي ﷛ راوغوښتی او د هغه سره یې په غوږ کي خبري وکړې ، (دغه خبرو ډیر وخت واخیستی) نو خلکو وویل : رسول الله ﷺ د خپل اکا زوی سره تر ډیره وخته پوري خبري وکړې، ددې اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ورسره د راز خبري نه دي کړي بلکه الله تعالی ورسره د راز خبري کړي دي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۹۷، رقم: ۳۷۲۶.

دلغاتوحل: انتجاه: من النجوی اي ساره . (د راز خبري)

تشریح: بلکه الله تعالی ورسره د راز خبري کړي دي: یعني الله ﷻ ما ته حکم کړی وو چي ځیني خبري په پټه علي ﷛ ته ورسوه ځکه د حکم الهي په عملي کولو کي ما د هغه سره پټې خبري وکړلې نه دا چي ما د هغه سره په غوږ کي خبري کولې چي د مجلس د ادب خلاف دی او هغه په غوږ کي خبري د الله ﷻ د حکم په تعمیل کي وې، نو په دغه صورت کي الله ﷻ د هغه سره پټې خبري وکړلې ، ددغه مصداق په اعتبار دغه جمله داسي ده لکه چي د قرآن کریم دغه جمله ده:

وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى.

ژباړه: او تا شیکي ونه غورځولې بلکه هغه الله ﷻ وغورځولې .

په دې اړه دا ویل زیات صحیح دي چي حضرت علي ﷛ ته د رسول الله ﷺ د هغه پټو خبرو موضوع په اصل کي د هغه غزا په اړه داسي نکتې او د راز خبري ښودل وو چي د هغه تعلق د دین په ضمن کي د راتلونکو دنیوي انتظام او معاملاتو سره وو چي د هغه عامه یادونه د حکمت خلاف وه ، دا نه چي رسول الله ﷺ د الله ﷻ له لوري د نازل سوي دیني خبري یا دیني چارو سره اړوند احکام د ټولو خلګو څخه پټ کړل او حضرت علي ﷛ ته یې ورکړل ، خپله حضرت علي

ﷺ دداسي خيال ترديد كړى دى ، د بخاري په روايت كي دي چي كله ځينو خلكو د حضرت علي ﷺ څخه پوښتنه وكړل : ايا ستاسو سره يو داسي شى سته چي د هغه ذكر په قرآن كريم كي نسته؟ حضرت علي ﷺ جواب وركړ : په هغه ذات دي مي قسم وي چي د ځمكي څخه يې دانه را شنه كړې ده او ژوندي شيان يې پيدا كړي دي زما سره ددې څخه ماسوا بل هيڅ نسته ، څه چي په قرآن كريم كي موجود دي ، مگر د كتاب هغه پوهه ما ته تر لاسه ده چي (د الله ﷻ د خاص فضل او كرم په وجه) بل چا ته ترلاسه وي، او دغه يوه صحيفه زما سره ده (چي په هغه كي د وراثت، ديت او نورو شيانو اړوند احكام ليكلي دي) .

خصوصي فضيلت

﴿۵۸۳۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ يَا

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ حضرت علي ﷺ ته وفرمايل :

عَلِيُّ لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يُجْنِبَ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ غَيْرِي وَغَيْرِكَ قَالَ عَلِيُّ بْنُ

زما او ستا څخه پرته هيڅ چا ته جائز نه ده چي هغه په جنابت كي مسجد ته دننه راسي، على بن

الْمُنْذِرِ فَقُلْتُ لِضِرَارِ بْنِ صُرَدٍ مَا مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ قَالَ لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ

منذر وايي ما د ضرار بن صرد څخه پوښتنه وكړه ددې حديث څه مطلب دى؟ هغه وويل : دا

يَسْتَطْرِقُهُ جُنُبًا غَيْرِي وَغَيْرِكَ. رواه الترمذي وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ

معنا يې ده چي زما او ستا څخه پرته هيچا ته د جنابت په حالت كي په دغه مسجد كي دننه تيريدل جائز نه دي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۹۷، رقم: ۳۷۲۷،

تشريح: اتفاقا د رسول الله ﷺ او حضرت علي ﷺ د كورو دروازې په مسجد نبوي كي دننه واقع وې او خپلو كورو ته د تللو يا راتللو په وخت كي هغوى په مسجد كي تېرېدل .

علي ابن منذر رحمه الله د دريمي هجري پېړۍ يو ستر شخصيت دى ، لوړ علمي مقام يې درلود مگر د عابد او زاهد كېدو په اعتبار هم ستر شخصيت وو ، ويل كيږي چي هغه پنځه پنځوس حجونه كړي وه ، د حديث د امامانو د يوې لوې ډلي څخه د حديثو د اورېدو او روايت كولو شرف يې په برخه وو ، كه څه هم شيعه وو مگر مستند فقيه او د محدثينو په اصطلاح

صدوق منل سوی دی او ابن حبان دهغه یادونه د حدیثو په باوري راویانو کې کړې ده.

د خدای ﷻ محبوب رسول

﴿۵۸۴۰﴾: وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ بَعَثَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشًا فِيهِمْ عَلِيٌّ قَالَتْ فَسَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ يَقُولُ اللّٰهُمَّ لَا تُمِتْنِي حَتَّى تُرِيَنِي عَلِيًّا. رواه الترمذي.

د حضرت ام عطیه (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یو ځای ته لښکر ولیږی چي حضرت علي رضی الله عنه هم په هغه کي وو، د بي بي ام عطیه بیان دی چي د علي رضی الله عنه د تلو څخه وروسته ما رسول الله ﷺ ولیدی چي لاسونه یې پورته کړي وه ویل یې چي اې الله! ما ته تر هغه وخته پوري مرګ مه راولې تر څو پوري چي علي رضی الله عنه ونه وینم. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۰۱، رقم: ۳۷۳۷.

تشریح: د دغه حدیث څخه په ښه توګه اندازه لګیدای سي چي د رسول الله ﷺ له حضرت علي رضی الله عنه سره د کومي درجې تعلق او څومره زیاته مینه وه چي د هغه په بېلوالي غمجن کېدی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د علي رضی الله عنه سره بغض کونکی منافق دی

﴿۵۸۴۱﴾: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُحِبُّ عَلِيًّا مُنَافِقٌ وَلَا يَبْغَضُهُ مُؤْمِنٌ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن غريب اسنادا.

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د علي رضی الله عنه سره منافق محبت نه لري او د علي رضی الله عنه سره مؤمن بغض او دښمني نه لري، احمد او ترمذي، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن دی او د اسناد له مخه غریب دی.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۹۳، رقم: ۳۷۱۷.

﴿۵۸۴۲﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَبَّ عَلِيًّا فَقَدْ سَبَّنِي. رواه احمد.

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي علي ﷜ ته بد وويل نو هغه ما ته بد وويل. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۶\۳۲۳.

تشريح: مطلب دا چي د حضرت علي ﷜ په اړه بد ويل لکه د رسول الله ﷺ په شان کي بد ويل دي نو د حديث مقتضی داده چي کوم څوک د حضرت علي ﷜ په شان کي بد ويل وکړي نو هغه بايد کافر کړل سي، يا دا چي بد ويونکي په هغه صورت کي کافر وګرځول سي کله چي هغه دغه بد ويل حلال وګڼي.

دغه روايت حاکم هم نقل کړی دی او طبراني د حضرت ابن اعباس ﷜ په حواله دغه حديث نقل کړی دی چي: من سب اصحابي فعليه لعنة الله والملائكة والناس اجمعين، چا چي زما اصحابو ته بد وويل نو پر هغه دي د الله ﷻ، د ملائکو او ټولو خلکو لعنت وي.

او طبراني د حضرت علي ﷜ څخه داسي نقل کړي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: من سب الانبياء قتل ومن سب اصحابي جلد. څوک چي د انبياؤ په اړه بد ويل وکړي نو هغه دي ووژل سي او څوک چي زما د اصحابو په اړه بد ويل وکړي نو هغه دي په دُرو ووهل سي.

يو مثال او يوه پېشګوئي

﴿۵۸۴۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيكَ مَثَلٌ

د حضرت علي ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل: په تا کي

مِنْ عِيسَى أَبْغَضَتْهُ الْيَهُودُ حَتَّى بَهَتُوا أُمَّهُ وَأَحَبَّتْهُ النَّصَارَى حَتَّى أَنْزَلُوهُ

د حضرت عيسی ؑ سره يو مشابهت دی، يهوديانو هغه بد وګڼل تر دې چي د هغه پر مور بي بي پر زنا تهمت ولګوی او نصاراوو دومره محبوب او خوښ وګرځوی چي هغه يې هغه

بِالْمَنْزِلَةِ الَّتِي لَيْسَ بِهِ ثُمَّ قَالَ يَهْلِكُ فِيَّ رَجُلَانِ مُحِبٌّ مُفْرِطٌ يُقَرِّظُنِي بِمَا لَيْسَ فِيَّ وَمُبْغِضٌ يَحْمِلُهُ شَنَآنِي عَلَى أَنْ يَبْهَتَنِي. رواه احمد.

درجې ته ورسوي چې د هغه لپاره ثابته نه ده ، (يعني د خداى زوى)، ددې څخه وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل : زما (يعني د علي) په معامله کي به دوه کسان هلاک سي ، يو خو هغه ډله چې زما سره ډېره مينه لري چې زما ښېګڼه ښيي کومي چې په ما کي نه وي، دويم هغه چې زما دښمن وي او زما سره له دې کبله دښمني کوي چې هغه پر ما تهمت وتړي. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ١\١٦٠.

د لغاتو حل: يقرطني: يمدحني.

تشريح: د حضرت عيسى عليه السلام د مثال په ذريعه رسول الله ﷺ چې د حضرت عيسى عليه السلام په حق کي کومه وړاند وينه وفرمايل او هغه ته يې خپله د حضرت علي رضي الله عنه سره اشاره وکړل نو هغه پوره سول ، روافضو او شيعه ګانو د علي رضي الله عنه په مينه کي د حد څخه دومره تجاوز وکړ چې پر ټولو اصحابو تر دې چې پر نبيانو هم د هغه د فضيلت قائل سول بلکه ځينو ډلو (لکه نصيريانو او داسي نورو) د حضرت علي رضي الله عنه مقام الوهيت ته ورسوى ، دهغوى په مقابله کي بله ډله د خارجيانو پيدا سول ، هغوى د حضرت علي رضي الله عنه په دښمني کي دغه حد ته ورسېدل چې لوى لوى بهتانونه يې د هغه پر شخصيت لګولي دي.

څرګنده سول چې محبت او عقيده هغه مستحسن او مطلوب دى چې نه د حد څخه متجاوز وي او د عقل او شريعت مسلمه مطابق وي، داسي محبت او عقيدت چې تر حد زيات وي په حقيقت کي ګمراهي ته بېول کوي او د غير معتدل کېدو په سبب د سيده لاري څخه وځي، ددې نتيجه دا وي چې د عيسى عليه السلام مينه او عقيده لرونکي خلګ که څه هم په ظاهره مسلمان او ديندار معلومېږي ، پر ګمراه انسان ويلو باندي مجبوره کېږي.

اهل سنت والجماعت چې کوم شي پر سيده لاره روان کړي دى هغه د ميني او عقيدې په اړه اعتدال او توازن دى چې د افراط او تفريط دواړو څخه خوندي وي، په هر حال د مؤمنانو د ژوند سرمايه دوه شيان دي يو د نبي کريم ﷺ د کورنۍ مينه او بل د اصحاب نبي تعظيم، کوم څوک چې ددغه سعادت په تر لاسه کولو سره دنيا او آخرت جوړول غواړي نو هغه بايد ددغه دواړو په منځ کي اعتدال او توازن وساتي او په دغه اعتدال او توازن سره د دواړو مينه په خپله زړه کي ځاى کړي.

امام احمد رحمه الله يو روايت نقل کړى ديچي سيدنا علي رضي الله عنه وفرمايل: يحبني اقوام حتى يدخلوا النار في حبي ويبغضني اقوام حتى يدخلوا النار في بغضي. ځيني ډلي به زما سره مينه

لري تر دې چي زما په مينه کي به د تجاوز په وجه په دوږخ کي واچول سي او ځيني ډلي به زما سره دښمني کوي تر دې چي زما د دښمنۍ په وجه به په دوږخ کي واچول سي.

امام احمد رحمة الله عليه د حضرت علي رضي الله عنه دغه دعاء نقل کړې ده: اللهم العن کل مبغض لنا وکل محب لنا غال، اې الله! زما سره پر دښمني کونکي باندي لعنت وکړې او زمونږ سره پر تجاوز کوونکيو مينه کونکو باندي لعنت وکړې.

د غدير خم واقعه

﴿۵۸۴۴﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت براء بن عازب او زيد بن ارقم (رضي الله عنهما) څخه روايت دی چي کله رسول الله

وَسَلَّمَ لَمَّا نَزَلَ بِغَدِيرِ خُمٍّ أَخَذَ بِيَدِ عَلِيٍّ فَقَالَ أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنِّي أَوْلَى

ﷺ په غدير خم نامي ځای کي تم سو نو د علي رضي الله عنه لاس يې په خپل مبارک لاس کي واخيست او ورته وه يې فرمايل: ايا تاسو خلکو ته معلومه نه ده چي د مؤمنانو په نزد

وَسَلَّمَ لَمَّا نَزَلَ بِغَدِيرِ خُمٍّ أَخَذَ بِيَدِ عَلِيٍّ فَقَالَ أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنِّي أَوْلَى

زه (محمد ﷺ) د هغوی د ځانونو څخه زيات عزيز او غوره يم. خلکو عرض وکړ هو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تاسو ته معلومه نه ده چي زه

بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ قَالُوا بَلَى قَالَ أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنِّي أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ

د هر مؤمن په نزد د هغه د ځان څخه زيات غوره او محبوب يم، خلکو وويل هو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا تاسو نه پوهېږئ چي زه د هر مؤمن په نزد

مِنْ نَفْسِهِ قَالُوا بَلَى فَقَالَ اللهم مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ اللّٰهُمَّ وَالِ مَنْ

د هغه تر ځان غوره يم؟ خلکو وويل: هو. بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: اې الله! د چا چي زه دوست يم علي د هغه دوست دی، اې الله دوستي وکړې

وَالَاهُ وَعَادِ مَنْ عَادَاهُ فَلَقِيَهُ عُمَرُ بَعْدَ ذٰلِكَ فَقَالَ هَنِيئًا يَا ابْنَ أَبِي طَالِبٍ أَصْبَحْتَ وَأَمْسَيْتَ مَوْلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ. رواه احمد.

له هغه سره چي دوستي کوي له علي رضي الله عنه سره او دښمني وکړې له هغه سره چي دښمني کوي له ده سره، ددې واقعې څخه وروسته حضرت علي رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه سره ملاقات وکړ، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل اې دابو طالب زویه! ته سهار او ماښام هر وخت خوشحاله اوسه د هر مؤمن سړي او هري مؤمني ښځي دوست او محبوب يې. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۲۸۱.

د لغاتو حل: غدير خم: اسم لغيضة على ثلاثة اميال من الجحفة.

تشريح: غدير خم د يو ځای نوم دی چي د مکې او مدينې په منځ کي حجفه ته نژدې واقع دی، د مکې څخه د جحفه فاصله تقريبا پنځوس يا شپېته ميله ده او د حجفه څخه غدير خم پر درې ميله فاصله باندي واقع دی، د هجرت په لسم کال رسول الله ﷺ د حجة الوداع د سفر څخه په ستنېدو دلته قيام کړی وو او هغه وخت ډېر صحابه کرام له رسول الله ﷺ سره ملګري وه چي رسول الله ﷺ راجمع کړل او د حضرت علي رضي الله عنه په اړه يې ذکر سوي الفاظ وفرمايل.

په دې خو تاسو پوهېږئ چي د مؤمنانو په نزد ......: د دغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ صحابه کرام د قرآن کريم دغه آيت: (النبي اولى بالمؤمنين من انفسهم...) يعني نبي د مؤمنانو په نزد د هغوی تر خپلو ځانو هم زيات محبوب وي، ته متوجه کړل او په يوه روايت کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ دغه الفاظ درې ځله وفرمايل.

زه د هر مؤمن په نزد ... : مخکي خو رسول الله ﷺ په عامه توګه د مؤمنانو لفظ وفرمايه، او بيا يې دغه خبره په دوهم وار کولو سره د نور زيات وضاحت په وجه د هر مؤمن لفظ استعمال کړ، په هر حال د دغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمايل چي هر مؤمن چي زما سره تر خپل ځان زياته مينه لري، نو ددې يوه خاصه وجه داده چي زه مؤمنانو ته د هغه خبرو حکم ورکوم چي د هغوی د ديني او دنيوي غوره والي او خير ضامن دی، حال دا چي دهغوی خپل نفس د بشريت له غوښتني سره سم هغوی تباهي ته بېول غواړي او د انسان د فطرت سليمه غوښتنه ده چي هغه کوم ذات هر وخت خپل خير خواه ګڼي نو هغه د هغه ذات زيات عزيز او محبوب وګڼي کله چي هغه پر خپله خير خواهي اماده ويني.

الهي! ته د هغه سره مينه ولرې.....: او په يوه روايت کي دلته د رسول الله ﷺ دغه ارشاد منقول دي: اللهم احب من حبه وابغض من ابغضه وانصر من نصره واخذل من خذله وادر الحق معه حيث دار، اې الله! ته د هغه چا سره مينه ولرې چي د علي رضي الله عنه سره مينه لري او د هغه چا سره بغض وکړې چي د علي رضي الله عنه سره بغض کوي او دهغه چا مرسته وکړې چي د علي رضي الله عنه مرسته

كوي او دهغه چا مرسته مه كوې چې د علي رضي الله عنه مرسته نه كوي او حق د علي رضي الله عنه سره دى چې كومې خوا ته علي رضي الله عنه وي هغه خوا ته حق وي.

د شيعه ګانو باطل استدلال: شيعه ګان چې د كومو حديثونو او روايتونو څخه د حضرت علي رضي الله عنه د بلافصل خلافت او د هغه پر فضيلت باندې استدلال كوي په هغو كې د دغه حديث ته هغوى ډېر ټينګ او قوي دليل وركوي، دهغوى وينا ده چې: من كنت مولاه فعلي مولاه، د مولا معنى د عزيز او محبوب او مرسته كونكي نه ده بلكه دغه لفظ د اولى بالخلافت په معنى كې دى، هغوى په خپل دغه دليل كې د ماقبل عبارت الفاظ اولى بالمؤمنين وړاندې كوي او وايي چې رسول الله ﷺ د خپل ځان په اړه كوم الفاظ فرمايلي وه د هغه معنى ده چې زه پر مؤمنانو باندې خپله د هغه د ځان څخه زيات د تصرف او حكومت حق لرم، هغوى وايي كه د دغه الفاظو معنى د مؤمنانو په نزد د هغوى تر ځانو هم زيات عزيز او محبوب مراد وي نو محض د دغه خبرې د بيانولو لپاره د صحابه كرامو په دومره پاملرنه راجمع كول، هغوى ته په دومره اهميت سره د مخاطب كولو او د حضرت علي رضي الله عنه په حق كې د ذكر سوې دعاء كولو ضرورت نه وو، ځكه چې دغه خبره دومره څرګنده او عامه وه چې ټول صحابه كرام په پوهېدل او منل يې، د دې څخه ماسوا كومه دعاء چې يې د حضرت علي رضي الله عنه په حق كې وكړل هغه د دغه ذات څخه ماسوا د بل چا په حق كې كېداى نه سي چې امام معصوم مفروض الطاعة وي، همدارنګه شيعه ګان دا نيتجه اخلي چې د دغه حديث څخه د پوره امت په حق كې چې د (ولا) د ځان لپاره بيان كړ هغه (ولا) د حضرت علي رضي الله عنه لپاره په څرګنده توګه ثابت سو نو دغه حديث د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت بلافصل په حق كې نص قطعي او صريح دى.

الزامي جواب: دا بايد ومنل سي چې دغه حديث صحيح دى، د حديثو د امامانو لكه امام ترمذي، امام نسائي، امام احمد او نورو دغه حديث نقل كړى دى، د دې طريقې هم ډېرې دي او د اسناد ډېروالي صحاح او حسان دى، شپاړلس صحابه كرام د دغه حديث راويان دي بلكه امام احمد رحمه الله په يوه روايت كې نقل كړي دي چې حضرت علي رضي الله عنه خپله د خلافت په زمانه كې په يو ځاى كې كله چې د هغه د مخالفينو ډله د هغه خلافت د جګړې مسئله جوړه كړې وه، خلګ په يو ميدان كې راجمع كړل او هغوى ته يې وفرمايل چې په تاسو كې هر يوه ته قسم دركوم او پوښتنه كوم چې تاسو د غدير خم په ځاى كې د رسول الله ﷺ څخه څه اورېدلي دي، هغه بيان كړئ، نو پر دې خبره ډېرشو صحابه كرامو دغه حديث بيان كړ او د خلافت علي رضي الله عنه په حق كې يې شاهدي وركړل، نو د دې خبرې زيات ارزښت نسته چې ځينو حضراتو د دغه حديث په صحيح

کېدو کي کلام کړی دی، یا دا یې ویلي دي چي د حدیث آخري برخه: اللهم وال من والاه...الخ، په حقیقت کي د دغه حدیث جزء نه دی او وروسته د دغه حدیث جزء جوړ سوی دی ، په دې کي هیڅ شک نسته چي دغه برخه هم د حدیث برخه ده او په ډېرو طریقو سره نقل سوی دی چي په هغه کي اکثر ذهبي رحمة الله علیه صحیح ګرځولي دي، مګر کوم چي د دغه حدیث سره د شیعه ګانو د ذکر سوي استدلال تعلق دی نو د هغه یقینا څه بنیاد نسته ، هغوي چي څه وایي نو هغوی ته د ناپوهی یا غلط فهمی څخه ماسوا نور څه نه سي ویل کیدای، د الزامي جواب په توګه تر ټولو مخکي خبره خو شیعه ګانو ته دا ویل کیږي چي خپله تاسو پر دې خبره متفق یاست چي د امامت په مسئله کي د دلیل په توګه د تواتر اعتبار وي یعني د امامت او خلافت د استحقاق ثابتولو لپاره هغه حدیث معتبر ګرځول کیږي چي متواتر وي، کوم حدیث چي متواتر نه وي په هغه سره د امامت پر صحت باندي استدلال نه کیږي، او دغه حدیث چي تاسو یې د نص قطعي او صحیح په ګرځولو سره خپل استدلال ګرځوئ په یقیني توګه متواتر نه دی او یوازي دا نه بلکه د دغه حدیث په صحیح کیدو کي هم اختلاف دی، دا بېله خبره ده چي دغه اختلاف قبول نه کړل سو ، کومو حضراتو چي دغه حدیث مطعون ګرځولی دی په هغوی کي د ابوداؤد سجستاني او ابوحاتم رازي په ډول د حدیثو امامان او ارباب عدل هم شامل دي، چي هغوی ته په علم حدیث کي رجوع کیږي، او د هغوی ذات د محدثینو په نزد مرجع منل کیږي،

د دې څخه ماسوا اهل حفظ واتقان مثلا بخاري، مسلم، واقدي او نورو اکابرو محدثینو رحمهم الله کي هیڅ دغه حدیث نقل کړی نه دی حال دا چي دغه حضرات د حدیث په طلب او پلټنه کي ښار په ښار او کلي په کلي ګرځېدل او د صحیح حدیثونو په یو ځای کولو سره به یې جمع کول، یعني دغه خبره نه په فني توګه د دغه حدیث په صحت کي خنډ اچوي او نه موږ د دغه حدیث د صحیح کېدو څخه انکار کوو مګر ایا دا د حیرت او تعجب خبره نه ده چي داسي حدیث د حدیث متواتر ګرځولو هڅه وکړل سي ، حال دا چي شیعه ګان د صحت امامت په دلیل کي د حدیث متواتر کېدل شرط مني نو د دې صاف مطلب د دې څخه ماسوا نو رڅه دی چي هغوی دغه حدیث د نص قطعي او صریح په منلو سره دغه حدیث متواتر ګرځي .

د مولا لفظ معنی: اوس راځئ چي دا وګورو چي شیعه ګانو د مولا لفظ پر بنیاد دغه حدیث د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت پر استحقاق باندي نص صریح ګرځوي، د دې حقیقت څه دی، د مولا لفظ یوه او دوې نه بلکه ډېري معناوي دي، رب، مالک، بادار، مرسته کونکي، دوست، تابع، پیروي کوونکی، همسایه، د اکا زوی، حلیف، زوم، ازاد سوی غلام، احسان مند او

داسي نوري معناوي يې دي، دا منل سوي اصول دي که په يو کلام کي يو داسي لفظ استعمال سي چي مختلفي معناوي ولري او په هغه کي يوه معنى د بل سره ورته والى او اشتراک هم ولري نو په هغه کي د يو خاص معنى متعين کول او مراد اخيستل به په هغه صورت کي معتبر وي کله چي د هغه يو دليل او ځرګنده قرينه موجود وي، يا که چيري هغه لفظ اختلافي سوى وي نو هغه معنى مراد اخيستل به زيات صحيح ګڼل کيږي چي په هغه کي لږ غوندي اشتراک ترلاسه کيږي، ددغه اصولو سره سم اهل سنت والجماعت وايي چي د مولا لفظ معنى د حاکم او والي مراد اخيستل صحيح نه دي، صحيح معنى يې د دوست او مرسته کونکي اخيستل دي، ځکه چي اول خو د حديث سياق او ځرګنده قرينه ددې معنى په حق کي دى،

دوهم دليل دا چي لفظ دمولا د امام يعني حاکم او والي په معنى کي مستعمل کېدل معهود او معلوم نه دى، نه په لغت کي او نه په شريعت کي، د لغاتو په امامانو کي هيچا دا يادونه نه ده کړې چي مفعل بمعنى مولا راځي يعني دا خو ويل کيږي چي دغه شى د فلاني شي ځخه غوره دى مګر دا نه ويل کيږي چي دغه شى د فلانى شى ځخه مولا دى، دوهم دا چي خپله شيعه ګان حضرت علي رضي الله عنه ته د ټول امت دوست او مرسته کوونکى وايي نو ددغه قدر مشترک په اعتبار ددغه لفظ دا معنى مراد اخيستل زيات مناسب دي، پاته سوه دا خبره که چيري رسول الله ﷺ دغه مفهوم مراد اخيستى واى نو بيا په دومره پابندۍ سره د بيانولو ځه اړتيا وه حال دا چي دغه خبره ټولو ته معلومه وه نو ددغه موالات په بيانولو سره د رسول الله ﷺ اصل مقصد خلک پر دې خبره باندي متنبه کول وو چي هيڅوک دي د علي رضي الله عنه سره بغض او عناد نه کوي،

ددغه خبرداري د اظهار لپاره اړينه وه چي خلک جمع کړل سي او بيا د علي رضي الله عنه د عظمت او بزرګۍ ثابتولو لپاره په دغه الفاظو سره د هغه منقبت بيان کړل سي، ځکه رسول الله ﷺ مخکي داسي وفرمايل: الستم تعلمون اني اولى بالمؤمنين، او بيا وروسته چي يې کومه دعاء وکړل هغه هم ددغه الفاظو په مناسبت سره وه، ځرګنده دي وي چي دغه روايت په کومو نورو طريقو سره منقول دى په هغو کي په ځينو طريقو کي مخکي خو داهل بيت نبوت ذکر دى او بيا د حضرت علي رضي الله عنه خاص ذکر دى، ددې ځخه هم دا ثابتيږي چي د رسول الله ﷺ اصل مقصد د ټولو اهل بيتو په خاصه توګه د حضرت علي رضي الله عنه مينه او توقير ته خلک متوجه کول او په دې باره کي تاکيد کول وو، يعني د روايتو ځخه هم دا ثابته ده چي دغه ارشاد په اصل کي د هغه ضرورت لپاره وو چي ځينو صحابه کرامو ته پر هغه شکايت باندي خبرداری ورکړل سي چي هغوی د حضرت علي رضي الله عنه پر خلاف اظهار کړی وو، دا هغه صحابه کرام وه چي د يو پټ عمليات

لپاره د حضرت علي رضي الله عنه سره يمن ته تللي وه ، كله چي دغه صحابه كرامو د حضرت علي رضي الله عنه سره د حجة الوداع په موقع كي يمن ته راغلل او د رسول الله ﷺ سره په حج كي شريک سول نو هغوی د حضرت علي رضي الله عنه نسبت په ځينو معاملاتو كي رسول الله ﷺ ځيني شكايتونه بيان كړل چي د اهل يمن د ځينو غلط فهميو په وجه پيدا سوي وه، نه يوازي دا بلكه ځينو صحابه كرامو د حضرت علي رضي الله عنه د ځينو خبري انكار هم كړی وو، په هغه صحابه كرامو كي يو صحابي بريده اسلمي رضي الله عنه هم وو ، د صحيح بخاري په روايت كي چي ذهبي صحيح گرځولی دی داسي دي چي كله رسول الله ﷺ د حضرت علي رضي الله عنه په شان كي د هغه صحابه كرامو شكايت واورېدی نو (د غصې له موخي يې) مخ مبارک بدل سو او وه يې فرمايل: اې بريده! ايا تا ته معلومه نه ده چي د مؤمنانو په نزد زه د هغوی تر ځانو هم زيات نژدې او محبوب يم، او بيا يې هغه الفاظ وفرمايل كوم چي په حديث كي تېر سول، خبره ډېره ارزښتناكه وه ځكه رسول الله ﷺ ټول صحابه كرام راجمع كړل او د تاكيد په توگه يې هغوی ته دغه ارشاد وفرمايه .

دعوه بيا هم نه ثابتيږي : داهل سنت والجماعت علماء وايي چي موږ ومنل چي په دغه حديث كي دمولا لفظ د اولی په معنی دی مگر دا چيري لازميږي چي په امامت او حكومت كي اولی مراد دی، داهم كيدای سي چي په قرابت او اتباع كي د اولی معنی مراد وي ، ددې قرينه د قرآن كريم په دغه آيت كي هم موجود ده:

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ

ژباړه: بېله شكه چي د ابراهيم عليه السلام سره تر ټولو زياته ځانگړتيا او قرابت هغه خلگو درلود چا چي د هغه اتباع كړې وه .

د شيعه گانو سره دليل قطعي خو څه يو ظاهر داسي دليل هم نسته چي ددغه احتمال نفي كوونكی وي، او بيا كه موږ دا هم ومنو چي په امامت او حكومت كي اولی مراد دی مگر دا خو دي ونښيي چي ددغه لفظ څخه بېله نور وضاحته د في الحال او بلافصل د قيد لزوم د كوم دليل څخه منل سوي دي ، داسي هيڅ دليل او څرگنده قرينه موجود نه ده چي دا ثابته كړي كه ددغه لفظ څخه رسول الله ﷺ اولی بالحكومت مراد اخيستي وي نو د رسول الله ﷺ مراد دا هم وو چي علي رضي الله عنه په دغه وخت كي زما ولي عهد دی او زما لومړنی خليفه ټاكل سوی دی، داهم كيدای سي چي رسول الله ﷺ د مال په اعتبار اولی بالحكومت مراد اخيستی وي ، يعني رسول الله ﷺ ددغه لفظ په ذريعه دې ته اشاره كړې وي چي يو وخت به داسي راسي چي حضرت علي

رضی اللہ عنہ به په ټولو مسلمانانو كي افضل او غوره وي او د امامت او خلافت دنده به سنبال كړي، په دې كي شک نسته چي په دغه معنى كي خو اهل سنت والجماعت هم د حضرت علي رضی اللہ عنہ اولى بالخلافت مني كله چي د هغه وخت راغلى نو د مسلمانانو هغه د اولى بالخلافت په ګرځولو سره د خلافت پر دنده باندي متمكن كړ او هغه وخت په مسلمانانو كي تر ټولو افضل او غوره وګرځېدى، لنډه دا چي مولا د اولى په معنى كي منلو څخه وروسته هم د شيعه ګانو دعوه په هيڅ ډول نه ثابتيږي.

خپله د حضرت علي رضی اللہ عنہ څخه د چا تائيد ثابتيږي: د شيعه ګانو دا خبره خو وروسته ده چي هغوى دغه حديث د حضرت علي رضی اللہ عنہ پر خلافت بلافصل باندي نص قطعي مني او د مولى لفظ هغه معنى مراد اخلي چي په لغوي، نقلي او عقلي توګه په هيڅ دول هم نه ثابتيږي، تر دې مخكي خو د حضرت علي رضی اللہ عنہ ذات دى چي د دغه حديث سره د هغه تعلق دى او هغه صاحب معامله هم دى نو بايد وكتل سي چي خپله حضرت علي رضی اللہ عنہ هم د دغه حديث هغه مفهوم مراد اخيستى دى كوم چي شيعه علماء بيانوي يا د هغوى په نزد د دغه حديث هغه معنى ده كوم چي اهل سنت والجماعت مراد اخلي تر څو چي د تحقيق او د روايت تعلق دى نو بېله شكه دغه نتيجه اخيستل كيږي چي د حضرت علي رضی اللہ عنہ په نزد د دغه حديث هغه مفهوم او مطلب نه وو كوم چي شيعه علماء يې بيانوي.

لومړى دليل خو دا دى چي حضرت ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ، حضرت عمر رضی اللہ عنہ او حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په ترتيب سره خلافت د حضرت علي رضی اللہ عنہ د خلافت څخه مقدم وو او دغه خلافت د امت په اجماع قائم سوى وو او حضرت علي رضی اللہ عنہ هم په دغه اجماع كي شامل وو، قطع نظر د دې خبري چي ځيني صريح روايتونه د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم څخه وروسته د حضرت ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ خليفه كېدل ښكاره كوي، كه په دغه حديث كي د حضرت علي رضی اللہ عنہ خلافت بلافصل او د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم څخه وروسته پر ټول امت باندي د هغه فضيلت ته صراحتا اشاره كول وي نو حضرت علي رضی اللہ عنہ به په هيڅ اجماع كي ګډون نه كولاى، نه يوازي دا چي حضرت ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ لومړى خليفه وټاكى بلكه وروسته حضرت عمر رضی اللہ عنہ او بيا د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ خلافت يې قائم كړ، دوهم دليل دا دى كه چيري د شيعه علماؤ په قول دغه حديث د حضرت علي رضی اللہ عنہ په اړه د خلافت بلافصل نص قطعي وي نو حضرت علي رضی اللہ عنہ يا حضرت عباس رضی اللہ عنہ يا د اهل بيتو څخه بل څوک د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د وصال څخه سمدستي وروسته كله چي د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د خلافت مسئله مشورې ته وړاندي سول، دغه حديث به يې وړاندي كړى واى او په دې وجه به يې د استحقاق علي

دعوه کړې وه، مګر داسي وسول چي حضرت علي رضی الله عنه د تقويت او حمايت ترلاسه کولو لپاره دغه حديث که د مثال په توګه وړاندي هم کړنو هغه وخت يې وړاندي کړ کله چي هغه د خلافت پر دنده فائز سوی وو او نورو ډلو د هغه د خلافت څخه مخ ګرځوی، دا ددې خبري څرګند ثبوت دی چي حضرت علي رضی الله عنه ښه پوهېدی چي دغه حديث د رسول الله ﷺ د سمدستي وصال څخه وروسته د هغه پر استحقاق خلافت باندي نص نه وړاندي کوي، دريم دليل دا چي د ځينو صحيح روايتونو مطابق خپله حضرت علي رضی الله عنه وضاحت کړی وو چي د رسول الله ﷺ څخه هيڅ داسي شی منصوص نه دی چي د هغه څخه د هغه يا بل چا خلافت ثابتيږي،

دلته يوازي پر دغه نکته باندي مرکوز کېدل دي چي حضرت علي رضی الله عنه دغه حديث پر خپل خلافت بلا فصل باندي نص نه منی ، څلورم دليل هغه روايت دی چي په صحيح بخاري او نورو کتابو کي راغلی دی چي رسول الله ﷺ په مرض الموت کي يوه ورځ چي حضرت علي رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنهما رسول الله ﷺ ته راغلل نو حضرت عباس رضی الله عنه، حضرت علي رضی الله عنه ته وويل: رسول الله ﷺ ته ذ دغه امر يعني خلافت په غوښتنه کولو سره وګوره، که دغه عزت زموږ په کورنۍ کي پاته سي نو ښه به وي، چي موږ ته ددې علم خپله د رسول الله ﷺ د ارشاد په ذريعه وسي مګر حضرت علي رضی الله عنه د حضرت عباس رضی الله عنه دغه خبره ونه منل او انکار يې وکړ چي زه داسي هيڅ غوښتنه د رسول الله ﷺ څخه نه کوم، ددې څخه هم په ښه ډول ثابته سول چي د شيعه ګانو دعوه هيڅ ارزښت نه لري که دغه حديث د حضرت علي رضی الله عنه د خلافت بلا فصل په حق کي نص وي نو په دې اړه رسول الله ﷺ ته د رجوع کولو ضرورت به ولې پېښېدی، او حضرت عباس رضی الله عنه به دغه خبره ولي کول چي ښه به وي، چي موږ ته ددې علم خپله د رسول الله ﷺ د ارشاد په ذريعه وسي، په داسي حال کي چي ددغه حديث او غدير خم پېښه دوې يا دوې نيمې مياشتي مخکي پېښه سوې وه او بالکل د نژدې پېښېدو په وجه د هغه دواړو حضراتو په ذهن کي په پوره توګه تازه وه .

د مولی لفظ معنی ټولو صحابه کرامو څه ګڼلې ده؟ د غدير خم د پېښې په ورځ تقريبا يو نيم لک مؤمنان موجود وه او په هغه اجماع کي زيات هغه صحابه کرام موجود وه چي د هغوی د ايمان او عمل، او د صدق او امانت شهادت په کلام الله او کلام رسول کي په زياتوب سره وارد دی، ددغه ټولي ډلي مورنۍ ژبه عربي وه او په هغه ډله کي لوی لوی فصيحان او اديبان هم موجود وه ، دلته يو لوی ارزښتناکه سوال پيدا کيږي چي هغه ټولو دغه حديث د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه واورېدی او دهغه په مطلب پوه سوي وه او مولا لفظ څه معنی

هغوی مراد اخيستې وه، ایا په هغه اجتماع کي ددغه کلام هغه مطلب اخذ کړل سوی وو کوم چي اهل سنت والجماعت يې بيانوي يعني د حضرت علي رضي الله عنه د ميني او تاکيد، يا هغه مطلب اخيستل سوی وو کوم چي شيعه ګان يې بيانوي يعني د رسول الله ﷺ خلافت بلافصل او د رسول الله ﷺ د ولي عهدی اعلان، ددغه سوال څرګند جواب د نه رد کېدونکو وجهو پر بناء دادی چي د غدير په ورځ ټولو حاضرينو ددغه حديث مطلب او د مولا لفظ معنی هغه اخيستې وه چي اهل سنت والجماعت يې بيانوي، هغه ټولو خلکو د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته چي په اتفاق سره د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه بيعت وکړ هغه يې د رسول الله ﷺ لومړی خليفه ومنی او د حضرت علي رضي الله عنه د بيعت خلافت هغوی هيڅ يادونه ونه کړل نو دا ددې خبري ټينګ دليل دی چي هغوی په ښه ډول پوهېدل چي ددغه حديث څخه د حضرت علي رضي الله عنه خلافت بلا فصل مراد نه دی، نه دا خبره قياس ته نژدې ده چي د غدير د پېښي محض دوې يا دوې نيمي مياشتي وروسته تقريبا د يو نيم لکو کسانو جماعت د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په لاس بيعت وکړ او دغه حديث يې هېر کړ او نه عقل دا منلای سي چي يو نيم لک مؤمنان په دين او ديانت کي ټول ددغه ارشاد څخه منحرف سوي وي، يا هغوی د دغه حديث د غفلت په وجه پرې اينبي وي، ددې څخه ماسوا دا حقيقت هم بايد په مخکي وي چي په ځينو روايتو کي راغلي دي چي د غدير د پېښي څخه وروسته يوه ورځ رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په مخکي خطبه وفرمايل او په هغه کي د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما شان فضيلت او د هغوی د استحقاق ښکاره کولو لپاره هغه دواړو ته په مخاطب کولو سره وفرمايل: زما څخه وروسته پر تاسو هيڅ حاکم حکومت نه کوي، څرګنده ده که د ذکر سوي حديث څخه د رسول الله ﷺ مراد د حضرت علي رضي الله عنه خليفه ټاکل وي نو بيا وروسته په حديث کي د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما په مخاطب کولو سره به يې داسي هيڅکله نه فرمايل چي زما څخه وروسته به پر تاسو هيڅ حاکم حکومت نه کوي، (يعني تاسو به حاکمان ياست)، د څرګنده دليلونو او براهينو په ذريعه ثابته ده چي ددغه حديث څخه د رسول الله ﷺ اصل مقصد د حضرت علي رضي الله عنه محبت او د هغه سره د ښه تعلق قائمولو تلقين او تائيد کول دي او د اهل بيتو په اړه دا تلقين او تاکيد رسول الله ﷺ پر ډېرو ځايو باندي فرمايلی دی مګر د محبت او خلافت په منځ کي په هر حال چي کوم فرق دی هغه د اهل نظر څخه پټ دی.

پر ټولو صحابه کرامو باندي د ارتداد الزام: د شيعه ګانو وينا ده چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته او د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د بيعت په وخت کي دغه حديث د ټولو

صحابه کرامو په ذهن کي وو، هیڅا هېر کړی نه وو مګر هغوی ټولو د ظلم او تیري، بغض او عناد په وجه د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد څخه په ډاګه انحراف وکړ، دا په اصل کي د شیعه ګانو یوه مستقله عقیده ده، هغوی صحابه کرامو ته ګمراه وایي بلکه روافض خو د هغوی د ارتداد او کفر قائل دي، دهغوی وینا ده چي د رسول الله ﷺ د وفات کېدو سره ټول مسلمانان مرتد سوي وه او علي رضی الله عنه او د هغوی څو ملګرو څخه ماسوا نور ټول صحابه کرام له دنیا څخه د کفر په حالت کي رخصت سول (معاذ الله).

پر حضرت علي رضی الله عنه باندي تهمت: شیعه ګان دا هم وایي چي امیر المؤمنین حضرت علي رضی الله عنه د خلفاء ثلاثه په بیعت کي چي ګډون وکړ یا هغه په دغه وخت کي د خپل خلافت دعوه ونه کړل یا هغه د خلافت بلا فصل ثابتولو لپاره د دغه حدیث څخه استدلال ونه کړ نو د هغه سبب تقیه وه، یعني هغه د ظلم او بیري څخه حق پټ کړ، د مجبورۍ او زور په وجه یې د خلفاء ثلاثه په بیعت کي ګډون وکړ او د عامو مسلمانانو د ټولنیز او سیاسي طاقت سره سم د غاصبینو یعني د ابوبکر صدیق، عمر فاروق او عثمان رضی الله عنهم د خلافت څخه یې انحراف ونه کړ، او همدا رنګه دغه ناپوهان د دروغو او افتراء په ذریعه د حضرت علي رضی الله عنه پر ذات د بې غیرتۍ او کم همتۍ ویلو مرتکب سو، ځکه چي سیدنا علي رضی الله عنه خو مره ستر افرادي او ذاتي طاقت درلود او د کوم بې مثال مېړانه خاوند وو د هغه په وجه دا خبره ممکن نه ده چي هغه د خپل خلافت بلا فصل لپاره دغه نص او رېدلی وي او د ضرورت په وخت کي د وړاندي کولو او په دې باندي د عمل کولو څخه منع سوی وي.

هغوی ته دا احساس نسته چي د صحابه کرامو په اړه خبره رسول الله ﷺ ته رسیږي: د صحابه کرامو او صدر اول مؤمنانو په اړه دومره جارحانه او سختې عقیدې درلودلو په صورت کي روافضو چي کوم نظر اختیار کړی دی ددې سبب د دین او اسلام باطل ګرځول لازمیږي ځکه چي هغه سترو کسانو چي د دین او شریعت د نقل او روایت مدار دي که د شیعه او رافضي ډلي په قول محض د نفسیاتي جذباتو او خواهشاتو سره نصوص پټولای سي د ظلم او تیري لار اختیارولای سي پر حق باندي د دروغو او افتراء پرده اچولی سي نو بیا څه شی پاته کیږي چي په څرګنده ثابت کړي چي دغه کسانو موږ ته اسلام را رسولی دی او د حدیثونو او روایتونو په صورت کي د دین او شریعت کومه بنیادي سرمایه چي موږ ته منتقل سوې ده هغه ټول لغو او باطل دي، معاذ الله، بلکه په حقیقت کي خو خبره رسول الله ﷺ ته رسیږي چي (معاذ الله) د غیر معتبرو، بد دیانته او داسي بې کرداره خلګو دومره لویه ډله د رسول الله ﷺ

په صحبت كي ډېر وخت پاته وه چي هغه ته د رسول الله ﷺ د يو ربع صدۍ د پرله پسې تبليغي هڅي او تربيتي هڅو هم ددين او مذهب او د اخلاقو او كړنو پر سيده لاره باندي په تللو كي كامياب نه سو، والله ان هذا لشئ عجاب، او بيا څرنګه چي مخكي يادونه وسول چي خپله د سيدنا علي رضي الله عنه ذات هم خوندي پاته نه سو، يو لوى الزام خو پر هغه هم راځي چي هغه د حق په تاكيد كولو او د حق په غوښتلو كي سستي او كمزوري وښودل او د سستۍ لاري يې اختيار كړل.

د بي بي فاطمې (رض) نكاح

﴿۵۸۴۵﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ خَطَبَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَاطِمَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا صَغِيرَةٌ فَخَطَبَهَا عَلِيٌّ فَزَوَّجَهَا مِنْهُ. رواه النسائي.

د حضرت بريده رضي الله عنه څخه روايت دى چي ابوبكر او عمر رضي الله عنهما د بي بي فاطمې لپاره خپل پيغام وليږى (يعني دواده) ددې پيغام په جواب كي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: فاطمه اوس كوچنۍ ده، بيا علي رضي الله عنه خپل پيغام وروليږى او رسول الله ﷺ د بي بي فاطمې او حضرت علي رضي الله عنه نكاح سره وكړل. نسائي.

تخريج: سنن النسائي ٦\٦٢، رقم: ٣٢٢١.

تشريح: هغه كم عمره ده، او په يوه روايت كي د (فسكت) الفاظ دي يعني رسول الله ﷺ د هغه پر پيغام پټه خوله سو او جواب يې نه وركړ، كېداى سي چي دغه جواب وركول په بل وار پيغام وركولو باندي سوى وي يعني په اول وار خو رسول الله ﷺ سكوت اختيار كړى وي بيا كله هغه په دوهم وار پيغام وركړى وي نو رسول الله ﷺ دغه جواب وركړى وي چي فاطمه رضي الله عنها كم عمره ده

بيا چي حضرت علي رضي الله عنه .... : په ځينو روايتو كي راغلي دي چي ام ايمن رضي الله عنها، حضرت علي رضي الله عنه ته وويل چي د فاطمې رضي الله عنها لپاره ته ولي د رسول الله ﷺ څخه غوښتنه نه كوې، ته خو د رسول الله ﷺ د اكا زوى يې ستا د غوښتني منلو زيات امكان دى، حضرت علي رضي الله عنه د دې په اورېدو سره جواب وركړ چي ددغه خبري په كولو سره ما ته شرم محسوسيږي، بيا په يوه بله ذريعه دغه خبره رسول الله ﷺ ته ورسېدل نو رسول الله ﷺ د خوښۍ اظهار وكړ او كله چي حضرت علي رضي الله عنه ته د رسول الله ﷺ خوښي معلومه سول نو هغه خپله غوښتنه د رسول الله ﷺ په وړاندي وكړل او رسول الله ﷺ د بي بي فاطمې رضي الله عنها نكاح د هغه سره وكړل.

په یو بل روایت کي چي ابو الخیر قزویني د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه څخه نقل کړی دی د بي بي فاطمې رضی الله عنها د نکاح پېښه په تفصیل سره داسي بیان سوې ده چي مخکي ابوبکر صدیق رضی الله عنه د بي بي فاطمې رضی الله عنها لپاره رسول الله ﷺ ته درخواست وکړ نو رسول الله ﷺ هغه ته جواب ورکړ چي اې ابوبکر! د فاطمې په اړه تر څو الهي فیصله نه ده نازل سوې، بیا حضرت عمر رضی الله عنه او بیا نورو قریشو درخواست وکړ نو رسول الله ﷺ ټولو ته دغه جواب ورکړ کوم چي یې ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ورکړی وو، بیا وروسته ځینو خلکو حضرت علي رضی الله عنه ته وویل که چیري ته د فاطمې رضی الله عنها لپاره رسول الله ﷺ ته درخواست وکړې نو کیدای سي چي رسول الله ﷺ د هغې نکاح ستا سره وکړي، حضرت علي رضی الله عنه ورته وویل چي کله د قریشو عزتمندو خلکو ددغه درخواست قبولیت تر لاسه نه کړ نو بیا زه د خپل درخواست امېد څرنګه ولرم، په پای کي حضرت علي رضی الله عنه پیغام ولیږی او د هغه د پیغام په اړه رسول الله ﷺ وفرمایل: زما پروردګار ما ته دا حکم راکړی دی ، حضرت انس رضی الله عنه وایي چي څو ورځي وروسته رسول الله ﷺ زه وغوښتلم او راته یې وفرمایل: ولاړ سه او ابوبکر، عمر بن خطاب، عثمان بن عفان، عبد الرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص، طلحه، زبیر رضی الله عنهم او په انصارو فلاني او فلاني ما ته راوغواړه، انس رضی الله عنه وایي ما هغه ټول راوبلل او ټول د رسول الله ﷺ په مخکي پر خپلو خپلو ځایو کښېنستل، هغه وخت حضرت علي رضی الله عنه د یو کار لپاره تللی وو، رسول الله ﷺ دغه خطبه وفرمایل:

الحمد لله المحمود بنعمته المعبود بقدرته المطاع بسلطانه المرهوب من عذابه وسطوته النافذ امره في سمائه وارضه الذي خلق الخلق بقدرته ومیزهم باحکامه واعزهم بدینه واکرمهم بنبیه محمد ﷺ ، ان الله تبارک وتعالی اسمه وعظمته جعل المصاهرة سببا لاحقا وامرا مفترضا او شج به الارحام والزمه للانام فقال عز من قائل وهو الذي خلق من الماء بشرا فجعله نسبا وصهرا وکان ربک قدیرا وامر الله تعالی یجري الی قضائه وقضاوه یجري الی قدره ولکل قضاء قدر ولکل قدر اجل ولکل اجل کتاب یمحو الله مایشاء ویثبت وعنده ام الکتاب.

بیا یې وفرمایل: الله جل جلاله ما ته حکم کړی دی چي زه د خپلي لور فاطمه بنت خدیجة رضی الله عنها نکاح د علي بن ابي طالب رضی الله عنه سره وکړم، نو تاسو خلک شاهدان اوسئ چي ما د فاطمې رضی الله عنها نکاح په څلور سوه مثقاله سپینو زرو وکړل، که علي رضی الله عنه راضي وي، بیا رسول الله ﷺ یو غاب راوغوښتی او زموږ مخکي یې کښېښود اووه یې فرمایل: وه یې خورئ، موږ هغه خوړل چي ناڅاپه علي رضی الله عنه هم راغلی او د رسول الله ﷺ نژدې کښېنستی، رسول الله ﷺ د هغه په لیدو سره وخندل او بیا یې هغه ته په کتلو سره وفرمایل: الله جل جلاله ما ته حکم راکړی دی چي ستا سره د

فاطمې ﷺ نکاح په څلور سوه مثقاله سپینو زرو وکړم که ته راضي يې، حضرت علي ﷺ جواب ورکړ: يقينا زه په دې راضي يم اې د الله رسوله! ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دغه دعاء وفرمايل:

جمع الله شملكما واسعد جدكما وبارك عليكما واخرج منكما كثيرا طيبا .

ژباړه: الله ﷻ دې تاسو دواړو ته د زړه مينه او ښه ملګرتيا درکړي، تاسو دواړه دې خوشبخته وګرځوي، پر تاسو دواړو دې برکتونه نازل کړي او تاسو دواړو ته دې پاک اولادونه درکړي.

حضرت انس ﷺ وويل: قسم په خدای! د رسول الله ﷺ د دغه دعاء په برکت الله ﷻ هغوی دواړه په ډېرو پاکو اولادو ونازول.

په مسجد کې د حضرت علي ﷺ دروازه

﴿۵۸۴۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِسَدِّ الْأَبْوَابِ إِلَّا بَابَ عَلِيٍّ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې (په مسجد نبوي) کې رسول الله ﷺ د ټولو خلکو دروازې بندې کړې مګر د علي ﷺ د کور دروازه يې د مسجد خوا ته پرېښودل. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۹۹، رقم: ۳۷۳۲.

تشريح: د ځينو صحابه کرامو د کورو دروازې په مسجد نبوي کې دننه وې، د دغه احتياط له موخې چې حائضه ښځه يا جنب سړی د هغه دروازو په ذريعه خپلو کورو ته د تللو او راتللو په وخت کې په مسجد کې تېر نه سي نو رسول الله ﷺ هغه ټولو صحابه کرامو ته حکم وکړ چې هغوی دخپلو کورو هغه دروازې چې په مسجد کې دننه واقع وې، بندې کړي، مګر حضرت علي ﷺ د دغه حکم څخه مستثنی دی، او د هغه دروازه يې په مسجد کې دننه پرېښودل، همدارنګه د رسول الله ﷺ په حکم سره هغه دا خاص اجازه وه چې هغه د جنابت په حالت کې هم په مسجد کې دننه تېرېدای سي، پاته سوه د هغه حديث خبره چې د مناقب ابوبکر ﷺ په باب کې نقل سوې ده او په هغه کې دادي چې رسول الله ﷺ د حضرت ابوبکر صديق ﷺ د کلکين څخه ماسوا د نورو ټولو صحابه کرامو د کورو د کلکينانو بندولو حکم وکړ چې په مسجد کې دننه خلاص وه، نو د دغه حديث او هغه حديث په منځ کې هيڅ اختلاف نسته ځکه چې د حضرت

ابوبکر صدیق رضی الله عنه په اړه دا وضاحت دی چي رسول الله ﷺ هغه حکم د مرض الموت په زمانه کي وړکړی وو ، حال دا چي د حضرت علي رضی الله عنه په اړه حدیث کي داسي وضاحت نسته ځکه نو دا ویل کیږي چي دغه حکم رسول الله ﷺ مخکي ورکړی وو، او دا خبره چي د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د فضیلت څرګندونکی حکم د مرض الموت د زماني دی، دعلماؤ دغه قول ټینګ ګرځوي چي ددغه حکم په ذریعه د رسول الله ﷺ اصل مقصد د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت ته اشاره وه ، ددې څخه ماسوا د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره تعلق لرونکی حدیث زیات صحیح او زیات مشهور دی ځکه چي هغه بخاري او مسلم نقل کړی دی او د حضرت علي رضی الله عنه سره تعلق لرونکی دغه حدیث ترمذي نقل کړی دی او دا یې هم ویلي دي چي دغه حدیث غریب دی ، که څه هم د متن او اسنادو په اعتبار دغه حدیث هغه غریب ګرځولی دی یا د معنی او مفهوم په اعتبار .

ملا علي قاري رحمه الله ددغه حدیث په اړه بحث کړی دی او د هغه څخه د ترمذي دغه حدیث ته غریب ویل محل نظر معلومیږي ، هغه د امام احمد اونورو په حواله سره د حضرت زید ابن ارقم رضی الله عنه دغه روایت نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته حکم سوی دی چي د علي رضی الله عنه د دروازې څخه ماسوا نوري ټولي دروازې بندي کړم ، د ریاض په حواله یې لیکلي دي چي په دې کي احمد د حضرت زید ابن ارقم رضی الله عنه څخه داسي نقل کړي دي چي د رسول الله ﷺ د ځینو اصحابو دروازو مسجد هغوی لاره جوړه کړې وه نو یوه ورځ رسول الله ﷺ حکم وکړ چي د علي رضی الله عنه د دروازې څخه ماسوا نوري ټولي دروازې دي بندي کړل سي ، زید رضی الله عنه بیان وکړ چي د رسول الله ﷺ د حکم په اوریدو سره ځینو خلګو خبري وکړلې نو رسول الله ﷺ د خطبې لپاره ولاړ سو او د حمد و ثناء وروسته یې وفرمایل: حقیقت دادی چي ما ته د الله جل جلاله له خوا حکم سوی دی چي د علي رضی الله عنه د دروازې څخه ماسوا نوري ټولي دروازې بندي کړم ، اوس په تاسو کي ځینو خلک خبري کوي ، نو زه د الله جل جلاله په قسم کولو سره وایم چي ما د بندولو حکم د خپل ځان څخه نه دی کړی او نه مي د یوې دروازې د خلاصولو استثناء د خپل ځان څخه کړې ده، ما ته چي کوم حکم څرنګه راکړل سوی دی هم هغسي ما جاري کړی دی، ملا علي قاري رحمه الله دا هم لیکلي دي چي ذکر سوی حدیث د ابن عباس رضی الله عنه څخه ماسوا د حضرت جابر رضی الله عنه څخه هم منقول دی ، ملا علي قاري رحمه الله وضاحت کړی دی چي دغه حدیث صحیح نه دی، صحیح هغه حدیث دی چي د ابوسعید رضی الله عنه څخه بخاري او مسلم نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ابوبکر رضی الله عنه د دروازې یا کلکین څخه ماسوا بله دروازه یا کلکین دي په مسجد نبوي کي

خلاص نه پرېښودل سي ، او كه چيري د حضرت علي ﷺ سره تعلق لرونكى حديث صحيح هم وي نو دغه دواړه حديثونه به د بېلو حالاتو محمول وګرځول سي چي د دغه دواړو روايتو په منځ كي تضاد او اختلاف معلوم نه وي .

د قربت خاص مقام

﴿۵۸۴۷﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَتْ لِي مَنْزِلَةٌ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ تَكُنْ لِأَحَدٍ مِنَ الْخَلَائِقِ فَكُنْتُ آتِيهِ كُلَّ سَحَرٍ فَأَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللهِ فَإِنْ تَنَحْنَحَ انْصَرَفْتُ إِلَى أَهْلِي وَإِلَّا دَخَلْتُ عَلَيْهِ. رواه النسائي.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ په نظر كي زما مرتبه دومره وه چي په مخلوق كي دومره مرتبه د هيچا نه وه، زه به سهار وختي د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضريدم او ويل به مي السلام عليكم يانبي الله! كه نبئ كريم ﷺ به د سلام په جواب كي غاړي تازه كړې نو زه به خپل كور ته وګرځېدم او كه رسول الله ﷺ به غاړي تازه نه كړې نو زه به كور ته دننه ورغلم . نسائي

تخريج: سنن النسائي ۳\۱۳، رقم: ۱۲۱۱.

د لغاتو حل: سحر: اي باول اوقاته. (په لومړي وخت كي)

تشريح: د علماؤ د دغه قول مطابق د يو چا كور ته د ننه وتلو د اجازې غوښتلو لپاره چي كوم سلام ادا كيږي د هغه په جواب كي د سلام كول د كور د خاوند لپاره ضروري دي، دا وضاحت كيږي چي د حضرت علي ﷺ د سلام په اورېدو سره به رسول الله ﷺ مخكي د هغه پر سلام جوابي سلام ادا كوى او بيا به يې غاړه تازه كول ، او د كومو علماؤ مطابق چي د كور پر خاوند باندي جوابي سلام ضروري نه دى د هغوى په نزد د دغه وضاحت ضرورت نسته.

د سيدنا علي ﷺ د دغه روايت په ذريعه چي رسول الله ﷺ د خپل كوم قربت او بې تكلفى ذكر كړى دى هغه يقينا د هغه خاص مرتبه وه چي د هغه څخه ماسوا بل چا ته تر لاسه نه ده ځكه چي هغه د بي بي فاطمې ﷺ په نسبت سره او د رسول الله ﷺ د اكا د زوى كېدو په حيثيت سره د رسول الله ﷺ كور ته بې تكلفه تګ راتګ او د غير معمولي مجالست حق تر ټولو زيات درلود .

هغه دعاء چې مستجابه سوه

﴿۵۸۴۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ كُنْتُ شَاكِيًا فَمَرَّ بِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ راغلی او زه ناروغه وم او

أَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ أَجَلِي قَدْ حَضَرَ فَأَرِحْنِي وَإِنْ كَانَ مُتَأَخِّرًا فَارْفَغْنِي وَإِنْ

ویل مي اې خدایه! که زما دمرگ وخت راغلی وي نو په مرگ راکولو سره راحت راکړې او که اوس لا دمرگ وخت نه وي راغلی نو زما په ژوند کي پراخي راولې او که دا ناروغي امتحان وي

كَانَ بَلَاءً فَصَبِّرْنِي فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ قُلْتَ فَأَعَادَ

نو ما ته صبر راکړې، رسول الله ﷺ وفرمایل: تا څنګه ویلي دي بیا ووایه، ما د دعاء الفاظ بیا

عَلَيْهِ قَالَ فَضَرَبَهُ بِرِجْلِهِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ عَافِهِ أَوْ اشْفِهِ شك الراوي قَالَ فَمَا اشْتَكَيْتُ وَجَعِي بَعْدُ. رواه الترمذي وقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

تکرار کړل، رسول الله ﷺ په پښې وهلو سره وفرمایل: اې الله! ده ته عافیت ورکړې یا شفاء ورکړې، راوي ته شک دی چې رسول الله ﷺ کوم الفاظ وفرمایل، د علي رضي الله عنه بیان دی ددې دعاء څخه وروسته بیا ما ته دا شکایت یا ناروغي هیڅکله پېښه نه سول. ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دی.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۲۳، رقم: ۳۵۶۴.

د لغاتو حل: ارفغني: وسع لي في المعيشة باعطاء الصحة. (په روغتیا سره په ژوند کي پراخي)

تشریح: فارفغني، د فاء په زور او د غین په جزم سره منقول دی چې د رفاغه څخه دی، او معنی یې د پراختیا او فراغت ده، په یوه صحیح نسخه کي دغه لفظ په عین سره (فارفعني) منقول دی چې په خپله پښه یې علي رضي الله عنه پوري واهه چې په دغه معامله کي پر خپل غفلت باندي خبردار سي او د شکایت پر ژبه راوړلو څخه منع سي، د پښې مبارکي د وهلو په برکت برخمن سي او د رسول الله ﷺ قدم په قدم متابعت ور په برخه سي.

دا د راوي شک دی، دغه جمله د یو بل راوي ده چې هغه څرګنده کړې ده چې په دغه وخت کي راوي خپل شک ظاهر کړی دی چې رسول الله ﷺ یا خو (اللهم عافه) الفاظ وفرمایل او یا

(اللهم اشفه) الفاظ، په هر حال د رسول الله ﷺ په دعاء كي دا تعليم او تلقين پټ دی چي ناروغ لره دغه دعاء كول پكار دي چي اې الله! ما ته عافيت راكړې، اې دالله! ما ته شفاء راكړې، په دعاء كي د ترديد اړخ اختيارول يعني داسي ويل چي يا دا وكړې او يا هغه وكړې لكه څرنګه چي د حضرت علي رضي الله عنه دعاء وه، دا غير مناسب خبره ده ځكه چي د ترديد اړخ د يو ډول زور او جبر مفهوم ظاهروي.

مختصر حالات: امير المؤمنين سيدنا علي رضي الله عنه بن ابو طالب قريشى دی كنيت يې ابو الحسن هم وو او ابو تراب هم، په كم عمر كي تر ټولو لومړنی اسلام راوړونكی دی، د اسلام قبلېدو په وخت كي د نوموړي په عمر كي اختلاف دی ، يو قول دادی چي د اسلام قبلېدو په ورځ يې پنځلس كاله عمر وو، ځينو حضراتو اته كاله او ځينو لس كاله بيان كړي دي، سيدنا علي رضي الله عنه د تبوک د غزا څخه وروسته په نورو ټولو غزاوو كي د رسول الله ﷺ سره ګډون كړی دی ، د تبوک د غزا په وخت كي رسول الله ﷺ هغه د خپلي كورنۍ خليفه وټاكی او په مدينه كي يې پرېښود، او دا يې ورته فرمايلي وه چي ايا ته په دې خبره خوشحاله نه يې چي زما په نزد ستا هغه درجه ده كوم چي د موسى عليه السلام په نزد د هارون عليه السلام ده، حضرت علي رضي الله عنه غنم رنګه وو، سترګي يې غټي وې، قد يې ميانه، نس يې غټ او د سر وېښتان يې لږ پورته وه، ږېره يې ګڼه او اوږده وه، خوله يې پراخه وه او د سر او ږيري وېښتان يې سپين سوي وه، د ذي الحجه ۱۸ نېټه ، ۳۵ هجري كال د جمعې ورځ د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت ورځ ده د حضرت علي رضي الله عنه مسند خلافت وسو او د رمضان په اووه لسمه نېټه په ۴۰ هجري كال كي د جمعې په ورځ د سهار د لمانځه پر وخت په مسجد كي يو شقي عبد الرحمن ابن ملجم په توري سره وژونكې حمله وكړل چي د هغه څخه درې شپې وروسته واصل بحق سو او د شهادت په درجه ونازول سو، ځينو تاريخ پوهانو د وفات نېټه د رمضان المبارک ۱۹ نېټه ۴۰ هجري كال بيان كړی دی او د وژونكې حملې پېښنه ددغه نېټي څخه دوې ورځي مخكي بيان كړې ده، په غسل وركونكو كي دواړه زامن حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما څخه ماسوا حضرت عبد الله بن جعفر رضي الله عنه هم وو.

حضرت حسن رضي الله عنه د جنازې لمونځ وركړ او په تياره كي يې دفن كړ، د حضرت علي رضي الله عنه عمر ۶۳ كاله او د ځينو حضراتو مطابق ۶۵ كاله او د يوه قول مطابق ۷۰ كاله وو، خلافت يې څلور كاله او نهه مياشتي وو.

==========

بَابُ مَنَاقِبِ الْعَشَرَةِ الْمُبَشَّرَةِ رضي الله عنهم

(د عشره مبشره رضي الله عنهم د مناقبيو بيان)

عشره مبشره د هغه لسو سترو صحابه کرامو ډلي ته وايي چي رسول الله ﷺ په ژوند کي د جنت خاص زيری وزکړی وواو هغه دادي: ١- حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه، ٢- حضرت عمر فاروق رضي الله عنه، ٣- حضرت عثمان غني رضي الله عنه، ٤- حضرت علي رضي الله عنه، ٥- حضرت طلحه رضي الله عنه، ٦-حضرت زبير رضي الله عنه، ٧- حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه، ٨- حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه، ٩- حضرت ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه، ١٠- او حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه.

دغه ټول حضرات قريش دي او د دوی په اړه چي کوم افضيلت، مناقب او حديثونه منقول دي هغه د نورو په حق کي منقول نه دي، دلته دا څرګندول ضروري دي چي د جنت دغه خاص زيری يوازي د دغه لسو صحابه کرامو په اړه منقول نه دی بلکه اهل بيت يعني د رسول الله ﷺ اولاد او ازواج مطهراتو په حق کي هم او د دوی څخه ماسوا د نورو صحابه کرامو په حق کي هم منقول دی.

يوازي د دغه لسو صحابه کرامو د يادوني لپاره د دغه باب قائمولو وجه د دې څخه ماسوا بل هيڅ نه ده چي په يو حديث کي يا په بېلو بېلو حديثونو کي په مختلفو حيثيتو سره د دوی چي کوم ذکر راغلی دی هغه يو ځای سي او په دغه باب کي دې ته اشاره ده چي د صحابه کرامو دغه مبارکي ډلي (عشره مبشره) ته په دغه ترتيب سره پر ټولو صحابه کرامو باندي فضيلت او غوره والی تر لاسه دی چي مخکي خلفاء اربعه تر ټولو افضل دي او بيا پاته شپږ صحابه کرام تر نورو ټولو افضل دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حضرت عمر رضي الله عنه په نزد د خلافت مستحقين

﴿٥٨٤٩﴾: عَنْ عُمَرَ قَالَ مَاأَحَدٌ أَحَقَّ بِهَذَا الْأَمْرِ مِنْ هَؤُلَاءِ النَّفَرِ الَّذِينَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَنْهُمْ رَاضٍ فَسَمَّى عَلِيًّا وَعُثْمَانَ وَالزُّبَيْرَ وَطَلْحَةَ وَسَعْدًا وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ. رواه البخاري.

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه وويل: ددې امر (يعني خلافت) د هغه خلکو څخه زيات مستحق څوک نسته د چا څخه چي رسول الله ﷺ د وفات تر وخت پوري راضي او خوشحاله وو، ددې څخه وروسته حضرت عمر رضي الله عنه دا نومونه واخيستل علي، عثمان، زبير، طلحه، سعد، عبدالرحمن. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷/۵۹، رقم: ۳۷۰۰.

د لغاتو حل: الامر: اي امر الخلافة (د خلافت چاري).

تشريح: .... راضي او خوشحاله له دنيا څخه ولاړی، يعني هسي خو رسول الله ﷺ د خپلو ټولو اصحابو څخه راضي او خوشحاله وو مگر په خاصه توگه د دغه خلکو څخه زيات راضي او خوشحاله وو، او د دوی څخه د رسول الله ﷺ راضي او خوشحاله کېدل په يقين سره ټولو خلکو ته معلوم هم وه، يا د حضرت عمر رضي الله عنه مراد د دغه خلکو په اړه د رسول الله ﷺ يو داسي خاص رضا ته اشاره کول وو چي د هغه په سبب د هغوی د خلافت مستحقين کېدل ثابت کېدل په هر حال د دغه الفاظو اصل مقصد د ذکر سوو حضراتو ترجيحي حيثيت ظاهرول وو چي د هغه په وجه حضرت عمر رضي الله عنه دا بيان وکړ چي د دغه کسانو د عشره مبشره کېدو په وجه رسول الله ﷺ د نورو صحابه کرامو په نسبت د دغه خلکو څخه زيات راضي او خوشحاله وو، حضرت عمر رضي الله عنه په دغه وخت کي د عشره مبشره څخه محض شپږ حضرات ذکر کړي دي چي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او خپله د حضرت عمر رضي الله عنه تر ټولو زيات افضل کېدل خو ټولو ته معلوم وو، ځکه نو د دغه دواړو د نومو ذکر کولو اړتيا نه وه، دريم کس حضرت ابو عبيده بن الجراح رضي الله عنه چي رسول الله ﷺ امين امت، او امين حق الامين ويلي وه، د حضرت عمر رضي الله عنه څخه مخکي وفات سوی وو او څلورم کس حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه اخښی وو ځکه حضرت عمر رضي الله عنه د دغه احتياط په وجه د هغه يادونه ونه کړل چي خلک دا تهمت ونه وايي چي د خلافت د مستحقينو په فهرست کي د سعيد رضي الله عنه نوم د قريب والي په وجه راغلی دی، په ځينو روايتو کي راغلي دي چي حضرت عمر رضي الله عنه د سعيد رضي الله عنه نوم د هغه خلکو په ډله کي ذکر کړی وو چي د هغوی څخه رسول الله ﷺ له دنيا څخه خوشحاله او راضي تشريف يووړ، مگر ارباب حل وعقد او اصحاب شوری کي د هغه نوم نه وو.

قيام خلافت: څرگنده دې وي چي امامت او خلافت په شرعي توگه جائز او قانوني يا خو په هغه صورت کي وي چي ارباب حل وعقد هغه سړی امام او خليفه وټاکي چي د دغه عظيم منصب اهل او مستحق وي لکه څرنگه چي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه خلافت قائم سو، يا په

هغه صورت كي وي چي امام او خليفه په تعين او صراحت سره يو داسي سړی خپل ځای ناستي وټاكي چي د خلافت د سنبالولو اهليت او وړتيا ولري لكه د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه پر ټاكنه باندي د حضرت عمر رضي الله عنه خلافت قائم سو او كه يو داسي څوک خليفه وټاكل سي چي د خپل وجاهت او حيثيت په اعتبار معقول وي او تر هغه افضل سړی موجود وي نو د هغه خلافت به په شرعي او قانوني توگه جائز منل كيږي ځكه چي د خلفاء راشدينو څخه وروسته په قريشو كي د ځينو داسي خلگو پر خلافت باندي علماؤ اجتماع ثابته ده چي تر ځان د افضلو خلگو په موجودتيا كي خليفه ټاكل سوي دي او د دې وجه داده چي كله يو غير افضل سړی په حكومتي او سياسي چارو كي د افضل سړي څخه زيات باصلاحيته ثابتيږي او د دغه خاص صلاحيت په وجه داسي سړی د ديني چارو په ښه توگه نگراني كولای سي، د حكومت چاري او طريقې په ښه توگه سرته رسولای سي ، د رعيت او خلگو خبر ښه اخيستلای سي ، هيواد او ملت د تاوان رسونكو فتنو او فلانو څخه خوندي كولای سي او دا چي ملكي او ملي استحكام په ښه توگه برقرار ساتلای سي، پاته سوه دا خبره چي ځيني خلگ دا وايي چي د امامت او خلافت وړ هغه ذات كيدای سي چي معصوم وي، هاشمي وي او د هغه په لاس يوه كړنه ښكاره سي چي د هغه څخه د هغه صداقت و پيژندل سي نو دا محض د شيعه گانو نظريه ده او د هغوی د جهالت بلكه حقيقت خو دادی چي دغه نظريه د هغوی د گمراهي تمهيد او مقدمه ده چي د هغه په ذريعه هغوی په ملت اسلاميه كي د افتراق او انتشار بنياد اچوي، په دې كي يوه لويه گمراهي د هغوی داده چي هغوی د حضرت علي رضي الله عنه څخه ماسوا د نورو ټولو خليفه گانو امامت او خلافت بې اصله او باطل گڼي .

د طلحه رضي الله عنه قرباني

﴿۵۸۵۰﴾: وَعَنْ قَيْسِ ابْنِ اَبِيْ حَازِمٍ قَالَ رَاَيْتُ يَدَ طَلْحَةَ شَلَّاءَ وَقَى بِهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اُحُدٍ . رواه البخاري.

د حضرت قيس بن ابي حازم رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د طلحه لاس شل وليدی ، هغه په لاس سره د اُحد د غزا په ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم د كفارو د حملو څخه ساتئ . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۳۵۹، رقم: ۴۰۶۳.

د لغاتو حل: شلاء: من الشلل وهو نقص في الكف وبطلان العمل.

تشریح: د اُحد د غزا په ورځ حضرت طلحه رضی الله عنه د قرباني ثبوت ورکړی وو او د رسول الله ﷺ د کفارو د حملو څخه د ساتني لپاره يې خپل ځان سپر جوړ کړی وو، هغه به توري په خپل لاس سره دفع کولې او رسول الله ﷺ يې د هر تاوان څخه ژغوری، نه يوازي دا چي د هغه لاس د ټول عمر لپاره بې کاره سوی وو بلکه د هغه پر ټول بدن باندي اتيا زخمونه لګيدلي وه او خاص اندام يې هم ژوبل سوی وو، کله چي به صحابه کرامو د اُحد د ورځي يادونه کول نو ويل به يې: هغه ورځ خو په حقيقت کي د طلحه رضی الله عنه د قرباني څخه ډکه ورځ ده.

حضرت طلحه رضی الله عنه د عبيدالله زوی او قريشي دی، کنيت يې ابو محمد (يا د يوه قول مطابق ابو عمر) وو، قديم الاسلام دی، د بدر د غزا څخه ماسوا په نورو ټولو غزاوو کي يې د رسول الله ﷺ سره ګډون کړی دی، د بدر په غزا کي په دې وجه پاته سو چي د رسول الله ﷺ د يو کار لپاره تللی وو، د حضرت طلحه رضی الله عنه رنګ غنم رنګه وو، او وېښتان يې ګڼ وه، ډېر ښکلی سړی وو، د ۶۴ کالو په عمر کي د جنګ جمل په موقع کي د جمادي الثاني په ۲۰ نېټه په ۳۶ هجري کال کي د پنجشنبې په ورځ شهيد سو او په بصره کي دفن کړل سو.

د حضرت زبير رضی الله عنه فضيلت

﴿۵۸۵۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَأْتِينِي بِخَبَرِ الْقَوْمِ يَوْمَ الْأَحْزَابِ قَالَ الزُّبَيْرُ أَنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَحَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ. رواه البخاري.

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احزاب په ورځ وفرمايل: د دښمن خبر به ما ته څوک راوړي؟ زبير رضی الله عنه وويل زه به يې راوړم، نبي کريم ﷺ وفرمايل: د هر نبي يو حواري وي او زما حواري زبير دی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵۲۱۶، رقم: ۲۸۴۶، ومسلم ۱۸۷۹۱۴، رقم: ۴۸- ۲۴۱۵.

تشريح: احزاب د حزب جمع ده چي معنی يې د ډلي ده، په دغه وخت کي مختلفي د اسلام دښمني ډلي يعني قريش او غير قريش قبائل او د مديني هغه يهوديان چي د هغوی تعلق د بنو قريظه او بنو نضير سره وو، په متحد او جمع کېدو سره د رسول الله ﷺ په مقابله کي د جنګ لپاره راغلي وه ځکه د دغه غزا ته غزوه احزاب ويل کيږي، په دغه جګړه کي د دښمن د لښکر شمېر دوولس زره وو او مجاهدين ټول درې زره کسان وه، دښمن په اصل کي د اسلام د مرکز

ختمولو لپاره حمله کړې وه او دهغوی زيات لښکر تر يوې مياشتې پورې د مدينې شاوخوا پراو اچولی وو، رسول الله ﷺ د ټولو مجاهدينو په مرسته د دفاعې کړنو په توګه دمدينې منورې شاوخوا خندق کنبلی وو، او په دغه مناسبت سره دغه غزا ته د خندق غزا هم ويل کيږي، هغه ډيرې سختې ورځې وې او مسلمانان په ډېرو پرېشانيو کې راګير سوي وه، د باقاعده جګړې کولو نوبت نه وو راغلی مګر د ډېرو ويشتلو او غشي ويشتلو پېښې به رامنځته کېدلې، په پای کې الله ﷻ د ملائکو لښکر نازل کړ او داسې طوفان يې راوليږی چې د دښمن خيمې وختلې، په نغريو کې ديګونه چپه سول، ځای پر ځای اوربل سو او هيبت ناکه تياره خپره سول، د دښمن لښکر د خوف او بيرې څخه په همدغه شپه په تېښته سو، په هغه ورځو کې د يهوديانو او منافقانو په سبب په مدينه کې دننه د محاصرې په سبب هرې خوا ته داسې خطرناک صورت وو چې د جنګې مصالحو او مفادو سره متعلق معلومات تر لاسه کول او د دښمنانو په اړه خبرونه راوړل سخت کار وو، ځکه حضرت زبير رضی الله عنه د دغه ټولو خطرو سربېره دغه خدمت د ځان لپاره خوښ کړ نو رسول الله ﷺ د هغه ستر تحسين وفرمايه او هغه ته يې د خپل حواري کېدو شرف ورکړ.

حضرت زبير رضی الله عنه : حضرت زبير رضی الله عنه د عوام زوی او د ابو عبدالله قرشي په کنيت سره مشهور دی، دده مور بي بي صفيه رضی الله عنها بنت عبد المطلب د رسول الله ﷺ سکه خاله وه، زبير بن العوام رضی الله عنه قديم الاسلام دی، يعني په پيل کې يې اسلام راوړی دی، هغه وخت د شپاړلسو کالو وو، په دغه عمر کې چې اسلام يې قبول کړ نو د هغه اکا ډېر ظلمونه پر وکړل تر دې چې په دود کې بند کړل سو چې ددغه عذاب څخه په بېره کې اسلام پرېږدي مګر هغه په ډېر استقامت سره دغه عذاب وزغمی او د اسلام څخه ونه ګرځېدی، د رسول الله ﷺ سره يې په ټولو غزاوو کې ګډون کړی دی او تر ټولو مخکې د اسلام په لار کې رابلونکی دغه زبير بن عوام رضی الله عنه وو، د احد د غزا په ورځ په ډېر استقلال او ثابت قدمی سره د رسول الله ﷺ سره د جنګ په ميدان کې ولاړ وو او د مېړاني جوهر يې وښودی، حضرت زبير رضی الله عنه جګ، نحيف الجثه او سور او سپين رنګ يې وو، په ۳۶ هجري کال کې د صفين د جګړې څخه په ستنېدو باندې په لاره کې د بصرې په سيمه کې پر سفوان باندې عمرو بن جرموز هغه شهيد کړ، هغه وخت يې عمر ۶۴ کاله وو، په وادي اسباع کې دفن کړل سو او بيا يې مړی مبارک بصرې ته منتقل کړل سو، او مشهوره ده چې د نوموړي قبر هلته په بصره کې دی.

د زبير ﷜ مقام

﴿۵۸۵۲﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَأْتِينِي بَنِي قُرَيْظَةَ فَيَأْتِينِي بِخَبَرِهِمْ فَانْطَلَقْتُ فَلَمَّا رَجَعْتُ جَمَعَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ فَقَالَ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي. متفق عليه.

د حضرت زبير ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک به بني قريظو ته ورسي او د هغوی خبر ما ته راوړي، ددې اوريدو سره زه (زبير) روان سوم، بيا چي راغلم نو رسول الله ﷺ وفرمايل زما مور او پلار دي درباندي قربان وي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۸۰، رقم: ۳۷۳۰، ومسلم ۴\۱۸۷۹، رقم: ۴۹-۲۴۱۶.

تشريح: د بني قريظه يهوديانو د احزاب د غزا په وخت كي داسي د وعدې ماتول او بد چلن وكړ چي رسول الله ﷺ د هغوی سرونه پرې كول ضروري وګڼل، د احزاب د غزا څخه د فارغه كېدو وروسته هغوی ته متوجه سول، رسول الله ﷺ تر پنځلسو ورځو پوري او د يوه روايت مطابق تر پنځه ويشت ورځو پوري د هغوی محاصره وكړل، په پای كي يې په خپله سزا ورسول، په دغه وخت كي رسول الله ﷺ دغه ارشاد فرمايلی وو: كوم زړه ور دی چي د بنو قريظه په اړه د هغوي معلومات ما ته راوړي يا دا چي د احزاب په غزا كي هم بنو قريظه د دښمن سره يو ځای سوي وه او د مسلمانانو پر خلاف يې جګړه كول، كيدای سي چي په دغه وخت كي د بنو قريظه په اړه ضروري معلومات رسول الله ﷺ په كار وه او رسول الله ﷺ دغه خبره فرمايلې وه،

زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي، دا د رسول الله ﷺ له خوا د حضرت زبير ﷜ د قدر او منزلت توثيق كول او هغه ته پر دغه كړنه تحسين وركول وو چي هغه په ډېره مېړانه سره سرته ورسوی، په دې كي شک نسته ځكه چي يو سړی داسي الفاظ د هغه چا په حق كي استعمالوي چي هغه ډېر معزز او مكرم ګڼي او د هغه تعظيم كوي، په دې اعتبار د حضرت زبير ﷜ په شان كي د رسول الله ﷺ دغه جمله فرمايل د هغه تعظيم او تكريم كول وو، په يوه روايت كي حضرت زبير ﷜ بيان كړی دی چي رسول الله ﷺ دوه واره خپل مور او پلار پر ما جمع كړل (يعني قربان كړل)، يو وار د احد د غزا په وخت كي او دوهم وار د بني قريظه پر خلاف د عملياتو په وخت كي، په يوه روايت كي راغلي دي چي حضرت زبير ﷜ خپل زوی حضرت عروه ﷜ ته وويل: اې زويه! زما د بدن هيڅ برخه داسي نسته چي د رسول الله ﷺ په ملګرتيا كي د جګړو په دوران

کي ژوبل سوې نه وي.

د حضرت سعد رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۸۵۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ أَبَوَيْهِ لِأَحَدٍ إِلَّا لِسَعْدِ بْنِ مَالِكٍ فَإِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ يَوْمَ أُحُدٍ يَا سَعْدُ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي. متفق عليه.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما د سعد بن مالک څخه پرته د هيچا لپاره د نبي کريم صلی الله علیه وسلم د خپل مور او پلار جمع کول نه دي اوريدلي، د احد په ورځ ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوريدل اې سعد! غشي وله زما مور او پلار دې پرتا قربان وي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۳۵۸، رقم: ۴۰۵۹، ومسلم ۴\۱۸۷۶، رقم: ۴۱- ۲۴۱۱.

تشريح: د سعد بن مالک رضي الله عنه څخه مراد سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دی، په اصل کې د ابي وقاص نوم مالک ابن وهب وو او په دې اعتبار سعد بن ابي وقاص ته سعد بن مالک هم ويل کېدل.

په ذکر سوي حديث کې د مور او پلار قربانوي د حضرت زبير رضي الله عنه په حق کې هم منقول دي او دلته حضرت علي رضي الله عنه وايي چې د سعد بن مالک رضي الله عنه څخه ماسوا د بل چا لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم مور او پلار نه دي قربان کړي نو په ذکر سوي روايت او د حضرت علي رضي الله عنه په دغه روايت کې د مطابقت لپاره ويل کيږي چې په اصل کې حضرت علي رضي الله عنه ته معلومه نه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت زبير رضي الله عنه په حق کې هم دغه جمله فرمايلې ده يا دا چې د حضرت علي رضي الله عنه مراد دا وو چې خپله ما د واسطې ماسوا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژبې مبارکې څخه دغه جمله د سعد رضي الله عنه څخه ماسوا د بل چا په حق کې نه ده اورېدلې نو د هغه دا ويل د دې خبرې خلاف نه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه جمله د حضرت زبير رضي الله عنه په حق کې هم وفرمايل او د دې علم حضرت علي رضي الله عنه ته بالواسطه سوی وي،

حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه: د حضرت سعد رضي الله عنه کنيت ابو اسحاق دی، په زهري او قرشي هم مشهور دی، قديم الاسلام دی يعني د اسلام د دعوت په پيل کې دا وه لسو کالو په عمر په اسلام مشرف سوی دی، هغه به خپله ويل: زه دريم مسلمان يم، زما څخه مخکې يوازې دوو کسانو اسلام راوړی وو او د الله جل جلاله په لاره کې د اسلام له طرفه تر ټولو لومړی غشی ويشتونکی زه يم، حضرت سعد رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتيا کې په ټولو غزاوو کې ګډون کړی دی او مستجاب الدعوات منل کيږي، د هغه دغه حيثيت په عامو او خاص کې دومره

مشهور وو چي خلک به د هغه د ښېرا څخه ېرېدل او د هغه د نيکو دعاوو غوښتونکي به وه، په اصل کي هغه ته دا مقام له دې کبله تر لاسه سوی وو چي رسول الله ﷺ د هغه په حق کي دغه دعاء کړې وه: اې الله! د سعد رضي الله عنه دعاوي قبولي کړې، د حضرت زبير رضي الله عنه څخه ماسوا يوازي حضرت سعد رضي الله عنه هغه خوشبخته ذات دی چي د هغه لپاره رسول الله ﷺ خپل مور او پلار قربان کړي يعني په بېلو وختونو کي د دواړو په مخاطب کولو سره يې ورته فرمايلي دي چي زما مور او پلار دي پر تا صدقه وي، دغه عظيم اعزاز ددغه دواړو څخه ماسوا بل هيچا ته حاصل نه سو، حضرت سعد رضي الله عنه غنم رنګه وو، پر بدن يې ډېر وېښتان وه، په ۵۵ هجري کال کي په هغه محل کي وفات سو چي هغه د مدينې ښار ته نژدې په وادي عقيق کي جوړ کړی وو، جنازه يې مدينې منورې ته راوړل سول او د هغه وخت حاکم ابن الحکم د جنازې لمونځ ورکړ او په جنت البقيع کي ښخ کړل سو، هغه وخت د حضرت سعد رضي الله عنه عمر تقريبا اويا کاله وو ، او په عشره مبشره کي تر ټولو وروسته وفات سو، حضرت عمر رضي الله عنه د کوفې حاکم ټاکلی وو بيا وروسته حضرت عثمان رضي الله عنه خپله هم پر دغه منصب باندي دوهم وار کوفې ته لېږلی وو، د صحابه کرامو او تابعينو ډېرو کسانو دده څخه حديثونه او روايتونه نقل کړي دي.

د الله جل جلاله په لار کي تر ټولو مخکي حضرت سعد رضي الله عنه غشی وويشتی

﴿۵۸۵۴﴾: وَعَنْ سَعْدِبْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ إِنِّي لَأَوَّلُ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ. متفق عليه.

د حضرت سعد بي ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه په عربو کي لومړنی سړی يم چي د خدای تعالی په لار کي مي غشی ويشتلي دي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۸۳، رقم: ۳۷۲۸، ومسلم ۴\۲۲۷۷، رقم: ۱۶– ۲۹۶۶.

تشريح: يعني زه هغه کس يم چا چي په اسلام کي تر ټولو لومړی غشی د الله جل جلاله پر دښمنانو وويشتی، زما څخه مخکي هيچا د الله جل جلاله په لاره کي غشی ويشتلی نه وو، دا د اول هجري کال پېښه ده ، رسول الله ﷺ د ابو عبيده بن الحارث رضي الله عنه په مشرتابه کي د شپېتو سپرو يو کوچنی لښکر د ابو سفيان بن حرب او د هغه مشرکينو په مقابله کي لېږلی وو ، د جنګ نوبت نه راغلی يوازي دومره وسول چي سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه د اسلام پر دښمنانو باندي يوه غشی وويشتل او هغه تر ټولو اول غشی وو چي د مسلمانانو له خوا د اسلام پر دښمنانو باندي وچلول سو.

د سعد رضي الله عنه وفاداري

﴿۵۸۵۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَهِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْدَمَهُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي يووار رسول الله ﷺ ته د يوې غزا څخه

الْمَدِينَةَ لَيْلَةً فَقَالَ لَيْتَ رَجُلًا صَالِحًا يَحْرُسُنِي إِذْ سَمِعْنَا صَوْتَ سِلَاحٍ فَقَالَ

مدينې ته په راتلو سره (د دښمن دبيري څخه) يوه شپه ويښ وو نو وه يې فرمايل: كاش چي يو صالح سړی وای چي زما چوكيداري يې كړې وای، ناڅاپه موږ د وسلې آواز واوريدی، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه:

مَنْ هَذَا قَالَ أَنَا سَعْدٌ قَالَ مَا جَاءَ بِكَ قَالَ وَقَعَ فِي نَفْسِي خَوْفٌ عَلَى رَسُولِ

څوك دی؟ آواز راغلی چي زه سعد يم، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه څنګه راغلې؟ سعيد وويل:

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُ أَحْرُسُهُ فَدَعَا لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَامَ. متفق عليه.

زما په زړه كي د رسول الله ﷺ لپاره بيره پيدا سوه او زه ستاسو د چوكيدارۍ لپاره راغلی يم، نو رسول الله ﷺ د سعد رضي الله عنه لپاره دعاء وكړه او بيا بيده سو، بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸۱\۶، رقم: ۲۸۸۵، ومسلم ۱۸۷۵\۴، رقم: ۴۰-۲۴۱۰.

حضرت ابو عبيده رضي الله عنه ته د امين الامت خطاب

﴿۵۸۵۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينٌ وَأَمِينُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر امت يو امانت دار وي او ددې امت امانت دار ابو عبيده بن الجراح دی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹۴\۸، رقم: ۴۳۸۲، ومسلم ۱۸۸۱\۴، رقم: ۵۳-۲۴۱۹.

تشريح: كه څه هم ټول صحابه كرام د امانت خاوندان وه مګر يوازي حضرت ابو عبيده رضي الله عنه ته

د دغه امت امين په دې اعتبار وفرمايل سول چي يا خو په هغه کي دغه وصف د نورو صحابه کرامو په نسبت زيات غالب وو يا دا چي د هغه د نورو اوصافو په نسبت دغه وصف پر هغه باندي زيات غالب وو، په هر حال حضرت ابوعبيده رضي الله عنه د خپل ذاتي ښېګڼو او کمالاتو په وجه ستر صحابي دى او دهغه په مناقبو او فضائلو کي نور هم ډېر روايتونه منقول دي چي د مختلفو پندونو او نصيحتونو په کتابو کي مذکور دي، په هغو کي دغه يو نصيحت ډېر ارزښتناکه دى:

بادروا السيئات القديمات بالحسنات الحادثات والارب مبيض لثيابه مدلس لدينه والارب مكرم لنفسه وهولها مهين.

ژباړه: پر تېرو ګناهو باندي (د سزا تر لاسه کولو مخکي) نوي نيکۍ زياتي کړه او په ياد ولره چي داسي خلګ هم سته چي خپلي جامې ښه ساتي مګر خپل دين خيرن ساتي او دا هم په ياد ولره چي ځيني خلګ خپل ځان عزتمند ګڼي حال دا چي د انجام په اعتبار هغوى د خپل ځان په ذلت او خوارۍ کي اچوونکي دي.

حضرت ابوعبيده رضي الله عنه : د حضرت ابوعبيده رضي الله عنه اصلي نوم عامر بن عبد الله بن جراح دى، فهري قرشي هم ورته ويل کيږي، د حضرت عثمان بن مظعون رضي الله عنه سره په اسلام او ايمان کي داخل سوى وو، مخکي يې حبشې ته هجرت وکړ بيا په دوهم وار هجرت کولو سره مدينې ته راغلى وو، نوموړي په ټولو غزاوو کي له رسول الله ﷺ سره ګډون کړى دى او د احد په غزا کي د رسول الله ﷺ سره د جنګ په ميدان کي ثابت قدمه پاته سوى دى، کله چي په دغه غزا کي رسول الله ﷺ زخمي سو او د جنګي خولۍ کړۍ د رسول الله ﷺ په مخ کي بندي سوې نو حضرت ابوعبيده رضي الله عنه هغه کړۍ په خپلو غاښو سره راوکښلې او له دې کبله د هغه د مخ دوه غاښونه وتلي وه، د حضرت ابوعبيده رضي الله عنه قد جګ، ښکلى او سپک بدن يې وو، په ۱۸ هجري کال کي په طاعون امواس کي په اخته کېدو سره په اردن کي وفات سو، او د نبيانو په مقام کي دفن کړل سو هغه وخت د نوموړي عمر اته پنځوس کاله وو او د جنازې لمونځ يې حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ورکړ.

د حضرت ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۸۵۷﴾: وَعَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ وَسُئِلَتْ مَنْ كَانَ رَسُولُ

د ابن ابي مليکه رضي الله عنه څخه روايت دى ما واورېدل چي د بي بي عائشې څخه پوښتنه وسول که

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَخْلِفًا لَوْ اسْتَخْلَفَهُ قَالَتْ أَبُو بَكْرٍ فَقِيلَ ثُمَّ

رسول الله ﷺ په خپل ژوند کي خليفه جوړولای نو څوک به يې خليفه کړی وای؟ دې وويل چي ابوبکر رضی اللہ عنہ، بيا پوښتنه وسول چي

مَنْ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ عُمَرُ قِيلَ مَنْ بَعْدَ عُمَرَ قَالَتْ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ. رواه مسلم.

د ابوبکر رضی اللہ عنہ څخه وروسته څوک به يې خليفه جوړ کړی وای؟ بي بي عائشې رضی اللہ عنہا وويل عمر رضی اللہ عنہ، بيا پوښتنه وسول د عمر رضی اللہ عنہ څخه وروسته؟ عائشې رضی اللہ عنہا وويل ابو عبيده بن الجراح. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۸۵۶/۴، رقم: ۹- ۲۳۸۵.

تشريح: ابو عبيده رضی اللہ عنہ امين الامت وو، او د خلافت د ذمه دارۍ سنبالولو وړتيا يې درلودل ځکه د هغه د خلافت په وړو کسانو کي شمېرل مناسب وو، د رسول الله ﷺ د وصال وروسته کله چي د رسول الله ﷺ د خليفه توب د ټاکني مسئله وړاندي سول او خلګو صديق اکبر رضی اللہ عنہ خوښوی نو نوموړي ورته وويل: تاسو د خلافت لپاره ما ولي وړاندي کوئ، ستاسو په منځ کي عمر رضی اللہ عنہ دی، علي رضی اللہ عنہ دی او ابو عبيده بن الجراح رضی اللہ عنہ دی، په دوی کي چي څوک غواړئ خليفه يې وګرځوئ مګر د حل و عقد او عمائدينو وينا وه چي ستاسو (ابوبکر رضی اللہ عنہ) څخه زيات لائق او وړ بل هيڅوک کيدای نه سي، کله چي رسول الله ﷺ په خپل مرض الموت کي زموږ د ديني قيادت (يعني د لمانځه د امامت لپاره) تاسو مخکي کړي ياست نو بيا د چا مجال دی چي زموږ د دنيوي او ملي قيادت لپاره تاسو ته ترجيح در نه کړي،

په هر حال د حديث څخه معلومه سول چي بي بي عائشې رضی اللہ عنہا دا نظر درلود چي د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ او حضرت عمر رضی اللہ عنہ څخه وروسته په پاته اصحاب شورى کي حضرت ابو عبيده بن الجراح رضی اللہ عنہ د خلافت تر ټولو زيات اهل او وړ وو.

د حراء پر غره باندي يو نبي، يو صديق او پنځه شهيدان

﴿۵۸۵۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَى حِرَاءٍ

د حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د حراء پر غره ولاړ وو

هُوَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ وَعَلِيٌّ وَطَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ فَتَحَرَّكَتِ الصَّخْرَةُ فَقَالَ

او ابوبکر، عمر، عثمان، علي، طلحه او زبير رضي الله عنهم هم ورسره وه چي د هغه يوه ډبره چي ټول پر

ولاړ وه په حرکت کي راغلل، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اهْدَأْ فَمَا عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيقٌ أَوْ شَهِيدٌ.

وزاد بعضهم وسعد بن ابي وقاص ولم يذكر عليا. رواه مسلم.

ودرېږه پرتا باندي څوک نسته مګر يو نبي دی، صديق دی او شهيد دی، او په ځينو رواياتو کي دا الفاظ زيات ليکلي دي او سعد بن ابي وقاص دی او د علي رضي الله عنه ذکر يې نه دی کړی. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۸۸۰/۴، رقم: ۵۰- ۲۴۱۷.

تشريح: د شهداء څخه حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت طلحه او حضرت زبير رضي الله عنهم مراد دي، دغه ټولو حضراتو ته د شهادت مرګ په برخه سو، په دوی کي حضرت طلحه او حضرت زبير رضي الله عنهما د جنګ جمل په وخت کي شهيد کړل سول، که څه هم د هغوی مرګ عين د جنګ په وخت کي واقع سوی نه وو بلکه د جنګ څخه د باندي په ظلم قتل کړل سول، مګر دا ثابته ده چي کوم څوک په ظلم قتل کړل سي نو هغه شهيد دی ځکه دغه دواړو ته د شهادت مرتبه په برخه سول.

او د علي رضي الله عنه يادونه يې نه ده کړې: په مخکنۍ جمله کي د زاد لفظ د يو ناقل ستر کي پټول ظاهروي ځکه چي د هغه راوي په روايت کي د حضرت علي رضي الله عنه پر ځای د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ذکر د معاوضه او مبادله په صورت کي دی نه د اضافې په صورت کي، په هر حال په هغه روايت کي چي په هغه کي د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ذکر دی دا سوال پيدا کېږي چي هغه ته خو د شهادت مرګ نه دی تر لاسه سوی بلکه هغه خو په وادي عقيق کي په خپل محل کي وفات سوی وو، د دغه سوال دفع کولو لپاره يا خو دا توجيه کېږي چي رسول الله ﷺ دغه ټولو حضراتو ته د غالب په توګه شهيدان فرمايلي دي، يعني د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي د يوه نبي، يو صديق څخه پرته نور ټول هغه خلګ دي چي په هغوی کي به اکثر شهيدان وي، يا څرنګه چي سيد جمال الدين رحمة الله عليه ليکلي دي چي دا ويل کېږي چي د حضرت سعد رضي الله عنه مرګ د داسي ناروغۍ په وجه سوی دی چي په هغه کي په اخته کېدو سره مړکيدونکی د شهيدانو په حکم کي راځي لکه د نس ناروغي او داسي نور.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

عشره مبشره ته د جنت زيرى

﴿۵۸۵۹﴾: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَبُو

د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ وَعُمَرُ فِي الْجَنَّةِ وَعُثْمَانُ فِي الْجَنَّةِ وَعَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ وَطَلْحَةُ فِي

ابوبكر رضي الله عنه په جنت كي دى ، عمر رضي الله عنه په جنت كي دى، عثمان رضي الله عنه په جنت كي دى، علي رضي الله عنه په جنت كي دى، طلحه رضي الله عنه په جنت كي دى،

الْجَنَّةِ وَالزُّبَيْرُ فِي الْجَنَّةِ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الْجَنَّةِ وَسَعْد بن ابي

زبير رضي الله عنه په جنت كي دى، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په جنت كي دى، سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په

وقاص فِي الْجَنَّةِ وَسَعِيد بن زيد فِي الْجَنَّةِ وَاَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فِي الْجَنَّةِ.

رواه الترمذي ورواه ابن ماجة عن سعيد بن زيد.

جنت كي دى، سعيد بن زيد رضي الله عنه په جنت كي دى، ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه په جنت كي دى . (يعني دا ټول لس جنتيان دي دغه لسو صحابه كرامو ته عشره مبشره ويل كيږي) . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۰۵، رقم: ۳۷۴۷.

تشريح: حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه چي د عشره مبشره څخه يو دى د حضرت عمر رضي الله عنه اخښى دى ، د حضرت عمر رضي الله عنه خور بي بي فاطمه رضي الله عنها د هغه سره منسوب وه او دا هغه فاطمه رضي الله عنها وه چي د حضرت عمر رضي الله عنه د اسلام منلو ذريعه ګرځېدلې وه، حضرت سعيد رضي الله عنه په ۵۱ هجري كال كي د اوويا كالو په عمر وفات سو او په بقيع كي دفن سو .

په حديث كي ذكر سوي لس ستر صحابه كرام د جنت په زيري سره چي ډېر زيات مشهور او ممتاز دي نو دهغه په مختلفو وجوهاتو كي يوه خاص وجه دا هم ده چي د دغه ټولو حضراتو د جنت زيرى يو ځاى په يوه حديث كي بيان سوى دى كنه نو دا خبره نه ده چي د جنت دغه زيرى د دوى څخه ماسوا د بل چا لپاره منقول نه دى نور هم په دغه زيري سره نازول سوي دي .

يوه نكته چي ارزښتناكه ده : دلته دغه نكتې ته توجه كول ډېر ضروري دي چي په حديثو كي هر ځاى د خلفاء اربعه يادونه راغلې ده هلته په دغه ترتيب سره راغلې ده كوم چي په ذكر سوي حديث كي دى، يعني مخكي د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه نوم، بيا د حضرت عمر رضي الله عنه نوم، بيا د حضرت عثمان رضي الله عنه نوم او بيا د حضرت علي رضي الله عنه نوم، ددې څخه د اهل سنت والجماعت د عقيدې او مذهب صحيح كېدل او پر حق كېدل ثابتيږي، په دې اړه دا گمان كول چي كېداى سي د حديث راويانو د خپلي عقيدې او مذهب په رعايت كولو سره په هغه حديثو كي د خلفاء اربعه په ترتيب كي رد او بدل كړى وي، ډېره نا انصافي به وي، هيڅكله نه ، راوي په هيڅ وخت كي د حديث په ترتيب كي تبديلي او تقديم او تاخير نه كوي نو په دغه صورت كي كله چي د حديث په مفهوم او مقصد كي معمولي فرق هم پيدا نه سي ، په دغه صورت كي تصور هم نه سي كېداى چي هغوى په دومره نازكه مسئله كي د تبديلۍ او تقديم او تاخير كار كړى وي ، د رسول الله ﷺ د ژبي مباركي څخه چي په كوم ترتيب سره د خلفاء اربعه ذكر كيږي بعينه په هغه ترتيب سره راوي بيان كوي .

د يو څو صحابه كرامو خاص حيثيتونه

﴿۵۸۶۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْحَمُ أُمَّتِي بِأُمَّتِي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت كي ابوبكر رضي الله عنه زما پر امت تر ټولو زيات مهربانه دى

أَبُو بَكْرٍ وَأَشَدُّهُمْ فِي أَمْرِ اللَّهِ عُمَرُ وَأَصْدَقُهُمْ حَيَاءً عُثْمَانُ وَأَفْرَضُهُمْ زَيْدُ

او عمر رضي الله عنه د خداى په كارونو كي تر ټولو زيات سخت دى، او رښتوني او حياداره عثمان رضي الله عنه دى،او د فرائضو زيات علم لرونكى زيد

بْنُ ثَابِتٍ وَأَقْرَؤُهُمْ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَأَعْلَمُهُمْ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ

بن ثابت رضي الله عنه دى، او تر ټولو لوى قاري ابي بن كعب رضي الله عنه دى او په حرام او حلال زيات پوهيدونكى معاذ بن جبل رضي الله عنه دى

أَلَا وَ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِين وَأَمِينَ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح. و روي عن معمر عن قتادة

مرسلا وفيه واقضاهم علي.

او په هر امت كي يو امين وي او ددې امت امين ابوعبيده بن الجراح دى. احمد او ترمذي، ترمذي ويلي دي چي دا حديث حسن صحيح دى او د معمر څخه د قتاده په ذريعه دا حديث مرسل روايت سوى دى چي پكښي دا واقضاهم علي، جمله زياته ذكر سوې ده.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۳\۲۸۱، والترمذي ۵\۶۲۳، رقم: ۳۷۹۱.

تشريح: عثمان رضي الله عنه تر ټولو ريښتوني حياء لرونكى دى، د حياء وصف چي د ايمان يو لوى ښاخ دى د حضرت عثمان رضي الله عنه سره يې يو ډول خاص او امتيازي نسبت درلود، د هغه د حياء او غيرت مثالي وو، پاته سوه دا خبره چي د ريښتوني حياء لرونكي څخه څه مراد دى، نو دلته دې ته اشاره ده چي ډېر واره د حياء او غيرت اظهار د طبعي تقاضا سره سم په داسي ځاى كي هم كيږي چي د شرعي نكتې څخه د حياء او غيرت تقاضا نه كوي او نه پر هغه موقع حياء كول د دين په اعتبار حق او صحيح وي، ريښتونې او معتبره حياء هغه ده چي د دين او شريعت د غوښتني سره سم او د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم د حكم مطابق وي، نو حضرت عثمان رضي الله عنه ددغه ريښتوني او معتبري حياء خاوند وو.

تر ټولو زيات فرائض (ميراث) پيژندونكى زيد بن ثابت رضي الله عنه دى، يعني فرائض او د ميراث علم په فني او تحقيقي توګه په زيد بن ثابت رضي الله عنه كي ډېر زيات دى، بېله شكه حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه د سترو فقهاوو څخه وو او د علم ميراث ماهر ګڼل كېدى، د وحي د ليكني شرف هم هغه ته تر لاسه وو هغه د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه او بيا د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه كي د قرآن ليكلو او جمع كولو خدمت په ډېره ښه توګه سرته ورسوى.

تر ټولو زيات د قرآن كريم د تجويد ماهر أبي بن كعب رضي الله عنه دى، حضرت ابى بن كعب رضي الله عنه انصاري خزرجي دى، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وحي ليكوال هم وو، كومو شپږو صحابه كرامو چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كي ټول قرآن كريم ياد كړى وو په هغوى كي دى هم دى، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كي ده ته سيد القراء ويل كيدى او خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم ده ته د سيد الانصار لقب وركړى وو، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به د سيد المسلمين په لقب سره يادوى، په روايتو كي راځي چي كله به يو سورة نازل سو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم أبى بن كعب رضي الله عنه ته وفرمايل: الله جل جلاله ما ته حكم كړى دى چي دغه سورت ستا په وړاندي ووايم او ستا څخه يې واورم، ابى پوښتنه وكړل ايا الله جل جلاله زما نوم اخيستى دى؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هو، الله جل جلاله ستا نوم اخيستى دى، ددې په

اوریدو سره ابی ﷺ په ژړا سو او د هغه سره رسول الله ﷺ هم وژړل، په ۱۹ هجري کال کي په مدینه منوره کي وفات سو، دېرو کسانو ته د حدیثو د روایت کولو شرف ځیني په برخه دی.

د حلال او حرام تر ټولو زیات پېژندونکی معاذ بن جبل ﷺ دی، نوموړی د انصارو څخه دی او هغه د اویا خوش بختو څخه یو دی چي د رسول الله ﷺ د مدینې د هجرت څخه مخکي مکې ته راغلي وه او په بیعت عقبه ثانیه کي شریک سو، په مدینه چي رسول الله ﷺ د مهاجرینو او انصارو په منځ کي کومه عامه ورورګلوي کړې وه د هغه سره سم د حضرت معاذ بن جبل ﷺ ورورګلوي یې د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ سره او د یوه روایت سره سم د حضرت جعفر بن ابي طالب ﷺ سره قائمه سوې وه، رسول الله ﷺ هغه د قاضي او معلم په توګه یمن ته لیږلی وو، هغه وخت د نوموړي عمر اتلس کاله وو، په طاعون عمواس کي د ۳۸ کالو په عمر وفات سو، د وفات پر وخت به یې په وار وار ویل: اې الله! دغه (سخت طاعون) په حقیقت کي ستا پر بندګانو رحمت دی، اې الله! معاذ او دهغه کورنۍ ددغه رحمت څخه محروم مه کړې، په ځینو روایتو کي راغلي چي د زکندن په وخت کي د حضرت معاذ ﷺ پر ژبه دغه الفاظ وه چي اې الله! د مرګ سختي کمه کړې څومره چي ته غواړې، قسم ستا په عزت ته ښه پوهېږې چي زه ستا سره مینه لرم، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ وایي چي موږ به معاذ ﷺ ته ددغه آیت (کان امة قانتا لله حنیفا) په مضمون کي د حضرت ابراهیم ﷺ سره تشبیه ورکول، د حضرت معاذ بن جبل ﷺ د علمي فضیلت او بزرګۍ اندازه ددې څخه لګېدای سي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي هم د فتوی ورکولو ستره دنده ده ته حواله وه او د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د خلافت په زمانه کي هم، کله چي د قاضي او معلم په توګه یمن ته ولېږل سو نو حضرت عمر فاروق ﷺ به فرمایل: معاذ ﷺ یمن ته په تللو سره په اهل مدینه کي د فقه خلاء پیدا کړې ده، حضرت معاذ ﷺ د بدر په غزا کي هم ګډون کړی دی او په نورو غزاوو کي هم د مجاهدینو سره اوږه پر اوږه ملګری وو، نقل سوي دي چي د رحلت په وخت کي د نوموړي ملګري په ژړا سول نو د هغوی څخه یې پوښتنه وکړل چي تاسو ولي ژاړئ؟ هغه ټولو ورته وویل: موږ پر علم ژاړو چي ستاسو د مرګ په وجه منقطع کیږي، حضرت معاذ ﷺ ورته وویل: علم او ایمان لازوال دی، او تر قیامته پوري پاته کېدونکی دی، حق چي چیري نه تر لاسه کیږئ نو تر لاسه کوئ یې، پر باطل چي هر څوک وي د هغه تردید او مخالفت کوئ.

ددغه امت امین عبیده بن الجراح ﷺ دی، حضرت ابوعبیده بن الجراح ﷺ د الله ﷻ او د هغه د رسول د مینې په لوی امتحان کي خپل پلار په خپل لاس ووژی چي د اسلام د دښمنانو له

خوا د مسلمانانو پر خلاف د جنګ میدان ته راغلی وو، د احد په جنګ کي په مېړانه او ثابت قدمۍ سره د جنګ په میدان کي مقابله کول او د رسول الله ﷺ د دښمن د حملو څخه په ساتنه کي یې د قربانۍ جوهر وښودی، د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خلافت کي د بیت المال مسئول وو، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه پر ځای د اسلامي لښکر امیر وټاکی او د شام او فلسطین زیات فتوحات ددغه تر مشرۍ لاندي تر لاسه سول، حضرت عمر رضی الله عنه د خپل وفات په ورځ فرمایلي وه که نن ابوعبیده رضی الله عنه ژوندی وای نو په دې اړه (یعني خلافت) زما کار به ما هغه ته حواله کړی وای، حضرت ابوعبیده رضی الله عنه چي د زهد او قناعت کومه درجه درلودل د هغه اندازه ددغه روایت څخه کیدای سي چي په ځینو مستندو کتابو کي د عروه بن زبیر رضی الله عنه څخه منقول دی چي کله امیر المؤمنین عمر فاروق رضی الله عنه د شام او فلسطین د لیدني لپاره راغلی نو د هغه ځایو د اسلامي لښکر مشران او لوی لوی کارکوونکي د امیر المؤمنین د استقبال لپاره موجود وه، حضرت ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه چي په شام او فلسطین کي د اسلامي لښکر ستر امیر وو تر هغه وخته پوري هلته رسېدلی نه وو، حضرت عمر رضی الله عنه د استقبال کوونکو امیرانو او مشرانو څخه پوښتنه وکړل چي زما ورور چیري دی؟ خلګو پوښتنه وکړل چي ستاسو ورور څوک دی؟ فاروق اعظم رضی الله عنه ورته وویل: ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه، کله چي ابوعبیده رضی الله عنه راغلی نو امیر المؤمنین د سپرلۍ څخه راکښته سو او د هغه غاړه په غاړه سو، د هغه کور ته په رسېدو سره یې ولېدل چي هلته د یوې کوچنۍ توري او یوه سپر څخه ماسوا نور هیڅ نه معلومېدل، په یوه روایت کي داسي دي چي امیر المؤمنین د حضرت ابوعبیده رضی الله عنه کور ته راغلی نو هلته په رسېدو سره یې ولېدل چي ټول سرای خالي دی هیڅ شی ورته معلوم نه سو، امیر المؤمنین په حیرت سره پوښتنه وکړل چي اې ابوعبیده! ستا سامان چیري دی، دلته د یوې کمبلي، کاسې او یوې توري څخه ماسوا بل هیڅ نه معلومېږي حال دا چي ته ددغه سیمي والي او د اسلامي لښکر امیر یې، ایا ستا سره د خوراک یو شی سته که یا؟ حضرت ابوعبیده رضی الله عنه ددې په اورېدو سره د کور یو کونج ته ورغلی او د هغه ځایه یې د ډوډۍ یو څو وچي ټوټې راوړلې، فاروق اعظم رضی الله عنه چي دا ولېدل نو بې اختیاره په ژړا سو او وه یې ویل: اې ابوعبیده! یوازي ته یو ښه سړی یاته سوې یاته موږ ټول خو دنیا د خپلو فریبو ښکار کړي یو.

په حق کي تر ټولو ښه پرېکړه کوونکی علي رضی الله عنه دی، بېله شکه حضرت علي رضی الله عنه ددغه امت تر ټولو لوی قاضي دی او د حق په فیصله کولو کي هیڅوک ثاني نه لري، ځکه حضرت عمر رضی الله عنه د هغه د مشورې او فتوا څخه ماسوا هیڅ حکم او فیصله نه کول، کله چي به حضرت علي رضی الله عنه

موجود نه وو نو د هغه تر راتللو پوري به يې فيصله ځنډول، په هر حال د حديث د الفاظو (اقضاهم) په ظاهره دا معنی ده چي علي رضي الله عنه په قضيو او مقدمو کي په شرعي او عدالتي احکامو او قوانينو کي تر ټولو زيات پوه وو او تر ټولو ښه فيصله يې کول، مګر په دې سره پر حضرت عمر رضي الله عنه باندي د حضرت علي رضي الله عنه فضيلت نه ثابتيږي ځکه چي دا د حضرت علي رضي الله عنه جزوي فضيلت دی او جزئي فضيلت د کلي فضيلت خلاف نه وي بلکه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه په شان کي چي کوم نصوص موجود دي د هغه څخه د دواړو حضراتو د ټول امت څخه افضل کېدل ثابت دي، د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د فضيلت يو صريح دليل خو دغه آيت دی :

لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا

دغه آيت خاص د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په حق کي نازل سوی دی ځکه چي يوازي د هغه د مکې د فتح څخه مخکي خپل مال په جهاد کي لګولی وو، نو الله جل جلاله وفرمايل: هيڅ مسلمان د هغه برابر کېدای نه سي، په دې باره کي هم شبه ده چي په دې اړه حديثونه متعارض او دليلونه متناقض دي او د رواياتو او دلائلو دغه تعارض او تناقض ددې خبري مقتضي دی چي هغه نکته ومنل سي چي پر هغه جمهورو صحابه کرامو اتفاق کړی دی نو پر کومه نکته چي جمهورو صحابه کرامو اتفاق کړی دی هغه هم هغه دی چي د اهل سنت والجماعت ور باندي اجماع ده يعني دا چي د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وروسته د اجر او ثواب د کثرت په اعتبار حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه افضل دی بيا حضرت عمر فاروق رضي الله عنه، بيا حضرت عثمان رضي الله عنه او بيا حضرت علي رضي الله عنه

د سيدنا حضرت علي او امير معاويه رضي الله عنهما معامله: دلته دا ښکاره کول ضروري دي چي د سيدنا علي رضي الله عنه او امير معاويه رضي الله عنه په منځ کي چي کومه جګړه رامنځته سول هغه پر اجتهادي اختلاف باندي محمول کول پکار دي، حضرت علي رضي الله عنه په ديني او شرعي توګه خپل ځان د خلافت مستحق وګڼی او امير معاويه رضي الله عنه خپل خلافت پر حق ګڼی، دواړو په خپل خپل حق کي اجتهاد وکړ، دا بېله خبره ده چي د حضرت علي رضي الله عنه اجتهاد صحيح او ثابت سو چي هغه وخت په ټولو خلکو کي د امت اسلاميه تر ټولو لوی سړی او تر ټولو افضل وو، دهغه پر خلاف امير معاويه رضي الله عنه په خپل اجتهاد کي صحيح نه سو ځکه چي د حضرت علي رضي الله عنه په موجودتيا کي هغه د خلافت هيڅکله مستحق نه وو مګر ددې سربېره په دواړو ډلو کي هيڅ يو هم خپل مخالف نه

کافر ونه ویل، دواړي ډلي په بېلو بېلو ډلو کي ویشل سوي وه، د دواړو په منځ کي سخته جګړه هم وسول، په دواړو ډلو کي ځینو خلګو یو بل ته بد وویل مګر په هغوی کي هیڅ یوه بل د اسلام څخه خارج ونه ګڼی، که څه هم په هغوی کي ځیني خلګ د جهالت، ناپوهی او تعصب په وجه د داسي امورو مرتکب سول چي په هغه سره ګناه کار کېدل یقینا ثابتېږي نو هیڅ مؤمن لره روا نه ده چي په هغوی کي یوه ته هم د کفر نسبت وکړي او د هغوی په اړه داسي عقیده ولري چي د یو مؤمن په حق کي درلودل پکار نه دي.

د حضرت طلحه رضی الله عنه لپاره د جنت زیری

﴿۵۸۶۱﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ

د حضرت زبیر رضی الله عنه څخه روایت دی چي د احد په ورځ د رسول الله ﷺ پر بدن دوې زغري وې،

فَنَهَضَ إِلَى صَخْرَةٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ فَقَعَدَ طَلْحَةُ تَحْتَهُ حَتَّى اسْتَوَى عَلَى الصَّخْرَةِ

رسول الله ﷺ پر یو لوی کاڼي ختی مګر و نه ختلای سو، نو طلحه کښېنستی او رسول الله ﷺ پر هغه سربېره وختی او کاڼي ته وختی،

فَسَمِعْتُ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَوْجَبَ طَلْحَةُ. رواه الترمذي.

بیا ما د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل چي طلحه واجب کړ، یعني طلحه د ځان لپاره جنت واجب کړ. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۰۱، رقم: ۳۷۳۸.

تشریح: د الله جل جلاله ارشاد: (خذوا حذرکم...) اې مؤمنانو احتیاط کوئ، د زیات عملي کولو لپاره رسول الله ﷺ دوې زغري په هغه ورځ اغوستي وې ځکه چي زغره او سپر د جنګي سامان څخه دي او د جنګ په میدان کي د دښمن د حملې څخه د ساتني لپاره لازمي شیان دي، ددې څخه معلومه سول چي د دښمن په مقابله کي د وسلو استعمالول او د ساتني ذرائع اختیارول د توکل خلاف نه دي، دا هم کېدای سي چي رسول الله ﷺ په دغه وخت کي د دوو زغرو په اغوستلو سره امت ته دا وښودل چي د دښمن په مقابله کي د خپل ساتني هر ډول تدبیر پکار واچوي.

طلحه رضی الله عنه جنت واجب کړ، د جنت لفظ په ځینو روایتو کي صریح راغلی دی، ددې جملې مطلب دا وو چي طلحه رضی الله عنه د خپل دغه یو عمل په ذریعه یا د خپلو مجاهدانه کړنو په ذریعه چي

هغه په دغه جنگ کي سرته رسولي دي د ځان لپاره د جنت استحقاق او وجوب پيدا کړى دى، بيله شکه په دغه جنگ کي د حضرت طلحه رضي الله عنه قرباني او فداکاري داسي وه چي رسول الله ﷺ هغه په زيري ونازوی، هغه خپل بدن د رسول الله ﷺ لپاره سپر ګرځولی وو او د رسول الله ﷺ څخه راتلونکي غشي يې په خپل بدن سره منع کولې، د هغه ټول بدن په غشو سوری سوی وو، د هغه لاس خو ـ ټول عمر لپاره شل او بې کاره سو، تر اتيا زيات زخمونه يې پر بدن وه، تر دې چي خاص اندام يې هم د زخمي کېدو څخه ژغورل سوی نه وو، وروسته کله چي به صحابهٔ کرامو د اُحد د غزا يادونه کول نو ويل به يې چي د جنگ هغه ټوله ورځ د طلحه رضي الله عنه د قربانۍ ورځ ده.

د اُحد د غزا په ورځ پر رسول الله ﷺ څه تېر سول؟ حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه په يوه روايت کي بيان کړى دى چي د اُحد دغزا په ورځ يو دښمن، عتبه بن وقاص، رسول الله ﷺ په ډبره وويشتى چي په هغه سره د رسول الله ﷺ د راسته خوا غاښ مبارک شهيد سو او لاندي شونډه مبارکه يې زخمي سول، د يو بل بدبخت عبدالله بن شهاب زهري د حملې په نتيجه کي د رسول الله ﷺ تندى مبارک سخت زخمي سو او جنګي خوله يې په مخ مبارک ننوتل، دښمنانو د جنگ په ميدان کي کندي کنبلي وې او هغه يې سربېره داسي برابري کړې وې چي په نافهمۍ کي د يو مسلمان پښه پر هغه راسي او په هغه کنده کي ولوېږي، نو همدارنګه په يوه کنده کي رسول الله ﷺ خپله لوېدونکی وو چي سمدستي حضرت علي رضي الله عنه را وړاندي سو او رسول الله ﷺ يې تر لاس مبارک ونيوى او را وه يې کښېې، د مخ مبارک څخه يې وينه بهېدل چي حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه په خپل خوله سره وڅوښل، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي زما وينه په ځکلو سره پاکه کړې ده هغه د دوږخ اور نه سي مسه کولاى.

د حضرت طلحه رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۸۶۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَظَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى طَلْحَةَ بْنِ
د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه ته وکتل
عُبَيْدِ اللهِ قَالَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَّنْظُرَ إِلٰى رَجُلٍ يَّمْشِيْ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ وَقَدْ
او وه يې فرمايل: څوک چي دا غواړي چي يو داسي سړي ته وګوري چي پر مځکه ګرځي مګر
قَضٰى نَحْبَهُ فَلْيَنْظُرْ إِلٰى هٰذَا . وَفِي رِوَايَةٍ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَّنْظُرَ إِلٰى شَهِيْدٍ يَّمْشِيْ

عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ فَلْيَنْظُرْ إِلٰى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ. رواه الترمذي.

په حقيقت كي هغه خپل حاجت پوره كړى وي نو هغه دي دغه سړي ته وګوري، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي څوک چي دا سي شهيد ليدل غواړي چي پر مځکه ګرځي نو طلحه بن عبيدالله ته دي وګوري. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۰۲، رقم: ۳۷۳۹.

تشريح: په حقيقت كي هغه مړ دى، دا د (قضى نحبه) معنى ده، د نحب معنى د نذر منلو او عهد كولو ده مګر ددې يوه معنى د مرګ او اجل هم ده، د قرآن كريم دغه آيت (من المؤمنين رجال صدقوا ماعاهدو الله عليه فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر) كي مفسرينو د قضى نحبه، په تفسير كي دواړي معناوي مراد اخيستي دي، په دغه حديث كي قضى نحبه كه څه هم پر دواړو معناوو محمول كيداى سي مګر دوهمه معنى زياته صحيح او مناسب ده، لكه چي په بل روايت كي (شهيد يمشي علي وجه الارض) څخه هم څرګنديږي، په هر حال ددغه ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مقصد خلګو ته دا ښودل وو چي طلحه رضي الله عنه هغه سړى دى چي هغه د الله جل جلاله په لاره كي او د الله جل جلاله د دين د سرلوړى لپاره د قرباني كوم عهد چي كړى وو هغه يې پوره كړ او د جنګ په ميدان كي هغه د مېړاني په ذريعه د مرګ خوند وڅكى، دا ښله خبره ده چي هغه تر اوسه ژوندى معلوميږي، دا معلومه ده چي د احد د غزا په ورځ حضرت طلحه رضي الله عنه خپل ځان د رسول الله ﷺ سپر جوړ كړى وو او د هغه په نتيجه كي د هغه د بدن مبارک هيڅ يوه برخه او هيڅ يو اندام د زخمي كېدو څخه پاته سوى نه وو.

ځينو حضراتو ليكلي دي چي په دغه حديث كي د حضرت طلحه رضي الله عنه په اړه چي څه فرمايل سوي دي په دې كي د هغه اختياري مرګ ته اشاره ده چي اهل سلوک او ارباب فناء ته ترلاسه كيږي، يا د مړه كېدو څخه الله جل جلاله ته د انجذاب او ذكر الهي او مشاهده په ملكوت كي په پوره توګه د مستغرق كېدو په وجه د عالم شهادت څخه غائب كېدل دي چي په اصل كي د اختياري مرګ نتيجه وي، او دا هم كيداى سي چي رسول الله ﷺ د مړي په ويلو سره دې ته اشاره كړې وي چي د حضرت طلحه رضي الله عنه به د شهادت مرګ او ښه خاتمه په برخه سي، نو همدارنګه وسول چي حضرت طلحه رضي الله عنه په جنګ جمل كي شهيد كړل سو.

د حضرت طلحه او حضرت زبير (رض) فضيلت

﴿۵۸۶۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعت أُذني مِنْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ طَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ جَارَايَ فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي زما غوږونو د رسول الله ﷺ څخه دا الفاظ اوريدلي دي چي طلحه او زبير په جنت کي زما همسايګان دي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۰۳، رقم: ۳۷۴۱.

تشريح: د دغه الفاظو په ذريعه کنايةً هغه کمال قرب او تعلق ظاهر سوی دی چي د دغه دواړو حضراتو او نبي کريم ﷺ په منځ کي وو.

د سعد رضي الله عنه لپاره دعاء

﴿۵۸۶۴﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَئِذٍ يَعْنِيْ يَوْمَ أُحُدٍ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ رَمْيَتَهُ وَأَجِبْ دَعْوَتَهُ. رواه في شرح السنة

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د احد په ورځ د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په حق کي وفرمايل اې الله! د ده نښه ويشتل قوي او ټينګ کړې او د ده دعاء قبوله کړې. شرح السنه

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۴\۱۲۴، رقم: ۳۹۲۳.

تشريح: په دغه وخت کي د غشي په ويشتلو کي د سختۍ او په قوت سره د اجابت دعاء يادونه له دې کبله وه چي په عامه اصطلاح کي د غشي او دعاء په منځ کي ژور تعلق دی، د غشي دعاء ته استعاره ويل کيږي نو په دې مناسبت د نکتې په حيث دا خبره کيږي چي د حضرت سعد رضي الله عنه مستجاب الدعوات کېدل ګويا د هغه غشي اثر وي کوم چي د الله جل جلاله په لاره کي لومړنی غشی ويشتونکی وو.

﴿۵۸۶۵﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ اسْتَجِبْ لِسَعْدٍ إِذَا دَعَاكَ. رواه الترمذي.

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دعاء وکړل اې الله! کله چي سعد

در څخه دعاء وغواړي نو دده دعاء قبوله کړې . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦٠٧، رقم: ٣٧٥١.

د سعد رضي الله عنه فضيلت

﴿٥٨٦٦﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا جَمَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَاهُ وَأُمَّهُ إِلَّا لِسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ لَهُ يَوْمَ أُحُدٍ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي وَقَالَ لَهُ ارْمِ أَيُّهَا الْغُلَامُ الْحَزَوَّرُ. رواه الترمذي.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ پرته د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه خپل مور او پلار پر بل هيچا نه دي جمع کړي ، د احد په ورځ يې هغه ته وفرمايل : غشي چلوه زما مور او پلار دې پر تا قربان وي، او د سعد رضي الله عنه لپاره رسول الله ﷺ دا هم وفرمايل اې قوي زلميه ! غشي وله . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦٠٧، رقم: ٣٧٥١.

د لغاتو حل: الحزور: ولد الاسد (د زمري بچی)

تشريح: او دغه کس چې د ابوبکر صديق رضي الله عنه په لاس يې اسلام قبول کړی وو ، نو هغه وخت د هغه عمر اووه لس کاله وو ، د هغه ځيني حالات مخکې تېر سوي دي ، هغه د خپل اسلام د زمانې هره معامله او پېښه کې داسې برخه اخيستې وه او د دين د سرلوړۍ لپاره يې لوی لوی قربانۍ ورکړي دي، په پای کې چې ملت د انتشار او جګړو په صورت کې راګير سو او د خلافت پر مسئله باندې د مختلفو ډلو جګړه رامنځته سول نو هغه د ټولو معاملو څخه بېلوالی اختيار کړ او ځان يې په کور کې دننه په محصور کولو سره تر يو قبر پوري محدود کړی وو ، او د خپل کور خلکو ته يې هدايت کړی وو چې د دباندې څخه هيڅ يو خبر ما ته مه راوړئ تر دې چې امت پر يو امام باندې متفق او متحد نه سي .

﴿٥٨٦٧﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَقْبَلَ سَعْدٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه

خَالِي فَلْيُرِنِي امْرُؤٌ خَالَهُ. رواه الترمذي وقال كَانَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ مِنْ

حاضر سو، نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا زما ماما دى نو پكار ده چي يو ثوك خپل داسي ماما ما ته وښيي، د ترمذي بيان دى چي حضرت سعد رضي الله عنه د قبيله

بَنِي زُهْرَةَ وَكَانَتْ أُمُّ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من بني زهرة فلذالك قال النبي ﷺ هَذَا خَالِي. وَفِي الْمَصَابِيحِ فليكر من بدل فَلْيُرِنِي. رواه الترمذي

بن زهره څخه وو چي د قريشو يو ښاخ دى او د نبي كريم ﷺ مور بي بي ددغه قبيلې څخه وه ددې تعلق پر بنسټ نبي كريم ﷺ سعد رضي الله عنه ته خپل ماما وويل او په مصابيح كي د فليرني پر ځاى فليكرمن راغلى دى. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦٠٧، رقم: ٣٧٥٢.

تشريح: نو هغه دي ما ته وښيي، يعني كه چيري د چا دا گمان وي چي د هغه ماما زما د ماما په ډول دى دا نه سي كيداى.

زهره د يوې ښځي نوم دى چي د كلاب بن مره بن كعب بن لوى بن غالب ښځه وه، د هغې اولاد ته بنوزهره ويل كيږي او دا د قريشو يو مشهور ښاخ وو، د رسول الله ﷺ د مور مباركي نوم بي بي آمنه او د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نسبي تعلق ددغه ښاخ سره وو او په دې اعتبار بي بي آمنه او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه خور او ورور سول.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

په اسلام كي تر ټولو اول غشى حضرت سعد رضي الله عنه وويشتى

﴿٥٨٦٨﴾: عَنْ قَيْسِ بْنِ اَبِيْ حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ إِنِّي

د حضرت قيس بن ابي حازم رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه اوريدلي

لَأَوَّلُ رَجُلٍ مِنَ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَرَأَيْتُنَا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ

دي چي زه په عربو كي لومړنى سړى يم چي د خداى په لار كي مي غشي ويشتلي دي، او موږ د

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَا لَنَا طَعَامٌ إِلَّا الْحُبْلَةِ وَ وَرَقُ السُّمْرِ وَإِنْ كَانَ

رسول الله ﷺ سره جهاد كوى او زموږ سره به خوراك نه وو، مگر د كيكر پاڼي به مو خوړلي او

اَحَدُنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ مَالَهُ خِلْطٌ ثُمَّ أَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ تُعَزِّرُنِي عَلَى

په موږ کي خلکو قضاء حاجت به داسي کوی لکه پسه چي پوچي کوي او ددې ځیني اجزاء به د ځینو سره نه مخلوط کیدل، بیا د قبیله بنو اسد خلکو به د اسلام په خبرو ما ته بد رد ویل،

الْإِسْلَامِ لَقَدْ خِبْتُ إِذًا وَضَلَّ عَمَلِي وَكَانُوْا وَ شَوْابِهِ إِلَى عُمَرَ وَقَالُوْا لَا يُحْسِنُ يُصَلِّيْ. متفق عليه

او زه هغه وخت سخت نا امیده سوم او زما ټول اعمال ورک سول چي بنو اسد عمر رضي الله عنه ته ورغلل دا شکایت یې ورته وکړ چي سعد رضي الله عنه په ښه ډول لمونځ نه کوي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۸۳، رقم: ۳۷۲۸، ومسلم ۴\۲۲۷۷، رقم: ۱۲- ۲۹۶۶.

د لغاتو حل: الحبلة: ثمر السمر يشبه اللوبيا.

تشريح: د بنو اسد څخه د زبير بن العوام بن خويلد بن اسد اولاد او کورنۍ مراد ده، په هغه زمانه کي چي حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه له خوا د کوفې والي وو ، بنو اسد به د خلکو زباني یا تحریري شکایت حضرت عمر رضي الله عنه ته لیږی چي سعد رضي الله عنه لمونځ په ښه ډول نه کوي یعني یا خو د لمانځه شرائط او ارکان یا د سنتو ادا کول په ښه توګه نه کوي او د هغه ادبونو رعایت نه کوي، پر دغه شکایت باندي حضرت عمر رضي الله عنه د سعد رضي الله عنه څخه جواب وغوښتی او هغه یې ته خبرداری ورکړ ، حضرت سعد رضي الله عنه د صورت حال وضاحت وکړ او امیر المؤمنین ته یې وښودل چي زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه مطابق دغه خلکو ته لمونځ ورکوم، لومړني دوه رکعته اوږده کوم او وروستني دوه رکعته لنډ کوم، حضرت عمر رضي الله عنه د سعد رضي الله عنه وضاحت قبول کړ، په لمانځه ورکولو کي د هغه د طریقې تصویب یې وکړ او وه یې فرمایل: زما خیال دی چي تا کوم بیان کړی دی هغه صحیح دی، د بنو اسد د حضرت سعد رضي الله عنه پر خلاف شکایت کول او په ښه توګه د لمانځه نه ورکولو الزام پر هغه لګول یوه غیرمعمولي واقعه وه چي د حضرت سعد رضي الله عنه جذباتو او احساساتو ته یې سخت تاوان ورسوی او د مجبورۍ څخه هغه د خپل دغه افتخار اظهار وکړ چي هغه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د اول دور هغه انقلابي هڅو کي د ګډون اعزاز تر لاسه دی چي د اسلام د نامه اخیستونکو لپاره د سختۍ او امتحانو موجب وو ، لکه حضرت سعد رضي الله عنه چي د دغه تاثر اظهار وکړ چي کله په سختو

وختو کي هم زما په ديني ژوند کي كمزوري او سستي پيدا نه سول او د سختو تكليفو او پرېشانيو په زغملو سره ما د اسلام فرائض په ښه توګه ادا کول نو اوس د لمانځه غوندي ارزښتناكه عبادت کي سستي څرنګه کولای سم، دا څومره د ناانصافۍ خبره ده چي بنواسد زما د اسلام په قبلولو کي مخته والی، د اسلام لپاره زما هڅي او قربانۍ او د دين په لاره کي زما ثابت قدمي او زما ټول طاعات او عبادات په نظر انداز کولو سره پر ما باندي داسي الزام لګوي چي زما لپاره د پېغور باعث دی، او زما لپاره په سخت ذهني او روحاني تكليف کي اخته كوونكي دی، حضرت سعد رضي الله عنه چي په كومو الفاظو کي د خپلو احساساتو اظهار وكړ د هغه څخه معلومه سول چي د ديني حكمت سره سم د معاندانه عيب ويني او تنقيص د دفع لپاره د خپل علم او فضل صفتونه او كمالات څرګندول جائز دي نو دا ثابته ده چي صحابه كرامو به د صحت مندانه مقاصدو لپاره د خپلو صفتو او كمالاتو اظهار کوی.

د حضرت سعد رضي الله عنه افتخار

﴿۵۸۶۹﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ رَأَيْتُنِي وَأَنَا ثَالِثُ الْإِسْلَامِ وَمَا أَسْلَمَ أَحَدٌ إِلَّا فِي الْيَوْمِ الَّذِي أَسْلَمْتُ فِيهِ وَلَقَدْ مَكَثْتُ سَبْعَةَ أَيَّامٍ وَإِنِّي لَثُلُثُ الْإِسْلَامِ. رواه البخاري.

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د خپل ځان څخه په ښه ډول خبر يم، زه دريم سړی يم چي په اسلام کي داخل سوی يم، بل هيڅ اسلام نه وو راوړی مګر په هغه ورځ په كومه ورځ چي ما اسلام قبول کړی وو، (يعني زما د اسلام راوړلو څخه اووه ورځي وروسته نور خلک مسلمانان سوي دي او اووه ورځي مي په داسي حال کي تيري کړي چي د مسلمانانو د شمير دريمه برخه وم. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۸۳، رقم: ۳۷۲۷.

تشريح: د حضرت سعد رضي الله عنه مطلب دا وو چي تر ټولو مخکي په اوله ورځ چي كومو درو كسانو تر ټولو مخکي اسلام قبول کړ په هغوی کي دوه كسان بي بي خديجه رضي الله عنها او حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه وه او دريم كس زه خپله وم، همدا رنګه که چيري بي بي خديجې او حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنهما تر ما مخکي اسلام قبول کړی دی مګر زموږ د درو سره د اسلام قبلولو ورځ يوه وه، بيا زما د اسلام قبلولو څخه وروسته تر اوو ورځو پوري هيڅ اسلام قبول نه کړ، زما څخه

وروسته چي كوم خلک مسلمانان سول هغوی ټول ددغه اوو ورځو څخه وروسته مسلمانان سول، دلته دا وضاحت ضروري دي چي د حضرت سعد رضي الله عنه مراد دا وو چي په آزاد او بالغو خلکو کي زموږ درو کسانو څخه ماسوا بل څوک په دغه اوو ورځو کي مسلمان نه سو، یا دا چي حضرت سعد رضي الله عنه ته د نورو خلکو د اسلام راوړلو خبر نه وي سوی، ددې وضاحت څخه نه خو دا سوال پیدا کیږي چي د حضرت علي رضي الله عنه او حضرت زید بن حارثه رضي الله عنه په اړه ثابته وه چي دغه دواړو هم په لومړۍ ورځ اسلام قبول کړی وو، نو حضرت سعد رضي الله عنه دا خبره څرنګه وکړل، او نه د حضرت عمار رضي الله عنه ددغه روایت څخه د حضرت سعد رضي الله عنه ددغه روایت تناقض لازمیږي چي په هغه کي یې وویل: کله چي ما په اوله ورځ د رسول الله ﷺ زیارت وکړ نو هغه وخت د پنځو غلامانو، دوو ښځو او ابوبکر صدیق رضي الله عنه څخه ماسوا بل سړی د رسول الله ﷺ په لاس مسلمان سوی نه وو.

د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه فضيلت

﴿٥٨٧٠﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ لِنِسَائِهِ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ خپلو بيبيانو ته وفرمايل:

إِنَّ أَمْرَكُنَّ مِمَّا يُهِمُّنِي مِنْ بَعْدِي وَلَنْ يَصْبِرَ عَلَيْكُنَّ إِلَّا الصَّابِرُونَ

ستاسو کار له هغه قسمه دی چي زما سره یې غم را سره دی یعني زما څخه وروسته به ستاسو ګزاره څنګه وي؟ او صبر به ونه کړی پر تاسي مګر صابرين

الْمُتَصَدِّقُونَ قَالَتْ عَائِشَةُ يَعْنِي الْمُتَصَدِّقِينَ ثُمَّ قَالَتْ عَائِشَةُ لِأَبِي سَلَمَةَ

او صديقين، بي بي عائشه وايي د صابر او صديق څخه مراد د رسول الله ﷺ په نزد هغه خلک دي چي صدقه او خيرات کونکي دي، ددې څخه وروسته بي بي عائشې ابوسلمه بن

بْنِ عَبْدِالرَّحْمٰنِ سَقَى اللّٰهُ أَبَاكَ مِنْ سَلْسَبِيلِ الْجَنَّةِ وَكَانَ ابْنُ عَوْفٍ قَدْ تَصَدَّقَ عَلٰى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِحَدِيقَةٍ بِيعَتْ بِأَرْبَعِينَ أَلْفًا. رواه الترمذي.

عبدالرحمن ته وويل خدای دي ستا پلار د جنت په سلسبيل اوبه کړي، عبدالرحمن بن عوف د بيبيانو مبارکو د مصارفو لپاره يو باغ ورکړی وو چي په څلوېښت زره درهمه باندي خرڅ کړل سوی وو.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦٠٦١، رقم: ٣٧٤٩.

تشريح: چي صابر دی، يعني هغه خلګ چي د الله ﷻ د رضا او خوښۍ دپاره خپل مال او شتمني مصرفوي، د صدقې او خيرات په ذريعه د دنيا سرمايه کموي مګر د آخرت په سرمايه کي زياتوب کوي، او همدارنګه د مال او شتمنۍ په مصرفولو باندي نفس چي کومه ناخوښي کيږي پر هغه صبر کوي.

صديقين دی، يعني هغه خلګ چي د صدقې په اړه کامل وي د حقوقو په ادا کولو کي تر ټولو مخکي وي او په سخا کي کثير الصدق دي.

رسول الله ﷺ چي ازواج مطهراتو ته څه وفرمايل د هغه خلاصه دا وه چي کله الله ﷻ تاسو ته اختيار درکړی وو چي تاسو د زوجيت رسول د شرف په صورت کي آخرت اختيار کړئ يا د آرام ژوند تېرولو لپاره دغه شرف پرېښودل اختيار کړئ، نو هغه وخت کله څه هم تاسو پر دنيا باندي آخرت ته ترجيح ورکړې وه او زما په ملګرتيا او زوجيت کي د اوسېدو فيصله مو په کامل يقين سره برقرار ساتلې وه چي د دغه عظيم شرف لپاره د دنيا لوی مصيبتونه او سختۍ مو د زړه په خوښي سره زغملي وې، بيا هم ما ته کله نا کله دا خيال راځي چي زه ستاسو دپاره مېراث نه پرېږدم، څرګنده نه ده چي زما د وفات وروسته به تاسو د کومو حالاتو سره مخامخ کيږئ، ستاسو سره به خلګ څه چلن او معامله کوي، څوک به ستاسو د مصارفو متکفل جوړيږي او کوم چا ته به ستاسو د خبر اخيستني توفيق په برخه کيږي او څوک چي ستاسو د مصارفو دپاره خپل مال او خپل جائيداد وړاندي کوي د هغه به هغه مقام او مرتبه وي کوم چي د الله ﷻ په نزد د صابر او صديق وي، بي بي عائشې ﷺ د ارشاد نبوي په سياق کي د صابر او صديق معنی بيان کړل او بيا د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ په اړه چي يې کوم الفاظ وفرمايل د هغه څخه د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ هغه فضيلت ظاهر سو چي هغه د ازواج مطهراتو دپاره د خپل جائيداد او مال په وړاندي کولو سره د دغه حديث مطابق فضيلت تر لاسه کړ.

د الله ﷻ په لاره کي د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ مالي قرباني: په ذکر سوي حديث خو دادي چي حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ خپل باغ د ازواجو مطهراتو لپاره ورکړی وو، هغه په څلوېښت زره ديناره وپلورل سو مګر د ترمذي په يو بل روايت کي چي ترمذي ورته حسن غريب ويلي دي، داسي دي چي عبدالرحمن بن عوف ﷺ د ازواج مطهراتو د مصرف دپاره خپل ټول باغ د الله ﷻ په لاره کي ورکړ چي په څلور لکه ديناره وپلورل سو، دا خو د ابن عوف ﷺ د مالي قربانۍ يو مثال دی، هغه ډېر لوی تجار وو، او د خپل تجارت په

ذریعه چي به يې ځومره مال او سامان پيدا کوی هغومره به يې د الله ﷻ په لاره کي مصرف کوی، حقيقت خو دادی که چيري د هغه ژوند او د هغه حالاتو ته وکتل سي نو دا ويل به مبالغه نه وي چي د هغه ټول تجارت او کسب د الله ﷻ په لاره کي او د دين د سرلوړۍ لپاره مصرفېدی، په يوه روايت کي راغلي دي چي حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په زمانه کي خپل نيم مال او سامان او څلور زره ديناره يا درهمه وړاندي کړل، بيا هغه څلوېښت زره ديناره صدقه کړل، بيا پنځه سوه اسونه يې د جهاد لپاره د الله ﷻ په لاره کي ورکړل، بيا يې د جهاد لپاره د الله ﷻ په لاره کي پنځه سوه اوښې ورکړې، او په دغه ټول مال او سامان کي زياته برخه د هغه تجارتي مال او سرمايه وو او د يوه روايت مطابق يو وار حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه يو نيم لک ديناره د الله ﷻ د رضا لپاره صحابه کرامو ته ورکړل،

بيا کله چي شپه راغلل نو په کور کي د قلم او کاغذ په را اخيستلو سره کښېنست او د خپل ټول مال د مهاجرينو او انصارو په منځ کي د وېشلو لپاره يې فهرست جوړ کړ، په هغه فهرست کي يې د خپل بدن جامې هم وليکلې چي زما پر بدن کوم قميص دی هغه د فلاني لپاره دی او زما لنګوټه د فلاني لپاره ده، غمدا رنګه په خپل مال او سامان کي يې هيڅ شی نه پرېښود، هر شی يې د اړو کسانو په نامه وليکی، د دغه ليکني وروسته بېده سو ، کله چي سهار سو نو د سهار د لمانځه لپاره مسجد ته ورسېدی او په رسول الله ﷺ پسي يې لمونځ ادا کړ، په دغه وخت کي حضرت جبرائيل عليه السلام نازل سو او رسول الله ﷺ ته يې وويل: اې محمد! الله ﷻ فرمايي چي عبدالرحمن ته زما له خوا سلام ووايه او هغه فهرست (چي هغه نن شپه جوړ کړی دی) د هغه څخه په قبلولو سره بېرته هغه ته ورکړه، او هغه ته ووايه چي الله ﷻ ستا صدقه قبوله کړل، په دغه ټول مال او سامان کي ته د الله ﷻ او د هغه د رسول له خوا وکيل يې، په خپله خوښه راکړه او ورکړه کوه او د پخوا په ډول مصرف کوه، ددې به ستا سره هيڅ حساب نه کيږي ، ددې سره هغه ته د جنت زيری هم ورکړل سو ، په يوه روايت کي راغلي دي چي هغه دېرش زره غلامان ازاد کړل او څلور ښځي يې پاته سوې، منقول دي چي د هري ښځي په برخه کي اتيا زره درهم راغلي وه ، په يوه روايت کي داسي دي چي د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ميراث په شپاړلسو برخو وويشل سو او د هري ښځي په برخه کي دوه لکه درهم راغلل.

اې الله ! عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د جنت په وياله اوبه کړې

﴿۵۸۷۱﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

لِأَزْوَاجِهِ إِنَّ الَّذِي يَحْثُو عَلَيْكُنَّ بَعْدِي هُوَ الصَّادِقُ الْبَارُّ اللَّهُمَّ اسْقِ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ مِنْ سَلْسَبِيلِ الْجَنَّةِ. رواه احمد.

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي خپلو بيبيانو ته يې فرمايل: کوم سړی چي زما څخه وروسته تاسو ته په لپو مال درکړي هغه صادق الايمان دی، اې الله! د جنت په سلسبيل عبدالرحمن بن عوف اوبه کړې. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ٦\٢٩٩.

د لغاتو حل: يحثو: يجود وينثر (پارول)

تشريح: ښکاره ده چي دعائيه الفاظ د بي بي ام سلمه ﷺ خپل الفاظ دي لکه ښکاره چي په تېر روايت کي د بي بي عائشې ﷺ څخه منقول دي، مګر د ځينو حضراتو وينا ده چي دغه الفاظ هم د رسول الله ﷺ د ارشاد برخه ده، په اصل کي رسول الله ﷺ ته د مخکي څخه معلومه سوې وه چي عبدالرحمن بن عوف ﷺ به زما د بيبيانو سره ډېر لوی احسان کوي او ځکه رسول الله ﷺ د هغه په حق کي دغه دعاء وفرمايل، په دې اعتبار سره دغه حديث د رسول الله ﷺ اعجاز ښکاره کوي.

د حضرت ابو عبيده ﷺ فضيلت

﴿۵۸۷۲﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ جَاءَ أَهْلُ نَجْرَانَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دی چي د نجران خلک د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر

وَسَلَّمَ فقالوا يا رسول الله ابعث الينا رَجُلًا أَمِينًا فقال لابعثن اليكم

سول او عرض يې وکړ اې د الله رسوله! موږ ته يو امانت دار سړی راوليږئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه تاسو ته يو حاکم درليږم چي

رجلا حَقَّ أَمِينٍ فَاسْتَشْرَفَ لَهَا الناس قال فَبَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ ابن الجراح. رواه البخاري.

امين به وي او د دې وړ به وي چي هغه ته امانت دار وويل سي، د دې اوريدو سره خلکو د امارت انتظار کوئ چي چا ته به ورکول کيږي، وايي چي رسول الله ﷺ ابو عبيده بن جراح ﷺ ور ولېږی. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۹۳، رقم: ۳۷۴۵، ومسلم ۴\۱۸۸۲، رقم: ۵۵- ۲۴۲۰

د لغاتو حل: استشرف: طمع.

تشریح: نجران په یمن کي د یو ځای نوم دی چي په لسم هجري کال فتح سوی وو، یو قول دا دی چي نجران د حجاز او شام په منځ کي واقع د یو ځای نوم دی.

تمنی او انتظار کوی: د دغه تمنی او اظهار تعلق د عزت او منصب خواهش هیڅکله نه وو بلکه د دغه تمنی او شوق بنیاد په امانت سره د متصف کېدو غوښتنه او خواهش وو.

د امارت او خلافت په باره کي یو سوال او د هغه جواب

﴿۵۸۷۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ يُؤَمَّرُ بَعْدَكَ

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ته عرض وسو اې د الله رسوله! ستاسو څخه وروسته موږ څوک خپل امیر جوړ کړو؟

قَالَ إِنْ تُؤَمِّرُوا أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تَجِدُوهُ أَمِينًا زَاهِدًا فِي الدُّنْيَا رَاغِبًا فِي

رسول الله ﷺ وفرمایل که تاسو ابوبکر رضی الله عنه خپل امیر جوړ کړئ نو هغه به د دنیا څخه بې پروا او

الْآخِرَةِ وَإِنْ تُؤَمِّرُوا عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تَجِدُوهُ قَوِيًّا أَمِينًا لَا يَخَافُ فِي اللَّهِ

د آخرت راغب وي او که تاسو عمر رضی الله عنه خپل امیر جوړ کړئ نو هغه به قوي او امانتدار وي، د

لَوْمَةَ لَائِمٍ وَإِنْ تُؤَمِّرُوا عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَلَا أُرَاكُمْ فَاعِلِينَ تَجِدُوهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا يَأْخُذُ بِكُمُ الطَّرِيقَ الْمُسْتَقِيمَ. رواه احمد.

الله جل جلاله په احکامو کي هغه د هیچا څخه نه بیرېږي، او که تاسو علي رضی الله عنه خپل امیر جوړ کړئ او زما خیال دی چي تاسو به هغه امیر جوړ نه کړئ نو تاسو به هغه سیده لار ښوونکی او هدایت یافته ووینئ او هغه به تاسو پر سیده لار بوځي. احمد.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۱\۱۰۹.

تشریح: امانتدار، د دنیا څخه بې پروا، یعني د دین د حقوقو په ادا کولو کي به د هغه څخه هیڅ خیانت نه کیږي، هغه چي د دین او ملت په معامله کي کوم حکم او فیصله کوي د هغه بنیاد به عدل او دیانت وي، همدارنګه د هغه به له دنیا سره هیڅ شوق نه وي بلکه د هغه ټوله توجه او

فکر به اخرت ته وي، ددغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمايل چي زما څخه وروسته د خلافت او امارت د وړتيا دپاره دغه صفتونه د مخکي څخه خپل معيار جوړول پکار دي ځکه چي په کوم چا کي دغه صفتونه وي هغه به اصل کي د اخلاص پر درجه باندي فائز وي، او اخلاص هغه جوهر دی چي خلاصون لازموي، په يوه روايت کي د تجدوه مسلما امينا، الفاظ دی او په يوه روايت کي دا الفاظ دي: تجدوه قويا في امر الله ضعيفا في نفسه، يعني تاسو به هغه د الله ﷻ په معامله کي ډېر سخت او د خپل ځان په اړه ډېر کمزوری وينئ.

د ملامت کوونکو د بيري څخه بې خوفه، يعني ددين په معامله کي به هغه د هر ډول خارجي بيري او مصلحت څخه بې نيازه وي، د شريعت په جاري کولو کي به د چا رعايت نه کوي، ددين او ملت په ګټو کي چي کوم قدم پورته کوي او کومه کړنه کوي په هغه کي به د پوره استقلال ثبوت ورکوي، نه به د چا په مخالفت سره هغه ته بېره وي او نه به د چا په ملامتيا متاثر کيږي، نه به د چا پر اعتراض پر هغه اثر کيږي، او نه به د ملامت کوونکي ملامتيا د هغه په استقلال کي لړزه پيدا کولای سي، په يوه روايت کي دا الفاظ دي: تجدوه قويا في امر الله قويا في نفسه،

يعني تاسو به هغه د الله ﷻ په لاره کي ټيګ او خپله د خپل ځان په اړه هم ټينګ تر لاسه کړئ.

په دغه حديث کي د حضرت عثمان رضي الله عنه يادونه نسته، يا خو د هغه يادونه يې نه وه کړې او يا رسول الله ﷺ يادونه کړې وه مګر د راوي څخه د هغه يادونه هېره سول، ځينو حضراتو دا ليکلي دي چي تر ټولو مخکي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه يادونه کول د خلافت په اړه د هغه تقدم او فوقيت ته اشاره کوي، او رسول الله ﷺ که څه هم د عثمان رضي الله عنه يادونه صريحا ونه کړل مګر د حضرت علي رضي الله عنه په يادونه کي (لا اراکم فاعلين) يعني تاسو به هغه خپل امير او مشر نه جوړوئ، په دغه الفاظو کي پر حضرت علي رضي الله عنه باندي د حضرت عثمان رضي الله عنه تقدم ته اشاره ده، ددغه الفاظو (لا اراکم فاعلين) يو مطلب خو هغه دی چي هغه ته په ترجمه کي اشاره سوې ده يعني دا چي زما خيال دی چي د هغه پر خلافت باندي به د ټولو مسلمانانو اجماع نه وي بلکه د هغه سره به د اختلاف کوونکو ډېر لويه ډله موجود وي، او يو مطلب دا هم کيدای سي چي زما خيال دی چي تاسو خلګ به زما د وفات څخه وروسته تر ټولو مخکي علي رضي الله عنه خپل خليفه او امير جوړوئ ځکه چي د قضاء او قدر الهي څخه ما ته دا معلومه سوې ده چي د علي رضي الله عنه عمر به اوږد وي او هغه به د ذکر سوو دواړو کسانو يعني ابوبکر او عمر رضي الله عنهما څخه زيات ژوندی وي، که زما څخه وروسته تر ټولو مخکي علي رضي الله عنه خليفه او امير وټاکل سي نو ددغه دواړو د خلافت

قائمېدو صورت نسته چي د علي رضی اللہ عنہ څخه مخکي وفات کېدونکي دي، حال دا چي ددغه خلګو خليفه کېدل هم مقدر سوی دی، ددغه مطلب په صورت کې به ظن د يقين په معنی کي اخيستل کيږي يعني رسول الله ﷺ داسي وفرمايل: ما ته يقين دی چي تاسو به زما څخه وروسته تر ټولو مخکي عني رضی اللہ عنہ خپل خليفه او امير نه جوړوئ، په هر حال رسول الله ﷺ د پوښتنه کوونکي په جواب کي چي څه وفرمايل د هغه خلاصه دا وه چي اې مسلمانانو! زما څخه وروسته د مسلمانانو قيادت او د ملي مشرۍ يعني خلافت او امارت معامله په حقيقت کي خپله پر تاسو باندي موقوف ده تاسو ددين او ملت په اړه امين هم ياست او مجتهد هم ياست، الله جل جلالہ تاسو ته دومره بصيرت او حق ته د رسېدو داسي ايماني قوت درکړی دی چي د حالاتو او تقاضو سره سم صحيح فيصلې ته رسېدلای سئ، نو زما څخه وروسته تاسو د خپل اجتهاد په ذريعه د کوم چا پر امارت او خلافت چي متفق او متحد سئ هغه بهٔ ستاسو امير او خليفه وي، ځکه چي زه پوهيږم چي ستاسو اجماع او اتحاد د حق او صداقت څخه ماسوا پر بل هيڅ شی نه کيږي، شيخ عبدالحق دهلوي رحمۃ اللہ علیہ ليکلي دي: دغه حديث ددې خبري دليل دی چي رسول الله ﷺ د نص صريح په صورت کي هيڅوک هم خپل خليفه ټاکلی نه وو.

د څلورو خليفه ګانو فضائل

﴿۵۸۷۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللّٰهُ أَبَا بَكْرٍ

د حضرت علي رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خدای تعالی دي پر ابوبکر رضی اللہ عنہ

زَوَّجَنِيَ ابْنَتَهُ وَحَمَلَنِي إِلَى دَارِ الْهِجْرَةِ وصحبني في الغار وَأَعْتَقَ بِلَالًا مِنْ

رحم وکړي هغهٔ خپله لور ما ته په نکاح راکړه، زه يې د هجرت کور ته بوتلم او په غار کي يې ملګرتيا را سره وکړه او په خپل مال سره يې بلال آزاد کړ

مَالِهِ رَحِمَ اللّٰهُ عُمَرَ يَقُولُ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا تَرَكَهُ الْحَقُّ وَمَا لَهُ صَدِيقٌ

او خدای تعالی دي پر عمر رحم وکړي چي حقه خبره کوي که څه هم هغه ترخه وي، حق ويل هغه دې حال ته ورسوی چي د هغه هيڅوک دوست نسته،

رَحِمَ اللّٰهُ عُثْمَانَ تَسْتَحْيِيهِ الْمَلَائِكَةُ رَحِمَ اللّٰهُ عَلِيًّا اللّٰهُمَّ أَدِرِ الْحَقَّ مَعَهُ

حَيۡثُ دَارَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

او الله ﷻ دي پر عثمان رضی اللہ عنہ رحم وکړي چي ملائکي هم حيا ځيني کوي او الله تعالی دي پر علي رحم وکړي ، اې الله ! حق ته د علي رضی اللہ عنہ سره گردش ورکړې يعني چيري چي علي وي هلته حق وي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۹۱، رقم: ۳۷۱۴.

تشريح: پر خپلي اوښي باندي په سپرولو سره، په ځينو روايتو کي راغلي دي چي حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ دوې اوښي ساتلي وې چي معلومه نه ده کله به د هجرت حکم راځي ، کله چي د هجرت حکم راغلی نو يوه اوښه يې د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره کړل او عرض يې وکړ چي اې د الله رسوله! د هجرت په سفر کي د سپرلۍ لپاره دغه اوښه قبوله کړه، رسول الله ﷺ وفرمايل: زه دغه اوښه د سپرلۍ دپاره په هغه صورت کي اخلم چي ته يې پر ما وپلورې، په پای کي حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ هغه اوښه په رسول الله ﷺ وپلورل او رسول الله ﷺ د اته سوه درهمو په عوض کي هغه اوښه رانيول.

د هغه هيڅوک دوست نسته، يعني د هغه هيڅوک داسي دوست نسته چي د دوستۍ اميد ځيني ولري، او کوم چي د مطلق دوستۍ تعلق دی نو ټول مخلص او رښتوني مسلمانان د هغه دوستان وه او تر ټولو زيات خو صديق اکبر رضی اللہ عنہ د هغه رښتونی دوست وو.

پر کومه خوا چي علي رضی اللہ عنہ وي هغه خوا حق وي، دغه الفاظ داسي دي لکه په يوه روايت کي چي سيوطي په جمع الجوامع کي نقل کړي دي، فرمايل سوي دي: القرآن مع علي وعلي مع القرآن، يعني قرآن د علي رضی اللہ عنہ سره دی او علي رضی اللہ عنہ د قرآن سره دی.

============

بَابُ مَنَاقِبِ اَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ ﷺ

(د نبي کريم ﷺ د کورنۍ د مناقبو بيان)

د اهل بيتو اطلاق پر کومو خلکو باندي کيږي: اهل بيت يعني د نبي کريم ﷺ د کورنۍ څخه کوم خلک مرا ددي؟ په دې اړه مختلف روايتونه دي، د اهل بيتو اطلاق پر هغه کسانو باندي هم کيږي چا ته چي د زکوة مال اخيستل حرام دي، يعني بنوهاشم او په هغوی کي

آل عباس، آل علي، آل جعفر او آل عقيل شامل دي، په ځينو روايتو کي د رسول الله ﷺ کورنی ته اهل بيت ويل سوي دي چي په هغوی کي ازواج مطهرات په يقيني توګه شاملي دي، کوم خلک چي ازواج مطهرات د اهل بيتو څخه خارج ګرځوي هغوی د مکابره (زور، کبر او فساد) ښکار دي، او د قرآن کريم د دغه آيت:

إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا

څخه خپل اختلاف ظاهرونکی دي ځکه چي تر دې مخکي او وروسته ازواج مطهرات مخاطب کړل سوي دي، نو بيا ازواج مطهرات د آيت د منځ څخه د دغه عبارتي لړۍ او معنوي سياق و سباق څخه بېلول دي، امام فخر الدين رازي رحمه الله ليکلي دي چي دغه آيت د رسول الله ﷺ ازواج مطهراتو ته شامل دی ځکه چي د آيت سياق او سباق په پوره شدت سره ددې متقاضي دی نو ازواج مطهرات د اهل بيتو د مصداق څخه ايستل او د دوی څخه ماسوا نور خلک د دغه مصداق سره مختص کول به صحيح نه وي، امام رازي رحمه الله وړاندي ليکي: دا ويل زيات غوره دي چي داهل بيتو مصداق د رسول الله ﷺ پر اولاد او ازواج مطهرات دی او په هغوی کي حضرت امام حسن او حضرت امام حسين رضي الله عنهما هم شامل دي، او حضرت علي رضي الله عنه هم د رسول الله ﷺ سره د خاص نسبت او تعلق په سبب د اهل بيتو څخه دی، بيا هم په ځينو ځايو کي د اهل بيتو اطلاق داسي هم راغلی دی چي د هغه څخه په ظاهره دا مفهوم اخيستل کيږي چي ددې مصداق يوازي فاطمة زهرا رضي الله عنها، علي مرتضی رضي الله عنه، حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه دی لکه څرنګه چي د حضرت انس رضي الله عنه په روايت کي دي چي رسول الله ﷺ به د سهار د لمانځه لپاره مسجد ته راتلی نو په لاره کي د بي بي فاطمې رضي الله عنها د کور مخته په تېرېدو سره به يې داسي فرمايل: الصلوة يا اهل البيت انما يريد الله ليذهب عنکم الرجس اهل البيت ويطهرکم تطهيرا، دغه روايت ترمذي نقل کړی دی، همدارنګه ام المؤمنين بي بي ام سلمه رضي الله عنها روايت کوي چي يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره په کور کي ناسته وم چي خادم راغلی او عرض يې وکړ چي علي او فاطمه رضي الله عنهما دباندي له دروازې سره ولاړ دي، رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل: ته يوې خوا ته سه، نو زه د کور يو کونج ته ولاړم، علي او فاطمه رضي الله عنهما دننه راغلل او دهغوی سره حسن او حسين رضي الله عنهما هم وه، چي هغه وخت ماشومان وه، رسول الله ﷺ، حسين او حسين رضي الله عنهما په غېږ کي کښېنول او په يوه لاس يې علي رضي الله عنه او په بل لاس يې فاطمه رضي الله عنها د خپل بدن سره جخت کړل، بيا يې خپله توره کمبله پر هغوی ټولو باندي واچول چي هغه وخت يې پر بدن مبارک وو او وه يې فرمايل: اې

الله! دا زما اهل بيت دي ، ما او زما اهل بيت ځان ته وبولې نه او رته، د بي بي ام سلمه ﷺ څخه دا هم منقول دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما دغه مسجد (مسجد نبوي) پر هري حائضې ښځي او هر جنب سړي باندي حرام دی مګر پر محمد ﷺ او د هغه پر اهل بيتو باندي، چي هغه علي، فاطمه، حسن او حسين ﷺ دي، دغه روايت بيهقي نقل کړی دی او ضعيف يې ګرځولی دی،

په هر حال يوې خوا ته هغه روايتونه دي چي د هغو څخه بنوهاشم او د رسول الله ﷺ پر کورنۍ باندي د اهل بيتو اطلاق ثابتيږي او بلې خوا ته هغه روايتونه دي چي د هغه څخه د اهل بيتو مصداق يوازي پر حضرت علي، بي بي فاطمه، حضرت حسن او حضرت حسين ﷺ باندي کيږي بلکه پر دغه څلورو باندي د اهل بيتو اطلاق شائع او مشهور دی، ځکه علماؤ ددغه ټولو روايتو تطبيق او د اطلاق په توجيه کي دا ويلي دي چي د اهل بيت درې ډولونه دي، بيت نسب، بيت سکن، بيت ولادت، نو بني هاشم يعني د عبدالمطلب اولاد ته به د نسب او کورنۍ په اعتبار د رسول الله ﷺ اهل بيت ويل کيږي، په عربو کي د جد قريب اولاد ته بيت يا کورنۍ هم ويل کيدل، او خپله په پښتو کي هم داسي دي چي د فلاني کورنۍ ډېره عزتمنده ده يا فلانی سړی د ښه کورنۍ څخه دی، نو د کورنۍ يا خاندان څخه د هغه سړي د پلار او نيکه اولاد مراد وي ، د رسول الله ﷺ ازواج مطهراتو ته به اهل بيت سکنی ويل کيږي ، په عامه اصطلاح کي د يو سړي ښځي د هغه اهل بيتو سره تعبير کېدل مشهور دي او د رسول الله ﷺ اولاد ته به اهل بيت ولادت ويل کيږي که څه هم د رسول الله ﷺ پر ټول اولاد باندي د اهل بيت ولادت اطلاق کېدل پکار دي مګر په ټول اولاد کي حضرت علي ، بي بي فاطمه، حسن او حسين ﷺ ته چي کوم خاص فضل او شرف تر لاسه وو او دا چي د هغوی فضائل او مناقب په کوم کثرت سره په حديثو کي وارد دي د هغو په وجه به د اهل بيتو ولادت خاص او امتيازي مصداق يوازي د څلورو کسانو منل کيږي.

څرګنده دي وي چي په دغه باب کي د مشکوة مؤلف چي کوم حديثونه او روايتونه نقل کړي دي د اهل بيتو په نسبت سره د هغو تعلق د ځينو بني هاشمو سره هم دی او د علي ، فاطمه، حسن او حسين ﷺ سره هم دی، ددې څخه ماسوا په ضمن کي حضرت زيد بن حارثه ﷺ او دهغه د زوی حضرت اسامه ﷺ يادونه هم راغلې ده ، او ددغه دواړو خو غالبا په دې وجه دی چي ددغه دواړو سره د رسول الله ﷺ ډېره مينه او عنايت وو ، يا په دې سبب دی چي کيدای سي دغه دواړه د مشکوة مؤلف په اهل بيتو کي شمېرلي وي، همدارنګه د مشکوة مؤلف چي په دغه باب کي د ازواج مطهراتو يادونه نه ده کړې بلکه د هغوی لپاره يې بېل باب قائم کړی دی نو

دهغه وجه هم يا خو داده چي د هغوی خاص مناقب او فضائل په اعتبار د هغوی ځانته باب قائمول يې مناسب وګڼل يا د عامي اصطلاح په وجه د هغوی يادونه يې د اهل بيتو څخه بېله وکړل ځکه چي په عامه توګه د اهل بيتو اطلاق پر دغه څلورو تنو باندي کيږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

آيت مباهله او اهل بيت

﴿۵۸۷۵﴾: عَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ نَدْعُ اَبْنَاءَنَا وَاَبْنَاءَكُمْ دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا وَفَاطِمَةَ وَحَسَنًا وَحُسَيْنًا فَقَالَ اللّٰهُمَّ هٰؤُلَاءِ أَهْلُ بَيْتِيْ. رواه مسلم.

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله دا آيت نازل سو (فقل تعالوا ندعُ ابناءنا وابناءکم.....)، (يعني راځئ چي موږ خپل زامن او ستاسو زامن راوبلو) نو رسول الله ﷺ علي، فاطمه، حسن او حسين رضي الله عنهم راوستل او وه يې فرمايل اې الله! دا زما اهل بيت دي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۸۷۱، رقم: ۳۲- ۲۴۰۴.

تشريح: پوره آيت داد ی:

فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ.

ژباړه: نو کوم څوک چي ستا سره (د قرآن يا دين) په اړه حجت کوي وروسته تر دې چي تا ته قطعي علم راغلی دی نو ته ورته ووايه راځئ چي موږ او تاسو راوبولو خپل زامن او ستاسو زامن، خپلي ښځي او ستاسو ښځي، خپل ځانونه او ستاسو ځانونه، بيا موږ ټول په يو ځای کېدو سره د زړه په اخلاص دعاء وغواړو په دې توګه چي الله جَلَّ جَلَالُهُ لعنت وليږي پر هغه چا چي ناحقه وي، دغه آيت ته آيت مباهله ويل کيږي، مباهله لفظ د بهل يا بهلة څخه اخيستل سوی دی چي معنی يې د لعنت ليږلو او لعنت ده، دمباهله مطلب پر يو بل باندي لعنت ليږل او د ملعون کېدو ښېرا کول دي، د دغه لفظ د مفهوم ادا کولو لپاره د ابتهال لفظ وو مګر وروسته د دغه لفظ

ابتهال اطلاق پر هغه دعاء باندي كېدل پيل سول چي په هغه كي تضرع، خشوع، او خضوع او عاجزي صورت ډېر زيات اختيار كړل سوى وي، په هر حال د عربو دا عادت وو چي كله به په يوه معامله كي دوو ډلو په خپلو كي د يو بل مخالفت او تكذيب كوى او پر يو بل باندي به يې د ظلم الزام عائد كوى نو په پاى كي به د خپلو خپلو كورو څخه دباندي راووتل او پر يو خاص ځاى به راجمع سول او د يو بل خلاف به يې ښېرا كول، پر يو بل به يې لعنت كوى او داسي دعاء به يې كول: اې الله! په موږ كي چي ثوك ناحقه وي يا ظالم وي پر هغه لعنت وكړې .

كله چي نصارا (مسيحانو) د اسلام يا قرآن د حقانيت او صداقت په اړه د رسول الله ﷺ سره د بحث او مباحثې دروازه خلاصه كړل او د اسلام د پيغمبر مخالفت او تكذيب يې وكړ نو الله جل جلاله، رسول الله ﷺ ته د ذكر سوي آيت په ذريعه حكم وكړ چي ته دغه مسيحانو ته د مباهلې دعوت وركړه او دوى ته وو وايه راځئ چي په عامه توگه خپله فيصله وكړو چي په موږ كي ثوك پر حق دى او ثوك پر ناحقه، په روايتو كي راځي چي ددغه آيت په نازلېدو سره رسول الله ﷺ خپل قريبان او اهل بيت د مباهلې لپاره راوستل په داسي توگه چي حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما چي هغه وخت ډېر كوچنيان وه د رسول الله ﷺ په غېږ مباركه كي وه ، بي بي فاطمه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ تر شا وه او حضرت علي رضي الله عنه د بي بي فاطمې رضي الله عنها تر شا وو، رسول الله ﷺ هغوى ته وفرمايل: كله چي زه په مباهله كي ښېرا كوم نو تاسو ټول په يو ځاى امين وايا ست، د مسيحانو د مشر نظر چي پر هغه نوراني مخونو ولوېدى نو خپلو ملگرو ته يې بې اختياره وويل: پر تاسو افسوس دى ، زه خو دغه نوراني مخونه داسي وينم كه چيري دغه كسان الله جل جلاله ته داسي خواست وكړي چي غر د هغه ځاى څخه وباسي نو يقينا الله جل جلاله به د دوى خواست قبول كړي او غر به د هغه ځايه ليري سي، بيا هغه خپلو ملگرو ته مشوره وركړل چي ددغه خلگو سره مباهله هيڅكله مه كوئ كنه نو بيخ به مو وباسي، په پاى كي مسيحانو د رسول الله ﷺ سره مباهله ونه كړل او د جزيې په قبلولو سره د رسول الله ﷺ پر سياسي اطاعت مجبور سول، مگر په هغوى كي د اسلام او پيغمبر سره د زړه تعلق او مناسب نه وو ځكه هغوى د اسلام د دائرې څخه محروم پاته سول، په يوه روايت كي دا هم راغلي دي چي وروسته رسول الله ﷺ فرمايلي وه: كه چيري هغه خلگو مباهله كړې وي نو د نتيجې په توگه به د هغوى صورتونه مسخ سوي واى او د بېزوگانو او خنزيرانو په ډول به سوي واى، ټول ځنگل به اور سوى واى او هغه اور به نه يوازي هغوى نيستي كړي واى بلكه درختي او مرغان به يې هم سوځلي واى .

په قران کریم کې د اهل بيتو مصداق

﴿۵۸۷۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةً وَعَلَيْهِ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يوه ورځ سهار وختي يو

مِرْطٌ مُرَحَّلٌ مِنْ شَعْرٍ أَسْوَدَ فَجَاءَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ فَأَدْخَلَهُ ثُمَّ جَاءَ

تور وربښتو لرونکی کمبل اچولی دباندي تشريف راوړ چې په خدمت کې يې حسن بن علي رضي الله عنه حاضر سو ، رسول الله ﷺ هغه په کمبل کې دننه کښېنوی ، بيا

الْحُسَيْنُ فَدَخَلَ مَعَهُ ثُمَّ جَاءَتْ فَاطِمَةُ فَأَدْخَلَهَا ثُمَّ جَاءَ عَلِيٌّ فَأَدْخَلَهُ ثُمَّ

حسين رضي الله عنه راغی هغه يې هم په کمبل کې دننه کښېنوی ، بيا فاطمه رضي الله عنها راغلل هغه يې هم په کمبل کې دننه کښېنول ، بيا علي رضي الله عنه راغلی هغه يې هم په کمبل کې داخل کړ

قَالَ إِنَّمَا يُرِيدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا.

رواه مسلم.

او دا آيت يې تلاوت کړ : (انما يريد الله ليذهب عنکم .....)، (اې اهل بيتو ! الله تعالى غواړي چې ستاسو څخه د ګناهونو ناپاکي ليري کړي او تاسو پاک او صاف کړي) مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۸۸۳، رقم: ۶۱ - ۲۴۲۴.

د لغاتو حل: المرط: کساء يکون من خز وصوف فيه علم. مرحل: ضرب من برود اليمن (يمني څار)

تشريح: د دغه آيت سياق او سباق په پوره وضاحت سره د دې خبرې دليل دی چې د رسول الله ﷺ ازواج مطهرات هم د اهل بيتو څخه دي ځکه چې تر دې په مخکي آيت کې هم : (ياَنساء النبي لستن کاحد من النساء) په ذريعه ازواج مطهراتو ته خطاب سوی دی او په وروسته آيت کي هم (واذکرن ما يتلى في بيوتکن) د دوی يادونه ده، پاته سوه دا خبره چې په (عنکم الرجس) کې د جمع مذکر ضمير ولې راوړل سوی دی، نو د دې وجه يا خو د عظمت اظهار دی او يا د اهل بيتو د نارينوو فوقيت او غوره والي ته اشاره کول مقصد دي.

ابراهيم بن محمد رسول الله ﷺ

﴿۵۸۷۷﴾: وَعَنِ الْبَرَاءَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامِ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لَهُ مُرْضِعًا فِي الْجَنَّةِ. رواه البخاري.

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دى چي كله د رسول الله ﷺ زوى ابراهيم وفات سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت كي د هغه لپاره تى وركونكې ده. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۲۴۴، رقم: ۱۳۸۲.

تشريح: ځينو شارحينو د شېدو ښېښلو څخه دا مراد اخيستى دى چي الله جل جلاله د هغه لپاره د جنت ټول نعمتونه تيار كړي دي او هغه په جنت كي خوند اخلي، مګر حقيقت دا دى چي د دغه تاويل هيڅ ضرورت نسته، كله چي د يو لفظ د حقيقي معنى امكان وي نو د هغه مجازي معنى مراد اخيستل جائز نه دي.

د مرضعا لفظ په زياتو نسخو كي د ميم په پېښ او د ضاد په زېر سره منقول دى چي معنى يې د دايه (تي وركوونكې) ده، او په يوه نسخه كي د ميم او ضاد په زور سره دى چي نقلي معنى يې د شېدو ښېښلو د ځاى ده، په دغه صورت كي د مرضعا في الجنة مطلب به دا وي چي د هغه د شېدو رودلو د وخت پوره كېدو ځاى جنت دى، او مرضعا مصدر يعني د شېدو ښېښل هم ګرځول كيداى سي.

دغه حديث په ښكاره ددې خبري دليل دى چي پاک خلک د مړ كېدو څخه وروسته هم هغه وخت جنت ته رسول كيږي او په دغه حديث كي دا هم ثابت سول چي جنت په وجود كي راغلى دى او موجود دى.

د بي بي فاطمې رضي الله عنها فضيلت

﴿۵۸۷۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنَّا أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناستي وو چي

وَسَلَّمَ عِنْدَهُ فَأَقْبَلَتْ فَاطِمَةُ تَخفي مِشْيَتَهَا من مَشْي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ

بي بي فاطمه رضي الله عنها راغلل، د هغې كړني او د تګ هيئت بيخي د رسول الله ﷺ سره مشابه وو،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلما راٰها قال مَرْحَبًا بِابْنَتِي ثُمَّ أَجْلَسَهَا ثُمَّ سارها فَبَكَتْ بكاء

رسول الله ﷺ چي بي بي فاطمه ﷞ وليدل نو وه يې فرمايل اې زما لوري ! په خوشحالي راسې، ددې څخه وروسته يې دځان سره کښېنول، بيا يې په کرار کرار ورسره خبري وکړې، نو بي بي فاطمه په چغو چغو په ژړا سوه،

شديدا فلما راى حزنها سارها لِمَ تَبْكِينَ ثُمَّ أَسَرَّ إِلَيْهَا حَدِيثًا فَضَحِكَتْ

رسول الله ﷺ چي هغه غمجنه وليدل نو بيا يې کرار ورسره څه خبري وکړې نو هغه په خندا سوه،

فَقُلْتُ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ فَرَحًا أَقْرَبَ مِنْ حُزْنٍ فَسَأَلْتُهَا عَمَّا قَالَ فَقَالَتْ مَا

بيا چي رسول الله ﷺ د هغه ځای څخه ولاړی نو ما د بي بي فاطمې ﷞ څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ ستا سره څه خبري وکړې، بي بي فاطمې وويل:

كُنْتُ لِأُفْشِيَ سِرَّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى قُبِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

زه د رسول الله ﷺ راز ښکاره کول نه خوښوم، (بي بي عائشه وايي) هر کله چي رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهَا فَقَالَتْ أَسَرَّ إِلَيَّ إِنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يُعَارِضُنِي الْقُرْآنَ كُلَّ

وفات سو نو ما بي بي فاطمې ته وويل زه تا ته د حق واسطه او قسم درکوم چي زما پر تا دی (يعني ستا مور يم) ته ما د هغه راز څخه خبره کړه کوم چي رسول الله ﷺ پر تا ښکاره کړی وو، بي بي فاطمې وويل: اوس په هغه راز ښکاره کولو کي څه حرج نسته، واقعه دا وه چي رسول الله ﷺ په لومړي وار ما ته دا فرمايلي وه چي جبرائيل ﷺ به هر کال زما سره يو وار د قرآن پاک

سَنَةٍ مَرَّةً وَإِنَّهُ عَارَضَنِي الْعَامَ مَرَّتَيْنِ وَلَا أُرَاهُ إِلَّا حَضَرَ أَجَلِي وَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِ

تکرار کوی، سږ کال يې راسره دوه واره تکرار وکړ، زما خيال دی چي زما د مرګ وخت رانژدې سوی دی، نو اې فاطمې ! ته د خدای څخه وبيرېږه او صبر اختيار کړه، ځکه چي زه ستا لپاره

بَيْتِي لَحَاقًا بِي فَبَكَيْتُ فَقَالَ أَمَا تَرْضَيْنَ أَنْ تَكُونِي سَيِّدَةَ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَوْ

غوره مخکي تلونکی يم، ددې اوريدو سره زه په ژړا سوم، بيا چي رسول الله ﷺ وليدل چي زه ډېره غمجنه سوم نو دويم وار يې راسره خبري وکړې او دا وار يې دا وفرمايل اې فاطمې ! ايا ته په دې خبره

راضي نه يې چي ته د جنت د ټولو ښځو سرداره جوړه کړل سې يا

نِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ. وفي رواية فَسَارَّنِي أَنَّهُ يُقْبَضُ فِي وَجَعِهِ فَبَكَيْتُ ثُمَّ سَارَّنِي فَأَخْبَرَنِي أَنِّي أَوَّلُ أَهْلِ بَيْتِهِ أَتْبَعُهُ فَضَحِكْتُ. متفق عليه.

ته د ټولو مؤمنانو د ښځو سرداره کړل سې، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي په لومړي وار يې ما ته دا الفاظ وفرمايل چي رسول الله ﷺ به په دغه ناروغۍ کي وفات سي، ددې اوريدو سره زه په ژړا سوم، بيا رسول الله ﷺ راته وفرمايل چي په اهل بيتو کي به تر ټولو مخکي ته زما سره يو ځای کيږې نو زه خوشحاله سوم او په خندا سوم. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۷۹، رقم: ۶۲۸۵، ومسلم ۴\۱۹۰۴، رقم: ۹۸- ۲۴۵۰.

د لغاتو حل: ماتخفى: اي تمتاز.

تشريح: د راز ښکاره کوونکې نه يم، يعني کومه خبره چي رسول الله ﷺ پټه کړل زه هغه څرګنده ښکاره کړم، ځکه که چيري د رسول الله ﷺ په نزد ددغه خبري اظهار مناسب وای نو ما ته به يې پټه نه کولای بلکه د ټولو په مخکي په لوړ اواز به يې کولای، ددې څخه معلومه سول چي د خپلو مشرانو او قريبانو رازونه پټ ساتل مستحب دي.

دوه واره تکرار وکړ: يعني په کال کي چي به څومره قرآن کريم نازليدی د هغه تکرار به حضرت جبرائيل علیه السلام د رمضان په مياشت کي له رسول الله ﷺ سره کوی، ددې لپاره چي د رسول الله ﷺ په ذهن کي د قرآن کريم يو يو لفظ او يو يو حرف په پوره توګه خوندي سي او دوهم دا څرګنده سي چي کوم آيت ناسخ نازل سوی دی او کوم آيت منسوخ سوی دی، د حديث ددغه برخي څخه دا معلومه سول چي د قرآن کريم تکرار مستحب دی، او دا هم څرګنده سول چي دغه حديث د رسول الله ﷺ د عمر په پای کي د رمضان څخه وروسته ارشاد فرمايلی وو.

ددې مطلب ما دا اخيستی دی: يعني جبرائيل علیه السلام سږ کال د معمول خلاف دوه واره د قرآن کريم تکرار وکړ، دا ددې خبري خبرداری دی چي د قرآن د تکرار په صورت کي د نزول هدايت لړۍ پای ته رسېدلې ده او د دين تکميل او نعمت پوره سوی دی نو اوس بايد قرآن کريم په ذهن کي پوره خوندي وي او د احکامو ښهٔ په ياد ساتل پکار دي.

ايا ته په دې خوشحاله نه يې: يعني په دې پوهېدو سره چي زه له دنيا څخه ژر رخصت کېدونکی يم، ته بايد پريشانه نه سې، د الله جل جلاله په حکم او فيصله باندي راضي اوسه او په دې

خبره د هغه شکر ادا کوه چي هغه تا ته دومره لویه رتبه درکړې ده .

د بي بي فاطمة الزهرا ﷞ فضیلت: دغه حدیث ددې خبري دلیل دی چي بي بي فاطمه ﷞ تر ټولو ښځو افضله ده تر دې چي پر بي بي مریم، بي بي خدیجه او بي بي عائشې ﷢ باندي هم هغې ته خاص فضیلت حاصل وو ، سیوطي ﷫ همداسي لیکلي دي، پاته سوه د هغه حدیث خبره چي د هغه څخه څرګندیږي چي فاطمه الزهرا ﷞ د بي بي مریم بنت عمران علیها السلام څخه ماسوا پر نورو ټولو ښځو باندي فضیلت لري ،

یا هغه حدیث چي په هغه کي فرمایل سوي دي چي په دغه امت کي د فاطمې ﷞ هغه مرتبه ده کوم چي بي بي مریم علیها السلام ته په خپل قوم کي حاصله وه ، یعني څرنګه چي بي بي مریم علیها السلام د خپل قوم په ټولو ښځو کي افضله وه همدارنګه ددغه امت په ټولو ښځو کي تر ټولو افضله فاطمه ﷞ ده، نو د روایتو اختلاف کیدای سي له دې کبله وي چي د بي بي فاطمې ﷞ رتبه په تدریجي توګه زیاتېدل او په دغه تدریج سره د هغې دغه افضیلت د الله ﷻ له خوا د وحي او د هغه ملائکي په ذریعه رسول الله ﷺ ته حاصل سوی وی چي د هغه اظهار د مختلفو احادیثو په ذریعه کیدی، او بیا په پای کي د بي بي فاطمې ﷞ رتبه تر اخري درجې پوره زیاته سول ، نو بېله استثناء د عالم پر ټولو ښځو باندي د هغې فضیلت ثابت سو ، ځینو علماؤ بي بي عائشه ﷞ تر بي بي فاطمې ﷞ افضله ګرځولې ده او په دلیل کي دا خبره وړاندي کوي چي په جنت کي به بي بي عائشه ﷞ د رسول الله ﷺ سره وي او بي بي فاطمه ﷞ به د حضرت علي ﷜ سره وي، او دا څرګنده ده چي د رسول الله ﷺ درجه او محل د حضرت علي ﷜ تر درجې او محل اعلی او اشرف دی، مګر دغه دلیل د هغه حدیثونو په وړاندي بې معنی ګرځي چي په هغه کي بیان سوی دی چي رسول الله ﷺ بي بي فاطمې ﷞ ته په خطاب کولو سره وفرمایل: ته علي، حسن او حسین ﷺ به په جنت کي په یوه درجه او محل کي یاست، د بي بي عائشې ﷞ د افضیلت د قائلینو له خوا یو دلیل دا هم ورکول کیږي چي هغې ته د اجتهاد مقام حاصل وو او مجتهده ګڼل کېدل، د خلفاء اربعه په زمانه کي یې فتوا ورکول ، سیوطي ﷫ په فتاوی کي لیکلي دي چي په دغه مسئله کي درې مذهبه دي، او په درو سره مذهبو کي تر ټولو صحیح مذهب دادی چي فاطمه ﷞ تر عائشې ﷞ افضله ده ، ځیني حضرات دا هم وایي چي فاطمه او عائشه ﷢ دواړي په رتبه کي یو ډول دي، او ځیني حضرات په دې اړه پټه خوله کېدل غوره ګڼي، ځیني حنفي او ځیني شافعي علماء دې ته مائل دي ، د امام مالک ﷫ په اړه نقل سوي دي چي د هغه څخه پوښتنه وسول: تاسو بي بي فاطمه ﷞ افضله ګڼئ او که بي بي عائشه ﷞؟

نو هغه جواب ورکړ چي فاطمه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د غوښو ټوټه ده او زه د رسول الله ﷺ د غوښو پر ټوټې باندي هيڅ ته فضيلت نه ورکوم.

امام سبکي رحمة الله عليه ليکلي دي: زموږ په نزد او زموږ د مذهب په اعتبار چي کومه خبره زياته معتبره او صحيح ده، هغه داده چي تر ټولو افضله بي بي عائشه رضي الله عنها ده، د هغې څخه وروسته د هغې مور بي بي خديجه رضي الله عنها او تر هغې وروسته بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها ده، د بي بي خديجې او بي بي عائشې رضي الله عنهما په اړه هم د علماؤ اختلاف دی، ځينو بي بي خديجې رضي الله عنها ته افضل ويلي دي او ځينو بي بي عائشې رضي الله عنها ته، په هر حال هري يوې ته د خپل حيثيت او خصوصيت په اعتبار فضيلت تر لاسه دی، ځينو حضراتو د ثواب زياتوب د فضيلت بنياد ګرځولی دی چي د هغه علماؤ په نزد اعتبار هم دی او د دغه حيثيت څخه بي بي فاطمه رضي الله عنها تر ټولو افضله ده، مګر په دې کي هيڅ شک نسته چي د ذات د شرف او پاکۍ په اعتبار هيڅوک هم د بي بي فاطمې رضي الله عنها څخه افضل کيدای سي. والله اعلم بالصواب.

بي بي فاطمه زهرا رضي الله عنها: بي بي فاطمه زهرا رضي الله عنها د ام المؤمنين بي بي خديجې رضي الله عنها د نس څخه د رسول الله ﷺ تر ټولو کشره لور ده، د ټولي نړۍ د ښځو سرداره ده، د هجرت په دوهم کال د رمضان په مياشت کي يې له حضرت علي رضي الله عنه سره نکاح وسول او په ذي الحجه کي په رخصت کېدو سره د حضرت علي رضي الله عنه کور ته راغلل، د هغې د نس څخه حسن، حسين، محسن، زينب، ام کلثوم، او رقيه رضي الله عنهم پيدا سول، د رسول الله ﷺ څخه د وصال څخه شپږ مياشتي وروسته يا د يوه قول مطابق درې مياشتي وروسته په مدينه کي وفات سول او هغه وخت يې عمر اته ويشت کاله وو، حضرت علي رضي الله عنه غسل ورکړ او د جنازې لمونځ يې ورکړ، د بي بي فاطمې رضي الله عنها څخه چي کومو حضراتو د حديثونو روايت کړی دی په هغوی کي حضرت علي، حضرت حسن، حضرت حسين رضي الله عنهم او نور ډېر خلک شامل دي، بي بي عائشې رضي الله عنها به فرمايل: ما د بي بي فاطمې رضي الله عنها څخه زيات صادق القول د هغې د پلار ﷺ څخه ماسوا بل هيڅوک نه دی ليدلی.

چا چي فاطمه خفه کړه هغه زه خفه کړم

﴿۵۸۷۹﴾: وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي فَمَنْ أَغْضَبَهَا أَغْضَبَنِي. وفي رواية يريبني ما ارابها ويؤذيني ما اذاها. متفق عليه.

د حضرت مسور بن مخرمه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: فاطمه زما د بدن یوه ټوټه ده چا چي دا غضب ناکه کړه نو هغه زه غضب ناکه کړم، او په یوه روایت کي داسي دي چي کوم شی فاطمه پریشانه کوي هغه شی ما پریشانه کوي او کوم شی چي فاطمې ته تکلیف ورکوي هغه ما ته تکلیف راکوي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۱۰۵، رقم: ۳۷۶۷، ومسلم ۴\۱۹۰۲، رقم: ۹۳- ۲۴۴۹.

تشریح: هغه زه خفه کړم، یعني فاطمه ﷺ زما د غوښي یوه ټوټه ده، او په دې اعتبار زما او د هغې په منځ کي ورته والی دی، له دې کبله د فاطمې ﷺ خفه کول یا فاطمې ته تکلیف ورکول د رسول الله ﷺ خفه کول او تکلیف ورکول دي، نو په دغه ارشاد کي یو ډول تشبیه ده او په دې اعتبار ویل کیږي چي د ځینو علماؤ د دغه حدیث څخه دا استدلال کول مناسب نه دي چي څوک فاطمې ﷺ ته بد ووایي نو هغه کافر سو، ځکه چي دغه ډول حدیثونه په اصل کي د اتحاد او اختلاف د زیات تعلق اظهار دی، له دې ډلي څخه هغه حدیث هم دی چي په هغه کي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي یو مسلمان ته تکلیف ورکړ نو هغه لکه ما ته چي تکلیف راکړ، او چا چي ما تکلیف راکړ نو هغه لکه الله ﷻ ته چي تکلیف ورکړ، یا هغه روایت چي په هغه کي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د انصارو سره مینه ولري نو هغه د الله ﷻ سره مینه ودرلودل او چا چي د انصارو سره دښمني وکړل نو هغه د الله ﷻ سره دښمني وکړل، همدارنګه د رسول الله ﷺ دغه ارشاد: د قریشو سره مینه کول ایمان دی او دهغوی سره دښمني کول کفر دی، او د عربو سره مینه لرل ایمان دی او دهغوی سره دښمني کول کفر دی، چا چي د عربو سره مینه وکړل نو هغه زما سره مینه وکړل او چا چي د عربو سره دښمني وکړل نو هغه زما سره دښمني وکړل.

هغه ما ته تکلیف رسوي: په ځینو روایتو کي راغلي دي چي د ابوجهل ورور حارث بن هشام وغوښتل چي د ابوجهل د لور غوراء نکاح د حضرت علي ﷺ سره وکړي او په یوه روایت کي دي چي خپله د حضرت علي ﷺ خواهش وو چي د غوراء سره نکاح وکړه.

په هر حال کله چي د رسول الله ﷺ څخه د اجازې غوښتلو نوبت راغلی نو رسول الله ﷺ وفرمایل: زه ددې خبري اجازه نه ورکوم، او بیا یې دغه حدیث وفرمایله: زه حرام حلال او حلال حرام نه ګرځوم مګر دا ضروري ده چي د الله ﷻ د دوست لور د الله ﷻ د دښمن د لور سره یو ځای کېدای نه سي، حضرت علي ﷺ چي د رسول الله ﷺ دغه سخت تاثرات واورېدل نو سمدستي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ چي اې د الله رسوله! زه هغه

کار هيڅکله نه کوم چي ستاسو خوښ نه وي، څرګنده دي وي چي د حضرت مسور رضی الله عنه دغه حديث په مختلفو طريقو سره منقول دی او په يوه روايت کي دغه حديث داسي نقل سوی دی چي حضرت مسور رضی الله عنه وايي ما د رسول الله ﷺ څخه پر منبر واورېدل چي د هشام ابن مغيره زوی حارث زما څخه دا غوښتنه وکړل چي د ابوجهل د لور نکاح د علي ابن طالب رضی الله عنه سره وکړي، مګر دا خبره نه منم او په تکرار سره وايم چي زه يې نه منم، هو که چيري ابن ابي طالب اراده کړې وي نو بيا زما لور ته دي طلاق ورکړي او د ابوجهل د لور سره دي نکاح وکړي، فاطمه رضی الله عنها زما د غوښو ټوټه ده چا چي فاطمه رضی الله عنها خفه کړل نو هغه زه خفه کړم.

د بي بي فاطمې رضی الله عنها په موجودتيا کي حضرت علي رضی الله عنه ته د بلي ښځي سره دنکاح منعه:

د مسلم په شرح کي ددغه حديث په اړه ليکلي دي چي ددغه حديث څخه معلومه سول چي يو داسي کار کول چي په هغه سره رسول الله ﷺ ته تکليف ورسيږي په هر صورت حرام دی که څه هم هغه کار مباح وي او دا د رسول الله ﷺ له خصائصو څخه دی، دا چي رسول الله ﷺ، حضرت علي رضی الله عنه ته د ابوجهل د لور سره د نکاح کولو اجازه ور نه کړل نو دهغه دوې وجهي دي، يو خو دا چي په هغه سره بي بي فاطمې رضی الله عنها ته ناخوښي وه او يو ډول تکليف ورته رسېدی، او د بي بي فاطمې رضی الله عنها په تکليف سره رسول الله ﷺ ته تکليف رسېدی او دا خبره د حضرت علي رضی الله عنه لپاره د تباهۍ سبب کېدل نو خپله د حضرت علي رضی الله عنه په اړه د خيرخواهۍ او د رسول الله ﷺ د شفقت تقاضا داوه چي هغه د نکاح څخه منع کړل سي، دوهمه وجه د رسول الله ﷺ بېره وه چي په دغه نکاح سره د فاطمې د غيرت او حميت خلاف کېدو په سبب د سخت امتحان سره مخامخ نه سي، ځيني حضرات دا هم وايي چي زه دا خبره نه منم، ددې څخه د رسول الله ﷺ دا مراد نه وو چي د فاطمې رضی الله عنها په موجودتيا کي د بلي ښځي سره نکاح کول د علي رضی الله عنه لپاره منع دي بلکه ددغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ ددې خبري اعلان وکړ چي قضاء او قدر داسي دی چي د علي رضی الله عنه په نکاح کي فاطمه رضی الله عنها او د ابوجهل لور يو ځای کېدای نه سي مګر د نورو روايتو او قولو څخه ددغه قول تائيد نه کيږي مثلا د يحيى بن سعيد بن القطان څخه منقول دي چي هغه ووېل: ما د عبدالله بن داؤد څخه د رسول الله ﷺ ددغه الفاظو (زه دا خبره نه منم مګر که چيري ابن ابي طالب اراده کړې وي نو هغه دې زما لور ته طلاق ورکړي او د ابوجهل د لور سره دي نکاح وکړي) په اړه يادونه وکړل نو هغه ووېل: د الله جل جلاله له خوا پر حضرت علي رضی الله عنه حرام وه

چي هغه دې د فاطمې په ژوند كي د بلې ښځي سره نكاح وكړي او دغه حرمت د قرآن كريم د آيت : (وما اتكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا) اې مؤمنانو ! رسول چي څه دركړي نو هغه قبول كړئ او د كوم شي څخه چي تاسو منع كړي نو دهغه څخه منع سئ، ددې څخه دا ثابتيږي چي رسول الله ﷺ دا وفرمايل: زه يې نه منم ، نو د علي ﷺ لپاره حلال او جائز نه وو چي هغه د رسول الله ﷺ د اجازې څخه پرته د فاطمې ﷺ په موجودتيا كي د بلې ښځي سره نكاح وكړي، همدارنګه د يحيى بن سعيد څخه دا هم منقول دي چي هغه وويل: د عمر بن داؤد څخه واورېدل چي هغه ويل: كله چي رسول الله ﷺ دا فرمايلي وه چي فاطمه ﷺ زما د غوښو ټوټه ده ، كوم شى چي فاطمې ﷺ ته بد معلوميږي هغه ما ته هم بد معلوميږي او كوم شى چي فاطمې ﷺ ته تكليف وركوي هغه ما ته هم تكليف راكوي نو بيا د الله ﷻ له خوا پر حضرت علي ﷺ حرام سوي وه چي هغه د فاطمې په موجودتيا كي د بلې ښځي سره په نكاح كولو رسول الله ﷺ ته تكليف ورسوي، لكه څرنګه چي په قرآن كريم كي فرمايل سوي دي : (ما كان لكم ان تؤذوا رسول الله) يعني ستاسو لپاره دا روا نه ده چي رسول الله ﷺ ته تكليف وركړئ، د يحيى بن سعيد دغه دواړه روايتونه حافظ ابو القاسم دمشقي نقل كړي دي.

په يوه روايت كي داسي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم شى چي فاطمه ﷺ خفه كوي هغه ما هم خفه كوي، او كوم شى چي فاطمه ﷺ خوشحاله كوي هغه ما هم خوشحاله كوي، پوه سئ ! د قيامت په ورځ به ټولې نسبي تعلقات ختم سي يوازي زما نسبي قرابت به پاته سي او په يوه روايت كي دي چي د حضرت ابو ايوب ﷺ څخه منقول دى ، دا بيان سوى دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د عرش څخه يو آواز راسي لكه اعلان كوونكى چي اعلان كوي : يا اهل الجمع نكسوا رءوسكم وغضوا ابصاركم حتى مرت فاطمة بنت محمد على الصراط، اې اهل محشر! خپل سركښته كړئ او سترګي بندي كړئ چي د حضرت محمد ﷺ لور بي بي فاطمه ﷺ پر پل صراط تېره سي .

تر دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: فتمر مع سبعين الف جارئة من الحور العين كمر البرق، نو فاطمه ﷺ به د اوويا زره حور عين سره پر پل صراط باندي د برېښنا په ډول تېره سي .

په روايتو كي دا هم راځي چي كله به رسول الله ﷺ په سفر روانېدى نو د ټولو څخه د رخصت كېدو وروسته به بي بي فاطمې ﷺ ته راتلى او كله چي به د سفر څخه راغلى نو تر ټولو مخكي به بي بي فاطمې ﷺ ته ورتلى .

یو وضاحت : دلته دا خبره څرګندول ضروري دي چې رسول الله ﷺ ، حضرت علي ﷛ ته د بي بي فاطمې ﷛ د خفګان په وجه د دوهمي نکاح څخه منع کړ، نو ددې مطلب دا نه دی که چیري د یو چا ښځه د خاوند په بلي نکاح کولو سره ناراضه او خفه کیږي نو هغه دي بله نکاح نه کوي، دا یوازې د رسول الله د خصائصو څخه دی یعني ددغه خاص معاملې په وجه چې رسول الله ﷺ ته تکلیف ونه رسیږي د حضرت علي ﷛ په اړه دا منع وو لکه څرنګه چې د نورو روایتو څخه څرګندیږي ، ددې څخه ماسوا نه یوه ښځه د بي بي فاطمې ﷛ برابره ده او نه د یوې ښځي پلار د بي بي فاطمې ﷛ د پلار ، رسول الله ﷺ برابر کېدای سي، چې د هغه د خفګان په وجه دوهمه نکاح کول چې د قرآن کریم د آیت (فانکحوا ما طاب لکم من النساء مثنی وثلث ورباع) څخه ثابته ده ، هغه پر خپل ځای لوی دلیل دی او دغه عمومي جواز په حدیث کي د ذکر سوي خاص نوعیت په وجه نه متاثر کیږي .

د هغه عذاب څخه و بېرېږئ چې د اهل بیتو د حقوقو د کوتاهۍ په سبب وي

﴿۵۸۸۰﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا

د حضرت زید بن ارقم ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ یو ورځ زموږ په منځ کي ودریدی

فِينَا خَطِيبًا بِمَاءٍ يُدْعَى خُمًّا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ

او د مقام خم د چینې یا اوبو سره چې د مکې او مدینې په منځ کي واقع ده خطبه ویونکی، لومړی یې د خدای ﷻ حمد او ثناء بیان کړل

وَوَعَظَ وَذَكَّرَ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ

بیا یې خلکو ته نصیحت وکړ او ثواب او عذاب یې ورته یاد کړل ، ددې څخه وروسته یې وفرمایل : د حمد او ثناء څخه وروسته اې خلکو ! خبردار سئ ! چې زه ستاسو په ډول یو انسان

رَسُولُ رَبِّي فَأُجِيبَ وَأَنَا تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ أَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللّٰهِ فِيهِ الْهُدَى

یم او هغه وخت نژدې دی چې زما د پروردګار رالیږل سوې ملائکه راسي او زه به د خدای تعالی حکم قبول کړم ، زه ستاسو په منځ کي دوه درانه شیان پرېښودونکی یم : هغه کي لومړنی شي د خدای کتاب دی چې په هغه کي هدایت دی

وَالنُّورُ فَخُذُوا بِكِتَابِ اللّٰهِ وَاسْتَمْسِكُوا بِهِ فَحَثَّ عَلَى كِتَابِ اللّٰهِ وَرَغَّبَ فِيهِ

او نور دی تاسو د خدای کتاب ټینګ ونیسئ عمل پہ وکړئ او منګولي پرې ښخي کړئ، ددې ځخه وروسته رسول الله ﷺ د قرآن مجید پہ لور خلکو ته ډیر رغبت پیدا کړ او د هغه د ټینګ نیولو او عمل کولو لپاره یې خلک پہ جوش کې راوستل،

ثُمَّ قَالَ وَأَهْلُ بَيْتِي أُذَكِّرُكُمُ اللّٰهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللّٰهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي،

بیا یې فرمایل: دویم شی زما اهل بیت دی زه تاسو د خدای ځخه بیروم او خدای درته یادوم چي تاسو زما اهل بیت هیر نه کړي زه درته بیا یادوم چي زما د هل بیتو حق هیر نه کړئ،

وفي رواية كتاب الله هو حبل الله من اتبعه كان على الهدى ومن تركه كان على الضلالة. رواه مسلم.

او پہ یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خدای ﷻ کتاب د خدای ﷻ رسۍ ده څوک چي د خدای د کتاب اطاعت کوي هغه به پر سمه لار وي او څوک چي یې پرېږدي ګمراه به سي. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۴\۱۸۷۳، رقم: ۳۷ – ۲۴۰۸.

د لغاتو حل: خما: هو موضع بالجحفه. الثقلين: اي الامرين العظيمين. (دوه ستر کارونه)

تشریح: خم د مکې او مدینې پہ منځ کي جحفه ته نژدې د یو مشهور ځای نوم دی چي غدیرِ خم هم ورته ویل کیږي، غدیر پہ اصل کي د اوبو حوض ته وایي او پہ هغه ځای کي د تالاب او حوض پہ شکل کي اوبه موجود وې، پہ دغه مناسبت سره هغه ځای ته غدیر خم ویل کېدل، لکه ځرنګه چي د حضرت علي رضي الله عنه پہ مناقبو کي بیان سوی دی، د عام خطاب دغه صورت هغه وخت پېښ سوی وو کله چي رسول الله ﷺ د حجة الوداع ځخه د فارغه کېدو وروسته مدینې ته بېرته راغلی او پہ غدیر خم کي یې پړاو واچوی.

او زه د خپل پروردګار حکم قبول کړم: دا ددې خبري اشاره وه چي له دنیا ځخه د رسول الله ﷺ د رخصت کېدو وخت نژدې سوی دی نو دا خبره رسول الله ﷺ د حجة الوداع د سفر ځخه د ستنېدو پہ دوران کي د ذي الحجې پہ آخري کي پہ لسم هجري کي فرمایلې وه او تقریبا درې میاشتي وروسته د ربیع الاول پہ میاشت کي پہ یوولسم هجري کال د رسول الله ﷺ وصال وسو.

دوه عظيم او غوره شيان: دا د ثقلين معنى ده، د ثقل (د ثاء په زبر) معنى د درونـد او بار ده، او د ثَقل (د ثاء په زور) معنى د مسافر د سامان ده او غوره شي ته هم وايي، دلته په حديث كي د دغه لفظ معنى د غوره شي مراد ده او ځينو حضراتو ويلي دي چي د ثقلينو څخه دوه غوره شيان مراد دي او كتاب الله او اهل بيتو ته دوه غوره شيان يا خو د هغوى د لوړي مرتبې كېدو په اعتبار وفرمايل سول يا ددې وجه ورته وويل سول چي په هغه عمل كول مشكل او درونـد دى، هر سړى د هغه بار نه سي پورته كولاى، جن او انس ته هم ثقلين په دې اعتبار ويل كيږي چي هغه د مځكي بار دى، يعني څرنګه چي د حيوانانو پر شا بار اچوي همدارنګه مځكه ددغه دواړو بار پر خپله شا پورته كوي، ځينو حضراتو دا هم ليكلي دي چي دغه دواړه يعني كتاب الله او اهل بيت ددين متاع دي، ددې په ذريعه د دين اصلاح او ابادي وي لكه څرنګه چي ثقلين يعني جن او انس د مځكي متاع دي چي په هغه سره دنيا اباده وي.

چي په هغه كي هدايت او نور دى: يعني په كتاب الله كي د هغه احكامو او اعمالو بيان دى چي په هغه سره حق لاره روښانه كيږي او طالب مقصود منزل ته رسوي او د هغه په علم او عرفان كي هغه نور وي چي د ذهن او فكر د استقامت او سلامتيا ذريعه جوړيږي او دغه نور به د قيامت په ورځ لاربنود ګرځي، څرګنده دي وي چي نور د قرآن كريم يو نوم هم دى.

كتاب الله په ټينګه ونيسئ: يعني د خپل فكر، عقيدې او عمل بنياد كتاب الله وګرځوئ، په دې عقيده او يقين ولرئ په هغه عمل وكړئ، دا خبره بايد په ذهن كي وي چي د رسول الله ﷺ په حديثونو باندي عمل كول هم د كتاب الله څخه دى، ځكه چي الله ﷻ فرمايلي دي: (ما اتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا) اې مؤمنانو! څه چي رسول دركړي هغه قبول كړئ او د كوم شي څخه چي تاسو منع كړي نو د هغه څخه منع سئ، او فرمايي: (ومن يطع الرسول فقد اطاع الله) يعني چا چي د رسول اطاعت وكړ نو هغه په حقيقت كي د الله ﷻ اطاعت وكړ، او فرمايي: (قل ان كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله) اې پيغمبره! ته دوى ته ووايه كه تاسو د الله ﷻ سره مينه لرئ نو تاسو زما پيروي وكړئ، الله ﷻ به ستاسو سره مينه وكړئ، په يوه روايت كي دلته د حديث دغه جمله داسي نقل سوې ده: فتمسكوا بكتاب الله وخذوا، نو كتاب الله ټينګ ونيسئ او دا اختيار كړئ، يعني حاضرين يې دې ته په ډېر تاكيد او سختۍ سره متوجه كړل چي د كتاب الله په ويلو، د هغه په يادولو، د هغه په الفاظو او معنى كي فكر كولو او كوم احكام او مضامين چي په هغه كي په هغه عمل كولو كي د ذرې په اندازه غفلت او كوتاهي ونه كړل سي.

راغب كړل: يعني رسول الله ﷺ كتاب الله ته د رغبت كوونكو خبرو يادونه وكړل، كوم څوك چي د الله ﷻ كتاب په ټينګه ونيسي او خپل ټول فكري او عملي ژوند همدغه جوړ كړي هغه ته د دين او دنيا كاميابي په برخه كيږي و لوړي درجې تر لاسه كوي، دلته كه څه هم دا احتمال سته چي رسول الله ﷺ رغبت كونكو زيرو والا خبرو سره د هغه عذاب څخه بېرونكي خبري هم ذكر كړې چي د كتاب الله په احكامو باندي د عمل نه كونكو لپاره دي مګر دا ممكن ده چي رسول الله ﷺ يوازي پر زيري وركونكو خبرو باندي په اكتفاء كولو سره رحمت الهي او خپل امت مرحومه كېدو ته اشاره كړې وي.

زه تاسو ته د الله ﷻ هغه عذاب دريادم، دغه جمله رسول الله ﷺ د تاكيد او زيات ارزښت لپاره دوه واره وفرمايل مګر دا خبره هم د امكان څخه ليري نه ده چي په اوله جمله كي د اهل بيتو څخه مراد اولاد او په دوهمه جمله كي ازواج مطهرات مراد وي مخكي هم بيان سوى دى چي د اهل بيت اطلاق پر اولاد او زواج دواړو باندي كيږي او په يوه روايت كي دلته د قاله ثلاث مرات الفاظ دي يعني رسول الله ﷺ دغه جمله درې واره وفرمايل.

كتاب الله د الله ﷻ رسى ده: د حبل لغوي معنى د رسى ده او دلته مراد عهد، آمان او هغه شى چي بنده خپل رب ته رسوي، او دهغه د قرب او رضا وسيله وي، مطلب دا چي قرآن كريم د بنده د فلاح او كاميابى د الله ﷻ له خوا عهد او اقرار دى، د هغه د عذاب څخه امان دى او د هغه د قرب وسيله ده، د هغه ټينګ نيونكى د عذاب څخه خوندي وي، قرب الهي تر لاسه كوي او د اخروي كاميابيو لوړو درجو ته رسيږي، ددې پر خلاف كوم څوك چي خپله عقيده او د عملي ژوند محور كتاب الله ونه ګرځوي او د قرآن كريم په احكامو او هداياتو باندي عمل ونه كړي نو د ګمراهى يعني د دين او دنيا د محرومو او نامرادو څخه پرته به بل هيڅ تر لاسه نه كړي، نو قرآن كريم په دواړو اعتبارو د رسى په ډول دى چي هدايت غوښتونكى درجو ته رسوي او سركښي كونكى د محرومو او نامراد كښته سطح ته غورځوي، يضل به كثيرا ويهدي به كثيرا، په يوه حديث كي فرمايل سوي دي چي: القرآن حجة لک او عليک، يعني قرآن كريم يا خوستا سند دى (چي تا ته به خلاصون دركړي) او يا ستا په مقابله كي سند دى (چي تا به په عذاب اخته كړي).

او خپله الله ﷻ فرمايي:

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا

او موږ په قرآن كي داسي شيان نازلوو چي د مؤمنانو په حق كي خو شفاء او رحمت دی او نا انصافو ته د دې برعكس تاوان رسيږي .

د حضرت جعفر رضي الله عنه لقب

﴿۵۸۸۱﴾: وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَلَّمَ عَلَى ابْنِ جَعْفَرٍ قَالَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ابْنَ ذِي الْجَنَاحَيْنِ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه به عبد الله بن جعفر بن ابي طالب ته سلام كوی نو داسي به يې كوی (السلام عليک يا ابن ذي الجناحين) .(يعني د دوو وزرو والا زويه! پر تا دي سلام وي) ذوالجناحين د جعفر رضي الله عنه لقب وو . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۷۵، رقم: ۳۷۰۹.

تشريح: دوه وزره والا، دا د ذوالجناحين معنی ده، ذوالجناحين د حضرت جعفر طيار لقب وو چي د ابوطالب زوی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اكا زوی وو، حضرت جعفر رضي الله عنه په جنګ موته كي په ډېره مېړانه جګړه وكړل او شهيد سو، دغه جګړه د عيسايانو پر خلاف د مسلمانانو لومړۍ جګړه وه چي د شام په سيمه كي رامنځته سوې وه، او د روم د قيصر جرار د لښكر په مقابله كي وه، د دغه جګړې په دوران كي يوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدينه كي د معجزې په توګه وليدل چي جعفر رضي الله عنه ته لس وزرونه وركړل سوي دي چي د هغه په ذريعه د ملائكو سره الوځي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم سخت حيران سو چي د دې څه مطلب دی، بيا كله چي د هغه د شهادت خبر مدينې ته راورسېدی نو عقده (غوټه) خلاصه سول نو د هغه ورځي څخه هغه ته جعفر طيار ويل پيل سول او د ذوالجناحين لقب وركړل سو، په يوه روايت كي داسي هم راغلي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: ما جعفر رضي الله عنه د جنت په فضاء كي د ملائكو سره الوتونكی ليدلی دی نو د هغه ورځي څخه هغه په ذوالجناحين او طيار لقب سره ونومول سو .

حضرت جعفر طيار رضي الله عنه قديم الاسلام دی د هغه څخه مخكي يوازي يو دېرش كسانو اسلام راوړی وو، حضرت جعفر رضي الله عنه د خپل ورور حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه څخه لس كاله مشر وو او په تخليق كي د رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر مشابه وو، په اتم هجري كي د موته په غزا كي شهيد سو ، هغه وخت يې عمر يو څلوېښت كاله وو، پر ټول بدن يې د تورو او غشو نيوي زخمونه وه ، د جعفر طيار رضي الله عنه څخه د حديثو په روايت كونكو كي د نورو صحابه كرامو څخه ماسوا د هغه زوی حضرت عبد الله رضي الله عنه هم شامل دی .

د حضرت حسن رضي الله عنه لپاره دعاء

﴿۵۸۸۲﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ عَلَى عَاتِقِهِ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ. متفق عليه.

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم ولیدی چي حسن بن علي رضي الله عنه یې پر اوږه مبارکه وو او دا یې فرمایل اې الله! زه ده سره مینه کوم ته هم ورسره مینه وکړې. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۹۴۴، رقم: ۳۷۴۹، ومسلم ۴\۱۸۸۳، رقم: ۵۸- ۲۴۲۲.

تشریح: ته هم ده سره مینه وکړې: بېله شکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه دعاء قبوله سول، او الله جل جلاله حضرت حسن رضي الله عنه خپل خوږ او خوښ بنده وګرځوی، کله چي الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم حضرت حسن رضي الله عنه خپل محبوب وګرځوی نو پر هر مسلمان لازم ده چي د حسن رضي الله عنه سره مینه ولري.

حضرت حسن او حضرت حسین رضي الله عنهما: حضرت حسن رضي الله عنه د بي بي فاطمې رضي الله عنها د نس څخه د حضرت علي رضي الله عنه زوی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمسی دی، او د ټولو ځوانانو جنتیانو سردار دی، د حضرت حسن رضي الله عنه کنیت ابومحمد وو، د صحیح روایت مطابق په دریم هجري کال د رمضان د میاشتي په پنځلسمه نېټه پیدا سو او په ۵۵ هجري کال کي وفات سو، ځینو حضراتو د وفات نېټه ۵۸ هجري کال او ځینو ۴۹ هجري کال او ځینو ۴۴ هجري کال لیکلې ده، په بقیع کي دفن کړل سو، د ده څخه یوې لوی ډلي ته د روایت شرف حاصل دی چي په هغو کي د هغه زوی حضرت حسن ابن حسن او حضرت ابوهریره رضي الله عنه هم شامل دی، د تاریخي روایاتو مطابق د حضرت علي رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته په کوفه کي چي کومو خلګو حضرت حسن رضي الله عنه خلیفه جوړ کړ او د هغه په لاس یې بیعت وکړ نو دهغوی شمېر څلوېښت زره وو، مګر هغه د امت د افتراق او انتشار څخه ژغورني لپاره شپږ میاشتي وروسته په ۱۵ جمادي الاول ۴۱ هجري کال کي د حضرت معاویه په حق کي د خلافت څخه لاس واخیست.

د سیدالشهداء حضرت حسین رضي الله عنه کنیت ابوعبدالله دی، په څلورم هجري کال د شعبان د میاشتي په پنځمه نېټه پیدا سو، د خپل مشر ورور حضرت حسن رضي الله عنه څخه یو ازي لس میاشتي او دري ورځي کشر وو، په ۱۰ د محرم ۶۱ هجري کال کي د جمعې په ورځ په کربلا کي د یزید بن معاویه د فوج په لاس شهید سو، یو روایت خو دادی چي سنان ابن انس نخعي شهید کړ، او ځیني حضرات وایي چي شمر ذي الجوشن شهید کړ او د حضرت حسین رضي الله عنه جسد مبارک او د

هغه اهل بیت یې د کربلا د میدان څخه عبدالله ابن زیاد ته راوستل ، په روایتو کي راځي چي د کربلا په میدان کي د حضرت حسین رضي الله عنه سره د هغه اولاد ، د هغه وروڼه او اهل بیتو څخه درویشت کسان شهیدان کړل سول، د شهادت په ورځ د حضرت حسین رضي الله عنه عمر ۵۸ کاله وو.

د حضرت حسن رضي الله عنه سره تعلق

﴿۵۸۸۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره دباندي ووتلم

فِي طَائِفَةٍ مِنَ النَّهَارِ حَتَّى أَتَى خِبَاءَ فَاطِمَةَ فَقَالَ أَثَمَّ لُكَعُ أَثَمَّ لُكَعُ يَعْنِي

د ورځي په یوه برخه کي چي د بي بي فاطمي رضي الله عنها خیمې ته ورسیدو نو وه یې فرمایل : ایا دلته هلک سته ؟ ایا دلته هلک سته؟ یعني

حَسَنًا فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ جَاءَ يَسْعَى حَتَّى اعْتَنَقَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ فَقَالَ

حسن رضي الله عنه، ډېر وخت نه وو تېر سوی چي حضرت حسن رضي الله عنه په منډه راغلی او د رسول الله ﷺ سره

رَسُولُ اللهِ ﷺ اللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ وَأَحْبِبْ مَنْ يُحِبُّهُ. متفق عليه.

ورغاړه سو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : اې الله ! زه دده سره مینه کوم ته هم ورسره مینه وکړه او هغه سړي سره هم مینه وکړه څوک چي دده سره مینه کوي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\۳۳۹، رقم: ۲۱۲۲، ومسلم ۱۴\۱۸۸۲، رقم: ۵۷- ۲۴۲۱.

د لغاتو حل: خباء: اي بيتها . لكع: اي صار خسيسا.

تشريح: د دغه حدیث څخه یو خو د معانقې (غاړه په غاړه کېدل) جائز کېدل ثابت سول دوهم دا چي څرنګه نووي رحمه الله لیکلي دي چي دا هم معلومه سول چي د کوچنیانو سره د مینې، شفقت او نرمۍ چلن کول یعني له هغوی سره غاړه په غاړه کېدل او په غېږ کي اخیستل او د هغوی سره مینه کول مستحب دي او د کوچنیانو او خپلو ماشومانو په مخکي هم خاکساري اختیارول او د هغوی سره ښه چلن کول مستحب دي .

د امام حسن رضي الله عنه فضیلت

﴿۵۸۸۴﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ

د حضرت ابوبکره رضی الله عنه څخه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ په هغه حال کې پر منبر وليدی چې

وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ إِلَى جَنْبِهِ وَهُوَ يُقْبِلُ عَلَى النَّاسِ مَرَّةً وَعَلَيْهِ أُخْرَى وَيَقُولُ

حسن بن علي رضی الله عنه يې په بغل کې وو، رسول الله ﷺ به کله خلکو ته متوجه کيدی او کله به حسن

إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ وَلَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يُصْلِحَ بِهِ بَيْنَ فِئَتَيْنِ عَظِيمَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ. رواه البخاري.

رضی الله عنه ته او فرمايل به يې زما دا زوی (لمسی) سردار دی او کيدای سي الله تعالی دده په ذريعه د مسلمانانو ددوو لويو ډلو اختلاف ختم کړي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٥\٣٠٦، رقم: ٢٧٠٤.

تشريح: د سيد معنی د هغه چا ده چې په نيکۍ کې فائق وي او ځيني حضرات وايي چې سيد هغه سړي ته وايي چې د غصې څخه نه مغلوب کيږي يعني حليم الطبع وي، د سيد اطلاق پر څو معناوو باندي کيږئ د مثال په توګه مربي، مالک، شريف، فاضيل، کريم، حليم، د خپل قوم پر تکليف باندي تحمل کوونکی، رئيس، سردار او پيشوا.

د دوو لويو ډلو په منځ کې به صلح کوي: دغه ارشاد په اصل کې د هغه پېښو او حالاتو رښتونې وړاند وينه ده چې د حضرت علي رضی الله عنه د خلافت څخه وروسته به رامنځته سي، هغه وخت د ملت اسلاميه لويه برخه په ښکاره توګه په دوو ډلو کې ويشل سوې وه، يوه ډله د حضرت امام حسن رضی الله عنه د خلافت او امارت قائله وه او بله ډله د حضرت امام معاويه د امارت او حکمرانۍ منونکې وه، په دې کې شک نسته چې په هغه زمانه کې د خلافت او امارت لپاره لوی حقدار حضرت امام حسن رضی الله عنه وو ځکه نه يوازې په ذاتي، نسبي او ديني عظمت او بزرګۍ سره هغه ته غوره والی تر لاسه وو بلکه د هغه يو لوی دليل دغه حديث هم دی چې هغه ته يې ستر حمايت او طاقت تر لاسه وو او د څلوېښت زره ځوانانو لښکر سره په عهد کولو سره د امير معاويه سره پر جنګ کولو او مړ کېدو باندي حلف کړی وو مګر ددغه استحقاق او طاقت سربېره هغه محض ددغه بيري څخه چې د رسول الله ﷺ امت د افتراق او انتشار ښکار نه سي هغه د خلافت څخه لاس واخيست او د آخرت کاميابۍ يې خپل مقصد وګرځول نو دا يې د کمزورۍ په وجه ونه کړل بلکه د اتحاد امت لپاره يې په خپله خوښه د امير معاويه رضی الله عنه سره صلح

وکړل او د هغه په حق کي يې د خلافت څخه لاس واخيست، حضرت امام حسن رضی اللہ عنہ به په هغه زمانه کي ويل: قسم په خدای! زه دا نه خوښوم چي په امت محمديه کي د چا دويني يو څاڅکی هم پر مځکه ولويږي ، د امت د ويني تويولو څخه د ساتني لپاره د خلافت څخه د لاس اخيستلو فيصله د حضرت امام حسن رضی اللہ عنہ د ډېرو ملګرو لپاره ناخوښه وه کسانو سيدنا حسن رضی اللہ عنہ تر دې حده د ملامتيا وړ وګرځوی چي د هغه مجلس ته په رسېدو سره به يې داسي خطاب کوی: السلام عليکم يا عار المؤمنين، او سيدنا حسن رضی اللہ عنہ به په ډېر تحمل سره هغه ته ويل: العار خير من النار ، يعني پېغور تر اور غوره دی .

د حضرت حسن رضی اللہ عنہ په حق کي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد چي الله جل جلالہ به دده په ذريعه د مسلمانانو د دوو ډلو په منځ کي صلح وکړي ، ددې خبري څرګند دليل دی چي هغه دواړې ډلي د ملت اسلاميه جز او مسلمانان وه، سره ددې چي يوه ډله پر حق وه او بله پر خطاء ، او د سيدنا حسن رضی اللہ عنہ د امير معاويه په حق کي د خلافت څخه لاس اخيستل او دهغه سره صلح کول د اهل سنت والجماعت په نزد ددې دليل دی چي ددغه صلح څخه وروسته د حضرت معاويه رضی اللہ عنہ خلافت او امارت په شرعي توګه قانوني او جائز وو ، دلته دا خبرداری ضروري دی چي په هغه زمانه کي څه وسول يعني د صحابه کرامو په منځ کي د اختلاف او جګړې کوم صورت چي رامنځته سو او په ځينو وختو کي د هغوی په منځ کي د جنګ نوبت هم راغلی او هغه په مشاجرات صحابه سره تعبير کيږي ، د هغه په اړه ټول سلف او بزرګان تل خپله ژبه بنده ساتلې ده ، د صحابه کرامو مقدس ذات د ملامتيا نښه خو څه چي د هغوی په اړه ددغه پېښو تنقيد او تبصره موضوع جوړول هم په اسلافو کي هيڅ عالم ته خوښه نه وه ، دهغوی وينا ده کله چي الله جل جلالہ زموږ لاسونه د هغوی د ويني څخه منع کړي دي نو بيا موږ په خپله ژبه سره پر هغوی تنقيد کولو سره ولي ملوث کړو .

په هرحال د سيدنا حسن رضی اللہ عنہ فضل او شرف ددې خبري څخه څرګند دی چي رسول الله ﷺ هغه ته سيد وفرمايل ، حضرت ابوبکره رضی اللہ عنہ په يو بل روايت کي بيان کوي چي رسول الله ﷺ موږ ته په لمانځه راکولو کي بوخت و ، حسن رضی اللہ عنہ چي هغه وخت کوچنی وو مسجد ته راغلی، کله چي به رسول الله ﷺ سجدې ته تلی نو د رسول الله ﷺ پر اوږو به کښېنستی ، بيا کله چي به رسول الله ﷺ د سجدې څخه خپل سر مبارک دومره کرار او په احتياط سره را پورته کوی چي حسن رضی اللہ عنہ به کښېنته سو ، (يوه ورځ) صحابه کرامو وويل: اې دالله رسوله! موږ ستاسو سره هغه معامله وينو چي د بل چا سره مو نه ده ليدلې، رسول الله ﷺ جواب ورکړ: دغه کوچنی زما د

دنيا گل دی ، بېله شکه زما دغه زوی (يعني لمسی) سيد دی، بايد اميد ولرو چي الله ﷻ به دده په ذريعه د مسلمانانو د دوو ډلو په منځ کي صلح وکړي ، امام احمد د حضرت امير معاويه رضي الله عنه دغه روايت نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ به د حسن رضي الله عنه ژبه يا شونډه رودل، او په دې کي هيڅ شک نسته چي الله ﷻ به هغه ژبه يا شونډه هيڅکله د عذاب سره مخامخ نه کوي کوم چي رسول الله ﷺ رودلي وي.

حسن او حسين زما ددنيا دوه گلونه دي

﴿۵۸۸۵﴾: وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ أَبِي نُعْمٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ

د عبدالرحمن بن ابو نعم رضي الله عنه څخه روايت دی چي اوريدلي مي دي د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه

سَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ الْمُحْرِمِ قَالَ شُعْبَةُ أَحْسِبُهُ يَقْتُلُ الذُّبَابَ فَقَالَ أَهْلُ

يو عراقي سړي پوښتنه وکړه شعبه وايي چي گمان کوم مُحرِم (د حج احرام تړونکي) مچ ووژني نو د دې څه حکم دی؟. عبدالله بن عمر رضي الله عنه وويل :

الْعِرَاقِ يَسْأَلُونَ عَنِ الذُّبَابِ وَقَدْ قَتَلُوا ابْنَ بِنْتِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

دعراق خلک زما څخه د مچ وژلو حکم پوښتي حال دا چي هغوی د رسول الله ﷺ د لور زوی

وَسَلَّمَ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُمَا رَيْحَانَيَّ مِنَ الدُّنْيَا. رواه البخاري

وژلی دی او د هغوی په حق کي رسول الله ﷺ فرمايلي وه چي دا دواړه (يعني حسن او حسين) زما د دنيا دوه گلونه دي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۹۵، رقم: ۳۷۵۳،

د لغاتو حل: ريحانيّ: اي من روق الله رزقنيه من الدنيا.

تشريح: کيدای سي يو کوفي سړي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه پوښتنه کړې وي که په موږ کي يو څوک محرم وي يعني د حج احرام يې تړلی وي او په هغه حالت کي مچ مړ کړي نو د دې بدله څه ده، ايا پر هغه دم لازم ده که صدقه او که هيڅ نه پر لازميږي؟ پر دغه پوښتنه باندي حضرت ابن عمر رضي الله عنه په ډېر ژور انداز کي وفرمايل: دغه د کوفې خلک زما څخه د مچ وژلو په اړه شرعي حکم پوښتني يعني دا څرگندوي چي موږ د شريعت ډېر لحاظ ساتو او د تقوا او احتياط لمن هيڅکله د لاس څخه نه ورکوو، حال دا چي دا هغه خلک دي چي دوی په ډېره بې دردي سره د

رسول الله ﷺ لمسى (حضرت حسين رضي الله عنه) شهيد کړ او خپل نوم يې د ظالمانو په فهرست کې تر ټولو لوړ وليکی.

دا زما د دنيا دوه ګلونه دي، په لغت کې د ريحان څو معناوي دي، رحمت، راحت، روزي، رزق، آرام او په دې مناسبت سره زوی ته هم ريحان وايي، چې په هغه سره زړه ته راحت او سترګو ته يخ والی تر لاسه کيږي او خوشبويي لرونکي ګل ته هم ريحان ويل کيږي او د تشبيه له موخې ددې معنی اطلاق پر زوی او اولاد باندي هم کيږي لکه څرنګه چې خوشبويي لرونکی ګل بويول کيږي همدارنګه خلک اولاد هم بويوي او ښکلوي او خپل زړه په خوشحاله کوي.

د رسول الله ﷺ سره د حسنينو مشابهت

﴿۵۸۸۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَشْبَهُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ وَقَالَ فِي الْحُسَيْنِ أَيْضًا كَانَ أَشْبَهَهُمْ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ سره تر حسن بن علي رضي الله عنه زيات مشابه بل څوک نه وو، او دحسين رضي الله عنه په اړه يې هم دا وويل چې هغه هم د رسول الله ﷺ سره زيات مشابه وو. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۵۹۱، رقم: ۳۷۵۲.

تشريح: په راتلونکي دوهم فصل کې د حضرت علي رضي الله عنه روايت راځي چې په هغه کې په تفصيل سره بيان سوی دی چې د سر څخه تر سينې پوري خو حسن رضي الله عنه د رسول الله ﷺ زيات مشابه وو او لاندې په بدن کې حسين رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره زيات مشابه وو.

ابن عباس رضي الله عنه ته دعاء

﴿۵۸۸۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ضَمَّنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى صَدْرِهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الْحِكْمَةَ. وفي رواية علمه الكتاب. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ زه د خپل سينې سره جخت کړم او ويې فرمايل: اې الله! ده ته حکمت ورکړې او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې اې الله! ده ته د

كتاب (قرآن كريم) علم وركړې . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷/۱۰۰، رقم: ۳۷۵۶.

تشريح: د سينې سره پېوست كول دې ته اشاره ده چې د علم منبع او مصدر او د حكمت مخزن او معدن دغه سينه مباركه ده .

علماؤ ليكلي دي چې د حكمت څخه مراد حكمت فلسفه نه ده بلكه اتقان علم و عمل يعني په علم كي ټول اوصاف او محاسنو سره تكميل كول او په امور دين كي فهم صحيح مراد دی او دانسان لپاره دا هغه نعمت دی چې هغه ته د قرآن كريم په دغه آيت كي اشاره سوې ده : (يؤتى الحكمة من يشاء ومن يوتي الحكمة فقد اوتي خيرا كثيرا) ، ځينو حضراتو ليكلي دي چې په ذكر سوې دعاء كي د حكمت څخه مراد حقائق اشياء پېژندل او په هغه شي باندي عمل كول دي چې د عمل لائق وي، ځينو حضراتو ويلي دي چې د حكمت څخه مراد صحيح وينا ده او ځينو د حكمت مصداق سنت نبوي ګرځولي دي لكه څرنګه چې د الله ﷻ ارشاد دی : (ويعلمهم الكتاب والحكمة) .

خلاصه دا چې رسول الله ﷺ د حضرت ابن عباس رضي الله عنه لپاره د علم او حكمت او فهم كتاب دعاء وفرمايل، او هغه د دغه امت ستر عالم وو ، د هغه د علم او فضل ، حكمت او پوهي لويو صحابه كرامو اعتراف او اقرار كړی دی ، نبي كريم ﷺ د هغه لپاره د علم او حكمت دعاء كړې ده .

حضرت ابن عباس رضي الله عنه د هجرت څخه درې كاله مخكي په مكه كي پيدا سو او كله چې د رسول الله ﷺ وصال وسو نو هغه وخت ابن عباس رضي الله عنه د ديارلسو كالو عمر ته رسېدلی وو ، ويل كيږي چې هغه وخت هغه د پنځلسو كالو وو او دا هم ويل سوي دي چې هغه د رسول الله ﷺ د وصال پر وخت د لسو كالو وو ، هغه دوه واره حضرت جبرائيل عليه السلام ليدلی دی او دوه واره رسول الله ﷺ د هغه لپاره دعاء كړې ده ، د عمر په پای كي په ستركو ړوند سوی وو ، په ۶۸ هجري كال كي په طائف كي د ابن زبير رضي الله عنه د خلافت په زمانه كي د يو اويا (۷۱) كالو په عمر وفات سو .

﴿۵۸۸۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ اِنَّ النَّبِيَّ ﷺ دَخَلَ الْخَلَاءَ فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا فَلَمَّا خَرَجَ قَالَ مَنْ وَضَعَ هٰذَا فَأُخْبِرَ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د قضاء حاجت لپاره دننه ننوتی، ما د اوداسه لپاره اوبه ورته كېښېنودلې رسول الله ﷺ چې دباندي تشريف راوړ (او لوښي يې د

اوبو څخه ډک وليدی نو پوښتنه يې وکړه) دا اوبه چا ايښي دي؟ رسول الله ﷺ ته وښودل سول چي ابن عباس رضي الله عنه ايښي دي، نو رسول الله ﷺ زما په حق کي دعاء وکړل چي اې الله ! ده ته د دين پوهه ورکړې . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۲۴۴، رقم: ۱۴۳، ومسلم ۱۴\ ۱۹۲۷، رقم: ۱۳۸- ۲۴۷۷.

تشريح: دغه پېښه د هغه شپې ده په کومه شپه چي حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه د خپلي خاله ام المؤمنين بي بي ميمونې رضي الله عنها په کور کي پاته سوی وو چي د رسول الله ﷺ د تهجد طريقه معلومه کړي ، دغه ټوله پېښه په باب قيام الليل کي راغلې ده .

د دغه دعاء مطلب دادی چي اې الله! دغه (ابن عباس) داسي عالم جوړ کړې چي د دين اصول او فروع او کليات په ښه ډول و پېژني او د اعلی درجې علمي فقاهت او په دين کي پوهه ور په برخه سي .

د دغه فقه څخه مراد يوازي هغه متعارفه فقه نه ده چي د هغه تعلق د فروعي مسائلو، معاملاتو ، صوري عبارت او فصل خصومت سره دی بلکه د دې څخه د دين مکمل پوهه او کامل مهارت مراد دی .

امام نووي رحمه الله فرمايي : د دغه حديث څخه د فقهي فضيلت ثابتيږي او د غائبانه دعاء مستحب کېدل څرګنديږي او کوم څوک چي يو خدمت وکړي يا نيکي وکړي د هغه په حق کي د دعاء کولو استحباب مفهوم کيږي ، د رسول الله ﷺ د دعاء په برکت ابن عباس رضي الله عنه ته په علم کي داسي لوړه درجه تر لاسه سوه او دا د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د خدمت صله وه .

که مردان ز خدمت بجائي رسند .

اسامه بن زيد او حسن ته دعاء

﴿۵۸۸۹﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْخُذُهُ

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به هغه (يعني اسامه)

وَالْحَسَنَ فَيَقُولُ اللَّهُمَّ أَحِبَّهُمَا فَإِنِّي أُحِبُّهُمَا. وفي رواية قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ

او حسين رضي الله عنه په خپل غيږ کي اخيستل يا به يې دځان سره کښېنول او فرمايل به يې اې الله ! زه د دوی دواړو سره مينه کوم ته ورسره هم مينه وکړې ، او په يوه روايت کي داسي دي چي رسول

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذُنِي فَيُقْعِدُنِي عَلَى فَخِذِهِ وَيُقْعِدُ الْحَسَنَ عَلَى فَخِذِهِ

الله ﷺ به زه پر خپل يوه ورانه كښېنولم او پر دويم به يې حسن بن علي كښېنوى بيا به يې دواړه

الْأُخْرَى ثُمَّ يَضُمُّهُمَا ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُمَّ ارْحَمْهُمَا فَإِنِّي أَرْحَمُهُمَا. رواه البخاري

را جوخت كړه او فرمايل به يې اې الله! پر دوى دواړو رحمت وكړې ځكه چې زه د دوى سره مهرباني كوم. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸۸\۷، رقم: ۳۷۳۵،

تشريح: د حضرت اسامه رضي الله عنه پلار حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ازاد سوى غلام او د رسول الله ﷺ متبنىٰ (زوى كړى) وو، رسول الله ﷺ د هغه نكاح د خپلي خاصي خادمي ام ايمن رضي الله عنها سره كړې وه، دغه ښځه د رسول الله ﷺ د پلار عبد الله بن عبد المطلب ازاده سوې مينزه وه، د هغې د نس څخه د حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه زوى اسامه رضي الله عنه پيدا سوى وو، د رسول الله ﷺ د حضرت زيد او د هغه د زوى اسامه رضي الله عنه سره ډېره مينه وه.

حضرت اسامه رضي الله عنه چې دهغه پر مور او پلار د غلامى وخت تېر سوى وو هغه د خپل لمسي سره پر خپل ورانه مبارك كښېنولى وو او دعاوې يې ورته كولي كوم چې دده د شان مهرباني ښكاره كوي، د دوى دوو حضراتو لوړالى، جلاليت او عظمت دده دې طرز عمل څخه ښكاره كېږي:

زانكه ترا برمن مسكين نظرست　　اثارم از افتاب مشهور ترست

د رسول الله ﷺ د وصال او له دنيا څخه د رخصت كېدو په وخت كې د اسامه رضي الله عنه عمر شل كاله ته نژدې وو، هغه په وادي القراء كې هستوګنه اختيار كړل او هلته د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت وروسته وفات سوى دى، د ځينو قول دى چې هغه په ۵۴ هجري كال كې وفات سوى دى او علامه ابن عبد البر دغه قول ته ترجيح وركړې ده.

اسامه بن زيد رضي الله عنه د لښكر امير جوړول

﴿۵۸۹۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَطَعَنَ النَّاسُ فِي إِمَارَتِهِ

يو لښكر ولېږى او د هغه سردار يې اسامه بن زيد رضي الله عنه وټاكى، ځينو خلكو پر دې اعتراض وكړ،

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كُنتم تَطْعَنُونَ فِي إِمَارَتِهِ فَقَدْ

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : که تاسو داسامه بن زید ؓ پر سرداری اعتراض کوئ نو

كُنْتُمْ تَطْعَنُونَ فِي إِمَارَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلُ وَايْمُ اللَّهِ إِنْ كَانَ لَخَلِيقًا لِلْإِمَارَةِ وَإِنْ

دنن څخه مخکي تاسو دده پر پلار د زید بن حارثه ؓ پر سرداری هم اعتراض کړی دی او قسم په خدای هغه دامارت او سرداری وړ وو،

كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ وَإِنَّ هَذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهُ. متفق عليه

وفي رواية لمسلم نحوه وفي اخره اوصيكم فانه من صالحيكم.

او دده پلار ما ته د ډیرو خلکو څخه عزیز وو، او اسامه هم د هغه د پلار د مرګ څخه وروسته ما ته د ډیرو خلکو څخه زیات عزیز دی . بخاري او مسلم او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ زیات دي چي زه تاسو ته وصیت کوم چي د اسامه سره هم ښېګڼه کوئ ځکه چي دی ستاسو څخه نیک سړی دی .

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸۶\۷، رقم: ۳۷۳۰، ومسلم ۱۸۸۴\۱۴، رقم: ۶۳- ۲۴۲۶.

تشریح: پېغور ورکونکي او اعتراض کونکي خلک یا خو منافقان وه چي د هغوی طریقه دا وه چي هغوی د موقع په لاس راتللو په انتظار وه او چیري چي به یې موقع تر لاسه کړل نو ژبه به یې خلاصه کړل، او یا پېغور ورکوونکي نوی مسلمان وو چي د جاهلیت د زماني د طریقو عادي وو او د هغه په نزد د انسان قدر او قیمت د ذاتي صلاحیت او علمي قابلیت پر ځای د کورنۍ او مال پر بنیاد دی،

د اسامه ؓ پلار حضرت زید بن حارثه ؓ ډېر ستر صحابي او سابق الایمان بزرګ وو ، رسول الله ﷺ ورسره ډېره مینه درلودل او په ذاتي توګه هم ډېر قابل شخصیت وو، د هغه د صلاحیت اندازه ددې څخه لګول کیږي چي د بي بي عائشي ؓ منقول دي چي کله به رسول الله ﷺ لښکر ولیږی او په هغه کي به زید بن حارثه ؓ وو نو هغه به یې د لښکر امیر ټاکی .

په اتم هجري کال کي د شام پر سرحدو باندي رومي لښکر جمع سوی وو ځکه رسول الله ﷺ یو لښکر هغه خوا ته واستوی او د هغه امیر یې زید ؓ وټاکی، هغه شام ته ولاړی او د نصراني لښکر سره مقابله وسول، حضرت زید، حضرت جعفر طیار او عبد الله بن رواحه ؓ شهیدان سول ، دغه جنګ ته د موته جنګ ویل کیږي ، په دغه وخت کي خلکو د حضرت زید ؓ

پر امارت اعتراض وكړ، په راتلونكي كال كي د حضرت زيد ﷺ زوى حضرت اسامه ﷺ د لښكر امير جوړ سو او هغه سرحد ته ولېږل سو، نو ځينو خلكو اعتراض وكړ او دا خبره يې د اعتراض بنياد جوړه كړل چي يو خو يې عمر كم دى او بل دا چي دده پر مور او پلار باندي د غلامۍ حالت تېر سوى دى، لنډه دا چي كله منافقانو دا ولېدل چي د اسامه ﷺ په مشرۍ كي ستر صحابه كرام موجود دي نو هغوى ته نوره هم د اعتراض موقع په لاس ورغلل، هغوى ته ځه معلومه وه چي اسلام رنګ و نسل، مال او شتمني ختموّلو سره د شرافت او بزرګۍ بنياد ذاتي قابليت، علم او عمل او تقوا او ښه اخلاق ګرځوي.

په قسم په خداى! هغه د امارت وړ وو: ددې څخه مراد دادى چي هغه د خپل صلاحيت، تقوا او پرهيزګارۍ په وجه يقينا د امارت اهل او د سيادت وړ وو، او دهغه څخه وروسته اسامه ﷺ هم ددې قابل دى چي هغه پر ملكي چارو او اهمو خدماتو باندي مامور كړل سي، هغه هم د خپل پلار څخه وروسته ما ته تر ټولو زيات ګران او زما په نزد ددغه دندي قابل او زيات د باور وړ دى.

د زيد بن محمد ويلو څخه منع

﴿۵۸۹۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ اِنَّ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كُنَّا نَدْعُوهُ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ. متفق عليه وذكر حديث البراء قال لعلي انت مني في باب بلوغ الصغير وحضانته

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دى چي زيد بن حارث د رسول الله ﷺ ازاد كړي غلام ته به موږ زيد بن محمد ويل تر دې چي د قرآن كريم دا آيت نازل سو (ادعوهم لاباهم)، (يعني د خپلو پلرونو په نامه يې بولئ)، بخاري او مسلم او د براء ﷺ حديث: قال لعلي انت مني، په باب بلوغ الصغير كي بيان سوى دى.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۵۱۷، رقم: ۴۷۸۲، ومسلم ۴\۱۸۸۴، رقم: ۶۲- ۲۴۲۵.

تشريح: پوره آيت داسي دى:

وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ ذَلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَاهِكُمْ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ

ژباړه: او الله ﷻ ستاسو په خولو جوړ کړي زامن ستاسو زامن نه دي ګرځولي، دا خو ستاسو د خپلي خولې خبره ده او الله ﷻ سمه خبره کوي او صحيح لار ښيي، تاسو هغوی د پلرونو د نامه په نسبت بولئ ځکه چي دا خبره د الله ﷻ په نزد د عدل او انصاف مظهر ده او که د هغوی پلرونه تاسو ته معلوم نه وي نو بيا هغوی ستاسو ديني وروڼه او ستاسو دوستان دي.

د دغه آيت د نازلېدو وروسته خلکو هغه ته زيد بن حارثه رضي الله عنه ويل پيل کړل، د دغه روايت څخه ثر ګنديږي چي رسول الله ﷺ ته د زيد بن حارثه رضي الله عنه سره ځو مره مينه وه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۵۸۹۲﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّتِهِ يَوْمَ عَرَفَةَ وَهُوَ عَلَى نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ يَخْطُبُ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا كِتَابَ اللّٰهِ وَعِتْرَتِي أَهْلَ بَيْتِي. رواه الترمذي.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما په حجة الوداع کي رسول الله ﷺ وليدی د عرفات په ورځ په داسي حال کي چي پر قصوا نامي اوښي باندي سپور وو او خطبه يې ويله: ما ځيني واوريدل چي دا يې فرمايل: اې خلکو! ما ستاسو په منځ کي هغه شی پرې ايښی دی که تاسو يې ټينګ ونيسئ نو هيڅکله به ګمراه نه سئ او هغه د خدای کتاب او عترت زما چي اهل بيت دي ،ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۶۲۱\۵، رقم: ۳۷۸۶.

د لغاتو حل: القصواء: مجدوعة الاذن.

تشريح: قصواء هغي اوښي ته وايي چي د هغې د غوږ يوه برخه پرې سوې وي، د رسول الله ﷺ د اوښي غوږ پيدائشي همداسي وو او پرې سوی نه وو، دغه وجه د تسميې هم کيدای سي چي قصواء په معنی د ليري وي، نقل سوي دي چي د رسول الله ﷺ دغه اوښه ډېره تېزه او تر ډېر ليري ځايه به په تيزي سره تلل.

اخذتم به: تاسو يې په ټينګه نيسئ، د نيولو څخه مراد اطاعت او عمل دی ، ابن ملک رحمه الله ويلي دي: د کتاب نيولو مطلب دادی چې په هغه عمل وکړل سي او عترت ، يعني د اولاد نيولو مفهوم دادی چې د هغوی سره مينه وکړل سي د هغوی سيرت اختيار کړل سي او هغوی ته قولا او فعلا هيڅ ډول تکليف ونه رسول سي .

د عترت څخه د رسول الله ﷺ اولاد مراد دي او د اهل بيتو څخه د رسول الله ﷺ خپلوان او د نيکه نژدې اولاد هم دي او د رسول الله ﷺ ازواج مطهرات هم دي، نن په اسلامي نړۍ کې چې څومره پرېشانۍ موجود دي د هغو يوازينۍ حل دادی چې اهل اسلام د رسول الله ﷺ د غه فرمان بالکل هېر کړی دی .

د رسول الله ﷺ وصيت

﴿۵۸۹۳﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي

د حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زه

تَارِكٌ فِيكُمْ مَا إِنْ تَمَسَّكْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا بَعْدِي أَحَدُهُمَا أَعْظَمُ مِنَ الْآخَرِ

تاسو ته دوه شيان پرېږدم که تاسو يې ټينګ ونيسئ او په هغه عمل کونکي پاته سئ نو زما څخه وروسته به هيڅکله ګمراه نه سئ او هغه دوه شيان دادي چې په هغه کې يو د بل څخه لوی

كِتَابُ اللَّهِ حَبْلٌ مَمْدُودٌ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ وَعِتْرَتِي أَهْلُ بَيْتِي وَلَنْ

دی يعني دخدای کتاب د يوې رسۍ په ډول چې د آسمان څخه تر مځکې پورې راغلی دی او دويم شی زما د اهل بيتو څخه زما عترت دی

يَتَفَرَّقَا حَتَّى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ فَانْظُرُوا كَيْفَ تَخْلُفُونِي فِيهِمَا . رواه الترمذي

او دخدای کتاب او زما عترت به د قيامت تر ورځې پورې د يو بل څخه هيڅکله بيل نه سي تر دې چې پر حوض کوثر به راسي اوس تاسو ګورئ چې زما څخه وروسته تاسو دواړه شيانو سره څه چلن کوئ . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۲۲، رقم: ۳۷۸۸.

تشريح: ددغه ښېښي بيانونکي زيد بن ارقم الانصاري الخزرجي يو مشهور صحابي دی، د احد په غزا کې د کم عمرۍ په وجه رسول الله ﷺ په غزا کې شريک نه کړ ، د خندق په غزا کې او

د هغه څخه وروسته په ټولو كي غزاوو كي يې ګډون كړى دى ، هغه د عبدالله بن ابي سلول منافقانه اقوال (چې د هغه يادونه د قرآن كريم په دغه آيت كي : لئن رجعنا الى المدينة ليخرجن الاعز منها الاذل، كى دى مګر عبدالله انكار وكړ او زيد صحابه كرامو رېښتوني ونه ګڼى، ددې څخه روسته سورة منافقين نازل سو چې په هغه كي د زيد تصديق وسو ، زيد له رسول الله ﷺ سره په اووه لس غزاوو كي ګډون كړى دى ، په ۶۶ هجري كال كي وفات سو ، په ټولو صحيح كتابو كي د نوموړي څخه زيات حديثونه روايت سوي دي ، لنډه دا چې نوموړى يو ستر صحابي او بزرګ وو .

په دغه حديث كي يې هم كتاب الله ته د خپل امت توجه ګرځولې ده او د خپل اهل حقوقو يادونه يې هم كړې ده او د اهل بيتو عظمت يې بيان كړى دى چې تاسو زما د نسبت خيال د هغوى د حقوقو په ادا كولو كي چې څومره زياته هڅه كوئ او دهغوى هر ډول خبر اخلئ او څومره زياته برخه چې اخلئ هغومره به ستاسو لپاره غوره وي، او تاسو ته به په دنيا او آخرت كي خير او عافيت په برخه كيږي ، د رسول الله ﷺ دغه فرمان داسي دى لكه څرنګه چې يو شفيق پلار د رخصت كېدو په وخت كي د خپل اولاد په اړه چا ته وصيت كوي چې زه خپل دغه اولاد پرېږدم تاسو د دوى ښه ځارنه كوئ او د دوى حقوق ادا كوئ .

او دغه دواړه به بېل بېل نه وي، يعني د قيامت پر ټولو مواقفو او پړاوو باندي دغه دواړه يعني كتاب الله او عترت رسول به يو ځاى وي ، د يو بل څخه به بېل نه وي تر دې چې دغه دواړه په يو ځاى كېدو سره حوض كوثر ته راسي او په دنيا كي چا چې ددغه دواړو حقوق په ښه ډول ادا كړى وي د هر يوه د نامه په اخيستلو سره به زما په مخكي د هغوى شكريه ادا كوي او بيا به زه په بدله كي هغوى ټولو سره ډېره ښه چلن او احسان كوم او الله ﷻ به هم هغوى ټولو ته پوره جزاء او انعام وركوي او كومو خلكو چې په دنيا كي د هغوى حقوق تر پښو لاندي كړي وي او د دواړو ناشكري يې كړې وي نو د هغوى سره به ددې برعكس معامله كيږي .

نو تاسو وګورئ! يعني ما ددغه دواړو حيثيت او اهميت تاسو ته واضح كړى دى اوس تاسو ته د خپل ځان سره حساب كول پكار دي چې ددغه دواړو يعني كتاب الله او زما د عترت په اړه تاسو زما تر شا صاق كيږئ كه يا ، كه تاسو زما څخه وروسته دواړه ټينګه ونيسئ او د هغه سره مو تعلق وساتئ چې د هغوى حق دى نو زما خلف الصدق به وګرځول سئ او كه د هغوى سره مو ښه تعلق ونه ساتئ او دهغوى په اړه مو ښه رويه اختيار نه كړل نو ناخلف به ګڼل كيږي .

د اهل بیت دښمن د رسول الله ﷺ د ښمن دی

﴿۵۸۹۴﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَلِيٍّ وَفَاطِمَةَ وَالْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ أَنَا حَرْبٌ لِمَنْ حَارَبَهُمْ وَسِلْمٌ لِمَنْ سَالَمَهُمْ. رواه الترمذي

د حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د علي، فاطمې، حسن او حسین په اړه وفرمایل: زه جنګ یم د هغه چا لپاره چي د دوی سره جنګ کوي او زه صلح یم د هغه چا لپاره چي د دوی سره صلح کوي. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۱۵، رقم: ۳۸۷۰.

تشریح: ددغه ارشاد مطلب دادی چي څوک ددغه څلورو کسانو سره مینه ولري نو هغه د رسول الله ﷺ سره مینه ودرلودل او چا چي ددغه څلورو کسانو سره دښمني وکړل نو هغه د رسول الله ﷺ سره دښمني وکړل، په یوه روایت کي د حضرت علي رضي الله عنه څخه منقول دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي زما سره مینه ودرلودل نو ددغه دواړو یعني حسن او حسین رضي الله عنهما سره یې مینه ودرلودل او د دوی د پلار او مور یعني علي او فاطمې رضي الله عنهما سره یې مینه ودرلودل نو هغه به د قیامت په ورځ زما په درجه کي زما سره وي (احمد)، او ترمذي هم دغه روایت نقل کړی دی چي د هغه آخري الفاظ داسي: نو هغه به په جنت کي زما سره وي.

د حضرت علي او فاطمې فضیلت

﴿۵۸۹۵﴾: وَعَنْ جُمَيْعِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ عَمَّتِي عَلَى عَائِشَةَ فَسَئَلْتُ أَيُّ النَّاسِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ فَاطِمَةُ فَقِيلَ مِنَ الرِّجَالِ قَالَتْ زَوْجُهَا. رواه الترمذي.

د حضرت جمیع بن عمیر رضي الله عنه څخه روایت دی چي زه د خپلي عمه سره د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کي حاضر سوم، ما پوښتنه وکړه د رسول الله ﷺ تر ټولو زیات محبت د چا سره وو؟ بي بي عائشې راته وفرمایل: د بي بي فاطمې سره، بي بي عائشې رضي الله عنها ته وویل سول او په خلکو کي د چا سره؟ بي بي عائشې رضي الله عنها وفرمایل د هغې د خاوند (حضرت علي رضي الله عنه) سره. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۵۸، رقم: ۳۸۷۴.

تشریح: دلته د بي بي عائشې ﷺ انصاف او صدق د یادوني وړ دی چي هغې په اخلاص سره رښتیا خبره بیان کړې حال دا که چیري هغې غوښتلای نو دا یې ویلای سول چي د رسول الله ﷺ تر ټولو زیاته مینه زما سره او زما د پلار سره وه اوس ددغه حدیث په رڼا کي هغه متعصب او ګمراه خپل ځان ته وګوري چي د بي بي عائشې او بي بي فاطمې ﷺ په منځ کي د اختلاف او عناد ثابتولو هڅه کوي، په هر حال دا خبره باید په ذهن کي وي چي تر ټولو زیات محبوب کېدو مطلب تر ټولو افضل کېدل هیڅکله نه دي ، د اولاد او نژدې خپلوانو سره زیاته مینه کول یو طبعي شی دی ، یو شوک په پوره توګه پوهیږي چي په غیر اولاد کي فلانی فلانی سړی د هغه د اولاد څخه زیات فضیلت لري مګر ددې سربېره د خپل اولاد سره زیاته مینه لري ، مګر د خپل اولاد د غیر اولاد څخه افضل کېدل دا خبره لازموي چي د هغه سره مینه هم زیاته وي .

چا چي زما اکا ته تکلیف ورکړی هغه ما ته تکلیف راکړی

﴿۵۸۹۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيعَةَ أَنَّ الْعَبَّاسَ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ

د حضرت عبد المطلب بن ربیعه ﷺ څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم چي

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُغْضَبًا وَأَنَا عِنْدَهُ فَقَالَ مَا أَغْضَبَكَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ

عباس ﷺ په غصه کي راغلی، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي ته څه شي په غصه کړی یې؟
عباس ﷺ وویل اې دالله رسوله !

مَا لَنَا وَلِقُرَيْشٍ إِذَا تَلَاقَوْا بَيْنَهُمْ تَلَاقَوْا بِوُجُوهٍ مُبْشَرَةٍ وَإِذَا لَقُونَا لَقُونَا بِغَيْرِ

زموږ (یعني د بنو هاشم) او قریشو په منځ کي څه فرق دی هر کله چي هغوی په خپلو کي یو ځای کیږي نو په ورین تندي او په خوشحالي د یو بل سره یو ځای کیږي خو کله چي موږ ورسره یو ځای کیږو نو هغوی راسره نه یو ځای کیږي ،

ذَلِكَ قَالَ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ

ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ غضبناک سو تر دې چي د ډیري غصې څخه یې مخ مبارک سور سو، بیا یې وفرمایل :

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَدْخُلُ قَلْبَ رَجُلٍ الْإِيمَانُ حَتَّى يُحِبَّكُمْ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ

په هغه ذات دې مې قسم وي د چا په لاس کې چې د محمد ﷺ ساه ده د چا په زړه کې چې ايمان وي هغه به تا د خداى او د هغه د رسول ﷺ د رضا حاصلولو لپاره دوست گڼي ،

ثُمَّ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ آذَى عَمِّي فَقَدْ آذَانِي فَإِنَّمَا عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ.

رواه الترمذي.

ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل اې خلکو! څوک چې زما اکا ته تکليف رسوي هغه گويا ما ته تکليف رسوي ځکه چې اکا د پلار په ډول دى . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵/ ۶۱۰، رقم: ۳۸۱۹.

د لغاتو حل: صنو ابيه: اي مثله .

تشريح: په ايمان کې نه داخلیږي: يا خو مطلق ايمان مراد دى ، په دغه صورت کې به ارشاد پر سخت وعيد باندې محمول کيږي ، او يا کامل ايمان مراد دى ، په دغه صورت کې به ويل کيږي چې د رسول الله ﷺ مقصد په تاکيد سره دې ته متوجه کول دي چې زړه او دماغ د اهل بيتو د مينې او عقيدې څخه معمور کولو پرته د ايمان کامله درجه نه په برخه کيږي .

د قريشو ډېر ښاخونه وه، په هغوى کې بنوهاشم تر ټولو باعزته ښاخ وو، همدارنگه اکثر مناصب چې ټولنيز عزت به ورکول کيدى هغه ددغه ښاخ خلګو ته حواله وو، بيا تر ټولو لوى شرف يعني د نبوت او رسالت منصب عظمى هم ددغه ښاخ نصيب سو ، ددغه وجوهاتو څخه د قريشو نورو ښاخو به د بنو هاشم سره يو ډول کينه درلودل او هغوى يې خپل حريف گرځول ، نو ابوجهل د رسول الله ﷺ د نبوت په انکار کولو سره دا ويل چې د مکې او قريشو سرداري بنوهاشم اخيستې ده، حاجيانو ته د زمزم اوبه ورکولو دنده د بنوهاشم ده که په بنوهاشم کې نبوت او رسالت هم راسي نو بيا به پاته قريشو سره څه پاته کيږي .

د حضرت عباس رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۸۹۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الْعَبَّاسُ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ.

رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : عباس رضي الله عنه زما څخه دى او زه د عباس رضي الله عنه څخه يم . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۶۱۰\۵، رقم: ۳۷۵۹.

تشريح عباس ﷛ زما ځخه دی، يعني زما د خاص خپلوانو ځخه دی يا دا چي زما د اهل بيتو ځخه دی، علماؤ ليکلي دي چي د شرف، فضل او نبوت په اعتبار خو د رسول الله ﷺ ذات اصل دی، او د اکا کېدو په اعتبار حضرت عباس ﷛ اصل دی او ځرګنده ده چي ذکر سوی ارشاد په اصل کي د کمال محبت او تعلق ځخه کنايه ده لکه ځرنګه چي رسول الله ﷺ د حضرت علي ﷛ په اړه فرمايلي دي چي: (اې علي!) زه ستا ځخه يم او ته زما ځخه يې.

حضرت عباس ﷛: حضرت عباس ابن عبد المطلب د رسول الله ﷺ اکا دی، دهغه زوکړه د فيل د پېښي ځخه يو کال مخکي سوې ده، د هغه مور د نمر بن قاسط قبيلې سره تعلق درلود او هغه لومړنۍ ښځه وه چي پر کعبې شريفي يې د رېښمو او ديباج او ډول ډول جامو پوښ واچوی، ويل کيږي چي حضرت عباس ﷛ په کوچنيوالي کي ورک سوی وو، د ډيري پلټني ځخه وروسته کله چي پيدا سو نو د هغه مور نذر منلی وو که زما زوی پيدا سو نو زه به پر بيت الحرام باندي پوښ اچوم، د حضرت عباس ﷛ معلومات وسو او هغه کور ته راغلی، نو مور يې په ډېره پابندي سره نذر پوره کړ، حضرت عباس ﷛ د جاهليت په زمانه کي هم په مکه او قريشو کي ډېر نوم درلود او يو لوی مشر منل کېدی، د عماره او سقايه ستري دندي هغه ته سپارل سوي وې، نوموړي د رسول الله ﷺ ځخه دوه کاله مشر دی او د اکا کېدو سربېره يې د رسول الله ﷺ ډېر احترام کوی، نقل سوي دي چي يوه ورځ يو چا پوښتنه وکړل: انت اکبر او النبي ﷺ؟ ته مشر يې که رسول الله ﷺ؟ نو هغه جواب ورکړ: هو اکبر وانا اسن، يعني رسول الله ﷺ لوی دی او عمر زما زيات دی، د حضرت عباس ﷛ دغه بليغ جواب د هغه د سلامت طبع او ذهانت غمازي کوي، حضرت عباس ﷛ ډېر مخکي اسلام قبول کړی وو مګر د ځينو حکمتو په وجه يې د خپل اسلام اظهار ونه کړ، د بدر په غزا کي هغه په ډېر کراهت او مجبوری سره د مشرکينو سره شريک وو او رسول الله ﷺ مجاهدينو ته فرمايلي وه: کوم ځوک چي د حضرت عباس ﷛ سره مخامخ سي نو هغه دي نه وژني ځکه هغه د مجبورۍ له کبله جنګ ته راغلی دی، د جنګ په پای کي حضرت عباس ﷛ هم په بنديانو کي شامل وو، او ابو اليسير بن کعب بن عمر هغه بندي کړ، بيا يې د مالي معاوضې په بدله کي ايله کړ او مکې ته بېرته راغلی، وروسته د هغه ځای ځخه په هجرت کولو سره مدينې ته راغلی، په ۳۶ هجري کال کي د جمعې په ورځ په ۱۲ د رجب وفات سو، هغه وخت يې عمر اته اتيا کاله وو او په جنت البقيع کي دفن کړل سو، په روايتو کي راځي چي هغه د خپل وفات پر وخت اويا غلامان ازاد کړل.

د عباس ﷛ او كورنۍ لپاره دعاء

﴿٥٨٩٨﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ إِذَا كَانَ

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ عباس ﷛ ته وفرمايل :

غَدَاةَ الِاثْنَيْنِ فَأْتِنِي أَنْتَ وَوَلَدُكَ حَتَّى أَدْعُوَ لَكَ بِدَعْوَةٍ يَنْفَعُكَ اللّٰهُ بِهَا

د دوشنبې په ورځ سهار وختي ته د خپل اولاد سره ما ته راسه چي ستاسو لپاره دعاء وغواړم چي تا او ستا اولاد ته الله ﷻ په هغه سره ګټه ورسوي ،

وَوَلَدَكَ فَغَدَا وَغَدَوْنَا مَعَهُ وَأَلْبَسَنَا كِسَاءً ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ

بيا د دوشنبې په ورځ سهار وختي هغوی راغلل، او رسول الله ﷺ پر موږ خپل څادر مبارک واچوی بيا يې وفرمايل اې الله ! عباس او ده اولاد وبخښې ،

وَوَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً لَا تُغَادِرُ ذَنْبًا اللّٰهُمَّ احْفَظْهُ فِي وَلَدِهِ. رواه

ظاهر او باطن دواړو حالتو کي دوی پاک کړې او ددې دواړو (عباس او ابن عباس) هيڅ ګناه مه پرېږدې ، اې الله ! عباس ده په اولاد کي قائم او محفوظ لرې ،

الترمذي وزاد رزين واجعل الخلافة باقية في عقبه وقال الترمذي هذا حديث غريب.

ترمذي او د رزين په روايت کي دا الفاظ زيات دي چي رسول الله ﷺ په دعاء کي دا هم وفرمايل: چي خلافت او اميري ده په اولاد کي باقي ولرې . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی .

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦١١، رقم: ٢٧٦٢.

تشريح: خپل څادر مبارک يې پر موږ واچوی: دا ددې خبرې څخه کنايه ده چي څرنګه ما پر دغه ټولو خپل څادر واچوی همدارنګه د الله ﷻ د رحمت سايه دي هم پر دوی ټولو خپره سي .

عباس ﷛ د هغه په اولاد کي قائم او خوندي ولرې: يعني اې الله! ته عباس ﷛ ته عزت او شوکت ورکړې او هغه د ټولو آفتو او مصيبتو څخه خوندي وساتې ددې لپاره چي هغه د خپل اولاد د حقوقو ساتنه وکړي .

امارت او پاچاهي هم دده په اولاد کي پاته ولرې: يعني تر ډېره وخته پورې د عباس رضي الله عنه اولاد حکم الهي سره سم او سيادت او ثروت سره ونازوې، نو دغه دعاء قبوله سول، هغه زمانه راغلل چي تر پېړيو پورې د خلافت او حکمرانۍ شرف په عباسيانو کي پاته وو، دغه د دعاء الفاظ په اصل کي د امت لپاره يو هدايت دی چي د خلافت او امارت استحقاق د عباس رضي الله عنه اولاد ته هم حاصل دی، د خليفه او امير ټاکلو په وخت کي د دوی ترجيحي استحقاق په فهم کي لرل پکار دي.

د ابن عباس رضي الله عنه او د هغه د اولاد فضيلت

﴿٥٨٩٩﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام مَرَّتَيْنِ وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما دوه واره جبرائيل عليه السلام وليدی او رسول الله ﷺ دوه واره زما لپاره دعاء کړې ده، ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦٣٧، رقم: ٣٨٢٢.

تشريح: دوه واره يې حضرت جبرائيل عليه السلام وليدی، دغه تفصيلي روايت په جميع الجوامع کي داسي نقل سوی دی چي حضرت عباس رضي الله عنه بيان وکړ چي يوه ورځ ما تکي سپيني جامې اغوستې وې او د رسول الله ﷺ سره تېر سوم، نو ما ولېدل چي رسول الله ﷺ د دحيه کلبي رضي الله عنه په غوږ کي خبري کوي، حال دا چي په حقيقت کي هغه دحيه کلبي رضي الله عنه نه وو بلکه د هغه په صورت کي حضرت جبرائيل عليه السلام وو، مگر هغه وخت ما ته معلومه نه وه چي دا جبرائيل عليه السلام دی، زه د هغوی سره تېر بدم نو حضرت جبرائيل عليه السلام، رسول الله ﷺ ته وويل: اې دالله رسوله! که ابن عباس رضي الله عنه موږ ته سلام ادا کړی وای نو ما به دده د سلام جواب ورکړی وای، ابن عباس رضي الله عنه خو په ډېرو سپينو جامو کي دی مگر دده څخه وروسته به دده اولاد د تورو جامو په اغوستلو مجبور وي، کله چي جبرائيل عليه السلام آسمان ته ولاړی نو رسول الله ﷺ په راستنېدو سره ما ته وفرمايل: زموږ سره د تېرېدو په وخت کي تا ولي سلام ادا نه کړ؟ ما وويل: اې دالله رسوله! تاسو هغه وخت د دحيه کلبي رضي الله عنه په غوږ کي په خبرو کولو بوخت واست، ما مناسبه ونه گڼل چي تاسو زما د سلام جواب راکړئ، او همدارنگه زه ستاسو په خبرو کي خنډ جوړ سم، بيا رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل چي هغه دحيه کلبي رضي الله عنه نه وو بلکه جبرائيل عليه السلام وو، (ابن عساکر دغه

روايت نقل کړی دی) او ترمذي ويلي دي چي دغه پښنه دوه واره رامنځته سوې ده .

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په دې اړه ليکلي دي چي دلته سوال پيدا کيږي چي د رسول الله ﷺ سره د حضرت جبرائيل عليه السلام راتګ به په عامه توګه د دحيه کلبي رضي الله عنه په شکل کي وو او نورو صحابه کرامو به هم هغه ليدی ، نو بيا په خاصه توګه د ابن عباس رضي الله عنه په اړه دا خبره په خاصه توګه ولي بيان سوې ده چي هغه حضرت جبرائيل عليه السلام دوه واره ليدلی دی؟ ددې جواب شيخ رحمه الله دا ليکلی دی چي حضرت ابن عباس رضي الله عنه هم حضرت جبرائيل عليه السلام دوه واره د دحيه کلبي په شکل کي ليدلی وو مګر د هغه ليدل په عالم ملکوت کي وو ، حال دا چي د هغه څخه ماسوا بل صحابي حضرت جبرائيل عليه السلام په عالم ملکوت کي نه وو ليدلی ، نورو صحابه کرامو هغه په عالم ناسوت کي ليدلی دی، په يوه روايت کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ، ابن عباس رضي الله عنه ته فرمايلي وه : د نبي او رسول څخه ماسوا بل څوک چي جبرائيل عليه السلام ويني نو د هغه ديد له منځه ځي ، نو اې ابن عباس ! ستا سترګي به هم کار پرېږدي مګر د مرګ په ورځ به ستا ديد بېرته تا ته راسي نو دا خو معلومه وه چي حضرت ابن عباس رضي الله عنه ړوند سوی وو، او منقول دي چي کله هغه وفات سو او د هغه بدن په کفن کي ونغښتل سو نو ناڅاپه يو سپين مرغه څرګند سو او هغه مړي ته په راتلو سره په کفن کي ننوتی او غائب سو، خلګو هر څه پلټنه وکړل ، اخوا او دېخوا يې وکتل مګر د هغه سپين مرغه معلومات ونه سو، په پای کي د حضرت ابن عباس رضي الله عنه ازاد سوي غلام ، حضرت عکرمه رضي الله عنه وويل: ايا تاسو خلګ بې عقل سوي ياست، هغه مرغه نه وو بلکه د هغه ديد وو چي د هغه په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي وه چي د مرګ په ورځ به هغه ته بېرته راځي ، په روايت کي دا هم راغلي دي چي کله حضرت ابن عباس رضي الله عنه په لحد کي کښېښودل سو نو د غيب څخه يو آواز راغلی چي ټولو واورېدی: يا ايتها النفس المطمئنة ارجعي الى ربک راضية مرضية، اې مطمئن نفسه! خپل رب ته ولاړ سه ، ته د هغه څخه راضي يې او هغه ستا څخه راضي دی .

او د هغه لپاره يې دوه واره دعاء وفرمايل: يعني يو وار يې هغه دعاء وفرمايل چي د هغه ذکر په تېر فصل کي په يو حديث کي وسو چي رسول الله ﷺ، ابن عباس رضي الله عنه د خپلي سينې مبارکي سره پيوست کړ او دغه دعاء يې ورته وکړل: اللهم علمه الحکمة، اې الله! ده ته د کتاب الله علم ورکړې، دوهم وار دعاء هغه ده چي د هغه په اړه هم د حضرت ابن عباس رضي الله عنه روايت مخکي تېر سوی دی چي رسول الله ﷺ د استنجاء لپاره تشريف يووړ نو ما د اوداسه لپاره اوبه ورته کښېښودلې، کله چي رسول الله ﷺ ته وښودل سول چي ابن عباس رضي الله عنه دغه اوبه اېښي دي

نو هغه وخت رسول الله ﷺ دغه دعاء وفرمايل: اللهم فقه في الدين، اې الله! ابن عباس رضي الله عنه ته د دين پوهه ورکړې، مګر دا احتمال هم سته چې يو وار دعاء خو هغه مراد وي چې رسول الله ﷺ د اوبو په اېښودو باندې خوشحاله سو او دعاء يې ورته وکړل او د دوهم وار دعاء څخه هغه دعاء مراد وي چې رسول الله ﷺ د حضرت ابن عباس رضي الله عنه او د هغه د اولاد په حق کې فرمايلې وه

د ابن عباس رضي الله عنه لپاره دعاوې

﴿۵۹۰۰﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ دَعَا لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُؤْتِيَنِي اللَّهُ الْحِكْمَةَ مَرَّتَيْنِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ زما لپاره دعاء وکړل چې الله تعالی ما ته دوه واره حکمت راکړي، ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۳۸، رقم: ۳۸۲۳.

تشريح: يعني د دغه مفهوم دعاء چې الله ﷻ ما ته د دين او شريعت علم اصول او فروع راکړي، يو وار خو لفظ د حکمت سره او يو وار فقه لفظ سره او څرګنده ده چې رسول الله ﷺ دغه دواړي دعاوي په جلا جلا وختو کې وکړلې لکه چې مخکې تېر سول.

د حضرت جعفر رضي الله عنه کنيت

﴿۵۹۰۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ جَعْفَرٌ يُحِبُّ الْمَسَاكِينَ وَيَجْلِسُ إِلَيْهِمْ وَيُحَدِّثُهُمْ وَيُحَدِّثُونَهُ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْنِيهِ بِأَبِي الْمَسَاكِينِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې جعفر رضي الله عنه به د مسکينانو سره ډېره مينه کول د هغوی سره به کېښېنستی او مسکينانو به د هغه سره او هغه به د مسکينانو سره خبري کولې، پر دې بنياد رسول الله ﷺ د ده کنيت ابو المساکين اېښی وو، ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۱۳، رقم: ۳۷۶۶.

تشريح: مطلب دا چې حضرت جعفر رضي الله عنه ډېر زيات مسکين نواز وو، د هغه کنيت ابو المساکين اېښودل سوی وو، لکه څرنګه چې د حضرت علي رضي الله عنه کنيت ابو تراب له دې کبله اېښول سوی

وو چي هغه به د ناستي او پروتي په وخت كي د خاورو فرش زيات خوښوی او پر ځمکه به بېله تکلفه کښېنستی او پرېوتی، يا څرنګه چي مسافر ته ابن السبيل او صوفي ته ابو الوقت د خاص معناوو په نسبت سره ويل کيږي .

د حضرت جعفر رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۹۰۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ جَعْفَرًا يَطِيرُ فِي الْجَنَّةِ مَعَ الْمَلَائِكَةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ما جعفر رضي الله عنه په جنت کي د ملائکو سره په الوتلو وليدی ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۱۲، رقم: ۳۷۶۸.

تشريح: حضرت جعفر رضي الله عنه د موته په غزا کي د اسلامي لښکر امير وو او د اسلام بېرغ د هغه په لاس کي وو، په دغه غزا کي هغه د شهادت جام نوش کړ ، په اصل کي خو ددغه غزا اسلامي مشر حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه وو مګر د جنګ په دوران کي د هغه د شهيد کېدو څخه وروسته د اسلامي لښکر مشرتوب او د اسلام بېرغ د حضرت جعفر رضي الله عنه لاس ته راغلی نو حضرت جعفر رضي الله عنه په ډېره مېړانه د الله جل جلاله په لاره کي جګړه وکړل ، مخکي د هغه يو لاس په کار راغلی بيا دوهم لاس يې هم پرې سو بيا يې پښې هم قربان سوې تر دې چي شهيد سو، يوې خوا ته د جنګ په ميدان کي حضرت جعفر رضي الله عنه شهيد سو بلي خوا ته په مدينه منوره کي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په مکاشفه يا په خوب کي وښودل سول چي د جعفر رضي الله عنه دوه وزرونه دي او د هغه دوو وزرو په ذريعه د ملائکو سره په جنت کي الوځي .

د جنت د ځوانانو سردار

﴿۵۹۰۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : حسن او حسين د جنت د ځوانانو سرداران دي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۴۴، رقم: ۳۷۶۸.

تشريح: د طيبي رحمة الله عليه د قول مطابق د حديث د الفاظو مطلب دادى چي حسن او حسين رضي الله عنهما د هغه ټولو مسلمانانو څخه افضل دي چي د الله تعالى په لاره كي د ځوانۍ په حالت كي وفات سوي دي مګر دا خبره محل كلام ده ځكه چي دوى دواړو ته يوازي د هغه مسلمانانو څخه د افضل ګرځولو د تخصيص يوه وجه نسته كوم چي ځوانان مړه سول بلكه حقيقت خو دادى چي حسن او حسين رضي الله عنهما د هغه ډېرو مسلمانانو څخه هم افضل دي چي په لوى عمر كي وفات سوي دي نو د ځينو حضراتو دغه قول زيات صحيح دى چي د دغه حديث څخه مراد دادى چي حسن او حسين رضي الله عنهما د ټولو جنتيانو سرداران دي ځكه چي ټول جنتيان به ځوانان وي مګر انبياء عليهم السلام او خلفاء راشدين د دوى څخه مستثنى دي يعني دوى دواړه به تر هغوى افضل نه وي.

ځينو حضراتو ليكلي دي چي دلته د شباب يعني ځوان لفظ د جوان العمر په مفهوم كي نه دى بلكه د فتوت يعني د ځواني، سخي او كريم كېدو په معنى كي دى، په دغه صورت كي به مطلب دا وي چي دغه دواړه د ټولو ځوانانو سرداران دي، پرته د انبياء او خلفاء راشدينو څخه، يا دا چي د جنت د ځوانانو څخه مراد ټول جنتيان دي او هغوى د شباب په لفظ سره تعبير كول د اظهار محبت او شفقت په وجه دي لكه څرنګه چي په عامه توګه كيږي چي پلار د خپل زوى ذكر كوي نو هغه په هلک، بچي او يا بل نامه سره تعبير كوي كه څه هم هغه د هر څو عمر وي.

د دنيا دوه ګلونه

﴿۵۹۰۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ هُمَا رَيْحَانَيَّ مِنَ الدُّنْيَا. رواه الترمذي. وقد سبق في الفصل الاول

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: حسن او حسين زما د دنيا دوه ګلونه دي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۱۵، رقم: ۳۷۷۰.

تشريح: سيد جمال الدين رحمة الله عليه د دغه حديث په اړه ليكلي دي چي د مشكوة شريف په دغه الفاظو كي پر صاحب مصابيح باندي اعتراضاتو ته اشاره ده مګر ملا علي قاري رحمة الله عليه ليكلي دي چي زما په نزد دغه اعتراض كالعدم دى، د اول فصل روايت د بخاري دى چي پر خپل ځاى يې نقل كړى دى او دغه روايت د ترمذي دي چي دلته نقل سوى دى، حال دا چي د دغه دواړو روايتو په الفاظو كي في الجملة تغاير دى.

د حسين ﷛ سره مينه

﴿۵۹۰۵﴾: وَعَنْ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ قَالَ طَرَقْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ

د حضرت اسامه بن زيد ﷛ څخه روايت دى چي زه د يو ضرورت لپاره د شپې د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم،

لَيْلَةٍ فِي بَعْضِ الْحَاجَةِ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُشْتَمِلٌ عَلَى

نبي كريم ﷺ د كور څخه په داسي حال كي راووتى چي يو شئ يې د ځان سره پټ نيولى وو چي

شَيْءٍ لَا أَدْرِي مَا هُوَ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْ حَاجَتِي قُلْتُ مَا هٰذَا الَّذِي أَنْتَ

په هغه زه ناخبر وم چي هغه څه شي دي، كله چي رسول الله ﷺ ته ما خپل ضرورت عرض كړ او د خپل حاجت څخه فارغ سوم نو ما پوښتنه وكړه اې د الله رسوله !

مُشْتَمِلٌ عَلَيْهِ فَكَشَفَهُ فَإِذَا حَسَنٌ وَحُسَيْنٌ عَلَى وَرِكَيْهِ فَقَالَ هٰذَانِ ابْنَايَ

دا تاسو څه شي راخيستى دى ؟ رسول الله ﷺ هغه شى ښكاره كړ نو حسن او حسين وه چي د رسول الله ﷺ په دواړو اړخونو كي وه (او څادر يې پراچولى وو) او وه يې فرمايل : دا زما

وَابْنَا ابْنَتِيَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُمَا فَأَحِبَّهُمَا وَأَحِبَّ مَنْ يُحِبُّهُمَا. رواه الترمذي.

زامن دي او زما د لور زامن دي ، اې الله ! زه د دوى سره مينه كوم ته ورسره هم مينه وكړې او څوك چي د دوى سره مينه كوي ته د هغه سره هم مينه وكړې . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۱۴، رقم: ۳۷۶۹.

تشريح: دغه دواړه (په حكم كي) زما زامن دي، ددې څخه معلوميږي چي د لور زوى د خپل زوى په حكم كي داخل دى لكه څرنګه چي د زوى زوى يعني لمسي د خپل زوى په حكم كي دى او دغه حديث ددې خبري دليل دى چي د نسب شرف د مور له خوا هم ثابتيږي .

د حضرت اسامه ﷛ په مخكي د رسول الله ﷺ ذكر سوې دعاء كول كيداى سي د هغه او نورو دې ته متوجه كولو لپاره وو چي د حسين ﷛ سره زياته مينه وكړل سي .

د حسين ﷺ شهادت او د ام سلمه خوب

﴿۵۹۰۶﴾: وَعَنْ سَلْمَى قَالَتْ دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ وَهِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ مَا يُبْكِيكِ

د حضرت سلمی (رض) څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ كوروالا ام سلمه ته راغلم چي هغې ژړل، ما پوښتنه وكړل اې بي بي ولي ژاړې؟

قَالَتْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْنِي فِي الْمَنَامِ وَعَلَى رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ

هغې وويل: ما رسول الله ﷺ په خوب كي په داسي حال كي وليدی چي پر سر او ږيره مباركه يې

التُّرَابُ فَقُلْتُ مَا لَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ شَهِدْتُ قَتْلَ الْحُسَيْنِ آنِفًا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

دوړې پرتې وې، ما پوښتنه وكړه اې دالله رسوله! څه وسو ل؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل: زه اوس د حسين ﷺ د قتل د ځای څخه راغلم، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۱۵، رقم: ۳۷۷۱.

تشريح: ام المؤمنين بي بي سلمه ﷺ په ۵۹م هجري كال كي وفات سوې ده او ځينو حضراتو د هغې د وفات نېټه ۶۳م هجري ليكلې ده، مگر زيات صحيح قول مخكنی دی، يوې خوا ته د حضرت امام حسين ﷺد شهادت سانحه په ۶۱ هجري كال كي پېښه سوې ده او كه د بي بي ام سلمه ﷺ د وفات په اړه دوهم قول صحيح ومنل سي نو د دغه حديث څخه سوال نه پيدا كيږي مگر په دغه تاويل سره دا سوال هم دفع كيږي چي د حضرت امام حسين ﷺ د شهادت د پېښي څخه مخكي د بي بي ام سلمه ﷺ په خوب كي د هغه واقع كېدل ښودل سوې وو، په دغه صورت كي د انفا لفظ توجيه به دا كيږي چي د دغه لفظ استعمال د دغه صورت حال د تحقيق په اعتبار دی چي د جسين ﷺ د شهادت په صورت كي د رسول الله ﷺ په خوب كي هغه وخت لېدل ښودل سوي وه.

د حسنينو سره مينه

﴿۵۹۰۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ أَهْلِ بَيْتِكَ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ وَكَانَ يَقُولُ لِفَاطِمَةَ ادْعِي لِيَ ابْنَيَّ

فَيَشُمُّهُمَا وَيَضُمُّهُمَا إِلَيْهِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چې په اهل بیتو کې ستاسو څوک زیات خوښ دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : حسن او حسین، رسول الله ﷺ به بي بي فاطمې ﷺ ته فرمایل : زما دواړه زامن راوله، بیا به رسول الله ﷺ د حسن او حسین دواړو بدن بویوی او د ځان سره به یې پیوست کړل . ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی .

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۱۵، رقم: ۳۷۷۲.

﴿۵۹۰۸﴾ : وَعَنْ بُرَيْدَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُنَا إِذْ

د حضرت بریده رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ موږ ته خطبه فرمایل چې ناڅاپه

جَاءَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ عَلَيْهِمَا قَمِيصَانِ أَحْمَرَانِ يَمْشِيَانِ وَيَعْثُرَانِ فَنَزَلَ

حسن او حسین راغلل چې سره قمیصونه یې اغوستي وه چې په تګ کې به غوځاربدل ، ددې

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمِنْبَرِ فَحَمَلَهُمَا وَوَضَعَهُمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

لیدو سره رسول الله ﷺ د منبر څخه راکښته سو دواړه ماشومان یې په غیږ کې واخیستل بیا یې خپل مخته دواړه کښېنول

ثُمَّ قَالَ صَدَقَ اللّٰهُ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ نَظَرْتُ إِلَى هَذَيْنِ الصَّبِيَّيْنِ

او وه یې فرمایل : الله تعالی رښتیا فرمایلي دي چې ستاسو مال او اولاد فتنه ده، ما دواړه ماشومان ولیدل

يَمْشِيَانِ وَيَعْثُرَانِ فَلَمْ أَصْبِرْ حَتَّى قَطَعْتُ حَدِيثِي وَرَفَعْتُهُمَا. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي.

چې راځي او غوځاربدل نو ماصبر ونه کړلای سو تر دې چې ما خپله خبره قطع کړه او دا دواړه ماشومان مې راپورته کړل . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي

تشریح: د رسول الله ﷺ د خطبې په دوران کي د منبر څخه را کښته کېدل او حسنین ﷠ پورته کول دا په اصل کي یو داسي عمل وو چي د هغه محرک شفقت، ترحم او میني هغه جذبه وه چي د هغوی په حال کي لېدو سره په نبوي زړه کي را پورته سوې وه، پر اولاد او کوچنیانو باندي شفقت او مهرباني کول یو ښه او غوره کار دی او د خطبې په دوران کي خطیب لره د یو وخت لپاره یو نیک عمل ته متوجه کېدل جائز دي ځکه د خطبې په دوران کي رسول الله ﷺ د غه عمل ته به تداخل في العبادت یو ډول ویل کیږي، رسول الله ﷺ چي د دغه عمل عذر بیان کړ نو هغه خو یو د خاکسارۍ په وجه وو دوهم د اورېدونکو او حاضرو خلکو خبردار کول هم مقصد وو چي زما دغه عمل د راتلونکي لپاره په دلیل ګرځولو سره ځان د دې عادي مه جوړوئ او دا ونه ګڼئ چي کله ما داسي وکړل نو هر سړی چي غواړي داسي کولای سي.

﴿۵۹۰۹﴾: وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُسَيْنٌ مِنِّي وَأَنَا مِنْ حُسَيْنٍ أَحَبَّ اللَّهُ مَنْ أَحَبَّ حُسَيْنًا حُسَيْنٌ سِبْطٌ مِنَ الْأَسْبَاطِ. رواه الترمذي.

د حضرت یعلي بن مره ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: حسین زما څخه دی او زه د حسین څخه یم، څوک چي د حسین سره مینه کوي خدای دي د هغه سره مینه وکړي او حسین زما یو اولاد دی. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۶۱۷/۵، رقم: ۳۷۷۵.

د لغاتو حل: سبط: ولد ابنتي.

تشریح: یو شارح لیکلي دي چي کله رسول الله ﷺ دغه الفاظ وفرمایل نو هغه وخت لکه رسول الله ﷺ چي هغه پېښه د مخکي څخه ادراک کړې وه چي تقریبا نیمه پېړۍ وروسته د شهادت په صورت کي پېښېدونکې وه، رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کي په خاصه توګه یو ازي د حضرت حسین ﷛ یادونه وکړل او څرګنده یې کړل چي زه او زما حسین یو ځان او دوه بدنه یو، په موږ دواړو کي یو بدني او روحاني قرب او اتصال دی، لکه څرنګه چي زما سره مینه کول واجب دي همدارنګه د حسین ﷛ سره مینه کول واجب دي او څرنګه چي زما سره مخالفت او دښمني او زما سره جګړه کول حرام دي همدارنګه د حسین ﷛ سره مخالفت، دښمني او جګړه کول حرام دي.

هغه دالله ﷻ سره مينه ودرلودل: ځکه چي د حسين رضي الله عنه سره مينه درلودل د رسول الله ﷺ سره مينه درلودل دي او د رسول الله ﷺ سره مينه درلودل د الله ﷻ سره مينه درلودل دي، ځرګنده دي وي چي په (احب الله) کي که چيري حاء په زور سره وويل سي نو معنى به يې هغه وي کوم چي ذکر سول او که د حاء په پېښ سره وويل سي نو معنى به يې دا وي چي کوم څوک د حسين رضي الله عنه سره مينه ولري نو الله ﷻ د هغه سره مينه لري.

حسين رضي الله عنه د اسباطو څخه يو سبط دی: يعني حسين رضي الله عنه زما زوی دی، سَبط (د سين په زور) په اصل کي سِبط دی او سبط هغه درختي ته وايي چي د هغه رېښې يو وي مګر ښاخونه يې ډېر وي، نو پلار د درختي په ډول سو او اولاد د هغه د ښاخو په ډول، ځينو حضراتو د سبط من الاسباط معنى دا ليکلې ده چي حسين رضي الله عنه په امتونو کي يو امت دی يعني د خير، ښېګڼې، شرف او سعادت په اعتبار د يوه پوره امت برابر دی، يو شارح ليکلي دي چي د سبط لفظ د ولد په معنى کی دی، په دغه صورت کي د ذکر سوې جملې معنى به دا وي چي حسين رضي الله عنه زما اولاد دی، د سبط يوه معنى د قبيلې هم راځي لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي دغه آيت دی: (وقطعناهم اثنتى عشرة اسباطا) او موږ هغوی په دوولس کورنيو يا قبيلو کي وويشل، ددغه معنى په مناسبت ويل کيدای سي چي ددغه جملې څخه کيدای سي دا مراد وي چي حسين رضي الله عنه به د يوې لوی قبيلې او لوی نسل مورث وګرځي، الله ﷻ به د هغه په اولاد کي ډېر برکت واچوي او د هغه د اولاد لړۍ به نه يوازي دا چي ډېره خپره سي بلکه قائمه او باقي به پاته سي نو همدارنګه وسول چي دحضرت حسين رضي الله عنه نسل ډېر زيات خپور سو، دهغه په اولاد کي بې شمېره صحيح النسب سادات موجود دي.

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه ددغه حديث په اړه ليکلي دي چي سبط (د سين په زور او د باء په جزم) معنى د اولاد ده، اسباط يې جمع ده لکه څرنګه چي د حضرت يعقوب عليه السلام ټول اولاد ته اسباط ويل کيږي، په اصل کي د يهوديانو لپاره د اسباط لفظ استعماليږي په کومه معنى کي چي د عربو لپاره د قبيلې لفظ استعماليږي، او د سَبَط معنى د هغه درختي ده چي د هغې ښاخونه ډېر وي او رېښه يې يوه وي، نو د حضرت حسين رضي الله عنه په سبط سره تعبير کول دې ته اشاره ده چي د هغه د نسل څخه به بې شمېره خلک پيدا سي.

د حسنينو د رسول ﷺ سره مشابهت

﴿۵۹۱۰﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ الْحَسَنُ أَشْبَهُ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

بَيْنَ الصَّدْرِ إِلَى الرَّأْسِ وَالْحُسَيْنُ أَشْبَهُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كَانَ أَسْفَلَ مِنْ ذٰلِكَ. رواه الترمذي.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چي حسن رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره زیات مشابه دی د سر څخه تر سینې پوري، او حسین رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره تر سینې لاندي زیات مشابه دی. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۱۸، رقم: ۳۷۷۹.

تشریح: یعني دواړه حضرات په یو ځای کېدو سره د رسول الله ﷺ ډېر مشابه وه او د رسول الله ﷺ بدن مبارک د دوی دواړو په منځ کي منقسم وو.

د بي بي فاطمې او حسنینو فضیلت

﴿۵۱۱ه﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قُلْتُ لِأُمِّي دَعِينِي آتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما خپل مور ته وویل چي اجازه راکړه چي د ماښام لمونځ د رسول الله ﷺ سره وکړم

فَأُصَلِّيَ مَعَهُ الْمَغْرِبَ وَأَسْأَلُهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِي وَلَكِ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ

او رسول الله ﷺ ته خواست وکړم چي زما او ستا لپاره د بخښني دعاء وغواړي، نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ الْمَغْرِبَ فَصَلَّى حَتَّى صَلَّى الْعِشَاءَ ثُمَّ انْفَتَلَ فَتَبِعْتُهُ

د ماښام لمونځ مي د رسول الله ﷺ سره وکړ بیا رسول الله ﷺ نفلونه وکړل، د هغه څخه وروسته یې د ماخستن لمونځ وکړ بیا چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو او تلی نو زه هم ورپسي

فَسَمِعَ صَوْتِي فَقَالَ مَنْ هٰذَا حُذَيْفَةُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ مَا حَاجَتُكَ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ

ورغلم، رسول الله ﷺ چي زما د پښو اواز واورېدی نو پوښتنه یې وکړه څوک یې؟ ایا ته حذیفه یې؟ ما عرض وکړ هو، رسول الله ﷺ وفرمایل ولي څه کار دي دی؟ خدای دي تا او ستا

وَلِأُمِّكَ قَالَ إِنَّ هٰذَا مَلَكٌ لَمْ يَنْزِلِ الْأَرْضَ قَطُّ قَبْلَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ

مور و بخښي، (یعني د کوم مقصد لپاره چي راغلی وم هغه بي ویلو پوره سو)، ګوره دا یو ملائکه ده

(رسول الله ﷺ وفرمايل) چي د دغه شپې څخه مخكي هيڅكله مځكي ته نه وه راكښته سوې، دغه ملائكي خپل پروردگار څخه ما ته د حاضريدو

أَنْ يُسَلِّمَ عَلَيَّ وَيُبَشِّرَنِي بِأَنَّ فَاطِمَةَ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَنَّ الْحَسَنَ

او سلام كولو اجازه غوښتې وه نو اجازه وركړل سوه، دغه ملائكي ما ته زيرى راكړى دى چي فاطمه د جنت د ښځو سرداره ده او حسن

وَالْحُسَيْنَ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

او حسين د زلميانو جنتيانو سرداران دي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۱۹، رقم: ۳۷۸۱.

تشريح: ما ته اجازه راكړه: كيداى سي د حذيفه رضي الله عنه سراى د مسجد نبوي څخه ليري وو، او د هغه موريا خو خپله د ډېر احتياط په وجه يا د حذيفه رضي الله عنه په اړه د احتياط لپاره هغه وخت د ليري تللو څخه منع كوى.

تر دې چي بيا د ماخستن لمونځ يې وكړ: ددې څخه د ماښام او ماخستن په منځ كي د نوافلو كولو فضيلت ثابت سو چي د مشائخو په نزد ورته احياء مابين العشائين ويل كيږي.

مخكي هيڅكله مځكي ته نه وه راكښته سوې: په دې كي مقصد اهميت او عظمت ته اشاره ده چي ددې لپاره هغه ملائكه مځكه ته راكښته سوې وه.

ښه سپرلى او ښه سپور

﴿۵۹۱۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَامِلَ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ عَلَى عَاتِقِهِ فَقَالَ رَجُلٌ نِعْمَ الْمَرْكَبُ رَكِبْتَ يَا غُلَامُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنِعْمَ الرَّاكِبُ هُوَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ حسن بن علي رضي الله عنهما پر خپل اوږه مباركه اخيستى وو، يو سړي وويل: هلكه ته پر څنگه ښه سپرلى باندي سپور يې، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل او دا هم ښه سپور دى. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۲۰، رقم: ۳۷۸۴.

تشریح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو چي سپرلی خو ښه ده مګر خپله سپور هم ډېر ښه دی نو ددغه الفاظو څخه د حضرت حسن رضي الله عنه د کمال توصیف او منقبت او ډېر فضیلت اظهار کیږي.

د حضرت اسامه رضي الله عنه فضیلت

﴿۵۹۱۳﴾: وَعَنْ عُمَرَ أَنَّهُ فَرَضَ لِأُسَامَةَ فِي ثَلَاثَةِ آلَافٍ وَخَمْسِ مِائَةٍ وَفَرَضَ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي هغه د اسامه بن زید رضي الله عنه لپاره (د بیت المال څخه) درې نیم زره درهمه تنخواه وټاکل،

لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فِي ثَلَاثَةِ آلَافٍ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ لِأَبِيهِ لِمَ فَضَّلْتَ

او عبدالله بن عمر رضي الله عنه (یعني خپل زوی) لپاره یې درې زره درهمه تنخواه وټاکل، عبدالله بن عمر رضي الله عنه خپل پلار ته وویل تاسو اسامه ته پر ما ولې ترجیح ورکړل،

أُسَامَةَ عَلَيَّ فَوَاللَّهِ مَا سَبَقَنِي إِلَى مَشْهَدٍ قَالَ لِأَنَّ زَيْدًا كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ

قسم په خدای هغه په هیڅ یو غزا کي زما څخه مخکي سوی نه دی، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل ما د اسامه تنخواه له دې کبله زیاته وټاکل چي د رسول الله ﷺ دده

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَبِيكَ وَكَانَ أُسَامَةُ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د پلار سره ستا تر پلار زیات محبت وو، او بیا خپله اسامه سره د رسول الله ﷺ ستا څخه زیاته

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكَ فَآثَرْتُ حُبَّ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ عَلَى حُبِّي. رواه الترمذي.

مینه وه په دې وجه ما د رسول الله ﷺ محبوب ته پر خپل محبوب ترجیح ورکړل. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵/ ۶۳۴، رقم: ۳۸۱۵.

تشریح: د مشهد معنی د حاضرېدو د ځای ده چیري چي په یو ښه یا ښه خبري کي برخه واخیستل سي، مګر دلته دغه لفظ د شهید کېدو ځای یعني د جنګ میدان په معنی کي استعمال سوی دی.

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه شکایت له دې کبله وو چي د اسامه رضي الله عنه تنخواه زما د تنخواه څخه زیاته وټاکل سوې ده نو ددې مطلب دا سو چي اسامه رضي الله عنه ته پر ما فضیلت حاصل دی حال دا

چي د علمي ، ديني او خدماتي لحاظ څخه د اسامه رضي الله عنه مرتبه يقينا زما څخه کمه ده ، پر دغه خبره باندي حضرت عمر رضي الله عنه هغه پوه کړ چي د اسامه رضي الله عنه تنخواه په دې وجه زياته نه ده چي هغه د علم ، عمل او خدمت په اعتبار تر تا افضل دی بلکه د هغه د خاص محبت رعايت دی چي د رسول الله ﷺ د هغه سره وو، او د نورو په مقابله کي زيات محبوب کېدل دا خبره نه مستلزم کوي چي هغه دي د نورو څخه افضل هم وي، پاته سوه دا خبره چي حضرت اسامه رضي الله عنه او دهغه پلار حضرت زيد رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته زيات محبوب وو مگر د هغه يوه ظاهره وجه خو داده چي هغوی دواړه په دې اعتبار د رسول الله ﷺ د اهل بيتو څخه وه چي د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام وو او د يو چا ازاد سوی غلام د هغه په کورنۍ کي شمېرل کيږي.

د حضرت زيد رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د پرېښودو څخه انکار

﴿۵۹۱۴﴾: وَعَنْ جَبَلَةَ بْنِ حَارِثَةَ قَالَ قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جبله بن حارثه رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ

فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ابْعَثْ مَعِي أَخِي زَيْدًا قَالَ هُوَ ذَا قَالَ فَإِنْ انْطَلَقَ مَعَكَ

اې دالله رسوله ! زما سره زما ورور زيد ولېږی، رسول الله ﷺ وفرمايل : زيد موجود دی که دی ستا سره تلل غواړي

لَمْ أَمْنَعْهُ قَالَ زَيْدٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَاللّٰهِ لَا أَخْتَارُ عَلَيْكَ أَحَدًا قَالَ فَرَأَيْتُ رَأْيَ أَخِي أَفْضَلَ مِنْ رَأْيِي. رواه الترمذي.

نو زه يې نه منع کوم ، زيد عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه ستا سو څخه پرته بل هيڅوک نه خوښوم ، دجبله بن حارثه بيان دی چي ما په دې اړه د خپل ورور (يعني زيد) رايه دخپل رايه څخه غوره وليدل (يعني چي هغه زموږ سره او سيدل خوښ نه کړل او د رسول الله ﷺ خدمت کول يې خوښ کړل) . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۶۳۴، رقم: ۳۸۱۳.

تشريح: زه ددې څخه منع کوم: يعني کله چي ما دی ازاد کړی دی نو د خپل مستقبل فيصله کولو حق ده ته حاصل سوی دی او س زه دی د تللو څخه نه سم منع کولای چي ولاړ سه ، که دی تلل غواړي نو ولاړ دې سي او که تلل نه غواړي نو زما سره دې پاته سي.

زما د عقل څخه زيات دی: د جبله رضی الله عنه د وينا مطلب دا وو چي مخکي خو زما دا رايه وه چي زيد رضی الله عنه خپل کور ته بېرته بوځم مګر د زيد رضی الله عنه د فيصلې اورېدو څخه وروسته د هغه د رايي د صحيح والي او غوره والي زه قائل سوم ځکه چي د رسول الله ﷺ په ملګرتيا او خدمت کي پاته کېدونکي هيڅوک د دنيوي او اخروي سعادت او عظمت پرېښودو ته اماده کيدای نه سي، د رسول الله ﷺ په خدمت کيد حضرت زيد رضی الله عنه د ورور راتګ او هغه وطن ته د بېولو درخواست کولو دغه پېښه د هغه وخت ده کله چي حضرت زيد رضی الله عنه غلام نه وو، بلکه رسول الله ﷺ هغه ازاد کړی وو او هغه د خپلي خوښي مختار وو، مګر ښکاره ده چي د خدمت بابرکت او د صحبت پر سعادت لذت هغه چيري پرېښودی.

د حضرت زيد بن حارثه رضی الله عنه په اړه مخکي هم ښودل سوي دي چي هغه د يمن اوسېدونکی وو، په کوچنيوالي کي چي د هغه عمر اته کاله وو د مکې قريشو هغه نيولی وو او د غلام په توګه يې په بازار کي پلورلی وو، د بي بي خديجې رضی الله عنها وراره حکيم بن حزام د خپلي خاله لپاره رانيولی وو، کله چي بي بي خديجه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ په نکاح کي راغلل نو هغې زيد رضی الله عنه د تحفې په توګه د رسول الله ﷺ په خدمت کي وړاندي کړ، رسول الله ﷺ هغه خپل متنبي (زوی) وګرځوی او د خپلي ازاد سوي مينزي ام ايمن سره يې د هغه نکاح وکړل، د ام ايمن د نس څخه حضرت اسامه رضی الله عنه پيدا سو، بيا رسول الله ﷺ د زيد رضی الله عنه دوهمه نکاح د بي بي زينت بنت جحس سره وکړل چي څو ورځي وروسته زيد رضی الله عنه طلاق ورکړ، د ځينو حضراتو د قول مطابق د شلو کالو وو چي د بدر او نورو غزاوو کي يې ګډون وکړ، رسول الله ﷺ په مدينه کي د هغه ورور ګلوي د حضرت جعفر بن ابي طالب رضی الله عنه سره قائمه کړې وه، په غزوه موته کي په ۸ م هجري کال د ۵۵ کالو په عمر شهيد سو.

د حضرت اسامه رضی الله عنه سره شفقت او محبت

﴿۵۹۱۵﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت اسامه بن زيد رضی الله عنه څخه روايت دی چي کله رسول الله ﷺ ډير کمزوری سو نو

هَبَطْتُ وَهَبَطَ النَّاسُ الْمَدِينَةَ فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زه او نور خلک مديني ته راغلو او زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم

وَقَدْ أَصْمَتَ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَدَيْهِ

خو هغه پټه خوله وو، (يعني خبري يې نه سواى كولاى) رسول الله ﷺ چي زه وليدم نو خپل دواړه مبارك لاسونه يې پر ما اېښودل

عَلَيَّ وَيَرْفَعُهُمَا فَأَعْرِفُ أَنَّهُ يَدْعُو لِي. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

بيا يې هغه پورته كول، زه پوه سوم چي رسول الله ﷺ زما لپاره دعاء فرمايي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۳۵، رقم: ۳۸۱۷.

د لغاتو حل: اصمت: يقال اصمت العليل، اذا اعتقل لسانه.

تشريح: رسول الله ﷺ د حضرت اسامه رضي الله عنه په مشرۍ كي د مهاجرينو او انصارو يو لښكر تيار كړى وو چي جنګ ته د روانېدو لپاره يې د مدينې څخه دباندي پړاو اچولى وو، مګر د رسول الله ﷺ د مرض وفات د خبر په اورېدو سره دغه لښكر بېرته مدينې ته راغلى، ددغه موقع يادونه حضرت اسامه رضي الله عنه كړې ده.

مدينې ته راتلل چي حضرت اسامه رضي الله عنه په هبوط سره تعبير كړ چي د هغه معنى د لوړ څخه كښته كېدو ده، نو هغه په دې مناسبت سره ده چي لښكر په كوم ځاى كي موجود وو هغه د نواح مدينه لوړه سيمه وه چي هغه ته جوف ويل كيږي لكه څرنګه چي د عرفات ميدان د مكې په لوړه خوا كي واقع دى، د عربو دا اسلوب دى چي هغوى په داسي خبرو او كلام كي د لوړي او كښته لفظونو رعايت كوي كه هغوى ته دا ويل وي كه موږ عرفات ته ولاړو نو داسي به وايي: هبطنا الى مكة، يعني موږ د مكې څخه عرفات ته وختلو، همدارنګه د مدينې څخه جوف ته راتلل به په صعود سره تعبير كېدل او د جوف څخه مدينې ته راتلل به په هبوط سره تعبير كېدل، ددې يو مثال دا هم دى كه يو سړى د مسجد حرام دننه څخه باب السلام ته ځي چي د عرفات خوا ته دى نو داسي وايي: صعدنا الى باب السلام.

ملا علي قاري رحمه الله د (هبطت وهبط الناس المدينة) معنى دا بيان كړې ده چي زه خپل سراى ته په مدينه كي راكښته سوم او نور خلګ هم د خپلو ځايو څخه په مدينه كي راكښته سول

زما په اړه دعاء كوي، يعني د رسول الله ﷺ په زړه كي چي د اسامه رضي الله عنه كومه مينه او دهغه د خدمت اطاعت كوم قدر وو د هغه په وجه رسول الله ﷺ د هغه لپاره دعاء وفرمايل، په دې سره د حضرت اسامه رضي الله عنه په اړه د رسول الله ﷺ د كمال كرم او شفقت اظهار كيږي چي رسول الله ﷺ په داسي سخت حالت كي هم هغه په خپلو دعاوو سره ونازوى.

﴿۵۹۱۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنَحِّيَ مُخَاطَ أُسَامَةَ قَالَتْ عَائِشَةُ دَعْنِي حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّذِي أَفْعَلُ قَالَ يَا عَائِشَةُ أَحِبِّيهِ فَإِنِّي أُحِبُّهُ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د اسامه رضي الله عنه پزه پاکول غوښتل، ما عرض وکړ تاسو يې پرېږدئ دا کار به زه وکړم. رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عائشې! ته دا اسامه سره محبت کوه ځکه چي زه ورسره محبت کوم. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۳۵، رقم: ۳۸۱۸.

تشريح: رسول الله ﷺ، بي بي عائشه رضي الله عنها دې ته متوجه کړل که د اسامه رضي الله عنه سره ستا طبعي مينه نه وي نو بيا هم له دې کبله چي محبوب هم محبوب کېدل دی اسامه محبوب وګڼه ځکه چي زه د هغه سره مينه لرم، په حقيقت کي کمال محبت دا دی چي د محبوب سره په تېرېدو سره د هغه متعلقين او د هغه سره اړوند شيانو پوري سرايت وکړل سي که هغه سړی وي يا سرای يا بل څه.

﴿۵۹۱۷﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا إِذْ جَاءَ عَلِيٌّ وَالْعَبَّاسُ يَسْتَأْذِنَانِ

د حضرت اسامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ پر دروازه ناست وم، علي او عباس رضي الله عنهما راغلل او د رسول الله ﷺ په خدمت کي يې اجازه غوښتل

فَقَالَ لِأُسَامَةَ اسْتَأْذِنْ لَنَا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا

هغوی ما اسامه ته وويل ته زموږ لپاره د رسول الله ﷺ څخه اجازه وغواړه، ما عرض وکړ اې

رَسُولَ اللّٰهِ عَلِيٌّ وَالْعَبَّاسُ يَسْتَأْذِنَانِ فَقَالَ أَتَدْرِي مَا جَاءَ بِهِمَا قُلْتُ لَا قَالَ

دالله رسوله! علي او عباس اجازه غواړي، رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل اې اسامه! تا ته معلومه ده چي دا دواړه ما ته ولي راغلي دي، ما عرض وکړ ما ته نه ده معلومه، رسول الله ﷺ

لَكِنِّي أَدْرِي إِئْذَنْ لَهُمَا فَدَخَلَا فَقَالَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ أَيُّ أَهْلِكَ

وفرمايل: مګر ما ته معلومه ده، ښه دی دوی راوغواړه نو دواړه دننه راغلل او عرض يې وکړ اې دالله رسوله! موږ ستاسو په خدمت کي د پوښتني کولو لپاره راغلي يو چي تاسو ته په خپل

أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ فَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ فَقَالَا مَا جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ عَنْ أَهْلِكَ قَالَ

اهل کي څوک تر ټولو زيات عزيز دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: فاطمه بنت محمد ﷺ پر ما تر ټولو ګرانه ده، علي او عباس رضي الله عنهما عرض وکړ موږ ستا د کورنۍ په اړه پوښتنه نه کوو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

أَحَبُّ أَهْلِي إِلَيَّ مَنْ قَدْ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتُ عَلَيْهِ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ قَالَا ثُمَّ

زما د اهل بيتو څخه ما ته تر ټولو هغه سړی زيات محبوب دی چي خدای ﷻ خپل فضل او انعام پر کړی دی او ما هم پر هغه انعام او احسان کړی دی او هغه اسامه بن زيد رضي الله عنه دی، علي او عباس رضي الله عنهما عرض وکړ:

مَنْ قَالَ ثُمَّ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ قَالَ الْعَبَّاسُ يَا رَسُولَ اللَّهِ جَعَلْتَ عَمَّكَ آخِرَهُمْ قَالَ لِأَنَّ عَلِيًّا قَدْ سَبَقَكَ بِالْهِجْرَةِ. رواه الترمذي.

داسامه څخه وروسته؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا علي بن ابو طالب رضي الله عنه، عباس رضي الله عنه عرض وکړ اې دالله رسوله! تاسو خپل اکا په اهل بيتو کي په اخر کي وساتی، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: بېشکه علي رضي الله عنه په هجرت کي ستا څخه مخته والی وړی دی. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ٥/٦٣٦، رقم: ٣٨١٩.

تشريح: الله ﷻ پر هغه خپل فضل او انعام وکړ او ما هم، د الله ﷻ د انعام او فضل څخه مراد د اسلام منلو توفيق دی، د هدايت او سمي لاري په دولت سره نازول او دعزت تر لاسه کېدل دي، د رسول الله ﷺ د انعام او احسان څخه مراد ازاد کېدل دي، د متبنی رسول شرف تر لاسه کول او د عزت تر لاسه کول دي، څرګنده دي وي چي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ دا هغه انعام او احسان دی چي په اصل کي خو د حضرت اسامه رضي الله عنه د پلار حضرت زيد رضي الله عنه نسبت دی، په قرآن کريم کي ذکر سوي دي مګر پلار ته تر لاسه کېدونکي انعامات د هغه زوی ته هم په هر صورت رسيږي، په دي اعتبار رسول الله ﷺ دغه آيت کريمه که څه هم د زيد رضي الله عنه په حق کي نازل سوی دی مګر په هغه کي چي د کومو انعاماتو ذکر دی هغه خو زيد رضي الله عنه ته حاصل وه مګر د زيد رضي الله عنه زوی او د هغه د تابع کېدو په حيثيت سره هغه انعامات اسامه رضي الله عنه ته هم حاصل دی او ځکه پلار او زوی دواړو ما ته محبوب دي.

بیا علي بن ابي طالب ﷜، یعني رسول الله ﷺ په خپل نزد په محبوب کېدو کي حضرت علي ﷜ ته د حضرت اسامه ﷜ څخه وروسته درجه ورکړل او دا د اهل سنت والجماعت د دغه مذهب ثرګند دلیل دی چي زیات محبوب کېدل د افضیلت مترادف نه دی یعني کوم څوک چي تر ټولو زیات محبوب وګڼل سي نو دا ضروري نه ده چي هغه دي تر ټولو افضل هم وي، دا خبره په اتفاق او اجماع منل سوې ده چي حضرت علي ﷜ تر حضرت اسامه ﷜ افضل دی، ددې څخه ماسوا دا خبره باید په ذهن کي وي چي رسول الله ﷺ د حضرت اسامه ﷜ د زیات محبوب کېدو وجه بیان کړل د هغه مطابق دا نتیجه اخیستل صحیح نه دي چي په محبت او تعلق کي د رسول الله ﷺ په نزد حضرت اسامه ﷜ ته پر حضرت علي ﷜ علی الاطلاق فوقیت او ترجیح حاصل وه بلکه حقیقت دادی چي دلته د تعدد وجوه او حیثیت په اعتبار مدنظر ساتل ضروري دي، ددې مطلب به دا وي چي حضرت اسامه ﷜ د خدمت په وجه زیات محبوب وو او په ځینو وجهو حضرت علي ﷜ ورته د قرابت او علم په اعتبار زیات محبوب وو، نو رسول الله ﷺ په ځینو وجهو حضرت اسامه ﷜ ډېر زیات خوښوی او په ځینو وجهو یې حضرت علي ﷜.

رسول الله ﷺ خپل اکا ته، د حضرت عباس ﷜ مطلب دا وو که چیري زه اوس سوال وکړم چي د علي ﷜ څخه وروسته په اهل بیتو کي کوم څوک تاسو ته زیات خوښ دی نو یقینا د رسول الله ﷺ جواب به زما په اړه وي ، معنی دا چي زما درجه د علي ﷜ څخه وروسته ده، رسول الله ﷺ ثرګنده کړل چي ستا څخه مخکي د علي ﷜ محبوب کېدل د خپلوی د طبعي غوښتني په وجه نه دي بلکه دده د هغه فضیلت په وجه دی چي هغه په اسلام منلو کي پر تا سبقت وکړ ، همدارنګه په هجرت کي هم هغه پر تا مخته سوی دی، ددې مثال هغه روایت دی چي په هغه کي بیان سوی دی چي یوه ورځ حضرت عباس ﷜، حضرت ابوسفیان، حضرت بلال حبشي او حضرت سلمان ﷡، و حضرت عمر فاروق ﷜ ته راغلل او له دروازې سره نژدې د ننوتلو اجازه یې وغوښتل، خادم دننه راغلی او حضرت عمر فاروق ﷜ ته یې د دغه حضراتو د راتګ خبر ورکړ، بیا دباندي راووتی او وه یې ویل: تر ټولو مخکي بلال ﷜ ته د ننوتلو اجازه ده ، حضرت ابوسفیان ﷜ ته دا خبره ناخوښه سول چي زما او د عباس ﷜ په موجودتیا کي بلال ﷜ ته د ننوتلو اجازه ثرنګه ورکړل سول، هغه حضرت عباس ﷜ ته وویل: تا ولېدل چي عمر ﷜ ازاد کړل سوو غلامانو ته پر موږ فوقیت ورکوي مګر حضرت عباس ﷜ جواب ورکړ چي موږ (د اسلام په منلو کي او په هجرت کي) تر شا پاته سوي یو او دا د هغه نتیجه ده .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

﴿۵۹۱۸﴾: عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ صَلَّى أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الْعَصْرَ ثُمَّ

د حضرت عقبه بن حارث رضي الله عنه څخه روایت دی چي ابو بکر صدیق رضي الله عنه د مازدیګر لمونځ وکړ بیا

خَرَجَ يَمْشِي ومعه عَلِيّ فَرَأَى الْحَسَنَ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ فَحَمَلَهُ عَلَى

ګرځیدو ته ووتی، حضرت علي رضي الله عنه هم ورسره وو، حضرت ابو بکر رضي الله عنه حضرت حسن رضي الله عنه د ماشومانو سره په لوبو کولو ولیدی نو هغه یې پورته کړ

عَاتِقِهِ وَقَالَ بِأَبِي شَبِيهٌ بِالنَّبِيِّ لَيس شَبِيهٌ بِعَلِيٍّ وَعَلِيٌّ يَضْحَكُ. رواه البخاري

او پر خپله اوږه یې کښینوی او وه یې ویل: په خپل پلار دي مي قسم وي دی د نبي کریم ﷺ سره زیات مشابه دی د علي رضي الله عنه سره مشابه نه دی، حضرت علي رضي الله عنه دا واوریدل او خندل یې. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۹۴، رقم: ۳۷۵۰.

د شهید اعظم سر مبارک او د ابن زیاد استهزاء

﴿۵۹۱۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أُتِيَ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ زِيَادٍ بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ عَلَيْهِ السَّلَام

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي د عبید الله بن زیاد مخته د حضرت حسین رضي الله عنه سر مبارک راوړل سو

فَجُعِلَ فِي طَسْتٍ فَجَعَلَ يَنْكُتُ وَقَالَ فِي حُسْنِهِ شَيْئًا قَالَ أَنَسٌ فقلت والله انه

او په تالي کي کښېښودل سو، عبید الله سر مبارک ته په لرګي سره حرکت ورکولو سره ویل دده په حسن (ښائست) کي څه خبره ده، د انس رضي الله عنه بیان دی ما هغه ته وویل: قسم په خدای

كَانَ أَشْبَهَهُمْ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مَخْضُوبًا بِالْوَسْمَةِ. رواه

په اهل بیتو کي حسین رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره زیات مشابه وو، دغه وخت د حضرت حسین رضي الله عنه سر مبارک په وسمه رنګ کړل سوی وو،

البخاري وفي رواية الترمذي قَالَ كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ زِيَادٍ فَجِيءَ بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ

بخاري او د ترمذي په روایت کي دا الفاظ دي چي زه د ابن زیاد سره ناست وم چي د حسین رضی اللہ عنہ سر مبارک راوړل سو ،

فَجَعَلَ يَضْرِبُ بِقَضِيبٍ فِي أَنْفِهِ وَيَقُولُ مَا رَأَيْتُ مِثْلَ هَذَا حُسْنًا فَقُلْتُ أَمَا إِنَّهُ

ابن زیاد به د حسین رضی اللہ عنہ په پزه کي لرګی راتیروی او دا به یې ویل حسین رضی اللہ عنہ

كَانَ مِنْ أَشْبَهِهِمْ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وقال هذا حديث صحيح حسن غريب.

د رسول الله ﷺ سره زیات مشابه وو، ترمذي ویلي دي دا حدیث صحیح حسن غریب دی.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۹۴، رقم: ۳۷۴۸، والترمذي ۵\۶۱۸، رقم: ۳۷۷۸.

د لغاتو حل: ینکت: اي يضرب براس القضب في انفه.

تشریح: طبراني د حضرت انس رضی اللہ عنہ الفاظ داسي نقل کړي دي چي کله عبيد الله بن زیاد په خپله لکړه چي د هغه په لاس کي وه، د حضرت حسین رضی اللہ عنہ سترګه او پزه ووهل نو ما ورته وویل: اې بدبخته! خپله لکړه لیري کړه ، کوم ځایونه چي ته په خپلي لکړي سره وهې هلته ما د رسول الله ﷺ خوله مبارکه ایښې لیدلې ده او د براز په روایت کي د حضرت انس رضی اللہ عنہ الفاظ دادي چي ما عبد الله بن زیاد ته وویل: کوم ځای چي ته خپله لکړه وهې هغه ما د رسول الله ﷺ په بویولو لیدلي دي زما په وینا ابن زیاد خپله لکړه ایسته کړل.

په هر حال عبيد الله بن زیاد هغه سړی دی چي په کوفه کي د زید ابن معاویه والي وو، او یزید هغه د لښکر امیر جوړ کړی وو چي د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د شهید کولو لپاره تاکل سوی وو، دغه سړي چي په څومره بې دردۍ سره امام حسین رضی اللہ عنہ او د هغه ملګري او خپلوان قتل کړل او بیا وروسته یې د امام حسین رضی اللہ عنہ د سر مبارک سره خنداوي کولې بلکه د سپکاوي او نفرت چلن یې وکړ ، دا د هغه د سخت زړه توب ثبوت دی ، خپله هغه د قدرت له خوا د انتقام داسي ښکار سو چي په ۶۶ هجري کال کي د مختار ابن ابي عبید په زمانه کي د موصل په ځای کي د ابراهیم بن مالک بن الاشتر النخعي په لاس د نېلو ډېرو خلکو سره ووژل سو ، په ذخائر کي د عمارة بن عمیر روایت دی چي کله چي د جنګ د میدان څخه د ابن زیاد او د هغه د ملګرو سرونه د بدن څخه بېل کړل سول او د ښار مسجد ته راوړل سول نو هغه وخت د موجود پر دکانچه زه هم

موجود وم، د ابن زیاد پرې کړې سر هلته اېښودل سوی وو، ناڅاپه خلګو یوې خوا ته په کتلو سره چغې کړې چې درغلی، درغلی، ما چې ولېدل نو یو مار په تیزي سره د ابن زیاد سر ته روان وو او سمدستي د هغه په پزه ننوتی، لږ ګړی هلته دننه وو او بېرته په راوتلو سره ولاړی، لږ وخت وروسته بیا هغه راغلی او په تیزي سره د ابن زیاد په پزه ننوتی او لږ وخت وروسته بېرته راووتی او ولاړی، دغه عجیبه او غریبه پېښه دوه واره پېښه سول.

بیا هغه د هغوی د ښکلا په اړه څه وویل: د دغه جملې یو مطلب خو دا کیدای سي چې ابن زیاد د حضرت حسین رضي الله عنه د سر مبارک په لېدو سره د هغه د ښکلا په اړه یوه عیب داره خبره وکړل مګر یو مطلب چې د ترمذي د روایت څخه هم څرګندیږي، دا کیدای سي چې ابن زیاد هغه وخت د حضرت حسین رضي الله عنه د ښکلا په اړه د تعریف او تحسین داسي الفاظ استعمال کړي وي لکه یو ټوک چې یې د مسخرو په توګه کوي، هغه الفاظ په ښکاره د تعریف وه مګر په حقیقت کې د هغه د خوشحالۍ د اظهار لپاره چې هغه بدبخت ته د حضرت حسین رضي الله عنه په وژلو سره تر لاسه سوي وه د خندا او مسخرو په توګه وه.

د حضرت حسین رضي الله عنه په اړه یو خوب او یو پیشګوئي

﴿۵۹۲۰﴾: وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّهَا دَخَلَتْ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ام الفصل بنت الحارث (رض) څخه روایت دی چې هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ رَأَيْتُ حُلْمًا مُنْكَرًا اللَّيْلَةَ قَالَ وَمَا هُوَ

سوه او عرض یې وکړ اې د الله رسول! ما نن ډیر خراب خوب لیدلی دی، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه څه رنګه دی؟

قَالَتْ إِنَّهُ شَدِيْدٌ قَالَ وَمَا هُوَ قَالَتْ رَأَيْتُ كَأَنَّ قِطْعَةً مِّنْ جَسَدِكَ قُطِعَتْ

هغې وویل هغه ډیر بد خوب دی، رسول الله ﷺ وفرمایل څه شي دی؟ هغې وویل ما ولیدل چې ستاسو د بدن مبارک څخه یوه ټوټه پرې کړل سوې ده

وَوُضِعَتْ فِيْ حَجْرِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتِ خَيْرًا تَلِدُ

او زما په غیږ کې اېښودل سوې ده، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: تا ښه خوب لیدلی دی

فَاطِمَةُ إِنْ شَاءَ اللهُ غُلاَمًا يَكُوْنُ فِيْ حَجْرِكِ فَوَلَدَتْ فَاطِمَةُ الْحُسَيْنَ وَكَانَ فِيْ

انشاء الله د فاطمې رضي الله عنها به زوی پیدا سي چي ستا په غیږ کي به کښېښودل سي ، نو د بي بي فاطمې رضي الله عنها زوی پیدا سو

حَجْرِيْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلْتُ يَوْمًا عَلٰى رَسُوْلِ

او زما په غیږ کي کښېښودل سو لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمایلي وه ، بیا زه یوه ورځ د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضره سوم

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعْتُهُ فِيْ حَجْرِهِ ثُمَّ كَانَتْ مِنِّيْ اِلْتِفَاتَةٌ فَإِذَا عَيْنَا

او حسین رضي الله عنه مي رسول الله ﷺ ته په غیږ کي ورکړ بیا ما بلي خوا ته وکتل ناڅاپه ما ولیدل چي د رسول الله ﷺ د سترګو څخه اوښکي رواني دي ،

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُهْرِيْقَانِ الدُّمُوْعَ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ

ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي څه خبره ده ؟

بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ مَالَكَ قَالَ أَتَانِيْ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ فَأَخْبَرَنِيْ أَنَّ أُمَّتِيْ سَتَقْتُلُ ابْنِيْ هٰذَا فَقُلْتُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ وَأَتَانِيْ بِتُرْبَةٍ مِّنْ تُرْبَتِهِ حَمْرَاءَ .

رسول الله ﷺ وفرمایل : اوس جبرائیل علیه السلام ما ته راغلی وو خبر یې کړلم چي د پر ژر به ستا امت دا زوی قتل کړي، ما عرض وکړ دا زوی، رسول الله ﷺ وفرمایل هو، او ما ته یې د هغه ځای خاوره هم راوړې وه په کوم ځای کي چي به قتل کیږي او هغه سره خاوره وه . بیهقي.

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة

تشريح: د ذخائر په یوه روایت کي د بي بي سلمی رضي الله عنها څخه منقول دي چي یوه ورځ زه د ام المؤمنین بي بي ام سلمه رضي الله عنها په خدمت کي حاضره سوم نو ما ولېدل چي هغه ژاړي، ماد ژړا سبب وپوښتی نو هغې وویل: ما (په خوب کي) رسول الله ﷺ په داسي حال کي ولیدی چي د رسول الله ﷺ سر او ږیره مبارکه په خاورو ده، ما پوښتنه وکړل چي اې د الله رسوله! تاسو ولي په دغه حالت کي یاست ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: زه اوس د حسین رضي الله عنه د وژني د ځای څخه راغلی

يم، دغه روايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چي دغه حديث غريب دى او بغوي هم دغه روايت په احسان كي نقل كړى دى.

د حسين رضي الله عنه شهادت او د ابن عباس رضي الله عنه خوب

﴿۵۹۲۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا يَرَى

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما يوه ورځ رسول الله ﷺ په خوب كي په داسي

النَّائِمُ ذَاتَ يَوْمٍ بِنِصْفِ النَّهَارِ أَشْعَثَ أَغْبَرَ بِيَدِهِ قَارُوْرَةٌ فِيْهَا دَمٌ فَقُلْتُ بِأَبِيْ

حال كي وليدى چي د غرمې وخت وو او رسول الله ﷺ پريشان حاله په ګرد لړلي يوه شيشه يې په لاس كي اخيستې وه چي د وينو څخه ډكه وه، ما عرض وكړ زما مور او پلار دي

أَنْتَ وَأُمِّيْ مَا هٰذَا قَالَ هٰذَا دَمُ الْحُسَيْنِ وَأَصْحَابِهِ وَلَمْ أَزَلْ أَلْتَقِطُهُ مُنْذُ

پر تاسو قربان وي دا څه شي دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: دا د حسين او د هغه د ملګرو وينه ده چي تر نن ورځي پوري مي را ټولولې،

الْيَوْمِ فَأُحْصِيْ ذٰلِكَ الْوَقْتَ فَأُجِدُ قُتِلَ ذٰلِكَ الْوَقْتُ. رواهما البيهقي في دلائل النبوة وأحمد الأخير.

ابن عباس رضي الله عنه وايي په خوب كي چي رسول الله ﷺ هغه وخت راته ښودلي وو ما هغه ياد ساتلى وو نو امام حسين رضي الله عنه هم هغه وخت شهيد كړل سو. بيهقي او احمد

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۲۴۲.

اهل بيت محبوب لرئ

﴿۵۹۲۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحِبُّوا اللهَ لِمَا يَغْذُوْكُمْ مِنْ نِعَمِهِ وَأَحِبُّوْنِيْ بِحُبِّ اللهِ وَأَحِبُّوا أَهْلَ بَيْتِيْ لِحُبِّيْ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د خداى جل جلاله سره محبت كوئ ځكه چي هغه غذا او خپل نعمتونه دركوي او زما سره ځكه محبت كوئ چي تاسو د

خداى ﷻ سره محبت كوئ او زما اهل بيت زما د محبت په وجه محبوب گڼئ . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۲۲، رقم: ۳۷۸۹.

د لغاتو حل: يغذوكم نعمه: اي من اي نعمة.

تشريح: د خپلو نعمتونو څخه رزق رسوي: يعني تاسو په داسي ډول ډول نعمتو سره نازوي چي په هغه سره ستاسو روزنه هم كيږي او تاسو ته ډول ډول خوندونه هم تر لاسه كيږي ، كه الله ﷻ پر تاسو د خپلو نعمتو دروازې بندي كړي او د خپلو خزانو څخه تاسو ته رزق نه دركوي نو نه تاسو ژوندي پاته كيداى سئ او نه د خوراك او څښاك خوند تر لاسه كولاى سئ، تاسو چي څه خورئ او څښئ هغه ټول د هغه له خوا تاسو ته رسيږي، په قرآن كريم كي دي: فما بكم من نعمة فمن الله، خلاصه دا كه.كه چيري تاسو د الله ﷻ سره مينه يوازي له دې كبله كوئ چي هغه ستاسو پالونكى دى نو د هغه سره به خامخا مينه وكړئ كنه نو الله ﷻ د عارفينو په نزد محبوب لذاته وصفاته دى د هغه سره په هر حالت كي مينه درلودل پكار دي كه څه هم هغه نعمتونه دركړي يا نه، نو دغه حديث د معنوي طرز په اعتبار داسي دى لكه څرنگه چي د الله ﷻ دغه ارشاد : (فليعبدوا رب هذا البيت) .

او له دې كبله چي تاسو د الله ﷻ سره مينه لرئ: يعني كله چي هغه سبب ثابت او ظاهر سو چي د هغه په وجه د الله ﷻ سره مينه كول لازمي كيږئ او په دې وجه تاسو د الله ﷻ سره مينه لرئ نو بيا زما سره هم مينه كوئ ځكه چي د محبوب، محبوب خپل محبوب وي او ځكه الله ﷻ په قرآن كريم كي فرمايلي دي : (قل ان كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله) .

شيخ عبدالحق دهلوي رحمه الله په خپله شرح كي د (لحب الله) په اړه داسي ليكلي دي چي تاسو زما سره له دې كبله مينه كوئ چي تاسو د الله ﷻ سره مينه كوئ يا دا چي زما سره له دې كبله مينه كوئ چي الله ﷻ زما سره مينه كوي . زما اهل بيتو ته زما د ميني په وجه: ددې يو مطلب خو دادى چي زه د خپلو اهل بيتو سره مينه لرم نو تاسو هم زما د اهل بيتو سره مينه ولرئ او دوهم مطلب دا چي تاسو زما سره مينه وكړئ نو زما د اهل بيتو سره هم مينه وكړئ .

په اهل بيت او د نوح عليه السلام په كښتۍ كي مماثلت

﴿۵۹۲۳﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍ أَنَّهُ قَالَ وَهُوَ آخِذٌ بِبَابِ الْكَعْبَةِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَلَا إِنَّ مَثَلَ أَهْلِ بَيْتِي فِيكُمْ مَثَلُ سَفِينَةِ نُوحٍ مَنْ رَكِبَهَا

نَجَا وَمَنْ تَخَلَّفَ عَنْهَا هَلَكَ. رواه أحمد.

د حضرت ابوذر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی په داسي حال کي چي ده د کعبې دروازه نیولې وه دا بیان یې وکړ چي ما د نبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چي خبردار سئ! زما اهل بیت ستاسو لپاره د نوح علیه السلام د کښتۍ په ډول دي څوک چي په کښتۍ کي سپور سو نو هغه خلاصون تر لاسه کړ او څوک چي په کښتۍ کي د سپریدو څخه پاته سو هغه هلاک سو. احمد

تخریج: الامام احمد في مسنده ۱۵۷\۱۳.

تشریح: مطلب دا چي د طوفان نوح په وخت کي هغه کسان ژوندي او سلامت پاته سول چي حضرت نوح علیه السلام په کښتۍ کي سپاره سول او څوک چي په کښتۍ کي سپور نه سو نو هغه د هلاک کېدو څخه ونه ساتل سو، د طوفان لوړو څپو د هغه نوم او نښام ختم کړ، همدارنګه د امت محمدیه په حق کي اهل بیت محمد یو داسي پناه ګاه دی چي کوم څوک د هغوی د مهربانۍ لمن ونیسي، څوک چي د هغوی اکرام او احترام او دهغوی مینه لازم کړي نو هغه په دارینو کي خلاصون تر لاسه کړ، او کوم څوک چي د هغوی د مینې لمن او متابعت پرېږدي نو هغه په دواړو جهانو کي د هلاکېدو څخه ژغورل کېدای نه سي که څه هم هر څومره مال مصرف کړي، هر څومره ستر طاقت د ځان سره یو ځای کړي، نو رسول الله ﷺ د دنیا او د دنیا د شیانو یعني ددغه ځای د فریب، کفر، شرک، ګمراهیو، بدعاتو او جهالت تیارو او فاسدو خواهشاتو ته داسي د ژور دریاب سره تشبیه ورکړل چي دهغه پر سطحه باندي څپې وي، د هغه سربېره په فضاء کي توري وریځي جمع وي، څلورو خواوو ته تیاره وي او هغه دریاب ټولي مځکي راګیر کړي وي او بیا رسول الله ﷺ خبردار کړ چي د هغه دریاب د هلاکت څخه هغه څوک ژوندی پاته کېدای سي او خلاصون تر لاسه کولای سي چي زما د اهل بیتو د مینې په کښتۍ کي سپور سي،

ددې په معنوي سیاق کي که وکتل سي نو دغه حدیث چي په هغه کي فرمایل سوي دي: اصحابي مثل النجوم من اقتدی بشئ منه اهتدی، او کمال قال، او دغه ارشاد چي زما اهل بیت د نوح علیه السلام د کښتۍ په ډول دی، د دغه دواړو روایتو په منځ کي ژور تعلق پیدا کېږي او دغه تعلق مخته په ایښودو سره امام فخر الدین رازي رحمه الله په خپل تفسیر کي ډېره خوږه خبره لیکلې ده چي موږ اهل سنت والجماعت، الحمد لله، د اهل بیتو د مینې په کښتۍ کي سپاره سوو او هدایت د لاري د ستورو یعني اصحاب محمد ﷺ په ذریعه مو لاره تر لاسه کړل نو موږ د هلاکت د تیارو او د دوږخ څخه د خلاصون او د هغه ځای د همیشني نعمتونو ته د رسېدو د لاري تر

لاسه کولو امید لرو، ددې څخه دا نتیجه راوځي چي کوم څوک په دغه کښتۍ کي بالکل سپور سوی نه وي لکه خوارج، نو هغه د هلاکېدونکو سره په اول پړاو کي هلاک سول، او کوم څوک چي په نمه کښتۍ کي سپور سو مگر د هدایت د ستورو په ذریعه د لاري څخه محروم سو لکه روافض نو هغوی په گمراهۍ او تاریکۍ کي داسي پاته سول چي ژوند او سلامت راوتل یې ناممکن دي.

===========

بَابُ مَنَاقِبِ اَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ ورضي الله عنهن

(د نبي کريم ﷺ د بيبيانو د مناقبو بيان)

نبي کريم ﷺ لومړنی نکاح په مکه مکرمه کي د بي بي خديجې رضي الله عنها بنت خويلد رضي الله عنها سره وکړل، هغه وخت د رسول الله ﷺ عمر پنځه ويشت (۲۵) کاله او د بي بي خديجې رضي الله عنها عمر څلوېښت (۴۰) کاله وو، بي بي خديجه رضي الله عنها د هجرت څخه درې کاله مخکي وفات سول، د هغې څخه وروسته په مکه کي رسول الله ﷺ د يوې پنځوس کلني ښځي بي بي سوده بنت زمعه رضي الله عنها سره نکاح وکړل او هغه وخت د رسول الله ﷺ عمر تقريبا پنځوس (۵۰) کاله وو، د بي بي سوده رضي الله عنها د وفات کال ۵۴ هجري يا د يوه قول مطابق ۴۱ هجري کال دی، د بي بي عائشې بنت ابوبکر رضي الله عنهما سره د رسول الله ﷺ نکاح په مکه کي په لسم هجري نبوي کال کي وسول کله چي هغه د شپږو کالو وه او کله چي هغه په رخصت کېدو سره د رسول الله ﷺ کور ته راغلل نو هغه وخت يې عمر نهه کاله وو، د هغې د وفات نېټه ۵۵ هجري کال يا ۵۸ هجري کال دی، د بي بي حفصه بنت عمر رضي الله عنهما سره د رسول الله ﷺ نکاح په دوهم يا دريم هجري کال کي وسول او هغه په ۴۱ يا ۴۵ هجري کال کي وفات سوه، د بي بي زينت بنت خزيمه رضي الله عنها سره د رسول الله ﷺ نکاح په دريم هجري کال کي وسول او د نکاح څخه څو مياشتي وروسته په ۴ هجري کال کي او د يوه روايت مطابق په دريم هجري کال کي وفات سول.

د بي بي ام سلمه بنت اميه مخزومي رضي الله عنها سره د رسول الله ﷺ نکاح په دريم يا څلورم هجري کال کي وسول او په ۵۹ هجري کال کي وفات سول، او د يوه قول مطابق په ۶۲ هجري کال کي وفات سول، بي بي زينب بنت جحش په پنځم هجري کي د رسول الله ﷺ په زوجيت کي راغلل او په ۲۰ هجري کال يا ۲۱ کي وفات سول، د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته تر ټولو مخکي

چي کومه بي بي وفات سوې ده هغه هم بي بي زينب ﷺ ده، بي بي ام حبيبه ﷺ چي د سفيان لور او د معاويه خور ده مخکي د عبدالله بن جحش په نکاح کي وه ، دواړه ښځه او خاوند د مکې څخه په هجرت کولو حبشي ته ولاړل ، هلته عبدالله بن جحش عيسائي مذهب قبول کړ او هم هلته مړ سو، بي بي ام حبيبه ﷺ پر خپل مذهب اسلام باندي قائمه وه، په شپږم هجري کال کي د نجاشي پاچا د هغې نکاح د رسول الله ﷺ سره وکړل او د خپل ځانه يې د هغې مهر چي څلور زره درهمه وو ادا کړ، بي بي ام حبيبه ﷺ په ۴۴ هجري کال کي وفات سول، بي بي جويريه ﷺ د مريسيع په غزا کي چي غزوه بني مصطلق هم ورته وايي او په ۶ م هجري کي کال کي وفات سوې ده، نومړې په بنديانو کي راغلل او رسول الله ﷺ هغه ازاده کړل او بيا يې ورسره نکاح وکړل، هغه په ۵۶م هجري کال کي وفات سوه، بي بي ميمونه ﷺ چي د حضرت ابن عباس ﷺ خاله ده په اووم هجري کال کي د رسول الله ﷺ په زوجيت مشرفه سول ، هغه په ۶۱ يا ۵۱ هجري کال کي وفات سول، بي بي صفيه بنت حيی بن اخطب په اووم هجري کال کي د خيبر په غزا کي په بنديانو کي راغلل، هغه وخت د هغې عمر اووه لس کاله وو ، رسول الله ﷺ هغه ازاده کړل او بيا يې ورسره نکاح وکړل، نومړې په ۵۰ هجري کي يا د يوه روايت مطابق په ۵۲ هجري کي وفات سول، د رسول الله ﷺ د يوولس بيبيانو دا هغه شمېر دی چي پر هغه د رواياتو اتفاق دی ، د دوولسمي زوجې يعني بي بي ريحانه ﷺ په اړه اختلاف دی، ځينو حضراتو مينزه ګرځولې ده مګر په ځينو نورو رواياتو کي دي چي بي بي ريحانه ﷺ د يو يهودي کورنۍ ښځه وه چي په بنديانو کي راغلې وه ، رسول الله ﷺ هغه ازاده کړل او په شپږم کال کي يې د هغې سره نکاح وکړل، په هر حال رسول الله ﷺ د دغه ټولو ښځو سره چي د امت ميندي دي نکاح وکړل او د ټولو سره يې دخول هم وکړ.

د شلو يا تر شلو زياتو داسي ښځو ذکر هم په رواياتو کي راغلی دی چي د هغوی سره رسول الله ﷺ نکاح وکړل مګر د دخول (کوروالی) کولو مخکي د بېلوالي نوبت راغلی، ځيني داسي ښځي هم وې چي د هغوی سره د نکاح خبري وسوې مګر د هغوی سره نکاح ونه سول، همدارنګه په ځينو رواياتو کي د داسي ښځو ذکر هم راغلی دی چي د رسول الله ﷺ په نکاح کي وې او کوم وخت چي دغه آيت کريمه : (يا ايها النبي قل لازواجک...الخ) نازل سو نو هغوی دنيا ته پر آخرت ترجيح ورکړل او د رسول الله ﷺ څخه يې بېلوالی اختيار کړ، او کوم چي د رسول الله ﷺ د مينځو تعلق دی نو دهغوی شمېر څلور بيانيږي چي په هغوی کي تر ټولو مشهوره بي بي ماريه قطبيه ﷺ ده چي د هغې د نس څخه ابراهيم بن محمد رسول الله ﷺ پيدا سوی وو ، په ۱۶ هجري

کال کي وفات سول ، دوهمه هغه بي بي ريحانه بنت سمون يا بنت زيد وه چي دهغې په اړه د ځينو وينا ده چي هغه د رسول الله ﷺ په نکاح کي نه وه بلکه مينزه وه ، رسول الله ﷺ هغه ازاده کړې نه وه او په سبب د ملک يمين يې د هغې سره کوروالي کول، په پاته دوو کي يوه خو هغه مينزه وه چي ام المؤمنين بي بي زينب بنت جحش د تحفې په توګه رسول الله ﷺ ته ورکړې وه او يوه مينزه هغه وه چي په يوې غزا کي په بندي کېدو سره راغلې وه.

ذکر سوی تفصيل د شيخ عبد الحق دهلوي رحمة الله عليه د شرح مشکوة څخه اخيستل سوی دی چي هغه د جامع الاصول په حواله سره جمع کړی دی، په دې کي شک نسته چي د رسول الله ﷺ د بيبيانو شمېر د هغوی د نکاح ترتيب او د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته د وفات کېدونکو بيبيانو عمرونه ، د کومو بيبيانو سره چي يې دخول ونه کړ يا کومو ښځو ته يې د نکاح پيغام وليږی مګر د هغوی سره نکاح ونه سول د هغوی ټولو د شمېر په اړه د علماؤ مختلف قولونه دي او په عامو روايتو کي لوی اختلاف لېدل کيږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ　　(لومړی فصل)

د بي بي خديجة الکبرى رضي الله عنها فضيلت

﴿۵۹۲۴﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رسول الله صَلَى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ خَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ ابْنَةُ عِمْرَانَ وَخَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيجَةُ بنت خويلد. متفق عليه وفي رواية قال ابو کريب واشار وکيع الى السماء والارض.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې: مريم بنت عمران د ټول امت په ښځو کي غوره وه، او ددې امت په ښځو کي بي بي خديجة بنت خويلد په ټولو کي غوره ده ، بخاري ، او مسلم او په يوه روايت کي ابو کريب وايي چي وکيع آسمان او مځکي ته اشاره وکړه.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۶\۴۷۰، رقم: ۳۴۳۲، ومسلم ۴\۱۸۸۶، رقم: ۶۹- ۲۴۳۰.

تشريح: ددغه حديث څخه دا معلومه سول چي بي بي مريم عليها السلام چي د حضرت عيسى عليه السلام مور مبارکه ده، په خپل امت کي او ام المؤمنين بي بي خديجه رحمة الله عليه په خپل امت (امت محمديه) کي تر ټولو ښځو افضلي دي مګر ددې څخه دا نه څرګنديږي چي خپله په هغوی

دوا ړو کي کومه يوه تر بلي افضله ده ، ايا بي بي خديجه ﷺ افضله وه که بي بي مريم عليها السلام افضله وه؟ بيا هم په تفسير نسفي کي ليکلي دي چي د صحيح قول مطابق د بي بي مريم عليها السلام څخه بي بي خديجه او بي بي عائشه ﷺ افضلي دي ځکه چي بي بي مريم عليه السلام خو پيغمبر نه ده او دا هم فيصله سوې خبره ده چي دغه امت مرحومه د نورو ټولو امتونو څخه غوره او افضل دی، په دې اړه د علماؤ اختلاف دی ، همدارنګه پر بي بي عائشې ﷺ باندي د بي بي فاطمې ﷺ فضيلت هم مختلف فيه دی او د امام مالک ﷫ قول دی چي فاطمه ﷺ د پيغمبر د ځيګر ټوټه ده او زه د پيغمبر ﷺ د ځيګر پر ټوټې باندي هيڅا ته فضيلت نه ورکوم.

﴿۵۹۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَتَى جِبْرِيلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دی چي جبرائيل ﷤ رسول الله ﷺ ته راغلی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذِهِ خَدِيجَةُ قَدْ أَتَتْ مَعَهَا إِنَاءٌ فِيهِ إِدَامٌ أَوْ

او ويې ويل : اې دالله رسوله ! بي بي خديجه را روانه ده (يعني غار حرا ته) د هغې سره لوښی دی چي په هغه کي خوراک دی

طَعَامٌ أَوْ شَرَابٌ فَإِذَا هِيَ أَتَتْكَ فَاقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنْ رَبِّهَا وَمِنِّي وَبَشِّرْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ. متفق عليه.

کله چي هغه تاسو ته راسي نو تاسو هغې ته د هغې د پروردګار د لوري او زما د لوري سلام ورسوئ، او دا زيری ورکړئ چي د هغې لپاره په جنت کي د ملغلرو يو محل دی چي په هغه کي نه شور سته او نه غم. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۳۳، رقم: ۳۸۲۰، ومسلم ۴\۱۸۸۷، رقم: ۲۴۳۲.

دلغاتوحل: ادام: اي مع خبز. نصب: اي لايکون لها شاغل يشغلها من لذائذ الجنة.

تشريح: دغه پېښه د هغه وخت ده کله چي به رسول الله ﷺ د خلوت لپاره غار حراء ته تلی او څو ورځي به هم هلته په عبادت او ذکر بوخت وو ، رسول الله ﷺ به د ځان سره د خوراک او څښاک شيان وړل چي د لوږي او تندي غلبه په خلوت کي خنډ نه سي، يوه ورځ بي بي خديجې ﷺ د

خوراک او څښناک د سامان سره غار حراء ته ورسېدل او په ذکر سوې سعادت او زيري مشرفه سول، څرګنده دي وي چي په عامه توګه خو دا ثابته ده چي د رسول الله ﷺ د خلوت لپاره د حراء غار ته تلل او هلته په ذکر کي بوخت کېدل د هغه زمانې معمول وو کله چي رسول الله ﷺ په نبوت سره مشرف سوی نه وو، او رسول الله ﷺ ته د حضرت جبرائيل ﷺ تګ راتګ پيل سوی نه وو، مګر په دې کي استبعاد نسته چي د نبوت پر مرتبې باندي د فائز کېدو او د حضرت جبرائيل ﷺ د راتګ څخه وروسته هم تر څو ورځو پوري رسول الله ﷺ دغه معمول جاري ساتلی وي او په هغه ورځو کي به بي بي خديجې ﷺ يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خوراک اخيستلو غار حراء ته ورغلې وي.

هغې ته سلام ووايه: علماؤ ليکلي دي چي د رب العالمين سلام داسي مشرف دی چي د بي بي خديجې ﷺ څخه ماسوا په دنيا کي هيڅ يوې ښځي ته تر لاسه نه دی، يو وار حضرت جبرائيل ﷺ هم بي بي عائشې ﷺ ته سلام ويلي وو مګر يوازي د خپل ځانه ځکه دغه حديث پر بي بي عائشې ﷺ باندي د بي بي خديجې ﷺ د فضيلت دليل ګرځول کيږي.

چي د هغې لپاره په جنت کي د ملغلرو يو محل دی: د قصب اطلاق پر هغه ملغلري باندي کيږي چي ډيره لويه وي او دننه خالي وي، په روايتو کي راغلي دي چي د جنت پر مانيو باندي کومه ګنبده وي هغه به اصل کي د قبې (ګنبدي) په ډول د لوی ملغلري وي چي د هغه مينځ کي به خالي وي، ددې جملې يو مطلب خو دا کيدای سي چي د هغه ماڼي ګنبده به يوه ملغلره وي يا دا چي هغه ټول محل به د ملغلرو وي، يعني دومره لويه ملغلره به وي چي د هغې دننه خلاء به پر يوه محل باندي محيط وي.

چي په هغه کي نه شور سته او نه غم: په خاصه توګه ددغه دواړو شيانو نفي ځکه سوې ده چي په دنيوي کورو کي او سېدونکو ته د ناخوښو شيانو سره مخامخ کېدل وي هغه شور او هغه تکليف او غم دی چي د کور په جوړولو کي راځي، نو الله ﷻ وښودل چي د جنت محلونه به د ناخوښو شيانو څخه خالي وي او علماؤ ليکلي دي چي د بي بي خديجې ﷺ په حق کي دغه زيری د هغه مقام اعلان وو چي هغې ته ددغه خبري په بدله کي ورکړل سو چي هغې د رسول الله ﷺ دعوت تر ټولو مخکي د زړه له اخلاصه ومنی، هغې پر الهي اواز باندي لبيک ووايه او خپل پلرنی مذهب يې پرېښود چي نه خو د شور سبب سو او نه د بحث، تکرار او جګړې.

د بي بي خديجې رضي الله عنها خاص فضيلت

﴿٥٩٢٦﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا غِرْتُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَاءِ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې د نبي کریم ﷺ په بیبیانو کې ما د یوې بي بي سره

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ وَمَا رَأَيْتُهَا وَلٰكِنْ كَانَ يُكْثِرُ

هم دومره سیالي نه ده کړې لکه د بي بي خدیجې سره حال دا چې هغه ما لیدلې هم نه وه مګر

ذِكْرَهَا وَرُبَّمَا ذَبَحَ الشَّاةَ ثُمَّ يُقَطِّعُهَا أَعْضَاءً ثُمَّ يَبْعَثُهَا فِي صَدَائِقِ خَدِيجَةَ

رسول الله ﷺ به هغه ډیره یادوله، او کله چې به رسول الله ﷺ یو پسه ذبح کړې نو د هغه غوښه به یې ټوټې ټوټې کړه او د بي بي خدیجې ملګرو ته به یې لیږل ،

فَرُبَّمَا قُلْتُ لَهُ كَأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ فِي الدُّنْيَا امْرَأَةٌ إِلَّا خَدِيجَةُ فَيَقُولُ إِنَّهَا كَانَتْ وَكَانَتْ وَكَانَ لِي مِنْهَا وَلَدٌ. متفق عليه.

ما به رسول الله ﷺ ته ځیني وخت ویل ستاسو په خیال کې د خدیجې څخه پرته په دنیا کې بله ښځه نسته، رسول الله ﷺ به ددې په جواب کې فرمایل : خدیجه داسې وه او خدیجه داسې وه او د هغې څخه زما اولاد دی (یعني د هغې تعریف به یې کوی) . بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ١٧\١٣٣، رقم: ٣٨١٨، ومسلم ١٤\١٨٨٨، رقم: ٧٥- ٢٤٣٥.

د لغاتو حل: صدائق: اي اصدقائها (ملګرې یې)

تشریح: داسې وه، یعني ډېره عابده او پرهیزګاره وه، روژې به یې نیولې ، د شپې به یې عبادت کوی ، زما په خدمت او مرسته کې یې ډېر تکلیفونه زغمل، ښه چلن او احسان به یې کوی او داسې نور، مقصد د هغې حیثیت او فضیلت په زیات بلیغ انداز کې وړاندې کول او دې ته اشاره کول وو چې د هغې اوصاف او ښېګڼې د شمېر او قیاس څخه وتلې دي .

زما اولاد هم د هغې د نس څخه دی: په دې سره د بي بي خدیجې رضي الله عنها هغه خاص فضیلت ته اشاره کول مقصد وو چې د هغې د همسرۍ دعوه د رسول الله ﷺ هیڅ یوې بي بي نسوه کولای، د رسول الله ﷺ ټول اولاد د بي بي خدیجې رضي الله عنها د نس څخه وو ماسوا د ابراهیم بن محمد څخه چې د ماریه قبطیه له انس څخه وو ، او هغه هم د رسول الله ﷺ مینزه وه او اولاد هم داسې چې په

هغه كي د بي بي فاطمې ﷺ په ذول لور هم شامله وه چي د هغې د فضائلو او مناقبو شمېر نسته، په حديث كي بلي خوا ته دا نكته هم موجود ده چي د ښځو خاص مقصد او لويه ګټه د هغوی ځخه اولاد كېدل دي .

بي بي خديجة الكبری ﷺ : ام المؤمنين بي بي خديجة الكبرى ﷺ د خويلد بن اسد لور ده چي د عربو مشهور تجار او د قريشو نامتو سړی وو، د بي بي خديجې ﷺ اوله نكاح د ابن هاله بن زراره سره سوې وه، د هغه د وفات كېدو وروسته دوهمه نكاح يې د عتيق بن عائذ سره سوې وه، او دريمه نكاح يې د رسول الله ﷺ سره وسول او هغه وخت يې عمر ۴۰ كالو وو، او د نبي كريم ﷺ دغه اوله نكاح وه ، رسول الله ﷺ نه تر هغې مخكي د بلي ښځي سره نكاح كړې وه او نه يې د هغې په موجودتيا كي د بلي ښځي سره نكاح وكړل .

بي بي خديجې ﷺ ته د اول مسلمانېدو شرف حاصل دی يعني په ټولو نارينوو او ښځينوو كي تر ټولو مخكي هغې اسلام قبول كړی دی ، د هغې وفات د ۶۵ كالو په عمر د رسول الله ﷺ د مدينې د هجرت ځخه پنځه كاله مخكي په مكه معظمه كي وسو، ځينو حضراتو د هغې د وفات كال د هجرت ځخه ځلور كاله مخكي او ځينو درې كاله مخكي يعني په لسم نبوي كال كي ليكلی دی، د رسول الله ﷺ سره د هغې د ملګرتيا وخت ۲۴ كاله او شپږ يا پنځه مياشتي وو .

د بي بي عائشې ﷺ فضيلت

﴿۵۹۲۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ اِنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ هٰذَا جِبْرِيلُ يُقْرِئُكِ السَّلَامَ قالت وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ تَرَى مَا لَا اَرَى. متفق عليه.

د حضرت ابو سلمه ﷺ ځخه روايت دی چي د بي بي عائشې (رض) بيان دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ ما ته وفرمايل : اې عائشې ! دا جبرائيل ﷺ دی تا ته سلام وايي ، بي بي عائشه وايي ما وويل وعليه السلام ورحمة الله ، بي بي عائشه ﷺ وايي رسول الله ﷺ هغه ليدی كوم چي ما نه ليدی . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۰۶، رقم: ۳۷۶۸، ومسلم ۴\۱۸۹۵، رقم: ۹۰- ۲۴۴۷.

بي بي عائشهؓ په خوب ليدل

﴿۵۹۲۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُكِ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ ما ته وفرمايل : ما

فِي الْمَنَامِ ثلث ليال يَجِيءُ بِكِ الْمَلَكُ فِي سَرَقَةٍ مِنْ حَرِيرٍ فَقَالَ لِي هَذِهِ

دري شپې پر له پسې په خوب کي وليدل چي ته به ملائکي د ريښم په يوې ټوټې کي راوړلې او

امْرَأَتُكَ فَكَشَفْتُ عَنْ وَجْهِكِ الثَّوْبَ فَإِذَا أَنْتِ هِيَ فَقُلْتُ إِنْ يَكُ هَذَا مِنْ

عِنْدِ اللَّهِ يُمْضِهِ. متفق عليه.

ما ته به يې ويل دا ستا ښځه ده ما به ستا د مخ څخه پلو ليري کړ او بعينه ته به مي ليدلې، بيا به ما په خپل زړه کي ويل که دا خوب د خدای ﷻ د لوري وي نو خدای ﷻ به يې پوره کړي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷/۲۲۳، رقم: ۳۸۹۵، ومسلم ۴/۱۸۸۹، رقم: ۷۹ – ۲۴۳۸.

د لغاتو حل: سرقة: اي قطعة من جيد الحرير (د ورېښم يوه ښه ټوټه).

تشريح: د ريښم په يوې ټوټې کي: په يوه روايت کي بي بي عائشې ؓ داسي بيان کړی دی چي کله د الله ﷻ له خوا رسول الله ﷺ ته حکم وسو چي زما (عائشې) سره نکاح وکړي نو حضرت جبرائيل ؑ پر خپل ورغوي باندي زما عکس رسول الله ﷺ ته (په خوب کي) راوړی ، نو ددغه دواړو روايتو تطبيق دادی چي عکس د رېښمو پر يوې ټوټې باندي وو او هغه د رېښمو ټوټه د حضرت جبرائيل ؑ پر ورغوي وه، او دا هم کيدای سي چي حضرت جبرائيل ؑ د بي بي عائشې ؓ عکس دوه راوړی وي يو واريې د رېښمو په يوې ټوټې کي او بل وار پر خپل ورغوي باندي، او دا هم کيدای سي چي حضرت جبرائيل ؑ خو پر خپل ورغوي باندي عکس راوړی دی او بلي ملائکي د رېښمو پر يوې ټوټې باندي راوړی وي .

ددغه جملې يوه معنی خو هغه ده چي مخکي تېره سول او دوهمه معنی يې داهم کېدای سي چي (د نکاح او واده څخه وروسته) کله چي ما ستا د مخ څخه پرده پورته کړل نو وه مي لېدل چي دا خو ستا مخ دی (کوم چي ما په خوب کي لېدلی وو) .

که دغه خوب د الله ﷻ له خوا وي: که چيري دلته دا سوال پيدا سي چي په دغه خوب کي د

شک څرګندول څه معنی لري، ځکه د انبياء عليهم السلام، په خاصه توګه د نبي کريم ﷺ خوب د وحي يو صورت وي چي د هغه په حقيقت کي هيڅ شک و شبه نه وي، نو ددې جواب علماؤ دا ليکلی دی که چيري د خوب دغه پېښه د رسول الله ﷺ د نبوت څخه مخکي ومنل سي نو بيا خو سوال نه پيدا کيږي ، مګر په هغه صورت کي به دا سوال پيدا کيږي چي د ملائکي راتلل ددې خبري خلاف دي چي رسول الله ﷺ دغه خوب دنبوت څخه مخکي لېدلی وو ، مګر که چيري دا خبره په ذهن کي وي چي ملائکه په خوب لېدل د خاص خوب لېدلو سره مخصوص نه وي ، د نبي سره چي کوم شی مخصوص دی هغه د ملائکي د الله ﷻ له خوا وحي راوړل دي نو دا سوال هم معنی نه لري، او که دغه خوب د نبوت څخه وروسته سي نو بيا دا ويل کيږي چي رسول الله ﷺ دغه الفاظ د شک څرګندولو لپاره نه بلکه ددغه پېښي د يقيني کېدو او د هغه د ثابتولو لپاره فرمايلي دي، دغه ډول جمله په داسي وخت کي استعماليږي کله چي يوه خبره متحقق او ثابت سوې وي، لکه يو حاکم داسي ووايي: که زه حاکم يم نو وګورئ چي زه به څه نه کوم، او ځينو حضراتو دا ليکلي دي چي په دغه جمله کي کوم شک دی هغه په اصل کي د خوب سره متعلق نه دی بلکه د تعبير په اړه دی ، يا دا چي معلومه نه ده چي د ښځي څخه مراد دنيا ښځه ده که د آخرت.

بي بي عائشه صديقه ؓ : بي بي عائشه صديقه ؓ د حضرت ابوبکر صديق ؓ لور ده، نبي کريم ﷺ هغې ته پيغام وليږی او د هجرت څخه درې کاله مخکي په ۱۰م نبوي کال کي په مکه کي د هغې سره نکاح وکړل، کله چي بي بي عائشه ؓ د شوال په مياشت کي په دوهم هجري کال په رخصت کېدو سره په مدينه کي د رسول الله ﷺ کور ته راغلل نو هغه وخت د هغې عمر نهه کاله وو ، ځينو حضراتو دا ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ مدينې ته د راتلو څخه اووه مياشتي وروسته د بي بي عائشې ؓ په رخصت کېدو سره په مدينه منوره کي د رسول الله ﷺ کور ته راغلل ، د رسول الله ﷺ ملګرتيا هغې ته نهه کاله په برخه سول ، د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کي د هغې عمر اتلس کاله وو ، په امهات المؤمنين کي دا هغه پاکه ښځه ده چي د هغې اوله نکاح د رسول الله ﷺ سره وسول ، رسول الله ﷺ ددې څخه ماسوا د بلي هيڅ پيغلي ښځي سره نکاح نه وه کړې .

بي بي عائشه ؓ د علم او پوهي، ذاتي ښېګڼو او کمالاتو په اعتبار يوازينی مقام لري، ستره عالمه، فاضله، فصيحه او فقيه وه، د رسول الله ﷺ ډېر زيات حديثونه د هغې په ياد وه او ډېر حديثونه روايت کوي، د شعر او ادب سره يې هم مينه درلودل ، د نامتو شاعرانو پر کلام باندي د هغې پوره نظر وو، او د اشعارو او ادبياتو يوه لويه برخه د هغې په ذهن کي وه، د

نوموړي څخه زيات شمېر صحابه کرامو او تابعينو حديثونه روايت کړي دي، د رمضان المبارک په اووه لسمه نېټه په ۵۷ يا ۵۸ م هجري کال کي او د يوه روايت مطابق د رمضان په اووه لسمه نېټه په ۵۷ م هجري کال کي د سه شنبې په شپه د ۶۳ کالو په عمر په مدينه منوره کي وفات سول، نوموړي د شپې د دفن کولو وصيت کړی وو نو د شپې په جنت البقيع کي دفن کړل سول، حضرت ابو هريره رضي الله عنه د جنازې لمونځ ورکړ، په هغه وخت کي د امير معاويه رضي الله عنه له خوا مروان د مدينې منورې والي وو.

د بي بي عائشې رضي الله عنها امتيازي فضيلت

﴿۵۹۲۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اِنَّ النَّاسَ كَانُوْا يَتَحَرَّوْنَ بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي خلکو به رسول الله ﷺ ته د تحفو راوړلو لپاره د هغه ورځي انتظار کوی په کومه ورځ چي به رسول الله ﷺ د عائشې رضي الله عنها سره وو.

يَبْتَغُوْنَ بِذَالِكَ مَرْضَاةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَتْ اِنَّ نِسَاءَ

او ددې څخه د هغوی مقصد صرف د رسول الله ﷺ رضا وه، بي بي عائشه رضي الله عنها وايي د رسول الله

رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ حِزْبَيْنِ فَحِزْبٌ فِيهِ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ

ﷺ د بيبيانو دوې ډلي وې ، په يوه ډله کي بي بي عائشه، بي بي حفصه،

وَصَفِيَّةُ وَسَوْدَةُ وَالْحِزْبُ الْآخَرُ أُمُّ سَلَمَةَ وَسَائِرُ نِسَاءِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

بي بي صفيه، او بي بي سوده وه او په دويمه ډله کي بي بي ام سلمه او نوري بيبياني وې، يو وار

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَ حِزْبُ أُمِّ سَلَمَةَ فَقُلْنَ لَهَا كَلِّمِي رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د بي بي ام سلمه ډلي ام سلمه ته وويل چي هغه رسول الله ﷺ ته دا ووايي چي رسول الله ﷺ دي

وَسَلَّمَ يُكَلِّمُ النَّاسَ فَيَقُوْلُ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُهْدِيَ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

خلکو ته دا ووايي چي څوک رسول الله ﷺ ته تحفه را استوي نو را استوي دي يې که څه هم

وَسَلَّمَ فَلْيُهْدِهِ إِلَيْهِ حَيْثُ كَانَ فَكَلَّمَتْهُ فَقَالَ لَهَا لَا تُؤْذِينِي فِي عَائِشَةَ فَإِنَّ

رسول الله ﷺ هغه وخت د هري بي بي سره وي، نو ام سلمه د رسول الله ﷺ سره په دې باره کي خبري وکړې رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: تاسو ما ته د عائشې ﷞ په اړه تکلیف مه راکوئ

الْوَحْيَ لَمْ يَأْتِنِي وَأَنَا فِي ثَوْبِ امْرَأَةٍ إِلَّا عَائِشَةَ قَالَتْ فَقَالَتْ أَتُوبُ إِلَى اللهِ مِنْ

ځکه چي د عائشې ﷞ څخه پرته ما ته د هیڅ یوې بلې بي بي په جامو (بستر وغیره) کي وحي نه راځي ددې اوریدو سره ام سلمه وویل توبه کارم خدای ﷻ ته

أَذَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ ثُمَّ إِنَّهُنَّ دَعَوْنَ فَاطِمَةَ فَأَرْسَلْنَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

له خفګان ستا څخه اې د الله رسوله، بیا دام سلمه ډلي بي بي فاطمه ﷞ راوغوښتل او د هغې په ذریعه یې خپل دغه خواهش رسول الله ﷺ ته ورسوی،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَتْهُ فَقَالَ يَا بُنَيَّةُ أَلَا تُحِبِّينَ مَا أُحِبُّ قَالَتْ بَلَى قَالَ فَأَحِبِّيْ

په دې په باره کي بي بي فاطمې د رسول الله ﷺ سره خبري وکړې، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: اې لوري! ایا ته د هغې سره محبت نه کوې د چا سره چي زه محبت کوم، فاطمې وویل: هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ته دعائشې سره مینه کوه،

هٰذِهِ. متفق علیه وذکر حدیث انس فضل عائشة علی النساء في باب بدء الخلق بروایة ابي موسی.

بخاري او مسلم، او د حضرت انس ﷜ حدیث (فضل عائشة علی النساء) په باب بداء الخلق کي په روایت د ابو موسی تیر سوی دی.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۰۵، رقم: ۲۵۸۱، ومسلم ۴\۱۸۹۱، رقم: ۸۳- ۲۴۴۲.

د لغاتو حل: ارسلن: اي فبعثها.

تشریح: د بي بي عائشې ﷞ په ټولی کي چي کومي بیبیاني وې د هغوی ټولو سرداره بي بي عائشه ﷞ وه، ځکه چي په ټولو ازواج مطهراتو کي د رسول الله ﷺ تر ټولو زیاته خوښه بي بي عائشه ﷞ وه، دا نکته د یادوني وړ ده چي ام المؤمنین بي بي حفصه بنت عمر فاروق ﷠ هم نه یوازي د بي بي عائشې ﷞ په ډله کي وه بلکه د هغې او بي بي عائشې ﷞ په منځ کي هغه ملګرتیا، دوستي او اتفاق وو کوم چي د هغوی دواړو د پلرونو یعني حضرت ابوبکر صدیق او

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په منځ کي وو، د بي بي ام سلمه رضي الله عنها په ډله کي چي کومي بيبياني وې د هغوی سرداره ام سلمه رضي الله عنها وه، دلته دا وضاحت کول ضروري دی چي خلګو د رسول الله ﷺ په خدمت کي د تحفو وړاندي کولو لپاره د بي بي عائشې رضي الله عنها د نوبت تخصيص کړی وو هغه د رسول الله ﷺ په اشاره سره نه وو او دا معامله د ازواج مطهراتو د حقوقو اړوند نه وه ځکه رسول الله ﷺ خلګ له دې څخه نه منع کول. ماسوا د عائشې رضي الله عنها څخه: يعني يوازي عائشه رضي الله عنها زما داسي ښځه ده که زه د هغې په بستر کي يم نو هغه وخت هم پر ما وحي نازليږي، بي بي عائشه رضي الله عنها په يوه روايت کي فرمايي چي کله دغه آيت کريمه: (انک لا تهدي من احببت.....الخ) نازل سو نو هغه وخت زه د نبي کريم ﷺ سره په تلتک کي وم.

او د حضرت انس رضي الله عنه روايت سوی حديث يعني صاحب مصابيح دغه حديث د حضرت انس رضي الله عنه د روايت څخه دلته په دغه باب کي نقل کړی وو چي صاحب مشکوة هغه د حضرت موسی رضي الله عنه د روايت څخه په بدء الخلق کي شامل کړی دی، څرګنده دي وي چي په دغه حديث کي فرمايل سوي دي چي د عائشې رضي الله عنها فضيلت پر نورو ښځو باندي، دا مخکي بيان سوی دی، په دې اړه مختلف اقوال دي چي د ښځو څخه څه مراد دی، يو قول دادی چي د ښځو جنس يعني ټولي ښځي مراد دي، يو قول دادی چي ازواج مطهرات مراد دي او په دې کي هم اختلاف دی چي ايا ټولي ازواج مطهرات مراد دي او که د بي بي خديجې رضي الله عنها څخه ماسوا نوري ازواج مطهرات، مګر صحيح خبره دا معلوميږي چي بي بي عائشه رضي الله عنها د ټولو ښځو څخه افضله وه او د بي بي عائشې رضي الله عنها د علمي او عملي کمالاتو د جامع کېدو په سبب چي رسول الله ﷺ د ثريد (ښوروا) د مشابهت په ذريعه څرګنده کړل، په ښکاره توګه اطلاق هم پر دې دلالت کوي.

د باب په پيل کي د ازواج مطهراتو په اړه چي کومي خبري ذکر سوي دي او په خاصه توګه د بي بي خديجې او بي بي عائشې رضي الله عنهما په اړه يو څه تفصيل هم سوی دی، نو مناسبه ده چي د پاته ازواجو مطهراتو په اړه هم ځيني احوال ذکر کړل سي.

بي بي سوده رضي الله عنها: بي بي سوده بن زمعه رضي الله عنها د سکران بن عمرو بن عبدور په نکاح کي وه چي د هغې د اکا زوی وو، هغې مخکي اسلام قبول کړ بيا د هغې په ترغيب سره سکران هم مسلمان سو. دواړو ښځي او خاوند حبشې ته هجرت وکړ، په حبشه کي سکران وفات سو نو رسول الله ﷺ د هغې د زړه لپاره د بي بي خديجې رضي الله عنها د وفات څخه وروسته په لسم نبوي کال کي د هغې سره نکاح وکړل، تر هغه وخته پوري د رسول الله ﷺ او بي بي عائشې رضي الله عنها نکاح نه وه سوې، د بي بي سوده رضي الله عنها عمر پنځوس کاله وو، په يوه زمانه کي د ځينو حالاتو سره سم رسول

الله ﷺ هغې ته طلاق ورکول وغوښتل مګر بیا د هغې په غوښتنه باندي رسول الله ﷺ خپله اراده منسوخ کړل، او د هغه وخت څخه هغې خپل نوبت بي بي عائشې ﷞ ته ورکړ، نوموړې په نولسم هجري کال کي د شوال په میاشت کي په مدینه کي وفات سول، او په یوه روایت کي د هغې د وفات نېټه ۵۴م هجري کال او په یوه روایت کي ۴۱ م هجري کال منقول دی.

بي بي حفصه ﷞: بي بي حفصه ﷞ د امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق ﷜ لور ده، د مور نوم یې زینب بنت مظعون وو، نوموړې مخکي د حبیش بن عقافه سهمي په نکاح کي وه، د خپل خاوند حضرت حبیش ﷜ سره د مکې څخه په هجرت کولو مدینې ته راغلې وه، د بدر په غزا کي چي کله حبیش ﷜ شهید سو نو حضرت عمر فاروق ﷜ د هغې نکاح د حضرت ابوبکر صدیق یا حضرت عثمان ﷠ سره کول وغوښتل مګر هغوی دواړو انکار وکړ، بیا رسول الله ﷺ د نکاح پیغام ور ولېږی نو د شعبان په میاشت کي په دریم هجري کال کي یې د هغې سره نکاح وکړل، یو وخت رسول الله ﷺ هغې ته یو طلاق ورکړی وو مګر کله چي رسول الله ﷺ ته وحي راغلل چي حفصه ﷞ ته رجوع وکړه ځکه چي هغه ډېره عبادت کونکې، ډېره روژه نیونکې ښځه وه او هغه په جنت کي ستا ښځه ده، نو رسول الله ﷺ بېرته رجوع ورته وکړل، د صحابه کرامو او تابعینو یوې ډلي د هغې څخه د رسول الله ﷺ حدیثونه نقل کوي، د ۶۰ کالو په عمر د شعبان په میاشت کي په ۴۵ م هجري کال کي وفات سول.

بي بي زینب بنت خزیمه ﷞: د جاهلیت د زمانې څخه د ام المساکین په لقب مشهوره وه، اوله نکاح یې د عقیل سره او دوهمه نکاح یې د عبیده سره وسول، د دواړو څخه وروسته دریمه نکاح یې د حضرت عبدالله بن جحش ﷜ سره وسول، عبدالله بن جحش ﷜ د احد په غزا کي شهید سو نو په دریم هجري کال کي رسول الله ﷺ د زینب سره نکاح وکړل مګر د نکاح څخه څو میاشتي وروسته وفات سول.

بي بي ام سلمه ﷞: اصلي نوم یې هنده وو د نبي کریم ﷺ څخه مخکي د حضرت ابوسلمه عبدالله بن عبدالاسد په نکاح کي وه، د ابوسلمه ﷜ د وفات څخه وروسته په هم هغه کال یا په څلورم کال کي رسول الله ﷺ له هغې سره نکاح وکړل، نوموړې د ۸۴ کالو په عمر په مدینه منوره کي په ۵۹ م هجري کال یا د یوه روایت مطابق په ۶۰ م هجري کال کي وفات سوه او په بقیع کي دفن کړل سول.

بي بي زینب بنت جحش ﷞: د نوموړي مور، امیمه د عبدالمطلب لور او د رسول الله ﷺ عمه وه، مخکي زینب ﷞ د زید بن حارثه ﷜ په نکاح کي وه چي د رسول الله ﷺ ازاد سوی

غلام وو، د زید رضی اللہ عنہ د طلاق څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغې سره نکاح وکړل، د هغې اصل نوم بره وو چې رسول الله ﷺ د هغې نوم بدل کړ او زینب یې کښېښود، د ۵۲ کالو په عمر کې یا د یوه روایت مطابق د ۵۷ کالو په عمر کې په مدینه منوره کې وفات سول، ددې په باره کې د بي بي عائشې رضی اللہ عنہا وینا ده چې ما هیڅ یوه ښځه داسې نه ده لیدلې چې په دین کې تر زینب غوره او د الله جل جلاله څخه زیاته بېره لرونکې وي، د هغې څخه زیات رښتیا ویونکې وي، دخپلوانو سره زیاته ښه چلن کونکې وي، د الله جل جلاله په لاره کې او د الله جل جلاله د رضا لپاره د خپل او خپل نفس لګوونکې وي.

بي بي ام حبیبه رضی اللہ عنہا: اصلي نوم یې رمله وو، د ابوسفیان بن صخر لور ده، د مور نوم یې صفیه بنت ابوالعاص وو چې د حضرت عثمان بن عفان رضی اللہ عنہ عمه ده، د دې د اول خاوند عبیدالله بن جحش د مرګ څخه وروسته چې حبشې ته په تللو سره عیسائي سوی وو او د ارتداد په حالت کې مړ سو د حبشې پاچا نجاشي په شپږ هجري کال کې د هغې نکاح د رسول الله ﷺ سره وکړل، په ۴۴ م هجري کال کې په مدینه منوره کې وفات سول.

بي بي جویریه رضی اللہ عنہا: بي بي جویریه بنت الحارث په مریسیع غزا کې په بندیانو کې د حضرت ثابت بن قیس رضی اللہ عنہ په برخه راغلل ځکه هغه دا بندي کړې وه، بیا حضرت ثابت بن قیس رضی اللہ عنہ هغه مکاتبه کړې وه، رسول الله ﷺ د هغې د کتابت په ادا کولو سره هغه ازاده کړل او بیا یې ورسره نکاح وکړل، د هغې اصلي نوم بره وو چې رسول الله ﷺ په جویریه بدل کړ، په ۵۶ م هجري کال کې د ۶۵ کالو په عمر وفات سول.

بي بي صفیه رضی اللہ عنہا: بي بي صفیه بنت حي بن اخطب بن شعبه د سبط هارون علیہ السلام څخه ده، د هغې اوله نکاح د کنانه بن ابي الحقیق (یهودي) سره سوې وه، د خیبر په غزا کې د محرم په میاشت په ۷ هجري کال کې کنانه ووژل سو او صفیه په بندیانو کې راغلل، رسول الله ﷺ د خپل ځان لپاره مخصوص کړل مګر ځیني حضرات وایي چې د حضرت دحیه کلبي رضی اللہ عنہ په برخه کې راغلې وه، وروسته رسول الله ﷺ د دحیه کلبي رضی اللہ عنہ څخه رانیول او بیا هغې اسلام قبول کړ نو رسول الله ﷺ ورسره نکاح وکړل، د هغې ازادي رسول الله ﷺ د هغې مهر وګرځوی، په ۵۰ م هجري کال کې وفات سول او په بقیع کې دفن سول.

بي بي میمونه رضی اللہ عنہا: اصل نوم یې هره وو، رسول الله ﷺ د هغې نوم بدل کړ او دمیمونې نوم یې پر کښېښود، مخکې د مسعود بن عمرو ثقفي په نکاح کې وه، د څو ورځو وروسته هغه پرېښودل، بیا د ابودرهم د مرګ څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغې سره په سرف کې نکاح

وكړل، كله چي رسول الله ﷺ د عمرة القضاء په سفر كي وو، او دا د اتفاق خبره ده چي په ۶۱ م هجري كال كي يا د يوه روايت مطابق په ۵۱ م هجري كال كي په هم هغه سرف نامي ځاى كي وفات سول، ام المؤمنين بي بي ميمونه رضي الله عنها د نبي كريم ﷺ آخري زوجه مباركه وه، د هغې يوه خور ام الفضل ده چي د حضرت عباس رضي الله عنه ښځه او حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه مور ده، او بله خورېي بي بي اسماء بنت عميس رضي الله عنها ده چي د جضرت جعفر طيار رضي الله عنه په كور كي وه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د دنيا څلور غوره ښځي

﴿۵۹۳۰﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَسْبُكَ مِنْ نِسَاءِ الْعَالَمِينَ مَرْيَمُ ابْنَةُ عِمْرَانَ وَخَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ وَفَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د ټولي دنيا د ښځو څخه د دغه څلورو ښځو فضائل ستاسو لپاره كافي دي: بي بي مريم بنت عمران، بي بي خديجه بنت خويلد، بي بي فاطمه بنت محمد ﷺ او بي بي آسيه د فرعون ښځه. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۶۰، رقم: ۳۸۷۸.

تشريح: څرګنده ده چي د ټولي نړۍ په غوره ښځو كي د دغه څلورو ښځو ذكر په دغه حديث كې په كوم ترتيب سره راغلى دى په هم هغه ترتيب سره د څلورو په منځ كي د مرتبو فرق هم دى، پاته سوه دا خبره چي دلته د بي بي عائشې رضي الله عنها يادونه ولي ونه سول نو د هغې يوه وجه دا كيداى سي چي د هغې هم د افضلو ښځو څخه كېدل په ځينو روايتو كي مذكور دي ځكه دلته د هغې د يادوني ضرورت ونه ګڼل سو، او دوهمه وجه دا كيداى سي چي رسول الله ﷺ دغه حديث كيداى سي هغه وخت فرمايلي وي چي بي بي عائشې رضي الله عنها ته دغه مقام او د رسول الله ﷺ سره د نكاح شرف تر لاسه سوى نه وو چي په هغه سره د هغې د افضيلت تعين سوى واى، بيا هم بايد هغه حديث په ذهن كي وي چي احمد، بخاري، مسلم، ترمذي او ابن ماجه د حضرت ابوموسى اشعري رضي الله عنه څخه مرفوعا نقل كړى دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په نارينوو كي ډېر خلګ د كمال درجې ته ورسېدل مګر په ښځو كي د فرعون د ښځي، بي بي آسيه رضي الله عنها، او مريم بنت عمران

څخه ماسوا بله ښځه كامله نه سول او په دې كي شک نسته چي په ټولو ښځو كي د عائشې رضي الله عنها افضيلت پر نورو ښځو باندي داسي دى لكه څرنګه چي د ښوروا فضيلت پر نورو خوراكونو دى سيوطي رحمة الله عليه په نقايه كي ليكلي دي چي زموږ عقيده ده چي د ټولي نړۍ په ښځو كي تر ټولو افضله مريم او فاطمه رضي الله عنهما دي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ازواجو مطهراتو كي تر ټولو افضله خديجه او عائشه رضي الله عنهما دي ، په دوى كي دوو كومه يوه افضله ده، په دې اړه يو قول د بي بي خديجې رضي الله عنها د افضيلت دى او بل قول د بي بي عائشې رضي الله عنها د افضليت دى او دريم قول د توقف دى، ملا علي قاري رحمة الله عليه د سيوطي رحمة الله عليه د دغه الفاظو نقل كولو وروسته ليكلي دي: زما وينا ده چي يوازي د خديجې رضي الله عنها او عائشې رضي الله عنها په اړه نه بلكه د ټولو ذكر سوو ښځو په اړه توقف (يعني پټه خوله كېدل) غوره دي، ځكه چي په دغه مسئله كي يو قطعي دليل نسته چي د هغه په وجه په حتمي توګه وويل سي چي په دوى كي فلانۍ ښځه زياته افضله ده ، او كوم ګماني دليلونه چي موجود دي په هغو كي خپله اختلاف دى او د هغه عقيدو په اړه چي پر يقيناتو باندي مبني دي، څه ګټه نسته .

د بي بي عائشې رضي الله عنها فضيلت

﴿۵۹۳۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ جِبْرِيلَ جَاءَ بِصُورَتِهَا فِي خِرْقَةِ حَرِيرٍ خَضْرَاءَ إِلَى رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ زَوْجَتُكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چي جبرائيل عليه السلام د هغې په شكل او صورت كي يو شى په شنو ريښمو كي نغښتى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راوړ او وه يې ويل دا په دنيا او آخرت كي ستا ښځه ده . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۶۱، رقم: ۳۸۸۰.

تشريح: پر شنه رېښمينه جامه باندي: د دې څخه معلومه سول چي په تېر سوي حديث كي د خرقة من حرير، كوم الفاظ چي تېر سول د هغه مراد د سپينو رېښمينو جامو اخيستل صحيح نه دي (لكه څرنګه چي ځينو حضراتو بيان كړى دى) مګر كه چيري دا وويل سي چي دا دوه ځله خوب رسول الله صلى الله عليه وسلم ډېر واره وليدى نو بيا په دغه مراد اخيستلو كي سوال نه كيږي او دا هم ويل كيداى سي چي د خرقة من حرير، الفاظ نقل كېدل د راوي اشتباه ده .

د بي بي صفيې فخر

﴿۵۹۳۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ بَلَغَ صَفِيَّةَ أَنَّ حَفْصَةَ قَالَتْ بِنْتُ يَهُودِيٍّ فَبَكَتْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي بي بي صفيې ته دا خبره ورسيدل چي بي بي حفصې ويلي دي چي صفيه د يهودي لور وه، ددې اوريدو سره هغه په ژړا سوه،

فَدَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ تَبْكِي فَقَالَ مَا يُبْكِيكِ

په دغه وخت کي رسول الله ﷺ تشريف راوړ پوښتنه يې وکړه چي ولي ژاړې؟ بي بي صفيې رضي الله عنها

فَقَالَتْ قَالَتْ لِي حَفْصَةُ إِنِّي بِنْتُ يَهُودِيٍّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ورته وويل ما ته حفصې د يهودي لور ويلي دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل

إِنَّكِ لَابْنَةُ نَبِيٍّ وَإِنَّ عَمَّكِ لَنَبِيٌّ وَإِنَّكِ لَتَحْتَ نَبِيٍّ فَفِيمَ تَفْخَرُ عَلَيْكِ ثُمَّ قَالَ اتَّقِي اللّٰهَ يَا حَفْصَةُ. رواه الترمذي والنسائي.

ته د نبي لور يې او ستا اکا هم نبي وو، او اوس ته د يو نبي ښځه يې بيا حفصه پر کومه خبره پر تا فخر کوي. ددې وروسته رسول الله ﷺ حفصې ته وفرمايل: اې حفصې! د خدای جل جلاله څخه وبيريږه. ترمذي او نسائي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۶۶، رقم: ۳۸۹۴، والنسائي في الكبرى ۵\۲۹۱، رقم: ۸۹۱۹.

تشريح: د بي بي صفيې رضي الله عنها پلار حي بن اخطب په اصل کي د حضرت هارون عليه السلام د اولاد څخه وو او حضرت هارون عليه السلام د حضرت موسی عليه السلام ورور وو، په دې اعتبار د صفيې رضي الله عنها پلار يعني جداعلی هم پيغمبر سو او د هغه اکا هم پيغمبر سو، يا دا خبره يې د خپل جد اکبر يعني حضرت اسحاق عليه السلام په اعتبار وفرمايل، يعني بي بي صفيې رضي الله عنها ته يې د حضرت اسحاق عليه السلام لور وويل او حضرت اسماعيل عليه السلام ته يې د هغې اکا وويل.

او اوس ته د يو پيغمبر ښځه يې: يعني حفصې رضي الله عنها لره فکر کول پکار دي چي ستا ددغه نسب اعلی او شرف په مقابله کي هغې ته بل کوم لوی نسبت حاصل دی او داسي کوم فضيلت هغه لري چي هغه پر تا فخر کوي، او په نسب کي ځان تر تا کمه ګڼي، څرګنده دي وي چي د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد مقصد د بي بي صفيې رضي الله عنها زړه ښه کول او د هغې د سپکاوي ازاله

كول وو چي دبي بي حفصي رضي الله عنها په الفاظو سره بي بي صفيې رضي الله عنها محسوس كړي وه، بي بي صفيه رضي الله عنها نه يوازي دا چي د خپل ذات په اعتبار د يوې ستري كورنۍ ښځه وه بلكه د خپلو دينو ښېګڼو او صفتو په اعتبار هم يو جامع ښځه وه، او دا نه دي چي د رسول الله ﷺ د بي بي صفيه رضي الله عنها په حق كي دغه خبري پر نورو ازواجو مطهراتو باندي د هغې فضيلت او لويي څرګندوي ځكه چي د نسبتونو دغه شرف يوازي د بي بي صفيې رضي الله عنها نه وو، په دغه شرف كي خو نوري ټولي ازواج مطهرات هم شاملي وې چي هغوى هم د يو پيغمبر حضرت اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه وې، چي د حضرت اسحاق عليه السلام ورور وو، او هغوى ټولي هم د رسول الله ﷺ بيبياني وې.

ته بايد د الله جل جلاله څخه و بيرېږې: يعني د صفيې رضي الله عنها د مخالفت يا دښمنۍ په وجه ته داسي خبري د خولې څخه مه باسه كوم چي د جاهليت د زمانې كار دی او الله جل جلاله يې په هيڅ حالت كي نه خوښوي.

د بي بي مريم عليها السلام ذكر

﴿۵۹۳۳﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا فَاطِمَةَ عَامَ

د ام سلمه (رض) څخه روايت دی چي د مكې د فتحې په كال رسول الله ﷺ بي بي فاطمه رضي الله عنها

الْفَتْحِ فَنَاجَاهَا فَبَكَتْ ثُمَّ حَدَّثَهَا فَضَحِكَتْ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

راوغوښتل او كرار يې د هغه سره خبري وكړې چي د هغه په اوريدو سره هغه په ژړا سوه، بيا يې دويم وار د هغې سره خبري وكړې نو هغې وخندل، بيا چي رسول الله ﷺ وفات سو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلْتُهَا عَنْ بُكَائِهَا وَضَحِكِهَا قَالَتْ أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

نو ما د هغې د ژړا او خندا سبب وپوښتى، نو بي بي فاطمې وويل رسول الله ﷺ زه خبره كړې وم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يَمُوتُ فَبَكَيْتُ ثُمَّ أَخْبَرَنِي أَنِّي سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا مَرْيَمَ بِنْتَ عِمْرَانَ فَضَحِكْتُ. رواه الترمذي.

چي رسول الله ﷺ به وفات كيږي د هغه په اوريدو سره زه په ژړا سوم، بيا رسول الله ﷺ زه خبره كړم چي زه به د جنت د ټولو ښځو سرداره يم پرته د مريم بنت عمران څخه نو ما وخندل. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۶۵۸/۵، رقم: ۳۸۷۳.

تشریح: همدارنګه روایت مخکي هم تېر سوی دی چي په هغه کي د بي بي عائشې ﷺ یادونه ده چي هغې د بي بي فاطمې ﷺ څخه د ژړا او خندا سبب وپوښتی، نو هغې د ښودلو څخه انکار وکړ مګر د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته بي بي فاطمې ﷺ وښودل او دلته هم بي بي ام سلمه ﷺ دا یادونه وکړل چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته بي بي فاطمې ﷺ وښودل، بیا هم په دغه حدیث کي د بي بي ام سلمه ﷺ دغه پېښنه د مکې د فتح د کال ذکر کول یوه لویه هېره ده ځکه چي په تحقیقي او تاریخي توګه د دغه پېښې واقع کېدل د مکې د فتح په کال نه وه بلکه دغه پېښنه یا خو د رسول الله ﷺ د حجة الوداع د زمانې ده یا د مرض الموت د وخت ده، دوهمه خبره دا چي په دغه روایت کي د بي بي فاطمې ﷺ دغه الفاظ چي رسول الله ﷺ ما ته وښودل چي زه د مریم بنت عمران څخه ماسوا د جنت د ټولو ښځو سرداره یم ځکه نو زه په خندا سوم، د ذکر سوي روایت خلاف نه دی چي په هغه کي دادي چي رسول الله ﷺ بي بي فاطمې ﷺ ته دا هم ویلي وه چي زما د اهل بیتو څخه به ته تر ټولو مخکي زما سره یو ځای کېږې.

د دغه روایت په اړه یو سوال پیدا کېږي چي د دغه حدیث د باب سره څه مناسبت دی، په دې کي د بي بي فاطمې ﷺ د منقبت او فضیلت ذکر دی نو دغه حدیث د مناقب اهل بیت په باب کي نقل کول پکار وو نه په دغه باب کي چي د ازواج مطهراتو د مناقبو سره مخصوص دی، نو پېښنه داده چي په ظاهري توګه څه مناسبت نه معلومېږي یوازي دا ویل کېږي چي دغه روایت ضمناً د هغه روایت سره متعلق دی چي د دوهم فصل په اول روایت کي دی او په هغه کي د بي بي خدیجې او بي بي مریم سره د بي بي فاطمې رضي الله عنهن ذکر هم دی، دې ته به داسي ووایو چي د دغه فصل په شروع کي چي کوم روایت نقل سوی دی د هغې لپاره ځیني نوري خبري د دغه حدیث څخه معلومېږي ځکه هغه دلته نقل کړل سو، که څه هم دغه حدیث په اصل کي له دې سره تعلق نه لري او دا هم لیري نه ده چي دغه حدیث په دغه باب کي په نقل کولو سره دې ته اشاره سوې ده چي د بي بي مریم ﷺ په اړه نقل سوي دي چي هغه به په جنت کي د رسول الله ﷺ ښځه وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د بي بي عائشې ﷺ فضیلت

﴿۵۹۳۴﴾: عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ مَا أَشْكَلَ عَلَيْنَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ إِلَّا وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا. رواه

الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب.

د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دى چي هر كله به موږ اصحاب د رسول الله ﷺ پر يو خبره مشتبه سول يا ديو حديث مطلب به مو په پوهه كي نه راغلى نو موږ به د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه كول نو د هغه خبري پوره علم به موږ ځيني تر لاسه كړى، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦٦٢، رقم: ٣٨٨٣.

د لغاتو حل: اشتكل: اي ما اشتبه. (د پرورته)

تشريح: مطلب دا چي بي بي عائشې رضي الله عنها كوم علم د رسول الله ﷺ څخه په اوريدو سره او په خپل قوت اجتهاد سره تر لاسه كړى وو د هغه په ذريعه به هغې د صحابه كرامو مشكل سوالونه حل كول او د حديث په اړه چي كوم اشكال چي به هغوى ته پيښېدى نو هغه به يې حل كوى

د بي بي عائشې رضي الله عنها فصاحت

﴿٥٩٣٥﴾: وَعَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَفْصَحَ مِنْ عَائِشَةَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب.

د حضرت موسى بن طلحه رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه زيات فصيح هيڅوک نه دى ليدلى، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٦٦٣، رقم: ٣٨٨٤.

تشريح: ابن طلحه رضي الله عنه دغه خبره يا خو د بي بي عائشې رضي الله عنها په زيات تعريف كي كړې ده او يا په حقيقت كي هغه د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه زيات فصيح هيڅوک نه دى ليدى.

==========

بَابُ جَامِعُ الْمَنَاقِبِ

(د مناقبو جامع بیان)

په دغه باب کي مؤلف د یوې خاص ډلي د تخصیص څخه پرته او د بېل باب قائمولو پر ځای په مجموعي توګه د یو شو مشهورو صحابه کرامو رضي الله عنهم پر فضائلو او مناقبو باندي مشتمل حدیثونه نقل کړي دي، په مشهورو کي خلفاء راشدین، عشره مبشره، اهل بیت، ازواج مطهرات، مهاجرین او انصار هم دي او د دوی څخه ماسوا نور صحابه کرام رضي الله عنهم هم دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فضیلت

﴿۵۹۳۶﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ فِي يَدِي سَرَقَةً مِنْ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما په خوب کي ولیدل چي په لاس کي مي د

حَرِيرٍ لَا أَهْوِي بِهَا إِلَى مَكَانٍ فِي الْجَنَّةِ إِلَّا طَارَتْ بِي إِلَيْهِ فَقَصَصْتُهَا عَلَى

ریښمني جامې یوه ټوټه ده او زه چي په جنت کي کومي خوا ته د تلو اراده کوم هغه ټوټه ما هلته الوځوي او هلته مې رسوي، ما دا خوب

حَفْصَةَ فَقَصَّتْهَا حَفْصَةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أَخَاكِ رَجُلٌ صَالِحٌ أَوْ قَالَ إِنَّ عَبْدَ اللّٰهِ رَجُلٌ صَالِحٌ. متفق عليه.

خپل خور بي بي حفصې ته ووایه او هغې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته بیان کړ، د خوب اورېدو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایه چي ستا ورور صالح سړی دی، یا داسي یې وفرمایل چي عبدالله صالح سړی دی.» بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۴۰۳، رقم: ۷۰۱۵. ومسلم ۴\۱۹۲۷، رقم: ۱۳۹ - ۲۴۷۸.

تشریح: یعني رسول الله صلی الله علیه وسلم دا تعبیر ورکړ چي هغه د ریښمو ټوټه په اصل کي د عبدالله رضي الله عنه نېک اعمال د هغه پاک ژوند دی چي هغه د جنت لوړو مرتبو او درجو ته رسوي.

حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه: حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه د امیر المؤمنین حضرت عمر

فاروق رضي الله عنه زوى دى، په كوم كال چي رسول الله ﷺ په نبوت سره مشرف سو د هغه كال څخه يو كال مخكي حضرت عبد الله رضي الله عنه پيدا سو ، د لږ عمر په وخت كي يې د خپل پلار محترم حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سره په مكه كي اسلام قبول كړ، د خندق د غزا څخه وروسته په ټولو غزاوو كي يې ګډون كړى دى، په علم، پوهي او تقوا كي پوره منل كيږي ، حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه به فرمايل: ما منا احد الا مالت به الدنيا ومال اليها ما خلا عمرو ابنه عبد الله. حضرت نافع رحمة الله عليه بيان كوي چي عبد الله ابن عمر رضي الله عنه تر مرګ پوري چي كوم غلامان ازاد كړي دي د هغوى شمېر زرو بلكه تر دې هم زيات دى، د نبي كريم ﷺ په پيروۍ او مينه كي د ابن عمر رضي الله عنه خاص مقام دى چي كله به حج ته تلى نو پر هغه ځايو به درېدى چيري چي رسول لالله ﷺ تم سوى دى لكه عرفات او داسي نور ځايونه، او تر ټولو حاجيانو به مخكي رسيدى، نقل سوي دي چي يوه ورځ حجاج ابن يوسف د سهار يا مازديګر په لمانځه كي ځنډ وكړ نو حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه هغه ته وويل: لمونځ وكړه كنه نو لمر ستا انتظار نه كوي، پر حجاج باندي دهغه دغه وينا سخته سول نو هغه وويل: زړه مي غواړي چي ستا سترګي وباسم يا داسي يې وويل چي ستا سر قلم كړم ، حضرت عبد الله رضي الله عنه ددې په اورېدو سره ورته وفرمايل: كه ته داسي وكړې نو څه ليري خبره ده ځكه چي ته د يو ناپوه حاكم په صورت كي پر موږ مسلط يې ، ځينو حضراتو دا نقل كړي دي چي حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه دا خبره په كراره كړې وه او حجاج نه وه اورېدلې، په هر حال د حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه د حق ويني په سبب يا په بله وجه حجاج د هغه څخه سخت ناراضه سو او هغه يو سړي ته حكم وكړ چي د ابن عمر رضي الله عنه نيزه قبضه كړي او هغه بې وسلې كړي، او بيا نه يوازي دا چي هغه يې په لاره كي په ډېرو وويشتى بلكه په زهرو لړلې يوې آلې سره يې د هغه پر ملا باندي سخت وار وكړ چي د هغه په وجه حضرت ابن عمر رضي الله عنه تر څو ورځو پوري ناروغ سو او بيا وفات سو ، دغه پېښه د حضرت ابن زبير رضي الله عنه د شهادت د پېښي څخه درې مياشتي وروسته په ۷۳ هجري كال كي پېښه سوه ، په دغه وخت كي حضرت ابن عمر رضي الله عنه د ۸۴ كالو وو ، د نوموړي مړى په ذي طوى كي خاورو ته وسپارل سو . رضي الله عنه .

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۹۳۷﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ إِنَّ أَشْبَهَ النَّاسِ دَلًّا وَسَمْتًا وَهَدْيًا بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَابْنُ أُمِّ عَبْدٍ مِنْ حِينِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ إِلَى أَنْ يَرْجِعَ

إِلَيْهِ لَا نَدْرِي مَا يَصْنَعُ فِي أَهْلِهِ إِذَا خَلَا. رواه البخاري.

د حضرت حذیفه رضی الله عنه څخه روایت دی چي په حالت طریقه او خوی کي تر ټولو عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د رسول الله ﷺ زیات مشابه وو، کله چي هغه د کور څخه راووځي بیا تر هغه وخته پوري چي هغه کور ته ځي او د کور دننه حال یې موږ ته معلوم نه دی چي هغه په یوازیوالي کي څه کوي. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۰۹، رقم: ۶۰۹۷.

د لغاتو حل: دلا: اي طریقة: (لاره). سمتا: اي سیرة (تګ)

تشریح: د أم عبد د زوی څخه مراد حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه دی، د نوموړي د مور کنیت ام عبد وو،

(دل) د سیرت، حالت او هیئت په معنی هم راځي او ځینو حضراتو د دغه لفظ معنی د خوش کلامی هم بیان کړې ده چي دغه لفظ د دلالت څخه ماخوذ دی چي د هغه په ذریعه د یو انسان د ظاهري حالت او ښېګڼي تعبیر کیږي چي د هغه پر ښه کړنو او نیکو عاداتو باندي دلالت کوي، په قاموس کي لیکلي دي چي د دل معنی د هدي ده مګر دلته په حدیث کي د سکینت معنی مراد ده او په مجمع البحار کي لیکلي دي چي د دل لفظ د شکل او شمائل معنی لري.

د سمت معنی د لاري او میانه روی ده، د دغه لفظ استعمال د اهل خیر او صلاح په توګه او د هغه د هیئت او حالت لپاره هم استعمالیږي، په قاموس کي د سمت معنی د طریق یعني لاري او د اهل خیر د هیئت لیکلې ده او په صراح کي لیکلي دي چي د سمت معنی د نېک چلن ده.

د هدي معنی د طریقې، سیرت او اهل خیر د هیئت او حالت ده، خلاصه دا چي دغه درې سره الفاظ یعني دل، سمت او هدي په معنی کي سره نژدې دي او په عامه توګه درې سره د یو بل سره استعمالیږي.

د هغه وخت څخه چي.... یعني د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه چي کوم ظاهري ژوند زموږ په مخکي دی او د هغه کوم حالات چي موږ ته ښکاره دي د هغه څخه ثابتیږي چي هغه ډېر پاک او نیک دی او موږ د ظاهري احوالو په اړه شاهدي ورکولای سو، د باطن حال موږ ته معلوم نه دی چي دننه حال الله جل جلاله ته معلوم دی.

﴿۵۹۳۸﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَدِمْتُ أَنَا وَأَخِي مِنَ الْيَمَنِ فَمَكُثْنَا

د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چې زه او زما ورور د يمن څخه مدينې ته

حِينًا مَا نُرَى إِلَّا أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

راغلو او تريو وخته مو په مدينه کي قيام وکړ، موږ همېشه دا خيال کوی چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د اهل بيتو څخه يو کس دی،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا نَرَى مِنْ دُخُولِهِ وَدُخُولِ أُمِّهِ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ . متفق عليه.

ځکه چې موږ به عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه او د هغه مور بي بي اکثر د نبي کريم ﷺ کره تلونکي راتلونکي ليدل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۱۰۲، رقم: ۳۷۶۳، ومسلم ۴\۱۹۱۱، رقم: ۱۱۰- ۲۴۶۰.

تشريح: په يوه روايت کي راغلي دي چې رسول الله ﷺ، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته ويلي وه که چيري ته زما سره يو يا دوه کسان وويني نو د اجازې غوښتلو څخه پرته ما ته راځه، په يوه روايت کي حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه دا بيان کړی دی چې رسول الله ﷺ ما ته فرمايلي دي: کله چې پرده زړېدلې نه وي او ته زما آواز واورې نو ستا لپاره اجازه ده تر څو چې زه تا منع نه کړم.

حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه: د نوموړي کنيت ابوعبدالرحمن وو، هذلي دی، د صاحب السواد والمسواک په لقب سره مشهور وو، هغه ته په لومړني دعوت کي د اسلام منلو توفيق په برخه سوی وو، د رسول الله ﷺ دار ارقم ته د منتقل کېدو څخه مخکي مسلمان سوی وو، تر هغه وخته حضرت عمر رضي الله عنه اسلام قبول کړی نه وو، ځيني حضرات وايي چې دی شپږم مسلمان دی، دده څخه مخکي يوازي پنځو کسانو اسلام قبول کړی وو، د اسلام قبلولو څخه وروسته رسول الله ﷺ د ځان سره ساتلی وو او خپل بې شمېره خدمتونه يې ور سپارلي وه، د رسول الله ﷺ مسواک به د هغه سره وو، رسول الله ﷺ ته به يې څپلی سمولې، په سفر کي به يې د رسول الله ﷺ د پاکۍ، اوداسه او نورو شيانو لپاره اوبه ساتلې او کله چې به رسول الله ﷺ غسل کوی نو ده به پرده جوړول، حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه حبشې ته هم هجرت کړی وو، بيا يې مدينې ته هم هجرت وکړ، په بدر او نورو غزاوو کي له رسول الله ﷺ سره وو، رسول الله ﷺ د جنت زيری ورکړی وو او فرمايلي يې وه: زه د خپل امت لپاره هغه شی خوښوم کوم چې ابن ام عبد (عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه) ته خوښ دي، او زه د خپل امت په اړه هغه شی نه خوښوم

كوم چي ابن ام عبد ته ناخوښه وي، حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه غنم رنګه وو او دهغه بدن دومره نرى او ډنګر وو چي ناست اوړد سړى به دهغه برابر معلومېدى، فاروق رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه كي هغه د كوفې قاضي او د هغه ځاى د بيت المال نګران ټاكلى وو، د عثماني خلافت تر لومړنۍ زمانې پورې پر دغه منصب فائز وو بيا مدينې ته راغلى او په مدينه كي په ۳۲ هجري كال كي وفات سو، د نوموړي عمر تقريبا شپېته كاله وو، د نوموړي څخه د حديث په روايت كونكو كي د صحابه كرامو او تابعينو د يوې لوى ډلې څخه ماسوا حضرت ابوبكر صديق، حضرت عمر او حضرت عثمان رضي الله عنهم هم شامل دي، زموږ د امامانو وينا ده چي د خلفاء اربعه څخه وروسته په ټولو صحابه كرامو كي لوى فقيه حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وو.

څلور قاريان

﴿۵۹۳۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْتَقْرِئُوا الْقُرْآنَ مِنْ أَرْبَعَةٍ مِنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ وَسَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ. متفق عليه

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د څلورو كسانو څخه قرآن كريم زده كوئ يعني عبد الله بن مسعود، سالم مولى ابو حذيفه، ابي بن كعب او معاذ بن جبل رضي الله عنهم څخه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۰۲، رقم: ۳۷۶۰، ومسلم ۱۴\۱۹۱۳، رقم: ۱۱۷- ۲۴۶۴.

تشريح: دغه څلورو صحابه كرامو رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ څخه په ژوندى بڼه قرآن كريم زده كړى وو حال دا چي نورو صحابه كرامو د نورو كسانو څخه قرآن كريم زده كړى او تر لاسه كړى وو، دغه څلور حضرات د قرآن كريم حافظان وه، په صحابه كرامو كي لوى قاريان هم وه، رسول الله ﷺ د دغه څلورو كسانو د خاص فضيلت څخه خلك خبر كړل.

حضرت سالم رضي الله عنه: نوم يې سالم بن معقل رضي الله عنه دى، د حضرت ابو حذيفه بن عتبه بن ربيعه بن عبد شمس ازاد سوى غلام دى، د فارس (ايران) ښار اصطرخ اوسېدونكى وو، په سترو صحابه كرامو كي شمېرل كيږي، د بدر په غزا كي يې ګډون كړى وو، په مدينه كي د مهاجرينو د لمانځه د امامت شرف يې په برخه وو كوم چي د رسول الله ﷺ څخه مخكي په هجرت كولو سره راغلي وه، سره له دې چي په هغوى كي عمر او حضرت ابو سلمه رضي الله عنهما هم موجود وه، د حضرت

ابوحذیفه رضی الله عنه اصل نوم هشام وو، د صحابه کرامو، فضلاؤ او لومړنیو مهاجرینو څخه دی، د رسول الله ﷺ دارارقم ته د راتلو څخه مخکي په اسلام مشرف سوی وو.

حضرت أبی بن کعب رضی الله عنه: حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه د انصارو صحابه کرامو څخه دی، لوی قاري دی، سیدالقراء ورته ویل کېدل، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به د سیدالمسلمین په لقب یادوی او د رسول الله ﷺ د وحي لیکوال وو.

حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه: حضرت معاذ رضی الله عنه هم د انصارو څخه دی، فضائل او مناقب یې بې شمېره دي، رسول الله ﷺ دده او عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په منځ کي ورو ګلوي قائمه کړې وه.

د ابن مسعود، عمار او حذیفه (رض) فضیلت

﴿۵۹۴۰﴾: وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ قَدِمْتُ الشَّأْمَ فَصَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قُلْتُ اللَّهُمَّ

د حضرت علقمه رضی الله عنه څخه روایت دی چي زه د شام هیواد ته راغلم ما دوه رکعته لمونځ وکړ او دعاء مي وکړه چي اې الله!

يَسِّرْ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَأَتَيْتُ قَوْمًا فَجَلَسْتُ إِلَيْهِمْ فَإِذَا شَيْخٌ قَدْ جَاءَ حَتَّى

ما ته یو صالح ملګری راکړې، بیا زه یو ډلي ته ورسیدم او ورسره کېښېنستم، ناڅاپه یو سپین ږیری سړی راغلی او!

جَلَسَ إِلَى جَنْبِي قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالُوا أَبُو الدَّرْدَاءِ فَقُلْتُ إِنِّي دَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ

زما په خوا کي کېښېنستی، ما د خلکو څخه پوښتنه وکړه دا څوک دی؟ خلکو راته وویل: ابودرداء رضی الله عنه دی، ما هغه ته وویل ما د خدای تعالی څخه سوال کړی وو چي

يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَيَسَّرَكَ لِي قَالَ مَنْ أَنْتَ قُلْتُ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ قَالَ

ما ته یو صالح ملګری راکړې نو خدای تعالی ته ما ته برابر کړلې، ابودرداء رضی الله عنه زما څخه پوښتنه وکړه ته څوک یې؟ ما ورته وویل زه د کوفې او سیدونکی یم، ابودرداء رضی الله عنه وویل:

أَوَلَيْسَ عِنْدَكُمُ ابْنُ أُمِّ عَبْدٍ صَاحِبُ النَّعْلَيْنِ وَالْوِسَادِ وَالْمِطْهَرَةِ وَفِيكُمْ

ایا ستاسو سره ابن ام عبد (یعني عبدالله بن مسعود رضی الله عنه) نسته چي د رسول الله ﷺ څپلې، بالښت او د اوداسه لوښی یې د ځان سره ساتل، او ایا ستاسو سره

الَّذِي أَجَارَهُ اللّٰهُ مِنَ الشَّيْطَانِ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِيْ

هغه سړی نسته چي خدای تعالی هغه ته د نبي په ژبه د شیطان څخه پناه ورکړې ده (یعني عمار

عَمَّارًا وَلَيْسَ فِيكُمْ صَاحِبُ سِرِّ الَّذِي لَا يَعْلَمُهُ غَيْرُهُ يَعْنِيْ حُذَيْفَةَ. رواه البخاري

رضی اللہ عنہ)، او ایا په تاسو کي هغه سړی نسته چي د رسول الله ﷺ راز ونه پیژندونکي دی چي د هغه څخه پرته د هغه بل څوک خبر نه دی یعني حذیفه رضی اللہ عنہ. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\ ۹۰، رقم: ۳۷۴۲.

تشريح: په (نېک خلیفه) کي د نیک څخه مراد یا خو عالم باعمل دی یا هغه سړی چي د الله جل جلاله حقوق هم ادا کړي او د الله جل جلاله د بندګانو حقوق هم ادا کړي.

راغلی او زما په څنګ کي کښېنست: دا په اصل کي د الله جل جلاله له خوا د هغه د دعاء جواب وو چي هغه د نیک خلیفه مخلصانه درخواست وکړ او الله جل جلاله د صحابي په ډول ستر کس هغوی ته راولیږی، دلته باید هغه روایت په فکر کي وي چي په هغه کي فرمایل سوي دي: ان لله ملائكة تجر الاهل الى الاهل.

او د پټک ساتلو شرف ورپه برخه وو: د حضرت ابودرداء رضی اللہ عنہ مراد د حضرت عبیدالله ابن مسعود رضی اللہ عنہ هغه ځانګړتیا ته اشاره کول مقصد وو چي هغه د رسول الله ﷺ د ذاتي خادم په حیثیت تل د رسول الله ﷺ په خدمت کي موجود وو، په سفر او حضر کي به له رسول الله ﷺ سره وو، چیري چي به رسول الله ﷺ کښېنستی نو د هغه ﷺ څپلۍ به یې له ځان سره اېښودلې، کله چي به رسول الله ﷺ د مجلس څخه ولاړ سو نو د رسول الله ﷺ څپلۍ به یې ور په پښو کولې، کله چي به رسول الله ﷺ د بېده کېدو اراده وکړل نو هغه به د رسول الله ﷺ بستره سمول، او د رسول الله ﷺ بالښت به یې راوړی، کله چي به رسول الله ﷺ د اوداسه لپاره ولاړېدی نو هغه به د اوداسه اوبه تیاري اېښودلې، په سفر او نورو وختو کي د رسول الله ﷺ د اوبو پټک به یې له ځان سره ساتی او د ضرورت په وخت کي به یې رسول الله ﷺ ته ورکوی، نو حضرت ابودرداء رضی اللہ عنہ حضرت علقمه رضی اللہ عنہ ته توجه ورکړل چي حضرت عبدالله ابن مسعود رضی اللہ عنہ ته د رسول الله ﷺ په ملګرتیا او خدمت کي چي کوم قربت او لزوم تر لاسه وو هغه د دین او شریعت په علم کي یقینا دومره لائق او دومره کامل جوړ کړی دی چي هیڅ طالب علم د هغه په پرېښودو سره بل چا ته د تللو ضرورت نه محسوسوي، په دې سره یو خو ددې خبري تائید کیږي چي علماؤ د شاګرد

د علم په ادبو کي بيان کړی دی چي شاګرد لره تر ټولو وړاندي د خپل ښار او خپلي سيمي د علماؤ څخه علم تر لاسه کول او د هغوی څخه ښه استفاده کول پکار دي، که د نور زيات علم تر لاسه کولو اراده وي نو بيا د نورو ښارو او سيمو سفر دي اختيار کړي.

دوهمه دا خبره معلومه سول که چيري يو عالم بل عالم تر ځان افضل ګڼي نو شاګرد ته دي د هغه حواله ورکړي،

يعني عمار رضي الله عنه، رسول الله ﷺ د حضرت عمار رضي الله عنه په طيب او مطيب سره تعبير وکړ، هغه ته يې د جنت زيرى ورکړی وو، او کله چي د دين دښمنانو هغه ته سخت تکليفونه ورسول تر دې چي يو واريې په اور کي غورځولی وو نو هغه وخت رسول الله ﷺ فرمايلي وه: اې اوره! د عمار لپاره يخ او د سلامتيا ذريعه جوړ سه، لکه څرنګه چي ته د ابراهيم عليه السلام لپاره يخ اود سلامتيا ذريعه جوړ سوې وې، يو وار رسول الله ﷺ هغه ته فرمايلي وه چي تا به د باغيانو ډله قتل کړي، ته به هغوی جنت ته رابولې او هغوی به تا اور ته رابولي، نو د حضرت عمار رضي الله عنه په حق کي د رسول الله ﷺ د دغه ارشاداتو او زيرو مطلب دا وو چي هغه پر حق لاره ثابت اوسي او شيطاني وسوسې د هغه لار خطا نه کړي، او حضرت ابو درداء رضي الله عنه يې په دغه خبري سره تعبير کړ چي الله جل جلاله د خپل پيغمبر ﷺ د ژبي مبارکي په ذريعه عمار رضي الله عنه ته د شيطان څخه پناه او امان ورکړی دی.

د حضرت عمار رضي الله عنه د پلار نوم ياسر رضي الله عنه او د مور نوم يې سميه دی، د ياسر هيواد يمن وو مګر مکې ته په راتللو سره دلته اوسېدی او دلته د ابو حذيفه بن مغيره سره چي د بنو مخزوم څخه وو دوستي کړې وه او د هغه د مينزي سميه سره يې نکاح کړې وه، حضرت عمار رضي الله عنه د همدغه سميه رضي الله عنها څخه پيدا سو، د هغه د پيدا کېدو وروسته ابو حذيفه هغه ازاد کړی وو او په دې اعتبار حضرت عمار رضي الله عنه ته د بنو مخزوم ازاد سوی غلام ويل کيږي، حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنه د هغه خلګو څخه دی چي تر ټولو مخکي يې اسلام قبول کړی دی، د اسلام په پيل کي د مکې کفارو چي کوم مسلمانان د خپل ظلم او ستم نښنه ګرځولي وه او د هغوی اسلام نه راوړلو لپاره يې سخت سخت تکليفونه ورکول په هغوی کي حضرت عمار رضي الله عنه هم وو، شقي القلب مشرکانو به هغه د اور په عذاب اخته کوی، رسول الله ﷺ به هغه ته ورتلی او د هغه پر سر او بدن به يې خپل مبارک لاس تېروی او فرمايل يې: يا نار کوني بردا وسلاما على عمار کما کنت على ابراهيم، اې اوره! پر عمار باندي يخ سه لکه څرنګه چي ته پر ابراهيم عليه السلام يخ سوی وې، حضرت عمار رضي الله عنه د لومړنيو مهاجرينو څخه دی، د بدر په غزا او نورو ټولو غزاوو کي يې ګډون کړی دی، په ۳۷ هجري کال کي په جنګ صفين کي د حضرت علي رضي الله عنه له خوا په جنګ کولو کي په شهادت

ورسېدی او هغه وخت یې عمر ۹۳ کاله وو.

یعني حذیفه، حضرت حذیفه رضي الله عنه ته صاحب سر رسول الله ﷺ ویل کیږي، ځکه چي رسول الله ﷺ هغه ته ډېر رازونه څرګند کړي وه، چي د هغه عام انکشاف ددیني او علمي حکمت په وجه مناسب نه وو، په هغه رازو کي یو راز دا وو چي رسول الله ﷺ د اسلام د هغه منافقینو نومونه د هغوی نسب او د نفاق نښي ښودلي وې، له دې کبله هغه ته په پوره توګه معلومه وه چي کوم سړی مخلص مسلمان نه دی بلکه منافق دی، منقول دی چي یوه ورځ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه پوښتنه ور څخه وکړل چي اې حذیفه! ایا ته په ما کي د نفاق یوه نښه وینې؟ حذیفه رضي الله عنه جواب ورکړ: نه، قسم په خدای! په تاسو کي ما ته هیڅ د نفاق نښه نه معلومیږي، مګر خلګ دا وایي چي ستاسو پر دسترخوان ډول ډول خوراکونه وي، مګر کله چي د هغه پلټنه وسول نو معلومه سول چي پر دسترخوان باندي یو څو هګۍ پرتې وې چي د ماتولو څخه وروسته د ژړ او سپین رنګ په صورت کي بېل بېل شیان معلومېدل، حضرت حذیفه رضي الله عنه په ۳۵ هجري کال کي د مدائن په ځای کي وفات سو او هلته دفن سو.

د ام سلمه او بلال رضي الله عنه فضیلت

﴿۵۹۴۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيتُ الْجَنَّةَ فَرَأَيْتُ امْرَأَةَ أَبِي طَلْحَةَ ثُمَّ سَمِعْتُ خَشْخَشَةً أَمَامِي فَإِذَا بِلَالٌ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته جنت وښودل سو ما هلته د ابو طلحه رضي الله عنه ښځه ولیدل او خپل تر مخه مي د پښو آواز واورېدی چي هغه بلال رضي الله عنه وو. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۱۴\۱۹۰۸، رقم: ۱۰۶ – ۲۴۵۷.

تشریح: د ابو طلحه د ښځي څخه مراد بي بي ام سلیم رضي الله عنها ده، چي د حضرت انس رضي الله عنه مور ده، د هغې د نامه په اړه مختلف اقوال دي، د هغې لومړی نکاح د مالک بن نضر سره سوې وه او د هغې څخه حضرت انس رضي الله عنه پیدا سو، مالک بن نضر مشرک وو او د شرک په حالت کي ووژل سو، د هغه څخه وروسته ام سلیم رضي الله عنها مسلمانه سول او ابو طلحه رضي الله عنه هغې ته د نکاح پیغام ولیږی، تر هغه وخته پوري ابو طلحه رضي الله عنه اسلام نه وو قبول کړی، ام سلیم د هغه پیغام رد کړ او هغه ته یې د اسلام دعوت ورکړ، ابو طلحه رضي الله عنه اسلام قبول کړ نو ام سلمه رضي الله عنها ورسره نکاح وکړل او ورته یې وویل: زه خپل ځان ستا د اسلام په عوض کي ستا په زوجیت کي ورکوم، ستا د اسلام قبلول

زما مهر دی. رضي الله عنها.

حضرت بلال رضی اللہ عنہ د ابورباح زوی او د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ ازاد سوی غلام دی، ډېر قدیم الاسلام دی، په مکه کي تر ټولو مخکي د خپل اسلام اعلان کوونکی دی، د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم خاص مؤذن وو، د بدر په غزا کي او دهغه څخه وروسته په نورو غزاوو کي یې ګډون کړی دی، په پای کي شام ته ولاړ او هلته یې هستوګنه اختیار کړل، په ۲۰ هجري کال، دمشق کي وفات سو او په باب الصغیر کي دفن کړل سو، هغه وخت د نوموړي عمر ۶۳ کاله وو، د هغه هیڅوک وارث پاته نه سو، د صحابه کرامو او تابعینو یوې ډلې ته د هغه څخه د رواَیت کولو شرف حاصل دی، حضرت بلال رضی اللہ عنہ هم په هغه خلګو کي دی چي د اسلام قبلولو په بدله کي یې د مکې د کفارو په لاس سخت تکلیفونه وزغمل، امیه بن خلف ورته سخت تکلیفونه ورسول، او د تقدیر الهي سره داسي وسول چي د بدر په غزا کي هغه د حضرت بلال رضی اللہ عنہ په لاس دوږخ ته ورسېدی، په یوه روایت کي حضرت جابر رضی اللہ عنہ بیان کوي چي حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ به فرمایل: ابوبکر سیدنا واعتق سیدنا، یعني ابوبکر رضی اللہ عنہ زموږ بادار دی او هغه زموږ بادار (بلال رضی اللہ عنہ) ازاد کړ، امام احمد په خپل مسند کي نقل کړی دی چي تر ټولو مخکي کومو خلګو د اسلام ښکارندونه وکړل هغه اووه دي: ۱: رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم، ۲: حضرتِ ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ، ۳: حضرت عمار رضی اللہ عنہ، ۴: د حضرت عمار رضی اللہ عنہ مور بي بي سمیه رضی اللہ عنہا، ۵: حضرت صهیب رضی اللہ عنہ، ۶: حضرت بلال رضی اللہ عنہ، ۷: او حضرت مقداد رضی اللہ عنہ. نو الله جل جلاله، رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د دین د دښمنانو د تکلیفو څخه د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د اکا ابوطالب په ذریعه خوندي وساتی او حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ ته د هغه د قبیلې او کورنۍ په سبب تحفظ تر لاسه سو، پاته پنځه کسان د مشرکانو د ظلم او ستم ښکار سول، هغوی ظالمانو به هغوی ته سختي سزاوي ورکولې تر دې چي په هغوی به یې د اوسپني زغري واغوستلې او په لمر کي به یې وغورځول، بیا په دغه پنځو کسانو کي ماسوا د حضرت بلال رضی اللہ عنہ څخه هر یوه ته الله جل جلاله د مشرکانو څخه خلاصون ورکړ او هغوی یې عزتمند وګرځول مګر بلال رضی اللہ عنہ کمزوری او لاچاره وو، د الله جل جلاله په لاره کي د سختیو او تکلیفو څخه د هغه ساتونکې کورنۍ او قبیله نه وه، د مشرکینو د ظلم څخه هغه سخت په تکلیف وو، هغه د مکې بدمعاشانو ته وسپارل سو او هغوی د مکې په کوڅو کي کشوی مګر د هغه پر ژبه د احد احد (الله جل جلاله یو دی) نعره وه.

﴿۵۹۴۲﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ نَفَرٍ فَقَالَ

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ سره موږ شپږ کسان وو ،

الْمُشْرِكُونَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطْرُدْ هَؤُلَاءِ لَا يَجْتَرِئُونَ عَلَيْنَا قَالَ

مشرکانو نبي کریم ﷺ ته وویل ته دا خلک د خپل مجلس څخه ولاړ کړه چي دوی پر موږ زړه ور نسي، سعد رضي الله عنه وایي

وَكُنْتُ أَنَا وَابْنُ مَسْعُودٍ وَرَجُلٌ مِنْ هُذَيْلٍ وَبِلَالٌ وَرَجُلَانِ لَسْتُ أُسَمِّيهِمَا

زه په هغه صحبت کي وم ، ابن مسعود رضي الله عنه د قبیله هذیله یو سړی وو او بلال رضي الله عنه وو او دوه خلک نور وه چي د هغوی نوم ما وانه خیست،

فَوَقَعَ فِي نَفْسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقَعَ فَحَدَّثَ

د کفارو د دغي غوښتني سره د رسول الله ﷺ په زړه کي یوه خبره پیدا سوه یعني هغه خبره کومه چي خدای جل جلاله وغوښتل ، رسول الله ﷺ په خپل زړه کي فکر وکړ او غوریې وکړ چي

نَفْسَهُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ. رواه مسلم.

دا آیت نازل سو (ولا تطرد الذین یدعون ربهم .....)، (او هغه د خپل مجلس څخه مه ولاړوه چي سهار او ماښام د خدای جل جلاله د رضا تر لاسه کولو لپاره خپل پروردګار یادوي). مسلم

تخریج: صحيح مسلم ۴\۱۸۷۸، رقم: ۴۶ – ۲۴۱۳.

تشریح: دوه کسان نور: په دې اړه شارحینو لیکلي دي چي هغه دوه کسان حضرت خباب بن ارت رضي الله عنه او حضرت عمار بن یاسر رضي الله عنه وو، او بیان کوونکي چي دا وویل چي د هغوی نومونه زه نه نیسم نو دا خبره هغه له دې کبله وکړل چي د خپل یو حکمت په وجه د هغوی نومونه یادول یې نه غوښتل یا څرنګه چي ځینو حضراتو لیکلي دي چي هغه دغه دواړه نومونه ځکه ونه ښودل چي د حدیث د روایت په وخت کي هغه ته یاد نه وه چي هغه دوه کسان څوک وه ، د روایت د الفاظو څخه لومړی قول زیات صحیح معلومیږي .

د رسول الله ﷺ په فکر کي هغه خبره راغلل ، یعني د قریشو د هغه مشرانو او د خپل ټولنیز غوره والي او عزت په زعم کي دا خبره یې نه خوښول چي هغوی د الله جل جلاله رسول ته راسي او د

رسول الله ﷺ په مجلس کي کښېني او په هغه مجلس کي دي هغه مسلمانان هم موجود وي او د برابرۍ پر سطح دي په مجلس کي ګډون کونکي وي چي هغوی یو وخت غلامان وه، او په دې اعتبار د مکې د قریشو په نېولنیز ژوند کي هغوی سپک ګڼل کېدل نو رسول الله ﷺ په دې فکر کي چي کیدای سي د قریشو مشرانو ته د اسلام د قبولیت توفیق په برخه سي، د هغوی د خبري د خیال ساتلو اراده وفرمایل، په دې کي هیڅ شک نسته چي مسئله ډېره اهمه وه، یوې خوا ته خو د رسول الله ﷺ دا سخت خواهش وو چي دومره لوی لوی مشران اسلام قبول کړي، بلې خوا ته د هغوی غوښتنه داسي وه چي په هغه سره د ځینو مخلصو او ځان قربانونکو مسلمانانو سپکاوی کېدی، نو رسول الله ﷺ داسي تدبیر وکړ چي په هغه سره د سزدارانو تالیف قلب هم وسي چي په پای کي د هغوی د اسلام قبلولو باعث سي او د اسلام په نظر کي د هغه مخلصو مسلمانانو چي کوم عزت او توقیر دی هغه ته هم خوندیتوب په برخه وي، دغه صورت به د رسول الله ﷺ په ذهن کي راغلی وي چي کله هغه د قریشو مشران د رسول الله ﷺ په مجلس کي ناست وي نو هغه مسلمانان دي خپله مجلس ته نه رائي یا که چیري هغوی د مخکي څخه په مجلس کي موجود وي او د قریشو سرداران راسي نو هغوی دي خپله ولاړ سي، مګر الله ﷻ د هغه مخلصو او رېښتینو مسلمانانو د عزت او توقیر قائم ساتلو دپاره دغه صورت هم ناخوښه کړ او د ذکر سوي آیت په ذریعه یې ښکاره کړل چي ددغه قریشو د سردارانو مطالبه په هیڅ صورت کي د قبلولو وړ نه ده.

﴿۵۹۴۳﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا أَبَا مُوسَى لَقَدْ أُعطيت مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ. متفق عليه.

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل: اې ابو موسی! تا ته د داؤد علیه السلام خوش آوازي درکړل سوې ده. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۹۲/۹، رقم: ۵۰۴۸، ومسلم ۵۴۶/۱، رقم: ۲۳۵-۷۹۳.

تشریح: مزمار په اصل کي سروز یعني تولۍ (نل) ته وایي او دف د دریه یا بل شي سره غزلي ویلو ته وایي نه محض په آواز سره غزلي ویلو ته، مګر دلته په حدیث کي ددغه لفظ څخه یوازي خوش آوازي او خوش الحاني مراد ده او د آل داؤد څخه مراد خپله د حضرت داؤد علیه السلام ذات دی، د آل لفظ زائد دی ځکه چي د خوش آوازۍ صفت د حضرت داؤد علیه السلام سره خاص دی نه

د آل داؤد سره، ځینو حضراتو لیکلي دي چي دلته د آل لفظ د شخص واحد په معنی کي دی او هغه خپله د حضرت داؤد علیه السلام ذات دی، په هر حال مشهور پیغمبر حضرت داؤد علیه السلام ډېر خوش آوازه وو، الله جل جلاله، حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته هم د خوش آوازۍ صفت ورکړی وو، کله چي هغه په خپل ښکلي آواز کي د قرآن کریم تلاوت کوی نو رسول الله ﷺ به په ډېر شوق سره هغه تلاوت اورېدی.

حضرت ابوموسی رضي الله عنه : د نوموړي اصلي نوم عبدالله بن قیس اشعري دی، د ابوموسی په کنیت سره مشهور دی، هغه په مکه کي اسلام قبول کړی وو او حبشې ته په هجرت کوونکو کي شامل وو، وروسته د حبشې څخه د رسول الله ﷺ په خدمت کي هغه وخت راغلی کله چي رسول الله ﷺ په خیبر کي وو ، امیر المؤمنین حضرت عمر رضي الله عنه په ۲۰ هجري کال کي هغه د بصرې حاکم ټاکلی وو ، او بیا په معزول کېدو سره د بصرې هستوګنه یې پرېښودل او کوفې ته راغلی، کله چي د کوفې اوسېدونکو سعید بن عاص د هغه ځای څخه وایستی او حضرت عثمان غني رضي الله عنه ته یې درخواست وکړ چي ابوموسی رضي الله عنه زموږ حاکم وټاکي نو حضرت عثمان رضي الله عنه هغه په دوهم وار د کوفې حاکم وټاکی، د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته حضرت علي رضي الله عنه هغه معزول کړ او بیا د تحکیم د پېښي څخه وروسته حضرت ابوموسی رضي الله عنه مکې ته منتقل سو او هلته په ۵۴ هجري کال کي وفات سو .

د څلورو حافظانو ذکر

﴿۵۹۴۴﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَمَعَ الْقُرْآنَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَةٌ أُبَيّ بن كعب وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَأَبُو زَيْدٍ قِيلَ لِأَنَسٍ مَنْ أَبُو زَيْدٍ قَالَ أَحَدُ عُمُومَتِي. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي څلورو کسانو قرآن کریم جمع کړ یعني ابی بن کعب، معاذبن جبل ، زیدبن ثابت او ا بوزید رضي الله عنهم، د انس رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول چي ابوزید رضي الله عنه څوک دی ؟ هغه ورته وویل زما یو اکا دی . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۲۷\۷، رقم: ۳۸۱۰، ومسلم ۴\ ۱۹۱۴، رقم: ۱۱۹- ۲۴۶۵.

تشریح: د حضرت ابوزید رضي الله عنه په نامه کي اختلاف دی ځینو سعید بن عمیر لیکلی دی او ځینو قیس بن سکن. دغه څلور صحابه کرام د مدینې د انصارو د خزرج قبیلې سره تعلق درلود چي د

حضرت انس رضی اللہ عنہ قبیله ده ، له دې کبله ویل کیږي چي حضرت انس رضی اللہ عنہ کومه خبره کړې ده هغه
یې د فخر په توګه کړې ده چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي زموږ د قبیلې څلورو کسانو ته د ټول
قرآن کریم د یادېدو سعادت په برخه وو ، او که د هغه الفاظ پر-فخر نه بلکه پر عام بیان باندي
محمول کړل سي نو بیا هم په دغه الفاظو کي داسي تصریح نسته چي د هغه په وجه دا وویل سي
چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي د ذکر سوو څلورو صحابه کرامو څخه ماسوا بل صحابي د ټول
قرآن کریم حافظ نه وو ، یوه خبره خو داده چي په داسي ځایو کي د عدد مفهوم خاص اعتبار نه
لري، دوهم دا چي د صحابه کرامو یوې لوی ډلې ته د قرآن کریم حافظ کېدل د صحیح حدیثونو
څخه ثابت دي، په هغو کي یو حدیث خو هغه دی چي په هغه کي ذکر سوی دی چي په یمامه کي
کوم اوویا صحابه کرام شهیدان کړل سول په هغوی کي هغه صحابه کرام هم وه چي هغوی ټول
قرآن کریم یاد کړی وو ، او خپله خلفاء اربعه هم د قرآن کریم په حافظانو کي شامل دي .

د معصب بن عمير رضی اللہ عنہ فضيلت

﴿۵۹۴۵﴾: وَعَنْ خَبَّابِ بْنِ الْاَرَتِّ قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت خباب بن ارت رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره هجرت کړی وو

وَسَلَّمَ نَبْتَغِي وَجْهَ اللّٰهِ تعالى فوقع أَجْرُنَا عَلَى اللّٰهِ فَمِنَّا مَنْ مَضَى لَمْ يَأْكُلْ

د خدای جل جلالہ د رضا تر لاسه کولو لپاره نو زموږ اجر پر خدای جل جلالہ ثابت او قائم سو ، بیا ځیني خلک په
موږ کي داسي دي چي تر دنیا تېر سول او د دنیاوي اجر څخه هیڅ په لاس ورنه غلل

مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ فَلَمْ نَجِدْ شَيْئًا ما

لکه مصعب بن عمیر چي د احد د غزا په ورځ شهید سو او د هغه لپاره پر ته د تور کمبل څخه د

يكفن فِيهِ إِلَّا نَمِرَةً كُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ فَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ

کفن لپاره بله هیڅ جامه پیدا نه سوه او هغه کمبل هم داسي وه چي موږ سر ورپټوی نو پښې به یې
ښکاره سوې او که به مو پښې ورپټولې

خَرَجَ رَأْسُهُ فقال النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ غطوا بِهَا رَأْسَهُ وجعلوا عَلَى
رِجْلَيْهِ مِنَ الاذْخِرِ وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا. متفق عليه.

نو سر به يې ښکاره سو ، ددې ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : سر په کمبل ور پټ کړئ او پر پښو وابنه ور واچوئ، او ځيني په موږ کي هغه دي چي د هغوی ميوه پخه سوه او هغوی هغه ميوه خوري . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۲۲۶، رقم: ۳۸۹۸، ومسلم ۲\۶۴۹، رقم: ۴۴- ۹۴۰.

د لغاتو حل: نمرة: اي کساء غليظ فيه خطوط بيض وسود الاذخر: نبت طيب الرائحة.

تشريح: هيڅوک د اجر او انعام تر لاسه کولو پرته: يعني هغه خلک د دين په لاره کي د سختو تکليفو وروسته له دنيا څخه په داسي حال کي رخصت سول چي تر اوسه د فتوحاتو او د مسلمانانو د پراختيا پيل سوی نه وو او دهغه په نتيجه کي تر لاسه کېدونکي مالونه د هغوی په برخه نه سول کوم چي په دغه زمانه کي خلگو ته تر لاسه کيږي نو دهغوی پوره اجر به هغوی ته په آخرت کي ورکول کيږي .

او هغوی مېوه چڼ کوي: دا د غنيمت د مال څخه کنايه ده يعني دا هغه خلک دي چي د فتوحاتو او پراختيا زمانه يې تر لاسه نه کړل او د هغه په نتيجه کي چي کوم د غنيمت مال ور په برخه سو د هغه څخه خپله برخه تر لاسه کوي، د حضرت خباب ﷺ د وينا مطلب دادی چي په موږ کي ځيني خلک خو هغه دي چي هغوی د الله ﷻ په لاره کي جهاد وکړ ، قرباني يې ورکړل او بيا د اسلام د عظيمو او پراخو فتوحاتو څخه وروسته په مال او زر سره ونازول سول نو د هغه څخه د ګټي اخستني موقع په لاس ورغلل، او د هغوی په مقابله کي ځيني خلک هغه دي چي هغوی د الله ﷻ په لاره کي ستري قرباني ورکړې او سخت تکليفونه يې پر ځان وګالل او د هغو ثمره په دنيا کي تر لاسه کولو څخه مخکي له دنيا څخه رخصت سول او همدارنګه د هغوی ټول ثواب پاته سو چي هغوی ته به په آخرت کي ورکول کيږي او په هغه خلگو کي معصب بن عمير ﷺ هم دی، ددغه حديث د حضرت معصب بن عمير ﷺ د فضيلت بيان دی چي هغه د هغو خلگو څخه دی چي د هغوی اخروي ثواب هم قائم دی او د هغه څخه هيڅ هم کم نه سول ، په يوه حديث کي راغلي دي چي کوم مجاهدين د الله ﷻ په لاره کي جهاد کوي او په هغه جهاد کي د غنيمت مال تر لاسه کړي نو هغوی ته دوې برخي ثواب په دنيا کي تر لاسه کيږي او يوه برخه ثواب به يې پاته کيږي چي هغه ته به په آخرت کي ورکول کيږي .

حضرت معصب بن عمير ﷺ : حضرت معصب بن عمير ﷺ قرشي عبدري دی، د سترو صحابه کرامو څخه دی، هغه د رسول الله ﷺ دارارقم ته د راتلو څخه مخکي په مکه کي اسلام قبول کړی وو او په هجرت کولو سره حبشې ولاړی، بيا يې د بدر په غزا کي ګډون وکړ ، رسول

الله ﷺ هغه د عقبه ثانيه څخه وروسته مدينې ته واستوی او هلته د مدينې خلکو ته د قرآن کريم او دين ښودنې خدمت يې هغه ته وسپاری، د هجرت نبوي څخه مخکې په مدينه کې چا چې تر ټولو مخکې د جمعې خطبه وويل هغه معصب بن عمير ؓ دی، د جاهليت په زمانه کې معصب بن عمير ؓ ډېر د عيش او آرام ژوند تېروی، غوره جامې يې اغوستلې، مګر کله چې مسلمان سو نو زهد يې اختيار کړ او ددنيا هر ډول عيش او آرام څخه يې لاس واخيست، په حديث کې راغلي دي چې د هغه پر بدن يوازې يوه کمبله وه او پر ملا يې د پسه د پوست تسمه تړلې وه، رسول الله ﷺ چې هغه ولېدی نو ناستو کسانو ته يې وفرمايل: دغه سړي ته وګورئ، د ده زړه د الله ﷻ په نور سره روښانه سوی دی، ما دغه سړی په مکه کې په داسې حال ليدلی دی چې دده مور او پلار په ده غوره شيان خوړل او ما دده پر بدن داسې جامې ليدلي دي چې په دوه درهمه رانيول کېدی، مګر اوس الله ﷻ او د هغه د رسول مينې دغه حالت ته رسولی دی چې تاسو يې وينئ، ځينو حضراتو ويلي دي چې رسول الله ﷺ، حضرت معصب بن عمير ؓ د عقبه اولی څخه وروسته مدينې ته ليږلی وو، هلته د اسلام د دعوت لپاره کور په کور ګرځېدی او هغوی ته يې تبليغ کوی او د هغوی د مسلمان کېدو پوره هڅه يې کول، د هغه د هڅو په نتيجه کې يو يو، دوه دوه به مسلمانان کېدل تر دې چې په مدينه کې د اسلام نور خپور سو او د مدينې د اوسېدونکو ډېر خلګ د اسلام په دائره کې داخل سول، بيا هغه په مدينه کې جمعه قائمه کړل (يعني د جمعې دلمانځه) اجازه د رسول الله ﷺ څخه تر لاسه کړل، ددې وروسته حضرت معصب ؓ له اوويا کسانو سره مکې ته راغلی، او د عقبه ثانيه په وخت کې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو، د قرآن کريم دغه آيت: (من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه) دهمدغه معصب بن عمير ؓ په شان کې نازل سوی دی.

د سعد بن معاذ ؓ فضيلت

﴿۵۹۴۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اهْتَزَّ الْعَرْشُ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ. وفي رواية اهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمَنِ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ. متفق عليه.

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چې د سعد ؓ پر مرګ عرش الهي حرکت وکړ، او په يوه روايت کې دي چې د سعد بن معاذ ؓ له مرګه د رحمان عرش

و شړقېدی. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۲۲، رقم: ۳۸۰۳، ومسلم ۴\۱۹۱۵، رقم: ۱۲۴- ۲۴۶۶.

تشریح: په دې اړه د حدیث د شارحینو مختلف قولونه دي چي د عرش د ښورېدو څه معنی ده او د هغه د ښورېدو څه سبب وو؟ په یوه قول کي دا معنی بیان سوې ده چي کله حضرت سعد ﷛ وفات سو نو عرش الهي د خوشحالۍ څخه چي پاک روح راځي وښورېدی، په یوه قول کي دا ویل سوي دي چي د عرش ښورېدو الفاظ په اصل کي د حضرت سعد ﷛ د پاک روح راتللو په سبب د عرش الهي د حقیقي یا مجازي فرح ونشاط څخه کنایه ده، مګر زیاته صحیح خبره داده چي د ښورېدو الفاظ پر حقیقي معنی محمول کړل سي لکه څرنګه چي د لومړني قول څخه ثابتیږي او ددې بنیاد دادی چي الله ﷻ په جماداتو کي هم د علم او تمیز ماده اېښې ده چي د هغه ثبوت د قرآن کریم ددغه الفاظو: (وان منها لما یهبط من خشیة الله) څخه هم حاصلیږي او د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد څخه هم چي رسول الله ﷺ د احد د غره په اړه فرمایلي وه: دا هغه غر دی چي زموږ سره مینه لري، د ځینو حضراتو وینا ده چي د عرش د ښورېدو څخه مراد د اهل عرش یعني ملائکو خوشحاله کېدل دي، ځیني حضرات وایي چي رسول الله ﷺ د حضرت سعد ﷛ د مرګ پېښه د عرش په ښورېدو سره تعبیر کړل، او ځیني حضرات وایي چي دغه الفاظ د حضرت سعد ﷛ د وفات د ستري پېښي څخه کنایه ده لکه څرنګه چي یو ډېر اهم او لوی کس وفات سي نو خلګ وایي د هغه په وفات سره په دنیا کي تیاره خپره سول، یا داسي وایي چي د فلاني په مرګ قیامت راغلی.

حضرت سعد بن معاذ ﷛: حضرت سعد بن معاذ بن نعمان ﷛ د مدینې له انصارو څخه دی، نوموړی اشهلي اوسي دی، د هغه شمېر له سترو صحابه کرامو څخه کیږي، نوموړي په مدینه کي د حضرت معصب بن عمیر ﷛ په لاس اسلام راوړی وو چي رسول الله ﷺ د خپل هجرت څخه مخکي ددین د تبلیغ او تعلیم لپاره مدینې ته استولی وو، د حضرت سعد ﷛ د اسلام راوړلو په سبب د هغه ټوله کورنۍ بني عبدالاشهل د اسلام په دائره کي داخل سول، رسول الله ﷺ هغه ته د سیدالانصار خطاب ورکړی وو، د بدر او اُحد په غزاوو کي یې ګډون کړی دی او د احد په ورځ په مېړانه سره ثابت قدمه پاته سو او د رسول الله ﷺ له خوا څخه به هیڅکله نه لیري کېدی، د خندق په غزا کي د هغه پر رګ غشی ولګېدی چي د هغه څخه وینه جاري سول او په هیڅ ډول بنده نه سول تر دې چي د هغه په سبب تقریبا یوه میاشت وروسته د ذي قعده په میاشت کي په پنځم هجري کال وفات سو، هغه وخت د نوموړي عمر ۳۷ کاله وو او په

بقیع کي خاورو ته وسپارل سو، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ وفرمایل: د سعد رضی الله عنه پر مرګ اوویا زره ملائکي راکښته سوې او عرش وښوریدی.

﴿۵۹۴۷﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ أُهْدِيَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةُ حَرِيرٍ فَجَعَلَ أَصْحَابُهُ يَمَسُّونَهَا وَيَعْجَبُونَ مِنْ لِينِهَا فَقَالَ أَتَعْجَبُونَ مِنْ لِينِ هٰذِهِ لَمَنَادِيلُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الجنة خَيْرٌ مِنْهَا وَأَلْيَنُ. متفق علیه

د حضرت براء رضی الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي د ریښمینو جامو یوه جوړه د تحفې په توګه راولیږل سوه، د رسول الله ﷺ صحابه کرامو به هغه جامه مس کول او د هغه پر نرمۍ به حیران وه، رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو ددې پر نرمۍ حیرانیږئ په جنت کي د سعد بن معاذ رضی الله عنه دسمالونه تر دې غوره او ډیر زیات نرم دي. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\ ۱۲۲، رقم: ۳۸۰۲، ومسلم ۴\ ۱۹۱۶، رقم: ۱۲۶ – ۲۴۶۸.

تشریح: د تعجب او حیرانۍ اظهار یې پیل کړ، په یوه روایت کي راغلي دي چي صحابه کرامو دومره غوره جامې هیڅکله لیدلي نه وې ځکه د هغه جامو په لېدو سره یې ډېر تعجب وکړ او وه یې ویل: دغه جامه پر رسول الله ﷺ باندي د آسمان څخه نازله سوې ده.

منادیل د مندیل جمع ده او مندیل هغه دستمال ته وایي چي د هغه څخه د لاس او نورو اندامو وچولو کار اخیستل کیږي، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ دمندیل په ذکر کولو سره څرګنده کړل چي د جنت د جامو داسي کوچني شیان ددنیا له قیمتي او غوره جامو څخه هم اعلی او افضل دي نو د هغه ځای د جامو به څه پوښتنه کوئ.

د حضرت انس رضی الله عنه په حق کي دعاء

﴿۵۹۴۸﴾: وَعَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَسٌ خَادِمُكَ ادْعُ اللّٰهَ لَهُ

د حضرت ام سلیم (رض) څخه روایت دی چي هغې عرض وکړ اې دالله رسوله! انس رضی الله عنه ستاسو خادم دی دده لپاره د خدای جل جلاله څخه دعاء وغواړئ،

قَالَ اللّٰهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ قَالَ أَنَسٌ فَوَاللّٰهِ إِنَّ مَالِي

ته ورکوي په هغه کي برکت واچوې، دانس رضي الله عنه بيان دی چي قسم په خدای زما مال

لَكَثِيرٌ وَإِنَّ وَلَدِي وَوَلَدَ وَلَدِي لَيَتَعَادُّونَ عَلَى نَحْوِ الْمِائَةِ الْيَوْمَ. متفق عليه

ډير دی او زما اولاد او د اولاد اولاد نن په شمير سلو ته نژدې دي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۳٦، رقم: ٦۳۳۴، ومسلم ۴\۱۹۲۹، رقم: ۱۴۳- ۲۴۸۱.

تشريح: نن په شمېر کي سلو ته نژدې دی: حضرت انس رضي الله عنه د خپل بېله واسطې او بالواسطه دغه شمېر هغه وخت بيان کړ کله چي هغه ددې خبري ذکر کړی وو، ددې څخه وروسته د هغه په اولاد کي نور هم زياتوب وسو، ابن حجر د حضرت انس رضي الله عنه څخه هغه روايت نقل کړی دی چي د هغه ورځي څخه ډېر وخت وروسته يې بيان کړی وو او په هغه کي يې ويلي وه چي الله جل جلاله زما د اولاد د اولاد څخه ماسوا چي کوم اولاد بېله واسطې زما د ملا څخه ما ته راکړی دی هغوی په شمېر کي يو سل او پنځه ويشت دي چي په هغو کي دوې انجوني او پاته ټول هلکان دي او زما په مال کي د برکت دومره عالم دی چي زما باغونه په کال کي دوه واره ميوه کوي او د حضرت انس رضي الله عنه يو زوی بيان وکړ چي د والد محترم، حضرت انس رضي الله عنه د صلبي اولاد څخه چي ما ښخ کړي دي د هغوی شمېر د سلو شاوخوا دی.

ددې څخه معلومه سول چي مال او اولاد د الله جل جلاله لوی نعمت دی په شرط ددې چي هغه د ياد الهي څخه د غفلت او د ګناه سبب نه سي، امام نووي رحمة الله عليه ليکلي دي دا په اصل کي د رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه معجزه ده او دغه حديث د هغه حضراتو په حق کي دی چي پر فقير او مفلس باندي د غني او شتمن د فضيلت قائل دي مګر د نورو حضراتو له خوا ددې په جواب کي دا ويل کيږي چي ددغه معاملې خاص نوعيت دی او هغه دا چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د حضرت انس رضي الله عنه په حق کي دعاء وکړل او دهغه دعاء په وجه د هغه په مال کي برکت پيدا سو او کله چي د برکت الهي دخل وسو نو د هغه مال هغه اړخ ولاړی کوم ته چي د شريعت په نظر کي فتنه ويل کيږي نو هغه مال د حضرت انس رضي الله عنه په حق کي نه خو د تقصير او خرابۍ باعث جوړ سو او نه د الله جل جلاله په حقوقو کي د کوتاهۍ سبب، له دې کبله علماؤ ليکلي دي چي د دغه حديث څخه ددې خبري استحباب ثابتيږي چي کوم څوک له دنيا سره د تعلق لرونکي يو شي دعاء وغواړي نو په هغه دعاء کي دي برکت هم شامل کړي يعني د الله جل جلاله څخه دا دي شي غوښتنه دي هم وکړي چي اې الله! په دغه شي کي ما ته برکت راکړې او ما د هغه د فتنې او آفاتو څخه خوندي کړې.

حضرت انس رضي الله عنه: حضرت انس رضي الله عنه بن مالک بن نضر د مدينې اوسېدونکی او خزرجي دی،

ابو حمزه يې کنيت دی ، نوموړی خپلي مور د رسول الله ﷺ په خدمت کې هغه وخت وړاندي کړی وو کله چي هغه د دوولسو کالو وو ، نوموړی د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي د بصرې هستوګنه ددې لپاره اختيار کړل چي د هغه ځای اوسېدونکو ته د دين علم وښيي او په بصره کي په ۹۱م هجري کال کي وفات سو ، هغه وخت يې عمر ۱۰۳ کاله وو ، په بصره کي د وفات کېدونکو صحابه کرامو څخه انس رضي الله عنه اخري صحابي دی ، ابن عبد البر رحمة الله عليه نقل کړي دي چي د حضرت انس رضي الله عنه د زامنو شمېر سل وو ، او دا قول زيات صحيح دی ، ځينو حضراتو ليکلي دي چي د هغه د اولاد شمېر اتيا وو ، چي په هغه کي ۷۸ زامن او دوې لوڼي وې ، ددې مطلب دا سو چي ابن حجر رحمة الله عليه کوم روايت نقل کړی دی او په هغه کي د حضرت انس رضي الله عنه د اولاد شمېر ۱۲۵ بيان سوی دی ، نو دغه روايت نه يوازي دا چي د هغه روايتو خلاف ګرځي چي په هغه کي د اولاد شمېر سل او اتيا بيان سوی دی بلکه د ذکر سوي حديث هم مخالف معلومېږي ځکه د دغه الفاظ پر دې دلالت کوي چي د حضرت انس رضي الله عنه بلا واسطه او بالواسطه د اولاد مجموعي شمېر سل يا تر سلو زيات وو ، نه دا چي دغه شمېر يوازي د هغه بلاواسطه اولاد دی ، والله اعلم .

د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۹۴۹﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِأَحَدٍ يَمْشِي عَلَى وجه الْأَرْضِ إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ. متفق عليه

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما هيڅکله د يو سړي په اړه د رسول الله ﷺ څخه دا نه دي اورېدلي چي هغه پر مځکه ګرځي او جنتي وي، مګر د عبدالله بن سلام رضي الله عنه په اړه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\ ۱۲۸، رقم: ۳۸۱۲، ومسلم ۱۴\ ۱۹۳۰. رقم: ۱۴۷- ۲۴۸۳.

تشريح: حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه ډېر ستر صحابي دی، د هغه د نسب لړۍ د حضرت يوسف عليه السلام سره يو ځای کيږي، نوموړی مخکي يهودي وو او په يهودو کي لوی عالم شمېرل کېدی، بيا الله جل جلاله هدايت ور په برخه کړ او د اسلام په دائره کي په داخلېدو سره د اسلام او مسلمانانو ستر خدمتونه يې ورکړل، د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه په اړه حضرت سعد رضي الله عنه

وايي: مايوازي دده په اړه د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې څخه دغه زيرى اورېدلى دى چې عبدالله بن سلام رضي الله عنه جنتي دى.

پر مځکه باندې ګرځي: دغه صفت د اعزاز دى يعني حضرت سعد رضي الله عنه دغه الفاظ ځکه وويل چې د عشره مبشره څخه د هغه حضراتو استثنى وکړي کوم چې د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه څخه مخکې وفات سوي دي، يعني د هغه مطلب دا وو چې دغه وخت د مځکې پر مخ باندې کوم خلګ ژوندي دي په هغوى کې يوازې عبدالله بن سلام رضي الله عنه هغه کس دى چې هغه په اړه ما د رسول الله ﷺ څخه په خپلو غوږو اورېدلي دي چې هغه جنتي دى.

نووي رحمة الله عليه ليکلي دي: دغه حديث د هغه روايت خلاف نه دى چې په هغه کې د حضرت ابوبکر صديق، حضرت عمر او نورو لسو صحابه کرامو رضي الله عنهم په اړه د جنتي کېدو زيرى مذکور دى ځکه چې حضرت سعد رضي الله عنه محض د خپل اورېدو نفي کړې ده يعني هغه دا بيان کړى دى چې ما د رسول الله ﷺ د ژبې څخه دغه زيرى يوازې د عبدالله بن سلام رضي الله عنه په اړه اورېدلى دى او دبل چا په اړه مې نه دى اورېدلى نو دبل چا په اړه د هغه نه اورېدل ددې خبرې دليل نه سي کېداى چې د جنتي کېدو زيرى د عبدالله بن سلام رضي الله عنه څخه ماسوا بل سړي ته ورکړل سوى نه دى، ددې څخه ماسوا دا خبره هم بايد په ذهن کې وي چې کله د يوې پېښې په اړه نفي او اثبات دواړه څرګندونکي روايات موجود وي نو ترجيح به هغه روايت ته ورکول کېږي چې د هغه څخه اثبات معلوميږي.

په هر حال حقيقت دادى چې رسول الله ﷺ د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه څخه ماسوا د نورو ډېرو صحابه کرامو د جنتي کېدو زيرى ورکړى دى چې په هغوى کې تر ټولو زيات مشهور هغه لس صحابه کرام دي چې هغوى ددغه زيرى په وجه عشره مبشره سره نومول کېږي، او خپله حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه هم په هغوى کې شامل دى، نو ددغه حديث په اړه چې کوم سوال پيدا کېږي د هغه ازاله په ذکر سوي وضاحت سره کېږي، شارحينو نورې خبرې هم ليکلي دي د مثال په توګه دا کېداى سي چې کله حضرت سعد رضي الله عنه د عبدالله بن سلام رضي الله عنه څخه ماسوا د بل چا په حق کې د ذکر سوي زيرى د اورېدو نفي کړې وي نو هغه وخت به دغه زيرى رسول الله ﷺ نورو ته نه وي ورکړى يا دا چې حضرت سعد رضي الله عنه دغه نفي هغه وخت کړې وي کله چې پاته زيرى ورکونکي صحابه کرام له دنيا څخه رخصت سوي وي. نو په تاريخي توګه ثابته ده چې حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه د هغه صحابه کرامو څخه وروسته ژوندى وو او کله چې هغه وفات سو نو د عشره مبشره څخه د حضرت سعد او حضرت سعيد رضي الله عنهما څخه ماسوا بل څوک

ژوندی نه وو، ددې تائید د هغه روایت څخه هم کیږي چي دارقطني نقل کړی دی او په هغه کي د حضرت سعد رضی اللہ عنہ الفاظ داسي دي چي ما د عبدالله بن سلام رضی اللہ عنہ څخه ماسوا د بل چا په اړه چي اوس ژوندي دی او پر مځکه ګرځي د نبي کریم ﷺ څخه نه دي اورېدلي دي چي هغه جنتي دی، اوس پاته سو دغه سوال چي حضرت سعد رضی اللہ عنہ د دغه خبري په کولو سره خپل ځان او حضرت سعید رضی اللہ عنہ ولي ذکر نه کړل، نو ویل کیږي چي هغه خپل ذکر په دې وجه ونه کړ چي هغه ته په خپل حق کي د دغه زیری علم په بلي ذریعې سره سوی وي خپله هغه د رسول الله ﷺ څخه د دغه زیری نه وي اورېدلی یا دا چي هغه د خاکساری په وجه د خپل ځان یادونه کول مناسب نه وي ګڼلې او کوم چي د حضرت سعید رضی اللہ عنہ تعلق دیٔ نو د هغه په اړه سوال په دغه وضاحت سره ختمیږي چي حضرت سعد رضی اللہ عنہ د: یمشي علی وجه الارض، یعني پر مځکه باندي ګرځي، الفاظو په ویلو کي د هغه څخه دا مراد وي چي کله رسول الله ﷺ د حضرت عبدالله بن سلام رضی اللہ عنہ په حق کي دغه زیری وفرمایه نو هغه وخت هغه پر مځکه ګرځېدی حال دا چي د نورو په حق کي دغه زیری په نورو حالاتو کي ویل سوی وو.

د حضرت عبدالله بن سلام رضی اللہ عنہ خوب او هغه ته د جنت زیری

﴿۵۹۵۰﴾: وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا فِي مَسْجِدِ الْمَدِينَةِ فَدَخَلَ

د حضرت قیس بن عباد رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي زه د مدینې په مسجد کي ناست وم چي یو

رَجُلٌ عَلَى وَجْهِهِ أَثَرُ الْخُشُوعِ فَقَالُوا هَذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَصَلَّى

سړی راغلی چي د هغه په مخ کي د عاجزۍ علامه وه، خلکو وویل دا سړی جنتي دی، بیا هغه

رَكْعَتَيْنِ تَجَوَّزَ فِيهِمَا ثُمَّ خَرَجَ وَتَبِعْتُهُ فَقُلْتُ إِنَّكَ حِينَ دَخَلْتَ الْمَسْجِدَ

دوه رکعته کوتاه لمونځ وکړ بیا د مسجد څخه ولاړی، زه په هغه سړي پسي ولاړم هغه ته مي وویل کله چي تاسو په مسجد کي داخل سواست

قَالُوا هَذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ قَالَ وَاللهِ مَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ مَا لَا

نو خلکو وویل چي دا سړی جنتي دی، هغه سړي وویل په خدای دي مي قسم وي هیچا ته دا خبره مناسبه نه ده چي هغه خبره وکړي په کومي چي

يَعْلَمُ وَسَأُحَدِّثُكَ لِمَ ذَاكَ رَأَيْتُ رُؤْيَا عَلَى عَهْدِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خبر نه وي، زه تا ته اوس دد دې واقعه بيانوم، ما د رسول الله ﷺ په زمانه کي يو خوب ليدلی وو

فَقَصَصْتُهَا عَلَيْهِ وَرَأَيْتُ كَأَنِّي فِي رَوْضَةٍ ذَكَرَ مِنْ سَعَتِهَا وَخُضْرَتِهَا وَسْطَهَا

هغه خوب ما رسول الله ﷺ ته بيان کړ، خوب دا وو چي زه په يو باغچه کي يم هغه سړي د هغه باغچې پراخي او تازګي بيان کړه او بيا يې وويل د باغچې په مينځ کي

عَمُودٌ مِنْ حَدِيدٍ أَسْفَلُهُ فِي الْأَرْضِ وَأَعْلَاهُ فِي السَّمَاءِ فِي أَعْلَاهُ عُرْوَةٌ فَقِيلَ لِي

د اوسپني يو ه ستن ده چي د هغې يو سر په مځکه دی او دويم سر يې په آسمان کي دی، او د هغه ستن سر بيره يو ه حلقه ده، ما ته وويل سول چي

ارْقَ قُلْتُ لَا أَسْتَطِيعُ فَأَتَانِي مِنْصَفٌ فَرَفَعَ ثِيَابِي مِنْ خَلْفِي فَرَقِيتُ حَتَّى

پر دې ستن وخيژه، ما ورته وويل زه د ختلو توان نه لرم، بيا يو خادم ما ته راغلی چي هغه زما جامې د وروسته څخه پورته کړې او زه پر ستن وختلم تر دې چي

كُنْتُ فِي أَعْلَاهَا فَأَخَذْتُ بِالْعُرْوَةِ فَقِيلَ لَهُ اسْتَمْسِكْ فَاسْتَيْقَظْتُ وَإِنَّهَا لَفِي

هغه حلقه ما په لاس کي واخيستل بيا يې ما ته وويل دا ټينګه ونيسه، بيا زما ستر ګي ولغړېدې په داسي حال کي چي هغه حلقه زما په لاس کي وه،

يَدِي فَقَصَصْتُهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تِلْكَ الرَّوْضَةُ

ما نبي كريم ﷺ ته خوب بيان کړ نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: هغه باغچه اسلام دی او هغه

الْإِسْلَامُ وَذٰلِكَ الْعَمُودُ عَمُودُ الْإِسْلَامِ وَتِلْكَ الْعُرْوَةُ عُرْوَةُ الْوُثْقَى فَأَنْتَ عَلَى

الْإِسْلَامِ حَتَّى تَمُوتَ وَذَاكَ الرَّجُلُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ. متفق عليه.

ستن د اسلام ستن ده، او ددې تعبير دا دی چي ته به تر مرګه پوري پر اسلام ثابت قدم اوسې، او هغه سړی چي د هغه ذکر په دې حديث کي دی عبد الله بن سلام رضي الله عنه دی. بخاري او مسلم. (د ستن څخه مراد د خوني ميل يا پايه ده).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۲۹، رقم: ۳۸۱۳، ومسلم ۴\۱۹۳۰، رقم: ۱۴۸- ۲۴۸۴.

د لغاتو حل: تجوز: اي اختصر. ارقه: اصعد. المنصف: الخادم.

تشريح: د هيچا لپاره مناسب نه ده چي د دغه الفاظو په ذريعه د هغه يعني حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه د هغه خلگو د تصديق كولو څخه انكار وكړ چي هغوى د هغه په اړه ويلي وه چي دغه صاحب جنتي دى، نووي رحمة الله عليه ليكلي دي: عبدالله بن سلام رضي الله عنه د هغوى د تصديق څخه انكار له دې كبله وكړ چي هغو خلگو په قطعي او يقيني انداز كي د هغه د جنتي كېدو خبره كړې وه، نو ويل كيداى سي چي هغو خلگو دغه خبره له دې كبله كړې وه چي د هغوى په علم كي د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه هغه حديث وو چي په هغه كي د رسول الله ﷺ له خوا د عبدالله بن سلام رضي الله عنه د جنتي كېدو د زيري وركولو يادونه ده، او حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه د هغوى ددغه خبري تصديق ځكه ونه كړ چي هغه به د خپل ځان په اړه دغه زيرى نه وي اورېدلى او حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ذكر سوى روايت هغه ته نه وي رسېدلى ، او دا هم ويل كيداى سي چي حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه ته هم د خپل ځان په اړه د ذكر سوي زيرى علم وو مگر هغه د خاكسارۍ په وجه دا خوښه نه كړل چي د هغه خلگو په تصديق كولو سره د خپل عظمت او لويي سبب جوړ سي او ددغه زيري په وجه په خلگو كي شهرت تر لاسه كړي، يعني د هغه د انكار مطلب دا وو چي بېله شكه د رسول الله ﷺ د وركړل سوي زيرى سره سم زه د جنتي كېدو اميد لرم مگر دا خبره نه خوښوم چي ددغه زيري په وجه زما عظمت او لوئي بيان كړل سي او زما ذات ته شهرت وركړل سي، ځكه چي دا سي زيرى زما څخه ماسوا نورو خلگو ته وركړل سوى دى، نو بيا په ما كي څه خصوصيت دى چي ددغه زيري په ذريعه دي مشهور كړل سم او څرنگه چي طيبي رحمة الله عليه ليكلي دي: دا سي هم ويل كيداى سي چي حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه خپل دغه الفاظ: او زه تاسو ته ددې وجه ښيم، په ذريعه د هغه خلگو د تصديق څخه انكار ته اشاره وكړل يعني هغه دا وويل چي زه ددغه خلگو تصديق نه سم كولاى او د تصديق نه كولو وجه دا ده چي ما دغه خوب وليدى او دغه خوب مي رسول الله ﷺ ته بيان كړ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د علم تر حد پوري خو خبره دا ده او دا خبره په دې امر كي چي زه په يقيني توگه جنتي يم، زما په نزد د رسول الله ﷺ له خوا د نص قطعي درجه هيڅكله نه لري لكه څرنگه چي د نورو په حق كي دا سي زيرى د نص قطعي په صورت كي مذكور دى.

او ځينو شارحينو دا هم ليكلي دي چي د ذكر سوو الفاظو په ذريعه حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه د هغه خلگو د خبري د تصديق څخه انكار ونه كړ بلكه هغه ددې خبري تصديق وكړ يعني

هغه دا وويل چي كوم څوك د رسول الله ﷺ د ملګرتيا څخه برخمن سوی وي يا كوم څوک چي د رسول الله ﷺ په حديثونو او د هغه ﷺ په ارشاداتو خبر وي نو هغه داسي خبره كولای نه سي چي د هغه د علم څخه وتلې وي، نو هغه خلګ به په دې خبره پوهيږي چي هغوی زما په اړه وايي چي زه جنتي يم او خپله زه هم په دې اړه چي په څه پوهيږم هغه بيانوم او هغه خوب دادی: په داسي حال کي چي ما په خوب کي هغه کړۍ نيولې وه چي هغه وخت زما ستر ګي خلاصي سوې نو ددغه جملې څخه دا مراد نه دی چي د سترګو لغړېدو وروسته هم هغه کړۍ د هغه په لاس کي وه ، كه چيري د روايت الفاظ د هغه پر ظاهري معنی محمول کړل سي چي د وېښ کېدو څخه وروسته هم هغه کړۍ د هغه په لاس کي وه نو په دې کي څه ليري والي نسته ځکه چي د الله ﷻ په قدرت کي داسي کېدل ناممكن نه دي مګر په عامه توګه داسي نه كيږي، او ددغه الفاظو څخه د حضرت عبدالله بن سلام ﷜ دا مراد هم كيدای سي چي ددغه خوب اثر د وېښ کېدو څخه وروسته هم زما په لاس کي پاته وو، يعني كله چي سهار سو او زما ستر ګي خلاصي سوې نو زما موټ په هغه حالت کي بند وو لكه څرنګه چي ما په خوب کي هغه كړۍ نيولې وه.

او هغه کړۍ عروه وثقي ده، هغه په اصل کي د الله ﷻ ارشاد : (و من يؤمن بالله فقد استمسک بالعروة الوثقی) او كوم څوک چي په الله ﷻ باندي ايمان ولري نو هغه ټينګه کړۍ ونيول، ته اشاره وفرمايل، چي په خوب کي ستا پر ستن باندي ختل او د هغه کړۍ نيول دا ظاهروي چي ستا ايمان او اخلاص كامل دی او تا دين په دومره ټينګۍ سره نيولی دی چي ددرجو آخري لوړوالي ته رسېدلی يې.

هغه عبدالله بن سلام ﷜ وو: څرګنده خو داده چي دغه الفاظ د حضرت قيس بن عباد دي مګر دا هم ليري خبره نه ده چي دا خپله د حضرت عبدالله بن سلام ﷜ الفاظ وي چي د هغه په ذريعه هغه د خپل ځان په اړه وضاحت وكړ او ځان يې په غائب سره تعبير كړ.

حضرت ثابت بن قيس ﷜ ته د جنت زيری

﴿۵۹۵۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ خَطِيبَ الْأَنْصَارِ

د حضرت انس ﷜ څخه روايت دی چي ثابت بن قيس ﷜ بن شماس د انصارو خطيب وو،

فَلَمَّا نَزَلَتْ: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ إِلَى

كله چي دا آيت نازل سو (يا ايها الذين آمنوا لاترفعوا .....)، (اې مؤمنانو! خپل آوازونه د نبئ

كريم ﷺ پر آواز مه پورته كوئ.....الخ)

آخِرِ الْآيَةِ جَلَسَ ثَابِتُ فِي بَيْتِهِ وَاحْتَبَسَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو ثابت بن قيس رضي الله عنه خپل په كور كي كښېنستى او د رسول الله ﷺ په خدمت كي تلل راتلل يې

فَسَأَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ مَا شَأْنُ ثَابِتٍ ايشْتَكَى

بند كړل، نبي كريم ﷺ د سعد بن معاذ رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه چي ثابت په څه حال كي دى ايا هغه ناروغ دى؟

فَأَتَاهُ سَعْدٌ فَذَكَرَ لَهُ قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ثَابِتٌ أُنْزِلَتْ

سعد رضي الله عنه ثابت رضي الله عنه ته ورغلى او هغه ته يې د رسول الله ﷺ ارشاد بيان كړ، ثابت رضي الله عنه وويل دا

هَذِهِ الْآيَةُ وَلَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّي مِنْ أَرْفَعِكُمْ صَوْتًا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

آيت نازل سوى دى او تاته معلومه ده چي زما آواز ستاسو د ټولو د آواز څخه لوړ دى په دې وجه

وَسَلَّمَ فَأَنَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَذَكَرَ ذَلِكَ سَعْدٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ. رواه مسلم.

زه دوږخي يم ، سعد رضي الله عنه ددې ذكر نبي كريم ﷺ ته وكړ، رسول الله ﷺ وفرمايل : بلكه هغه جنتي دى . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١١٠/١، رقم: ١٨٧- ١١٩.

تشريح ايا هغه ناروغ دى: ښكاره ده چي د حضرت ثابت رضي الله عنه صدق حال تاثير وكړ او د رسول الله ﷺ د پوښتني كولو سبب سو، رسول الله ﷺ د هغه په اړه پوښتنه وكړل او تشويش يې ظاهر كړ چي هغه ناروغ خو نه دى چي زموږ مجلس ته تګ راتګ يې بند كړى دى.

حالت خويش چه حاجت كه بوئي شرح دهم
گر مرا سوز دلي هست اثر خـــواهد كرد

زه خو دوږخي يم: په اصل كي د حضرت ثابت رضي الله عنه په طبعي توګه لوړ آواز وو ، نو په خبرو اترو كي د هغه آواز به بېله قصد هم لوړ وو ، كله چي ذكر سوى آيت نازل سو ، نو هغه دا وګڼل چي زه د

خپل آواز پر کښته کولو قادر نه يم او د رسول الله ﷺ په مخکي زما آواز لوړ وي ځکه زه د دغه آيت نه عملي کوونکی يم او له دې کبله زما اعمال برباد سول او زه دوږخي سوم، هغه په دې پوه نه سو چي د دغه آيت مراد د رسول الله ﷺ په مخکي په هغه لوړ آواز کي د خبرو کولو څخه منع کوي چي په قصد سره وي او د هغه څخه بې ادبي څرګندېږي .

ثابت رضي الله عنه خو جنتي دی: يعني ثابت رضي الله عنه چي زما په ادب او احترام کي کوم احتياط اختيار کړ چي په طبعي توګه لوړ آواز يې هم ناجائز وګڼی او له دې کبله هغه د جنت استحقاق پيدا کړی دی او هغه به جنت ته ځي، نو د ثابت بن قيس رضي الله عنه جنتي کېدل په حقيقت کي هم داسي ثابت سول چي هغه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په ملګرتيا کي د يمايمه په غزا کي ګډون وکړ او د شهادت مرتبه يې تر لاسه کړل، نقل سوي دي چي کله حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د مسيلمه کذاب پر خلاف د جهاد بېرغ پورته کړ او د اسلام مجاهدينو ته يې د تياری حکم ورکړ، نو حضرت ثابت بن قيس رضي الله عنه خپل کفن تيار کړ او د هغه کفن په اغوستلو سره د يمايمه په غزا کي د مسيلمه کذاب پر خلاف وجنګېدی تر دې چي هغه کفن اغوستی شهيد سو .

د دغه حديث په اړه يو سوال پيدا کيږي او هغه دا چي د ذکر سوي آيت نېټه نهم هجري کال بيان سوی دی حال دا چي حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه تر دې مخکي په پنځم هجري کال کي وفات سوی وو، د دې جواب شارحينو دا ليکلی دی چي په دغه حديث کي د حضرت ثابت رضي الله عنه سره اړوند کوم آيت چي ذکر سوی دی هغه يوازي هغه آيت دی چي په هغه کي يوازي د آواز نه لوړولو حکم مذکور دی يعني: (يا ايها الذين آمنوا لا ترفعوا اصواتكم ...الخ) نه د سورت اول آيت يعني : (يا ايها الذين امنوا لاتقدموا بين يدي الله ...الخ) نو د سورت اول آيت خو به په نهم هجري کال کي نازل سوی وي او په حديث کي ذکر سوی آيت به د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه د وفات څخه مخکي نازل سوی وي .

د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۹۵۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د نبي کريم ﷺ سره حاضر وو چي

اِذْ نَزَلَتْ سُورَةُ الْجُمُعَةِ فلما نزلت وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ قَالُوا مَنْ

سورة جمعه نازل سو او هر کله چي په دغه سورة کي دا آيت نازل سو (وآخرين منهم لما يلحقوا

بهم)، (يعني د دې ډلي څخه چي خداى ورته پيغمبر راليږلى دى ځيني خلک دي چي اوس لا د اصحابو د ډلي سره نه دي يوځاى سوي)، صحابه کرامو پوښتنه وکړه

هُؤُلَاءِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ وَفِينَا سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ قال فوضع النبي صَلَّى اللّٰهُ

اې دالله رسوله! هغه کوم خلک دي؟ ابوهريره رضي الله عنه وايي په دغه وخت کي سلمان فارسي رضي الله عنه هم په موږ کي موجود وو، رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ ثُمَّ قَالَ لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَنَالَهُ رِجَالٌ مِنْ هٰؤُلَاءِ. متفق عليه.

خپل لاس مبارک پر سلمان فارسي رضي الله عنه کښېښود او وه يې فرمايل: که ايمان په ثريا کي واى نو رانيولى به واى هغه سړو له دغه کسانو څخه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۶۴۱، رقم: ۴۸۹۷، ومسلم ۴\۱۹۷۲، رقم: ۲۳۱ - ۲۵۴۶.

تشريح: پوره آيت دادى:

هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ

ژباړه: الله جل جلاله هغه ذات دى چي په اميانو کي د دوى (د قوم) څخه يې يو پيغمبر راوليږى چي هغوى ته د الله جل جلاله د آياتونو په ويلو سره اوروي او هغوى (د خرابو عقيدو او خرابو عادتو څخه) پاکوي، او هغوى د کتاب او پوهي خبري ښيي او دغه خلک (د پيغمبر د راتلو څخه) مخکي په ښکاره ګمراهي کي وه او په دوى کي نور خلک هغه دي چي تر اوسه هم په هغوى کي شامل سوي نه دي او الله جل جلاله غالب او د حکمت خاوند دى.

په دغه آيت کي د اميين (يعني بې علمه) څخه مراد عرب دي او صحابه کرامو ته اشاره ده چي هغوى د ګمراهۍ او جهالت د لاري په پرېښودو سره د نبي اخرالزمان ﷺ په لاس مبارک اسلام قبول کړ، د آخرين (نورو خلکو) څخه مراد هغه خلک دي چي د قرآن کريم د نزول په وخت کي موجود نه وه بلکه په وروسته زمانه کي يعني د صحابه کرامو په وخت کي په اسلام راوړونکو کي شامل سول، يعني تابعينو ته اشاره ده، او تابعين هم په خاصه توګه هغه چي د هغوى تعلق د عجمو سره وي، د تابعينو زيات شمېر پر عجميانو مشتمل دى لکه څرنګه چي د

څو کسانو ماسوا پاته ټول صحابه کرامو د عربو څخه دي ، په هر حال رسول الله ﷺ په دغه حدیث کي د حضرت سلمان رضی اللہ عنہ تعریف وکړ چي غیر عرب یعني عجمی دی او د هغه په نسبت سره یې څرګنده کړل چي په دغه آیت کي د (آخرینو) څخه مراد هغه خلګ دي چي تر اوسه د اسلام په دائره کي داخل نه دي ، یا خو په دې وجه چي هغوی تر اوسه پیدا سوي نه وي او یا په دې وجه چي هغوی ته تر اوسه د اسلام دعوت رسېدلی نه دی ، مګر وروسته به هغوی تاسو ته راځي او د اسلام په دائره کي به داخلېږي او په هغوی کي به اکثر عجمیان وي، هغه خلګ به د دین او علم داسي پلټنه کوي که چیري د دین او ایمان علم د ثریا پر لوړه باندي وي نو هلته په رسېدو سره به یې حاصل کړي، په دې کي شک نسته چي هغه تابعینو په کوم تکلیف سره دین حاصل کړ او د علم او اجتهاد په میدان کي یې څرګنده کړني سرته ورسولې هغه د صحابه کرامو څخه وروسته د هغوی وصف دی .

حضرت سلمان فارسي رضی اللہ عنہ : نوم یې سلمان او کنیت یې ابو عبدالله دی، د نوموړي تعلق د فارس (ایران) سره وو ، ځکه په فارسي نسبت سره مشهور دی، د رسول الله ﷺ آزاد سوی غلام دی ځکه چي رسول الله ﷺ د یو یهودي څخه رانیوی او آزاد یې کړ، حضرت سلمان فارسي رضی اللہ عنہ د سترو صحابه کرامو څخه دی ، ویل کیږي چي نوموړی د فارس د مشهور نسل رام هرمز، څخه دی چي مجوسیان وه، او د ابلکو اسونو عبادت کونکي ګڼل کیږي، حضرت سلمان رضی اللہ عنہ د شروع څخه د حق دین په پلټنه کي وو ، په دې اړه هغه خپل پلرنی مذهب پرې ایښی وو او عیسائیت یې اختیار کړی وو، او د هغه مذهبي کتابونو علم یې حاصل کړ، د هغه پلار او خپلوانو ته د هغه عیسائي کېدل خوښ نه سول نو هغه ته یې سختي سزاوي ورکولې مګر هغه هره سختي وزغمل او عیسائیت یې نه پرېښود، بیا د خپل هیواد په پرېښودو سره شام ته راغلی او دلته د عربو څخه د ځینو خلګو په لاس ورغلی او هغوی مدینې ته په راوستلو سره د یو یهودي په لاس وپلوری، ویل کیږي چي په هغه زمانه کي حضرت سلمان رضی اللہ عنہ د یو بل په لاس په لسو کسانو وپلورل سو او د هغوی ټولو په غلامي کي وو، تر دې چي نبي کریم ﷺ د مکې څخه په هجرت کولو سره مدینې ته تشریف راوړ نو دی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او د اسلام په دائره کي داخل سو ، رسول الله ﷺ دده په اړه فرمایلي وه چي سلمان رضی اللہ عنہ د جنتیانو څخه دی او د هغوی څخه یو دی چي جنت د هغوی په انتظار دی، د حضرت سلمان رضی اللہ عنہ عمر ډېر اوږد وو ، ځیني حضرات وایي چي د وفات پر وخت د هغه عمر درې نیم سوه (۳۵۰) کاله وو، او ځیني وایي چي د دووه نیم سوه (۲۵۰) کالو په عمر کي وفات سو ، زیات صحیح قول دا دی چي هغه خپل دغه

اوږد عمر د حق دین په پلټنه کي تېر کړ تر دې چي په پای کي د نبي اخر الزمان ﷺ په خدمت کي په حاضرېدو سره خپل مقصد ته ورسېدی، حضرت سلمان رضی الله عنه به په محنت کولو سره خپله روزي تر لاسه کول او د خپلي ګټي زیاته برخه یې د الله جل جلاله په لاره کي مصرفول، د نوموړي فضائل او مناقب بې شمېره دي، رسول الله ﷺ دهغه ډېر تعریف کړی دی، نوموړي په ۳۵ م هجري کال کي د مدائن په ښار کي وفات سو.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه لپاره دعاء

﴿۵۹۵۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ حَبِّبْ عُبَيْدَكَ هٰذَا يَعْنِي أَبَا هُرَيْرَةَ وَأُمَّهُ إِلَى عِبَادِكَ الْمُؤْمِنِينَ وَحَبِّبْ إِلَيْهِم الْمُؤْمِنِينَ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله! خپل دا کوچنی بنده خپل محبوب وګرځوې (یعني ابوهریره) او اې الله! دده مور د مسلمانانو محبوبه جوړه کړې او مسلمانان د هغې محبوب جوړ کړې. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۹۳۸/۴، رقم: ۱۵۸- ۲۴۹۱.

تشریح: یعني اې الله! دغه دواړه چي ډېر غریب او لاچاره دي، د مؤمنانو په نظر کي د نسبت او توجه مرکز جوړ کړې، او خپله دوی همداسي جوړ کړې چي ستا ټول مسلمانان بندګان یې خپل محبوب او غم خوار وګڼي.

د کمزور او لاچارو حوصله افزایي

﴿۵۹۵۴﴾: وَعَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ أَتَى عَلَى سَلْمَانَ وَصُهَيْبٍ وَبِلَالٍ

د حضرت عائذ بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چي ابوسفیان د امیر معاویه پلار (د کفر په حالت کي) د سلمان، صهیب او بلال سره تیر سو چي

فِي نَفَرٍ فَقَالُوا مَا أَخَذَتْ سُيُوفُ اللَّهِ مِنْ عُنُقِ عَدُوِّ اللَّهِ مَأْخَذَهَا فَقَالَ أَبُو

د صحابه کرامو په ډله کي ناست وو، د هغه ډلي خلکو وویل د خدای تورو د خدای د دښمن غاړه لا نه ده وهلې، دده اوریدو سره

بَكْرٍ أَتَقُولُونَ هَذَا لِشَيْخِ قُرَيْشٍ وَسَيِّدِهِمْ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابوبکر ﷛ وويل: تاسو د دغه قريشي مشر او سردار په باره کي دا خبره کوئ؟ دده څخه وروسته ابوبکر ﷛ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او د پيښې څخه يې خبر کړ،

فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ لَعَلَّكَ أَغْضَبْتَهُمْ لَئِنْ كُنْتَ أَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې ابوبکر! کيداى سي تا هغوى ناراض کړي وي، قسم په خداى! که تا هغوى په غضب کړي وي نو په تحقيق سره

أَغْضَبْتَ رَبَّكَ فَأَتَاهُمْ فَقَالَ يَا إِخْوَتَاهُ أَغْضَبْتُكُمْ قَالُوا لَا يَغْفِرُ اللَّهُ لَكَ يَا أُخَيِّ. رواه مسلم

په غضب کړى به دي وي رب خپل، د دې په اورېدو سره ابوبکر ﷛ دوى ته راغلى او ورته وه يې ويل اې زما ورونو! ايا ما تاسو په غضب کړي ياست؟ هغوى وويل: يا، مورږ نه يو خفه زموږ وروره خداى دي تا وبخښي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۹۴۷\۴، رقم: ۱۷۰– ۲۵۰۴.

د لغاتو حل: ماخذها: اي حقها. (خپل حق)

تشريح په مدينه کي د ابوسفيان د راتګ دغه پېښه د هغه وخت ده کله چي هغه مسلمان سوى نه وو او د حديبيه صلح د نوي کولو لپاره د مکې د قريشو په نمائندګۍ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوى وو، د مکې قريشو چي د اسلام د دعوت په لاره کي د کوم جارحانه مزاحمت څرګندونه کول، مسلمانانو ته يې په ظالمانه طريقې سره تکليفونه رسول او خپله د صلح حديبيه د پېښو لاندي کولو او عهد ماتولو مرتکب وه، له همدې کبله دغه درو کسانو يعني سلمان، صهيب او بلال ﷡ د ابوسفيان په مدينه کي په لېدو سره د تاسف اظهار وکړ چي دومره لوى مشرک تر اوسه پوري زموږ په لاس وژل سوى نه دى، دا بالکل يو فطري امر وو، بيا هم ددغه درو کسانو پر څرګند اظهار باندي چي حضرت ابوبکر صديق ﷛ د ناخوښۍ اظهار وکړ هغه هم د تدبر او د وخت د مصلحت تقاضا وه ځکه چي اول خو ابوسفيان هغه وخت د يو نمائنده په صفت راغلى وو او هغه ته د ځان او مال ساتنه تر لاسه وه، او دهغه د ضمانت لحاظ کول د هر مسلمان لپاره ضروري وه، دوهم دا چي دين ته د مائل کېدو لپاره د ابوسفيان زړه ښه

كول هم د حضرت ابوبكر صديق ﷺ مخته وو، لكه څرنګه چي خپله به رسول الله ﷺ په داسي وختو كي د ځينو مشركانو سره ښه چلن كوی.

كېدای سي چي تا هغه درې سره ناراض كړي وي: يعني تا چي د هغه درو كسانو پر خبره كوم رد عمل ظاهر كړی دی، هغه كه څه هم د تدبر او مصلحت په وجه وو مګر دا خبره مه هېروه چي هغه درې كسان د دين مخلص خادمان او د الله ﷻ محبوب كسان دي، او هغوی چي د ابوسفيان په اړه څه وويل هغه يې يوازي د الله ﷻ او د هغه د دين په محبت كي او د دين د يو دښمن په نفرت كي وويل، نو له دې كېدله كه چيري تا د هغه درو كسانو په مخالفت كولو سره هغوی ناراض كړي دي نو ددې مطلب دا سو چي ته د الله ﷻ د محبوبو بندګانو په مقابله كي د دين د يو دښمن رعايت كوې، چي د هغه په وجه تا د الله ﷻ ناراضي اخيستې ده نو ته سمدستي هغه درو كسانو ته ورسه او د هغوی څخه معذرت وغواړه، كه هغوی ناراضه سوي وي نو دهغوی ناراضګي ليري كړه.

نه، اې زما وروره! د ظاهري طرز تقاضا خو داوه چي دلته د يا اخانا! (يعني اې زموږ وروره) الفاظ ويل سوي وای، مګر كيدای سي چي د يا اخي (اې زما وروره!) لفظ د هغه درو كسانو له خوا نه بلكه د هغوی څخه د هر يوه له طرفه نقل سوي وي، يعني په هغه درو كسانو كي هر يوه بېل بېل داسي وويل چي نه، اې زما وروره!، زه ستا څخه ناراضه نه يم، څرګنده دي وي چي د مشكوة په ډېرو نسخو كي دغه لفظ د همزه په پېښ سره د تصغير په صيغه يعني (أخي) نقل سوی دی او په يوه نسخه كي د همزه په زبر او د ياء په جزم سره هم مذكور دی، همدا رنګه د همزه په زبر سره هم په دغه لفظ كي قباحت نسته.

ذكر سوې درې كسان يعني سلمان، صهيب رومي او بلال حبشي ﷺ د صحابه كرامو د هغه طبقې سره تعلق لري چي د غلامۍ په نسبت سره د كافرانو په ټولنه كي كم او كښته ګڼل كېدل، او په ټولنيزه توګه ډېر غريب او مفلس خلګ وه، نو رسول الله ﷺ ددغه كسانو د زړه ښه كولو ډېر لحاظ كوی او داسي هيڅ خبره يې نه غوښتل چي په هغه سره دغه مخلصانو ته د خپلي كمزورۍ او لاچارۍ احساس وسي، او دهغوی عزت ته تاوان ورسيږي، چي د هغه يو مثال دغه حديث دی، ددغه حديث څخه نه يوازي دا چي په ټولنيزه توګه د مفلس او كمزورو صحابه كرامو فضيلت ثابتيږي بلكه رسول الله ﷺ دې ته توجه وكړل چي د هغوی تعظيم او تكريم او دهغوی رعايت كول په هر حالت كي بايد په نظر كي وي.

حضرت صهيب رومي ﷺ: صهيب بن سنان د عبدالله بن جدعان تيمي ازاد سوی غلام

دی، ابویحیی یې کنیت دی، نوموړی په اصل کي د دجله او فرات په منځ کي د موصل اوسېدونکی وو، کله چي روحي لښکر پر دغه سیمه باندي حمله وکړل او لوټ ماریې وکړ نو صهیب رضی الله عنه هم په هغه خلګو کي وو چي رومي لښکر په بندي کولو سره د ځان سره بېولی وو، هغه نوموړی د کم عمر وو، کله چي لوی سو نو په شکل کي بالکل رومې معلومېدی،

وروسته د کلب قبیلې ځینو خلګو هغه د رومیانو څخه رانیوی او مکې ته یې راوستی، بیا د عبدالله بن جدعان تر مرګه پوري حضرت صهیب رضی الله عنه د هغه سره وو، په یوه روایت کي دي چي صهیب رضی الله عنه په روم کي لوی سو او کله چي هوښیار او پوه سو نو د هغه ځایه وتښتېدی او مکې ته راغلی، په مکه کي عبدالله بن جدعان ته ورسېدی او د هغه د حلیف جوړېدو سره د هغه سره اوسېدی، حضرت صهیب رضی الله عنه قدیم الاسلام دی، هغه د دعوت په لومړنی زمانه کي په مکه کي اسلام قبول کړی وو، کله چي رسول الله ﷺ په دار ارقم کي هستوګن وو، او تر هغه وخته پوري تقریبا دېرشو کسانو اسلام قبول کړی وو، حضرت صهیب رضی الله عنه هم په هغه کمزورو او لاچارو مسلمانانو کي دی چي هغوی ته د الله جل جلاله په لاره کي سخت تکلیفونه ورسېدل چي د قریشو د ډېر ظلم او ستم نښه جوړ سوي وه، وروسته هغوی مکه پرېښودل او په هجرت کولو سره مدینې ته راغلل، په ۸۰ م هجري کال کي د ۷۰ کالو په عمر په مدینه کي وفات سو او په بقیع کي خاورو ته وسپارل سو، د قرآن کریم آیت: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاء مَرْضَاتِ اللهِ، دده په اړه نازل سوی وو.

د انصارو فضیلت

﴿۵۹۵۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آيَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الْأَنْصَارِ. متفق عليه.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ایمان نښه د انصارو سره مینه کول دي او د نفاق نښه د انصارو سره بغض او دښمني کول دي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۱۳، رقم: ۳۷۸۴. ومسلم ۱\۸۵، رقم: ۱۲۸- ۷۴.

تشريح: د انصار لفظ په لغوي توګه د ناصر یا نصر جمع ده، او په اصطلاح کي د دغه لفظ اطلاق د مدینې پر هغه خلګو باندي کیږي چي په رسول الله ﷺ یې ایمان راوړ او په ځان و مال سره یې د رسول الله ﷺ مرسته وکړل، په مدینه کي دوې قبیلې پرتې وې، د یوې د مورث اعلی

نوم اوس او د بلي دمورث اعلی نوم خزرج وو، اوس او خزرج دواړه وړونه وه او پر مخ تللو سره د دواړو نسلونو څخه لوی قبیلې جوړي سوې، په مدینه کي د اسلام او پیغمبر ﷺ په راتللو سره مخکي دغه دواړي قبیلې د یو بل سخت خلاف وه، ویل کیږي چي د هجرت نبوت تر وخت پوري پر له پسې د یو سل او شلو کالو څخه ددغه دواړو قبیلو په منځ کي جګړه او دښمني روانه وه مګر څرنګه چي هغوی د اسلام او توحید سره تعلق قائم کړ نو دهغوی دښمني په مینه بدله سول ، رسول الله ﷺ دغه دواړو قبیلو ته د انصارو لقب ورکړ او ددغه لقب په ذریعه ددغه دواړو قبیلو خلګ مشهور سول، د هغوی څخه وروسته د هغوی اولاد او دهغوی نسلونو او دهغوی ازاد سوو غلامانو لپاره هم دغه لقب پاته سو، د انصارو د فضائلو او مناقبو هیڅ یو حد نسته ، په اسلام کي لوړتیا، شرف او عزت دوی ته حاصل دی، په قرآن کریم کي د دوی تعریف مذکور دی او دغه عظیمه مرتبه هغوی ته له دې کبله تر لاسه سوه چي هغوی په ډېر اخلاص سره د اسلام پیغمبر ته ځای ورکړ، په ځان او مال یې د رسول الله ﷺ مرسته وکړل او د رسول الله ﷺ د دعوت ستر مرستیالان جوړ سول، او هغوی د رسول الله ﷺ په مرسته کولو سره ټول عرب او عجم پر سر واخیستل ځکه ضروري سول چي د هغوی مینه د ایمان علامه او دهغوی سره دښمني د کفر علامه وګڼل سول، همدارنګه د هغوی په اړه مینه د کمال ایمان سبب او د هغوی سره بغض د ایمان د نقصان سبب ګرځول کیږي . بلکه په دې کي شک نسته که یو سړی له دې کبله د هغوی سره دښمني کوي چي هغوی د اسلام او پیغمبر مرسته وکړل نو هغه سړی به په یقیني توګه کافر وي .

د انصارو سره مینه کونکي د الله ﷻ محبوب دي

﴿۵۹۵۶﴾: وَعَنِ لْبَرَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لِلْاَنْصَارِ لَا يُحِبُّهُمْ اِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضُهُمْ اِلَّا مُنَافِقٌ فَمَنْ اَحَبَّهُمْ اَحَبَّهُ اللّٰهُ وَمَنْ اَبْغَضَهُمْ اَبْغَضَهُ اللّٰهُ. متفق علیه.

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي د انصارو سره به پوره مؤمن محبت کوي او د انصارو سره به منافق بغض او دښمني کوي ، څوک چي د انصارو سره محبت کوي خدای به هغه محبوب کړي او څوک چي د انصارو سره دښمني کوي خدای به هغه خپل دښمن وګرځوي . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۱۳۱، رقم: ۳۷۸۳، ومسلم ۱\۸۵، رقم: ۱۲۹- ۷۵.

د ځینو انصارو پر شکایت د رسول الله ﷺ اثري جواب

﴿۵۹۵۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أَنَّ نَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ قَالُوا حِينَ أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي د انصارو ځینو خلکو هغه وخت شکایت وکړ کله چي الله جل جلاله خپل رسول ﷺ ته د هوازن قبیلې څخه غنیمت ورکړ

مِنْ أَمْوَالِ هَوَازِنَ مَا أَفَاءَ فَطَفِقَ يُعْطِي رِجَالًا مِنْ قُرَيْشٍ الْمِائَةَ مِنَ الْإِبِلِ

نو رسول الله ﷺ د هغه مال څخه څو قریشو ته سل سل اوښان ورکول شروع کړل،

فَقَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَدَعُنَا

ددې لیدو سره د انصارو یو څو کسانو وویل الله جل جلاله دې د رسول الله ﷺ مغفرت نصیبت کړي چي قریشو ته یې ورکوي مال غنیمت او موږ ته یې نه راکوي

وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ فَحُدِّثَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَقَالَتِهِمْ

حال دا چي زموږ د تورو څخه د قریشو ويني څاځي، د نصارا وو د دغه شکایت خبر رسول الله ﷺ

فَأَرْسَلَ إِلَى الْأَنْصَارِ فَجَمَعَهُمْ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ وَلَمْ يَدْعُ مَعَهُمْ أَحَدًا غَيْرَهُمْ

ته ورسیدی نو انصار یې د څرمني په یوه خیمه کي را جمع کړل او د دوی سره یې بل څوک را نه

فَلَمَّا اجْتَمَعُوا جَاءَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا حَدِيثٌ بَلَغَنِي

غوښتل. هر کله چي ټول انصار راغلل نو رسول الله ﷺ تشریف راووړ او وه یې فرمایل: څه خبره ده چي ستاسو د لوري ما ته رارسیدلې ده،

عَنْكُمْ فقال فُقَهَاؤُهُمْ أَمَّا ذَوُو آرَائِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَلَمْ يَقُولُوا شَيْئًا وَأَمَّا أُنَاسٌ

د انصارو د ډلي عقلمندو خلکو وویل: اې د الله رسوله! په موږ کي هوښیارانو هیڅ نه دي

مِنَّا حَدِيثَةٌ أَسْنَانُهُمْ قَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي

ویلي. البته ځینو کم عمره دا وویل چي الله تعالی دي رسول الله ﷺ وبخښي چي قریشو ته یې

قُرَيْشًا وَيَدَعُ الْأَنْصَارَ وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

ورکوي او انصار پریږدي او زموږ د تورو څخه د قریشوويني څاڅي، ددې اوريدو سره رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُعْطِي رِجَالًا حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِكُفْرٍ أَتَأَلَّفُهُمْ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ

الله ﷺ وفرمايل: بېشکه زه ددې مال څخه هغه خلکو ته ورکوم چې زمانه يې نژدې ده اسلام ته (نوي مسلمانان دي) چې د اسلام سره يې مينه پيدا سي او پر اسلام قائم پاته سي، ايا تاسو

يَذْهَبَ النَّاسُ بِالْأَمْوَالِ وَتَرْجِعُون إِلَى رِحَالِكُمْ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ رَضِينَا. متفق عليه.

پردې خبره راضي نه ياست چې نور خلک خيمو او ځايونو ته مال يوسي او تاسو خپلو کورونو ته په داسي حال کي ولاړ سئ چې رسول الله ﷺ ستاسو سره وي، انصارو وويل: هو، اې د الله رسوله! موږ په دې راضي يو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲۵۰\۱۶، رقم: ۳۱۴۷، ومسلم ۷۳۳\۲، رقم: ۱۳۲- ۱۰۵۹.

دلغاتوحل: فطلق: اي فاخذ وشرع. فحدث: اي حكى. قبة: اي خيمة.

تشريح: هغه د غنيمت مال يې ورکړ کوم چې ورکول وو: په دغه جمله کي کثرت احوال ته اشاره وه ځکه چې په دغه وخت کي چې د بنوهوازن څخه کوم د غنيمت مال حاصل سوی وو هغه ډېر زيات وو، په روايتو کي د هغه مال تفصيل داسي راغلی دی چې شپږ زره بنديان، څلېرويشت زره اوښان، څلور زره اوقيه سپين زر او تر څلوېښت زرو زيات پسونه په لاس راغلي وه، په يوه روايت کي دادي چې د پسو شمېر د حساب څخه وتلی وو.

سل سل اوښان ورکول پيل کړل: کوم خلګو ته چې رسول الله ﷺ زيات اوښان او نور شيان ورکړل هغه په اصل کي د مکې خلک وه چې د مکې د فتح څخه وروسته مسلمانان سوي وه او د اسلام په اثره کي نوي داخل سوي وه، د هغه خلګو په زړو کي تر اوسه ايمان پوره ځای نه وو نيولی او د مؤلفة القلوب مصداق وه، رسول الله ﷺ د تاليف قلوب لپاره هغوی ته سل سل اوښان ورکول پيل کړل چې اسلام ته د هغوی ميلان او د مسلمانانو سره د هغوی تعلق ټينګ سي، دامير معاويه رضي الله عنه پلار ابو سفيان هم په هغه خلګو کي شامل وو، په مهاجرينو او انصارو کي چې کوم پاته مخلص او صادق مسلمانان وه هغوی ته رسول الله ﷺ تر سل کم اوښان ورکړل

، د غنيمت د مال د تقسيم دغه پېښه د جعرانه په ځای کي وه چيري چي رسول الله ﷺ په اتم هجري کال کي د مکې د فتح څخه وروسته د حنين په غزا کي د بنوهوازن او نورو لاندي کولو سره د هغوی څخه تر لاسه سوی ټول مال او سامان جمع کړی وو او بيا طائف ته ستنېدو سره يې هغه مال د مجاهدينو په منځ کي وويشی.

زموږ د تورو څخه د قريشو ويني څاځي: د دغه خلګو اشاره هغه غزاوو ته وه چي په هغه کي انصارو په پوره مېړانه او قرباني سره د رسول الله ﷺ اوږه پر اوږه د قريشو د مشرکينو پر خلاف جګړه وکړل، د الله ﷻ په لاره کي د هغوی وينه وبيول، هغو خلګو په اصل کي دا خبره ځکه وکړل چي رسول الله ﷺ د قوي تعلق او خپلوي په تقاضا سره قريشو ته زيات ورکوي او د هغوی رعايت کوي.

تاسو خلګ د رسول الله ﷺ په اخيستلو سره: يعني که چيري د مکې خلګو ته زيات مال او سامان په لاس ورغلل نو څه خبره ده دغه خلګ خو د دنياوي مال او سامان په اخيستلو سره خپلو کورو ته ځي او تاسو د رسول الله ﷺ د ذات په اخيستلو سره خپلو کورو ته ستنېږئ اوس تاسو خپله فکر وکړئ چي دنياوي مال او سامان ستاسو په حق کي زيات غوره دی او که د دغه مال او سامان په مقابله کي د رسول خدا ﷺ ذات مبارک غوره او قيمتي دی.

موږ په دې راضي يو: ښه شکه هغه خوشبختو روحونو ته دغه جواب ورکول وو، د رسول الله ﷺ د ذات په مقابله کي دنياوي مال او سامان د هغوی په نظر کي هيڅ نه وو، يو چا ډېر ښه ويلي دي:

رضينا قسمة الجبار فينا	لنا علم وللاعداء مال
فان المال يفني عن قريب	وان العلم باق لايـــزال

د انصارو فضيلت

﴿۵۹۵۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا الْهِجْرَةُ

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که هجرت نه وای

لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الْأَنْصَارِ وَلَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَ سَلَكْتُ الانصار وَادِيًا او

نو زه به د انصارو څخه يو سړی وای که خلګ پر يوه لاره روان سي او انصار پر بله لار يا په دره

شعبا لسلكت وادي الانصار وَشِعْبَهَا الْأَنْصَارُ شِعَارٌ وَالنَّاسُ دِثَارٌ إِنَّكُمْ سَتَرون بَعْدِي أُثْرَةً فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْنِي عَلَى الْحَوْضِ. رواه البخاري

كي نو زه به د انصارو پر لار ځم، انصار په مثل د شعار دي او نور خلک په مثل د دثار دي، اې انصارو! تاسو به زما څخه وروسته ترجيح او توپير وينئ هغه وخت تاسو صبر کوئ تر دې چې تاسو زما سره پر حوض کوثر يو ځای سئ. بخاري (شعار: لاندي جامه، او دثار پورته جامې ته ويل کيږي).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۴۷، رقم: ۴۳۳۰، ومسلم ۲\۷۳۸، رقم: ۱۳۹- ۱۰۶۱.

دلغاتوحل: اثرة: اي استئثار.

تشريح: نو زه به په انصارو کي يو کس وای: ددې څخه په ولادي نسب کي د بدلون خواهش مقصد نه دی ځکه چي اول خو په نسب ولادي کي بدلون حرام دی، دوهم دا چي خپله د رسول الله ﷺ نسب د دنيا تر ټولو نسبونو اعلی او اشرف دی ځکه هغه د هغه نسب او نسل په پرېښودو سره بل نسب او نسل ته د خواهش سوال نه پيدا کيږي، مګر دلته د نسب بلادي يعني شهريت نسبت ضرور مراد دی چي د هغه معنی داده که د هجرت تعلق د دين سره نه وای او هغه ته منسوب کېدل ضروري نه وای نو ما به دا خبره خوښه کړې وای چي د خپل اصلي وطني او ښاري نسبت په پرېښودو د انصارو ښار ته مي خپل ځان منسوب کړی وای او د مهاجر ويلو پر ځای به انصار بلل کېدای. مګر هجرت پر خپل ځای يو ډېر لوی ديني شرف دی او دې ته منسوب کېدل د فضيلت خبره ده، ځکه زه د خپل دغه خواهش پوره والی نه سم کولای، نو په دغه ارشاد کي که څه هم د انصارو او دهغوی ډېر عزت او نصرت ته د منسوب کېدو لوی فضيلت دی مګر په دې کي د هجرت فضيلت او د مهاجرين مرتبې ته هم اشاره ده ځکه چي مهاجرين خو هغه خلک دي چي هغوی د الله ﷻ او د هغه د رسول په مينه کي خپل ګران هيواد او کورونه پرېښولو بې مثاله قرباني ورکړې، حال دا چي انصارو که څه هم د الله ﷻ د دين او د هغه د رسول مرسته او نصرت او په دغه لاره کي د بې پايه قربانۍ فضيلت حاصل کړ مګر هغوی په هر حال د هيواد پرېښودو او د خپلوانو څخه د بېلوالي د عذاب څخه مخامخ سوي نه دي، نو د نصرت فضيلت د هجرت څخه وروسته او د انصارو فضيلت د مهاجرينو څخه وروسته دی، ځينو حضراتو ددغه ارشاد مراد دا بيان کړی دی چي کوم شی ما د انصارو څخه ممتاز کوي

هغه د هجرت فضيلت دی که د هجرت شرف او دهغه فضيلت زما سره نه وای نو بيا به زه هم د انصارو په يو ډول يو کس وای او په مرتبه کي به دهغوی برابر او دهغوی په ډول وای، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي رسول الله ﷺ د خپل ځان لپاره د خاکسارۍ اړخ اختيار کړ او د انصارو د زړه ښه کولو لپاره يې د هغوی لوړوالی او منزلت ظاهر کړ،

يا دايې وفرمايل چي، دلته راوي ته شک سوی دی چي رسول الله ﷺ په دغه ځای کي يا خو د وادیا لفظ فرمايلی دی او يا د شعبا، په اصل کي وادي هغه ځکي يا لاري ته وايي چي د دوو غرو يا دوو غونډيو په منځ کي وي چي هغه ته په عربي کي فرجه هم وايي، او په پښتو کي شېله ورته وايي، او شعب هغه لاري ته وايي چي غره ته په دننه کېدو سره تيرېږي، په حجاز کي غرونه او غونډۍ ډېر دي ځکه شېله او شعب هم زيات دی، په هغه زمانه کي به دا کېدل چي د يوې قافلې يا قبيلې سردار به د کومي شېلې سره تېرېدل غوښتل نو ټوله قافله او ټوله قبيله به په هغه پسې په هغه شېله کي داخلېدل، او بيا به د هغه ځای څخه په تېرېدو سره ټول خپل منزل او پړاو ته رسېدل، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: که چيري داسي وای چي ټول خلک په دوو ډلو کي په ويشلو سره يو منزل ته روان سي نو په هغوی کي يوه ډله پر انصارو باندي مشتمل وي او بله ډله پر نورو خلکو باندي او د هغه دوو ډلو لاري بېلي وي نو زه به د دوهمي ډلي په پرېښودو سره پر هغه لار ځم کوم چي انصارو اختيار کړې وي، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي ددغه ارشاد مقصد د انصارو په اړه د رسول الله ﷺ کمال تعلق او ارتباط او پر هغوی د رسول الله ﷺ د کمال عنايت او شفقت اظهار دی، په دې کي دوهم قوال دادی چي د وادي او شعب کومي معنی دلته مراد دي هغه د مذهب او رايي دي، مطلب دا چي په يوه معامله کي د خلکو په منځ کي رايي او مذهب د اختلاف اظهار وي نو زه به هغه رايه او مذهب اختيار وم کوم چي د انصارو اختيار سوی وي، او دهغوی موافقت به کوم، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي ددغه ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مقصد د انصارو سره د ښه موافقت او مرافقت اظهار کول دی ځکه چي انصارو هم د رسول الله ﷺ په اړه د حسن دعاء او ښه خدمت کولو ثبوت ورکړی دی، ددې څخه دا مراد هيڅکله نه دی چي رسول الله ﷺ د انصارو اتباع او هغوی ته د احتياج اظهار کړی دی ځکه چي د رسول الله ﷺ ذات مبارک متبوع مطلق دی او ټول د رسول الله ﷺ تابع دي.

شعار او دثار، شعار هغه جامې ته وايي چي په اغوستلو کي د بدن او د بدن د وېښتانو سره لګېدلې وي لکه قيمص او داسي نور، او دثار هغه جامې ته وايي چي د اغوستل سوو جامو سربېره وي، لکه څادر، صدری او داسي نور، نو رسول الله ﷺ انصارو ته په شعار سره ځکه

تشبیه ورکړل چي د صدق ایمان او خلوص محبت جوهر په هغوی کي پیوست دی یعني رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي انصار زما خاص او رازدار خلګ دي په ټولو خلګو کي د اعتبار او منزلې په اعتبار تر ټولو زیات نژدې دغه خلګ دي.

نورو خلګو ته به پر تاسو باندي بلا استحقاق فضیلت درکړل سي، د أثرة، یا أُثرة یا اِثرة معنی د حق تلفی او بیله حقه یو سړي ته په عهد یا منصب کي فضیلت ورکول دي، نو رسول الله ﷺ انصارو ته وفرمایل چي زما څخه وروسته به هغه زمانه راځي چي خلګ به د عهدې او منصب په ویش کي خپل ذات مقدم کړي او پر تاسو باندي به ترجیح ورکوي. پر امارت او حکومت به خپله کښیني او داسي خلګ چي د حقیقي مرتبې او منزلت په اعتبار به کم وي د لوړو مرتبو او دندو تر لاسه کولو په سبب ستاسو څخه لوړ او افضل جوړ سي، مخبر صادق ﷺ چي څه فرمایلي وه هغه پوره سول، په خاصه توګه د حضرت امیر المؤمنین حضرت عثمان غني ﷺ د خلافت په زمانه کي ځینو عمال خلافت ته او په حکومتي چارو کي په عامه توګه د انصارو ډیره حلق تلفي وسول، دهغوی د محروم کولو هڅه وکړل سول، یا د دغه ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي په فتوحاتو کي تر لاسه کېدونکي د غنیمت مال به امیران او حاکمان په خپلو کي ویشي او په هغه مال کي به ستاسو حق نظر انداز کوي او خپلو ځانو ته به پر تاسو ترجیح او فضیلت ورکوي.

تر دې چي زما سره پر حوض کوثر یو ځای سئ: یعني د حق تلفی په صورت کي به تاسو ته د مایوسی او نا امیدی سره مخامخ کېدل وي که چیري تاسو پر هغه صبر وکړ او شکایاتو سربېره د هغه وخت د حاکم څخه سرکښی مو ونه کړل او نه د ملي اتحاد د انتشار سبب سولاست نو د دې اجر به تاسو ته هغه وخت درکول کیږي کله چي د حشر په ورځ تاسو پر حوض کوثر باندي زما سره یو ځای سئ چي زما زیات او د هغه ځای لازوال نعمتونه تاسو اباد کړي، نو دغه ارشاد په اصل کي د انصارو د هغه صبر عوض او د هغوی لپاره د جنت زیری دی، منقول دي چي دامیر معاویه ﷺ په حکومت کي یوه ورځ ځینو انصارو هغه ته د ځینو مهاجرینو پر خلافت په شکایت کولو سره راغلل، حضرت معاویه ﷺ د هغوی د شکایت ازاله ونه کړل، پر دې خبره انصارو د امیر معاویه ﷺ په مخاطب کولو سره ورته وویل چي رسول الله ﷺ ریښتیا فرمایلي دي چي (اې انصارو!) تاسو به زما څخه وروسته ووینئ چي نورو خلګو ته به پر تاسو په ناحقه ترجیح ورکړل سي، ددې په اورېدو سره معاویه ﷺ پوښتنه وکړل چي بیا د هغه وخت لپاره تاسو ته رسول الله ﷺ څه حکم کړی دی، انصارو وویل: د صبر کولو، حضرت معاویه ﷺ

وويل: نو بيا د شكايت كولو پر ځاى تاسو ته صبر كول پكار دي ځكه چي رسول الله ﷺ تاسو ته ددغه خبري حكم دركړى دى.

د انصارو سره تعلق او قرب

﴿۵۹۵۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي د مكې د فتح په ورځ موږ د رسول الله ﷺ سره وو،

فَقَالَ مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ وَمَنْ أَلْقَى السِّلَاحَ فَهُوَ آمِنٌ فَقَالَتْ

رسول الله ﷺ دا حكم جاري كړ چي كوم سړى د ابو سفيان كور ته ولاړ سي هغه په امن كي دى او كوم سړى چي وسله وغورځوي هغه هم په امن كي دى، ددې اوريدو سره انصارو په خپل منځ

الْأَنْصَارُ أَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ أَخَذَتْهُ رَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ وَرَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ وَنَزَلَ

كي ويل پر دې سړي (يعني رسول الله ﷺ) باندي رحم او مهرباني غالبه سوې ده چي د خپل قوم او ښار سره داسي چلن كوي نو پر دې اعتراض

الْوَحْيُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُمْ أَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ

وحي نازله سوه، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه ايا تاسو دا ويلي دي چي دا سړى د خپل قوم او ښار

أَخَذَتْهُ رَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ وَرَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ كلا اني عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولِهِ هَاجَرْتُ إِلَى

سره د رحم او مهرباني چلن كوي تاسي داسي مه وايا ست بيشكه زه د خداى بنده او د هغه رسول يم ما د خداى جل جلاله لپاره ستاسو طرف ته هجرت كړى دى

اللَّهِ وَإِلَيْكُمْ فَالْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ وَالْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ قَالُوا وَاللَّهِ مَا قُلْنَا إِلَّا ضِنًّا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ قَالَ فَإِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُصَدِّقَانِكُمْ وَيَعْذِرَانِكُمْ. رواه مسلم.

زما ژوند ستاسو د ژوند سره دى او زما مرګ ستاسو د مرګ سره دى، ددې اوريدو سره انصارو عرض وكړ په خداى دي مو قسم وي موږ دا الفاظ د الله او رسول سره د بخل په وجه ويلي وه (يعني چي نبي ﷺ د مدينې منورې استوګنه ترك نه كړي)، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: خداى او د هغه رسول ستاسو رښتيا ويني تصديق كوي. او ستاسو عذر قبلوي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۴۰۷، رقم: ۸۶- ۱۷۸۰.

د لغاتو حل: ضنا: شحنا وبخلا (بخل).

تشریح: هغه په امن کي دی، یعني کوم مشرک چي د ابو سفیان کور ته ورسیږي او کوم مشرک چي وسله وغورځوي هغه ته د ځان امن ورکول کیږي، هیڅ مسلمان دي پر هغه توره نه پورته کوي او هغه دي نه وژني، ابو سفیان بن صخر بن حرب د امیر معاویه رضی الله عنه پلار دی، د قریشو لوی مشر وو، د مکې د فتح په ورځ هغه اسلام قبول کړ او د حنین په غزا کي د رسول الله ﷺ سره شریک وو، دوی مؤلفة القلوب وه ځکه رسول الله ﷺ د هغه جنګ د غنیمت د مال ځخه هغه ته د برخي ځخه زیات مال ورکړ لکه ځرنګه چي په روایتو کي راځي چي سل اوښان او ځلوېښت اوقیه سپین زر یې هغه ته ورکړل، د طائف د محاصرې په وخت کي د هغه یوه سترګه ړنده سوې وه او د تل لپاره یو سترګی سو، بیا د یرموک په جګړه کي د هغه دوهمه سترګه هم د ډبري په لګېدو سره ماته سوې وه، په ۳۴ هجري کال کي په مدینه کي وفات سو او په بقیع کي دفن سو، په روایتو کي راغلي دي چي د مکې دفتح په ورځ کله چي ابو سفیان اسلام قبول کړ نو حضرت عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په دربار کي عرض وکړ چي اې د الله رسوله! دغه سړي ډېر عزت او شرف لري ځکه ده ته داسي عزت ورکړئ چي دی یې د ځان لپاره د فخر سبب وګڼي نو د حضرت عباس رضی الله عنه په مشوره رسول الله ﷺ اعلان وکړ چي کوم څوک د ابو سفیان په کور کي داخل سي نو هغه په امن کي دی، او ځیني حضرات دا هم وایي چي د رسول الله ﷺ د مکې په ژوند کي کله چي قریش د رسول الله ﷺ په تکلیف رسولو کي لګیدلي وه یوه ورځ ابو سفیان رسول الله ﷺ ته امن ورکړی وو او خپل کور ته یې راوستلی وو، نو رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ د هغه کور دارالامن وګرځوی دا د هغه ورځي د عمل بدله وه.

د رغبت او شوق جذبه پر غالبه سوې ده، کله چي انصارو ولیدل چي رسول الله ﷺ، ابوسفیان په دومره لوی عنایت او عزت سره ونازوی چي تر دومره ډېر وخت پوري د اسلام سخت دښمن پاته سوی دی نو هغه ته سخت حیران سول او دا خبره هغوی ته د خپل غیرت خلاف محسوسه سول، نو د دغه حمیت او غیرت سره سم هغوی په سادګی او ناپوهی کي دژبي ځخه دغه الفاظ وایستل.

نه داسي نه ده، یعني په حقیقت کي هغه خبره نه ده کوم چي ستاسو په فکر کي راغلې ده چي ما ابو سفیان ته د عزت په ورکولو سره دا اظهار کړی دی چي اوس به زه په مکه کي پاته سم او مدینې ته به نه ځم. بلکه زما هجرت آخري او حتمي دی او هغه هجرت د الله جل جلاله په حکم سره

او خالص د الله ﷻ لپاره سوی دی نو د هغه څخه د ګرځېدو سوال هم نه پیدا کیږي .

زه د الله ﷻ او د هغه رسول یم: یعني زما د دغه حیثیت او زما د دغه منصب تقاضا داده چي اوس زه د هغه ښار تصور هم ونه کړم کوم چي ما د الله ﷻ لپاره پرې ایښی دی او د خپل پخواني وطن د ذرې په اندازه شوق هم ظاهر نه کړم د کوم ځای څخه چي ما د الله ﷻ لپاره هجرت کړی دی.

او تاسو ته: یعني په اصل کي خو زما هجرت الله ﷻ ته وو او دا د هغه په حکم منحصر وو چي کوم ځای زما دارالهجرت جوړیږي نو تاسو خلګو چي زما او دمهاجرینو په اړه کوم قلبي تعلق او میلان درلود لکه څرنګه چي الله ﷻ په خپل کتاب کي فرمایلي دي :

وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ .... ۝

نو الله ﷻ ستاسو ځای زما دارالهجرت وګرځوی او ما دخپلي قبیلې او خپل قوم د وطن په پرېښودو سره ستاسو وطن ته راغلم .

زما مرګ هم ستاسو د مرګ سره دی: یعني د ژوند او مرګ په هر حال کي زه ستاسو څخه نه بېلېږم ، تاسو زما سره یاست او زه ستاسو سره یم، تر څو چي ژوندی یم ستاسو په ښار کي اوسېږم او مړ کیږم به هم ستاسو په ښار کي په دې اړه تاسو ته ډاډه اوسئ یعني موږ ته د الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ بخل وو ، دا خبره موږ یوازي له دې کبله کړې ده چي ستاسو د همسایتوب او نژدې والي کوم عظیم شرف او فضل چي موږ ته راکړل سوی دی په هغه کي د بل چا ګډون موږ خوښ نه دی، دا خبره زموږ د غیرت را پارونکې ده چي ستاسو محبت او ستاسو میلان نورو ته ظاهر سي چي موږ ستاسو د عنایت او شفقت او ستاسو د میني او قربت د صحبت څخه محروم کړي، څرګنده ده چي داسي غیرت او حمیت میني لره مستلزم دی او میني ته هیڅکله خوښه نه وي چي محبوب د غیر طرف ته توجه وکړي.

غیرتم باتو چنانست که ګردست دهد نه ګزارم که درآئي به خیال دیګران.

د انصارو دغه مراد په نورو الفاظو کي داسي بیانیږي چي الله ﷻ ستاسو په ډول نعمت موږ ته راکړی دی او څوک د خپل خپلوانو او هیواد د میني څخه مجبور وي ځکه تل موږ ته ېره وه چي کیدای سي تاسو د خپل صحبت او قربت څخه په محروم کولو سره د اهل مکې نازول وغواړئ او دغه بیري موږ دومره پرېشانه کړو چي داسي الفاظ مو د ژبي څخه ووتل، په دغه صورت کي پر هغه انصارو باندي دا سوال نه کیږي چي هغوی د الله ﷻ د حکم :

لاَ تَجْعَلُوا دُعَاء الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاء بَعْضِكُم بَعْضًا

ددې سره داسي معمولي جمله په ژبه ولي ادا کړل.

دانصارو فضيلت

﴿۵۹۶۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى صُبْيَانًا وَنِسَاءً

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د انصارو ماشومان او ښځي وليدل چي

مُقْبِلِينَ مِنْ عُرُسٍ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ

د يو واده څخه را روان وه، نبي کريم ﷺ پر يو ځای ودريدی او وه يې فرمايل: اې الله! ته شاهد

أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ اللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ يعني الانصار. متفق عليه

يې، اې ماشومانو او اې ښځو تاسو په ټولو خلکو کي ما ته زيات محبوب ياست، اې الله! ته شاهد يې، اې ماشومانو او اې ښځو تاسو په ټولو خلکو کي ما ته زيات محبوب ياست، مراد يې انصار وه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۱۳، رقم: ۳۷۸۵، ومسلم ۴\۱۹۴۸، رقم: ۱۷۴-۲۵۰۸.

تشريح: په ټولو خلکو کي تاسو زما په نزد محبوب ياست: دا خبره رسول الله ﷺ دوه وار د تاکيد په توګه وفرمايل او د صحيح بخاري په روايت کي دا الفاظ درې واره نقل سوي دي، او په ځينو نسخو کي د (الي) پر ځای د (الی الله) الفاظ مذکور دي مګر د بخاري په روايت کي ددغه ارشاد درې واره مذکور کېدل د الي لفظ زيات صحيح ظاهروي.

د اللهم لفظ يا خو د قسم په معنی کي استعمال سوی دی يا په دې معنی کي دی چي اې الله ته به پوهېږې چي زه دغه خبره د زړه په صدق سره کوم، يعني رسول الله ﷺ چي هغه ښځي او ماشوم په خوشحالۍ راتلونکي ولېدل نو هغوی ته په کتلو سره يې زړه خوشحاله سو او دهغوی په اړه د رسول الله ﷺ نېک جذبات را پورته سول چي د هغه اظهار يې د ذکر سوو الفاظو په ذريعه وکړ او د کمال عنايت او مکرمت په وجه هغه نيکو جذباتو او احساساتو باندي يې الله جل جلاله شاهد کړ.

﴿۵۹۶۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ مَرَّ أَبُو بَكْرٍ وَالْعَبَّاسُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا بِمَجْلِسٍ مِنْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابوبکر رضي الله عنه او عباس رضي الله عنه د انصارو د يو مجلس سره تېر

مَجَالِسِ الْأَنْصَارِ وَهُمْ يَبْكُونَ فَقَالَا مَا يُبْكِيكُمْ فَقَالُوا ذَكَرْنَا مَجْلِسَ النَّبِيِّ

سول چي هلته انصار ناست وه ژړل يې، هغوی پوښتنه وکړل ولي ژاړئ؟ د انصارو ډلي وويل: موږ ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم مجلس را ياد سو،

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَّا فَدَخَلَ احدهما عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ددې او ريدو سره يو نفر د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر سو او رسول الله صلى الله عليه وسلم يې ددې خبرو

فَأَخْبَرَهُ بِذَلِكَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ عَصَبَ عَلَى رَأْسِهِ

څخه خبر کړ، نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم د کور څخه دباندي راووتی، هغه وخت نبي کريم صلى الله عليه وسلم پر تندي

حَاشِيَةَ بُرْدٍ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ وَلَمْ يَصْعَدْهُ بَعْدَ ذَلِكَ الْيَوْمِ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى

مبارک پټی تړلې وه او پر منبر کښېنستی، ددې څخه وروسته پر منبر ناسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم په برخه نه سول، لومړی رسول الله صلى الله عليه وسلم د خدای جل جلاله حمد او ثناء بيان کړه

عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أُوصِيكُمْ بِالْأَنْصَارِ فَإِنَّهُمْ كَرِشِي وَعَيْبَتِي وَقَدْ قَضَوْا الَّذِي

بيا يې وفرمايل: اې خلکو! زه تاسو ته وصيت کوم چي د انصارو سره ښه چلن کوئ هغوی زما رازدار دي او يخدان زما دي، او پر انصارو چي کوم حق وو

عَلَيْهِمْ وَبَقِيَ الَّذِي لَهُمْ فَاقْبَلُوا مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَتَجَاوَزُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ.

رواه البخاري

هغه يې ادا کړ او د هغوی حق باقي پاته دی نو تاسو د هغوی د نيک سړي نيکي قبلوئ او د بد سړي بدي معاف کوئ. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷ ۱۲۰، رقم: ۳۷۹۹.

د لغاتو حل: بُرد: اي علي هيئة عصابة لدفع وجع راسه. كرسي: اي بطانتي. عيبتي: اي خاصتي.

تشریح: کَرِش: په اصل کي د څارويو (يعني غوا، غويي، او داسي نورو) لري او کولمو ته وايي چي د خلکو لپاره د معدې لفظ استعماليږي، او عيبه بوغچې (هغه شی چي جامې پکښي اېښودل کيږي) ته وايي، ددې څخه مراد دادی چي انصار زما رازدار، دوستان او په ټولو چارو کي زما همرازه او معتمد عليه دي، يعني رسول الله ﷺ انصارو ته دغه شيانو سره مشابهت له دې کبله ورکړ چي څرنګه لري او کولمې يا په معده کي خوراک جمع کيږي او بوغچه کي جامې خوندي کيږي همدارنګه د رسول الله ﷺ د راز خبري او امانتونه د انصارو سره دي او ځيني حضرات وايي چي په لغت کي د کرش يوه معنی د کورنۍ او ډلي هم ده نو په حديث کي ذکر سوی لفظ پر دغه معنی باندي هم محمول کيدای سي، په دغه صورت کي د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب به دا وي چي انصار زما ډله، زما اصحاب، ملګري او زما د کورنۍ په ډول دي چي پر هغوی زما شفقت او مهرباني ده او زه د هغوی غمخوار يم.

پر هغوی چي کوم حق وو: دلته د حق څخه مراد په ځان او مال سره مرسته او خيرخواهي ده، ددغه جملې خلاصه داده چي د انصارو نمائندګان د مدينې څخه مکې ته په رسېدو سره په ليلة العقبه کي زما په لاس په بيعت کولو سره کومه وعده او عهد کړی وو چي د الله ﷻ په لاره کي به په ځان او مال سره زما مرسته کوي او دهغه په عوض کي الله ﷻ د هغوی سره د جنت وعده کړې وه لکه څرنګه چي په دغه موقع کي نازل سوی آيت:

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ

څخه څرګنده ده نو خپل دغه عهد او وعده انصارو پوره کړې ده.

﴿۵۹۶۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د خپل وفات په ناروغۍ کي د کور

الَّذِي مَاتَ فِيهِ حَتَّى جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا

څخه د باندي تشريف راوړ پر منبر کښېنستی د خدای ﷻ حمد او ثناء يې وويل بيا يې وفرمايل

بَعْدُ فَإِنَّ النَّاسَ يَكْثُرُونَ وَيَقِلُّ الْأَنْصَارُ حَتَّى يَكُونُوا فِي النَّاسِ بِمَنْزِلَةِ الْمِلْحِ

امابعد! د خلکو شمير به زياتيږي او د انصارو شمير به کم سي تر دې چي په نورو خلکو کي به د انصارو شمير دومره لږ پاته سي لکه څرنګه چي مالګه

فِي الطَّعَامِ فَمَنْ وَلِيَ مِنْكُمْ شَيْئًا يَضُرُّ فِيهِ قَوْمًا وَيَنْفَعُ فِيهِ آخَرِينَ فَلْيَقْبَلْ مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَلْيَتَجَاوَزْ عَنْ مُسِيئِهِمْ. رواه البخاري

په خوراک کي وي، نو اې مهاجرو! څوک چي په تاسو کي د يوشي حاکم سي چي ضرر پکښي رسواى سي يو قوم ته (يعني چي هغه قوم بدي کوي) او نفع رسواى سي پکښي نورو ته (يعني ښه خلکو ته فائده رسوي) نو هغه حاکم دي د انصارو نيکي قبوله کړي او د هغوی د بدکارو د بدی څخه دي تېر سي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦٢٨\١٦، رقم: ٣٦٢٨.

تشريح: او د انصارو شمېر به کم سي: يعني انصار د صحابه کرامو د هغه ډلي څخه عبارت دي چي هغوی رسول الله ﷺ ته ځای ورکړ او په ځان او مال سره يې د رسول الله ﷺ او مسلمانانو مرسته وکړل ځکه انصار کېدل يو داسي وصف دی چي په يوه خاص زمانه کي د کومو خلکو په برخه کېدی د هغوی په برخه سو، اوس مخکي دغه صفت بل چا ته نه تر لاسه کيږي او په دې اعتبار د انصارو په ډله کي د زياتوب سوال نه پيدا کيږي، حال دا چي د هجرت وصف باقي دی او باقي به وي لکه څرنګه چي خلک د الله ﷻ په لاره کي د خپل کور په پرېښودو سره او هجرت کولو سره مدينې ته راځي همدارنګه د مهاجرينو ډله په مدينه کي زياتيږي نو څرګنده ده چي رسول الله ﷺ ددغه الفاظو په ذريعه دا وړاند وينه وفرمايل چي مهاجرين خو زياتيږي او دهغوی د اولاد لړۍ به هم ډېره خپرېږي او هغوی نه يوازي دا چي په مختلفو ښارو او سيمو کي په پراخه توګه هستوګنه اختيار کړي بلکه د هيوادو حکمراني به هم دهغوی په برخه سي، د هغوی برعکس د انصارو ډله به ورځ په ورځ محدود کيږي او په ټول ملت کي به د هغوی وجود محدود پاته سي په دې کي شک نسته چي په حقيقت کي هغه وسول کوم چي مخبر صادق ﷺ خبر ورکړی وو.

په خوراک کي د مالګي په اندازه: په دغه تشبيه کي هم د انصارو د کميدو خبر دی او دهغوی تعريف ته اشاره هم ده يعني څرنګه چي مالګه د خوراک خوند سموي همدارنګه د انصارو وجود به د مسلمانانو د سمولو او ښکلا سبب وي.

د انصارو او د هغوی د اولادو په اړه دعاء

﴿۵۹۶۳﴾: وَعَنْ زَيْدِبْنِ اَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَلِأَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ ولابناء ابناء الانصار. رواه مسلم.

د زيد بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې الله! انصارو ته بخښنه وکړې او زامنو د انصارو ته بخښنه وکړې او زامنو د زامنو د انصارو ته بخښنه وکړې. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۹۴۸، رقم: ۱۷۲- ۲۵۰۶.

تشريح: په لومړۍ درجه كي خو صحابه كرام وه، دوهمي درجې والا تابعين او دريمي درجې والا تبع تابعين سول، نو رسول الله ﷺ د انصارو درې سره پېړيو په حق كي دعاء وفرمايل چي د خير القرون مصداق ده او دا هم ليري نه ده چي د زامنو او ملسيانو څخه د هغوی تر قيامته پوري نسلونه مراد وي، د زامنو سره لوښي هم شامل دي ځكه د ابناء لفظ د اولاد پر معنى باندي محمول كيداى سي.

د انصارو غوره قبائل

﴿۵۹۶۴﴾: وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ بَنُو النَّجَّارِ ثُمَّ بَنُو عَبْدِ الْأَشْهَلِ ثُمَّ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ خَزْرَجٍ ثُمَّ بَنُو سَاعِدَةَ وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ. متفق عليه.

د حضرت ابو اسيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د انصارو غوره كورونه بنو نجار دي بيا بنو عبدالاشهل بيا بنو حارث بن خزرج بيا بنو ساعده او د انصارو په هر كور كي خير او نيكي ده. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۱۵، رقم: ۳۷۸۹، ومسلم ۴\۱۹۴۹، رقم: ۱۷۷- ۲۵۱۱.

تشريح: او د انصارو په ټولو قبيلو كي، دغه تعميم بعد تخصيص دی يعني مخكي خو رسول الله ﷺ د ځينو خاصو قبيلو د فضيلت ذكر وفرمايه او بيا يې په مجموعي توګه د ټولو قبيلو په اړه وفرمايل چي د انصارو ټولي قبيلې د خير او نيكۍ فضيلت لري او د هغوی ټولي قبيلې د نورو اهل مدينه څخه افضل دي، عسقلاني رحمه الله ليكلي دي چي مخكي د خير كوم لفظ راغلی

دى هغه خو د افضل په معنى كي دي او دوهم خير د فضل په معنى كي استعمال سوى دى، مطلب دا چي د انصارو ټولو قبيلو ته خير او نيكي حاصله ده مگر د مرتبو په اعتبار په هغوى كي تفاوت دى او علماؤ ليكلي دي چي دغه تفاوت د اسلام په قبلولو كي د سبقت په اعتبار دى يعني كومي قبيلې چي د اسلام په قبلولو كي څومره سبقت كړى وو هغومره د هغه فضيلت زيات سوى دى، څرګنده دي وي چي د دار (كور) څخه مراد قبيله ده، د انصارو ټولي قبيلې په مدينه كي په بېلو بېلو ځايو كي اوسېدل او په كومه سيمه كي چي كومه قبيله اوسېدل هغه د هغه قبيلې په نسبت په دار بنو فلان، سره پېژندل كېدل، نو په دې اعتبار چي د قبيلې اصل نوم په بنو فلان سره تعبير كېږي، په ډېر روايتو كي د بنو فلان لفظ د دار څخه بغير نقل سوى دى.

د دغه حديث څخه څرګنده سول چي په قومو، قبيلو او اشخاصو كي ځينو ته پر ځينو باندي فضيلت وركول او د هغوى فضيلت بيانول جائز دي، او دا په غيبت كي داخل نه دى په شرط د دې چي د هغه وجه دښمني يا خواهش نفس نه وي.

د حاطب بن ابي بلتعه واقعه

﴿۵۹۶۵﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ما، زبير

وَالْمِقْدَادَ وفي رواية وابامرثد بدل المقداد. فَقَالَ انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ

او مقداد او په يوه روايت كي د مقداد پر ځاى دابو مرثد نوم راغلى دى، حكم راكړ چي تاسو روضه

خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً وَمَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوهُ مِنْهَا فَانْطَلَقْنَا تَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا

خاخ ته ولاړ سئ، هلته يوه ښځه ده چي د هغې سره يو كاغذ دى هغه كاغذ ځيني راوړئ، نو موږ

حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى الرَّوْضَةِ فَإِذَا نَحْنُ بِالظَّعِينَةِ فَقُلْنَا أَخْرِجِي الْكِتَابَ فَقَالَتْ

په تيزي سره پر آسونو هلته ورسيدو تر دې چي روضې ته ورسيدو او هغه ښځه مو هلته پيدا كړه موږ ورته وويل كاغذ راوكاږه، هغه ښځي وويل:

مَا مَعِي مِنْ كِتَابٍ فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَنُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ

زما سره هيڅ كاغذ نسته، موږ ورته وويل يا به كاغذ را كاږې او يا به كالي كاږې، په آخر كي

عِقَاصِهَا فَأَتَيْنَا بِهِ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا فِيهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي

هغې کاغذ د خپلې کوڅۍ څخه راوکښی، موږ هغه نبي کريم ﷺ ته راوړ په هغه کې یې لیکلي

بَلْتَعَةَ إِلَى أُنَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ رَسُولِ

وه د حاطب بن بلتعه د لوري د مکې د مشرکينو په نامه چې خبرول یې په ځینو کارونو د رسول

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا حَاطِبُ مَا

الله ﷺ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې حاطب ! دا څه خبره ده ؟

هٰذَا فقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا فِي قُرَيْشٍ وَلَمْ

حاطب عرض وکړ اې د الله رسوله ! زما په اړه د تلوار څخه کار مه اخلئ زه یو داسې سړی یم چې
د قریشو سره اخته سوی یم (یعني د هغوی دوست یم)

أَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهَا وَكَانَ مَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ لَهُمْ قَرَابَاتٌ يَحْمُونَ بِهَا

مګر زه په هغوی کې شامل نه یم او کوم خلک چې په مهاجرینو کې ستا سره دي، مکې والاوو
سره د هغوی خپلوۍ دي او د مکې مشرک د دغه خپلوۍ د لحاظ څخه د هغوی د ځان او مال

أَهْلِيهِمْ وَأَمْوَالَهُمْ بمكة فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي ذٰلِكَ مِنَ النَّسَبِ فِيهِمْ أَنْ أَتَّخِذَ

ساتنه کوي،. (حاطب وايي) نو ما وغوښتل چې زما نسبي خپلوي د قریشو سره نسته په دې

فيهم يَدًا يَحْمُونَ بِهَا قَرَابَتِي وَمَا فَعَلْتُ كُفْرًا وَلَا ارْتِدَادًا عن دِينِي وَلَا رِضًا

وجه زه به داسې یو کار وکړم چې هغوی په ما خوشحاله سي او هغوی زما د خپلوانو ساتنه وکړي کوم
چې په مکه کې دي، ما دا کار د دې لپاره نه دی کړی چې زه کافر یا منافق یم یا د اسلام څخه اوښتی یم،
او نه دا کار ما د دې لپاره کړی دی چې د اسلام راوړلو څخه وروسته په

بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قَدْ صَدَقَكُمْ

کفر خوشحاله او راضي یم، د دې اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : حاطب رښتیا وویل،

فَقَالَ عُمَرُ دَعْنِي يارسول الله أَضْرِبُ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ فقَالَ رَسُولُ اللَّهِ

حضرت عمر رضي الله عنه وويل : اې دالله رسوله ! ما ته اجازه راکړئ چي زه دده منافق سر پرې کړم،

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :حاطب د بدر په غزا کي شريک سوى دى او تاسو په حقيقت حال پوه سئ کيداى سي خداى تعالى د بدر والاوو رحمت او مغفرت په نصيب کړى وي،

بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ وجبت لكم الجنة.وفي رواية قد غَفَرْتُ

ځکه چي الله تعالى فرمايلي دي: (اې دبدر غازيانو !) تاسو چي څه غواړئ کوئ ستاسو لپاره جنت واجب سوى دى ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ما تاسو وبخښلاست،

لَكُمْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ. متفق عليه.

دده څخه وروسته دا آيت نازل سو : (ياايهاالذين آمنوا لا تتخذوا عدوي ......) ، (اې مؤمنانو ! زما او خپل دښمنان دوستان مه جوړوئ) يعني د کافرانو سره د زړه تعلق مه ساتئ ، . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۶، رقم: ۶۲۵۹، ومسلم ۴\ ۱۹۴۲، رقم: ۱۶۱- ۲۴۹۴.

د لغاتوحل: خاخ: موضع بين مكة والمدينة. طعينة: اي امراة اسمها سارة. لتلقين الثياب: تتجردن عنها ليتبن لنا الامر. عقاصها: الشعر المضفور. ملصقا: اي حليفا.

تشريح: د مقداد پر ځاى د ابومرثد يادونه ده، يعني په دغه روايت کي خو دادي چي په هغه کار پسي په تلونکي کي حضرت مقداد رضي الله عنه وو او په بل روايت کي د حضرت علي رضي الله عنه سره د حضرت زبير او حضرت مرثد کېدل مذکور دي، په هر حال حضرت مقداد رضي الله عنه د عمرو کندي زوى دى ، ډېر قديم الاسلام دى، د يوه روايت مطابق شپږم مسلمان دى ، د هغه څخه مخکي پنځه کسانو اسلام قبول کړى وو ، نوموړي په ۳۵م هجري کال کي د مدينې منورې څخه په درې کوس فاصله د جوف په ځاى کي وفات سو او مدينې ته په راوړلو سره په بقيع کي خاورو ته وسپارل سو ، هغه وخت يې عمر ۷۰ کاله وو ، حضرت ابومرثد رضي الله عنه هم د حصين غنوي زوى

دی، د سترو صحابه کرامو څخه دی، د بدر په غزا کي يې ګډون کړی دی او د هغه زوی مرثد ﷛ هم ګډون کړی دی، ابن سعد ليکلي دي چي حضرت ابو مرثد ﷛ د بدر په غزا، د احد په غزا او نورو ټولو غزاوو کي له رسول الله ﷺ سره ګډون کړی دی، په مدينه کي د ابوبکر صديق ﷛ د خلافت په زمانه کي په ۱۲ هجري کال کي د ۶۶ کالو په عمر وفات سو.

روضه خاخ ته ورسيږئ: روضه خاخ د يو ځای نوم دی چي د مديني څخه د مکې پر لاره مديني ته نژدې واقع دی، روضه باغچې او شنګيا ته وايي او خاخ شفتالو ته ويل کيږي، دلته د شفتالو ډيري درختي وې په دغه مناسبت سره هغه ځای په روضه خاخ مشهور سو.

هلته به يوه ښځه ووينئ: د هغې ښځي نوم ساره وو، او ځينو حضراتو ام ساره ليکلي دی، هغه په قريشو کي يوه ازاده سوې مينزه وه او د مکې د مشرکانو په نامه د يو خط په اخيستلو د مديني څخه مکې ته تلل، دلته د رسول الله ﷺ دغه معجزه ثابته سول چي د جاسوسۍ دومره لويه کړنه په رسول الله ﷺ باندي بېله د مادي وسيلې او ذريعې منکشف سول.

هغه ليک د خپلي کوڅۍ څخه را وايست: په بل روايت کي دي چي هغې ليک د خپلي ملا څخه را وايست او هغه ته يې ورکړ، نو د دواړو روايتو په منځ کي تطبيق دادی چي د هغې کوڅۍ به دومره اوږده وه چي ملا ته به رسېدل او هغه ليک هغې د کوڅۍ لاندي تړلو سره د ملا سره پټ کړی وو.

د ځينو اهمو اقداماتو او منصوباتو په اړه: هغه اقدامات او منصوبې د مکې د فتح دپاره د لښکر تيارولو په اړه وو چي رسول الله ﷺ د جنګي مصالحو سره سم پټ ساتلي وو، ددغه قصې اصل دادی چي کله رسول الله ﷺ د مکې د فتح په قصد سره مسلمانانو ته د سفر او د جنګ د تيارۍ حکم ورکړ نو رسول الله ﷺ د جنګ د تيارۍ د اصل منصوبې د پټ ساتلو تاکيد هم کړی وو، بلکه د يوه روايت مطابق رسول الله ﷺ د مکې قصد کړی وو او خبر يې خيبر د تګ ظاهر کړی وو، دغه احتياط د جنګي مصالحو په وجه وو او دهغه وخت په حالاتو کي د هغه جنګي منصوبې پټ ساتل ډېر ضروري وه، حاطب بن ابي بلتعه يو صحابي وو، هغه په دغه فلان خبر وو او د خپلي کمې لپاره يې د رسول الله ﷺ د اصل فلان خبر د مکې قريشو ته ورکول غوښتل او په ډېره پټه يې د ذکر سوي ښځي په لاس د مکې مشرکان خبرول غوښتل چي پيغمبر اسلام د خپل لښکر سره پر تاسو باندي د حملې دپاره را روان دی او تاسو هوښيار اوسئ، مګر د هغه ښځي په روانېدو سره حضرت جبرائيل ﵇ نازل سو او رسول الله ﷺ يې خبر کړ چي يوه ښځه د داسي خط په اخيستلو سره مکې ته روانه ده او روضه خاخ ته رسېدلې ده، نو رسول الله

حضرت علي ﷺ او نور كسان هم هغه وخت ولېږل او د خط په راوړلو سره يې وكتى ، دلته دا معلومه سول چي د جاسوسانو خطونه ويل جائز دي همدارنګه د يو مفسد پرده لوڅول جائز دي كله چي حكمت پكښې وي، يا پرده لوڅول د يو فساد باعث جوړېږي.

د هغوی لپاره يو داسي كار وكړم، تر پايه پوري د دغه جمله د دغه عبارت معنی ده: ان اتخذ فيهم يدا يحمون بها قرابتي، او طيبي رحمة الله عليه ليكلي دي چي يحمون صفت دی د يدا، او د يد (لاس) څخه مراد يا خو انعام وركونكی لاس دی يا مرسته كونكی قدرت ، همدارنګه د دغه عبارت لفظي معنی به داسي وي چي ما وغوښتل چي د هغوی څخه انعام يا داسي طاقت تر لاسه كړم چي هغه خلګ زما د قرابت يا قريبانو مرسته او حمايت وكړي، د حاطب مطلب دا وو چي په دغه بې ځايه كړنه سره زما اصل مقصد د خپلو قريبانو تحفظ تر لاسه كول وو ، ما د دغه كټور معلومات په تر لاسه كولو سره د مكې د قريشو خوشحاله كول غوښتل چي هغوی زما د دغه خوشحالۍ په سبب په مكه كي زما د قريبانو ساتنه وكړي، څرګنده دي وي چي حاطب اهل مكه ته كوم ليک لېږل غوښتل د هغه څخه د هغه مقصد رسول الله ﷺ ته تكليف رسول هيڅكله نه وو كه د هغه مقصد داوي نو بيا د هغه په كافر كېدو كي هيڅ شبه نه پاته كېدل ، حقيقت دادی چي هغه دا فكر كوی چي زما د دغه ليک په ليكلو سره به رسول الله ﷺ ته هيڅ تكليف نه رسيږي ، دغه كړنه يې په ناپوهي كي كړې وه ، كله چي هغه خپل اصل مقصد بيان كړ چي د هغه د خط ليكلو محرک جوړ سوی وو ، نو رسول الله ﷺ ته د تكليف رسولو اراده شامله وای نو لسان نبوت به د هغه د بيان هيڅكله تصديق نه كولای ، مګر په دې كي شک نسته چي هغه په يو لوی اجتهاد كوتاهۍ كي اخته سوی وو ، په دې توګه چي هغه خپله دغه معامله پټه كړل او د رسول الله ﷺ څخه د اجازې اخيستلو پرته يې داسي كار وكړ .

د هغه منافق سر پرې كړم، د دغه عبارت په اړه ملا علي قاري دا ليكلي چي رسول الله ﷺ د صحابه كرامو په مخاطب كولو سره د حاطب د بيان عذر تصديق وفرمايه مګر د دې سره حضرت عمر رضي الله عنه چي كوم خبره وكړل نو د هغې محرک د دين په اړه هغه سختي وه چي د حضرت عمر رضي الله عنه د ذات خاصه وه هغه د دين او مذهب په معاملاتو كي د نرمۍ او رعايت قائل نه وو، او بيا د حاطب معامله خو هسي هم سخته معامله وه، دوهم دا چي په هغه زمانه كي ځيني خلګ وه همدا ډول چي هغوی ته به د نفاق نسبت كېدی نو هغه دا فكر وكړ چي كوم څوک د نبي كريم ﷺ مخالفت وكړي هغه د وژني مستوجب سو ، مګر په دغه فكر كي خپله د هغه په نزد هم د يقين اړخ غالب نه وو ځكه هغه د نبي كريم ﷺ څخه د حاطب د وژني اجازه وغوښتل، پاته سوه دا خبره

چې هغه پر حاطب باندې د منافق اطلاق په څه وجه وکړ، نو کیدای سي چې حضرت عمر رضي الله عنه په دې اړه هم دا فکر کړی وي چې حاطب کیدای سي صحیح خبره نه وي ښودلې د هغه په زړه کي نور دي او بیا یې بل څه کړل، د هغه د ذکر سوي عذر محض خبري جوړلو لپاره دي ، شیخ عبدالحق دهلوي لیکلي : کیدای سي چې ددغه پېښې په بیانولو کي تقدیم او تاخیر سوی وي کنه نو د رسول الله ﷺ د تصدیق څخه وروسته د حضرت عمر رضي الله عنه دا خبره کول لیري معلومیږي ، یعني د حضرت شیخ په نزد ددغه خبري قوي احتمال دی چې حضرت عمر رضي الله عنه دا خبره مخکي کړې وي او د رسول الله ﷺ د تصدیق جزء وروسته وي،

تاسو چې څه کوئ هم هغه کوئ: دا اهل بدر ته خطاب دی او ددې مطلب دا هیڅکله نه دی چې په عملي ژوند کي تاسو ته پوره ازادي درکړل سول چې ښه او بد کوم عمل کوئ او د فرضو او ارکانو پر ځای راوړلو کي هره کوتاهي ستاسو لپاره معاف ده بلکه ددغه ارشاد قدسي اصل مراد د اهل بدر په اړه د الله جل جلاله خاص کرم او د هغه خصوصي عنایت ظاهرول او دهغوی د هغه خاص مرتبې څرګندول دي چې د بدر په غزا کي د ګډون په بدله کي تاسو ته به د آخرت تهولي مرتبې او درجې تر لاسه کیږي ، هلته ستاسو لوړ حیثیت متعین سوی دی اوس تاسو ته اجازه ده چې په اعمال صالحه او افعال نافله کي غواړئ لږ عمل وکړي او که وغواړئ ډېر عمل وکړئ څه چې وکړئ هغه به کافي وي .

جنت ستاسو دپاره واجب سوی دی: دا د الله جل جلاله وعدې په سبب ستاسو لپاره جنت واجب سوی دی، طیبي لیکلي دي چې رسول الله ﷺ مخکي د لعل چې کوم لفظ استعمال کړ هغه یې د خپله ځانه نه وفرمایه بلکه په هغه کي ترجي او امید معني حضرت عمر رضي الله عنه ته راجع ده ځکه چې د رسول الله ﷺ په نزد خو دا خبره یقیني وه او زیاته قرینه داده چې رسول الله ﷺ د اهل بدر د جنتي کېدو او مغفور کېدو اړخ په لعل سره ځکه بیان کړ چې اهل بدر په هغه داسي باور کولو سره کښېني چې د فرائضو او واجباتو څخه هم غفلت اختیار کړي او د (اعملوا ماشئتم) څخه دا نتیجه واخلي چې د هر فعل او عمل ازادي موږ ته راکړل سوې ده ، اوس موږ څه چې غواړو هغه به کوو .

ما تاسو بخښلي یاست: یعني ما تاسو ته په خپل نظر رحمت او مغفرت سره نازولي یاست، د اهل بدر په حق کي دغه جمله د لومړنۍ جملې چې جنت ستاسو لپاره واجب سوی دی، څخه زیات وزن داره او زیات مؤثر ده ،په دې اړه نووي رحمه الله لیکلي دي چې داهل بدر په حق کي ددغه عفو او مغفرت تعلق یوازي د آخرت سره دی نه د دنیا سر . ، مطلب دا چې په هغوی کي که څوک داسي کار وکړي چې پر هغه حد یا بله سزا جاري کیږي نو هغه به د نیوکي مستوجب

وي ، نو يو صحابي مسطح بن اثاثه چي دا هل بدر څخه وو ، مگر کله چي هغه پر بي بي عائشې ﷺ باندي تهمت ولګوي او په قرآن کريم کي د هغه تهمت څخه د پاک لمنۍ تصديق وسو نو رسول الله ﷺ مسطح د نيو کي ور وګرځوی او پر هغه يې د تهمت لګولو حد جاري کړ.

دغه آيت نازل سو ، ددې څخه د سورة ممتحنه هغه لومړني آياتونه مراد دي چي د هغه شان نزول د حاطب دغه قصه ده هغه آياتونه دادي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاء تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءكُم مِّنَ الْحَقِّ يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَن تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ إِن كُنتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَابْتِغَاء مَرْضَاتِي تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَأَنَا أَعْلَمُ بِمَا أَخْفَيْتُمْ وَمَا أَعْلَنتُمْ وَمَن يَفْعَلْهُ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاء السَّبِيلِ إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا لَكُمْ أَعْدَاء وَيَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُم بِالسُّوءِ وَوَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ وَلاَ أَوْلاَدُكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَاؤُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاء أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ إِلاَّ قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لأَبِيهِ لأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن شَيْءٍ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ۝

ژباړه: اې مؤمنانو ! تاسو زما دښمنان او خپل دښمنان دوستان مه جوړوئ چي د هغوی سره د دوستۍ اظهار کول پيل کړئ حال دا چي تاسو ته کوم دين راغلی دی هغوی ددې منکر دي، باسي تاسو او رسول له دې کبله چي تاسو پر خپل پروردګار ايمان راوړی دی ، که تاسو زما په لاره کي د جهاد کولو په غرض او زما د رضا په غرض وتلي ياست ، تاسو د هغوی سره په پټه د دوستۍ خبري کوئ حال دا چي ما ته د ټولو شيانو علم دی څه چي تاسو پټوئ او څه چي په ښکاره کوئ ، (په ياد ولرئ) کوم څوک چي په تاسو کي داسي کوي هغه د سيده لاري څخه گمراه سو که د هغوی پر تاسو وس پيدا سي نو سمدستي به د عداوت اظهار وکړي ، (په داسي توګه) چي پر تاسو به په بدۍ سره ويل پيل کړي هغوی ددې خبري خواهشمند دي چي تاسو کافران سئ، ستاسو قريبان او اولاد به د قيامت په ورځ ستا سو په کار نه راسي الله ﷻ به ستاسو په منځ کي فيصله کوي او الله ﷻ ستاسو ټول اعمال ښه ويني ستاسو دپاره په ابراهيم

كي او په هغه خلكو كي چي د هغه سره وه يوه ښه نمونه ده ، كله چي هغوى ټولو خپل قوم ته وويل چي موږ ستاسو څخه او څوک چي د الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه ماسوا معبود ګڼي د هغوى څخه بېزاره يو ، موږ ستاسو منكر يو ، او په موږ او تاسو كي هميشه عداوت او بغض ظاهر سو ، تر څو چي تاسو پر الله باندي ايمان نه راوړى مګر د ابراهيم دومره خبره خو د خپل پلار سره سوې وه چي زه به ستا دپاره استغفار ضرور كوم او ستا دپاره زما سره د الله جَلَّ جَلَالُهُ په مخكي دهيڅ خبري اختيار نسته ، اې زموږ پروردګاره! موږ پر تا توكل وو او ستا طرف ته رجوع كوو او تا ته ستنېدل دي.

دغه آيت كريمه كه څه هم د حاطب په اړه نازل سوى وو مګر خطاب په عامه توګه دى چي د حاطب په ډول نور كسان هم د دغه آيت لاندي راسي ، ځكه ويل سوي دي : العبرة بعموم اللفظ لابخصوص السبب، يعني دا اصولي قاعده ده چي اعتبار د عموم لفظ وي نه د خصوص سبب، مطلب دا چي يو آيت د يوې خاصي پېښي په اړه يا د يو خاص سړي په اړه نازل سوى وي نو دا نه چي هغه آيت يوازي د هغه پېښي يا يوازي د هغه سړي سره خاص ګڼل كيږي بلكه د هغه مصداق او محمول به د عموميت نوعيت لري چي كوم څوک هم د دغه آيت د مفهوم او مضمون سره مطابقت لري هغه به د دغه آيت لاندي راځي او دا به ګڼل كيږي چي دغه آيت د هغه سړي په اړه نازل سوى دى .

د اصحاب بدر مقام

﴿۵۹۶۶﴾: وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ جَاءَ جِبْرِيلُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالص فَقَالَ مَا تَعُدُّونَ أَهْلَ بَدْرٍ فِيكُمْ قَالَ مِنْ أَفْضَلِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا قَالَ وَكَذٰلِكَ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ. رواه البخاري.

د حضرت رفاعه بن رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دى چي جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ نبي كريم ﷺ ته راغلى او پوښتنه يې وكړه چي تاسو د بدر په غزا كي ګډون كونكو ته څه درجه وركوئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : موږ دوى په مسلمانانو كي تر ټولو غوره او افضل ګڼو يا بله داسي ښه خبره يې د اهل بدر په باره كي وكړه، جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وويل : د بدر په غزا كي چي كومي ملائكي حاضري سوي دي موږ هم هغوى داسي ګڼو . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳۱۱/۱۷، رقم: ۳۹۹۲.

تشريح د حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ مطلب دا وو چي څرنګه چي تاسو اصحاب بدر د نورو ټولو

مسلمانانو څخه افضل ګڼۍ همدارنګه زموږ خیال هم دادی چي موږ په ملائکو کي کومي ملائکي د بدر په غزا کي ګډون کړی دی هغه د نورو ټولو ملائکو څخه افضلي دي چا ته چي په دغه غزا کي د ګډون کولو موقع په برخه سول.

﴿۵۹٦٧﴾: وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ لَاَرْجُوْ

د حضرت حفصه (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه امید لرم چي

اَنْ لَا يَدْخُلُ النَّارَ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ احد شهد بدرا والحديبية قلت يارسول الله

هیڅ یو سړی به په هغه خلکو کي د دوږخ په اور کي داخل نه سي کوم چي په بدر او حدیبیه کي ګډون کړی وي، ما وویل اې د الله رسوله!

اليس قد قال الله تعالى وان منكم الا واردها، قال فلم تسمعيه يقول ثم

ایا الله تعالی دا نه دي فرمایلي: (ان منكم الا واردها)، (په تاسو کي هیڅوک داسي نسته چي پر دوږخ به نه تیریږي)، رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا تا دا نه دي اوریدلي چي الله تعالی دا هم

ننجي الذين اتقوا، وفي رواية لايدخل النار ان شاء الله مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ أَحَدٌ الَّذِينَ بَايَعُوا تَحْتَهَا. رواه مسلم

فرمایلي دي: (ثم ننجي الذين اتقوا)، (موږ به هغه خلکو ته د دوږخ څخه نجات ورکړو چي پرهیزګاري یې اختیار کړي وي)، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ دا فرمایلي دي که خدای تعالی غوښتل نو د اصحاب شجره (کومو چي تر درختي لاندي بیعت کړی وو) څخه به یو هم د دوږخ په اور کي نه داخلیږي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۹۴۲\۴، رقم: ۱٦۳- ۲۴۹٦.

تشريح: ان منكم الا واردها: دا د قرآن کریم آیت دی، مطلب یې دادی چي د قیامت په ورځ به هر سړی پر پل صراط تیریږي او پل صراط به د دوږخ سربېره وي ځکه د دوږخ سره مخامخ کېدل به د هر سړي لپاره ضروري وي، نووي رحمه الله لیکلي دي چي پر دوږخ باندي د وارد کېدو څخه مراد پر پل صراط باندي تېرېدل دي، په هر حال کله چي پر پل صراط باندي خلک تېر سي نو په هغوی کي چي څوک دوږخي وي هغوی به پر پل صراط باندي په لوېدو سره دوږخ ته واچول سي

او كوم څوك چي جنتي وي هغوی به پر پل صراط باندي په تېرېدو سره په سلامتيا ولاړ سي او جنت ته به ورسيږي، مګر د بي بي حفصې په خيال کي دا خبره وه چي د قرآن کريم په دغه الفاظو کي د واردها معنی د اخلها ده نو هغې فکر وکړ چي کله د قرآن کريم د دغه الفاظو مطابق په دوږخ کي د داخلېدو څخه هيڅوک مستثنی نه دی نو د اهل بدر او حديبيه په حق کي د دخول دوږخ نفي مصداق او محمول څه کيدای سي، په دې خبره رسول الله ﷺ هغه پوهه کړل چي خپله په دغه آيت کي د دغه الفاظو وروسته چي (ثم ننجي الذين اتقوا) کوم الفاظ دي د هغه څخه دا ثابتيږي چي هر سړی به په دوږخ کي نه داخليږي بلکه هغه خلګ به په دوږخ کي داخليږي کوم چي د خلاصون مستحق نه وي بلکه د عذاب مستحق ګرځول سوي وي،

او دا چي د واردها معنی په دوږخ کي د داخلېدو نه ده بلکه د دوږخ سربېره د تېرېدو ده، ځرګنده دي وي چي بي بي حفصه (رض) د رسول الله ﷺ د ارشاد په اورېدو سره چي څه وويل هغه به د مناظرې په انداز کي او د اعتراض په توګه نه وو بلکه په اصل کي چي بي بي حفصه ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد خپل خيال مطابق په ظاهره د آيت قراني موافق تر لاسه نه کړ نو هغې ته د حديث د مفهوم په پوهېدو کي ستونزه پيدا سول او بيا هغې د استفادې په توګه په ذکر سوو الفاظو کي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړل، يعني د بي بي حفصه ﷺ دغه سوال د هغې د حکم په تعميل کي وو، که د يو آيت يا حديث معنی په پوهه کي رانه سي يا د يو آيت او حديث په منځ کي تطبيق معلوم نه سي يا په يو بله ديني خبره کي مشکل وي نو هغه د يو عالم څخه پوښتل پکار دي لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمايلي دي: (فاسئلو اهل الذكر ان كنتم لاتعلمون) نو تاسو د اهل ذکر يعني عالمانو څخه پوښتنه کوئ کله چي تاسو خبر نه ياست.

د اهل حديبيه فضيلت

﴿۵۹۶۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ الفا واربع مائة قال لَنَا النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتُمْ خَيْرُ أَهْلِ الْأَرْضِ. متفق عليه

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي د حديبيه په ورځ زموږ شمير يو زر او څلور سوه وو، زموږ په اړه رسول الله ﷺ دا وفرمايل: نن ورځ تاسو د ځمکي غوره خلک ياست. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۴۳، رقم: ۴۱۵۴، ومسلم ۳\۱۴۸۴، رقم: ۷۱-۱۸۵۶.

تشريح: يو زر او څلور سوه، د حديبيه په موقع کي د موجوده صحابه کرامو د شمېر په اړه

اختلاف دی، او دهغه مختلفو روایتو په منځ کي چي کومه وجه بیانیږي د هغه ذکر مخکي تېر سوی دی ، ددغه حدیث مطابق ځیني حضرات چي په هغوی کي سیوطي رحمة الله علیه هم دی لیکلي دي چي په صحابه کرامو کي تر ټولو افضل خلفاء اربعه دي بیا عشره مبشره ، بیا اهل بدر بیا اهل احد او بیا اهل حدیبیه . والله اعلم .

د اصحاب بدر مرتبه

﴿۵۹۶۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَصْعَدُ الثَّنِيَّةَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : (یعني د حدیبیه په سفر کي) څوک سته چي ثنیة المرار ته وخیژي

ثَنِيَّةَ الْمُرَارِ فَإِنَّهُ يُحَطُّ عَنْهُ مَا حُطَّ عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ صَعِدَهَا

د هغه ګناه به داسي لیري کړل سي لکه څرنګه چي د بني اسرائیلو ګناه لیري کړل سوې وه، نو تر ټولو مخکي پر دې غونډۍ زموږ آسونه وختل

خَيْلُنَا خَيْلُ بَنِي الْخَزْرَجِ ثُمَّ تَتَامَّ النَّاسُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

یعني د مدینې د قبیله خزرج آسونه ، ددې څخه وروسته ټول خلک راغلل ، رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ وَكُلُّكُمْ مَغْفُورٌ لَهُ إِلَّا صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ فَأَتَيْنَاهُ فَقُلْنَا تَعَالَ

وفرمایل تاسو ټول بخښلي یاست، خو خاوند ددغه سور اوښ ، موږ هغه سړي ته ورغلو چي د هغه سور اوښ وو او هغه ته مو هم وویل زموږ سره راځه

يَسْتَغْفِرْ لَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَأَنْ أَجِدَ ضَالَّتِي أَحَبُّ إِلَيَّ

چي ستا لپاره هم رسول الله ﷺ بخښنه وغواړي هغه وویل : زه خپل ورک سوی شی پیدا کوم دا

مِنْ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِي صَاحِبُكُمْ .رواه مسلم . وذكر حديث انس قال لابي بن كعب ان الله امرني ان اقرا عليك في باب بعد فضائل القرآن .

ما ته ستاسو د دوست د بخښني څخه غوره دی . مسلم، د انس رضي الله عنه حدیث د فضائل قرآن څخه وروسته په باب کي بیان سوی دی په کوم کي چي رسول الله ﷺ ابی بن کعب ته وفرمایل چي زه

د الله ﷻ په حکم تا ته تلاوت اورول غواړم.

تخریج: صحیح مسلم ۴\ ۲۱۴۴، رقم: ۱۲- ۲۸۸۰.

د لغاتو حل: ثنية المرار: موضع بين مكة والحديبة.

تشريح: په ثنية المرار، کي د ثنية څخه مراد غره په منځ کي د شيلي لار ده او مرار د يو ځای نوم دی چي د مکې او مدينې په منځ کي پر هغه لار واقع دی چي پر حديبيه باندي تيرېږي، دغه ارشاد د هغه وخت دی کله چي رسول الله ﷺ په شپږم هجري کال کي د عمرې په نيت مکې ته روان سو، مګر د حديبيه ځای ته په رسېدو سره تم سوی وو، او د حديبيه مشهوره صلح پېښه سوې وه، د دغه سفر په دوران کي چي رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو سره په شپه کي ثنيه المرار ته ورسېدی نو د خلګو د حوصلې زياتولو لپاره يې ذکر سوي الفاظ وفرمايل او د حوصلې زياتولو ضرورت ځکه وو چي هغه شېله ډېره ستونزمنه وه او پورته ختل يې اسان کار نه وو، يا دا چي رسول الله ﷺ ته دا بېره وه چي د هغه شېلې وروسته کېدای سي اهل مکه ناست وي او د فلان په جوړولو سره د شپې په تياره کي ناڅاپه حمله وکړي، ځکه د صورت حال اندازه اخيستل ضروري وو او د دغه مقصد لپاره لوړ ختل ظاهره خبره ده او ځان په خطره کي اچول دي.

لکه څرنګه چي د بني اسرائيلو ګناه معاف سوې: د دغه الفاظو په ذريعه د بني اسرائيلو سره متعلق د قرآن کريم د دغه الفاظ (وقولوا حطة نغفر لكم خطاياكم) ته اشاره ده، په اصل کي قصه داسي وه چي د حضرت موسی علیه السلام په زمانه کي کله چي بني اسرائيلو د تيه په ميدان کي خلوېښت کاله سرګردانه ګرځېدل چي الله ﷻ د خپل کرم او عنايت له موخي پر هغوی د وريځي سايه تياره کړل او د هغوی خوراک د پاره يې من او سلوی نازل کړل او بيا هغوی ته يې د شام يو ښار اريحاء ته د تللو حکم وکړ هغه وخت هغوی ته دا هدايت سوی وو چي هغه ښار ته د داخلېدو په وخت کي د خاکسارۍ په توګه حطه (توبه ده) ويلو سره داخل سئ که تاسو زموږ په دغه هدايت عمل وکړئ او په توبه کولو سره په هغه ښار کي داخل سئ نو موږ به ستاسو وروستني ګناهونه معاف کړو او تاسو ته به مغفرت درکړو، مګر بني اسرائيلو نه يوازي دا چي هغه الهي حکم او هدايت باندي عمل ونه کړ بلکه دا شرارت يې هم وکړ چي په ښار کي د داخلېدو پر وخت يې د الله ﷻ ښودلي هغه الفاظ په بدلولو سره يو داسي لفظ ويل پيل کړ چي د هغوی د دنياوي طلب او خواهش معنی يې درلودل د هغه په بدله کي پر هغوی د طاعون سخت عذاب نازل کړل سو چي په هغه کي د دوی اوويا زره کسان هلاک کړل سول نو رسول الله ﷺ چي

دا وفرمایل چي څرنګه د بني اسرائیلو ګناه معاف کړل سول نو د ګناه معاف کېدو څخه مراد د ګناه معاف کولو وعده وه یعني د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي څرنګه د بني اسرائیلو سره د مغفرت وعده سوې وه که چیري هغوی هغه وخت د الهي حکم او هدایت باندي عمل کړی وای نو د هغوی ټول ګناهونه به معاف سوي وای ، همدارنګه اوس زه د الله ﷻ له خوا ستاسو سره وعده کوم چي کوم څوک ثنیة المرار ته وخیژي د هغه ټول ګناهونه به معاف سي .

هغه زموږ اسونه یعني د خزرج قبیله، خزرج د مدینې منورې د انصارو یوه قبیله وه او حضرت جابر رضي الله عنه د هغه قبیلې څخه وو ، دا خبره مخکي ښودل سوې ده چي اوس او خزرج دوه ورونه وه او مخ په وړاندي د دواړو اولادونه په دوو بېلو بېلو قبیلو بدل سول، او د دغه دواړي قبیلې د خپل مورث اعلی په نامه سره ونومول سوې، نو د مدینې د انصارو څخه ځیني خلګو د اوس قبیلې سره تعلق درلود او ځینو د خزرج قبیلې سره .

زه خپل ورک سوی شی تر لاسه کوم: په ښکاره خو دا معلومېږي چي هغه وخت د عبدالله بن ابی رضي الله عنه هغه سور اوښ ورک سوی وو یا یو بل شی یې ورک سوی وو ، نو صحابه کرامو هغه ته وویل : راځه چي رسول الله ﷺ ته درخواست وکړو چي ستا په حق کي هم استغفار وکړي او ستا د بخښني دعاء وکړي نو هغه په ډېره بې پرواهي سره وویل: دا وخت ستاسو ملګري (رسول الله ﷺ) ته زما د تګ وخت نسته ، د خپل ورک سوي شي پلټنه کول او هغه پیدا کول زما په نزد تر دې خبري زیات مهم او غوره دی چي زه د بخښني لپاره ستا سو سره رسول الله ﷺ ته ورسم، د عبدالله بن ابي دغه الفاظ په یقیني توګه د هغه د صریح کفر غماز وه او په دې کي هیڅ شک نسته چي هغه د خپل باطني خبث په وجه داسي وو او همداسي پاته سو نو الله ﷻ هغه ته په اشاره کولو سره وفرمایل :

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ...

ژباړه: او کله چي دوی (منافقانو) ته وویل سي راځئ چي رسول الله ﷺ ته ورسو چي ستاسو لپاره استغفار وکړي نو هغوی مخ اړوي نو (اې پیغمبره!) ته به هغوی ووینې چي هغوی به د هغه ناصح څخه او استغفار تر لاسه کولو څخه په تکبر کولو سره بې پرواهي کوي (کله چي د هغوی دکفر دغه حال دی نو) د هغوی په اړه دواړه برابر دي ، که څه هم ته د هغوی لپاره استغفار وکړې یا یې ونه کړې .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د شيخينو او ابن مسعود رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۹۷۰﴾: عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْتَدُوا بِالَّذَيْنِ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما څخه وروسته تاسو

مِنْ بَعْدِي مِنْ أَصْحَابِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَاهْتَدُوا بِهَدْيِ عَمَّارٍ وَتَمَسَّكُوا بِعَهْدِ

زما په اصحابو كي د ابوبكر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه پيروي كوئ او د عمار رضي الله عنه سيرت او كړني اختيار

ابْنِ أُمِّ عَبْدٍ، وفي رواية حذيفة ماحدثكم ابن مسعود فصدقوه بدل

وتمسكوا بعهد ابن ام عبد. رواه الترمذي

كړئ او دام عبد د زوى (ابن مسعود رضي الله عنه) عهد او قول ټينګ ونيسئ، او په يوه روايت كي چي د حذيفه رضي الله عنه څخه نقل دى دا الفاظ دي چي ابن مسعود رضي الله عنه تاسو ته كومه خبره يا حديث بيان كړي د هغه تصديق كوئ په بدل كي د وتمسكوا بعهد ابن ام عبد. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵/ ۵۷۰. رقم: ۳۶۶۳.

تشريح: او زما څخه وروسته به خليفه وي: دغه معنى د شيخ عبدالحق رحمه الله د معنى مطابق ده، حال دا چي د ملا علي قاري رحمه الله مطابق داسي معنى ده چي تاسو زما د وفات څخه وروسته يا زما د پيروى څخه وروسته د هغه دواړو پيروي كوئ چي زما صحابه دي او هغه ابوبكر او عمر رضي الله عنهما دي نو د نحوي په اعتبار ابوبكر او عمر رضي الله عنهما د الذين بدل يا بيان دى.

پر سيده لاره ځئ: څرګنده دي وي چي د حضرت ابوبكر صديق او حضرت عمر رضي الله عنهما په اړه د اقتداء لفظ راوستل سوى دى او د حضرت عمار رضي الله عنه په اړه د اهتداء لفظ استعمال سوى دى، د دغه دواړو الفاظ په منځ كي فرق دادى چي په اقتداء كي تر اهتداء زيات عموميت دى له دې كبله چي په اقتداء كي د قول او فعل دواړو لحاظ كيږي او د اهتداء تعلق يوازي د فعل سره وي، يعني اقتداء مطلق پيروي كولو ته وايي كه په فعل كي وي او كه په قول كي وي، او اهتداء يوازي د فعل پيروى ته وايي.

د حديث په دغه الفاظو كي نه يوازي دا چي د حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنه د فضيلت او كمال

يادونه ده چي د هغه هيڅ فعل او عمل د حق د لاري څخه ليري نه وو بلکه ددې څخه د امير المؤمنين حضرت علي رضی اللہ عنہ د خلافت پر حق کېدل هم ثابتيږي ځکه چي د حضرت علي رضی اللہ عنہ او حضرت امير معاويه رضی اللہ عنہ په منځ کي چي کومه جګړه پېښه سوې وه په هغه کي حضرت عمار رضی اللہ عنہ د سيدنا حضرت علي رضی اللہ عنہ سره وو.

د ام عبد د زوی په عهد کي، د عهد څخه مراد قول او وصيت دی يعني عبد الله ابن مسعود رضی اللہ عنہ چي په ديني احکامو او مسئلو کي کومه خبره وکړي او کوم وصيت وکړي په هغه په پوره توګه عمل کوئ نو دا هغه د رسول ﷺ حکم دی چي امام اعظم ابو حنيفة رحمۃ اللہ علیہ د خپلي فقهي يو ټينګ بنياد ګرځولی دی، د مسائلو په استنباط کي امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ د خلفاء اربعه څخه وروسته په ټولو صحابه کرامو کي تر ټولو زيات چي د کوم صحابي روايت او قول اختياروي هغه حضرت عبد الله ابن مسعود رضی اللہ عنہ دی چي د هغه کمال فقاهت او اخلاص په وصيت کي چا ته شک نسته. توربشتي رحمۃ اللہ علیہ هم د عهد تقريبا همدغه معنی بيان کړې ده، مګر هغه په خپل نزد دا خبره غوره ګرځولې ده چي د ام عبد د عهد، څخه مراد د خلافت په اړه د عبد الله ابن مسعود رضی اللہ عنہ رايه او د هغه فيصله ده، يعني ددغه ارشاد په ذريعه امت ته هدايت وکړل سو چي د نبي کريم ﷺ د وصال وروسته د خلافت په اړه عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ چي کومه رايه او فيصله څرګنده کړي د هغه څخه تاسو ټول لاربښوونه تر لاسه کړئ، نو د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ د خلافت د حقانيت او صحيح والي شاهدي تر ټولو مخکي حضرت عبد الله ابن مسعود رضی اللہ عنہ ورکړل او د ټولو اکابرو صحابه کرامو رايه او مشوره د خلافت صديق په قيام کي شامله وه، د هغه تر ټولو لوی دليل دا وو چي د خلافت په استحقاق کي مو ږ هغه ذات څرنګه وروسته کولای سو چي هغه رسول الله ﷺ د خپل مرض وفات په وخت کي زموږ د لمانځه د امامت لپاره مخکي کړی وو، دا ممکن نه ده چي کوم سړی رسول الله ﷺ زموږ ديني امام ټاکلی وي هغه دي موږ د خپل دنياوي مشرتابه لپاره ونه ټاکو.

همدا رنګه مضمون د سيدنا علي رضی اللہ عنہ څخه هم منقول دی، په هر حال د حديث لومړی برخه: اقتدوا بالذين من بعد اي ابوبکر وعمر، او آخري برخه: تمسکم بعهد ابن ام عبد، په منځ کي چي کوم مناسبت دی د هغه څخه د توربشتي رحمۃ اللہ علیہ ددغه قول تائيد کيږي، مګر په دوهم روايت کي حضرت حذيفه رضی اللہ عنہ چي کوم الفاظ نقل کړي دي د هغه څخه ددغه قول تائيد کيږي چي د عهد څخه مراد قول او وصيت دی.

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۹۷۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتُ مُؤَمِّرًا مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ لَأَمَّرْتُ ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ. رواه الترمذي وابن ماجه.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که ما د مشورې څخه پرته يو څوک امير کولای نو ما به ستاسو امير د ام عبد زوی (عبدالله بن مسعود رضي الله عنه) کړی وای . ترمذي او ابن ماجه

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۳۲، رقم: ۳۸۰۸، وابن ماجه ۱\۴۹، رقم: ۱۳۷.

تشريح: يعني عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه داسي صلاحيت او کمال لري چي د هغه په امير او حاکم جوړولو کي د چا د مشورې او فکر اړتيا نسته ، علماؤ ليکلي دي چي رسول الله ﷺ دغه خبره د يو خاص لښکر د امير او مشر جوړولو په اړه کړې وه يا په خپل ژوند کي د يو خاص معاملې د ذمه دارۍ سپارلو په اړه يې کړې وه، په هر صورت د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب د خلافت عامه څخه هيڅکله نه وو چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته قائم سو ، د خلافت يو لوی شرط قريشي النسل کېدل خو خپله رسول الله ﷺ بيان کړي دي او حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د قريشو څخه نه وو .

د يو څو صحابه کرامو فضائل

﴿۵۹۷۲﴾: وَ عَنْ خَيْثَمَةَ بْنِ أَبِي سَبْرَةَ قَالَ أَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَسَأَلْتُ اللهَ أَنْ

د خيثمه بن ابي سيره رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه مدينې ته راغلم او د الله جل جلاله څخه مي دعاء

يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَيَسَّرَ لِي أَبَا هُرَيْرَةَ فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ إِنِّي سَأَلْتُ

وغوښتل چي ما ته يو صالح ملګری راکړې، نو دابو هريره رضي الله عنه صحبت راته حاصل سو او زه د هغه سره کښېنستلم، او ورته مي وويل ما د خدای تعالی څخه دعاء غوښتې وه چي

اللهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَوُفِّقْتَ لِي فَقَالَ لِي مِمَّنْ أَنْتَ قُلْتُ مِنْ أَهْلِ

ما ته يو صالح ملګری راکړې نو خدای تعالی ستا ملګرتيا را په برخه کړه، ابو هرير رضي الله عنه را څخه پوښتنه وکړه ته د کوم ځای اوسيدونکی يې ؟ ما ورته وويل

الْكُوفَةِ جِئْتُ أَلْتَمِسُ الْخَيْرَ وَأَطْلُبُهُ فَقَالَ أَلَيْسَ فِيكُمْ سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ

زه د کوفې څخه راغلی یم د نیکۍ په لټه کې یم (یعني علم)، ابو هریره رضي الله عنه وویل: ایا په تاسو کې سعد بن مالک رضي الله عنه نسته چې

مُجَابُ الدَّعْوَةِ وَابْنُ مَسْعُودٍ صَاحِبُ طَهُورِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مستجاب الدعوات دی او ایا په تاسو کې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نسته چې د رسول الله ﷺ د اوداسه اوبه او څپلې مبارکې به یې د ځان سره ساتلې،

وَنَعْلَيْهِ وَحُذَيْفَةُ صَاحِبُ سِرِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَمَّارٌ الَّذِي

او ایا په تاسو کې حذیفه نسته چې د رسول الله ﷺ هم راز وو او ایا په تاسو کې عمار رضي الله عنه نسته

أَجَارَهُ اللَّهُ مِنَ الشَّيْطَانِ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صلى الله عليه وسلم وَسَلْمَانُ صَاحِبُ الْكِتَابَيْنِ يعني الانجيل والقرآن. رواه الترمذي.

چې هغه ته خدای تعالی د خپل نبي د ژبې په ذریعه د شیطان څخه پناه ورکړې ده. او ایا په تاسو کې سلمان چې د دوو کتابونو خاوند دی مراد یې انجیل او قرآن وو. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۳۳، رقم: ۳۸۱۱.

د لغاتو حل: فوفقت لي: اي جعلت انت موافق لي.

تشریح: او الله جل جلاله زما د دعاء په قبلولو سره: داد (فوفقت لي) توضیحي معنی ده، وفقت په اصل کې د وفق څخه مجهوله صیغه ده چې د هغه معنی د موافق کېدل دي، ځرګنده دي وي چې د مشکوة په ځینو نسخو کې د فوفقت لي، څخه مخکې د: فیسرلي، الفاظ هم منقول دي.

د خیر پلټونکي: دلته د خیر څخه مراد علم او عمل دی چې الله جل جلاله په خپل کلام کې د حکمت په لفظ تعبیر کړی دی: ومن یؤتي الحکمة فقد اوتي خیرا کثیرا.

سعد بن مالک رحمه الله، دا هغه سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دی چې د هغه یادونه مخکې تېره سوې ده، او د هغه مستجاب الدعوات کېدل هم بیان سوي دي، د ابي وقاص رضي الله عنه اصل نوم مالک وو او له دې کبله ورته سعد بن ابي وقاص هم ویل کیږي او سعد بن مالک هم.

د حضرت عمار رضي الله عنه په اړه د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې څخه دغه دعاء جاري سوې وه چې

اې الله! عمار رضي الله عنه د شيطان او د شيطان د پيروۍ څخه خوندي وساتې، او دغه دعاء قبوله سول ځکه حضرت عمار رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې په برکت د شيطان او د شيطان د ذريات څخه په امن کې وو،

چې د دوو کتابو يعني انجيل او قرآن کريم منونکې دې، يعني حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د اسلام راتلو ته د رسېدو څخه مخکې د عيسائيت پيروکار وو، هغه انجيل وايه او په هغه يې ايمان راوړی وو، بيا د اسلام د دعوت په ترلاسه کولو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او اسلام يې راوړ، قرآن کريم يې وايه او په قرآن کريم يې عمل کوی، په دې اعتبار سره هغه د دوو کتابو منونکې سو، د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه يادونه مخکې سوې ده، هغه دوه نيم سوه کاله عمر درلود، د نوموړي لقب سلمان الخير وو د هغه د پلار نوم هيڅا ته معلوم نه وو، کله چې به يو چا د هغه څخه د نسب او د هغه د پلار په اړه پوښتنه وکړل نو هغه به جواب ورکوی چې انا ابن الاسلام، يعني زه د اسلام زوی يم.

د يو څو صحابه کرامو فضيلت

﴿۵۹۷۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو بَكْرٍ نِعْمَ الرَّجُلُ عُمَرُ نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ

ابوبکر رضي الله عنه ښه سړی دی، عمر رضي الله عنه ښه سړی دی، ابوعبيده بن

الْجَرَّاحِ نِعْمَ الرَّجُلُ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ نِعْمَ الرَّجُلُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ

الجراح رضي الله عنه ښه سړی دی، اسيد بن حضير رضي الله عنه ښه سړی دی، ثابت بن قيس بن

شَمَّاسٍ نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ

الْجَمُوحِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

شماس رضي الله عنه ښه سړی دی، معاذ بن جبل رضي الله عنه ښه سړی دی، معاذ بن عمرو بن الجموح رضي الله عنه ښه سړی دی، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۲۵، رقم: ۳۷۹۵.

تشريح: د سيدنا ابوبکر صديق، عمر فاروق، ابوعبيده، ثابت بن قيس او معاذ بن جبل رضي الله عنهم يادونه مخکي سوي ده، سيدنا اسيدبن حضير رضي الله عنه د مديني منورې د انصارو څخه دی او د اوس قبيلې څخه وو، د عقبه په بيعت کي په حاضرېدونکو او د بدر په غزا کي په ګډون کوونکو کي وو، په وروسته غزاوو کي يې هم ګډون کړی دی، د صحابه کرامو يوې لوی ډلي دده څخه حديثونه روايت کړي دي، په مدينه منوره کي په دوهم هجري کال وفات سو او په بقيع کي دفن کړل سو.

سيدنا عمرو بن الجموح رضي الله عنه هم د مديني د انصارو څخه دی مګر دده تعلق د خزرج قبيلې سره دی، دی هم د عقبه په بيعت کي حاضر وو او بدري دی، د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو، په هر حال په حديث کي ذکر سوي ټول صحابه کرام مهاجرين او انصار دي، کيدای سي چي دغه ټول حضرات په يوه وخت د رسول الله ﷺ په مجلس کي يو ځای سوي وي چي رسول الله ﷺ په دوی کي د هر يوه بېل بېل صفت او مدح وکړل، يا کيدای سي د ذکر سوو کسانو په اړه د تعريفي الفاظو په ذکر کولو کي د هر يوه بېل بېل ذکر کولو يو خاص سبب رامنځته سوی وي.

جنت مشتاق دی

﴿۵۹۷۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْجَنَّةَ تَشْتَاقُ إِلَى ثَلَاثَةٍ عَلِيٍّ وَعَمَّارٍ وَسَلْمَانَ. رواه الترمذي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت درو کسانو ته په انتظار کي دی) علي، عمار او سلمان رضي الله عنهم. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۲۶، رقم: ۳۷۹۸.

تشريح: ددغه ارشاد اصل مقصد ددغه درو حضراتو جنتي کېدل په بليغ او زورور انداز کي بيانول دي، يعني رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي دغه درې کسان داسي جنتيان دي چي خپله جنت هم د دوی ډېر په شوق دی او په تيارېدو سره د دوی په انتظار کي دی چي کله به دوی ما ته راسي. او ځيني حضرات وايي چي د جنت د مشتاق کېدو څخه مراد د جنتيانو يعني ملائکو او حورو مشتاق کېدل دي، طيبي رحمه الله ليکلي دي چي ددغه درو کسانو په اړه د جنت مشتاق کېدل داسي دي لکه څرنګه چي په مخکني حديث کي د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه پر وفات

باندې د عرش ښورېدو یادونه سوې ده.

د حضرت عمار رضي الله عنه فضیلت

﴿۵۹۷۵﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ اسْتَأْذَنَ عَمَّارٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ائْذَنُوا لَهُ مَرْحَبًا بِالطَّيِّبِ الْمُطَيَّبِ. رواه الترمذي

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چې عمار رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه د حاضرۍ اجازه وغوښتل، نبي کریم ﷺ وفرمایل ده ته اجازه ورکړئ او پاک سوي سړي ته زیرې ورکړئ. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۲۶، رقم: ۳۷۹۸.

تشریح: طیب خو حضرت عمار رضي الله عنه ته اشاره ده او د مطیب څخه د هغه پاکي او بزرګي ته اشاره ده چې د اخلاقو او صفاتو په ذریعه هغه ته تر لاسه وه، ملا علي قاري رحمه الله لیکلي دي چې د حضرت عمار رضي الله عنه د نفس پاکي او دهغه د اخلاقو کردار د پاکۍ د تعریف او تحسین په سخت انداز کي د بیانولو لپاره د طیب او مطیب الفاظ استعمال سوي دي لکه څرنګه چې د یوې سایې لپاره د مبالغې په توګه ظل ظلیل استعمالیږي.

﴿۵۹۷۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا خُيِّرَ عَمَّارٌ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلَّا اخْتَارَ أَرْشَدَهُمَا. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: عمار ته چې کله په دوو کارونو کي د یو د اختیارولو ویل سوي دي نو هغه همېشه سخت او مشکل کار اختیار کړی دی. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۲۷، رقم: ۳۷۹۹.

تشریح: مطلب دا چې په هغه دواړو کارو کي کوم کار چې پر طبیعت درونډ او پر نفس باندې تکلیف وو او په دې اعتبار به زیات فضیلت هم د هغه کار وو، نو عمار رضي الله عنه به هغه اختیاروی لکه څرنګه چې د ولایت طریقه ده، پاته سوه د رسول الله ﷺ معامله چې رسول الله ﷺ به په دوو اختیاري کارو کي هغه کار اختیاروی چې تر ټولو به اسان او سپک وو، نو ددې مقصد د امت لپاره د اساني پیدا کول وو، پهیوه روایت کي راغلي دي چې عمار ته به کله په دوو کارو کي د یو کار اختیار ورکړل سو نو هغه به هغه کار اختیاروی چې زیات اسانه به وو، ددغه دواړو

روایتو په منځ کې په ظاهره اختلاف معلومیږي ځکه علماؤ لیکلي دي چې د ذکر سوي روایت معنی خو داده چې خپله حضرت عمار رضي الله عنه ته به کوم کار سخت او مشکل معلوم سو نو هغه چې به کوم کار د دوهم کار په نسبت زیات او تکلیفي ګڼی هغه به یې اختیاروی او ددغه دوهم روایت معنی داده چې د هغه څخه ماسوا د بل سړي به یو کار زیات سخت او تکلیفي ګڼي یعني بل چا چې به دا ګڼل چې عمار رضي الله عنه کوم کار اختیار کړی دی هغه اسانه دی مګر په حقیقت کې د حضرت عمار رضي الله عنه په نزد به هغه کار زیات سخت او تکلیفي وو.

د سعد بن معاذ رضي الله عنه فضیلت

﴿۵۹۷۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا حُمِلَتْ جَنَازَةُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ قَالَ الْمُنَافِقُونَ مَا أَخَفَّ جَنَازَتَهُ وَذٰلِكَ لِحُكْمِهِ فِي بَنِي قُرَيْظَةَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ كَانَتْ تَحْمِلُهُ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې کله د سعد بن معاذ رضي الله عنه جنازه پورته کړل سوه نو منافقانو وویل دده جنازه څومره سپکه ده، او د سپکیدو وجه هغه حکم دی چې سعد د بني قریظه په اړه ورکړی وو، رسول الله ﷺ ته چې ددې خبر ورسیدی نو وه یې فرمایل: د سعد رضي الله عنه جنازه ځکه سپکه معلومېدل چې ملائکو پورته کړې وه. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۴۷، رقم: ۳۸۴۹.

تشریح: د هغه فیصلې په وجه: پښنه دا وه چې په مدینه کې د یهودیانو قبیله، بنو قریظه چې د خندق د غزا په وخت کې د رسول الله ﷺ او مسلمانانو سره د بدعهدۍ او باور ماتولو څرګندونه وکړل نو رسول الله ﷺ د هغه غزا څخه د فارغه کېدو وروسته د بنو قریظه په لور مخ کړ او دهغوی قلعه یې محاصره کړل، چې دهغوی د پرله پسې فلانونو او بې قولیو د همیشه لپاره فیصله وکړل سي، د بنو قریظه یهودیان نه خو د خپلې قلعې څخه دباندي راوتلای سول چې د مجاهدینو سره مقابله وکړي او نه د رسول الله ﷺ پیروۍ ته اماده وه، دغه محاصره تر پنځه ویشتو ورځو پوري جاري وه او په قلعه کې دننه بندي یهودیانو ته د خلاصون لاره نه معلومېدل نو هغوی رسول الله ﷺ ته دا پیغام واستوی چې موږ په دې شرط تاسو ته خپل ځانونه حواله کوو چې سعد بن معاذ رضي الله عنه زموږ لپاره کومه سزا غوره کړي هغه سزا دي موږ ته

راکړل سي ، رسول الله ﷺ دا شرط قبول کړ او حضرت سعد رضی الله عنه ته یې حکم وکړ چي دهغوی په حق کي د عدل او انصاف له موخي کومه سزا چي مناسب وګڼې هغه وټاکه، حضرت سعد رضی الله عنه د معاملې په ټولو اړخونو د غور کولو څخه وروسته دا فیصله وکړل چي د بنو قریظه ټول نارینه دي ووژل سي او د هغوی د ښځو او ماشومانو سره دي د جنګي بندیانو چلن وکړل سي او د هغوی مالونه او سامانونه دي په مسلمانانو کي وویشل سي .

رسول الله ﷺ په دغه فیصلې عمل وکړ او حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه ته یې وفرمایل چي ستا دغه فیصله د الله جل جلاله د هغه حکم مطابق ده چي هغه په اووم آسمان کي صادره کړل، نو کله چي حضرت سعد رضی الله عنه وفات سو او دهغه جنازه یې ادا کړل نو منافقانو چي همېشه د اسلام او مسلمانانو سره پټه دښمني درلودل د حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په اړه دغه اعتراض پر ژبه راوړ او هغه ته یې پیغور ورکړ چي د سعد رضی الله عنه دغه جنازه ځکه سپکه ده چي هغه د بنو قریظه په اړه غیرمنصفانه فیصله کړې وه ، یعني هغه منافقانو حضرت سعد رضی الله عنه ته د ظلم نسبت او د هغه فیصله یې یوه ظالمانه فیصله وګرځول ، حال دا چي دا دهغه منافقانو باطني خبث وو چي هغوی د اسلام او مسلمانانو سره د دښمنۍ په وجه د حضرت سعد رضی الله عنه ډېره مناسبه او د حقیقت څخه ډکه فیصله ظالمانه فیصله وګڼل او د هغه د جنازې د سپک کېدو یې د ذکر سوي فیصلې په اړه ډېره پالتو او لغو خبره وکړل .

د هغه جنازه ملائکو وړل: یعني د سعد رضی الله عنه د جنازې د سپکتیا د هغه خبري سره هیڅ مناسبت نسته کومه چي د هغه جاهلو منافقانو په ذهن کي وه او د هغه اظهار هم هغوی کړی دی، حقیقت دادی چي د سعد رضی الله عنه د جنازې لپاره ملائکي هم راغلي دي او هغه جنازه ملائکو پورته کړې وه ځکه خلګو ته سپکه معلومېدل، ددې څخه ماسوا دا خبره هم ده چي د مړي بدن سپک کېدل بذات خود ښه علامه ده . او درروند کېدل ښه علامه نه ګڼل کیږي، د عارفینو وینا ده چي د مړي درروند کېدل دا ظاهروي چي هغه سړي له دنیا سره ډېره شوق درلود او د مړي سپک کېدل د دنیا څخه د بې شوقۍ او د آخرت سره د شوق ثرګندونه وي، په هر حال منافقانو ذکر سوې خبره د حضرت سعد رضی الله عنه د سپکاوي په اړه کړې وه ځکه رسول الله ﷺ داسي جواب ورکړ چي د جنازې په سپک کېدو سره د حضرت سعد رضی الله عنه د شان او حیثیت زیاتېدل او دهغه د عظمت ظاهرېدل لازم سي ، د الله جل جلاله ارشاد دی :

لِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ

عزت خو د الله ﷻ او د هغه د رسول او د مؤمنانو لپاره دی مګر منافقان نه پوهیږي.

د حضرت ابوذر رضی الله عنه فضیلت

﴿۵۹۷۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَاءُ وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَاءُ أَصْدَقَ مِنْ أَبِي ذَرٍّ. رواه الترمذي

د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي شین آسمان هیڅکله پر داسي سړي سایه نه ده کړې او نه غبارلړونکي مځکي داسي سړی پورته کړی دی چي د ابوذر رضی الله عنه څخه زیات رښتونی وي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۲۸، رقم: ۳۸۰۱.

د لغاتو حل: الغبراء: اي الارض. (مځکه)

تشریح: حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه د صحابه کرامو د هغه بزرګانو څخه دی چي د زهد، قناعت، فقر، استغناء او د تجرد ژوند تېرولو په سبب د دنیا د هر خوند او نعمت څخه یې ځان لیري ساتی، د نوموړي یادونه مخکي تېره سوې ده.

دلته د حضرت ابوذر رضی الله عنه په اړه چي حصر دی ددې څخه تاکید او مبالغه مراد ده، ددې مطلب دا نه دی چي هغه په مطلقه توګه تر ټولو زیات رښتونی وو، او هیڅوک د هغه څخه زیات رښتونی نه وو، دا وضاحت ځکه ضروري دی چي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ددغه امت صدیق دی او د نبي کریم ﷺ څخه وروسته هغه د امت تر ټولو افضل کس دی، نو دا ویل مناسب نه دي چي حضرت ابوذر رضی الله عنه تر حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم زیات رښتونی وو، او بیا خپله رسول الله ﷺ او انبیاء علیهم السلام خو په یقیني توګه د حضرت ابوذر رضی الله عنه څخه زیات رښتوني وه.

﴿۵۹۷۹﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَاءُ وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَاءُ مِنْ ذِي لَهْجَةٍ أَصْدَقَ وَلَا أَوْفَى مِنْ أَبِي ذَرٍّ شِبْهِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ يعني في الزهد. رواه الترمذي.

د حضرت ابوذر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: نه آسمان سایه وکړه او نه

مځکې پورته کړ داسي سړی چي د ابوذر ﷛ څخه زیات په ژبه رښتونی او وفاکونکی وي.
چي په زهد کي د عیسی ﷤ سره زیات مشابه دی. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۲۸، رقم: ۳۸۰۲.

تشریح: د اوفی معنی ځینو شارحینو دا کړې ده چي د کلام حق د ابوذر ﷛ څخه زیات اداء کونکی وي او د کلام یو حق دادی چي صحیح رښتوني او نیکي خبري څخه ماسوا بل څه پر ژبه نه راوړي او یو حق دادی چي د تلفظ ادا کول، دجملو جوړول، دالفاظو استعمال او د مفهوم او معنی په اظهار کي کمي نه وي، نو د حدیث خلاصه دا سول چي ابوذر ﷛ د حق په اظهار کي هیڅ سستي نه کول، تل یې رښتیا او پاکه خبره کول، کومه خبره چي حق او رښتیا ګڼي هغه په ډاګه کوي که څه هم چا ته بده معلومیږي، او هغه د الله ﷻ او دهغه د رسول پوخ فرمانبردار دی، یا دا چي هغه وعده پوره کوي یا دا چي خپله خبره په وضاحت او فصاحت سره وړاندي کوي، خلاصه دا چي تر آسمان لاندي او د مځکي سربېره هیڅوک د ابوذر ﷛ برابر، رښتونی او د خپلي خبري پوره کوونکی یا د الله ﷻ او د هغه د رسول د حق ادا کونکی یا فصیح اللسان نسته.

چي د عیسی بن مریم ﷤ مشابه دی، په دغه الفاظو کي د حضرت ابوذر ﷛ زهد او د هغه تجرد ته اشاره ده، د هغه د زهد او له دنیا څخه د بې شوقۍ دا حال وو چي د دنیا د جائز او مباح خوندونو څخه یې هم خپل ځان محروم کړی وو، د جره توب پر بې کیفه ژوند په پوره توګه قانع او صابر وو، مال جمع کول د هغه په نزد حرام وو که څه هم هغه څومره په جائز کسب او جائزه طریقه سره ګټل سوی وي، نقل سوي دي چي یوه ورځ د حضرت ابوذر ﷛ په لاس کي لکړه وه چي د سیدنا حضرت عثمان ﷛ مجلس ته راغلی، هلته حضرت کعب ﷛ هم ناست وو، حضرت عثمان ﷛ د کعب ﷛ څخه پوښتنه وکړل چي تا ته خو معلومه ده چي عبد الرحمن بن عوف ﷛ په دغه حال کي له دنیا څخه رخصت سوی دی چي د هغه سره ډېر مال او سامان وو، د هغه میراث پر ډېر سرو زرو او نور مال باندي شامله وه، نو په دې اړه ستاسو څه رایه ده، حضرت کعب ﷛ وویل: که عبد الرحمن په هغه مال کي د الله ﷻ حق یعني زکوة او نور څه ادا کوی نو بیا هغه په هغه مال او سامان کي د هغه لپاره د تاوان او بیري هیڅ خبره نسته، حضرت ابوذر ﷛ چي د حضرت کعب ﷛ دا خبره واورېدل نو د خپلي لکړې په پورته کولو سره یې هغه ووهی او وه یې وویل: ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي که چیري زما سره د احد د غره په اندازه سره زر وي

او زه هغه د الله ﷻ په لاره کي مصرف کړم نو ددې سربېره چي زما هغه مصرف قبول کړل سي زه يې بالکل نه خوښوم چي په هغه کي شپږ او قيه سره زر هم پرېږدم،

بيا حضرت ابوذر ؓ، د حضرت عثمان ؓ په مخاطب کولو سره ورته وويل: زه تا ته د الله ﷻ په قسم درکولو سره پوښتنه کوم چي ونښيه تا هم د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه دغه ارشاد اورېدلی دی؟ ابوذر ؓ دغه خبره درې واره وکړل، حضرت عثمان ؓ جواب ورکړ: هو، د رسول الله ﷺ څخه ما هم دغه ارشاد اورېدلي دی، په هر حال حضرت ابوذر ؓ يو کامل درويش او تارک الدنيا سړی وو، پر زهد او فقر باندي سخت عملي کوونکی وو، ځکه د هغه مذهب دا وو چي روپۍ او مال جمع کول او اېښودل جائز نه دي، الله ﷻ چي څه ورکړي هغه ټول دي د الله ﷻ په لاره کي مصرفول پکار دي، په دې اړه د هغه په مزاج دومره سختي وه چي د دولت په جواز کي هيڅ خبره اورېدل يې نه خوښول، کله چي د حضرت کعب ؓ څخه د حضرت عبدالرحمن ؓ د دولت په جواز کي هغه خبره واورېدل نو پر حضرت ابوذر ؓ باندي د هغه دغه سخته جذبه غالبه سول او هغه حضرت کعب ؓ په خپله لکړه ووهی مګر تر څو چي داصلي مسئلې تعلق دی نو د جمهورو مذهب دادی چه زکوة او نور حقوق ادا کوي نو د مال او سامان په جمع کولو او اېښودو کي هيڅ ګناه نسته که څه هم هغه هر څومره زيات وي، پاته سوه د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد خبره کوم چي حضرت ابوذر ؓ بيان کړه نو د هغه څخه د مال او دولت د بدۍ يا د مال او دولت د جمع کولو د عدم جواز هيڅ اړخ نه راوځي لکه څرنګه چي حضرت ابوذر ؓ ګڼل، رسول الله ﷺ خو محض د خپلي جذبې او دنياوي مال او سامان څخه د خپل بې شوقۍ اظهار فرمايلی وو نه د هغه دولت د جمع کولو او د اېښودو عمومي عدم جواز، چي په جائزه طريقه سره راځي او د هغه حق يعني زکوة او نور حقوق ادا کړل سي.

يعني په زهد کي: دغه الفاظ د راوي دي، د اصل روايت څخه نه دي، څرګنده دي وي چي صاحب استيعاب يو روايت نقل کړی دی چي په هغه کي د رسول الله ﷺ دغه الفاظ بيان کړي دي چي کوم څوک د حضرت عيسی ؑ د تواضع او خاکسارۍ د لېدو سعادت تر لاسه کول غواړي نو هغه دي ابوذر ؓ ته وګوري، ددغه روايت څخه ثابتېږي چي په ذکر سوي حديث کي ابوذر ؓ په کوم صفت کي د حضرت عيسی ؑ مشابه ښودل سوی دی هغه تواضع او خاکساري ده، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي کوم راوي يعني د في الزهد په الفاظو کي د مشابهت توضيح کول غواړي د هغه په علم کي هغه حديث نه وو کوم چي صاحب استيعاب نقل کړی دی. په دې کي شک نسته چي د زهد او تواضع په منځ کي اختلاف نسته، دغه دواړه

صفتونه يو ځای کيدای سي بلکه کوم څوک چي زاهد وي هغه به يقينا متواضع او خاکساره هم وي، ددې څخه ماسوا د (يعني في الزهد) الفاظ په اصل کتاب (مصابيح) کي موجود نه دي بلکه د صاحب مشکوة زيات کړل سوي دي.

څلور علمي صحابه کرام

﴿۵۹۸۰﴾: وَعَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ لَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ قَالَ الْتَمِسُوا الْعِلْمَ عِنْدَ

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله د هغه مرګ نژدې سو نو هغه وويل: علم د

أَرْبَعَةٍ عِنْدَ عُوَيْمِرٍ أَبِي الدَّرْدَاءِ وَعِنْدَ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ وَعِنْدَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ

څلورو کسانو څخه تر لاسه کړئ يعني د عويمر څخه چي د هغه کنيت ابو درداء رضي الله عنه دی، د سلمان رضي الله عنه څخه او د ابن

مَسْعُودٍ وَعِنْدَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ الَّذِي كَانَ يَهُودِيًّا فَأَسْلَمَ فاني سمعت

مسعود رضي الله عنه څخه او د عبد الله بن سلام رضي الله عنه څخه کوم چي مخکي يهودي وو بيا يې اسلام قبول

رسول الله صلى الله عليه وسلم يَقُولُ إِنَّهُ عَاشِرُ عَشَرَةٍ فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي.

کړ او ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چي هغه لسم سړی دی د هغه خلکو څخه چي جنت ته به ځي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۳۰، رقم: ۳۸۰۴.

تشريح: علم د څلورو کسانو څخه تر لاسه کوئ: دلته د علم څخه مراد يا خو په عامه توګه د کتاب الله او سنت رسول الله علم دی يا د هغه علم کمال هغه خاص فن چي د هغه څخه د حلال او حرام پېژندنه کيږي او دغه دريم احتمال زيات قوي او څرګند دی، ځکه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد: اعلمكم بالحلال والحرام معاذ بن جبل، د حلال او حرام په اړه ښه پوهېدونکی معاذ بن جبل رضي الله عنه دی، ددغه ارشاد په سبب د خاص علم او فن سره د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه مناسبت عامه هم حاصل دی او په دې سره د هغه وجه خصوصيت هم څرګنديږي.

چي د هغه کنيت ابو درداء دی، د هغه اصل نوم عويمر وو مګر مشهور په کنيت ابو درداء سره وو، درداء د هغه د لور نوم وو، حضرت عويمر رضي الله عنه يعني حضرت ابو درداء انصاري خزرجي دی، ستر فقيه، لوړ عالم او بزرګ شخصيت وو، د اصحاب صفه څخه دی او رسول الله صلى الله عليه وسلم د

هغه او حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه په منځ کي ورورګلوي قائمه کړې وه، وروسته هغه د شام په هیواد کي هستوګنه اختیار کړې وه او په ۳۲م هجري کال کي په دمشق کي وفات سو.

او بیا هغه اسلام قبول کړ: حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه مخکي یهودي وو او د موسوي دین ستر عالم منل کېدی، پر تورات باندي یې پوره عبور درلود او دهغه په اشاراتو په پوره توګه پوهیدی، هغه په آسماني کي کتاب د رسول الله ﷺ په وړاند وینو او هدایاتو باندي هم په پوره توګه پوهیدی، همدا وجه ده چي هغه د پیل څخه د رسول الله ﷺ د بعثت انتظار او د رسول الله ﷺ د لیدني شوق په سختۍ سره وو، کله چي رسول الله ﷺ د مکې څخه هجرت وکړ او مدینې منورې ته راغلی نو په اوله ورځ هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر او هم هغه وخت یې اسلام ومنی..

په لسو کي لسم کس دی: ددغه الفاظو څخه په ظاهره دا مفهوم اخیستل کیږي چي عبدالله بن سلام رضي الله عنه په عشره مبشره کي داخل دی حال دا چي داسي نه ده ځکه ددغه الفاظو معنی به داسي بیانیږي چي عبدالله بن سلام رضي الله عنه د هغه لسو کسانو څخه د لسم کس په ډول دی چا ته چي د جنت زیری ورکړل سوی دی او یو شارح ددغه جملې دا معنی لیکلې ده چي عبدالله بن سلام رضي الله عنه به د نهه کسانو څخه وروسته په جنت کي داخلیږي یعني صحابه کرام چي په کوم ترتیب سره په جنت کي داخلیږي په هغوی کي به لسم نمبر د عبدالله رضي الله عنه وي، مګر په دغه معنی کي داخرابي ده چي ددې څخه د عبدالله بن سلام رضي الله عنه د عشره مبشره څخه هم مخکي په جنت کي داخلېدل لازمیږي، په هر حال ددغه جملې یوه معنی دا هم کیدای سي چي عبدالله بن سلام رضي الله عنه د هغه لسو یهودیانو څخه لسم کس دی چي هغوی اسلام قبول کړ، یا دا معنی مراد ده چي د عشره مبشره څخه وروسته چي کوم لس کسان په جنت کي داخلیږي په هغوی کي د عبدالله بن سلام رضي الله عنه نمبر به لسم وي. والله علم.

د حذیفه او ابن مسعود (رض) فضیلت

﴿۵۹۸۱﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ اسْتَخْلَفْتَ قَالَ إِنْ أَسْتَخْلِفْ عَلَيْكُمْ فَعَصَيْتُمُوهُ عُذِّبْتُمْ وَلَكِنْ مَا حَدَّثَكُمْ حُذَيْفَةُ فَصَدِّقُوهُ وَمَا أَقْرَأَكُمْ عَبْدُ اللهِ فَاقْرَءُوهُ. رواه الترمذي.

د حضرت حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی چي صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله! که تاسو

خپل په وړاندې خليفه ټاكلى واى نو غوره به واى ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : كه زه پر تاسو يو څوک خليفه وټاكم او تاسو يې نافرماني وكړئ نو تاسو ته به عذاب دركړل سي مګر په دې اړه دا خبره ياد ساتئ چې حذيفه ﷺ تاسو ته څه وايي يا حديث بيان كړي نو هغه ربښتونى ګڼئ او عبدالله ﷺ چې څه درته وايي هغه وايا ست . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۳۳، رقم: ۳۸۱۲.

تشريح: رسول الله ﷺ چې په كوم انداز جواب وركړ د هغه تعلق د حكيمانه طرز سره وو ، لكه رسول الله ﷺ چې داسي وفرمايل: دا خبره ستاسو لپاره دومره ضروري نه ده چې د اوس څخه د خلافت په فكر كې ولګيږئ او د خلافت لپاره د يو چاد ټاكني درخواست ما ته كوئ ځكه چې دا خو هغه معامله ده چې د الله ﷻ په حكم سره پر خپل وخت ستاسو مخي ته په هر صورت ظاهريږي په دې توګه چې تاسو كوم اهل او مناسب سړي باندې اتفاق او اجماع وكړئ هغه به خليفه وټاكل سي .

ددې څخه ماسوا زما له خوا د خلافت لپاره د يو سړي په ټاكنه كې مانع دا هم دى چې فرض كړه ما ستاسو په غوښتنه يو څوک د اوس څخه وټاكى او بيا زما څخه وروسته تاسو د هغه خليفه نافرماني وكړئ او دهغه خلافت ونه منئ نو يقينا د الله ﷻ په سخت عذاب كې به اخته سئ نو تاسو د خلافت فكر پريږدئ او پر كتاب او سنت باندې عمل كونكى اوسئ چې دا خبره ستاسو لپاره تر ټولو اهمه او ضروري ده .

حذيفه ﷺ چې تاسو ته څه وايي: دلته په خاصه توګه ددغه دواړو صحابه كرامو يعني حضرت حذيفه او حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ يادونه ځكه وسول چې اول خو په علم او يقين كې د دوى ممتاز حيثيت ته اشاره كول مقصد وو ، دوهم دا چې يو صاحب ايمان چې د كوم شي څخه پرهيز تر ټولو زيات كول ضروري دي هغه نفاق دى او كوم شى چې تر ټولو زيات منل او پر ځاى كول دي هغه احكام شريعت دى ، نو لومړى شى يعني د نفاق علم او ادراک لرونكى تر ټولو زيات حذيفه ﷺ دى چې هغه ته د صاحب سر خاصه درجه تر لاسه وه، او دمنافقانو په اړه څه چې هغه پېژندل دومره بل صحابي نه پېژندل، دوهم شى يعني د احكام شريعت ډېر زيات علم لرونكى عبدالله بن مسعود ﷺ وو ، چې دهغه په اړه د رسول الله ﷺ اشاد دى : رضيت لامتي ما رضى به ابن ام عبد ، زما د امت لپاره ابن ام عبد يعني عبدالله بن مسعود ﷺ غوره كېدل زما غوره كول دي، همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: تمسكوا بعهد ابن ام عبد ، اې

مسلمانانو د ابن ام عبد يعني عبد الله بن مسعود رضي الله عنه تلقين او نصيحت او د هغه په رايه عمل کوئ، دلته علماؤ دا نکته ليکلې ده چي په ذکر سوي حديث کي او همدارنګه د دغه فصل په اول حديث کي يو ډول د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت بيان هم دی، په روايتو کي راځي چي د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته کله چي د خليفه د ټاکني مسئله رامنځته سول نو حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خليفه ټاکلو رايه ورکړې وه او ويلي يې وه چي ابوبکر رضي الله عنه هغه سړی دی چي رسول الله ﷺ زموږ امام (يعني د لمانځه لپاره امام) ټاکلی وو ځکه نو موږ بايد د دنيوي امامت لپاره هغه مخکي کړو .

د حضرت محمد بن مسلمه رضي الله عنه فضيلت

﴿۵۹۸۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ مَا أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ تُدْرِكُهُ الْفِتْنَةُ إِلَّا أَنَا أَخَافُهَا عَلَيْهِ إِلَّا مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَضُرُّكَ الْفِتْنَةُ. رواه ابوداؤد وسکت عنه و اقره عبد العظيم .

د حضرت حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چي هر کله خلک په فتنه کي ولوېږي نو هيڅوک به د هغه د اثر څخه خوندي نه سي پرته د محمد بن سلمه رضي الله عنه څخه چي د هغه په اړه ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي تا ته به فتنه ضرر نه رسوي . ابوداؤد او سکوت يې کړی دی ځيني او عبد العظيم ثابت کړی دی .

تخريج: سنن الترمذي ۵\۴۹، رقم: ۴۶۶۳.

تشريح. حضرت محمد بن مسلمه رضي الله عنه انصاري خزرجي اشهلي، يو ستر صحابي دی، نوموړي په مدينه کي د حضرت معصب بن عمير رضي الله عنه په لاس اسلام قبول کړی وو ، د تبوک څخه ماسوا په نورو ټولو غزاوو کي يې ګډون کړی دی، او ځينو حضراتو ليکلي دي چي رسول الله ﷺ د تبوک د غزا په وخت کي هغه په مدينه کي خپله خليفه ټاکلی وو ، د رسول الله ﷺ د حکم سره سم هغه د اختلاف او انتشاري او هري فتنې څخه خپل ځان ژغوری، کله چي به يوه ناخوښه موقع راغلل نو حضرت محمد بن مسلمه رضي الله عنه به بېلوالی اختيار کړ او همدارنګه د فتنې او فساد د شر څخه به خوندي کېدی، د رواياتو په اختلاف په ۴۳، يا ۴۶ هجري کال کي وفات سو .

او په دې اړه يې سکوت اختيار کړی دی: يعني امام ابو داؤد دغه حديث نه مطعون کړی دی او نه يې تصحيح او تحسين کړی دی ، څرګنده دي وي چي د کوم حديث په اړه امام ابوداؤد

سکوت اختيار کړی وي د هغه په اړه د محدثينو اختلاف وي، ځيني حضرات داسي حديث ته دصحيح درجه ورکوي او ځيني ورته د حسن او ځيني حضرات وايي چي هغه حديث ضعيف دی مگر د استناد وړ دی، دا خبره هم د يادوني وړ ده چي د مشکوة په اصل نسخه کي د رواه څخه وروسته خالي ځای پرېښودل سوی دی او په حاشيه کي ذکر سوی عبارت د جزري رحمة الله عليه په حواله سره ليکل سوی دی.

حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه

﴿۵۹۸۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي بَيْتِ الزُّبَيْرِ مِصْبَاحًا فَقَالَ يَا عَائِشَةُ مَا أُرَى أَسْمَاءَ إِلَّا قَدْ نُفِسَتْ فَلَا تُسَمُّوهُ حَتَّى أُسَمِّيَهُ فَسَمَّاهُ عَبْدَ اللَّهِ وَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ بِيَدِهِ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د زبير رضي الله عنه په کور کي څراغ بل وليدی نو وه يې فرمايل: اې عائشې! زما په خيال د بي بي اسماء زوی پيدا سوی دی تاسو خلک د هغه نوم مه ايږدئ تر څو پوري چي زه يې نه کښېږدم، نو د هغه ماشوم نوم رسول الله ﷺ عبدالله کښېښود او خرما يې په خوله کي وژوول او په خپل لاس مبارک يې د هغه په تالو پوري وموږل. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۳۹، رقم: ۳۸۲۶.

دلغاتوحل: مصباحا: اي سراج. (ډيوه). نفست: اي ولدت.

تشريح: د تحنيک معنی د يو شي د ژوولو او د ماشوم په خوله کي اچولو ده، نو خرما يا بل خوږ شی ژوول او د نوي پيدا سوي ماشوم په خوله کي اچول يا د هغه په تالو پوري موښل مستحب دي، دد غه حديث څخه ثرگنده سول چي د چا ماشوم پيدا سي نو هغه بايد په يو نېک او صالح سړي د هغه نوم کښېږدي او په خرما، عسلو يا بل خواږه شي سره د هغه تحنيک وکړي ددې لپاره چي په هغه سره برکت تر لاسه سي.

حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه، د رسول الله ﷺ د عمه بي بي صفيې رضي الله عنها زوی او د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه زوم دی، د بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها خور، بي بي اسماء رضي الله عنها د هغه په نکاح کي وه، نوموړي ستر صحابي دی او د عشره مبشره څخه دی.

حضرت عبداللهؓ د حضرت زبیرؓ او بي بي اسماءؓ زوی دی، رسول اللہ ﷺ د هغه کنیت د هغه د نیکه حضرت ابوبکر صدیق پر کنیت باندي ایښی وو او د هغه نوم يې هم د نیکه په نامه ایښی وو، د هجرت څخه وروسته په مدینه کي په مهاجرینو کي لومړی ماشوم حضرت عبدالله بن زبیرؓ په اول هجري کال کي پیدا سو، کله چي هغه پیدا سو نو حضرت ابوبکر صدیقؓ يې په غوږ کي آذان وکړ، بي بي اسماءؓ هغه رسول اللہ ﷺ ته راوست او د رسول الله ﷺ په مبارکه غیږ کي يې ورکړ، رسول الله ﷺ خرما وغوښتل او هغه يې په خپله خوله مبارکه کي وژوول او د هغه په خوله کي واچول، بیا يې د خپلي مبارکي خولې ناړي د هغه په خوله کي واچولې او د هغه تحنیک يې وکړ، همدارنګه د حضرت عبداللهؓ په نس کي چي تر ټولو مخکي کوم شی داخل سو هغه د رسول الله ﷺ مبارک لعاب وو، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه لپاره د خیر او برکت دعاء وکړل.

حضرت عبدالله بن زبیرؓ ډېر پاک نفسه انسان وو، روژې به يې ډېري نیولې او لمونځونه يې ډېر کول، د صله رحمي يې ډېر خیال کوئ او د قریبانو سره په ښه چلن کي مشهور وو، ډېر زړه ور او ستر سپه سالار وو، د جنګ په میدان کي د هغه مېړانه په ټولو قریشو کي یو مثال وو، د حق وینا کول د هغه ځانګړی امتیاز وو، ډېر ښه تقریر کوونکی او جهر الصوت وو، کله چي به يې خبري کولې نو آواز به يې د غرونو سره ټکر وهی، يوې ډېري لوی ډلي ته د هغه څخه د حدیثو د روایتو شرف حاصل دی.

حضرت عبدالله بن زبیرؓ د هغه صحابه کرامو څخه دی چي د امیر معاویهؓ د وفات څخه وروسته د یزید بن معاویه امارت يې ونه مني او د امارت معاویه د ټاکل سوي حاکم د تسلط څخه په وتلو سره مکې مکرمې ته راغلی وو، دلته د مکې ډېر شریفان او مشران د مخکي څخه د یزید پر خلاف وه، هغوی ټولو د حضرت عبدالله بن زبیرؓ په لاس بیعت کولو سره په مکه کي د هغه حکومت قائم کړ او یزید د خپلو سختتو کوښښونو سربېره د خپل حکومت په وخت کي په مکه کي هیڅ تسلط قائم نه کړ، د یزید د مرګ څخه وروسته حضرت عبدالله بن زبیرؓ په ۶۴ هجري کال کي د خپل خلافت اعلان وکړ او د عامو خلګو څخه يې بیعت واخیست، د هغه څخه وروسته ډېر ژر د شام د ځینو سیمو څخه ټولي اسلامي نړۍ د هغه خلافت تسلیم کړ او تقریبا تر نهه کالو پوري د حجاز، عراق، یمن، خراسان او نور هیوادونه د هغه تر خلافت لاندي وه، د جماي دي الاول په میاشت کي په ۷۲م هجري کال کي د دمشق اموي حکمران عبدالملک د مشهور ظالم حجاج بن یوسف ثقفي په مشرۍ کي یو غټ لښکر د

حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه پر خلاف پر مکې باندي د حملې کولو لپاره واستوی، دغه لښکر مخکې پر طائف باندي قبضه وکړل او د هغه ځايه يې د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه پر خلاف جنګي کاروايي پيل کړل، چې تر څو مياشتو پوري روانه وه،

بيا حجاج د عبدالملک څخه نوره مرسته وغوښتل او په ښه تياري کولو سره د رمضان المبارک په ۷۲ م هجري کال کي ډېر لويه حمله کولو سره د مکې مکرمې محاصره وکړل، دغه محاصره هم تر څو مياشتو پوري جاري وه چې د هغه په دوران کي د حجاج لښکر پر مکه ښار او کعبه شريفه باندي په منجنيق (مچلوغه) سره ډېري غورځولې او سخته تباهي يې خپره کړل، حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه د خپل محدود فوجي طاقت سره د حجاج مقابله په ډېره مېړانه او قرباني سره کول، تر دې چې د دنيا عظيم الشان زړه ور او متقي انسان د هغه ظالم فوج په لاس شهيد سو ، حجاج د هغه سر د بدن څخه بېل کړ او په دار يې وزړوی، او بيا څو ورځي وروسته د هغه د ښخولو اجازه وکړل سول.

حضرت معاويه رضي الله عنه

﴿۵۹۸۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عُمَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاوِيَةَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا وَاهْدِ بِهِ. رواه الترمذي.

د حضرت عبدالرحمن بن ابي عميره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د معاويه رضي الله عنه لپاره دا دعاء کړې ده اې الله ! دی سيده لار ښودونکی او سيده لار پيداکونکی جوړ کړې او خلک دده په ذريعه هدايت تر لاسه کونکي کړې . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵/۶۴۵، رقم: ۳۸۴۲.

تشريح: په دې کي شک نسته چې د رسول الله ﷺ دعاء مستجابه ده نو د کوم چا په اړه چې رسول الله ﷺ دغه مستجابه دعاء فرمايلې وي د هغه په اړه شبه او خراب خيال قائمول هيڅکله روا نه دي .

حضرت معاويه رضي الله عنه اموي قريشي دی، د هغه د مور نوم هنده دی چې د قريشو د سردار عقبه لور وه، او د هغه پلار ابوسفيان دی چې خپله د قريشو يو لوی سردار وو ، کومو خلکو چې د مکې د فتح په ورځ اسلام قبول کړ ابوسفيان د هغوی څخه يو دی، د مسلمان کېدو څخه وروسته ابوسفيان تر څو ورځو پوري په مؤلفة القلوب کي شمېرل کېدل بيا د اسلام او

مسلمانانو ځان قربانوونکي او وفادار خادم سو، حضرت معاویه رضی الله عنه د هغه صحابه کرامو څخه دی چي در سول الله ﷺ کاتبان وه، مګر د ځینو حضراتو وینا ده چي د وحي د لیکني کار هغه ونه کړ مګر د لیک لیکني کار هغه ته سپارل سوی وو، یعني د رسول الله ﷺ منشي وو، د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي د شام حاکم سو او تقریبا شل کاله یعني د حضرت عثمان غني رضی الله عنه تر آخري عهد خلافت پوري پر دغه وظیفه ولاړ وو،

بیا د سیدنا علي رضی الله عنه د خلافت او معاویه حکومت په منځ کي ټکر راغلی او د جنګ نوبت راغلی، د حضرت علي رضی الله عنه د وفات څخه وروسته کله چي د امام حسن رضی الله عنه او امیر المؤمنین په منځ کي صلح وسول نو ټولي اسلامي نړۍ حضرت معاویه رضی الله عنه د وخت خلیفه ومنی او تقریبا تر شلو کالو پوري د ټول اسلامي نړۍ خلیفه او امیر وو. د رجب په میاشت کي په ۶۱م هجري کال کي د ۷۸ کالو په عمر په دمشق کي وفات سو، د عمر په پای کي یې ارمان کوی او ویل یې چي کاش زه د قریشو د یو معمولي کس په ډول په ذي طوی کي پروت وای او ددغه حکومت او خلافت هیڅ شی مي نه لیدلای، نقل سوي دي چي د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه سره د رسول الله ﷺ تبرکات پراته وه، چي په هغو کي د رسول الله ﷺ څادر، لونګ او یو قمیص وو، ددغه جامو څخه ماسوا د رسول الله ﷺ ویښتان او نوکان هم ورسره وه، د مرګ په وخت کي امیر معاویه رضی الله عنه وصیت وکړ چي د رسول الله ﷺ په قمیص کي ما دفن کړئ، د رسول الله ﷺ په څادر کي دي زه ونغښتل سم، او د رسول الله ﷺ لونګ دي زما ازار جوړ کړل سي او د رسول الله ﷺ ویښتان او نوکان دي زما غاړه ډکه سي او یو څه دي زما د سجدې پر ځایو وتړل سي او بیا زما او ارحم الراحمین په منځ کي تخلیه وکړل سي یعني د دفن کولو څخه وروسته ما خدای جل جلاله ته وسپارئ.

حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه

﴿۵۹۸۵﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمَ النَّاسُ وَآمَنَ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وليس اسناده بالقوي.

د حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: نورو خلکو اسلام راوړ مګر عمرو بن العاص رضی الله عنه ایمان راوړ. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی او اسناد یې

قوي نه دي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۴۵، رقم: ۳۸۴۴.

تشريح: خلګو اسلام قبول کړ: دلته د خلګو څخه مراد د مکې او قريشو هغه خلګ دي چي هغوی د مکې د فتح په ورځ په هغه حالت کي اسلام قبول کړ او د خپل مسلمان کېدو اعلان يې وکړ، کله چي اسلام د يو فاتح طاقت په حيثيت سره پر هغوی غالب سو، او دا سلام د پيغمبر د عاطفت په لمن کي د پناه اخيستلو څخه ماسوا بله لاره د هغوی په مخکي نه وه، پاته سوه دا خبره چي کله چي الله ﷻ وغوښتل نو بيا د هغوی ايمان کامل او ټينګ سو او هغوی ټول مخلص مؤمنان او مسلمانان سول، ددغه خلګو پر خلاف حضرت عمرو بن العاص ﷠ د مکې د فتح څخه يو کال مخکي په خوښي ايمان راوړی وو، د الله ﷻ او د هغه د رسول په مينه کي يې خپل ګران هيواد مکه پرېښود او مدينې ته راغلی نو رسول الله ﷺ دا فرمايل، يعني دا ښودل وه چي په قريشو کي کوم خلګ د مکې د فتح په ورځ مسلمانان سول هغوی خو د بيري په وجه اسلام قبول کړی وو حال دا چي عمر بن العاص ﷠ په خوښي او اخلاص سره ايمان راوړی وو.

يو شارح ليکلي دي چي: رسول الله ﷺ په هغه وخت کي په خاصه توګه د عمرو بن العاص ﷠ په شوق او رضا سره د ايمان راوړلو يادونه د هغه د سبب څرګندولو لپاره وکړل چي د هغه د قبول اسلام محرک او سبب سو، پېښه داسي وه چي حضرت عمرو بن العاص ﷠ د مکې او قريشو مشرانو د خپل خاص نمائنده په جوړولو سره د حبشې پاچا نجاشي ته ددې لپاره واستوی چي هغه مسلمانان د حبشې څخه مکې ته بېرته را واستوي، کله چي عمرو بن العاص ﷠ د نجاشي څخه د هغه مسلمانانو د بېرته استولو غوښتنه وکړل نو نجاشي د هغه د غوښتني څخه انکار وکړ او هغه ته يې وويل: اې عمرو! زه حيران يم چي محمد ﷺ ستاسو د اکا زوی دی او تاسو د هغه د حقيقت څخه دومره بې خبره ياست، قسم په خدای! هغه د الله ﷻ رېښتونی رسول دی، عمرو وويل: تاسو همداسي وايياست، نجاشي ورته وويل: هو، قسم په خدای! زه داسي وايم، ته زما خبره رېښتونې وګڼه، بس هم هغه وخت د هغه په زړه او دماغ کي د ايمان نور وځلېدی او د هغه ځايه د ايمان په اراده را ستون سو، چا هغه ته د ايمان دعوت ورنه کړ او هيچا هغه ته د اسلام بلنه نه وه ورکړې، خپله د هغه فطرت سليم بيدار سو، د ايمان قبلولو جذبه په هغه کي را پورته سول او په تيزي سره مدينې ته راغلی او د رسول الله ﷺ په خدمت کي په حاضرېدو سره په ايمان مشرف سو او يو مخلص مسلمان جوړ سو.

رسول الله ﷺ د هغه ډېره حوصله افزايي وکړل تر دې چي په مسلمانېدو سره هغه د يو داسي لښکر مشر جوړ کړل سو چي په هغه کي حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رضي الله عنهما هم شامل وه، رسول الله ﷺ هغه ته دغه فضيلت له دې کبله ورکړ چي هغه د اسلام منلو څخه مخکي د رسول الله ﷺ سره سخته دښمني درلودل او د رسول الله ﷺ او نورو مسلمانانو په هلاکت پسې وو، ځکه د اسلام منلو څخه وروسته هغه د خپل ماضي په اړه نه يوازي دا چي ډېر په بېره کي وو بلکه د مسلمانانو په منځ کي يې خپل ځان پردی محسوسوی، نو رسول الله ﷺ هغه ته دومره لوی عزت ورکړ چي د هغه د زړه او دماغ څخه د بيري او پردي توب اثر هم زائل سي او د رسول الله ﷺ له خوا خپل ځان مطمئن او مامون وګڼي او د الله جل جلاله د رحمت څخه نا اميده نه سي، په يوه روايت کي راغلي دي چي عمرو بن العاص رضي الله عنه د اسلام منلو په اراده د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او خپله دهغه په غوښتنه رسول الله ﷺ خپل لاس ور وړاندي کړ چي هغه په لاس مبارک په بيعت کولو سره ايمان راوړي نو هغه خپل لاس راکشوی ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړل چي اې عمرو ! تا خپل لاس ولي کش کړ، عمرو وويل: زه يو شرط لګول غواړم، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړل چي څه شرط دی؟ هغه وويل: زه په دې شرط ايمان راوړم چي ما مخکي کوم ګناهونه کړي دي هغه راته معاف کړل سي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې عمرو! تا ته معلومه نه ده چي اسلام هغه ټول ګناهونه معافوي چي د اسلام منلو څخه مخکي سوي وي او هجرت هغه ټول ګناهونه معافوي چي د هجرت څخه مخکي يې کړي وي او کما قال ،

په يوه روايت کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: عمرو بن العاص او د هغه ورور هشام بن العاص دواړه مخلص او صادقان مؤمنان دي، په يوه حديث کي فرمايل سوي دي چي: عمرو بن العاص د قريشو د صالحانو څخه دی، په يوه روايت کي دي چي رسول الله ﷺ عمرو بن العاص ته په مخاطب کولو سره وفرمايل: انک الرشيد، بېله شکه ته هدايت يافته يې، او دا هم د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي عمرو بن العاص د نورو څخه غوره صدقه راوړې ده.

حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه ډېر هوښيار او عقلمند انسان وو، په ټولو عربو کي د هغه پوهي او تدبر منل کېدی، کله چي به حضرت عمر فاروق رضي الله عنه يو بې عقل شتمن وليدی نو ويل يې: سبحان الله! کوم ذات چي دا سړی پيدا کړی دی هغه عمرو بن العاص هم پيدا کړی دی، نقل سوي دي چي د خپل ژوند په آخري ورځو کي په عمرو بن العاص رضي الله عنه باندي د بيري، بې تابۍ او بې قرارۍ غلبه سوې وه، د الهي بيري غير معمولي اثر پر هغه څرګند وو، د هغه ددغه حالت په لېدو سره يوه ورځ دهغه زوی عبدالله بن عمرو رضي الله عنه ورته وويل: اې پلاره! تاسو ته د

رسول الله ﷺ د صحبت شرف حاصل دی، د رسول الله ﷺ په دربار کي تاسو ته لوړ مقام حاصل وو، په غزاوو کي تاسو د رسول الله ﷺ سره ګډون کړی دی نو بیا ته ولي دومره په بېره کي یې؟ حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه وویل: اې زویه! ته پوهیږې چي زما ټول ژوند په درو مختلفو مرحلو کي تېر سوی دی، زه مخکي د پیغمبر ﷺ او اسلام سخت دښمن وم بیا الله جل جلاله ما ته هدایت وکړ او زه مسلمان سوم، د رسول الله ﷺ د فیض څخه برخمن سوم، بیا زما د امارت او حکمرانۍ دور راغلی چي د اسلامي حکومت له خوا په مختلفو سیمو کي والي او حاکم سوم، او دهغه په سبب د دنیا څخه ځومره برخه چي ما اخیستل هغه مي واخیستل اوس زه نه پوهیږم چي په دغه درو مرحلو کي د کومي مرحلې مطابق زما سره چلن کیږي او زما به څه انجام وي.

د حضرت جابر رضی الله عنه د پلار فضیلت

﴿۵۹۸۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَقِيَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه ورځ زما سره یو ځای سو او وه یې

جَابِرُ مَا لِي أَرَاكَ مُنْكَسِرًا قُلْتُ اسْتُشْهِدَ أَبِي قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ عِيَالًا

فرمایل: اې جابره! څه خبره ده چي زه تا خفه او غمجن وینم، ما عرض وکړ: زما پلار شهید سوی دی او هغه ډیر اولاد

وَدَيْنًا قَالَ أَفَلَا أُبَشِّرُكَ بِمَا لَقِيَ اللهُ بِهِ أَبَاكَ قُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مَا

او پور پرې اېښی دی، رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا زه تا ته دا زیری در نه کړم چي الله تعالی ستا د پلار په اړه څه معامله کړې ده، ما عرض وکړ هو، اې دالله رسوله! نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

كَلَّمَ اللهُ أَحَدًا قَطُّ إِلَّا مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ وَأَحْيَا أَبَاكَ فَكَلَّمَهُ كِفَاحًا قَالَ يَا

الله تعالی چي تر ننه پوري د چا سره کلام کړی دی نو د پردې تر شا یې کړی دی مګر ستا پلار الله تعالی را ژوندی کړ او د هغه سره یې مخامخ خبري وکړې او ورته یې وفرمایل:

عَبْدِي تَمَنَّ عَلَيَّ أُعْطِكَ قَالَ يَا رَبِّ تُحْيِينِي فَأُقْتَلَ فِيكَ ثَانِيَةً قَالَ الرَّبُّ

اې زما بنده! زما څخه وغواړه زه به یې درکړم، نو ستا پلار وویل اې زما پروردګاره! ما بیا ژوندی کړه چي زه ستا په لار کي شهید سم، الله تعالی ورته وفرمایل:

عَزَّ وَجَلَّ إِنَّهُ قَدْ سَبَقَ مِنِّي أَنَّهُمْ لَا يُرْجَعُونَ فنزلت: وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا الْآيَةَ. رواه الترمذي.

زما دا حكم نافذ سوى دى چي د مرګ څخه وروسته هيڅوک دويم وار دنيا ته نه ځي، ددې څخه وروسته دا آيت نازل سو: (لاتحسبن الذين قتلوا في سبيل الله ...)، (کوم خلک چي د الله ﷻ په لار کي قتل سوي دي هغه مړه مه ګڼئ بلکه هغوى د خپل پروردګار سره ژوندي دي، رزق ورکول کيږي او د خداى تعالى په نعمتونو خوشحاله دي) ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۲۱۴، رقم: ۳۰۱۰.

د لغاتو حل: كفاحا: اي مواجها عيانا.

تشريح او تا خوشحاله نه کړم: د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي په دنيا کي کومه پرېشاني راځي هغه ژر يا وروسته ختميږي او د اساني لاره راوځي، ستا پلار چي لويه کورنۍ پرې ايښې ده، الله ﷻ به د هغوى د کافي کېدو انتظام وکړي او کوم پور چي يې پرې ايښې دى د الله ﷻ په فضل سره به هغه هم ادا سي، نو کوم وخت چي له دنيوي غم سره مخامخ سې پر هغه صبر او شکر کوه او نه محض په دې وجه ځان مه غمجن کوه بلکه ته بايد خوشحاله سې چي الله ﷻ ستا پلار ته د شهادت مرتبه ورکړل او په هغه سعادت يې ونازوى چي د مولى رضا او قرب ظاهروي، په دغه ارشاد کي يو خو دې ته اشاره ده که اولاد پر سېده لاره وي نو د پلار فضيلت او بزرګي په هغوى کي هم سرايت کوي او دوهم دې ته اشاره ده چي پلار ته تر لاسه خوشحالي او سعادت باندي اولاد ته هم خوشحاله کېدل پکار دي.

الله ﷻ چي د چا سره کلام کړى دى: يعني ستا د پلار څخه مخکي الله ﷻ چي د چا سره کلام وکړ، هغه مخامخ نه وو بلکه د پردې تر شا يې کړى دى، په دغه الفاظو کي دې ته اشاره ده چي د جابر رضی اللہ عنہ پلار په خاصه توګه د هغه ټولو شهيدانو څخه افضل دى کوم چي د هغه څخه مخکي شهيدان سوي دي ځکه چي په هغوى کي که د چا سره الله ﷻ کلام کړى وي نو د پردې تر شا به يې کړى وى او ځرګنده دي وي چي په قرآن کريم کي دا فرمايل سوي دي:

وما كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلاَّ وَحْيًا أَوْ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ

نو ددې تعلق يوازي ددغه دنيا سره دى نه د آخرت سره، ستا پلار الله ﷻ ژوندى کړ، دلته دا سوال پيدا کيږي چي الله ﷻ د شهيدانو په اړه فرمايلي دي چي: بل احياء عندربهم. يعني

شهيدان د خپل رب سره ژوندي دي، نو بيا د حضرت جابر رضي الله عنه د شهيد پلار په اړه د رسول الله ﷺ دا فرمايل چي الله جل جلاله هغه ژوندی کړی، څه معنی لري؟ ددې جواب يو شارح دا ليکلی دی چي الله جل جلاله د هغه روح د شنه مرغه په غالب کي منتقل کړ او بيا هغه مرغه ته يې د هغه د روح په ذريعه ژوند ورکړ لکه څرنګه چي د هر شهيد سره کيږي، نو رسول الله ﷺ د هغه داسي ژوندي کول وفرمايل، او يو جواب يې دا ليکلی دی چي دلته د ژوندي کولو څخه مراد دادی چي الله جل جلاله د هغه روح ته دومره قوت ورکړ چي په هغه سره هغه ته مخامخ په کلام کي د ديدار الهي تحمل تر لاسه سو.

دنيا ته به بېرته نه راځي: يعني دا خو دالله جل جلاله پخه فيصله ده چي څوک مړ سي هغه ته په دنيا کي دوهم وار ژوندي کېدل نه په برخه کيږي چي هغه دي بيا تر ډېره وخته ژوندی وي او په هغه وخت کي دي نيکي وکړي، ددغه وضاحت په رڼا کي دغه ارشاد به ددې خبري خلاف نه وي چي د ځينو مړو په دغه دنيا کي ژوندي کېدل هم ثابت دي مثلاً د عيسی عليه السلام دا معجزه ده چي هغه به د الله جل جلاله په حکم سره د څه وخت لپاره مړي ژوندي کول او ددې څخه هم زيات وضاحت دادی چي دا د الله جل جلاله پخه فيصله ده چي کوم څوک يو وار مړ سوی دی هغه په غوښتنه کولو سره په دنيا کي دوهم وار ژوندی کېدای نه سي، په دغه صورت کي د شهيد پر روايت باندي هم سوال نه کيږي، او سيد جمال الدين رحمة الله عليه داسي ليکلي دي چي: انهم لايرجعون، يعني هغوی به دنيا ته بېرته نه راځي، په دې کي د انهم ضمير مرجع شهيدان دي او شهيدان که د داحد د غزا شهيدان مراد واخيستل يا مطلق شهيدان، او دا خاص مرجع متعين کولو ضرورت ځکه دی چي د حضرت عزير عليه السلام د پېښي په وجه پر دغه ارشاد سوال نه واقع کيږي.

او بيا دغه آيت نازل سو:

وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ ۝

ژباړه: او کوم کسان چي د الله جل جلاله په لاره کي ووژل سوي دي هغوی مړه مه بولئ بلکه هغوی د خپل رب سره ژوندي دي، هغوی ته رزق ورکول کيږي او هغوی خوشحاله دي په هغه څه سره چي الله جل جلاله هغوی ته په خپل فضل سره ورکړی دی او کوم کسان چي هغوی ته نه دي رسېدلي تر هغوی وروسته پاته سوي دي د هغوی پر حالت هم هغوی خوشحاله دي چي پر هغوی باندي هيڅ ډول بېره راتلونکې نه ده او نه به هغوی غمجن وي.

حضرت جابر رضي الله عنه

﴿۵۹۸۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ اسْتَغْفَرَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسًا وَعِشْرِينَ مَرَّةً. رواه الترمذي.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ زما لپاره پنځه ويشت واره د بخښني دعاء كړې ده. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۴۸، رقم: ۳۸۵۲.

تشريح: يو احتمال خو دادى چي رسول الله ﷺ د جابر رضي الله عنه په اړه د بخښني دعاء پنځه ويشت واره په يو وار غوښتې وي او دوهم احتمال دادى چي په مختلفو وختو كي او په مختلفو ځايو كي په مجموعي توګه پنځه ويشت واره د مغفرت دعاء غوښتې وي، مګر جابر رضي الله عنه د يو بل روايت څخه د مخكني احتمال تائيد كيږي د هغه روايت الفاظ دي چي: استغفر لي رسول الله ﷺ ليلة البعير خمسا وعشرين، يعني رسول الله ﷺ د اوښ په ورځ زما لپاره پنځه ويشت واره د مغفرت دعاء وكړل.

حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه يو مشهور صحابي دى، د مديني منورې د انصارو څخه دى او سلمى دي، زيات روايتونه ځيني نقل كيږي، د بدر په غزا كي يې ګډون كړى دى او د هغه څخه وروسته هم تقريبا په اتلس غزاوو كي له رسول الله ﷺ سره وو، د شام او مصر په فتوحاتو كي هم شامل وو، د ده څخه د حديثو د روايت كونكو شمېر ډېر زيات دى، د عمر په پاى كي ړوند سوى وو، په مدينه منوره كي په ۷۴ م هجري كال كي وفات سو او هغه وخت يې عمر ۹۴ كاله وو، د يوه قول مطابق په مدينه كي وفات كېدونكى آخري صحابي دى.

حضرت براء بن مالك رضي الله عنه

﴿۵۹۸۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمْ مِنْ أَشْعَثَ أَغْبَرَ ذِي طِمْرَيْنِ لَا يُؤْبَهُ لَهُ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ مِنْهُمُ الْبَرَاءُ بْنُ مَالِكٍ. رواه الترمذي والبيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ډېر تاربه تار سري په دوړو لړلي خاوند د دوو زړو جامو او هغوى ته توجه نه كيږي كه هغوى د خداى جل جلاله په اعتماد قسم وخوري نو

خداى ﷻ هغوى قسم رشتيا كوي په هغوى كې يو كس براء بن مالك ﷛ دى . ترمذي او بيهقي

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۶۵۰، رقم: ۳۸۵۴.

د لغاتو حل: طمرين: اي صاحب ثوبين خلقين (د دوو زړو جامو خاوند)

تشريح حضرت براء بن مالک ﷛ د حضرت انس بن مالک ﷛ سكه ورو ر دى ، د سترو صحابه كرامو څخه دى، د عربو په زړه ورو او پهلوانانو كې شمېرل كيدى، د أحد په غزا او وروستنيو غزاوو كې يې ګډون كړى دى ، الله ﷻ هغه ته دومره مېړانه او طاقت وركړى وو چې هغه په يو ازې سر د مقابلې په صورت كې سل دښمنان وژلي دي او د نورو په يو ځاى كېدو سره چې كوم دښمنان هغه دوږخ ته رسولي دي د هغوى شمېر تر دې هم زيات دى ، په جنګ عامه كې هغه دبې پناه مېړانه څرګندونه كړې وه ، په ۲۰م هجري كال كې شهيد سو .

اهل بيت او انصار

﴿۵۹۸۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنَّ عَيْبَتِيَ الَّتِي آوِي إِلَيْهَا أَهْلُ بَيْتِي وَإِنَّ كَرِشِيَ الْأَنْصَارُ فَاعْفُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ وَاقْبَلُوا مِنْ مُحْسِنِهِمْ . رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن.

د حضرت ابو سعيد ﷛ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار سئ! زما هغه باطني دوستان چې زه رجوع ورته كومه زما اهل بيت دى او زما د زړه دوستان انصار دي ، نو تاسو د انصارو د خطا كارو بدى معاف كوئ او د هغوى د نيكو كارو نيكي قبلوئ . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب حسن دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۶۷۱، رقم: ۳۹۰۶.

تشريح د عيبه لفظ تفصيلي وضاحت په اول فصل كې تېر سوى دى ، په دغه روايت كې دغه لفظ د انصارو په تعريف كې نقل سوى دى مګر د دې خبري خلاف نه دى چې د دوى څخه ماسوا د بل چا په تعريف كې هم منقول وي ، په خاصه توګه د اهل بيتو په تعريف كې چې د دغه لفظ سره خاص مناسبت لري .

د انصارو فضيلت

﴿۵۹۹۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُبْغِضُ

الْأَنْصَارَ احد يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې پر خداى جل جلاله او د آخرت پر ورځ ايمان لري نو هغه د انصارو سره بغض او عداوت نه ساتي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۷۱، رقم: ۳۹۰۶.

د ابو طلحه رضي الله عنه د قوم فضيلت

﴿۵۹۹۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْرِئْ قَوْمَكَ السَّلَامَ فَإِنَّهُمْ مَا عَلِمْتُ أَعِفَّةٌ صُبُرٌ. رواه الترمذي.

حضرت انس رضي الله عنه د ابو طلحه رضي الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل: ته خپل قوم ته زما سلام ورسوه بېشکه دوی زما په علم کې ځان ساتونکي او صابران دي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۷۰، رقم: ۳۹۰۴.

د لغاتو حل: صبر: يتحملون الصبر عند القتال.

د اهل بدر فضيلت

﴿۵۹۹۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ عَبْدًا لِحَاطِبٍ جَاءَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْكُو حَاطِبًا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَيَدْخُلَنَّ حَاطِبٌ النَّارَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَبْتَ لَا يَدْخُلُهَا فَإِنَّهُ شَهِدَ بَدْرًا وَالْحُدَيْبِيَةَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې د حاطب يو غلام د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او د حاطب شکايت يې وکړ او وه يې ويل چې حاطب به خامخا په دوږخ کې داخلېږي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ته دروغ وايې هغه به دوږخ ته نه ځي ځکه چې هغه په بدر او حديبي کې ګډون کړی دی. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱۴\۱۹۴۲، رقم: ۱۶۲- ۲۱۹۵.

تشريح مطلب دا چي کوم کسان د بدر په غزا کي شامل سوي دي يا په حديبيه کي د رسول الله ﷺ په لاس مبارک د الله ﷻ په لاره کي د ځان د قرباني په بيعت په کونکو کي شامل وه د هغوی په اړه دا يقين دی چي هغوی به د دوږخ د اور ښخه خوندي او مامون وي او حاطب هم په بدر او حديبيه کي شريک وو، ځکه د هغه په اړه په يقين سره دا ويل چي هغه به دوږخ ته ځي، درواغ دي، ددې ښخه ماسوا د حاطب صاحب ايمان کېدل خپله د قرآن کريم د دغه آيت (يا ايها الذين امنوا لا تتخذوا عدوي وعدوكم اولياء ...) ښخه ثابتيږي چي د هغه لومړني مخاطب حاطب دی چي د هغه پر يوې لوي غلطۍ باندي د خبرداري په توګه نازل سوی وو، نو يو مؤمن ته په يقيني توګه دوږخي ويل صريح درواغ او لغوه خبره ده.

سلمان فارسي رضی اللہ عنہ او اهل فارس

﴿۵۹۹۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تلا هذه الاية

د حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ ښخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ:

وان تتولوا يستبدل قوما غيركم ثم لايكونوا امثالكم قالوا يَا رَسُولَ اللهِ

(وان تتولوا يستبدل....) : (که تاسو پر محمد (ﷺ) باندي د ايمان راوړلو ښخه مخ واړوئ نو الله تعالی به ستاسو پر ځای بل قوم پيدا کړي او هغه قوم به ستاسو په ډول نه وي)، نو صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله!

مَنْ هٰؤُلَاءِ الَّذِينَ ذَكَرَ اللّٰهُ إِنْ تَوَلَّيْنَا اسْتُبْدِلُوا بِنَا ثُمَّ لَايَكُونُوا أَمْثَالَنَا

هغه کوم خلک دي چي خدای ﷻ يې ذکر کړی دی که موږ نافرماني وکړو نو هغوی به زموږ پر ځای وټاکل سي او هغوی به زموږ په ډول نه وي،

فَضَرَبَ على فَخِذَ سَلْمَانَ الفارسي ثم قَالَ هٰذَا وَقومه وَلَوْ كَانَ الدين عند الثُّرَيَّا لَتَنَاوَلَهُ رِجَالٌ مِنَ الفرس. رواه الترمذي.

ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ د سلمان فارسي رضی اللہ عنہ پر ورانه لاس ووهی او بيا يې وفرمايل دا سړی او دده قوم، که دين پر ثريا (يعني آسمان) هم وي نو د فارس ډيرو خلکو به د هغه ځای

ښخه حاصل کړي وای . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۳۵۸، رقم: ۳۲۶۱.

تشريح: د فرس ښخه يا خو مطلق عجم مراد دي يا هغه خلک مراد دي چي د هغوی نسلي او باطني تعلق د فارس سره وو، زيات صحيح لومړنی احتمال دی ځکه دد پ تائيد د راتلونکي حديث ښخه کيږي.

پر عجميانو باندي باور

﴿۵۹۹۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ ذُكِرَتْ الْأَعَاجِمُ عِنْدَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنَا بِهِمْ أَوْ بِبَعْضِهِمْ أَوْثَقُ مِنِّي بِكُمْ أَوْ بِبَعْضِكُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه ښخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په وړاندي د عجميانو ذکر وکړل سو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: زه پر دوی يا پر ځينو د دوی زيات اعتماد کونکی يم له ما ښخه پر تاسي يا پر ځينو ستاسي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۸۲، رقم: ۳۹۳۲.

تشريح: د طيبي رحمه الله وينا ده چي د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد مخاطب د عربو د يوې خاصي قبيلې خلک وه چي هغوی ته رسول الله ﷺ په جهاد کي د مال مصرفولو حکم ورکړی وو او هغوی د هغه حکم په عملي کولو کي سستي ښودلې وه، په هر حال په دغه حديث کي دعجمو تعريف دی او دهغوی په اړه د رسول الله ﷺ د شفقت او عنايت او توجه اظهار کيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د رسول الله ﷺ نجباء او رقباء

﴿۵۹۹۵﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ كُلَّ نَبِيٍّ

د حضرت علي رضي الله عنه ښخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر نبي اووه خاص خلک وي

سَبْعَةَ نُجَبَاءَ وَرُقَبَاءَ وَأُعْطِيتُ أَنَا أَرْبَعَةَ عَشَرَ قُلْنَا مَنْ هُمْ قَالَ أَنَا وَابْنَايَ

چي د هغه غوره ساتونکی وي ، او ما ته څوارلس کسان راکړل سوي دي ، د حضرت علي رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول چي هغه کوم خلک دي ؟ حضرت علي رضي الله عنه وويل : زه علي، زما دواړه

وَجَعْفَرُ وَحَمْزَةُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَمُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَبِلَالٌ وَسَلْمَانُ وَعَمَّارٌ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ وابوذر وَالْمِقْدَادُ. رواه الترمذي.

زامن، جعفر، حمزه ،ابوبکر، عمر، مصعب بن عمیر، بلال، سلمان، عمار، عبدالله ابن مسعود ، ابوذر، او مقداد رضي الله عنهم اجمعين. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۶۳۰،رقم: ۳۷۸۵.

د لغاتو حل: نجباء: الكريم.

تشريح: د حضرت حمزه رضي الله عنه څخه ماسوا د نورو ټولو حضراتو اجمالي حالات مخکي بيان سوي دي، حضرت حمزه رضي الله عنه بن عبدالمطلب د رسول الله صلی الله علیه وسلم اکا دی، د نوموړي کنيت ابو عماره وو، د ابولهب مينزي ثوبيه رضي الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم تی ورکړی دی او حضرت حمزه رضي الله عنه ته هم، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت حمزه رضي الله عنه رضاعي وروڼه هم دي، ويل کيږي چي حضرت حمزه رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په عمر کي څلور کاله مشر وو، مگر عبدالبر ليکلي دي چي زما په نزد دا صحيح نه دی ځکه چي ثوبيه دواړو ته تی ورکړی دی نو د عمرونو دغه تفاوت څرنگه کيدای سي مگر که دا ومنل سي چي ثوبيه دواړو ته په بېلو بېلو زمانو کي تی ورکړی دی نو د عمرونو تفاوت ممکن دي او ځينو حضراتو ليکلي دي چي حضرت حمزه رضي الله عنه تر رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه کاله مشر وو، سيدنا حمزه رضي الله عنه ډېر زړه ور او قوي انسان وو، د هغه لقب د اسد الله (د الله جل جلاله زمری) دی. قديم الاسلام دی ، د يوه قول مطابق هغه د نبوت په دوهم کال اسلام قبول کړی وو او يو قول دا دی چي حضرت حمزه رضي الله عنه په شپږم هجري کال کي اسلام قبول کړ کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په دار ارقم کي هستوګن وو، د هغه په مسلمان کېدو سره اسلام ته ستر طاقت او شوکت حاصل سو، او الله جل جلاله د هغه په ذريعه خپل دين ډېر لوړ کړ، د بدر په غزا کي يې ګډون کړی دی او د احد په غزا کي د وحشي بن حرب په لاس شهيد سو.

حضرت عمار بن یاسر رضی اللہ عنہ

﴿۵۹۹۶﴾: وَ عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ قَالَ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ كَلَامٌ

د حضرت خالد بن ولید رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي زما او د عمار بن یاسر رضی اللہ عنہ په منځ کي پر یو معامله خبري اترې کیدلې چي

فَأَغْلَظْتُ لَهُ فِي الْقَوْلِ فَانْطَلَقَ عَمَّارٌ يَشْكُونِي إِلَى رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

ما د عمار رضی اللہ عنہ سره سختي خبري وکړې، عمار رضی اللہ عنہ رسول الله ﷺ ته زما شکایت وکړ، هغه نبي

وَسَلَّمَ فَجَاءَ خَالِدٌ وَهُوَ يَشْكُوهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَعَلَ

کریم ﷺ ته شکایت کوی چي خالد رضی اللہ عنہ هم راغلی چي ده هم د عمار څخه شکایت کوی، د راوي

يُغْلِظُ لَهُ وَلَا يَزِيدُ إِلَّا غِلْظَةً وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاكِتٌ لَا يَتَكَلَّمُ

بیان دی چي د شکایت اوریدو سره خالد رضی اللہ عنہ ته غصه ورغلل او عمار رضی اللہ عنہ ته یې بد رد وویل، د خالد رضی اللہ عنہ سختي پر مخ زیاتیدل او رسول الله ﷺ پټه خوله ناست وو، یو حرف یې هم پر ژبه

فَبَكَى عَمَّارٌ وَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا تَرَاهُ فَرَفَعَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مبارکه نه وایه، ددې حالت لیدو سره عمار رضی اللہ عنہ په ژړا سو او عرض یې وکړ اې د الله رسوله! تاسو نه وینئ، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ خپل سر مبارک را پورته کړ

رَأْسَهُ قَالَ مَنْ عَادَى عَمَّارًا عَادَاهُ اللَّهُ وَمَنْ أَبْغَضَ عَمَّارًا أَبْغَضَهُ اللَّهُ قَالَ

او وه یې فرمایل: څوک چي د عمار رضی اللہ عنہ سره دښمني کوي خدای جل جلالہ به هغه دښمن ګڼي او څوک چي د عمار رضی اللہ عنہ سره بغض کوي خدای به د هغه سره بغض کوي.

خَالِدٌ فَخَرَجْتُ فَمَا كَانَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ رِضَا عَمَّارٍ فَلَقِيتُهُ بِمَا رَضِيَ

فَرَضِيَ. رواه احمد.

د خالد رضی اللہ عنہ بیان دی ددې ارشاد اوریدو سره زه دباندي راووتلم او اوس هیڅ شی زما په نظر کي ددې څخه غوره نه وو چي څنګه کیدای سوه هم هغسي زه عمار راضي کړم، نو زه د عمار رضی اللہ عنہ

سره داسي راغلم چي هغه زما څخه خوشحاله سو او هغه ما راضي کړ . احمد

تخريج: اخرجه احمد في مسنده ۴\۸۹.

تشريح: خالد هم راغلی، دغه الفاظ د هغه راوي دي چي هغه د حضرت خالد ﵁ څخه دغه روايت نقل کړی دی ، او د (فجاء خالد) څخه مخکي (قال) محذوف دی، ددې تائيد په راتلونکي عبارت کي د (قال خالد فخرجت) څخه هم کيږي، بيا هم د يو شارح مطابق دا احتمال هم دی چي دغه الفاظ خپله د حضرت خالد ﵁ وي او د حال په بيان کي دلته هغه طرز بدل کړی دی .

حضرت خالد (سيف الله) ﵁

﴿۵۹۹۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ عُبَيْدَةَ اَنَّهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ خَالِدٌ سَيْفٌ مِنْ سُيُوْفِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَنِعْمَ فَتَى الْعَشِيْرَةِ. رواهما احمد

د حضرت ابو عبيده ﵁ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي خالد ﵁ د خدای ﷻ د تورو څخه يوه توره ده او د خپلي قبيلې غوره زلمی دی . احمد

تخريج: اخرجه احمد في مسنده ۴\۹۰.

تشريح: د هغه د تورو څخه يوه توره ده، يعني خالد د يو داسي توري په ډول دي چي الله ﷻ د مشرکانو خلاف د پوښ څخه را ايستلې ده، او د کفارو پر سريې مسلط کړې ده، يا دا معنی ده چي الله ﷻ ، خالد صاحب شمشير کرځولی دی ، په هر صورت د دغه الفاظو په ذريعه د حضرت خالد ﵁ مېړاني او شجاعت ته اشاره ده هغه د الله ﷻ په لاره کي د دين د دښمنانو سره ښه جګړه کوونکی وو .

حضرت علي، ابوذر، مقداد او سلمان (رض)

﴿۵۹۹۸﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت بريده ﵁ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ

أَمَرَنِي بِحُبِّ أَرْبَعَةٍ وَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ يُحِبُّهُمْ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ سَمِّهِمْ لَنَا قَالَ

ما ته د څلورو کسانو سره د محبت حکم کړی دی او دا يې راته ښودلي دي چي هغوی هم ورسره مينه کوي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! د هغوی نومونه را وښيه، رسول الله ﷺ

عَلِيٌّ مِنهُمْ يَقُولُ ذَلِكَ ثَلَاثًا وَأَبُو ذَرٍّ وَالْمِقْدَادُ وَسَلْمَانُ أَمَرَنِي بِحُبِّهِمْ وَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ يُحِبُّهُمْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

ورته فرمايل: په هغوی کي خو يو علي رضي الله عنه دی، د االفاظ رسول الله ﷺ درې واره وفرمايل، بيا يې وفرمايل: او ابوذر او مقداد او سلمان رضي الله عنهم دي، الله جل جلاله ما ته حکم کړی دی چي زه د هغوی سره مينه کوم او دا يې راته ښودلي دي چي الله جل جلاله هم د هغوی سره مينه کوي. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۹۴، رقم: ۳۷۱۸.

حضرت ابوبکر صديق او بلال (رض)

﴿۵۹۹۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ يَقُولُ أَبُو بَكْرٍ سَيِّدُنَا وَأَعْتَقَ سَيِّدَنَا يَعْنِي بِلَالًا. رواه البخاري.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي حضرت عمر رضي الله عنه به فرمايل: ابوبکر رضي الله عنه زموږ سردار دی او ابوبکر رضي الله عنه زموږ سردار (يعني بلال رضي الله عنه) آزاد کړی دی. بخاري. (حضرت بلال رضي الله عنه د ابوبکر صديق رضي الله عنه مريی وو).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۹۹، رقم: ۳۷۵۴.

تشريح: د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه، حضرت بلال رضي الله عنه ته په سردار ويل د هغه خاکساري وه، کنه نو په حقيقت کي حضرت عمر رضي الله عنه تر هغه افضل دی او په دې اړه د ټول امت اجماع ده، ځينو حضراتو ليکلي دي چي د دغه الفاظو څخه د حضرت عمر رضي الله عنه مراد دې ته اشاره وه چي بلال رضي الله عنه هم د مسلمانانو د سردارانو څخه يو سردار دی، او دځينو حضراتو وينا ده چي سيادت (سرداري) د فضيلت مستلزم نه دی ځکه د حضرت عمر رضي الله عنه د دغه الفاظو څخه دا نه لازميږي چي حضرت بلال رضي الله عنه دي د حضرت عمر رضي الله عنه څخه افضل وي، يو شارح دا ليکلي دي: يو خو دا چي ضمير متکلم مع الغير ضروري نه دی چي په هر حال کي دي ټولو ته شامل وي بلکه د اکثر په اعتبار هم د هغه مدعا او مرجع پوره کيږي، دوهم دا چي په سيدنا کي د نا ضمير څخه صحابه کرامو ته اشاره ده نو اول خو په سيدنا کي د نا ضمير متکلم مع الغير ټولو صحابه کرامو ته

شامل دی او دوهم په سیدنا کي د نا ضمیر اکثرو صحابه کرامو ته شامل دی او په دغه سیدنا کي چي کوم اضافت دی هغه د تخصیص لپاره دی، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي حضرت عمر رضي الله عنه داسي وفرمایل : او هغه یعني زموږ د ټولو سردار ابوبکر رضي الله عنه هغه سړی یعني بلال رضي الله عنه ازاد کړ چي په موږ کي د اکثرو صحابه کرامو سردار دی.

حضرت بلال رضي الله عنه

﴿۶۰۰۰﴾: وَعَنْ قَيْسِ ابن ابي حازم أَنَّ بِلَالًا قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ إِنْ كُنْتَ إِنَّمَا اشْتَرَيْتَنِي لِنَفْسِكَ فَأَمْسِكْنِي وَإِنْ كُنْتَ إِنَّمَا اشْتَرَيْتَنِي لِلّٰهِ فَدَعْنِي وَعَمَلَ اللّٰهِ. رواه البخاري.

د حضرت قیس بن ابي حازم رضي الله عنه څخه روایت دی چي بلال رضي الله عنه ابوبکر رضي الله عنه ته وویل: که تا زه د خپل ځان لپاره رانیولی یم نو ما د ځان سره وساته او که دي د خدای جل جلاله لپاره رانیولی یم نو ما پر خپل حال پریږده او ما پریږده چي د خدای تعالی لپاره عمل وکړم. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷/ ۹۹، رقم: ۳۷۵۵.

تشریح: د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره د حضرت بلال رضي الله عنه ددغه خبرو واقعه داده چي حضرت بلال رضي الله عنه مخکي یو غلام وو او د دین د دښمنانو په واک کي وو، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د ډېرو روپو په مصرفولو سره هغه رانیوی او ازاد یې کړ، ددې څخه وروسته هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خاصو خادمانو کي شامل سو، او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته د آذان خدمت وسپاری، او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم تر وصال پوري حضرت بلال رضي الله عنه دغه خدمت سرته رسوی، کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم رحلت وفرمایه نو د حضرت بلال رضي الله عنه لپاره په مدینه کي اوسېدل مشکل سول، په دغه تصور سره د هغه د صبر پیمانه ډکه سول چي رسول الله صلی الله علیه وسلم موجود نه دی او هغه دي مسجد نبوي ته وګوري او په هغه کي دي اذان وکړي، نو هغه د شام هیواد ته د تللو اراده وکړل. کله چي ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته دا معلومه سول نو هغه حضرت بلال رضي الله عنه منع کول وغوښتل او هغه ته یې درخواست وکړ چي ته همدلته زما سره اوسېږه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمانې په ډول په مسجد نبوي کي اذان کوه، نو هغه وخت حضرت بلال رضي الله عنه دا خبره وکړل که تاسو زه ددې لپاره رانیولی یم چي زه ستاسو د خوښی تکمیل وکړم نو زه ستاسو پر خبره منلو مجبور یم، کوم خدمت چي تاسو ما ته را سپارئ هغه زه خپل فرض ګڼم، مګر که تاسو زه ددې لپاره نه یم ازاد کړی بلکه

محض د الله جلاله د رضا لپاره مو رانیولی او ازاد کړی یم نو بیا زه غواړم چي تاسو ما خپل پابند مه کړئ ما پر خپل حال پرېږدئ زه چي چیري تلل غواړم هلته ولاړ سم، په یوه روایت کي راغلي دي چي حضرت بلال رضي الله عنه دا هم ویلي وه چي ما ته دا خوښه نه ده چي هغه خوا ته وګورم چیري چي د رسول الله ﷺ ماسوا دلته زما لپاره اوسېدل ناممکن وي.

چه مشکل ترا زین بر عاشق زار که بې دلدار بیند جائي دلدار

له دې وروسته حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د حضرت بلال رضي الله عنه په مدینه کي د پاته کېدو هڅه ونه کړل او هغه په هغه لښکر کي په شاملېدو سره د دمشق په خوا روان سو کوم چي شام ته تلی، بیا د عمر تر پایه هم هلته اوسېدی تر دې چي په ۱۸ م هجري کال یا د یوه روایت مطابق په ۲۰ م هجري کال کي په حق ورسېدی، ددې څخه معلومه سول چي هغه روایت بالکل بې بنیاده دی چي په هغه کي د حضرت بلال رضي الله عنه شام ته د تللو او بیا هلته په خوب کي د رسول الله ﷺ په لېدو سره مدینې ته بېرته راغلی او په مسجد نبوي کي یې اذان وکړ او د دومره وخت وروسته د هغه د آذان په اورېدو سره د مدینې د اوسېدونکو د لړزېدو یادونه ده.

حضرت ابو طلحه رضي الله عنه

﴿۶۰۰۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلٰى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي یو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ

فَقَالَ إِنِّيْ مَجْهُوْدٌ فَأَرْسَلَ إِلَى بعض نِسَائِهِ فَقَالَتْ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا

چي زه په لوږي او تکلیف کي اخته یم، رسول الله ﷺ خپلي یوې بي بي ته یو څوک ولیږی، هغې جواب راولیږی چي په هغه ذات دي مي قسم وي چي تاسو یې په حق پیغمبر رالیږلي

عِنْدِيْ إِلَّا مَاءٌ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى أُخْرَى فَقَالَتْ مِثْلَ ذٰلِكَ و قُلْنَ كُلُّهُنَّ مِثْلَ ذٰلِكَ

یاست زما سره د اوبو څخه پرته نور هیڅ نسته، بیا یې بلي بي بي ته ولیږی هغې هم دغه جواب ورکړ، تر دې چي ټولو بیبیانو هم دغه جواب ورکړ،

فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُضِيفُه يَرْحَمُهُ اللّٰهُ فَقَامَ رَجُلٌ

بیا رسول الله ﷺ حاضرین مخاطب کړل او ورته وه یې فرمایل: څوک چي په ده ډوډۍ وخوري الله تعالی به خپل رحمت پر نازل کړي، ددې اوریدو سره په انصارو کي یو سړي ولاړ سو چي د

مِنْ الْأَنْصَارِ يقال له ابوطلحة فَقَالَ أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ فَانْطَلَقَ بِهِ إِلَى رَحْلِهِ

هغه نوم ابو طلحه وو ، هغه عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه به دی میلمه کړم نو هغه سړی یې خپل

فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ قَالَتْ لَا إِلَّا قُوتُ صِبْيَانِي قَالَ فَعَلِّلِيهِمْ

کور ته بوتلی او خپل ښځي ته یې وویل ستا سره د خوراک یو شی سته ؟ هغې ورته وویل په اندازه دماشومانو د خوراک یو شی سته ، ابو طلحه ورته وویل ماشومان په یو بهانه بیده کړه او

بِشَيْءٍ وَنَوِّمِيهِمْ فَإِذَا دَخَلَ ضَيْفُنَا فَأَرِيهِ أَنَّا نَأْكُلُ فَإِذَا أَهْوَى بِيَدِهِ لِيَأْكُلَ

کوم وخت چي زموږ میلمه په کور کي داخل سي نو پر هغه دا ظاهره کړه چي موږ هم د هغه سره خوراک خورو او کوم وخت چي میلمه لاس د خوراک لپاره کښنته کړي

فَقُومِي إِلَى السِّرَاجِ كَيْ تُصْلِحِيهِ فَأَطْفِئِيهِ فَفَعَلَتْ فَقَعَدُوا وَأَكَلَ الضَّيْفُ

نو ته ولاړه سه او دا ظاهره کړه چي څراغ سموم مګر څراغ مړ کړه چي تیاره سي نو هغې همداسي وکړل او دوی کښښستل ، میلمه خوراک وخوړی

وَبَاتَا طَاوِيَيْنِ فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

او ښځه او خاوند دواړه تږوله شپه وږي پاته سول ، بیا چي سهار سو نو ابو طلحه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو ،

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ عَجِبَ اللهُ أَوْ ضَحِكَ اللهُ مِنْ فُلَانٍ

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د فلاني سړي او فلانۍ ښځي پر کار الله تعالی تعجب وکړ یا خدای جل جلاله وخندل .

وَفُلَانَةَ وفي رواية مِثْلُهُ ولم يسم اباطلحة وفي اخرها فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ:

وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ. متفق عليه.

او په یوه روایت کي ددې ډول واقعه ده مګر په هغه کي د ابو طلحه نوم نسته او د یوه روایت په آخر کي دا الفاظ دي چي بیا الله تعالی دا آیت نازل کړ : (و یؤثرون علی انفسهم ....) او هغه خلک چي نورو

خلکو ته پر ځان ترجیح ورکوي اګر که خپله اړ او وږي وي. بخاري و مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۶۳۱، رقم: ۴۸۸۹، ومسلم ۳\ ۱۶۲۴، رقم: ۱۷۲- ۲۰۵۴.

د لغاتو حل: فعلليهم: اي سکنیهم. طاويين: اي جائعين (وږي)

تشریح د ټولو بیبیانو څخه همداسي جواب راغلی: په ښکاره خو دا معلومیږي چي دغه پېښه د خیبر د فتح او د غنیمتو د راتلو څخه مخکي ده کله چي د رسول الله ﷺ ازواجو په سختۍ سره ګزاره کول او د مسکینۍ په حالت کي اوسېدل.

چي د کورنۍ ضرورت تر یو حده پوره کړي: مطلب دا چي هغه وخت په کور کي د خوراک څخه څه چي وه هغه دومره لږ وه چي د کوچنیانو لپاره یې ایښې وه چي په شپه یا ورځ کي هغوی په وار وار وږي کیږي او هغوی یو وخت خوراک غواړي، دا وضاحت ځکه ضروري دی چي هغه خوراک د کوچنیانو د هغه وخت خوراک وو نو بیا په مېلمه باندي نه سو خوړل کېدای ځکه چي د کوچنیانو په وږي ساتلو سره په مېلمه خوراک کول جائز نه دی.

په یوه طریقه یې بېده کړه. یعني کله چي کوچنیان وېښ سي نو هغوی په یوه طریقه ژر بېده کړه یا دا که چیري کوچنیان بېده وي نو هڅه وکړه چي ژر راوینښ نه سي چي د مېلمه د خوراک په وخت کي هغوی خوراک ونه غواړي لکه چي د کوچنیانو عادت وي.

لکه موږ چي هم د هغه سره خوراک کوو: حضرت ابو طلحه ﷛ دا خبره ځکه وکړل چي خوراک ډېر وو او د هغه سره دوی نه سو خوړلای او که میلمه ووینې چي کوربه د هغه سره خوراک نه کوي نو هغه به شرم محسوس کړي او دا ببره به ورسره پیدا سي چي د خوراک د کمۍ په وجه کوربه زما سره خوراک نه کوي، څرګنده دي وي چي دغه پېښه د پردې د حکم نافذ کېدو څخه مخکي ده ځکه حضرت ابو طلحه ﷛ ته د هغه میلمه کور راوستل او د خپلي بي بي په مخکي څه تکلیف ونه سو.

حضرت خالد بن ولید ﷛

﴿۶۰۰۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ نَزَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْزِلًا فَجَعَلَ

د حضرت ابو هریره ﷛ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره پر یو ځای تم سوو چي

النَّاسُ يَمُرُّونَ فَيَقُولُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا يَا اَبَا هُرَيْرَةَ

خلک آخوا دېخوا تېرېدل او رسول الله ﷺ به پوښتنه کول چي دا څوک دي؟ د ابو هریره ﷛

فَأَقُولُ فُلَانٌ فَيَقُولُ نِعْمَ عَبْدُ اللّٰهِ هَذَا وَيَقُولُ مَنْ هَذَا فَأَقُولُ فُلَانٌ

بیان دی چي ما به د رسول الله ﷺ د سوال په جواب کي ویل چي فلانی سړی دی او د هغه نوم اوریدو سره به رسول الله ﷺ فرمایل: د خدای تعالی دا بنده ښه دی او نبي کریم ﷺ به ویل دا څوک دی نو ما به ویل چي فلانی دی

فَيَقُولُ بِئْسَ عَبْدُ اللّٰهِ هَذَا حَتَّى مَرَّ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَقَالَ مَنْ هَذَا فَقُلْتُ

نو ویل به یې د خدای تعالی دا بنده بد دی تر دې چي خالد بن ولید رضی الله عنه تېر سو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اې ابوهریره دا څوک دی؟ ما عرض وکړ:

هَذَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَقَالَ نِعْمَ عَبْدُ اللّٰهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللّٰهِ. رواه الترمذي.

خالد بن ولید رضی الله عنه دی، رسول الله ﷺ وفرمایل: ډېر ښه بنده د خدای جل جلاله دی خالد بن ولید رضی الله عنه د خدای تعالی د تورو څخه یوه توره ده. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۴۶، رقم: ۳۸۴۶.

تشريح. هغه د الله جل جلاله خراب بنده دی: دا خبره به رسول الله ﷺ د یو داسي کس په اړه فرمایلي وي چي د هغه منافق کېدل به د رسول الله ﷺ د شان څخه لیري معلومېږي او نه دا ثابت دي چي رسول الله ﷺ د یو مؤمن په اړه داسي الفاظ فرمایلي دي که څه هم هغه پر خرابه لار وو، ددې څخه ماسوا د هغه وخت په مؤمنانو کي همداسي خراب خلک نه وه چي د رسول الله ﷺ د هغوی په حق کي داسي خبره فرمایلي وي او که داسي یو څوک وي هم نو هغه به شاذ او نادر وي.

د انصارو سره شفقت

﴿۶۰۰۳﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَتِ الْأَنْصَارُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ لِكُلِّ نَبِيٍّ أَتْبَاعٌ وَإِنَّا قَدِ اتَّبَعْنَاكَ فَادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَ أَتْبَاعَنَا مِنَّا فَدَعَا بِهِ. رواه البخاري

د حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه څخه روایت دی چي انصارو عرض وکړ اې د الله رسوله! د هر نبي پیروان وه او موږ ستاسو پیروي کړې ده، د خدای جل جلاله څخه سوال وکړه چي الله تعالی زموږ تابع هم زموږ څخه جوړ کړي، نو نبي کریم ﷺ داسي سوال وکړی. بخاري

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\ ۱۱۴، رقم: ۳۷۸۷.

تشریح: يعني زموږ اخلاف او موالي هم زموږ په ډله کي شامل سي، په دې توګه چي هغوی ته هم انصار ويل کيږي، د دې لپاره چي تاسو موږ ته د احسان او ښه چلن کوم تلقين او وصيت د عامو مسلمانانو په اړه کړی دی په هغه کي زموږ هغه اخلاف او موالي هم دي، لکه څرنګه چي تاسو عام مسلمانان په مخاطب کولو سره ورته وفرمايل: اوصيكم بالانصار، يعنې اې مسلمانانو! زه تاسو ته د انصارو په اړه د ښه چلن او احسان وصيت کوم، او رسول الله ﷺ وفرمايل: د دغه انصارو د نيکانو معذورت قبول کړئ او د دوی د بدکارو پرده وکړئ، خلاصه دا چي کوم مناقب او فضائل تاسو زموږ په حق کي فرمايلي دي او په کوم خاص عنايت او مهربانۍ مو نازولي يو د هغه فضل او شرف سره سم زموږ اخلاف او موالي هم داخل سي، يا دانصارو دا مطلب وو چي تاسو دعاء وکړئ چي الله ﷻ زموږ تابعدار يعني زموږ اخلاف او موالي او زموږ اولاد هم زموږ حقيقي پيروان او رښتوني جوړ کړي، په دې توګه چي کومي نيکي او سېده لار باندي الله ﷻ موږ روان کړي يو پر هغه لار دوی هم روان سي او زموږ د سيرت او طريقو پيروي وکړي.

د انصارو فضيلت

﴿۶۰۰۴﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ مَا نَعْلَمُ حَيًّا مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ أَكْثَرَ شَهِيدًا أَعَزَّ

د حضرت قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ په عربو کي د هيڅ قبيلې او قوم په اړه دا علم نه لرو چي د هغوی شهيدان د انصارو څخه زيات وي

يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ وَقَالَ أَنَسٌ قُتِلَ مِنْهُمْ يَوْمَ أُحُدٍ سَبْعُونَ

او د قيامت په ورځ به د انصارو څخه زيات عزتناکه وي، د انس رضي الله عنه بيان دی چي د احد په غزا کي د دوی څخه اويا شهيدان سول

وَيَوْمَ بِئْرِ مَعُونَةَ سَبْعُونَ وَيَوْمَ الْيَمَامَةِ على عهد ابي بكر سَبْعُونَ. رواه البخاري

او په بير معونه کي اويا شهيدان سول او د يمامه په جګړه کي اويا شهيدان سول چي د ابوبکر رضي الله عنه په زمانه کي سوی وو، بخاري

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\ ۳۷۴، رقم: ۴۰۷۸.

تشريح: د انصارو څخه هغوی زیات باعزته ومنل سي، مطلب دا چي د کومي قبیلې د شهیدانو شمېر زیات وي د قیامت په ورځ به هغوی ته زیات عزت تر لاسه کیږي نو زموږ د علم مطابق انصار یوه داسي قبیله او یو داسي قوم دی چي د هغه کسان د الله ﷻ په لاره کي تر ټولو زیات خپل ځانونه قربان کړي دي، په دې اعتبار د هغوی د شهیدانو شمېر د ټولو قبیلو او قومو د شهیدانو څخه زیات دی ځکه د قیامت په ورځ هغه عزت چي د الله ﷻ په لاره کي د سر ورکوونکو لپاره الله ﷻ ټاکلی دی تر ټولو زیات انصارو ته تر لاسه کیږي.

د احد په غزا کي اویا انصار شهیدان سول، دلته مراد دادی چي د احد په غزا کي کوم اوویا مؤمنان شهیدان سوي وه په هغوی کي د څو کسانو ماسوا نور ټول انصار وه، دا وضاحت ځکه ضروري دی چي د حدیث او تاریخ مطابق د احد په غزا کي ټول اویا مسلمانان شهیدان سوي وو چي په هغوی کي څلور شپېته انصار او شپږ مهاجرین وه.

اصحاب بدر

﴿۶۰۰۵﴾: وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ كَانَ عَطَاءُ الْبَدْرِيِّينَ خَمْسَةَ آلَافٍ خَمْسَةَ آلَافٍ وَقَالَ عُمَرُ لَأُفَضِّلَنَّهُمْ عَلَى مَنْ بَعْدَهُمْ. رواه البخاري.

د حضرت قیس بن ابي حازم رضي الله عنه څخه روایت دی چي کومو خلکو په جنګ بدر کي ګډون کړی وو هغوی ته به د بیت المال څخه پنځه پنځه زره درهمه ورکول کېدل او حضرت علي رضي الله عنه وویل چي په بدر کي ګډون کوونکو ته به پر نورو ټولو ترجیح ورکوم تر دې وروسته. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷ /۳۲۳، رقم: ۴۰۲۲.

تشريح: د بدر په غزا کي د ګډون کوونکي هر صحابي لپاره د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي د بیت المال څخه پنځه زره درهم ټاکلي وه چي په مقدار کي د نورو ټولو خلګو د وظیفو څخه زیات وه، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه کي د وظیفو کومي درجې چي قائمي کړلې په هغه کي هم د یو څو خاصو خلګو (لکه حضرت عباس رضي الله عنه او ازواج مطهرات) په پرېښودو سره نور ټول د وظیفو شمېر د اصحاب بدر د وظیفو د شمېر څخه کم کړی او همدارنګه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه نه یوازي دا چي په عملي توګه د اصحاب بدر درجه په درجه تر ټولو خلګو لوړ کړل بلکه د ذکر سوو الفاظو په ذریعه یې دا وضاحت وکړ چي که څه هم د رسول الله ﷺ د خاص نسبت په لحاظ کولو سره ما ځیني وظیفې د اصحاب بدر د

وظيفو څخه زياتي ټاکلي دي مګر کوم چي د درجو د رتبو تعلق دی نو زما په نزد هم د اصحاب بدر درجه د نورو ټولو خلګو د درجو څخه لوړه ده او دهغه وظيفو د نورو ټولو وظيفو څخه زيات کېدل پکار دي.

=============

تَسْمِيَةَ مَنْ سُمِّيَ مِنْ اَهْلِ بَدْرٍ فِي الْجَامِعِ لِلْبُخَارِيِّ

(په اهل بدر کي د هغه صحابه کرامو يادونه چي په جامع بخاري کي ذکر سوي دي)

څرګنده دي وي چي امام بخاري رحمة الله عليه د بدر په غزا کي د ګډون کوونکو ځينو خاصو صحابه کرامو نومونه د خپل کتاب بخاري شريف په يو بېل باب کي په اجمالي توګه ذکر کړي دي، دغه بدري صحابه کرام هغه دي چي دهغوی د بدري کېدو ذکر په بخاري کي راغلی دی او د هغوی روايتونه په دغه کتاب (بخاري) کي نقل سوي دي او په يو بېل باب کي د هغه خاص بدري صحابه کرامو د نومو په ذکر سره د امام بخاري رحمة الله عليه مقصد دادی چي پر نورو ټولو بدري صحابه کرامو باندي د هغه خاص صحابه کرامو د فضيلت، سبقت او غوره والي اظهار وي، او دهغوی په حق کي په خاصه توګه د رحمت دعاء وکړل سي، دلته دديٖ خبري ذکر کول ضروري دي چي علماؤ ليکلي دي: د بخاري شريف په دغه باب کي د اصحاب بدر کوم نومونه چي ذکر سوي دي د هغوی د ذکر او بيان په وخت کي چي کومه دعاء وغوښتل سي الله جل جلاله په خپل فضل او کرم سره هغه قبلوي، امام بخاري رحمة الله عليه په دغه باب کي تر ټولو مخکي د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک نوم بيا د خلفاء اربعه مبارک نومان راوړي دي او بيا د پاته ټولو صحابه کرامو نومونه د حروف تهجي په ترتيب سره ذکر کړي دي، د امام بخاري رحمة الله عليه مقصد او دهغه د اتباع برکت تر لاسه کولو لپاره د مشکوة المصابيح مؤلف هم دغه اسماء مبارک هم هغسي نقل کړي دي.

ملا علي قاري رحمة الله عليه ليکلي دي: په دغه باب کي د هغو اصحاب بدر د نومونو ذکر دی چي دهغوی په حقيقت کي د بدر کېدو ذکر په صحيح بخاري کي راغلی دی او دا ځکه دی چي په دغه ډله کي د حضرت عثمان غني رضي الله عنه نوم شاملول صحيح و منل سي چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حکم سره په حقيقت کي د بدر په غزا کي شريک سوی نه وو مګر حکما هغه هم بدري منل کيږي، نو په دغه باب کي د هغه بدري صحابه کرامو نومونه سته چي نه خو بخاري په خپل دغه

باب كي بيان كړي دي او نه د سره د هغوی ذکر په بخاري كي راغلی دی ، ددې مطلب دا سو چي امام بخاري د اصحاب بدر پر فهرست باندي مشتمل په خپل دغه باب كي يوازي د هغو بدري صحابه کرامو نومونه ذکر کړي دي چي د هغوی په اړه په صحیح بخاري كي په صراحت سره ذكر سوي دي چي هغوی د بدر په غزا كي ګډون کړی دی که خپله هغه صحابي د خپل ځان په اړه روايت کړی وي يا نورو کسانو د بدر په غزا كي د ګډون کولو روايت کړی دی، همدارنګه د هغه بدري صحابه کرامو نومونه په دغه باب كي نه دي ذكر سوي چي د هغوی یادونه که څه هم په صحیح بخاري كي راغلې ده مګر په صراحت سره نه دي راغلي چي هغوی د بدر په غزا كي ګډون کړی وو ، ددغه وضاحت په رڼا كي په دې خبره د حيرت موقع نه پاته کيږي چي د خاص بدري صحابه کرامو پر فهرست باندي مشتمل په دغه باب كي د يو ستر بدري صحابي حضرت عبيده الجراح رضي الله عنه نوم ذکر سوی نه دی ، حضرت عبيده رضي الله عنه بېله شکه د بدر په غزا كي ګډون کړی وو او پر دې خبره د ټولو محدثینو او اصحاب سير اتفاق دی ، ددې څخه ماسوا په بخاري شريف كي په ډېرو ځايو كي د هغه ذکر هم راغلی دی مګر د بخاري په يو روايت كي په صراحت سره بيان نه دی سوی چي هغه د بدر په غزا كي ګډون کړی وو .

﴿۲۰۰۶﴾: (۱) النَّبِيُّ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْهَاشِمِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (۲) عَبْدُ اللهِ بْنُ عُثْمَانَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ الْقُرَشِيُّ (۳) عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ الْعَدَوِيُّ (۴) عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ الْقُرَشِيُّ خَلَّفَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنَتِهِ رقية وَضَرَبَ لَهُ بِسَهْمِهِ (۵) عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ الْهَاشِمِيُّ (۶) إِيَاسُ بْنُ بُكَيْرٍ (۷) بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ الصديق (۸) حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ الْهَاشِمِيُّ (۹) حَاطِبُ بْنُ أَبِي بَلْتَعَةَ حَلِيفٌ لِقُرَيْشٍ (۱۰) أَبُو حُذَيْفَةَ بْنُ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ الْقُرَشِيُّ (۱۱)

(۱) نبي كريم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم بن عبدالله هاشمي صلی الله علیه وسلم (۲) عبدالله د عثمان زوی چي د هغه کنیت ابوبکر صديق رضي الله عنه دی او قرشي دی، (۳) عمر بن خطاب عدوي رضي الله عنه (۴) عثمان بن عفان قرشي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل لور بي بي رقيې سره پرې ايښی وو چي د هغه ښځه ناروغه وه او د هغه لپاره د بدر په غزا كي رسول الله صلی الله علیه وسلم برخه ټاکلې وه (۵) علي بن ابي طالب هاشمي (۶) اياس بن بكير (۷) بلال بن رباح د ابوبکر صديق رضي الله عنه آزاد کړل سوی غلام (۸) حمزه بن عبدالمطلب هاشمي (۹) حاطب بن ابي بلتعه د قريشو دوست (۱۰) ابوحذيفه بن عتبه بن ربيعه قرشي

حَارِثَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِيُّ قُتِلَ يَوْم بَدر وَهُوَ حَارِثَةُ بْنُ سُرَاقَةَ كَانَ فِي النَّظَّارَةِ (۱۲) خُبَيْبُ بْنُ عَدِيِّ الْأَنْصَارِيُّ (۱۳) خُنَيْسُ بْنُ حُذَافَةَ السَّهْمِيُّ (۱۴) رِفَاعَةُ بْنُ رَافِعِ الْأَنْصَارِيُّ (۱۵) رِفَاعَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ أَبُو لُبَابَةَ الْأَنْصَارِيُّ (۱۶) الزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ الْقُرَشِيُّ (۱۷) زَيْدُ بْنُ سَهْلٍ أَبُو طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيُّ (۱۸) أَبُو زَيْدٍ الْأَنْصَارِيُّ (۱۹) سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ الزُّهْرِيُّ (۲۰) سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ الْقُرَشِيُّ (۲۱) سَعِيدُ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ الْقُرَشِيُّ (۲۲) سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ الْأَنْصَارِيُّ (۲۳) ظُهَيْرُ بْنُ رَافِعٍ الْأَنْصَارِيُّ (۲۴) وَأَخُوهُ (۲۵) عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ الْهُذَلِيُّ (۲۶) عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ الزُّهْرِيُّ (۲۷) عُبَيْدَةُ بْنُ الْحَارِثِ الْقُرَشِيُّ (۲۸) عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ الْأَنْصَارِيُّ (۲۹) عَمْرُو بْنُ عَوْفٍ حَلِيفُ بَنِ عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ (۳۰) عُقْبَةُ بْنُ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيُّ (۳۱) عَامِرُ بْنُ رَبِيعَةَ الْعَنَزِيُّ (۳۲) عَاصِمُ بْنُ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيُّ (۳۳) عُوَيْمُ بْنُ سَاعِدَةَ الْأَنْصَارِيُّ (۳۴) عِتْبَانُ بْنُ مَالِكٍ الْأَنْصَارِيُّ (۳۵) قُدَامَةُ بْنُ مَظْعُونٍ (۳۶) قَتَادَةُ بْنُ النُّعْمَانِ الْأَنْصَارِيُّ (۳۷) مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ (۳۸)

(۱۱) حارثه بن ربیعه انصاري چي د بدر په غزا کي شهید سو او اصلي نوم يې هارثه بن سراقه دی په دې جنګ کي شريک سوی نه وو بلکه ددښمنانو دحال پر نګراني مامور وو . (۱۲) خبیب بن عدي انصاري (۱۳) خنیس بن حذافه سهمي (۱۴) رفاعه بن رافع انصاري (۱۵) رفاعه بن عبدالمنذر ابولبابه انصاري (۱۶) زبیر بن العوام قرشي (۱۷) زید بن سهل ابوطلحه انصاري (۱۸) ابو زید انصاري (۱۹) سعد بن مالک زهري (۲۰) سعد بن خوله قرشي (۲۱) سعید بن زید بن عمرو بن نفیل قرشي (۲۲) سهل بن حنیف انصاري (۲۳) ظهیر بن رافع انصاري (۲۴) د ظهیر بن رافع ورور (۲۵) عبدالله بن مسعود هدلي (۲۶) عبدالرحمن بن عوف زهري (۲۷) عبیده بن حارث قرشي (۲۸) عباده بن صامت انصاري (۲۹) عمرو بن عوف د بنو عامر لوی حلیف (۳۰) عقبه بن عمرو انصاري (۳۱) عامر بن ربیعه عنزي (۳۲) عاصم بن ثابت انصاري (۳۳) عویم بن ساعده انصاري (۳۴) عتبان بن مالک انصاري (۳۵) قدامه بن مظعون (۳۶) قتاده بن نعمان انصاري (۳۷) معاذ بن عمرو بن الجموح (۳۸) معوذ بن عفراء (۳۹) د معوذ بن عفراء ورور (۴۰) مالک بن ربیعه (۴۱) ابو اسید انصاري (۴۲)

مُعَوِّذُ بْنُ عَفْرَاءَ (۳۹) وَأَخُوهُ (۴۰) مَالِكُ بْنُ رَبِيعَةَ (۴۱) أَبُو أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيُّ (۴۲) مِسْطَحُ بْنُ أُثَاثَةَ بْنِ عَبَّادِ بْنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ (۴۳) مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِيُّ (۴۴) مَعْنُ بْنُ عَدِيٍّ الْأَنْصَارِيُّ (۴۵) مِقْدَادُ بْنُ عَمْرٍو الْكِنْدِيُّ حَلِيفُ بَنِي زُهْرَةَ (۴۶) هِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ الْأَنْصَارِيُّ. رضي الله عنهم اجمعين

مسطح بن اثاثه بن عباده بن عبد المطلب بن عبد مناف (۴۳) مرارة بن ربيع انصاري (۴۴) معن بن عدي انصاري ، (۴۵) مقداد بن عمرو كندي د بنو زهره دوست (۴۶) هلال بن اميه انصاري . رضي الله عنهم اجمعين .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳۲۶۱۷.

تشريح ددغه مباركو نومونو د ذكر كولو پيل د رسول الله ﷺ په مبارک نامه سره يا خو د بركت ترلاسه كولو لپاره دی يا د رسول الله ﷺ نوم مبارک ذكر كول ځكه ضروري وو چي په دغه خاص فهرست كي د رسول الله ﷺ د مبارک نامه په نه لېدو سره دا خيال ونه وكړل سي چي رسول الله ﷺ د بدر په غزا كي په خپله ګډون نه وو كړی ، د رسول الله ﷺ څخه وروسته د خلفاء اربعه ﷺ نومونه دي، او بيا د پاته حضراتو نومونه د حروف تهجي (الفباء) په ترتيب سره ذكر سوي دي. په دغه باب كي د ذكر سوو بدري حضراتو مختصر حالات اجمالا وړاندي كيږي :

النبي محمد بن عبدالله الهاشمي ﷺ

د رسول الله ﷺ زېږېدنه په مكه مكرمه كي د فيل په كال كي وسول، كله چي يې عمر مبارک خلوېښت كاله سو نو په پيغمبرۍ مبعوث سو يعني الله ﷺ د نبوت او رسالت په مرتبه ونازوی، د رسول الله ﷺ دنبوت زمانه ۲۳ كاله او ټول عمر يې ۶۳ كاله وو ، حضرت محمد ﷺ د ټولو رسولانو سردار او خاتم النبيين دی . صلى الله عليه وسلم وعلى آله واصحابه واتباعه واحزابه اجمعين .

حضرت ابوبكر صديق ﷺ

اسلامي نوم يې عبد الله دی، د پلار نوم يې عثمان ؤ ،ابوبكر يې كنيت او صديق يې لقب دی، نوموړي قريشي دی او د تميم بن مره په لړۍ كي پر مره باندي د حضرت ابوبكر صديق ﷺ نسب د رسول الله ﷺ د نسب سره يو ځای كيږي، د جاهليت په زمانه كي د هغه نوم عبدرب الكعبة وو چي د هغه په بدلولو سره رسول الله ﷺ د عبد الله نوم پر كښېښود او يو نوم يې د عتيق هم وركړی وو ، همدارنګه د هغه كنيت ابوبكر هم رسول الله ﷺ پر اېښی وو ، يو قول دادی چي عتيق د حضرت ابوبكر صديق ﷺ پخوانی نوم دی او ځينو حضراتو ليكلي دي چي حضرت

ابوبکر صديق رضي الله عنه ډېر ښکلی او شريف النسل وو ځکه هغه ته عتيق ويل کېدل، د عتق يوه معنی د کرم او جمال او خلاصون هم ده ، په روايتو کي راځي چي د هغه د مور کوچنيان ژوندي نه پاته کېدل نو کله چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه پيدا سو د هغه مور هغه واخيست او د کعبې شريفي مخته يې کښېنوی او دعاء يې وکړل چي اې خدايه! دغه کوچني د مرګ څخه ازاد کړې او ما ته يې را پرېږدې، د ټول امت محمدي پر دې اتفاق دی چي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه لقب صديق دی ځکه چي هغه په بې خوفه کېدو سره د رسول الله ﷺ بېله تامل کولو تصديق وکړ او په هر حال کي يې صدق د ځان سره لازم وګڼی، د معراج په اړه هم هغه د کفارو په مقابله کي ثابت قدمي وښودل او د رسول الله ﷺ د قول يې سمدستي تصديق وکړ ، د هغه پلار عثمان رضي الله عنه په خپل کنيت ابو قحافه سره مشهور دی ، ابو قحافه د مکې د فتح په کال اسلام قبول کړ او په ۱۴ هجري کال کي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د وفات څخه شپږ مياشتي او څو ورځي وروسته د ۹۷ کالو په عمر وفات سو ، د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته په يوولسم هجري کال د ربيع الاول په مياشت کي د ټول امت په اتفاق سره حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه لومړی خليفه وټاکل سو او د ۲۲ او ۲۳ جمادي الثاني ۱۳م هجري کال په درميانه شپه کي د ۶۳ کالو په عمر وفات سو، همدارنګه دوه کاله او درې مياشتي د هغه خلافت وو، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د درميانه قد خاوند، ورين تندی او ښکلی سړی وو، د هغه په باړخوګانو کي شنه رګونه څرګند وه، رضي الله عنه .

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه

حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه د عدي بن کعب د اولاد څخه دی او قريشي دی، ابو حفصه يې کنيت دی ، په پنځم نيکه کي د هغه او د رسول الله ﷺ د نسب لړۍ يو ځای کيږي، د اسلام څخه مخکي هم د حضرت عمر رضي الله عنه شمير د قريشو په سترو کسانو کي کيدی، او په هغه زمانه کي د اهل مکې له خوا د سفارت او نمائندګۍ ذمه داري هغه ته سپارل سوې وه، يعني کله چي به د مکې او قريشو خلګو د نورو قبيلو مشرانو ته يو پيغام لېږی نو د هغه لپاره به يې حضرت عمر رضي الله عنه ټاکی، حضرت عمر رضي الله عنه ډېر سور او سپين وو، مخ يې ډېر سپين او ځلانده، سترګي يې سرې او قد يې دومره لوړ وو چي د خلګو په منځ کي به ودرېدی نو داسي به معلومېدی لکه پر اوښ چي سپور وي او نور خلک پر پښو ولاړ دي، دوهب بن منبه روايت دی چي په تورات کي د حضرت عمر رضي الله عنه تعريف په دغه الفاظو کي بيان سوی دی: قرن حديد شديد امين، يعني هغه د غره د څوکي په ډول لوړ او د رعب ډک دی، تېز دی ، سخت او امانتداره دی،

په اسلام کي د حضرت عمر رضی الله عنه لقب فاروق دی ځکه چي د هغه ذات د حق او باطل، د کفر او اسلام په منځ کي فرق کوونکی وو، الله جل جلاله د هغه د ايمان په ذريعه خپل اسلامي دين ته ستر عزت او شوکت ورکړ، د هغه بې پناه شخصيت د مېړاني او شجاعت معيار وو، د هغه هيبت دومره لوړ وو چي لوی مخالف طاقت به هم د هغه څخه په لړزه وو، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت څخه مخکي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حکم د هجرت لاره اختيار کړې وه، نقل سوي دي چي کله حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د هجرت په اراده د مکې پرېښودل وغوښتل نو توره يې په غاړه کي واچول او د لیندۍ چله يې و خېژول او غشی يې په لاس کي کعبې ته راغلی چيري چي د قريشو ټول سرداران او د مکې د کفارو مشران د مخکي څخه موجود وه، فاروق اعظم رضی الله عنه د هغوی ټولو مخکي د کعبې شريفي طواف وکړ، دوه رکعته لمونځ يې وکړ او بيا د قريشو او د مکې د کفارو د مشرانو هري ډلي ته بېل بېل ورغلی او هغوی ته يې وويل: ستاسو پر مخونو دي لعنت اوریږي، په تاسو کي چي کوم څوک دا خوښوي چي د هغه مور دي ټول عمر پر هغه وژاړي، د هغه زوی دي يتيم سي او د هغه ښځه دي غم وکړي نو هغه دي په ما پسي راځي او دغه شیلې یعني د مکې د ښار څخه دباندي دي زما سره يو ځای سي مګر په هغوی کي هيچا ته په فاروق اعظم رضی الله عنه پسي د تللو جرئت و نه سو، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د اسلام دوهم خليفه دی، د هغه د خلافت وخت لس نيم کاله دی او د مشهور قول مطابق د هغه عمر ۶۳ کاله وو، رضي الله عنه.

حضرت عثمان غني رضی الله عنه

حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه قريشي دی، د هغه زېږېدنه د فيل په شپږم کال وسول، او هغه وخت يې اسلام قبول کړی ؤ کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په دار ارقم کي هستوګن سوی نه وو، د هغه څخه مخکي حضرت ابوبکر صديق، حضرت علي او حضرت زيد بن حارثه رضی الله عنهم په اسلام مشرف سوي وه، هغه د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه په دعوت او ترغيب اسلام قبول کړی وو، او نقل سوي دي چي کله هغه اسلام قبول کړ او د هغه اکا حکم بن العاص بن اميه ته ددې خبر وسو نو هغه په ترلو سره بندي کړ او دا يې ورته وويل: تا د پلار او نيکه د دين په پرېښودو سره نوي دين اختيار کړی دی، قسم په خدای! تا به تر هغه وخته نه ايله کوم تر څو چي ته دغه نوي دين نه پرېږدي، حضرت عثمان رضی الله عنه جواب ورکړ: اې اکا! ته هم واوره چي زه دغه دين هيڅکله نه پرېږدم، څه چي ستا په زړه کي وي هغه وکړه، حکم بن العاص چي د حضرت عثمان رضی الله عنه دغه سختي او ټينګوالی وليدی نو هغه يې پرېښود.

د رسول الله ﷺ لور، بي بي رقيه ﷞ د حضرت عثمان ﷛ په نكاح كي وه، د بدر د غزا په ورځو كي هغه سخته ناروغه وه، كله چي رسول الله ﷺ بدر ته روانيدى نو حضرت عثمان ﷛ ته يې حكم وكړ چي ته زموږ سره مه ځه بلكه په مدينه كي پاته سه او د رقيه ﷞ درملنه او پوښتنه كوه، نو حضرت عثمان ﷛ د بدر په غزا كي شريک نه سو او د رسول الله ﷺ په حكم كي په مدينه كي پاته سو، ځكه رسول الله ﷺ د بدر په غزا كي د غنيمت په مال كي د هغه برخه هم وټاكل او په دې اعتبار هغه په اصحاب بدر كي شمېرل كيږي، په هغه ناروغۍ كي بي بي رقيه ﷞ وفات سول، رسول الله ﷺ فرمايلي وه كه چيري زما دريمه لور واى نو عثمان ﷛ ته به مي په نكاح وركړې واى، د حضرت عثمان ﷛ څخه ماسوا بل هيڅوک داسي نه دى تېر سوى دى چي د هغه په نكاح كي د يوه پيغمبر دوې لوڼې راغلي وي او په دې اعتبار هغه ته ذوالنورين ويل كيږي.

د حضرت عثمان ﷛ قد ميانه، ورين تندى، او د سور او سپين رنګ ښښتن وو، د هغه پر مخ د دانو نښې وې، هغه سر ترپايه ډېر ښكلى او پر جمال وو، نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ خپلي لور ام كلثوم ﷛ ته ويلي وه: ما د هغه سړي سره ستا نكاح وكړل چي ستا د نيكه حضرت ابراهيم ﷣ او ستا د پلار محمد ﷺ سره ډېر زيات مشابهت لري، حضرت عثمان ﷛ د شرم او حياء مثال وو، په روايتو كي راغلي چي په كور كي د ننه دروازه به يې بندول او غسل به يې كوى، هيڅ امكان نه وو چي يو څا يې نس او ملا هم لوڅ ليدلي واى، دا هم منقول دي چي حضرت عثمان ﷛ د ډېري حياء څخه خپله ملا سيده كولاى نه سول.

حضرت عثمان ﷛ د اسلام دريم خليفه دى، په ۳۵ هجري كال كي د ايام تشريق په دوران كي شهيد سو، د هغه خلافت ديارلس كاله وو، عمر يې ۸۲ كاله وو، ځينو حضراتو ۸۳ او ځينو ۸۶ كاله ليكلي دي، رضي الله عنه.

حضرت علي ﷛

حضرت علي ﷛ بن ابي طالب د رسول الله ﷺ د اكا زوى او نه يوازي په دې اعتبار د رسول الله ﷺ ورور دى بلكه د رسول الله ﷺ ورور ګڼلوي هم د هغه سره سوې وه، د رسول الله ﷺ د خوږې لوري بي بي فاطمې ﷞ خاوند دى، د حسن او حسين ﷠ پلار دى، او لومړنى سړى دى چي د پلار له خوا هم هاشمي دى او د مور له خوا هم، حضرت علي ﷛ ته د قديم الاسلام كېدو شرف هم حاصل دى او تر ټولو مخكي چا چي اسلام قبول كړ هغه حضرت علي ﷛ دى، علماؤ ليكلي دي چي د سه شنبې په ورځ رسول الله ﷺ په نبوت مشرف سو او په بله ورځ (يعني

دچارشنبې په ورځ) حضرت علي رضي الله عنه اسلام قبول کړ، هغه وخت يې عمر درې کاله وو او د ځينو روايتو مطابق اووه کاله وو، په اسلام کي د حضرت علي رضي الله عنه ډېر زيات لقبونه دي، چي د هغو څخه: امين، شريف، هادي، مهدي، يعسوب المسلمين، ابوالريحانين، او ابوتراب دي، حضرت علي رضي الله عنه د ميانه قد خاوند، غنم رنګه ته مائل سوروو، پراخه زنه، مخ يې داسي روښان او ځلانده وو لکه د څوارلسمي سپوږمۍ، ستر ګي يې غټي غټي او ډېره توره ږېره يې وه، نس يې راوتلی، بدن يې درون دی، سيدنا علي رضي الله عنه په علم او معرفت، پوهي، زهد، تقوا او سخي النفس وو، د قوي زړه خاوند او ډېر زړه ور انسان وو، منصور هم وو، يعني د الله جل جلاله مرسته به هغه ته تر لاسه کېدل او په هر ډګر کي به کامياب کيدی، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه روايت دی چي د بدر د غزا په ورځ حضرت علي رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نېزه اخيستې وه، او په يوه روايت کي راغلي دي چي حضرت علي رضي الله عنه د بدر په غزا کي او نورو غزاوو کي هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم نېزه اخيستې وه.

سيدنا علي رضي الله عنه څلورم خليفه ارشد دی، د هغه دخلافت زمانه پنځه کاله وه او په ۴۱ م هجري کال کي د رمضان المبارک په اووه لسمه نيټه دجمعې په شپه د سهار په وخت کي شهيد سو، د صحيح او مختار قول مطابق دهغه عمر ۶۳ کاله وو. رضي الله عنه.

حضرت اياس بن بکير رضي الله عنه

د نوموړي نوم اياس دی او د بکير زوی دی، په ځينو نسخو کي بکير په لام سره يعني البکير هم ذکر سوی دی او ځينو حضراتو د بخاري د روايت په حواله سره دغه لفظ بکير هم نقل کړی دی، په هر حال د حضرت اياس رضي الله عنه شمېر په لومړنيو مهاجرينو کي کيږي، د بدر په غزا کي شريک وو او بيا وروسته په نورو غزاوو کي هم شريک سوی دی، هغه او دهغه ورور عامر بن بکير رضي الله عنه په مکه کي هغه وخت اسلام قبول کړ کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په دار ارقم کي هستوګن وو. په ۳۴ م هجري کال کي وفات سو، رضي الله عنه.

حضرت بلال بن رباح رضي الله عنه

دغه مشهور صحابي حضرت بلال رضي الله عنه دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم مؤذن وو، دده د پلار نوم رباح او دمور نوم يې طمامه وو، دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ازاد سوی غلام دی، کنيت يې ابوعبدالرحمن دی، ځينو حضراتو ابوعبدالله او ځينو ابوعبدالکريم او ځينو ابوعامر کنيت هم ليکلی دی، حضرت بلال رضي الله عنه قديم الاسلام دی، تر ټولو مخکي هغه په مکه کي د اسلام اظهار

كړی وو چي د هغه په سبب هغه ته د الله ﷻ د دين په لاره كي ډېر تكليفونه ور پيښ سول، په هغه زمانه كي حضرت بلال رضی الله عنه د دين د يو دښمن اميه بن خلف حجمي غلام وو، اميه هغه ته ډېر سخت تكليفونه رسول د اوسپني زغره به يې په هغه واغوستل او دلمر په تيزي ګرمي كي به يې وغورځوی، په لرګي به يې وهی، په پای كي حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه هغه د دغه ظالم څخه په ډېره ګرانه بيه رانيوی او ازاد يې كړ، او بيا د بدر په غزا كي هغه اميه د حضرت بلال رضی الله عنه په لاس دوږخ ته ورسېدی، د مكې د فتح په وخت كي رسول الله ﷺ، بلال رضی الله عنه ته حكم كړی وو چي په كعبه شريفه كي اذان وكړي، د حضرت بلال رضی الله عنه فضائل او مناقب بې شمېره دي، د هغه د فضيلت او بزرګي د اظهار لپاره دومره كافي دي چي رسول الله ﷺ فرمايلي وه: سابقين څلور دي: ۱: زه سابق عرب يم، ۲: بلال رضی الله عنه سابق حبشي دی، ۳: صهيب رضی الله عنه سابق رومي دی، ۴: او سلمان رضی الله عنه سابق فارسي دی، د حضرت بلال رضی الله عنه رنګ غنمه رنګه وو، قد يې اوږد او پر بدن باندي يې وېښتان ډېر زيات وه، هغه په دمشق كي په ۲۰ م هجري كال وفات سو، او يو قول دادی چي هغه په ۱۸ م هجري كال كي وفات سوی دی، د وفات پر وخت تقريبا د شپېتو كالو و. ځينو حضراتو د هغه عمر اوويا كاله ليكلی دی. رضي الله عنه.

حضرت حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه

حضرت حمزه رضی الله عنه بن عبدالمطلب هاشمي د رسول الله ﷺ اكا دی، نوموړي ته د سيد الشهداء لقب وركړل سوی وو، ځينو د اسد الله لقب هم ليكلی دی، د نوموړي د مور نوم هاله بنت وهب دی چي د رسول الله ﷺ د مور بي بي آمنې خور وه، په دې اعتبار حضرت حمزه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د خاله زوی هم دی،

سيد الشهداء حضرت حمزه رضی الله عنه ډېر شجاع، قوي او زړه ور انسان وو، د هغه د شجاعت او میړاني په قصو اسلامي تاريخ او د سيرت كتابونه ډک دي، په يو حديث كي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ولېدل چي ملائكي حمزه بن عبد المطلب او حنظله بن راهب ته غسل وركوي او دا هم په حديث كي راغلي دي چي حمزه رضی الله عنه د الله ﷻ په نزد پر اووم آسمان باندي داسي ليكل سوی دی: حمزه بن عبد المطلب اسد الله واسد رسوله، يعني حمزه د الله ﷻ زمری او د هغه د رسول زمری دی. رضي الله عنه.

حضرت حاطب رضی الله عنه بن ابي بلتعه

د نوموړي كنيت ابو عبد الله دی. د بدر په غزا كي يې ګډون كړی دی او د خندق په غزا كي هم، او تر دې وروسته په نورو غزاوو كي يې هم ګډون كړی دی، د نوموړي څخه يو خطا سوې

وه چي هغه د خپل ذاتي ګټي لپاره د مدينې منورې څخه يو پټ ليک د مکې د قريشو په نام استولی وو، په هغه کي د رسول الله ﷺ د يو جنګي فلان انکشاف وو، او بيا هغه ليک په لار کي ونيول سو او رسول الله ﷺ ته راوړل سو، په دې اړه تفصيل مخکي تېر سوی دی، نوموړی په ۳۰ م هجري کال کي د ۶۵ کالو په عمر وفات وسو.

حضرت ابوحذيفه بن عتبه رضي الله عنه

حضرت ابوحذيفه رضي الله عنه بن عتبه بن ربيعه قريشي دی، د نوموړي د اصل نامه په اړه اختلاف دی. مشهور قول دا دی چي د هغه نوم هشام وو، د پلار نوم يې عتبه چي د ربيعه بن عبدالشمس زوی وو. حضرت ابوحذيفه رضي الله عنه د سترو صحابه کرامو څخه دی، د نوموړي شمېر په لومړنيو مهاجرينو کي کيږي، نوموړی د هغه مسلمانانو څخه دی چي هغوی ته د دوو قبلو په لور د مخ کولو سعادت په برخه سوی دی. حضرت ابوحذيفه رضي الله عنه دوه هجرتونه کړي دي يعني حبشې ته او بيا مدينې ته، نوموړي په مکه کي هغه وخت اسلام قبول کړ کله چي رسول الله ﷺ په دار ارقم کي هستوګن سوی نه وو، د بدر په غزا کي د ګډون کولو سعادت يې په برخه دی او د هغه څخه وروسته په نورو غزاوو کي هم، د يمامه په جګړه کي په شهادت ورسېدی او هغه وخت يې عمر ۵۳ کاله يا ۵۴ کاله وو. رضي الله عنه.

حارثه بن ربيع الانصاري رضي الله عنه

رُبيع (يا رَبيع) په اصل کي د حضرت حارثه رضي الله عنه د مور نوم دی، د پلار نوم يې سراقه وو، حضرت حارثه رضي الله عنه د بدر په غزا کي شهيد سوی دی، که څه هم د جنګ په ميدان کي نه وو بلکه په هغه ډله کي شامل وو چي د دښمنانو پر نقل وحرکت باندي د نظر ساتلو لپاره د جنګ د ميدان څخه ليري پر يو لوړ ځای مامور وه، منقول دي چي د بدر په ورځ رسول الله ﷺ څو صحابه کرام د جنګ د ميدان څخه بهر پر يو لوړ ځای باندي درولي وه چي د دښمنانو پر حرکت باندي نظر وساتي او څه چي ويني په راتللو سره د هغه خبر ورکړي، په هغه صحابه کرامو کي حضرت حارثه رضي الله عنه هم وو چي ځوان او ډېر چالاکه وو، نوموړی د جنګ په وخت کي د خپلو ملګرو سره يو ځای ولاړ وو چي ناڅاپه يو غشی راغلی او دهغه په حلق کي ولګېدی او د هغه زخم څخه شهيد سو، وروسته د هغه مور د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سول او عرض يې وکړ چي ای دالله رسوله! تاسو ته معلومه ده چي زما په نظر کي د حارثه څه حيثيت وو، زما ورسره څومره مينه وه، ما ته وښياست چي هغه جنت ته تللی دی که دوږخ ته؟ که جنت ته تللي وي نو صبر به

كوم او كه دوږخ ته تللى وي نو بيا څومره ژړا چي كولاى سم هغه به وكړم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې د حارثه مور! هلته يو جنت دى بلكه څو جنتونه دي او ستا زوى په فردوس اعلى كي دى، د حارثه رضي الله عنه مور د دې په اورېدو سره وويل: زه به پر هغه صبر كوم.

حضرت خبيب بن عدي انصاري رضي الله عنه

حضرت خبيب رضي الله عنه د بدر په غزا كي ګډون كړى دى، بيا په دريم هجري كال كي د رجيع غزا ته ولاړى او هلته مشركان بندي كړ، بيا د حارث بن عامر زامنو هغه رانيوى، حارث بن عامر د مكې هغه مشرك وو چي حضرت خبيب رضي الله عنه د بدر په غزا كي دوږخ ته رسولى وو، د هغه د بدلې اخيستلو لپاره د حارث زامنو هغه رانيوى، اول يې بندي كړ او بيا يې په تنعيم نامي ځاى كي په دار كړ او شهيد يې كړ، حضرت خبيب رضي الله عنه لومړنى مسلمان دى چي په دار سو او هغه په مقتل كي د قتل پر وخت د دوو ركعتو لمونځ كولو طريقه جاري كړل، په يوه روايت كي راغلي دي چي كله هغه دار ته وخېژول سو نو دغه الفاظ د هغه پر ژبه وه: اې خدايه! دلته زه داسي څوك نه وينم چي پيغمبر ﷺ ته زما سلام ورسوي، اې خدايه! ته زما سلام پيغمبر ﷺ ته ورسوې، نقل سوي دي چي حضرت جبرائيل عليه السلام رسول الله ﷺ ته راغلى او د خبيب رضي الله عنه سلام يې رسول الله ﷺ ته ورسوى. رضي الله عنه.

حضرت خنيس بن خدافه سهمي رضي الله عنه

حضرت خنيس بن خدافه سهمي قريشي دى او د مهاجرينو څخه دى، نوموړي حبشې ته هجرت كړى وو او د هغه ځاى څخه په راتلو سره د بدر په غزا كي شريک سوى وو، بيا د احد په غزا كي د ګډون لپاره د هغه ځايه راغلى او د هغه وروسته حبشې د تلو پر ځاى مدينې منورې ته راغلى، په دغه غزا كي زخمي سو او د همدغه زخم څخه وفات (شهيد) سو، د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه لور بي بي حفصه رضي الله عنها مخكي دخنيس رضي الله عنه په نكاح كي وه د هغه د شهادت څخه وروسته د رسول الله ﷺ په زوجيت كي راغلل.

حضرت رفاعه بن رافع انصاري رضي الله عنه

حضرت رفاعه رضي الله عنه هم د اصحاب بدر څخه يو دى، دده تعلق د مدينې منورې د انصارو څخه دى، د نوموړي پلار د قبيلې او قوم مشر وو، حضرت رفاعه رضي الله عنه د بدر څخه وروسته په نورو ټولو غزاوو كي د نبي كريم ﷺ سره ګډون وكړ، په جنګ جمل او جنګ صفين كي د حضرت علي رضي الله عنه له خوا وو، او د امارت معاويه په لومړنيو ورځو كي وفات سو. رضي الله عنه.

حضرت رفاعه بن عبدالمنذر ابولبابه انصاري رضي الله عنه

حضرت رفاعه بن عبدالمنذر ابولبابه رضي الله عنه هم د مدينې منورې د انصارو څخه دی او د اوس قبيلې سره يې تعلق وو، نوموړي د مشرانو څخه يو مشر وو، يو قول دادی چې نوموړي د بدر په غزا کې ګډون نه وو کړی بلکه رسول الله ﷺ په مدينه کې خپله خليفه ټاکلی وو او بيا د بدر په غنيمت کې د هغه برخه هم ورکړل سوې وه لکه څرنګه چې د حضرت عثمان رضي الله عنه برخه ورکړل سوې وه. د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې وفات سو.

د حضرت رفاعه بن منذر رضي الله عنه د هغه قصې د ذکر کولو دلته ځای نسته چې د مدينې د يهوديانو بنو نضير پر خلاف رسول الله ﷺ د کاروايي کولو په موقع د حضرت رفاعه رضي الله عنه د کوتاهۍ څخه د توبې تر قبلېدو پوري خپل ځان د مسجد نبوي په يوې ستنې پوري تړلی وو، وروسته د مسجد نبوي هغه ستن د حضرت رفاعه رضي الله عنه په کنيت سره ابولبابه ورته ويل کېدل.

حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه

حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه د عشره مبشره څخه دی، په څلورم نيکه، قصی ته په رسېدو سره د رسول الله ﷺ سره په نسب کې يو ځا يکيږي، د هغه مور بي بي صفيه د عبدالمطلب لور او د رسول الله ﷺ عمه ده، د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه لور بي بي اسماء د هغه په زوجيت کې وه، هغه او دهغه مور بي بي صفيې يو ځای د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په لاس اسلام قبول کړی وو، هغه وخت يې عمر شپاړس کاله او د يوه روايت مطابق پنځلس کاله وو، کله چې هغه اسلام قبول کړ نو دهغه اکا هغه ته سخت تکليفونه ورکول تر دې چې هغه يې په دود کې بند کړ او ورته ويل يې تر څو چې ته اسلام نه پرېږدې همداسې به پر تا ظلم کوم، مګر د هغه په استقامت کې د ذرې په اندازه لړزه نه راغلل، او هري سختۍ د هغه قدم د اسلام په لاره کې زيات ټينګوی، د هغه لومړی هجرت حبشې ته وو، نوموړي د رسول الله ﷺ د بدر په غزا او نورو غزاوو کې ګډون کړی دی، د اُحد په غزا کې کله چې دښمن دڅلورو خواوو حمله وکړل او اسلامي لښکر د خپرېدو په حال کې وو، حضرت زبير رضي الله عنه په ډېره مېړانه د رسول الله ﷺ سره ټينګ ولاړ وو، نقل سوي دي چې په اسلام کې تر ټولو مخکې چې کوم سړی د الله جل جلاله په لاره کې توره پورته کړل هغه حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه دی،

د حضرت زبير رضي الله عنه رنګ سور او سپين، مخ يې ځلانده او قد يې اوږد وو، پر بدن يې لږ غوبنه وه، وېښتان يې زيات وه او بارخوګان يې سپک وه، حضرت زبير رضي الله عنه په ۳۶ م هجري کال کې د جنګ جمل په دوران کې شهيد سو، هغه وخت يې عمر ۶۴ کاله وو، او په دارالسباع کې

دفن کړل سو، بیا بصرې ته راوړل سو او هغه یې آخري آرام گاه وگرځېدل، منقول دي چې حضرت زبیر رضي الله عنه د لمانځه په حالت کي وو چي د حضرت علي رضي الله عنه د لښکر یو سړي ابن جرموز پر هغه حمله وکړل او شهید یې کړ، وروسته ابن جرموز حضرت علي رضي الله عنه ته راغلی او هغه ته یې وویل: تاسو ته دي زیری وي چي ما زبیر رضي الله عنه قتل کړی دی، سیدنا علي رضي الله عنه جواب ورکړ چي ته هم دا زیری واوره چي دوږخ ستا انتظار کوي.

حضرت زید بن سهل رضي الله عنه

حضرت زید بن سهل رضي الله عنه انصاري دی، د ابو طلحه په کنیت مشهور دی، نوموړی په هغه اوویا کسانو کي وو چي د هجرت نبوي څخه مخکي د مدینې څخه مکې ته راغلی وه او په عقبه کي د رسول الله ﷺ په زیارت او بیعت مشرف سوی وه.

نوموړي د بدر په غزا کي او دهغه څخه وروسته په نورو غزاوو کي هم گډون کړی دی، حضرت ابو طلحه زید بن سهل رضي الله عنه د بي بي ام سلیم رضي الله عنها خاوند وو چي د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه مور ده، د هغه شمیر د انصارو د سترو کسانو څخه کیږي، په غشي ویشتلو کي ډېر مشهور وو، رسول الله ﷺ د هغه په اړه فرمایلي وه چي یوازي د ابو طلحه آواز په لښکر کي د یوې ډلي تر آواز غوره دی، په یوه روایت کي د سلو کسانو تر آواز د غوره کېدو الفاظ دي، په یو بل روایت کي دي چي د زرو کسانو تر آواز غوره دی، رسول الله ﷺ د هغه ورور گلوي د حضرت ابو عبیده رضي الله عنه سره کړې وه، نوموړی په ۳۱ م هجري کال کي د ۷۰ کالو په عمر وفات سو. رضي الله عنه.

حضرت ابو زید انصاري رضي الله عنه

حضرت ابو زید انصاري رضي الله عنه د هغه صحابه کرامو څخه دی چي هغوی د رسول الله ﷺ په زمانه کي قرآن کریم جمع کړی وو، نومړی د حضرت انس رضي الله عنه اکا دی، د بدر په غزا کي یې گډون کړی دی، د سعد قاري په نامه سره زیات مشهور وو، د نوموړي د اصلي نامه په اړه اختلاف دی، ځینو سعید بن عمیر لیکلی دی او ځینو قیس بن سکن. رضي الله عنه.

حضرت سعد بن مالک زهري رضي الله عنه

دغه مشهور صحابي حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دی چي د عشره مبشره څخه دی، اصلي نوم یې مالک وو ځکه هغه ته سعد بن مالک هم ویل کیږي، حضرت سعد زهري رضي الله عنه قریشي دی او د اسلام په پیل کي یې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په لاس اسلام قبول کړی وو، او هغه وخت یې عمر اووه لس کاله او د یوه روایت مطابق نولس کاله وو، خپله د حضرت سعد

ﷺ بیان دی چي زه دریم مسلمان یم، یعني زما څخه مخکي یوازي دوه کسان مسلمانان سوي وه او زه هغه سړی یم چي د الله ﷻ په لاره کي یې تر ټولو مخکي د غشي ویشتل وکړل، نوموړي د بدر او په نورو ټولو غزاوو کي د رسول الله ﷺ ګډون کړی دی، د احد په ورځ رسول الله ﷺ هغه ته د خپل مور او پلار په قرباني کولو سره ویلي وه چي غشي وله پر تا دي دي زما مور او پلار قربان وي، نوموړي غنم رنګه، قد یې کوچنی، غټ بدن، غټ سر، سختي ګوتي، پری پزه او پر بدن یې وېښتان زیات وه، دا د حضرت سعد ﷺ حال دی، د معاویه ﷺ په حکومت کي په ۵۵م یا ۵۸ م کال کي په هغه محل کي وو چي هغه د مدینې څخه پر لس میله فاصله باندي په وادي عقیق کي جوړ کړی وو، د هغه ځای څخه د هغه مړی مدینې ته راوړل سو او په بقیع کي دفن کړل سو، او د وفات په وخت کي تقریبا د اوویا کاله وو، او د یوه روایت مطابق د ۸۲ کالو وو، په عشره مبشره کي تر ټولو وروسته وفات سو.

حقیقت دادی چي د اسلام په فتوحاتو کي د حضرت سعد ﷺ د جنګي مهارت او ستري مېړاني ډېره لویه برخه ده، د عجمو ډېر ښارونه او لوی لوی سیمي د هغه په لاس فتح سوي دي، د ایران او کسری ستر طاقتونه د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ په مشری کي ټوټې ټوټې سوي دي، ددې څخه ماسوا هم دهغه فضائل او مناقب کم نه دي. رضي الله.

حضرت سعد بن خوله ﷺ

د حضرت سعد بن خوله ﷺ تعلق د مکې د قریشو سره دی، د بنوعامر بن لوی څخه دی، مګر یو قول دادی چي د بني عامر بن لوی سره د هغه تعلق نسته، بلکه د هغوی حلیف وو، په هغه مسلمانانو کي شامل وو چي هغوی دوه واره د مکې څخه حبشې ته هجرت کړی وو، د بدر په غزا کي یې ګډون کړی دی او د حجة الوداع په زمانه کي په مکه کي وفات سو. رضي الله عنه

حضرت سعید بن زید ﷺ

حضرت سعید بن زید بن نفیل قریشي عدوي دی، د عشره مبشره څخه دی او حضرت عمر فاروق ﷺ اخښی دی، قدیم الاسلام دی یعني په مکه کي یې هغه وخت اسلام قبول کړ کله چي رسول الله ﷺ دار ارقم ته تللی نه وو، نوموړي په ټولو غزاوو کي د رسول الله ﷺ سره ګډون کړی وو، د بدر په غزا کي یې د طلحه بن زبیر ﷺ سره د قریشو د قافلې خبر راوړلو لپاره تللی وو، حضرت سعید بن زید ﷺ غنم رنګه او جګ قد یې وو، په یوولسم نیکه کي د کعب بن لوی سره د رسول الله ﷺ د نسب لړی یو ځای کیږي، کله چي یې اسلام قبول کړ هغه وخت یې عمر شل کاله وو، د خپله دهغه بیان دی چي کله عمر ﷺ زما د اسلام په مشرف کېدو خبر سو نو زه

يې وترلم ، د هغه ښځه فاطمه بنت خطاب هم د خپل ورور حضرت عمر رضي الله عنه څخه مخکې په اسلام مشرفه سوې وه، حضرت سعيد رضي الله عنه په ۵۱ يا ۵۲ هجري كال كي په وادي عقيق كي وفات سو د نوموړي عمر تقريبا اويا كاله وو، د هغه پلار زيد بن نفيل د جاهليت په زمانه كي د حضرت ابراهيم عليه السلام پر دين ولاړ وو او د مشركانو د حلال سوو شيانو څخه يې پرهيز كوى، نوموړي د بعثت څخه مخكې د رسول الله ﷺ ليدنه كړې وه هغه ته مؤحدة الجاهلية ويل كيږي .

حضرت سهل بن حنيف رضي الله عنه

حضرت سهل بن حنيف رضي الله عنه انصاري دى، د بدر، اُحد او نورو غزاوو كي يې ګډون كړى دى او د اُحد په ورځ د رسول الله ﷺ سره د جنګ په ميدان كي ثابت قدمه پاته سو، د رسول الله ﷺ څخه وروسته د حضرت علي رضي الله عنه په خاصو ملګرو كي شامل سو، حضرت علي رضي الله عنه په مدينه كي خپل نائب ټاكلى وو، بيا د فارس والي سو، په كوفه كي په ۳۸م هجري كال وفات سو، سيدنا علي رضي الله عنه د هغه د جنازې لمونځ وركړ . رضي الله عنهما .

حضرت ظهير بن رافع رضي الله عنه او دهغه ورور رضي الله عنه

د ظهير بن رافع رضي الله عنه (يا ظُهير) د پلار نوم رافع وو، د مدينې د انصارو څخه دى، د هغه د ورور نوم خديج بن رافع رضي الله عنه دى، او ملا علي قاري رحمة الله عليه ورته ظُهير ويلي دي، دواړه حضرات بدري دي، دواړو د بدر او نورو غزاوو كي ګډون كړى دى .

حضرت عبدالله بن مسعود هزلي رضي الله عنه

هذلي يوې قبيلې هزيل ته نسبت دى ، د غير قريشي قبيلو څخه دى، د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه كنيت ابو عبدالرحمن وو چي صاحب السواد والسواک په لقب سره مشهور وو، په مدينه منوره كي په ۳۲م كال وفات سو چي تقريبا شپېته كاله عمر يې و .

حضرت عبدالرحمن بن عوف زهري رضي الله عنه

حضرت عبدالرحمن بن عوف زهري رضي الله عنه د زهره بن كلاب د اولاد څخه دى، پر كلاب بن مره باندي د هغه او د رسول الله ﷺ د نسب لړۍ يو ځاى كيږي، د جاهليت په زمانه كي د هغه نوم عبدالكعبه وو ، د هغه زېږېدنه د فيل د كال په لسم كال سوې ده ، د اسلام په پيل كي د ابوبكرصديق رضي الله عنه په لاس مسلمان سوى وو او د هغه مور هم مسلمانه سوې وه، حبشې ته يې دوه واره هجرت وكړ ، د بدر په غزا او نورو غزاوو كي يې ګډون كړى دى، د احد په ورځ د جنګ په ميدان كي په ثابت قدمۍ سره جګړه كوونكى وو، په هغه ورځ يې تر شلو زيات زخمونه

خوړلي وه، په یو سفر کي رسول الله ﷺ په هغه پسي لمونځ کړی وو، حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷛ د تبوک په غزا کي ګډون ونه کړ او د هغه کمي يې داسي پوره کړې وه چي څلور زره دیناره يې د الله ﷻ په لاره کي صدقه کړل، بیا څلور زره دیناره يې نور د الله ﷻ په لاره کي ورکړل، پنځه سوه اسونه يې د مجاهدينو لپاره وړاندي کړل او همدارنګه پنځه سوه اوښان يې ورکړل، د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته د ازواج مطهراتو د خبر ایستني او دهغوی د مصارفو ذمه داري حضرت عبدالرحمن ﷛ پر خپله غاړه اخيستې وه، حقیقت دادی چي الله ﷻ حضرت عبدالرحمن ﷛ ته ډېر مال ورکړی وو او د في سبيل الله مصرف کولو حوصله يې هم ډېر زیاته ورکړې وه، تجارت د هغه کار وو او زیات مال هغه ته په تجارت کي تر لاسه سوی وو، نقل سوي دي چي کله په هجرت کولو سره مدینې ته راغلی نو بالکل مفلس او غریب وو، او بیا په دغه پاک ښار کي هغه ته خیر او برکت تر لاسه کېدل پيل سول، نو الله ﷻ د وهم او ګمان څخه هم زيات ونازوی، ویل کیږي چي کله وفات سو نو څلور ښځي يې وې او هغوی ته د میراث د اتمي برخي پر څلورمي باندي صلح کول پرېوتل او په دغه صورت کي هم دهغوی په برخه کي اتیا زره درهم یا دیناره راغلل، د حضرت عبدالرحمن ﷛ میراث د یوزر او شپېته کسانو په منځ کي وویشل سو او هر یو ته اتیا اتیا زره درهم حاصل سول،

دا هم منقول دي چي هغه د خپل میراث څخه هري بدري صحابي ته څلور څلور سوه دینار ورکولو وصیت کړی وو چي پوره کړل سو، روایت دی چي یوه ورځ ام المؤمنين بي بي عائشې ﷝ حضرت عبدالرحمن ته بیان وکړ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل چي ما عبدالرحمن جنت ته تلونکی ولیدی او هغه جنت ته داسي ننوځي لکه کوچنی چي پر کوناټو یا په څکېدو سره ځي، په کومه ورځ چي بي بي عائشې ﷝، عبدالرحمن ته دغه حدیث بیان کړ په هغه ورځ د هغه یوه تجارتي قافله چي پر اووه سوه اوښانو باندي تجارتي مال د شام څخه مدینې ته راورسېدی هغه د خپل ځان په اړه په جنت کي د داخلېدو دغه زیري په اورېدو سره په شکر کي هغه ټول اوښان د مال سره د هغوی د پالان او کجاوو سره د الله ﷻ په لاره کي صدقه کړل، روایت دی چي د وفات پر وخت حضرت عبدالرحمن ﷛ بې هوشه سوی وو، کله چي په هوش کي راغلی نو هغه وویل: ما ته دوې ملائکي راغلې وې چي ډېري سختي معلومېدی، هغوی ما ته په اشاره کولو سره په خپلو کي وویل: موږ دغه سړی د حاکم آمین عزیز په وړاندي بیایو، په دغه وخت کي دوې ملائکي نوري راغلې او هغوی د مخکنيو ملائکو څخه پوښتنه وکړل چي دغه سړی چیري بیایاست، هغوی وویل: د حاکم آمین عزیز په حضور کي، نو دواړو

ملائکو وويل: دا خو هغه سړی دی چي په هغه کي سعادت او نيکبختی هغه وخت ځای نيولی دی کله چي دی د مور په نس کي وو، د حضرت عبدالرحمن رضي الله عنه علمي حيثيت هم ډېر لوړ وو، فقهي تبحر او ديني احکامو او مسائلو باندي د عبور درلودو په سبب په صحابه کرامو کي ډېر د لوړي دَرَجې وو، د حضرت ابوبکر صديق، حضرت عمر او حضرت عثمان رضي الله عنهم د خلافت په زمانو کيُ د فتوا ورکولو ذمه داري ده ته سپارل سوې وه.

د حضرت عبدالرحمن رضي الله عنه رنګ سور او سپين وو، قدر يې اوږد وو، مخ يې کوچنی وو او پښه يې د غښي لګېدو په وجه ماته سوې وه، نوموړی د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو.

حضرت عبيده بن حارث رضي الله عنه

نوموړی قريشي دی، پلار يې حارث د مطلب بن عبدمناف زوی وو، او کنيت يې ابوالحارث وو، ځينو حضراتو ابومعاويه کنيت ليکلی دی، د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه لس کاله مشر وو، هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دار ارقم ته د راتلو څخه مخکي اسلام قبول کړی وو او دهغه دوه وروڼه چي دهغوی نومونه طفيل او حصين وو، يو ځای په هجرت کولو سره مدينې ته رسېدلي وه، د بدر په غزا کي د هغه مقابله وليد بن عتبه سره سوې وه او د دواړو په منځ کي دوه دوه واري وسول، په دغه مقابله کي حضرت عبيد رضي الله عنه شهيد سو مګر وليد هم په هغه ورځ ووژل سو.

حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه

د مدينې د انصارو څخه دی، په مشرانو کي شمېرل کيدی، په عقبه اولی، عقبه ثانيه او عقبه ثالثه درو سره کي موجود وو، نوموړی د بدر او په نورو غزاوو کي ګډون وکړ، نوموړی د هغه صحابه کرامو څخه دی چي هغوی د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کي قرآن جمع کړی وو، قد يې جګ او ښکلی وو، حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه کي د شام قاضي او معلم ټاکلی وو. په حمص کي د هستوګني په اختيارولو سره يې خپل فرائض سرته رسول، وروسته فلسطين ته تللی ؤ او هلته په رمله کي وفات سو، ځينو حضراتو ليکلي دي چي په بيت المقدس کي په ۳۴ هجري کال وفات سوی دی، او هغه وخت يې عمر ۷۲ کاله وو، په يوه روايت کي دي چي حضرت عباده رضي الله عنه د حضرت معاويه رضي الله عنه تر زمانې پوري ژوندی وو.

حضرت عمرو بن عوف رضي الله عنه

نوموړی انصاري دی، د بنو عامر لوی حليف وو، او د مدينې هستوګنه يې اختيار کړې وه، هغه د بدر په غزا کي ګډون وکړ، د امير معاويه رضي الله عنه د امارت په پای کي په مدينه کي وفات

سو او بېله اولاده له دنيا څخه رخصت سو، هغه ډير مخکي اسلام قبول کړی وو ځکه هغه ته هم قديم الاسلام ويل کيږي، نوموړی د هغه مقدسو کسانو څخه دی چي د هغوی په حق کي الله ﷻ په قرآن کريم کي فرمايلي دي: ترى اعينهم تفيض من الدمع، هغه د رسول الله ﷺ څخه هغه حديث روايت کړی دی چي په هغه کي رسول الله ﷺ د مسلمانانو په مخاطب کولو سره وفرمايل: ما ته ستا سو د فقر او مفلسی هيڅ بيره نسته زه خو د هغه وخت څخه بېرېږم کله چي دنيا پر تاسو باندي پراخه کړل سي.

حضرت عقبه بن عمرو انصاري رضی اللہ عنہ

د مشهورو صحابه کرامو څخه دی، بدري دی، په عقبه ثانيه کي هم موجود وو، د جمهورو علماؤ وينا ده چي هغه ته بدري په دغه نسبت ويل کيږي چي دی په بدر کي اوسېدی نه په دې اعتبار چي هغه په بدر کي ګډون کړی وو، د حضرت علي رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کي وفات سو مګر د ځينو حضراتو وينا ده چي په ۴۱ يا ۴۲ کال کي وفات سو.

حضرت عامر بن ربيعه عنزي رضی اللہ عنہ

عنزي په اصل کي يو سړي عنزه ته نسبت دی چي د حضرت عامر رضی اللہ عنہ بن ربيعه د نيکه ګانو څخه وو، په جامع الاصول کي دغه لفظ غنوي ليکل سوی دی، حضرت عامر رضی اللہ عنہ د بنو عدو حليف وو ځکه عدوي هم ورته ويل کيږي او په کاشف کي ليکلي دي چي حضرت عامر رضی اللہ عنہ د آل خطاب حليف وو، حضرت عامر رضی اللہ عنہ دوه واره هجرت وکړ، د بدر په غزا کي يې ګډون کړی دی او په نورو غزاوو کي هم، هغه د حضرت عمر رضی اللہ عنہ څخه مخکي اسلام قبول کړی وو، په ۳۲ يا ۳۳ يا ۳۵ م هجري کال کي وفات سو.

حضرت عاصم بن ثابت انصاري رضی اللہ عنہ

د بدر په غزا کي يې ګډون کړی دی، دغه حضرت عاصم د بن عمر فاروق مورنی نيکه دی، الله ﷻ پر يو ځای چي هغه يې د مشرکانو څخه ساتلی وو چي يوه غيره معمولي واقعه ده او پېښه داسي وه چي په غزوه ذات الرجيع کي هغه يو لوی مشرک قتل کړی وو، ټول مشرکان د خپل مشر د بدلې اخيستلو لپاره په حضرت عاصم بن ثابت رضی اللہ عنہ پسې وه، چي د موقع په تر لاسه کولو سره هغه ونيسي، او نژدې وه چي د هغه سر پرې کړي مګر هغه وخت ورته د الله ﷻ مرسته تر لاسه سول، په اصل کي حضرت عاصم د الله ﷻ څخه دعاء غوښتې وه چي د هيڅ يو مشرک لاس ما ته نه راورسيږي او د هغه دغه دعاء قبوله سوې وه، مشرک چي د هغه د سر پرېکولو ته رامخکي سو نو ناڅاپه د مچ مچيو يوه ډېره لويه ګاله پر هغه مشرکانو را ايله سول او هغه مچ

مچیو حضرت عاصم رضي الله عنه د هغوی د لاس څخه وژغورئ .

حضرت عويم بن ساعدي انصاري رضي الله عنه

په عقبه اولی او عقبه ثانیه کي د مدینې څخه مکې ته په راتللو سره د رسول الله ﷺ په زیارت او بیعت کوونکو کي دی، نوموړي د بدر په غزا کي ګډون کړی دی او په نورو غزاوو کي هم، د رسول الله ﷺ په ژوند کي وفات سو او د ۶۵ یا ۶۶ کالو وو .

حضرت عتبان بن مالک انصاري رضي الله عنه

نوموړی خزرجي دی، د بدر په غزا کي یې ګډون کړی وو . د رسول الله ﷺ څخه یې حدیثونه روایت کړي دي او د هغه څخه چي کومو کسانو حدیثونه نقل کړي دي په هغوی کي حضرت انس بن مالک او محمود بن ربیع رضي الله عنهما شامل دي، حضرت عتبان رضي الله عنه ړوند وو . په صحیح بخاري کي په یوه روایت کي د هغه په اړه دا مذکور دي چي هغه د لمانځه لپاره د مسجد راتللو عذر بیان کړ نو رسول الله ﷺ د هغه کورته ورغلی او هلته یې یو ځای لمونځ وکړ چي عتبان د خپل لمانځه لپاره مختص کړی ، نوموړی د معاویه رضي الله عنه په زمانه کي وفات سو .

حضرت قتاده بن نعمان انصاري رضي الله عنه

دا هغه قتاده نه دی چي په عالمانو او محدثینو کي ډېر مشهور دی، هغه خو تابعي وو، د بصرې وو او ړوند سوی وو، مګر د علم او معرفت په دولت نازول سوی وو، نوموړی حافظ، مفسر او محدث وو، د هغه حافظه دومره قوي وه چي د یو شي په یو وار اورېدو سره یې هغه نه هیرېدی، د حضرت انس بن مالک، حضرت حسن بصري او حضرت سعید بن حسیب رضي الله عنه څخه یې روایت کوی او دغه قتاده بن نعمان رضي الله عنه چي د هغه یادونه دلته راغلې ده ، صحابي دی او انصاري دی، په عقبه کي موجود وو ، دبدر په غزا کي یې او په نورو غزاوو کي یې ګډون کړی دی ، د نوموړي شمېر د سترو صحابه کرامو څخه کیږي، په ۲۳م هجري کال کي وفات سو او حضرت عمر رضي الله عنه د هغه د جنازې لمونځ ورکړ .

حضرت معاذ بن عمرو بن الجموح رضي الله عنه

حضرت معاذ رضي الله عنه د عمرو بن الجموح زوی دی ، په عقبه کي موجود وو ، د بدر په غزا کي یې هم ګډون کړی دی او دده پلار عمرو بن الجموح هم، دا هغه ځوان معاذ بن عمرو دی چي د بدر په غزا کي یې پر ابو جهل حمله وکړل او دهغه یوه پښه یې پرې کړل او بیا وروسته معاذ او معوذ بن عفراء د هغه کار خلاص کړ .

معاذ بن عفراء او دهغه ورور رضی اللہ عنہما

حضرت معوذ بن عفراء رضی اللہ عنہ او دهغه ورور معاذ بن عفراء رضی اللہ عنہ دواړه د بدر په غزا کي ګډون کوونکي وه، عفراء د دوی دواړو د مور نوم دی، د دوی پلار حارثه بن رفاعه انصاري دی، دا هغه معوذ وو چي د بدر په غزا کي د خپل ورور معاذ بن عفراء په مرسته ابوجهل وژلی وو، معوذ په هغه غزا کي شهيد سوی وو مګر معاذ پاته سو، او هغه په دواړو جهادو کي هم شرکت وکړ، د معوذ او معاذ يو بل ورور عوف بن عفراء هم د بدر په غزا کي شريک وو او هغه ته هم په دغه غزا کي د شهادت درجه رسېدلې وه.

حضرت مالک بن ربيعه ابواسيد انصاري رضی اللہ عنہ

اصلي نوم يې مالک بن ربيعه دی او ابواسيد يې کنيت دی، د نامه پر ځای په کنيت سره زيات مشهور دی، د بدر په غزا کي او په نورو ټولو غزاوو کي يې ګډون کړی دی، د مساعدي قبيلې څخه دی، په ۶۰ م هجري کال کي وفات سو او هغه وخت يې عمر ۷۷ کاله يا ۷۸ کاله وو، نوموړی ړوند سوی وو او د اصحاب بدر څخه تر ټولو وروسته وفات سو.

حضرت مسطح بن اثاثه رضی اللہ عنہ

حضرت مسطح بن اثاثه بن عباد بن مطلب بن عبد المناف د بدر او احد په غزاوو کي ګډون کړی وو او په وروسته غزاوو کي هم، دا هغه مسطح رضی اللہ عنہ دی چي د ام المؤمنين بي بي عائشې رضی اللہ عنہا پر ذات باندي يې تهمت لګولی وو او پر هغه باندي حد قذف نافذ سوی وو، ځينو حضراتو ليکلي دي چي مسطح د هغه لقب دی او اصل نوم يې عوف دی، په ۳۴ هجري کال کي د ۵۶ کالو په عمر وفات سو.

حضرت مراره بن ربيع انصاري رضی اللہ عنہ

حضرت مراره رضی اللہ عنہ بن ربيع انصاري د بنو عمرو بن عوف څخه دی، د بدر په غزا کي شريک وو، نوموړی د هغه درو صحابه کرامو څخه دی چي د تبوک غزا ته نه وه تللي، په دوی کي زيات مشهور حضرت کعب بن مالک رضی اللہ عنہ دی، دوهم حضرت هلال بن اميه او دريم همدغه حضرت مراره رضی اللہ عنہ دی، الله جل جلاله د درو سره توبه قبوله کړې وه او دهغوی په حق کي د قرآن کريم آياتونه نازل سول او په دغه مناسبت سره د دغه سورت نوم سورة توبه کښېښودل سو چي په هغه کي دغه آياتونه شامل دي.

حضرت معن بن عدي انصاري رضي الله عنه

حضرت معن بن عدي انصاري رضي الله عنه د بنوعمرو بن عوف حليف دى او په دې سبب د هغه شمېر په انصارو كي كيږي، دى په عقبه كي موجود وو د بدر په غزا كي يې هم ګډون كړى دى او په وروستنيو نورو غزاوو كي هم، رسول الله ﷺ د هغه وررورګلوي د حضرت زيد بن خطاب رضي الله عنه سره كړې وه چي د حضرت عمر رضي الله عنه ورور دى، او داسي اتفاق وسو چي د حضرت صديق اكبر رضي الله عنه د خلافت په زمانه كي دواړه يو ځاى د يمامه په جګړه كي شهيدان سول. رضي الله عنهما.

حضرت مقداد بن عمرو كندي رضي الله عنه

ده ته مقداد بن اسود هم ويل كيږي، كندي خو په دې نسبت ورته ويل كيږي چي د هغه پلار عمرو د كنده حليف وو او خپله مقداد په بنو زهره كي د يو سړي اسود بن بغوث زهري حليف جوړ سوى وو ځكه ده ته زهري ويل كيږي، او په دغه نسبت سره د مقداد بن اسود رضي الله عنه د هغه دوهم نوم سوى وو، حضرت مقداد رضي الله عنه قديم الاسلام دى او ځينو حضراتو ليكلي دي چي شپږم مسلمان دى يعني دده څخه مخكي پنځه كسان مسلمانان سوي وه، دده شمېر د رسول الله ﷺ د ډېرو نيكو او بزرګو صحابه كرامو څخه كيږي، دده څخه په روايت كونكو كي حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه او طارق بن شهاب شامل دي، په ۳۳ م هجري كال كي د مدينې څخه پر درې ميله فاصله باندي د جرف په سيمه كي وفات سو، دهغه ځاى څخه مدينې ته راوړل سو او په بقيع كي دفن سو، د جنازې لمونځ يې حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه وركړ او د وفات پر وخت يې عمر شپېته كاله وو. رضي الله عنه وعنهم.

حضرت هلال بن اميه انصاري رضي الله عنه

حضرت هلال بن اميه انصاري رضي الله عنه د هغه صحابه كرامو څخه دى چي د تبوك غزا ته نه وه تللي او الله جل جلاله د هغوى توبه قبوله كړې وه، هغه پر خپلي ښځي د زنا تهمت لګولى وو او لعان يې كړى وو، د بدر په غزا كي يې ګډون كړى وو، دده څخه چي كوم حضرات حديثونه روايت كوي په هغوى كي حضرت جابر رضي الله عنه عبدالله رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه شامل دي.

د اهل بدر شمېر:

په دې اړه اختلاف دى چي د بدر په غزا كي مجاهدين څو كسان وه، ځيني حضراتو د اصحاب بدر شمېر ۳۱۵ ليكلى دى او ځيني ۳۱۳، په لومړني باب كي په يوه روايت كي ۳۱۵ نقل سوي دي او په يوه روايت كي ۳۱۷ ذكر دي، صاحب استيعاب په خپل كتاب كي ۳۱۳ شمېر

بیان کړی دی چي په هغو کي ۴۵ خو هغه دي چي دهغوی په اړه یادونه سوې ده او پاته نور دي ، جعفر بن حسن بن عبد الکریم برزنجي رحمة الله علیه د اصحاب بدر اسماء مبارک او دهغوی پر فضائلو او ګټو باندي مشتمل یو کتاب لیکلی دی چي د هغه نوم بجالیة الکرب باصحاب سید العجم والعرب، دی، په غه کتاب کي برزنجي رحمة الله علیه د ډېرو کتابو په حواله سره د اصحاب بدر شمېر ۳۶۵ ذکر کړی دی، مګر هغه وضاحت کړی دی چي په دې اړه راجح قول دادی چي اصحاب بدر ۳۱۳ دي لکه څرنګه چي صاحب استیعاب لیکلی دی .

د اهل بدر فضیلتونه

د اصحاب بدر په فضائلو کي تر ټولو لویه خبره داده چي الله جل جلاله هغوی ته د خپل نبي په ژبه د جنت زیری ورکړی دی، او وه یې فرمایل: وجبت لکم الجنة، اې د بدر خاوندانو ! ستاسو لپاره جنت واجب سو .

ددغه حضراتو یو لوی فضیلت دادی چي الله جل جلاله د هغوی مخکني او وروستني ټول ګناهونه بخښلي دي تر دې که چیري دا فرض کړل سي چي په هغوی کي یو څوک یو ګناه وکړي نو دهغه د توبې ضرورت نسته ځکه چي هغه د مخکي څخه بخښل سوې ده او د هغه جنت ته تلل فیصله سوي دي، مګر دا بېله خبره ده چي د هغه هغه ګناه به په دنیا کي د شرعي سزا متقاضي سوې وي او پر هغه به په دنیا کي د هغه شرعي سزا جاري کېدل وي .

دا هم دهغوی په فضائلو کي دي چي د بدر په غزا کي الله جل جلاله ملائکي نازلي کړې او هغه ملائکي د بدر د اصحابو سره یو ځای د دین د دښمنانو سره جنګېدلي دي ، په دې اړه اختلاف نسته او ټول علماء پر دې متفق دي بلکه په نورو غزاوو کي د مثال په توګه د اُحد غزا، د حنین غزا په اړه د علماؤ اختلاف دی .

د اهل بدر د نومو خواص او برکات

الله جل جلاله د اصحاب بدر نومونه او دهغوی په ذکر کي عجیب خواص او برکتونه ایښي دي، ددغه نومو په ویلو سره غوښتل سوې دعاء قبلیږي لکه چي برهان حلبي رحمة الله علیه د سیرت په خپل کتاب کي لیکلي دي او دواني رحمة الله علیه بیان کړی دی چي هغه د حدیثو د مشائخو څخه واورېدل چي د اهل بدر د نومو په ذکر سره کومه دعاء وغوښتل شي هغه قبلیږي او دا د تجربې څخه ثابته وه، شیخ عبد اللطیف رحمة الله علیه په خپله رساله کي لیکلي دي: ځینو علماؤ بیان کړی دی چي څومره اولیاء الله د اهل بدر د نومو په برکت د ولایت مرتبې ته رسېدلي دي او دا هم حقیقت دی چي کوم

ناروغان د اهل بدر په وسیله د ځان لپاره د شفاء دعاء غوښتې ده الله ﷻ هغوی ته شفاء ورکړې ده، د یو عارف باالله بیان دی : کله چې ما د ناروغ پر سر په لاس ایښودو سره په اخلاص د اهل بدر نومونه ویلي دي نو الله ﷻ هغه ته شفاء ورکړې ده بلکه که چیري د هغه د مرګ وخت راغلی وي نو الله ﷻ په هغه کي نرمي او رعایت کړی دی، د یو بل عارف بیان دی : ما په مهمو چارو کي د اهل بدر د اسماؤ ذکر په تجربه او په ژبه ویلو سره او لیکلو سره وکړل، نو حقیقت دادی چې ما هیڅ دعاء د هغه څخه ژر قبلېدونکې نه ده لیدلې،

د حضرت جعفر بن عبدالله رحمه الله څخه نقل سوي دي چې هغه وویل: زما پلار ما ته وصیت کړی وو چې زه د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره مینه ولرم او دا چې په خپلو ټولو کارو کي د اهل بدر په وسیله سره دعاء غواړم، پلار راته فرمایلي وه چې اې زویه! د اصحاب بدر د اسماء مبارک په ذکر سره چې کومه دعاء غوښتل کیږي هغه قبلیږي، هغه دا هم فرمایلي وه چې کله بنده د اهل بدر د نومو ذکر کوي یا دا یې فرمایلي وه چې کله یو بنده د اهل بدر په نومو سره دعاء غواړي نو هغه وخت مغفرت، رحمت، برکت، رضا او رضوان د هغه بنده چاپیره کیږي ،

علماؤ لیکلي دي چې کوم څوک هره ورځ ددغه اسماء ذکر کوي او ددغه نومو په وسیله د خپل حاجت پوره کېدو دعاء پر وخت ددغه مبارکو نومو وسیله نیونکي دپاره غوره ده ، چې د هر نوم څخه وروسته رضي الله عنه خامخا ووایي، مثال داسي ووایي: محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم، ابوبکر صدیق رضي الله عنه، عمر بن الخطاب رضي الله عنه، همدارنګه تر پایه پوري ،

د کتاب مؤلف رحمه الله په دغه ځای کي د ټولو اهل بدر نومونه د کتاب استیعاب څخه نقل کړي دي او د هغه نومو ذکر چې په کومو الفاظو، ترتیب او دعاء توسل سره صاحب استیعاب نقل کړی دی هغه مؤلف اختیار کړی دی مګر صاحب استیعاب د هغه نومو څخه وروسته چې کومه دعاء لیکلې ده هغه ډېره اوږده او مشکل المعاني وه ځکه مؤلف د هغه دعاء پر ځای یوه داسي مختصره او جامع دعاء لیکلې ده چې په حدیثونو کي راځي، ددعاء توسل په الفاظو سره د اصحاب بدر نومونه دادي :

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَللّٰهُمَّ اَسْئَلُكَ بِسَيِّدِنَا مُحَمَّدِ الْمُهَاجِرِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ بِسَيِّدِنَا عَبْدِاللهِ ابْنِ عُثْمَانَ اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ الْقُرَيْشِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ الْعَدَوِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا عُثْمَانَ ابْنِ عَفَّانَ

الْقُرَيْشِيِّ خَلَّفَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنَتِهِ وَضَرَبَ لَهُ بِسَهْمِهِ وَ بِسَيِّدِنَا عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبِ الْهَاشِمِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا اِيَاسِ بْنِ الْبُكَيْرِ وَ بِسَيِّدِنَا بِلَالِ بْنِ رَبَاحٍ مَوْلٰى اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ الْقُرَيْشِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِالْمُطَّلِبِ الْهَاشِمِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا حَاطِبِ بْنِ اَبِيْ بَلْتَعَةَ حَلِيْفِ لِقُرَيْشٍ وَ بِسَيِّدِنَا اَبِيْ حُذَيْفَةَ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيْعَةَ الْقُرَشِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا حَارِثَةَ ابن ربيع الْاَنْصَارِيِّ قتل يوم بدر وهو حارثة بن سراقة وكان في النظارة وَ بِسَيِّدِنَا خطيب بن عدي الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا خنيس بن حذافة السهمي وَ بِسَيِّدِنَا رفاعة بن رافع الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا رفاعة بن عبد المنذر ابي لبابة الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا الزبير بن العوام القرشي وَ بِسَيِّدِنَا سعيد بن زيد بن عمرو ابن نفيل القرشي وَ بِسَيِّدِنَا سهل بن حنيف الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا زيد بن سهل ابي طلحة الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا ابي زيد الانصاري وَ بِسَيِّدِنَا سعد بن مالك الزهري وَ بِسَيِّدِنَا سعد ابن خولة القرشي وَ بِسَيِّدِنَا ظهير بن رافع الْاَنْصَارِيِّ واخيه وَ بِسَيِّدِنَا عبدالله بن مسعود الهذلي وَ بِسَيِّدِنَا عتبة بن مسعود الهذلي وَ بِسَيِّدِنَا عبدالرحمن بن عوف الزهري وَ بِسَيِّدِنَا عبيدة بن الحارث القرشي وَ بِسَيِّدِنَا عبادة بن الصامت الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا عمرو بن عوف حليف بني عامر بن لؤي وَ بِسَيِّدِنَا عقبة بن عمرو الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا عامر بن ربيعة العنزي وَ بِسَيِّدِنَا عاصم بن ثابت الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا عويم بن ساعدة الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا عتبان بن مالك الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا قدامة بن مظعون وَ بِسَيِّدِنَا قتادة بن النعمان الْاَنْصَارِيِّ وَ بِسَيِّدِنَا معاذ بن عمرو بن الجموح وَ بِسَيِّدِنَا معوذ بن عفراء واخيه مالك بن ربيعة وبسيدنا ابي اسيد الانصاري وبسيدنا مسطح بن اثاثة بن عباد بن المطلب بن عبدمناف وبسيدنا مرارة بن الربيع الانصاري و بسيدنا معن بن عدي الانصاري وبسيدنا مقداد بن عمرو الكندي حليف بني زهرة وبسيدنا هلال بن امية الانصاري و بسيدنا ابي عمرو بن سعد بن معاذ الاشهلي الانصاري

وبسیدنا اسید بن حضیر الانصاري الاشهلي وبسیدنا اسید بن ثعلبه الانصاري وبسیدنا انیس بن قتادة الانصاري وبسیدنا انس بن معاذ النجاري وبسیدنا انس بن اوس الانصاري الاشهلي وبسیدنا اوس بن ثابت النجاري الانصاري وبسیدنا اوس بن خولي الانصاري وبسیدنا اوس بن الصامت الخزرجي الانصاري وبسیدنا اسعد ابن زرارة النجاري الانصاري الخزرجي وبسیدنا الاسود بن زید بن غنم الانصاري وبسیدنا ایاس بن ورقة الانصاري من بني سالم بن عوف الخزرجي وبسیدنا الارقم بن ابي الارقم الهاشمي وبسیدنا براء بن عازب الخزرجي الانصاري وبسیدنا بشر بن البراء بن معرور الانصاري الخزرجي وبسیدنا بشیر بن سعد الخزرجي الانصاري وبسیدنا بشیر بن ابي زید الانصاري وبسیدنا بحیر ابن ابي بحیر الجهني النجاري وبسیدنا بشعس ابن عمرو الخزرجي الانصاري وبسیدنا نجاس بن ثعلبه الانصاري الخزرجي وبسیدنا تمیم بن یعار الانصاري الخزرجي وبسیدنا تمیم الانصاري مولیٰ بني غنم وبسیدنا تمیم مولیٰ خراش بن الصمة وبسیدنا ثابت بن الجذع الانصاري الاشهلي وبسیدنا ثابت بن هزال بن عمرو الانصاري العوفي وبسیدنا ثابت بن عمرو بن زید النجاري الانصاري وبسیدنا ثابت بن خالد بن عمرو بن النعمان النجاري الانصاري وبسیدنا ثابت بن الخنشاء النجاري الانصاري وبسیدنا ثابت بن اقرم الانصاري حلیف بني عمرو بن عوف و بسیدنا ثابت بن زید الاشهلي الانصاري وبسیدنا ثابت بن ربیعة الانصاري الخزرجي وبسیدنا ثابت الانصاري و بسیدنا ثابت بن عبید الانصاري وبسیدنا ثابت الحارث الانصاري وبسیدنا ثعلبة بن غنمة الانصاري وبسیدنا ثعلبة بن ساعدة الساعدي الانصاري وبسیدنا ثعلبة بن عمرو النجاري وبسیدنا ثعلبة بن حاطب الانصاري وبسیدنا ثقف بن عمرو الاسلمي وبیدنا جابر بن خالد بن مسعود الانصاري النجاري الاشهلي وبسیدنا جابر ابن عبداللہ

الحرامي الانصاري وبسيدنا جبار بن صخر الانصاري وبسيدنا جبير بن اياس الانصاري الزرقي وبسيدنا حارثة بن النعمان النجاري الانصاري وبسيدنا حارثة بن مالك الانصاري الزرقي وبسيدنا حارث بن حمير الاشجعي الانصاري وبسيدنا حارثة بن حمير الانصاري وبسيدنا حارث بن هشام المخزومي القرشي وبسيدنا الحارث بن عتيك النجاري وبسيدنا الحارث بن قيس الانصاري و بسيدنا الحارث بن اوث الانصاري وبسيدنا الحارث بن انس الاشهلي الانصاري وبسيدنا الحارث بن النعمان القيسي وبسيدنا الحارث بن النعمان ابن خرمة الخزرجي الانصاري وبسيدنا حريث بن زيد الخزرجي الانصاري وبسيدنا الحكم بن عمرو الثمالي و بسيدنا حبيب مولی الانصار وبسيدنا الحصين ابن الحارث المطلبي و بسيدنا حاطب بن عمرو الاوسي وبسيدنا حرام بن ملحان النجاري وبسيدنا الحباب بن المنذر الانصاري السلمي وبسيدنا خالد بن الكبير وبسيدنا خالد بن العاصي قتل يوم بدر و بسيدنا خالد بن قيس الازدي العجلاني و بسيدنا خلاد بن رافع العجلاني الانصاري وبسيدنا خلاد بن سويد الانصاري الخزرجي و بسيدنا خلاد بن عمرو الانصاري السلمي و بسيدنا خزيمة بن ثابت الانصاري و بسيدنا خارجة بن زيد الانصاري الخزرجي و بسيدنا خارجة بن حمير الاشجعي و بسيدنا خباب بن الارت الخزاعي و بسيدنا خباب مولی عقبة بن غزوان و بسيدنا خزيم بن فاتك الاسدي وبسيدنا خراش بن الصمة الانصاري السلمي و بسيدنا خولي بن خولی العجلي الجعفي و بسيدنا خبيب بن اساف الانصاري و بسيدنا خوات بن جبير الانصاري و بسيدنا خثيمة بن الحارث الانصاري و بسيدنا خليفة بن عدي الانصاري و بسيدنا خليدة بن قيس الانصاري و بسيدنا ذكوان بن عبدقيس الانصاري و بسيدنا ذي مخبر الجشمي وبسيدنا ذي الشمالين الخزاعي و بسيدنا رافع بن مالك الانصاري الخزرجي و بسيدنا رافع بن

الحارث الانصاري و بسیدنا رافع المعلي الانصاري وبسیدنا رافع بن عنجدة الانصاري العوامي و بسیدنا رافع بن سهل الانصاري و بسیدنا رافع بن زید الانصاري و بسیدنا رفاعة بن عمیر الانصاري و بسیدنا رفاعة بن رافع الانصاري و بسیدنا رفاعة بن الحارث الانصاري و بسیدنا رفاعة بن عمرو الجهني وبسیدنا ربیعة بن اکثم الانصاري وبسیدنا ربیع بن ایاس الانصاري واخیه وبسیدنا رجیلة بن ثعلبة الانصاري البیاضي وبسیدنا زید بن الخطاب العدوي وبسیدنا زید بن حارثة الکلبي وبسیدنا زید بن اسلم العجلاني الانصاري وبسیدنا زید بن الدثنة الانصاري البیاضي وبسیدنا زید بن عاصم المازني الانصاري وبسیدنا زیاد بن لبید الانصاري البیاضي وبسیدنا زیاد بن عمرو الانصاري وبسیدنا زیاد بن کعب الانصاري وبسیدنا زاهر بن حرام الاشجعي وبسیدنا طلیب بن عمرو القرشي وبسیدنا الطفیل بن الحارث المطلبي واخیه قتل یوم بدر وبسیدنا الطفیل بن مالك الانصاري وبسیدنا کعب ابن عمرو الانصاري السلمي وبسیدنا کعب بن زید النجاري الانصاري وبسیدنا کعب بن حمار الانصاري وبسیدنا کفاز بن حصن الانصاري وبسیدنا محمد بن مسلمة الانصاري وبسیدنا معاذ بن عفراء الانصاري وبسیدنا عوف بن العفراء قتل یوم بدر وبسیدنا معوذ وبسیدنا معاذ بن ماعض الانصاري و بسیدنا مالك بن عمیلة العبدري وبسیدنا مالك بن قدامة الانصاري وبسیدنا مالك بن رافع العجلاني وبسیدنا مالك بن عمرو السلمي وبسیدنا مالك بن امیة بن عمرو السلمي وبسیدنا مالك ابن ابي خولي العجلاني وبسیدنا مالك بن نمیلة الانصاري وبسیدنا معمر بن الحارث الجمهي وبسیدنا محرز بن لضلة الاسدي وبسیدنا محرز بن عامر الانصاري وبسیدنا معن بن یزید السلمي وبسیدنا معبد ابن قیس الانصاري وبسیدنا المنذر بن عمرو الانصاري الخزرجي وبسیدنا المنذر بن الاوسي الانصاري وبسیدنا المنذر بن

قدامة الانصاري وبسيدنا معتب بن حمراء الانصاري وبسيدنا معتب بن بشير الانصاري وبسيدنا مصعب ابن عمير القرشي وبسيدنا مبشر بن عبدالمنذر الاوسي وبسيدنا مليل بن وبدة الانصاري وبسيدنا مهجع بن صالح مولى عمر بن الخطاب وبسيدنا مدراج بن عمرو السلمي وبسيدنا نوفل بن ثعلبة الانصاري وبسيدنا النعمان بن عبدالنجاري وبسيدنا النعمان بن ابي خرمة الانصاري وبسيدنا النعمان بن عمرو الانصاري وبسيدنا النعمان ابن ابي خزمة الانصاري وبسيدنا النعمان بن سنان الانصاري وبسيدنا نضر بن الحارث الانصاري الظفري وبسيدنا نحات بن ثعلبة الانصاري وبسيدنا نعمان بن عمرو النجاري وبسيدنا صهيب بن سنان الرومي وبسيدنا صفوان بن امية بن عمرو السلمي واخيه مالك بن امية وبسيدنا الضحاك بن حارثة الانصاري وبسيدنا الضحاك بن عبدالانصاري النجاري وبسيدنا عبدالله بن ثعلبة الانصاري وبسيدنا عبدالله بن جبير الانصاري وبسيدنا عبدالله بن الحمير الاشجعي وبسيدنا عبدالله بن رواحة الانصاري وبسيدنا عبدالله بن رافع الانصاري وبسيدنا عبدالله بن ربيع الانصاري وبسيدنا عبدالله بن طارق الانصاري وبسيدنا عبدالله بن كعب الانصاري وبسيدنا عبدالله بن مظعون الجمحي وبسيدنا عبدالله ابن النعمان الانصاري وبسيدنا عبدالله بن عبدالله بن سلول الانصاري وبسيدنا عبدالله بن عمرو بن حرام الانصاري وبسيدنا عبدالله ابن عامر الانصاري وبسيدنا عبدالله بن عمير الانصاري و بسيدنا عبدالله بن عبس الخزرجي و بسيدنا عبدالله بن سعد الانصاري و بسيدنا عبدالله بن سلمة العجلاني و بسيدنا عبدالرحمن بن كعب المازني و بسيدنا عبدالرحمن بن جبير الانصاري و بسيدنا عبدالرحمن بن عبدالانصاري و بسيدنا عبدالرحمن بن سهل الانصاري و بسيدنا عبيد بن اوس و بسيدنا عبيد بن زيد الانصاري و بسيدنا عبدربه بن حق الانصاري و بسيدنا

عباد بن عبید التهیان و بسیدنا عبد یا لیل بن ناشب اللیثي و بسیدنا عباد بن قیس الانصاري و بسیدنا عمیر بن حرام الانصاري و بسیدنا عمرو ابن قیس الانصاري و بسیدنا عمرو بن ثعلبة الانصاري و بسیدنا سفیان بن بشر الانصاري و بسیدنا سالم بن عمیر الانصاري و بسیدنا سنان بن سنان الاسدي و بسیدنا سماك بن خرشة الانصاري و بسیدنا سهل بن عتیك الانصاري و بسیدنا سهل ابن رافع الانصاري و بسیدنا السائب بن مظعون الجمحي و بسیدنا ابي بن کعب الانصاري النجاري وبسیدنا ابي معاذ النجاري و بسیدنا اسیرة بن عمرو الانصاري النجاري و بسیدنا عبدالله بن عامر الانصاري و بسیدنا عکاشة بن محصن الاسدي و بسیدنا عتیك بن التهیان الانصاري وبسیدنا عشرة السلمي و بسیدنا عاقل بن البکیر و بسیدنا فروة بن عمرو الانصاري و بسیدنا غنام بن اوس الانصاري و بسیدنا الفاکه بن بشر الانصاري و بسیدنا قیس بن مخلد الانصاري و بسیدنا قیس ابن محصن الانصاري و بسیدنا قیس بن ابي صعصعة الانصاري و بسیدنا قطبة بن عامر الانصاري و بسیدنا سعد بن خیثمة الانصاري و بسیدنا سعد بن الربیع الانصاري و بسیدنا سعد بن عبادة الانصاري الساعدي و بسیدنا سعد بن عثمان الانصاري الزرقي و بسیدنا سعد بن زید الانصاري الاشهلي وبسیدنا سفیان بن بشر الانصاري وبسیدنا سالم بن عمیر العوفي وبسیدنا سلیم بن عمرو الانصاري و بسیدنا سلیم بن الحارث الانصاري وبسیدنا سلیم ابن قیس بن فهد الانصاري و بسیدنا سلیم بن ملحان الانصاري و بسیدنا سلمة ابن سلامة الانصاري الاشهلي وبسیدنا سهیل بن عمرو الانصاري و بسیدنا سلمة بن ثابت الانصاري الاشهلي و بسیدنا سهیل بن بیضاء القرشي الفهري و بسیدنا سوید بن مخشي الطائي و بسیدنا سلیط بن عمرو العامر القرشي و بسیدنا سلیط بن قیس الانصاري النجاري و بسیدنا سراقة بن کعب الانصاري النجاري

و بسيدنا سراقة بن عمرو الانصاري النجاري و بسيدنا سبيع بن خاطب الانصاري و بسيدنا سواد بن غزبة الانصاري السلمي و بسيدنا سعيد بن سهيل الانصاري الاشهلي و بسيدنا شماس بن عثمان المخزومي و بسيدنا شجاع بن ابي وهب الاسدي حليف عبد شمس و بسيدنا هانئ بن نيار الاسدي و بسيدنا هلال بن المعلى الانصاري و بسيدنا هلال بن خولي الانصاري و بسيدنا همام بن الحارث و بسيدنا وهب بن ابي شرح الفهري القرشي و بسيدنا وديعة بن عمرو الانصاري و بسيدنا يزيد بن الحارث الانصاري و بسيدنا يزيد بن ثابت الانصاري و بسيدنا ابي ايوب الانصاري و بسيدنا ابي الحمراء مولى ال عفراء و بسيدنا ابي الخالد الحارث بن قيس الانصاري وبسيدنا ابي خذيمة بن اوس الانصاري وبسيدنا سليم ابي كبشة مولى رسول الله صلى الله عليه وسلم دوسي وبسيدنا ابي مليل الضبعي وبسيدنا ابي المنذر ابن يزيد بن عامر الانصاري و بسيدنا ابي نملة الانصاري و بسيدنا ابي عبيدة بن الجراح الفهري القرشي و بسيدنا ابي عبدالرحمن بن يزيد بن ثعلبة الانصاري و بسيدنا ابي عيش الحارثي الانصاري و بسيدنا يزيد بن الاخنس السلمي و بسيدنا ابي اسيد الساعدي و بسيدنا ابي اسرائيل الانصاري و بسيدنا ابي الاعور بن الحارث الانصاري النجاري و بسيدنا سعد بن سهيل الانصاري و بسيدنا سعد بن خولة من المهاجرين الاولين و بسيدنا سعد بن خولي مولى حاطب بن ابي بلتعة و بسيدنا سالم مولى ابي حذيفة و بسيدنا سلمة بن حاطب الانصاري و بسيدنا ابي مرثد الغنوي و بسيدنا ابي مسعود الانصاري و بسيدنا ابئ فضالة الانصاري وبسيدنا عمار بن ياسر المهاجري و بسيدنا طلحة بن عبيد الله القرشي وبسيدنا سماك بن سعد الخزرجي رضي الله عنهم اجمعين.

اللهم لاتدع لنا ذنبا الا غفرته ولا هما الا فرجته ولادينا الا قضيته ولا حاجة من حوائج الدنيا والاخرة الا قضيتها يا ارحم الراحمين.

بَابُ ذِكْرِ الْيَمَنِ وَالشَّامِ وَذِكْرِ أُوَيْسِ الْقَرْنِيِّ

د یمن، شام او اویس قرني بیان

یمن هغه ښارو او کلیو ته وايي چي د هغو محل وقوع د کعبې شریفي راسته خواته دی اوس دا د یو مشهور تاریخي هیواد په حیثیت سره پېژندل کېږي چي د جزیره عرب په جنوب غرب کي واقع دی، که څه هم په اوسنۍ زمانه کي یمن پرهغه ټولو سیمو مشتمل نه دی کوم چي په پخوا زمانه کي وو، بیا هم اوسنۍ مرکزي او لوي برخي په یمن کي شامل دي، کوم شی یا سړی چي یمن ته منسوب وي هغه ته یمني هم وايي، یمن او یماني هم ورته وايي، ځینو حضراتو دغه لفظ یمّاني (د یاء په شد سره) هم بیانوي. شام هغه ښارو او کلیو ته وايي چي د هغو محل وقوع د کعبې شریفي چپه خوا ته دی ځکه په عربي کي شام چپه خوا ته وايي لکه څرنګه چي راسته خوا ته یمین او یا ایمن ویل کېږي، شام او هشام په همزه سره هم راځي او د همزې ماسوا هم، شام تر اوسه پوري د یو مشهور هیواد په حیثیت پېژندل کېږي.

قرن د یو کلي نوم دی چي په یمن کي واقع دی، دغه کلي د یو سړي قرن بن رومان بن نامیه بن مراد په نامه سره دی چي د حضرت اویس قرني رحمة الله عليه د نیکه ګانو څخه وو، یو قرن بل دی چي هغه ته اوس قرن منازل ویل کېږي مګر دا قرن د راء په جزم سره دی، دا په اصل کي د یوې غونډۍ نوم دی چي د مکې مکرمې څخه تقریبا پر شل یا دېرش میله فاصله باندي ختیځ نجد ته پر تلونکي لاري باندي واقع دی، د اهل نجد میقات همٙ قرن دی، جوهري چي دغه قرن د راء په زور سره لیکلی دی، حضرت اویس قرني دغه قرن ته منسوب کړی دی او دا د هغه غلط فهمي ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حضرت اویس قرني رحمة الله عليه فضیلت

﴿۶۰۰۷﴾: عَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

رَجُلًا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ لَا يَدَعُ بِالْيَمَنِ غَيْرَ أُمٍّ لَهُ قَدْ كَانَ بِهِ

د یمن څخه به یو سړی تاسو ته راسي د هغه نوم به اویس وي هغه به په یمن کي د خپل مور څخه پرته څوک نه پرېږدي (یعني د مور څخه پرته بل څوک قریب به یې نه وي)

بَيَاضٌ فَدَعَا اللّٰهَ فَأَذْهَبَهُ عَنْهُ إِلَّا مَوْضِعَ الدِّينَارِ أَوِ الدِّرْهَمِ فَمَنْ لَقِيَهُ

د هغه په بدن کي سپینوالی وو هغه د الله ﷻ څخه دعاء وغوښتل او هغه سپین والی ځیني ولاړی خو د یو دینار یا درهم په اندازه پاته سو څوک چي په تاسو کي د هغه سره ملاقات وکړي

مِنْكُمْ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ. وفي رواية قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

نو د هغه څخه دي د ځان لپاره بخښنه وغواړي. او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي عمر بن خطاب رضي الله عنه وویل ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي

وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ خَيْرَ التَّابِعِينَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ وَلَهُ وَالِدَةٌ وَكَانَ بِهِ بَيَاضٌ فَمُرُوهُ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ. رواه مسلم.

په تابعینو کي به یو غوره سړی وي چي اویس به یادیږي د هغه به یوه مور وي او د هغه پر بدن به سپینوالی وي تاسو د هغه څخه د ځان لپاره د مغفرت دعاء وغواړئ. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۴\۱۹۶۸، رقم: ۲۲۳- ۲۵۴۲.

تشریح هغه په یمن کي د خپلي مور څخه ماسوا: د دغه الفاظو څخه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي په کورنۍ کي د یوې مور څخه ماسوا د هغه بل څوک په یمن کي نسته او د هغې مور خدمت هغه د یمن څخه په راتللو سره زما د لیدني لپاره منع کړی دی که هغه ته د خپلي مور د یوازیوالي فکر نه وای نو هغه به خامخا زما په خدمت کي حاضر سوی وای او زما د زیارت او صحبت شرف به یې تر لاسه کړی وای.

د یوه درهم یا یوه دینار په اندازه: دلته راوي ته شک سوی دی چي رسول الله ﷺ د درهم لفظ وفرمایه او که د دینار. په هر حال د دعاء په نتیجه کي د پیس ختمېدل او د یوه درهم یا یوه دینار په اندازه معمولي نښنه پاته کېدل کیدای سي د قدرت د هغه حکمت سره سم وي چي د هغه ناروغۍ یوه نښنه پاته وي لکه څرنګه چي د حضرت آدم علیه السلام په اړه ویل کیږي چي د هغه په جنتي جامو کي سپین والی او ځلا د نوک په ډول وه چي هیڅکله نه خیرن کیدی، بیا دنیا ته د راتلو څخه وروسته په هغه کي او د هغه په نسل کي هم د هغه جامې لږ نښنه د نوک په صورت کي

پاته سوه، یا دا چي الله ﷻ د هغه پر بدن باندي د پیس هغه لړ نښنه ددې لپاره پرې ایښې وه چي هغه د شرم څخه د خلکو په منځ کي د ګډ کېدو څخه منع وي همدا وجه ده چي حضرت اویس قرني بېلوالی اختیار کړی وو، د خلکو په منځ کي ګډېدل او شهرت یې بالکل نه خوښوی، په یوه روایت کي راغلي دي چي خپله هغه دعاء کړې وه چي اې پروردګاره! زما پر بدن باندي ددغه ناروغۍ لړ نښنه پاته ولرې چي د هغه په لېدو سره زه ستا هغه نعمت یاد ساتم او دهغه شکر ادا کوم چي تا ما ته د هغه لوی ناروغۍ څخه خلاصون راکړ، رسول الله ﷺ په تابعینو کي اویس قرني ته ځکه غوره وفرمایل چي هغه د رسول الله ﷺ په زمانه کي موجود وو او شرعي عذر هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي د حاضرېدو څخه منع کړی وو، څرګنده ده چي په دغه الفاظو کي د حضرت اویس قرني رحمة الله عليه مدح او تعریف دی، او ددغه ارشاد څخه معلومه سول چي اهل خیر او اصلاح ته د دعاء مغفرت درخواست کول پکار دي که څه هم درخواست کوونکی داهل خیر او صلاح څخه افضل وي.

ځینو حضراتو لیکلي دي چي رسول الله ﷺ دغه تعریفي الفاظ د حضرت اویس قرني رحمة الله عليه د خوشحاله کولو لپاره فرمایلي وه او ددې مقصد د خلکو د وهم د دفع لپاره وو چي کیدای سي په دې پوه سي چي اویس رحمة الله عليه د رسول الله ﷺ په خدمت کي د حاضرېدو تر لاسه کولو څخه په قصد سره اعراض نه کوي حال دا چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي د نه حاضرېدو وجه د مور زړه ښه کول او دهغې خدمت کول یو شرعي عذر وو، ددغه حدیث څخه معلومه سول چي په تابعینو کي تر ټولو غوره حضرت اویس قرني رحمة الله عليه دی، د امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه څخه منقول دي چي په تابعینو کي تر ټولو غوره او افضل سعید بن مسیب رضي الله عنه دی مګر په دواړو کي تضاد نسته ځکه چي حضرت سعید بن مسیب رحمة الله عليه په علوم دین او احکام شریعت کي تر ټولو زیات افضل دی او د الله ﷻ په نزد د ثواب د کثرت په اعتبار حضرت اویس قرني په تابعینو کي افضل دی، په قاموس کي لیکلي دي چي اویس قرني د سادات تابعینو څخه دی نو کیدای سي چي د حدیث الفاظ هم پر دغه معنی محمول وي.

د حضرت اویس قرني رحمة الله عليه په اړه نور آثار هم منقول دي، سیوطي په جمع الجوامع کي ذکر کړی دی چي معنی یې دلته ذکر کیږي:

سیوطي رحمة الله عليه وایي: اسیر بن جابر رحمة الله عليه بیان وکړ: تر څو چي حضرت اویس قرني، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته نه وو رسېدلی نو عمر فاروق رضي الله عنه به د یمن څخه راتلونکي هر اسلامي لښکر او قافلې څخه پوښتنه کول چي ایا په تاسو کي اویس بن عامر رحمة الله عليه سته؟ او

کله چي حضرت اویس قرني د فاروق ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو حضرت عمر ﷺ پوښتنه وکړل: ایا ته اویس قرني یې؟ هغه وویل: هو، زه اویس بن عامر یم. بیا حضرت عمر ﷺ پوښتنه وکړل: ایا ته د مراد قبیلې سره تعلق لرې او قرني یې؟ هغه وویل: هو، حضرت عمر ﷺ پوښتنه وکړل: ایا ته د پیس په ناروغی اخته سوی وې؟ او بیا ته ښه سوې مگر نه د یوه درهم په اندازه، هغه وویل: هو، بیا حضرت عمر ﷺ ورته وویل: ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي تاسو ته به یو سړی اویس بن عامر د اهل یمن د اسلامي لښکر او قافلې سره راسي چي د مراد قبیلې سره به تعلق لري او د قرن به وي هغه ته د پیس ناروغي راغلې وه چي اوس ښه سوی دی مگر د یوه درهم په اندازه پاته سوې ده، د هغه یوه مور ده چي د هغې په خدمت کي بوخت دی. د هغه شان دادی که چیري د الله ﷻ په باور قسم وکړي نو الله ﷻ د هغه قسم رېښتیا کوي، که تاسو وکولای سئ نو د هغه څخه د خپل ځان د بخښني د دعاء غوښتنه وکړئ، نو اې اویس! زه ستا څخه غوښتنه کوم چي زما لپاره د بخښني دعاء وکړه، (د دې په اورېدو سره) حضرت اویس رحمة الله علیه وویل: اې امیر المؤمنین! تاسو څه وایاست، زما په ډول سړي څخه د مغفرت دعاء غواړئ. حضرت عمر ﷺ ورته وویل: یقینا ته به زما لپاره دعاء کوې، بیا حضرت اویس قرني رحمة الله علیه د حضرت فاروق ﷺ لپاره د مغفرت دعاء وکړل، او بیا حضرت عمر فاروق ﷺ پوښتنه وکړل: اې اویس! اوس وایه چیري تلل غواړې؟ هغه وویل: کوفې ته د تللو اراده لرم، حضرت عمر ﷺ پوښتنه وکړل: ایا ستا په اړه د کوفې حاکم ته لیک ولیکم؟ حضرت اویس رحمة الله علیه وویل: ما پر خپل حال پرېږدئ زه د خلګو څخه لیري اوسېدل خوښوم او په دې ویلو سره روان سو. په وروسته کال کي د کوفې څخه یو یمني سړی د حج لپاره راغلی او د حضرت عمر ﷺ د لیدني لپاره حاضر سو نو حضرت عمر ﷺ د حضرت اویس رحمة الله علیه په اړه پوښتنه ور څخه وکړه چي څه حال یې دی، هغه سړي وویل چي ما هغه په ډېرو زړو جامو او بې سامانه حالت کي پرې اېښی دی، حضرت عمر ﷺ د هغه په وړاندي د رسول الله ﷺ ذکر سوی حدیث ووایه، هغه سړی چي بېرته حضرت اویس رحمة الله علیه ته را ورسېدی نو هغه ته یې د دعاء مغفرت درخواست وکړ، حضرت اویس رحمة الله علیه هغه ته وویل: ته هم زما لپاره د مغفرت دعاء وکړه ځکه چي ته د نیک سفر څخه راغلی یې، هغه سړي بیا وویل: تاسو زما لپاره د مغفرت دعاء وغواړئ او په دې سره هغه د حضرت عمر ﷺ روایت سوی حدیث هغه ته ووایه، بیا حضرت اویس رحمة الله علیه د هغه لپاره د مغفرت دعاء وکړه، د دې څخه وروسته کله چي د شام خلګو ته د حضرت اویس قرني رحمة الله علیه مقام معلوم سو او د هغه د حقیقیت حال خپور سو نو د هغه ځایه ولاړی.

په یوه روایت کي داسي دي چي اسیر بن جابر رحمة الله علیه بیان وکړ: په کوفه کي یو محدث وو چي زموږ په وړاندي به يې حدیثونه بیانول، کله چي به هغه د حدیثونو د بیانولو څخه فارغ سو نو خلګ به منتشر سول مګر یو څو کسان به پر خپل ځای ناست وه او په هغوی کي یو داسي سړی هم وو چي عجیبي خبري به يې کولې، هغه خبري ما د چا څخه نه وې اورېدلي، نو زه به هغه ته ورتلم او دهغه سره به کښېنستلم، یو وخت ما هغه سړی هلته پیدا نه کړ نو په خپلو ملګرو کي مي د یو چا څخه پوښتنه وکړل چي په تاسو کي فلانی سړی څوک پېژني چي دلته به زموږ سره کښېنستی او ډېري عجیبي خبري يې کولې، یو سړي وویل: هو، زه هغه سړی پېژنم، هغه قرني دی، ما پوښتنه وکړل: ایا تا ته د هغه د هستوګني ځای معلوم دی؟ هغه وویل: هو، نو زه د هغه سړي سره روان سوم او د اویس قرني رحمة الله علیه حجرې ته په رسېدو سره مي دروازه وټکول، هغه دباندي راووتی، ما پوښتنه وکړل چي اې زما وروره! ته ولي زموږ مجلس ته نه راځې، هغه جواب راکړ چي لوڅ والي، یعني زما سره دومره جامې نسته چي خپل بدن په پټ کړم، په دې وجه ستاسو په منځ کي د راتلو څخه ځان ساتم، دا هم حقیقت دی چي د هغه د هیواد او شاوخوا خلګ د هغه د حال په لېدو سره پر هغه مسخرې کوې او دهغه د تنګولو څخه هم نه منع کېږي، په هر حال ما خپل یو څادر هغه ته ورکړ او دا مي ورته وویل: دا واخله، دغه څادر پر ځان واچوه، هغه وویل: نه، ته دغه څادر مه راکوه، خلګ چي دغه څادر زما پر بدن وویني نو پر ما به مسخرې وکړي او ما به تنګوي، بیا هم ما ډېر ټینګار وکړ نو هغه څادر واخیست او پر ځان يې واچوی، بیا د خپلي حجرې څخه راووتی او خلګو ته راغلی، خلګو چي هغه په څادر کي ولیدی نو خلګو ویل: چا ته يې دوکه ورکړل او د چا څخه يې دغه څادر اخیستی دی، حضرت اویس رحمة الله علیه د دې په اورېدو سره ما ته وویل: ته وینې چي خلګ څه وایي، ددغه بیري څخه ما څادر نه اخیستی، ما هغه خلګ و ترټل چي تاسو په ده څه کار لرئ، دا هم یو انسان دی چي کله مجبور وي او کله الله جل جلاله یو څه ورکوي، خلاصه دا چي ما هغه وترټل او لیري مي کړل، بیا داسي پېښه سول چي څو ورځې وروسته کوفې ته خلګ د حضرت عمر رضي الله عنه په خدمت کي حاضر سول، په هغوی کي یو هغه سړی هم وو چي د حضرت اویس رحمة الله علیه سپکاوی به يې کوی، حضرت عمر رضي الله عنه د خبرو په دوران کي د هغه خلګو څخه پوښتنه وکړل چي ایا په تاسو کي داسي سړی هم سته چي د هغه تعلق د قرن سره دی، په خلګو کي هغه سړی رامخته سو چي د حضرت اویس رحمة الله علیه سپکاوی يې کوی، حضرت عمر رضي الله عنه د هغه په مخکي هغه حدیث بیان کړ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت اویس رحمة الله علیه په شان کي فرمایلی وو، او بیا يې هغه سړي ته وویل: ما

اورېدلي دي چي هغه يمني سړی (يعني اويس قرني) په کوفه کي تاسو ته راغلی دی، هغه سړي جواب ورکړ: په موږ کي خو داسي څوک نسته او نه موږ داسي سړی پېژنو، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل: تا ته به معلوم نه وي مګر هغه سړی په تاسو کي موجود دی او بیا یې د هغه نښه ورته وښودل چي هغه داسي بد حال او مفلس دی، بیا هغه سړي وويل: هو، داسي یو سړی په موږ کي سته چي د هغه نوم اويس دی او موږ په هغه مسخرې هم کوو، حضرت عمر رضي الله عنه هغه سړي ته وفرمايل: اوس چي ته کوفې ته ولاړ سې او د هغه سړي سره یو ځای سې نو د خپلو بې ادبيو بخښنه ځيني وغواړه او د مغفرت د دعاء غوښتنه ورڅخه وکړه، که څه هم ما ته شبه ده چي ته به هغه تر لاسه کړې که یا، په هر حال هغه سړی کوفې ته روان سو او هلته په رسېدو سره خپلې کورنۍ ته وروسته ولاړی لومړی د حضرت اويس قرني رحمة الله عليه په خدمت کي حاضر سو، حضرت اويس قرني چي هغه سړی وليدی نو هغه ته یې وويل: زما په اړه ستا دغه رويه څرنګه بدله سول، هغه سړي وويل: ما ستا تعريف د امير المؤمنين څخه اورېدلی دی، ستاسو په اړه هغه ما ته هرڅه ښودلي دي، د خدای لپاره ما ته بخښنه وکړه، او زما لپاره د مغفرت دعاء وغواړه، حضرت اويس قرني رحمة الله عليه هغه ته وويل: زه ستا دپاره د مغفرت دعاء کوم مګر شرط دادی چي تا زما په اړه د امير المؤمنين څخه څه اورېدلي دي د هغه يادونه بل چا ته مه کوه، ددې څخه وروسته هغه د مغفرت دعاء ورته وکړل.

اسير بن جابر چې ددغه پېښې راوي دی بيان کوي چي ددې څخه وروسته د حضرت اويس قرني رحمة الله عليه مقام د کوفې او سېدونکو ته معلوم سو.

په يوه روايت کي د حضرت يحيى بن سعيد المسيب څخه او هغه د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څخه نقل کوي چي حضرت عمر رضي الله عنه وويل: يوه ورځ رسول الله ﷺ ما ته آواز وکړ چي اې عمر! ما وويل: حاضر يم اې د الله رسوله، حضرت عمر رضي الله عنه وايي کله چي رسول الله ﷺ ما ته آواز وکړ نو ما ګمان وکړ چي د يو کار لپاره ما استوي مګر رسول الله ﷺ ما ته داسي وفرمايل چې اې عمر! زما په امت کي به يو سړی وي چي هغه ته به اويس ويل کيږي، د هغه بدن ته به يوه بلا يعني د پيس ناروغي لاحق وي، هغه به د الله جل جلاله څخه دعاء وغواړي نو الله جل جلاله به د هغه څخه ناروغي ليري کړي مګر د هغه يو داغ به د هغه پر بغل پاته سي، کله چي ته هغه ووينې نو الله جل جلاله به در په ياد سي، کله چي ته د هغه سره يو ځای سې نو هغه ته زما سلام ورسوه او د ځان لپاره د مغفرت د دعاء غوښتنه ور څخه وکړه ځکه چي هغه د خپل پروردګار په نزد داسي بزرګ دی که هغه د الله جل جلاله په باور پر يوه خبره قسم وکړي نو الله جل جلاله هغه قسم رېښتيا کوي، هغه به

الله ﷻ ته د دومره خلکو شفاعت کوي څومره چي د ربیعه او مضر په قبیلو کي هم خلک نسته، حضرت عمر ؓ بیان کوي چي ددغه ارشاد د اورېدو وروسته ما د هغه سړي پلټنه د رسول الله ﷺ په زمانه کي هم وکړل مگر ما هغه سړی پیدا نه کړ، بیا ما د حضرت ابوبکر صدیق ؓ د خلافت په زمانه کي د هغه پلټنه وکړل مگر هغه ته ونه رسېدم، بیا زما د خلافت زمانه راغلل نو ما زیاته پلټنه وکړل تر دې چي د کومو ښارو او سیمو څخه قافلې راتلې د هر یوه څخه مي دا پوښتنه کول چي ایا په تاسو کي داسي څوک سته چي د هغه نوم اویس وي او د مراد قبیلې څخه وي او قرن وي، ددغه پلټنه په دوران کي یوه ورځ د قرن قبیلې سره تعلق لرونکي یو سړي ما ته وویل: اې امیر المؤمنین! تاسو چي د کوم سړي په اړه پوښتنه کوئ هغه زما د اکا زوی دی مگر هغه خو ډېر غریب او بې حیثیته سړی دی، هغه دومره دی چي ستاسو په ډول عظیم کس د هغه پوښتنه کوي، ما هغه سړي ته وویل: ته د هغه په اړه د داسي سپکو الفاظو په استعمالولو سره د هغه خلکو څخه یې چي د هغه په اړه د بې ادبۍ اختیارولو په وجه په هلاکت کي یې، ما هغه سړي ته دغه خبره وکړل چي ناڅاپه یو اوښ رابنکاره سو چي پر هغه یو خرابه پالانه تړل سوې وه او پر هغه پالانه داسي سړی ناست وو چي په زړو جامو یې د خپل بدن یوه برخه پټه کړې وه، د هغه په لېدو سره زما په زړه کي راغلل چي دغه سړی اویس ؒ دی. بیا زه هغه ته ور مخکي سوم، د هغه څخه مي پوښتنه وکړل چي ایا ته اویس قرني یې، هغه سړي جواب راکړ چي هو، ما ورته وویل: رسول الله ﷺ پر تا سلام ویلي وو، هغه سړي وویل: علی رسول الله السلام وعلیک یا امیر المؤمنین، ددې څخه وروسته ما وویل: د رسول الله ﷺ دا حکم دی چي تاسو زما په اړه د مغفرت دعاء وکړئ، ددې وروسته زما معمول سو چي هر کال به مي د حج په وخت کي د اویس سره لیدنه کول، خپل احوال او اسرار به مي هغه ته بیانول او هغه به خپل اسرار ما ته بیانول.

په یوه روایت کي راغلي دي چي حضرت حسن بصري ؒ بیان وکړ: کله چي د حج په ورځو کي د قرن خلک راغلل نو امیر المؤمنین حضرت عمر ؓ به د هغوی څخه پوښتنه کول چي ایا په تاسو کي اویس سته؟ په هغوی کي یو سړي وویل: اې امیر المؤمنین! د هغه سړي سره ستا څه کار دی، هغه خو یو داسي سړی دی چي په کنډوالو کي پروت دی او د خلکو په منځ کي د راتلو څخه پرهیز کوي، حضرت عمر ؓ ورته وویل: کله چي ته بېرته ولاړ سې نو هغه ته زما سلام ورسوه او دا ورته ووایه چي زما سره لیدنه وکړي، هغه سړی په ستنېدو سره د حضرت عمر ؓ پیغام هغه ته ورسوی او حضرت اویس قرني ؒ د امیر المؤمنین حضرت عمر ؓ

په خدمت کي حاضر سو، حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړل: ايا ته اويس يې؟ هغه وويل: هو، اې امير المؤمنين، حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړل: ستا پر بدن باندي سپين والی وو او تا د الله جل جلاله څخه دعاء کړې وه چي د هغه په نتيجه کي الله جل جلاله هغه سپين والي ايسته کړ او بيا تا دعاء کړې وه چي د هغه سپين والي يوه نښه پاته وي، اويس رحمة الله عليه وويل: هو، مگر اې امير المؤمنين! ته په دغه پېښه چا خبر کړې؟ حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل: ما ته رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي وه او ما ته يې حکم کړی وو چي زه ستا څخه د ځان لپاره د مغفرت دَدعاء غوښتنه وکړم، نو حضرت اويس رحمة الله عليه د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه لپاره د مغفرت دعاء وکړل او بيا يې ورته وويل: اې امير المؤمنين! ستاسو څخه دا غواړم چي زما احوال او زما شخصيت پټ وساتئ او ما ته ددغه ځای څخه د تللو اجازه راکړئ نو حضرت اويس رحمة الله عليه د هميشه لپاره ځان پټ کړ تر دې چي د نهاوند په جگړه کي شهيد سو.

په يوه روايت کي سعيد بن المسيب رحمة الله عليه داسي بيان وکړ چي امير المؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه په منی کي پر منبر باندي ودرېدی او آواز يې وکړ چي: اې اهل قرن! قرني خلک پر خپل خپل ځای ودرېږئ، هغوی وويل: موږ حاضر يو، اې امير المؤمنين، څه حکم دی؟ امير المؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړل: ايا په قرن کي داسي څوک سته چي د هغه نوم اويس وي؟ په هغوی کي يو سړي جواب ورکړ چي په موږ کي په دغه نامه هيڅوک نسته، مگر يو ليونی سړی اويس نومېږي چي په ځنگلو کي اوسيږي، د هغه سره څوک مينه نه لري او نه هغه د چا سره خبري او اختلاط کوي، حضرت عمر رضي الله عنه ددې په اورېدو سره وويل: همدغه سړی زما مطلب دی، کله چي تاسو قرن ته ولاړ سئ نو هغه ته زما سلام ورسوئ او دا ورته وواياست چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ما ته ستا په اړه زيری راکړی دی او ما ته يې حکم کړی دی چي زه تا ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم سلام ورسوم، کله چي هغه خلک قرن ته ورسېدل نو اويس رحمة الله عليه يې په رېگو کي پيدا کړ، هغه خلکو د حضرت عمر رضي الله عنه سلام او د هغه په واسطه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سلام هغه ته وواية، حضرت اويس رحمة الله عليه وويل: امير المؤمنين خو زه رسوا کړم او زما نوم يې مشهور کړ، السلام على رسول الله صلى الله عليه وسلم وعلى اله، ددې په ويلو سره ځنگل ته ننوتی او تر ډېره وخته ورک وو، تر دې چي د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي ښکاره سو او د هغه له خوا په جگړه کولو سره د صفين په جنگ کي شهيد سو.

د صعصه بن معويه رضي الله عنه په روايت کي داسي دي چي هغه بيان وکړ: د اهل کوفې کومه قافله چي به حضرت عمر رضي الله عنه ته راتلل نو د هغه څخه به يې پوښتنه کول چي ايا تاسو اويس بن

عامر رحمة الله عليه پېژنئ؟ د قافلې خلکو به جواب ورکوئ چې په موږ کې هيڅوک په دغه نامه نسته، او حقيقت دا دی چې په هغه زمانه کې حضرت اويس قرني رحمة الله عليه د کوفې په يو مسجد کې پروت وو، د هغه ځايه دباندې نه راوتی او نه يې د چا سره شناخت کوی، د هغه د اکا يو زوی وو چې هغه به يې ډېر په تکليف کوی، د اتفاق خبره ده چې د کوفې په يوه قافله کې هغه هم يو وار د حضرت عمر رضي الله عنه دربار ته ورسېدی، حضرت عمر رضي الله عنه د معمول سره سم د قافلې د خلکو څخه پوښتنه وکړل چې تاسو حضرت اويس قرني رحمة الله عليه پېژنئ؟ ددې په اورېدو سره د حضرت اويس قرني رحمة الله عليه د اکا زوی پر خپل ځای ودرېدی او هغه وويل: اې امير المؤمنين! اويس قرني دومره ستر سړی نه دی چې تاسو د هغه په اړه پوښتنه کوئ او د هغه پېژندنه تر لاسه کړئ هغه خو ډېر کمتر او بې حيثيته انسان دی، که څه هم هغه زما د اکا زوی دی، کله چې حضرت عمر رضي الله عنه د هغه سړي د ژبې څخه دغه د سپکاوي الفاظ واورېدل نو وه يې فرمايل: پر تا دې افسوس وي، تا د اويس رحمة الله عليه په اړه داسې الفاظ استعمال کړل او خپل ځان دې په هلاکت کې واچوی، بيا حضرت عمر رضي الله عنه هغه حديث بيان کړ چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د حضرت اويس رحمة الله عليه په اړه اورېدلی وو، ددې څخه وروسته حضرت عمر رضي الله عنه هغه سړي ته وويل: کله چې ته اويس ته ورسې نو هغه ته زما سلام ووايه، ددغه پېښې څخه وروسته د حضرت اويس رحمة الله عليه شخصيت مشهور سو مګر هغه د عامو نظرو څخه پټ سو.

په دې اړه يو روايت د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه هم منقول دی چې مخکې خو تر لسو کالو پورې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د حضرت اويس قرني رحمة الله عليه په اړه پلټنه ونه کړل بيا هغه يو کال د حج په وخت کې اهل يمن ته په آواز کولو سره وويل: په تاسو کې کوم خلک چې د مراد قبيلې سره تعلق لري هغه دې ودرېږي، نو د مراد قبيلې خلک ودرېدل او پاته خلک پر خپل خپل ځای ناست وه، حضرت عمر رضي الله عنه د هغو خلکو څخه پوښتنه وکړل: ايا په تاسو کې اوس نامې سړی سته؟ ددې په اورېدو سره يو سړي وويل: اې امير المؤمنين! موږ ته نه ده معلومه چې تاسو د کوم اويس پوښتنه کوئ، زما يو وراره دی چې خلک ورته اويس وايي او هغه دومره د کښته درجې او بې حيثيته انسان دی چې ستاسو په ډول ستر کس د هغه سره کار نه لري، حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړل: ايا هغه د حرم په حدودو کې موجود دی؟ هغه وويل: هو د عرفات د ميدان سره په اراک کې اوښان څري چې د يو شپانه څخه زيات حيثيت هغه ته څوک نه ورکوي، کله چې حضرت عمر رضي الله عنه دا واورېدل نو حضرت علي رضي الله عنه يې د ځان سره بوتلی او دواړه پر يو خره باندې په سپرېدو سره اراک ته روان سول، کله چې هلته ورسېدل نو وه يې ليدل چې

اويس رحمه الله ولاړ دی، لمونځ كوي او نظر يې د سجدې ځای ته دی، د هغه د دغه حالت په ليدو سره حضرت عمر او حضرت علي رضي الله عنهما په خپلو كي وويل: د كوم سړي چي موږ پلټنه كوو هغه هم دغه سړی معلوميږي، كله چي د حضرت اويس رحمه الله غوږو ته د دوی د وارو آواز ورسيدی نو هغه لمونځ لنډ ادا كړ او په فارغه كيدو سره هغوی ته متوجه سو، هغه دواړو ته سلام وكړ او دواړو د سلام د جواب په ويلو سره وويل: وعليكم السلام ورحمة الله، بيا حضرت عمر او حضرت علي رضي الله عنهما پوښتنه وكړل: اې وروره! ستا نوم څه دی؟ اويس وويل: زه عبدالله يم، حضرت علي رضي الله عنه ورته وويل: موږ ته معلومه ده چي پر آسمانو او ځمكه باندي كوم متنفس دی هغه عبدالله دی، زه تا ته د كعبې د پروردګار قسم كوم چي ستا هغه نوم څه دی كوم چي ستا مور پر تا ايښی دی؟ حضرت اويس رحمه الله وويل: تاسو زما څخه څه غواړئ، زما نوم اويس بن مراد دی، حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه ورته وويل: خپل چپه بغل ښكاره كړه، حضرت اويس رحمه الله خپل چپه بغل لوڅ كړ، هغه دواړو وليدل چي د يوه درهم په اندازه د سپين والي نښه موجود ده، دواړه په تيزي سره اويس رحمه الله ته ور وړاندي سول چي هغه نښه مچ كړي او هغوی وويل: رسول الله ﷺ موږ ته حكم راكړی وو چي موږ د رسول الله ﷺ سلام تا ته ورسوو او دا چي د ځان لپاره ستا څخه د مغفرت د دعاء غوښتنه وكړو، حضرت اويس رحمه الله وويل: زه د ختيځ او لويديځ د هر مسلمان سړي او نارينه لپاره دعاء كوم، هغه دواړو حضراتو وويل: موږ ته په خاصه توګه د مغفرت دعاء وكړه، نو حضرت اويس رحمه الله په خاصه توګه د هغوی لپاره د مغفرت دعاء وكړل، تردې وروسته حضرت عمر رضي الله عنه وويل: زه د خپل ځانه خپله تحفه تاسو ته وړاندي كول غواړم، حضرت اويس رحمه الله وويل: دغه دوې زړې جامې زما سره دي، ما دواړې ځپلي ترلي دي، څلورم درهم زما سره دی، كله چي دغه ختم سي نو ستا تحفه به قبوله كړم او دانسان خبره خوداده چي څوک د اونۍ په اندازه خواهش ولري نو د هغه غوښتنه تر مياشت پوري اوږديږي، او څوک چي د مياشت په اندازه غوښتنه ولري نو د هغه غوښتنه تر كال پوري اوږديږي، ددې وروسته حضرت اويس رحمه الله اوښان خپلو خاوندانو ته وسپارل او خپله د هغه ځای څخه داسي ورک سو چي بيا هيڅكله ونه ليدل سو.

د اهل يمن فضيلت

﴿۶۰۰۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَاكُمْ أَهْلُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابو موسی اشعري رضي الله عنه او د هغه قوم چي د رسول الله

ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تاسو ته

الْيَمَنِ هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَأَلْيَنُ قُلُوبًا الْإِيمَانُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ وَالْفَخْرُ

د يمن خلک راغلي دي چي د هغوی زړه ډېر نوي او نرم دي، ايمان ديمن دی او حکومت هم يمني دی او فخر

وَالْخُيَلَاءُ فِي أَصْحَابِ الْإِبِلِ وَالسَّكِينَةُ وَالْوَقَارُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ. متفق عليه.

او کبر کول په اوښانو والا کي دی او قراري او سکون په خاوندانو د پسو کي دی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۹۸، رقم: ۴۳۸۸، ومسلم ۱\ ۷۲، رقم: ۸۴ – ۵۲.

تشريح: په (ارق افئدة) کي د ارق لفظ د رقة څخه اخيستل سوی دی، چي معنی يې د نرمۍ او رحم کولو ده چي د قساوت يعني بې رحمۍ او سختۍ ضد دی، افئدة د فؤاد جمع ده چي معنی يې د زړه ده، د ځينو حضراتو وينا ده چي فؤاد د زړه باطن ته وايي او د ځينو په نزد د دغه لفظ اطلاق پر ظاهري زړه باندي کيږي، په هر حال د ارق افئدة مطلب دا دی چي د مؤمن په باطن کي د نرمۍ، شفقت او رحم ماده زياته وي، او د الين قلوبا (نرم زړه) مطلب دا دی چي مؤمنان د ظاهر په اعتبار د نصيحت او موعظت اثر د نورو خلګو په نسبت ژر قبلوي، د قبول حق استعداد د نورو خلګو په نسبت د هغوی په زړه کي زيات وي.

شيخ عبدالحق دهلوي رحمه الله ليکلي دي: افئدة د فؤاد جمع ده چي معنی يې د زړه ده او قلوب د قلب جمع ده چي د تقلب څخه دی او معنی يې د بدلېدو ده، يعني د يوه حالت په پرېښودو سره د وهم حالت ته راتلل، اکثر اهل لغت د فؤاد او قلب ذکر په يوه معنی کي کوي ځکه ويل کيږي چي په مدينه کي د دغه دواړو ذکر د تاکيد لپاره دی، څرګنده دي وي چي دغه حديث د باب وفاة النبي ﷺ په دريم فصل کي هم نقل سوی دی مګر هلته يو ازي د ارق افئدة الفاظ دي او د الين قلوبا الفاظ نسته، او د دې څخه هم دا ظاهرېږي چي د معنی په اعتبار دغه دواړي جملې يو ډول دي، ځينو حضراتو ويلي دي چي فؤاد په اصل کي د زړه پردې ته وايي کله چي دغه پرده نری وي نو حق خبره په هغه کي داخلېږي او زړه ته رسيږي او کله چي زړه نرم وي نو هغه حق خبره په هغه کي دننه هم داخلېږي، نو رقت د غلظت ضد دی او لين د صلابت ضد دی او دغه دواړه د اسلامي زړه د يو خاص کيفيت او حالت نومونه دي، کله چي د انسان زړه د الله جل جلاله د نازل سوو آياتونو او د غوره بندګانو د نصيحت څخه نه متاثره کيږي نو هغه په غلظت او

صلابت سره منسوب کیږي او کله چي د انسان زړه د هغه څخه متاثر کیږي نو هغه په رقت او لین سره موصوف کیږي ، دلته د طیبي رحمة الله علیه وینا داده چي کیدای سي په حدیث کي د رقت څخه مراد فهم او د لین څخه مراد د حق خبري قبلول وي .

ایمان د یمن دی او ....: دلته د یمانیه لفظ په ځینو روایتو کي د یاء په تشدید سره یمانیّه هم منقول دي، په هر حال رسول الله ﷺ ایمان او حکمت د یمن سره ځکه منسوب کړل چي د هغه وخت د نورو اهل مشرق په مقابله کي د یمن خلک تر ټولو زیات د ایمان په کمال متصف وه او څرنګه چي د باب بدء الخلق په روایت کي تېر سول ، دا حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه وو چي د اسلام قبلولو لپاره د خلګو د مشری کولو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي د حاضرېدو په وخت کي یې د رسول الله ﷺ څخه د علم، ابتدائي کائنات او په دې اړه د حکم او اسرار پوښتنه وکړل او په حکمت او پوهي سره یې د یمني خلګو د فطري تعلق اظهار وکړ، او دغه حکمت او پوهه د دوی وراثت وو، چي د هغه ظهور د حضرت ابو الحسن اشعري په ذات کي وسو چي داهل سنت والجماعت د امامانو څخه دی او د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه د اولاد څخه دی، ددې څخه معلومه سول چي دلته د حکمت څخه مراد هغه علم دی چي په هغه کي د هر موجود د احوالو او خصائصو او حقیقت او ماهیت څخه بحث کیږي بیا هم ځینو حضراتو لیکلي دي چي دلته د حکمت څخه مراد فقه في الدین دی ، او ځینو حضراتو ویلي دي چي د حکمت څخه مراد د نیکي خبري را ایستل دي چي په دنیا او آخرت دواړو کي ګټوره وي او د هلاکت څخه ژغورنکې وي .

فخر او تکبرد اوښانو په خاوندانو کي دی....: ددغه ارشاد څخه معلومه سول چي د حیوانانو او څارویو تعلق د انسان پر طبیعت باندي اثر کوي . څوک چي د حیوانانو سره زیات وخت تېروي په هغه کي د حیوانانو خوی او خصلت سرایت کوي، د مثال په توګه یو سړی د اوښانو سره ډېر اوسیږي او د اوښانو څرل کوي نو د اوښ په طبیعت کي قسادت او سختي ده ځکه د هغه سړي په خوی او عادت کي هم قسادت او غلظت (سختي) پیدا کیږي، همدارنګه پسونه داسي څاروي دي چي د هغه په طبیعت کي تحمل، نرمي او مسکیني ده نو کوم څوک چي زیات وخت د پسو سره اوسیږي او پسونه څري نو دهغه په خوی او عادت کي هم تحمل، نرمي او مسکیني راځي، همدارنګه نور حیوانان قیاس کیدای سي .

ځینو حضراتو دا لیکلي دي چي د پسو ساتونکو او پسو څرونکو سره نژدې اوسیږي او د کلي د خلګو سره ګډ وي ځکه چي پسونه د اوبو څخه ماسوا صبر نه سي کولای او د ډېر یخ او

ډيري ګرمۍ تاب نه لري په دې وجه هغوی د کلي ښځه ليري او ميداني سيمو ته نه ځي چي د دې
خبري علامه ده چي د هغوی په طبيعت کي نرمي او کمزوري شامله ده او په ځينو سيمو کي او
د خلګو په منځ کي اوسيدل داسي شی دی چي په طبيعت کي نرمي او مروت پيدا کوي او
اطاعت يې ته بيايي او د خپل حاکم د سرکښۍ ښځه يې منع کوي، د دې پر خلاف اوښ يو سخت
طبيعته حيوان دی ، هغه د کلي او ښارو ښځه ليري په ميدانو او صحراوو کي زيات اوسيږي او
له دې کبله د اوښانو خاوندانو ته هم د کلي او ښار ښځه ليري اوسېدل وي او د خلګو سره د
هغوی يو ځای کېدل کم وي او دا داسي دی چي په طبيعت کي سختي او سرکښي او د حاکم د
اطاعت ښځه د مخ اړولو ماده پيدا کوي، د دغه جملې په وضاحت کي يو قول دا هم دی چي
اوښ د ماليت په اعتبار ډېر بيه لرونکی او لوی سامان دی ، د دې پر خلاف پسونه کم بيه او لږ
سامان وي ، ښرګنده ده چي د کوم چا سره اوښان وي هغه خپل ځان ډېر شتمن ګڼي او د غه خبره
هغه په غرور او تکبر کي اخته کوي او د کوم سړي سره چي پسونه وي هغه خپل ځان زيات
شتمن نه ګڼي او دغه خبره په هغه کي نرمي او قناعت پيدا کوي.

د کفر سرچشمه د مشرق ښځه ده

﴿۶۰۰۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسُ الْكُفْرِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِي أَهْلِ الْخَيْلِ وَالْإِبِلِ وَالْفَدَّادِينَ أَهْلِ الْوَبَرِ وَالسَّكِينَةُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه ښځه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : د کفر سر د مشرق په طرف
کي دی، فخر او تکبر کول د آسانو او اوښانو په خاوندانو کي دی او په چغو وهونکو خاوندانو
د خېمو کي دی او آرام او سکون په خاوندانو د پسو کي دی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۳۵۰، رقم: ۳۳۰۱، ومسلم ۱\۷۲، رقم: ۸۵-۵۲.

د لغاتو حل: الفدادين: اي الفلاحين (برياليي).

تشريح د کفر د څوکي ښځه مراد لوی کفر دی ، لکه چي سيوطي رحمه الله ليکلي دي او دغه
مفهوم اخيستل زيات صحيح دی چي د کفر د پيدا کېدو او ظاهرېدو ځای ختيځ دی ، طيبي
رحمه الله ويلي دي: دغه جمله داسي ده لکه چي فرمايل سوي دي: راس الامر الاسلام، د دين
څوکه اسلام دی، يعني د کفر څوکه ختيځ خوا ته ده ، د دې مطلب دا سو چي د کفر زيات ظهور د

ختيځ خوا ته وي او ابن ملک هم دا معنی ليکلې ده چي کفر او دجال او يا جوج وماجوج لوی فتنې به د ختيځ خوا څخه ظاهرېږي، نووي رحمة الله عليه د دغه حديث په تشريح کي ليکلي دي چي د کفر د ختيځ سره مختص کولو مطلب پر اهل ختيځ باندي د شيطان زيات تسلط ظاهرول دی او دا د رسول الله ﷺ د زمانې په اعتبار دی، يعني د رسول الله ﷺ په زمانه کي د ختيځ خوا خلک په کفر او شرک کي زيات اخته وه، لکه څرنګه چي تاتار هندوستان، چين، جاپان او داسي نور خلک، او دغه هيوادونه د عربو څخه ختيځ خوا ته واقع دي، او ددې اطلاق په دې اعتبار په راتلونکي زمانه باندي هم کيدای سي چي د دجال ظهور او خروج به د هغه سيمو څخه وي چي د عربو ختيځ خوا ته پرتې دي، نو په آخره زمانه کي به د عربو ختيځ تر ټولو لوی د فتنې ظاهرېدو ځای وي، سيوطي د باجي په حواله سره نقل کړي دي چي دلته د ختيځ څخه مراد فارس (ايران) دی يا نجد او ځينو حضراتو ليکلي دي چي دلته ابليس ته اشاره ده لکه څرنګه چي په روايتو کي راځي چي لمر د شيطان د دوو ښکرو په منځ کي راخيژي يعني کله چي په ختيځ کي لمر راوخيژي نو هغه وخت به شيطان خپل سر لمر ته نژدې کوي چي د لمر عبادت کونکو سجده د هغه لپاره سي.

د فتنو ځای مشرق دی

﴿۶۰۱۰﴾: وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الانصاري عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ هَا هُنَا جَاءَتِ الْفِتَنُ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَالْجَفَاءُ وَغِلَظُ الْقُلُوبِ فِي الْفَدَّادِينَ أَهْلِ الْوَبَرِ عِنْدَ أُصُولِ أَذْنَابِ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ فِي رَبِيعَةَ وَمُضَرَ. متفق عليه

د حضرت ابومسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ددغه ځای څخه فتنې راغلي دي، د مشرقي طرف ته يې اشاره وکړه، او جفا کاري او سخت دلي په چغو وهونکو خاوندانو د خېمو کي دي چي د اوښانو او غواوود لکيو په ښخونو پسي لګيدلي دي او دا خلک د قبيله ربيعه او مضر دي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۵۲۶، رقم: ۳۴۹۸، ومسلم ۱\۷۱، رقم: ۸۱- ۵۱.

تشريح: فتنې ددغه ځای څخه راغلي دي: يعني هغه فتنه چي د دين په استحکام او پرمختګ کي خنډ اچوي، اسلام او مسلمانانو ته تاوان رسوي او دخلګو دين د ژوند لپاره د امتحان سبب ګرځوي، ددغه سيمو او هيوادو څخه به را پورته کيږي چي د عربو ختيځ خوا ته واقع دي.

په چغو وهونکو خاوندانو د خېمو کي دي: ددې څخه مراد یا خو صحرایان دي او یا نور غیر مهذب قبیلې او ځنګلي خلک، د دوی بدي ځکه وکړل سول چي داسي خلک د مهذب او پرمخ تللي نړۍ څخه لیري په غرونو او ځنګلونو کي پراته وي چي د هغه په سبب نه خو هغوي ته د علم رڼا رسیږي او نه د تهذیب او تمدن خوی په هغوی کي وي ، او په ښارو کي په اوسېدو سره د اهل علمو او نیکو بندګانو صحبت هم په برخه کیږي او په دې ذریعه نه یوازي دا چي ددین او شریعت علوم او احکام حاصلیږي بلکه اخلاق او کردار او مهذب او نیک جوړیږي، همدارنګه غیر مهذب قبیلو او ځنګلي خلګو په باره کي الله ﷻ فرمایي :

الأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا وَأَجْدَرُ أَلاَّ يَعْلَمُواْ حُدُودَ مَا أَنزَلَ اللّهُ عَلَى رَسُولِهِ...

ژباړه: او اعراب (یعني غیر مهذب او ځنګلي خلک) په کفر او نفاق کي ډېر سخت دي او دهغوی حال داسي کېدل پکار دي چي هغوی ته د هغه احکامو علم نه وي کوم چي الله ﷻ په خپل رسول باندي نازل کړي دي .

سخت زړه توب او بدزباني په مشرق والاوو کي ده

﴿۶۰۱۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِلَظُ الْقُلُوبِ وَالْجَفَاءُ فِي الْمَشْرِقِ وَالْإِيمَانُ فِي أَهْلِ الْحِجَازِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : سنګدلي او جفاء په مشرق والاوو کي ده او ایمان په حجاز والاوو کي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۷۳، رقم: ۹۲- ۵۳.

تشريح د حجاز څخه مراد مکه، مدینه، طوائف او شاوخوا سیمي دي، او دهغوي وینا ده چي دلته د حجاز د خلګو څخه مراد انصار دي ، حجاز د عربو هغه خطې ته وایي چي د نجد او تهامه په منځ کي ده او ددغه خطې نوم حجاز ځکه سو چي دغه خطه د نجد او تهامه په منځ کي حاجز یعني حائل ده ، نجد د جزیره العرب شمال او جنوبي ریګستان یعني د النفوذ او الرابع الخالي په منځ کي تقریبا اته سوه میله اوږد او دوه سوه پنځه ویشت میله عریض هغه خطې ته وایي چي پر سطح مرتفع باندي مشتمله ده ، د نجد معنی د لوړي ځمکي ده او ددې په مقابله کي ددغه هیواد کومه برخه چي کښته ده هغه ته تهامه ویل کیږي، د تهامه معنی د کښته ځمکي ده .

د شام او یمن فضیلت

﴿۶۰۱۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله! زموږ لپاره زموږ

فِي شَأْمِنَا اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَفِي نَجْدِنَا قَالَ اللّٰهُمَّ

په شام کي برکت واچوې او اې الله! زموږ لپاره زموږ په یمن کي برکت پیدا کړې، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! او زموږ په نجد کي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله!

بَارِكْ لَنَا فِي شَأْمِنَا اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَفِي نَجْدِنَا

زموږ لپاره زموږ په شام کي برکت واچوې او اې الله! زموږ لپاره زموږ په یمن کي برکت واچوې، صحابه کرامو بیا عرض وکړ اې د الله رسوله! او زموږ په نجد کي؟ د راوي بیان دی

فَأَظُنُّهُ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ هُنَاكَ الزَّلَازِلُ وَالْفِتَنُ وَبِهَا يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ. رواه البخاري

زما خیال دی چي په دریم وار د صحابه کرامو په جواب کي رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي هلته به زلزلې او فتنې وي او د هغه ځای څخه به د شیطان ښکر څرګندیږي. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۴۵، رقم: ۷۰۹۴.

تشریح په دعاء کي د شام یادونه د یمن پر یادوني مخکي کول کېدای سي ددې لپاره وي چي د الله جل جلاله د ارشاد (الذي بارکنا حوله) په وجه د شام هیواد چیري چي فلسطین واقع دی د خپل اصل په اعتبار بابرکته دی او دغه هیواد د ډېرو زیاتو نبیانو آخري آرام ګاه دی په دې نسبت سره ددغه ذکر مخکي کېدل ضروري وو. څرګنده دي وي چي په شام کي د برکت څخه مراد یا خو د هغه ځای په برکتونو کي زیاتوب وي یا داسي برکت چي اهل مدینه او ټولو مؤمنانو ته بالخصوص حاصل وي همدارنګه په یمن کي د برکت څخه ظاهري او معنوي دواړه برکتونه مراد دي. همدارنګه په یمن کي د برکت څخه ظاهري او معنوي دواړه برکتونه مراد دي چي الله جل جلاله دغه هیواد په ظاهر کي هم خوشحاله کړی دی او په دیني او روحاني توګه هم د هغه ځای خلک دیندار، نیک او صالح وي، نو یمن الله جل جلاله نه یوازي دا چي په مادي توګه خوشحاله او

شین هیواد گرځولي دی بلکه د هغه ځای په مځکه کي ډېر زیات اولیاء او صالحان هم سته.

د یوه قول مطابق ددغه دواړو هیوادو لپاره د برکت د دعاء ظاهري داعیه دا هم وه چي د اهل مدینې لپاره غله او نور خوراکي شیان ددغه دوو هیوادو څخه راتلل او یو شارح دا لیکلي دي چي رسول الله ﷺ د یمن او شام دپاره د برکت دعاء ځکه وفرمایل چي د رسول الله ﷺ د ولادت او ظهور رسالت ځای مکه دی او مکه مکرمه د یمن سره قربت لري.

او کله چي د رسول الله ﷺ هستوګن ځای او مدفن مدینه منوره دی او مدینه منوره د شام سره قربت لري او په دې کي شک نسته چي دغه شی یعني د یمن قربت د مکې سره او د شام قربت د مدینې سره د دواړو د فضیلت لپاره کافي دی او ځکه رسول الله ﷺ ددغه دواړو هیوادو اضافت خپل ځان ته په کولو سره زموږ شام او زموږ یمن وفرمایه، او دهغوی د شان زیاتولو لپاره یې د جمع ضمیر استعمال کړ او دهغوی په حق رسول الله ﷺ درې واره د برکت دعاء وفرمایل.

هلته به زلزلې وي...: په دغه جمله کي دهلته څخه مطلب د نجد خوا ده او د نجد د خوا څخه مراد دغه د حجاز ختیځي خواوي دي چي د هغه یادونه په تېر سوي حدیث کي د نحو المشرق په الفاظو کي راغلې ده، د زلزلو څخه مراد ظاهري زلزله هم ده او معنوي زلزله هم، معنوي زلزله داده چي دهغه ځای د خلګو د زړو بې قراره کېدل او روحاني سکون ختمېدل او د فتنو څخه مراد آفات او مصائب دي چي په هغه سره په دین کي ضعف او کمزوري، په نیکۍ او دیانت کي کمي راځي.

او دهغه ځایه به د شیطان ښکاره کیږي: ددې مطلب دا وو چي نجد زموږ په هغه خوا کي واقع دی چیري چي د کفر او فتنو زور دی یعني نجد په هغه سیمه کي دی چیري چي د شیطان ډله او دهغه مرسته کوونکي زیات دي نو ددا سي سیمو په اړه د برکت دعاء کول مناسب نه دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د اهل یمن لپاره دعاء

﴿۶۰۱۳﴾: عَنْ أَنَسٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَظَرَ قِبَلَ الْيَمَنِ فَقَالَ اللَّهُمَّ أَقْبِلْ بِقُلُوبِهِمْ وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا. رواه الترمذي

حضرت انس رضي الله عنه د زید بن ثابت رضي الله عنه څخه روایت کوي چي نبي کریم ﷺ یمن ته وکتل او وه یې فرمایل: اې الله! د دوی زړونه زموږ په لور متوجه کړې او زموږ په صاع او زموږ په مد کي

زموږ لپاره برکت راکړې. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۶۸۲، رقم: ۳۹۳۴.

تشريح د اهل يمن زړونه متوجه کړئ: يعني دهغوی په زړو کي زموږ مينه او موږ ته د راتلو خيال واچوئ چي هغوی د مدينې راتللو ته اماده او تيار سي، څرګنده دي وي چي رسول الله ﷺ دغه دعاء هغه وخت وفرمايل کله چي د مدينې لپاره خوراکي شيان د يمن څخه راتلل ځکه رسول الله ﷺ وروسته د غلې لپاره په صاع او مد کي د برکت دعاء وفرمايل چي زياته غله د يمن څخه راځي.

صاع او مد د هغه وخت دوې پيمانې دي چي د هغه په ذريعه د غلې راکړه او ورکړه کېدل، صاع تقريبا درې نيم سيره غله کېدل او په مد کي د هغه څلورمه برخه، دلته په صاع او مد کي د برکت څخه مراد په غله کي برکت دی يعني د ظرف په ويلو سره مظروف مراد اخيستل سوی دی، توربشتي رحمة الله عليه د دغه دعاء په وضاحت کي ليکلي دي چي د دعاء د دواړو برخو څخه تنګ حال او تنګ معاش را روان وي اوس چي رسول الله ﷺ د اهل يمن په حق کي دعاء وفرمايل او دخپل هيواد په پرېښودو سره مدينې ته راغلی نو د هغوی شمېر زيات وو، او د رسول الله ﷺ په ذهن کي دا خبره وه چي د دومره زياتو خلګو په راتللو سره د مدينې معاشي حالت نور زيات تنګ او خراب کېدا ايسي ځکه رسول الله ﷺ د اهل مدينه د خوراکي ضرورت يعني په غله کي د برکت دعاء وفرمايل چي اهل مدينې ته هم د معاش پراخي ترلاسه سي او هغو خلګو ته هم چي د خپل هيواد څخه په هجرت کولو سره مدينې ته راتلونکي دي او همدارنګه نه خو په مدينه کي د راتلونکو په وجه تنګي او پريشاني وي او نه د هغه خلګو لپاره د مدينې هستوګنه د تکليف او پريشانۍ سبب جوړ سي کوم چي په هجرت کولو سره مدينې ته راسي.

اهل شام ته خوشبختي

﴿۶۰۱۴﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طُوبَىٰ لِلشَّامِ فَقُلْنَا لِأَيٍّ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ لِأَنَّ مَلَائِكَةَ الرَّحْمٰنِ بَاسِطَةٌ أَجْنِحَتَهَا عَلَيْهَا. رواه احمد والترمذي.

د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د شام او سيدونکو لپاره خوشحالي ده دی، موږ عرض وکړ اې دالله رسوله! تاسو دا څنګه وويل؟ رسول الله ﷺ

وفرمايل: ځکه چي د خدای ملائکو پر شام خپل وزرونه خپاره کړي دي. احمد او ترمذي

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۱۸۴، والترمذي ۵\ ۶۹۰، رقم: ۳۹۵۴.

تشريح شيخ عبد الحق رحمة الله عليه دا ليکلي دي چي دغه جمله (ملائکو خپل وزرونه خپاره کړي وي) دد ې خبري کنايه ده چي پر خاص اهل شام يعني ددغه هيواد پر ابدال يا ټولو اهل شامو باندي د الله جل جلاله رحمت او راحت خپور سوی دی.

څرګنده دي وي چي د ملائکو د وزرو څخه مراد صفات او قوائي ملکيه دي د هغوی وزرونه ددغه دنيا پر مرغانو باندي قياس کول نه دي پکار ځکه چي د يو مرغه تر درې يا څلور زيات وزرونه نه وي حال دا چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه د حضرت جبرائيل عليه السلام شپږ سوه وزره ليدلي دي، خلاصه دا چي دا منل او ثابتول چي د ملائکو وزر دي مګر دهغه وزرونو ماهيت او حقيقت او د کيفيت بحث او بيان کول نه دي پکار.

د حضر موت ذکر

﴿۶۰۱۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَخْرُجُ نَارٌ مِنْ نَحو حَضْرَمَوْتَ أَوْ مِنْ حَضْرَمَوْتَ قَبْلَ تَحْشُرُ النَّاسَ قلنا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ عَلَيْكُمْ بِالشَّامِ. رواه الترمذي.

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ډير ژر د حضر موت د لوري به يو اور راووځي او دا اور به خلک جمع کړي، موږ عرض وکړ اې دالله رسوله! تاسو موږ ته څه حکم راکوئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو شام ته ولاړ سئ. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۴۳۱، رقم: ۲۲۱۷.

تشريح يا دا يې وفرمايل. دا د راوي شک دی چي رسول الله ﷺ يا خو د من نحو حضرت موت. الفاظ ويل او يا من حضرت موت، يې فرمايلي وه، بيا هم که چيري رسول الله ﷺ د نحو لفظ په ظاهر کي استعمال کړی نه وو نو بيا هم د من نحوها يا من جانبها مفهوم مراد وو، د اور څخه يا خو په حقيقت کي دغه ظاهر اور مراد دی او يا د اور څخه فتنې او شر مراد دي، حضرت موت هغه وخت د يو ښار نوم وو چي په يمن کي شامل وو مګر اوس د يوې پوره سيمه نوم دی چي دهغه سرحدونه د يمن سره نژدې پيل کېدو سره د عمان نژدې ته رسيدلي دي.

تاسو بايد شام ته ولاړ سئ: ځکه چي د شام مځکه د رحمت ملائکو راګير کړې ده، ځکه هلته اوسېدونکو ته د هغه اور څخه، که هغه حسي وي يا ظاهري اور وي يا معنوي او حکمي اور يعني فتنې او شرونه ورته هيڅ تاوان نه سي رسولای، څرګنده دي وي چي د قيامت سره متعلق د يو باب په حديث کي د اور ذکر راغلی وو چي د خلګو په جمع کولو سره به محشر ته بيايي، په دې کي د محشر څخه مراد د شام مځکه ده او د دغه حديث څخه دا معلوميږي چي هغه وخت به خلک د هغه اور تر اثر لاندي وي، شام ته به بيولو کي به د هغوی خپل اختيار نه وي، کله چي دلته تاسو ته شام ته تلل پکار دي، د دغه الفاظو مفهوم مخته راځي چي شام ته په بېولو کي به د هغوی خپل اختيار نه وي نو دا ويل زيات صحيح معلوميږي چي دلته په حديث کي د حضرت موت د خوا څخه د ظاهرېدونکي اور ذکر دی، د دې څخه په حقيقت کي اور مراد نه دی بلکه هغه فتنې او شرونه مراد دي چي په آخره زمانه کي به رابنکاره سي چې په اور سره تعبير سوي دي.

د شام فضيلت

﴿۶۰۱۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّهَا سَتَكُوْنُ هِجْرَةٌ بَعْدَ هِجْرَةٍ فَخِيَارُ النَّاسِ إِلٰى

دي چي د هجرت څخه وروسته به يو هجرت وي (يعني د شام په لور) نو غوره کس به هغه وي

مُهَاجَرِ إِبْرَاهِيْمَ وَفِيْ رِوَايَةٍ فَخِيَارُ أَهْلِ الْأَرْضِ أَلْزَمُهُمْ مُهَاجَرَ إِبْرَاهِيْمَ

چي د ابراهيم عليه السلام د هجرت ځای ته هجرت وکړي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د مځکي په خلکو کي غوره کس هغه دی چي د ابراهيم عليه السلام د هجرت ځای اختيار کړي

وَيَبْقٰى فِي الْأَرْضِ شِرَارُ أَهْلِهَا تَلْفِظُهُمْ أَرْضُوْهُمْ تَقْذِرُهُمْ نَفْسُ اللّٰهِ

او هغه لازم ونيسي. په مځکه کي به بد ترين خلک هغه وي چي مځکه به يې د ځان څخه د باندي وباسي، خدای به هغه خلک بد ګڼي او د خپل رحمت څخه به يې ليري ساتي

تَحْشُرُهُمُ النَّارُ مَعَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيْرِ تَبِيْتُ مَعَهُمْ إِذَا بَاتُوْا وَتَقِيْلُ مَعَهُمْ

إِذَا قَالُوْا . رواه أبو داود.

او اور به يې د بيزوګانو او خنزيرانو سره جمع کړي او هغه اور به د هغوی سره شپه تيروي يعني په کوم ځای کي چي پر هغوی شپه راسي هغه اور به ورسره اوسي او کوم ځای چي پر هغوی د غرمې ارام راسي اور به هم هلته ورسره وي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳/ ۹، رقم: ۲۴۸۲.

تشريح د هجرت څخه وروسته به هجرت وي: يعني يو هجرت خو دادی چي خلګ د خپل هيواد په پرېښودو سره مدينې ته راغلي دي او بيا په آخره زمانه کي به يو هجرت هغه وي کله چي خلګ د خپل دين او ايمان د ساتني او د الله ﷻ د رحمت تر لاسه کولو لپاره شام ته هجرت وکړي او ځينو حضراتو دا مطلب ليکلی دی چي د مدينې دغه هجرت آخري هجرت نه دی ، بلکه هجرتونه به په وار وار وي او ډېر به وي، د حديث د الفاظو او سياق په رڼا کي دغه مطلب زيات مناسب او صحيح معلومېږي، يعني دا هغه زمانې ته اشاره ده کله چي قيامت بالکل نژدې سي هري خوا ته د فتنو او فساد دوروي ، په ښارو او سيمو کي به د کافرانو او اهل فسق غلبه سي ، په اسلامي هيوادو کي به هم د دين حامي ، د نيکۍ حامل او الهي احکام او هداياتو باندي قائم پاته کېدونکی ډېر کم پاته سي تر دې چي د شام ښار او کلی به د يو خوندي او مامون قلعې په توګه پاته سي چي د هغه پر ساتنه به د اسلامي هغه لښکر مامور وي چي د هغه په ذريعه به الله ﷻ حق غالب کړي او حق ته به مرسته ورسوي او په پای کي به د هغه لښکر خلګ د دجال په مقابله کولو سره هغه نيست او نابود کړي نو په هغه زمانه کي چي کوم سړی خپل دين او ايمان خوندي کول غواړي هغه دي شام ته په هجرت کولو سره د هغه په يو ښار يا کلي کي اباد سي.

نو غوره سړی به هغه وي ..... : په مخکنۍ جمله کي چي اجمال وو دا د هغه تفصيل دی مطلب دا چي د دين او ايمان د ساتني لپاره شام ته د هجرت کولو لړۍ به پيل سي او په کومو ښارو او هيوادو کي چي د کافرانو او فاسقانو غلبه او تسلط وي د هغه ځای څخه خداترس (د الله ﷻ څخه بېره کونکي) او دين خوښونکي خلګ خپل ايمان په هر حالت کي خوندي ساتونکي غوره خلګ به د خپلو هيوادو په پرېښودو سره هجرت وکړي، مګر د کومو خلګو په ايمان کي چي کمزوري وي او د دين په اعتبار کمزوري وي هغوی د خپل کور او دولت په مينه او طمع کي او د اسلام د دښمن طاقتونو پر خلاف د جنګ څخه د ځان ساتني لپاره په خپل وطن کي پراته وي او د هجرت کونکو وارث او خليفه به جوړ سي نو د خپل طبيعت او نفس او د خپل

دین د کمزورۍ په سبب نه یوازي د پاکو نفسو په نزد به د یو ذلیل شي په ډول وي بلکه دهغوی مځکي، د هغوی هیواد او دهغوی تر وطن پوري به دهغوی څخه بېزاره سي چي هغوی ته به هیڅ چیري سکون او قرار نه تر لاسه کیږي، یوې خوا او بلي خوا ته به سرګردانه ګرځي د هغوی تر ټولو لویه بدبختي به دا وي چي خپله الله ﷻ به هغوی نه خوښوي او دخپل رحمت څخه به یې لیري ساتي ، د خپل محل کرامت څخه به دهغوی تعلق منقطع کړي او د هغوی سره به هغه چلن کوي کوم چي یو سړی یې د داسي شي سره کوي چي د هغه څخه یې په طبیعت کي نفرت کیږي او دا به د هغه نتیجه وي چي دغه خلګو ته به د هجرت توفق نه په برخه کیږي او الله ﷻ به پر دوی، د دوی پر ښارو او هیوادو د دین دښمنان مسلط کړي یعني د الله ﷻ له خوا به د دوی سره هغه معامله کیږي چي په قرآن کریم کي داسي فرمایل سوي دي :

وَلَـٰكِن كَرِهَ اللَّهُ انبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ

ژباړه: مګر الله ﷻ د دوی تلل خوښ نه کړل ځکه نو توفیق یې نه ورکړ او داسي وویل سو چي د کوډانو او شلو خلګو سره تاسو هم دلته پراته اوسئ.

د الله ﷻ ذات دوی نجس ګڼي او اور.... : ددې معنی ملا علي قاري رحمة الله علیه دا لیکلې ده چي د الله ﷻ ذات به دوی سخت ناخوښه کړي او اور به پر دوی مسلط کړي چي شپه او ورځ به ورسره وي او د هغه کافرانو سره چي دخپلي کمزورۍ په اعتبار به د خنزیرانو او بېزوګانو څخه یا خو دهغوی حقیقت او صورت مراد وي یاد هغوی سیرت او خصلت او د هغوی عادات او طریقې اختیارول مراد وي ، یا هغه بدخویه او بدکرداره کفار مراد دي چي دبېزوګانو او خنزیرانو په ډول به وي.

او دهغوی سره به قیلوله کوي.... : قیلوله د غرمې خوب ته وایي، خلاصه دا چي هغه اور به شپه او ورځ د هغوی سره وي او هیڅ وخت به دهغوی څخه نه جلا کیږي که څه هم هغوی په هر حالت کي وي.

د شام، یمن او عراق ذکر

﴿۶۰۱۷﴾: وَعَنِ ابْنِ حَوَالَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيَصِيرُ

د حضرت ابن حواله رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ډیر ژر به داسي سي چي

الْأَمْرُ أَنْ تَكُونُوا جُنُودًا مُجَنَّدَةً جُنْدٌ بِالشَّامِ وَجُنْدٌ بِالْيَمَنِ وَجُنْدٌ بِالْعِرَاقِ

تاسو به د يو جمع کړي لښکر په ډول سئ، يو لښکر په شام کي، بل لښکر په يمن کي او بل لښکر په عراق کي،

قَالَ ابْنُ حَوَالَةَ خِرْ لِي يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ أَدْرَكْتُ ذٰلِكَ فَقَالَ عَلَيْكَ بِالشَّامِ

ابن حواله عرض وکړ اې د الله رسوله! که زه هغه وخت ووينم نو زه کوم لښکر اختيار کړم، رسول الله ﷺ وفرمايل: ته شام اختيار کړه

فَإِنَّهَا خِيرَةُ اللّٰهِ مِنْ أَرْضِهِ يَجْتَبِي إِلَيْهَا خِيرَتَهُ مِنْ عِبَادِهِ فَأَمَّا إِنْ أَبَيْتُمْ

ځکه چي شام د الله تعالى غوره ځمکه ده او په آخره زمانه کي به الله تعالى په دغه ځمکي کي خپل غوره او نيک بندګان جمع کړي بيا که ته د شام څخه انکار کوې

فَعَلَيْكُمْ بِيَمَنِكُمْ وَاسْقُوا مِنْ غُدُرِكُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ تَوَكَّلَ لِي بِالشَّامِ وَأَهْلِهِ. رواه احمد وابوداؤد.

نو يمن اختيار کړه او تاسو له خپلو حوضونو څخه څښل کوئ ځکه چي الله تعالى زما په وجه د شام او شام او سيدونکو کفيل سوی دی. احمد او ابوداؤد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\ ۱۱۰، وابوداود ۳\ ۱۰، رقم: ۲۴۸۳.

تشريح: په (جنودا مجندة) کي دې ته اشاره ده چي د مسلمانانو هغه ټول لښکر به د کلمه اسلام پر بنياد يا خو په خپلو کي متحد او متفق وي مګر د ديني او ملي احکامو او مسائلو ترجماني او د هغه په اختيارولو کي به د جلا جلا نظر خاوندان وي.

د عراق څخه مراد يا خو هغه سيمه ده چي په هغه کي بصره او کوفه شامل دي يا هغه سيمه مراد ده چي په هغه کي د خراسان او ماوراء النهر څخه ماسوا نوري عجمي برخي شاملي دي،

نو خپل يمن اختيار کړه: دلته د يمن اضافت د حضرت ابن حواله په واسطه عربو ته ددې لپاره وکړ چي هغه وخت د دغه ارشاد مخاطب عرب وه او د يمن جغرافيايي او سيميز تعلق د عربو سره وو، څرګنده دي وي چي: (فاما ان ابيتم) نو که چيري تاسو شام اختيارول قبول نه کړئ، نو خپل يمن اختيار کړه، دغه الفاظ د جمله معترضيه په توګه دي چي د هغه ارشاد د يوې لړۍ دوه حکمونه يعني عليک بالشام او: واسقوا من غدرکم، په منځ کي واقع سوي دي، يعني اصلي عبارتي لړۍ دا وه چي ته شام اختيار کړه ځکه چي د شام ځمکه د الله د ځمکو څخه

غوره مځکه ده او ګوره کله چي ته شام ته ولاړ سې نو د خپلو حوضونو څخه اوبه څښبنه ، ددغه عبارت په منځ کي رسول الله ﷺ د جمله معترضيه په توګه دا هم وفرمايل که په يوه وجه شام اختيارول قبول نه کړې نو بيا خپل يمن اختيار کړه .

د خپلو حوضونو څخه اوبه په څښبنه: غدر د غدير جمع ده چي معنی يې د حوض ده، ددغه حکم مطلب دا وو چي شام ته په رسېدو سره ددې خبرې خيال ساته چي د هغه ځای ملکي او ملي امن او انتظام کي ستا په وجه خرابي پيدا نه سي ، جنګ او جګړې او فتنې څخه پرهيز کوه مثلا داوبو په اړه چي کومه ذريعه ستا دپاره خاص وي د هغه څخه د خپل ځان لپاره اوبه تر لاسه کوه د بل چا د برخي څخه په اوبه اخيستلو سره مزاحمت او د معاوضې صورت هيڅکله مه پيدا کوه، په خاصه توګه د هغو خلګو سره چي ددين ددښمنانو سره پر اسلامي سرحد باندي مامور او متعين وي چي ته په خپلو کي د جګړې، اختلاف او فتنې سبب جوړ نه سې .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث　(دريم فصل)

پر اهل شام باندي د لعنت ويلو څخه انکار

﴿۶۰۱۸﴾: عَنْ شُرَيْحِ ابْنِ عُبَيْدٍ قَالَ ذُكِرَ أَهْلُ الشَّامِ عِنْدَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ

د حضرت شريح ابن عبيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي د حضرت علي رضي الله عنه په وړاندي د شام د خلکو

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَقِيلَ الْعَنْهُمْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ لَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ

ذکر وسو او وه يې ويل اې امير المؤمنين ! پر شام والاوو لعنت وکړئ، حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل : زه پر شام والاوو لعنت نه کوم ځکه چي ما د رسول الله ﷺ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْأَبْدَالُ يَكُونُونَ بِالشَّامِ وَهُمْ أَرْبَعُونَ رَجُلًا

څخه دا اوريدلي دي چي ابدال په شام کي دي او هغه څلوېښت کسان دي

كُلَّمَا مَاتَ رَجُلٌ أَبْدَلَ اللّٰهُ مَكَانَهُ رَجُلًا يُسْقَى بِهِمُ الْغَيْثُ وَيُنْتَصَرُ بِهِمْ عَلَى الْأَعْدَاءِ وَيُصْرَفُ عَنْ أَهْلِ الشَّامِ بِهِمُ الْعَذَابُ. رواه احمد.

په هغوی کي چي څوک مړ سي نو الله جل جلاله د هغه پر ځای بل وټاکي د هغوی د وجود د برکته باران

كيږي او د هغوی په بركت سره پر دښمنانو برى حاصليږي او د هغوی په بركت د شاميانو څخه عذاب دفع كيږي، احمد

تخريج: اخرجه احمد في المسند ۱\۱۱۲.

تشريح د اهل شام ذكر وكړل سو، دلته د اهل شام څخه مراد حضرت علي ﷺ مخالفين يعني حضرت معاويه ﷺ او په شام والا كي د حضرت معاويه ﷺ مرسته كوونكي مراد دي، امير معاويه ﷺ د امير المؤمنين حضرت عمر فاروق ﷺ د خلافت په زمانه كي د شام والي ټاكل سوی وو او تر آخره پوري هغه پر شام حكومت كوی. هغه د حضرت علي ﷺ خلافت نه وو تسليم كړی او په شام كي د خود مختاره حكومت مالک سوی وو، كېدای سي د حضرت معاويه ﷺ او د هغه د مرسته كوونكو يادونه د حضرت علي ﷺ په مخكي سوې وي او دا ورته ويل سوي وي چي تاسو پر خپلو د غه مخالفينو لعنت وواياست.

ابدال په شام كي دی، د حضرت علي ﷺ د وينا مطلب دا وو چي زه پر اهل شام باندي لعنت څرنګه ويلای سم، شام خو هغه هيواد دی چيري چي ابدال دي، كه ما پر اهل شام لعنت وكړنو داسي نه وي چي د هغه اهل شامو په ضمن كي ابدال هم راسي، د اهل سنت علماء وايي چي د حضرت علي ﷺ دا ويل په حقيقت كي د جګړې څخه د ساتني لپاره هغه وخت پر اهل شامو باندي د لعنت كولو څخه پرهيز كول وو، بيا هم ددې څخه دا نه لازميږي چي د ابدال په مستثنی كولو سره پر پاته اهل شام باندي لعنت كول حضرت علي ﷺ جائز وګڼل لكه څرنګه چي د هغه د ذكر سوو الفاظو څخه مفهوم اخيستل كيږي، او د حضرت علي ﷺ په اړه خو داسي تصور هم نه كيږي ځكه چي خپله د حضرت علي ﷺ ارشاد دی چي د غه اهل شام خو زموږ وروڼه دي چي زموږ څخه منحرف سوي دي، همدارنګه په يوه روايت كي راغلي دي چي يو وار د حضرت علي ﷺ لښكر والا د خپلو مخالفينو يعني د حضرت معاويه ﷺ د لښكر څخه د يو سړي په نيولو سره د حضرت علي ﷺ په خدمت كي راوستنو د هغه په لېدو سره هلته موجود يو سړي وويل: څومره عجيبه خبره ده چي د غه سړی د علي ﷺ د مخالفينو په لښكر كي شامل دی ما خو دا سړی يو ښه مسلمان ګڼی. حضرت علي ﷺ چي د هغه د ژبي څخه د غه الفاظ واورېدل نو وه يې فرمايل: دا ته څه وايې، او س هم د غه سړی مسلمان دی. ددې څخه ماسوا نور هم داسي آثار او اخبار منقول دي چي د هغه څخه د سيدنا علي ﷺ په نظر كي د حضرت معاويه ﷺ او د هغه د مرسته كونكو مسلمان كېدل ثابت دي.

او دهغوی په برکت د اهل شام څخه عذاب دفع کیږي: دلته د اهل شام تخصیص له دې کبله دی چي دهغه ابدال وجود د اهل شام په منځ کي وي او په دې سبب اهل شام د هغوی قربت او دهغوی په ارتباط کي تر ټولو زیات وي کنه نو په عامه توګه خو د ابدالو برکت او نصرت ټول عالم ته وي.

څرګنده دي وي چي د ابدالو د وجود ذکر په دغه حدیث کي هم د حضرت علي رضي الله عنه په حواله سره مذکور دی، شیخ ابن حجر رحمة الله عليه هغه حدیثونه نقل کړي دي او بیا یو حدیث د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په روایت سره نقل کړی دی چي په هغه کي حضرت ابن عمر رضي الله عنه بیان کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: خیار امت یعني د امت نیک خلګ چي په دغه امت کي همېشه موجود وي، د هغوی شمېر پنځه سوه دی، او ابدال د څلوېښتو په شمېر کي دي، نه د پنځه سوه شمېر کمیږي او نه د څلوېښتو، کله چي یو ابدال وفات سي نو دهغه پر ځای الله تعالی د پنځه سوه خیار امت څخه یو کس ټاکي، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! موږ ته دهغوی د اعمالو په اړه هم څه وښیاست، چي هغوی څه عمل کوي چي د هغه په وجه دغه مرتبه تر لاسه کوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمایل: هغوی هغه څوک معافوي چي ظلم پر وکړي، د هغه چا سره نیک چلن کوي چي دهغه سره بد چلن کوي او الله جل جلاله چي هغوی ته څه ورکوي نو دهغه په ذریعه هغوی د فقیرانو او مسکینانو مرسته کوي او دهغوی تصدیق د قرآن کریم ددغه آیت څخه هم تر لاسه کیدای سي

الْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ۝

ژباړه: (د لوړي درجې مؤمنان هغه دي چي) د غصې واک لرونکي او دخلګو څخه عفوه کوونکي دي او الله جل جلاله داسي نیک بندګان خوښوي.

په یوه روایت کي ابن عساکر د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په حواله سره نقل کړي دي چي په هغه کي عبد الله بن مسعود رضي الله عنه بیان کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: د الله جل جلاله له خوا څلوېښت داسي کسان ټاکل سوي دي چي د هغوی زړونه د حضرت آدم عليه السلام په زړه دي او د هغه له خوا څلوېښت داسي کسان ټاکل سوي دي چي دهغوی زړونه د حضرت موسی عليه السلام په زړه دي او دهغه له خوا اووه داسي کسان ټاکل سوي دي چي دهغوی زړونه د حضرت ابراهیم عليه السلام په زړه دي او د هغه له خوا پنځه داسي کسان ټاکل سوي دي چي دهغوی زړونه د حضرت جبرائیل عليه السلام په زړه دي او دهغه له خوا درې داسي کسان ټاکل سوي دي چي دهغوی زړونه د حضرت میکائیل عليه السلام په زړه دي او دهغه له خوا یو سړی داسي ټاکل سوی دی چي د هغه زړه د حضرت

اسرافیل علیه السلام په زړه دي ، کله چي يو سړی وفات سي نو د هغه پر ځای الله جل جلاله د هغه درو کسانو څخه يو ټاکي او کله چي د هغه درو څخه يو وفات سي نو د هغه پر ځای الله جل جلاله د هغه پنځو څخه يو ټاکي او کله چي د هغه پنځو څخه يو وفات سي نو د هغه پر ځای الله جل جلاله د هغه اوو کسانو څخه يو ټاکي او کله چي د هغه اوو څخه يو وفات سي نو د هغه پر ځای الله جل جلاله د هغه څلوېښتو کسانو څخه يو ټاکي او کله چي د هغه څلوېښتو څخه يو وفات سي نو د هغه پر ځای الله جل جلاله د هغه درو سوو کسانو څخه يو ټاکي او کله چي د هغه درو سوو کسانو څخه يو سړی وفات سي نو الله جل جلاله د هغه پر ځای د عامو خلکو څخه يو سړی ټاکي او د دغه ټولو کسانو د وجود په سبب د دغه امت څخه هره بلا او آفت دفع کوي، د دغه حديث په ضمن کي ځينو عارفينو ليکلي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دا يادونه ونه کړل چي د الله جل جلاله له خوا يو داسي سړی هم ټاکل کيږي چي د هغه زړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه وي ، د دې وجه داده چي الله جل جلاله په خپلو ټولو کائناتو او ټول عالم کي داسي هيڅوک نه دی پيدا کړی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زړه مبارک څخه زيات عزيز، باشرف او پاک وي نو د الله جل جلاله په غوره بندګانو کي دهيڅا زړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زړه برابر او مقابل نه دی.

د دمشق ذکر

﴿۶۰۱۹﴾ : وَعَنْ رَجُلٍ مِنَ الصَّحَابَةِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د صحابه کرامو څخه د يو صحابي څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل :

سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمُ الشَّامُ فَإِذَا خُيِّرْتُمُ الْمَنَازِلَ فِيهَا فَعَلَيْكُمْ بِمَدِينَةٍ يُقَالُ

ډير ژر به شام فتح سي ، تاسو ته چي د دغه ښارونو د کورونو اختيار درکړل سي نو تاسو د

لَهَا دِمَشْقُ فَإِنَّهَا مَعْقِلُ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الْمَلَاحِمِ وَفُسْطَاطُهَا مِنْهَا أَرْض يُقَالُ لَهَا الْغُوطَةُ. رواه احمد

دمشق ښار اختيار کړئ ځکه چي دمشق د مسلمانانو لپاره د جنګونو څخه د پناه ځای دی او د مشق د شام يو جامع ښار دی ، او د دمشق د مځکو څخه يوه علاقه ده چي هغې ته غوطه ويل کيږي . روايت کړی دی دغه دواړو احمد

تخريج: اخرجه احمد في المسند ۱۴\۱۶۰.

د لغاتو حل: فسطاطها : وهو البلدة الجامعة للناس. ساطعا : لامعا (ځلانده).

تشريح په اصحابو کي يو سړی دی: دغه حديث چي کوم صحابي روايت کړی دی د هغه نوم معلوم نه کړل سو مګر په دې سره د حديث پر صحيح والي اثر نه لويږي ځکه چي ټول صحابه کرامو عدول دي او د يو صحابي نوم نه معلومېدل تاوان نه کوي.

دمشق د اکثرو قولونو مطابق د دال په زېر او د ميم په زور سره فصيح دي او د شام مرکزي ښار او پلازمينه دی.

د جګړو څخه د پناه ځای، د معقل لفظ د پناه ګاه او د قلعه په معنی دی، دغه لفظ د عقل څخه اخيستل سوی دی چي د هغه معنی د جنګ او قتال ده، ددغه جملې مطلب دادی چي د دمشق د مسلمانانو لپاره يوه ټينګه قلعه او پناګاه په ډول دی، کوم مسلمان چي په دغه ښار کي داخل سي نو هغه ددين دد ښمنانو د غلبې او تسلط او د هغوی د قتل څخه خپل ځان مامون کړ لکه څرنګه چي يوه بزه د خپل ځان د ساتني لپاره غرونو ته خيژي او د يو غره څوکه خپل پناه ګاه جوړوي.

دمشق ي جامع ښار دی، د ځينو روايتو مطابق فسطاط يو جامع ښار ته وايي، يعني داسي ښار چي زيات خلک پکښي جمع کيږي ځکه مصر ته هم فسطاط وايي همدارنګه فسطاط د خيمې او ډيري په معنی کي هم راځي.

چي هغه ته غوطه ويل کيږي، غوطه د هغه باغونو د چينې نوم دی چي د دمشق ښار شاوخوا دی او ځينو حضراتو ليکلي دي چي دمشق ښار ته نژدې د يو کلي نوم غوطه دی.

خلافت په مدينه او ملوکيت په شام کي

﴿۶۰۲۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْخِلَافَةُ بِالْمَدِيْنَةِ وَالْمُلْكُ بِالشَّامِ.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خلافت به په مدينه کي وي او پاچاهي به په شام کي وي. بيهقي

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

تشريح خلافت په مدينه کي دی: مطلب دا چي د خلافت مرکز تر غالب وخت پوري په مدينه کي دی، د غالب وخت قيد ځکه لګول کيږي چي حضرت علي رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه کي خپله پلازمينه کوفه ګرځولې وه، يا ددغه جملې څخه مراد دادی چي خلافت مستقره په مدينه کي دی.

ملوکیت یعني پاچاهي په شام کي ده: ددغه جملې څخه دا معلومیږي چي امام حسن رضي الله عنه چي د خلافت څخه لیري والی اختیار کړ او د هیواد چاري یې امیر معاویه رضي الله عنه ته وسپارلې نو بیا هم امیر معاویه رضي الله عنه خلیفه نه سو ، ددې په تائید کي دغه روایت وړاندي کیدای سي چي احمد، ترمذي، ابولیلی او ابن حبان نقل کړی دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما څخه وروسته به زما په امت کي د خلافت زمانه تر دېرشو کالو پوري وي، دهغه څخه وروسته به ملوکیت او پاچاهي راسي.

ځینو حضراتو لیکلي دي چي په دغه حدیث کي دحضرت علي رضي الله عنه خلافت او دامیر معاویه رضي الله عنه ملوکیت او پاچاهي ته اشاره ده ، څرګنده دي وي چي په یو بل حدیث کي د ملک یعني پاچاهي ذکر د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خصائصو او اوصافو کي سوی دی په هغه کي داسي راغلي دي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم مولد یعنی د زېږېدو ځای خو مکه دی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم مهاجر یعني د هجرت ځای مدینه دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملک یعني پاچاهي په شام کي ده نو په دغه حدیث کي د ملک څخه مراد نبوت او دین دی ، مطلب دا چي هسي خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوت او دین به په ټول عالم کي خپریږي مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم دنبوت فیضان او په دین کي چي کوم ځای تر ټولو زیات او تر ټولو غالب صورت کي ظاهر سي هغه د شام هیواد دی او ځینو حضراتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملک یعني پاچاهي په شام کي ده، ددې څخه مراد دابیان کړی دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دین د لوړتیا لپاره چي اهل شام به ددین ددښمنانو پر خلاف په جهاد کي بوخت وي او همدارنګه په دغه جمله کي د مسلمانانو لپاره ترغیب دی چي هغوی په آخري زمانه کي د جهاد او اسلامي سرحدونو د ساتني د فضیلت او سعادت په لټه کي وي نو د شام لاره به نیسي.

د شام فضیلت

﴿۶۰۲۱﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ عَمُودًا مِّنْ نُورٍ خَرَجَ مِنْ تَحْتِ رَأْسِي سَاطِعًا حَتَّى اسْتَقَرَّ بِالشَّامِ . رواهما البيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ما د نور یوه پایه ولیدل چي زما تر سر لاندي ووتل رونبانه وه تر هغو چي قرار یې ونیوی په شام کي .بیهقي

تخریج: رواه البیهقي في دلائل النبوة.

تشریح دلته دې ته اشاره ده چې د رسول الله ﷺ دین به په ډیره تیزي سره د شام هیواد ته ورسیږي، د هغه برکات او اثرات به په ډېره ټینګه سره په هغه هیواد کي قائم سي او په هغه هیواد کي به دهغه لوړتیا او غلبه حاصله سي، په دغه مفهوم کي هغه روایت اخیستل پکار دی چي په هغه کي بیان سوی دی چي درسول الله ﷺ د زېږیدني پر وخت د رسول الله ﷺ د مور مبارکي دنس څخه یو نور راووتی چي دهغه په رڼا سره د شام ماڼۍ او سرایونه منور سول.

د دمشق فضیلت

﴿۶۰۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فُسْطَاطَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَ الْمَلْحَمَةِ بِالْغُوطَةِ إِلَى جَانِبِ مَدِينَةٍ يُقَالُ لَهَا دِمَشْقُ مِنْ خَيْرِ مَدَائِنِ الشَّامِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (د دجال سره) د جنګ په ورځ د مسلمانانو د جمع کیدو ځای غوطه دی چي د هغې ښار یو جانب ته دی چي دمشق ورته ویل کیږي او دمشق د شام د ښارونو څخه غوره ښار دی. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۴\ ۴۸۴، رقم: ۴۲۹۸.

تشریح: د (من خیر مدائن الشام) الفاظ د دمشق صفت دی چي د هغه په معنی کي څرګنده سوې ده او څرنګه چي مخکي تېر سول، غوطه هم دمشق ته نژدې واقع دی. په دغه دواړو حدیثو کي په ظاهره یو فرق معلومیږي چي هلته خو دمشق ته فسطاط ویل سوي وه او دلته غوطه ته فسطاط ویل سوي دي مګر غوطه دمشق ته نژدې او د هغه شاوخوا سیمه ده ځکه په حقیقت کي د دغه دواړو په منځ کي تضاد او فرق نسته.

یو عجمي پاچا

﴿۶۰۲۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سُلَيْمَانَ قَالَ سَيَأْتِي مَلِكٌ مِنْ مُلُوكِ الْعَجَمِ فيظهر عَلَى الْمَدَائِنِ كُلِّهَا إِلَّا دِمَشْقَ. رواه ابوداؤد.

د عبدالرحمن بن سلیمان رحمه الله څخه روایت دی چي ویلي دي ده: ډیر ژر به د عجمي پاچاهانو څخه یو پاچا راسي چي پرته د دمشق څخه پر نورو ټولو ښارونو به غلبه ترلاسه کړي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۵\۳۲، رقم: ۴۶۳۹.

تشریح: د حدیثو شارحینو ددغه حدیث مصداق متعین کړی نه دی چي د عجمو هغه کوم مشر کیدای سي چي د دمشق څخه ماسوا پر نورو ټولو ښارو باندي غلبه او تسلط تر لاسه کونکی وي، په هر حال دا څرګندول ډېر ضروري دي چي د شام، فلسطین، بیت المقدس، صخره، عسقلان، اندلس، دمشق او ددې څخه ماسوا د نورو ښارونو په فضیلت کي ډېر حدیثونه منقول دي مګر د حدیثو د امامانو په نزد اکثر ضعیف دي.

=========

بَابُ ثَوَابِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ

ددې امت د ثواب بیان

ددې امت څخه مراد، امت محمدیه ﷺ دی، یعني هغه ډله چي د اجابت او متابعت دواړو جامع وي چي رسول الله ﷺ د الله جل جلاله نبي او رسول هم ومني او د رسول الله ﷺ اتباع هم وکړي، دغه ډله په فرقه ناجیه (خلاصون تر لاسه کوونکي) ډله سره تعبیر کیږي، په تنقیح کي لیکلي دي چي مبتدع (یعني هغه شخص کوم چي بدعت ایجاد او بدعت اختیار کړي) علی الاطلاق د امت څخه نه دی او څرنګه چي په توضیح کي دي چي علی الاطلاق اهل سنت والجماعت د امت څخه دي، او هغه خلک دي چي هغوی پر دین باندي د تللو لار د رسول الله ﷺ او دهغوی د اصحابو د لاري مطابق ده او صاحب تلویح لیکلي دي چي مبتدع ته علی الاطلاق د امت څخه خارج ځکه ویل کیږي چي که څه هم هغه د اهل قبله څخه دی مګر هغه به دامت دعوت په حکم کي وي لکه څرنګه چي کفار په امت دعوت کي دي، دهغوی شمېر به په امت اجابت کي نه وي.

امت محمدیه ﷺ: د نورو ټولو امتونو او ملتونو په مقابله کي ددې امت مرحومه فضائل او مناقب، اجر او ثواب د حد څخه وتلی او د بیان څخه خارج دی، بېله شکه دا امت د نورو ټولو امتونو څخه افضل او غوره دی، ددې امت افضیلت او غوره والي د ثابتولو لپاره په قرآن کریم کي د خالق کائنات ارشاد کافي او بس دی:

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ.... ۞

ژباړه: (اې امت محمدیه!) تاسو خلک تر ټولو ښه امت یاست چي د خلکو (د لارښوونې او هدایت) لپاره ظاهر کړل سوي یاست.

او همدارنګه دغه ارشاد :

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ....

ژباړه: او څکه موږ تاسو داسي امت جوړ کړي ياست چي پر ډېر اعتدال باندي دي، دپاره ددې چي تاسو د (مخالف) په مقابله کي شاهدان اوسئ.

او ددې امت په تعريف کي خپله يوه خبره تر ټولو درنه ده چي دا د حضرت محمد ﷺ امت دی چي خاتم النبيين، سيدالمرسلين او افضل الخلائق دی، او دا چي ټولو نبيانو او رسولانو خواهش وکړ چي کاش هغوی د محمد ﷺ په زمانه کي وای او دهغوی د امت د يو کس کېدو شرف يې تر لاسه کړی وای ، ددې څخه ماوا د دوی خصائص او کمالات کي داسي شيان ثابت دي چي په تېرو امتونو کي د هيڅ امت لپاره ثابت نه دي ،

اللهم اجعلنا من امته وارزقنا محبته وتوفنا على دينه وملته برحمتک يا ارحم الراحمين .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

پر دغه امت خاص الهي فضل

﴿۶۰۲۴﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا أَجَلُكُمْ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د نورو امتونو د عمرونو په

فِي أَجَلِ مَنْ خَلَا مِنَ الْأُمَمِ مَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ وَإِنَّمَا

مقابله کي ستاسو عمرونه دومره دي لکه څومره چي د ټولي ورځي په مقابله کي د مازديګر څخه تر لمر ډوبېدو پوري دی

مَثَلُكُمْ وَمَثَلُ الْيَهُودِ وَالنَّصَارٰى كَرَجُلٍ اسْتَعْمَلَ عُمَّالًا فَقَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِي

او ستاسو او د يهودو او نصاراوو مثال داسي دی لکه يو سړی د کار لپاره مزدوران ونيسي او داسي ورته ووايي په تاسو کي څوک داسي سته چي

إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ فَعَمِلَتِ الْيَهُودُ إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ عَلَى

ترنيمي ورځي پوري زما کار وکړي يو يو قيراط به ورکړم، نو يهوديانو تر غرمې پوري کار وکړ

قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ ثُمَّ قَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِي مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ عَلَى

په يو يو قيراط بيا هغه سړي وويل: څوک سته چې زما کار د غرمې څخه تر مازديګر پورې وکړي

قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ فَعَمِلَتْ النَّصَارَى مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ عَلَى

زه به هر سړي ته يو يو قيراط ورکړم نو نصاراوو د غرمې څخه د مازديګر تر لمانځه پورې په يوه

قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ ثُمَّ قَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِي مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ عَلَى

يوه قيراط کار وکړ، بيا هغه سړي وويل څوک سته چې د مازديګر د لمانځه څخه تر لمر ډوبېدو

قِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ أَلَا فَأَنْتُمُ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ

پورې زما کار وکړي په دوه دوه قيراطه، خبر سئ تاسو هغه کسان ياست کومو چې د مازديګر څخه تر لمر ډوبېدو پورې

الشَّمْسِ أَلَا لَكُمُ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ فَغَضِبَتْ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى فَقَالُوا نَحْنُ

په دوه دوه قيراطه کار کړی دی خبر سئ! ستاسو اجر دوچنده دی، (ددې په ليدو سره چې تاسو ته دوه چنده ثواب حاصل سو او تاسو عمل هم لږ کړی دی) نو يهود او نصاری په غضب سول، هغوی وويل موږ

أَكْثَرُ عَمَلًا وَأَقَلُّ عَطَاءً قَالَ اللهُ هَلْ ظَلَمْتُكُمْ مِنْ حَقِّكُمْ شَيْئًا قَالُوا لَا قَالَ

فَإِنَّهُ فَضْلِي أُعْطِيهِ مَنْ شِئْتُ. رواه البخاري.

په عمل کې زيات يو او په ثواب کې کم يو، الله تعالی ورته دا جواب ورکړ: ايا ما پر تاسو ظلم کړی دی يا ستاسو په حق کې مې څه کمي کړې ده؟ يعني ما چې ستاسو سره د څه شي وعده کړې وه تر هغه مې لږ درکړل؟ يهودو او نصاراوو وويل: يا، هيڅ کمي دي نه ده کړې نو الله تعالی ورته وفرمايل: بيا دا زما فضل او احسان دی چا ته چې غواړم زيات ورکوم. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١ ۴۹۵، رقم: ۳۴۵۹.

تشريح اجل د يو شي تر کل سوي وخت ته وايي، د الله جل جلاله ارشاد دی: (لتبلغوا اجلا مسمى) او کله چې دغه لفظ اطلاق د انسان پر مرګ باندي هم کيږي لکه چې ويل کيږي: دنا اجله، د

هغه مرګ رانژدې سوی دی، دغه معنی ملا علي قاري رحمة الله عليه د طيبي په حواله سره ليکلې ده او ددې وروسته وايي: ددې مطلب دادی چي په اجل سره هغه پوره وخت تعبير کيږي کوم چي د عمر لپاره ټاکل سوی وي که هغه معلق وي يا مبرم، لکه څرنګه چي د الله جل جلاله په دغه ارشاد (ثم قضی اجلا واجل مسمی عنده) کي دغه لفظ استعمال سوی دی، او کله ددغه لفظ اطلاق د وخت پر خاتمې او د ژوند پر اخري وخت باندي کيږي لکه څرنګه چي د الله جل جلاله په ارشاد (اذا جاء اجلهم لايستاخرون ساعة ولايستقدمون) کي ددغه لفظ دغه معنی مراد ده، نو دلته د حديث الفاظ: انما اجلکم في اجل من خلا من الامم..الخ، کي د اجل لفظ لومړنۍ معنی مراد ده يعني ټول ژوند او ټول عمر، په دغه رڼا کي د حديث ددغه الفاظو وضاحت به دا وي چي اې مسلمانانو! د تېرو امتونو د خلکو د اوږدو عمرونو په مقابله کي ستاسو د اجر او ثواب اندازه زياته ټاکل سوې ده کله چي دهغه اوږدو عمرونو لرونکو لپاره د اجر او ثواب مقدار کم وټاکل سو. دا ستاسو شرف او اعزاز دی چي ستاسو د عمل وخت کم دی مګر اجر او ثواب ډېر زيات دی. قيراط يو وزن ته وايي چي ددرهم د دولسمي برخي يا ددينار د شلمي يا څليرويشتمي برخي په اندازه دی.

يهودو تر غرمې پوري په يوه يوه قيراط کار وکړ: يعني دحضرت موسی عليه السلام منونکو او دهغه پيروانو په خپل اوږده عمر کي په کم ثواب باندي زيات عمل وکړ او همدارنګه هغوی د هغه مزدورانو په ډول سول چا چي د سهار څخه تر غرمې پوري په يوه قيراط کار وکړي همدارنګه د حضرت عيسی عليه السلام منونکو او دهغه پيروانو زمانه راغلل نو هغوی هم په خپل ژوند کي په کم ثواب باندي زيات عمل وکړ او هغوی د هغه مزدورانو په ډول سول کوم چي د غرمې څخه تر مازديګر پوري په يوه قيراط کار کړی وي.

په ياد ولرئ! ستاسو اجر دوه برابر دی. يعني د يهودو او نصاراوو سره دا معامله وه چي هغوی به څومره کار کوی د هغه برابر به د اجر او ثواب مستحق کېدل مګر ستاسو دا شرف دی چي د هغوی په نسبت تاسو ته دوه برابر ثواب درکول کيږي يعني د حديث دغه مضمون د الله جل جلاله ددغه ارشاد څخه ماخوذ دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَآمِنُوا بِرَسُولِهِ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ...﴿﴾

ژباړه: اې (پر عيسی عليه السلام باندي) ايمان لرونکو! تاسو د الله جل جلاله څخه وبېرېږئ او دهغه په رسول (محمد صلی الله عليه وسلم) باندي ايمان راوړئ، الله جل جلاله به په خپل رحمت سره تاسو ته دوه برابر ثواب

دركړي. نو ددغه امت خلګو نه يوازي دا چي خپل نبي ومنى او دهغه تصديق يې وكړ بلكه په ټېرو نبيانو او رسولانو باندي يې هم ايمان راوړ او دهغوى تصديق يې وكړ نو د دوه برابر ثواب مستحق سول.

مګر په اجر او ثواب كي زموږ برخه ډېره كمه ده: د يهودو او نصاراوو دغه خبره په زيات وضاحت سره داسي بيانيږي چي اې پروردګاره! دا څه دي چي د محمد ﷺ د امت كار كم او دهغوى اعمال لږ مګر اجر او ثواب يې زيات دى، ددغه امت په مقابله كي زموږ كار ډېر زيات، اعمال كثير مګر زموږ اجر ډېر كم دى او ثواب مو ډېر قليل دى، دلته دواړه احتماله دي دا خبره به يهود او نصارا د قيامت په ورځ كوي كله چي هغوى د امت محمديه د اجر او ثواب په اعتبار د خپل ځان په مقابله كي ډېر وړاندي وويني، يا داسي خبره به هغوى هغه وخت كړې وي كله چي هغوى ته په خپله زمانه كي د خپلو آسماني كتابو په ذريعه او د خپلو رسولانو په ذريعه ددغه امت محمديه داسي فضائل معلوم سوي وي، په هر حال په دغه حديث كي ددې خبري دليل دى چي د الله ﷻ له خوا كوم ثواب تر لاسه كيږي هغه نه خو په عبادت او اعمالو كي د تكليف په اعتبار تر لاسه كيږي او نه د استحقاق په وجه ځكه چي بنده د خپل مولى په نزد په دې وجه د ثواب مستحق نه دى چي هغه عبادت وكړي بلكه مولى محض دخپل فضل او احسان له كبله بنده په ثواب نازوي او مولى ته ددې پوره اختيار دى چي په خپلو بندګانو كي چا ته وغواړي زيات ثواب وركړي، فانه يفعل ما يشاء ويحكم مايريد.

څرګنده دي وي چي په حديث كي د ذكر سوو يهودو او نصاراؤ څخه مراد هغه يهود او نصارا دي چي هغوى په خپله خپله زمانه كي رسول ومنى، پر هغه يې ايمان راوړ، د هغه د راوړي كتاب او شريعت پيروي يې وكړل او تر پايه پوري پر خپل حق دين باندي قائم پاته سول، پاته سوه د هغه يهودو او نصاراوو خبره چي هغوى د حق دين څخه مخ واړوى، د خپل رسول او خپل كتاب څخه يې انكار وكړ دلته د هغوى هيڅ يادونه نسته، ځكه چي هغوى خو د ثواب څخه محروم دي. ددې څخه ماسوا دا نكته هم بايد په ذهن كي وي چي نصارى پر حضرت عيسى عليه السلام او انجيل باندي ايمان لري، سره ددې چي هغوى پر حضرت موسى عليه السلام او تورات باندي هم ايمان راوړى وو مګر هغوى ته د يهودو په نسبت زيات ثواب تر لاسه نه سو چي يوازي د خپل رسول او خپل كتاب يعني حضرت موسى عليه السلام او تورات باندي ايمان راوړى وو.

يوه بله خبره ددغه حديث څخه حنفي علماؤ د مازديګر د وخت په باره كي د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله قول د زيات ټينګښت لپاره استدلال كړى دى، د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله

قول دادی چي کله د مازديګر وخت پيل کيږي نو د هر شي سايه د هغه دوه برابر کيږي ، د حنفي علماؤ وينا ده چي د نصاراؤ د عمل زمانه د دغه امت د عمل د زمانې څخه زيات کېدل په هغه صورت کي معلوميږي کله چي په حديث کي د ذکر سوي مثال مطابق د هغوی د کار او عمل وخت د غرمې څخه وروسته د هر شي د سايې تر دوه برابر کېدو پوري پاته سي .

دوروسته زمانې مسلمانانو فضيلت

﴿۶۰۲۵﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ أَشَدِّ أُمَّتِي لِي حُبًّا نَاسٌ يَكُونُونَ بَعْدِي يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ رَآنِي بِأَهْلِهِ. رواه مسلم

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت کي زما سره زيات مينه کونکي هغه خلک دي چي زما د وفات څخه وروسته به پيدا سي او د دې خواهش به کوي چي کاش زه يې ليدلی وای نو خپل اهل او عيال به يې پر ما قربان کړي وای . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۲۱۷۸\۱۴، رقم: ۱۲– ۲۸۳۲.

تشريح. يعني زما په اړه سخته مينه به يې په دغه غوښتنه اخته کړي چي زما د ليدني موقع به په برخه سي، ما ته ورسيږي او خپل کورنۍ ، خپل مال او سامان هر څه پر ما قربان کړي، څرګنده دي وي چي د دغه حديث څخه او داسي نورو حديثو څخه په ظاهره دا معلوميږي چي د صحابه کرامو وروسته کيدای سي ځيني خلک په دغه امت کي داسي پيدا سي چي په فضيلت کي د صحابه کرامو برابر وي يا د هغوی څخه هم افضل وي، د محدثينو يو مشهور شخصيت علامه ابن عبدالبر رحمة الله عليه رجحان دې ته دی او هغه د داسي حديثو څخه استدلال کړی دی، په دې اړه يادونه د شيخ ابن حجر مکي په صور عن محرقة کي موجود دی، مګر د جمهورو علماؤ اجماع او اتفاق پر دې دی چي د امت افضل کسان صحابه کرام دي هيڅوک غير صحابي که څه هم په دين او شريعت ، علم او معرفت، ولايت او بزرګۍ، تقوا او تقدس کي هر څومره لوړ مقام ته رسېدلی وي مګر د صحابه کرامو مقام ته نه سي رسېدلای، دغه جمهورو علماؤ د دغه حديثونو په اړه چي د هغو څخه عبدالبر استدلال کړی دی، ويلي دي چي د دغه حديثونو په ذريعه چي کومه خبره ثابتېدلای سي هغه د يو غير صحابي يو جزوي فضيلت دی مګر کوم چي د کلي افضيلت تعلق دی چي د کثرت ثواب څخه عبارت دی هغه يوازي د صحابه کرامو لپاره دی، دغه علماؤ دا هم ويلي دي چي په دغه خبرو کي د صحابه کرامو څخه مراد هغه خاص

صحابه کرام دي چي د رسول الله ﷺ په صحبت او ملګرتیا کي تر ډېره وخته پوري د پاته کېدو شرف يې په برخه سوی دی چي هغوی د رسول الله ﷺ څخه زيات علم او فيض حاصل کړی وي او د رسول الله ﷺ سره په غزاوو کي شريک سوي وي، هغه عام العوام صحابه کرام چي هغوی ته يو وار د زيارت نبوي موقع حاصله سوې وي او ځيني خو داسي دي چي هغوی ته په ټول عمر کي يو وار د مخ اقدس ديدار په برخه سو نو د هغوی مسئله محل توقف او محل نظر ده مګر حق خبره داده چي د رسول الله ﷺ هغه شرف او فضل چي کوم صحابي ته د غير صحابي څخه افضل او لوړ مقام ورکوي هر صحابي ته حاصل دی که څه هم يو صحابي ته يوازي يو وار د رسول الله ﷺ د مخ اقدس ديدار په برخه سوی وي او په دغه فضل او شرف کي خو هيڅوک د يو صحابي برابر کېدای نه سي، مګر په علمي او عملي فضيلت کي د خبرو دائره پراخه کېدای سي مګر په دې اړه هم د زيات بحث پر ځای دا ويل غوره دي چي صحابه کرام په ټول امت کي علی الاطلاق افضل او اشرف دي.

دا امت به د الله جل جلاله پر دين باندي د قائم او سيدونکو څخه هيڅکله نه خالي کيږي

﴿۶۰۲۶﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا

د حضرت معاويه رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې:

يَزَالُ مِنْ أُمَّتِي أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللّٰهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَلَا مَنْ

زما په امت کي به يو ډله همېشه پر حکم الهي قائم وي، دغه ډلي ته به هغه څوک تاوان نه سي رسولای څوک چي د هغوی سپکاوی کوي او نه به ورته هغه سړي تاوان رسولای کوم چي د

خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ عَلَى ذٰلِكَ. متفق عليه. و ذكر حديث انس ان من عباد الله في كتاب القصاص.

هغوی مخالفت کوي تر دې چي د الله تعالی حکم به راسي او هغوی به پر خپل دغه حال وي. بخاري او مسلم او د انس رضي الله عنه حديث ان من عباد الله، په کتاب القصاص کي ذکر سوی دی.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\ ۴۳۲، رقم: ۳۶۴۱، ومسلم ۳\ ۱۵۲۴، رقم: ۱۷۴- ۱۰۳۷.

تشريح: د الله جل جلاله په حکم قائم وي: يعني د دغه ډلي اعتقادي او عملي ژوند ټول عمارت به پر ديني فرائضو او شرعي احکامو باندي ولاړ وي چي د کتاب الله يادولو، د حديث علم تر لاسه

کولو، د کتاب او سنت څخه استنباط کولو، في سبیل الله جهاد کولو ، دمخلوق خدا په خیر خواهي کي لګېدلي وي او څومره چي فرض کفایه دي د ټولو په اړه خپله ذمه داري سرته رسولو څخه عبارت دی او هغه ته د الله ﷻ دغه ارشاد اشاره کوي:

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ....۝

ژباړه: او په تاسو کي دي (همېشه) یوه ډله داسي وي چي نور خلګ هم خیر ته رابولي او د نیکو کارونو لپاره امر کوي او د بدو کارو څخه منع کوي.

په هر حال ددغه حدیث څخه څرګنده سول چي د ځمکي مخ به د داسي صالحانو او پاکو کسانو څخه هیڅکله نه خالي کیږي کوم چي د احکام الهي په پیروي کي ثابت قدم اوسي ، الله ﷻ چي د کومو شیانو څخه منع کړې ده د هغو څخه لیري اوسي ، پر دین او شریعت باندي په هر حالت کي عمل کوي او په هر صورت د اسلام د بقاء او سرلوړی لپاره تیار اوسي ، که څه هم مرسته کوونکي دهغوی مرسته او اعانت وکړي یا پر مخالفت باندي ملا تړلي خلګ د هغوی مخالفت وکړي.

حتی یاتي امر الله، تر دې چي د الله ﷻ حکم راسي، دلته دامر الله څخه مرګ او د عهد پوره کېدل مراد دي، بیا هم یو شارح ددې څخه قیامت مراد اخیستی دی مګر پر دغه قول باندي ددغه حدیث په رڼا کي دا سوال واقع کیږي چي په هغه کي فرمایل سوي دي: لاتقوم الساعة حتی لایکون في الارض من یقول الله، د ځمکي پر مخ چي تر څو پوري یو سړی هم د الله ﷻ نوم اخیستونکی موجود وي قیامت به نه راځي، همدارنګه د قائمة بامر الله، معنی یو شارح د الله ﷻ په سختی سره عمل کونکي لیکلي دي او ځینو حضراتو ویلي دي چي په حدیث کي د ذکر سوي ډلي څخه مراد د اهل علمو هغه ډله ده چي په هره زمانه کي د حدیث تعلیم او ددیني علومو تدریس او خپرېدو په ذریعه د سنت ترویج او ددین د تجدید او تبلیغ فریضه سرته رسوي، یو شارح وایي چي د ډلي څخه مراد هغه خلګ دي چي تل او په هر حالت کي پر اسلام باندي قائم اوسي. یو شارح لیکلي دي: کیدای سي ددغه حدیث مطلب دا وي چي د ځمکي د مخ څخه د اهل اسلام شوکت او عظمت هیڅکله نه فناء کیږي که د ځمکي د مخ په یوه سیمه کي د اسلام وینا لوړه او مسلمانانو ته شوکت او عظمت تر لاسه کیږي چي د اعلاء کلمة الله او د اسلام بیرغ لوړولو کي په مستعدي سره لګېدلي وي ، ددغه قولونو خلاصه داده چي د ډلي څخه مراد د اسلام د غازیانو ډله ده چي دهغوی کار د دین ددښمنانو سره په جهاد کولو دین ټینګول او

سرلوړي كول دي او بيا دغه ډله په اخره زمانه كي د اسلامي سرحدونو ساتني او څارنه كوي، په ځينو روايتو كي د (وهم بالشام) الفاظ هم راغلي دي، يعني ددغه ډلي مستقر به د شام هيواد وي او په ځينو روايتو كي دا الفاظ هم دي: حتى يقاتل اخرهم مسيح الدجال، تر دې چي ددغه ډلي آخري كسان به دجال قتل كړي، يعني دغه روايتونه پر دې خبره دلالت كوي چي د ډلي څخه مراد د اسلام د غازيانو ډله ده مګر د حديث د ظاهري مفهوم څخه چي كومه خبره ثابتيږي هغه داده چي په عامه توګه هره هغه ډله او هره هغه طبقه مراد ده چي د الله ﷻ پر رهښتوني دين باندي قائمه وي او د الله ﷻ ددين په خدمت او خپرېدو كي او د اسلام د سرلوړي لپاره په هر صورت كي مصروف عمل وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د امت محمدي ﷺ مثال

﴿۶۰۲۷﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ أُمَّتِي مَثَلُ الْمَطَرِ لَا يُدْرَى أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَمْ آخِرُهُ. رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت حال د باران په ډول دى چي د هغه په اړه دا نه سي ويل كيدلاى چي ددې اول به ښه وي يا آخر به ښه وي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۱۴۰. رقم: ۲۸۶۹.

د لغاتو حل: فوج اي جمع. فيج: اي فوج.

تشريح د باران د مثال په ذريعه رسول الله ﷺ د خپل امت ذكر چي په كوم انداز كي وكړ ددې څخه په ظاهره خو شك او تردد دى، ځكه چي دده څخه نه ده چي ددغه امت مخكني خلګ غوره وه يا وروسته راتلونكي خلګ غوره دي، مګر په حقيقت كي د حديث څخه دا مفهوم مراد نه دى بلكه د باران د مثال په ذريعه دې ته اشاره كول مقصد دي چي ټول امت ښه دى لكه څرنګه چي په وچ موسم كي كله چي د رحمت باران نازليږي نو هغه ټول باران ښه او نافع ګڼل كيږي همدارنګه په امت محمديه كي د لومړي زماني سره تعلق لرونكي او د وروسته زمانو رهښتوني او نيك مسلمانان هم خير يعني ښه كېدو او ګټي رسولو په اعتبار برابر دي، نو د خير لفظ ددين په اعتبار د افضيلت ظاهرونكي د اسم تفضيل په توګه نه دى استعمال سوى، پاته سو دا سوال چي د امت اول او آخر دواړه سره تعلق لرونكي ښه او نافع كېدو كي برابر څرنګه دي، نو هغه

داسي چي د اول وخت خلگو د رسول الله ﷺ د صحبت او ملگرتيا شرف تر لاسه کړ، په هرحالت کي د رسول الله ﷺ پيروي وکړل د رسول الله ﷺ د اسلام دعوت يې نورو خلگو ته ورسوی او د رسول الله ﷺ راوړی شريعت او د رسول الله ﷺ د وړاندي سوي دين د ګټو او هداياتو بنياد يې کښېښود، د رسول الله ﷺ دين متين ته يې اعانت او تقويت ورکړ، د رسول الله ﷺ نبوت او رسالت او شريعت يې ومنی، د رسالت او شريعت پر هر شي باندي په ټينګه عقيده سره ټينګ پاته سول، د رسول الله ﷺ د دين ساتنه يې وکړل او دين ته يې استحکام ورکړ، د دين د ګټو او د هداياتو بنياد يې تکميل ته ورسوی، د دين او شريعت احکام يې مضبوط کړل او د اسلام بيرغ يې لوړ کړ، د اسلام رڼا يې په څلور کونجه دنيا کي خپره کړل، او د هغه برکات او اثرات يې پر ټوله نړۍ باندي ظاهر کړل او که لفظ د خير د اسم تفضيل پر معنی محمول کړل سي نو هم په دې اعتبار صحيح کيدای سي چي د خير وجوه او اسباب متحد کيږي، دکوم اسباب او وجوه په اعتبار چي د اول دور امتيان غوره وه، ددې څخه ماسوا د ځينو نورو اسبابو څخه د وروسته زمانې امتونه غوره دي.

يعني خلاصه دا راووتل چي حديث پر دې خبره دلالت کوي چي نافع او ښه کېدو په اعتبار ټول امت يو ډول او برابر دی او پر دې خبره هم دلالت کوي چي د وجوه او اسبابو تعدد او اختلاف په سبب د اول دور امتي په خپل اعتبار غوره دی او د وروسته زمانې امتيان په خپل نوعيت غوره دي مگر د جمهورو علماؤ په نزد دا فيصله سوې خبره ده چي کوم د کلي افضيلت تعلق دی هغه يوازي د دور اول امتيانو يعني د صحابه کرامو لپاره مخصوص دی که څه هم دا ددې خلاف نه دی چي د يو خاص درجې او نوعيت سره سم په وروستنيو امتيانو کي د چا لپاره جزوي فضيلت ثابت کړل سي او دا خبره بايد په ذهن کي وي چي د کلي افضيلت څخه مراد د الله جلاله سره تر ټولو زيات ثواب تر لاسه کېدل وي.

توربشتي رحمه الله ليکلي دي: ددغه حديث څخه پر وروستني امتيانو باندي د اول دور د امتيانو فضيلت او غوره والي کي پر شک او تردد باندي هيڅکله محمول نه دی ځکه چي قرن اول د ټولو قرنو څخه بېله شکه او شبهې افضل دی، بيا د هغه څخه وروسته قرن امتي، د خپل وروسته ټولو قرنو څخه افضل دی، نو ددغه حديث مراد دا بيانول دي چي د دين او شريعت د خپرولو په اعتبار پوره امت نافع دی همدارنګه خبره قاضي رحمه الله هم په يو اوږده عبارت کي ليکلې ده، د هغه خلاصه داده چي څرنګه د باران په اړه دا نه سي ويل کيدای چي دهغه کومه برخه زياته ګټوره او نفع کوونکي ده او دکومو وجوهو څخه دخير وجود دی او په کومو کسانو

کي دخير وجود نه دی ځکه چي د وجود خير مختلف جهتونه او مختلف نوعيتونه وي او په دې اعتبار د امت هر دور د خپل خپل حيثيت په اعتبار د وجود خير حامل وي. بيا هم الفضل للمتقدم د اصولو سره سم افضيلت د هغه امتيانو لپاره دی کوم چي په دور اول کي وه يعني صحابه کرام، او دغه حديث د وروستني زمانې د امتيانو لپاره د ډاډ مصدر دی چي په دې کي دې ته اشاره ده چي د الله جلّ جلاله دروازه خلاصه ده او د هغه د دربار څخه د حصول فيض توقع په هر حال کي پاته ده.

د دغه حديث په تشريح کي طيبي رحمة الله عليه ليکلي دي: دا چي امت ته د باران سره مشابهت ورکړل سوی دی هغه محض د هدايت او علم مخته اېښودو سره ورکړل سوی دی لکه څرنګه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو حديث کي باران ته په هدايت او علم سره مشابهت ورکړی دی نو په حديث کي د ذکر سوي امت د باران سره مشابهت ددې څخه مراد علماء کاملين دي چي خپله هم کامل وي او نور هم د کمال درجې ته رسوي. دغه وضاحت هم ددې خبري تقاضا کوي چي د شی څخه کته مراد واخيستل سي چي د هغه څخه په افضيلت کي د پوره امت يو ډول کېدل نه لازمېږي خلاصه د کلام دا چي امت محمدي به په خپل هيڅ دور کي د خير څخه خالی نه وي لکه څرنګه چي په يو حديث کي رسول الله صلى الله عليه وسلم ټول امت ته د امت مرحومه فرمايلي دي او دا ثمره ده ددې خبري چي د دغه امت نبي، نبي رحمت دی پر خلاف د نورو امتونو چي په هغوی کي د خير وجود يوازي په لومړني دور کي وو او بيا په وروستنيو کي شر راغلی او داسي راغلی چي هغوی خپل مقدس اسماني کتاب بدل کړل او په هغه کي تحريفونه وکړل او د خپل هغه دين حليه يې خرابه کړل کوم چي د اول دور خلګ پر هغه ولاړ وه.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د امت محمدي حال

﴿۶۰۲۸﴾: عَنْ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

جعفر رحمة الله عليه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

وَسَلَّمَ أَبْشِرُوْا وَ أَبْشِرُوْا إِنَّمَا مَثَلُ أُمَّتِيْ مَثَلُ الْغَيْثِ لَا يُدْرٰى آخِرُهُ خَيْرٌ أَمْ

خوشحاله سئ او خوشحاله سئ زما د امت حال د باران په ډول دی چي د هغه په اړه دا نه سي ويل

کیدلای چي ددې په آخیرني کي به خیر وي او که په

أَوَّلُهُ أَوْ كَحَدِيْقَةٍ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ عَامًا ثُمَّ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ عَامًا لَعَلَّ

اول کي، یا زما د امت مثال د باغ په ډول دی چي د هغه یو کال فوج وخوړل بیا په کال بل فوج وخوړل، کیدای سي چي

آخِرَهَا فَوْجًا أَنْ يَّكُوْنَ أَعْرَضَهَا عَرْضًا وَأَعْمَقَهَا عُمْقًا وَأَحْسَنَهَا حُسْنًا

په آخر کي یو فوج راسي چي په پلنوالي او ژوروالي به زیات وي (یعني شمېر به یې زیات وي) او په ښائست به ښائسته وي (یعني اخلاق به یې ښه وي)،

كَيْفَ تَهْلِكُ أُمَّةٌ أَنَا أَوَّلُهَا وَالْمَهْدِيُّ وَسْطُهَا وَالْمَسِيْحُ آخِرُهَا وَلٰكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ فَيْجٌ أَعْوَجُ لَيْسُوْا مِنِّيْ وَلَا أَنَا مِنْهُمْ. رواه رزين.

هغه امت څنګه هلاکیدلای سي چي د هغو اول زه (محمد ﷺ) یم او د هغه په منځ کي به مهدي وي او د هغو په اخر کي مسیح وي، مګر ددغه زمان په منځ کي یو ډله به کږه وږه (ګمراه) وي هغه ډله به زما پر طریقه نه وي او نه به زه د هغوی څخه یم. رزین.

تخریج: رواه رزین.

تشریح. خوشحاله سئ، خوشحاله سئ، دغه الفاظ رسول الله ﷺ دوه واره د تاکید لپاره وفرمایل، یا په تکرار کي دا نکته وه چي یو زیری خو د دنیا په اعتبار دی او یو زیری د آخرت په اعتبار دی،

یا زما د امت مثال..... : په دغه جمله کي د او لفظ د تنویع دپاره هم کیدای سي او د تعبیر لپاره هم، په هر حال د باغ څخه مراد هغه باغ دی چي د هغه درختي تکي شنې وي او په هغه کي ډول ډول میوې زیاتي وي او امت ته د باغ سره مشابهت ورکول په اصل کي دین ته د هغه شرائع او ارکانو د جهت څخه مشابهت ورکوي دي.

په پلنوالي اوژوروالي کي..... : دلته د پلنوالي او ژوروالي څخه د ډلي کثرت او د خلګو زیات شمېر مراد دی، په دغه جمله کي د طول ذکر ددې لپاره نه دی چي عرض او عمق د طول څخه وروسته وي کله چي د عرض او عمق ذکر راغلی نو لکه طول چي هم ذکر سو.

د تابعينو فضيلت

﴿۶۰۲۹﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه چي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْخَلْقِ أَعْجَبُ إِلَيْكُمْ إِيْمَانًا؟ قَالُوا الْمَلَائِكَةُ قَالَ وَمَالَهُمْ

د ايمان په اعتبار تاسو په مخلوق کي څوک خوښوئ؟ صحابه کرامو عرض وکړ د ملائکو ايمان، رسول الله ﷺ وفرمايل: ملائکي به

لَا يُؤْمِنُوْنَ وَهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ قَالُوْا فَالنَّبِيُّوْنَ قَالَ وَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ

ولي ايمان نه راوړي چي هغوی د خپل پروردګار سره او سيږي، صحابه کرامو عرض وکړ د پيغمبرانو ايمان، ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: پيغمبران به ولي ايمان نه راوړي

وَالْوَحْيُ يَنْزِلُ عَلَيْهِمْ قَالُوْا فَنَحْنُ قَالَ وَمَالَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ

حال دا چي پر دوی وحي نازليږي، صحابه کرامو عرض وکړ نو زموږ ايمان، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تاسو به ولي ايمان نه راوړی ځکه چي زه ستاسو په منځ کي موجود يم،

قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَعْجَبَ الْخَلْقِ إِلَيَّ إِيْمَانًا

د راوي بيان دی دديې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په نزد د ايمان د ټينګوالي په

لِقَوْمٍ يَكُوْنُوْنَ مِنْ بَعْدِيْ يَجِدُوْنَ صُحُفًا فِيْهَا كِتَابٌ يُؤْمِنُوْنَ بِمَا فِيْهَا.

اعتبار هغه خلک تر ټولو ښه ښکاريږي چي زما څخه وروسته به پيدا سي هغوی به په صحيفو کي د خدای کتاب تر لاسه کړي او پر هغه احکامو به هغوی ايمان راوړي . بيهقي.

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

تشريح جواب ورکونکو صحابه کرامو د ډېر ښه او ډېر قوي ايمان په اعتبار چي مخکي د ملائکو ذکر وکړ او بيا د انبياء عليهم السلام نو په دې پر انبياء عليهم السلام باندي د ملائکو فضيلت نه لازميږي، د الله جل جلاله په نزد د کثرت ثواب په اعتبار چي کوم افضيلت نبيانو ته حاصل

دی هغه پر خپل ځای مسلم دی په دې کي هیڅ شک او شبه نسته.

د آسمان څخه وحي پر هغوی نازلیږي.... : یعني باید د انبیاؤ ایمان تر ټولو ښه او قوي وي ځکه چي په دنیا کي د ایمان او دین و شریعت د نازلېدو اصل ذریعه وحي ده او وحي پر هغوی نازلیږي، ملائکه روح الامین (حضرت جبرائیل علیه السلام) د آسمان څخه راځي او د الله جل جلاله پیغام هغوی ته رسوي، هغوی ملائکه په خپلو سترګو سره ویني او د هغه د انوارو مشاهده کوي، څرګنده دي وي چي په لغت کي د وحي معنی د پیغام، په زړه کي پټه خبره اچول، هر هغه شی چي نورو ته د معلومېدو لپاره یې تاسو وړاندي کړئ او آواز، او د شریعت په اصطلاح کي وحي د الله جل جلاله هغه پیغام ته وایي چي جبرائیل علیه السلام پیغمبرانو ته راوړي.

کله چي زه ستاسو په منځ کي موجود یم ... : او تاسو د وحي او ایمان د آثارو او انوارو مشاهده کوئ، د نبوت نښې او معجزې وینئ، زما په جمال او کمال سره د انوار حق لیدنه کوئ، زما د صحبت او ملګرتیا په ذریعه په تاسو کي اسرار حقیقت سرایت کوي او زما باطني تصرف او زما په ارشاد او قول سره ستاسو په ظاهر او باطن کي کمالات او کرامات پیدا کیږي، په داسي صورت کي پر الله جل جلاله باندي ایمان راوړل د الله جل جلاله د نازل کړي دین او شریعت پر احکامو یقین درلودل او د الله جل جلاله ښودل سوي اوامرو او نواهیو په منلو کي ستاسو دپاره د شک او تردد موقع نسته.

پر ټولو باندي ایمان راوړي ... : یعني دهغوی ایمان بالغیب وي، هغوی نه نبي لیدلی وي او نه د نبي د صحبت په ذریعه د انوار حق مشاهده کړې وي او نه د نبوت آثار او معجزات لیدلي وي، هغوی چي دخپلو مشرانو (صحابه کرامو) څخه د اخبار او آثار په صورت کي څه واوري پر هغه باندي په یقین کولو سره پر الله جل جلاله، د هغه پر رسول، د هغه پر کتاب او د الله جل جلاله پر نازل کړي دین باندي ایمان راوړي او پر هغه ایمان باندي په ټینګه ولاړ وي، نو الله جل جلاله چي په خپل کتاب کي دا فرمایلي دي چي: یؤمنون بالغیب، نو ددې مراد هم د ځینو تفسیرو جهتو څخه دادی. او ددې تائید د هغه روایت څخه کیږي چي په هغه کي بیان سوی دی چي د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ملګرو دهغه په وړاندي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو او د هغوی د ایمان یادونه وکړل نو حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ورته وویل: حق خبره خو داده چي د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم حقیقت او حیثیت د هغوی دعوت اسلام او دهغه ټوله معامله پر هر هغه چا باندي په پوره توګه روښانه او څرګنده ده چا چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملګرتیا شرف یې تر لاسه کړ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه څخه ماسوا بل څوک د عبادت وړ نسته د

هیڅ ایمان د ایمان بالغیب څخه افضل نه دی او بیا حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دغه آیت (یؤمنون بالغیب......) تلاوت کړ.

بیا د رسول الله ﷺ د زمانې مبارکي سره د متصل کېدو په سبب او د رسول الله ﷺ د بابرکته صحابه کرامو د ملګرتیا په وجه که څه هم پر تابعینو باندي هم اثار او انوار حقانیت څرګند او د رسول الله ﷺ صدق واضح وو مګر ددې سربېره به ویل کیږي چي: از دیده بسي فرق بود تا بشنیده، او خلاصه دا چي که څه هم د صحابه کرامو ایمان هم بالغیب وو مګر دهغوی ایمان بالغیب په هغه شیانو کي وو چي پر هغه ایمان لازم فرض دی لکه د الله جل جلاله ذات، ملائکي، او د آخرت چاري او داسي نور. او نور ډېر شیان هغوی په سترګو لیدلي وه د هغوی کتنه یې کړې وه د هغوی پر خلاف د تابعینو او دهغوی څخه وروسته د مؤمنانو معامله داده چي دهغوی ټول ایمان بالغیب دی، هیڅ شی د هغوی سترګو نه دی لیدلی، هیڅ شی د هغوی په مشاهده کي نه دی راغلی نو په دې اعتبار دهغوی ایمان ته افضل او غوره وفرمایل سول.

د یوې ډلي په اړه پیشګوئي

﴿۶۰۳۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْعَلَاءِ الْحَضْرَمِيِّ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَنْ سَمِعَ

د عبدالرحمن بن علاء حضرمي رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما ته دا حدیث هغه سړي بیان کړي چي

النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِيْ آخِرِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ لَهُمْ

هغه د نبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چي ددې امت په آخر کي به یو قوم وي د هغوی د اعمالو

مِثْلُ أَجْرِ أَوَّلِهِمْ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقَاتِلُوْنَ أَهْلَ

الْفِتَنِ. رواهما البيهقي في دلائل النبوة.

ثواب به ددې امت د لومړنیو خلکو د ثواب په ډول وي دا قوم به خلکو ته د نیکو کارونو حکم ورکوي د بدو کارونو څخه به یې منع کوي او د فتنه خپرونکو خلکو سره به جنګیږي. بیهقي

تخریج: رواه البیهقي في دلائل النبوة.

د هغه امتیانو فضیلت چي نادیده به ایمان راوړي

﴿۶۰۳۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ طُوْبٰى لِمَنْ

رَآنِي وَطُوبَىٰ سَبْعَ مَرَّاتٍ لِمَنْ لَمْ يَرَنِي وَآمَنَ بِي. رواه احمد.

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه چا ته زيرى دى چي هغه زه وليدم او پر ما يې ايمان راوړ او هغه چا ته اووه واره زيرى دى چي ناديده يې پر ما ايمان راوړ. احمد

تخريج: اخرجه احمد في المسند ۵\ ۲۴۸.

تشريح او اووه واره مبارکي ده..... : ددې څخه د هغه امتيانو فضيلت ثابتيږي چي د رسول الله ﷺ ذات مبارک او دهغه په نبوت او رسالت باندي غائبانه ايمان لري مګر دلته چي د اوو تعين سوى دى نو د هغه علم الله جل جلاله او د هغه رسول ته سپارل غوره دي، داهم ويل كيداى سي چي د يوې خبري په زيات بليغ اندازه كي د بيانولو لپاره او دهغه د تكثير له كبله د اوو شمېر بابركت مشهور او متعارف دى ځكه رسول الله ﷺ پر ذات رسالت باندي د ايمان بالغيب لرونكو ته اووه واره مباركي وركړه نو ددغه شمېر څخه تكثير مراد اخيستل پكار دي نه تحديد .

د رسالت د زماني وروسته د امتيانو فضيلت

﴿۶۰۳۲﴾: وَعَنْ أَبِي مُحَيْرِيزٍ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي جُمُعَةَ رَجُلٍ مِنَ الصَّحَابَةِ حَدِّثْنَا

د حضرت ابو محيريز رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ صحابي ابو جمعه رضي الله عنه ته وويل

حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ أُحَدِّثُكُمْ

چي ما ته يو حديث بيان كړه كوم چي تا د رسول الله ﷺ څخه اوريدلى وي ، هغه راته وويل : ښه

حَدِيثًا جَيِّدًا تَغَدَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ

دى زه به تا ته يو عمده هدايت بيان كړم، يوه ورځ موږ د رسول الله ﷺ سره د سهارډوډۍ وخوړل ، زموږ سره ابو عبيده

بْنُ الْجَرَّاحِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَحَدٌ خَيْرٌ مِنَّا أَسْلَمْنَا مَعَكَ وَجَاهَدْنَا مَعَكَ

بن الجراح رضي الله عنه هم وو ، ابو عبيده رضي الله عنه عرض وكړ اې د الله رسوله ! ايا تر موږ هم يو څوک غوره سته چي موږ پر تاسو ايمان راوړى دى موږ ستاسو په ملګرتيا كي جهاد كړى دى .

قَالَ نَعَمْ قَوْمٌ يَكُونُونَ مِنْ بَعْدِكُمْ يُؤْمِنُونَ بِي وَلَمْ يَرَوْنِي. رواه احمد والدارمي، وروي رزين عن ابي عبيدة من قوله قال يا رسول الله احد خير منا الى اخره.

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو، ستاسو څخه هم غوره خلک سته او هغه هغه خلک دي چي ستاسو څخه به وروسته پيدا کيږي او پر ما به ناديده ايمان راوړي. احمد او دارمي، او روايت کړی دی رزين د ابو عبيده څخه دغه قول (قال يا رسول الله...... الخ).

تخريج: اخرجه احمد في المسند: ۱۰٦\۴، والدارمي ۱۲\۳۹۸، رقم: ۲۷۴۴.

تشريح هو، تر تاسو هم غوره خلک سته، يعني هغه خلک له دې کبله تر تاسو غوره دي چي هغوی به ناديده پر ما ايمان راوړي که څه هم په دغه حيثيت سره چي تاسو ته د سبقت ايمان، زما د صحبت او زما سره په جهاد کي د ګډون سعادت حاصل دی نو پر هغه خلګو باندي ستاسو فضيلت او غوره والی مسلم دی.

د ارباب حديث فضيلت

﴿۶۰۳۳﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

حضرت معاويه بن قرة بن قرة رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَسَدَ أَهْلُ الشَّامِ فَلاَ خَيْرَ فِيكُمْ وَلاَ يَزَالُ طَائِفَةٌ مِّنْ

د شام اوسيدونکي به تباه او برباد سي نو بيا به په تاسو کي نيکي نه وي او زما په امت کي به

أُمَّتِيْ مَنْصُوْرِيْنَ لاَ يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى تَقُوْمَ السَّاعَةَ قَالَ ابْنُ

همېشه يو ډله غالب وي. دغه ډلي ته به هغه خلک هيڅ تاوان نه سي رسولای چي د هغوی سپکاوی کوي، تر دې چي قيامت سي. د ابن مديني بيان دی چي

الْمَدِيْنِيْ هُمْ أَصْحَابُ الْحَدِيْثِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح

د دې ډلي څخه اصحاب حديث مراد دي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

تخريج: سنن الترمذي ۴۲۰\۱۴. رقم: ۲۱۹۳.

تشریح: د حضرت معاویه بن قرة د پلار نوم قره بن ایاس رضی الله عنه دی چي صحابي دی، خپله حضرت معاویه بن قره رحمة الله علیه یو تابعي دی، د هغه شمېر په عالمانو کي کېږي، د لوړي درجې فقیه او مشهور دی، د جنګ جمل په ورځ هغه پیدا سوی وو او په ۱۱۳ هجري کال کي وفات سو.

نو بیا به په تاسو کي خیر نه وي.... یعني کله چي په اهل شام کي هم فساد او تباهي خپره سي نو بیا په شام کي هستوګنه اختیارول یا د خپل وطن څخه په هجرت کولو سره د شام څخه په تلو کي به خیر نه وي.

شیخ عبدالحق رحمة الله علیه داسي وضاحت کړی دی: ددغه الفاظو څخه په ښکاره مراد دادی چي په آخره زمانه کي به اهل شام د الله جل جلاله پر رښتوني دین قائم وي او د خیر امت کېدو په حیثیت سره به خپل فرض سرته رسوي، بیا په هغوی کي به هم تباهي راسي او دا به هغه وخت وي کله چي د قیامت راتلو وخت رانژدې سوی وي او د مځکي پر مخ به د لااله الاالله ویونکي هیڅوک موجود نه وي لکه څرنګه چي په حدیثونو کي راغلي دي چي په دنیا کي به یوازي بدکاره خلک موجود وي نو د اهل شام په تباه کېدو سره ددغه مځکي خیر به پورته کړل سي چي ددې نتیجه به دا وي چي هغه وخت به په اهل خیر کي هیڅوک په دنیا کي پاته نه وي.

ددغه ډلي څخه مراد ارباب حدیث دي: یعني هغه محدثین او عالمان چي د حدیثو حافظان وي، د حدیثو راویان وي، پر سنت نبوي باندي چي د کتاب الله ترجمان او شارحین دي. عمل کوونکي دي او د درس او تدریس، تصنیف او تالیف، ژباړي او ښوونې په ذریعه احادیث نبوي او د علوم نبوي خدمت او د هغه په زده کولو او ښودلو کي به لګېدلي وي، او لکه هغه ډله چي په اهل سنت والجماعت سره تعبیر کېږي.

دې اُمت ته خطا او نسیان معاف ده

﴿۶۰۲۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِيْ الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوْا عَلَيْهِ. رواه ابن ماجه والبیهقي

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی زما د امت خطا او هیره معاف کړې ده او هغه کار هم چي په زوره په وکړل سي. ابن ماجه او بیهقي

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\۶۵۹، رقم: ۲۰۴۳، والبیهقي في السنن الکبری ۷\۳۵۶.

تشریح خطا د صواب (صحیح) ضد دی، چي معنی یې د خطا کېدو ده، په صراح کي لیکلي دي چي خطاء په معنی د نا صحیح چي د صواب برعکس مفهوم دی، ددې څخه وتلی لفظ

واسعه څخه لیري نه ده چي زما دغه سعي قبول کړي او د دغه عاجز او ضعیف کوتاهۍ او هره معاف کړي، او زما، زما استاد، زما مور او پلار د قیامت په ورځ وبخښي، او ذلیل مو نه کړي، یا رب العالمین دا غوښتنه ده چي ما او زما استاد مولانا اسحاق صاحب مهاجر في سبیل الله رحمه الله او زما مور و پلار او ټول مسلمانان مغفور او مرحوم کړي او ستا د شان ظهور دي وي زموږ پر پریشانه حال باندي.

اللهم آتنا في الدنیا حسنة وفي الاخرة حسنة وقنا عذاب النار، اللهم لاتدع لنا ذنبا الا غفرته ولا هما الا فرجته ولا دینا الا قضیته ولا حاجة من حوائج الدنیا والاخرة الا قضیتها یا ارحم الراحمین، اللهم انا نسئلک من خیر ما سئلک منه نبیک محمد صلی الله علیه وسلم ونعوذ بک من شر ما استعاذ منه نبیک محمد صلی الله علیه وسلم، وانت المستعان وعلیک البلاغ ولاحول ولاقوة الا باالله العلي العظیم.

از گدایان تو ام شاه بفرما مددي — که چون مرغان حرم درحرمت جاگیرم
الهي نجني من کل ضیق — بجاه المصطفی مولی الجمیع
وهب لي في مدینته قرارا — بایمان ودفن بالبقیع

ربنا هب لنا من ازواجنا وذریاتنا قرة اعین واجعلنا للمتقین اماما، اللهم صل وسلم علی سیدنا محمد النبي الامي وعلی آله واصحابه واهل بیته وبارک وسلم، اللهم صل وسلم علیه وعلیهم اجمعین برحمتک یا ارحم الراحمین.

د مظاهر حق جدید مرتب عبدالله جاوید بن مولانا محمد عبدالحق غازي پوري، الله ﷻ دي رحمتونه ور باندي نازل کړي، د هغه خطاوي او سهوي دي معاف کړي، وایي: د رب کریم عنایت او د هغه په مرسته او توفیق سره کتاب مظاهر حق جدید پای ته ورسېدی او د رمضان المبارک ۱۴۰۰ هجري کال د روژې مبارکي پر اتلسمه نېټه د جمعې په شپه فراغت تر لاسه سو، پاک پروردگار دي د خپل محبوب په برکت چي هغه ته د دغه کتاب د الفاظو او معاني نسبت دی، زما دغه سعي قبوله کړي، ما، زما استاذان او شیوخ، زما مور او پلار، زما کورنۍ، زما ټول خپلوان او ملګري، د دغه کتاب په ترتیب او تسوید، خپرېدو او چاپ کي، زما مرسته کونکي او ملګري او د دغه کتاب ویونکي د محشر په ورځ د خپل محبوب ﷺ په شفاعت برخمن کړي او په خپل فضل او احسان سره دي موږ ونازوي. آمین یارب العالمین.

===========

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَسْمَاء الرِّجَالِ

لومړی باب د صحابه کرامو او تابعینو په بیان کي:

الف - صحابه کرام رضی اللہ عنہم:

۱. **انس بن مالک** رضی اللہ عنہ: دغه انس بن مالک بن نضر رضی اللہ عنہ دی، د نوموړي کنیت ابوحمزه دی او د خزرج قبیلې څخه دی، د رسول الله ﷺ خاص خادم دی، د نوموړي مور ام سلیم بنت ملحان ده، کله چي نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته راغلی نو دده عمر لس کاله وو او د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کي په بصره کي هستوګن سو، هلته یې خلګو ته دین وښودی، په صحابه کرامو کي یې په بصره کي تر ټولو آخر په ۹۱ م هجري کال کي وفات سو، عمر یې یو سل او درې (۱۰۳) کاله وو، دا هم ویل کیږي چي نهه نیوي کاله وو، ابن عبدالله رضی اللہ عنہ وایي: دا قول زیات صحیح دی، ویل کیږي چي دده د اولاد شمېر سل دی او د یوه قول مطابق راتیا چي په هغو کي ۷۸ نارینه او دوې ښځې وې، دده څخه ډېرو خلګو روایت کړی دی.

۲. **انس بن مالک الکعبي** رضی اللہ عنہ: دغه انس بن مالک کعبي رضی اللہ عنہ دی، دده کنیت ابوامامه دی، دده نوم دهغه حدیث په سند کي مذکور دی چي د مسافر، حاملې او مرضعې د روژې په اړه روایت سوی دی، په بصره کي یې هستوګنه اختیار کړې وه، دده څخه ابن قلابه رضی اللہ عنہ روایت کړی دی.

۳. **انس بن النضر** رضی اللہ عنہ: دغه انس بن نضر بخاري د انصارو څخه دی، دی د انس بن مالک رضی اللہ عنہ اکا دی، داحد په ورځ شهید سو او هغه وخت یې پر بدن د تورو، نېزو او غشو تر دېرشو زیات زخمونه لیدل سوي دي، دده په اړه دغه آیت نازل سو: (من المؤمنین رجال صدقوا ما عاهدو الله علیه ... الخ).

۴. **انس بن مرثد** رضی اللہ عنہ: دغه انس د مرثد بن ابي مرثد زوی دی، د ابي مرثد نوم کنانه بن الحصین دی، یو قول دادی چي دده نوم انیس وو، ابن عبدالبر وویل: دغه قول زیات مشهور دی او ویل کیږي چي دا هغه انیس دی چي دمکې په فتح او حنین کي حاضر وو، دا

عامو امتیانو څخه وي او که د خاصو څخه، حقیقت دادی چي ښه عقیده د ایمان په لاره کي ثابت قدمه او سېدل د رسول الله ﷺ په اړه زیاته مینه او تعلق درلودل، د ایمان څخه نه ګرځېدل، د اسلام د غلامۍ د دائرې څخه خپل ځان نه ایستل او همدارنګه د نورو خصوصیاتو او صفاتو لیري کولو په سبب هر امتي په دغه فضیلت کي داخل دی چي د تیرو ټولو امتونو په مقابله کي دغه امت مرحومه ته د الله جل جلاله له خوا ورکړی سوی دی، بیا هم د ځینو حضراتو وینا ده چي د خیر امت مصداق په خاصه توګه د دغه امت هغه ډله ده کوم چي په خواصو سره تعبیر کیږي یعني علماء، صادقین، شهیدان او صالحین، د دغه حضراتو په نزد د خیر څخه مراد خیر تامه کامله مخصوصه دی همدارنګه ځیني حضرات د دغه مصداق د مهاجرینو ډله ګرځولی دی مګر دغه حضرات د خیر امت مفهوم تر یو محدود دائرې پوري ولي ګرځولی دی او د دې مصداق په یو خاص ډله کي ولي منحصر کوي، د دې وجه څرګنده نه ده نو حق خبره دا ده چي د خیر امت مفهوم د خاص کولو پر ځای عام کړل سي.

په اویا امتونو کي .... : د اویا شمېر د تحدید لپاره نه دی بلکه د تکثیر د پاره دی ځکه چي د دغه شمېر یادونه د اظهار تکثیر لپاره زیات راځي او دا هم ویل کېدای سي چي د اوویا امتونو څخه مراد هغه تېر امتونه دي چي ډېر لوی وه او د هغوی شمېر اویا ته رسیږي او د هغوی په ضمن کي ټول کوچني کوچني امتونه هم راځي.

تاسو به اویا امتونه پوره کوئ: دلته د پوره کولو معنی په اصل کي د ختم ده مطلب دا چي څرنګه ستاسو پیغمبر ﷺ خاتم النبیین او د ټولو رسولانو سردار دی همدارنګه تاسو هم د ټولو امتونو خاتم، تر ټولو امتونو زیات افضل او اتم یاست، پر تېرو امتونو باندي د امت محمدي د فضیلت او غوره والي د اظهار لپاره بغوي رحمة الله علیه یو بل روایت په خپل سند سره مرفوعا نقل کړی دی چي دهغه الفاظ دادي:

قال ان الجنة حرمت علی الانبیاء کلهم حتی ادخلها و حرمت علی الامم حتی تدخلها.

ژباړه: رسول الله ﷺ وفرمایل: بېله شکه جنت پر ټولو نبیانو باندي حرام دی تر څو چي زه هغه ته داخل نه سم او جنت پر ټولو امتونو باندي حرام دي تر څو چي زما امت په هغه کي داخل نه سي. او د دغه خبره د دغه امت حسن خاتمه ته اشاره کوي چي د دغه حسن بدائت باندي مبني دی، د دې ته د الله جل جلاله د دغه ارشاد (ان الذین سبقت لهم منا الحسنی) هم اشاره کوي نو د دغه امت محمدي دنیا ته د راتلو په اعتبار که څه هم تر ټولو روسته دی مګر د فضل او شرف په اعتبار تر ټولو اول او تر ټولو لوړ دی،

والحمد لله الذي جعلنا من اهل الاسلام وعلى دين نبينا ﷺ والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات وبشكره تزيد البركات والخيرات .

د كتاب خاتمه

دغه حديث د مشكوة المصابيح آخري حديث دى، د مشكوة مؤلف خپل دغه عظيم كتاب پر دغه حديث ختمول ددې خبرې د ظاهرولو لپاره دى چې دكتاب ختمېدل او تكميل ته رسېدل په حقيقت كې د ختم كونكي يعني د الله جل جلاله رب العزت د هغه د عنايت، د هغه د مرستې او توفيق ثمره دهٔ او تر دې مخكې حديث : (ان الله تجاوز عن امتي الخطاء والنسيان) هم د كتاب په تحرير او تاليف كې د واقع كېدونكي سهو او نسيان څخه په معذرت سره لوى مناسبت لري، ختم الله لنا بالحسن و تجاوز عنا ما وقع من السهو والنسيان بحرمة نبي آخر الزمان صلى الله عليه وسلم وعلى آله واصحابه ذوي الفضل والاحسان .

څرگنده دې وي چې د مشكوة په شرحو كې پر ۸۹۱ حديثو باندې مشكوة بشپړ سوى دى مگر د مشكوة المصابيح په نسخو كې د دغه حديث څخه وروسته دغه عبارت هم دى :

ثم قال مؤلف الكتاب: شَكَرَ اللّٰهُ سَعْيَهُ وَ اَتَمَّ عَلَيْهِ نِعْمَتَهُ و وَقَعَ الْفَرَاغُ مِنْ جَمِيْعِ الْاَحَادِيْثِ النَّبَوِيَّةِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ آخِرَ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ رَمَضَانَ عِنْدَ رُؤْيَةِ هِلَالِ شَوَّالٍ سَنَةَ سَبْعٍ وَّ ثَلَاثِيْنَ وَ سَبْعِمِائَةٍ بِحَمْدِاللّٰهِ وَحُسْنِ تَوْفِيْقِهٖ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ

د مشكوة المصابيح مؤلف :

ژباړه : قبوله دې كړې خداى جل جلاله سعيه دده او پوره دې كړې ور باندې نعمت خپل چې راغلى فراغت د جمع كولو د نبوي حديثو په آخر د ورځې د جمعې د روژې مياشت په وخت د لېدلو د مياشتې د شوال په كال اووه سوه اوو دېرش (۷۳۷) كې، په حمد د خداى جل جلاله سره او په نېک توفيق دده سره او ثناء ده خداى جل جلاله لره چې رب د عالمينو دى او درود او سلام دې وي پر رسول د خداى جل جلاله محمد ﷺ باندې او پر آل او اصحابو دده ټولو باندې .

د مظاهر حق مؤلف نواب قطب الدين دهلوي رحمة الله عليه وايي :

ژباړه: په كرم او عنايت د پروردگار متعال سرته ورسېدل، اې زما پروردگاره! ستا د رحمت

خطیئه دی چې د هغه معنی دګناه ده یا د یوه قول مطابق هغه ګناه چې په غیر ارادي توګه وسي
او که د خطا لفظ د خاء په زبر او د طاء په جزم سره وي نو ددې معنی هم دګناه ده ځینو حضراتو
لیکلي دي چې د خطاء لفظ د هغه ګناه لپاره استعمالیږي چې په ارادې توګه یعني قصد یې
کړې وي او کومه ګناه چې په غیر ارادي توګه یعني بېله قصده سوې وي د هغه لپاره د اخطاط
لفظ استعمالیږي همدا رنګه مخطي هغه سړي ته ویل کیږي چې ارادتا خو صحیح عمل کوي
مګر په غیر صحیح عمل کي اخته سي، دغه سړي خطاء وکړه یا ددغه سړي څخه خطا وسول، دا
خبره دهغه سړي په باره کي ویل کیږي چې هغه قصدا او په ارادې سره خو یو صحیح عمل کړی
وي مګر ناڅاپه د هغه څخه هغه عمل واقع سو چې غیر صحیح وو، دمثال په توګه یو سړي د
ښکار په نښه کولو سره ټوپک وچلوی مګر د ټوپک مرمی ناڅاپه پر یو انسان ولګېدل او
همدارنګه هغه د انسان د قتل خطاء مرتکب سو یا دا چې د مثال په توګه یو سړی روژاتي وي،
په خوله کي داوبو لغړولو لپاره هغه په قصد سره په خوله کي اوبه واچولې او هغه اوبه یې
ناڅاپه حلق ته ولاړې نو په دغه حدیث کي دخطا همدغه معنی مراد ده.

نسیان په خپل مفهوم کي د حفظ ضد دی چې معنی یې د هېرېدو ده، سهو لفظ هم د نسیان
په معنی کي راځي لکه چې ویل کیږي فلاني سړی په کار کي سهوه وکړه یعني هغه په کار کي
خطا وتی او دهغه څخه غافل سو، د هغه فکر په بل کار کي وو، ددغه لفظي وضاحتونو
وروسته اوس پوه سئ چې په حدیث کي دا فرمایل سوي دي چې الله ﷻ ددغه امت خطا او
نسیان معاف کړي دي، نو ددې مطلب دادی که دخطا او نسیان په توګه یو غیر صحیح، ناروا
کار وسي نو پر هغه ګناه نه وي، ددغه فعل کونکی به ګناه کار نه وي، دا مطلب نه دی چې د
خطا او نسیان په توګه کېدونکي هر کار په دنیاوي توګه د شرعي قانون په ګرفت کي نه راځي
نو پر خپل قتل خطا باندي دیت او کفاره واجب کېدل ثابت دي همدارنګه که د یو داسي شي د
خطا ارتکاب وسي چې په هغه سره روژه ماتیږي نو دهغه روژې قضاء واجبیږي، مګر د نسیان
په صورت کي د روژې قضاء نه واجبیږي ځکه چې خپله الله ﷻ په دې رعایت ورکړی دی لکه
چې په یو حدیث کي راغلي دي: که په روژه کي په هېره سره یو شی وخوړل سي او یا وڅښل
سي نو په هغه سره روژه نه ماتیږي، تاسو خپله هغه روژه پوره کړئ ځکه چې ستاسو هغه خوراک
او څښاک د الله ﷻ له خوا وي، او که په لمانځه کي نسیان او سهوه واقع سي نو پر هغه سجده
سهوه واجبیږي، همدارنګه که یو سړی د چا مال په سهوه تلف کړي نو پر هغه باندي تاوان واجبیږي.

او د هغه ګناه څخه یې هم معافي ورکړه...: په دغه جمله کي د (وما استکرهوا علیه) لفظ

د مجهول په صيغه سره دى يعني هغه گناه چي په زوره سوې وي، مطلب دا چي که چيري يو سړى پر داسي کار باندي مجبور کړل سي چي هغه يې د گناه کېدو په وجه قطعي نه خوښوي او د هغه په کولو کي د هغه خپل قصد او ارادې ته دخل نه وي نو هغه سړى به گناه کار نه وي، که څه هم د هغه د مجبوره کېدو لپاره د وژني يا سختو وهلو اختار ورکړل سوى وي بيا هم په زور باندي کړي گناهونو او جرمونو په اړه د حق الله او حق العباد په تعلق سره د شرعي احکامو او قوانينو جلا جلا نوعيتونه او شقونه دي چي د هغه تفصيل د اصولو په کتابو کي مذکور دى.

ددې امت انتهائي فضيلت

﴿۶۰۳۵﴾: وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ

حضرت بهز بن حکيم رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي هغه د رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ، قَالَ أَنْتُمْ

الله ﷺ څخه د خداى تعالى ددې ارشاد: (کنتم خير امة اخرجت للناس)، (تاسو غوره امت ياست چي د خلکو لپاره ظاهر کړل سوي ياست) په اړه دا اوريدلي دي چي تاسو به

تَتِمُّونَ سَبْعِينَ أُمَّةً أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللَّهِ تعالى. رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن.

اويا امتونه پوره کوئ، تاسو د الله جل جلاله په نظر کي تر ټولو امتونو غوره او د قدر وړ ياست. ، ترمذي، ابن ماجه، او دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۲۱۱، رقم: ۳۰۰۱، وابن ماجه ۲\ ۱۴۳۳، رقم: ۴۲۸۸، والدارمي ۲\ ۴۰۴، رقم: ۲۷۶۰.

تشريح كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ.... الخ: ددې معنى داده چي تاسو په ټولو امتونو کي غوره امت ياست چي د خلکو د هدايت او خير لپاره پيدا کړل سوي ياست، نو د کنتم څخه مراد دادى چي د خپل دغه خصوصيت او وصف سره تاسو د اولي ورځي څخه د الله جل جلاله په علم او اراده کي واست چي د هغه ظهور په دنيا کي اوس زما وروسته سوى دى يا دا چي په لوح محفوظ کي د غه وصف او خصوصيت سره ستاسو ذکر په اوله ورځ راغلى يا دا چي د تيرو امتونو په منځ کي ستاسو ذکر په دغه وصف او خصوصيت سره يعني د خير امت په حيثيت سره وو.

په هر حال په خير امت کي د دغه امت څخه مراد د دغه امت ټول مؤمنان دي که هغوى د

هم ويل كيږي چي هغه انيس دادى چي رسول الله ﷺ ورته فرمايلي وه: اغديا انيس الى امراة هذه ... الخ، يعني اې انيس! سبا هغه ښځي ته په ورتلو سره پوښتنه وكړه، كه هغې د زنا اقرار وكړ نو هغه رجم كړه، يو قول دادى چي دا بل انيس وو، والله اعلم، په ۲۰ م هجري كال كي وفات سو او هغه ته، د هغه پلار ته، نيكه ته او وروړ ته د رسول الله ﷺ صحبت تر لاسه سوى دى، د هغه څخه سهل بن حنظله او حكم بن مسعود روايت كړى دى، په كناز كي كاف مفتوح دى او نون مشدد او زائي معجمه ده.

۵. **اسيد بن حضير** رضي الله عنه: دغه اسيد بن حضير انصاري دى او د اوس قبيلې څخه دى، د هغه اصحابو څخه دى چي د عقبه ثانيه په وخت كي حاضر وو، او د عقبه په شپه ده د رسول الله ﷺ احكام خلكو ته رسول، او د دواړو عقبه درمياني فاصله يو كال وه، په بدر كي او د هغه وروسته په نورو غزاوو كي هم حاضر وو، دده څخه د صحابه كرامو يوه ډله روايت كوي، په مدينه منوره كي په ۲۰ م هجري كال وفات سو او په بقيع كي دفن سو. رضي الله عنه.

۶. **ابواسيد** رضي الله عنه: دغه ابواسيد د مالک بن ربيعه انصاري ساعدي زوى دى، په ټولو غزاوو كي شامل وو، دى په خپل كنيت سره زيات مشهور دى، دده څخه ډېر خلک روايت كوي، په ۲۰ هجري كال كي وفات سو چي عمر يې اته اويا كاله وو او ړوند سوى وو، د بدر په صحابه كرامو كي تر ټولو آخر وفات سو، په اسيد كي همزه مضموم او سين مهمله مفتوح او ياء ساكنه ده.

۷. **اسلم** رضي الله عنه: دغه اسلم دى چي كنيت يې ابورافع دى، د رسول الله ﷺ ازاد سوى غلام وو، د نوموړي يادونه به د راء په حرف كي راسي.

۸. **اشعث بن قيس** رضي الله عنه: دغه اشعث د قيس بن معدي كرب زوى دى، دده كنيت ابومحمد كندي دى، كله چي رسول الله ﷺ ته د كنده قبيلې وفد راغلى نو دهغه وفد سره د مشر په حيثيت راغلى وو، دا د لسم هجري كال پېښه ده، نوموړى د اسلام څخه مخكي دخپلي قبيلې يو عزتمند او ممتاز سړى وو، په اسلام كي هم ډېر ستر سړى وو، كله چي رسول الله ﷺ وفات سو نو دى د اسلام څخه ګرځېدلى وو او بيا د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په زمانه كي په اسلام مشرف سو او په كوفه كي په ۴۰ هجري كال وفات سو، حضرت حسن بن علي رضي الله عنه د هغه د جنازې لمونځ وركړ او يوه ډله د حديثو روايت ځيني كوي.

۹. **اشـــج**: دده نوم منذر دى، د العائذ العصري العبدي زوى دى، دخپل قوم سردار او د هغوى اسلام ته راوستونكي دى، په وفد عبدالقيس كي په شاملېدو سره د رسول الله ﷺ

په خدمت کي حاضر سو ، د مديني د صحرايانو څخه شمېرل کيږي دده څخه يوه ډله روايت کوي، د نوموړي يادونه په باب الحذر والتاني کي سوې ده ، په العصري کي عين مفتوح او صاد مهمله مفتوح او راء مهمله ده .

۱۰. **اشيم الضبابي** : د اشيم الضبابي يادونه د باب الفرائض په حديث ضحاک کي ده .

۱۱. **الاسود بن كعب العنسي** : دغه اسود بن كعب دى، نوم يې عبهله عنسي دى او دا هغه سړى دى چي د رسول الله ﷺ په اخري زمانه کي يې په يمن کي دنبوت دعوه کړې وه او د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک کي قتل کړل سو ، دى، فيروز ديلمي او قيس بن يعوث يو ځاى قتل کړل ، فيروز د هغه پر سينه کښېنستى چي حرکت ونه کړل سي او قيس قتل کړ او سر يې ور پرې کړ، دده يادونه باب رؤيا کي سوې ده، په عنسى کي عين مهمله مفتوح او نون ساکن او سين مهمله دى او په عبهله کي عين مهمله مفتوح دى او باء مؤحده ساکن او باء مفتوح او لام ده .

۱۲. **ابراهيم بن النبي** ﷺ: دا هغه ابراهيم دى چي دنبي کريم ﷺ زوى وو ، د ماريه قبطي له نس چي د رسول الله ﷺ مينزه وه، په مدينه کي په اتم هجري کال د ذي الحجه په مياشت کي پيدا سو او شپاړلسو مياشتو په عمر وفات سو ، او د يوه قول مطابق تر اتلس مياشتو پوري ژوندي وو ، په بقيع کي دفن سو .

۱۳. **الاغر المازني**: دا اغر دى د مزنى زوى، صحابي دي او د اهل کوفې څخه شمېرل کيږي، ابن عمر او معاويه بن قره دده څخه روايت کړى دى، په اغر کي همزه مفتوح او غين معجمه مفتوح او راء مشدد ده.

۱۴. **ابيـــض** : د حمال زوى دى ، د قوم سبا د ښار مارب څخه د رسول الله ﷺ په خدمت کي د يو وفدٔ سره حاضر سو او په صحبت مشرف سو ، په يمن کي اوسېدى، دده څخه کم حديثونه روايت دى، په حمال کي حاء مفتوح او ميم مشدد دى، مارب پر ميم باندي مفتوح دى او همزه ساکن او راء مکسور ده، آخري حرف د بأء دى ، مارب د يو ښار نوم دى چي په يمن کي صنعاء ته نژدې واقع دى، په السبائي کي سين مهمله مفتوح او باء موحده باندي فتحه او همزه .

۱۵. **الاقرع بن حابس**: دغه اقرع بن حابس تميمي دى ، د بني تميم د وفد سره د مکې د فتح څخه وروسته د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او د مؤلفة القلوب څخه دى، نوموړى د اسلام څخه مخکي په دواړو زمانو کي معزز وو ، دى عبدالله بن عامر پر هغه

۳۸. **امیه بن عبدالله** : امیه د عبد الله بن خالد بن اسید مکي زوی دی، د ابن عمرو رضي الله عنه څخه یې روایت کړی دی او دده څخه زهري او نور ثقه وه ، دخراسان والي وو او په ۸۰م هجري کال کي وفات سو .

۳۹. **اسلم** : اسلم د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه ازاد سوی غلام وو، دده کنیت ابوخالد وو، ویل کیږي چي دی حبشي وو ، حضرت عمر رضي الله عنه په ۱۱ هـ کال کي رانیولی وو ، د حضرت عمر رضي الله عنه یې څخه حدیثونه واورېدل، دده څخه زید بن اسلم او نورو روایت کړی دی ، دمروان د خلافت په زمانه کي د ۱۱۴ کالو په عمر وفات سو .

۴۰. **ارزق بن قیس** : ارزق د قیس حارثي زوی او تابعي دی، د خپل پلار څخه او ابن عمر رضي الله عنه څخه او انس بن مالک رضي الله عنه څخه یې حدیثونه واورېدل ، دده څخه ډېرو خلګو روایت کړی دی.

۴۱. **الاعمش** : د اعمش نوم سلیمان بن مهران کاهلي اسدي دی، دبني کاهل ازاد سوی غلام وو ، د بني کاهل یوه شعبه دبني اسد خزیمه وه ، نوموړی په ۶۰م هجري کال کي پیدا سو او دهغه ځایه کوفې ته راوړل سو ، نو دبني کاهل یو سړی رانیوی او ازاد یې کړ، د سترو عالمانو او د قرائت د مشهورو بزرګانو څخه دی، پر ده د اکثرو کوفیانو د روایاتو مدار دی ، دده څخه ډېرو کسانو روایت کړی دی، په ۱۴۸ هـ کال کي وفات سو .

۴۲. **الاعرج**: نوم یې عبد الرحمن بن هرمز مدني دی، دبني هاشم ازاد سوی غلام وو، په تابعینو کي مشهور او بزرګ وو ، د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت کوي او دی پکښې مشهور وو ، دده څخه زهري روایت کړی دی، په ۱۱۰م هجري کال کي په اسکندریه کي وفات سو .

۴۳. **الاسود** : اسود بن هلال محاربي دی، د عمرو بن معاذ او ابن مسعود رضي الله عنهما څخه یې روایت کوی ، او دده څخه ډېرو خلګو روایت کړی دی . په ۸۴م هجري کال کي وفات سو .

۴۴. **ابراهیم بن میسره** : ابراهیم بن میسره طائفي دی، په تابعینو کي شمېرل کیږي، ددغه حدیثونه په اهل مکه کي مشهور دی، باوري وو او صحیح حدیثونه یې بیانول .

۴۵. **ابراهیم بن عبدالرحمن** : دغه ابراهیم د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه زوی دی، دده کنیت ابو اسحاق زهري قرشي دی، د حضرت عمر رضي الله عنه په خدمت کي په کوچنیوالي راوستل سو ، د خپل پلار او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه یې حدیثونه واورېدل ، دده څخه دده زوی سعد او زهري روایت کوي، په ۹۶م هجري کال کي وفات سو ، عمر یې ۷۵ کاله وو .

۴۶. **ابراهیم بن اسماعیل** : دغه ابراهیم د اسماعیل اشهلي زوی دی، دموسی بن عقبه او ډېرو خلګو څخه یې روایت کړی دی او دده څخه قعنبي او ډېر خلګ روایت کوي،

نو مو ړی ډېر روژې نیونکی او ډېر نفل کوونکی وو، ده ته دارقطني او نورو متروک ویلي دي، په ۱۶۵ هجري کال کي وفات سو.

۴۷. **ابراهیم بن الفضل**: دغه ابراهیم د فضل مخزومي زوی دی، د مقبري او نورو څخه روایت کوي او ده څخه وکیع او ابن نمیر او نورو روایت کړی دی، په محدثینو کي دی ضعیف ګرځول سوی دی.

۴۸. **اسحاق بن عبدالله**: دغه اسحاق بن عبدالله انصاري دی، دمدینې په تابعینو کي د باوري بزرګانو څخه دی، واقدي وایي چي امام مالک په حدیث کي ده څخه لویه درجه بل چا ته نه ورکول، ده د انس بن مالک او ابومرثد او نورو څخه حدیثونه واورېدل او ده څخه یحیی بن ابي کثیر، مالک او همام او ده یادونه په باب الانفاق کي سوې ده، په ۳۲ م هجري کال کي وفات سو.

۴۹. **اسحاق بن راهویه**: دغه ابویعقوب اسحاق بن ابراهیم التیمي دی، په ابن راهویه سره شهرت لري، لوړ عالم او په ارکان مسلمین کي شمېرل کېدی، ده ذات د حدیث، فقه او اتقان او صدق جامع وو، د علم په طلب کي د خراسان، عراق، حجاز، یمن او د شام په ښارو کي ګرځېدلی دی، بیا نیشاپور یې خپل وطن جوړ کړ، تر دې چي هلته په ۲۳۸ هجري کال کي د ۷۴ کالو په عمر وفات سو، د فضائلو احاطه یې نه سي کیدای، سفیان بن عینیه او وکیع په ډول لوی لوی امامانو څخه یې حدیثونه واورېدل، ده څخه بخاري او مسلم او ترمذي او ډېر نور امامان روایت کوي.

۵۰. **ابواسحاق السبیعي**: دغه ابواسحاق عمرو بن عبدالله سبعي همداني کوفي دی، ده د حضرت علي او ابن عباس رضی الله عنهما او نورو صحابه کرامو زیارت کړی دی، د براء بن عازب او زید بن ارقم څخه یې روایتونه اورېدلي دي او ده څخه اعمش، شعبه او ثوري روایت نقل کړي دي، نوموړی یو مشهور او کثیر الروایت تابعي وو، ده زېږېدنه د خلافت عثمان دوه کاله تېرېدو وروسته وسول او په ۱۲۹ هجري کال کي وفات سو، په سبعي کي سین مهمله مفتوح او باء موحده مکسور او عین مهمله دی.

۵۱. **ابواسحاق بن موسی**: دغه ابواسحاق د موسی انصاري زوی او دمدینې اوسېدونکی وو، مګر په کوفه کي مقیم سوی وو، بغداد ته تللی وو او هلته یې د سفیان بن عینیه او نورو څخه حدیثونه بیان کړل، د خپل پلار موسی څخه روایت کوي او ده څخه مسلم، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او نورو هم روایت کړی دی، ستر باوري منل کېدی په ۲۴۴

۲۸. **ابوامامه انصاري** : دغه ابو امامه سعد دی د سهل بن حنیف انصاري اوسي زوی دی، په خپل کنیت سره زیات مشهور دی ، د رسول الله ﷺ د وفات څخه دوه کاله مخکي پیدا سو ، ویل کیږي چي رسول الله ﷺ دده نوم دده د نیکه ، سعد بن زراره په نامه او دده کنیت د هغه په کنیت تجویز کړی وو ، ده د کم عمرۍ په وجه د رسول الله ﷺ څخه هیڅ نه اوریدلای سول ځکه ځینو دده یادونه د صحابه کرامو څخه په وروسته خلګو کي کړې ده او ابن عبدالبر د صحابه کرامو څخه د ثابتولو لپاره فرمایلي دي چي دی په مدینه کي د لویو تابعینو څخه د لویو علماؤ څخه دی ، د خپل پلار او ابوسعید او نورو څخه یې حدیثونه واوریدل او ډېر خلګو ور څخه روایت کړی دی ، په ۱۰۰ م هجري کال کي وفات سو او عمر یې ۹۲ کاله وو.

۲۹. **ابوایوب انصاري** : دغه ابوایوب خالد بن زید انصاري خزرجي دی او دی د حضرت علي رضی الله عنه سره په ټولو جګړو کي شریک وو او د افواجو د محافظت کولو سره په قسطنطنیه کي په ۵۱ م هجري کال وفات سو ، او دی هغه وخت د یزید بن معاویه سره وو ، کله چي د هغه پلار حضرت معاویه په قسطنطنیه کي جهاد کوی نو د هغوی سره ووتی او ناروغ سو ، بیا کله چي د هغه ناروغي زیاته سول نو خپلو ملګرو ته یې وصیت وکړ چي کله زه وفات سم نو زما جنازه پورته کړئ ، بیا کله چي تاسو دد ښمن مخته ودرېږئ نو ما د خپلو قدمونو لاندي دفن کړئ نو خلګو همداسي وکړل قبر یې د قسطنطنیه د چاردیوارۍ نژدې دی چي تر ننه پوري مشهور دی چي تعظیم یې کیږي او دهغه په وسیله سره ناروغان شفاء غواړي نو شفاء تر لاسه کوي ، یوه ډله ور څخه روایت کوي، په قسطنطنیه کي قاف مضموم او سین ساکن او لومړی طاء مضموم او دوهمه طاء مکسوره ده او دهغه وروسته یاء ساکنه ده ، نووي رحمة الله علیه وایي: دغه حروف مو ږ داسي منضبط کړل او دا مشهور دی ، قاضي عیاض په مغربي مشارقو کي د ډېرو خلګو څخه نقل کړي دي چي په دغه لفظ کي د نون څخه وروسته یاء مشدده هم ده .

۳۰. **ابوامية المخزومي** : دغه ابو امیه مخزومي صحابي دی دده شمېر د اهل حجاز څخه دی. دده څخه ابو منذر روایت کوي .

۳۱. **امیه بن مخشي** : دغه امیه بن مخشي خزاعي ازدي دی دده شمېر د اهل بصره څخه دی ، د خوراک په اړه دده څخه حدیث روایت دی ، دده وراره مثنی بن عبدالرحمن دده څخه روایت کوي ، په مخشي کي میم مفتوح او خاء ساکنه او شین مکسور او یاء مشدده ده .

۳۲. **امیه بن صفوان** : دغه امیه بن صفوان دی چي دامیه بن خلف جهمي زوی دی ، دی د خپل پلار صفوان څخه روایت کوي او د خپل ورارہ عمر او نورو څخه یې د عاریت په اړه روایت کړی دی .

۳۳. **ابواسرائیل** : دغه ابواسرائیل د صحابوو څخه یو سړی وو هغه دا نذر منلی وو چي د چا سره به خبري نه کوي او په روژه کي به په لمر کي ولاړ وو او پر ځان به یې سایه نه کول، نو نبي کریم ﷺ هغه ته حکم وکړ چي کښیني دي هم او په سایه کي دي هم اوسي او خبري دي هم کوي ، دده حدیث ابن عباس او جابر بن عبدالله سره دي .

۳۴. **ابي اللحم خلف بن عبدالملک**: دغه خلف بن عبدالملک الغفاري دی، د آبی اللحم په نامه مشهور دی، ویل کیږي چي دده نوم عبدالله دی او په یوه قول کي حویرث دی . (د آبي اللحم معنی د غوښو څخه دانکار کوونکي ده) او د آبي اللحم په لقب سره ځکه مشهور سو چي غوښه یې بالکل نه خوړل کوم چي د بتانو په نامه به ذبح کړل سوې وه ، د حنین په ورځ شهید سو د هغه ازاد سوی غلام غمیر د هغه څخه روایت کوي، په آبی کي پر همزه باندي زور او مد دی او باء موحده مکسور او یاء ساکن ده .

تابعین رحمهم الله .

۳۵. **اویس القرني** رحمه الله : دغه اویس عامر دی، دده کنیت ابوعمرو دی د قرن اوسېدونکی وو ، د رسول الله ﷺ زمانه یې تر لاسه کړې وه مګر رسول الله ﷺ یې و نه لیدی . د هغه دمقبول کېدو زیری ورکړل سو ، هغه حضرت عمر رضی الله عنه او نور صحابه کرام هم ولیدل . په زهد او دخلګو څخه په بېلوالي کي مشهور وو . د صفین په جګړه کي په ۳۷ هجري کال کي ورک (یا شهید) سو .

۳۶. **ابـــــان** : ابان بن عثمان بن عفان قرشي د اهل مدینه د محدثینو څخه دی، تابعی دی د خپل پلار عثمان او نورو صحابه کرامو څخه یې روایت کوی او دهغوی روایات ډېر دي. دده څخه زهري روایت کړی دی . د یزید بن عبدالملک په زمانه کي په مدینه کي وفات سو . په ابان کي همزه مفتوح ده او پر باء باندي تشدید نسته .

۳۷. **ایوب بن موسی**: ایوب بن موسی د عمرو بن سعید بن العاص اموي زوی دی. چي د عطاء، مکحول او د هغه هم مرتبه محدثینو څخه یې روایت کړی دی او د هغه څخه شعبه او نورو روایت کړی دی . نو موړی لوی فقیه وو او په ۱۲۳ هجري کال کي وفات سو .

لښکر حاکم ګرځولي وو کوم چي خراسان ته استول سوی وو او دی سره د خپل لښکر په جوزجان کي په تکلیفو اخته سوی وو، دده څخه جابر رضی اللہ عنہ او ابوهریره رضی اللہ عنہ روایت کړی دی.

۱۶. **ابوالازهر**: دغه ابوالازهر انماري دی د رسول الله ﷺ په صحبت مشرف سو ، دده څخه خالد بن معدان او ربیعه بن یزید روایت کړی دی ، نوموړی د شام اوسېدونکی وو .

۱۷. **اکیدر دومة**: دی داکېدر عبدالملک زوی دی او صاحب دومة الجندل سره مشهور دی، ده ته نبي کریم ﷺ په نامه لیک لیږلی وو او ده د رسول الله ﷺ په خدمت کي تحفه راولېږل ، دده یادونه په باب الجذیه کي ده، اکیدر د اکدر تصغیر دی او په دومة کي پر دال مهمله باندي ضمه او فتحه دواړه صحیح دي، دومه دشام او حجاز په منځ کي د یو ځای نوم دی.

۱۸. **اوس بن اوس**: اوس بن اوس ثقفي دی او یو قول دی چي اوس بن اوس، نوموړی د عمرو بن اوس پلار دی دده څخه ابوالاشعث سمعاني او دهغه زوی عمرو او نور روایت کوي.

۱۹. **ایاس بن بکیر**: دغه ایاس بن بکیر لیثي دی، د بدر په غزا کي او نورو غزاوو کي حاضر وو ، نوموړي په دارارقم کي اسلام راوړی وو ، په ۳۴م هجري کال کي وفات سو .

۲۰. **ایاس بن عبدالله**: دغه ایاس بن عبدالله دوسي مدني دی، دده په صحابي کېدو کي اختلاف دی، امام بخاري رحمۃ اللہ علیہ وایي دده مشرف الصحبت کېدل ثابت نه سول، دده څخه بنځو د وهلو په اړه یو ازي یو حدیث روایت سوی دی ، دده څخه عبدالله بن عمر روایت کوي.

۲۱. **اسامه بن زید** رضی اللہ عنہ: دغه اسامه دی د زید بن حارثه قضاعي زوی، دده مور ام ایمن رضی اللہ عنہا وه. د هغې نوم برکة وو او هغې رسول الله ﷺ په غېږ کي پاللی وو او دا د رسول الله ﷺ د پلار محترم عبدالله بن عبدالمطلب مینزه وه او اسامه رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ د غلام (حضرت زید رضی اللہ عنہ) زوی وو او د رسول الله ﷺ محبوب او د محبوب زوی وو ، کله چي رسول الله ﷺ وفات سو نو د اسامه عمر شل کاله وو، او ځیني اقوال ددې خلاف هم دي، نوموړی په وادي القری کي اوسېدی او هغه د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د شهادت څخه وروسته وفات سو او یوقول دادی چي په ۵۴ هجري کال کي وفات سو ، ابن عبدالبر وایي زما په نزد دا صحیح دی، دده څخه یوې ډلې روایت کړی دی .

۲۲. **اسامه بن شریک** : دغه اسامه بن شریک دیناني ثعلبي دی ، په اهل کوفه کي دده احادیث زیات خپاره سول او په کوفیانو کي شمېرل کیږي، دده څخه زیاد بن علاقه او نورو روایت کړی دی .

۲۳.**ابی بن کعب** رضی اللہ عنہ: دغه ابی د کعب اکبر انصاري خزرجي زوی دی، دی د رسول الله ﷺ د وحي کاتب وو او د هغه شپږو صحابه کرامو څخه وو چي هغوی د رسول الله ﷺ په زمانه کي ټول قرآن کریم یاد کړی وو او د هغه فقهاوو څخه دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي یې فتوا ورکول، او په اصحابو کي د کتاب الله لوی قاري منل کېدی، دی رسول الله ﷺ د ابو منذر په کنیت سره او حضرت عمر رضی اللہ عنہ د ابو الطفیل په خطاب سره ورته ویلي وه، او رسول الله ﷺ ورته د سیدالانصار خطاب ورکړی وو، او حضرت عمر رضی اللہ عنہ ورته د سیدالمرسلین خطاب ورکړی وو، په مدینه منوره کي په نهم هجري کال وفات سو ، ډېرو کسانو ور څخه روایتونه کړي دي .

۲۴.**افـــلـــح** : دغه افلح د رسول الله ﷺ غلام وو او دا هم ویل سوي دي چي د ام سلمه غلام دی، دده څخه حبیب مکي روایت کړی دی .

۲۵.**ایقع بن ناکور** : دغه ایقع بن ناکور د یمن اوسېدونکی وو ، د ذي الکلاع په نامه مشهور دی، د خپل قوم مشر وو چي د هغه اطاعت او پیروي کېدل، ده اسلام قبول کړی وو ، نبي کریم ﷺ د اسود عنسي د مقابلې او دهغه د قتل دپاره د اسلام د مرستي په اړه ورته لیک استولی وو ، د صفین په جګړه کي په ۳۷م هجري کال د امیر معاویه د اشتر نحعي په لاس ووژل سو .

۲۶.**انجشه** : دغه انجشه یو تور رنګه غلام وو، حدي خوان وو د رسول الله ﷺ اوښان به یې د نظم په ذریعه په ښه او از سره شړل ، دده څخه ابو طلحه او انس بن مالک روایت کړی دی او هغه دی چي رسول الله ﷺ ورته فرمایلي وه: ویدک یا انجشة رفقا بالقواریر ، اې انجشه! کراره کرار یې بیایه، ددغه نازکو شېشو یعني د ښځو رعایت کوه، داسي نه چي ماتي سي ، په انجشه کي همزه مفتوح ده او نون ساکن او میم مفتون او شین معجمه .

۲۷.**ابوامامه الباهلي** : دغه ابو امامه دی چي نوم یې صدی دی د عجلان باهلي زوی دی، په مصر کي اوسېدی او بیا حمص ته منتقل سوی وو او هلته وفات سو ، د هغه اصحابو څخه دی چي زیات روایتونه ور څخه کیږي، داهل شام په نزد دده راویان زیات دي ډېرو خلګو ور څخه روایتونه کړي دي، په ۸۶ م هجري کال کي د ۹۱ کالو په عمر وفات سو ، او تر ټولو آخري صحابي وو چي په شام کي وفات سو ، یو قول دا دی چي په شام کي تر ټولو وروسته عبدالله بن بشر وفات سو ، په صدی کي پر صاد باندي فتحه او دال مهمله مفتوح او یا مشدده ده .

هجري کال کي وفات سو .

۵۲. **ابوابراهيم الاشهلي** : دغه ابوابراهيم اشهلي انصاري دی دده دومره حال معلوم سوی دی چي د خپل پلار څخه يې حديثونه اورېدلي دي او دده څخه يحيی بن ابي کثير روايت وکړ، دغه بيان په کتاب الکنی کي امام مسلم کړی دی، ترمذي وايي ما دمحمد بن اسماعيل څخه دده د پلار ابراهيم په اړه پوښتنه وکړل چي صحابي وو نو معلومه سول چي هغه ته نه وو معلوم .

۵۳. **ابواسرائيل**: دغه ابواسرائيل اسماعيل دی د خليفه الملائي زوی دی، د حکم او نورو څخه روايت کوي او دده څخه ابونعيم او اسيد بن حمال او نورو روايت کړی دی ، ضعيف راوي دي او په ۱۶۹ هجري کال کي وفات سو .

۵۴. **ابوايوب المراغي** : دغه ابوايوب مراغي عنکي دی، د جويره او ابوهريره رضي الله عنهما څخه روايت کوي او دده څخه قتاده روايت کړی دی او دی معمر او باوري راوي وو .

۵۵. **ابوالاحوص**: دده نوم عوف دی د مالک بن فضله زوی دی، ده د خپل پلار څخه او ابن مسعود او ابوموسی څخه حديثونه واورېدل او دده څخه حسن بصري او ابواسحاق او عطاء بن السامي روايات کړي دي .

۵۶. **احـــوص**: دغه احوص بن جواب دی، دده کنيت جواب ضبي دی ، داهل کوفه څخه دی ، دده څخه علي بن مديني روايت کړی دی په ۲۳۱ هجري کال کي وفات سو . او په جواب کي جيم مفتوح او واو مشدد او ياء موحده ده .

۵۷. **ابوالاحوص** : دغه ابوالاحوص سلام دی، دسليم زوی ، د حديثو حافظ دی، آدم بن علي او زياد بن علاقه څخه روايت کوي، او دده څخه مسدد او هناد روايات کړي دي، او ده تقريبا څلور زره حديثونه روايت کړي دي ده ته ابومعين باوري او معتبر ويلي دي، په ۱۷۹ هجري کال کي وفات سو .

۵۸. **ابی بن خلف** : ابی بن خلف او دده ورور اميه د ابي خلف زامن وه، خلف د وهب زوی وو او اميه د ابي ورور وو، ابی ډېر خبيث مشرک وو، د احد د غزا په ورځ رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک سره قتل کړی وو او اميه د شرک په حالت کي د بدر په ورځ ووژل سو .

صحابي ښځي

۵۹. **اسماء بنت ابي بكر** ﷞: دغه اسماء د حضرت ابوبكرصديق ﷛ لور ده او دې ته ذات النطاقين ويل كيږي ځكه چي دې د رسول الله ﷺ د هجرت په شپه د خپل كمربند په څيرلو سره دوې ټوټې كړې وو، د هغه په يوه ټوټه كي يې د خوراك يې لوښي وتړې او د وهمه ټوټه يې پر ژي وتړل او يا يې هغه خپله كمر بند ګرځولى وو، نوموړې د حضرت عبدالله بن زبير ﷛ مور ده، په مكه كي يې اسلام راوړى وو، ويل كيږي چي تر هغه وخته يوازي اووه لس كسانو اسلام قبول كړى وو، دا د خپلي خور عائشې ﷞ څخه لس كاله مشره وه، كله چي ددې د زوى عبدالله بن زبير ﷛ مړى د دار څخه راكښته سو او دفن كړل سو نو د هغه څخه لس ورځي وروسته د سلو كالو په عمر په مكه كي وفات سول او هغه وخت ۷۳م هجري كال وو، ددې څخه ډېرو خلګو حديثونه روايت كړي دي.

۶۰. **اسماء بنت عميس**﷞: دغه اسماء بنت عميس ده، نوموړې د خپل خاوند حضرت جعفر بن ابي طالب سره حبشې ته هجرت وكړ او هلته يې محمد يا عبدالله او عون پيدا سول، بيا يې مدينې ته هجرت وكړ، كله چي حضرت جعفر ﷛ شهيد سو نو د ابوبكر صديق ﷛ سره يې نكاح وكړل او محمد ځيني پيدا سو، بيا كله چي حضرت ابوبكر صديق ﷛ وفات سو نو حضرت علي بن ابي طالب ﷛ ورسره نكاح وكړل او يحيى ځيني پيدا سو، ددې څخه ډېرو سترو صحابه كرامو روايت كړى دى، په عميس كي عين مضموم او ميم مفتوح دى او باء ساكنه ده او سين مهمله دى.

۶۱. **انيسه بنت خبيب** : دغه انيسه انصاريه صحابيه ده، ددې شمېر د اهل بصره څخه كيږي، ددې څخه ددې خوريى خبيب بن عبدالرحمن روايت كړى دى، انيسه د تصغير صيغه ده همدارنګه خبيب.

۶۲. **اميمه بنت رقيقه** : رقيقه د خويلد لور او د بي بي خديجې ﷞ خور ده، ددې شمېر د اهل مدينې څخه كيږي، په رقيقه كي راء مضموم او دواړه قافونه مفتوح دي، او په منځ كي ياء ساكنه ده.

۶۳. **امامه بنت ابي العاص** : دغه امامه د ابو العاص بن ربيع لور ده او ددې مور زينب ده چي د رسول الله ﷺ لور وه، د بي بي فاطمې ﷞ خورزه وه، حضرت علي ﷛ ته يې ددې وصيت كړى وو، د امامه نكاح د حضرت علي ﷛ سره زبير بن العوام وكړل ځكه چي د هغه

يعني د امامه پلار هغه ته ددې وصيت کړی وو . په باب ما لايجوز من العمل في الصلوة کي په دې اړه يادونه راغلې ده .

ب - صحابه کرام ﷺ :

۶۴. **ابوبکر الصديق** ﷺ: نوم يې عبدالله او د عثمان ابوقحافه زوی دی، په قحافه کي پر قاف پېښ دی، ابوقحافه د عامر زوی وو او هغه د عمرو او هغه د کعب او هغه د تميم او هغه د مره، همدا رنګه په اووم نيکه باندې د هغه نسب د رسول الله ﷺ سره يو ځای کيږي، په حضرت عتيق سره ځکه نومول سوی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: من اراد ان ينظر الی عتيق من النار فلينظر الی ابي بکر. يعني څوک چي د داسي سړي ليدل غواړي چي د دوږخ له اور څخه ازاد او بې خطره سوی وي نو هغه دې ابوبکر ﷺ ته وګوري، د رسول الله ﷺ په هري غزا کي شريک وو او هيڅکله ور څخه بېل نه سو، نه د اسلام څخه مخکي او نه د اسلام څخه وروسته، په نارينوو کي تر ټولو مخکي په اسلام مشرف سوی دی، رنګ يې سپين وو، چاغ اندامونه يې وه، باړخوګان يې نري وه، پر مخ يې ډېره لږ غوښه وه، سترګي يې ددننه وې، تندی يې راپورته وو، د ګوتو بېخونه يې د غوښو څخه خالي وه، په نکريزو او وسمه يې وېښتان رنګول، هغه ته، مور او پلار ته يې، اولاد ته يې او لمسي ته يې د رسول الله ﷺ د ملګرتيا شرف حاصل سو، دومره لوی نعمت په ټولو صحابه کرامو کي بل هيچا ته حاصل نه سو، د فيل د پېښي څخه شلور مياشتي تيري سوي وې چي په مکه کي پيدا سو او په مدينه کي د سه شنبې په شپه د ماخستن او ماښام په منځ کي چي په جمادي الاخری کي اته ورځي پاته وې په ۱۳م هجري کال وفات سو، عمر يې ۶۳ کاله وو، دا وصيت يې کړی وو چي د نوموړي زوجه اسماء بن عميس دې غسل ورکړي ځکه نو هغې غسل ورکړ او عمر بن خطاب ﷺ د جنازې لمونځ ورکړ، د خلافت زمانه يې دوه کاله او شلور مياشتي وه، د صحابه کرامو او تابعينو ډېر کسان روايت ور څخه کوي، ډېر لږ حديثونه ور څخه روايت سوي دي ځکه چي در سول الله ﷺ وروسته تر لږ وخت پوري ژوندی وو او د امور خلافت د بوختيا په وجه وزګار نه وو.

۶۵. **ابوبکره** ﷺ: دغه ابوبکره نفيع بن حارث دی او دی د حارث بن کلده ثقفي غلام وو بيا هغه په خپلي کورنۍ کي شامل کړی وو، يعني زوی يې ګرځولی وو، د هغه تر نامه نفيع د هغه کنيت ابوبکره زيات مشهور سو، د هغه ددغه کنيت وجه دا بيانيږي چي د طائف په

ورځ ده د يوې رسۍ په مرسته په زړېدو سره را ټوپ کړي وه او د رسول الله ﷺ په خدمت کې په حاضرېدو سره يې اسلام قبول کړ، نو رسول الله ﷺ د ابوبکره په کنيت سره مخاطب کړ او ازاد يې کړ، ځکه د رسول الله ﷺ د موالي څخه دی يعني ازاد سوی غلام دی، په بصره کي په هستوګن کېدو سره هم هلته په ۴۹ م هجري کال کي وفات سو ، ډېر خلګ ور څخه روايت کوي ، په نفيع کي نون مضموم او فاء مفتوح او باء ساکنه ده .

۶۶. **ابوبرزه** : دغه ابوبرزه فضله بن عبيد اسلمي دی، د اسلام په پيل کي يې اسلام قبول کړ او دا هغه دی چي عبدالله بن خطل يې قتل کړی وو او د رسول الله ﷺ تر وفات پوري په ټولو غزاوو کي شريک وو ، بيا بصرې ته په تللو سره هلته هستوګن سو او بيا يې د خراسان غزا وکړل او په مرو کي په ۶۰ م هجري کال وفات سو .

۶۷. **ابوبرده** رضي الله عنه : دغه ابوبرده هاني بن نيار دی ، د اويا صحابه کرامو سره په عقبه ثانيه کي حاضر وو او تر دې وروسته په غزاوو کي يې هم ګډون کړی دی او نوموړی د براء بن عازب رضي الله عنه ماما دی ، دده اولاد نه کېدی ،د معاويه د خلافت په پيل کي په ټولو جګړو کي د حضرت علي رضي الله عنه په ملګرتيا کولو سره وفات سو ، ده د براء او جابر څخه روايت کړی دی، په هاني کي نون مکسور دی، ددې څخه وروسته همزه ده او په نيار کي نون مکسور او يا بېله تشديده ده او په آخر کي راء مهمله وه .

۶۸. **ابوبصر** : دغه ابوبصر عتبه بن اسيد ثقفي دی، د اسلام په پيل کي يې اسلام قبول کړی دی ، دده يادونه د حديبيه په غزا کي راځي، د رسول الله ﷺ په زمانه کي وفات سو ، په اسيد کي همزه مفتوح او سين مهمله مکسور دی او دده يادونه په حرف عين کي هم راتلونکې ده .

۶۹. **ابوبصره** : دلته پر باء زېر دی او صاد مهمله ساکن دی ، دی حميل بن بصره غفاري دی ، حميل د حمل تصغير دی .

۷۰. **ابوبشير** رضي الله عنه : دغه ابوبشير قيس دی، دعبيد انصاري مازني زوی ابن عبدالبر صاحب په استيعاب کي وايي: دده پر صحيح نامه باندي واقفيت ونه کړل سو او هيڅ يو باوري سړي دده نوم ونه ښودل سو ، او ابن منده په کتاب الکنی کي دده ذکر کړی دی مګر نوم يې نه دی ليکلی ، دده څخه ډېرو خلګو روايت کړی دی، د يوم حزه څخه وروسته وفات سو او اوږد عمر يې درلود .

۷۱. **ابوالبداح** : دغه ابوالبداح دی په نامه کي يې اختلاف دی ، ويل کيږي چي دده نوم عاصم

بن عدي دی او یو قول دادی چې دی د عام بن عدي زوی دی، دا یو لقب دی چې په هغه سره مشهور سو او دده کنیت عمر ابوعمر دی، دده په صحابي کېدو کي هم اختلاف دی ځینو ویلي دي چې ده ته د نبي کریم ﷺ صحبت حاصل سوی دی او ځینو ویلي دي چې نه دی حاصل سوی د مګر پلار ته يې حاصل سوی دی، د ابن عبد البر په نزد صحیح دادی چې صحابي وو، په بداح کي باء موحده مفتوح ده او دال مهمله مشدد او حاء مهمله ده، په ۱۱۷م هجري کال کي وفات سو، عمر ۸۴ کاله وو، د خپل پلار څخه روایت کوي او دده څخه ابوبکر بن عبد الرحمن.

۷۲. **البراء بن عازب** : دغه براء بن عازب ابوعماره انصاري حارثي دی، کوفې ته راغلی او په ۲۴ هجري کال کي يې فتح کړه، د جمل، صفین او نهروان په جګړو کي د حضرت علي رضی الله عنه سره وو او د مصعب بن زبیر په زمانه کي په کوفه کي وفات سو، دده څخه ډېر کسان روایت کوي، په عماره کي عین مهمله مضموم دی او پر میم باندي شد نسته.

۷۳. **بلال بن رباح** رضی الله عنه : دغه بلال بن رباح د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ازاد سوی غلام دی، د اسلام په پیل کي يې ایمان راوړ، دی اول سړی وو چې په مکه کي يې خپل اسلام ښکاره کړ، د بدر په غزا کي او د هغه څخه وروسته په نورو ټولو غزاوو کي يې ګډون کړی دی او تر پایه په شام کي اوسېدی، هیڅ اولاد يې ونه سو، دده څخه د صحابه کرامو او تابعینو ډېر کسان روایت کړی دی، عمر يې ۶۳ کاله وو، په ۲۰ هجري کال کي په دمشق کي وفات سو او په باب الصغیر کي دفن سو، یو قول دادی چې په حلب کي وفات سو او په باب الاربعین کي دفن سو، صاحب کشاف وایي چې اول قول صحیح دی او دی د هغه کسانو څخه وو چې د مکې اوسېدونکو د اسلام قبلولو په وجه سخت تکلیفونه ورکول او د بلال رضی الله عنه په تکلیف ورکولو کي خپله امیه بن خلف حجي برخه اخیستل او دا تقدیر الهي وو چې دغه ملعون د حضرت بلال رضی الله عنه په لاس د بدر په ورځ ووژل سو، جابر رضی الله عنه وایي چې حضرت عمر رضی الله عنه به ویل: ابوبکر رضی الله عنه زموږ سردار دی او زموږ د سردار، بلال رضی الله عنه ازاد کوونکی دی.

۷۴. **بلال بن حارث** : دغه بلال بن حارث ابوعبدالرحمن مزني دی، په اشعر کي اوسېدی او مدینه يې لېدلې وه، دده څخه د ده زوی حارث او علقمه بن وقاص روایت وکړ په ۶۰م هجري کال کي د اتیا کالو په عمر وفات سو.

۷۵. **بریده بن الحصیب**: دغه بریده بن الحصیب اسلمي دی، د بدر څخه مخکي يې اسلام راوړی وو مګر په هغه کي حاضر نه سو او په بیعت رضوان کي شریک وو، د مدینې

د اوسېدونکو څخه وو، بیا بصرې ته ولاړی او دهغه ځای څخه خراسان ته په جهاد کولو سره ورسېدی، د یزید بن معاویه د خلافت په زمانه په اومرو کې په ۶۲م هجري کال وفات سو، ډیر کسان روایت ور څخه کوي او حصیب د حصب تصغیر دی.

۷۶. **بشر بن معبد**: دا بشر بن معبد دی، د ابن الخصاصیه په نامه سره مشهور دی، خصاصیه د هغه مور ده او د هغه نوم کبشه وو، خلګو د هغه د مور نامه ته منسوب کړ او د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام وو او دهغه شمېر د بصرې له اوسېدونکو څخه دی.

۷۷. **بسر بن ابي ارطاة**: دغه بسر بن ابي ارطاة ابوعبدالرحمن دی او د ابوارطاة نوم عمیر عامري قرشي وو، ویل کیږي چې د کم عمر په وجه یې د رسول الله ﷺ څخه هیڅ نه واورېدل او اهل شام دده اورېدل ثابتوي، د واقدي قول دی چې دی د رسول الله ﷺ د وفات څخه دوه کاله مخکې پیدا سوی وو، ویل کیږي چې د عمر په پای کې یې دماغ صحیح نه وو، د حضرت معاویه رضی الله عنه د خلافت په زمانه کې وفات سو او یو قول دادی چې د عبدالملک د خلافت په زمانه کې وفات سو.

۷۸. **بدیل بن ورقاء**: دغه بدیل بن ورقاء خزاعي دی، قدیم الاسلام دی، دده څخه دده دواړه زامن عبدالله او سلمه او نور روایت کوي، د رسول الله ﷺ په زمانه کې شهید سو او یو قول دادی چې د صفین په ورځ شهید سو، یو قول دادی چې د صفین په ورځ چا مړ کړ هغه دده زوی عبدالله وو، بدیل د بدل مصغر دی.

۷۹. **ابنا بسر**: یعني د بسر دواړه زامن، ددې څخه مراد عطیه او عبدالله دی، دده یادونه به د عین په حرف کې راسي، د دوی دواړو یو حدیث دی د خرماوو او کوچو خوړلو په اړه چې په هغه کې دواړه نومونه په یو ځای کېدو سره ابنا بسر یعني دبسر دواړه زامن ورته ویل سوي دي او هغوی نومونه دي ذکر سوي.

۸۰. **البیاضي** : منسوب دی بیاضه بن عامر ته او دده نوم عبدالله بن جابر الانصاري دی، نوموړی صحابي دی.

تابعین رحمهم الله .

۸۱. **بلال بن یسار** : دغه بلال د یسار زوی دی چې هغه د زید زوی وو چې د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام وو، دغه زید، زید بن حارثه نه دی، ده د خپل پلار او نیکه څخه روایت کړی دی، دده څخه عمرو بن مره روایت کوي دده حدیثونه د بصرې په خلګو کې رواج دي.

۸۲. **بلال بن عبدالله**: دغه بلال د حضرت عبد الله بن عمر بن خطاب قرشي عدوي زوی دی، په حدیث کي ډېر پوه وو.

۸۳. **بسر بن محجن**: دغه بسر بن محجن دیلي حجازي دی، د خپل پلار څخه یې روایت کوي او ابن منذر دده نوم په صحابه ذیل کي درج کړی دی او ویلي یې دي چي دده د رسول الله ﷺ څخه یو حدیث روایت کړی دی او بخاري ورته تابعي ویلي دي، او همدغه صحیح خبره ده، دده څخه زید بن اسلم روایت کوي، په محجن کي میم مکسور او حاء مهمله ساکنه او جیم مفتوح او په اخر کي نوم دی، په دیلي کي دال مکسور، او د دوو ټکو والا یاء ساکنه ده.

۸۴. **بهز بن حکیم**: دغه بهز د حکیم بن معاویه بن حیدة القشیري بصري زوی دی، دده په اړه د علماؤ اختلاف دی هغه د خپل پلار، هغه د خپل نیکه څخه روایت کړی دی او د هغه څخه ډېرو خلګو، بخاري او مسلم په خپل صحیحین کي د هغه څخه هیڅ روایت نه دی داخل کړی، ابن عدي ویلي دي: ما د هغه هیڅ داسي حدیث نه دی لیدلی چي د انکار وړ وي، په حیده کي حاء مهمله مفتوح او دوو ټکو والا یاء ساکنه او دال مفتوح دی.

۸۵. **بشر بن مروان**: دغه بشر د مروان بن حکم اموي قرشي زوی او د عبد الملک ورور دی، دی د خپل ورور له خوا د عراق والي وو. د یوم جمعه د خطبې په باب کي دده یادونه راغلې ده، په بشر کي باء مکسور او شین معجمه ساکن دی.

۸۶. **بشر بن رافع**: دغه بشر بن رافع دی، یحیی بن ابي کثیر او ډېرو خلګو ور څخه روایت کړی دی او دده څخه عبدالرزاق او ډېرو خلګو روایت کړی دی، دده روایت ته احمد بن حنبل ضعیف او ابن معین قوي ویلي دي.

۸۷. **بشر بن ابي مسعود**: دغه بشر د ابو مسعود بدري زوی دی. ده د خپل پلار څخه او هغه د عروه او یونس بن میسره او ډېرو خلګو څخه روایت کړی دی.

۸۸. **بشیر بن میمون**: دغه بشیر بن میمون د خپل اکا اسامه بن اخدري څخه روایت کوي او د هغه څخه بشیر بن مفضل او نورو روایت کړی دی، ربښتونی ګڼل کیږي.

۸۹. **بجاله بن عبده**: دغه بجاله بن عبده تمیمي دی، د جزء بن معاویه د کاتب احنف بن قیس اکا دی، مکي او باوري دی. د اهل بصره څخه شمېرل کیږي. د عمران بن حصین څخه یې حدیثونه اورېدل او د هغه څخه عمرو بن دینار. په ۹۰هجري کال کي په مکه کي وفات سو. په بجاله کي باموحده مفتوح او جیم مخفف یعني د تشدید دی او په جزء کي جیم

مفتوح او زاء ساکنه ده چي د هغه څخه وروسته همزه ده.

۹۰. **ابوبرده**: دغه ابوبرده عامر دی، د عبدالله بن قیس زوی دی، عبدالله بن قیس یې نوم دی د ابوموسی اشعري رضي الله عنه، ابوبرده یو مشهور او کثیر الروایت تابعي دی، دخپل پلار او حضرت علي رضي الله عنه څخه یې روایت کوی او د قاضي شریح څخه وروسته دهغه پر ځای پر قضاء باندي په کوفه کي مامور کړل سو، بیا حجاج بن یوسف برطرفه کړی وو.

۹۱. **ابوبکر بن عیاش**: دغه ابوبکر بن عیاش اسدي د سترو علماؤ څخه وو، د ابواسحاق او نورو څخه یې روایت کوی او دده څخه احمد او ابن معین روایت کړی دی، د امام احمد قول دی چي دی صدوق او باوري دی چي کله غلطي هم کوي، په ۱۵۳ هجري کال کي د ۹۶ کالو په عمر وفات سو، په عیاش کي د دوو ټکو والا یاء مشدد ده او شین معجمه دی.

۹۲. **ابوبکر بن عبدالرحمن**: دغه ابوبکر بن عبدالرحمن مخزومي دی. ابوبکر یې نوم دی او کنیت هم، تابعي دی. ده د عائشې رضي الله عنها او ابوهریره رضي الله عنه څخه حدیثونه واورېدل او دده څخه شعبي او زهري روایات نقل کړي دي.

۹۳. **ابوبکر بن عبدالله بن زبیر**: دغه ابوبکر بن عبدالله بن زبیر حمیدي دی چي د امام بخاري شیخ دی، دده یادونه به د عین په حرف کي راسي.

۹۴. **ابوالبختري**: دده نوم سعید بن فیروز دی، دده حدیث د میاشتو لیدلو په اړه دی.

صحابي ښځي

۹۵. **بریرة** رضي الله عنها: په بریره کي باء مفتوح ده او اوله راء مکسور او دوو ټکو والا یاء ساکنه ده. دا د ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها ازاده سوې مینزه وه، د عائشې، ابن عباس او عروه ابن زبیر رضي الله عنهم څخه روایت کوي.

۹۶. **بسرة** رضي الله عنها: بسره د صفوان بن نوفل لور، نسلا قریشیه اسدیه او د ورقه بن نوفل خور وه.

۹۷. **بهیسه** رضي الله عنها: دغه بهیسه فزازیه ده، صحابیه ده او د خپل پلار څخه روایت کوي او هغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه او ددې حدیث د بیع په اړه دی. په بهیسه کي باء مضموم او هاء مفتوح او یا ساکنه او سین مهمله دی.

۹۸. **ام بجید** رضي الله عنها: دغه ام بجید حوا ده د یزید بن سکن لور انصاریه ده. دا اسماء بنت یزید خور ده، ددې شهرت په کنیت سره زیات سو، د هغه ښځو څخه ده چي هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیعت کړی وو، ددې څخه عبدالرحمن بن بجید روایت کړی دی، بجید دبجد تصغیر دی.

تابعي ښځې

۹۹. **بناته**: بناته د باء په پېښ او د نون په تخفيف سره د عبدالرحمن بن حيان ازاده سوې مينزه او انصاريه ده، دعائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي او ددې څخه ابن جريج روايت کړی دی، ددې حديث د جلا جل والا دی، په حيان کي حاء مهمله او مفتوح ده او د دوو ټکو والا ياء مشدده ده.

ت - صحابه کرام رضي الله عنهم:

۱۰۰. **تميم داري** رضي الله عنه: دغه تميم بن اوس داري دی مخکي نصراني وو، بيا په نهم هجري کال کي مسلمان سو، ده به د لمانځه په يوه رکعت کي ټول قرآن کريم ختم کوی او کله به يې يو آيت ټوله شپه په وار وار وايه تر دې چي سهار به سو، محمد بن منکدر بيان وکړ چي يو وار داري د شپې تر سهار پوري بېده وو او د تهجد لپاره پورته نه سو نو خپل ځان ته د سزا ورکولو لپاره يې تر يوه کال پوري ټوله شپه نفلونه کول او بالکل بېده نه سو، په مدينه کي اوسېدی بيا د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته په شام کي هستوګن سو او تر وفات پوري هلته وو، او تر ټولو مخکي په مسجد کي ده څراغ بل کړ، د نبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه ده د دجال او جساسه قصه بيان کړې ده او دده څخه ډېرو خلګو روايت کړی دی.

تابعين رحمة الله عليهم.

۱۰۱. **ابوتميمه** رحمه الله: دغه ابوتميمه طريف بن خالد هجمي بصري دی دده اصل د يمن د عربو څخه وو، دده اکا دی پلورلی وو او دی تابعي دی، د ډېرو صحابه کرامو څخه روايت کوي او دده څخه قتاده او نورو روايت کړی دی، په ۹۵ هجري کال کي وفات سو.

ث - صحابه کرام رضي الله عنهم:

۱۰۲. **ثابت بن قيس بن شماس** رضي الله عنه: دغه ثابت بن قيس بن شماس انصاري خزرجي دی، د احد غزا او د هغه وروسته چي څومره غزاوي وسوې په ټولو کي حاضر وو او د اکابرو صحابه کرامو څخه او د انصارو د لويو علماؤ څخه وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنت زيری ورکړی وو او دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم خطيب وو، د يمامه په ورځ يعني په کومه ورځ چي د مسيلمه کذاب سره جنګ سوی وو په هغه کي په ۱۲ هجري کال کي شهيد سو، دده څخه انس بن مالک او نورو روايت کړی دی.

۱۰۳. **ثابت بن ضحاک** رضی اللہ عنہ : دغه ثابت بن ضحاک ابوزید انصاري خزرجي دی ، دی د هغه اصحابو څخه دی چا چي (په حدیبیه کي) د بیعت الرضوان پر وخت د درختي لاندي د رسول الله ﷺ په لاس مبارک بیعت کړی وو ، او دی هغه وخت د کم عمر وو ، د حضرت عبدالله بن زبیر رضی اللہ عنہ سره چي کومه فتنه وسول په هغه کي شهید سو .

۱۰۴. **ثابت بن وحداح** رضی اللہ عنہ : دغه ثابت بن وحداح د یوه قول مطابق بن وحداحه انصاري دی ، د احد په غزا کي شریک سو او خالد بن ولید په نېزي سره چي تر بدن یې وتلې وه شهید سو او یو قول دا هم دی چي پر بستره باندي وفات سوی وو کله چي رسول الله ﷺ د حدیبیه څخه راستون سو ، د تشبیع الجنازة په باب کي دده ذکر راغلی دی .

۱۰۵. **ثوبان** رضی اللہ عنہ : دغه ثوبان بن بجدد دی ، دده کنیت ابوعبدالله دی ، رسول الله ﷺ رانیوی او ازاد یې کړ ، دی د رسول الله ﷺ تر وفات پوري په سفر او حضرت کي همېشه د رسول الله ﷺ سره وو ، بیا شام ته راغلی وو ، بیا رمله ته راغلی او تر دې وروسته په حمص کي هستوګن سو او هلته په ۸۴ هجري کال کي وفات سو ، دده څخه ډېرو خلکو روایات کړي دي ، په بجدد کي باء مضموم او جیم ساکن او اول دال مهمله مضموم دی .

۱۰۶. **ثمامه بن اثال** رضی اللہ عنہ : دغه ثمامه بن اثال حنفي دی ، د اهل یمامه سردار وو ، دی بندي سوی وو ، رسول الله ﷺ خلاص کړ ، او ددې وروسته ولاړی خپلي جامې یې پرېولې او غسل یې وکړ بیا د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او اسلام یې قبول کړ ، دده اسلام ډېر ښه پاته سو ، ابوهریره او ابن عباس رضی اللہ عنہما ور څخه روایت کړی دی ، په ثمامه کي ثاء مضموم ، او دواړه میمان غیر مشدد دی ، په اثال کي همزه مضموم او ثاء غیر مشدد او په پای کي لام دی .

۱۰۷. **ابوثعلبه** رضی اللہ عنہ : دغه ابوثعلبه جرهم بن ناشب خشني دی او دی په خپل کنیت سره مشهور دی ، د بیعت الرضوان بیعت یې و کړ ، رسول الله ﷺ د قوم خلکو ته استولی وو چي اسلام یې راوړ ، ابوثعلبه شام ته راغلی وو او هلته په ۷۵ هجري کال کي وفات سو ، په جرهم کي جیم او هاء دواړه مضموم دي .

تابعین رحمہم اللہ .

۱۰۸. **ثابت بن ابي صفیه** رحمہ اللہ : دغه ثابت د ابوصفیه زوی دی ، کنیت یې ابوحمزه دی او د کوفې اوسېدونکی دی ، د محمد بن علي الباقر څخه یې حدیث اورېدلي دي ، وکیع او

ابن عینیه ور څخه روایت کړی دی ، په ۱۴۸ هجري کال کي وفات سو .

۱۰۹. **ثابت بن اسلم بناني** رحمة الله عليه : نوم یې ثابت دی او د اسلم بناني زوی دی، کنیت یې ابومحمد دی، تابعي دی د بصرې په مشهورو علماؤ کي دی او په ثقاتو کي شمېرل کیږي. د انس بن مالک رضي الله عنه څخه د حدیث په روایت کولو کي مشهور سوی دی او ډېرو کسانو دده څخه حدیث روایت کړي دي، په ۱۲۳ هجري کال د ۸۶ کالو په عمر وفات سو.

۱۱۰. **تمامه بن حزن** رحمة الله عليه : دغه تمامه د حزن قشیري زوی دی، د تابعینو په طبقه ثانیه کي شمېرل کیږي او دده حدیث بصریین روایت کوي، حضرت عمر رضي الله عنه او دهغه زوی حضرت عبدالله او حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه یې لیدلي دي او د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه یې حدیثونه اورېدلي دي. اسود بن شیبان بصري دده څخه دحدیثو روایت کړی دی ، دحزن حاء مهمله مفتوح ده ، پر زاء او نون باندي جزم دی .

۱۱۱. **ثور بن یزید** رحمة الله عليه : دغه ثور د یزید کلاعي شامي زوی دی او د حمص اوسېدونکی دی، د خالد بن معدان څخه یې حدیث واورېدل او دده څخه سفیان ثوري او یحیی بن سعید حدیث نقل کړي دي په ۱۵۵ هجري کال کي وفات سو ، یادونه یې په باب الملاحم کي ده.

ج - صحابه کرام رضي الله عنهم :

۱۱۲. **جابر بن عبدالله** رضي الله عنه : کنیت یې ابوعبدالله دی د انصارو څخه دی، د قبیله سلیم اوسېدونکی دی ، د هغه مشهورو صحابه کرامو څخه دی چي هغوی د حدیث روایتونه ډېر کړي دي. د بدر په غزا کي او تر هغه وروسته په ټولو غزاوو کي د نبي کریم ﷺ سره وو . دا سي ټولي غزاوي اتلس دي، شام او مصر ته راغلی ، د عمر په پای کي ړوند سوی وو . ډېرو خلګو ور څخه حدیث نقل کړي دي، په ۷۴ هجري کال کي په مدینه منوره کي وفات سو عمر یې ۹۴ کاله ښودل کیږي. د یوه قول مطابق په صحابه کرامو کي تر ټولو آخر په مدینه کي (د عبدالملک بن مروان په خلافت کي) وفات سوی دی .

۱۱۳ **جابر بن سمره** رضي الله عنه : کنیت یې ابو عبدالله عامري دی، د سعد بن ابي وقاص وراره دی، کوفې ته راغلی وو او هلته په ۷۴ هجري کال کي وفات سو، ډېرو کسانو ور څخه حدیث روایت کړي دي .

۱۱۴. **جابر بن عتیک** رضي الله عنه : کنیت یې ابوعبدالله انصاري دی، د بدر په غزا کي او نورو ټولو غزاوو کي یې ګډون کړی دی، خپل دوو زامنو عبدالله او ابوسفیان او دهغه وراره

عتیک بن حارث ور څخه حدیث روایت کړي دي ، په ۶۱ هجري کال کي د ۶۱ کالو په عمر وفات سو.

۱۱۵. **جبار بن صخره** رضی الله عنه : دغه جبار د صخر انصاري سلمي زوی دی د عقبه بیعت، د بدر غزا او د هغه څخه وروسته په ټولو غزاوو کي حاضر وو، په لیلة العقبه کي چي اویا صحابه کرام شریک وه په هغوی کي یو دی هم وو، شرحبیل بن سعد دده څخه حدیث روایت کړي دي. په جبار کي پر جیم زوی او باء مشدده ده.

۱۱۶. **جریر بن عبدالله** رضی الله عنه : کنیت یې ابوعمرو دی ، په کوم کال چي رسول الله ﷺ وفات سو په هغه کال ده اسلام راوړ، جریر ویلي دي ما د رسول الله ﷺ د وفات څخه څلوېښت ورځي مخکي ایمان راوړ کوفې ته راغلی او تر یو وخت پوري هلته وو، بیا د هغه ځای څخه قرقیسا ته منتقل سو او هلته په ۵۱ م هجري کال کي وفات سو ، ډېرو کسانو حدیثونه ور څخه روایت کړي دي.

۱۱۷. **جندب بن عبدالله** رضی الله عنه : د عبدالله زوی د سفیان بجلي علقي لمسی دی، عقله د قبیله بجبله یو ښاخ دی او په قبیله بجبله کي ځیني داسي خلک دي چي هغوی ته قسر ویل کیږي، پر قاف باندي زور او سین په جزم سره دی، دغه خلک د خالد بن عبدالله قسری د کورنۍ څخه دي، د عبدالله بن زبیر رضی الله عنه د وخت په فتنې کي د هغه څخه څلور کاله وروسته وفات سو. ډېرو کسانو ور څخه حدیثونه روایت کړي دي، په جندب کي پر جیم ضمه او نون په جزم سره دی . ددال پېښ او زور دواړه صحیح دي.

۱۱۸. **جبیر بن مطعم** رضی الله عنه : کنیت یې ابومحمد قرشي نوفلي دی. دمکې د فتح څخه مخکي یې اسلام راوړ ، مدینې ته یې تشریف یووړ او هلته په ۵۴ م هجري کال کي وفات سو . یوې ډلې ور څخه د حدیثو روایت کړی دی د نسب په اعتبار قریشي دی.

۱۱۹. **جرهد بن خویلد** رضی الله عنه : مدني اسلمي دی، په اهل صفه کي شمېرل کیږي، په ۶۱ م هجري کال کي وفات سو ، دده زامنو عبدالله ، عبدالرحمن، سلیمان او مسلم ور څخه روایت کړی دی . په جرهد کي جیم او هاء دواړه زور لري.

۱۲۰. **جعفر بن ابي طالب** رضی الله عنه : هاشمي دی ، حضرت علي بن ابي طالب رضی الله عنه ورور دی. دده خطاب ذوالجناحین دی. په پیل کي د یوویشت کسانو سره یې اسلام راوړی وو، د خپل ورور حضرت علي رضی الله عنه څخه لس کاله مشر دی. د رسول الله ﷺ سره په سیرت او صورت کي تر ټولو زیات مشابه دی، دده ورور حضرت علي رضی الله عنه وفرمایل: کله چي مو ږ د

نبي كريم ﷺ سره د ابو طالب په اوښانو كي لمونځ ادا كوی نو ناڅاپه ابوطالب موږ ته وكتل ، رسول الله ﷺ د هغه په لېدو سره ورته وفرمايل: اې محترم اكا! لاندې راسه او زموږ سره لمونځ ادا كړه، ابو طالب ورته وويل: اې زما خوږه وراره! زه يقين لرم چي تاسو پر حق ياست مگر دا خبره بده گڼم چي زه سجده وكړم او كوناټي مي پورته سي، مگر اې جعفر! ته راكښته سه او دخپل اكا د زوی په بغل كي لمونځ وكړه، حضرت جعفر رضي الله عنه راكښته سو او د رسول الله ﷺ چپه خوا ته يې لمونځ كول پيل كړل ، كله چي رسول الله ﷺ لمونځ پوره كړ نو حضرت جعفر ته يې په كتلو سره وفرمايل: په ياد ولره! الله تعالى به ستا د بدن سره دوه وزرونه يو ځای كړي، چي د هغه په ذريعه به ته په جنت كي الوځې ، لكه څرنگه چي ته دخپل اكا د زامنو سره يو ځای سوی يې، دده څخه دده زوی عبدالله او ډېر صحابه كرام روايت كوي ، په اتم هجري كال كي د موته په جنگ كي شهيد سو ، د ۴۱ كالو په عمر له دنيا څخه رخصت سو ، د بدن په مخكنۍ برخه كي يې د توري او نيزې نيوي زخمونه وه.

۱۲۱. **جارود** رضي الله عنه : دغه جارود معلي عبدي دی، نوم يې بشر دی او د عمر زوی دی، او د يوه قول په اعتبار جارود يې لقب دی او دده په اړه ډېر زيات اختلاف دی ، په ۹ م هجري كال كي د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او د وفد عبدالقيس سره په اسلام مشرف سو ، تر دې وروسته په بصره كي هستوگن سو او د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه كي په فارس كي په ۲۱ م هجري كال شهيد كړل سو ، ډېرو كسانو ور څخه روايت كړی دی .

۱۲۲. **جبله بن حارثه** رضي الله عنه : كلبي دی او د رسول الله ﷺ د ازاد سوي غلام زيد بن حارثه ورور دی، د زيد بن حارثه څخه په عمر كي مشر دی ، ابو اسحاق سبعي او نورو محدثينو ور څخه حديثونه روايت كړي دي .

۱۲۳. **ابو جهيم** رضي الله عنه: د جيم پېښ ، د هاء زور او د ياء په سكون سره، د حضرت وكيع رضي الله عنه د يادونه سره سم دغه عبدالله بن جهيم دی او ځينو ويلي دي چي دغه عبدالله بن حارث بن صمه انصاري دی، صمه د صاد په زېر او د ميم په شد سره دی .

۱۲۴. **ابو جحيفه** رضي الله عنه: نوم يې وهب بن عبد الله عامر دی، كوفې ته راغلی وو، د كشرانو صحابه كرامو څخه دی، كله چي رسول الله ﷺ وفات سو نو دی بلوغ ته نه وو رسېدلی مگر د رسول الله ﷺ څخه يې حديثونه اورېدلي دي او د رسول الله ﷺ څخه د حديث روايت هم كړی دی، په كوفه كي په ۷۴ م هجري كال وفات سو ، دده زوی عون او د تابعينو ډېر خلك

دده څخه روايت کوي، جحيفه د جيم په پېښ او حاء مهمله او فاء په زور سره ويل کيږي .

۱۲۵. **ابو جمعه** رضي الله عنه: د يوه قول مطابق انصاري او د بل قول مطابق کناني دی، د نامه په اړه يې اختلاف دی، ځينو دده نوم د خبيب سباع زوی ښودلی دی او نورو خلګو يې نور نومونه ذکر کړي دي، د رسول الله ﷺ د صحابيت شرف يې په برخه دی د شام په خلګو کي شمېرل کيدی .

۱۲۶. **ابوالجعد** رضي الله عنه: دغه ابوالجعد ضميري دی، همدغه دده نوم دی، او کنيت يې هم دی، ځينو يې نوم وهب ښودلی دی ، عبيده بن سفيان ور څخه حديثونه روايت کوي، عبيده د عين په زور او د ياء په زبر سره ويل کيږي .

۱۲۷. **ابو جندل** رضي الله عنه: دغه ابو جندل سهيل بن عمرو قريشي د عامر زوی دی په مکه معظمه کي اسلام راوړ ، د حديبيه په واقعه کي زولنې په پښو وې، د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، زولنې خپل د اسلام راوړلو په وجه ور اچولي وې، دده ياددنه د حديبيه په غزا کي راځي، د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو .

۱۲۸. **ابو جهم** رضي الله عنه: نوم يې عامر دی، د حذيفه عدوي قريشي زوی دی، په خپل کنيت سره مشهور دی، دا هغه صحابي دی چي د هغه څادر رسول الله ﷺ دلمانځه لپاره غوښتی وو .

۱۲۹. ابو جري رضي الله عنه : د جابر سليم زوی دی د بنو تميم څخه دی، بصرې ته راغلی وو او دده حديث هم په بصريانو کي منقول دي، ډېر کم حديثونه نقل کوي او زيات ور څخه روايت نه دي ، جري د جيم په پېښ، د راء په زبر او د ياء په تشديد سره دی .

۱۳۰. **ابو جميل** رضي الله عنه : دده يادونه په کتاب الزکوة کي راغلې ده نوم يې معلوم نه کړل سو .

تابعين رحمهم الله .

۱۳۱. **جعفر صادق** رحمه الله : جعفر بن محمد بن علي بن حسين بن علي ابن ابي طالب دی، صادق يې لقب دی يعني د حضرت علي رضي الله عنه د لمسي لمسی دی، کنيت يې ابو عبدالله دی ، د اهل بيتو د سترو کسانو څخه دی، د خپل پلار څخه او نورو څخه هم روايت کوي، د حديثو سترو امامانو ور څخه حديثونه نقل کړي دي لکه يحيی بن سعيد او ابن جريج او مالک ابن انس، سفيان ثوري ، ابن عينيه، او ابو حنيفة رحمهم الله ، په ۸۰ هجري کال کي پيدا سو او په ۱۴۸ هجري کال کي وفات سو ، عمر يې ۶۸ کاله وو ، د بقيع په يو داسي قبر کي دفن سو چي په هغه کي يې پلار محمد باقر او د هغه نيکه علي زين العابدين وو .

۱۳۲. **جعفر بن محمد** رحمة الله عليه : دغه جعفر د محمد بن ابو عثمان طيالسي زوی دی کنيت يې ابو الفضل دی ، حديث يې د څو کسانو څخه نقل کړي دي او د هغه څخه د محدثينو يوې ډلي حديث نقل کړي دي، د باوري علماؤ څخه دی حافظه يې ډېره ښه وه ، په ۲۸۲ هجري کال کي وفات سوی دی .

۱۳۳. **ابوجعفر قاري** رحمة الله عليه : دغه ابو جعفر يزيد بن القعقاع قاري مدني دی، مشهور تابعي دی د عبدالله بن اياش ازاد سوی غلام دی، حضرت ابن عمر او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهم څخه يې حديثونه واورېدل او دده څخه امام مالک ، ابن انس او نورو حديثونه روايت کړي دي ، د القاري لفظ د قراة څخه ماخوذ دی او مهموز دی .

۱۳۴. **ابوجعفر عمير بن يزيد**: دغه ابو جعفر عمير ابن يزيد خطمي دی ، د يوې ډلي محدثينو څخه يې حديثونه اورېدلي دي او حضرت شعبه، حماد او يحيى بن سعيد دده څخه حديث نقل کړي دي .

۱۳۵. **ابوالجويريه** : دغه ابو الجويريه حطان بن خفاف جرمي دی تابعي دی په حديث کي د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او معن ابن يزيد شاګرد دی، دده څخه يوې ډلي روايت وکړ . جويريه د جاريه تصغير دی ، په حطان کي حاء مهمله مکسوره ده او طاء مهمله مشدده ده، په پای کي نون دی، په خفاف کي خاء معجمه مضمون او اوله فاء غير مشدده ده او په جرم کي پر جيم باندي زور او راء مهمله ساکنه ده .

۱۳۶. **ابوالجوزاء**: نوم يې اوس بن عبدالله ازدي دی، د بصرې او سېدونکي دی ، تابعي دی. د بي بي عائشې رضي الله عنها، عبدالله بن عباس رضي الله عنه او عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه يې حديث اورېدلي دي او دده څخه عمرو بن مالک او نورو حضراتو روايت کړی دی ، په ۸۳ هجري کال کي شهيد کړل سو .

۱۳۷. **جزء بن معاويه** : دغه جزء معاويه د تميمي زوی دی دده څخه بجالة د حديث روايت کړی دی ، ددغه يادونه د مجوس څخه ددیت اخیستي په باب کي راغلي، په جزء کي جيم زور او راء په سکون سره ده په پا يکي همزه ده او دا صحيح دی. اهل لغت هم داسي روايت کوي. او اهل حديث د جيم کسره ، د زاء سکون او په پای کي ياء ، همدا رنګه ضبط کوي. دارقطني هم دا رايه لري او عبدالغني د جيم په فتحه او د راء په کسره او په پای کي د ياء تحتاني سره ضبط کړی دی .

۱۳۸. **جميع بن عمير** : دغه جميع بن عمير تيمي دی، د کوفې او سېدونکی دی، بخاري همدارنګه بيان کړي دي، د حضرت عمر او بي بي عائشې رضي الله عنهما څخه يې حديث اورېدلي دي او علاء ابن صالح او صدقه بن مثنی دده څخه د احاديثو روايت کوي.

۱۳۹. **ابن جريج** رحمة الله عليه : دده نوم عبدالملک دی د عبدالعزيز بن جريج زوی دی، د مکې اوسېدونکی دی، مشهور فقيه دی د لوړې درجې عالم دی، حضرت مجاهد او ابن ابي مليکه او عطاء څخه يې حديث اورېدلي دي او دده څخه يوې ډلې روايت کړی دی. ابن عينيه ويلي دي: ما د ابن جريج څخه واورېدل چې فرمايل يې: د حديثو علم چې څرنګه او په کوم تکليف سره ما جمع کړی دی داسې بل هيچا نه دی جمع کړی، په ۱۵۰ م هجري کال کي وفات سو.

۱۴۰. **جبير بن نفير** رحمة الله عليه : نوموړی حضرمي دی، د جاهليت او اسلام دواړي زمانې يې تر لاسه کړي دي،د شامي علماؤ څخه د اعتبار وړ عالم دی. دده حديث په شاميانو کي مشهور دي، په ۸۰ م هجري کال په شام کي وفات سو، د حضرت ابودرداء او حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنهما څخه حديث روايت کوي او دده څخه هم يوه ډله د حديثو روايت کړی دی، نفير د نون په پېښ او د فاء په فتح او ياء تحتاني په سکون سره دی په اخر کي يې راء ده.

۱۴۱. **ابوجهل** : دده نوم عمرو بن هشام دی، دمغيره مخزومي زوی دی مشهور کافر دی، دده کنيت ابوالحکم وو، رسول الله صلی الله عليه وسلم دده کنيت ابوجهل کښېښود اوس دده دغه کنيت غالب او مشهور سو.

صحابي ښځي

۱۴۲. **جويره ام المؤمنين** رضي الله عنها : جويريه رضي الله عنها د حارث لور ده، په ازواج مطهراتو کي ده، د مريسيع په غزا کي بندي کړل سوه، دغه غزا ته غزوه بني مصطلق وايي چي په پنځم هجري کال کي رامنځته سول، نوموړې ثابت بن قيس ته تر لاسه سوه او هغه مکاتبه وګرځول نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغې بدل کتابت ادا کړ او د ازادولو وروسته يې د هغې سره نکاح وکړل. ددې نوم بره وو، د هغې پر ځای رسول الله صلی الله عليه وسلم د جويره نوم پر کښېښود، د ربيع الاول په مياشت کي په ۸۶ هجري کال کي د ۶۵ کالو په عمر وفات سول. د حضرت ابن عباس او حضرت عبدالله بن عمر او حضرت جابر رضي الله عنهم څخه حديثونه روايت کوي.

۱۴۳. **جدامه** رضي الله عنها : دغه جدا يمه اسد يه د وهب لور وه په مکه کي يې اسلام راوړ او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې بيعت وکړ او د خپل قوم سره يې هجرت وکړ. د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه د

حديثو روايت کوي ، جدامه د ميم په پېښ او دال مهمله سره دی او ځينو په ذال منقوطه سره ويلی دی، حافظ دار قطني وايي چي دا تصحيف دی يعني اصل حرف دال دی چي په ذال سره بدل کړل سو .

ح - صحابه کرام رضی اللہ عنہم :

۱۴۴. **حمزه بن عبدالمطلب** رضی اللہ عنہ : نوموړی د عبدالمطلب زوی دی کنيت يې ابوعماره دی د رسول الله ﷺ اکا دی او رضاعي ورور يې هم دی، رسول الله ﷺ او حضرت حمزه رضی اللہ عنہ ته ثوبيه رضی اللہ عنہا تی ورکړی وو چي دابولهب مينزه وه، دی د الله جل جلاله زمري وو، د اسلام په پيل کي د بعثت په دوهم کال مسلمان سو او ويل کيږي چي کله نبي کريم ﷺ دار ارقم ته ولاړی نو په شپږم کال دده په اسلام راوړلو سره اسلام ته لوی عزت او عظمت حاصل سو، د بدر په غزا کي حاضر وو او د احد په غزا کي شهيد کړل سو چي وحشي بن حرب شهيد کړ، حضرت حمزه رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ څخه څلور کاله مشر دی ، حافظ ابن عبدالبر فرمايلي دي : دغه قول زما په نزد صحيح نه دی ځکه چي حضرت حمزه رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ تی رودونکی ورور دی مگر دا چي ثوبيې رسول الله ﷺ او حمزه رضی اللہ عنہ ته په دوو مختلفو وختو کي تی ورکړی وي، او ځينو ويلي دي چي حضرت حمزه رضی اللہ عنہ تر رسول الله ﷺ دوه کاله مشر وو ، دده څخه د حديث روايت حضرت علي ، عباس ، زيد بن حارثه رضی اللہ عنہم کړی دی ، عماره د عين په پېښ سره دی او ثوبيه په ثاء مثلثه پېښ او واو په زور او ياء تحتاني په سکون او ياء موحده سره دی .

۱۴۵. **حمزه بن عمرو اسلمي** رضی اللہ عنہ : نوموړی د اسلم قبيلې اوسېدونکی دی ، په اهل حجاز کي شمېرل کېدی، يوې ډلي ور څخه حديث نقل کړي دي په ۶۱ م هجري کال کي وفات او عمر يې اتيا کاله وو .

۱۴۶. **حذيفه بن يمان** رضی اللہ عنہ : دغه حذيفه بن يمان دی او د يمان نوم د حيل تصغير دی او يمان د هغه لقب دی، د حضرت حذيفه کنيت ابوعبدالله عيسی دی، د عين فتح او د ياء په سکون سره ، د رسول الله ﷺ راز دار دی ، دده څخه حضرت علي، حضرت عمر بن خطاب، حضرت ابودرداء او نورو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم او تابعينو حديث روايت کړي دي، دمدائن په ښار کي دوفات پېښنه يې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د شهادت څخه څلوېښت ورځي وروسته په ۳۵ کال کي پېښنه سول .

۱۴۷. **حسن بن علي** رضي الله عنه : دغه حضرت حسن د علي بن ابي طالب رضي الله عنه زوی دی، کنیت یې ابو محمد دی د حضرت محمد ﷺ لمسی دی، او د رسول الله ﷺ روحاني ګل دی، د جنت د ټولو ځوانانو سردار دی، د رمضان المبارک په پنځلسمه نېټه په دریم هجري کال کي پیدا سو، دغه قول په هغه ټولو قولو کي چي د حضرت حسن د زېږېدني په اړه لیکل سوي دي، زیات صحیح دی، په ۵۰ م هجري کي وفات سو، ځینو ۵۸ او ځینو ۴۹ ویلي دي، او ځینو ۴۴ هجري کال هم ویلي دي، په جنت البقیع کي دفن سو، د ده زوی حسن بن حسن او حضرت ابوهریره او یوې ډلي ور څخه روایت کړی دی او کله چي د هغه پلار مبارک حضرت علي رضي الله عنه په کوفه کي شهید کړل سو نو خلګو د حسن رضي الله عنه په لاس بیعت علی الموت وکړ دغه بیعت کونکي خلګ د څلوېښتو زرو څخه زیات وه او حضرت معاویه رضي الله عنه بن ابي سفیان ته یې د خلافت کار پر پنځلسم د جمادي الاوی په ۴۱ م هجري کال کي وسپاری.

۱۴۸. **حسین بن علي** رضي الله عنه : دغه حسین د حضرت علي رضي الله عنه زوی دی، کنیت یې ابوعبدالله دی، درسول الله ﷺ لمسی دی او شجر نبوت ګل دی، دجنت د ټولو ځوانانو سردار دی، د شعبان پر پنځمه نېټه په څلورم هجري کال کي پیدا سو، حمل کېدل یې د فاطمې رضي الله عنها په نس کي د حضرت حسن رضي الله عنه د ولادت څخه پنځوس شپې وروسته سوی وو، د جمعې په ورځ پر لسم د محرم په ۶۱ هجري کال کي په کربلا کي د حله او کوفه عراق په منځ کي شهید کړل سو، سنان بن انس نخعي شهید کړی وو، ده ته سنان بن ابي سنان هم ویل کیږي، ځینو ویلي دي چي شمر بن ذي الجوش شهید کړی وو او دخولې بن یزید اصبحي چي دقبیله حمیر دی د حضرت حسین رضي الله عنه سر پرې کړ او عبدالله بن زیاد ته یې راوړ، او دغه شعر یې وایه :

او قرر کابي فضـــة وذهبــا انـــي قـــتلت الملک المحجبا.
قتلت خیر الـــناس اما وابا وخیرهم اذ ینـــسبون نســــبا

زما اوښه د سرو او سپینو زرو څخه ډکه کړئ ځکه چي ما یو داسي پاچا قتل کړی دی چي د یو چا سره یو ځای کېدونکی نه وو، ما داسي سړی قتل کړی دی چي د مور او پلار دواړو له خوا په ټولو خلګو کي غوره دی او کله چي خلګ نسب بیانوي نو هغه په ټولو خلګو کي غوره دی، ځینو بیان کړی دی چي شمر حضرت حسین، د هغه اولاد، وروڼه او اهل بیتو څخه دروېشت کسان ووژل، د ده څخه ابوهریره، د هغه زوی علي زین العابدین او فاطمه

او سکینه، دنو موري دواړي لوڼي روایت کوي، او د حضرت حسین رضی اللہ عنہ عمر د قتل په ورځ ۵۸ کاله وو او دالله جل جلاله فیصلې ته وګورئ چي عبدالله بن زیاد هم د عاشورا په ورځ په ۶۷ هجري کال کي قتل کړل سو چي ابراهیم بن مالک اشترنخعي عبدالله بن زبیر ته واستوی او عبدالله بن زبیر د حضرت حسین رضی اللہ عنہ زوی، علي بن حسین په خدمت کي وړاندي کړ، خولی په خاء معجمه فتح، واو په جزم او لاء په زبر سره او یاء تحتاني په تشدید سره ده، او سکینه د سین په پېښ د کاف په زېر او د یاء تحتاني په سکون او نون سره ده.

۱۴۹. **حسان بن ثابت** رضی اللہ عنہ: د ده کنیت ابو الولید انصاري خزرجي دی، د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د دربار شاعر دی، او د زړه ورو شاعرانو څخه دی، ابو عبیده ویلي دي د ټولو عربو پر دې اتفاق دی چي حسان بن ثابت رضی اللہ عنہ دټولو سیمو د غوره شاعرانو څخه دی، حضرت عمر بن خطاب او ابو هریره رضی اللہ عنہما او بي بي عائشه رضی اللہ عنہا ور څخه روایت کوي، حضرت علي رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کي په ۴۰ م هجري کال مخکي وفات سو او ځینو ویلي دي چي په ۵۰ م هجري کال کي او دهغه ۱۲۰ کاله وو، شپېته کاله د جاهلیت په دور کي ژوندی وو او شپېته کاله د اسلام دور کي.

۱۵۰. **حکم بن سفیان**: دغه حکم بن سفیان ثقفي دی، سفیان بن حکم هم ورته ویل کیږي، ویل کیږي چي ده د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم څخه هیڅ حدیث نه وو اورېدلی مګر حافظ ابن عبدالبر وایي چي زما په نزد د ده سماع ثابته ده.

۱۵۱. **حکم بن عمرو غفاري**: نوموړی د قبیله غفار اوسېدونکی دی بلکه د نعلیه د اولاد څخه دی چي د غفار بن ملیل ورور دی، ملیل د میم په ضمه او لام اول په فتحه سره دی، د بصرې په عالمانو کي شمېرل کیږي، په مرو نامي ځای کي وفات سو او ځینو ویلي دي چي په بصره کي په پنځم هجري کال کي وفات سو، بریده اسلمي او حکم بن عمرو غفاري دواړه په مرو کي یو ځای دفن کړل سول، د محدثینو یوې ډلي ور څخه حدیث روایت کړي دي.

۱۵۲. **حنظله بن ربیع**: دغه حنظله بن ربیع د بنو تمیم څخه دی. ده ته کاتب ویل کیږي ځکه چي ده د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم لپاره د وحي لیکنه وکړل بیا مکې ته راغلی او د هغه ځایه قرضیا ته په رسېدو سره هستوګن سو او د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کي وفات سو د ده څخه ابو عثمان نهدي او یزید بن الشخیر روایت کړی دی.

۱۵۳. **حاطب بن ابي بلتعه**: د دغه حاطب بن ابي بلتعه نوم عمرو دی او ځینو ورته راشد لخمي ویلي دي، د بدر او خندق او د دغه دواړو په منځ کي چي کومي غزاوي سوې دي په هغو ټولو کي شریک وو، په ۳۰م هجري کال په مدینه کي وفات سو عمر یې ۶۵ کاله وو، یوې ډلي ور څخه د حدیثو روایت کړی دی.

۱۵۴. **حویصه**: دغه حویصه د مسعود بن کعب انصاري زوی دی او د محیصه ورور دی، حریصه تر خپل ورور محیصه په عمر کي مشر دی مګر اسلام یې د محیص څخه وروسته راوړی دی، د اُحد او خندق په غزاوو کي او تر دې په وروسته غزاوو کي یې ګډون کړی دی، حویصه د حاء په پېښن د واو په زبر او د یاء تحتاني په مشدد مسکور او صاد مهمله سره دی.

۱۵۵. **حبیش بن خالد**: دغه حبیش بن خالد خزاعي دی د مکې د فتح په ورځ شهید سو، حضرت خالد بن ولید ﷺ ورسره وو، خپل زوی هشام ور څخه د حدیثو روایت کړی دی، حبیش د حاء په پېښن، د باء په زبر او یاء تحتاني په سکون او شین معجمه سره دی.

۱۵۶. **حبیب بن مسلمه**: دغه حبیب د مسلمه قریشي فهري زوی دی، فهري د فاء په کسره سره دی ده ته حبیب الروم ویل کیږي ځکه ده د رومیانو سره ډېري جګړې کړي دي، نوموړی مستجاب الدعوات دی، په شام کي په ۴۲م هجري وفات سو، د ده څخه ابن ملیکه او نورو محدثینو روایت کړی دی.

۱۵۷. **حکیم بن حزام** ﷺ: دغه حکیم بن حزام دی کنیت یې ابو خالد قریشي اسدي دی، دام المؤمنین بي بي خدیجې ﷺ وراره دی د فیل د واقعې څخه دیارلس کاله مخکي په کعبه کي پیدا سوی دی، د جاهلیت او اسلام دواړو زمانو کي عزتمند ګڼل کېدی، د ده اسلام راوړل د مکې د فتح پوري مؤخر سو، په ۵۴ هجري کال کي په خپل کور کي د ننه په مدینه کي وفات سو، عمر یې ۱۲۰ کاله وو، شپېته کاله په جاهلیت کي تېر سول او شپېته کاله یې په اسلام کي تېر کړل، ډېر هوښیار، پوه، او متقي انسان وو. د ده اسلام ډېر مخلصانه وو. حال دا چي دی په پیل کي د مؤلفة القلوب څخه وو، د جاهلیت په زمانه کي یې سل غلامان ازاد کړل او سل اوښان یې د سپرلۍ لپاره وبخښل د ده څخه یوه ډله د حدیثو روایت کوي.

۱۵۸. **حکیم بن معاویه** ﷺ: د نمیر قبیلې اوسېدونکی دی، امام بخاري ﷫ فرمایي: د ده په صحابه کېدو کي کلام دی، خپل وراره معاویه بن حکم او قتاده ور څخه د حدیثو روایت کړی دی.

۱۵۹. **حصين بن وحوح** : دغه حصين بن وحوح انصاري دی دده حدیث په مدینې والاوو کې مشهور دی، ویل کیږي چې ده ته په ډېر تکلیف ورکولو سره قتل کړل سو .

۱۶۰. **حبشي بن جناده**: دغه حبشي بن جناده دی چي رسول الله ﷺ یې په حجة الوداع کي ولیدی او د صحبت شرف یې په برخه سو ، د کوفې په اوسېدونکو کي شمېرل کیږي یوې ډلي ور څخه د حدیثو نقل کړی دی .

۱۶۱. **حجاج بن عمرو**: دغه حجاج بن عمرو انصاري مازني دی ، د مدینې له اوسېدونکو څخه شمېرل کیږي دده حدیث په حجازیانو کي رواج دي دده څخه ډېرو خلګو روایت کړی دی .

۱۶۲. **حارثه بن سراقه** رضی الله عنه : دغه حارثه د سراقه انصاري زوی دی او ربیع دده مور ده او هغه د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه خاله ده، د بدر په غزا کي حاضر سو او په هم هغه کي شهید سو ، دی اول سړی دی چي د انصارو څخه په هغه ورځ شهید سو او په صحیح بخاري کي دي چي دده د مور نوم ربیع دی او هغه نوم چي اسماء په صحابه کي ذکر کیږي هغه ربیع د راء په پېښ او باء موحده په فتحه او یاء تحتاني په کسره او تشدید سره مستعمل دی .

۱۶۳. **حارثه بن وهب** رضی الله عنه: دغه حارثه بن وهب خزاعي د عبیدالله بن عمر بن خطاب مور شریک ورور دی دده شمېر په کوفیانو کي کیږي دده څخه ابو اسحاق سبیعي د حدیثو روایت کړی دی .

۱۶۴. **حارثه بن نعمان** رضی الله عنه: دغه حارثه بن نعمان د بدر په غزا کي حاضر سوی دی ، د سترو صحابه کرامو څخه دی، په باب البر والصلة کي دده یادونه کیږي، نقل سوي دي چي ده بیان وکړ چي یو وار زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، رسول الله ﷺ ناست او جبرائیل علیه السلام ورسره موجود وو ، ما په سلام کولو سره وړاندي ووتلم ، کله چي زه بېرته راغلم او رسول الله ﷺ دهغه ځای څخه ولاړی نو ما ته یې وفرمایل: ایا تا هغه ولیدی چي زما سره ناست وو ، ما وویل: هو ، رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه جبرائیل علیه السلام وو. او ستا د سلام هغه جواب درکړی وو د هغه دید پر ختمېدو وو .

۱۶۵. **حارث ابن حارث** رضی الله عنه: دغه حارث ابن حارث اشعري دی د شام د علماؤ څخه شمېرل کیږي دده څخه حدیثونه ابو سلام حبشي او نورو روایت کړي دي .

۱۶۶. **حارث بن هشام** : دغه حارث بن هشام مخزومي دی د ابو جهل ابن هشام ورور دی، په اهل حجاز کي شمېرل کیږي. د قریشو د اشرافو څخه دی. دمکې دفتح په ورځ یې ایمان راوړ ، دده دپاره ام هانئ بنت ابو طالب امن وغوښت نو رسول الله ﷺ امن ورکړی وو ، بیا

شام ته ولاړی او په ۱۵م هجري کال کي د يرموک په جګړه کي شهيد سو او رسول الله ﷺ
هغه ته سل اوښان ورکړل لکه څرنګه چي نورو مؤلفة القلوب ته يې ورکړي وه، دی هم د
مؤلفة القلوب څخه وو، بيا د هغه اسلام او ايمان کامل سو، نوموړی د حضرت عمر رضي الله عنه د
خلافت په زمانه کي د جهاد لپاره د شام څخه روان سو، هغه وخت د مکې اوسېدونکو
د دغه پر بېلوالي ژړل نو ده وويل: زما دغه سفر د الله جل جلاله لپاره دی او کوم چي د هستوګني
خبره ده نو زه پر تاسو باندي نورو خلګو ته ترجيح نه ورکوم، بيا يې په شام کي مقابله کول
تر دې چي وفات سو.

۱٦۷. **حارث بن كلدة**: دغه حارث بن کلدة ثقفي طبيب دی، د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه
ازاد سوی غلام دی ده يادونه په کتاب الاطعمه کي راځي ده يادونه ابن منده او ابن
الاثير او نورو محدثينو په اسماء صحابه کي راوړې ده او حافظ ابن عبدالبر د حارث بن
کلده د زوی يادونه په صحابه کي کولو سره وفرمايل چي د هغه پلار حارث بن کلده د
اسلام په پيل کي وفات سو د ده اسلام راوړل ثابت نه دي، په کلده کي پر کاف باندي زور
پر لام جزم او دال مهمله دی.

۱٦۸. **ابوحبه** رضي الله عنه: دغه ابوحبه ثابت بن نعمان انصاري بدري دی د ده د کنيت او نامه په اړه
ډېر اختلاف سوی دی، ابن اسحاق د ده يادونه په هغه حضراتو کي کړې ده کوم چي د بدر
په غزا کي شريک سوي دي او دی يې په کنيت سره ذکر کړی دی او د ده نوم يې نه دی ذکر
کړی، په حبه کي هاء حطي زور او باء موحده په تشديد سره ده، ځينو د باء پر ځای نون بيان
کړی دی او ځينو په ياء تحتاني سره بيان کړی دی مګر اول صورت زيات مستعمل دی، د
احد په غزا کي شهيد سوی دی.

۱٦۹. **ابوحميد** رضي الله عنه: دغه ابوحميد عبدالرحمن د سعد انصاري خزرجي ساعدي زوی
دی، په کنيت زيات مشهور دی، يوې ډلي ور څخه د حديثو روايت کړی دی د حضرت
معاويه رضي الله عنه د خلافت په آخره زمانه کي وفات سو.

۱۷۰. **ابوحذيفه** رضي الله عنه: دغه ابوحذيفه د عتبه بن ربيعه زوی دی، ويل کيږي چي د ده نوم
مهشم دی او ځينو هاشم ښودلی دی، په سترو صحابه کرامو کي شمېرل کيږي، د يمامه په
جنګ کي شهيد سو او هغه وخت يې عمر ۵۳ کاله وو.

۱۷۱. **ابوحنظليه** رضي الله عنه: د ده نوم سهل دی د عبدالله حنظليه زوی دی، دغه حنظليه د هغه
انا وه او دی د انا په نامه سره مشهور سو.

تابعين رحمهم الله

۱۷۲. **حارث بن سويد** رحمه الله : دغه حارث د سويد تميمي زوی دی او د سترو تابعينو څخه دی، د محدثينو په نزد باوري دی ، نوموړي د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه د حديث روايت وکړ او دده څخه ابراهيم تيمي، د عبدالله بن زبير رضي الله عنه د خلافت په آخره کې وفات سو .

۱۷۳. **حارث بن مسلم** رحمه الله : دغه حارث بن مسلم د بنوتميم څخه دی، دده څخه عبدالرحمن بن حسان د حديثو روايت کړی دی .

۱۷۴. **حارث بن اعور** : دغه حارث د عبدالله اعور حارثني همداني زوی دی، دحضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه د مشهورو اصحابو څخه دی، ويل کيږي چي د هغه څخه يې څلور حديثونه هم اورېدلي دي او د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه يې هم د حديث روايت کړی دی، او دده څخه عمرو بن مره او امام شعبي روايت کړی دی، امام نسائي او نورو دده په اړه ويلي دي چي دی قوي نه دی او ابن ابي داؤد ويلي دي چي دی په خلکو کي تر ټولو لوی فقيه او د علم فرائض تر ټولو لوی ماهر او تر ټولو لو مقبوليت لرونکی ؤ، په کوفه کي په ۶۵ م هجري کال وفات سو .

۱۷۵. **حارث بن شهاب** : دغه حارث د شهاب حرمي زوی دی ، ابواسحاق او عاصم بن بهدله څخه ده روايت حديث کړی دی او دده څخه طالوت او عشي او نورو ډېرو خلکو ده ته ضعيف ويلي دي .

۱۷۶. **حارث بن دحيه** : دغه حارث د دحيه راسي زوی دی ، ده حديث د مالک بن دينار څخه روايت کړی دی او دده څخه مقدمي او نصر بن علي، او ځينو خلکو ده ته ضعيف ويلي دي .

۱۷۷. **حارث بن مضرب**: دغه حارث د مضرب عبدي کوفي زوی دی، مشهور تابعي دی، د حضرت علي او حضرت ابن مسعود رضي الله عنهما او نورو څخه يې د حديثو اورېدل کړي دي ، دده حديث په اهل کوفه کي دي .

۱۷۸. **حارث بن ابي الرجال** : دغه حارثه بن ابي الرجال دی چي هغه خپل پلار ابوالرجال څخه او دخپلي انا عمره څخه د حديثو روايت کړی دی او دده څخه ابن نمير او يعلي روايت وکړ ، ځينو خلکو ده ته ضعيف ويلي دي .

۱۷۹. **حفص بن عاصم** : دغه حفص بن عام بن عمر بن خطاب قرشي عدوي دی د

محدثینو په نزد باوري دی اجماعا، د سترو تابعینو څخه دی، ډېر زیات احادیث نقل کوي ، د حضرت عبدالله بن عمر ﷛ څخه یې حدیثونه اورېدلي دي .

۱۸۰. **حفص بن سلیمان** : دغه حفص د سلیمان زوی دی، کنیت یې ابو عمرو اسدي دی د ابو اسعد ازاد سوی غلام دی، د علقمه بن مرثد او قیس بن مسلم څخه ده احادیث نقل کړي دي او دده څخه یو ډلي روایت کړی دی، دی په قرائت کي د باور وړ دی نه په حدیثو کي، امام بخاري ﷫ ویلي دي: د محدثینو په نزد متروک الحدیث دی ، په ۱۰۸ م هجري کال کي وفات سو او عمر یې ۹۰ کاله وو .

۱۸۱. **حنش بن عبدالله** : دغه حنش د عبدالله سبائي زوی دی، ځینو ویلي دي چي دی په کوفه کي د حضرت علي ﷛ سره وو او د حضرت علي ﷛ د شهادت وروسته مصر ته راغلی او په ۱۰۰ م هجري کال کي وفات سو .

۱۸۲. **حکیم بن معاویه** : دغه حکیم د معاویه قشیري زوی او اعرابي دی ، د حدیثو په نقل کي ښه ګڼل کیږي، د خپل پلار څخه یې حدیث روایت کړي دي او دده څخه دده زوی بهز جریري حدیث اورېدلي دي .

۱۸۳. **حکیم بن اثرم** : دغه حکیم بن اثرم دی د ابو تمیم او حسن څخه یې روایت کړی دی او دده څخه عوف او حماد ابن سلمة ، دی په حدیث کي ډېر رېښتونی منل کیږي .

۱۸۴. **حکیم بن ظهیر** : دغه حکیم د ظهیر فزاري زوی دی ، ده د حضرت علقمه بن مرثد او زید بن رفیع څخه روایت کړی دی او دده څخه محمد بن صباح دولاني، بخاري ویلي دي چي د محدثینو په نزد متروک دی .

۱۸۵. **حرام بن سعید** ﷫: دغه حرام د سعید بن محیصه زوی دی، کنیت یې ابو نعیم انصاري حارثي دی، تابعي دی، د خپل پلار او براءبن عازب ﷛ څخه یې د حدیث روایت کړی دی او دده څخه ابن شهاب زهري ، په ۱۱۳ هجري کال کي وفات سو او عمر یې ۷۰ کاله وو ، حرام د حلال ضد دی .

۱۸۶. **حماد بن سلمة** ﷫: دغه حماد د سلمه بن دینار زوی دی ، کنیت یې ابو سلمة الربیعي دی، د ربیعه بن مالک ازاد سوی غلام دی او د حمید طویل خوریی دی، د بصرې د مشهورو علماؤ څخه دی او د هغه ځای په امامانو کي شمېرل کیږي، دده څخه ډېر زیات حدیثونه روایت دي او د ډېرو زیاتو خلګو څخه روایت کوي، او دی په سنت او عبادت کي مشهور دی، په ۱۶۷ هجري کال کي وفات سو ، د حضرت ثابت، حمید طویل او قتاده څخه

ده حدیث اورېدلي دي او دده شخه یحیی بن سعید او ابن مبارک او وکیع روایت کړی دی.

۱۸۷. **حماد بن زید** رحمۃ اللہ علیہ: دغه حماد بن زید ازدي دی د محدثینو په نزد د باوري علماؤ شخه دی، ثابت بناني او نورو حضراتو د ده شخه د حدیث روایت کړی دی او دده شخه عبدالله بن مبارک او یحیی بن سعید روایت کړی دی، دسلمان بن عبدالملک په زمانه کي پیدا سو او په ۱۹۹م هجري کال کي وفات سو، نوموړی ړوند وو.

۱۸۸. **حماد بن ابي سليمان** رحمۃ اللہ علیہ: دغه حماد د ابوسلیمان زوی دی، دابوسلیمان نوم مسلم اشعري دی د ابراهیم بن ابي موسی اشعري ازاد سوی غلام دی، کوفي دی او په تابعینو کي شمېرل کیږي، د یوې ډلي شخه یې حدیث اورېدلي دي او دده شخه شعبه او سفیان ثوري او نورو روایت کړی دی، دخپلي زمانې تر ټولو لوی عالم تېر سوی دی، د ابراهیم نختي سره یې ملاقات سوی دی، ویل کیږي چي په ۱۲۰م هجري کال کي وفات سو.

۱۸۹. **حماد بن ابي حميد**: دغه حماد بن ابوحمید مدني دی، د زید بن اسلم او نورو شخه روایت کوي، او دده شخه قعنبي روایت کړی دی او ځینو خلکو دده روایت ته ضعیف ویلي دي.

۱۹۰. **حميد بن عبدالرحمن**: دغه حمید د عبدالرحمن زوی د عوف زهري قریشي مدني لمسی دی، دسترو تابعینو شخه دی، په ۱۰۵م هجري کال کي وفات سو او عمر ۷۳ کاله وو.

۱۹۱. **حميد بن عبدالرحمن**: دغه حمید بن عبدالرحمن حمیري بصري دی، دبصرې د امامانو او باوري علماؤ شخه دی، جلیل القدر تابعي دی، د حضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ او ابن عباس رضی اللہ عنہ شخه یې د حدیث روایت کړی دی.

۱۹۲. **حسن بصري** رحمۃ اللہ علیہ: دغه حسن بصري د ابوالحسن زوی دی، کنیت یې ابوسعید دی، دزید بن ثابت ازاد سوی غلام دی، د پلار نوم یې یسار دی، ایسار د بندیانو د نسل شخه دی، یاسر ربیع بنت نصر ازاد کړی وو، دغه حسن د خلافت عمر بن خطاب رضی اللہ عنہ د دوو کالو پاته کېدو په وخت کي په مدینه کي پیدا سو، حضرت عمر رضی اللہ عنہ په خپل لاس دده تحنیک وکړ، دده مور به د ام المؤمنین بي بي ام سلمه رضی اللہ عنہا خدمت کوی، ډېر واره کله چي به دده مور یو ځای ولاړل نو دحسن بصري د کرارولو دپاره به بي بي ام سلمه رضی اللہ عنہا خپل تی ده ته ورکوی تر دې چي دده مور به بېرته راغلل نو تیان به یې د شېدو شخه ډک سول او حسن بصري به هغه وڅېښل، خلک وایي چي کوم علم او حکمت ته حسن بصري رحمۃ اللہ علیہ ورسېدی

داد هغه برکت دی ، د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته هغه بصرې ته راغلی ، هغه حضرت عثمان رضي الله عنه وليدی او ويل کيږي چي د حضرت علي رضي الله عنه سره هم په مدينه کي يو ځای سوی دی مګر په بصره کي د حضرت علي رضي الله عنه سره ملاقات کول صحيح نه دي، مګر دا چي حسن بصري يو وخت بصرې ته تلی نو په وادي قری کي وو او حضرت علي رضي الله عنه هغه وخت بصرې ته راغلی وو ، هغه د ابوموسی اشعري، انس بن مالک، ابن عباس او نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه هم روايت کړی دی، او دده څخه يوې ډلي د تابعينو او تبع تابعينو روايت کړي دی ، په خپله زمانه کي د علم او فن ، زهد او تقوا ، عبادت او ورع امام وو ، د رجب په مياشت کي په ۱۱۰ م هجري کال کي د ۱۱۰ کالو په عمر وفات سو .

۱۹۳. **حسن بن علي بن راشد** رحمة الله عليه : دغه حسن د علي بن راشد واسطي زوی دی ، ده د ابوالاحوص او هشيم څخه روايت کړی دی او دده څخه امام ابوداؤد او امام نسائي روايت کړی دی، د حديثو د امامانو په نزد ډېر صادق دی، په ۲۳۷ م هجري کال کي وفات سو .

۱۹۴. **حسن بن علي هاشمي** رحمة الله عليه : دغه حسن د علي هاشمي زوی دی، ده د اعرج څخه روايت کړی دی او دی د حسن څخه مسلم قتيبه، امام بخاري رحمة الله عليه ويلي دي: منکر الحديث دی .

۱۹۵. **حسن بن جعفر** رحمة الله عليه : دغه حسن د ابوجعفر جعفري زوی دی، د حضرت نافع او ابن زبير څخه حديث نقل کوي او دده څخه ابن مهدي او نورو روايت کړی دی، خلګو دده حديث ته ضعيف ويلي دي او دی د ډېرو صالحو علماؤ څخه وو ، په ۱۶۷ هجري کال کي وفات سو .

۱۹۶. **حنظله بن قيس زرقي**: دغه حنظله د قيس زرقي انصاري زوی دی ، د اهل مدينې او تابعينو د باوري کسانو څخه دی، نافع بن خديج او نورو يې حديث اورېدلي دي او دده څخه يحيی بن سعيد او نورو روايت کوي .

۱۹۷. **حبيب بن سالم** : دغه حبيب د سالم مولی نعمان بن بشير زوی دی ، نعمان مکاتب ګرځولی وو ، محمد بن منتشر او نورو دده څخه د حديث روايت کړی دی .

۱۹۸. **حرب بن عبيدالله** : دغه حرب د عبيدالله ثقفي زوی دی دده نوم او دده په حديث کي اختلاف واقع سوی دی ، دده حديث عطاء بن سائب نقل کړی دی، او په سند کي د حرب سره اختلاف راغلی دی، نو يو حديث سفيان بن عينيه د عطاء څخه او عطاء د حرب څخه او حرب د خپل ماما څخه او د هغه ما ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه او دوهم سند داسي دی

چي ابو الاحوص د عطاء څخه او عطاء د حرب څخه او حرب د خپل نیکه څخه او هغه د خپل پلار څخه ، دریم سند داسي نقل کوي چي د عطاء څخه او عطاء نقل کوي د حرب بن هلال ثقفي څخه او هغه دخپل نیکه څخه او د امام ابوداؤد په روایت کي سند داسي دی چي ابوداؤد د حرب بن عبیدالله څخه او حرب د خپل نیکه څخه او هغه د خپل پلار څخه او دغه روایت زیات مشهور دی او دده روایت د یهودو او نصارا څخه د عشر اخیستني په اړه دی .

۱۹۹. **حجاج بن حسان** رحمه الله : دغه حجاج بن حسان حنفي دی ، په بصریانو کي شمېرل کیږي ، تابعي دی ، انس بن مالک او نورو صحابه کرامو څخه یې حدیثونه اورېدلي دي او دده څخه یحیی بن سعید او یزید بن هارون روایت کوي .

۲۰۰. **حجاج بن حجاج** رحمه الله : دغه حجاج د حجاج احول اسلمي زوی دی او ویل کیږي چي باهلي بصري دی ، ده د فرزدق او قتاده او دمحدثینو د یوې ډلي څخه روایت کړی دی او دده څخه ابراهیم ظن طهمان او یزید بن زریع ، محدثینو دده توثیق کړی دی ، په ۱۳۱م هجري کال کي وفات سو .

۲۰۱. **حجاج بن یوسف** : دغه حجاج بن یوسف ثقفي دی ، دی د عبدالملک بن مروان له خوا د عراق او خراسان والي وو او دده څخه وروسته دده زوی ولید والي سو ، په واسط کي د شوال په میاشت په ۹۵م هجري کال کي وفات سو عمر یې ۵۴ کاله وو ، دده ذکر د مناقب قریش په باب کي راځي ، او دده د مرګ قصه ډېر ژر د سین په حرف کي د سعید بن جبیره په یادونه کي راځي .

۲۰۲. **ابوحیه** رحمه الله : دده نوم عمرو بن نصر خارقي همداني دی د حدیث روایت د حضرت علي ابن ابي طالب رضي الله عنه څخه کوي .

۲۰۳. **ابوحره** : دغه ابوحره د حاء په ضمه او د راء په تشدید سره دی، دده نوم حنیفه رقاشي دی، ده د خپل اکا څخه یو حدیث په باب الغصب کي : الا لاتظلموا الا لایحل مال امرء الا بطیب نفس منه، موجود دی،

۲۰۴. **ابن حزم**: کنیت یې ابوبکر دی ، د محمد بن عمرو بن حزم زوی دی، ابوحیه او ابن عباس څخه حدیث روایت کوي او دده څخه ابن شهاب زهري روایت کوي .

صحابي ښځي

۲۰۵. **حفصه بنت عمر** رضي الله عنها : دغه ام المؤمنین بي بي حفصه رضي الله عنها د عمر بن خطاب رضي الله عنه لور

ده او ددې مور زينب ده چې د مظعون لور ده، د رسول الله ﷺ څخه مخکې د خنيس بن خذافه سهمي ښځه وه او د خنيس سره يې هجرت کړی وو، مګر خنيس د بدر د غزا څخه وروسته وفات سو، کله چې ددې خاوند خنيس وفات سو نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ ددغه قرابت يادونه حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ او حضرت عثمان رضی اللہ عنہ سره وکړل مګر هغه په دواړو کې هيچا د قبلولو جرئت ونه کړ، بيا رسول الله ﷺ دغه دوستي قبوله کړل او په نکاح يې کړل، دغه واقعه د دريم هجري کال ده، رسول الله ﷺ دې ته يو طلاق ورکړی وو کله چې پر رسول الله ﷺ دغه وحي نازل سوې چې حفصه ته رجوع وکړه ځکه چې هغه ډيري روژې نيسي، د شپې عبادت کوي او هغه به په جنت کې هم ستا ښځه وي، نو رسول الله ﷺ بي بي حفصې رضی اللہ عنہا ته رجوع وکړل، د صحابه کرامو او تابعينو يوې ډلې د هغې څخه د حديث روايت کړی دی، د شعبان په مياشت کې په ۴۵ هجري کال وفات سول او عمر يې ۶۰ کاله وو.

۲۰۶. **حليمه** رضی اللہ عنہا: دغه حليمه د ابوذويب لور ده، دې رسول الله ﷺ ته د ثوبيه وروسته چې دابولهب مينزه وه تی ورکړی دی، د حليمه هغه زوی چې د هغه د تي سره د رسول الله ﷺ روزنه سوې ده هغه عبدالله بن حارث دی او د عبدالله خور چې رسول الله ﷺ يې په غيږ کې اخيستی د هغې نوم شيماء ده، حليمې رسول الله ﷺ خپل مور ته دوه کاله او دوې مياشتې وروسته ورکړی وو او ځينو ويلي دي چې پنځه کاله وروسته، ددی څخه عبدالله بن جعفر روايت کوي او د حليمه يادونه په باب البر والصله کې راځي.

۲۰۷. **ام حبيبه** رضی اللہ عنہا: دغه ام حبيبه د امهات المؤمنين څخه ده، نوم يې رمله دی او د ابوسفيان بن صخر بن حرب لور ده، او دهغې مور صفيه ده چې دحضرت ابوالعاص لور ده او دحضرت عثمان بن عفان رضی اللہ عنہ عمه ده، د هغې سره د رسول الله ﷺ د نکاح د وخت او مقام په اړه اختلاف واقع سوی دی، ځينو ويلي دي چې د هغې نکاح په حبشه کې په نهم هجري کال وسول او نجاشي يې نکاح وکړل او څلور سوه ديناره مهر هم نجاشي ورکړ، او ځينو ويلي دي چې څلور لکه درهم يې د خپل ځان څخه مهر ادا کړ، رسول الله ﷺ شرحبيل بن حسنه د هغې راوستلو دپاره وليږی او هغه يې مدينې ته راوستل او رسول الله ﷺ ورسره يو ځای والی په مدينه کې وکړ، په ۴۴م هجري کال په مدينه کې وفات سوه، ددې څخه ډېرو کسانو د حديث روايت کړی دی.

۲۰۸. **ام حصين** رضی اللہ عنہا: ام حصين د اسحاق لور ده او د احمس قبيلې څخه ده. ددې څخه ددې زوی يحيی بن حصين او نور د حديث روايت کوي او په حجة الوداع کې حاضره وه.

۲۰۹. **ام حرام** رضي الله عنها : ام حرام د ملحان بن خالد لور ده د بني نجار قبيلې او سېدونکې ده او د ام سليم خور ده، په اسلام مشرفه سول او د رسول الله ﷺ په لاس يې بيعت وکړ او رسول الله ﷺ به ددې په کور کي د غرمې خوب کوی او د حضرت عباده بن الصامت ښځه ده، د روم پر مځکه د خپل خاوند په ملګرتيا کي په جهاد\کولو سره شهيده سول، قبر يې په قرنس (باقرس) کي دی، ددې څخه ددې خوريی انس بن مالک او ددې خاوند عباده بن صامت روايت کړی دی، حافظ ابن عبد البر فرمايي: ما ددې په صحيح نامه څخه سيوا د کنيت څخه خبر تر لاسه نه کړ، د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سول، ملحان د ميم په کسره، دلام په سکون او د حاء مهمله او نون سره دی.

۲۱۰. **حمنه** : حميه د حجش لور ده او د بي بي زينب رضي الله عنها چي د ازواج مطهراتو څخه، د هغې خور ده، د اسد قبيلې او سېدونکې ده، د مصعب بن عمير په زوجيت کي وه، بيا کله چي معصب بن عمر د احد په غزا کي شهيد سو نو طلحه بن عبيد الله و رسره نکاح کړې وه.

تابعي ښځي

۲۱۱. **حسناء** : حسناء صرميه د معاويه لور ده، نوموړې د خپل اکا څخه او د هغې اکا د رسول الله ﷺ څخه حديث نقل کوي، ددې څخه عوف اعرابي د حديث روايت کړی دی، ددې حديث په بصريانو کي مروج دي، ابن ماکولا د حسناء په اړه داسي ليکلي دي: حازمي ددې په يادونه کولو سره خنساء بنت معاويه ليکلې ده او ځينو ورته حسناء صرميه وايي، او ددې دوه اکاګان، حارث او اسلم ښيي. صرميه د صاد مهمله په زور او د راء په زېر سره دی، حسناء د فعلاء پر وزن د حسن څخه ماخوذ دی او په خنساء کي خاء معجمه ده او نون د سين مهمله څخه مخکي دی.

۲۱۲. **حفصه بنت عبدالرحمن** : دغه حفصه د عبد الرحمن لور ده چي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه زوی دی، د منذر بن زبير بن عوام په نکاح کي وه.

۲۱۳. **ام حرير** : ام حرير د حاء مهمله په زور او د اولي راء په زېر سره د طلحه بن مالک ازاده سوې مينزه وه، دا د خپل بادار څخه د حديث روايت کوي او ددې حديث محمد بن ابي رزين د خپلي مور او دهغه مور يې د ام حرير څخه نقل کوي، ددې حديث په اشراط الساعة کي راځي.

خ - صحابه کرام ﷡ :

۲۱۴. **خالد بن ولید** ﷛ : خالد ولید قرشي زوی دی چي مخزومي دی، دده مور لبابه صغری ده چي د ام المؤمنین بي بي میمونې ﷞ خور ده، د اسلام د زمانې څخه مخکي د خالد شمېر د قریشو په عزتمندو خلګو کي کېدی ، رسول الله ﷺ ده ته د سیف الله خطاب ورکړی وو، په ۲۱ م هجري کال کي وفات سو، حضرت عمر بن خطاب ﷛ ته یې وصیت وکړ، دده څخه دده د خاله زوی عبدالله بن عباس او علقمه او جبیر بن نفیر د حدیث روایت کوي.

۲۱۵. **خالد بن هوزه** : د هوزه عامري زوی دی ، دی خپله او دده ورور حرمله د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او دی خزاعه ته ورغلی او د خپل اسلام زیری یې ورکړ، دی د مؤلفة القلوب څخه وو ، دغه خالد بن هوزه هغه دی چي رسول الله ﷺ غلام او مینزه وربانديي پلورلي وه او دهغوی لپاره یې عهد نامه لیکلې وه .

۲۱۶. **خلاد بن سائب**: خلاد د سائب بن الخلاد زوی دی او خزرجي دی، دی د خپل پلار او زید بن خالد څخه روایت کوي او دده څخه حبان بن واسع .

۲۱۷. **خباب بن ارت** ﷛: دده کنیت ابو عبیدالله تمیمي دی، د جاهلیت په زمانه کي بندي سوی وو ، ددې وروسته یوې خزاعیه ښځي رانیوی او ازاد یې کړ، د رسول الله ﷺ په دار ارقم کي د اخلېدو مخکي ده اسلام راوړی وو او داحباب د هغه صحابه کرامو څخه دی چي د اسلام راوړلو په وجه یې ډېر تکلیفونه وګالل، مګر ده صبر وکړ او په کوفه کي هستوګن سوی وو او هم هلته په ۳۷م هجري کال کي وفات سو، عمر ۷۳ کاله وو، دده څخه ډیر کسان د حدیث روایت کوي .

۲۱۸. **خارجه بن حذافه** : د حذافه قریشي عدوي زوی دی، د قریشو د ماهرو سپرو څخه یو سپور دی ، دده په اړه دا مشهوره ده چي دی د زرو سپرو برابر دی، دده شمېر په مصریانو کېږي، دا هغه سړی چي په مصرانو کي په شمېرلو سره قتل کړل سو او یو خارجي سړی عمر بن عاص په ګڼلو سره قتل کړی وو ، او دغه خارجي په هغه درو کسانو کي یو دی چي هغوی د حضرت علي او حضرت معاویه او عمرو بن عاص ﷡ پر وژنه باندي اتفاق کړی وو او په دوی کي هر یوه په هغه درو صحابه کرامو کي د هر یوه د وژني هڅه کول. نو د الله ﷻ فیصله د حضرت علي ﷛ په اړه پوره سول او نور دوه اصحاب وژغورل سول او د خارجه وژنه په ۴۰ م هجري کال کي واقع سول .

۲۱۹. **خزيمه بن ثابت** : دغه خزيمه بن ثابت دی، دده کنيت ابو عماره دی او انصاري اوسي دی، په ذوالشهادتين سره معروف دی ، دبدر په غزا او وروسته غزاوو کي حاضر وو ، د صفين په جنګ کي د حضرت علي رضي الله عنه ملګری وو ، کله چي عمار بن ياسر شهيد سو نو ده توره راوکښل او مقابله يې وکړل تر دې چي شهيد سو ، دده څخه دده زوی عبدالله او عماره او جابر بن عبدالله روايت کړی دی ، خزيمه په خاء معجمه ضمه او زاء معجمه په فتحه سره دی او عماره د عين په ضمه سره دی .

۲۲۰. **خزيمه بن جزء** : دغه خزيمه د جزء زوی دی ، دده کنيت ابو عبدالله سلمي دی، دده څخه دده ورور حبان بن جزء روايت کوي، د عربو په سترو کسانو کي شمېرل کيږي، جزء د جيم په زور ، د زاء معجمه په سکون او ددې وروسته همزه سره دی، اصحاب حديث جزي د جيم په زېر او زاء معجمه په کسره او په پای کي ياء تحتاني سره وايي، دغه عبدالغني بيان کړی دی او حافظ دار قطني د جيم په کسره او دياء معجمه په سکون سره ضبط کړی دی او حبان د حاء مهمله په کسره او باء موحده په تشديد سره ويل کيږي .

۲۲۱. **خزيم بن اخرم** : دغه خزيم د اخرم زوی د شداد بن عمرو بن فاتک اسدي لمسی دی مګر دی خپل نيکه ته منسوب کيږي او ده ته خزيم بن فاتک ويل کيږي، دی په شاميانو کي شمېرل کيږي او د ځينو په نزد په کوفيانو کي، دده څخه ډېرو کسانو روايت کړی دی .

۲۲۲. **خبيب بن عدي** رضي الله عنه : د عدي انصاري اوسي زوی دی، د بدر په غزا کي حاضر سو او د رجيع په غزا کي په دريم کال بندي کړل سو ، بيا مکې ته راوستل سو او د حارث ابن عامر اولاد رانيوی او دی خبيب د بدر په ورځ حارث د کفر په حالت کي قتل کړی وو او س د حارث زامنو دی رانيولی وو چي د خپل پلار په بدله کي يې قتل کړي، دی يې بندي کړ او دهغوی سره وو بيا هغه خلګو په تنعيم کي په دار کړ او دی په اسلام کي لومړنی سړی دی چي د الله جل جلاله په لاره کي په دار کړل سو ، دده څخه د حديث روايت حارث بن برصاء کړی دی. په صحيح بخاري کي روايت دی چي حضرت خبيب د حارث د لور څخه استره وغوښتل چي د نامه لاندي وېښتان په پاک کړي بيا حضرت خبيب د کوچنی زوی پورته کړ او پر خپل ورانه يې کښېنوی ، کله چي استره د هغه په لاس کي وه او د ماشوم مور د هغه څخه بالکل بې خبره وه مور چي دا وليدل نو سخته وېرېدل ، هغه وېره خبيب د هغې د مخ څخه محسوس کړل نو ورته يې وويل: ته ددې څخه بېرېږې چي زه به دغه معصوم کوچنی

ووژنم. زه هيڅکله داسي نه کوم، د کوچنی مور وويل: ما په خپل ژوند کي د خبيب څخه غوره بندي هيڅکله نه دی ليدلی ، په خدای قسم ما خبيب د بند په زمانه کي يوه ورځ وليدی چي د هغه په لاس کي د تازه انگورو غونچک وو چي هغه يې خوړی، کله چي هغه د اوسپني په زنځيرو کي تړلی وو او په مکه کي ميوه هم نه وه او ده ويل: دا د الله ﷻ راکړی رزق دی چي ما ته راکړل سوی دی، بيا کله چي حبيب يې د حرم څخه حل ته د وژني لپاره بوتلی نو حضرت خبيب رضی الله عنه وفرمايل: ما ته دومره وخت راکړئ چي زه دوه رکعته لمونځ ادا کړم. خلگو وخت ورکړ او خبيب دوه رکعته لمونځ ادا کړ او وه يې فرمايل: قسم په خدای! که کفارو دا خيال نه کولای چي دی د بيري په وجه د ځان ساتني لپاره لمونځ کوي نو ما به نور هم لمونځ کړی وای بيا حضرت خبيب رضی الله عنه دغه دعاء وغوښتل چي اې الله!په دوی کي هر يو قتل کړې چي په دوی کي يو هم پاته نه سي .

فلست ابالي حين اقتل مسلما — علی اي شق کان في الله مضجعي

وذلک في ذات الاله وان يشاء — يبارک علی اوصال شلـــو ممزع

کله چي د اسلام په حالت کي زه په دار کيږم نو ما ته ددې هيڅ پروا نسته چي زه د الله ﷻ په لاره کي د وژلو لپاره پر کوم اړخ وغورځول سم او دا ټول مصيبتونه د الله ﷻ په لاره کي دي که هغه وغواړي نو زما د اندامو هر بند به د برکت څخه ډک کړي .

خبيب رضی الله عنه هغه سړی دی چي دالله ﷻ په لاره کي په زنځيرو تړلو په وخت کي د دوو رکعتو لمونځ کولو طريقه يې قائمه کړل .

۲۲۳. **خنيس بن حذافه** رضی الله عنه : دغه خنيس بن حذافه سهمي قريشي دی چي د رسول الله ﷺ څخه مخکي د بي بي حفصه بنت عمر خاوند وو، دبدر په غزا کي يا داحد په غزا کي حاضر سو . په هغه کي ورته يو زخم ولگيدی او هغه په وجه مدينې ته په رسېدو سره وفات سو . اولاد يې نه وو ، خنيس په تصغير سره دی .

۲۲۴. **ابوخراش** : نوموړی اسلمي صحابي دی. خراش د خاء معجمه په زبر او د راء مهمله په غير مشدد او شين معجمه سره دی او حدر د حاء مهمله په زبر او اول دال مهمله او راء مهمله سره دی .

۲۲۵. **ابوخلاد** : يو صحابي سړی دی. حافظ ابن عبدالبر ويلي دي چي زه دده د نوم او نسب څخه خبر نه يم ، دده حديث د يحيی بن سعيد په نزد معتبر دی چي ابوفرده څخه او ابوفرده د ابوخلاد څخه نقل کوي، او رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کله چي تاسو يو مؤمن

ووینئ چي د دنیا په اړه ورته زهد او کمي خبري ورکول ورکړل سوي وي نو د هغه صحبت اختیار کړئ ځکه چي هغه به درته حکمت ورښیي او دوهم روایت هم داسي دی مگر د ابو فرده او ابو خلاد په منځ کي هغه دوهم حدیث د ابو مریم واسطه دی او دا زیات صحیح دی.

تابعین رحمهم الله.

۲۲۶. **خیثمه بن عبدالرحمن** : دغه خیثمه د عبدالرحمن زوی او د ابو سبره جعفي لمسی دی، د ابو سبره جعفي نوم یزید بن مالک دی او دغه خیثمه د سترو تابعینو څخه دی، د ابو واصل څخه مخکي وفات سوی دی، د حضرت علي، عبدالله بن عمر او نورو څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه اعمش، منصور او عروه بن مره د حدیثو روایت کوي، دوه لکه په مېراث ورپه برخه سوې چي په علماؤ باندي یې مصرف کړلې، خیثمه د خاء معجمه په فتحه، یاء تحتاني په سکون او ثاء مثلثه په فتحه سره دی، سبره د سین په زور او باء موحده په سکون سره دی.

۲۲۷. **خالد بن معدان** : کنیت یې ابو عبدالله شامي کلاعي دی، د حمص او سېدونکی دی، دده بیان دی چي د اوویا صحابه کرامو سره مي لیدلي دي او دی د شام د علماؤ د باوري راویانو څخه دی په ۱۰۴م هجري کال کي په طرسوس نامي ځای کي وفات سو، معدان د میم په فتحه، د عین په سکون او پر دال مهمله تشدید نسته.

۲۲۸. **خالد بن عبدالله** : دغه خالد بن عبدالله واسطي طحان دی، د حصین او نورو څخه روایت کوي، د الله جل جلاله د نیکو بندگانو څخه تېر سوی دی چي هغه د الله جل جلاله څخه درې واره ځان رانیوی او په خپل وزن یې سپین زر خیرات کړل، په ۱۹۹ هجري کال کي وفات سو او ځینو ۱۸۲ ښودلی دی، دده زېږېدنه په ۱۱۰م هجري کال کي وسوه.

۲۲۹. **خارجه بن زید**: دغه خارجه د زید بن ثابت انصاري مدني زوی دی، ستر تابعي دی، دحضرت عثمان رضي الله عنه زمانه یې تر لاسه کړې ده، د خپل پلار او نورو صحابه کرامو څخه دده سماع ثابت ده، دمدینې د فقهاؤ سبعه څخه دی او باوري دی، دده څخه زهري روایت کړی دی، په ۹۹ م هجري کال کي وفات سو.

۲۳۰. **خارجه بن الصلت** : دغه خارجه بن الصلت برجمي دی، د براجم څخه دی، د بنوتمیم یو ښاخ دی، تابعي دی، د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او خپل اکا څخه روایت کوي او دده څخه امام شعبي روایت کوي او دده حدیث په اهل کوفه کي دي.

۲۳۱. **خشف بن مالک**: دغه خشف بن مالک د قبیلهٔ طی او سېدونکی دی د خپل پلار او اکا او عمرو بن مسعود څخه روایت کوي او ده څخه زید بن جبیر روایت کړی دی، خشف د خاء معجمه په کسره او شین معجم په سکون او فاء سره دی.

۲۳۲. **ابو خزامه**: دغه ابو خزامه بن یعمر دی دی د بني الحارث بن سعد څخه یو سړی دی، د خپل پلار څخه روایت کوي او ده څخه زهري، نو موړی مشهور تابعي دی، خزامه د خاء معجمه په کسره سره او زاء معجمه باندي تشدید نسته.

۲۳۳. ابو خلده: دغه ابو خلده د خالد بن دینار تمیمي سعدي بصري دی چي د خیاطی کار یې کوی، د باوري تابعینو څخه دی، د حضرت انس ﷺ څخه روایت کوي او ده څخه وکیع او نور، خلده د خاء معجمه په فتحه او دلام په سکون سره دی.

۲۳۴. **ابن خطل**: دغه عبدالله بن خطل تمیمي مشرک دی، رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ ده د قتل حکم کړی وو نو قتل کړل سو، خطل د خاء معجمه او طاء مهمله د دواړو په فتحه سره دی.

صحابي ښځي

۲۳۵. **خدیجه بنت خویلد** ﷺ: دغه خدیجه د خویلد ابن اسد لور ده، قریشیه ده، د امهات المؤمنین څخه ده، تر ټولو مخکي د ابو هاله بن زراره ښځه وه بیا ورسره عتیق بن عائذ نکاح وکړل د هغه څخه وروسته یې د رسول الله ﷺ سره نکاح وسول، هغه وخت یې عمر تقریبا څلوېښت کاله وو او د رسول الله ﷺ عمر پنځه ویشت کاله وو، تر دې مخکې رسول الله ﷺ د هیڅ یوې ښځې سره نکاح نه وه کړې او نه د حضرت خدیجې ﷺ تر وفات پوري، دغه خدیجه ﷺ هغه بي بي ده چي تر ټولو مخکي یې په رسول الله ﷺ ایمان راوړ، هغه وخت نه په نارینوو کي چا ایمان راوړی وو او نه په ښځو کي، د رسول الله ﷺ ټول اولاد ماسوا د ابراهیم څخه چي هغه د ماریه قبطیه څخه پیدا دی، دبي بي خدیجې ﷺ څخه دي، د هجرت څخه پنځه کاله مخکي په مکه کي وفات سول، ځینو څلور کاله مخکي ویلي دي، او ځینو ویل: درې کاله مخکي، هغه وخت د نبوت لس کاله تېر سوي وه، عمر یې ۶۵ کاله وو او په جیحون نامي ځای کي دفن سوې ده.

۲۳۶. **خوله بنت حکیم**: دغه خوله بنت حکیم ده د عثمان مظعون ښځه ده ډېره صالحه او فاضله بي بي وه، یوه ډله ور څخه روایت کوي.

۲۳۷. **خوله بنت ثامر**: دغه خوله بنت ثامر د قبیله انصار څخه ده د دې حدیث په اهل مدینه کي زیات دي ، ددې څخه نعمان ابن ابي العیاش زرقي روایت کړی دی او ځینو ویلي دي چي دغه خوله د قیس بن بني مالک بن النجار لور ده او ثامر د قیس لقب دی، صحیح خبره داده چي دواړي جلا جلا ښځي دي.

۲۳۸. **خوله بنت قیس** : دغه خوله د قیس لور ده ، د جهینه قبیلې او سېدونکې ده ددې حدیث په اهل مدینه کي مروج دي، ددې څخه نعمان بن خربوذ د حدیثو روایت کړی دی ، خربوز د خاء معجمه په پېښ، دراء مهمله او ذال معجمه سره دی.

۲۳۹. **خنساء بنت خذام** : دغه خنساء د خذام بن خالد لور ده انصاریه اسدیه ده، ددې حدیث په مدینې والا کي مشهور دي، ددې څخه ابوهریره، بي بي عائشه او نورو صحابه کرامو روایت کړی دی، په خنساء کي پر خاء باندي فتحه ، نون ساکن ، سین مهمله او مد دی، په خذام کي خاء معجمه مکسور او ذال معجمه بېله شد دی.

۲۴۰. **ام خالد بن سعید بن العاص الامویه**: دغه ام خالد امویه ده د خالد سعد بن عاص لور ده په خپل کنیت سره مشهوره ده ، په حبشه کي پیدا سوه کله چي مدینې ته راوستل سول نو عمر يې کم وو، بیا زبیر بن العوام ورسره نکاح وکړل ، ددې څخه ځو کسانو روایت کړی دی.

د - صحابه کرام رضي الله عنهم :

۲۴۱. **دحیة الکلبي** رضي الله عنه : دغه دحیه د خلیفه کلبي زوی او دسترو صحابه کرامو څخه دی. رسول الله ﷺ په شپږم هجري کال کي د قیصر پاچا ته دصلح په زمانه کي واستوی ، قیصر په رسول الله ﷺ ایمان راوړل وغوښتل خو د هغه پادري (عیسائي سالار) پرې ایمان نه راوړ نو هغه هم مسلمان نه سو ، دغه دحیه هغه صحابي دی چي حضرت جبرائیل علیه السلام به دده په شکل کي رسول الله ﷺ ته وحي راوړلې، دی د شام هیواد ته تللی وو او د امیر معاویه تر زمانې پوري هلته وو ، د ډېرو تابعینو څخه ده روایت وکړ، دحیه د دال په کسره او حاء مهمله په سکون او دوو ټکو والا یاء سره دی، همدارنګه اکثرو محدثینو او اهل لغتو روایت کړی دی او ځینو ویلي دي چي دحیه د دال په فتحه سره دی.

۲۴۲. **ابودرداء** رضي الله عنه : دده نوم عویمر دی،دی دعامر انصاري خزرجي زوی دی په خپل کنیت سره مشهور دی او درداء دده لور ده، دې په ځنډ سره اسلام او په خپله کورنۍ کي تر

ټولو په پایکي اسلام راوړونکی دی ، لوی صالح مسلمان وو او لوی عالم او صاحب حکمت تېر سوی دی، په شام کي یې قیام وکړ او په ۳۲م هجري کال په مشق کي وفات سو .

تابعین رحمة الله علیهم .

۲۴۳. **داؤد بن صالح** : نوموړی د داؤد بن صالح بن دینار زوی دی چي د خرماوو تجار وو او د انصارو ازاد سوی غلام دی، مدینې او سېدونکی دی، د سالم بن عبدالله او خپل پلار او خپلي مور څخه روایت کوي .

۲۴۴. **داؤد بن الحصین** : داؤد بن حصین د عمرو بن عثمان بن عفان رضی الله عنه ازاد سوی غلام دی، د عکرمه څخه روایت کوي او دده څخه مالک او نور ، په ۱۳۵ م هجري کي د ۷۲ کالو په عمر وفات سو .

۲۴۵. **ابن الدیلمي** : نوم یې ضحاک دی د فیروز زوی دی ، تابعي دی دده حدیث په مصریانو کي مروج دي د خپل پلار څخه روایت کوي ، دیلمي د دال په فتحه سره منسوب دی دیلم ته او دا یو غر دی چي په خلګو کي مشهور دی او فیروز د فاء په فتحه او یاء تحتاني دوو ټکو والا سکون او راء په پېښ سره دی او په آخر کي زاء ده .

۲۴۶. **ابوداؤد الکوفي** : دغه ابوداؤد نفیع دی د حارث ړانده زوی دی، کوفي دي ، د عمران بن حصین او ابوبرزه څخه روایت کوي او دده څخه روایت کونکي سفیان ثوري او شریک دی،د محدثینو په نزد متروک دی ، رفض ته مائل وو دده ذکر په کتاب العلم کي راغلی دی .

صحابي ښځي

۲۴۷. **ام الدرداء** رضی الله عنها : دام الدرداء نوم خیره دی او د ابوحدرد لور ده، د اسلم قبیلې او سېدونکې ده ، د حضرت ابودرداء رضی الله عنه ښځه ده ، ډېره فاضله او هوښیاره ښځه وه او په ښځو کي ډېره د رایي خاونده وه ؤ ډېره عابده ، متبع سنت وه ددې څخه یوې ډلي روایت کړی دی ، د حضرت ابودرداء رضی الله عنه څخه دوه کاله مخکي وفات سوې ده، دشام په هیواد کي د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافات په زمانه کي وفات سول .

ذ - صحابه کرام رضی الله عنهم :

۲۴۸. **ابوذر غفاري** رضی الله عنه : د ابوذر نوم جندب دی دده پلار جناده دی ، دی د لوړي مرتبې مشهور تارک الدنیا او د مهاجرو صحابه کرامو څخه دی ، په مکه کي په پیل کي د اسلام

راوړونکو څخه دی ، ویل کیږي چي دی په ایمان راوړلو کي پنځم صحابي دی بیا خپل قوم ته بیرته تللی وو ، تر یو وخت پوري دهغوی سره وو تر دې چي دخندق د غزا وروسته د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، بیا یې په ربذه کي هستوګنه اختیار کړل او په ربذه کي په ۳۲م هجري کال کي د عثمان رضی الله عنه دخلافت په زمانه کي وفات سو ، درسول الله ﷺ د بعثت څخه مخکي به یې عبادت کوی ، دده څخه ډېرو صحابه کرامو او تابعینو روایات کړي دي .

۲۴۹. **ذو مخبر** : د میم په کسره، دخاء معجمه په سکون او باء موحده په فتحه سره دی، دنجاشي وراره دی د نبي کریم ﷺ خادم دی ، جبیر بن نفیر او نور دده څخه روایت کوي، په شامیانو کي شمېرل کیږي او دده حدیثونه د هغوی څخه تر لاسه کیږي .

۲۵۰. **ذو الیدین** : د بني سلیم یو سړی دی ، خرباق هم ورته ویل کیږي، صحابي دی، د حجاز اوسېدونکی دی ، په کوم لمانځه کي چي د رسول الله ﷺ څخه سهوه سوې وه په هغه کي دی موجود وو ، خرباق د خاء معجمه په کسره ، راء مهمله په سکون او باء موحده سره دی.

۲۵۱. **ذوالسویقتین** : د حبشې اوسېدونکی دی دده په اړه رسول الله ﷺ وفرمایل چي هغه به کعبه شریفه ونړوي .

ر - صحابه کرام رضی الله عنهم :

۲۵۲. **رافع بن خدیج** رضی الله عنه : دده کنیت ابو عبدالله دی،حارثي انصاري د احد په غزا کي پر هغه غشي ولګېدل چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه به د قیامت په ورځ ستا ددغه غشي شاهد یم، د هغه دغه زخم د عبدالملک بن مروان تر زمانې پوري وو ، په ۷۳م هجري کال په مدینه کي د ۸۶ کالو په عمر وفات سو ، ډېرو کسانو ور څخه د حدیثو روایت کړی دی، خدیج د خاء معجمه په فتحه ، ددا ل په کسره او په جیم معجمه سره دی .

۲۵۳. **رافع بن عمرو** رضی الله عنه: دغه رافع بن عمرو غفاري دی ، دده شمېر په بصریانو کي کیږي، دده څخه عبد الله بن الصامت روایت کړی دی ، د اکل تمر په اړه دده حدیث دی.

۲۵۴. **رافع بن مکیث** : دغه رافع بن مکیث د جهینه قبیلې اوسېدونکی دی د حدیبیې د صلح په وخت کي حاضر وو ، دده څخه دده دوه زامن بلال او حارث روایت کوي، په مکیث کي د میم فتحه د کاف په کسره او دوو ټکو والا یاء په سکون او په پایکي ثاء مثلثه ده .

۲۵۵. **رفاعة بن رافع** : دده کنیت ابو معاذ دی دی زرقي انصاري دی ، دبدر په غزا کي

بلکه په ټولو غزاوو کي د رسول الله ﷺ سره حاضر وو، او د حضرت علي رضي الله عنه په ملګرتيا کي د جمل او صفين په جګړه کي هم موجود وو، د حضرت معاويه د امارت په زمانه کي وفات سو، دده دواړه زامنو عبيد او معاذ او دده وراره يحيى بن خلاد دده څخه روايت کوي.

۲۵٦. **رفاعه بن سموال**: د سموال قرظي زوی دی، دا هغه دی چي خپلي ښځي ته يې دري طلاقه ورکړي وو بيا عبدالرحمن بن زبير د هغې سره نکاح کړې وه، دده څخه بي بي عائشې او نورو روايت کړ يدی، په سموال کي د سين کسره ده او په يوه قول کي فتحه ده، ميم ساکن دی او واو غير مشدد او لام دی، په الزبير کي پر زاء باندي زور، د باء موحده زېر دی او ځينو د زاء ضمه او د باء فتحه ويلي دي، رفاعه د بي بي صفيه رضي الله عنها چي د رسول الله ﷺ د ازواج مطهراتو څخه ده ماما دی.

۲۵۷. **رفاعه بن عبدالمنذر**: دغه رفاعه بن عبدالمنذر د انصارو څخه دی، کنيت يې ابولبابه دی دده يادونه به د لام په حرف کي راسي.

۲۵۸. **رويفع بن ثابت**: دغه رويفع د ثابت بن سکن زوی دی، انصاري دی، په مصريانو کي شمېرل کيږي، امير معاويه په ۴٦م هجري کال کي د لويديځ طرابلس والي ټاکلی وو، په برقه کي وفات سو او ځينو ويلي دي چي په شام کي وفات سو، دده څخه حنش بن عبدالله او نورو حضراتو روايت کړی دی، رويفع د رافع تصغير دی، او حنش حاء مهمله او نون فتحه او شين معجمه سره دی.

۲۵۹. **رکانة بن عبد يزيد**: دغه رکانه د عبد يزيد بن هاشم بن عبدالمطلب قرشي زوی دی، ډېر طاقتور وو، دده حديث په حجاز کي دی، د حضرت عثمان رضي الله عنه تر زمانې پوري ژوندی وو او ځينو ويلي دي چي په ۴۲م هجري کال کي وفات سو، دده يوې ډلي روايت کړی دی، رکانه د راء مهمله په ضمه سره او کاف غير مشدد او نون دی.

۲٦۰. **رباح بن الربيع**: دغه رباح بن الربيع اسيدي کاتب دی دده حديث په بصريانو کي مروج دي، د قيس بن زهير ده څخه روايت کوي، الاسيدي د همزه په ضمه د سين په فتحه او د دواړو ياګانو په تشديد سره دی.

۲٦۱. **ربيعه بن کعب**: دغه ربيعه د کعب زوی دی، کنيت يې ابو فراس اسلمي دی په اهل مدينه کي شمېرل کيږي او د اهل صفه څخه وو، ويل کيږي چي دی د رسول الله ﷺ خاص خادم وو او د پخوانيو اصحابو څخه دی، د رسول الله ﷺ سره به په حضر او سفر کي وو، په ٦۳م هجري کال کي وفات سو، دده يوې ډلي روايت کړی دی.

۲٦۲. **ربیعه بن الحارث** : دغه ربیعه د حارث بن عبد المطلب بن هاشم زوی دی چي د رسول الله ﷺ اکا دی، ده ته د صحبت شرف حاصل دی د حضرت عمر رضی الله عنه په خلافت کي په ۲۲م هجري کال وفات سو، دا هغه دی چي دده په اړه رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ فرمایلي وه: لومړی دیت چي زه یې معافوم د ربیعه ابن الحارث دیت دی او ځکه یې وفرمایل چي د جاهلیت په زمانه کي د ربیعه یو زوی چي دهغه نوم آدم وو وژل سوی وو نو رسول الله ﷺ په اسلام کي د هغه غوښتنه پرېښودل.

۲٦۳. **ربیعه بن عمرو** : دغه ربیعه د عمرو جرشي زوی دی، واقدي بیان کړی دی چي ربیعه د راهط د خروج په ورځ وژل سوی دی.

۲٦۴. **ابورافع اسلم**: دغه ابورافع اسلم د نبي کریم ﷺ ازاد سوی غلام دی، دده تر نامه دده کنیت زیات مشهور دی، نوموړی قبطي وو مخکي دعباس رضی الله عنه غلام وو هغه رسول الله ﷺ ته د تحفې په توګه ورکړی وو بیا کله چي رسول الله ﷺ ته د حضرت عباس رضی الله عنه د اسلام زیری ورکړل سو نو رسول الله ﷺ په دغه خوشحالی کي هغه ازاد کړ، د هغه اسلام د بدر د غزا څخه مخکي وو، دده څخه یوه لویه ډله روایت کوي د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه څو ورځي مخکي وفات سو.

۲٦۵. **ابورمثه** : دغه ابورمثه د رفاعه بن یثربي زوی دی، تمیمي دی د امراء القیس د اولاد څخه دی چي د زیدبن مناة بن تمیم زوی وو، دده په نامه کي ډېر اختلاف دی ځینو هغه نوم بیان کړی دی کوم چي موږ مخکي ذکر کړی دی، او ځینو عماره بن یثربي ویلي دي او ځینو یې بل نوم ذکر کړی دی، د رسول الله ﷺ په خدمت کي د خپل پلار سره حاضر سو، په کوفیانو کي شمېرل کیږي، ایاد بن لقیط دده څخه روایت کړی دی، رمثه د راء په کسره او د میم په سکون او ثاء مثلثه سره دی.

۲٦٦. **ابورزین** : دغه ابورزین دی، دده نوم لقیط دی د عامر بن صبره زوی دی دده یادونه به د لام په حرف کي راسي.

۲٦۷. **ابوریحانه**: دغه ابوریحانه د شمعون بن زید زوی وو، د بنو قریظة څخه انصاري دي، یعني د انصارو حلیف دی، ده ته د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام ویل کیږي، دده لور ریحانه ده چي لویه فاضله، عابده او ددنیا څخه لیري ښځه وه، نوموړی په شام کي هستوګن سوی وو، یوې ډلي ور څخه روایت کړی دی.

تابعين رحمة الله عليهم .

۲٦۸. **ابورجاء** : دغه ابورجاء عمران بن تميم عطاردي دی، د رسول الله ﷺ په ژوند کي يې اسلام راوړی وو، د حضرت عمر بن خطاب او حضرت علي رضي الله عنهما او نورو څخه روايت کوي او دده څخه يوې ډلي روايت کړی دی، لوی عالم باعمل او سن رسېده او د قرائت د ماهرينو څخه وو، په ۱۰۷م هجري کال کي وفات سو .

۲٦۹. **ربيعه بن ابي عبدالرحمن**: دغه ربيعه د ابوعبدالرحمن زوی دی، ستر تابعي دی، دمدينې د منل سوو فقهاؤ څخه دی، د حضرت انس بن مالک او حضرت سائب رضي الله عنهما څخه يې حديث اورېدلي دي، سفيان ثوري او مالک بن انس دده څخه روايت کوي، په ۱۳۶ هجري کال کي وفات سوی دی .

۲۷۰. **ابورافع** : دغه ابورافع د حقيق زوی دی، دده نوم عبدالله وو او دی د حجاز د تجارانو څخه يو يهودي وو، په معجزاتو کي دده يادونه د براء په حديث کي راځي ، الحقيق د حاء مهمله په ضمه، د لومړي قاف په فتحه او ياء تحتاني په سکون سره دی .

۲۷۱. **رعل بن مالک** : دغه رعل د مالک بن عوف زوی دی او دهغه خلگو څخه دی چي پر هغوی رسول الله ﷺ په قنوت کي لعنت او ښېرا کړې وه ، له دې کبله چي هغه قاريان وژلي وه، رعل د راء په کسره او د عين مهمله په سکون سره دی .

صحابي ښځي

۲۷۲. **الربيع بنت معوذ** : دغه ربيع د معوذ لور ده ، صحابيه ده او له انصارو څخه ده، د لوی قدر او عظمت والا ده، ددې حديث په مدينه کي او په بصره والا کي رواج دي، الربيع د راء په پېښ ، ياء موحده په فتحه او دوو ټکو والا ياء مکسور تشديد سره ده .

۲۷۳. **الربيع بنت النضر**: دغه ربيع بنت نضر د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه عمه ده او د حارثه بن سراقه مور ده، په صحيح بخاري کي دي چي د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه عمه د ربيع بنت نضر مور ده چي دهغې يادونه د صحابي ښځو په ډله کي راځي، هغه ربيع ده او همدا صحيح دی .

۲۷۴. **الرميصاء** : دغه رميصاء د ام سليم ملحان لور او د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه مور ده، او ددې يادونه به د سين په حرف کي ډېر ژر راسي .

ز - صحابه کرام رضي الله عنهم :

۲۷۵. **زيد بن ثابت** رضي الله عنه: دغه زيد بن ثابت انصاري د رسول الله ﷺ كاتب (ليكوال) دی، کله چي رسول الله ﷺ مدينې ته راغلی نو دده عمر يوولس کاله وو، دده شمېر په داسي سترو فقهاء صحابوو کي کيږي چي پر هغوی د فرائضو مدار دی، او دی د هغه صحابه کرامو څخه دی چا چي د قرآن کريم په تدوين کي لويه برخه اخيستې ده، او ده د ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي د قرآن کريم کتابت هم کړی دی او قرآن پاک يې د مصحف څخه د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کي نقل کړی دی، دده څخه يوه ډله روايت کوي، په مدينه منوره کي په ۴۵ م هجري کال د ۵۶ کالو په عمر وفات سو .

۲۷۶. **زيد بن ارقم** رضي الله عنه : دغه زيد بن ارقم دی کنيت يې ابو عمر دی انصاري خزرجي دی، په کوفيانو کي شمېرل کيږي، په کوفه کي يې هستوګنه اختيار کړل او هلته په ۶۶م هجري کال کي وفات سو، دده څخه ډېرو حضراتو روايت کړی دی .

۲۷۷. **زيد بن خالد** رضي الله عنه: دغه زيد بن خالد د جهينه قبيلې څخه دی، دی کوفې ته راغلی وو او هلته په ۷۸ هجري کال کي وفات سو، عمر يې ۸۵ کاله وو، انس، عطاء بن يسار او نور حضرات ور څخه روايت کړی دی .

۲۷۸. **زيد بن حارثه** رضي الله عنه : دغه زيد بن حارثه دی، دده کنيت ابو اسامه دی ، دده مور سعدی بنت ثعلبه ده چي د بني معن څخه ده، زيد بن حارثه د هغه مور د خپل قوم سره د يو ځای کولو لپاره راوستی نو د بني معن بن جرير يو لښکر د جاهليت په زمانه کي حمله پر وکړل بيا هغه لښکر پر هغه کورونو تېر سو چي د زيد بن حارثه د مور کورنۍ وه ، هغه حمله کوونکو زيد بن حارثه وتښتوی ، د هغه عمر هغه وخت اته کاله ښودل کيږي ، د عکاظ بازار ته يې بوتلی او هلته يې د پلورلو لپاره وړاندي کړ نو حکيم بن حزام بن خويلد د خپلي عمه خديجه بنت خويلد لپاره د څلور سوه درهمو په بدله کي رانيوی ، بيا کله چي رسول الله ﷺ دهغې سره نکاح وکړل نو بي بي خديجې رضي الله عنها ، رسول الله ﷺ ته هبه کړ ، د رسول الله ﷺ په قبضه کي وو بيا د دغه ټولي پېښي خبر د زيد بن حارثه کورنۍ ته ورسېدی نو دهغه پلار حارثه او اکا کعب رسول الله ﷺ ته راغلل او د فديې په ورکولو سره يې د ځان سره بېول وغوښتل، رسول الله ﷺ زيد بن حارثه ته اختيار ورکړ که د خپلي کورنۍ سره تلل غواړي نو په خوښۍ سره د خپل پلار سره ولاړ سه او که غواړې نو زما سره پاته سه، زيد بن

حارثه رسول الله ﷺ ته پر خپلي کورنۍ باندي ترجيح ورکړل او د پلار او اکا سره نه ولاړی، ځکه چي د رسول الله ﷺ احسانات او کريمانه اخلاق د هغه په زړه کي ځای نيولی وو، ددغه پېښي څخه وروسته رسول الله ﷺ هغه حجر ته بوتلی او حاضرينو ته يې په خطاب کولو سره وفرمايل: تاسو شاهدان اوسئ! ما زيد خپل زوی ګرځولی دی، دی زما وارث دی او زه دده وارث يم، ددې څخه وروسته هغه ته زيد بن محمد ويل کېدل، تر دې چي د الله ﷻ شريعت راغلی او دغه آيت نازل سو چي په خولې ويلي هلکان د هغوی مور او پلار ته په منسوب کولو سره بولئ دا خبره دالله ﷻ په نزد ډېره د انصاف او صحيح ده، نو بيا هغه ته زيد بن حارثه ويل کېدل، دغه زيد بن حارثه په نارينوو کي تر ټولو مخکي اسلام راوړی دی د يوه قول مطابق رسول الله ﷺ تر ده لس کاله مشر دی او د بل قوم مطابق شل کاله، رسول الله ﷺ دده نکاح د ام ايمن سره وکړل، دهغې څخه اسامه رضي الله عنه پيدا سو، تر دې وروسته زينب بنت حجش سره د ده نکاح وسول او زيد بن حارثه ته به محبوب رسول ويل کېدل، او الله ﷻ د هيځ يو صحابي نوم په قرآن کريم کي ذکر کړی نه دی پرته دده څخه، دا هغه آيت دی: (فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا)، دده څخه دده زوی اسامه رضي الله عنه او نورو خلګو روايت کړی دی، د موته په غزا کي کله چي دی د لښکر امير وو د جمادي الاول په مياشت کي په اتم هجري کال شهيد سو او عمر يې ۵۵ کاله وو.

۲۷۹. **زيد بن الخطاب**: دغه زيد بن خطاب عدوي قريشي د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه ورور دی، دی د حضرت عمر رضي الله عنه څخه په عمر کي مشر وو، په لومړنيو مهاجرينو کي دی او د حضرت عمر رضي الله عنه څخه يې مخکي ايمان راوړی دی، د بدر په غزا او تر هغه وروسته په ټولو غزاوو کي حاضر وو، د يمامه په جګړه کي شهيد سو چي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي پېښه سوې وه، دده څخه عبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت کوي.

۲۸۰. **زيد بن سهل**: دغه زيد د سهل زوی دی، په خپل کنيت ابو طلحه سره مشهور دی، دده يادونه د طاء په حرف کي راځي.

۲۸۱. **الزبير بن العوام** رضي الله عنه: کنيت يې ابو عبدالله قريشي دی، دده مور صفيه د عبدالمطلب لور او د رسول الله ﷺ عمه ده، ده او مور يې په پيل کي اسلام راوړی وو، کله چي دده عمر شپاړلس کاله وو، دده د اسلام راوړلو په وجه دده اکا په دود سره د ساه بندۍ تکليف ورکوی چي اسلام پرېږدي مګر ده داسي ونه کړل او په ټولو غزاوو کي د رسول الله

ﷺ سره موجود وو، نوموړی هغه کس دی چي تر ټولو مخکي يې د الله ﷻ په لاره کي توره پورته کړل او د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کي د اُحد په غزا کي ثابت قدمه پاته وو، او د عشره مبشره څخه هم دی، د لوړ قد والا سور او سپين سړی وو، پر بدن يې غوښه کمه وه او ځينو ويلي دي چي غنم رنګه وو او پر بدن باندي يې وېښتان ډېر وه، په سفوان کي چي په بصره کي واقع دی عمرو بن جرموز په ۳۶م هجري کال کي وژلی وو، دده عمر ۶۴ کاله وو، اول وار په وادي سباع کي دفن کړل سو او بيا بصرې ته منتقل کړل سو او هلته دده قبر کېدل مشهور دي، دده څخه دده دوه زامن عبدالله او عروه او نور کسان روايت کوي.

۲۸۲. **زياد بن لبيد** رضي الله عنه: دغه زياد د لبيد زوی دی کنيت يې ابوعبدالله دی انصاري زرقي دی، په ټولو غزاوو کي د رسول الله ﷺ سره ملګری وو، د حضرت موت والي ګرځول سوی وو، دده څخه عوف بن مالک او ابودرداء رضي الله عنهما د حديثو روايت کوي د حضرت معاويه رضي الله عنه د خلافت په شروع کي وفات سو.

۲۸۳. **زياد بن الحارث** رضي الله عنه: دغه زياد د حارث صدائي زوی دی، د رسول الله ﷺ په لاس مبارک يې بيعت وکړ او مؤذن يې هم وو، په بصريانو کي شمېرل کيږي، په صدائي کي پر صاد مهمله پېښ او دال مهمله باندي شد نسته او د الف څخه وروسته همزه ده.

۲۸۴. **زاهر بن الاسود**: دغه زاهر بن اسود اسلمي دی، د هغه صحابه کرامو څخه دی کومو چي تر درختي لاندي بيعت کړی وو، په کوفه کي هستوګن وو او د کوفې په اوسېدونکو کي شمېرل کيږي.

۲۸۵. **زراع بن عامر**: د عامر بن قيس زوی دی د عبدالقيس په وفد کي په شامل‌ېدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوی دی، په بصريانو کي شمېرل کيږي، د دغه حديث په اهل بصره کي رائج دي.

۲۸۶. **زراره بن ابي اوفی** رضي الله عنه: دغه زراره د ابي اوفی زوی دی، د صحابه کرامو څخه دی د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو.

۲۸۷. **ابوزيد الانصاري** رضي الله عنه: دا هغه کس دی چي قرآن کريم يې د خپلي حافظې څخه د رسول الله ﷺ په زمانه کي جمع کړ، دده په نامه کي اختلاف دی ځينو سعيد بن عمير ويلي دي او ځينو قيس بن سکن.

۲۸۸. **ابوزهير نميري**: نوموړي په شاميانو کي شمېرل کيږي.

۲۸۹. **الزبيدي**: د زاء معجمه په پېښ او باء موحده په زور سره، دده نسبت زبيد ته کېږي دده نوم منبه بن سعد بيانيږي دده صحابي کېدل محقق نه دي .

تابعين رحمهم الله

۲۹۰. **الزبير بن عدي** : د عدي زوی دی ، همداني کوفي دی، د ری نامي ځای قاضي وو، تابعي دي، د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت کوي او دده څخه سفيان ثوري او نور کسان د حديثو روايت کوي، په ۱۳۱م هجري کال کي وفات سو ، په همداني کي ميم ساکن دی .

۲۹۱. **الزبير العربي**: دغه زبير عربي نميري او بصري دی، د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت کوي او دده څخه معمر او حماد بن زيد ، باوري راوي دی .

۲۹۲. **زياد بن کسيب**: د کسيب زوی دی عدوي دي او په بصريانو کي شمېرل کيږي، نوموړی تابعي د ياو د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت کوي، کسيب په تصغير سره دی .

۲۹۳. **زهره بن معبد** : د معبد زوی دی، کنيت يې ابوعقيل دی، د عين په زور سره دی قرشي او مصري دی، د خپل نيکه عبدالله بن هشام او نورو څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه روايت کونکي ډېر کسان دي ، دده د حديث لويه برخه د اهل مصر سره ده .

۲۹۴. **زهير بن معاويه** : دده کنيت ابوخيثمه جعفي دی ، کوفي دی ، دی په جزيره کي اوسېدی ، د حديثو حافظ او باوري دی، د ابواسحاق همداني او ابوالزبير څخه يې حديث واورېدل ، دده څخه ابن مبارک او يحيى بن يحيى او نور روايت کوي، دده يادونه په کتاب الزکوة کي راغلې ده، په ۱۷۴م هجري کال کي وفات سو .

۲۹۵. **زميل بن عباس** : دی دخپل مولی عروه څخه روايت کوي، او دده څخه يزيد بن الهاد روايت کوي، په دده کي يو څه ضعف دی .

۲۹۶. **الزهري** : دغه زهري زهرة بن کلاب ته منسوب دی چي دده ور نيکه دی، له دې کبله زهري ورته ويل کيږي، دده کنيت ابوبکر دی نوم يې محمد دی او د عبدالله بن شهاب زوی دی، لوی فقيه او محدث تېر سوی دی، په تابعينو کي د ستري درجې دی، د مدينې ستر فقيه او عالم دی، د علوم شريعت په مختلفو فنونو کي ده ته رجوع کېدل، د ډېرو صحابه کرامو څخه يې حديث اورېدلي دي ، دده څخه ډېر کسان روايت کوي چي په هغوی کي قتاده او مالک بن انس هم دي، عمر بن عبدالعزيز وايي: زه دده څخه لوی عالم نه وينم، د

مکحول څخه پوښتنه وسول چي کوم علماء تا ليدلي دي په هغوی کي زيات عالم څوک دی؟ هغه وويل: ابن شهاب دی، بيا پوښتنه وسول چي تر ده وروسته څوک دی؟ نو ده وفرمايل چي ابن شهاب دی ، د رمضان المبارک په مياشت کي په ۱۲۴ هجري کال کي وفات سو .

۲۹۷. **زر بن حبيش** : نوموړي اسدي کوفي دی، کنيت يې ابو حريم دی، د جاهليت په زمانه کي يې شپېته کاله تېر کړي دي او همدومره وخت يې په اسلام کي تېر کړی دی، د عراق د هغه قاريانو څخه دی چي د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه شاگردان وه، د حضرت عمر رضي الله عنه څخه يې حديث اورېدلي دي ، دده ډېر تابعين او غير تابعين روايت کوي، زر د زاء معجمه په کسره او راء مهمله په تشديد سره دی، په حبيش کي پر حاء مهمله ضمه او باء موحده زور او دوو ټکو والا ياء ساکنه ده او په آخر کي شين دی .

۲۹۸. **زراره بن ابي اوفی** : دغه زراره بن ابي اوفی ابو حاجب جرشي د بصري قاضي دی، دصحابه کرامو څخه حديث نقل کوي چي په هغوی کي حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه هم دی، د هغه څخه يې دغه روايت کړی دی چي عبدالله بن عباس رضي الله عنه وويل: يو سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړل چي اې دالله رسوله! کوم عمل د الله جل جلاله په نزد زيات خوښ دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: الحال المرتحل، هغه سړي وويل: اې دالله رسوله! الحال المرتحل څه ته وايي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: صاحب قرآن، چي قرآن د پيل څخه تر پايه پوري وايي او د پای څخه يې شروع کړي تر اول پوري يې وايي، دده څخه قتاده او عوف د حديثو روايت کړی دی، ده يوه ورځ امامت ورکړ او په لمانځه کي يې : (فاذا نقر في الناقور) وواېه او په چغه کولو سره په ۹۳م هجري کال کي وفات سو .

۲۹۹. **زياد بن حدير** : دده کنيت ابو مغيره دی، د بنو اسد څخه دی، کوفي او تابعي دی، د حضرت عمر او حضرت علي رضي الله عنهما څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه يوې ډلي روايت کړی دی، چي په هغوی کي شعبي هم دی، حدير د حاء مهمله په پېښ او دال مهمله په زور او ياء تحتاني په سکون او راء مهمله سره دی .

۳۰۰. **زيد بن اسلم**: کنيت يې ابواسامه دی ،د حضرت عمر رضي الله عنه ازاد سوی غلام دی، مدني دي او ستر تابعي دی، د صحابه کرامو څخه روايت کوي او دده څخه سفيان ثوري او ايوب سختياني او مالک او ابن عيينه حديثونه نقل کوي، په ۱۳۶هجري کال کي وفات

۳۰۱. **زيد بن طلحه**: دده څخه سلمه بن صفوان زرقي روايت کوي، امام مالک دده حديث د حياء په اړه اخذ کړي دي.

۳۰۲. **زيد بن يحيى** : نوموړی دمشقي دی، د امام اوزاعي څخه روايت کوي او دده څخه امام احمد او دارمي روايت کوي، نوموړی باوري دی.

۳۰۳. **ابوزبير** : نوم يې محمد بن اسلم دی د مکې اوسېدونکی دی، د حکيم بن حزام ازاد سوی غلام کړی، د طبقه ثانيه څخه دی د مکې د تابعينو څخه دی ، د جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه يې حديثونه اورېدلي دي او دده څخه ډېرو خلکو روايت کړی دی، په ۱۲۵ هجري کال کې وفات سو.

۳۰۴. **ابوزرعه** : دده نوم عبيد الله دی د عبد الکريم زوی دی د ری اوسېدونکی دی، د يوې لوي ډلي څخه يې حديث اورېدلي دي او دده څخه عبد الله بن احمد بن حنبل او نور کسان روايت کوي، امام او حافظ حديث دی ، پوخ او د باور وړ دی، د حديث عالم مشائخ يعني روات حديث پېژندونکی دی د جرح او تعديل پېژندونکی دی ، په ۲۰۰ هجري کال کې پيدا سو او د ری په سيمه کې په ۲۶۴ هجري کال کې وفات سو.

صحابي ښځې

۳۰۵. **زينب بنت جحش** رضي الله عنها : دغه زينب بنت جحش رضي الله عنها د امهات المؤمنين څخه ده، ددې د مور نوم اميه دی چې د عبد المطلب لور ده، او د رسول الله ﷺ عمه ده، په پيل کې د زيد بن حارثه چې د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام وو، د هغه ښځه وه بيا حضرت زيد رضي الله عنه طلاق ورکړی وو، او تر دې وروسته رسول الله ﷺ ورسره په پنځم هجري کال کې نکاح وکړل، دغه زينب رضي الله عنها د رسول الله ﷺ په ټولو ازواجو مطهراتو کې د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته تر ټولو مخکې وفات سول ، ددې اولنی نوم بره وو چې رسول الله ﷺ د زينب نوم پر کښېښود، بي بي عائشه رضي الله عنها ددې په اړه فرمايي: هيڅ يوه ښځه تر زينب په دين کې ښه نسته دا تر ټولو زياته د الله جل جلاله څخه بېرېدونکې وه او تر ټولو زياته رېښتيا ويونکې وه، تر ټولو زياتو قرابت لرونکې ده او تر ټولو زياته صدقه ورکونکې ده او په هغو ټولو کارو کې چې په هغه کې د الله جل جلاله د قرب تر لاسه کولو لپاره په کار راتلای سي تر ټولو زيات ځان قربانونکې وه، په ۲۰ م هجري کال په مدينه کې وفات سول ، بي بي عائشه ، ام حبيبه او داسي نور ددې څخه د حديثو روايت کوي.

۳۰۶. **زینب بنت عبدالله**: دغه زینب د عبدالله بن معاویه لور ده ، د بنو ثقیف اوسېدونکې ده ، دعبدالله بن مسعود ﷛ ښځه وه ، د دې څخه ددې خاوند ، ابوسعید ، ابوهریره او بي بي عائشه ﷞ د حدیثو روایت کوي .

۳۰۷. **زینب بنت ابي سلمه**: دا د رسول الله ﷺ بي بي او د بي بي ام سلمه لور ده، ددې نوم هم بره وو چې رسول الله ﷺ بدل کړ او زینب یې پر کښېښود ، په حبشه کې پیدا سول ، د عبدالله بن زمعه په زوجیت کې وه ، د خپلې زمانې په ښځو کي تر ټولو زیاته فقیه وه ددې څخه یوې ډلې د حدیثو روایت کړې دی ، د حره پېښې څخه وروسته وفات سول .

تابعي ښځې .

۳۰۸. **زینب بنت کعب** : دغه زینب د کعب بن عجرة لور ده ، د انصارو څخه ده د سالم بن عوف د کورنۍ څخه ده ، نوموړې رابعیه ده .

س - صحابه کرام ﷡ .

۳۰۹. **سعید بن ابي وقاص** ﷛ : دده کنیت ابواسحاق دی او د پلار نوم یې مالک بن وهیب دی، نوموړی زهري دی د قریشو د قبیلې څخه دی، د هغه لسو کسانو څخه یو دی چي رسول الله ﷺ ورته د جنت زیری ورکړی وو، د اسلام په پیل کي یې ایمان راوړی وو او هغه وخت یې عمر اووه لس کاله وو، دده بیان دی چي زه په اسلام راوړونکو کي دریم کس یم او زه لومړنی کس یم چي د الله ﷻ په لاره کي مي غشی وویشتل، په ټولو غزاوو کي د رسول الله ﷺ سره شریک وو ، ډېر مستجاب الدعوات وو او دغه خبره په خلګو کي ډېره مشهوره وه، د ښېرا څخه یې خلګ بېرېدل او د خیر د دعاء ارزو یې کول، دا ځکه وه چي رسول الله ﷺ دده په اړه دغه دعاء کړې وه چي اې الله! دده غشی سیده ورسوې او دده دعاء قبوله کړې، دده او زبیر ﷞ لپاره رسول الله ﷺ داسي فرمایلي وه: ارم فداک ابي وامي، داسي الفاظ یې د دوی دواړو څخه ماسوا د بل چا لپاره نه دي فرمایلي، نوموړی په قد کوچنی ، غنم رنګه او پر بدن یې وېښتان زیات وه، په عقیق نامي ځای کي چي مدینې ته نژدې دی په خپل محل کي وفات سو او د خلګو پر اوږو مدینې ته راوستل سو ، مروان بن الحکم دده د جنازې لمونځ ورکړ، مروان په هغه زمانه کي د مدینې والي وو په بقیع کي دفن کړل سو ، دغه پېښه د ۵۵ م هجري کال ده ،عمر یې تقریبا ۷۰ کاله وو، د عشره مبشره څخه دی ، دده مرګ د ټولو په پای کي واقع سو ، حضرت عمر او حضرت عثمان ﷞ د

کوفې والي ته ټاکلی وو ، دده څخه صحابه کرامو او تابعینو روایت کړی دی .

۳۱۰. **سعد بن معاذ** رضی اللہ عنہ: د معاذ زوی دی انصاري اشهلي اوسي دی ، په مدینه کي د عقبه اولی او ثانیه په منځ کي یې اسلام راوړ ، د انصارو په ټولو کورنیو کي دغه اوله کورنۍ وه چي اسلام یې راوړ، رسول الله ﷺ ده ته د سید الانصار خطاب ورکړی وو ، دی په خپل قوم کي لوی بزرګ او مشر منل کیدی، د سترو صحابه کرامو څخه دی ، د رسول الله ﷺ سره د بدر او احد په غزاوو کي شریک وو او په مېړانه یې مقابله وکړل، داحد په غزا کي یې د ملا پر رګ غشی ولګېدل ، وینه یې بنده نه سول تر دې چي یوه میاشت وروسته وفات سو ، دغه پېښه د ذي قعده د میاشتي د پنځم هجري کاله ده هغه وخت یې عمر ۳۷ کاله وو ، په جنت البقیع کي خاورو ته وسپارل سو ، د صحابه کرامو یوې ډلي دده څخه روایت کړی دی.

۳۱۱. **سعد بن خوله**: دغه سعد بن خوله د بدر په غزا کي ګډون وکړ او د حجة الوداع په کال کي په مکه مکرمه کي وفات سو .

۳۱۲. **سعد بن عباده** رضی اللہ عنہ: دده کنیت ابو ثابت انصاري دی، ساعدي خزرجي دی، نوموړی د دوولس نقباؤ څخه یو دی، د انصارو په مشرانو کي شمېرل کیدی او په شان او شوکت کي تر ټولو زیات وو ، یوې ډلي ور څخه د حدیثو روایت کړی دی، په ۱۵ م هجري کال کي چي د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خلافت دوه نیم کاله تېر سوي وه ، په حوران کي چي د شام په هیواد کي واقع دی ، وفات سو ، او دا هم ویل کیږي چي په یوولسم هجري کال کي چي د ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ د خلافت زمانه وه ، وفات سوی دی، پر دې خبره د ټولو اتفاق دی چي دی په خپله غسل خانه کي مړ پیدا کړل سو او کله چي وکتل سو نو ټول بدن یې شین سوی وو ، ټولو خلګو دده د مرګ وجه معلومه نه کړل تر دې چي د یو ویونکي آواز د خلګو غوږو ته راغلی چي دا یې ویل : نحن قتلنا سید الخزرج سعد بن عبادة، ورمینا بسهمین فلم نخط فؤاده ، یعني موږ د خزرج مشر سعد بن عباده وژلی دی او موږ دوې غشی دده پر زړه وچلولې چي نښه خطا نه سول. ځکه نو مشهوره سول چي پیریانو وژلی دی .

۳۱۳. **سعید بن الربیع** رضی اللہ عنہ : دغه سعید بن الربیع د انصارو د خزرج قبیلې څخه دی، د احد په غزا کي شهید سو، رسول الله ﷺ دده او عبدالرحمن بن عوف رضی اللہ عنہ په منځ کي ورورګلوي قائمه کړې وه ، دی او خارجه بن زید په یوه قبر کي دفن کړل سول .

۳۱۴. **سعید بن الاطول** : دغه سعید دی د اطول زوی ، د جهینیه قبیلې څخه دی، ده ته د رسول الله ﷺ صحبت حاصل سو دده څخه دده زامن عبدالله او ابونضره روایت کوي .

۳۱۵. **سعید بن زید** : دغه سعید د زید زوی دی، دده کنیت ابواعور دی عدوي قریشي دی، د عشره مبشره څخه دی، د پیل څخه د اسلام شرف ور په برخه سو، او په ټولو غزاوو کي ماسوا د بدر د غزا څخه د رسول الله ﷺ سره شریک وو، ځکه چي دغه سعید بن زید د طلحه بن عبدالله سره وو چي د قریشو د غلې والا قافلې د معلومات کولو لپاره تاکل سوي وه، رسول الله ﷺ په غنیمت کي د دوی برخه هم ټاکلې وه او د حضرت عمر رضی الله عنه خور فاطمه رضی الله عنها دده په نکاح کي وه او دا هغه فاطمه ده چي دهغې په وجه حضرت عمر رضی الله عنه په اسلام مشرف سو . نوموړی غنم رنګه وو او پر بدن یې وېښتان زیات وه، په ۵۱م هجري کال د عقیق په مقام کي وفات سو او دهغه ځای څخه مدینې ته راوړل سو او په جنت البقیع کي دفن کړل سو ، تقریبا ۷۰ کاله عمر یې وو، دده څخه یوه ډله روایت کوي .

۳۱۶. **سعید بن حریث** : دغه سعید بن حریث قریشي مخزومي دی، د مکې په فتح کي د رسول الله ﷺ سره شریک وو هغه وخت یې عمر پنځلس کاله وو، بیا په کوفه کي هستوګن سو او هلته وفات سو او هم هلته یې قبر دی، حافظ ابن عبدالبر رحمه الله وایي: د هغه قبر په جزیره کي دی ، هیڅ اولاد یې نه وو، د هغه ورور عمرو ور څخه روایت کوي .

۳۱۷. **سعید بن العاص** رضی الله عنه : نوموړی قریشي دی، دهجرت په کال پیدا سو د قریشو په مشرانو کي وو، کومو صحابه کرامو چي د حضرت عثمان رضی الله عنه په حکم سره د قرآن کریم لیکنه وکړل په هغوی کي دی هم وو، حضرت عثمان رضی الله عنه د کوفې والي ټاکلی وو، هغوی د اهل طبرستان سره جګړه وکړل او په هغه کي یې کامیابي تر لاسه کړل، په ۹ ﻫ کال کي وفات سو .

۳۱۸. **سعید بن زید** رضی الله عنه : دسعد بن عباده زوی دی، انصاري دي، ویل کیږي چي د نبي کریم ﷺ په صحبت مشرف سو ، د خپل پلار څخه روایت کوي او دده زوی شرجبیل او ابوامامه بن سهل دده څخه روایت کوي ، واقدي او نورو ویلي دي چي دده صحابي کېدل صحیح دي ، د حضرت علي رضی الله عنه له خوا د یمن والي وو .

۳۱۹. **سبره بن معبد** رضی الله عنه : نوموړی جهني دی د مدینې اوسېدونکی دی، دده څخه دده زوی ربیع روایت کوي، دده شمېر د مصر په محدثینو کي کیږي، په سبره کي سین مفتوح او باء ساکنه ده .

۳۲۰. **سهل بن سعد**رضی الله عنه: ساعدي انصاري دی، ابوعباس يې كنيت دی، دده نوم حزن وو بيا رسول الله ﷺ د سهل نوم پر كښېښود، كله چي رسول الله ﷺ وفات سو نو دده عمر پنځلس كاله وو، سهل په مدينه كي په ۹۱م هجري كال وفات سو، او ځينو ۸۸ كال بيان كړی دی، دی تر ټولو آخري صحابي دی چي په مدينه كي وفات سو، دده څخه دده زوی عباس، زهري او ابو حازم روايت كوي.

۳۲۱. **سهل بن ابي حثمه**: كنيت يې ابومحمد دی، ابوعماره انصاري اوسي هم ورته ويل كيږي، په دريم هجري كال كي پيدا سو او په كوفه كي هستوګن سو، د مدينې د اوسېدونكو څخه شمېرل كيږي، او په مدينه كي د معصب بن زبير په زمانه كي وفات سو، يوه لويه ډله ور څخه د حديثو روايت كوي.

۳۲۲. **سهيل بن حنيف انصاري**: نوموړی اوسي دی، د بدر، احد او نورو ټولو غزاوو كي يې ګډون كړی دی، د احد په غزا كي د رسول الله ﷺ سره ثابت قدمه پاته سو او د نبي كريم ﷺ د وفات څخه وروسته د حضرت علي رضی الله عنه ملګری وو، حضرت علي رضی الله عنه په مدينه كي خپل قائم مقام ګرځولی وو، او د هغه څخه وروسته يې د فارس حاكم جوړ كړ، دده څخه دده زوی ابو امامه او داسي نور د حديثو روايت كوي، په ۳۸ م هجري كال په كوفه كي وفات سو.

۳۲۳. **سهل بن بيضاء**رضی الله عنه: دده ورور سهيل وو، بيضاء د دوی دواړو مور وه چي د هغې نوم وعد وو، او د پلار نوم يې وهب بن ربيعه وو، سهل په هغه مسلمانانو كي دی چي د هغوی اسلام په مكه كي ظاهر سو او دا هم ويل كيږي چي ده په مكه كي خپل اسلام پټ وی او د مشركانو سره بدر ته ورسېدی، په هغه زمانه كي يوه ورځ ونيول سو نو عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دده په اړه شاهدي وركړل چي ما دی په مكه كي پر لمونځ كولو ليدلی دی نو بيا دی پرېښودل سو، بيا په مدينه كي وفات سو او رسول الله ﷺ دده او دده د ورور د جنازې لمونځ په مسجد كي وركړ، د دواړو وروڼو يادونه د جنازې د لمانځه په بيان كي راغلې ده.

۳۲۴. **سهل بن الحنظليه**: حنظليه دده د نيكه د مور نوم وو، او ځيني وايي چي دده د مور نوم وو، او هغې ته منسوب كيږي، او ددې په نامه متعارف دی، دده د پلار نوم ربيع بن عمرو وو او سهل د هغه خلګو څخه وو چي د درختي لاندي يې بيعت كړی وو، لوی فاضل وو ډېر خلوت پسند، په ذكر او لمانځه كي ډېر زيات بوخت وو، اولاد يې نه وو، د شام په هيواد كي يې هستوګنه اختيار كړې وه او د امير معاويه رضی الله عنه د خلافت په زمانه كي په

دمشق کي وفات سو.
۳۲۵. **سهیل بن عمرو** رضی اللہ عنہ: دغه سهیل بن عمرو قرشي عامري دی، د قریشو د سترو خلکو څخه وو، بدر په غزا کي د کفر په حالت کي ونیول سو د قریشو د قبیلې خطیب هم وو ځکه حضرت عمر رضی اللہ عنہ، رسول الله ﷺ ته غوښتنه وکړل چي اې د الله رسوله! دده غاښونه وباسئ چي بیا ستاسو پر خلاف خطبه ونه وایي، رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه پرېږده، کیدای سي داسي وخت راسي چي ته يې هم تعریف وکړې، بیا د حدیبیه په صلح کي حاضر سو او د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته چي خلګو په مکه کي اختلاف وکړ او خلک مرتد کېدل پیل سول نو هغه مرتد سو نو هغه وخت دغه سهیل د خطبې ویلو لپاره ولاړ سو او خلګو ته يې ډاډ ورکړ او د ارتداد او اختلاف څخه يې خلک منع کړل، په اتلسم هجري کال کي په طاعون عمواس کي وفات سو، او دا هم ویل کیږي چي په یرموک کي ووژل سو، په یوه بله نسخه کي د دغه سهل بن عمرو په اړه د حافظ ابن عبدالبر څخه روایت دی چي ځینو خلګو د حضرت عمر رضی اللہ عنہ پر دروازه ولاړ وه په هغوی کي سهیل بن عمرو ابوسفیان بن حرب هم وو او دغه خلک د قریشو د مشرانو څخه وه، دحضرت عمر رضی اللہ عنہ له خوا د اجازې ورکولو لپاره یو ځوان راووتی چي تر ټولو مخکي يې بدریانو ته د داخلې اجازه ورکول لکه صهیب رومي، حضرت بلال حبشي، رضی اللہ عنہما، ابوسفیان وویل: ما د نن په ډول معامله هیڅکله نه ده لېدلې چي غلامانو ته اجازه ورکول کیږي او موږ مشران خلک ناست یو، موږ ته توجه هم نه کیږي، پر دې خبره سهیل وویل: اې خلګو! په خدای قسم! زه دغه کراهت ستاسو دمخونو څخه محسوسوم که تاسو په غصه یاست نو پر خپل ځان غصه وکړئ ځکه چي ټولو خلګو ته د اسلام دعوت ورکړل سوی وو، د هغوی سره تاسو ته هم درکړل سوی وو مګر نور خلک په اسلام کي په تلوار سره داخل سول او تاسو په راتللو کي ځنډ وکړ، واورئ! یقینا هغه شرف او فضیلت چي په هغه کي دغه غلامانو تر تاسو سبقت یووړ، زیات درروند دی، د قوت د لحاظ څخه تاسو ددغه دروازې څخه چي د هغه په باره کي تاسو په خپلو کي جګړه کوئ ددې وروسته يې وفرمایل: اې خلګو! دغه غلامان ستاسو څخه د اسلام په فضیلت کي وړاندي سول او س ستاسو لپاره هیڅ لار د غه فضیلت ته نسته چي په هغه کي هغوی ستاسو څخه مخکي سوي دي، اوس ددغه جهاد خیال ساتئ او د ځان لپاره ضروري خیال کړئ ممکن ده چي الله تعالی ستاسو د شهادت درجه په برخه کړي او تاسو په لوړو سترګو د الله جل جلالہ سره یو ځای سئ، بیا د جامو په څنډلو سره ولاړ سو

او شام ته ولاړی ، حسن وفرمایل: پر دغه سړي تعجب دی چي څومره عقلمند دی او په خپل قول کي رېښتونی دی، قسم په خدای! هیڅکله به الله جَلَّ جَلَالُهُ دغه بنده چي هغه ته ژر رسېدلی دی ، ددغه بنده په ډول جوړ نه کړي چي هغه ته په ځنډ سره رسېدلی دی .

۳۲۶. **سهیل بن بیضاء** رضی الله عنه: نوموړی قریشی دی دده د نسب یادونه دده د ورور سهل په یادونه کي سوې ده، په پیل کي مسلمان سو ، حبشې ته یې دوه واره هجرت وکړ ، په ټولو غزاوو کي شریک وو ، دده څخه عبدالله بن انیس او انس بن مالک روایت کوي، په نهم هجري کال کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند مبارک کي چي د تبوک څخه یې تشریف راوړ، دی وفات سو ، هیڅ اولاد یې پاته نه سو .

۳۲۷. **سمره بن جندب** رضی الله عنه : نوموړی الفزاري دی، د انصارو حلیف وو، حافظ وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې ډېر روایت کوی او دده څخه یوې ډلي روایت کړی دی، په بصره کي د ۵۹م هجري کال په پای کي وفات سو .

۳۲۸. **سلیمان بن صرد**: کنیت یې ابوالمطرف دی، خزاعي دی ، ډېر فاضل او عابد سړی وو ، کله چي مسلمانان په کوفه کي داخل سول د هغه وخت څخه په کوفه کي اوسېدی، عمر یې ۹۳ کاله وو ، صرد د صاد مهمله په ضمه او د راء په فتحه سره دی .

۳۲۹. **سلمان بن بریده** : اسلمي دی د خپل پلار او عمران بن حصین څخه روایت کوي او دده څخه علقمه او نور کسان روایت کوي، په ۱۵م هجري کال کي وفات سو .

۳۳۰. **سلمه بن اکوع** : کنیت یې ابومسلم دی، اسلمي مدني دی، تر درختي لاندي د بیعت کوونکو څخه دی، په پیاده جنګ کوونکو کي تر ټولو زیات زړه ور او قوي وو، په ۷۴ م هجري کال په مدینه کي وفات سو عمر یې اتیا کاله وو ، دده څخه ډېر خلګ روایت کوي.

۳۳۱. **سلمه بن هشام** رضی الله عنه : قرشي مخزومي د حبشې د مهاجرینو څخه دی، ښه او صاحب فضل صحابي دی، د ابو جهل ورور دی، د اسلام په پیل کي یې اسلام راوړی وو ، د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کي یې ډېر تکلیفونه وزغمل ، په مکه کي نظر بند کړل سو ، کله چي به رسول الله صلی الله علیه وسلم په قنوت کي د کمزورو او ضعیفانو لپاره دعاء کول نو دی به یې هم په هغه کي یادوی، دی په مکه کي د بندي کېدو په وجه د بدر په غزا کي شریک نه سو ، په ۱۴م هجري کال چي د حضرت عمر رضی الله عنه خلافت وو د مرج الصغیر په جګړه کي وفات سو .

۳۳۲. **سلمه بن صخر** : انصاري بیاضي دی، ویل کېږي چي دده نوم سلیمان وو ، دا هغه کس دی چي د خپلي ښځي سره د ظهار کولو وروسته یې جماع کړې وه ، د ژړا او زاری

کونکو شخه دی هم وو، دده شخه سلیمان بن یسار او ابن مسیب روایت کوي، بخاري فرمایلي دي چي دده روایت معتبر نه دی.

۳۳۳. **سلمه بن المحبق**: کنیت یې ابو سنان دی، د محبق نوم صخر بن عتبه الهذلي وو، په بصریانو کي شمېرل کیدی، په محبق کي د میم پېښ، حاء مهمله فتحه او باء موحده کسره او مشدد ده، په پای کي قاف دی، اصحاب حدیث باء ته فتحه ورکوي.

۳۳۴. **سلمه بن قیس**: اشجعي دی او ابوعاصم ورته شامي وایي، د کوفې په اوسېدونکو کي شمېرل کیږي، هلال بن یسار او نور کسان دده شخه روایت کوي.

۳۳۵. **سلمان فارسي** رضی الله عنه: کنیت یې ابو عبدالله دی، د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام دی، فارسي الاصل د رامهرمز اوسېدونکی دی، او ځیني وایي چي د اصفهان په شاوخوا کي یو کلی چي جي نومېږي، د هغه اوسېدونکی دی، د دین په طلب کي یې سفر وکړ، تر ټولو مخکي یې نصراني مذهب اختیار کړ او د هغه کتابونه یې وویل او پر هغه دین یې پر له پسې تکلیفونه و زغمل، بیا عربو ونیوی او د یهودیانو په لاس یې وپلوری، بیا هغه یهودیانو مکاتب کړ او رسول الله ﷺ د کتابت په بدله کي د هغه مرسته وکړل، ویل کیږي چي سلمان فارسي رضی الله عنه تقریبا د لسو بادارانو غلام پاته سوی دی، کله چي رسول الله ﷺ مدینې ته راوسېدی نو مسلمان سو، رسول الله ﷺ وفرمایل: سلمان رضی الله عنه زموږ د اهل بیتو شخه دی او دی هم د هغه کسانو شخه دی چي د هغوی د راتګ جنت الفردوس متمنی دی، عمر یې ډېر زیات وو، ویل کیږي چي د دوه نیم سوه کالو وو، او په ځینو روایتو کي درې نیم سوه کاله لیکلي دي، مګر اول قول صحیح دی، د خپل لاس ګټه یې خوړل او تنخواه به یې صدقه کول، دده د تعریف او فضائلو یوه لویه ذخیره ده، د رسول الله ﷺ شخه دده په تعریف کي ډېر حدیثونه منقول دي، په ۳۵م هجري کال کي د مدائن په ښار کي وفات سو، ابوهریره، انس رضی الله عنهما او نور کسان دده شخه روایت کوي.

۳۳۶. **سلمان بن عامر**: نوموړی ضبي دی، په بصریانو کي شمېرل کیږي او د ځینو علماؤ خیال دی چي د صحابه کرامو شخه په روایت کونکو کي دده شخه ماسوا بل ضبي نسته.

۳۳۷. **سفینه** رضی الله عنه: د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام دی، ځیني وایي چي د ام سلمه رضی الله عنها ازاد سوی غلام دی او تر ژوند پوري یې د رسول الله ﷺ د خدمت عهد اخیستی وو، ویل کیږي چي سفینه د هغه لقب وو او د هغه د نامه په اړه اختلاف دی، ځینو ورته ریاح ویلي دي او

ځینو مهران او ځینو رومان، عربي النسل وو، ځینو ورته فارسي الاصل ویلي دي، ویل کیږي چي رسول الله ﷺ په یو سفر کي وو او کله چي به یو ثوک ستړی سو نو خپله توره، سپر، نېزه او نور سامان به یې پرده اچوی تر دې چي ډېر شیان ور باندي واچول سول، رسول الله ﷺ وفرمایل: د بار وړلو په وجه ځو سفینه (یعني کښتۍ) ده، دده څخه دده زوی عبدالرحمن، محمد، زیاد او نورډېر کسان روایت کوي.

۳۳۸. **سالم بن معقل** : د ابوحذیفه بن عتبه بن ربیعه ازاد سوی غلام دی، د فارس د اصطرخ اوسېدونکی وو، په ازاد سوو کسانو کي لوی فاضل او د سترو صحابه کرامو څخه وو، په خاصو قاریانو کي شمېرل کیږي ځکه رسول الله ﷺ وفرمایل: د څلورو کسانو څخه قرآن زده کړئ: ۱: ابن ام عبد، ۲: ابی بن کعب، ۳: سالم بن معقل، ۴: معاذ بن جبل، نوموړی د بدر په غزا کي شریک وو، دده څخه ثابت بن قیس او ابن عمر روایت کوي.

۳۳۹. **سالم بن عبید** : نوموړی اشجعي دی، د اهل صفه څخه دی او په اهل کوفه کي شمېرل کیږي، دده څخه بلال بن یساف روایت کوي، یساف د یاء په فتحه سره دی، پر سین مهمله باندي شد نسته او په پای کي فاء ده.

۳۴۰. **سراقه بن مالک**: دغه سراقه بن مالک بن جعشم مدلجي کناني دی، قدید ته به تلی او راتلی، په اهل مدینه کي شمېرل کیږي، یوې لوی ډلي ور څخه روایت کړی دی، د ډېري لوړي درجې شاعر وو، په ۴۲م هجري کال کي وفات سو.

۳۴۱. **سفیان بن اسید**: دغه سفیان بن اسید الحضرمي الشامي دی، جبیر بن نفیر دده څخه د حمص په اړه روایت کړی دی، اسید د اکثرو په نزد د همزه په فتحه او د سین په کسره دی، او روایت مطابق د همزه او فتحه سین سره بېله یاء یعني اسده.

۳۴۲. **سفیان بن عبدالله** : دغه سفیان بن عبدالله بن زمعه دی، کنیت یې ابوعمرو ثقفي دی، په اهل طائف کي شمېرل کیږي، صحابي دی او په طائف کي د حضرت عمر رضی الله عنه له خوا حاکم وو.

۳۴۳. **سفیان بن ابي زهیر**: دغه سفیان دی د ابي زهیر زوی، نوموړی ازدي دی د شنوده قبیلې په اوسېدونکو حجازیانو کي دده حدیث مروج دي، ابن الزبیر او نور کسان دده څخه روایت کوي.

۳۴۴. **سخبرة** : دده کنیت ابوعبدالله ازدی دی، دده څخه دده زوی عبدالله روایت کوي، دده یو روایت په کتاب العلم کي دی، په سخبره کي پر سین باندي فتحه او خاء معجمه

ساکن او یاء موحده مفتوح ده .

۳۴۵. **السائب بن یزید**: دده کنیت ابویزید کندي دی، په دوهم هجري کال کي پیدا سو ، د اوو کالو په عمر د خپل پلار سره په حجة الوداع کي حاضر سو ، دده څخه زهري او محمد بن یوسف روایت کوي ، په ۸۰ م هجري کال کي وفات سو .

۳۴۶. **السائب بن خلاد** : دده کنیت ابوسهله دی، انصاري خزورجي دی، په ۹۱م هجري کال کي وفات سو ، دده څخه ابن خلاد او عطاء بن یسار روایت کوي .

۳۴۷. **سوید بن قیس** : دده کنیت ابوصفوان دی ، دده څخه سماک بن حرب روایت کوي او په کوفیانو کي شمېرل کیږي .

۳۴۸. **ابوسیف القین** : د رسول الله ﷺ د زوی ابراهیم رضي الله عنه رضاعي پلار وو، دده نوم براء بن اوس انصاري دی، په خپل کنیت سره زیات مشهور دی، دده ښځه ام برده ده چي ابراهیم رضي الله عنه ته یې تی ورکړی دی .

۳۴۹. **ابوسعید سعد بن مالک**: انصاري خدري دی، په خپل کنیت سره مشهور سو ، حافظ حدیث او صاحب فضل او عقل وو ، ډېر کم حدیثونه روایت کوي، د صحابوو او تابعینو ډېر کسان دده څخه روایت کوي، په ۷۴ هجري کال کي ۸۴ کالو په عمر وفات سو او په جنت البقیع کي خاورو ته وسپارل سو ، خدر د خاء معجمه په ضمه او دال مهمله په سکون سره دی .

۳۵۰. **ابوسعید بن المعلی** : دغه ابوسعید حارث بن معلي انصاري زرقي دی، ۶۴ کاله عمر یې وو په ۶۴ م هجري کال کي وفات سو .

۳۵۱. **ابوسعید بن ابي فضاله** : نوموړی حارثي انصاري دی، دده کنیت دده نوم دی ، په اهل مدینه کي شمېرل کیږي، دده حدیث د حمید بن جعفر څخه روایت دي چي د خپل پلار او هغه د زیاد بن مینا څخه روایت کوي، مینا د میم په کسره او دوو ټکو والا یاء په سکون سره ده او بیا نون دی، په مد سره هم او بېله مده هم .

۳۵۲. **ابوسلمه** : دغه ابوسلمه د عبدالله بن عبدالاسد زوی دی، مخزوي قرشي دی، د رسول الله ﷺ د عمه زوی دی، دده مور بره د عبدالمطلب لور وه او د رسول الله ﷺ څخه مخکي د ام سلمه خاوند وو ، لس کاله وروسته یې اسلام راوړ، په ټولو غزاوو کي شریک وو ، تر دې چي په څلورم هجري کال په مدینه کي وفات سو ، دده کنیت د نامه څخه زیات مشهور دی .

۳۵۳. **ابوسفیان بن حرب** : دغه ابوسفیان بن صخر بن حرب د بنو امیه څخه دی، قرشي دی د حضرت معاویه ﷺ پلار دی، د عام فیل څخه لس کاله مخکي پیدا سو، د اسلام څخه مخکي د قریشو په مشرانو کي ګڼل کیدی او د قریشو د مشرانو بېره به دده سره وو، د مکې د فتح په ورځ یې اسلام راوړ، دی هم د هغه خلګو څخه دی چي د هغوی په زړونو کي د اسلام محبت قائمولو لپاره به د هغوی سره خاص چلن کېدی، په اسلام کي تالیف قلب وکړل سو، د حنین په غزا کي یې ګډون وکړ او رسول الله ﷺ د هغه غنیمت څخه دی هم په مؤلفة القلوب کي په داخلولو سره سل اوښان او څلوېښت اوقیه سپین زر ورکړل، د طائف په غزا کي دده یوه سترګه وچاودل، بیا د یرموک تر غزا پوري یو سترګی وو، په یرموک کي پر دوهمه سترګه یې هم وار سو او بالکل ړوند سو، دده څخه عبدالله بن عباس ﷺ روایت کوي، په ۳۴ م هجري کال په مدینه کي وفات سو او په جنت البقیع کي دفن سو.

۳۵۴. **ابوسفیان بن حارث** : دغه ابوسفیان بن حارث بن عبدالمطلب د رسول الله ﷺ د اکا زوی او تی رودونکی ورور دی، په داسي توګه چي حلیمه سعدیه دده ته هم تی ورکړی دی، یوه ډله وایي چي دده نوم مغیره وو او د بلي ډلي خیال وو چي نه بلکه دده نوم دده کنیت وو او مغیره خو د هغه ورور وو، دی د هغه شاعرانو څخه دی چي دهغوی پر نقش قدم نور کسان تلل، ده مخکي د رسول الله ﷺ بدوینه کړې وه چي د هغه جواب حسان بن ثابت ﷺ ورکړی وو، بیا یې اسلام راوړ او په داسي توګه چي د رسول الله ﷺ مخته د شرم او حیاء څخه د سر لوړلو همت ونه سو، دی د مکې په فتحه کي په اسلام مشرف سو دده د اسلام راوړلو پېښه عجیبه او غریبه ده، حضرت علي ﷺ ده ته وفرمایل چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سه او هغه ته ووایه : څه چي د یوسف ﷺ وروڼو یوسف ﷺ ته ویلي وه (تاالله لقد اثرک الله علینا) یعني قسم په خدای! الله ﷻ تاسو ته پر موږ باندي ترجیح درکړل، او دا خبره ثابته سول، چي موږ مجرمان او ګناه کاران یو، ابوسفیان همداسي وکړل، رسول الله ﷺ ددې په اورېدو سره وفرمایل: لا تثریب علیکم الیوم...الخ، یعني نن ورځ پر تاسو هیڅ ملامتیا نسته، الله ﷻ دي ستاسو خطاوي معاف کړي او هغه تر ټولو زیات رحم کوونکی دی، رسول الله ﷺ د هغه دغه توبه قبوله کړل او هغه اسلام راوړ، د هغه د مرګ دا سبب سو چي هغه حج وکړ او کله چي نائي د هغه سر وخروی نو یوه مسه چي د هغه په سر کي وه پرې کړل، له دې کبله هغه په تکلیف اخته سو تر

دې چي د حج څخه په ستنېدو سره په ۲۰ م هجري کال په مدينه کي وفات سو او د عقيل بن ابي طالب په سراى کي دفن کړل سو، حضرت عمر رضي الله عنه يې د جنازې لمونځ ورکړ.

۳۵۵. **ابوالسمح** رضي الله عنه: دغه ابوالسمح دی، دده نوم اياد وو، د رسول الله ﷺ خادم وو، او ځيني وايي چي د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام وو، په خپل کنيت سره زيات مشهور دی، اياد د همزه په کسره او د ياء په تخفيف سره دی، د وفات ځای يې معلوم نه دی.

۳۵۶. **ابوسهله**: دغه ابوسهله سائب دی چي د خلاد زوی دی دده يادونه په مخکني حرف کي راغلې ده.

تابعين رحمة الله عليهم.

۳۵۷. **سعيد بن المسيب** رحمه الله: کنيت يې ابومحمد دی، قريشي مخزومي مدني دی، کله چي د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت دوه کاله تېر سول نو دی پيدا سو او د هغه تابعينو څخه دی چي پر نقش اول (يعني د صحابه کرامو پر ژوند) باندي روان وو، د فقه، حديث، زهد او عبادت جامع وو، دده شيانو د لېدو لپاره ده ته اشاره کيږي او دی مخصوص کيږي، د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د احاديثو او دحضرت عمر رضي الله عنه د فيصلو تر ټولو لوی عالم وو، د صحابه کرامو د يوې لوی ډلي سره ده ليدنه کړې وه او دهغه ټولو څخه يې روايات نقل کړي دي، او دده څخه زهري او ډېرو تابعينو، د مکحول بيان دی چي ما د علم په طلب کي ټوله مځکه وچڼل مګر د ابن مسيب څخه لوی عالم او فقيه مي پيدا نه کړ او خپله ابن مسيب ويل: ما څلوېښت حجونه کړي دي، په ۹۳م هجري کال کي وفات سو.

۳۵۸. **سعيد بن عبدالعزيز**: نومړی تنوخي دمشقي دی، د اوزاعي په زمانه کي او دهغه څخه وروسته هم د اهل شام په فقهاوو کي شمېرل کيږي، د احمد بيان دی چي د شام په هيواد کي د سعيد بن عبدالعزيز او اوزاعي څخه زيات د هيچا حديثونه صحيح نه دي، او ويل يې چي په هغه او اوزاعي کي زما په نزد هيڅ فرق نسته، سعيد به ډېر زيات ژړل، د هغه څخه دده وجه وپوښتل سول نو وه يې فرمايل: کله زه د لمانځه لپاره درېږم نو همېشه دوږخ په متشکل کېدو سره زما مخته راوستل سي، د نسائي وينا ده چي دی باوري دی، د مکحول او زهري څخه روايت کوي او دده څخه ثوري روايت کوي، په ۱۶۷م هجري کال کي وفات سو عمر يې تقريبا اوويا کاله وو.

۳۵۹. **سعيد بن ابي الحسن** رضي الله عنه: سعيد بن ابي الحسن دی او د هغه نوم يسار دی، د

بصري اوسېدونکی او تابعي دی، دی د ابن عباس او ابوهریره رضي الله عنهما څخه روایت کوي او دده څخه قتاده او عون، په ۱۰۹م هجري کال کي د خپل ورور څخه یو کال مخکي وفات سو.

۳۶۰. **سعید بن حارث** رحمه الله: دغه سعید بن حارث بن معلی انصاري حجازي دی، د مدینې قاضي او لوی مشهور تابعي دی، ده د ابن عمر، ابوسعید او جابر رضي الله عنهم څخه او دده څخه ډېرو خلګو روایت کړی دی.

۳۶۱. **سعید بن ابي هند**: دغه سعید بن ابي هند د سمره ازاد سوی غلام دی، د ابوموسی اشعري، ابوهریره او ابن عباس رضي الله عنهم څخه روایت کوي او دده څخه دده زوی عبدالله او نافع بن عمر الحجمي روایت کوي، مشهور باوري دی.

۳۶۲. **سعید بن جبیر** رحمه الله: نوموړی اسدي کوفي دی، له سترو تابعینو څخه دی، د ابومسعود، ابن عباس، ابن عمر، ابن زبیر او انس رضي الله عنهم څخه یې علم تر لاسه کړ او دده څخه ډېرو خلګو، د شعبان په میاشت کي په ۶۵م هجري کال د ۴۹ کالو په عمر حجاج بن یوسف قتل کړ او خپله حجاج په رمضان کي مړ سو، او د ځینو په نزد په هغه کال په شوال کي، او داسي هم وايي چي دده د شهادت څخه شپږ میاشتي وروسته مړ سو، دده څخه وروسته حجاج د هیچا پر وژنه قادر نه سو ځکه چي سعید رحمه الله، حجاج ته ښېرا کړې وه کله چي حجاج هغه ته ویلي وه چي وښیه ته څرنګه ووژل سې، زه تا هم هغسي وژنم، سعید رحمه الله ورته وویل: اې حجاج! څرنګه چي ته غواړې هم هغسي وکړه، ځکه قسم په خدای! څرنګه چي ته ما وژنې همدارنګه په آخرت کي به زه تا وژنم، حجاج ورته وویل: ایا ته غواړې چي زه تا معاف کړم؟ هغه ورته وویل: که عفو واقع وي نو هغه به د الله جل جلاله له خوا وي او پاته سوې ته نو په دې کي ستا دپاره هیڅ عذر او خلاصون نسته، حجاج ددې په اورېدو سره وویل: دی بوځئ او وه یې وژنئ، کله چي یې هغه د دروازې څخه وایستی نو هغه وخندل، ددې خبر حجاج ته ورسول سو نو حکم یې وکړ چي بېرته یې راولئ، نو هغه بېرته راوستل سو او دهغه څخه یې پوښتنه وکړل چي ستا دخندا سبب څه وو؟ هغه وویل: ما ته د الله جل جلاله په مقابله کي ستا بې باکي او د الله جل جلاله ستا په مقابله کي حلم باندي تعجب کیږي، حجاج ددې په اورېدو سره حکم وکړ چي پوست دې یې وایستل سي، نو پوست یې وایستل سو او بیا یې حکم وکړ چي مړ دې سي، ددې وروسته سعید رحمه الله وفرمایل: وجهت وجهي للذي فطر السموات والارض حنیفا وما انا من المشرکین، یعني ما خپل مخ د هري خوا څخه په اړولو سره الله جل جلاله ته چي د آسمانو او مځکي خالق دی او زه د شرک کوونکو څخه نه یم،

حجاج ددې په اوربدو سره حکم وکړ چي دی د قبلې مخالف خوا ته ټینګ وتړئ ، سعید ﷺ وفرمایل: فاینما تولوا فثم وجه الله، کومي خوا ته چي مخ کوئ هغه خوا ته الله ﷻ دی، بیا حجاج حکم وکړ او پوړموخي پرې ایستل سو ، سعید وفرمایل: منها خلقنا کم وفیها نعیدکم ومنها نخرجکم تارة اخری، حجاج ددې په اوربدو سره حکم وکړ چي دی ذبح کړئ، سعید وفرمایل: زه شاهدي ادا کوم او دلیل وړاندي کوم ددې خبري چي د الله ﷻ څخه ماسوا بل معبود نسته ، هغه یوازي دی د هغه هیڅوک شریک نسته او ددې خبري شاهدي ادا کوم چي محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی، دغه حجت زما له خوا سنبال کړه تر دې چي ته زما سره د قیامت په ورځ یو ځای سې، بیا سعید دعاء وکړل چي اې الله! حجاج زما وروسته د بل چا پر وژنه مه قادر کوې، ددې وروسته هغه په پوست ذبح کړل سو، ویل کیږي چي حجاج د هغه د وژني وروسته پنځلس ورځي نور ژوندی پاته سو ، ددې وروسته د حجاج په نس کي د چینجیانو ناروغي پیدا سول ، حجاج حکیم راوغوښتی چي وه یې کوري ، حکیم د غوښو یوه ورسته ټوټه راوغوښتل او هغه یې په تار سره په ستوني کي دننه وزړول او تر یو وخت پوري یې همداسي پرېښودل ، ددې وروسته حکیم هغه راوایستل نو وه یې لېدل چي د ویني څخه ډکه سوې وه، حکیم پوه سو چي دی اوس دی پاته کېدونکی نه دی، حجاج به د خپل ژوند په آخر کي چغي وهلې چي په ما او سعید څه وسول، کله چي زه بېده سم نو زما پښه نیسي او هغه ښوروي، سعید بن جبیر ﷺ د عراق په سیمه کي دفن کړل سو او د هغه قبر هم هلته دی.

۳۶۳. **سعید بن ابراهیم** : دغه سعید بن ابراهیم بن عبدالرحمن بن عوف زهري قرشي د مدینې قاضي او دمدینې د سترو تابعینو څخه دی، د خپل پلار او نورو څخه یې د حدیثو اوربدل کړي دي ، په ۱۳۵هجري کال کي د ۷۲ کالو په عمر وفات سو .

۳۶۴. **سعید بن هشام** : نومړی انصاري دی، د لوړي درجې تابعي دی، د بي بي عائشې او ابن عمر ﷺ څخه یې حدیث اوربدلي دي او دده څخه حسن روایت کوي، دده حدیث په اهل بصره کي تر لاسه کیږي .

۳۶۵. **سفیان بن دینار**: نومړی د خرما پلورونکی او کوفي دی، د سعید بن جبیر او معصب بن سعد ﷺ څخه روایت کوي او دده څخه ابن مبارک او نور کسان روایت کوي، د حضرت معاویه په زمانه کي پیدا سو او د رسول الله ﷺ د مزار زیارت یې په برخه سو.

۳۶۶. **سفیان ثوري** : دغه سفیان بن سعید ثوري کوفي امام المسلمین دی، او پر مخلوق

باندي د الله ﷻ حجة الکامله دی، په خپله زمانه کي د فقه او اجتهاد جامع وو، د حدیث لوی عالم، زاهد، عابد، متقي او باوري وو، په خاصه توګه د علم حدیث مرجع وو، ټول خلګ دده پر دینداری، زهد، پرهیزګاری او باوري کېدو متفق دي، هیڅوک داسي نسته چي دده په اړه اختلاف کوي، د مجتهدینو امامانو څخه دی، په قطب اسلام او ارکان دین کي هم شمېرل کیږي، په ۹۹ م هجري کال د سلیمان بن عبدالملک په زمانه کي پیدا سو، دده څخه یوې لوی ډلي روایت کړی دی دده څخه معمر، اوزاعي، ابن جریج، مالک، شعبه، ابن عینیه، فضیل بن عیاض او نور کسان روایت کوي، په ۱۶۱م هجري کال په بصره کي وفات سو.

۳۶۷. **سفیان بن عینیه**: دغه سفیان بن عینیه هلالي دی، د هغه ازاد سوی غلام دی، په ۱۰۷هجري کال په کوفه کي پیدا سو، نوموړی امام او عالم وو، د محدثینو په نزد د باور وړ دی، حجة في الحدیث، زاهد او متورع وو، دده د حدیثو پر صحت باندي د ټولو اتفاق دی، دی د زهري څخه او د هغه څخه ماسوا د نورو ډېرو خلګو څخه حدیث اورېدلي دي او دده څخه اعمش، ثوري، شعبه، شافعي، احمد او نور ډېر محدثین روایت کوي، د ټولو وینا ده که مالک او سفیان نه وای نو د حجاج علم به تللای وای، په ۱۹۸ هجري کال کي د رجب په اوله نېټه په مکه کي وفات سو او په جحون کي دفن سو، اویا حجونه یې کړي وه.

۳۶۸. **سلیمان بن حرب**: نوموړی بصري او دمکې قاضي دی، د بصریانو د سترو خلګو څخه دی، ابوحاتم دده په اړه وفرمایل چي دی د امامانو څخه وو، تقریبا لس زره حدیثونه دده څخه روایت سوي دي حال دا چي ما دده په لاس کي کتاب نه دی لیدلی او په بغداد کي زه دده په مجلس کي حاضر سوم، تقریبا د ګډون کونکو شمېر به یې څلوېښت زره وو، د ۱۴۰ هـ د صفر په میاشت کي پیدا سو او تر ۱۵۸ هجري کال پوري د حدیث په پلټنه کي سرګردان وو، تر نولس کلو پوري د حماد بن زید په خدمت کي وو، دده څخه احمد او نور روایت کوي، په ۲۳۴هجري کال کي وفات سو.

۳۶۹. **سلیمان بن ابي مسلم**: دغه سلمان بن ابي مسلم احول مکي دی او د ابن نجیح ماما دی، دحجاز د تابعینو او علماؤ څخه لوی باوري ګڼل کیږي، ده د طاؤس او ابوسلمه څخه د حدیثو اورېدل کړي دي او دده څخه ابن عینیه، ابن جریج او شعبه روایت کوي.

۳۷۰. **سلیمان بن ابي حثمه**: نوموړی قریشي او عدوي دی، په مسلمانانو کي لوی فاضل او صالح ګڼل کیږي، د سترو تابعینو څخه دی، دده څخه دده زوی ابوبکر روایت کوي.

۳۷۱. **سلیمان بن مولی میمونه**: دغه سلیمان بن مولی میمونه دی او دی مشهور په ابن یسار دی، نوموړی تابعي دی.
۳۷۲. **سلیمان بن عامر**: دغه سلیمان بن عامر کندي دی، نوموړی د ربیع بن انس څخه روایت کوي او دده څخه ابن راهویه او د هغه څخه ماسوا نور ډېر خلګ روایت کوي.
۳۷۳. **سلیمان بن ابي عبدالله**: نوموړی تابعي دی د مهاجرو صحابه کرامو زمانه یې ترلاسه کړې ده، د سعد بن ابي وقاص او ابوهریره رضی الله عنهما څخه روایت کوي، امام ابوداؤد دده فضائل په مدینه کې ذکر کړي دي.
۳۷۴. **سلیمان بن یسار**: دده کنیت ابوایوب دی، د میمونې رضی الله عنها ازاد سوی غلام دی، دده ورور عطاء بن یسار دی، د اهل مدینه څخه دی، د ستري درجې تابعي دی، فقیه، فاضل، د باور وړ، عابد، پرهیزګار او حجت وو، د اوو فقهاوو څخه یو دی، په ۱۰۷ هجري کال کې وفات سو او عمر یې ۷۳ کاله وو.
۳۷۵. **سالم بن عبدالله**: دغه سالم د حضرت عبدالله بن عمر بن خطاب رضی الله عنه زوی دی، ابوعمرو یې کنیت دی، قریشي، عدوي او مدني دی، دمدینې د فقهاؤ څخه دی او د تابعینو سرخیل او باوري علماؤ څخه دی، په ۱۰۶ هجري کال په مدینه منوره کې وفات سو.
۳۷۶. **سالم بن ابي الجعد**: دغه سالم بن ابي الجعد دی، دده نوم رافع کوفي دی، مشهور او باوري تابعي دی، د ابن عمرو، جابر او انس رضی الله عنهم څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه منصور او اعمش روایت کوي، په ۹۷م هجري کال کې وفات سو.
۳۷۷. **سیار بن سلامه**: دده کنیت ابوالمنهال بصري تمیمي دی، دمشهورو تابعینو څخه دی.
۳۷۸. **سماک بن حرب**: نوموړی ذهلي دی، کنیت یې ابومغیره دی، د جابرن سمره او نعمان بن بشیر رضی الله عنهما څخه روایت کوي او دده څخه شعبه او زاهده روایت کوي، دده څخه تقریبا دوه سوه حدیثونه مروي دي، باوري وو مګر حافظه یې کمزورې سوې وه، ده ته ابن مبارک او شعبه ضعیف ویلي دي، په ۱۳۲م هجري کال کې وفات سو.
۳۷۹. **سوید بن وهب**: نوموړی د ابن عجلان د استاذانو څخه دی.
۳۸۰. **ابوالسائب**: د هشام بن زهره ازاد سوی غلام دی، تابعي دی، د ابوهریرهؓ، ابوسعید او مغیره رضی الله عنهم څخه روایت کوي او دده څخه علاء بن عبدالرحمن روایت کوي.
۳۸۱. **ابوسلمه**: د خپل اکا عبدالله بن عبدالرحمن بن عوف څخه روایت کوي، زهري قریشي دی، د یوه قول سره سم د مدینې د مشهورو اوو فقهاؤ څخه دی، مشهور تابعي

دی، دده کنیت دده نوم دی او دده څخه زیات حدیثونه روایت دي، د ابن عباس، ابوهریره، ابن عمر او نورو ﷺ څخه یې حدیثونه اورېدلي دي، دده څخه زهري، یحیی بن کثیر، شعبي او نورحضرات روایت کوي، په ۹۴م هجري کال د ۷۲ کالو په عمر وفات سو.

۳۸۲. **ابوسوره**: د خپل اکا ابوایوب او عدي بن حاتم څخه روایت کوي او دده څخه واصل بن سائب او یحیی بن جابر طائي ابن معین روایت کوي، شعبي او نورو ورته ضعیف ویلي دي، امام ترمذي رحمه الله وایي: ما دمحمد بن اسماعیل څخه واورېدل چي د ابوسوره حدیثونه غیر معروف او نامشهور دي.

صحابي ښځي

۳۸۳. **سوده** رضي الله عنها: دغه سوده بنت زمعه ام المؤمنین ده، د اسلام په شروع کي مسلمانه سوې ده، د خپل اکا زوی سکران بن عمرو په نکاح کي وه، کله چي یې خاوند مړ سو نو رسول الله ﷺ ورسره نکاح وکړل او په مکه کي یې خلوت ورسره وکړ، دغه نکاح د بي بي خدیجې رضي الله عنها د وفات څخه وروسته او د بي بي عائشې رضي الله عنها د نکاح څخه مخکي وسول، مدینې ته یې هجرت وکړ، کله چي سپین سرې سول نو رسول الله ﷺ وغوښتل چي طلاق ورکړي مګر هغې رسول الله ﷺ ته درخواست وکړ چي طلاق نه ورکوي او هغه د خپل نوبت ورځ بي بي عائشې رضي الله عنها ته ورکړل، نو رسول الله ﷺ په خپله نکاح کي وساتل، د شوال په میاشت کي په ۵۴ م هجري کال په مدینه کي وفات سول.

۳۸۴. **ام سلمه** رضي الله عنها: دغه ام سلمه ام المؤمنین هند بنت ابي امیه ده، د رسول الله ﷺ څخه مخکي د ابوسلمه په نکاح کي وه، ابوسلمه په څلورم یا دریم هجري کال وفات سو نو د رسول الله ﷺ سره یې نکاح وکړل، په ۵۹ م هجري کال کي وفات سول او په جنت البقیع کي دفن سول، عمر یې ۸۴ کاله وو، ددې څخه ابن عباس، بي بي عائشه، زینب ددې لور، ددې زوی، ابن المسیب، د صحابه کرامو او تابعینو یوه ډله روایت کوي.

۳۸۵. **ام سلیم** رضي الله عنها: دغه ام سلیم د ملحان لور ده، ددې په نامه کي اختلاف دی، د مختلفو اقوالو سره سم سهله، رمله، ملیکه، غمیصه او رمیصا بیان سوي دي، مالک بن نضر دانس بن مالک رضي الله عنه پلار ددې سره نکاح وکړل، ددې څخه انس رضي الله عنه پیدا سو، بیا مالک بن نضر د کفر په حالت کي قتل کړل سو، ددې څخه وروسته دې اسلام راوړ، ابوطلحه چي مشرک وو دې ته یې نکاح پیغام ورکړ مګر دې انکار وکړ او هغه ته یې د اسلام دعوت

ورکړ، کله چي ابو طلحه اسلام راوړ نو هغه ته يې وويل: اوس واده در سره کوم او ستا څخه هيڅ مهر نه اخلم، نو ابو طلحه ورسره واده وکړ، ددې څخه ډېر کسان روايت کوي، ملحان د ميم په کسره او سکون او حاء مهمله سره دی.

۳۸۶. **سبعيه** ﷺ: د حارث لور ده، د اسلم قبيلې څخه ده، د اسعد بن خوله په نکاح کي وه، بيا د حجة الوداع په کال کي وفات سول، ددې حديث په کوفه کي زيات دي او ډېر کسان ور څخه روايت کوي.

۳۸۷. **سهيمه بنت عمر** ﷺ: د مزينه قبيلې څخه ده، د رکانه بن عبدزيد په نکاح کي وه، ددې يادونه د طلاق په باب کي راځي، سهيمه د سين په پېښ او د هاء په زور سره ده.

۳۸۸. **سلامه بنت حر**: دغه سلامه بنت حر ازديه ده، فزاريه هم ورته ويل کيږي، ددې حديث په کوفه کي روايت دي دا هغه لفظ حر دی چي د عبد په مقابله کي استعماليږي.

۳۸۹. **سلمی** ﷺ: دغه سلمی د رافع مور او د ابورافع زوجه ده، ددې څخه د دې زوی عبدالله بن علي روايت کوي، د ابراهيم بن رسول الله ﷺ دايه (تی ورکوونکې) وه او بي بي فاطمې ﷺ ته د بنت عميس سره دې غسل ورکړ.

ش - صحابه کرام رضي الله عنهم.

۳۹۰. **شداد بن اوس**: کنيت يې ابوليلی انصاري دی، د حسان بن ثابت وراره دی، په بيت المقدس کي هستوګن وو، د شاميانو څخه شمېرل کيږي، په ۵۸ م هجري کال د ۷۵ کالو په عمر د شام په هيواد کي وفات سو، عباده بن صامت او ابودرداء رضي الله عنهما به ويل: شداد د هغه کسانو څخه دی چي د علم او حلم په دولت سره نازول سوي وه.

۳۹۱. **شريح بن هاني**: دغه شريح بن هاني ابوالمقدام حارثي دی، د رسول الله ﷺ زمانه يې تر لاسه کړل او په دغه شريح نامه سره رسول الله ﷺ دده د پلار هاني بن زيد کنيت ابنی وو او فرمايلي يې وه چي ته ابوشريح يې، شريح د حضرت علي رضي الله عنه د ملګرو څخه وو، دده زوی مقدام دده څخه روايت کوي.

۳۹۲. **شريد بن سويد**: دغه شريد بن سويد ثقفي دی او ويل کيږي چي دی د حضرت موت وو، مګر د ثقيف قبيلې څخه شمېرل کيږي، او ځيني يې د اهل طائف څخه ګڼي، دده حديث په حجازيانو کي تر لاسه کيږي دده څخه ډېر کسان روايت کوي.

۳۹۳. **شکل بن حميد**: دغه شکل بن حميد عيسی دی، دده څخه د ده د زوی شتير ماسوا

بل هیڅوک روایت نه کوي، په کوفیانو کي شمېرل کیږي، شکل د شین او کاف په زور او لام سره دی، شتیر د شتر تصغیر دی.

۳۹۴. **شریک بن سحماء**: سحماء دده د مور نوم دی چي د هغې په نسبت سره مشهور دی، دده پلار عبده بن مغیث دی چي د هغه یادونه د لعان په مسائلو کي راغلي او دا هغه دی چي هلال بن امیه د خپلي ښځي په اړه تهمت پر لګولی وو او ددې څخه وروسته لعان سوی وو، دی د خپل پلار سره د احد په غزا کي شریک سوی وو، عبده د عین او باء په زور سره دی او ځیني پر باء موحده باندي جزم وایي.

۳۹۵. **ابوشبرمة**: د شبرمه په لفظ کي پر شین باندي پېښ، باء ساکنه او پر راء باندي پېښ دی، صحابي دی دده نسبت معلوم نه دی د حضرت عباس رضي الله عنه په حدیث کي د حج په اړه دده یادونه راغلي د رسول الله ﷺ په زمانه کي وفات سو.

۳۹۶. **ابوشریح**: دغه ابوشریح خویلد بن عمرو کعبي عدوي خزاعي دی، د مکې د فتح څخه مخکي یې اسلام راوړ، په ۶۸م هجري کال په مدینه کي وفات سو، دده څخه ډېر کسان روایت کوي، دی په خپل کنیت سره زیات مشهور دی، په اهل حجازو کي شمېرل کیږي.

تابعین رحمهم الله

۳۹۷. **شقیق بن ابي سلمة**: دغه شقیق بن ابي سلمة دی، ابووائل اسدي یې کنیت دی، ده که څه هم د رسول الله ﷺ زمانه تر لاسه کړې وه مګر د رسول الله ﷺ څخه یې څه اورېدلي نه دي، ویل به یې چي زما عمر د بعثت څخه لس کاله مخکي وو، هغه وخت به ما خپل پسونه پېول، د ډېرو صحابه کرامو څخه روایت کوي چي په هغوی کي عمر بن خطاب او ابن مسعود دی، د ابن مسعود د خاصو خلګو او دهغوی د لوي درجې اصحابو څخه وو، دده څخه ډېر حدیثونه روایت دي، باوري او حجت وو، د حج په زمانه کي وفات سو او یو قول دادی چي په ۹۹م هجري کال کي وفات سو.

۳۹۸. **شریق الهوزني**: تابعي دی، د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت کوي او دده څخه ازهر حراري روایت کوي.

۳۹۹. **شریک بن شهاب**: نوموړی حارثي بصري دی، د تابعینو څخه دی، د ابي برزه اسلمي څخه روایت کوي او ارزق بن قیس دده څخه روایت کوي مګر په دې اړه مشهور نه دی.

۴۰۰. **شریح بن عبید** : نوموړی حضرمي دی ، د ابوامامه او جبیر بن نفیر څخه روایت کوي او دده څخه صفوان بن عمرو او معاویه بن صالح روایت کوي .

۴۰۱. **ابوالشعثاء** : نوموړی سلیم بن اسود محاربي کوفي دی، د مشهورو او سترو تابعینو څخه دی، د حجاج په زمانه کي وفات سو .

۴۰۲. **شعبي** : عامر بن شراحیل کوفي دی، او مشهور ذي علم خلګو څخه یو دی، د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي پیدا سو ، د ډېرو صحابه کرامو څخه روایت کوي او دده څخه یوه لویه ډله روایت کوي، فرمایي چي ما پنځه سوه صحابه کرام لیدلي دي او هیڅکله یې حرف پر کاغذ نه دی لیکلی او ما ته چي کوم حدیث بیان سوی دی ما هغه په حافظه کي خوندي کړی دی ، د ابن عینیه قول دی چي ابن عباس د خپلي زمانې او ثوري د خپلي زمانې امام وو ، زهري ویلي دي: علماء خو څلور تېر سوي دي: یعني ابن المسیب په مدینه کي، شعبي په کوفه کي، حسن په بصره کي او مکحول په شام کي، په ۱۰۴هجري کال د ۸۲ کالو په عمر وفات سو .

۴۰۳. **ابن شهاب** : نوموړی زهري دی، دده یادونه د زاء په حرف کي تېره سوې ده .

۴۰۴. **شیبه بن ربیعة** : دغه شیبه بن ربیعه بن عبدالشمس بن عبد مناف جاهلي دی، د بدر په غزا کي حضرت علي رضی الله عنه ووژی ، دی مشرک وو .

تابعي ښځې

۴۰۵. **الشفاء بنت عبدالله** : دغه شفاء بنت عبدالله قریشي عدوي ده، احمد بن صالح مصري وایي چي دده نوم لیلی دی او شفاء یې لقب دی چي پر نامه یې غالب سو ، د هجرت څخه مخکي یې اسلام راوړی وو ، ډېره عاقله او فاضله ښځه وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم به دده کور ته کله نا کله راتلی او د غرمې خوب به یې کوی، دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره د بسترې بندوبست کړی وو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به پر هغه بسترې ارام کوی، شفاء د شین په کسره او فاء په مد سره دی .

۴۰۶. **ام شریک غزنة**: دغه ام شریک غزنة بنت دودان قریشیه عامریه صحابیه ده، دودان د دال مهمله په پېښ سره دی .

۴۰۷. **ام شریک انصاریه** : ددې یادونه په کتاب العده کي د فاطمه بنت قیس په حدیث کي راغلې ده، کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فاطمې ته فرمایلي وه چي ولاړه سه او د ام شریک په

کور کي عده پوره کړه، او ځينو ويلي دي چي د هغې په کور کي د عدې تېرولو حکم رسول الله ﷺ ورکړی وو، هغه ام شريک اولی ده مګر د هغوی دغه قول صحيح نه دی ځکه چي ام شريک اولی قريشي لوی بن غالب د اولاد څخه وه او دغه انصاريه ده، ځکه چي د فاطمې بنت قيس په ځينو روايتو کي راغلي دي چي ام شريک د انصارو څخه يوه شتمنه ښځه ده.

ص - صحابه کرام رضي الله عنهم.

۴۰۸. **صفوان بن عسال** : دغه صفوان بن عسال مرادي دی، د کوفې اوسېدونکی وو، دده حديث په اهل کوفه کي شائع وه، په عسال کي پر عين باندي زور او پر سين مهمله شد او لام دی.

۴۰۹. **صفوان بن معطل** : دده کنيت ابوعمرو سلمي دی، د خندق په غزا او نورو ټولو غزاوو کي شريک وو، دده په اړه ويل کيږي چي ډېر نېک، صاحب فضل او زړه ور انسان وو، د رمينيه په غزا کي په ۱۰ هجري کال شهيد سو، عمر يې تقريبا شپېته کاله وو.

۴۱۰. **صفوان بن اميه**: دغه صفوان بن اميه بن خلف حجمي قريشي دی د مکې د فتح په ورځ د مسلمانانو څخه وتښتېدی، بيا عمير بن وهب او دهغه زوی وهب بن عمير د رسول الله ﷺ څخه دده لپاره پناه غوښتې وه، له دې کبله رسول الله ﷺ ورته پناه ورکړې وه او هغه دواړو ته يې د امن په توګه خپل څادر ورکړ، بيا وهب، صفوان بن اميه پيدا کړ او رسول الله ﷺ ته يې راوست نو صفوان د رسول الله ﷺ په مخکي په درېدو سره عرض وکړ چي وهب بن عمير وايي چي تاسو ما ته امن راکړی دی نو زه تر دغه دوو مياشتو پوري ازاد نه ګرځم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې ابوهب! راکښنته سه، او ستا دپاره څلور مياشتي د ازاد ګرځېدلو اجازه ده نو صفوان راکښنته سو او د رسول الله ﷺ سره د حنين او طائف په غزاوو کي د کفر په حالت کي شريک سو. رسول الله ﷺ د غنيمت د مال څخه ډېر مال ورکړ. پر دغه خبره صفوان په خدای قسم وکړ چي د دغه ډېر غنيمت په ورکولو سره د نبي د پاک نفس څخه ماسوا بل څوک خوشحاله کېدای نه سي او په هغه ورځ يې اسلام راوړ او په مکه کي يې قيام وکړ. بيا يې مدينې ته هجرت وکړ او د حضرت عباس رضي الله عنه سره يې قيام وکړ، او د خپل هجرت پېښنه يې د رسول الله ﷺ په وړاندي بيان کړل. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د مکې د فتح څخه وروسته هجرت نسته. صفوان د جاهليت په زمانه کي د قريشو په مشرانو کي شمېرل کېدی د هغه ښځي يوه مياشت مخکي د هغه څخه اسلام

راوړی وو ، کله چې صفوان هم مسلمان سو نو د دواړو نکاح برقرار وساتل سوه، په ۴۲م هجري کال په مکه کي صفوان وفات سو ، دده څخه ډېر کسان روایت کوي او دی د هغه کسانو څخه دی چې د هغوی سره به پر اسلام باندي د راسخ کولو لپاره د تالیف قلب معامله کېدل، دی په مکه کي مخلص مسلمان سو او دی د قریشو د فصیحانو څخه وو.

۴۱۱. **صخر بن وداعه** : دغه صخر بن وداعه غامدي دی او دغه ابن عمرو ابن عبدالله بن کعب دی چي د ازد قبیلې څخه دی که څه هم په طائف کي وو مګر په اهل حجاز کي شمېرل کیږي.

۴۱۲. **صخر بن حرب**: کنیت یې ابوسفیان قریشي دی د امیر معاویه پلار دی ، دده یادونه د سین په حرف کي سوې ده.

۴۱۳. **صهیب بن سنان** : دغه صهیب بن سنان د عبدالله بن جدعان تیمي ازاد سوی غلام دی، دده کنیت ابویحیی دی ، د دجله او فرات په منځ کي په موصل نامي ښار کي دده سرای وو ، رومیانو پر دغه سیمو حمله وکړل او دی یې بندي کړ ، تر اوسه دی ماشوم وو ، روزنه یې په روم کي وسول ، رومیانو د کلب قبیلې څخه رانیوی او مکې ته یې راوست، د کلب قبیلې څخه عبدالله بن جدعان رانیوی او ازاد یې کړ ، دی هم تر مرګه پوري د عبدالله سره وو ، ویل کیږي چي کله دی په روم کي لوی سو او د عقل خاوند سو نو په تېښته مکې ته راغلی او د عبدالله بن جدعان حلیف سو ، په مکه کي مسلمان سو او دا هم ویل کیږي چي رسول الله ﷺ په دار ارقم کي تقریبا د دېرشو کسانو سره وو نو دی او عمار بن یاسر په یوه ورځ راغلل او اسلام یې قبول کړ، دی هم دهغه کسانو څخه وو چي کمزوري ګڼل کېدل او په مکه کي تکلیفونه ورکول کېدل ځکه نو ده مدینې ته هجرت وکړ او دده په اړه دغه آیت نازل سوی دی: (ومن الناس من یشتري نفسه ...الخ) دده څخه یوه لویه ډله روایت کوي، په ۸۰م هجري کال په مدینه کي د ۹۹ کالو په عمر وفات سو او په جنت البقیع کي خاورو ته وسپارل سو ، جدعان د جیم په پېښ او دال په جزم سره دی او تر دې وروسته عین مهمله دی.

۴۱۴. **الصعب بن جثامه**: نوموړی لیثي دی، په وران ابواء کي دده هستوګنه وه، دده حدیث په حجاز کي تر لاسه کیږي، د عبدالله بن عباس رضي الله عنه او نورو څخه روایت کوي، د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو ، جثامه د جیم په زور او ثاء مثلثه په تشدید سره دی.

۴۱۵. **الصنابحي** : دغه صنابحي دی ، په دغه لفظ کي پر باندي پيښ او نون غير مشدد دی، او يو لفظ د باء او حاء مهمله دی، دغه صنابحي ځکه مشهور دی چي صنابح بن زاهر بن عامر ته منسوب سو، دغه د مراد قبيلې يو ښاخ دی ، دده يادونه به په راتلونکي حرف کي راسي

۴۱۶. **ابوصرمة** : دغه ابوصرمة مالک بن قيس مازني دی، او ځينو ورته قيس بن مالک ويلي دي او ځينو ورته قيس بن صرمه هم ويلي دي، دی په خپل کنيت سره مشهور دی، د بدر په غزا او نورو غزاوو کي يې ګډون کړی دی، دده څخه يوه ډله روايت کوي، صرمه د صاد په زېر او راء ساکنه سره دی .

تابعين رحمهم الله .

۴۱۷. **صالح بن خوات**: دغه صالح بن خوات انصاري مدني او مشهور تابعي دی، دده حديث د لوړي درجې دي، د خپل پلار او سهل بن ابي حثمه څخه يې حديثونه اورېدلي دي ، او دده څخه يزيد بن رومان او نور روايت کوي، دده حديث په مدينه کي تر لاسه کيږي، خوات د خاء معجمه په زور، دواو په تشديد او تاء فوقاني سره دی .

۴۱۸. **صالح بن درهم** : صالح بن درهم باهلي دی، د ابوهريره او سمره رضي الله عنهما څخه روايت کوي او دده څخه شعبه او قطان روايت کوي، نوموړی باوري دی .

۴۱۹. **صالح بن حسان** : نوموړی مدني دی، په بصره کي هستوګن وو ، د ابن المسيب او عروه څخه روايت کوي او دده څخه ابوعاصم او حضرمي، يوې ډلي دده مرويانو ته ضعيف ويلي دي او امام بخاري دده حديث منکر ګرځولي دي .

۴۲۰. **صخر بن عبدالله** : دغه صخر بن عبدالله بن بريده دی، دی د خپل پلار، نيکه او عکرمه څخه روايت کوي او دده څخه حجاج بن حسان او عبدالله بن ثابت روايت کوي .

۴۲۱. **صفوان بن سليم** : دغه صفوان بن سليم زهري دی، د حميد بن عبدالرحمن بن عوف ازاد سوی غلام دی، دمدينې مشهور او ستر تابعي دی، د انس بن مالک رضي الله عنه او نورو څخه روايت کوي، د الله جل جلاله د نېکو او صالحو بندګانو څخه وو، ويل کيږي چي تر څلوېښت کاله پوري يې اړخ پر مځکه نه دی لګېدلی، خلګو ويل چي دده تندی د زياتو سجدو په وجه زخمي سوی وو او شاهي تحفې يې نه قبلولې، دده مناقب ډېر زيات دي، په ۱۳۳م هجري کال کي وفات سو، دده څخه ابن عيينه روايت کوي .

۴۲۲. **ابوصالح** : دغه ابوصالح ذکوان دی چي د غوړو او زيتون تجار وو، نوموړی مدني وو، غوړي او د زيتون تېل به يې کوفې ته وړل، د جويريه بنت حارث زوج النبي ﷺ ازاد سوی غلام وو، ستر تابعي، ډېر مشهور او ډېر روايت کوونکی وو، د ابوهريره او ابوسعيد رضي الله عنهما څخه روايت کوي او دده څخه ابن سهيل او اعمش روايت کوي.

صحابي ښځي

۴۲۳. **صفيه** رضي الله عنها : دغه صفيه د حيي بن اخطب لور ده چي د بني اسرائيلو څخه وه او د هارون بن عمر على نبينا عليه السلام لمسۍ وه، دغه صفيه د کنانيه بن ابي الحقيق ښځه وه چي د خيبر په غزا کي ووژل سوه او دا بندي سول، رسول الله ﷺ د ځان لپاره خوښه کړل، ځينو روايت کړی دی چي دغه صفيه ددحيه کلبي په برخه کي راغلې وه بيا د هغه څخه رسول الله ﷺ د اوو غلامانو په بدله کي رانيول، تر دې وروسته هغې اسلام راوړ او بيا رسول الله ﷺ ازاده کړل او نکاح يې ورسره وکړل، د هغې مهر د هغې ازادېدل وګرځول سول، په ۵۰ م هجري کال کي وفات سول او په جنت البقيع کي دفن سول، حضرت انس، ابن عمرو رضي الله عنهما او نور حضرات ددې څخه روايت کوي، په حيی کي پر حاء مهمله پېښ او لاندي دوو ټکو والا ياء باندي زېر او دوهمي ياء باندي تشديد دی، په اخطب کي د همزه زور، د خاء معجمه جزم، طاء مهمله باندي زېر او په پای کي باء موحده ده.

۴۲۴. **صفيه بنت عبدالمطلب** رضي الله عنها : نوموړې د عبدالمطلب لور او د رسول الله ﷺ عمه ده، د اسلام څخه مخکي د حارث بن حرب ښځه وه، کله چي هغه هلاک سو نو عوام بن خويلد ورسره نکاح وکړل، ددې څخه زبير پيدا سو تر ډېره وخته ژوندۍ وه، د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي په ۲۰م هجري کال د ۷۳ کالو په عمر وفات سول او په جنت البقيع کي دفن سول.

۴۲۵. **صفيه بنت ابي عبيد** : دغه صفيه د ابوعبيد لور ده، د بنو ثقيف څخه ده، دمختار ابن ابي عبيد خور ده او د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه ښځه وه، رسول الله ﷺ يې ليدلی وو او دهغه ارشادات يې اورېدلي وه مګر روايت يې ور څخه نه دی کړی، د بي بي عائشې او بي بي حفصې رضي الله عنهما څخه روايت کوي او ددې څخه حضرت نافع روايت کوي.

۴۲۶. **صفيه بنت شيبه** : دغه صفيه د شيبه حجبي لور ده، ددې څخه ميمون بن مهران او نور حضرات روايت کوي. د رسول الله ﷺ دلېدو په اړه اختلاف دي. ځينو ويلي دي چي

رسول الله ﷺ یې لیدلی دی .

۴۲۷. **الصماء بنت بسر** : د بسر لور ده او مازني ده، ویل کیږي چي صماء ددې لقب دی او نوم یې بهیه دی، ددې څخه ددې ورور عبدالله روایت کوي .

ض - صحابه کرام رضي الله عنهم .

۴۲۸. **ضماد بن ثعلبه** : دغه ضماد بن ثعلبه ازدي او د شنؤة قبیلې څخه دی، د جاهلیت په زمانه کي د رسول الله ﷺ ملګری وو، د درملني او دم کار به یې کوی، تل د علم په پلټنه کي وو، د اسلام په پیل یې کي اسلام قبول کړ، دا هغه دی چي کله یې د رسول الله ﷺ څخه قرآن کریم واورېدی نو هغه وویل: ستاسو دغه الفاظ تر دریاب زیات ژوروالي لري ، دده یادونه په باب علامات النبوت کي راغې، حضرت ابن عباس رضي الله عنه دده څخه روایت کوي، ضماد د ضاد په کسره ، میم غیر مشده دی، شنؤة د شین په زبر، د عین په پېښ، واو ساکن او همزه باندي زور دی .

۴۲۹. **الضحاک بن سفیان** : نوموړی کلابي عامري دی، د اهل مدینې څخه شمېرل کیږي، په نجد کي هستوګن وو، رسول الله ﷺ د هغه پر قوم باندي حاکم ټاکلی وو چي اسلام یې راوړی وو، ابن مسیب او حسن بصري دده څخه روایت کوي او ویل کیږي چي دی د خپل زړه توب په وجه د سلو سپرو برابر ګڼل کېدی، د رسول الله ﷺ سره به (د ساتني لپاره) توره په لاس کي ولاړ وو .

تابعین رحمهم الله .

۴۳۰. **ضحاک بن فیروز** : نوموړی دیلمي تابعي دی ، دده حدیث په بصریانو کي شائع دي، د خپل پلار څخه روایت کوي، دده یادونه د دال په حرف کي راغلې ده .

۴۳۱. **ضرار بن صرد** : دده کنیت ابونعیم دی د کوفې اوسېدونکی دی، د ژرندي په خاوند مشهور دی، د معمر بن سلیمان او نورو څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه علي بن منذر روایت کوي، په نعیم کي پر نون ضمه، پر عین مهمله فتحه ده او په ضرار کي پر ضاد کسره . اوله راء غیر مشدده ده، په صرد کي صاد مهمله ضمه او راء مهمله باندي زور دی.

ط - صحابه کرام رضي الله عنهم .

۴۳۲. **طلحه بن عبید الله** : کنیت یې ابو محمد قریشي دی، د عشره مبشره څخه دی، په

پیل کي یې اسلام راوړی وو، په ټولو غزاوو کي ماسوا د بدر څخه شریک وو، د نه ګډون وجه یې داوه چي رسول الله ﷺ د زید سره د هغه قافلې د معلومات لپاره استولی وو چي د قریشو ابو سفیان بن حرب سره راتلل، بیا دوهم وار د بدر د جنګ په ورځ بېرته راغلل، دده د بدر په ورځ په خپل لاس سره د رسول الله ﷺ ساتنه وکړل، د حملې په کثرت سره د لاس ګوتي یې اوړدې سوې وې په هغه ورځ یې څلوېښت زخمونه وخوړل، نوموړی غنم رنګه او د ډېرو وېښتانو والا وو، ښکلی مخ یې وو او وېښتان یې پیچلي وه، د جمل په جګړه کي د پنجشنبې په ورځ په ۳۰م جمادي الاول په ۳۲ م هجري کال شهید سو او په بصره کي دفن کړل سو، عمر یې ۶۴ کاله وو، یو ه ډله ور څخه روایت کوي.

۴۳۳. **طلحه بن البراء** : نوموړی انصاري دی، کله چي وفات سو نو رسول الله ﷺ د جنازې لمونځ ورکړ او دعاء یې وکړل چي اې الله! دده سره په خندا ملاقات وکړې او دی هم په خندا سره ستا په خدمت کي حاضر سي، د حجاز په علماؤ کي شمېرل کیږي دده څخه حصین وحوع روایت کړی دی.

۴۳۴. **طلق بن علي**: کنیت یې ابو علي حنفي یمامي دی، ده ته طلق بن ثمامه هم ویل کیږي، دده څخه دده زوی قیس روایت کوي.

۴۳۵. **طارق بن شهاب**: کنیت یې ابو عبدالله دی، بجلي کوفي دی، د جاهلیت په زمانه کي موجود وو او رسول الله ﷺ یې هم لیدلی دی، د رسول الله ﷺ څخه یې د حدیثو اورېدل ثابت نه دي مګر ډېر کم، د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما د خلافت په زمانه کي په ۳۳ غزاوو کي شریک سو، په ۸۲م هجري کال کي وفات سو.

۴۳۶. **طارق بن سوید** رضي الله عنه: د رسول الله ﷺ د صحبت شرف یې په برخه دی، دده حدیث په باب خمر کي موجود دي، دده څخه علقمه بن وائل روایت کوي.

۴۳۷. **الطفیل بن عمرو** رضي الله عنه : دغه طفیل بن عمرو دوسي دی، په مکه کي یې اسلام راوړ او د رسول الله ﷺ دنبوت تصدیق یې وکړ، بیا د خپل قوم ښارو ته ولاړی او د رسول الله ﷺ تر هجرت کولو پوري هلته وو، بیا د خپلو هغه خلګو سره چي دده سره یې اوسېدل غوښتل رسول الله ﷺ ته هجرت وکړ، د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او تر اخره پوري ورسره موجود وو، د یمامه په جګړه کي شهید سو، دده څخه جابر او ابو هریره رضي الله عنهما روایت کوي، دده شمېر د حجاز په علماؤ کي کیږي.

۴۳۸. **ابوالطفیل** : نوم یې عامر او د واثله زوی دی، نوموړی لیثي او کناني دی، دنوم په نسبت په کنیت سره زیات مشهور سو، د رسول الله ﷺ د پاک ژوند اته کاله یې په برخه سول، په مکه کي په ۱۰۲م هجري وفات سو، د مځکي پر مخ په ټولو صحابه کرامو کي اخري صحابي وو، دده څخه یوه ډله روایت کوي.

۴۳۹. **ابوطیبه** : نوم یې نافع دی، د ویني کښلو کسب یې کوي، د محیصه بن مسعود انصاري ازاد سوی غلام دی، مشهور صحابي دی، په محیصه کي میم مضموم دی، پر حاء مهمله باندي فتحه او پر یاء تحتاني باندي تشدید او زبر دی، په پای کي صاد مهمله دی.

۴۴۰. **ابوطلحه** رضی الله عنه : نوم یې زید دی د سهل انصاري بخاري زوی دی، په خپل کنیت سره مشهور دی، دانس بن مالک د مور خاوند دی، د مشهورو غشو ویشتونکو څخه دی، رسول الله ﷺ دده په اړه وفرمایل: د ابوطلحه رضی الله عنه آواز په لښکر کي د یوې ډلي تر آواز زیات دی، په ۳۱م هجري کال کي وفات سو، عمر یې ۷۷ کاله وو، داهل بصره خیال دی چي هغه په دریاب کي سفر کوی چي وفات سو او په یوه جزیره کي اووه ورځي وروسته دفن سو، د عقبه په بیعت کي د اوویا صحابه کرامو سره دی هم شریک وو، بیا د بدر او د هغه څخه وروسته په نورو غزاوو کي هم شریک وو، د صحابه کرامو یوه لویه ډله ور څخه روایت کوي.

تابعین رحمهم الله.

۴۴۱. **طلحه بن عبدالله** : دغه طلحه بن عبدالله بن کریز خزاعي دی، نوموړی تابعي او داهل مدینه څخه دی، دی د ډېرو صحابه کرامو څخه روایت کوي او دده څخه هم ډېر تابعین روایت کوي.

۴۴۲. **طلحه بن عبدالله**: دغه طلحه بن عبدالله د عوف زهري قریشي لمسی دی، د مشهورو تابعینو څخه دی، په اهل مدینه کي شمېرل کېږي، په سخاوت کي مشهور وو، د خپل اکا عبدالرحمن او نورو څخه روایت کوي، په ۹۹ م هجري کال کي وفات سو.

۴۴۳. **طلق بن حبیب** : نوموړی عنزي بصري دی، لوی عابد او په عبادت کي مشهور وو، د عبدالله بن جبیر، جابر او ابن عباس رضی الله عنهم څخه روایت کوي او دده څخه معصب او عمرو بن دینار او ایوب روایت کوي، په عنزی کي عین مهمله او پر دواړو نونانو باندي زبر دی.

۴۴۴. **الطفیل بن ابی** : دغه طفیل د ابی بن کعب رضی الله عنه زوی دی، تابعي دی، عزیز الحدیث دی، دده حدیث په اهل حجاز کي شائع دي، د خپل پلار او نورو څخه روایت کوي او دده څخه ابو الطفیل روایت کوي .

۴۴۵. **طاؤس بن کیسان** : نوموړی خولاني همداني یماني دی، فارسي الاصل دی، د یوې ډلي څخه روایت کوي او دده څخه زهري او نور ډېر کسان روایت کوي، د عمرو بن دینار مقوله ده چي ما هیڅ عالم د طاؤس په ډول لیدلی نه دی، په علم او عمل کي د ډېري لوړي درجې وو ، په مکه مکرمه کي په ۱۰۵م هجري کال په حق ورسېدی .

۴۴۶. **ابوطالب** : دغه ابو طالب د رسول الله صلی الله علیه وسلم اکا او د حضرت علي رضی الله عنه پلار دی، دده نوم عبد مناف بن عبد المطلب بن هشام قرشي دی، جاهلي دی یعني اسلام یې په برخه نه سو ، کله چي له دنیا څخه رخصت سو نو قریشو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډېر خه وکړل چي د هغه په وجه یې طائف ته تشریف یووړ، د هغه او بي بي خدیجې رضی الله عنها د وفات په منځ کي د یوه میاشت او پنځه ورځي فاصله ده .

۴۴۷. **ابن طاب** : د مدینې د خرماوو په اعتبار ده ته رطب بن طاب او تمر بن طاب ویل کیږي

ظ - صحابه کرام رضی الله عنهم .

۴۴۸. **ظهیر بن رافع** : دغه ظهیر بن رافع حارثي دی، د انصارو د اوس قبیلې څخه دی، دعقبه ثانیه بیعت ، د بدر غزا او دهغه څخه وروسته غزاوو کي شریک وو، دغه رافع د رافع بن خدیج څخه ماسوا بل دی ، دغه رافع د ظهیر څخه روایت کوي، په ظهیر کي پر ظاء معجمه باندي پېښ دی او هاء مهمله مفتوح او دوو ټکو والا یاء ساکنه ده .

ع - صحابه کرام رضی الله عنهم .

۴۴۹. **عمر بن الخطاب** رضی الله عنه : امیر المؤمنین عمر بن الخطاب فاروق رضی الله عنه دی، کنیت یې ابو حفصه دی، عدوي قریشي دی، دنبوت په شپږم کال یې اسلام راوړ او ځینو ویلي دي چي په پنځم کال کي دده څخه مخکي څلوېښت کسانو او یوولس ښځو اسلام راوړی وو ، ویل کیږي چي څلوېښتم سړی حضرت عمر رضی الله عنه وو، دده د اسلام قبلولو څخه اسلام څرګند پیل سول، له دې کبله دده لقب فاروق سو ، حضرت ابن عباس رضی الله عنه وایي: ما د حضرت عمر رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړل چي ستا لقب ولي فاروق سو؟ هغه وویل: حضرت

حمزه رضی اللہ عنہ زما د اسلام څخه درې ورځې مخکې اسلام راوړی وو، ددې وروسته الله جل جلاله زما سینه د اسلام لپاره خلاصه کړل نو ما وويل: الله لااله الا هو، له الاسماء الحسنی، د الله جل جلاله څخه ماسوا بل څوک د عبادت ور نسته، د هغه لپاره ټول ښه نومونه دي، تر دې وروسته هيڅوک ما ته تر رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم زيات خوږ نه وو، تر دې وروسته ما پوښتنه وکړل چې رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم چيرې دی، نو زما خور ما ته وښودل چې رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم په دار ارقم کې دی، زه د ابوارقم سرای ته ورغلم، حضرت عمر رضی اللہ عنہ وايي چې رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم دباندې راغلی او زه يې تر جامو ونيولم او په ښه زور سره يې خپلې خوا ته راکش کړم چې زه ونه دريدلای سوم او پر ګونډو ولوېدم، له دې وروسته رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم وفرمايل: اې عمر! دده کفر څخه به کله منع سې؟ زما د ژبې څخه بېله قصده دا ووتل: اشهد ان لااله الاالله وحده لاشريک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله، ددې په اورېدو سره د دار ارقم ټولو خلګو د الله اکبر آواز وکړ چې د هغه آواز د مسجد خلګو هم واورېدی، حضرت عمر رضی اللہ عنہ وايي: ددې وروسته ما وويل: اې دالله رسوله! ايا موږ په مرګ او ژوند کې پر حق دين باندې نه يو؟ رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم وفرمايل: ولې نه، قسم په هغه ذات چې د هغه په واک کې زما روح دی، تاسو ټول پر حق ياست، په خپل مرګ کې هم او په خپل ژوند کې هم، ما وويل: نو بيا ددغه حق پټولو څه مطلب؟ قسم په هغه ذات چې تاسو يې په حق سره رالېږلي ياست، موږ به خامخا حق ښکاره کوو، نو موږ رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د دوو صفو په منځ کې را وايستی، په يوه صف کې حضرت حمزه رضی اللہ عنہ وو او په بل صف کې زه (يعني حضرت عمر رضی اللہ عنہ)، په ما کې د جوش په وجه د ژرندې په ډول اواز وو، تر دې چې موږ مسجد حرام ته ورسېدو، کله چې قريشو زه او حمزه ولېدو، نو دومره صدمه ور پېښه سول چې تر دې مخکې هيڅکله داسې صدمه ور پېښه سوې نه وه، په هغه ورځ رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم زما نوم فاروق کېښېښود او زما په وجه الله جل جلاله د حق او باطل په منځ کې فرق وکړ، داؤد، ابن حصين او زهري روايت کوي کله چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ اسلام راوړ نو حضرت جبرائيل علیہ السلام راغلی او وه يې فرمايل: اې محمد! (صلی اللہ علیہ وسلم) ټول آسمان والا د عمر رضی اللہ عنہ په اسلام راوړلو خوشحاله سوي دي، او حضرت عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمايي: قسم په خدای! زه يقين لرم که د حضرت عمر رضی اللہ عنہ علم د ترازو په يوه پله کې کېښېښودل سي او د ټولې نړۍ د ژوندي انسانانو علم د ترازو په بله پله کې کېښېښودل سي نو د حضرت عمر رضی اللہ عنہ علم به کښېته (دروند) سي، او وه يې فرمايل چې زما خيال دی چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ په لسو کې نهه برخې علم د ځان سره يووړ او يوه برخه پاته سول، نو موږ

د رسول الله ﷺ سره په ټولو غزاوو کي شريک وو ، دی اول خليفه دی چي د امير المؤمنين په لقب سره وبلل سو ، حضرت عمر رضي الله عنه سور او سپين وو چي سوروالی پکښي غالب وو ، او ځينو ورته غنم رنګه ويلي دي، د لوړ قد والا وو ، د سروښتان يې زيات وتلي وه، سترګي يې تکي سرې وې، د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د وفات څخه وروسته يې ټولي انتظامي چاري د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د وصيت سره سم په پوره توګه سرته ورسولې، د مغيره بن شعبه غلام ابولولوه په مدينه کي د چارشنبې په ورځ د ذوالحجې په ۲۶م نېټه په ۲۳م هجري کال په خنجر سره زخمي کړ او په لسمه نېټه د محرم الحرام د يکشنبې په ورځ په ۲۴م هجري کال د ۶۳ کالو په عمر وفات سو ، دغه قول د هغه د عمر په اړه صحيح قول دی، د خلافت وخت يې لس کاله او شپږ مياشتي ده، د حضرت عمر رضي الله عنه د جنازې لمونځ حضرت صهيب رومي رضي الله عنه ورکړ ، د هغه څخه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه، عشره مبشره رضي الله عنهم او نورو ډېرو صحابه کرامو او تابعينو روايت کړی دی .

۴۵۰. **عمر بن ابي سلمه** رضي الله عنه : دده نوم عبدالله بن عبدالاسد مخزومي قريشي دی او دغه عمر د رسول الله ﷺ روزل سوی زوی وو ، دده مور ام سلمه رضي الله عنها وه چي په ازواجو مطهراتو کي ده، په دوهم هجري کال په حبشه کي پيدا سو ، په کومه ورځ چي رسول الله ﷺ وفات سو هغه وخت دده عمر نهه کاله وو، په ۸۳ م هجري کال کي د عبدالملک بن مروان د خلافت په زمانه کي په مدينه کي وفات سو، د رسول الله ﷺ حديثونه يې ياد کړل او د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي او دده څخه ډېر حضرات روايت کوي .

۴۵۱. **عثمان بن عفان** رضي الله عنه : امير المؤمنين عثمان بن عفان رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو عبدالله اموي قريشي دی، دده اسلام راوړل د اسلام په اول دور کي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په لاس د رسول الله ﷺ دار ارقم ته د تشريف راوړلو څخه مخکي وسو ، حبشې ته يې دوه واره هجرت وکړ او د بدر په غزا کي شريک نه سو ، ځکه چي بي بي رقيه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ لور په هغه ورځو کي ناروغه وه نو رسول الله ﷺ د دغه عذر په وجه د هغه د غنيمت مال ورکړ، او همدارنګه په حديبيه کي تر درختي لاندي بيعت الرضوان کي حضرت عثمان رضي الله عنه شامل نه سو ځکه چي رسول الله ﷺ هغه د صلحي دپاره مکې ته استولی وو ، کله چي بيعت رضوان واقع سو نو رسو لالله ﷺ خپل لاس مبارک پر دوهم لاس مبارک باندي په وهلو سره وفرمايل: دغه بيعت د عثمان دپاره دی، نوموړی ته ذوالنورين هم ويل کيږي ځکه چي د هغه په نکاح کي دوه نورونه يعني د رسول الله ﷺ دوې لوڼي بي بي رقيه رضي الله عنها او بي بي کلثوم

ﷺ یو په بل پسې راغلي وې، نومورې د سور او سپین رنګ میانه قده وو، او ځینو ویلي دي چي غنم رنګه وو، د ښکلي مخ والا وو، پلنه سینه یې وه پر سر یې ویښتان ډېر زیات وه، لویه ږېره یې وه، ږیره یې په ژړ رنګ وهل، په ۲۴م هجري کال کي د محرم الحرام په لومړۍ نېټه خلیفه وټاکل سو، اسود تجیبي (چي د مصر او سېدونکي وو) وژلی دی، ځینو بل څوک ښودلی دی، د شنبې په ورځ په جنت البقیع کي دفن سو عمر یې ۸۲ کاله وو او ځینو ویلي دي چي ۸۸ کاله وو، د خلافت وخت یې څو ورځي کم دوولس کاله وو، ډېرو خلګو ور څخه روایت کړی دی.

۴۵۲. **عثمان بن عامر** ﷛ : دغه عثمان بن عامر د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ پلار دی، نومورې قریشي او دبنوتیم څخه دی، کنیت یې ابو قحافه دی د قاف په پېښ سره او پر حاء مهمله تشدید نسته، دمکې د فتح په ورځ یې اسلام راوړ، د حضرت عمر ﷛ د خلافت تر زمانې پوري ژوندی وو، په ۱۴م هجري کال کي د ۹۷ کالو په عمر وفات سو، دده څخه صدیق اکبر او اسماء بنت ابي بکر ﷸ روایت کوي.

۴۵۳. **عثمان بن مظعون** ﷛ : کنیت یې ابو سائب دی، حجمي قرشي دی، تر دیارلس کسانو وروسته یې اسلام راوړی دی، د حبشې او مدینې دواړو هجرتونه یې کړي دي، د بدر په غزا کي شریک وو، د جاهلیت په زمانه کي یې هم شراب نه څښل، په مهاجرینو کي تر ټولو لومړی سړی دی چي وفات یې په مدینه منوره کي د شعبان په میاشت چي د هجرت پوره دېرش میاشتي تېري سوي وې، واقع سو، رسول الله ﷺ یې د مرګ وروسته تندی مچ کړ، کله چي دفن کړل سو نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه سړی په تلونکو کي زموږ لپاره غوره سړی وو، په جنت البقیع کي دفن کړل سو، لوی عابد، مرتاض، صاحب فضل صحابي وو، دده زوی سائب او دده ورور قدامه بن مظعون دده څخه روایت کوي.

۴۵۴. **عثمان بن طلحه** ﷛ : دغه عثمان بن طلحه عبدري قریشي حجمي مشرف د نبي کریم ﷺ په صحبت دی، دده ذکر په باب المساجد کي راځي، دده څخه دده د اکا زوی شیبه او ابن عمر روایت کوي، په مکه مکرمه کي په ۴۲م هجري کال وفات سو.

۴۵۵. **عثمان بن حنیف**: دغه عثمان بن حنیف د انصارو څخه دی، د سهل ورور دی، حضرت عمر ﷛ د عراق پر سیمه باندي حاکم ګرځولی وو او د هغه ځای پر اوسېدونکو یې خراج او محصول ټاکلی وو، حضرت علي ﷛ د بصرې حاکم ګرځولی وو، بیا حضرت طلحه او زبیر وایستی، کله چي دواړه بصرې ته راغلل، د جمل پېښې څخه داسي وسول،

ددې وروسته په کوفه کي هستوګن وو او حضرت معاويه رضي الله عنه د خلافت تر زمانې پورې ژوندی وو، يوه ډله ورڅخه روايت کوي.

۴۵۶. **عثمان بن ابي العاص** رضي الله عنه: د بنوثقيف څخه دی، رسول الله ﷺ د طائف حاکم ټاکلی وو، نو د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک کي او د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي، همدارنګه د حضرت عمر رضي الله عنه دخلافت په اولو دوو کلو کي د طائف حاکم وو، ددې وروسته حضرت عمر رضي الله عنه د طائف څخه ليري کړ او د عمان او بحرين عامل يې وټاکی، دغه عثمان بن ابي العاص د ثقيف په وفد کي په شامليدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوی وو، دی په وفد کي تر ټولو کشر وو، هغه وخت ددہ عمر ۲۹ کاله وو او هم هلته په ۵۱م هجري کال کي وفات سو، د رسول الله ﷺ د وفات وروسته د ثقيف قبيلې د مرتد کېدو اراده وکړل نو هغوی ته عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه وفرمايل: اې د ثقيف خلګو! په خلګو کي هم تاسو د اسلام راوړلو په اعتبار تر ټولو آخر ياست نو په مرتد کېدو کي تر ټولو مه مخکي کيږئ، نو دغه خلګ د مرتد کېدو څخه منع سول، دده څخه د تابعينو يوه ډله روايت کوي.

۴۵۷. **علي بن ابي طالب** رضي الله عنه: امير المؤمنين علي بن ابي الطالب رضي الله عنه دی، کنيت يې ابوالحسن او ابوتراب دی، قريشي دی، د اکثرو اقوالو په اعتبار په نارينوو کي تر ټولو مخکي اسلام راوړونکی دی، هغه وخت يې د عمر په اړه اختلاف دی، ويل کيږي چي عمر يې پنځلس کاله وو او ځيني شپاړلس او ځينو لس کاله وايي، د رسول الله ﷺ سره په ټولو غزاوو کي شريک سوی دی ما سوا د تبوک د غزا څخه چي په خپله کورنۍ کي د اړتيا لپاره پاته سوی وو، ددغه پېښې په اړه رسول الله ﷺ ورته فرمايلي وه: ايا ته دا نه خوښوې چي تا ته زماله خوا هغه حيثيت حاصل سي کوم چي حضرت هارون عليه السلام ته د حضرت موسی عليه السلام له خوا وو، نوموړی غنم رنګه وو، د غټو سترګو والا د اوږدوالي په اعتبار لنډ قامته وو، نس يې غټ وو، زيات وېښتانو والا، پلني ږيري والا او د سر وېښتان يې د منځ څخه ختلي وه، سر او ږيره دواړه يې سپين وه، دحضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت په ورځ د جمعې ورځ وه په اتلسم د ذي الحجې په ۳۵م هجري کال کي خليفه وټاکل سو، عبدالرحمن بن ملجم مرادي په کوفه کي په اتلسم د رمضان المبارک د جمعې په سهار د توري حمله پر وکړل، د زخمي کېدو څخه درې ورځي وروسته وفات سو، دواړو زامنو حضرت حسن او حضرت حسين او عبدالله بن جعفر رضي الله عنهم غسل ورکړ، د جنازې لمونځ يې حضرت حسن رضي الله عنه

ورکړ، سهار په رڼا کېدو سره دفن کړل سو عمر يې ۶۳ کاله وو، او ځينو ۶۵ کاله او ځينو ۷۰ کاله او ځينو ۵۸ کاله ښودلي دي، د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت وخت څلور کاله او نهه مياشتي او څو ورځي وو، د نوموړي څخه خپل زامن حسن او حسين، محمد او ډېر صحابه کرام رضي الله عنهم او تابعين روايت کوي.

۴۵۸. **علي بن شيبان** : دغه علي بن شيبان حنفي يمامي دی، دده څخه دده زوی عبدالرحمن روايت کوي.

۴۵۹. **علي بن طلق** : دغه علي بن طلق حنفي يمامي دی، دده څخه سلم بن سلام روايت کوي، دی د اهل يمامه څخه دی او دده حديث په اهل يمامه کي تر لاسه کيږي.

۴۶۰. **عبدالرحمن بن عوف** رضي الله عنه : کنيت يې ابو محمد دی، زهري قريشي دی، د ی هم په عشره مبشره کي دی، په پيل کي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په لاس يې اسلام راوړی وو، حبشې ته يې دوه واره هجرت کړی دی، په ټولو غزاوو کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره موجود وو، د احد په غزا کي ثابت قدمه وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ده پسي د تبوک په غزا کي لمونځ کړی دی او کومه برخه چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه فوت سوې وه هغه يې پوره کړې ده، نوموړی طويل القامت، نري پوست والا، د سور او سپين رنګ څښتن وو، په بدن کي يې سور والی ځلېدی، نرم تګ يې کوی، جګه پزه يې وه، د احد په غزا کي دده پښې ګوډې سوې وې او پر بدن يې تر شل زيات زخمونه لګېدلي وه، د هغه څخه ځيني زخمونه پر پښو ولګېدل چي د هغه په وجه ګوډ سوی وو، د عام فيل څخه لس کاله وروسته پيدا سو، او په ۳۲م هجري کال کي وفات سو، په جنت البقيع کي دفن کړل سو عمر يې ۷۶ کاله وو، دده څخه عبدالله بن عباس او نور حضرات روايت کوي.

۴۶۱. **عبدالرحمن بن ابزي** : دغه عبدالرحمن بن ابزي خزاعي د نافع بن عبدالحارث ازاد سوی غلام دی، دی په کوفه کي هستوګن وو، حضرت علي رضي الله عنه د خراسان والي ټاکلی وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم زيارت يې کړی دی او په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسي يې لمونځ کړی دی، د حضرت عمر بن خطاب او ابی بن کعب رضي الله عنهما څخه زيات روايت کوي او دده څخه دده دوه زامن سعيد او عبدالله او نور حضرات روايت کوي، په کوفه کي وفات سو.

۴۶۲. **عبدالرحمن بن ازهر** : دغه عبدالرحمن بن ازهر قريشي د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه وراره دی، د حنين په غزا کي شريک وو. دده څخه دده زوی عبدالحميد او نور حضرات روايت کوي، د حره پېښې څخه مخکي وفات سوی دی.

۴۶۳. **عبدالرحمن بن ابي بکر** : دغه عبدالرحمن د ابوبکرصدیق ﷛ زوی دی، دده مور ام رومان ده چي د بي بي عائشې ﷟ مور هم ده، د صلح حدیبیې په کال یې اسلام راوړ، او غوره مسلمان ثابت سو، د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د ټولو اولادو څخه مشر وو، دده څخه بي بي عائشه، بي بي حفصه او نور حضرات ﷢ روایت کوي، په ۵۳م هجري کال کي وفات سو.

۴۶۴. **عبدالرحمن بن حسنه** : دغه عبدالرحمن حسنه دی، حسنه دده مور ده، دی د خپلي مور په نسبت زیات مشهور دی، دده پلار عبدالله بن مطاع دی، دده څخه یزید بن وهب روایت کوي.

۴۶۵. **عبدالرحمن بن شرحبیل**: دغه عبدالرحمن بن شرحبیل بن حسنه دی، دعبدالرحمن بن حسنه وراره دی، رسول الله ﷺ یې لېدلی دی، دده څخه دده زوی عمران روایت کوي، دمصر په فتحه کي دی او دده ورور ربیعه موجود وه.

۴۶۶. **عبدالرحمن بن یزید**: دغه عبدالرحمن بن یزید بن خطاب دی، عدوي قریشي دی، کله چي دی کوچنی وو نو دده نیکه ابولبابه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر کړ او تحنیک یې ورو کړ، رسول الله ﷺ دده پر سر مبارک لاس راتېر کړ او د پرمختګ او برکت دعاء یې ورته وکړل، محمد بن سعد ویلي دي چي د نبي کریم ﷺ د وفات په وخت کي دده عمر شپږ کاله وو، ده د خپل اکا عمر بن خطاب څخه حدیث اورېدلي دي او د عبدالله بن زبیر ﷛ په زمانه کي د عبدالرحمن بن عمر ﷛ د وفات څخه مخکي وفات سو.

۴۶۷. **عبدالرحمن بن سمرة**: دغه عبدالرحمن بن سمرة قریشي دی، دمکې د فتح په ورځ یې ایمان راوړ او د رسول الله ﷺ شرف حجت یې حاصل کړ، د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي، په اهل بصره کي شمېرل کېږي، په ۵۱م هجري کال په بصره کي وفات سو، دده څخه ابن عباس، حسن او نورډېر خلګ روایت کوي.

۴۶۸. **عبدالرحمن بن سهل**: نوموړی انصاري دی، دخیبر په غزا کي شهید سو، دده یادونه په کتاب القسامة کي راځي، ویل کیږي چي د بدر په غزا کي هم موجود وو، لوی عالم او صاحب فهم وو، دده څخه سهل بن ابي حثمه روایت کوي.

۴۶۹. **عبدالرحمن بن شبل** : دغه عبدالرحمن ابن شبل انصاري دی، په اهل مدینه کي شمېرل کیږي، دده څخه تمیم بن محمد او ابوراشد روایت کوي.

۴۷۰. **عبدالرحمن بن عثمان** : دغه عبدالرحمن بن عثمان تيمي قريشي دی، د طلحه بن عبيدالله وراره دی، دده په اړه هم ويل کيږي چي د رسول الله ﷺ زيارت يې کړی دی، مګر د رسول الله ﷺ څخه يې روايت نه دی کړی او نور دده څخه روايت کوي.

۴۷۱. **عبدالرحمن بن ابي قراد** : دغه عبدالرحمن بن ابي قراد اسلمي دی، په اهل حجاز کي شمېرل کيږي او د اهل حجازو څخه او ابوجعفر حطمي او نورو څخه روايت کوي، په قراد کي پر قاف باندي پېښ دی او راء مهمله بېله شده ده او په آخر کي دال مهمله دی.

۴۷۲. **عبدالرحمن بن کعب**: دغه عبدالرحمن بن کعب دی، کنيت يې ابوليلی دی، مازني دی، د انصارو څخه د بدر په غزا کي شريک سوی دی، په ۲۴م هجري کال کي وفات سو، دی هم د هغه صحابه کرامو څخه دی چي دهغوی په اړه دغه آيت نازل سوی وو:

تَوَلَّواْ وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلاَّ يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ

۴۷۳. **عبدالرحمن بن يعمر** : دغه عبدالرحمن بن يعمر ديلمي دی، د رسول الله ﷺ د صحبت او روايت شرف يې په برخه دی، کوفې ته راغلی او خراسان ته ورسېدی، دده څخه بکير بن عطاء روايت کوي، بل څوک ور څخه روايت نه کوي.

۴۷۴. **عبدالرحمن عائش**: دغه عبدالرحمن عائش حضرمي دی، د اهل شام څخه شمېرل کيږي، دده په صحابي کېدو کي اختلاف دی، دده څخه د الله ﷻ د ليدني په اړه حديث منقول دی، دده څخه ابوسلام ممطور او خالد بن اللحاج روايت کوي، او دده حديث: عن مالک ابن يخامر عن معاذ بن جبل ان رسول الله ﷺ، دی، او ځينو ويل چي بېله واسطې د بل صحابي څخه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي، مګر اول سند صحيح دی، ددې تصديق امام بخاري او نورو هم کړی دی، عائش ياء تحتاني دوو ټکو والا ياء په زېر او شين معجمه سره دی، او په يخامر کي دوو ټکو والا ياء مضمومه ده او خاء معجمه غير مشدده ده، ميم مکسور دی او په پای کي راء مهمله ده، دا هم ويل کيږي چي د مالک بن يخامر دغه روايت مرسل دی، ځکه چي هغه ته د رسول الله ﷺ څخه سماع ثابته نه ده.

۴۷۵. **عبدالرحمن بن ابي عميره** : دغه عبدالرحمن بن ابي عميره مدني دی، او ځيني وايي چي قريشي دی، دده په حديث کي اضطراب بنودل کيږي، په صحابوو کي د قوس الحافظه څخه دی دغه خبره حافظ عبدالبر کړې ده، نوموړی شامي دی، دده څخه يوه ډله روايت کوي، عميره د عين مهمله په زور او ميم په زېر سره دی او په پای کي راء مهمله ده.

۴۷۶. **عبدالله بن ارقم** : زهري قريشي دی، دمکې د فتح په کال يې اسلام راوړ، د رسول الله ﷺ کاتب وو، او وروسته د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما کاتب وو، حضرت عمر رضي الله عنه پر بيت المال باندي حاکم ټاکلی وو او د حضرت عمر رضي الله عنه څخه وروسته حضرت عثمان رضي الله عنه هم ټاکلی وو، بيا عبدالله بن ارقم ددغه خدمت څخه استعفی ورکړل، دده څخه عروه او اسلم روايت کوي، دحضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو.

۴۷۷. **عبدالله بن ابي اوفی** رضي الله عنه : دغه عبدالله بن ابي اوفی دی، او د ابو اوفی نوم علقمه بن قيس اسلمي دی، په حديبيه، خيبر او وروسته غزاوو کي يې شريک سوی دی، همېشه په مدينه کي هستوګن وو، تر دې چي رسول الله ﷺ وفات سو، تر دې وروسته کوفې ته ولاړی او په کوفه کي په وفات کېدونکو صحابه کرامو کي تر ټولو آخر په ۸۷م هجري کال کي وفات سو، دده څخه امام شعبي رحمه الله او نور حضرات روايت کوي.

۴۷۸. **عبدالله بن أنيس** : دغه عبدالله بن انيس جهني او د انصارو څخه دی، د احد په غزا او نورو وروسته غزاوو کي يې شريک وو، ابو امامه او جابر دده څخه روايت کوي، په ۵۴ م هجري کال په مدينه کي وفات سو.

۴۷۹. **عبدالله بن بُسر** : نوموړی سلمي مازني دی، ده ته، دده پلار بسر ته، دده مور ته او دده ورور عطيه ته او دده خور صماء ته د صحبت نبوي شرف حاصل دی، په شام کي هستوګن وو او په حمص کي په ۸۸ م هجري کال ناڅاپه د اوداسه کولو پر وخت وفات سو، د شام په صحابه کرامو کي تر ټولو آخر وفات سوی دی او ځينو ويلي دي چي تر ټولو وروسته وفات کېدونکی حضرت ابو امامه رضي الله عنه دی، دده څخه يوه ډله روايت کوي.

۴۸۰. **عبدالله بن عدي** : دغه عبدالله بن عدي قريشي زهري دی، د اهل حجازو څخه دی، دی د قديد او عسفان په منځ کي هستوګن وو، دده څخه ابو سلمه بن عبد الرحمن او محمد بن جبير روايت کوي.

۴۸۱. **عبدالله بن ابي بکر** : دغه عبدالله د ابوبکر صديق رضي الله عنه زوی دی، په طائف کي د رسول الله ﷺ سره دی هم وو، پر ده يوه غشه ولګېدل چي ابو محجن ثقفي ويشتلې وه، د هغه غشي څخه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په پيل کي په ۱۱م هجري کال د شوال په مياشت کي وفات سو، نوموړی د قديم الاسلام صحابه کرامو څخه دی.

۴۸۲. **عبدالله بن ثعلبه** : دغه عبدالله بن ثعلبه مازني عذري دی، د هجرت څخه څلور

کاله مخکي پیدا سو . په ۸۹ م هجري کال کي وفات سو ، د فتح په کال یې د رسول الله ﷺ لیدنه وکړل ، رسول الله ﷺ دده پر مخ لاس مبارک را تېر کړ ، دده څخه دده زامن عبدالله او زهري روایت کوي .

۴۸۳. **عبدالله بن حجش** : نوموړی اسدي دی، د بي بي زینب ام المؤمنین وررور دی، د رسول الله ﷺ دار ارقم ته د راتلو څخه مخکي یې اسلام راوړی دی، او دی د هغه صحابه کرامو څخه دی چي هغوی حبشه او مدینې دواړو ته هجرت کړی دی، ډېر قبول الدعوات وو، د بدر په غزا کي حاضر وو، او د احد په غزا کي شهید سو، هغه لومړنی سړی دی چي غنمیت یې په پنځو برخه وویشل سو، تر دې وروسته د قرآن کریم په نازلېدو سره ددغه رایي تصویب وسو، چي د هغه یادونه په دغه آیت کي ده : (واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه ...الخ) او پېښه دا وه چي کله دی په یو کوچني لښکر کي راستون سو نو د غنیمت پنځمه برخه یې واخیستل او هغه یې د رسول الله ﷺ لپاره بېله کښېښودل، د جاهلیت د زمانې رواج وو چي سردار ته به یې د غنیمت څلورمه برخه ورکول، دده څخه سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه او نور روایت کوي، ابوالحکم بن اخنس دی قتل کړی وو چي هغه وخت یې عمر تقریبا څلوېښت کاله وو ، دی او حضرت حمزه رضي الله عنه په یوه قبر کي دفن کړل سول .

۴۸۴. **عبدالله بن ابي الحمساء** : دغه عبدالله بن ابي الحمساء عامري دی، دده شمېر په بصریانو کي کیږي، دده حدیث د عبدالله بن شقیق سره دی چي د خپل پلار څخه یې نقل کوي، او هغه یې د عبدالله بن ابي الحمساء څخه .

۴۸۵. **عبدالله بن ابي الجدعا** : دغه عبدالله بن ابي الجدعا تمیمي دی، دده یادونه په وحدان کي راځي، وحدان د هغه روایت کوونکو په اړه استعمالیږي چي په شیخین یعني امام بخاري او امام مسلم کي یوازي یوه روایت کړی وي ، دده شمېر په بصریانو کي کیږي

۴۸۶. **عبدالله بن جعفر** رضي الله عنه : دغه عبدالله بن جعفر بن ابي طالب قریشي دی، دده مور اسماء د عمیس لور ده، دی په حبشه کي پیدا سو او په دغه حبشه کي لومړی ماشوم وو چي د حبشې په مسلمانانو کي پیدا سو ، په ۸۰ م هجري کال په مدینه کي وفات سو ، عمر یې ۹۰ کاله وو ، ډېر سخي ، حلیم او پاک انسان وو ، د سخاوت دریاب ورته ویل کېدل، مشهوره وه چي په اسلام کي دده څخه زیات سخي هیڅوک نسته ، دده څخه ډېر خلګ روایت کوي.

۴۸۷. **عبدالله بن جهم** : له انصارو څخه دی، دده حدیث د لمونځ کونکي مخته د تېرېدو په اړه دی، دده څخه بسر بن سعید او نور روایت کوي، دده سند حدیث مالک عن ابي جهم

دی، چي په هغه کي د نوم يادونه نسته او دده حديث ابن عينيه او وکيع هم روايت کړی دی، دوی دواړو دده نوم عبدالله بن جهم ذکر کړی دی او دی په خپل کنيت سره مشهور دی، او موږ دده يادونه د جيم په حرف کي کړې ده.

۴۸۸. **عبدالله بن جزء**: دغه عبدالله بن جزء دی، کنيت يې ابوالحارث سهمي دی، په مصر کي هستوګن وو، په بدر کي شريک وو، دده څخه د مصريانو يوه ډله روايت کوي، په ۸۵ م هجري کال په مصر کي وفات سو، په جزء کي جيم مفتوح زاء معجم ساکن او په پای کي همزه ده.

۴۸۹. **عبدالله بن حبشي**: دغه عبدالله بن حبشي خثعمي دی، ده ته شرف روايت حاصل سو، د اهل حجاز څخه شمېرل کيږي. په مکه کي هستوګن وو، دده څخه عبيد بن عمر روايت کوي، عبيد او عمير دواړه مصغر دی.

۴۹۰. **عبدالله بن ابي حدرد**: د دغه ابو حدرد نوم سلام بن عمر اسلمي دی، د حديبيه په غزا کي او د هغه څخه وروسته د خيبر او نورو په غزاوو کي هم شريک سو، په ۷۱ م هجري کال د ۸۱ کالو په عمر وفات سو، د اهل مدينه څخه ګڼل کيږي، ابن القعقاع او نور حضرات دده څخه روايت کوي.

۴۹۱. **عبدالله بن حنظله**: دغه عبدالله بن حنظله انصاري دی، او حنظله هغه وو چي ملائکو غسل ورکړی وو، د رسول الله ﷺ په زمانه کي پيدا سو او کله چي رسول الله ﷺ وفات سو نو دده عمر اووه کاله وو، عبدالله، رسول الله ﷺ ليدلی وو او يو روايت يې هم ور څخه کړی دی، دې ډېر نيک، صاحب فضل او د انصارو مشر وو، دا هغه سړی چي دده په لاس اهل مدينه ددې خبري بيعت کړی وو چي يزيد بن معاويه دی د خلافت څخه ايسته کړل سي، له دې کبله په ۶۳م هجري کال کي د حره په پېښه کي قتل کړل سو، دده څخه ابن ابي مليکه او عبدالله بن زيد او اسماء بنت زيد بن الخطاب او نور حضرات روايت کوي.

۴۹۲. **عبدالله بن حوله**: دغه عبدالله بن حوله ازدي دی. د شام په هبواد کي هستوګن سو، دده څخه جبير بن نفير او نور روايت کوي، په ۸۰ م هجري کال په شام کي وفات سو.

۴۹۳. **عبدالله بن خبيب** رضي الله عنه: دغه عبدالله بن خبيب د جهنيه قبيلې څخه دی، د انصارو حليف وو، مدني او صحابي دی، دده حديث په اهل حجاز کي تر لاسه کيږي، دده څخه ابن معاذ روايت کوي.

۴۹۴. **عبدالله بن رواحه** رضی الله عنه : دغه عبدالله بن رواحه خزرجي انصاري دی، د نقباؤ څخه دی، په بیعت عقبه کي موجود وو، د بدر، احد، خندق او وروستنیو غزاوو کي شریک وو، ماسوا د فتح د غزا او وروسته غزاوو څخه، ځکه چي د موته په جګړه کي په اتم هجري کال شهید سو، په دغه جګړه کي د لښکر امیر وو، د غوره شعر ویونکو څخه دی، د ده څخه ابن عباس او نور حضرات روایت کوي.

۴۹۵. **عبدالله بن الزبیر** رضی الله عنه : دغه عبدالله بن زبیر دی. د ده کنیت ابوبکر دی، اسدي قریشي دی، د ده دغه کنیت د ده د نیکه ابوبکر صدیق رضی الله عنه په کنیت او د هغه نوم رسول الله ﷺ ایښی وو. په مدینه کي د مهاجرینو څخه اول اسلامي ماشوم وو، په اول هجري کال پیدا سو، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یې په غوږ کي آذان وکړ د ده د مور بي بي اسماء څخه په قباء کي پیدا سو. او د رسول الله ﷺ په غېږ مبارک کي کښېښنودل سو، رسول الله ﷺ خرما وغوښتل او په هغه یې تحنیک وکړ، نو تر ټولو لومړی شی چي د ده نس ته ورغلی هغه د رسول الله ﷺ لعاب مبارک وو، بیا رسول الله ﷺ د ده لپاره د برکت دعاء وکړل، نوموړی د پاک مخ خاوند او یو وېښته یې هم پر مخ نه وو، نه یې ږیره وه، ډېر روژې نیونکی او ډېر نفل کوونکی وو، غښتلی سړی وو، ډېر قوي او د رعب څخه ډک وو، د حق خبري منونکی وو، د تعلق او قرابت قائمولو والا وو، په ده کي هغه خبري جمع وې چي په نورو کي نه وې. د ده پلار د رسول الله ﷺ د مصاحبینو څخه وو، د ده مور اسماء د ابوبکر صدیق رضی الله عنه لور وه، د ده نیکه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وو، د ده انا صفیه د رسول الله ﷺ عمه وه، د ده خاله بي بي عائشه رضی الله عنها وه چي له ازواج مطهراتو څخه ده، د رسول الله ﷺ سره یې بیعت وکړ کله چي یې عمر اته کاله وو، حجاج بن یوسف په مکه کي ووژی او د سه شنبې په ورځ د جمادي الثاني په اووه لسمه نېټه په ۷۳م هجري کال په دار وزړول سو، د ده لپاره په ۶۴م هجري کال د خلافت لپاره بیعت واخیستل سو. د ده څخه مخکي د ده د خلافت هیڅ خبره نه وه د ده د خلافت منلو ته اهل حجاز، یمن، عراق، خراسان او نور ډېر کسان تیار وه. اته حجونه یې وکړل د ده څخه یوه لویه ډله روایت کوي.

۴۹۶. **عبدالله بن زمعه** : دغه عبدالله بن زمعه قریشي اسدي دی، د مدینې په اوسېدونکو کي شمېرل کیږي، د ده څخه عروه بن زبیر او نور حضرات روایت کوي.

۴۹۷. **عبدالله بن زید**: دغه عبدالله بن زید بن عبد ربه دی، انصاري خزرجي دی، په

کي يې په اول هجري کال د آذان الفاظ ښودلي وه، د اهل مدينه څخه دی، په ۳۲م هجري کال په مدينه کي د ۶۴ کالو په عمر وفات سو، دی خپله او دده مور او پلار صحابه وه، دده څخه دده زوی محمد او سعيد بن مسيب او ابن ابي ليلی روايت کوي.

۴۹۸. **عبدالله بن زيد** رضي الله عنه: دغه عبدالله بن زيد بن عاصم انصاري دی، د بنومازن څخه دی، د احد په غزا کي شريک سو، مګر د بدر په غزا کي يې ګډون ونه کړل، دا هغه صحابي دی چي مسيلمه کذاب يې د وحشي بن حرب سره ووژی، او دغه عبدالله د حره په پېښه کي په ۶۳م هجري کال ووژل سو، دده څخه عباد بن تميم چي دده وراره دی او ابن مسيب روايت کوي، عباد دباء موحده په تشديد سره دی.

۴۹۹. **عبدالله بن السائب**: دغه عبدالله بن سائب مخزومي قريشي دی، دده څخه د مکې اوسېدونکو قرائت زده کړی دی، د مکې د اوسېدونکو څخه شمېرل کيږي، د ابن زبير رضي الله عنه د وژني څخه مخکي په مکه کي وفات سو، دده څخه يوه ډله روايت کوي.

۵۰۰. **عبدالله بن سرجس**: دغه عبدالله بن سرجس مزني دی، ده ته مخزومي هم ويل کيږي، زما خيال دی چي دی د مخزوميانو حليف دی او مخزومي نه دی، دی بصري دی، دده حديث په بصره کي تر لاسه کيږي، دده څخه عاصم احول او نور روايت کوي، په سرجس کي دوه سينونه دي چي په منځ کي يې جيم دی او د نرجس پر وزن دی.

۵۰۱. **عبدالله بن سلام**: دغه عبدالله بن سلام دی، دده کنيت ابويوسف دی، اسرائيلي وو، د يوسف بن يعقوب عليه السلام د اولاد څخه وو او د بني عوف بن خزرج حليف وو، د يهودي علماؤ څخه وو او د هغه کسانو څخه وو چا ته چي رسول الله ﷺ د جنت زيری ورکړی دی، دده څخه دده دوه زامن يوسف او محمد او نور کسان روايت کوي، په مدينه کي په ۴۳م هجري کال وفات سو، په سلام کي پر لاندي باندي تشديد نسته.

۵۰۲. **عبدالله بن سهل**: دغه عبدالله بن سلام انصاري حارثي دی، د عبدالرحمن ورور او د محيصه وراره دی، دی په خيبر کي ووژل سو، دده يادونه په باب القسامة کي ده.

۵۰۳. **عبدالله بن الشخير**: دغه عبدالله بن شخير عامري دی، په بصريانو شمېرل کيږي، د رسول الله ﷺ په خدمت کي د بني عامر په وفد کي حاضر سو، دده څخه دده دوه زامن مطرف او يزيد روايت کوي، په شخير کي شين معجمه او خاء معجمه دواړو باندي زېر دی، پر خاء باندي تشديد او ياء تحتاني ساکنه ده.

۵۰۴. **عبدالله بن الصنابحي**: د صنابحي زوی دی، ځينو ويلي دي چي دغه ابو عبدالله

دی او حافظ ابن عبد البر ویلي دي: زما په نزد صحیح داده چي صنابحي ابو عبد الله تابعي دی، نه عبد الله صحابي، او هغه وویل چي عبد الله صنابحي په صحابو کي مشهور نه دی او د صنابحي صحابي حدیث مؤطا امام مالک او امام نسائي په خپل سنن کي ذکر کړي دي.

۵۰۵. **عبدالله بن عامر** رضي الله عنه: دغه عبد الله بن عامر بن کریز قریشي دی، د حضرت عثمان رضي الله عنه د ماما زوی دی، د رسول الله ﷺ په زمانه کي پیدا سو، رسول الله ﷺ ته راوستل سو او د اعوذ باالله په ویلو سره یې دم کړ، د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کي یې عمر دیارلس کاله وو. ځینو ویلي دي چي د رسول الله ﷺ څخه یې روایت نه دی کړی او نه یې څه اورېدلي دي، په ۵۹م هجري کال کي وفات سو. حضرت عثمان رضي الله عنه د خراسان او بصرې والي ټاکلی وو او هلته حاکم وو تر دې چي حضرت عثمان رضي الله عنه شهید سو، بیا کله چي د امارت واګي حضرت معاویه ته منتقل سوې نو د خراسان او بصرې ولایت بیا ده ته ورکړل سو، ډېر سخي کریم او کثیر المناقب دی، خراسان یې فتح کړ او کسری د فارس پاچا دده په زمانه کي ووژل سو، او پر دې خبره د ټولو اتفاق دی چي ده د فارس ټول شاوخوا او همدا رنګه خراسان، اصفهان، کرمان او حلوان یې فتح کړل، ده د بصرې ویاله جوړه کړې ده.

۵۰۶. **عبدالله بن عباس** رضي الله عنهما: د رسول الله ﷺ د اکا زوی دی او دده مور لبابه د حارث لور او د بي بي میمونې رضي الله عنها خور ده، د هجرت څخه درې کاله مخکي پیدا سول، د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کي یې عمر دیارلس کاله یا پنځلس کاله وو، ځینو ویلي دي چي لس کاله عمر یې وو، د امت محمدیه لوی عالم او په غوره کسانو کي وو، رسول الله ﷺ ورته د دیني فهم او تفسیر قرآن دعاء کړې وه، جبرائیل علیه السلام یې دوه واره لیدلی دی، د مسروق قول دی چي کله به ما عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته کتل نو ما به ویل چي دی تر ټولو زیات ښکلی او جمیل دی، او کله چي به یې خبري کولې نو ما به ویل چي دی تر ټولو زیات فصیح او بلیغ دی. کله چي به یې حدیث بیانول نو ما به ویل چي دی تر ټولو زیات عالم دی، د حضرت عمر رضي الله عنه په نزد ډېر مقرب وو، د ځان سره یې نژدې کښېنوی او د سترو صحابه کرامو سره په مشوره کولو کي به یې دی هم کښېنوی، د عمر په پای کي ړوند سوی وو، د طائف په ښار کي په ۶۸م هجري کال د ابن زبیر په زمانه کي د ۷۱ کالو په عمر وفات سو، دده څخه ډېرو صحابه کرامو او تابعینو روایت کړی دی، د سور او سپین رنګ څښتن وو، د جګ قد والا وو، په رنګ کي یې د ژړوالي اثر وو، غټ، تازه او ښکلی وو، پر سر یې ډېر وېښتان وه او نکریزي به یې لګولې.

۵۰۷. **عبدالله بن عمر** رضی اللہ عنہ : دغه عبدالله د عمر بن خطاب رضی اللہ عنہ زوی دی، قرشي عدوي دی، د خپل پلار سره یې په مکه کې په کوچنیوالي ایمان راوړی دی، د بدر په غزا کې شریک نه وو او د احد په غزا کې د ګډون په اړه اختلاف دی، صحیح خبره داده چې تر ټولو مخکې په کومه غزا کې شریک سوی دی هغه د خندق غزا وه، د ځینو دا بیان دی چې دی د بدر په ورځ د کوچنیوالي په وجه شریک نه کړل سو او رسول الله ﷺ د احد په غزا کې د ګډون اجازه ورکړل، یو روایت دادی چې د احد په ورځ بېرته واستول سو ځکه هغه وخت یې عمر څورلس کاله وو، تر دې وروسته د خندق په غزا او نورو ټولو غزاوو کې شریک وو، لوی عالم، زاهد، متقي او پرهیزګار انسان وو، په معاملاتو کې به یې ډېر غور او احتیاط کوی، جابر بن عبدالله رضی اللہ عنہ فرمایي: په موږ کې هیڅوک ونه ساتل سو چې دنیا ته مائل او کښنته سوی نه وي ماسوا د حضرت عمر رضی اللہ عنہ او دهغه د زوی عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ څخه، د حضرت میمون بن مهران قول دی چې ما د ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه زیات محتاط او پرهیزګار هیڅوک نه دی لیدلی او د حضرت عبدالله بن عباس رضی اللہ عنہ څخه زیات عالم مي نه دی لیدلی، حضرت نافع به ویل چې: عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ په خپل ژوند کې یو لک بلکه تر دې هم زیات انسانان د غلامۍ څخه ازاد کړي دي، د وحي د نزول څخه یو کال مخکې پیدا سو، په ۷۳م هجري کال کې د ابن زبیر د وژني څخه درې میاشتي وروسته او د ځینو په نزد شپږ میاشتي وروسته وفات سو، وصیت یې کړی وو چې ما په حل کې دفن کړئ، مګر د حجاج په وجه دا وصیت پوره نه کړل سو او په ذي طوی کې د مهاجرینو په هدېره کې دفن کړل سو، حجاج یو سړي ته حکم ورکړی وو چې د هغه مطابق هغه د خپلي نیزې لاندي زهر ګډ کړل او په لاره کې یې د هغه سره جګړه وکړل او د خپلي نیزې په زهرجنه څوکه یې نوموړی د قدم په شا کې ووهی او وجه ددې داوه چې حجاج یوه ورځ خطبه ویل او په لمانځه کې یې ډېر ځنډ وکړ، حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ ورته وفرمایل چې لمر ستا لپاره درېدلای نه سي، حجاج ورته وویل: زه غواړم چې ستا دید ته تاوان ورسوم، حضرت عبدالله ابن عمر رضی اللہ عنہ ورته وویل: که ته داسي وکړې نو څه تعجب دی ځکه چې ته ډېر ناپوه یې او پر موږ په زور حاکم یې، ځینو ویلي دي چې حضرت عبدالله رضی اللہ عنہ خپله دغه خبره کرار وکړل او حجاج نه واورېدل، حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ به د حجاج بن یوسف څخه پر ټولو مواقفو او مقاماتو کې چیري چې رسول الله ﷺ تم سوی یا کښنته سوی وو، وړاندي وو، دا خبره حجاج ته ډېره ناخوښه وه، د عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ عمر ۸۴ کاله وو، او ځینو ۸۶ کاله

ویلي دي، دده څخه ډېر خلګ روایت کوي.

۵۰۸. **عبدالله بن عمرو بن العاص** رضي الله عنه: دغه عبدالله بن عمرو بن العاص سهمي قریشي دی، د خپل پلار څخه یې مخکې اسلام راوړ، پلار یې دیارلس کاله تر ده مشر وو او ځینو دوولس کاله ویلي دي، لوی عابد، عالم، حافظ او د کتابو ویونکی وو، د رسول الله ﷺ څخه یې د حدیثو د لیکلو اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ اجازه ورکړل، د وفات په اړه یې اختلاف دی، ځینو ویلي دي چې د حره په شپو کې د ذي الحجه په میاشت په ۶۴م هجري کال وفات سو، ځینو ۷۳م هجري کال ویلي دي او ځینو په مکه کې ۶۷م هجري کال ویلي دي، او ځینو په طایف کې ۵۵م هجري کال ذکر کړی دی، دده څخه ډېر خلګ روایت کوي، یعلي بن عطاء د خپلي مور څخه نقل کوي چې هغه به د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه دپاره رانجه جوړول ځکه چې هغه به ټوله شپه عبادت کوی، د څراغ په مړه کولو سره به یې ډېر ژړل تر دې چې د سترګو باړوګان یې وختل، په ځینو نسخو کې رسخ یعني په سترګو کې نقص پیدا کېدل لیکلي دي.

۵۰۹. **عبدالله بن مسعود** رضي الله عنه: دغه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دی، کنیت یې ابو عبدالرحمن دی. هذلي دي د رسول الله ﷺ په دار ارقم کې د داخلېدو څخه مخکې یې د حضرت عمر رضي الله عنه د اسلام راوړلو څخه لږ مخکې اسلام راوړی دی، او ویل سوي دي چې په اسلام راوړونکو کې شپږم کس دی، رسول الله ﷺ د ځان سره ساتلی وو، د رسول الله ﷺ په خاص خادمانو کې داخل سوی وو، د رسول الله ﷺ ډېر راز دان وو. د رسول الله ﷺ مسواک، څپلۍ، د اوداسه اوبه او د سفر سامان به یې دده سره وه، حبشې ته یې هجرت وکړ، د بدر په غزا او د هغه څخه وروسته په ټولو غزاوو کې یې ګډون کړی دی، رسول الله ﷺ د جنت زیری ورکړی وو او رسول الله ﷺ وفرمایل: څه چې د ام عبد زوی زما د امت لپاره خوښ کړي زه هم هغه خوښوم، او کوم شی چې د امت لپاره ناخوښه کړي زه هم هغه نه خوښوم، د رسول الله ﷺ مراد د ام عبد څخه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دی، نوموړی د رسول الله ﷺ سره په ظاهري صورت، حلم، وقار او سیرت کې ورته وو، سپک بدن والا، د کوچني قد څښتن، غنم رنګه او نحیفه الجثه وو، په کوفه کې د مسند قضاء مالک وګرځول سو او د هغه ځای د بیت المال ذمه داري هم د حضرت عمر رضي الله عنه په خلافت کې او د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په پیل کې ده سپارل سوې وه، بیا دی مدینې ته راغلی او هلته په ۳۲م هجري کال وفات سو او په جنت البقیع کې دفن سو، عمر یې تقریبا شپېته کاله وو، دده څخه

حضرت ابوبکر صدیق، عمر، عثمان او علي رضی اللہ عنہم او نور صحابه کرام او تابعین روایت کوي.

۵۱۰. **عبدالله بن قرط**: نوموړی ازدي ثماني دی، دده نوم مخکي شيطان وو، رسول الله ﷺ دده نوم عبدالله کښېښود، په شاميانو کي شمېرل کيږي، دده حديث په اهل شام کي تر لاسه کيږي، د عبيده بن جراح رضی اللہ عنہ له خوا د حمص حاکم وو. دده څخه يوه ډله روايت کوي، د روم په هيواد کي په ۸۶م هجري کال کي ووژل سو، قرط د قاف په پېښ او راء مهمله سره دی.

۵۱۱. **عبدالله بن غنام**: دغه عبدالله بن غنام بياضي دی، په اهل حجاز کي شمېرل کيږي، دده حديث د دعاء په اړه: ربيعة بن ابي عبدالرحمن عن عبدالله بن عنبسة عن عبدالله بن غنام، سند سره دی.

۵۱۲. **عبدالله بن مغفل** رضی اللہ عنہ: دغه عبدالله بن مغفل مزني دی، د اصحاب شجره څخه دی، يعني تر درختي لاندي د بيعت کوونکو څخه دی، په مدينه کي هستوګن وو، بيا د هغه ځايه بصرې ته ولاړی، نوموړی د هغه لسو کسانو څخه دی چي حضرت عمر رضی اللہ عنہ بصرې ته استولي وه چي خلګو ته يې دين ښودی، په بصره کي په ۶۰ م هجري وفات سو، دده څخه د تابعينو يوه ډله چي په هغوی کي حسن بصري هم دي، روايت کوي، هغه وفرمايل: په بصره کي دده څخه زيات بزرګ هيڅوک نه دی راغلی.

۵۱۳. **عبدالله بن هشام** رضی اللہ عنہ: دغه عبدالله بن هشام قريشي تميمي دی، د اهل حجاز څخه شمېرل کيږي، دده مور زينب بنت حميد دی رسول الله ﷺ ته حاضر کړ کله چي دی ماشوم وو، رسول الله ﷺ خپل مبارک لاس پر راتېر کړ او دعاء يې ورته وکړل او د صغير السن کېدو په وجه يې بيعت ونه کړ، دده څخه دده لمسی زهري روايت کوي.

۵۱۴. **عبدالله بن زيد**: دغه عبدالله بن زيد خطمي د انصارو څخه دی، کله چي دی د اوولسو کالو وو نو د حديبيه په غزا کي حاضر سو، د حضرت عبدالله بن زبير رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کي د کوفې والي او د هغه په خلافت کي وفات سو، شعبي دده کاتب وو، دده څخه دده زوی موسی او ابوبرده بن ابي موسی او نور کسان روايت کوي.

۵۱۵. **عاصم بن ثابت** رضی اللہ عنہ: دغه عاصم بن ثابت دی، کنيت يې ابوسليمان دی، د انصارو څخه دی، دبدر په غزا کي شريک وو، دا هغه عاصم دی چي د عسلو موچې د مشرکانو څخه خوندي کړی وو، ځکه چي د مکې مشرکانو د رجيع په غزا کي دده سر يرې کول او د ځان سره وړل غوښتل، کله چي ده بنو لحيان قتل کړ، له دې کبله دده نوم حمي

الدبر من المشركين كنبښبنودل سو . دغه عاصم بن ثابت د عاصم بن عمر بن خطاب نيكه دی، په يوه نسخه كي داسي دي چي رسول الله ﷺ د لسو كسانو يو كوچنی لښكر جوړ كړ چي د هغه امير دغه عاصم بن ثابت وو، دغه لښكر روان وو تر دې چي د مكې او عسفان منځ ته ورسېدی ، نو د قبيله لحيان تقريبا دوه سوه كسان په دوی پسې سول چي ټول غشي ويشتونكي وه او ددغه اسلامي لښكر تعاقب يې وكړ تر دې چي هغوی ته معلومات وسو چي د دوی د لاري توښه خرماوي دي ، نو هغوی وويل چي دا د يثرب يعني مدينې خرماوي دي ، كله چي عاصم او د هغه ملګرو دوی وليدل نو يو لوړ ځای ته يې پناه يوړل ، مګر كفارو دوی راګېر كړل او دا يې ورته وويل: تاسو لاندي راكښته سئ او ځان موږ ته وسپارئ ، تاسو ته زموږ له خوا امان دی، مګر عاصم وويل چي زه خو قسم په خدای ! د هيڅ كافر په ذمه داری نه راكښته كېږم ، اې الله! زموږ د حال خبر خپل نبي ته ورسوې، ددې په اورېدو سره كفارو پر هغوی غشي وويشتلې او عاصم يې په هغه او و كسانو كي ووژی، الله ﷻ د عاصم دعاء قبوله كړل او رسول الله ﷺ ته يې د دوی د شهادت خبر وركړ، نو ددوی د وژني خبر رسول الله ﷺ او صحابه كرامو ته ورسېدی، د قريشو كفار چي د عاصم په قتل خبر سول نو يو قاصد يې واستوی چي هغوی ته د عاصم يو اندام راوړي چي دهغه څخه معلومات وسي چي عاصم وژل سوی دی، نو الله ﷻ د عام د بدن د ساتني لپاره د عسلو موچې راولېږلې چي پر هغه سربېره خپرې سوې او د هغه د بدن ساتنه يې كول، نو قاصد د هغه د بدن پر اندام وړلو قادر نه سو ، دا د هغه بيان اختصار دی چي بخاري روايت كړی دی، دغه عاصم بن ثابت د عاصم بن عمر بن خطاب نيكه دی.

۵۱۶. **عامر الرام** : دده ته د رسول الله ﷺ د زيارت او روايت شرف حاصل سوی دی، دده څخه ابو منظور روايت كوي، الرام د راء مهمله په زور سره دی ، دغه لفظ په اصل كي رامی دی چي ياء يې حذف سوې ده .

۵۱۷. **عامر بن ربيعه** : دده كنيت ابو عبد الله الغزی دی، حبشې او مدينې دواړو ته يې هجرت كړی دی، د بدر په غزا او نورو ټولو غزاوو كي شريک وو، قديم الاسلام دی، ډېر كسان ور څخه روايت كوي، په ۳۲م هجري كال كي وفات سو .

۵۱۸. **عامر بن مسعود** : دغه عامر بن مسعود بن اميه بن خلف حجمي دی، د صفوان بن اميه وراره دی، دده څخه نمير بن عريب روايت كوي، امام ترمذي دده د حديث صوم په اړه نقل كړي دي او ويلي يې دي چي دغه حديث مرسل دی، ځكه چي عامر بن مسعود ، رسول

الله ﷺ نه دی لیدلی او ابن منده او ابن عبدالبر دده نوم په صحابوو کي ذکر کړی دی، ابن معین ویلي دي: دده صحبت نبوي نه دی په برخه سوی، عریب د عین مهمله په زور، راء مهمله زېر او دوو ټکو والا یاء ساکنه ده او په آخر کي باء موحده ده.

۵۱۹. **عائذ بن عمرو**: دغه عائذ بن عمرو مدني دی، تر درختي لاندي د بیعت کوونکو څخه دی، په بصره کي وو او دده حدیث په بصریانو کي تر لاسه کیږي، دده څخه یوه ډله روایت کوي.

۵۲۰. **عباد بن بشر**: دغه عباد بن بشر انصاري دی، د سعد بن معاذ د اسلام راوړلو څخه مخکي ده په مدینه کي اسلام راوړی دی، د بدر او احد په غزا کي او په نورو ټولو غزاوو کي شریک وو، کومو کسانو چي کعب بن اشرف یهودي وژلی وو دی هم په هغوی کي داخل دی. د سترو صحابه کرامو څخه دی، دده څخه انس بن مالک او عبدالرحمن بن ثابت روایت کوي، د یمامه په جګړه کي شهید سو، عمر یې ۴۵ کاله وو، په عباد کي د عین زور او باء موحده په تشدید سره دی.

۵۲۱. **عباد بن عبدالمطلب**: دده یادونه په هغه حضراتو کي کیږي کوم چي د بدر په غزا کي شریک سوي وه، دده څخه روایت نه دی سوی، عباد د باء موحده په تشدید سره دی او مطلب د طاء په تشدید او لام په کسره دی.

۵۲۲. **عباده بن صامت** رضي الله عنه: دده کنیت ابوالولید دی، انصاري سالمي دی، نوموړی د نقیبانو څخه وو، په عقبه اولی، عقبه ثانیه او عقبه ثالثه کي شریک وو، د بدر په غزا او نورو ټولو غزاوو کي هم شریک وو، بیا حضرت عمر رضي الله عنه په شام کي قاضي او معلم وټاکی او دده مستقر یې حمص وګرځوی، تر دې وروسته فلسطین ته ولاړی او هلته په رمله کي او د ځینو په نزد په بیت المقدس کي په ۳۴م هجري کال د ۷۲ کالو په عمر وفات سو، دده څخه یوه ډله د صحابه کرامو او تابعینو روایت کوي، عباد د عین په پېښ او باء غیر مشدده ده.

۵۲۳. **عباس بن عبدالمطلب** رضي الله عنه: د رسول الله ﷺ اکا دی، د رسول الله ﷺ څخه دوه کاله مشر وو، دده مور د نمر بن قاسط ښځه ده چي پر کعبې شریفي یې د رېښمو او دیباج پوښ واچوی، او دا ځکه چي کله حضرت عباس رضي الله عنه په کوچنیوالي ورک سوی وو نو هغې نذر منلی وو که چیري هغه پیدا سي نو زه به پر بیت الله باندي پوښ اچوم، کله چي هغه پیدا سو نو همداسي یې وکړل، حضرت عباس رضي الله عنه د جاهلیت په زمانه کي لوی مشر وو، د مسجد حرام دجوړښت او د اوبو ذمه داري دده وه، د زمزم اوبه ورکول خو یوه مشهوره

خبره ده، پاته سو جوړښت نو ددې حقيقت دادی چې حضرت عباس ﷺ به قريش پر دې خبره اماده کول چې هغوی په کعبه شريفه کې د ښکنځلو او ګناهو په پرېښودو سره په خير او نيکۍ سره هغه اباده کړي ، دمجاهد بيان دی چې حضرت عباس ﷺ د خپل مرګ پر وخت اويا غلامان ازاد کړل ، نوموړی د فيل د پېښې څخه يو کال مخکې پيدا سو او د جمعې په ورځ د رجب د مياشتې پر دوولسمه نېټه په ۳۲م هجري کال د ۸۸ کالو په عمر وفات سو او په جنت البقيع کې دفن سو، په شروع کې يې اسلام راوړی وو، مګر خپل اسلام يې پټهوی، د بدر په جګړه کې د مشرکينو له خوا مجبوره کړل سو او راغلی وو نو رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د عباس سره يو ځای سي نو هغه دې نه وژني ځکه چې هغه په زور جنګ ته راوستل سوی دی، ابواليسر کعب بن عمر هغه بندي کړ ، حضرت عباس ﷺ د خپل ځان فديه ورکړل او مکې ته ولاړی او بيا مدينې ته په هجرت سره تشريف راوړ، دده څخه يوه ډله روايت کوي .

۵۲۴. **عباس بن مرداس** : دده کنيت ابوالهثيم دی، سلمی دی، شاعر دی دده شمېر په مؤلفة القلوب کې دی، دمکې د فتح څخه لږ مخکې اسلام راوړ او دمکې د فتح څخه وروسته په اسلام کې پختيا پيدا سول، دی د هغه کسانو څخه دی چې د جاهليت په زمانه کې يې هم شراب څښل حرام ګڼل، دده څخه دده زوی کنانه روايت کوي، کنانه د کاف په کسره او دووو نونانو سره دی چې په منځ کې يې الف دی .

۵۲۵. **عبدالمطلب بن ربيعه** : دغه عبدالمطلب بن ربيعه بن الحارث بن عبدالمطلب بن هاشم دی، قريشي دی په مدينه کې اوسېدی ، بيا د هغه ځايه دمشق ته ولاړی او هلته په ۶۲م هجري کال کې وفات سو ، دده څخه عبدالله بن حارث روايت کوي .

۵۲۶. **عبدالله بن محصن** : انصاري خطمي دی، په اهل مدينه کې شمېرل کېږي، دده حديث په هغوی کې تر لاسه کېږي، دده څخه دده زوی سلمه روايت کوي، حافظ ابن عبدالبر ويلي دي چې ډېر خلګ دده حديث ته مرسل وايي .

۵۲۷. **عبيد بن خالد** : سلمي بهزي مهاجري دی، په کوفه کې اوسېدی ، دده څخه د کوفيانو يوه ډله روايت کوي .

۵۲۸. **عتاب بن اسيد**: قرشي اموي دی، دمکې د فتح په ورځ يې اسلام راوړ، رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ چې کله يې د حنين د غزا لپاره تشريف وړی د مکې حاکم يې ګرځولی وو ، کله چې رسول الله ﷺ وفات سو نو دی بيا هم د مکې حاکم وو، حضرت

ابوبکرصدیق رضی الله عنه هم د مکې حاکم وساتی تر دې چې په مکه کې په ۱۳م هجري کال په کومه ورځ چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفات سو، دی هم په هغه ورځ وفات سو، نوموړی د قریشو د مشرانو څخه وو. ډېر نیک او صالح سړی وو، دده څخه عمرو بن ابي عقرب روایت کوي، عتاب دعین په زور او سین په زېر سره دی.

۵۲۹. **عتبه بن اسید** رضی الله عنه: کنیت یې ابوبصیر دی، ثقفي دی، د بني زهره حلیف دی، په شروع کې یې اسلام راوړی دی، د پیل څخه صحبت نبوي ور په برخه وو، دده یادونه د حدیبیه په غزا کې راځي، دا هغه دی چې دده په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ددغه سړي پر مېړانه تعجب دی که دده سره یو څو نور زړه ور کسان وي نو دی د جنګ اور بله تېزونکی دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې وفات سو، اسید د همزه په فتحه او سین مهمله په کسره دی.

۵۳۰. **عتبه بن عبدالسلمی**: ابن عبدالبر ویلي دي چې دغه عتبه د نذر زوی دی، او دا چې د ځینو رایه ده چې دواړه عتبه دوه جلا جلا کسان دي او دغه قول ته د هغوی میلان دی، بخاري رحمه الله علیه دغه دواړه جلا جلا کسان منلي دي، همدغه رایه د ابوحاتم رازي ده، ددغه عتبه نوم عقله وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم دده نوم عتبه ایښی وو، د خیبر په غزا کې شریک وو، دده څخه یوه ډله روایت کوي، د واقدي د قول مطابق په شام کې آخري وفات کېدونکی صحابي دی.

۵۳۱. **عتبه بن غزوان**: دغه عتبه بن غزوان مازني دی، قدیم الاسلام دی، مخکې یې حبشې ته هجرت وکړ او بیا مدینې ته، د بدر په غزا کې شریک وو، یو قول دادی چې دی ده د شپږو کسانو څخه وروسته اسلام راوړی دی، حضرت عمر رضی الله عنه د بصرې حاکم ټاکلی وو، بیا دی حضرت عمر رضی الله عنه ته راغلی نو هغه په والي ټاکلو سره بېرته واستوی، په ۵۱م هجري کال کې د ۵۷ کالو په عمر په لاره کې وفات سو، دده څخه خالد بن عمیر روایت کوي.

۵۳۲. **عدا بن خالد**: دغه عدا بن خالد بن هوذه عامري دی، دمکې د فتح څخه وروسته یې اسلام راوړی دی، دده حدیث د بصرې په خلکو کې تر لاسه کیږي، دده څخه ابورجاء او نور کسان روایت کوي، عداء د عین په فتحه او دال په تشدید سره دی.

۵۳۳. **عدي بن حاتم**: دغه عدي بن حاتم طائي دی، د شعبان په میاشت کې په اووم هجري کال د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر سو او کوفې ته راغلی، د جمل په جګړه کې د حضرت علي رضی الله عنه په حمایت کې یې یوه سترګه چاودلې وه، د صفین او نهروان په جګړو

كي هم شريک سوی وو، په ۶۷ م هجري كال كي د ۱۲۰ كالو په عمر وفات سو، ځينو ويلي دي چي په فرفيسا كي وفات سو، دده څخه يوه ډله روايت كوي.

۵۳۴. **عدي بن عميره**: دغه عدي بن عميره كندي حضرمي دی، په كوفه كي هستوګن وو، بيا جزيرې ته منتقل سو او هلته وفات سو، قيس بن ابي حازم او نور دده څخه روايت كوي، عميره د عين په فتحه، او راء او ميم سره دی.

۵۳۵. **عرباض بن ساريه**: دده كنيت ابونجيح سلمي دی، د اهل صفه څخه وو، په شام كي يې هستوګنه اختيار كړل او هلته وفات سو، دده څخه ابوامامه او يوه ډله د تابعينو روايت كوي. نجيح د نون په زبر، د جيم په زبر او حاء مهمله سره دی.

۵۳۶. **عرفجه بن اسعد**: دده څخه دده زوی طرفه روايت كوي، دا هغه دی چي رسول الله ﷺ ورته حكم كړی وو چي خپله پزه د سپينو زرو جوړه كړي، بيا تر دې وروسته يې د سرو زرو جوړولو حكم وركړی وو، په يوم كلاب كي دده پزه پرې سوې وه، كلاب د كاف په ضمه سره دی.

۵۳۷. **عروه بن ابي الجعد**: دغه عروه بن ابي الجعد بارقي دی، حضرت عمر رضي الله عنه د كوفې والي ټاكلی وو، په كوفيانو كي شمېرل كيږي، حديث يې په كوفيانو كي تر لاسه كيږي، ځينو ويلي دي چي دی عروه بن ابي الجعد دی، ابن مديني ويلي دي: څوک چي ده ته ابن الجعد وايي هغه غلطي كوي، عروه خو د ابوالجعد زوی دی، دده څخه شعبي او نور كسان روايت كوي.

۵۳۸. **عروه بن مسعود**: د حديبيه په صلح كي د كفر په حالت كي شريک وو، په نهم هجري كال د طائف څخه په ستنېدو د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او په اسلام مشرف سو، دده په زوجيت كي ډېري ښځي وې، رسول الله ﷺ ده ته وفرمايل چي د دوی څخه څلور ښځي د ځان لپاره اختيار كړه، تر دې وروسته يې د ستنېدو اجازه وغوښتل او ستون سو، خپل قوم ته يې د اسلام دعوت وركړ مګر قوم دده خبره ونه منل، كله چي د سهار د لمانځه وخت سو نو د خپل سرای بالاخانې ته وختی او آذان يې وكړ، كله چي يې اشهدان لااله الاالله وويل نو د بني ثقيف يو سړي په غشي وويشتی او شهيد يې كړ، كله چي رسول الله ﷺ دده په وژنه خبر سو نو وه يې فرمايل: د عروه بن مسعود حال د هغه سړي په ډول دی چي د هغه يادونه په سورة ياسين كي ده چي هغه خپل قوم ته د الله جل جلاله دعوت وركړ نو قوم هغه قتل كړ.

۵۳۹. **عطیه بن قیس** : دغه عطیه بن قیس سعدي دی، ده ته د رسول الله ﷺ روایت او رؤیت حاصل دی، اهل یمن او اهل شام دده څخه روایت کوي.

۵۴۰. **عطیه بن بسر** : دغه عطیه بن بسر مازني دی د عبدالله بن بسر ورور دی، امام ابوداؤد دده حدیث دده د ورور عبدالله سره داسي ذکر کړي دي : عن ابن بسر یعني د بسر د دواړو زامنو څخه روایت دی او د هغو دواړو نومان یې نه دی ذکر کړی دی ، دغه روایت په کتاب الطعام کي منقول دی، دده څخه مکحول روایت کوي.

۵۴۱. **عطیة القرظي** : دغه عطیه القرظي د بنو قریضه د بندیانو څخه دی، همدارنګه ویل کیږي، حافظ ابن عبدالبر ویلي دي: زه دده د پلار په نامه خبر نه یم ، ده رسول الله ﷺ لیدلی دی او د رسول الله ﷺ ارشادات یې اورېدلي دي، دده څخه مجاهد او نور کسان روایت کوي.

۵۴۲. **عقبه بن رافع** : دغه عقبه بن رافع قرشي دی ، په افریقه کي شهید کړل سو، دده وژونکي حریر دي، په ۶۳ هجري کال دغه پېښه رامنځته سوه، دده څخه یوه ډله روایت کوي دده یادونه په تعبیر الرؤیا کي راغلې ده.

۵۴۳. **عقبه بن عامر** : دغه عقبه بن عامر جهني دی، د حضرت معاویه رضي الله عنه له خوا د عتبه بن ابي سفیان څخه وروسته د مصر حاکم وو، بیا حضرت معاویه رضي الله عنه معزول کړ ، په ۸۵م هجري کال په مصر کي وفات سو ، دده څخه د صحابه کرامو او تابعینو ډېر کسان روایت کوي.

۵۴۴. **عقبه بن الحارث** : دغه عقبه بن الحارث قریشي دی د مکې د فتح په ورځ یې ایمان راوړ، د مکې په اوسېدونکو کي شمېرل کیږي، دده څخه عبدالله بن ابي ملیکه او نور کسان روایت کوي.

۵۴۵. **عکاشه بن محصن** : نوموړی اسدی دی د بني امیه حلیف وو، د بدر په غزا کي یې عجیبه کارنامه کړې وه، په نورو غزاوو کي هم شریک سوی وو ، دده توره د بدر په غزا کي ماته سوه نو د رسول الله ﷺ په برکت د هغه لرګي څخه توره جوړه سوې وه، دی د لوی فضل خاوند دی، د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي د ۴۵ کالو په عمر وفات سو ، دده څخه ابوهریره او ابن عباس رضي الله عنهما او دده خور ام قیس روایت کوي، په عکاشه کي د عین پېښن او کاف باندي تشدید دی، او کاف غیر مشدد هم مستعمل دی، مګر د تشدید استعمال یې زیات دی، په پای کي شین معجمه دی ، په محصن کي پر میم زور ، حاء جزم او صاد باندي زېر دی په پای کي نون دی.

۵۴۶. **عقبه بن عمرو**: دغه عقبه بن عمرو دی. کنیت یې ابومسعود دی، دده یادونه به د میم په حرف کې راسي.

۵۴۷. **عکرمه بن ابي جهل**: دغه عکرمه بن ابي جهل دی. دده د پلار ابوجهل نوم عمرو بن هشام مخزومي قریشي دی. ده او دده پلار د رسول الله ﷺ سره سخته دښمني درلودل او دی په سپړتیا کې مشهور وو. د مکې د فتح په ورځ په تېښته یمن تللی وو، ددې وروسته دده ښځه ام حکم بنت حارث ور ورسېدل او دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سول. رسول الله ﷺ چې ولېدی نو ښه راغلاست یې ورته ووایه، په اتم هجري کال کې د مکې د فتح څخه وروسته یې اسلام راوړ، او صحیح اسلام یې راوړ، د یرموک په جګړه کې په ۱۳ هجري کال د ۶۲ کالو په عمر کې قتل کړل سو. بي بۍ ام سلمه د رسول الله ﷺ څخه په روایت کولو سره فرمایي: ما په خوب کې د ابوجهل لپاره په جنت کې د خرما درختې لېدلې وې، کله چې عکرمه اسلام راوړ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دا د هغه خوب تعبیر دی، عکرمه رسول الله ﷺ ته شکایت وکړ چې کله زه په مدینه کې ګرځم نو خلک وایي چې دغه د الله جل جلاله د دښمن ابوجهل زوی دی، ددې په اورېدو سره رسول الله ﷺ د خطبې لپاره ودرېدی. د الله جل جلاله حمد او ثناء بیانولو څخه وروسته یې وفرمایل: خلک د سپینو او سرو زرو د کانو په ډول دي، کوم چې د جاهلیت په زمانه کې ښه وه هغه د اسلام راوړلو څخه وروسته هم ښه دي.

۵۴۸. **العلاء بن الحضرمي**: دغه علاء بن حضرمي دی، نوم یې عبدالله دی، د حضرت موت اوسېدونکی دی، د رسول الله ﷺ له خوا د بحرین حاکم وو، حضرت عمر رضي الله عنه هم د خپل خلافت په زمانه کې د بحرین حاکم وساتی تر دې چې په ۱۴م هجري کال کې وفات سو. دده څخه سائب بن یزید او نور کسان روایت کوي.

۵۴۹. **علقمه بن وقاص**: دغه علقمه بن وقاص لیثي دی، د رسول الله ﷺ په زمانه کې پیدا سو. د خندق په غزا کې شریک سو. د عبدالملک بن مروان د حکومت په زمانه کې په مدینه کې وفات سو. دده څخه دده لمسی عمرو او محمد ابراهیم تیمي روایت کوي.

۵۵۰. **عمار بن یاسر**: دغه عمار بن یاسر عنسي دی. د بني مخزوم ازاد سوی او حلیف دی، دغه صورت داسې پېښ سو چې د حضرت عمار رضي الله عنه پلار یاسر په مکه کې د خپلو دوو وروڼو سره چې نومونه یې حارث او مالک وو، د خپل ځلورم وروړ په پلټنه کې راغلی بیا حارث او مالک یمن ته ولاړل مګر یاسر په مکه کې مقیم سو او د ابوحذیفه بن مغیره حلیفه

سو، ابو حذیفه دده نکاح د خپلي مینزي سمیه سره وکړل، د هغې څخه حضرت عمار رضی الله عنه
پیدا سو، ابو حذیفه، حضرت عمار ازاد کړ نو عمار د ابو حذیفه ازاد سوی غلام دی او دده
پلار د هغه حلیف سو، حضرت عمار په پیل کي اسلام راوړی وو او د هغه کمزورو
مسلمانانو څخه دی چي د الله جل جلاله په لاره کي ډېر تکلیفونه په مکه کي ورکړل سو ددې
لپاره چي د اسلام څخه منع سي او دمکې مشرکانو دی په اور کي وسوځی، رسول الله صلی الله علیه وسلم
چي به پر هغه تېرېدی نو پرده به یې خپل لاس مبارک راتېر کړ او فرمایل یې: اې اوره! ته
پر عمار باندي یخ او سلامتي سه لکه څرنګه چي پر حضرت ابراهیم علیه السلام باندي سوی وې،
دغه عمار د لومړنیو مهاجرینو څخه دی، د بدر په غزا او نورو ټولو غزاوو کي شریک وو،
په غزاوو کي یې ډېر تکلیفونه وزغمل، دده نوم رسول الله صلی الله علیه وسلم الطیب المطیب کښېښود، د
صفین په جګړه کي د حضرت علي رضی الله عنه سره وو او هلته په ۳۷م هجري کال د ۹۳ کالو په عمر
شهید سو، دده څخه یوه ډله چي په هغو کي حضرت علي او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما هم
دي، روایت کوي.

۵۵۱. **عمرو بن الاحوص**: دغه عمرو بن الاحوص کلابي دی، دده څخه دده زوی سلیمان
روایت کوي.

۵۵۲. **عمرو بن الاخطب**: دغه عمرو بن الاخطب انصاري دی، په خپل کنیت ابوزید سره
مشهور دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې په ډېرو غزاوو کي ګډون کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم دده
پر سر خپل لاس مبارک راتېر کړی دی او د حسن او ښکلا لپاره یې ورته دعاء هم کړې ده،
ویل کیږي چي تقریبا سلو کالو ته رسېدلی وو مګر په سر او ږېره کي یې یو څو سپین
وېښتان وه، د بصرې په اوسېدونکو کي شمېرل کیږي، دده څخه یوه ډله روایت کوي.

۵۵۳. **عمرو بن امیه**: دغه عمرو بن امیه ضمري د ضاد په فتحه او میم په جزم سره دی، د
بدر او احد په غزا کي د مشرکینو په ملګرتیا د مسلمانانو سره د جنګ لپاره راغلی وو،
کله چي مسلمانان د احد د غزا څخه ستانه سول نو ده اسلام راوړ، دی د عربو د خاصو
خلګو څخه دی او اول هغه میدان چي په هغه کي د مسلمانانو په ملګرتیا د جنګ لپاره
وتلی دی، هغه د بیر معونه جنګ دی، عامر بن طفیل په دغه جنګ کي بندي کړي وو، بیا
دده د تندي وېښتان یې پرې کړل او دی یې پرېښودی، رسول الله صلی الله علیه وسلم په شپږم هجري کال
کي نجاشي ته استولی وو، کله چي ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم لیک نجاشي ته ورسوی چي په هغه
کي رسول الله صلی الله علیه وسلم، نجاشي ته د اسلام دعوت ورکړی وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت نجاشي

په اسلام مشرف سو ، دی د اهل حجاز څخه شمېرل کیږي، دده څخه دده دوه زامن جعفر او عبدالله، او دده وراره زبرقان بن عبدالله روایت کوي، د امیر معاویه د امارت په زمانه کي په مدینه کي وفات سو ، او ځینو ویلي دي چي په ۶۰م هجري کال ، زبرقان د زاء معجمه په کسره او باء موحده په جزم او راء مهمله په کسره او قاف سره دی .

۵۵۴. **عمرو بن الحارث** : دغه عمرو بن الحارث خزاعي دی، د رسول الله ﷺ د زوجې محترمي جویریه ﷝ ورور دی، د کوفې په اوسېدونکو کي شمېرل کیږي، دده څخه ابووائل شقیق بن سلمه او ابواسحاق سبیعي روایت کوي.

۵۵۵. **عمرو بن حریث**: دغه عمرو بن حریث قریشي مخزومي دی، د رسول الله ﷺ لېدنه یې په برخه سوې ده، د رسول الله ﷺ څخه یې حدیث اورېدلي دي، رسول الله ﷺ دده پر سر خپل لاس مبارک را تېر کړی دی او د برکت دعاء یې ورته کړې ده، ځینو ویلي دي چي د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کي دده عمر دوولس کاله وو ، کوفې ته راغلی او هلته هستوګن سو ، د کوفې امیر وټاکل سو او په ۸۵ م هجري کال کي وفات سو ، دده څخه دده زوی جعفر او نور کسان روایت کوي .

۵۵۶. **عمرو بن حزم** : کنیت یې ابوالضحاک دی، انصاري دی، د ۱۵ کالو په عمر تر ټولو مخکي د خندق په غزا کي حاضر سوی دی، رسول الله ﷺ پر نجران باندي په ۱۰ م هجري کال حاکم وټاکی، په ۵۳م هجري کال په مدینه کي وفات سو ، دده څخه دده زوی محمد او نور کسان روایت کوي .

۵۵۷. **عمرو بن سعید**: دغه عمرو بن سعید قریشي دی،نوموړي دواړه هجرتونه کړي دي، حبشې ته په دوهم وار هجرت کي شریک وو ،تر دې وروسته یې مدینې ته هجرت وکړ او د جعفر بن ابي طالب په ملګرتیا کي د خیبر په کال راغلی دی، په ۱۳م هجري کال په شام کي وفات سو .

۵۵۸. **عمرو بن سلمه** : دغه عمرو بن سلمه مخزومي دی، د رسول الله ﷺ زمانه یې تر لاسه کړې ده، د رسول الله ﷺ په زمانه کي د خپل قوم امام وو ، ځکه چي په هغوی کي تر ټولو ښه قاري وو ، ځینو ویلي دي چي دی د خپل پلار سره رسول الله ﷺ ته راغلی ، دده د پلار د رسول الله ﷺ په خدمت کید حاضرېدو هیڅا ته اختلاف نسته ، بصرې ته په راتلو سره هلته اوسېدی ، دده څخه د تابعینو یوه ډله روایت کوي .

۵۵۹. **عمرو بن العاص** : دغه عمرو بن العاص سهمي قريشي دی، په ۵م هجري کال کي يې اسلام راوړ، او ځينو ويلي دي چي په ۸م هجري کال، د حضرت خالد بن وليد او عثمان بن طلحه په ملګرتيا کي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او ټولو يوځای اسلام راوړی دی، رسول الله ﷺ د عمان حاکم جوړ کړی وو، او هلته حاکم وو تر دې چي رسول الله ﷺ وفات سو، ده د حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت معاويه رضي الله عنهم له خوا هم لوی لوی کارونه سرته ورسول او د حضرت عمر رضي الله عنه په ژوند کي د مصر حاکم وو، بيا حضرت عثمان غني رضي الله عنه هم هلته تر څلور نيم کالو پوري حاکم وساتی، او تر دې وروسته يې معزول کړ، بيا کله چي حضرت معاويه رضي الله عنه امير سو نو هغه بيا حاکم کړ، په مصر کي په ۴۳م هجري کال د ۹۰ کالو په عمر وفات سو، او دده څخه دده زوی عبدالله يې د مصر حاکم کړ، بيا حضرت معاويه معزول کړ، دده څخه دده زوی عبدالله او عبدالله بن عمر او قيس بن ابي حازم روايت کوي.

۵۶۰. **عمرو بن عبسه**: دغه عمرو بن عبسه دی، دده کنيت ابونجيح دی، سلمي دی، په پيل کي يې اسلام راوړی دی، ويل کيږي چي په اسلام راوړونکو کي څلورم سړی دی، بيا دی خپل قوم بني سليم ته واستول سو، رسول الله ﷺ ورته فرمايلي وه چي کله ته زما په اړه واورې چي زه د اسلام د دښمنانو لپاره راوتلی يم نو زما پيروي کوه، نو موړی په خپل قوم کي مقيم وو تر دې چي د خيبر غزا ختمه سول، ددې څخه وروسته دی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او په مدينه منوره کي يې هستوګنه اختيار کړل، په شاميانو کي شمېرل کيږي، دده څخه يوه ډله روايت کوي، په عبسه کي عين او باء موحده او سين مهمله زور سره دی، نجيح د نون په زور، د جيم په زېر او حاء مهمله سره دی.

۵۶۱. **عمرو بن عوف**: دغه عمرو بن عوف انصاري دی، د بدر په غزا کي شريک وو، ابن اسحاق ويلي دي: چي دی د سهيل بن عمرو عامري ازاد سوی غلام دی، په مدينه کي وو، دده اولاد نسته، دده څخه مسور بن مخرمه روايت کوي.

۵۶۲. **عمرو بن عوف المزني**: قديم الاسلام دی او د هغو صحابه کرامو څخه دی چي دهغوی په اړه دغه آيت (تولوا واعينهم تفيض من الدمع..) نازل سوی وو، په مدينه يې هستوګنه اختيار کړل او په مدينه کي د امير معاويه په آخره زمانه کي وفات سو، دده څخه دده زوی عبدالله روايت کوي.

۵٦۳. **عمرو بن الحمق** : خزاعي دی، صحابي دي، دده شخه جبير بن نفير او رفاعه بن شداد او نور کسان روايت کوي، په موصل کي په ۵۱م هجري کال ووژل سو .

۵٦۴. **عمرو بن مره** : کنيت يې ابو مريم دی ، جهني دي او ځينو ويلي دي چي ازدي دی. نو موړی په زياتو غزاوو کي شريک وو ، په شام کي يې قيام وکړ او د امير معاويه په دور کي وفات سو ، دده شخه يوه ډله روايت کوي .

۵٦۵. **عمرو بن قيس** : ځينو ويلي دي چي دده نوم عبد الله بن عمرو قرشي عامري دی چي ړوند وو او د ام مکتوم زوی وو، د ام مکتوم نوم عاتکه دی، دی د بي بي خديجې بنت خويلد د ماما زوی دی، په مکه کي يې اسلام راوړی وو، د اولينو مهاجرينو شخه دی، حضرت معصب بن عمر سره يې هجرت کړی دی، ډېر واره رسول الله ﷺ په مدينه کي خپل خليفه ټاکلی دی، آخري وار هغه وو کله چي رسول الله ﷺ د حجة الوداع لپاره تشريف وړی وو ، په مدينه کي وفات سو او ځينو ويلي دي چي د قادسيه په جګړه کي شهيد سو .

۵٦٦. **عمرو بن تغلب**: دغه عمرو بن تغلب عبدي دی، د عبد القيس د قبيلې شخه وو ، دده شخه بصري او نور روايت کوي، پر تغلب سربېره د دوو ټکو والا تاء او غين معجمه سره دی .

۵٦۷. **عکراش بن ذويب**: دغه عکراش بن ذويب تميمي دی، په بصريانو کي شمېرل کيږي، دده شخه دده زوی عبيد الله روايت کوي، دی د رسول الله ﷺ په خدمت کي د خپل قوم شخه د صدقو اخيستلو سره حاضر سوی وو ، په عکراش کي د عين زېر، کاف ساکن ، راء مهمله او شين معجمه دی.

۵٦۸. **عمران بن حصين** : دغه عمران بن حصين دی، دده کنيت ابو نجيده دی، خزاعي او کعبي دی، د خيبر په کال يې اسلام راوړ، په بصره کي يې قيام وکړ او هلته په ۵۳م هجري کال وفات سو . لوی فاضل او فقيه صحابي دی، دده ، دی او دده پلار دواړه په اسلام مشرف سول. دده شخه ابو رجاء او مطرف او زراره بن ابي اوفی روايت کوي، نجيد د جيم په پېښ ، د جيم په زور او ياء په سکون او دال مهمله سره دی .

۵٦۹. **عمير مولی آبی اللحم**: دغه عمير د آبی اللحم غفاري حجازي ازاد سوی غلام دی، دی د خپل بادار آبی اللحم سره د خيبر په فتح کي شريک وو ، دده شخه يوه ډله روايت کوي، ده د رسول الله ﷺ ارشادات واورېدل او ياد يې کړل، آبی اللحم د همزه په زور، دد ې وروسته الف ساکن او باء موحده مکسوره ده .

۵۷۰. **عمير بن الحمام** : انصاري دي، د بدر په غزا کي شريک وو او په هغه کي شهيد سو، خالد بن اعلم شهيد کړی وو، دده يادونه په کتاب الجهاد کي راځي، د ځينو خيال دی چي دغه عمير په انصارو کي تر ټولو مخکي د اسلام لپاره شهيد کړل سو.

۵۷۱. **عوف بن مالک** : دغه عوف بن مالک اشجعي دی، تر ټولو مخکي د خيبر په غزا کي شريک سو، دده سره اسلامي بيرغ وو، د خيبر د فتح په ورځ يعني د هغه د قوم اشجع په شام کي وه او هلته دی په ۷۳م کال وفات سو، دده څخه د صحابه کرامو او تابعينو يوه ډله روايت کوي.

۵۷۲. **عويم بن ساعده**: انصاري اوسي دی، په بيعت عقبه، بيعت ثانيه، بدر غزا او نورو ټولو غزاوو کي شريک وو، د رسول الله ﷺ په ژوند کي وفات سو، د ځينو خيال دی چي د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سوی دی چي عمر يې ۶۵ کاله يا ۶۶ کاله وو، دده څخه حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه روايت کوي.

۵۷۳. **عويمر بن عامر** : دغه عويمر بن عامر ابو درداء دی، دی په خپل کنيت سره مشهور دی، دده يادونه د دال په حرف کي تېره سوې ده.

۵۷۴. **عويمر بن ابيض** : دغه عويمر بن ابيض عجلاني او انصاري دی، د انصارو حليف دی، د لعان پېښه دده سره اړه لري، طبري ويلي دي چي لعان والا عويمر، عويمر بن حارث بن زيد بن حارثه بن جد عجلان دی.

۵۷۵. **عياض بن حمار** : دغه عياض بن حمار تيمي مجاشعي دی، په بصريانو کي شمېرل کيږي، د رسول الله ﷺ پخواني رېښتوني محب دی دده څخه يوه ډله روايت کوي.

۵۷۶. **عصام مزني**: دغه عصام مزني دی ده ته د رسول الله ﷺ صحبت او روايت دواړه حاصل دي، ډېر کم حديث بيانوي، دده حديث په باب الجهاد کي دي چي د هغه تخريج امام ترمذي او ابو داؤد کړی دی، مګر دواړو دغه حديث ده ته منسوب کړي نه دي.

۵۷۷. **عتبان بن مالک**: دغه عتبان بن مالک خزرجي سالمي دی، په بدر کي شريک وو، دده څخه حضرت انس او محمود بن ربيع روايت کوي، د امير معاويه په زمانه کي وفات سو.

۵۷۸. **عماره بن خزيمه**: دغه عماره بن خزيمه بن ثابت انصاري دی، دی د خپل پلار او نورو څخه روايت کوي او دده څخه هم يوه ډله روايت کوي، عماره د عين په ضمه، ميم غېر مشدد دی، دده په صحابي کېدو کي تردد سوی دی.

۵۷۹. **عماره بن رويبه**: دغه عماره بن رويبه ثقفي دی ، په کوفيانو کي شمېرل کيږي، ابوبکر رضي الله عنه او نور دده څخه روايت کوي، عماره د عين په پېښ او ميم غير مشدد دی .

۵۸۰. **عرس بن عميره** : دغه عرس بن عميره کندي دی، دده څخه دده وراره عدي او نور کسان روايت کوي، عرس د عين په ضمه ، راء په سکون او سين مهمله سره دی .

۵۸۱. **عياش بن ابي ربيعه**: دغه عياش بن ابي ربيعه مخزومي قريشي دی، دی د ابوجهل مور شريک ورور دی، د رسول الله ﷺ په دار ارقم کي د داخلېدو څخه مخکي يې اسلام راوړی دی ، حبشې ته يې هجرت وکړ بيا ده او حضرت عمر رضي الله عنه مدينې ته هجرت وکړ، ده ته د هشام دواړه زامن ابوجهل او حارث راغلل او ورته يې وويل: ستا مور قسم کړی دی چي تر څو پوري زه تا نه ووينم نو تر هغه وخته پوري به په سر کي تېل نه اچوم او نه به په سايه کي آرام کوم، ځکه دی د هغوی سره دخپل مور په خدمت کي حاضر سو نو هغوی دواړو په يوه رسۍ وتړی او په مکه کي يې بندي کړ ، رسول الله ﷺ دده لپاره په قنوت کي دعاء کول چي اې الله! عياش بن ابي ربيعه ته د کافرانو څخه خلاصون ورکړې، د يرموک په جګړه کي شهيد سو ، دده څخه عمر بن خطاب او نور کسان روايت کوي، عياش د دوو ټکو والا ياء په تشديد او شين معجمه سره دی .

۵۸۲. **عابس بن ربيعه** : دغه عابس بن ربيعه غطيفي دی، د مصر په فتح کي شريک سو ، دده څخه دده زوی عبدالرحمن روايت کوي .

۵۸۳. **ابوعبيده بن الجراح** : دغه ابوعبيده عامر بن عبدالله بن جراح فهري قريشي دی، په عشره مبشره کي دی، د دغه امت امين ورته ويل کيږي، د حضرت عثمان بن مظعون سره يې اسلام راوړ، حبشې ته يې دوه واره هجرت وکړ ، په ټولو غزاوو کي د رسول الله ﷺ سره شريک وو او د رسول الله ﷺ سره د احد په غزا کي ثابت قدمه پاته سو ، ده د رسول الله ﷺ د جنګي خولۍ هغه دوې کړۍ چي د رسول الله ﷺ مخ مبارک ننوتلي وې ، را وکښلې چي د هغه په وجه يې د مخ دوه غاښونه شهيد سوي وه، د جګ قد خاوند ، ښکلی او ګڼې ږيري والا وو ، په طاعون عمراس کي په ۱۸ م هجري کال په اردن کي وفات سو او په بيسان کي دفن کړل سو ، دده د جنازې لمونځ معاذ بن جبل رضي الله عنه ورکړ ، عمر يې ۵۸ کاله وو ، دده نسب د پلار له خوا د رسول الله ﷺ سره پر فهر بن مالک باندي يو ځای کيږي، دده څخه يوه ډله روايت کوي .

۵۸۴. **ابوالعاص بن الربيع** : دغه ابوالعاص مقسم بن ربيع دی،ويل کيږي چي دده نوم لقيط دی او دی د رسول الله ﷺ زوم وو، يعني د رسول الله ﷺ لور زينب دده په نکاح کي وه، د بدر په ورځ د بندي کېدو څخه وروسته چي د کفر په حالت کي وو، ازاد کړل سو، او په اسلام قبلولو سره يې رسول الله ﷺ ته هجرت وکړ، ده د رسول الله ﷺ سره ورور ګلوي او رېښتونې مينه درلودل، د يمامه په جګړه کي د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي ووژل سو، دده ابن عباس، ابن عمر او ابن العاص رضی الله عنهم روايت کوي، مقسم د ميم په زبر، د قاف په سکون او سين په زور سره دی.

۵۸۵. **ابوعياش** : دغه ابوعياش زيد بن الصامت انصاري دی، زرقي دی، دده څخه يوه ډله روايت کوي، د هجرت په څلوېښتم کال وفات سو.

۵۸۶. **ابوعمرو بن حفص**: دغه ابوعمرو بن حفص بن مغيره مخزومي دی، دده نوم عبدالمجيد دی او احمد هم ورته ويل کيږي او ځينو دده کنيت ته دده نوم ويلي دي، په ځينو راويانو کي ابوحفص بن مغيره راغلی دی.

۵۸۷. **ابوعبس عبدالرحمن بن جبير**: انصاري حارثي دی، دده د نامه په نسبت دده کنيت زيات مشهور دی، د بدر په غزا کي شريک وو، په مدينه کي په ۳۴م هجري کال وفات سو، په جنت البقيع کي دفن سو، عمر يې اوويا کاله وو، دده څخه عبايه بن رافع بن خديج روايت کوي، عبس د عين مهمله په زور، باء موحده غير مشدد او شين مهمله سره دی، په عبايه کي د عين زور او باء موحده غير مشدده او په پای کي دوو ټکو والا ياء ده.

۵۸۸. **ابوعسيب**: دغه ابوعسيب د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام دی نوم يې احمر دی، دده څخه مسلم بن عبيد روايت کوي، عسيب د عين په زور او سين مهمله په زبر سره دی.

تابعين رحمهم الله.

۵۸۹. **عبدالله بن بريده** : دغه عبدالله بن بريده اسلمي دی، د مرو قاضي وو، د مشهورو تابعينو څخه يو باوري تابعي دی، د خپل پلار او نورو صحابه کرامو څخه روايت کوي. دده څخه ابن سهل او نور روايت کوي. په مرو کي وفات سو، دده ډېر حديثونه دي.

۵۹۰. **عبدالله بن ابي بکر** : دغه عبدالله بن ابي بکر بن محمد بن عمرو بن حزم انصاري مدني دی، د مدينې د سترو خلکو څخه دی، تابعي دی، د انس بن مالک او عروه بن زبير

څخه روایت کوي او دده څخه زهري ، مالک بن انس، ثوري او ابن عینیه ، دده څخه ډېر حدیثونه روایت سوي دي، داسي راوي دی چي د هغه صدق مسلم دی ، امام احمد فرمایلي دي : دده حدیث شفاء دي، په ۱۳۵م هجري کال کي د ۷۰ کالو په عمر وفات سو .

۵۹۱. **عبدالله بن زبیر** : دغه عبدالله بن زبیر هغه دی چي کنیت یې ابوبکر دی، حمیدي قریشي اسدي دی، په رواتو کي لوی باوري دی، د مسلم بن خالد ، وکیع او امام شافعي څخه روایت کوي او د هغوی سره مصر ته تللی وو ، کله چي هلته امام شافعي رحمة الله علیه وفات سو نو دی مکې ته راستون سو ، دده څخه محمد بن اسماعیل بخاري په خپل صحیح بخاري کي ډېر زیات روایت کوي، په مکه کي په ۲۱۹ هجري کال وفات سو ، یعقوب بن سفیان ویلي دي چي ما دحمیدي څخه زیات هیڅوک د اسلام او مسلمانانو خیرخواه نه دی لیدلی .

۵۹۲. **عبدالله بن مطیع** : دغه عبدالله بن مطیع قرشي عدوي دید مدینې اوسېدونکی دی ، ویل کیږي چي دی د رسول الله ﷺ په زمانه کي پیدا سو او دده پلار د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر کړ، دده د پلار نوم العاص وو ، رسول الله ﷺ د هغه نوم مطیع کېښېښود او دغه عبدالله د قریشو د مشرانو څخه دی، دا هغه سړی دی چي د مدینې اوسېدونکو د یزید بن معاویه څخه د فسخ بیعت وروسته ټاکلی وو ، واقدي بیان وکړ چي هغه خو یوازي پر قریشو باندي حکومت کونکی وو نه پر نورو باندي، او هغه عبدالله بن حنظله الغسیل دی چي پر قریشو او غیر قریشو دواړو باندي یې حکمراني کول ، ده د خپل پلار څخه حدیث اورېدلي دي او دده څخه شعبي او نور کسان روایت کوي ، عبدالله بن زبیر رضی الله عنه د کوفې حاکم ګرځولی وو او بیا دی د کوفې څخه مختار بن ابي عبید ایستلی وو .

۵۹۳. **عبدالله بن مسلمه** : دغه عبدالله بن مسلمه بن قعنب تمیمي مدني دی، د قعنبي په نامه سره مشهور دی، په بصره کي اوسېدی ، ډېر قول الحفظ ، د باور او د خطاء څخه خوندي روایت کونکی دی، د حضرت مالک بن انس رضی الله عنه په شاګردانو کي دی، دده سره د هغه مصاحبت مشهور دی، هشام بن سعد او نورو امامانو څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه بخاري، مسلم، ابوداؤد ، ترمذي او نسائي روایت کوي . د محرم په میاشت کي په ۲۲۱م هجري په مکه کي وفات سو .

۵۹۴. **عبدالله بن موهب** : دغه عبدالله بن موهب فلسطیني شامي دی، د فلسطین قاضي وو ، د تمیم داري څخه یې روایت کړی دی او قبیصه بن ذویب څخه یې حدیث اورېدلي

دي، د ځينو قول دی چي ده د تميم څخه نه دي اورېدلي بلکه د قبيصه بن تميم څخه يې اورېدل کړي دي او دده څخه عمر بن عبدالعزيز روايت کوي.

۵۹۵. **عبدالله بن مبارک** رحمة الله عليه : دغه عبدالله بن مبارک مروزي دی، د بني حنظله او نورو ازاد سوی غلام دی، د هشام بن عروه، امام مالک، ثوري، شعبه، اوزاعي او نورو ډېرو خلګو څخه يې حديث اورېدلي دي او دده څخه سفيان بن عينيه ، يحيى بن معين او نور کسان روايت کوي . د ربيانينو علماؤ څخه وو، امام، فقيه، حافظ حديث، زاهد ، پرهيزګار، سخي، د باور وړ وو، اسماعيل بن عياش ويلي دي: د ځمکي پر مخ باندي د عبدالله بن مبارک په ډول هيڅوک نه وو، نه د هغه څخه په علم کي څوک زيات وو، الله جل جلاله د خير داسي خصلتونه نه دي پيدا کړي چي په عبدالله بن مبارک کي نه وه، بغداد ته يې په څو واره تشريف وړی دی او هلته يې درس حديث کړی دی، په ۱۱۸م هجري کال کي پيدا سو او په ۱۸۱ م هجري کال کي وفات سو .

۵۹۶. **عبدالله بن عکيم** : دغه عبدالله بن عکيم جهني دی، د رسول الله ﷺ زمانه يې تر لاسه کړې ده مګر د رسول الله ﷺ روايت ور څخه مشهور نه دی، مګر ډېر علماء معرفت رجال دی په صحابوو کي شمېري، مګر صحيح خبره داده چي دی تابعي دی، د عمر بن مسعود او حذيفه څخه يې حديث اورېدلي دي او د هغوی څخه يوه ډله روايت کوي، دده حديث په کوفيانو کي ترلاسه کيږي .

۵۹۷. **عبدالله بن ابي قيس**: دغه عبدالله بن ابي قيس دی، کنيت يې ابوالاسود دی، د شام اوسېدونکی دی، د عطيه بن عازب ازاد سوی غلام دی، په شاميانو کي شمېرل کيږي، دی د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي او دده څخه يوه ډله روايت کوي .

۵۹۸. **عبدالله بن عصم**: ده ته عبدالله بن عصمه هم ويل کيږي، کوفي او حنفي دی، دی د ابوسعيد او ابن عمر څخه او دده څخه اسرائيل او شريک روايت کوي، دده حديث دادی: په ثقيف کي به يو کذاب او مفسد اعظم وي.

۵۹۹. **عبدالله بن محيريز** : دده پوره نوم عبدالله بن محريز حجمي قرشي دی، د الله جل جلاله د نيکو بندګانو څخه دی، د مشهورو تابعينو څخه دی، د ابو محذوره ، عباده بن صامت او نورو څخه روايت کوي او دده څخه مکحول او زهري او داسي نور لوی محدثين روايت کوي، رجاء بن حيوة به ويل : که اهل مدينه د ابن عمر رضي الله عنه په ډول عبادت کوونکي باندي

فخر کوي نو موږ هم پر خپل عابد او زاهد ابن محريز باندي فخر کوو، د ۱۰۰ م هجري کال څخه مخکي وفات سو .

۶۰۰. **عبدالله بن المثنی**: نوم يې عبدالله دی، د مثنی بن عبدالله بن انس بن مالک زوی دی، د خپلو اکاګانو او حسن څخه يې روايت کړی دی او دده څخه دده زوی محمد او مسدد او نور روايت کوي، ابوحاتم ده ته صالح ويلي دي او ابوداؤد وايي چي زه دده حديث نه تخريج کوم .

۶۰۱. **عبدالله بن عمرو بن حفص**: نوم يې عبدالله، د عمرو بن حفص بن عاصم زوی دی، او عمري دی، د خپل ورور عبيدالله، نافع او مقري څخه روايت کوي، قعنبي او نور کسان دده د روايت راويان دي، ابن معين دی صويلح يعني باصلاحيته ګرځولی دی، ابن عدي ويلي دي: لاباس به صدوق، دده څخه په روايت کولو کي څه پروا نسته ، رښتونی سړی دی، په ۱۷۱م هجري کال کي وفات سو .

۶۰۲. **عبدالله بن عتبه**: دغه عبدالله بن عتبه بن مسعود هذلي دی، د عبدالله بن مسعود وراره دی ، مدني دی بيا د کوفې اوسېدونکی سو ، د نبوت زمانه يې ترلاسه کړل، د کوفې د لويو تابعينو څخه دی او د نورو صحابه کرامو څخه يې د حديث سماعت کړی دی، دده زوی عبدالله او محمد بن سيرين دده څخه روايت کوي، دبشر بن مروان دحکومت په زمانه کي په کوفه کي وفات سو .

۶۰۳. **عبدالله بن مالک بن بحينه**: پوره نوم يې عبدالله بن مالک بن القشب الازدي دی، دده مور بحينه ده دده د نيکه نوم حارث بن عبدالمطلب دی، د حضرت معاويه ﷺ د حکومت په زمانه کي په ۵۴م هجري کال وفات سو ، په قشب کي قاف مکسور، شين منقوطه ساکن او ياء موحده ده .

۶۰۴. **عبدالله بن مالک**: دده نوم عبدالله بن مالک دی، کنيت يې ابوتميم جيشاني دی، د حضرت عمر بن خطاب، ابوذر او نورو صحابه کرامو څخه روايت کوي، د مصر د تابعينو څخه شمېرل کيږي دده حديثونه په اهل مصر کي ترلاسه کيږي .

۶۰۵. **عبدالله بن مالک** : دده نوم عبدالله بن مالک دی، د همدان اوسېدونکی دی، په صحابه کرامو کي د علي، عائشې او ابن عمر ﷺ څخه روايت کوي، ابواسحاق او ابوورق دده څخه روايت کوي، دده حديث په جمع بين الصلاتين کي دي .

۶۰۶. **عبدالله بن عبدالرحمن**: نوم يې عبدالله بن عبدالرحمن بن ابي حسن دی، دمکې اوسېدونکی او د قريشو د کورنۍ څخه دی، تابعي دی، د ابوطفيل څخه روايت کوي د تابعينو د يوې ډلې څخه يې حديث اورېدلي دي، مالک ، ثوري او ابن عينيه دده څخه روايت کوي .

۶۰۷. **عبدالله بن عبيدالله**: نوم يې عبدالله بن عبيدالله بن ابي مليکه دی، د ابوملیکه نوم زهير بن عبدالله التميمي دی، د قريشو څخه دی، دی احول دی ،په مشهورو عالمانو او تابعينو کې دی، د حضرت عبدالله بن زبير ﷺ د حکومت په زمانه کې قاضي وو، د حضرت ابن عباس، حضرت ابن الزبير او بي بي عائشې ﷺ څخه روايت کوي، ابن جريج او دده څخه ماسوا نور ډېر کسان دده څخه روايت کوي، په ۱۱۷ م هجري کال کې وفات سو ، په مليکه کې پر ميم باندې پېښ او لام باندې زور دی .

۶۰۸. **عبدالله بن شفيق** : کنيت يې ابوعبدالرحمان دی د بنوعقيل څخه دی، وطن يې بصره دی، مشهور د باور تابعي دی، د حضرت عثمان، حضرت علي او بي بي عائشې ﷺ څخه يې د حديثو اورېدل کړي دي او حريري دده څخه روايت کوي .

۶۰۹. **عبدالله بن شهاب**: ابوالحرب يې کنيت دی ، خولانی دی د تابعينو په دوهمه ډله کې شمېرل کېږي ، د اهل کوفه سره دده حديث تر لاسه کېږي، د ه د ابن عمر او عائشې ﷺ څخه او يوې ډلې دده څخه د حديثو روايت کړی دی .

۶۱۰. **عبدالله بن رفاعه**: دغه عبدالله د رفاعه بن رافع زوی دی، انصاري او زرقي دی، مشهور تابعي دی ، د خپل پلار رفاعه او فاطمه بنت عميس څخه روايت کوي او يوه ډله دده څخه روايت کوي .

۶۱۱. **عبيدالله بن عبدالله**: دده نوم عبيدالله بن عبدالله بن عمر او کنيت يې ابوبکر دی، د اهل مدينې څخه يې حديث اورېدلي دي ، تابعي دی ، امام زهري او نورو سترو تابعينو دده څخه روايت کړی دی، د خپل ورور سالم څخه مخکې وفات سو، دمحدثينو په نزد باوري دی، دده حديث په اهل حجاز کې دي.

۶۱۲. **عبيدالله بن عدي**: نوم يې عبيدالله بن عدي بن خيار قرشي دی، ويل کېږي چې دده زېږېدنه د رسول الله ﷺ په زمانه کې وسول ، په تابعينو کې شمېرل کېږي، د حضرت عمر، حضرت عثمان او نورو صحابه کرامو ﷺ څخه روايت کوي، د وليد بن عبدالملک په زمانه کې وفات سو .

۶۱۳. **عبید بن عمیر** : دغه عبید بن عمیر دی، کنیت یې ابو عاصم دی، بنو اللیث دی، د حجاز او سېدونکی دی، د اهل مکه قاضي وو، د رسول الله ﷺ په زمانه کي پیدا سو، دا هم ویل کیږي چي ده د رسول الله ﷺ لېدنه کړې ده، په سترو تابعینو کي شمېرل کیږي، د حضرت عمر، حضرت ابوذر، حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص او بي بي عائشې رضی الله عنهم څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه تابعینو هم روایت کړی دی، د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه مخکي وفات سوی دی.

۶۱۴. **عبدالرحمن بن کعب**: پوره نوم یې عبدالرحمن بن کعب بن مالک الانصاري دی، د مدینې د مشهورو او باوري تابعینو څخه دی، اکثر الروایت دی، د صحابه کرامو د یوې ډلي څخه روایت کوي، سلیمان بن یسار او نور کسان دده څخه روایت کوي.

۶۱۵. **عبدالرحمن بن الاسود**: عبدالرحمن بن الاسود قرشي زهري دی.

۶۱۶. **عبدالرحمن بن یزید**: پوره نوم یې عبدالرحمن بن یزید بن حارثه الانصاري دی، د مدینې او سېدونکی دی، وایي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي پیدا سو، دده حدیث په اهل مدینه کي دي، په ۹۸ م هجري کال وفات سو.

۶۱۷. **عبدالرحمن بن ابي لیلی**: د انصارو څخه دی، د حضرت عمر رضی الله عنه په خلافت کي شپږ کاله پاته وه چي دی پیدا سو، په دجیل کي شهید سو، ځیني وایي چي د بصرې په ویاله کي ډوب سو او دا هم ویل کیږي چي په دیرجماجم کي په ۸۳م هجري کال د ابن الاشعبي د حملې په وخت کي ورک سو، دده حدیثونه په اهل کوفه کي دی، د خپل پلار او نورو صحابه کرامو څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه شعبي، مجاهد، ابن سیرین او د دوی څخه ماسوا نور ډېر خلګ روایت کوي، د کوفې د تابعینو په اوله طبقه کي دی.

۶۱۸. **عبدالرحمن بن غنم**: نوموړی اشعري دی، د شام او سېدونکی دی، د جاهلیت او اسلام دواړي زمانې یې لېدلي دي، د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک کي مسلمان سو مګر رسول الله ﷺ یې نه ولېدی، کله چي رسول الله ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه یمن ته واستوی نو دی د هغه سره او سېدی تر دې چي حضرت معاذ رضی الله عنه وفات سو، د اهل شام په فقهاؤ کي تر ټولو زیات فقیه وو، د عمر بن الخطاب او معاذ بن جبل رضی الله عنه په ډول متقدمینو صحابه کرامو څخه روایت کوي، په غنم کي غین منقوطه مفتوح او نون ساکن دی، په ۷۸ هجري وفات سو.

۶۱۹. **عبدالرحمن بن ابي عمره**: نوم يې عمرو بن محصن دی، انصاري او بخاري دی، د مدينې قاضي وو، د باوري تابعينو څخه دی، دده حديثونه مشهور دی، ده د خپل پلار عمرو بن محصن، عثمان او ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی دی او دده څخه يوې ډلي روايت وکړ.

۶۲۰. **عبدالرحمن بن عبدالله**: دده نوم عبدالرحمن بن عبدالله بن ابي صعصه المازني انصاري دی، د خپل پلار عبدالله او عطاء بن يسار څخه روايت کوي، دده يوه ډله، مالک بن انس او نور کسان روايت کوي، دده حديثونه په اهل مدينه کي دي، په ۱۲۹م هجري کال وفات سو.

۶۲۱. **عبدالرحمن بن عبدالقادري**: ويل کيږي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي پيدا سو، مګر نه يې د رسول الله ﷺ حديث اورېدلي دي او نه يې روايت بيان کړی دی، تاريخ پوه، واقدي د هغه صحابه کرامو په يادونه کي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي پيدا سو، دی هم شمېرلی دی مګر مشهوره داده چي دی د مدينې د تابعينو او علماؤ څخه دی، د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه يې حديث اورېدلي دي، په ۸۱ م هجري کال د ۷۸ کالو په عمر وفات سو، په القاري کي قاف او راء مهمله مکسور او ياء مشدده ده او قاره ته يې نسبت دی.

۶۲۲. **عبدالرحمن بن عبدالله** : د مور نوم يې ام الحکم دی چي د ابوسفيان بن حرب لور ده، حضرت معاويه رضي الله عنه د کوفې امير ټاکلی وو، په باب خطبة يوم الجمعة کي دده نوم راځي.

۶۲۳. **عبدالرحمن بن ابي بکر**: دده زوی محمد دده څخه روايت کوي.

۶۲۴. **عبدالرحمن بن ابي بکره**: د انصارو د بنو ثقيف څخه دی، بصره يې وطن دی، په بصره کي په ۱۴م هجري کال د مسلمانانو په رسېدو سره تر ټولو مخکي دی پيدا سو، تابعي دی، ډېر حديثونه نقل کوي، د خپل پلار او حضرت علي رضي الله عنه څخه يې حديث اورېدلي دي، او دده څخه يوه ډله روايت کوي.

۶۲۵. **عبدالرحمن بن عبدالله** : پوره نوم يې عبدالرحمن بن عبدالله بن ابي عمار دی، د مکې اوسېدونکی دی، د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت کوي او د حضرت معاذ رضي الله عنه څخه يې حديث اورېدلي دي، يوه ډله دده څخه روايت کوي.

۶۲۶. **عبدالرحمن بن يزيد**: نوم يې عبدالرحمن بن يزيد بن اسلم مدني دی، د خپل پلار او ابن المنكدر څخه روايت كوي، قتيبه، هشام او نور كسان دده څخه روايت كوي، محدثينو ورته ضعيف ويلي دي، په ۱۸۲م هجري كال وفات سو.

۶۲۷. **عبدالعزيز بن رفيع**: اسدي مكي دی، په كوفه كي وو، مشهور تابعي دی، د ابن عباس او انس بن مالک رضي الله عنهما څخه يې حديثونه اورېدلي دي حال دا چي تر نيوي كالو يې عمر زيات سوی وو، رفيع د رفع تصغير دی.

۶۲۸. **عبدالعزيز بن جريج**: نوموړی مكي دی، د بي بي عائشې او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت كوي، فقيه عبدالمالک دده زوی او خصيف دده څخه روايت كوي.

۶۲۹. **عبدالعزيز بن عبدالله**: د مدينې د سترو فقهاؤ څخه دی، د امام زهري، محمد بن المنكدر، حميد الطويل او نورو ډېرو كسانو څخه يې حديثونه اورېدلي دي، ډېر خلگ دده څخه روايت كوي، بغداد ته يې تشريف راوړ او حديث يې بيان كړل، په بغداد كي په ۱۶۴م هجري كال وفات سو، د قريشو په هدېره كي دفن سو.

۶۳۰. **عبدالملک بن عمير**: قريشي كوفي دی، په قرشي كي قرشه ته نسبت دی، څوک چي نه پوهيږي نو هغه وايي چي قريشو ته منسوب دی حال دا چي داسي نه ده، هغه قرشه ته منسوب دی، د امام شعبي څخه وروسته د كوفې قاضي وو، په تابعينو كي مشهور او باوري دی، د كوفې د سترو كسانو څخه شمېرل كيږي، د جندب بن عبدالله او جابر بن سمره رضي الله عنهما څخه روايت كوي، ثوري او شعبه دده څخه روايت كوي، تقريبا په ۱۳۶م هجري كال د ۱۰۳ كالو په عمر وفات سو.

۶۳۱. **عبدالواحد بن ايمن**: مخزومي دی، دی د قاسم بن عبدالواحد پلار دی، هغه د حديث روايت د خپل پلار او نورو تابعينو څخه كوي او دده څخه يوه لويه ډله روايت كوي.

۶۳۲. **عبدالرزاق بن همام**: ابوبكر يې كنيت دی، د ابن جريج، معمر او نورو څخه روايت كوي او دده څخه احمد، اسحاق او رمادي روايت كوي، ډېر كتابونه يې ليكلي دي، په ۲۱۱م هجري كال د ۸۵ كالو په عمر وفات سو.

۶۳۳. **عبدالحميد بن جبير**: دغه عبدالحميد بن جبير حجبي دی، د خپلي عمه صفيه او ابن المسيب څخه روايت كوي او دده څخه ابن جريج او ابن عينيه روايت كوي.

۶۳۴. **عبدالمهيمن بن عباس**: پوره نوم يې عبدالمهيمن بن عباس بن سهل دی، د بنو ساعده څخه دی، د خپل پلار او ابو حازم څخه روايت كوي، دده څخه مصعب او

يعقوب بن حميد بن كاسب روايت كوي، دده يادونه په الحذر و التاني كي ده.

۶۳۵. **عبدالاعلى**: نوم يې عبدالاعلى بن مسهر دی، ابومسهر يې كنيت دی،د غسان څخه دی، دشام بزرګ دی، د سعيد بن عبدالعزيز او مالک څخه روايت كوي او دده څخه ابن معين، ابوحاتم او ابن رواس روايت كوي، په خلګو كي تر ټولو زيات حافظ او د فصاحت خاوند دی، د وژلو لپاره لوڅ كړل سو چي د خلق القرآن د مسئلې اقرار وكړي، هغه وخت يې هم اقرار ونه كړ او انكار يې وكړ، بيا په بند كي واچول سو، د رجب په مياشت كي په ۲۱۸م هجري كال وفات سو.

۶۳۶. **عبدالمنعم**: دغه عبدالمنعم د نعيم زوی اسواري دی، د حريري او يوې ډلي څخه روايت كوي، يونس المورب او محمد بن ابي بكر مقدمي دده څخه روايت كړی دی.

۶۳۷. **عبدخير بن يزيد**: دغه عبد خير د يزيد زوی دی، كنيت يې ابوعماره دی، د همدان او سېدونكی دی، ويل كيږي چي د رسول الله ﷺ زمانه يې تر لاسه كړل مګر لېدنه يې ورسره ونه سول، د حضرت علي رضی الله عنه د ملګرو څخه دی، د محدثينو په نزد باوري او د اعتماد وړ دی، په كوفه كي هستوګن سو او ۱۲۰ كاله عمر يې وو، خير د شر ضد دی يعني په عبدخير كي د خير لفظ د شر ضد دی.

۶۳۸. **عمران بن خطان**: نوموړی دوسي او خزرجي دی، د بي بي عائشې، ابن عمر، ابن عباس او ابوذر رضی الله عنهم څخه يې حديثونه اورېدلي دي او دده څخه محمد ابن سيرين، يحيى بن ابي كثير او نور كسان روايت كوي، په حطان كي پر حاء مهمله باندي كسره، پر طاء مهمله باندي تشديد او په پاى كي نوم دی.

۶۳۹. **عمرو بن شعيب**: دغه عمرو د شعيب بن محمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص زوی او سهمي دی، د خپل پلار، ابن المسيب او طاؤس څخه يې حديثونه اورېدلي دي او دده څخه زهري، ابن جريج، عطاء او ډېرو خلګو روايت كړی دی، بخاري او مسلم په خپل صحيحين كي دده حديثونه نه دي اخيستي ځكه چي دی خپل روايت داسي نقل كوي: عن ابيه عن جده، او كله چي په سند كي اختصار كوي نو اوس كه چيري د عن ابيه عن جده څخه مراد خپل پلار او نيكه وي نو معنی دا سول چي د خپل پلار او خپله نيكه محمد څخه روايت كوي چي د هغه نيكه د محمد څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ داسي وفرمايل، په دغه صورت كي روايت مرسل سو، ځكه چي محمد د هغه نيكه دی او د رسول الله ﷺ په لېدنه مشرف نه وو، نه يې هغه زمانه تر لاسه كړې ده او كه ددغه سند مطلب دا وي چي

عمر د خپل پلار شعیب څخه او شعیب د خپل نیکه عبدالله څخه روایت کوي نو په دغه صورت کي سند متصل نه سو ځکه چي شعیب د خپل نیکه زمانه نه ده لېدلې، ددغه عیب په وجه امام بخاري او امام مسلم په صحیح بخاري او صحیح مسلم کي دده روایات نه دي اخیستي، دا هم ویل کیږي چي شعیب د خپل نیکه سره یو ځای سوی دی.

۶۴۰. **عمرو بن سعید**: د بنو ثقیف ازاد سوی غلام دی، په بصره کي اوسېدی، د حضرت انس رضی الله عنه او نورو څخه یې روایت کړی دی او دده څخه ابن عون او جریر بن عازم روایت کړی دی.

۶۴۱. **عمرو بن عثمان**: دغه عمر د عثمان بن عفان رضی الله عنه زوی دی، د اسامه بن زید او خپل پلار عثمان بن عفان څخه یې حدیث اورېدلي دي، په حدیث البکاء علی المیت، کي دده یادونه ده، دده څخه مالک بن انس روایت کوي.

۶۴۲. **عمرو بن الشرید**: نوم یې عمرو دی، د شرید زوی دی، ثقفي او تابعي دی، په اهل طائف کي شمېرل کیږي، ابن عباس د هغه د پلار او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ازاد سوی غلام دی، د ابو رافع رضی الله عنه څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه صالح بن دینار او ابراهیم بن میسره روایت کوي.

۶۴۳. **عمرو بن میمون**: ازدي دی، د جاهلیت او اسلام دواړي زماني یې لیدلي دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند مبارک کي مسلمان سوی وو، مګر لېدنه یې ورسره کړې نه ده، د کوفې د سترو تابعینو څخه دی، د عمر بن خطاب، معاذ بن جبل او ابن مسعود رضی الله عنهم څخه یې روایت کړی دی او د ده څخه اسحاق حدیث اورېدلي دي، په ۷۴م هجري وفات سو.

۶۴۴. **عمرو بن عبدالله**: نوم یې عمرو او د عبدالله زوی دی، سبیعي دی دده یادونه د الف په حرف کي تېره سوې ده.

۶۴۵. **عمرو بن عبدالله**: نوم یې عمرو دی، د عبدالله بن صفوان زوی دی، حجمي دی او قریش نه دی، د یزید بن شیبان څخه روایت کوي او دده څخه عمرو بن دینار او نور.

۶۴۶. **عمرو بن دینار**: دغه عمرو د دینار زوی دی، کنیت یې ابویحیی دی، د سالم بن عبدالله او نورو څخه روایت کوي او دده څخه حماد او معتمر، ځینو محدثینو ده ته په روایت کي ضعیف ویلي دي.

۶۴۷. **عمرو بن واقد**: دغه عمرو د واقد زوی د دمشق اوسېدونکی دی، د یونس بن میسره او نورو څخه یې روایت کړی دی او دده څخه نفیلي او هشام بن عمار، محدثینو په

نزد د حدیث په معامله کي متروک دی .

٦٤٨. **عمرو بن مالک** : ابوثمامه یې کنیت دی، د جاهلیت د زمانې سړی دی، د کسوف حدیث او په باب الغضب کي د جابر د روایت څخه په مسلم کي دده یادونه سوې ده ، ویل کیږي چي دا هغه سړی دی چي رسول الله ﷺ ولیدی چي په دوږخ کي یې خپل لری او کولمې راکشولې اوروان دی، په روایت کي خو داسي ده چي دغه سړي رسول الله ﷺ ولېدی هغه عمرو بن لحي دی ، لحی ربیعه بن حارثه دی او عمرو د خزاعه پلار دی .

٦٤٩. **عمرو بن عبدالعزیز** رحمة الله علیه : دغه عمرو دی د عبدالعزیز بن مروان بن حکم زوی دی، ابوحفص یې کنیت دی ، په قریشو کي د بنو امیه د کورنۍ څخه دی، دده مور ام عاصم د حضرت عمر بن خطاب لمسۍ او د عاصم لور ده، د ام عاصم نوم لیلی دی، د ابوبکر بن عبدالرحمن څخه یې روایت کړی دی او دده څخه زهري او ابوبکر بن حزم روایت کړی دی، په ۹۹م هجري کال د سلیمان بن عبدالملک څخه وروسته خلیفه سو ، د رجب په میاشت کي په ۱۰۱ هجري کال په دېرسمعان کي وفات سو ، دیرسمعان د حمص په سیمه کي دی ، دخلافت نېټه یې دوه کاله او پنځه میاشتي ده، هغه وخت یې عمر ۴۰ کاله وو، ویل کیږي چي څلوېښت کاله یې پوره سوي نه وه چي وفات سو ، نوموړي د عبادت، زهد، پاکۍ او ښو اخلاقو یو خاص مقام درلود ، په خاصه توګه د خلافت په زمانه کي، ویل کیږي چي کله خلافت ورکړل سو نو دده د سرای څخه د ژړا آواز اورېدل کېدی، په پوښتنه کولو سره معلومه سول چي عمر بن عبدالعزیز خپلو مینځو ته اختیار ورکړی دی چي په تاسو کي د چا ازادي زړه غواړي نو زه هغه ازادوم او زما سره د هغې هیڅ تعلق نسته، او د چا چي زما سره د اوسېدو خواهش وي هغه د ځان سره ساتم، ځکه چي ما ته داسي شی راکړل سوی دی چي د هغه په وجه زه تاسو ته متوجه کیدای نه سم، ددې په اورېدو سره ټولي مینزي په ژړا سوې ، عقبه بن نافع د هغه د ښځي فاطمه بنت عبدالملک څخه پوښتنه وکړل چي ته ما ته د عمر بن عبدالعزیز په اړه څه وښیه، نو هغې جواب ورکړ : د کوم وخت څخه چي الله جل جلاله خلافت ورکړی دی نو زه نه سم ویلای چي کله هغه د جنابت او احتلام په وجه غسل کړی وي تر دې چي هغه وفات سو ، هغې دا بیان هم وکړ : کیدای سي چي یو څوک د عمر بن عبدالعزیز څخه په روژو او لمونځو کي زیات وي مګر ما داسي سړی بالکل نه دی لېدلی چي هغه د عمر بن عبدالعزیز څخه زیات د خپل پروردګار څخه بیریږي، په کور کي په داخلېدو سره به یې ځان په مسجد کي غورځوی او په ژړا او زارۍ به بوخت

وو، تر دې چې پر سترګو به يې خوب غالب سو، بيابه را بېدار سو او په دعاء او ژړا به بوخت سو، ټوله شپه به يې دغه شغل وو، وهب بن منبه ويلي دي: که په دغه امت کي يو څوک مهدي دی نو هغه عمر بن عبدالعزيز دی، مناقب يې ډېر زيات دي.

۶۵۰. **عمر بن عطاء**: دغه عمر د عطاء زوی او د خواري لمسی دی، د مکې په تابعينو کي شمېرل کيږي، دده حديثونه په اهل مکه کي تر لاسه کيږي، د ابن عباس رضي الله عنه څخه يې روايت کول مشهور دي مګر د سائب بن يزيد او نافع بن جبير څخه هم روايت کوي، ابن جريج او نور کسان ور څخه حديث روايت کوي، په خوار کي پر خاء معجمه پېښ او پر واو باندي زور او په پای کي راء مهمله ده.

۶۵۱. **عمر بن عبدالله**: نوم يې عمر، د عبدالله بن ابي خثعم زوی دی، د يحيى بن کثير څخه يې روايت کړی دی او دده څخه زيد بن خباب او يوه ډله روايت کوي، بخاري ويلي دي: دده حديث بې کاره دي.

۶۵۲. **عثمان بن عبدالله**: نوم يې عثمان د عبدالله بن اوس زوی او د بنو ثقيف څخه دی، د خپل نيکه او اکا عمرو څخه روايت کوي او دده څخه ابراهيم بن ميسره او محمد بن سعيد او يوه ډله ور څخه روايت کوي.

۶۵۳. **عثمان بن عبدالله**: نوم يې عثمان د عبدالله بن موهب زوی، د تميم د کورنۍ څخه دی، د ابو هريره او ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت کوي او دده څخه شعبه او ابو عوانه.

۶۵۴. **علي بن عبدالله**: نوم يې علي د عبدالله بن جعفر زوی دی، د ابن مديني په نامه مشهور دی، په مديني کي پر ميم باندي زور او پر دال باندي زېر دی، حافظ حديث دی، د خپل پلار، حماد او نورو حضراتو څخه روايت کوي او دده څخه بخاري، ابويعلي او ابوداؤد روايت کوي، خپله دده استاد ابن مهدي وايي: ابن مديني د رسول الله ﷺ حديث تر ټولو زيات پېژني، امام نسائي ويلي دي: دده زېږېدنه ددغه کار دپاره سوې ده، د ذي قعده په مياشت په ۲۳۴م هجري کال د ۷۳ کالو په عمر وفات سو.

۶۵۵. **علي بن حسين** رضي الله عنه: نوم يې علي، دحضرت حسين رضي الله عنه زوی او دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه لمسی دی، کنيت يې ابوالحسن دی، د زين العابدين په نامه سره مشهور دی، د اهل بيتو څخه دی، په تابعينو کي ستر کس وو، امام زهري ويلي دي: په قريشو کي دده څخه زيات افضل ما هيڅوک نه دی ليدلی، په ۹۴ م هجري کال د ۵۸ کالو په عمر وفات سو او په بقيع کي په هغه قبر کي دفن کړل سو چي په هغه کي اکا حضرت حسن رضي الله عنه دفن وو.

٦٥٦. **علي بن منذر**: دغه علي د منذر زوی دی، کوفي دی، په طريقي سره مشهور دی، ډېر عبادت کوونکی وو، ويل کيږي چي ده پنځه پنځوس حجونه وکړل، ابن عينيه او د وليد بن مسلم څخه يې روايت کړی دی او دده څخه ترمذي، نسائي، ابن ماجه او نورو روايت کړی دی، ابن حاتم ويلي دي: دده حديث ما د خپل پلار سره واورېدل، باوري او رښتونی راوي دی، امام نسائي ويلي دي: خالص شيعي او باوري دی، په ۲۵۶م هجري کال وفات سو، په طريقي کي پر طاء مهمله باندي زور او پر راء مهمله باندي زېر او د ياء څخه مخکي قاف دی.

٦٥٧. **علي بن زيد**: په نسب قريشي دی، دبصرې اوسېدونکی دی، د بصرې په تابعينو کي شمېرل کيږي، د مکې اوسېدونکی وو، بصرې ته ولاړی او هلته پاته سوی وو، د انس بن مالک، ابو عثمان نهدي او ابن مسيب څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه ثوري او نورکسان روايت کوي، په ۱۳۰م هجري کال وفات سو.

٦٥٨. **علي بن يزيد**: نوم يې علي بن يزيد الهاني دی، د قاسم بن عبد الرحمن څخه يې روايت کړی دی او دده څخه ځو کسانو روايت کړی دی، يوې ډلي ده ته په روايت کي ضعيف ويلي دي.

٦٥٩. **علي بن عاصم**: د واسط اوسېدونکی دی، د يحيی البکاء (ډېر ژړونکی او ډېري زاري کوونکی)، عطاء بن سائب او نورو ډېرو خلکو څخه يې روايت کړی دی او دده څخه احمد او نورو خلکو، ډېر خلک ده ته ضعيف وايي، دده سره يو لک حديثونه دي، عمر يې ترنيوي کالو زيات وو.

٦٦٠. **العلاء بن زياد**: نوم يې علاء د زياد بن مطر زوی دی، د بنو عدي څخه دی، د بصرې اوسېدونکی دی، د دوهمي طبقې تابعي دی، د هغه خلکو څخه دی چي شام ته راغلل، دده څخه قتاده روايت کړی دی، په ۹۴م هجري کال کي وفات سو.

٦٦١. **عطاء بن يسار**: دغه عطاء د يسار زوی دی، دده کنيت ابو محمد دی د ام المؤمنين حضرت ميمونې رضي الله عنها ازاد کړی غلام دی، دمدينې د مشهورو تابعينو څخه دی، د ابن عباس رضي الله عنه څخه ډېر روايت کوي، په ۹۷م هجري کال د ۸۴ کالو په عمر وفات سو.

٦٦٢. **عطاء بن عبدالله**: په اصل کي د خراسان اوسېدونکی وو، په شام کي يې هستوګنه اختيار کړې وه، په ۵۰م هجري کال وفات سو، دده څخه مالک بن انس او معمر بن راشد روايت کوي.

٦٦٣. **عطاء بن ابي رباح**: نوم يې عطاء او د ابي رباح زوئ دی، کنيت يې ابو محمد دی، دده وېښتان ډېر پيچلي وه، تور رنګ يې وو، پيته پزه يې وه په لاس ګوډ او يو سترګی وو، جليل القدر، فقيه او د مکې د تابعينو شخه وو، د امام اوزاعي وينا ده چې په کومه ورځ ذی وفات سو نو داسي وفات سو چې په هغه ورځ خلګ تر هر چا د ده شخه زيات خوشحاله وه، امام احمد بن حنبل وايي: د علم خزانې چې الله ﷻ چا ته ورکول غواړي نو ويشي يې، که د علم سره د چا خصوصيت کيدای سوای نو ددې حق به تر ټولو زيات رسول الله ﷺ ته وای، عطاء ابن ابي رباح حبشي وو، سلمه بن کهيل وايي: ما يو سړی هم داسي نه دی ليدلی چې د هغه علم يوازي د الله ﷻ لپاره وي مګر درې کسان داسي وه: عطاء، طاؤس او مجاهد، نوموړی په ۱۱۵ م هجري کال د ۸۸ کالو په عمر وفات سو. د ابن عباس، ابو هريره، ابو سعيد ﷺ او نورو ډېرو صحابه کرامو شخه يې حديث اورېدلي دي او دده شخه يوه ډله روايت کوي.

٦٦٤. **عطاء بن عجلان**: نوم يې عطاء او د عجلان زوی دی، بصره يې هيواد دی، د انس ابو عثمان نهدي او نورو کسانو شخه يې حديث اورېدلي دي او دده شخه ابن نمير او نور ډېر کسان روايت کوي، ځينو په روايت کي متهم کړی دی.

٦٦٥. **عطاء ابن السائب**: دده نوم عطاء د سائب بن يزيد زوی د کورنۍ په لحاظ ثقفي دی، په ۱۳۶ م هجري کي وفات وسو.

٦٦٦. **عدي بن عدي**: دده نوم عدي دی د عدي زوی دی، د بنو کنده شخه دی، د خپل پلار عدي او رجاء بن حيوة شخه روايت کوي او دده شخه عيسی بن عاصم او نور روايت کوي.

٦٦٧. **عدي بن ثابت**: دده نوم عدي د ثابت زوی دی، ده د خپل پلار شخه او هغه دده د نيکه شخه روايت کړی دی، ترمذي دده روايت په باب العطاس کي ذکر کړی دی، د عدي بن ثابت شخه ابو اليقظان روايت کوي، ترمذي ويلي دي چې ما محمد بن اسماعيل يعني بخاري شخه پوښتنه وکړل چې د عدي بن ثابت نيکه څوک دی، نو هغه وويل: زه خو د هغه نوم نه پېژنم مګر يحيی بن معين يادونه کوي چې د هغه نوم دينار دی.

٦٦٨. **عيسی بن يونس**: دده نوم عيسی او د يونس بن اسحاق زوی دی، په حفظ او عبادت کي مشهور دی، د خپل پلار او اعمش شخه روايت کوي، د حماد بن سلمه په ډول جليل القدر محدثين دده شخه روايت کوي، يو کال به بيت الله شريفې ته تلی او يو کال به

په جهاد کي تلی، په ۱۸۷ م هجري کال په حق ورسېدی .

۶۶۹. **عامر بن مسعود**: قریشي تابعي دی، د ابراهیم بن عامر پلار دی دده څخه شعبه او ثوري روایت کوي .

۶۷۰. **عامر بن سعد**: نوم یې عامر د سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه زوی دی، زهري او قریشي دی د خپل پلار سعد او حضرت عثمان رضی الله عنه څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه زهري او نورو خلګو روایت کړی دی، په ۱۰۴م هجري کال وفات سو .

۶۷۱. **عامر بن اسامه**: دده نوم عامر دی د اسامه زوی دی، کنیت یې ابوالملیح دی، د بنوهذیل څخه دی، د بصرې اوسېدونکی دی، د خپل پلار اسامه، بریده، جابر، انس او نورو ډېرو څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه دده دوه زامن زیاد او میسر او نورو خلګو روایت کړی دی، په ملیح کي پر میم باندي زور او لام باندي زور او حاء مهمله ده .

۶۷۲. **عاصم بن سلیمان**: دده نوم عاصم دی، د سلیمان زوی دی، کوږ سترګی دی، د بصرې اوسېدونکی او تابعي دی، د انس، حفصه او نورو کسانو څخه یې روایت کړی دی، ثوري او شعبه دده څخه حدیث روایت کوي، په ۱۴۲ هجري کال کي وفات سو .

۶۷۳. **عاصم بن کلیب**: د ده نوم عاصم، د پلار نوم یې کلیب دی، د جرم قبیلې څخه دی، دکوفې اوسېدونکی دی، د خپل پلار او نورو څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه ثوري او شعبه روایت کوي، دده حدیثونه د لمانځه، حج او جهاد په اړه دي .

۶۷۴. **عروه بن زبیر**: عروه د زبیر بن العوام زوی دی، کنیت یې ابوعبدالله دی، د قریشو د بنو اسد څخه دی، د خپل پلار حضرت زبیر رضی الله عنه او مور بي بي اسماء رضی الله عنها څخه یې حدیث اورېدلي دي، د دوی څخه ماسوا د خپلي خاله بي بي عائشې رضی الله عنها او نورو سترو صحابه کرامو څخه هم حدیث روایت کوي ، دده څخه دده زوی هشام او زهري روایت کوي، په ۲۲ م هجري کال پیدا سو ، د سترو تابعینو څخه دی په مدینه کي د اوو مشهورو فقهاؤ څخه وو، د ابوالزنا د قول دی چي په مدینه کي زموږ د هغه فقهاؤ څخه چي دهغوی په قول معامله ختمیږي د هغوی څخه سعید بن مسیب او عروه بن زبیر دی، او دځینو نورو حضراتو نوم یې هم واخیست، ابن شهاب ویلي دي: عروه یو داسي دریاب دی چي هیڅکله نه پای کیږي .

۶۷۵. **عروه بن عامر**: دده نوم عروه دی د عامر زوی دی، قریشي تابعي دی، د ابن عباس رضی الله عنه او نور څخه یې حدیث روایت کړی دی دده عمرو بن دینار او حبیب بن ثابت روایت

كوي، ابوداؤد دده حديث په باب الطيره كي ذكر كړي دي، دغه روايت مرسل دی .

٦٧٦. **عبيد بن عمير**: دده نوم عبيد د عمير زوی دی كنيت يې ابوعاصم دی، د ليث كورنۍ څخه دی، د حجاز اوسېدونكی او د اهل مكه قاضي وو، د رسول الله ﷺ په زمانه كي پيدا سو، ويل كيږي چي د رسول الله ﷺ ليدنه يې هم وكړل، د سترو تابعينو څخه دی، دېرو صحابه كرامو څخه يې حديث اورېدلي دي او دده څخه ډېر تابعين روايت كوي، د ابن عمر رضي الله عنه څخه مخكي وفات سو .

٦٧٧. **عبيد بن السباق**: دده نوم عبيد دی، دسباق زوی دی، د حجاز اوسېدونكی دی، په تابعينو كي شمېرل كيږي، دده څخه كم حديث نقل سوي دي، په اهل حجاز كي دده حديثونه تر لاسه كيږي، د زيد بن ثابت، سهل بن حنيف او بويريه څخه يې روايت كړی دی او دده څخه دده زوی سعيد او نور كسان روايت كوي .

٦٧٨. **عبيد بن زياد**: دده نوم عبيد د زياد زوی دی، كلب دده دوهم نوم دی، دا هغه سړی دی چي د حسين بن علي رضي الله عنه د وژني لپاره يې لښكر بېولی وو، په هغه ورځو كي د يزيد له خوا دكوفې امير وو، د ابراهيم بن مالک اشتري په لاس په ٦١م هجري كال د مختار بن عبيد په زمانه كي په موصل كي ووژل سو .

٦٧٩. **عكرمه**: د حضرت ابن عباس رضي الله عنه ازاد سوی غلام دی، ابوعبدالله يې كنيت دی، په اصل كي بربري دی، دمكې د فقهاؤ او تابعينو څخه دی، د ابن عباس رضي الله عنه او نورو صحابه كرامو څخه يې حديث اورېدلي دي، يوه لويه ډله دده څخه روايت كوي، په ١٠٧ م هجري كال د ٨٠ كالو په عمر وفات سو، د سعيد ابن جبير څخه خلكو پوښتنه وكړل چي تر تا لوی عالم بل څوک سته؟ هغه وويل: هو، عكرمه دی.

٦٨٠. **علقمه بن ابي عقلمه**: د ابوعلقمه نوم بلال دی، د ام المؤمنين بي بي عائشې رضي الله عنها ازاد سوی غلام دی، د انس بن مالک رضي الله عنه او خپلي مور څخه روايت كوي او دده څخه مالک بن انس او سليمان بن بلال روايت كوي.

٦٨١. **عوف بن وهب**: دده نوم عوف او د وهب زوی دی، تابعي دی، كنيت يې ابوجحفه دی.

٦٨٢. **ابوعثمان بن عبدالرحمن بن مل**: نوم يې ابوعثمان، د عبدالرحمن بن مل زوی دی، د كورنۍ په اعتبار نهدي او د هيواد له خوا بصري دی، د جاهليت او اسلام دواړي زمانې يې لېدلي دي، د رسول الله ﷺ په ژوند كي يې اسلام راوړی دی مګر لېدنه يې نه ده سوې، ويل كيږي چي د جاهليت په زمانه كي يې تر اويا كالو زيات تېر كړل او تقريبا

همدومره وخت يې په اسلام کي تېر کړ، په ۹۵م هجري کال کي وفات سو عمر يې ۱۳۰ کاله وو، د حضرت عمر، ابن مسعود او ابوموسی رضي الله عنهم څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه قتاده او نور حضرات روايت کوي. په ملکي پر ميم باندي ضمه او کسره دواړه دي، پر لام باندي تشديد دی.

۶۸۳. **ابوعاصم** رحمة الله عليه: دده نوم ابوعاصم دی، د شيبان د قبيلې څخه دی، د امام بخاري رحمة الله عليه استاد دی.

۶۸۴. **ابوعبيده**: د محمد بن عمار بن ياسر زوی دی، د عنس کورنۍ څخه دی، تابعي دي، د جابر رضي الله عنه څخه روايت کوي او دده څخه عبدالرحمن بن اسحاق روايت کوي، په عنس کي پر عين او نون زور او سين غير منقوط دی.

۶۸۵. **ابوعمير بن انس**: د انس بن مالک رضي الله عنه زوی دی، انصاري دي، ويل کيږي چي دده نوم عبدالله دی، د خپلو اکاګانو څخه روايت کوي، په کشرانو تابعينو کي شمېرل کيږي، د خپل پلار انس رضي الله عنه د وفات څخه وروسته تر اوږدې زمانې پوري ژوندی وو.

۶۸۶. **ابوالعشراء**: کنيت يې ابوالعشراء او نوم يې اسامه دی، د مالک زوی دی، د بنودارم څخه دی، تابعي دی، د خپل پلار څخه روايت کوي او دده څخه حماد بن سلمه، په اهل بصره کي شمېرل کيږي، دده په نامه کي ډېر اختلاف دی او کوم چي ذکر سول هغه تر ټولو زيات مشهور قول دی، په العشراء کي پر عين باندي پېښ، شين منقوط باندي زور او په پای کي الف ممدوده دی.

۶۸۷. **ابوالعاليه رفيع**: ابوالعاليه يې کنيت او رفيع يې نوم دی، د مهران زوی دی چي د رياح څخه دی، دغه نسبت دده د ازاد کېدو په وجه دی، د بصرې اوسېدونکی دی، د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په لېدنه مشرف سو، د حضرت عمر او ابی بن کعب رضي الله عنهما څخه يې روايت کړی دی او دده څخه عاصم الاحول او نور کسانو، حفصه چي د سيرين لور ده وايي ما د ابوالعاليه څخه واورېدل چي هغه حضرت عمر رضي الله عنه ته درې واره قرآن واوروی، په ۹۰م هجري کال کي وفات سو.

۶۸۸. **ابوالعلاء**: ابوالعلاء يې نوم دی د يزيد بن عبدالله بن الشخير زوی دی، د خپل پلار او خپل ورور مطرف او بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي او دده څخه قتاده او يوه ډله روايت کوي، په ۱۱۱م هجري کال کي وفات سو.

۶۸۹. **ابوعبدالرحمن**: دغه ابوعبدالرحمن حبلي دی، نوم يې عبدالله د يزيد زوی دی، دمصر اوسېدونکی او د عامر قبيلې څخه دی، تابعي دی، په الحبلی کي پر حاء مهمله باندي ضمه او باء موحده باندي هم ضمه ده.

۶۹۰. **ابوعطيه**: نوم يې ابوعطيه د بنوعقيل ازاد سوی غلام دی ځکه ورته عقيلي ويل کېږي، د مالک بن حويرث څخه روايت کوي.

۶۹۱. **ابوعاتکه**: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت کوي، او دده څخه حسن بن عطيه او نور حضرات روايت کوي، دده په روايت کي ضعيف گرځول سوی دی.

۶۹۲. **عتبه بن ربيعه**: نوم يې عتبه د ربيعه زوی دی، مسلمان نه سو، حضرت حمزه رضي الله عنه د بدر په غزا کي د شرک په حالت کي ووژی.

۶۹۳. **عبدالله بن ابی**: دده نوم عبدالله د ابی بن سلول زوی دی، سلول د خزاعه قبيلې څخه د يوې ښځي نوم دی، دا د اُبی ښځه ده، دغه عبدالله د منافقانو سردار دی، دده د زوی نوم هم عبدالله دی چي غوره صحابي او د فضيلت خاوند دی، د بدر په غزا کي شريک وو، او د هغه وروسته په نورو ټولو غزاوو کي هم شريک وو.

۶۹۴. **العاص بن وائل**: دده نوم عاص د وائل زوی دی، د بنوسهم څخه دی، حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه دده زوی او صحابي دی، عاص ته د اسلام دزمانې تر لاسه کېدو سربېره د اسلام توفيق ونه سو، ده وصيت کړی وو چي دده له خوا سل غلامان ازاد کړل سي، په باب الوصايا کي دده يادونه راځي.

صحابي ښځي

۶۹۵. **عائشه صديقه** رضي الله عنها: دغه محترمه ام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها ده، د ابوبکر صديق رضي الله عنه لور ده، ددې د مور نوم ام رومان بنت عامر بن عويمر دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورسره د هجرت څخه مخکي د شوال په مياشت په لسم نبوي کال په مکه کي نکاح وکړل، د يوه روايت څخه معلومېږي چي دغه نکاح د هجرت څخه درې کاله مخکي وسول، نور قولونه هم نقل سوي دي، د شوال په مياشت کي په دوهم هجري کال د هجرت څخه اتلس مياشتي وروسته دبي بي عائشې رضي الله عنها رخصتي په مدينه کي وسول، هغه وخت ددې عمر نهه کاله وو، ويل کيږي چي د رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې ته د راتگ څخه اووه مياشتي وروسته په مدينه کي دغه رخصتي په عمل کي راغلل، د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره نهه کاله وه، کله چي رسول الله

ﷺ وفات سو نو هغه وخت دبي بي عائشې ﷞ عمر اتلس كاله وو، رسول الله ﷺ د بي بي عائشې ﷞ څخه ماسوا د بلې پيغلې سره واده نه دى كړى، بي بي عائشه ﷞ فقيه، عالمه، فصيحه او فاضله ښځه وه، د رسول الله ﷺ څخه يې زيات روايتونه نقل كړي دي، د وقائع عرب، محارباتو او اشعارو ستره ماهره وه، د صحابهٔ كرامو او تابعينو يوې لوې ډلې ددې څخه روايات نقل كړي دي، په مدينه منوره كې په ۵۷ م هجري كال يې په ۵۸ م هجري كال د رمضان المبارك په اووه لسمه نېټه د شنبې په شپه وفات سو، بي بي عائشې ﷞ وصيت كړى وو چې د شپې دي دفن كړل سي، په بقيع كې دفن كړل سول، حضرت ابو هريره ﷛ د جنازې لمونځ وركړ، هغه وخت د حضرت معاويه ﷛ په زمانه كې مروان حاكم وو.

۶۹۶. **عمره بنت رواحه**: نوم يې عمره د رواحه لور او دانصارو څخه ده، نومړې صحابيه ده، د نعمان بن بشير مور ده ددې څخه ددې خاوند بشير ﷛ او ددې زوى نعمان بن بشير ﷛ روايت كوي.

۶۹۷. **ام عماره**: دغه ام عماره ده، نوم يې نسيبه د كعب لور ده، د انصارو څخه ده، په بيعت عقبه كې حاضره او شريكه سوې وه، د احد په غزا كې د خپل خاوند زيد بن عاصم په ملګرتيا كې شريكه وه، په بيعت الرضوان كې هم شامله سوې وه، بيا د يمامه په جګړه كې حاضره سوه او لاس په لاس جنګ يې وكړ، په دغه جنګ كې يې يو لاس ضائع سو او د توري او نېزې دوولس زخمونه يې وخوړل، يوه ډله ور څخه د حديثو روايت كوي، په عماره كې پر عين باندي ضمه او ميم غير مشدد دى، په نسيبه كې پر نون باندي زور او سين مكسور دى.

۶۹۸. **ام العلاء**: دغه ام العلاء انصاريه تابعيه ده، په اهل مدينه كې ددې حديثونه تر لاسه كيږي، ددې څخه خارجه بن زيد بن ثابت روايت كوي، ام العلاء دده مور ده، رسول الله ﷺ به يې په ناروغۍ كې پوښتنه كول.

۶۹۹. **ام عطيه**: ددې نوم نسيبه او د كعب لور ده، د ځينو په نزد د حارث لور ده، د انصارو څخه ده، د رسول الله ﷺ سره يې بيعت كړى دى، په سترو صحابياتو كې شمېرل كيږي، يوه ډله ور څخه د حديثو روايت كوي، د رسول الله ﷺ سره په اكثرو غزاوو كې شريكه وه، د ناروغانو درملنه او د زخميانو علاج به يې كوى، په نسيبه كې پر نون باندي ضمه او پر سين مهمله باندي زور او ياء تحتيه ساكن او باء موحده باندي زور دى.

تابعي ښځي.

۷۰۰. **عمره بنت عبدالرحمن** : عمره بنت عبدالرحمن بن سعد بن زراره لور او د عائشې رضي الله عنها په غېږ کې وه او هغه يې پاللې وه، عمره د عائشې رضي الله عنها ډېر حديثونه روايت کړي دي او د نورو ښځه هم، ددې ښځه يوې ډلې روايت کړی دی، په ۱۰۳ م هجري کال کې وفات سول او د مشهورو تابعياتو ښځه ده.

غ - صحابه کرام رضي الله عنهم :

۷۰۱. **غضيف بن الحارث** : دده نوم غضيف دی، د حارث زوی دی، ثمالي دی، ابواسماء يې کنيت او شام يې هيواد دی، د رسول الله ﷺ زمانه يې تر لاسه کړې ده، دده په صحابي کېدو کې اختلاف دی، مگر خپلدده بيان دی چې زما زېږېدنه د رسول الله ﷺ په زمانه کې وسول، ما د رسول الله ﷺ سره بيعت وکړ او رسول الله ﷺ زما سره مصافحه وکړل، د حضرت عمر، ابوذر او عائشې رضي الله عنهم ښځه يې حديث اورېدلي دي او دده ښځه مکحول او سليم بن عامر روايت کړی دی، په غضيف کې پر غين معجمه باندې ضمه، پر ضاد معجمه باندې فتحه، ياء ساکنه او په پای کې فاء ده، په ثمالي کې ثاء مضمون او ميم بېله شده دی

۷۰۲. **غيلان بن سلمه**: دده نوم غيلان دی، دسلمه زوی دی، د بنو ثقيف ښځه دی، د طائف د فتح ښځه وروسته مسلمان سوی دی او هجرت يې ونه کړ، د بنوثقيف د مشهورو کسانو ښځه دی، ډېر ښه شاعر وو، د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په آخري زمانه کې وفات سو، حضرت عبدالله بن عمر او عروه بن غيلان او نور کسان دده ښځه روايت کوي.

تابعين رحمة الله عليهم.

۷۰۳. **غالب بن ابي غيلان** : نوم يې غالب د ابوغيلان زوی دی، ده ته د خطاف القطان زوی هم ويل کيږي، بصره يې هيواد دی، د بکر بن عبدالله ښځه يې روايت کړی دی او دده ښځه ضمره بن ربيعه.

۷۰۴. **غريف بن عياش** : دغه غريف دی، د عياش بن الديلمي زوی دی، د واثله بن الاسقع ښځه روايت کوي، په اهل شامو کې شمېرل کيږي، په غريف کې پر غين معجمه باندې زور او راء مهمله زېر او په پای کې فاء ده.

۷۰۵. **ابوغالب**: د دغه ابوغالب نوم حزور د بنوباهله فرد دی، د بصرې اوسېدونکی دی، حضرت عبدالرحمن بن الحضرمي دی ازاد کړ، د ابوامامه ښځه يې روايت وکړ او د هغه

سره يې په شام کي ليدنه وکړل، خپله دده څخه ابن عينيه او حماد بن زيد روايت کوي، په حزور کي پر حاء مهمله باندي زور او زاء معجمه باندي زور، واو مشدد او په پای کي راءده.

ف - صحابه کرام رضی اللہ عنہم:

۷۰۶. **الفضل بن عباس**: دده نوم فضل، د رسول الله ﷺ د اکا، عباس رضی اللہ عنہ زوی دی، د رسول الله ﷺ سره د حنين په غزا کي شريک وو، د رسول الله ﷺ سره چي کوم خلک په دغه غزا کي ثابت قدمه پاته سول په هغوی کي دی هم وو، په حجة الوداع کي هم شريک وو، د رسول الله ﷺ د غسل پر وخت دی هم د نورو سره موجود وو، بيا شام ته د جهاد لپاره ولاړی، يوازي د ۲۱ کالو په عمر په اردن کي د طاعون عمواس په وجه په ۱۸ م هجري کال وفات سو، ويل کيږي چي د يرموک په غزا کي شهيد سو، نور هم ځيني اقوال راغلي دي، دده څخه دده ورور عبدالله بن عباس او ابوهريره رضی اللہ عنہما روايت کوي.

۷۰۷. **فضاله بن عبيد** رضی اللہ عنہ: د اوس قبيلې څخه دی، انصاري دی، د احد په غزا کي يې ګډون وکړ، په بيعت تحت الشجرة کي يې د رسول الله ﷺ په لاس بيعت وکړ، بيا شام ته منتقل سو او په دمشق کي هستوګن سو، د حضرت معاويه رضی اللہ عنہ له خوا په دمشق کي د فصل خصومات کار يې کوی، دا هغه زمانه ده کله چي حضرت معاويه رضی اللہ عنہ د جنګ صفين دپاره تشريف وړی، د حضرت معاويه رضی اللہ عنہ په زمانه کي وفات سو، ويل کيږي چي په ۵۳م هجري کال کي وفات سو، دده څخه دده ازاد سوی غلام ميسره او نور خلک روايت کوي، په فضاله کي فاء او ضاد معجمه باندي زور او په عبيد کي پر عين مهمله باندي ضمه ده.

۷۰۸. **الفجيع بن عبدالله** رضی اللہ عنہ: نوم يې فجيع، دعبدالله زوی د بنوعامر څخه دی، د رسول الله ﷺ په خدمت کي د خپل قوم سره حاضر سو او د رسول الله ﷺ څخه يې حديثونه اورېدلي دي، وهب بن عقبه دده څخه روايت کوي، په الفجيع کي پر فاء باندي ضمه او پر جيم باندي فتحه، ياء ساکنه او تر هغه لاندي دوه ټکي او په پای کي عين مهمله دی.

۷۰۹. **فروه بن مسيک**: دغه فروه دی، دمسيک زوی دی، مرادي او غطيفي او داهل يمن څخه دی، د رسول الله ﷺ په خدمت کي په نهم هجري کال حاضر سو او مسلمان سو، کوفې ته منتقل سو. د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کي په کوفه کي اوسېدی، دده څخه شعبي او نور کسان روايت کوي، دخپل قوم د اشرافو او غوره خلکو څخه دی، غوره شاعر وو، په مسيک کي پر ميم باندي ضمه او پر سين مهمله باندي فتحه او تحية ساکن

او په پای کي کاف دی.

۷۱۰. **فروه بن عمرو**: دغه فروه دی د عمرو زوی دی، بیاضي او انصاري دی، د بدر په غزا کي شریک سو، تر دې وروسته په نورو غزاوو کي هم شریک وو، دده څخه ابو حازم تمار روایت کوي.

۷۱۱. **فیروز الدیلمي**: دغه فیروز دیلمي دی، ده ته حمیري ویل کیږي ځکه چي ده په حمیر قبیله کي قیام کړی وو، په اصل کي فارسي الاصل دی، د صنعاء اوسېدونکی دی، د هغه خلګو څخه دی چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي د وفد په توګه حاضر سو، د اسود عنسي کذاب قاتل دی، چي د رسول الله ﷺ د ژوند مبارک په اخري ورځو کي قتل کړل سو، او دده خبر رسول الله ﷺ ته په مرض الموت کي ورکړل سو، د فیروز دوه زامن ضحاک او عبد الله دده څخه روایت کوي، د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو، په العنسي کي پر عین باندي زور، نون ساکن او سین مهمله دی.

تابعین رحمة الله علیهم.

۷۱۲. **الفرافصه بن عمیر**: دده نوم فرافصه دی د عمیر زوی دی، د بنو حنیف څخه دی، د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه یې روایت کړی دی او دده څخه قاسم بن محمد او نور کسان روایت کوي، په الفرافصه کي دوې فاوي او راء غیر مشدد او صاد غیر منقوط دی، د محدثینو په نزد اوله فاء په فتحه سره ویل کیږي مګر ابن حبیب وایي چي په عربو کي فرافصه کله نوم وي نو اوله فاء به مضموم وي یوازي فرافصه بن الاحوص ددې څخه مستثنی دی، ددې معنی داده چي فرافصه بن عمیر د ابن حبیب د تحقیق مطابق د فاء په ضمه سره ویل کیږي، د اهل لغت په نزد دغه لفظ په هیڅ ځای کي د فاء په فتحه سره نه دی.

۷۱۳. **فروه بن نوفل**: د بنو اسجع څخه دی، په اهل کوفه کي شمېرل کیږي، د خپل پلار او عائشي رضی الله عنها څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه ابو اسحاق همداني او بلال بن یسار روایت کوي.

۷۱۴. **ابن الفرک**: کنیت یې ابن الفرک او نوم یې احمد بن زکریا بن فارس دی، د لغت ماهر دی، په همدان کي هستوګن وو، د اهل علم سردار وو، په بلاد الجبل کي د هستوګني په وخت کي یې اتقان العلم، ظرف الکتاب والشعراء مضامین جمع کړل، دده پلار ته فراس او فرسي ویل کیږي، دده د رسول الله ﷺ سره یو ځای کېدل ثابت دي، په الفراس کي

پر فاء باندي کسره او راء بېله شده او سين غير منقوط دی .

صحابي ښځي

۷۱۵. **فاطمة الكبرى** ﷺ: دغه فاطمه الکبری د رسول الله ﷺ لور ده، ددې مور محترمه بي بي خديجه ﷺ ده، د يوه روايت مطابق د رسول الله ﷺ تر ټولو کشره لور ده، د دنيا او آخرت د ټولو ښځو سرداره ده، په اول هجري کال د رمضان په مياشت کي ددې نکاح د حضرت علي بن ابي طالب ﷺ سره وسول، او په ذي الحجه کي رخصتي په عمل کي راغلل، ددې څخه د حضرت علي ﷺ درې زامن، حضرت حسن، حضرت حسين او محضرت محسن ﷺ او درې لوڼي: زينب، ام کلثوم، او رقيه پيدا سوې، په مدينه کي د رسول الله ﷺ د وفات څخه شپږ مياشتي وروسته وفات سول، او د يوه روايت مطابق درې مياشتي وروسته، هغه وخت يې عمر ۲۸ کاله وو، حضرت علي ﷺ غسل ورکړ او حضرت عباس ﷺ يې د جنازې لمونځ ورکړ، د شپې دفن کړل سول، ددې څخه حضرت علي بن ابي طالب ﷺ او ددې دواړه زامن حضرت حسن او حضرت حسين ﷺ او د دوی څخه ماسوا نور ډېر صحابه کرام روايت کوي، بي بي عائشه ﷺ فرمايي: د رسول الله ﷺ څخه ماسوا ما هيڅوک تر دې زيات رېښتونی نه دی ليدلی ، هغې وفرمايل: کله چي به د هغوی دواړو په منځ کي پر يوه خبره خفگان وو نو ما به ويل چي اې د الله رسوله! ددې څخه پوښتنه وکړه ځکه چي دا درواغ نه وايي .

۷۱۶. **فاطمه بنت ابي حبيش**: دغه فاطمه د ابو حبيش لور ده چي په استحاضه کي اخته سوې وه، ددې څخه عروه بن زبير او ام سلمه روايت کوي، دغه فاطمه د عبد الله بن حجش ښځه وه ، حبيش د حبش تصغير دی .

۷۱۷. **فاطمه بنت قيس**: دغه فاطمه د قيس لور ده ، د ضحاک خور ده د قريشو څخه ده، د اولو مهاجرينو څخه ده، ډېرو خلگو ددې څخه روايت کړی دی ، نېک خويه، پوهه او باکماله ښځه ده، مخکي د ابو عمرو بن حفص په نکاح کي وه وروسته هغه طلاق ورکړ نو رسول الله ﷺ ددې نکاح د اسامه بن زيد ﷺ سره وکړل ، زيد د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام وو.

۷۱۸. **الفريعة بنت مالک**: ددې نوم فريعه دی، د مالک بن سنان لور د او د ابو سعيد خدري ﷺ خور ده، په بيعت الرضوان کي حاضره وه، د بيعت الرضوان د پېښي روايت دې

کړی دی، ددې حدیثونه په اهل مدینه کي دي، بي بي زینب بنت کعب بن حجره ددې څخه روایت کوي ، په الفريعه کي پر فاء باندي ضمه ، پر راء باندي فتحه ، ياء ساکنه او عين مهمله دی.

۷۱۹. **ام الفضل**: دغه ام الفضل لبابه ده، د حارث لور ده او د بنو عامر څخه ده، د حضرت عباس بن عبدالمطلب ښځه او د هغه د اکثرو اولادو مور ده، د ام المؤمنين بي بي ميمونې خور ده، ويل کيږي چي د بي بي خديجې ﷺ څخه وروسته تر ټولو ښځو مخکي دې ايمان راوړ، د رسول الله ﷺ څخه ډېر حديثونه روايت کوي .

۷۲۰. **ام فروه** : دغه ام فروه انصاريه ده، د بيعت کوونکو څخه ده، قاسم بن غنام ددې څخه روايت کوي .

تابعي ښځي

۷۲۱. **فاطمة الصغرى** : دغه فاطمة الصغرى ده، د حضرت حسين بن علي بن ابي طالب لور ، قريشيه هاشميه ده، ددې نکاح د حضرت حسن بن حسن بن علي بن ابي طالب سره وسول، کله چي هغه وفات سو نو عبدالله بن عمرو بن عثمان بن عفان ورسره نکاح وکړل .

ق - صحابه کرام ﷺ :

۷۲۲. **قبيصه بن ذويب** : دغه قبيصه دی د ذويب زوی او د بنو خزاعه څخه دی، د هجرت په اول کال پيدا سو ، ويل کيږي چي دغه قبيصه د رسول الله ﷺ په خدمت کي راوستل سو او رسول الله ﷺ ورته دعاء وکړل ځکه دی لوی عالم او فقيه وو . ابوالزناد وايي : څلور کسان په مدينه کي مشهور فقيه وه: ابن مسيب، عروه بن زبير، عبدالملک بن مروان، قبيصه بن ذويب، دی د ابوهريره، ابودرداء او زيد بن ثابت ﷺ څخه روايت کوي او دده څخه امام زهري او نور حضرات روايت کوي، په ۸۶ م هجري کال کي وفات سو ، دا د ابن عبدالبر رايه ده چي هغه په خپل کتاب کي درج کړې ده او دی يې په صحابوو کي شامل کړی دی، نورو حضراتو په صحابوو کي نه دی شامل کړی دی، بلکه د شام د تابعينو په دوهمه طبقه کي يې شامل کړی دی، په قبيصه کي پر قاف باندي زور او باء موحده لاندي زېر او ذويب د ذئب تصغير دی .

۷۲۳. **قبيصه بن مخارق**: دغه قبيصه د مخارق زوی دی، د بنو هلال څخه دی، د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، دده شمېر په اهل بصره کي کيږي، دده څخه دده زوی قطن

او ابوعثمان نهدي او نور کسان روایت کوي، په مخارق کي پر میم باندي ضمه، خاء معجمه او راء او قاف دی.

۷۲۴. **قبيصه بن وقاص**: دغه قبیصه د وقاص سلمي زوی دی، په بصره کي هستوګن سو په اهل بصره کي شمېرل کیږي، دده څخه صالح بن عبید روایت کوي.

۷۲۵. **قتاده بن النعمان**: دغه قتاده د نعمان زوی دی د انصارو څخه دی، په بیعت عقبه او د بدر په غزا کي د شرکت په وجه عقبي او بدري ورته ویل کیږي، تر دې وروسته په ټولو غزاوو کي شریک وو، دده څخه دده اخیافي ورور ابوسعید خدري رضي الله عنه، دهغه زوی او نور کسان روایت کوي، په ۲۳ م هجري کال د ۵۶ کالو په عمر وفات سو، حضرت عمر رضي الله عنه د جنازې لمونځ ورکړ، د سترو صحابه کرامو څخه دی.

۷۲۶. **قدامه بن عبدالله**: نوم یې عبدالله، د عبدالله زوی او د بنو کلاب څخه دی، پخواني مسلمان دی، په مکه کي هستوګن سو او هجرت یې ونه کړ، په حجة الوداع کي حاضر وو، د خپلي قافلې سره په بدر کي تم سوو، دده څخه ایمن بن نائل او نور کسان روایت کوي، په قدامه کي پر قاف باندي ضمه او دال مهمله بلا تشدید دی.

۷۲۷. **قدامه بن مظعون**: دغه قدامه د مظعون زوی دی، قرشي او حجمي دی، د عبدالله بن عمر ماما دی، د مکې څخه یې حبشې ته هجرت وکړ، د بدر په غزا او نورو ټولو غزاوو کي شریک وو، عبدالله بن عمر او عبدالله بن عامر دده څخه روایت کوي، په ۳۲ م هجري کال کي د ۶۸ کالو په عمر وفات سو.

۷۲۸. **قطبه بن مالک**: د بنو ثعلب څخه دی، د کوفې اوسېدونکی دی، صحابي دی دده څخه دده وراره زیاد بن علاقه روایت کوي.

۷۲۹. **قيس بن ابي غرزه**: نوم یې قیس، د ابي غرزه زوی دی، غفاري دی، په اهل کوفه کي شمېرل کیږي، دده څخه ابووائل شقیق بن سلمه روایت کوي او دده څخه یوازي یو روایت د تجارت په بیان کي راغلی دی، په غرزه کي پر غین معجمه باندي فتحه او پر راء مهمله باندي فتحه او د هغه څخه وروسته پر زاء معجمه باندي فتحه ده.

۷۳۰. **قيس بن سعد**: دغه قیس د سعد بن عباده زوی دی، کنیت یې ابوعبدالله دی، خزرجي او انصاري دی، د رسول الله ﷺ د سترو صحابه کرامو څخه وو، جلیل القدر، صاحب رایه او په جنګي چارو کي صاحب تدبیر وو، په خپل قوم کي شریف وو، کله چي رسول الله ﷺ مکې ته راغلی نو د رسول الله ﷺ په نزد دده هغه درجه وه کوم چي د یو امیر

په نزد د قومندانوي، د حضرت علي رضي الله عنه له خوا د مصر والي وو، د حضرت علي رضي الله عنه تر شهادت پوري ورسره ملګری وو، په مدينه منوره کي په ۶۰ م هجري کال وفات سو، يوه ډله دده څخه روايت کوي، د قيس بن سعد، عبدالله بن زبير، قاضي شريح او احنف ددغو ټولو مُخان د ږيرتانو څخه خالي وه او د هيچا ږيره نه وه مګر قيس بيا هم ښکلی وو.

۷۳۱. **قيس بن عاصم**: دده نوم قيس د عاصم زوی وو، ابوقبيصه يې کنيت وو، ابن عبدالبر وايي: مشهوره داده چي کنيت يې ابوعلي تميمي وو، د تميم د وفد سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او په نهم هجري کال يې اسلام قبول کړ، کله چي رسول الله ﷺ ولېدی نو وه يې فرمايل چي دی سردار دی، هوښيار او بردبار وو، په بردباری کي مشهور وو، په اهل بصره کي شمېرل کيږي دده څخه دده زوی حکيم او نور کسان روايت کوي.

۷۳۲. **قرظه بن کعب**: انصاري خزرجي دی، د احد په غزا او د هغه څخه وروسته په ټولو جګړو کي يې ګډون کړی دی، لوی فاضل وو، حضرت علي رضي الله عنه د کوفې حاکم ټاکلی وو، د حضرت علي رضي الله عنه سره په ټولو جګړو کي شريک وو، په کوفه کي د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو، شعبي او نور کسان دده څخه روايت کوي، په قرظه کي قاف، راء مهمله او فاء معجمه ټولو باندي زور دی.

۷۳۳. **قره بن اياس**: دده نوم قره او د اياس زوی دی، مزني دی، په بصره کي يې هستوګنه اختيار کړې وه، دده څخه دده زوی معاويه روايت کوي، خارجيانو وژلی وو، په اياس کي همزه مکسور ده.

۷۳۴. **ابوقتاده**: نوم يې حارث دی د ربعي زوی دی، د انصارو څخه دی، د رسول الله ﷺ د خاصو سپرو څخه دی، په ۵۴م هجري په مدينه کي وفات سو، ويل کيږي چي دا صحيح نه دي بلکه د حضرت علي رضي الله عنه په خلافت کي په کوفه کي وفات سو، د حضرت علي رضي الله عنه سره په ټولو جګړو کي شريک وو، حال دا چي دده عمر ۷۰ کاله وو، دی د هغه خلګو څخه دی چي کنيت يې پر نوم غالب دی، په ربعي کي راء مکسور، باء موحده ساکنه او عين مهمله باندي کسره ده.

۷۳۵. **ابوقحافه**: نوم يې عثمان دی د عامر زوی او د ابوبکر صديق رضي الله عنه پلار دی، دده يادونه د عين په حرف کي راغلې ده.

تابعین رحمة الله علیهم .

۷۳۶. **القاسم بن محمد**: دغه قاسم د محمد بن ابي بكر الصديق رضي الله عنه زوی دی، په مدينه كي د اوو مشهورو فقهاؤ څخه يو او په سترو تابعينو كي دی، په خپله زمانه كي صاحب فضل او كمال وو، د يحيى بن سعيد قول دی چي موږ په مدينه كي هيڅوک تر لاسه نه کړ چي د قاسم بن محمد په مقابله كي فيضيلت ورکړ، نوموړي د ډېرو صحابه کرامو څخه چي په هغو كي بي بي عائشه او معاويه رضي الله عنهما هم شامل دی، روايت کړی دی او دده څخه يوه ډله روايت کوي، په ۱۰۱ هجري كال كي د ۷۰ كالو په عمر وفات سو .

۷۳۷. **القاسم بن عبدالرحمن**: دغه قاسم د عبد الرحمن زوی دی، د شام اوسېدونكی او د عبدالرحمن بن خالد ازاد سوی غلام دی، ده د امامه څخه حديث اورېدلي دي او دده څخه علاء بن حارث او نور كسان روايت کوي ، عبدالرحمن بن يزيد وايي چي ما د قاسم مولى عبدالرحمن څخه افضل هيڅوک ليدلی نه دی .

۷۳۸. **قبيصه**: دده نوم قبيصه او د دهلب زوی دی، د بنوطی څخه دی، د خپل پلار څخه يې روايت کړی دی او پلار يې صحابي دی، دده څخه سماک روايت کوي، په هلب كي پر باء باندي ضمه، لام ساكن او په پای كي باء موحده ده، خلک وايي چي هلب د هاء په فتحه او د لام په كسره سره دی تلفظ كول صحيح دی.

۷۳۹. **القعقاع بن حكيم**: دده نوم قعقاع او د حكيم زوی دی، د مدينې اوسېدونكی او تابعي دی، د جابر بن عبدالله او ابويونس څخه يې حديث اورېدلي دي ، دده څخه سعيد مقبري او محمد بن عجلان روايت کوي.

۷۴۰. **قطن بن قبيصه**: دده نوم قطن او د قبيصه زوی دی، د بنو هلال څخه دی، په اهل بصره كي شمېرل كيږي، د خپل پلار څخه روايت کوي او دده څخه حيان بن علاء ، قطن شريف سړی وو ، د سجستان حاكم ټاكل سوی وو ، په قطن كي پر قاف او طاء دواړو باندي فتحه او په پای كي نون دی.

۷۴۱. **قتاده بن دعامه**: دغه قتاده د دعامه زوی دی، دده كنيت ابو الخطاب سدوسي دی، ړوند او قوي الحفظ دی، د بكر بن عبدالله مزني ارشاد دی: د چا چي زړه غواړي چي د خپلي زمانې تر ټولو زيات قوي الحافظه سړی ووينې نو هغه دي قتاده ووينې، موږ تر ننه پوري دده څخه زيات قوي الحافظه سړی نه دی ليدلی، خپله قتاده وايي : كومه خبره

چي زما غوږ ته را ورسېږي زما زړه يې خوندي کړي، هغه وويل: هيڅ قول بېله د هغه مطابق عمل څخه مقبول نه دی ځکه د چا عمل چي ښه وي د هغه قول به د الله ﷻ په نزد مقبول وي، د حضرت عبدالله بن سرجس، انس او نورو ډېرو کسانو څخه يې روايت کړی دی او دده څخه ايوب، شعبه، ابوعوانه او نورو حضراتو روايت کړی دی، په ۱۰۷م هجري کال کي وفات سو.

۷۴۲. **قيس بن عُباد**: دغه قيس د عباد زوی دی، د بصرې اوسېدونکی دی، د بصرې په تابعينو کي د اولي طبقې تابعي دی، د صحابه کرامو د يوې ډلي څخه يې روايت کړی دی، په عُباد کي پر عين مهمله باندي پيش او پر باء موحده باندي تشديد دی.

۷۴۳. **قيس بن ابي حازم**: نوم يې قيس دی د ابي حازم دی، د احمس او بجله څخه دی، د جاهليت او اسلام دواړي زمانې يې ليدلي دي، د رسول الله ﷺ په خدمت کي د بيعت دپاره راغلی مګر هغه وخت رسول الله ﷺ وفات سوی وو، د کوفې په تابعينو کي شمېرل کېږي دده نوم د صحابوو سره ذکر کېږي حال دا چي ټولو ته اعتراف دی چي د رسول الله ﷺ لېدنه يې نه ده کړې، د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه ماسوا د پاته عشره مبشره څخه يې روايت کړی دی، د دوی څخه ماسوا د نورو ډېرو صحابوو څخه هم روايت کوي، د تابعينو يوه لويه ډله دده څخه روايت کوي، دده څخه ماسوا بل تابعي نسته چي هغه په عشره مبشره کي د نهه صحابه کرامو څخه روايت کړی وي، د نهروان په پېښه کي د حضرت علي رضي الله عنه سره وو، اوږد عمر يې وو، تر سلو کالو زيات ژوندی وو، په ۹۸م هجري کال کي وفات سو.

۷۴۴. **قيس بن مسلم**: دده نوم قيس دی د مسلم زوی دی، د بنو جديله څخه دی او د کوفې اوسېدونکی دی، د سعيد بن جبير او نورو څخه روايت کوي او دده څخه ثوري او شعبه روايت کوي، په ۱۲۰ م هجري کال کي وفات سو، په جديله کي پر ميم باندي زور او پر دال مهمله باندي زور دی.

۷۴۵. **قيس بن کثير**: دغه قيس د کثير زوی دی، د ابوالدرداء رضي الله عنه څخه يې حديث اورېدلي دي او دده څخه داؤد بن جميل روايت کوي، امام ترمذي دده حديث په خپل کتاب کي د قيس بن کثير په حواله سره تخريج کړي دي او وايي چي همدارنګه موږ ته محمود بن خداش حديث بيان کړ، حال دا چي دا د قيس په حواله سره دی نه د قيس بن کثير په ذريعه سره او همدارنګه ابوداؤد دده نوم کثير بن قياس بيان کړ، بخاري هم دده يادونه د

کثیر په باب کي کړې ده، د قیس په باب کي نه، مطلب دادی چي دغه نوم قیس بن کثیر نه دی بلکه کثیر بن قیس دی.

۷۴۶. **ابو قلابه**: په قلابه کي قاف مکسور، لام غیر مشدد او باء موحده ده، دده نوم عبدالله دی، د زید زوی دی، د بنوجرم مشهور تابعي دي، د حضرت انس رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو څخه روایت کوي او دده څخه ډېر خلک روایت کوي، سختیاني وایي: قسم په خدای! ابو قلابه ډېر عاقل او فقیه دی، په شام کي په ۱۰۲م هجري وفات سو، په جرم کي جیم مفتوح او راء مهمله ده.

۷۴۷. **ابن قطن**: نوم یې عبدالعزیز دی د قطن زوی دی، په قطن کي قاف مفتوح او طاء مهمله مفتوح ده، د جاهلیت د زمانې سړی دی، دده یادونه د دجال په قصه کي راغلې ده.

۷۴۸. **قزمان**: دا هغه قزمان دی چي په منافقت سره یې د اسلام ظهور وکړ، دده یادونه د معجزو په باب کي راغلې ده، د حنین په غزا کي د مسلمانانو له خوا شریک سو او په ډېر قوت سره یې جګړه وکړل، خلکو دده یادونه رسول الله ﷺ ته وکړل نو رسول الله ﷺ وفرمایل: پوه سئ! چي الله جل جلاله د دغه دین تائید د فاجر او فاسق په ذریعه هم کوي، ښه پوه سئ! دغه سړی په یقین سره دوږخي دی.

صحابي ښځي

۷۴۹. **قیله بنت مخرمه**: دغه قیله ده د مخرمه لور ده، د بنوتمیم څخه ده، ددې څخه د علیبه دوې لوڼي صفیه او وجیه روایت کوي، دغه دواړي ددې ربیبه (روزل سوي) دي، هغه ددې دواړو د پلار انا ده، نوموړې صحابیه ده، وجیبه او علیبه دواړه مصغر دی.

۷۵۰. **ام قیس بنت محصن**: دغه ام قیس ده د محصن لور ده، په محصن کي میم مکسور، حاء ساکن او نون دی، د بنو اسد څخه ده د عکاشه خور ده، ډېر مخکي په مکه کي مسلمانه سوې ده، د رسول الله ﷺ سره یې بیعت وکړ او بیا یې مدینې ته هجرت وکړ.

ک - صحابه کرام رضي الله عنهم:

۷۵۱. **کعب بن مالک**: دغه کعب د مالک زوی دی، انصاري او خزرجي دی، په بیعت عقبه ثانیه کي حاضر وو، په دې کي اختلاف دی چي د بدر په غزا کي شریک وو که یا، د تبوک څخه ماسوا په نورو ټولو غزاوو کي شریک وو، د رسول الله ﷺ د شاعرانو څخه دی، دی د هغه درو صحابه کرامو څخه دی چي د تبوک په غزا کي د ګډون کولو څخه پاته

سوي وه، د دوی نومونه دي: کعب بن مالک، بلال بن امیه او مراره بن ربیعه رضی اللہ عنہم، دده ځخه یوه ډله روایت کوي، په ۵۰م هجري کال کي د ۷۷ کالو په عمر کي د ړوند کېدو وروسته وفات سو.

۷۵۲. **کعب بن عجره**: دغه کعب د عجره زوی دی، بلوي دی، په کوفه کي يې هستوګنه کړې وه، په ۵۱م هجري کال کي د ۷۵ کالو په عمر په مدينه کي وفات سو، دده ځخه ځینو خلګو روایت کړی دی.

۷۵۳. **کعب بن مره**: بهزي او دبنو سليم ځخه دی، د شام په هیواد اردن کي هستوګن سو، او هم هلته په ۵۹م هجري کال کي وفات سو، دده ځخه ځینو خلګو روایت کړی دی.

۷۵۴. **کعب بن عیاض**: دغه کعب د عیاض زوی دی، اشعري دی او د اهل شامو ځخه شمېرل کيږي، دده ځخه جابر بن عبدالله او جبير بن نفير روايت کوي، په عياض کي پر عين مهمله باندي کسره او ياء مخففه لاندي دوه ټکي او ضاد معجمه دی.

۷۵۵. **کعب بن عمرو**: دغه کعب د عمرو زوی دی، انصاري او د بنو سليم ځخه دی، په بيعت عقبه او د بدر په غزا کي موجود وو، ده د بدر په غزا کي عباس بن عبدالمطلب نیولی وو، په ۵۵م هجري کال په مدينه کي وفات سو، دده ځخه دده زوی عمار او حنظله بن قيس روایت کوي.

۷۵۶. **کثیر بن صلت**: دغه کثير د صلت زوی دی، د معدي کرب لمسی دی، د کنده کورنۍ یو کس دی، د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک کي پیدا سو، خپله رسول الله ﷺ دده نوم کثير ايښود، دده پخوانی نوم قلیل وو، نوموړی د ابوبکر، عمر، عثمان او زيد بن ثابت رضی اللہ عنہم ځخه روایت کوي.

۷۵۷. **کرکره**: دغه کرکره دی، دواړه کافه مفتوح یا دواړه مکسور دي، په ځینو غزاوو کي د رسول الله ﷺ د سامان ساتونکی وو، دده یادونه په باب خلول کي راغلې ده.

۷۵۸. **کلده بن حنبل**: دده نوم کلده دی د حنبل زوی دی، د اسلم کورنۍ ځخه دی، د صفوان بن اميه حجمي اخيافي ورور دی، او د معمر بن حبيب غلام وو، هغه په بازار کي د يمن د اوسېدونکو ځخه رانيولی وو، بيا يې حليف وګرځوی او دده نکاح يې وکړل، تر وفات پوري په مکه کي وو، دده ځخه عمرو بن صفوان روایت کوي، په کلده کي پر قاف او لام باندي زور او پر دال باندي ټکي نسته.

۷۵۹. **ابو کبشه**: نوم يې عمر د سعد زوی او د بنو انمار ځخه دی، په شام کي يې هستوګنه

اختیار کړل، دده څخه سالم بن ابي الجعد او نعیم بن زیاد روایت کوي .

تابعین رحمة الله علیهم .

۷۶۰. **کعب الاحبار** : دغه کعب الاحبار د مانع زوی دی، کنیت یې ابو اسحاق دی، د کعب الاحبار په نامه مشهور دی، په اصل کي د حمیر کورنۍ څخه دی، د رسول الله ﷺ زمانه یې تر لاسه کړې ده مګر په لیدنه یې مشرف نه سو، د عمر بن الخطاب رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي مسلمان سو، د عمر، صهیب او عائشې رضی الله عنهم څخه یې روایت کړی دی ، د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي د حمص په ځای کي په ۳۲م هجري کال وفات سو .

۷۶۱. **کثیر بن عبدالله**: دغه کثیر د عبدالله بن عمرو بن عوف زوی دی، د مزینه قبیلې څخه دی، مدینې اوسېدونکی دی، د خپل پلار څخه یې حدیث اورېدلي دي، مروان بن معاویه او نور کسان دده څخه روایت کوي .

۷۶۲. **کثیر بن قیس**: دغه کثیر د قیس یا قیس بن کثیر زوی دی، دده یادونه د قاف په حرف کي راغلې ده .

۷۶۳. **کریب بن ابي مسلم**: دغه کریب د ابي مسلم زوی دی، د عبدالله بن عباس او معاویه ازاد سوی غلام دی، دده څخه یوه ډله روایت کوي.

۷۶۴. **ابوکریب بن محمد**: دغه ابوکریب د محمد بن علاء زوی دی، همداني او کوفي دی، د ابوبکر بن عباس او نورو څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه بخاري ، مسلم او نور محدثین روایت کوي، په ۲۴۸ م هجري کال کي وفات سو .

تابعي ښځي

۷۶۵. **کبشه بنت کعب**: دغه کبشه د کعب بن مالک لور ده، د عبدالله بن ابو قتاده ښځه ده، ددې حدیث د سؤر هره (د پیشي پسخورده) په بیان کي دي، دې د قتاده څخه او ددې څخه [illegible]یده بنت عبید بن رفاعه روایت کړی دی .

۷۶۶. **[illegible]ریمه بنت همام**: دغه کریمه د همام لور ده، په همام کي پر باء باندي ضمه او میم غیر مشدد دی، دا د ام المؤمنین بي بي عائشې رضی الله عنها څخه روایت کوي، ددې حدیث د خطاب په اړه دی .

۷۶۷. **ام کرز**: دغه ام کرز د بنو کعب او خزانه قبیلې څخه ده، دمکې اوسېدونکې ده، د رسول الله ﷺ څخه ډېر حدیثونه روایت کوي، ددې څخه عطاء، مجاهد او نور کسان

روایت کوي، ددې روایت د عقیقه په اړه مشهور دي، په کرز کي پر کاف باندي پیش او راء ساکنه ده، په پای کي راء معجمه ده.

۷۶۸. **ام کلثوم بنت عقبه**: دغه ام کلثوم د عقبه بن ابو معیط لور ده، په مکه کي یې اسلام راوړی دی، پر پښو یې هجرت وکړ او بیعت یې وکړ، په مکه کي ددې خاوند نه وو، کله چي مدینې ته راغلل نو حضرت زید بن حارثه ورسره نکاح وکړل، هغه د موته په غزا کي شهید سو، او د هغه وروسته یې د حضرت زبیر بن العوام سره نکاح وکړل، څه وخت وروسته هغه طلاق ورکړ نو عبدالرحمن بن عوف ورسره نکاح وکړل، د هغه څخه ددې دوه زامن ابراهیم او حمید پیدا سول، کله چي هغه وفات سو نو ددې سره عمرو بن العاص نکاح وکړل، د هغه په نکاح کي یوه میاشت پاته سوې وه چي خپله دا وفات سول، دا د حضرت عثمان بن عفان رضی اللہ عنہ اخیافي خور ده، ددې څخه ددې زوی حمید او نور کسان روایت کوي.

ل - صحابه کرام رضی اللہ عنہم:

۷۶۹. **لقیط بن عامر**: دغه لقیط د عامر بن صبره زوی دی، دده کنیت ابورزین دی، د بنو عقیل څخه دی، مشهور صحابي دی، داهل طائف څخه شمېرل کیږي، دده څخه دده زوی عاصم او ابن عمر روایت کوي، په لقیط کي پر لام باندي فتحه او پر قاف باندي کسره ده، او په صبره کي پر صاد باندي فتحه او پر باء موحده باندي کسره ده.

۷۷۰. **لقمان بن باعورا**: دغه لقمان د باعورا زوی او د حضرت ایوب علیہ السلام خریی یا د هغه د خاله زوی دی، خلک وایي چي دی د حضرت داؤد علیہ السلام په زمانه کي موجود وو، د هغه څخه یې علم تر لاسه کړ او په بني اسرائیلو کي یې د قاضي دنده سرته رسول، ویل کیږي چي دی یو حبشي غلام په سوډان کي د نوب نامي ځای اوسېدونکی وو، دا ویل کیږي چي نبي نه وو مګر یو حکیم وو، دده یادونه په کتاب الرقاق کي راغلې ده.

۷۷۱. **لبید بن ربیعه** رضی اللہ عنہ: نوم یې لبید او د ربیعه زوی دی، د بنو عامر څخه وو، شاعر وو، د رسول الله ﷺ په خدمت کي په هغه کال حاضر سو په کوم کال چي دده قوم بنو جعفر بن کلاب د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول، د جاهلیت او اسلام په دواړو زمانو کي صاحب شرف او عزت وو، په کوفه کي اوسېدی، په ۴۱م هجري کال کي د ۱۴۰ کالو په عمر وفات سو، او د یوه قول مطابق د ۱۵۷ کالو په عمر وفات سو، دده د عمر په اړه نور هم اقوال سته، نو موړی د اوږده عمر خاوند وو.

۷۷۲. **ابولبابه**: دغه ابولبابه دی، نوم يې رفاعه او د عبدالمنذر زوی دی، د انصارو د اوس څخه دی، دده کنيت پر نامه باندي غالب دی، د رسول الله ﷺ نقيب وو، په بيعت عقبه او د بدر په غزا او وروسته ټولو غزاوو کي حاضر وو، ويل کيږي چي دبدر په غزا کي شريک سوی نه وو بلکه رسول الله ﷺ د مدينې حاکم ټاکلی وو، د بدر د غازيانو په ډول دده د غنيمت برخه هم ورکړل سوې ده، د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو، دده څخه ابن عمر، نافع او نور حضرات روايت کوي.

۷۷۳. **ابن اللتبيه**: دغه ابن اللتبيه دی، دا يې کنيت دی او نوم يې عبدالله دی، نوموړی صحابي دی، دده يادونه د صدقاتو په بيان کي راغلې ده، په اللتبيه کي پر لام باندي ضمه او تاء چي پر هغه دوه ټکي دي مفتوح او باء چي تر هغه لاندي يو ټکی دی مکسور او ياء چي د هغه لاندي دوه ټکي دي مشدده ده.

تابعين رحمة الله عليهم.

۷۷۴. **ليث بن سعد**: دده نوم ليث دی د سعد زوی دی، کنيت يې ابوالحارث دی، د مصريانو فقيه دی، ويل کيږي چي دی دخالد بن ثابت فهمي ازاد سوی غلام دی، د مصر په کلي کي پيدا سو، ده د ابن مليکه، عطاء، زهري او نورو څخه روايت کړی دی او دده څخه ډېرو خلګو حديث بيان کړي دي چي په هغوی کي ابن مبارک هم دی، په ۱۶۱ م هجري کال کي بغداد ته راغلی، منصور د مصر ولايت ده ته سپارل وغوښتل مګر ده انکار وکړ او عذر يې بيان کړ، يحيی بن بکير وايي: ما د ليث بن سعد څخه زيات کامل هيڅوک نه دی ليدلی. قتيبه بن سعيد وايي چي ليث به هر کال د شلو زرو دينارو غله تر لاسه کول او پر هغه هيڅکله زکوة فرض نه سو، د شعبان په مياشت په ۱۷۵م هجري کال کي وفات سو.

۷۷۵. **ابن ابي ليلی**: نوم يې عبدالرحمن دی او يسار ابوليلی دده پلار دی، د انصارو څخه دی، دده زېږېدنه هغه وخت وسوه کله چي د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت شپږ کاله پاته وه، ويل کيږي چي په دجيل کي پيدا سو، په ۸۳م هجري کال په بصره کي په يوه وياله کي ډوب سو، دده حديثونه په اهل کوفه کي دی، په صحابوو کي د ډېرو حضراتو څخه يې حديث اورېدلي دي او دده څخه لويه ډله حديث روايت کوي، د کوفې په تابعينو کي د اولي طبقې تابعي دی، ابن ابي ليلی په ځينو ځايو کي دده زوی محمد ته هم ويل کيږي، دی د کوفې قاضي او د فقهي مشهور امام او صاحب مذهب او رايه دی، کله چي محدثين

ابن ابي ليلى بېله تصريح وايي نو عبدالرحمن مراد وي او كله چي فقهاء وايي نو محمد مراد وي، د محمد زېږېدنه په ۷۴م هجري كال سوې ده او په ۱۴۸م هجري كال كي وفات سو.

۷۷۶. **ابن لهيعه**: دغه ابن لهيعه حضرمي دی، فقيه دی دده نوم عبدالله او كنيت يې ابوعبدالرحمان دی، د مصر قاضي دی، د عطاء، ابن ابي ليلى، ابن ابي مليكه، اعرج او عمرو بن شعيب څخه روايت كوي، او دده څخه يحيى بن بكير او قتيبه مقري روايت كوي، د حديث په باب كي ضعيف دی، ابوداؤد وايي: ما د احمد بن حنبل څخه اورېدلي دي چي په مصر كي هيڅوک د حديثو په زياتوب، حفظ او پختيا كي د ابن لهيعه په ډول نه وو، په ۱۷۴م هجري كال كي وفات سو.

۷۷۷. **لبيد بن الاعصم**: دغه لبيد دی د اعصم زوی دی، يهودي دی، د بنوزريق څخه دی، ويل كيږي چي دی د يهوديانو حليف وو، دده يادونه د سحر په اړه په باب المعجزات كي راغلې ده.

۷۷۸. **ابولهب**: دغه ابولهب دی نوم يې عبدالعزی، د عبدالمطلب بن هاشم زوی دی او د رسول الله ﷺ اكا دی، جاهلي (كافر) دی، دده يادونه په كتاب الفتن كي ده.

صحابي ښځي

۷۷۹. **لبابه بنت حارث**: دغه لبابه د حارث لور ده، ددې كنيت ام الفضل دی، مخكې ددې يادونه د فاء په حرف كي راغلې ده.

م - صحابه كرام رضي الله عنهم:

۷۸۰. **مالک بن اوس**: دغه مالک د اوس بن حدثان زوی دی، د بصرې او سېدونكی دی، دده په صحابي كېدو كي اختلاف دی، ابن عبدالبر وايي: د اكثرو په نزد دده صحابي كېدل ثابت دي، ابن منده وايي چي ثابت نه دي، دده د رسول الله ﷺ څخه روايت كم دي او د صحابه كرامو څخه چي كوم روايات نقل كوي هغه زيات دي، ده د عشره مبشره څخه روايت كړی دی، حضرت عمر رضي الله عنه دده روايات زيات نقل كړي دي، يوه ډله دده څخه روايت كوي چي په هغوی كي زهري او عكرمه هم شامل دي، په مدينه منوره كي په ۵۹۲م هجري كال وفات سو، په حدثان كي پر حاء او دال دواړو باندي فتحه او ثاء مثلثه مفتوح ده

۷۸۱. **مالک بن حويرث**: د ليث كورنۍ څخه دی، د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر

سو، شل ورځي دلې وو، بیا په بصره کي هستوګن سو، دده څخه دده زوی عبدالله او ابوقلابه روایت کوي، په ۹۴ م هجري کال په بصره کي وفات سو.

۷۸۲. **مالک بن صعصعه**: دغه مالک د صعصعه زوی دی، د انصارو څخه دی، بنومازن دده کورنۍ او هیواد یې مدینه دی، بیا یې په بصره کي هستوګنه اختیار کړل، دده څخه د حدیثو روایت کم دی.

۷۸۳. **مالک بن هبیره**: دغه مالک د هبیره زوی دی، د سکوني او بنو کنده څخه دی، په اهل شام کي شمېرل کیږي، ځیني یې په اهل مصر کي شمېري، دده څخه مرثد بن عبدالله روایت کوي، د حضرت معاویه رضی الله عنه له خوا د فوج امیر وو، د روم په جګړه کي هم دی امیر وو، په مرثد کي پر میم باندي راء ساکنه او ثاء مثلثه ده.

۷۸۴. **مالک بن یسار**: دغه مالک د یسار زوی دی، سکوني او عوفي دی، په اهل شامو کي شمېرل کیږي، ابونجده دده څخه روایت کوي، دده په صحابي کېدو کي اختلاف دی، په سکونی کي پر سین باندي فتحه او کاف او نون دی.

۷۸۵. **مالک بن تیهان**: دغه مالک د تیهان زوی دی، کنیت یې ابوالهثیم دی، د انصارو څخه دی، په بیعت عقبه کي حاضر وو، دی د دوولسو نقیبانو څخه دی، د بدر په غزا او نورو ټولو غزاوو کي شریک وو، دده څخه ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي، د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي په مدینه منوره کي په ۲۰ م هجري کال وفات سو، دا هم ویل کیږي چي په ۳۹ م هجري کال د صفین په جګړه کي شهید سو، ددې څخه ماسوا نور اقوال هم دي، په ابوالهثیم کي پر هاء باندي فتحه، یاء ساکنه او ثاء مثلثه ده، په التیهان کي پر تاء باندي فتحه، پر یاء باندي تشدید او په آخر کي نون دی.

۷۸۶. **مالک بن قیس**: دغه مالک د قیس زوی دی، دده کنیت ابوصرمه دی، په کنیت سره مشهور دی، دده یادونه د صاد په حرف کي راغلې ده.

۷۸۷. **مالک بن ربیعه**: دغه مالک د ربیعه زوی دی، کنیت یې ابواسید دی، په کنیت سره مشهور دی، دده یادونه په الف کي راغلې ده.

۷۸۸. **ماعز بن مالک** رضی الله عنه: دغه ماعز د مالک زوی دی، اسلمي دي او په اهل مدینه کي شمېرل کیږي، دا هغه صحابي دی چي رسول الله ﷺ د زنا په حد کي رجم کړی وو، دده څخه دده زوی عبدالله یوازي یو روایت کړی دی.

۷۸۹. **مطر بن عکامس**: دغه مطر د عکامس زوی دی، سلمي دی او په اهل کوفه کي

شمېرل کېږي، دده څخه یو روایت منقول دی، د ابو اسحاق سبیعي څخه ماسوا بل چا دده څخه روایت نه دی کړی، په عکامس کي پر عین باندي پېښ او غیر مشدد دی، پر میم باندي کسره او په پای کي سین غیر منقوطه دی.

۷۹۰. **معاذ بن انس**: دغه معاذ د انس زوی دی، د جهینه کورنۍ څخه دی، په اهل مصر کي شمېرل کېږي، هلته یې حدیثونه تر لاسه کېږي، دده زوی سهل دده څخه روایت کوي.

۷۹۱. **معاذ بن جبل** رضی اللہ عنہ: دغه معاذ د جبل زوی دی، ابو عبدالله یې کنیت دی، انصاري او خزرجي دی، د انصارو څخه د هغو اویا کسانو څخه یو دی چي په بیعت عقبه ثانیه کي حاضر سوی وو، د بدر په غزا او نورو غزاوو کي حاضر وو، رسول الله ﷺ د قاضي او ښوونکي په حیثیت یمن ته استولی وو، دده څخه عمرو ابن عباس او نور ډېر کسان روایت کوي، د ۱۸ کالو په عمر مسلمان سو، دا د ځینو قول دی، حضرت عمر رضی اللہ عنہ د ابو عبیده بن جراح رضی اللہ عنہ څخه وروسته د شام حاکم ټاکلی وو او په هغه کال د ۳۸ کالو په عمر په طاعون عمواس کي وفات سو، نور اقوال هم دده په اړه نقل سوي دي.

۷۹۲. **معاذ بن عمرو بن جموح** رضی اللہ عنہ: دغه معاذ د عمرو بن جموح زوی دی، انصاري خزرجي دی، په بیعت عقبه او بدر په غزا کي خپله دی او دده پلار عمرو رضی اللہ عنہ شریک وه، دا هغه صحابي دی چي د معاذ بن عفراء په ملګرتیا کي یې ابوجهل وژلی وو، دده یادونه په باب قسمة الغنائم کي راغلې ده، د ابن عبدالرحمن او ابن اسحاق روایت دی چي معاذ بن جبل د ابو جهل پښه پرې کړې وه او هغه یې پر مځکه را غورځولی وو، هغوی دا هم وایي چي کرمه د ابو جهل زوی د معاذ بن عمرو رضی اللہ عنہ پر لاس باندي د توري وار وکړ او هغه یې بیل کړی وو، ددې وروسته معاذ بن عفراء پر ابو جهل د توري حمله وکړل تر دې چي هغه یې مړ کړ، لږ ساه یې پاته وه چي هغه یې پرېښودل، کله چي رسول الله ﷺ په وژل سوو کسانو کي د ابو جهل د پلټنې لپاره ابن مسعود رضی اللہ عنہ ته حکم وکړ نو دی ابو جهل ته راغلی او د هغه سر یې د بدن څخه جلا کړ، د هغه څخه عبدالله بن عباس رضی اللہ عنہ روایت کوي، د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کي وفات سو.

۷۹۳. **معاذ بن حارث**: دغه معاذ د حارث بن رفاعه زوی دی، انصاري او زرقي دی، عفراء دده مور ده او هغه د عبید بن ثعلبه لور ده، دی او رافع بن مالک د خزرج قبیلې د انصارو څخه تر ټولو مخکي مسلمان سو، د بدر په غزا کي د خپلو دواړو وروڼو عوف او معوذ په ملګرتیا کي شریک سو، دده دواړه وروڼه په بدر کي شهیدان سول، د ځینو د قول

مطابق دی د بدر څخه ماسوا په نورو ټولو غزاوو کي هم شریک سو، ځیني وایي چي په بدر کي ژوبل سوی وو او د هغه زخمونو په وجه په مدینه کي وفات سو، دا هم ویل کیږي چي د حضرت عثمان رضی الله عنه تر زمانې پوري ژوندی وو، دده څخه ابن عباس او ابن عمر رضی الله عنهما روایت کوي، په عفراء کي عین مهمله مفتوح او فاء ساکنه او الف ممدوده دی.

۷۹۴. **معوذ بن حارث** رضی الله عنه: دغه معوذ د حارث زوی دی او عفراء دده مور ده، دی په بدر کي شریک وو، دا هغه دی چي دخپل ورور په ملګرتیا کي یې ابوجهل وژلی وو، دوی دواړه کښت کوونکي او باغوانان وه، په بدر کي یې جګړه وکړل او هلته یې د شهادت درجه تر لاسه کړل، په معوذ کي میم مضمون او پر عین باندي فتحه او واو باندي کسره ده او ذال معجمه دی.

۷۹۵. **مسطح بن اثاثه**: دغه مسطح د اثاثه بن عباده بن عبدالمطلب بن عبدمناف زوی دی، د قریشو او بنو عبدالمطلب څخه دی، د بدر، احد او نورو غزاوو کي شریک وو، دا هغه صحابي دی چي د افک په پېښه کي د عائشې رضی الله عنها په اړه په بدګمانۍ کي شریک وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم چي کومو کسانو ته د تهمت ویلو په وجه سزاورکړل په هغوی کي دی هم شامل دی، ویل کیږي چي مسطح دده لقب دی او نوم یې عوف دی، ابن عبدالبر ویلي دي: په دې کي اختلاف نسته چي دی په ۳۴م هجري کال کي د ۵۶ کالو په عمر وفات سو، په مسطح کي میم مکسور، سین ساکن، پر طاء مهمله باندي فتحه او حاء مهمله ده، په اثاثه کي پر همزه باندي ضمه، اوله ثاء غیر مشدده ده او په عباد کي باء مشدده ده.

۷۹۶. **مسور بن مخرمه**: دغه مسور د مخرمه زوی دی، کنیت یې ابوعبدالرحمن دی، زهري او قرشي دی، د عبدالرحمن بن عوف خوریی دی، د هجرت نبوي او وصال څخه وروسته په مکه کي پیدا سو، په اتم هجري کال مدینې منورې ته راغلی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې حدیث اورېدلي دي او یاد کړي یې دي، لوی فقیه او صاحب فضل وو، د حضرت عثمان رضی الله عنه تر شهادت پوري په مدینه کي وو او بیا مکې ته ولاړی، د حضرت معاویه رضی الله عنه تر وفات پوري په مکه کي وو، ده د یزید بیعت خوښ نه کړ مګر بیا هم په مکه کي وو، تر دې چي یزید لښکر واستوی او مکه یې محاصره کړل، هغه وخت ابن زبیر رضی الله عنه په مکه کي موجود وو، په دغه محاصره کي مسور بن مخرمه د منجنیق څخه په یوې ویشتل سوي ډبري ولګېدی او هغه وخت ده په حجره کي لمونځ کوی چي په حق ورسېدی، دغه پېښه د ربیع الاول د میاشتي د ۲۴م هجري کال ده، دده څخه ډېرو خلکو روایت کړی دی، په مسور

کي میم مکسور، سین مهمله ساکن او واو مفتوح دی، په مخرمه کي میم مفتوح ، خاء معجمه ساکن او راء مفتوحه ده.

۷۹۷. **مسیب بن حزن**: دغه مسیب د حزن زوی دی، کنیت یې ابوسعید قرشي او مخزومي دی، د خپل پلار حزن سره یې هجرت وکړ، مسیب په هغه خلګو کي دی چي په بیعت رضوان کي شریک وه، د خپل پلار څخه روایت کوي، په اهل حجاز کي دده حدیث تر لاسه کیږي، دده څخه دده زوی سعید بن مسیب روایت کوي، په مسیب کي میم مضمون، سین مفتوح او یاء مشدده مفتوح ده، په حزن کي حاء مهمله مفتوح ، زاء ساکنه او په پای کی نون دی.

۷۹۸. **مستورد بن شداد**: دغه مستورد د شداد زوی دی، فهري او قرشي دی، په اهل کوفه کي شمېرل کیږي، وروسته په مصر کي هستوګن سو او په هغوی کي شمېرل کیدی، ویل کیږي چي په کومه ورځ رسول الله ﷺ وفات سو هغه وخت دی ماشوم وو، مګر د رسول الله ﷺ څخه یې حدیث اورېدلي دي او هغه یې یاد کړل، دده څخه یوه ډله روایت کوي.

۷۹۹. **مغیره بن شعبه** : دغه مغیره د شعبه زوی او ثقفي دی، د خندق د غزا په کال مسلمان سو او په هجرت مدینې ته راغلی، په کوفه کي پروت وو او هلته په ۵۰ م هجري کال د ۷۰ کالو په عمر وفات سو، هغه وخت د حضرت معاویه بن ابي سفیان له خوا امیر وو. ځیني کسان دده څخه روایت کوي.

۸۰۰. **مقدام بن معدیکرب**: دغه مقدام د معدیکرب زوی دی، کنیت یې ابوکریمه دی او کندي دی، په اهل شامو کي شمېرل کیږي، هلته یې حدیث تر لاسه کیږي، دده څخه ډېرو خلګو روایت کړی دی، په شام کي په ۸۷ هجري کال د ۹۱ کالو په عمر وفات سو.

۸۰۱. **مقداد بن اسود**: دغه مقداد د اسود زوی دی او کندي دی. ددې وجه دا وه چي دده پلار د بنو کنده سره عهد کړی وو ځکه کنده ته منسوب سو، د ابن اسود د ویلو وجه داده چي دی د اسود حلیف یاد هغوی روزل سوی وو، ویل کیږي چي دا خبره نه وه بلکه دی د اسود غلام وو هغه په زوی نیولی وو، دی په اسلام راوړونکو کي شپږم کس دی، دده څخه علي ﷺ، طارق بن شهاب او نور کسان روایت کوي، په جرف نامي ځای کي وفات سو، خلګو د هغه ځای څخه راوړ او په بقیع کي په ۳۳ م هجري کال یې دفن کړل، هغه وخت یې عمر ۷۰ کاله وو.

۸۰۲. **مهاجر بن خالد**: دغه مهاجر د خالد بن ولید بن مغیره زوی دی، مخزوني او قریشي دی، دی او دده ورور عبدالرحمن دواړه د رسول الله ﷺ په زمانه کي کوچنیان وه، په دوی دواړو کي اختلاف وو، دی خپله د حضرت علي رضي الله عنه له خوا وو، او عبدالرحمن د حضرت معاویه رضي الله عنه ملگری وو، ابوعمر وایي چي خلگ وایي: په جنگ جمل کي دده ستر گه چاودلې وه، د صفین په جنگ کي شهید سو او تر شهادت پوري د علي رضي الله عنه ملگری وو.

۸۰۳. **مهاجر بن قنفذ**: دغه مهاجر د قنفذ زوی دی، قرشي او تمیمي دی، ویل کیږي چي مهاجر او قنفذ دواړه لقبونه دي، اصل نوم یې عمرو بن خلف دی، مسلمان سو او د رسول الله ﷺ په خدمت کي په هجرت کولو سره حاضر سو، رسول الله ﷺ وفرمایل: دی حقیقي مهاجر دی، ویل کیږي چي د مکې د فتح په ورځ مسلمان سو او په بصره کي پاته سو او هم هلته وفات سو، دده څخه ابوساسان حضین بن منذر روایت کوي، په قنفذ کي پر قاف باندي ضمه، نون ساکن، فاء او ذال معجمه دی، په ساسان کي دواړه سینونه بېله ټکو دي، او په حصین کي حاء مهمله مضموم او ضاد معجمه مفتوح او د باء څخه وروسته نون دی.

۸۰۴. **معیقیب بن ابي فاطمه**: دغه معیقیب د ابوفاطمه زوی دی، دوسي دی او د سعید بن ابي العاص ازاد سوی غلام دی، د بدر په غزا کي شریک وو، ډېر مخکي په مکه کي مسلمان سوی وو، دوهم هجرت په حبشه کي ده هم وکړ او د رسول الله ﷺ مدینې ته تر شریف راوړلو پوري په حبشه کي وو، د رسول الله ﷺ د مهر پر ساتنه مامور وو، ابوبکرصدیق او حضرت عمر رضي الله عنهما د بیت المال مشر ټاکلی وو، دده څخه محمد، ایاس بن حارث او نور کسان روایت کوي، په ۴۰ م هجري کال کي وفات سو.

۸۰۵. **معقل بن یسار** رضي الله عنه: دغه معقل د یسار زوی دی او مزني دی، په بیعت الرضوان کي ده هم بیعت وکړ، په بصره کي اوسېدی، د بصرې نهر معقل ده ته منسوب دی، دده څخه حسن او یوه ډله روایت کوي، د عبید الله بن زیاد په امارت کي په ۶۰ م هجري کال وفات سو، ویل کیږي چي د حضرت معاویه رضي الله عنه په زمانه کي وفات سو.

۸۰۶. **معقل بن سنان**: دغه معقل د سنان زوی دی او اشجعي دی، د مکې په فتح کي شریک وو، په کوفه کي هستوگن وو په اهل کوفه کي ده روایت تر لاسه کیږي، د حره په جگړه کي په تړلو سره ووژل سو، دده څخه ابن مسعود، علقمه، حسن، شعبي او نور کسان روایت کوي، په معقل کي پر میم باندي زور، عین ساکن او قاف مکسور دی.

۸۰۷. **معن بن عدي**: دغه معن د عدي زوی دی، بلوي دی، د عاصم ورور دی، د بدر په

غزا کي او په وروسته غزاوو کي شریک وو، د یمایمه په جګړه کي د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کي شهید سو، رسول الله ﷺ ده او زید بن خطاب په منځ کي ورورګلوي قائمه کړې وه، د یمامه په جګړه کي دواړه یو ځای ووژل سول.

۸۰۸. **معن بن یزید**: دغه معن د یزید بن اخنس زوی او سلمي دی، دی خپله صحابي دی او ده پلار او نیکه هم صحابیان وه، د بدر په غزا کي شریک وو، په اهل کوفه کي شمېرل کیږي، ده څخه وائل بن کلاب روایت کوي.

۸۰۹. **مجمع بن جاریه**: دغه مجمع د جاریه زوی او انصاري مدني دی، د مسجد ضرار په منافقینو کي ده پلار هم شامل وو، مګر مجمع خپله سم سړی وو، قاري وو، ویل کیږي چي ابن مسعود رضی اللہ عنہ ده څخه نیم قرآن تر لاسه کړی وو، ده څخه ده وراره عبدالرحمن بن یزید او نور کسان روایت کوي، د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د خلافت په آخري زمانه کي وفات سو، په مجمع کي پر میم باندي پېښ او پر جیم باندي زور او دوهم میم مشدد او مکسور دی، په پای کي یې عین مهمله دی.

۸۱۰. **محجن بن ادرع**: دغه محجن د ادرع زوی او اسلمي دی، قدیم الاسلام دی، په اهل بصره کي شمېرل کیږي، ده څخه حنظله بن علي، رجاء او سعید بن ابي سعید روایت کوي، اوږد عمر یې وو. ویل کیږي چي د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ په آخري ورځو کي وفات سو، په محجن کي پر میم باندي زبر، حاء مهمله ساکنه او پر جیم باندي زور او په اخر کي نون دی.

۸۱۱. **مخنف بن سلیم**: دغه مخنف د سلیم زوی او غامدي دی، حضرت علي رضی اللہ عنہ د اصفهان حاکم کړی وو، ده څخه ده زوی او ابورمله روایت کو ي، په اهل بصره کي شمېرل کیږي، په مخنف کي پر میم باندي زبر، خاء معجمه ساکنه او پر نون باندي زبر دی، په پای کي فاء ده.

۸۱۲. **مدعم**: دغه مدعم د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام دی، حبشي غلام وو، مخکي د رفاعه بن زید غلام وو، هغه د تحفې په توګه د رسول الله ﷺ په خدمت کي وړاندي کړ، ده څخه قیس بن ابي حازم یوازي یو حدیث روایت کړی دی، د هغه حدیث څخه ماسوا ده بل حدیث نسته.

۸۱۳. **مرداس بن مالک**: دغه مرداس د مالک زوی او اسلمي دی، دی په اصحاب شجره کي وو، په اهل کوفه کي شمېرل کیږي، ده څخه قیس بن ابي حازم یوازي یو حدیث

روایت کړی دی، د هغه حدیث څخه ماسوا دده بل حدیث نسته.

۸۱۴. **محیصه بن مسعود**: دغه محصیه د مسعود زوی، انصاري او حارثي دی، په اهل مدینه کي شمېرل کیږي او په هغوی کي دده حدیثونه تر لاسه کیږي، د اُحد، خندق او نورو ټولو غزاوو کي شریک وو، دده څخه دده زوی سعید روایت کوي، په محیصه کي پر میم باندي پېښ او حاء غیر منقوطه باندي زور او یاء مشدد باندي زېر او صاد غیر منقوطه باندي زور دی.

۸۱۵. **مخارق بن عبدالله**: دغه مخارق د عبدالله زوی دی، په اهل کوفه کې شمېرل کیږي، دده په حدیث کي اختلاف دی، دده څخه دده د زوی قابوس ماسوا بل چا روایت نه دی کړی.

۸۱٦. **مخرفه عبدي**: دده په نامه کي اختلاف دی، ځینو ویلي دي چي مخرمه دی، اول قول د اکثرو دی، دده څخه سوید بن قیس روایت کړی دی، دده یادونه د سوید په حدیث کي ده.

۸۱۷. **مجاشع بن مسعود**: دغه مجاشع د مسعود زوی دی، سلمي دي، دده څخه ابو عثمان نهدي روایت کړی دی، د صفر په میاشت کي په ۳٦م هجري کال د جمل په جګړه کي شهید سو، دده حدیث په اهل بصره کي دي.

۸۱۸. **مراره بن ربیع** رضي الله عنه: دغه مراره د ربیع زوی دی، عامري او انصاري دی، د بدر په غزا کي شریک او حاضر وو، د تبوک د غزا څخه د پاته کېدونکو درو صحابوو څخه دی هم دی، دده توبه قبوله سول، دده په اړه د قرآن کریم آیت نازل سو، په مراره کي پر میم باندي پېښ دی.

۸۱۹. **معصب بن عمیر** رضي الله عنه: دغه معصب د عمیر زوی دی، قرشي او عدوي دی، بزرګ او د سترو صحابه کرامو څخه دی، اول یې حبشې ته هجرت وکړ بیا په بدر کي شریک سو، د رسول الله ﷺ د بیعت عقبه ثانیه څخه وروسته مدینې ته استولی وو چي د مدینې خلګو ته قرآن او دین وښیي، تر ټولو مخکي ده په مدینه کي جمعه قائمه کړل، د جاهلیت په زمانه کي یې ډېر د آرام ژوند کوی، کله چي مسلمان سو نو ددنیا څخه بېزاره سو، د هغه نتیجه دا سول چي ټول پوست یې د مار په ډول وشوړېدی، ویل کیږي چي رسول الله ﷺ د بیعت عقبه اولی څخه وروسته مدینې ته استولی وو، دی به د انصارو سرایو ته ورتلی او هغوی ته به یې د اسلام دعوت ورکوی، کله به یو او کله دوه کسان مسلمانان

کېدل، کله چي اسلام خپور سو نو د رسول الله ﷺ ځخه يې د ليک په ذريعه د جمعې قائمولو اجازه وغوښتل، رسول الله ﷺ اجازه ورکړل، بيا د اويا کسانو سره په بيعت عقبه ثانيه کي حاضر سو او په مکه کي يې لږ قيام وکړ، بيا د رسول الله ﷺ د هجرت ځخه مخکي مدينې ته راغلی، مدينې ته تر ټولو مخکي راورسېدی او د احد په غزا کي شهيد سو، هغه وخت يې عمر ۴۰ کاله يا زيات وو، رجال صدقوا ما عاهدو الله عليه، دا هغه خلګ دي چي د الله جَلَّ جَلَالُهُ معاهده يې په صداقت سره کړل، دغه آيت د دوی په اړه نازل سوی دی، د رسول الله ﷺ په دار ارقم کي د داخلېدو ځخه وروسته دوی مسلمانان سوي دي.

۸۲۰. **معاويه بن ابي سفيان** رضي الله عنه: دغه معاويه د ابي سفيان زوی، قرشي او اموي دی، ده د مور نوم هند بنت عتبه دی، دی خپله او د ده پلار د مکې د فتح په وخت کي مسلمان سو، او په مؤلفة القلوب کي داخل وو، د رسول الله ﷺ په ليکوالانو کي حضرت معاويه رضي الله عنه هم شامل دی، ويل کيږي چي ده وحي نه ده ليکلې مګر د رسول الله ﷺ ليکني به يې ليکلې، ابن عباس او ابوسعيد رضي الله عنهما ده ځخه روايت کوي، د خپل ورور يزيد ځخه وروسته د شام حاکم وو او د حضرت عمر رضي الله عنه د زمانې ځخه د هغه تر وفات پوري حاکم وو، دغه ټول وخت ځلوېښت کاله وو، د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي تقريبا ځلور کاله او د حضرت عثمان رضي الله عنه په ټول خلافت کي او د حضرت علي رضي الله عنه په ټول خلافت کي دغه ټوله شل کاله سول، تر دي وروسته د حضرت حسن بن علي رضي الله عنه په ۴۱م هجري کال کي خلافت ده ته حواله کړ نو حکومت په پوره توګه ده ته وسپارل سو او پرله پسې شل کاله پاچهي ده په لاس کي وه، په دمشق کي په ۶۰ م هجري کال د ۷۵ کالو په عمر وفات سو، د خپل ژوند په آخري ورځو کي به يې ويل: ارمان چي زه په وادي ذي طوی کي د قريشو يو سړی وای او دغه حکومت مي نه وای، ده سره د رسول الله ﷺ څادر، قميص، پرتوګ، وېښتان او نوکان مبارک پراته وه، وصيت يې کړی وو چي ما ته دي د رسول الله ﷺ په قميص، پرتوګ او څادر کي کفن راکړل سي او زما په پزه، خوله او هغه اندامو کي چي په هغه سره سجده کيږي د رسول الله ﷺ وېښتان مبارک او نوکان واچوئ، او زه دی زما د ارحم الراحمين په مخکي يو ازي پرېښودل سم.

۸۲۱. **معاويه بن حکم**: دغه معاويه د حکم زوی دی، سلمي دی، په مدينه کي پاته سوی وو، په اهل حجاز کي شمېرل کيږي، ده ځخه ده زوی کثير او عطاء بن يسار او نور کسان روايت کوي، په ۱۱۷ م هجري کال کي وفات سو.

۸۲۲. **معاویه بن جاهمه**: دغه معاویه د جاهمه زوی دی، اسلمي دی، د اهل حجاز څخه شمېرل کیږي. دی د خپل پلار څخه او دده څخه طلحه بن عبید الله روایت کوي.

۸۲۳. **مروان بن الحکم**: دغه مروان د حکم زوی دی، کنیت یې ابوعبدالملک دی، قرشي اموي او د عمر بن عبدالعزیز نیکه دی، مروان د رسول الله ﷺ په زمانه کي پیدا سو، ویل کیږي چي په دوهم هجري کال پیدا سو، دا هم ویل کیږي چي د خندق د غزا په کال یا په بل کال پیدا سو، ده د رسول الله ﷺ لیدنه نه ده کړې ځکه چي رسول الله ﷺ دده پلار طائف ته جلا وطنه کړی وو، د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت تر زمانې پوري هلته هستوګن وو، حضرت عثمان رضي الله عنه بېرته مدینې ته راوستی، دی د خپل زوی سره مدینې ته راغلی، په دمشق کي په ۶۵م هجري کال وفات سو، د ځینو صحابه کرامو څخه روایت کوي چي په هغوی کي حضرت عثمان او حضرت علي رضي الله عنهما هم دي، او دده څخه ځیني تابعین روایت کوي لکه عروه بن زبیر او علي بن حسین.

۸۲۴. **مره بن کعب**: دغه مره د کعب زوی دی، بهزي دی په اهل شام کي شمېرل کیږي، دده څخه ځینو تابعینو روایت کړی دی، په ۵۵م هجري کال په اردن کي وفات سو.

۸۲۵. **مزیده بن جابر**: دغه مزیده د جابر زوی د بصرې او سېدونکی دی، په اهل بصره کي شمېرل کیږي، دده حدیثونه په اهل بصره کي تر لاسه کیږي، دده څخه دده اخیافي ورور عوذ بن عبدالله بن سعد روایت کوي، په مزیده کي پر میم باندي زور، زاء ساکنه او یاء باندي زور دی.

۸۲۶. **مسلم قرشي بن عبدالله**: دغه مسلم قرشي دی، دده نوم مسلم دی د عبدالله زوی دی. ویل کیږي چي دده نوم عبید الله بن مسلم دی.

۸۲۷. **مطلب بن ابي وداعه**: دغه مطلب د ابووداعه زوی دی، د ابووداعه نوم حارث دی. سهمي او قرشي دی، د مکې د فتح په ورځ مسلمان سو، بیا په کوفه کي هستوګن سو او بیا په مدینه کي دده پلار د بدر په غزا کي بندي سوی وو نو مطلب د هغه خلاصولو ته راغلی او د څلور زره درهمه فدیې په ورکولو سره یې خپل پلار خلاص کړ، دده څخه عبدالله بن زبیر او دده دواړه زامن کثیر او جعفر او مطلب بن سائب چي دده وراره دی روایت کوي.

۸۲۸. **مطلب بن ربیعه**: دغه مطلب د ربیعه بن حارث بن عبدالمطلب بن هاشم زوی دی، قرشي او هاشمي دی، د رسول الله ﷺ په زمانه کي کشر وو، په اهل حجاز کي شمېرل کیږي.

۸۲۹. **محمد بن ابي بکر صديق** رضي الله عنه : دغه محمد د ابوبکر صديق رضي الله عنه زوی دی، ابو القاسم یې کنیت دی، په اتم هجري کال د حجة الوداع په کال په ذوالحليفه کي پيدا سو. دده مور اسماء بنت عميس ده، د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه زيات روايت کوي او د نورو صحابه کرامو څخه هم، دده څخه دده زوی قاسم زيات روايت کوي او نور تابعين هم، د حضرت معاويه رضي الله عنه له خوا وو، په مصر کي په ۳۸ م هجري کال ووژل سو د نوموړي مړی پر خره کښېښنو دی او وسوځل سو.

۸۳۰. **محمدبن حاطب**: دغه محمد د حاطب زوی قرشي او حجمي دی، دی، دده پلار، مور، ورور حارث او اکا خطاب ټول صحابيان دي، د حبشې په هيواد کي پيدا سو، په ۷۴م هجري کال په مکه يا کوفه کي وفات سو، په اهل کوفه کي شمېرل کيږي، دده څخه دده زوی ابراهيم او سماک بن حرب روايت کوي، ويل کيږي چي دی اول سړی دی چي دده نوم د رسول الله ﷺ په نامه کښېښنودل سو.

۸۳۱. **محمدبن عبدالله**: دغه محمد د عبدالله بن حجش زوی دی، قرشي او اسدي دی، د هجرت څخه پنځه کاله مخکي پيدا سو او د خپل پلار سره یې حبشې ته هجرت وکړ، بيا مکې ته راغلی او بيا یې مدينې ته هجرت وکړ، دده څخه دده ازاد سوی غلام ابوکثير او نور کسان روايت کوي.

۸۳۲. **محمد بن عمرو**: دغه محمد د عمرو بن حزم زوی او انصاري دی، په لسم هجري کال په نجران کي پيدا سو، د رسول الله ﷺ په زمانه کي پيدا سو، دده پلار عمرو د رسول الله ﷺ له خوا د نجران والي وو چي رسول الله ﷺ دده پلار ته فرمايلي وه چي دده کنيت ابو عبدالملک کيږي، محمد فقيه وو، د خپل پلار او عمرو بن العاص څخه او دده څخه د اهل مدينې يوه ډله روايت کوي، په ۶۳م هجري کال د حره په جګړه کي د ۵۳ کالو په عمر ووژل سو.

۸۳۳. **محمدبن ابي عميره**: دغه محمد د ابوعميره زوی او مزني دی، په اهل شام کي شمېرل کيږي، دده څخه جبير بن نفير روايت کوي، په عميره کي پر غين باندي فتحه او پر ميم باندي کسره ده، په پای کي راء ده.

۸۳۴. **محمدبن مسلمه**: دغه محمد د مسلمه زوی دی، انصاري او حارثي دی، د تبوک د غزا څخه ماسوا په نورو ټولو غزاوو کي شريک وو، د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو څخه یې روايت کړی دی، د سترو صحابه کرامو څخه دی، نوموړي د هغه

صحابو ځخه دی چي د حضرت معصب بن عمیر رضی الله عنه په لاس په مدینه کي په اسلام مشرف سو، په مدینه منوره کي په ۴۲م هجري کال د ۷۷ کالو په عمر وفات سو.

۸۳۵. **محمود بن لبید**: دغه محمود د لبید زوی دی، انصاري او اشهلي دی. د رسول الله ﷺ په زمانه کي پیدا سو، د رسول الله ﷺ ځخه د ډېرو حدیثو راوي دی، بخاري رحمة الله علیه وایي: دی صحابي دی، ابو حاتم وایي: دده د صحابي کېدو حال معلوم نه سو، امام مسلم د تابعینو په دوهمه طبقه کي ذکر کړی دی. ابن عبید الله وایي: د بخاري قول صحیح دی، ځکه دده صحابي کېدل صحیح دي، محمود د علماؤ ځخه دی. د ابن عباس او عتبان بن مالک رضی الله عنه ځخه روایت کوي، په ۹۶م هجري کال کي وفات سو.

۸۳۶. **معمر بن عبدالله**: دغه معمر د عبدالله زوی دی، قرشي او عدوي دی، قدیم الاسلام دی، په اهل مدینه کي شمېرل کیږي، په مدینه کي یې حدیث تر لاسه کیږي. سعید بن مسیب دده ځخه روایت کوي.

۸۳۷. **مغیث**: په مغیث کي میم مضموم، غین معجمه، یاء ساکنه او ثاء ده، د بریره خاوند دی. دی خپله د آل ابي احمد حجش ازاد سوی غلام دی، دده ځخه ابن عباس او عائشه رضی الله عنها روایت کوي.

۸۳۸. **منذر بن ابي اسید**: دغه منذر د ابو اسید زوی دی، ساعدي دی. کله چي پیدا سو نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي راوستل سو. رسول الله ﷺ په خپله غېږ کي کښېښنود او دده نوم یې منذر کښېښنود، اسید د اسد تصغیر دی.

۸۳۹. **ابو موسی**: ددغه ابو موسی نوم عبدالله او د قیس زوی دی، اشعري دی، په مکه کي مسلمان سو او حبشې ته یې هجرت وکړ، بیا اهل سفینه سره راغلی، هغه وخت رسول الله ﷺ په خیبر کي وو، په ۲۰ م هجري کال حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه د بصرې حاکم وټاکی، ابو موسی اهواز فتح کړ، د عثمان خلافت تر پیل پوري د بصرې حاکم وو، بیا دهغه ځای ځخه په معزول کېدو سره کوفې ته منتقل سو او هلته هستوګن سو، د حضرت عثمان رضی الله عنه تر شهادت پوري د کوفې والي وو، د حضرت علي رضی الله عنه او حضرت معاویه رضی الله عنه په منځ کي د فیصلې کولو لپاره د حضرت علي رضی الله عنه له خوا حکم ګرځول سوی وو، تر دې وروسته تر خپل کال وفات ۵۲م هجري کال پوري په مکه کي وو.

۸۴۰. **ابو مرثد بن حصین**: نوم یې کناز او د حصین زوی دی، ده ته ابن حصین غنوي ویل کیږي. په خپل کنیت سره مشهور دی، دی او دده زوی مرثد د بدر په غزا کي شریک وه. د

سترو صحابه کرامو څخه دی، ده د حضرت حمزه رضي الله عنه څخه او دده څخه واصله بن اسقع او عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روایت کوي، په ۱۲ م هجري کال وفات سو، په کناز کي پر کاف باندي زور او نون مشدد او په آخر کي زاء ده.

۸۴۱. **ابومسعود بن عمرو**: نوم یې عقبه د عمرو زوی دی، انصاري او بدري دی، په بیعت عقبه ثانیه کي حاضر وو، او داکثرو تاریخ پوهانو په نزد په بدر کي شریک نه وو، دا هم ویل کیږي چي په بدر کي یې ګډون وکړ، لومړی قول زیات صحیح دی، ده ته د بدري ویلو وجه داده چي دی د بدر پر څاه باندي تم سوی وو ځکه بدر ته په منسوب کېدو سره بدري ورته ویل کیږي، دی په کوفه کي هستوګن سو، د حضرت علي رضي الله عنه په خلافت کي وفات سو او ویل کیږي چي په ۴۱م هجري کال یا ۴۲ م هجري کال وفات سو. دده څخه دده زوی بشیر او نورو کسان روایت کوي.

۸۴۲. **ابومالک بن عاصم**: نوم یې کعب او د عاصم زوی دی، اشعري دی، امام بخاري رحمة الله عليه په تاریخ کي د نورو حضراتو همداسي بیان کړی دی، دده څخه عبدالرحمن بن غنم روایت کوي، امام بخاري رحمة الله عليه د شک په توګه وفرمایل چي موږ ته ابومالک یا ابوعامر حدیث بیان کړ، ابن المدیني وایي چي دلته ابومالک زیات صحیح دی، دده څخه یوه ډله روایت کوي او د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو.

۸۴۳. **ابومحذوره**: نوم یې سمره او د معیر زوی دی، په معبره کي میم مکسور دی، ویل کیږي چي دده نوم اوس بن معیر دی، دی د رسول الله ﷺ له خوا د مکې مؤذن وو، په ۵۹ هجري کال کي وفات سو، ده هجرت ونه کړل او تر وفات پوري په مکه کي مقیم وو.

۸۴۴. **ابن مربع**: دغه زید دی د مربع زوی او انصاري دی، ویل کیږي چي دده نوم یزید دی او دا هم ویل کیږي چي عبدالله دی، اول قول د زیاتو خلکو دی، دده څخه یزید بن شیبان روایت کوي، دده شمېر په اهل حجاز کي دی، دده حدیث د وقوف عرفات په اړه دي، په مربع کي میم مکسور، راء ساکنه، باء موحده مفتوح او عین مهمله دی.

تابعین رحمهم الله

۸۴۵. **محمدبن حنفیه**: دغه محمد د علي ابن ابي طالب رضي الله عنه زوی دی، دده کنیت ابوالقاسم او دده مور خوله حنفیه د جعفر لور ده، ویل کیږي چي دده مور د یمامه په جګړه کي نیول سوي راوستل سول او حضرت علي رضي الله عنه په برخه راغلل، اسماء بنت ابي بکر

وايي: ما د محمد بن الحنفيه مور لېدلې ده چي هغه د سند او سپدونکې او توره وه او هغه د بنو حنفيه مينزه وه، ده د خپل پلار څخه او دده څخه دده زوى ابراهيم روايت كوي، په مدينه منوره كي د ٦٥ كالو په عمر ٨١ م هجري كال كي وفات سو او په بقيع كي دفن سو.

٨٤٦. **محمدبن علي**: دغه محمد د علي زوى دى او د حسين بن علي بن ابي طالب لمسى دى، كنيت يې ابوجعفر او د باقر په نامه سره مشهور دى، د خپل پلار حضرت زين العابدين او جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه دده زوى جعفر صادق او نور كسان روايت كوي، په ٥٦ م هجري كال پيدا سو او په مدينه منوره كي په ١١٧ م يا ١١٨ م هجري كال د ٦٣ كالو په عمر وفات سو، دده د عمر په اړه نور اقوال هم دي، په بقيع كي دفن سو، دده نوم باقر ځكه سو چي دده علم ډېر پراخ وو چي د هغه لپاره تبقر في العلم محاوره په عربي كي مستعمل ده.

٨٤٧. **محمد بن يحيى**: دغه محمد د يحيى بن حبان زوى دى، كنيت يې ابو عبدالله دى، د انصارو څخه دى، دده څخه يوه ډله روايت كوي، د امام مالک د استاذانو څخه دى، خپله امام مالک به دده ډېر عزت كوى، دده د زهد، عبادت، فقه او علم اړوند هر ډول فضائل يې ذكر كول، په مدينه منوره كي د ٧٤ كالو په عمر په ١٢١ م هجري كال وفات سو، په حبان كي حاء مهمله مفتوح او باء مشدده ده.

٨٤٨. **محمدبن سيرين**: دغه محمد د سيرين زوى دى، كنيت يې ابوبكر دى، د انس بن مالک رضي الله عنه ازاد سوى غلام دى، ده د انس بن مالک رضي الله عنه، ابن عمر رضي الله عنه او ابو هريره رضي الله عنه څخه حديث اورېدلي دي او دده څخه ډېر خلک روايت كوي، نوموړى فقيه، عالم، عابد، متقي او محدث وو، د سترو تابعينو څخه وو، د علوم شريعت په فن كي يې شهرت درلود، د مورق العلم عجلي بيان دى چي ما هيڅ سړى نه دى ليدلى چي د پرهيزګارۍ په چارو كي دده څخه زيات صاحب فقه او په فقهيه مسائلو كي دده څخه زيات پرهيزګار وي، خلف بن هشام ويلي دي: ابن سيرين ته يو خاص علامه او خاص مقام خشوع وركړل سوى وو، خلکو چي به ليدى نو خداى جل جلاله به ور په ياد ېدى، اشعث وايي: كله چي به د ابن سيرين څخه د حلال او حرام په اړه پوښتنه وسول نو د هغه رنګ به بدل سو، مهدي ويلي دي: موږ د ابن سيرين سره ناسته او ولاړه درلودل، هغه زموږ سره خبري كوي او موږ ته زيات راځي، نو د هغه رنګ بدل سي او ژړ سي، داسي معلوميږي چي هغه سړى نه دى كوم چي مخكي وو، په ١١٠ م هجري كال د ٧٧ كالو په عمر وفات سو.

۸۴۹. **محمد بن سوقه** : دغه محمد د سوقه زوی دی، ابوبکر یې کنیت دی، غنوي او کوفي دی، عبادت کوونکی سړی دی، د حضرت انس او نخعي څخه روایت کوي او دده څخه ابن مبارک، ابن عینیه او نور کسان روایت کوي، ویل کیږي چې هغه د خدای ﷻ پر نافرمانۍ باندې په ښه توګه قادر نه وو، په خپلو ملګرو یې یولک درهم مصرف کړل.

۸۵۰. **محمدبن عمرو**: دغه محمد د عمرو بن حسن بن ابي طالب زوی دی، دی د جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت کوي.

۸۵۱. **محمدبن سلیمان**: دغه محمد د سلیمان زوی دی، باغندي دی، کنیت یې ابوبکر دی، د واسط اوسېدونکی دی، د باغندي په نامه سره مشهور دی، په بغداد کې هستوګن سو، او هلته یې د یوې ډلې څخه حدیث بیان کړل، دده څخه ډېر خلګ روایت کوي چې په هغوی کې ابوداؤد سجستاني هم دی، په ۲۸۳ م هجري کال وفات سو.

۸۵۲. **محمد بن ابي بکر**: دغه محمد د ابوبکر بن عمرو بن حزم زوی دی، انصاري او مدني دی، د خپل پلار څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه سفیان بن عینیه او مالک بن انس روایت کوي، د خپل پلار څخه وروسته د مدینې قاضي وو، د خپل ورور عبدالله څخه مشر وو، په ۱۳۲م هجري د ۷۲ کالو په عمر وفات سو، دده پلار په ۱۲۰ م هجري کال کې وفات سو.

۸۵۳. **محمد بن منکدر**: دغه محمد د منکدر زوی دی او تیمیمي دی، د جابر بن عبدالله، انس بن مالک، ابن الزبیر او خپل اکا ربیعه څخه یې حدیث اورېدلي دي، په ۱۳۰ م هجري کال وفات سو، دده عمر تقریبا اویا کاله وو، د سترو تابعینو څخه دی، د علم، زهد، عبادت او په دین کې د پختیا او پاک لمنۍ جامع دی.

۸۵۴. **محمد بن صباح**: دغه محمد د صباح زوی دی، ابوجعفر دولابي بزار ورته ویل کیږي، د سنن بزار لیکوال دی، د شریک و هیثم څخه روایت کوي او دده څخه بخاري، مسلم، ابوداؤد، احمد او نور ډېر کسان روایت کوي او باوري یې ګرځولی دی، دی د حدیثو حافظ هم دی، په ۲۲۷ م هجري کال کې وفات سو.

۸۵۵. **محمد بن منتشر**: دغه محمد د منتشر زوی دی، دهمدان اوسېدونکی دی، د مسروق وراره دی، د ابن عمر، عائشې او نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه روایت کوي او دده څخه یوه ډله روایت کوي.

۸۵۶. **محمد بن خالد**: دغه محمد د خالد زوی او سلمي دی، ده د خپل پلار څخه، هغه د

خپل نیکه څخه روایت کوي ، د هغه نیکه صحابي دی .

۸۵۷. **محمد بن زید**: دغه محمد د زید بن عبدالله بن عمر زوی دی، هغه د خپل نیکه او ابن عباس رضي الله عنه څخه او دده څخه دده زامن او اعمش روایت کوي، نوموړی باوري دی.

۸۵۸. **محمد بن کعب**: دغه محمد د کعب زوی دی، قرشي او مدني دی، د څو صحابه کرامو څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه محمد بن منکدر او نور کسان روایت کوي، دده پلار د قریظه په جګړه کي بې ږیري او بې برېته وو ، ځکه په جګړه کي شامل نه کړل سو ، په ۱۰۸ م هجري کال کي وفات سو .

۸۵۹. **محمد بن ابي مجالد**: دغه محمد د ابي مجالد زوی دی، د کوفې اوسېدونکی دی، د کوفې د تابعینو څخه دی، دده حدیث په اهل کوفه کي دی، دی د صحابه کرامو د یوې ډلي څخه حدیث روایت کوي او دده څخه ابو اسحاق او شعبه او داسي نور روایت کوي.

۸۶۰. **محمد بن قیس**: دغه محمد د ابراهیم زوی دی، قرشي او تمیمي دی، د علقمه بن وقاص او ابوسلمه څخه یې حدیث اورېدلي دي، امام ترمذي رحمة الله عليه د سهار د دوو رکعتو په اړه دده یو حدیث بیان کړی دی چي د هغه سند دادی: روایت دی چي د قیس څخه چي د سعد بن سعید نیکه دی او دغه قیس د یحیی ابن سعید او دهغه د ورور سعد بن سعید نیکه دی، ترمذي ویلي دي چي دغه قیس د عمرو بن قیس بن قعد زوی دی، بیا یې وویل: د دغه حدیث سند متصل نه دی ځکه چي ابراهیم تمیمي د قیس څخه نه دي اورېدلي ، په قعد کي قاف مفتوح دی .

۸۶۱. **محمد بن ابي بکر**: دغه محمد ثقفي حجازي دی او دابوبکر عوف زوی دی، ده د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه او دده څخه یوه ډله روایت کوي .

۸۶۲. **محمد بن مسلم**: دغه محمد د مسلم زوی دی، ابوزهر یې کنیت دی، دده یادونه د زاء په حرف کي راغلې ده .

۸۶۳. **محمدبن قاسم**: دغه محمد د قاسم زوی دی، ابوالخلاد یې کنیت دی، نوموړی ړوند وو ، د ابوالعباس په نامه مشهور دی، د ابوجعفر منصور ازاد سوی غلام دی، په اصل کي د یمامه دی، په ۱۹۱ م هجري کال په اهواز کي پیدا سو ، په بصره کي یې روزنه وسول ، ډېر قوي الحفظ او ستر فصیح وو ، په ۲۸۳ م کال کي وفات سو ، دده څخه یوه ډله روایت کوي.

۸۶۴. **محمدبن فضل**: دغه محمد د فضل بن عطیه زوی دی، د خپل پلار او زیاد بن علاقه او منصور څخه روایت کوي او دده څخه داؤد بن رشید او محمد بن عیسی مدائني روایت کوي، محدثینو قابل ترک ګرځولی دی، په ۱۸۰ م هجري کال کي وفات سو.

۸۶۵. **محمدبن اسحاق**: دغه محمد د اسحاق زوی دی، د مدینې اوسېدونکی دی او د قیس بن مخرمه ازاد سوی غلام دی، نوموړی تابعي دی، د حضرت انس او سعید بن مسیب رضی الله عنهما لېدنه یې کړې ده، د تابعینو د یوې لوی ډلي څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده د حدیثو روایت اماما او علماء کوي د مثال په توګه یحیی ابن سعید، ثوري، نخعي، ابن عیینه او د دوی څخه ماسوا نور کسان هم ور څخه روایت کوي، د سیرت، غزاوو، د خلګو خاص حالات، د عالمانو پیښې، د نبیانو قصې، د علم حدیث، قرآن او فقهي ستر عالم وو، بغداد ته ولاړی او هلته یې د حدیثو روایت کوی، په ۱۵۰ م هجري کال په بغداد کي وفات سو، د خیزران په هدیره کي ختیځ خوا ته دفن سو.

۸۶۶. **مسدد بن مسرهد**: دغه مسدد د مسرهد زوی دی، د بصرې اوسېدونکی دی، د حمادبن زید، ابوعوانه او نورو یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه بخاري، ابوداؤد او نور ډېر کسان روایت کوي، په ۲۲۸ م هجري کال کي وفات سو، په مسدد کي میم مضموم، سین مهمله مفتوح، پر اول دال باندي تشدید دی او په مسرهد کي هم پر میم باندي ضمه، پر سین مهمله باندي فتحه او راء مهمله ساکنه ده، ددې څخه وروسته هاء مهمله مفتوح ده او په پای کي دال مهمله دی.

۸۶۷. **مجاهد بن جبر**: دغه مجاهد د جبر زوی دی، ابوالحجاج یې کنیت دی، د عبدالله بن سائب ازاد سوی غلام دی، د بنو مخزوم څخه دی، د مکې په تابعینو کي د دوهمي درجې تابعي او د مکې د قاریانو او فقهاؤ څخه دی، د مکې په مشهورو خلګو کي دی او پېژندل سوی سړی دی، د قرائت او تفسیر امام دی، دده څخه یوه ډله روایت کوي، په ۱۰۰ م هجري کال کي وفات سو، په جبیر کي پر جیم باندي زور او باء موحده ساکنه ده.

۸۶۸. **مهاجر بن مسمار**: دغه مهاجر د مسمار زوی دی، زهري یعني د بنوزهره ازاد سوی غلام دی، ده د عامر بن سعد بن ابي وقاص څخه او دده څخه ابوذویب او نورو کسانو روایت کړی دی، نوموړی په روایت کي باوري دی.

۸۶۹. **مکحول بن عبدالله**: دغه مکحول د عبدالله زوی دی، کنیت یې ابوعبدالله دی، د شام اوسېدونکی دی، د کابل څخه بندي سوی راوستل سو، د قیس قبیلې د یوې ښځي

يا د بني ليث غلام وو، د امام اوزاعي ستاد وو، امام زهري وايي: علماء څلور دي: په مدينه کي ابن مسيب، په کوفه کي شبعي، په بصره کي حسن بصري او په شام کي مکحول، په فتاوی کي تر مکحول هيڅوک صاحب بصيرت نه وو، کله چي به يې فتوا ورکول نو ويل به يې: لاحول ولاقوة الاباالله، دا زما رايه ده، رايه کله غلطه وي او کله صحيح، دده د يوې ډلي څخه او دده څخه ډېرو کسانو روايت کړی دی، په ١١٨ م هجري کال کي وفات سو.

٨٧٠. **مسروق بن اجدع**: دغه مسروق د اجدع زوی دی، همداني او کوفي دی، د رسول الله ﷺ د وفات څخه مخکي په اسلام مشرف سوی وو، د صحابه صدر اول لکه ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم زمانه يې تر لاسه کړل، د سترو فقهاؤ څخه وو، مره بن شرحبيل وايي: که د يوې کورنۍ خلګ د جنت لپاره پيدا سوي دي نو هغه دادي: اسود، علقمه او مسروق، بن منتشر وايي چي خالد بن عبدالله د بصرې والي وو، هغه د تحفې په توګه دېرش زره روپۍ د مسروق په خدمت کي وړاندي کړې، مسروق د هغه د قبلېدو څخه انکار وکړ، ويل کيږي چي په کوچنيوالي کي غلا سوی وو، بيا کله چي پيدا سو نو دده نوم مسروق سو، دده څخه ډېرو خلګو روايت کړی دی، په کوفه کي په ۶۲م هجري کال وفات سو.

٨٧١. **مرثد بن عبدالله**: دغه مرثد د عبدالله زوی دی، ابوالخير يې کنيت دی، يزني او مصري دی، د عقبه بن عامر، ابوايوب، عبدالله بن عمر او عمرو بن عاص څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه يزيد بن ابوحبيب روايت کوي.

٨٧٢. **مالک بن مرثد**: دغه مالک د مرثد زوی دی، د خپل پلار څخه روايت کوي او دده څخه سماک بن الوليد.

٨٧٣. **مسلم بن ابي بکره**: دغه مسلم د ابي بکره زوی دی، ثقفي او تابعي دی، ده د خپل پلار څخه او دده څخه عثمان شحام روايت کوي.

٨٧۴. **مسلم بن يسار**: دغه مسلم د يسار زوی دی، جهني دی، د سورة اعراف په تفسير کي امام ترمذي دده روايت د حضرت عمر رضي الله عنه څخه نه دی اورېدلی، امام بخاري رحمه الله وايي: مسلم بن يسار د نعيم څخه او هغه د عمر رضي الله عنه څخه روايت وکړ.

٨٧۵. **مصعب بن سعد**: دغه مصعب د سعد بن ابي وقاص زوی دی، قرشي دی، د خپل پلار حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه او ابن عمر رضي الله عنه څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه سماک بن حرب او نور کسان روايت کوي.

۸۷۶. **معن بن عبدالرحمن**: دغه معن د عبدالرحمن بن عبدالله بن مسعود زوی دی او هذلي دی، ده د خپل پلار څخه روايت کړی دی .

۸۷۷. **معدان بن طلحه**: دغه معدان د طلحه زوی دی، يعمري دی ده د غمر ابودرداء او ثوبان څخه حديث اورېدلي دي .

۸۷۸. **معمر بن راشد**: دغه معمر د ابوعروه ازدي ازاد سوی غلام دی، د راشد زوی دی، د يمن عالم دی، د زهري او همام څخه يې روايت کړی دی، دده څخه ثوري او ابن عيينه روايت کوي، عبدالرزاق وايي: ما دده څخه لس زره حديثونه واورېدل، په ۱۵۳م هجري کال د ۵۸ کالو په عمر وفات سو .

۸۷۹. **مهلب بن ابي صفره**: دغه مهلب د ابي صفره زوی دی، ازدي دی، د خوارجو سره دده خاص مقامات او مشهور جنګونه منقول دي، ده د مسمره او ابن عمر رضی الله عنه څخه حديث اورېدلي دي، او دده څخه يوه ډله روايت کوي، د عبدالملک بن مروان په زمانه کي د خراسان په مرورو نامي ځای کي په ۸۳م هجري کال وفات سو، د بصرې په تابعينو کي د اولي طبقې تابعي دی.

۸۸۰. **مورق بن مشمرج**: دغه مورق د مشمرج زوی دی، کنيت يې ابومعتمر دی، عجلي او بصري دی، د حضرت ابوذر، انس بن مالک او ابن عمر رضی الله عنهم څخه حديث نقل کوي او دده څخه مجاهد، قتاده او نور کسان روايت کوي، په مورق کي ميم مضموم، واو مفتوح، راء مشدده او قاف دی، په مشمرج کي ميم مضموم، شين معجمه مفتوح، ميم ساکن، راء مکسور او جيم دی .

۸۸۱. **موسی بن طلحه**: دغه موسی د طلحه زوی دی، کنيت يې ابوعيسی تيمي او قرشي دی، د صحابه کرامو د يوې ډلي څخه حديث روايت کوي، په ۱۰۴م هجري کال وفات سو .

۸۸۲. **موسی بن عبدالله**: دغه موسی د عبدالله زوی دی، جهني او کوفي دی، د حضرت مجاهد او مصعب بن سعد څخه يې حديث اورېدلي دي او دده څخه شعبه، يحيی بن سعيد او يعلی روايت کوي.

۸۸۳. **موسی بن عبيده**: دغه موسی د عبيده زوی دی، زيدي دی، ده د محمد بن کعب او محمد بن ابراهيم تميمي څخه او دده څخه شعبه او عبدالله بن موسی او علي روايت کوي، محدثين ده ته ضعيف وايي، په ۱۵۳م هجري کال کي وفات سو .

۸۸۴. **مطرف بن عبدالله**: دغه مطرف د عبدالله بن شخير زوی دی، عامري او بصري

دی، د حضرت ابوذر او عثمان ابن ابي عاص رضی اللہ عنہ څخه روايت کوي، د ۸۷ م هجري کال څخه وروسته وفات سو، په مطرف کي ميم مضموم، طاء مهمله مفتوح ، راء مشدده او مکسور او فاء ده . په شخير کي پر شين معجمه باندي کسره او پر خاء معجمه باندي تشديد او کسره ده .

۸۸۵. **معاذ بن زهره**: دغه معاذ د زهره زوی دی، سلمي ، کوفي او تابعي دی، مرسلا روايت کوي، حصين بن عبدالرحمن دده څخه روايت کوي .

۸۸۶. **معاذ بن عبدالله**: دغه معاذ د عبدالله بن حبيب زوی دی. جهني او مدني دی. دخپل پلار څخه روايت کوي .

۸۸۷. **مخلد بن خفاف**: دغه مخلد د خفاف زوی دی، د عروه څخه او دده څخه ابن ذئب روايت کوي، دده حديث په الخراج بالضمان کي دي.

۸۸۸. **مختار بن فلفل**: دغه مختار د فلفل زوی دی، مخزومي او کوفي دی، د انس بن مالک رضی اللہ عنہ څخه يې حديث اورېدلي دي. دده څخه ثوري او نور کسان روايت کوي، په فلفل کي دواړه فاوي مضموم دي .

۸۸۹. **مختار بن ابي عبيد**: دغه مختار د ابوعبيد بن مسعود زوی دی، د بنوثقيف څخه دی، دده پلار صحابي دی، مختار د هجرت په کال پيدا سو ، دی صحابي نه دی او نه د حديث رسول راوي دی. دا هغه سړی دی چي دده په باره کي عبدالله بن عصمه وويل: دا کذاب (درواغجن) دی چي دده په باره کي د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي په ثقيف کي به يو کذاب وي، په پيل کي په علم ، فضل او خير کي مشهور وو، چي د ده د جذباتو بالکل برعکس وو، تر دې چي ده د عبدالله بن زبير رضی اللہ عنہ څخه جلاوالی اختيار کړ او خپله د حکومت خواهش لرونکی سو ، اوس دده د غلطي عقيدې او د نفسانيت اظهار وسو ، دده څخه داسي ډېري خبري ښکاره سوې چي د دين خلاف وې، دغه سړي د حضرت حسين رضی اللہ عنہ د قصاص مطالبه کول چي د حکومت په تر لاسه کولو کي دده پرمختګ وسي چي دده خاص مقصد وو ، په دغه حالت کي د معصب بن زبير په زمانه کي په ۶۷م هجري کال ووژل سو.

۸۹۰. **مغيره بن زياد**: دغه مغيره د زياد زوی دی، بجلي او موصلي دی، ده د عکرمه او مکحول څخه او دده څخه وکيع او ابوعاصم او يوه ډله روايت کوي، امام احمد بن حنبل ورته منکر الحديث ويلي دي، او دا چي ما مغيره بن زياد په صحابوو کي تر لاسه نه کړ.

۸۹۱. **مغیره بن مقسم**: دغه مغیره د مقسم زوی دی، د کوفې اوسېدونکی دی، صاحب تفقه او ړوند وو، ده د ابووائل او شعبي څخه او ده څخه شعبه، زائده او ابن فضیل روایت کوي، جریر ده څخه نقل کوي چي وایي: کومه خبره چي زما غوږ ته راورسېدل هغه مي هېره نه کړل، په ۱۲۳ م هجري کال کي وفات سو.

۸۹۲. **مثنی بن صباح**: دغه مثنی د صباح زوی دی، اولا یماني او بیا مکې دی، ده د عطاء، مجاهد او عمرو بن شعیب څخه او ده څخه عبدالرزاق او نورو کسانو روایت کړی دی، ابوحازم او نور حضرات وایي چي دی د نقل حدیث په اړه نرم دی، په ۱۴۹ م هجري کال کي وفات سو.

۸۹۳. **معاویه بن قره**: دغه معاویه د قره زوی دی، ابوایاس یې کنیت دی، د بصرې اوسېدونکی دی، د خپل پلار، انس بن مالک او عبدالرحمن بن معقل رضی الله عنه څخه یې حدیث اورېدلي دي، او ده څخه قتاده، شعبه او اعمش روایت کړی دی، په ایاس کي همزه مکسور او یاء غیر مشدده ده.

۸۹۴. **معاویه بن مسلم**: دغه معاویه د مسلم زوی دی، کنیت یې ابونوفل دی، د ابن عباس او ابن عمر رضی الله عنهما څخه یې حدیث اورېدلي دي، ده څخه شعبه او ابن جریج روایت کوي.

۸۹۵. **میناء**: دغه میناء دی د خپل بادار عبدالرحمن بن عوف، عثمان، او ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کوي او ده څخه د عبدالرزاق پلار روایت کوي، ده ته د حدیثو په نقل کي ضعیف ویل سوي دي.

۸۹۶. **ابوالملیح بن اسامه**: نوم یې عامر دی د اسامه زوی دی، هذلي او بصري دی، د صحابه کرامو د یوې ډلي څخه روایت کوي، په ملیح کي پر میم باندي زور، لام مکسور او حاء مهمله ده.

۸۹۷. **ابومودود بن ابي سلیمان**: نوم یې عبدالعزیز دی د ابوسلیمان زوی دی، د مدینې اوسېدونکی دی، ابوسعید خدري رضی الله عنه یې لیدلی دی، د سائب بن یزید او عثمان بن ضحاک څخه یې حدیث اورېدلي دي او ده څخه ابن مهدي او عتبي او کامل بن طلحه روایت کوي، محدثینو د حدیث په باره کي ده ته باوري ویلي دي، د مهدي د امارت په زمانه کي وفات سو، په باب فضائل سید المرسلین ﷺ کي ده یادونه ده.

۸۹۸. **ابوماجد**: دغه ابوماجد دی، حنفي دی، د ابن مسعود، یحیی او جابر څخه روایت کوي، د ابن مسعود رضی الله عنه په حدیث باب المشي بالجنازة کي ده یادونه ده، ترمذي ده نوم

ماجد ذکر کړی دی او ویلي یې دي چې ما د محمد بن اسماعیل بخاري څخه واورېدل چې هغه دده حدیث ته ضعیف وایي، ابن عیینه وایي چې هغه د هغه مرغه په ډول دی چې په هواء سوی وي.

۸۹۹. **ابومسلم**: دغه ابومسلم دی، خولاني او زاهد دی، عبدالله بن ثوب یې نوم دی، زیات صحیح دادی، د ابوبکر، عمر او معاذ ﷺ سره یې لیدنه کړې ده، دده څخه جبیر بن نفیر، عروه او قلابه روایت کوي، دده مناقب ډېر دي، په ۶۲م هجري کال کي وفات سو.

۹۰۰. **ابوالمطوس**: نوموړی د خپل پلار څخه او دده څخه خبیب بن ابي ثابت روایت کوي، ویل کیږي چې دده او خبیب په منځ کي یو راوي دی، نوموړی باوري گرځول سوی دی.

۹۰۱. **ابن مدیني**: دغه علي دی د عبدالله زوی، دده یادونه د عین په حرف کي تېره سوې ده.

۹۰۲. **ابن مثنی**: دده نوم عمر دی، د عبدالله بن مثنی بن انس بن مالک زوی دی، انصاري او بصري دی، د خپل پلار، سلیمان تیمي، حمید طویل او نورو څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه قتیبه، احمد بن حنبل او محمد بن اسماعیل بخاري په ډول مشهور امامان روایت کوي، د رشېد په زمانه کي د بصرې قاضي وو، بغداد ته ولاړی نو هلته هم د قضاوت دنده ورکړل سول، دلته هغه خپل روایات بند کړل، بیا بصرې ته راغلی، دده د زېږېدني نېټه ۱۱۸م هجري کال او د وفات نېټه یې ۲۱۵م هجري کال دی.

۹۰۳. **ابن ابي ملیکه**: دده نوم عبدالله دی، د ابوعبدالله زوی دی، دده یادونه د عین په حرف کي راغلې ده.

۹۰۴. **محاربي**: دغه محاربي دی، په محاربي کي میم مضموم، حاء مهمله، راء مهمله او باء موحده ده. دی د نسبت قریش یو بطن محارب ته دی، دده نوم عبدالرحمن دی، د محمد زوی دی، دی د اعمش او یحیی بن سعید څخه او دده څخه احمد او علي بن حرب روایت کوي، دی حافظ حدیث دی، په ۱۹۵م هجري کال کي وفات سو.

صحابي ښځي

۹۰۵. **میمونه** ﷺ: ام المؤمنین بي بي میمونه ﷺ ده، د حارث لور، هلالیه عامریه ده، ویل کیږي چې ددې نوم بره وو، رسول الله ﷺ یې نوم بدل کړ او میمونه نوم یې پر کښېښود. د جاهلیت په زمانه کي د مسعود بن عمرو ثقفي په نکاح کي وه. هغه پرېښودل

نو ابراهیم ورسره نکاح وکړل، د ابراهیم د وفات څخه وروسته رسول الله ﷺ ورسره نکاح وکړل، دغه نکاح د ذي قعده په میاشت کي په اووم هجري کال د عمرة القضاء په وخت کي د مکې څخه لس میله لیري په صرف نامي ځای کي وسول، چیري چي ددې نکاح سوې وه هم هلته په ۶۱ م هجري کال کي وفات سول، د جنازې لمونځ یې حضرت ابن عباس رضی الله عنه ورکړ، د حضرت عباس رضی الله عنه د ښځي ام الفضل او اسماء بنت عمیس خور ده، د رسول الله ﷺ په بیبانو کي آخري بي بي ده، رسول الله ﷺ تر دې وروسته د هیچا سره نکاح ونه کړل، ددې څخه یوه ډله روایت کوي چي په هغوی کي عبد الله بن عباس رضی الله عنه هم دی.

۹۰۶. **ام منذر**: دغه ام منذر د قیس لور ده، انصاري او د بنو عدي څخه ده، ددې څخه یو حدیث یعقوب بن ابي یعقوب روایت کړی دی.

۹۰۷. **ام معبد بنت خالد**: دغه ام معبد د خزاعه قبیلې یوه ښځه ده، ددې نوم عاتکه دی ، د خالد لور ده، ویل کیږي چي دا هغه وخت مسلمانه سول کله چي رسول الله ﷺ د هجرت په سفر کي دده سره په لاره کي قیام کړی وو، دا هم ویل کیږي چي مدینې ته په راتلو سره مسلمانه سول، ددې مشهور حدیث د ام معبد په نامه سره متعارف دی.

۹۰۸. **ام معبد بنت کعب**: دغه ام معبد د کعب بن مالک لور او د انصارو څخه ده، دې دواړو قبلو (بیت المقدس او کعبة الله) ته لمونځ کړی دی، ددې څخه ددې زوی معبد روایت کوي ، دا د ابن منده قول دی، ابن عبد البر وایي چي دغه ام معبد د کعب بن مالک انصاري سلمي ښځه ده او د کعب بن مالک انصاري لور ده، ددې څخه ددې زوی معبد روایت کوي، او دا چي د بخاري په تاریخ باب معبد کي ذکر سوي دي هغه دادي چي معبد د کعب بن مالک انصاري زوی دی، ددې څخه د ابن عبد البر د قول تائید کیږي.

۹۰۹. **ام مالک بهزیه**: دغه ام مالک بهزیه ده، صحابي ده، ددې څخه روایت هم نقل سوی دی، نو موړې حجازي ده، ددې څخه طاؤس اکو مکحول روایت کوي.

تابعي ښځي.

۹۱۰. **معاذه بنت عبدالله**: دغه معاذه د عبد الله لور او معاویه ده. داد حضرت علي او بي بي عائشې رضی الله عنها څخه روایت کوي او ددې څخه قتاده او نور کسان روایت کوي، په ۸۳ م هجري کال کي وفات سو.

۹۱۱. **مغیره**: دغه مغیره د حجاج بن حسان خور ده، انس بن مالک یې لیدلی دی، او

دهغه څخه يې روايت هم کړی دی، د مغيره څخه د هغې ورور حجاج د هغې حديث په باب الرجل کي روايت کړی دی.

ن - صحابه کرام رضي الله عنهم:

۹۱۲. **نعمان بن بشير** رضي الله عنه: دغه نعمان د بشير زوی دی، کنيت يې ابو عبدالله دی او د انصارو څخه دی، د انصارو په مسلمانانو کي د هجرت وروسته تر ټولو اول دی پيدا سو، د رسول الله ﷺ د وفات پر وخت دده عمر اته کاله او اووه مياشتي وو، دی خپله او دده مور او پلار صحابه دي، په کوفه کي اوسېدی او د حضرت معاويه رضي الله عنه په زمانه کي د کوفې حاکم وو، بيا د حمص حاکم جوړ کړل سو، ده د عبدالله بن زبير د خلافت دپاره خلگ مائل کول پيل کړل، اهل حمص دی په ۶۴م هجري کال ووژی، دده څخه يوه ډله چي په هغو کي دده زوی محمد او شعبي شامل دي، روايت کوي.

۹۱۳. **نعمان بن عمرو بن مقرن**: دغه نعمان د عمرو بن مقرن زوی دی مزني دي، خلگ وايي چي ده ووېل: هغه په مزينه کي د څلور سوه کسانو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوی وو، مخکي په بصره کي اوسېدی او بيا کوفې ته منتقل سو، بيا د حضرت عمر رضي الله عنه له خوا د جيش نهاوند حاکم وو، په ۲۱م هجري کال کي د نهاوند په فتح کولو سره په هغه ورځ شهيد سو، دده څخه معقل بن يسار او محمد بن سيرين او نور کسان روايت کوي، په مقرن کي پر ميم باندي پېښ، پر قاف باندي زور او راء باندي تشديد او کسره ده او په آخر کي نون دی.

۹۱۴. **نعيم بن مسود**: دغه نعيم د مسود زوی دی، اشجعي دی، په هجرت کولو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو، د خندق د غزا په وخت په اسلام مشرف سو، دی د بنو قريظه او ابوسفيان احزاب مشرکين مشر وو، ده مشرکين د رسول الله ﷺ څخه ناکام استولي وه، دده دغه واقعه مشهوره ده، په مدينه منوره کي اوسېدی، دده زوی سلمه دده څخه روايت کوي، د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو، ويل کيږي چي په جنگ جمل کي د حضرت علي رضي الله عنه د رسېدو څخه مخکي ووژل سو.

۹۱۵. **نعيم بن همار**: دغه نعيم د همار زوی دی، په همار کي هاء مفتوح، ميم مشدد او راء ده، ويل کيږي چي همام د غطفان قبيلې سړی دی، ابو ادريس خولاني او نورو دده څخه روايت کړی دی.

۹۱۶. **نعیم بن عبدالله**: دغه نعیم د عبدالله زوی دی، قرشي او عدوي دی، د نحام په نامه سره مشهور دی، ویل کیږي چي دغه نعیم نحام د عبدالله زوی دی، په مکه کي ډېر مخکي په اسلام مشرف سوی وو، دا هم ویل کیږي چي د حضرت عمر رضی الله عنه د اسلام څخه مخکي مسلمان سوی وو او خپل اسلام یې پټوی، په خپل قوم کي ډېر شریف النفس وو، ځکه قوم د هجرت کولو څخه منع کړی وو، ده به دخپل قوم د کونډو ښځو او یتیمانو مصرف کوی، هغوی ده ته ویلي وه چي ته په کوم دین یې پر هم هغه اوسه مګر زموږ سره اوسه، د حدیبیه په صلح کي په اووم هجري کال یې هجرت وکړ او په جنګ اجنادین کي د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت په آخري ورځو کي شهید سو، دده څخه نافع او محمد بن ابراهیم تیمي روایت کوي. په نحام کي پر نون باندي زور، پر حاء مهمله باندي تشدید دی، او په اجنادین کي پر همزه زور، جیم ساکن او نون او دال باندي زور دی او یاء ساکنه ده.

۹۱۷. **ناجیه بن جندب**: دغه ناجیه د جندب زوی او اسلمي دی، د رسول الله ﷺ د اوښانو څارونکی وو، ویل کیږي چي دی د عمر رضی الله عنه زوی دی، په اهل مدینه کي شمېرل کیږي، دده نوم ذکوان وو، رسول الله ﷺ د ناجیه نوم پر کښېښود، ځکه چي ده ته د قریشو څخه خلاصون په برخه سوی وو، هغه صحابي دی چي د حدیبیه په صلح کي د غشي په اخیستلو سره کښته سوی وو، لکه څرنګه چي بیان کیږي، دده څخه عروه بن زبیر او نور کسان روایت کوي، د حضرت معاویه رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي په مدینه کي وفات سو.

۹۱۸. **نبیشة الخیر**: دده نوم نبیشة الخیر دی، د بنوهذیل څخه دی، ابوالملیح او ابوقلابه دده څخه روایت کوي، په اهل بصره کي شمېرل کیږي، په دوی کي دده حدیث تر لاسه کیږي.

۹۱۹. **نوفل بن معاویه**: دغه نوفل د معاویه زوی دی، دیلي دي، ویل کیږي چي د اسلام څخه مخکي دده عمر شپېته کاله وو، داسي نه ده بلکه سل کاله ژوندی وو، تر ټولو مخکي د مکې په فتح کي شریک وو، په اسلام سره د مخکې څخه مشرف سوی وو، په اهل حجاز کي شمېرل کیږي، د یزید بن معاویه په زمانه کي په مدینه کي وفات سو، ځیني کسان دده څخه روایت کوي، په دیلي کي دال مکسور او یاء ساکنه ده.

۹۲۰. **نواس بن سمعان**: دغه نواس د سمعان زوی دی، د بنوکلاب څخه دی، په شام کي اوسېدی، د اهل شام څخه شمېرل کیږي، جبیر بن نفیر او ابوادریس خولاني دده څخه

روایت کوي، په سمعان کي پر سین مهمله باندي کسره ده، ویل کیږي چي زور دی او میم ساکن او عین مهمله دی.

۹۲۱. **نفیع بن حارث**: دغه نفیع د حارث زوی دی، ثقفي دی، کنیت یې ابوبکره دی، دده یادونه په باء کي تېره سوې ده.

۹۲۲. **نافع بن عتبه**: دغه نافع د عتبه بن ابي وقاص زوی دی، د بنوزهره څخه دی، د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وراره دی، دده څخه جابر بن سمره روایت کوي، د مکې د فتح په ورځ مسلمان سو، په اهل کوفه کي شمېرل کیږي.

۹۲۳. **ابونجیح**: نوم یې عمرو بن عتبه دی، په عین کي دده یادونه تېره سوې ده.

تابعین رحمة الله علیهم.

۹۲۴. **نافع بن سرجس**: دغه نافع د سرجس زوی دی، د عبدالله بن عمر رضي الله عنه ازاد سوی غلام دی، دیلمي دی، د سترو تابعینو څخه دی، د ابن عمر او ابوسعید رضي الله عنهما څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه ډېرو خلکو چي په هغوی کي زهري او مالک بن انس هم شامل دي، روایت کړی دی، د حدیثو د روایت په اړه د مشهورو خلکو څخه دی او د هغه باوري راویانو څخه دی چي د هغوی څخه روایات تر لاسه کیږي، د حضرت ابن عمر رضي الله عنه د حدیثو لویه برخه پر ده موقوف ده، امام مالک رحمة الله علیه وایي: کله چي زه د نافع په واسطه حدیث اورم نو د بل راوي د اورېدو څخه بې فکره سم، په ۱۱۷م هجري کال کي وفات سو، په سرجس کي سین مهمله اول مفتوح، راء ساکنه او جیم مکسور دی.

۹۲۵. **نافع بن جبیر**: دغه نافع د جبیر زوی او د مطعم لمسی دی، د قریشو څخه دی، د حجاز او سېدونکی دی، د خپل پلار او ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت کوي او دده څخه زهري او نور کسان روایت کوي.

۹۲۶. **نافع بن غالب**: دغه نافع د غالب زوی دی، کنیت یې ابوغالب دی، نوموړی خیاط او باهلي دی، د بصرې په تابعینو کي شمېرل کیږي، د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت کوي او دده څخه عبدالوارث روایت کوي.

۹۲۷. **نبیه بن وهب**: دغه نبیه د واهب زوی دی، کعبي او حجازي دی، د ابان بن عثمان او کعب څخه یې روایت کړی دی چي د سعید بن عاص ازاد سوی غلام دی، دده څخه نافع روایت کوي، په نبیه کي پر نون باندي ضمه، پر باء موحده باندي فتحه او یاء ساکنه ده.

۹۲۸. **نضر بن شميل**: دغه نضر د شميل زوی دی، کنيت يې ابوالحسن دی، د بنومازن ښخه دی، په مرو کې يې هستوګنه اختيار کړل او هلته تقريبا په ۲۰۳ هجري کال کې وفات سو، دده ښخه ډېرو خلګو روايت کړی دی، په نحو او ټولو ادبي فنونو کې ماهر وو، په شميل کې پر شين معجمه باندې پيش دی.

۹۲۹. **ناصح بن عبدالله**: دغه ناصح د عبدالله زوی دی، محلمي دی، دده يادونه په باب بالشفقة والرحمة کې ده، ده د سماک او ابن کثير ښخه او دده ښخه يحيى بن يعلى او اسحاق المسلم السلولي روايت کړی دی، نيک سړی دی، محدثينو ورته ضعيف ويلي دي.

۹۳۰. **النفيلي**: دده نوم عبدالله دی، د محمد بن علي بن نفيل زوی دی، د حديثو حافظ دی، ده د مالک ښخه او دده ښخه ابوداؤد روايت کړی دی، ابوداؤد وايي ما دده ښخه زيات صاحب حفظ نه دی ليدلی، امام احمد به دده عزت کوی، دی د دين يو رکن دی، په ۲۳۴ هجري کال کې وفات سو.

۹۳۱. **النجاشي**: دغه نجاشي د حبشې پاچا دی، ده په رسول الله ﷺ ايمان راوړ او اسلام يې قبول کړ، دده نوم اصحمه دی، دمکې د فتح ښخه مخکې وفات سو، کله چې رسول الله ﷺ ته دده د وفات کېدو خبر راغلی نو د غائبانه د جنازې لمونځ يې ورکړ، د رسول الله ﷺ په ليدنه مشرف نه سو، ابن منده دده يادونه په صحابوو کې کړې ده، حال دا چې د رسول الله ﷺ سره نه دی پاته سوی او نه يې رسول الله ﷺ ليدلی دی، مناسب داده چې دی په صحابوو کې ونه شمېرل سي ځکه چې د صحابي لفظ پر ده باندې په هيڅ صورت کې نه صادقيږي، دده يادونه په صلوة الجنازه کې راغلې ده.

۹۳۲. **ابونضر**: نوم يې سالم دی د ابواميه زوی دی، د عمر بن عبيد بن معمر ازاد سوی غلام دی، قرشي، تيمي او مدني دی، په تابعينو کې شمېرل کيږي، دده ښخه مالک، ثوري او ابن عيينه روايت کړی دی، په النضر کې نون مفتوح، ضاد معجمه ساکن دی.

۹۳۳. **ابونضره منذر**: نوم يې منذر او د مالک زوی دی، عبدي دی، د ابن عمر، ابوسعيد او ابن عباس رضي الله عنهم ښخه يې حديث اورېدلي دي، دده ښخه ابراهيم تيمي، قتاده او سعيد بن زيد روايت کوی، د بصرې په تابعينو کې شمېرل کيږي، د حسن ښخه لږ مخکې وفات سو.

۹۳۴. **ابن نواحه**: نوم يې عبدالله دی، دا هغه دی چې د خپل ملګري ابن اثال سره د مسيلمه کذاب ښخه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو، د دواړو يادونه په کتاب الامان کې راغلې ده، ابن نواحه د مسيلمه کذاب د وژلو ښخه وروسته په مسلمانانو کې

داسي پټ سو چي خلګو مسلمان ګڼي تر دې چي د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي د يمن د مرتستي لپاره کوفې ته واستول سو، دغه سړی د خپل قوم بني حنفيه امام وو، دده او دده د ملګرو پر خلاف حارثه بن مضرس شاهدي ورکړل چي دغه خلګ د کلي د مسجد هغه شيان يو بل ته ښيي کوم چي مسيلمه په درواغو جوړ کړي وه، او ددې دعوه يې کړې وه چي هغه ته د خدای جل جلاله له خوا وحي سوي دي، په هغه زمانه کي حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په کوفه کي معلم او د حضرت ابو موسی رضي الله عنه راسته لاس وو، دغه سرکښه ډله د هغه په وړاندي حاضره کړل سول، هغه يې سرکښي و پېژندل او توبه په وکښل سول، هغوی توبه وکړل او توبه يې قبوله سول، مګر د ابن نواحه معذرت قبول نه کړل سو ځکه ابن مسعود رضي الله عنه دغه خلګ شام ته جلا وطنه کړل، او د دوی باطني حالات يې الله جل جلاله ته وسپارل، ابن مسعود رضي الله عنه وايي: که د دوی عقيده هغه وي کوم چي مخکي وه نو د شام طاعون به يې هلاک کړي کنه نو اوس د دوی د توبې کولو ځخه وروسته موږ لره د سزا ورکولو هيڅ حق پاته نه سو، مګر اوس د نواحه په اړه ابن مسعود رضي الله عنه پر وژلو باندي ټينګ وو، ځکه چي دی د زنديق او زنده مبلغ وو، نو دهغه په حکم سره قرظه بن کعب هغه ووژی.

و - صحابه کرام رضي الله عنهم :

۹۳۵. **واثله بن الاسقع** : دغه واثله د اسقع زوی دی، ليثي دی، دی هغه وخت مسلمان سو کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د تبوک د غزا دپاره تياري کول، ويل کيږي چي ده درې کاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت وکړ، نوموړی د اهل صفه ځخه وو، مخکي په بصره کي او بيا په شام کي هستوګن سو، دده سرای د دمشق ځخه پر نهه ميله فاصله باندي په يو کلي بلاط کي وه، بيا بيت المقدس ته نقل سو او هلته وفات سو، هغه وخت يې عمر سل کاله وو، دده ځخه يو ډله حديث نقل کوي، په اسقع کي پر قاف باندي زور او په آخر کي عين دی.

۹۳۶. **وهب بن عمير** : دغه وهب د عمير بن وهب زوی دی، نوموړی جهمي دی، د بدر په غزا کي د کفر په حالت کي بندي کړل سو، دده پلار مدينې ته راغلی او مسلمان سو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه په وجه دی ازاد کړ، نو دی هم مسلمان سو، دده يو خاص حيثيت او مرتبه وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د فتح په کال دی صفوان بن اميه ته استولی وو چي د اسلام دعوت ورکړي، په شام کي په جهاد کولو سره وفات سو.

۹۳۷. **وابصه بن معبد** : دغه وابصه د معبد زوی دی، کنيت يې ابو شداد اوسي دی،

مخکي په کوفه کي هستوګن سو او بیا جزیرې ته منتقل سو، په رقه کي وفات سو، دده څخه زیاد بن ابي الجعد روایت کوي.

۹۳۸. **وائل بن حجر**: دغه وائل د حجر زوی دی، حضرمي دی، د حضرت موت د مشرانو څخه وو، دده پلار د هغه ځای پاچا وو، د رسول الله ﷺ په خدمت کي د وفد په صورت کي حاضر سو، ویل کیږي چي نبي کریم ﷺ خپلو صحابوو ته دده د راتلو څخه مخکي دا زیری ورکړی وو او فرمایلي یې وه چي تاسو ته د ډېر لیري څخه وائل بن حجر راځي، د هغه راتلل د پیروۍ، او د الله جَلَّ جَلَالُهٗ او د هغه د رسول د شوق او رغبت دپاره دي، دی په شاهي کورنۍ کي افضل دی، کله چي دی حاضر سو نو رسول الله ﷺ ورته ښه راغلاست وو ایه او خپل ځان ته نژدې یې ځای ورکړ، خپل څادر یې ورته هوار کړ او پر هغه یې کښېنوی او وه یې فرمایل: اې الله! وائل او دده اولاد او دده د اولاد اولاد ته برکت ورکړې، رسول الله ﷺ دی د حضرت موت په مشرانو کي مشر ټاکلی وو، دده څخه دده دواړه زامن علقمه او عبدالجبار او نور کسان روایت کوي، په حجر کي حاء مهمله مضموم، جیم ساکن او په پای کي راء ده.

۹۳۹. **وحشي بن حرب**: دغه وحشي د حرب زوی دی، حبشي دی او د مکې د حبشیانو څخه دی، د جبیر بن مطعم ازاد سوی غلام دی، دا هغه دی چي د کفر په حالت کي د احد په غزا کي د رسول الله ﷺ اکا حضرت حمزه رضي الله عنه شهید کړی وو، د طائف څخه وروسته مسلمان سو او د یمامه په جګړه کي د مسلمانانو له خوا وو، دده دعوه وه چي مسیلمه کذاب یې وژلی دی، ده به ویل چي ما په خپله چاړه دوه کسان وژلي دي، یو خیر الناس (حمزه رضي الله عنه) او دوهم شر الناس (مسیلمه کذاب)، په شام کي هستوګن سو او په حمص کي وفات سو، دده څخه دده زوی اسحاق، حرب او نور کسان روایت کوي.

۹۴۰. **ولید بن عقبه**: دغه ولید د عقبه زوی دی، کنیت یې ابووهب دی، قرشي دی او د عثمان بن عفان رضي الله عنه ورور دی، د مکې د فتح په وخت کي مسلمان سو، هغه وخت ځوانۍ ته نژدې وو، حضرت عثمان رضي الله عنه د کوفې والي ټاکلی وو، دی د قریشو د زلمیانو او شاعرانو څخه دی، دده څخه ابوموسی همداني او نور کسان روایت کوي، په رقه کي وفات سو.

۹۴۱. **ولید بن ولید**: دغه ولید د ولید زوی دی، قرشي او مخزومي دی، د خالد بن ولید ورور دی، د بدر په غزا کي د کفر په حالت کي بندي راوستل سو، دده فدیه دده ورور خالد

او هشام اداء کړل، کله چې فدیه ادا سول نو دی مسلمان سو، خلګو ورته وویل: تا د فدیې ادا کولو څخه مخکې ولې د اسلام اظهار ونه کړ، هغه وویل: ما داسې ځکه ونه کړل چې تاسو ته دغه بدګماني پیدا نه سي چې د بند څخه د بېرېدو په وجه ما اسلام قبول کړی دی، د اسلام د اظهار څخه وروسته د مکې مشرکینو بندي کړ، په مکه کې به دده او نورو ضعفاء اسلام دپاره رسول الله ﷺ په قنوت کې دعاء کول، څه وخت وروسته دی ازاد سو او رسول الله ﷺ ته راورسېدی، په عمرة القضاء کې شریک سو، دده څخه عبدالله بن عمر او ابوهریره رضی الله عنهما روایت کوي.

۹۴۲. **ورقه بن نوفل**: دغه ورقه د نوفل بن اسد زوی دی، د قریشو څخه دی، انجیل یې ویلی وو، ډېر سپین ږیری او ړوند سوی وو، د ام المؤمنین بي بي خدیجې رضی الله عنها د اکا زوی وو.

۹۴۳. **ابوواقد**: نوم یې حارث او دعوف زوی دی، لیثي دی، پخواني مسلمان وو، دده شمېر په اهل مدینه کې کېږي، یو کال د مکې شاوخوا اوسېدی او په مکه کې په ۶۸م هجري کال د ۷۵ کالو په عمر وفات سو او په فخ نامي ځای کې دفن کړل سو.

۹۴۴. **ابووهب**: دغه ابووهب جشمي دی، دده نوم او کنیت یو دی، د رسول الله ﷺ صحبت او روایت کول دواړه ور په برخه دي، په جشمي کې پر جیم باندي ضمه او پر شین باندي فتحه او میم مکسور دی، یاء تحتیه مشدده ده چې د نسبت ده.

تابعین رحمهم الله.

۹۴۵. **وهب بن منبه**: دغه وهب د منبه زوی دی، کنیت یې ابوعبدالله دی، د صنعاء اوسېدونکی دی او ایراني النسل دی، د جابر بن عبدالله او ابن عباس رضی الله عنهما څخه یې حدیث اورېدلي دي، په ۱۱۴م هجري کال کې وفات سو، په منبه کې پر میم باندي پېښ، پر نون باندي زور او باء مسکوره او پر هغه باندي تشدید دی.

۹۴۶. **وبره بن عبدالرحمن**: دغه وبره د عبدالرحمن زوی دی، کنیت یې ابوخزیمه دی، د بنو حارث څخه دی، ده د ابن عمر او سعید بن جبیر رضی الله عنهما څخه او دده څخه یوه ډله روایت کوي، په وبره کې واو مفتوح، باء ساکنه ده.

۹۴۷. **وکیع بن جراح**: د کوفې اوسېدونکی دی، د قیس غیلان څخه دی، ویل کېږي چې دده اصل د نیشاپور یوه کلي سره دی، ده د هشام بن عروه او اوزاعي او ثوري څخه اورېدل کړي دي او دده څخه عبدالله ابن مبارک، احمد بن حنبل او یحیی بن معین، علي بن

مديني او د دوی څخه ماسوا نور ډېر کسان روايت کوي، بغداد ته راغلی او هلته يې حديث بيان کړل، دی د باور وړ دی، دده په حديثو باور دی، دده قول ته رجوع کيږي، ده به د ابوحنيفة رحمة الله عليه پر قول فتوا ورکول، ده د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه څخه ډېر شيان اورېدلي دي، په ۹۹ م هجري کال کي پيدا سو، او په ۱۹۷ هجري کال کي د مکې شريفي څخه په ستنېدو وفات سو او په فيد کي دفن سو.

۹۴۸. **وحشي بن حرب**: دغه وحشي دحرب زوی دی، ده د خپل پلار په واسطه د خپل نيکه څخه روايت کړی دی او دده څخه صدقه بن خالد او نور کسان روايت کړی دی، په اهل شام کي شمېرل کيږي.

۹۴۹. **ابووائل** : نوم يې شقيق دی د سلمه زوی دی، اسدي او کوفي دی، د جاهليت او اسلام دواړي زمانې يې تر لاسه کړي دي، د رسول الله ﷺ زمانه يې تر لاسه کړل مگر رسول الله ﷺ يې ونه ليدی او نه يې د رسول الله ﷺ حديث اورېدلي دي، دده خپل بيان دی چي د رسول الله ﷺ د بعثت څخه مخکي زما عمر لس کاله وو، ما به دخپل کور پسونه په ځنگل کي څرل، په صحابه کرامو کي د ډېرو حضراتو څخه چي په هغوی عمر بن خطاب او ابن مسعود رضي الله عنهما هم شامل دي، روايت کوي، د ابن مسعود رضي الله عنه په لويو شاگردانو کي خاص وو، ډېر حديث نقل کوي، نوموړی باوري دی، د حجاج بن يوسف په زمانه کي وفات سو.

۹۵۰. **وليد بن عقبه**: دغه وليد د عقبه بن ربيعه زوی دی، جاهلي (کافر) دی، دده يادونه د بدر په غزا کي راغلې ده او په همدغه غزا کي ووژل سو.

۵ - صحابه کرام رضي الله عنهم :

۹۵۱. **هشام بن حکيم**: دغه هشام د حکيم بن حزم زوی دی، قرشي او اسدي دی، د مکې د فتح په وخت مسلمان سو، په صحابوو کي صاحب خير او فضل وو، دی په هغه صحابوو کي وو چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر يې کول، دده څخه يوه ډله چي په هغوی کي عمر بن خطاب رضي الله عنه هم دی، روايت کوي، د خپل پلار د وفات څخه مخکي وفات سو، دده پلار په ۵۴م هجري کال کي وفات سو.

۹۵۲. **هشام بن عاص**: دغه هشام د عاص زوی د عمر بن عاص ورور او پخوانی مسلمان دی، په مکه کي په اسلام مشرف سوی دی، حبشې ته يې هجرت وکړ، کله چي د رسول الله ﷺ په هجرت خبر سو نو د خندق د غزا څخه وروسته چي په مدينه کي رامنځته سول، مکې

ته راغلی، غوره او صاحب فضل صحابي دی، دده څخه دده وراره عبدالله روایت کوي، په ۱۲م هجري کال په یرموک کي شهید سو.

۹۵۳. **هشام بن عامر**: دغه هشام د عامر زوی دی، انصاري دی، په بصره کي اوسېدی او هلته وفات سو، په اهل بصره کي شمېرل کیږي او دهغوی سره دده حدیثونه تر لاسه کیږي، دده څخه دده زوی سعد او حسن بصري او نور کسان روایت کوي.

۹۵۴. **هلال بن امیه** رضي الله عنه: دغه هلال د امیه زوی دی، واقفي او انصاري دی، د تبوک د غزا څخه د پاته کېدونکو درو صحابوو څخه دی هم دی، الله جل جلاله د دوی ټولو توبه قبوله کړل، د بدر په غزا کي شریک وو، دا هغه صحابي دی چي خپله ښځه یې د شریک سره متهم کړل، دده یادونه په لعان کي ده، دده څخه جابر او ابن عباس روایت کوي.

۹۵۵. **هزال بن ذباب**: دغه هزال د ذباب زوی دی، کنیت یې ابونعیم دی، اسلمي دی، دده څخه دده زوی نعیم او محمد بن منکدر روایت کوي، دده یادونه د ماعز په حدیث او د هغه د رجم په اړه راغلې ده، ځیني خلګ وایي چي ابن منکدر خپله دده څخه روایت ونه کړ بلکه دده د زوی نعیم په واسطه یې دده څخه روایت کړی دی.

۹۵۶. **ابوهریره** رضي الله عنه: په نامه او نسب کي یې سخت اختلاف دی، زیاته مشهوره خبره داده چي د اسلام څخه مخکي دده نوم عبدالشمس یا عبد عمرو وو او د اسلام راوړلو څخه وروسته د عبدالرحمن نوم ور باندي کښېښودل سو، د دوس قبیلې څخه دی. حاکم ابواحمد وایي: زموږ په نزد د ابوهریره رضي الله عنه د نامه په اړه تر ټولو زیاته صحیح خبره داده چي دده نوم عبدالرحمن بن صخر دی، دده کنیت دده پر نامه داسي غالب سو لکه بالکل چي دده نوم ایښودل سوی نه وي، د خیبر د غزا په کال یې اسلام راوړ او د رسول الله ﷺ سره ملګری سو، بیا د رسول الله ﷺ سره وو او د علم په شوق کي په پابندۍ سره حاضرېدی. پر یوازي نس مړولو به یې اکتفاء کول، رسول الله ﷺ چي به چیري تلی دی به هم ورسره تلی. ډېر قوي الحفظ وو، د نبي کریم ﷺ د ملګرتیا په برکت سره هغه شیان یې په ذهن کي مستحضر کېدل چي د نورو په ذهن کي نه راتلل، خپله دده بیان دی چي ما رسول الله ﷺ ته وویل: اې دالله رسوله! زه ستاسو څخه ډیري خبري اروم او هغه زما نه په یاد کیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل: خپل څادر وغوړوه، ما خپل څادر وغوړوی، بیا رسول الله ﷺ ډېر حدیثونه وفرمایل او هغه ټول مي په یاد سول، امام بخاري رحمه الله وایي چي هغه د اته سوه څخه زیاتو کسانو څخه روایت نقل کوي چي په هغو کي صحابه کرام لکه ابن

عمر، ابن عباس، جابر، انس رضي الله عنهم او تابعين ټول شامل دي، په مدينه منوره کي په ۵۷م هجري کال يا په ۵۸م هجري کال د ۷۵ کالو په عمر وفات سو، دده سره به هر وخت کوچنۍ پيشي وه ځکه دده نوم ابو هريره رضي الله عنه سو.

۹۵۷. **ابوالهثيم**: دده نوم مالک بن تيهان دی، د ميم په حرف کي دده يادونه راغلې ده.

۹۵۸. **ابوهاشم**: دغه ابو هاشم شيبه بن عتبه بن ربيعه قرشي دی، ويل کيږي چي دده نوم هشام دی، او دا هم ويل کيږي چي دده نوم دده کنيت دی، او دغه زيات مشهور دی، د معاويه بن ابو سفيان ماما دی، د مکې د فتح په کال مسلمان سو او په شام کي اوسېدی، د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سو، نيک او صاحب فضل صحابي دی، دده څخه ابو هريره رضي الله عنه او نور کسان روايت کوي.

تابعين رحمهم الله.

۹۵۹. **ابوهند**: نوم يې يسار دی، د ويني کښلو کسب يې کوی، ده د رسول الله ﷺ وينه کښلې وه، د بنو بياضه ازاد سوی غلام دی، د ابن عباس، ابوهريره او جابر رضي الله عنهم څخه روايت کوي.

۹۶۰. **هشام بن عروه**: دغه هشام د عروه بن زبير زوی دی، کنيت يې ابومنذر دی، قريشي او مدني دی، د مدينې مشهور تابعي او زيات روايت کونکی دی، په سترو علماؤ او جليل القدر تابعينو کي شمېرل کيږي، د عبدالله بن زبير او ابن عمر رضي الله عنهم څخه يې حديث اورېدلي دي. او دده څخه ډېرو خلګو روايت کړی دی چي په هغوی کي ثوري، مالک بن انس او ابن عيينه هم دي، خليفه منصور ته بغداد ته راغلی، په ۶۱م هجري کال پيدا سو، په ۱۴۶م هجري کال په بغداد کي وفات سو.

۹۶۱. **هشام بن زيد**: دغه هشام د زيد بن انس بن مالک زوی دی، انصاري دی، د خپل نيکه انس څخه روايت کوي، دده څخه يو ډله روايت کوي، په اهل بصره کي شمېرل کيږي

۹۶۲. **هشام بن حسان**: دغه هشام د حسان زوی دی، قردوسي دی، يعني د دغه قبيلې ازاد سوی غلام دی، د دوی سره هستوګن وو ځکه قردوسي ورته ويل کيږي، دا هغه کس دی چي ويلي يې وه: حجاج چي څوک د لاسو او پښو په تړلو سره وژلي دي هغوی شمېر کړئ. هغوی چي وشمېرل سول نو يولک او شل زره کسان وه، د حسن، عطاء او عکرمه څخه يې حديث اورېدلي دي او دده څخه حماد بن زيد، فضل بن عياض او نور کسان

روایت کوي، په ۱۴۷ م هجري کال کي وفات سو، په قردوسي کي پر قاف باندي ضمه او پر دال مهمله باندي ضمه او سین مهمله دی.

۹۶۳. **هشام بن عمار**: دغه هشام د عمار زوی دی، کنیت یې ابوالولید دی، ثلمي او دمشقي دی، د تجوید ماهر، حافظ حدیث او د دمشق خطیب دی، ده د مالک، یحیی ابن همزه څخه او دده څخه بخاري، نسائي، ابوداؤد، ابن ماجه، محمد بن خزیم او باغندي روایت کړی دی، ۹۲ کاله ژوندی وو، په ۲۴۵ م هجري کال کي وفات سو.

۹۶۴. **هشام بن زیاد**: دغه هشام د زیاد زوی دی، ابوالمقدام یې کنیت دی، د قرظي او حسن څخه روایت کوي او دده څخه شیبان بن فروغ او قواریري روایت کوي، محدثینو ده ته په روایت کي ضعیف ویلي دي.

۹۶۵. **هشیم بن بشیر**: دغه هشیم د بشیر زوی دی، سلمي دی، د مشهورو امامانو عمرو بن دینار، زهري، یونس بن عبید، او ایوب سختیاني څخه یې حدیث اورېدلي دي، او دده څخه مالک، ثوري، شعبه او ابن مبارک او د دوی څخه ماسوا نور ډېر خلک روایت کوي، په ۱۰۴ م هجري کال کي پیدا سو او په ۱۸۳م کال کي وفات سو.

۹۶۶. **هلال بن علي**: دغه هلال د علي بن اسامه زوی دی، خپل نیکه هلال بن ابي میمونه فهري ته منسوب دی، ده د حضرت انس او عطاء بن یسار څخه او دده څخه مالک بن انس او نورو کسانو روایت کړی دی.

۹۶۷. **هلال بن عامر**: دغه هلال د عامر زوی دی، مزني دی، په اهل کوفه کي شمېرل کیږي، دی د خپل پلار څخه روایت کوي او د رافع مزني څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه یعلي او نور کسان روایت کوي.

۹۶۸. **هلال بن یساف**: دغه هلال د یساف زوی دی، د اشجع ازاد سوی غلام دی، دده لیدنه د حضرت علي رضی اللہ عنہ سره ثابت ده، د سلمه بن قیس څخه یې روایت کړی دی، د ابومسعود انصاري څخه یې د حدیثو اورېدل کړي دي، او دده څخه یوه ډله روایت کوي.

۹۶۹. **هلال بن عبدالله**: دغه هلال د عبدالله زوی دی، ابوهاشم یې کنیت دی، د بنوباهله څخه دی، ده د ابواسحاق څخه روایت کړی دی او عفان او مسلم دده څخه روایت کوي، بخاري وفرمایل: دده حدیث منکر دی.

۹۷۰. **همام بن حارث**: دغه همام د حارث زوی دی، نخعي او تابعي دی، د ابن مسعود، عائشې او نورو صحابه کرامو څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه ابراهیم

نخعي روايت کوي.

۹۷۱. **هود بن عبدالله**: دغه هود د عبدالله بن سعد زوی دی، عصري دی، د خپل نیکه مزیده او سعید بن وهب څخه یې روایت کړی دی، دواړه صحابیان دي او دده څخه طالب بن حجر روایت کوي.

۹۷۲. **هبیره بن مریم**: دغه هبیره د مریم زوی دی، د علي او ابن مسعود رضي الله عنهما څخه روایت کوي او دده څخه ابواسحاق او ابوفاخته روایت کوي، نوموړی باوري دی، امام نسائي وایي: دده په روایت کي قوت نسته، په ۶۶ م هجري کال کي وفات سو.

۹۷۳. **هزیل بن شرحبیل**: دغه هزیل د شرحبیل زوی دی، ازدي او کوفي دی، نوموړی ړوند وو، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه یوه ډله روایت کوي.

۹۷۴. **ابوالهیاج**: دغه ابوالهیاج حیان دی، د حصین زوی دی، اسدي دی، دحضرت عمار بن یاسر رضي الله عنه کاتب وو، دده حدیث صحیح دي، ده د حضرت علي او عمار رضي الله عنهما څخه او دده څخه شعبي او ابووائل روایت کړی دی، په هیاج کي یاء مشدده او جیم دی.

صحابي ښځي

۹۷۵. **هندبنت عتبه**: دغه هند د عتبه بن ربیعه لور ده، د ابوسفیان ښځه ده او د معاویه رضي الله عنه مور ده، د مکې د فتح په کال د خپل خاوند د اسلام راوړلو څخه وروسته مسلمانه سول، رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی دواړو نکاح باقي وساتل، نوموړې ډېره فصیحه او عاقله وه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس مبارک یې بیعت وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: د الله جل جلاله سره شریک مه نیسئ، غلا مه کوئ، نو هندې وویل چي ابوسفیان په لاس نیولو سره مصرف کوي چي د هغه په وجه تنګي وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ته دومره اخله چي ستا او ستا د اولاد لپاره کافي وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: او زنا مه کوئ، نو هندې وویل: ایا یوه شریفه ښځه زنا کولای سئ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: خپل اولاد مه وژنئ، نو هندې وویل: تاسو خو زموږ ټول اولاد ووژل، موږ کوچني کوچني اولادونه لوی کړل او تاسو په بدر کي ووژل، د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سول، په هغه ورځ حضرت ابوقحافه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه پلار هم وفات سو، دې د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت کړی دی.

۹۷۶. **أم هاني**: نوم يې فاخته دی د ابو طالب لور او د حضرت علي رضي الله عنه خور ده، رسول الله ﷺ د نبوت څخه مخکي د نکاح پیغام ورکړی وو او هبیره بن ابو وهب هم پیغام ورکړی وو، مګر ابو طالب د هغې نکاح د ابو هبیره سره کړې وه، وروسته دا مسلمانه سول او د اسلام په وجه د هغې نکاح پاته نه سول، اوس په دوهم وار رسول الله ﷺ پیغام ورکړ نو هغې وویل: قسم په خدای! زه خو تاسو د مخکي څخه خوښوم، اوس د مسلمانېدو څخه وروسته به تا ولي خوښ نه کړم، مګر زه د کوچنیانو موریم، نو رسول الله ﷺ سکوت وفرمایه، ددې څخه ډېرو کسانو روایت کړی دی چي په هغوی کي علي او ابن عباس رضي الله عنهما هم دي.

۹۷۷. **ام هشام**: دغه ام هشام د حارثه بن نعمان لور او صحابیه ده، ددې څخه یوې ډلي روایت کړی دی.

ي - صحابه کرام رضي الله عنهم:

۹۷۸. **یزید بن اسود**: دغه یزید د اسود زوی دی او سوائي دی، دده څخه دده زوی جابر رضي الله عنه روایت کوي، دده شمېر په اهل طائفو کي کیږي، په سوائي کي سین مهمله مضموم، واو بېله تشدیده او الف ممدوده دی.

۹۷۹. **یزید بن عامر**: دغه یزید د عامر زوی دی، سوائي او حجازي دی، د حنین په غزا کي د مشرکانو له خوا شریک وو، د هغه څخه وروسته مسلمان سو، دده څخه سائب بن یزید او نور کسان روایت کوي.

۹۸۰. **یزید بن شیبان**: دغه یزید د شیبان زوی دی، ازدي او صحابي دی، دده څخه روایت هم نقل سوی دی، دده یادونه په وحدان کي کیږي، ده د ابن مربع څخه روایت کړی دی، او دده څخه عمرو بن عبد الله بن صفوان روایت کوي، دده حدیث د حج په اړه دي.

۹۸۱. **یزید بن نعامه**: دغه یزید د نعامه زوی دی او ضبي دی، دده څخه سعید بن سلمان روایت کړی دی، د شرک په حالت کي د حنین په غزا کي شریک سو، دهغه څخه وروسته مسلمان سو، د ترمذي ارشاد دی چي دده د رسول الله ﷺ څخه د حدیثو اورېدل مشهور نه دي، په نعامه کي نون او عین مهمله دواړه مفتوح دي.

۹۸۲. **یحیی بن اسید بن حضیر**: دغه یحیی د اسید حضیر زوی دی، د انصارو څخه دی، د رسول الله ﷺ په زمانه کي پیدا سو، دده د پلار کنیت د ابو یحیی په نامه دی، دده یادونه په فضل القراءة والقاري کي راغلې ده، ابن عبد البر ویلي دي: دده عمر خو د حدیث

د اوربدو ور وو مگر زه دده هیڅ روایت نه پېژنم.

۹۸۳. **یوسف بن عبدالله**: دغه یوسف د عبدالله بن سلام زوی دی، کنیت یې ابویعقوب دی، د حضرت یوسف بن یعقوب علیهما السلام اولاد د بني اسرائیلو څخه وو، د رسول الله ﷺ په ژوند کي پیدا سوی دی، د رسول الله ﷺ په خدمت کي راوستل سو، رسول الله ﷺ په خپله مبارکه غېږ کي واخیست او دده نوم یې یوسف تجویز کړ او په سر کي یې ورته لاره وایستل او د ساتني دعاء یې ورته وکړل، ځیني خلگ وایي چي د رسول الله ﷺ لېدنه یې په برخه سول، دده څخه روایت نسته، په اهل مدینه کي شمېرل کیږي.

۹۸۴. **یعلي بن امیه**: دغه یعلي د امیه زوی دی، تمیمي او حنظلي دی، د مکې د فتح په کال مسلمان سو، په اهل حجاز کي شمېرل کیږي، دده څخه صفوان، عطاء، مجاهد او نور کسان روایت کوي، د حضرت علي بن ابي طالب رضی الله عنه سره د جمل په جگړه کي شریک وو او په هغه کي ووژل سو.

۹۸۵. **ابوالیسر**: دغه ابوالیسر (پر باء باندي فتحه او دوو ټکو والا یاء او سین مهمله باندي فتحه ده) دی، نوم یې کعب دی او د عمرو زوی دی، دده یادونه د کاف په حرف کي راغلې ده.

تابعین رحمة الله علیهم

۹۸٦. **یزید بن هارون**: دغه یزید د هارون زوی دی. اسلمي دی یعني د هغوی ازاد سوی غلام دی، د واسط اوسېدونکی دی، د یوې ډلي څخه روایت کوي او دده څخه احمد بن حنبل، علي بن مدیني او نور کسان روایت کوي، په بغداد کي وارد سو او هلته یې حدیث بیان کړل، بیا د واسط څخه راغلی او هلته وفات سو، په ۱۱۸ م هجري کال کي پیدا سو، ابن مدیني وایي چي ما د ابن هارون څخه زیات قوي الحفظ هیڅوک لیدلی نه دی. د حدیثو ستر عالم او حافظ وو، نوموړی باوري، زاهد او عابد وو، په ۲۱۷ هجري کال کي وفات سو.

۹۸۷. **یزید بن زریع**: دغه یزید د زریع زوی دی، دده کنیت ابومعاویه دی، حافظ الحدیث دی، ده د ایوب او یونس څخه او دده څخه ابن مدیني او مسدد روایت کوي، دده یادونه په باب الشفقة والرحمة کي راځي، امام احمد وایي چي په بصره کي دیني او علمي خبري پر ده ختمي وې، د شوال په میاشت په ۱۸۳م هجري کال کي د ۸۱ کالو په عمر وفات سو.

۹۸۸. **یزید بن هرمز**: دغه یزید د هرمز زوی دی، همداني او مدیني دی، د بنو لیث ازاد سوی غلام دی، ده د ابوهریره رضي الله عنه څخه او دده څخه دده زوی عبدالله، عمرو بن دینار او زهري روایت کوي.

۹۸۹. **یزید بن ابي عبید**: دغه یزید د ابي عبید زوی دی، د سلمه بن اکوع ازاد سوی غلام دی، ده د سلمه څخه او دده څخه یحیی بن سعید او نور کسان روایت کوي.

۹۹۰. **یزید بن رومان**: دغه یزید د رومان زوی دی، دده کنیت ابوروح دی، په اهل مدینه کي شمېرل کیږي، د ابن زبیر او صالح بن خوات څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه امام زهري او نور کسان روایت کوي.

۹۹۱. **یزید بن اصم**: دغه یزید د اصم زوی دی، د ام المؤمنین بي بي میمونې رضي الله عنها خریی دی، د بي بي میمونې او ابوهریره رضي الله عنهما څخه روایت کوي.

۹۹۲. **یزید بن نعیم**: دغه یزید د نعیم بن هزال زوی دی، اسلمي دی، ده د خپل پلار او جابر رضي الله عنه څخه او دده څخه یوه ډله روایت کوي، په نعیم کي پر نون باندي فتحه ده او عین مهمله دی، په هزال کي هاء مفتوح او زاء مشدده ده.

۹۹۳. **یزید بن زیاد**: دغه یزید د زیاد زوی دی، د دمشق او سېدونکی دی، ده د زهري او سلیمان بن حبیب څخه او دده څخه وکیع او ابونعیم روایت کوي.

۹۹۴. **یعلي بن مملک**: دغه یعلي د مملک زوی دی، تابعي دی، ده د ام سلمه رضي الله عنها څخه او دده څخه ابن ابي ملیکه روایت کوي.

۹۹۵. **یعیش بن طخفه**: دغه یعیش د طخفه بن قیس زوی دی، غفاري دی، ده د خپل پلار څخه روایت کړی دی، دده پلار د اصحاب صفه څخه وو، او دده څخه ابوسلمه روایت کوي، په طخفه کي پر طاء باندي کسره او خاء معجمه ساکنه ده.

۹۹۶. **یعقوب بن عاصم**: دغه یعقوب د عاصم بن عروه بن مسعود زوی دی، ثقفي او حجازي دی، ده د ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت کړی دی.

۹۹۷. **یحیی بن خلف**: دغه یحیی د خلف زوی دی، باهلي دی، معتمدو او نورو څخه ده او دده څخه مسلم، ابوداؤد، ترمذي او ابن ماجه روایت کړی دی، په ۲۴۲م هجري کال کي وفات سو، په باب اعداد آلة الجهاد کي دده یادونه ده.

۹۹۸. **یحیی بن سعید**: دغه یحیی د سعید زوی دی، انصاري او مدني دی، د انس بن مالک، سائب بن یزید او نورو ډېرو څخه یې حدیث اورېدلي دي، دده څخه هشام بن

عروه، مالک بن انس، شعبه، ثوري، ابن عيينه او ابن مبارک او نور کسان روايت کوي، په مدينة الرسول کي د بنو اميه په دور کي د جګړې د فيصلې کولو ذمه دار وو، خليفه منصور د عراق څخه راوبلی او په هاشميه کي يې قاضي وټاکی، په دغه ځای کي په ۱۴۳م هجري کال وفات سو، د حديث او فقهي عالم، پرهيزګار، زاهد، نيک او په فقهي بصيرت کي مشهور وو.

۹۹۹. **يحيی بن حصين**: دغه يحيی د حصين زوی دی، د خپلي انا ام حصين او طارق څخه روايت کوي، دده څخه ابو اسحاق او شعبه روايت کوي، باوري دی.

۱۰۰۰. **يحيی بن عبدالرحمن**: دغه يحيی د عبدالرحمن بن حاطب بن ابي بلتعه زوی دی، مدني دی، ده د صحابه کرامو د يوې ډلي څخه روايت کړی دی.

۱۰۰۱. **يحيی بن عبدالله**: دغه يحيی د عبدالله بن بحير زوی دی. صنعاني دی، د هغو خلګو څخه يې روايت کړی دی چي د هغوی څخه فرسوده بن مسک اورېدل کړي دي، دده څخه معمر روايت کړی دی، په بحير کي باء مفتوح او حاء مهمله مکسور او راء مهمله ده.

۱۰۰۲. **يحيی بن ابي کثير**: دغه يحيی د ابوکثير زوی دی، دده کنيت ابونصر دی، يمامي او د بنوطی ازاد سوی غلام دی، په اصل کي بصري دی، بيا يمامه ته منتقل سو، ده د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه ليدنه کړې ده او د عبدالله بن ابي قتاده رضي الله عنه او نورو څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه عکرمه، اوزاعي او نور کسان روايت کوي.

۱۰۰۳. **يونس بن يزيد**: دغه يونس د يزيد زوی دی، ايلي دی، ده د قاسم عکرمه او امام زهري څخه او دده څخه ابن مبارک او ابن وهب روايت کوي، باوري او امام دی، په ۱۵۹م هجري کال کي وفات سو.

۱۰۰۴. **يونس بن عبيد**: دغه يونس د عبيد زوی دی، د بصرې او سېدونکی دی، د حسن او ابن سيرين څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه ثوري او شعبه روايت کوي، په ۱۳۹م هجري کال کي وفات سو.

صحابي ښځي

۱۰۰۵. **يسيره**: د ياسر انصاري مور ده، مهاجره ده، ددې څخه ددې لمسی حميصه بنت ياسره روايت کوي، په يسره کي پر ياء باندي ضمه، پر سين باندي فتحه، ياء ساکنه او راء ده.

د اصحاب اصول امامانو په بیان کي

۱۰۰۶. **مالک بن انس** رحمة الله علیه: دغه امام مالک رحمة الله علیه دی، د انس بن مالک بن ابي عامر زوی او اصبحي دی، دده کنیت ابو عبدالله دی، موږ دده په یادونه ځکه پیل وکړ چي دی د خپل واقفیت، مرتبې او زمانې په لحاظ مقدم دی، دی د علماؤ شیخ او د امامانو استاذ دی، حال دا چي موږ په مقدمة الکتاب کي د بخاري او مسلم یادونه تر ده مخکي کړې ده، ددې وجه هغه شرط دی چي د هغه رعایت دوی دواړو په خپل کتاب کي ایښی دی، موږ دلته هغوی نه ذکر کوو، ځکه چي تر دوی دواړو د مقدم کېدو زیات لائق دی او د هغه دواړو کتابونه بېله شکه دده د کتاب څخه د تقدیم حق لري، په ۹۵م هجري کال کي پیدا سو او په مدینه منوره کي په ۱۷۹م هجري کال وفات سو، هغه وخت دده عمر ۸۴ کاله وو، واقدي وایي چي عمر یې ۹۰ کاله وو، نوموړی نه یوازي د حجاز امام وو بلکه په حدیث او فقه کي د ټولو انسانانو مقتداء وو، د نوموړي د فخر دپاره دا کافي ده چي امام شافعي رحمة الله علیه یې په شاګردانو کي دی، د زهري، یحیی بن سعید، نافع، محمد بن المنکدر، هشام بن عروه زید بن اسلم ربیعه بن ابي عبدالرحمن او نورو ډېرو حضراتو څخه یې د حدیث علم تر لاسه کړ، او دده څخه دومره خلکو د حدیثو روایت کړی دی چي د هغوی شمېر نه سي کیدای. د دوی شاګردان د پوره پوره هیوادو امامان سول، په هغوی کي امام شافعي، محمد بن ابراهیم بن دینار، ابوهاشم، عبدالعزیز بن ابي حازم او داسي نور شامل دي، چي په شاګردانو کي د علم په اعتبار د دوی مثال دی، د دوی څخه ماسوا معن بن عیسی، یحیی بن یحیی، عبدالله بن مسلمه قعنبي، عبدالله بن وهب او داسي نور و خلکو شمېر نسته. دوی د بخاري، مسلم، ابوداؤد: ترمذي، احمد بن حنبل او یحیی ابن معین په ډول د امامانو او محدثینو استاذان دي، بکر بن عبدالله صنعاني وایي: موږ د مالک بن انس په خدمت کي حاضر سو، هغه موږ ته د ربیعه بن ابي عبدالرحمن څخه حدیثونه واورول او اورېدل مو غوښتل، نو یوه ورځ یې وفرمایل: تاسو په ربیعه څه کوئ، هغه هلته په محراب کي بېده دی، موږ ورغلو، ربیعه مو وېښ کړ او ورته وه مو ویل: تاسو ربیعه یاست، هغه وویل: هو، موږ ورته وویل: هغه ربیعه چي مالک بن انیس رضي الله عنه ور څخه روایت کوي، هغه وویل: هو، موږ ورته وویل: څه خبره ده چي امام مالک ستاسو څخه دومره مستفیض سو، او تاسو د خپل علم څخه دغه درجې (اجتهاد) ته ورسېدلاست، هغه جواب راکړ چي تاسو

ته معلومه نه ده چي دولت يعني د لطف رباني يو مثقال د علم د يو پنډ څخه غوره دی، عبدالرحمن بن مهدي وايي چي سفيان په ثواب حديث كي امام دی مگر په سنت كي امام نه دی، او اوزاعي په سنت كي امام دی، نو په حديث كي امام نه دی، او مام مالک په دواړو كي امام دی، دغه امام مالک رحمة الله عليه د علم او دين په تعظيم كي ډېر زيات وو چي كله به يې د حديثو بيانولو اراده وكړل نو اودس به يې وكړ، ډېره به يې ژمونځ كړل، خوشبويي به يې ولګول او په ډېر وقار سره به كښېنست، بيا به يې حديث بيانول، په دې اړه هغه ته وويل سول نو هغه وويل: زما زړه غواړي چي د حديث رسول الله ﷺ عظمت قائم كړم، يو وار ابو حازم حديث بيانوی، امام مالک پر تېر سو او پر مخ ولاړی، نه كښېنستی، پوښتنه وسول نو وه يې فرمايل چي د ناستي ځای نه وو او د حديث رسول په ولاړه تر لاسه كول ما ته ښه معلوم نه سول، ځكه زه ولاړم، يحيی بن سعيد وايي: د هيڅا حديث د امام مالک د حديث څخه زيات صحيح نه دي، امام شافعي رحمة الله عليه وويل: كله چي به يو ثوک اهل باطن ورتلی نو هغه ته به يې ويل: ته وګوره زما د دين شاهدي زما سره موجود ده او ته خو شكي يې، ولاړ سه او د ځان په ډول شكي ته ورسه او د هغه سره مناظره وكړه، او دا يې هم وفرمايل چي كله يو روايت د امام څخه حاصل سي نو هغه په ټينګه ونيسه، د امام مالک رحمة الله عليه وينا ده چي كله د يو انسان په نفس كي خير موجود نه وي نو خلګو ته هغه د هغه څخه خير نه تر لاسه كيږي، دده وينا ده چي علم د كثرت روايت نوم نه دی بلكه هغه يو نور دی چي الله جل جلاله يې په زړه كي اېږدي، ابو عبدالله وايي: ما په خوب كي ولېدل چي رسول الله ﷺ په مسجد كي ناست دی، خلګ شا و خوا ناست دي، امام مالک رحمة الله عليه د رسول الله ﷺ مخته ولاړ دی، د رسول الله ﷺ مخته مشک پراته دي، رسول الله ﷺ د هغه څخه په موټ ډكولو سره امام مالک رحمة الله عليه ته وركوي او امام مالک رحمة الله عليه يې خلګو ته وركوي، بطرف ويلي دي: ما د دغه تعبير علم او اتباع سنت وګڼی، امام شافعي رحمة الله عليه وايي: ما ته زما عمه وفرمايل، هغه وخت چي موږ په مكه كي وو، ما نن شپه يو عجيبه شی وليدی، ما وويل: څه دي ولېدل؟ هغې وويل: يو سړی وايي نن شپه په مځكه كي تر ټولو لوی عالم وفات سو، امام شافعي رحمة الله عليه وايي: موږ د هغې حساب ولګوی نو معلومه سول چي دا هغه وخت وو كله چي امام مالک رحمة الله عليه وفات سو، د امام مالک رحمة الله عليه څخه روايت دی چي زه خليفه هارون رشيد ته ورغلم، نو هغه ما ته وويل: ښه به وي كه تاسو دلته راسئ او زموږ ماشومان ستاسو څخه ستاسو كتاب مؤطا واوري، ما جواب وركړ چي الله

ﷻ د امیر المؤمنین عزت برقرار ولري، دغه علم ستاسو څخه وتلی دی، که تاسو یې عزت وساتئ نو باعزته به یاست، او که تاسو یې ذلیل کړئ نو ذلیل به سئ، علم خو داسي شی دی چي هغه ته رسېدل پکار دي نه چي هغه ځان ته راغوښتل، هارون وویل: تاسو رښتیا وویل او کوچنیانو ته یې وویل چي په مسجد کي د خلګو سره حدیث اورئ، د رشېد څخه روایت دی چي هغه د امام مالک رحمة الله علیه څخه پوښتنه وکړل چي ستاسو سرای نسته؟ هغه جواب ورکړ: نه، رشېد هغه ته درې زره دیناره ورکړل او ورته یې وویل چي په دې سرای رانیسه، امام صاحب دینارونه واخیستل او خرڅ یې نه کړل، رشید چي د روانېدو اراده وکړل نو امام صاحب ته یې وویل: تاسو هم زموږ سره ولاړ سئ ځکه چي ما پخه اراده کړې ده چي خلګ پر مؤطا باندي داسي پابند کړم لکه څرنګه چي عثمان رضی الله عنه پر یو قرآن باندي خلګ پابند کړي وه، امام مالک رحمة الله علیه جواب ورکړ: خلګ پر مؤطا باندي مجبورول داسي کار دی چي تاسو ته پر دې قدرت نسته، ځکه چي د رسول الله ﷺ اصحاب د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته په ښارو کي منتشر سوي دي او هغوی حدیثونه بیان کړي دي ځکه د هر ښار والا سره د حدیثو علم دی او د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي زما د امت اختلاف رحمت دی او ستاسو سره تلل خو داسي معامله ده چي ما ته د دې قدرت نسته، د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي مدینه د هغه لپاره غوره ده، کاش چي هغوی ته د دې علم وای، او رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي مدینه کوټ وباسي او ستاسو راکړي دینارونه دادي، موجود دي، که ستاسو زړه غواړي نو بېرته یې واخلئ یا یې پرېږدئ، مقصد دا وو چي ته ما د مدینې پرېښودو لپاره ځکه مجبوره کوې چي تا زما سره احسان کړی دی، زه د رسول الله ﷺ د ښار په مقابله کي دینارو ته ترجیح نه سم ورکولای، امام شافعي رحمة الله علیه وایي: ما د امام مالک رحمة الله علیه پر دروازه د خراسان د اسونو یوه ډله او د مصر د غاترو یوه ګله ولېدل، ما تر دې غوره هیڅکله نه وه لیدلي، ما امام مالک رحمة الله علیه ته وویل: دا څرنګه ښه دي، نو هغه وویل: اې عبدالله! دا زما له خوا ستا دپاره تحفه ده، ما وویل: تاسو هم د ځان دپاره یو څو سپرلئ واخلئ، هغه وویل: ما ته د الله ﷻ څخه شرم راځي چي په دغه مځکه کي چي رسول الله ﷺ موجود دی د یو حیوان په سم سره ومو ړل سي، همدارنګه نامعلوم فضائل د دغه لوړ غره او بحر امواج لپاره مذکور دي.

۱۰۰۷. **نعمان بن ثابت** رحمة الله علیه: دغه امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه دی، نوم یې نعمان وو، د ثابت بن زوطاء زوی او د کوفې اوسېدونکی دی، د حمزه زیات د کورنۍ څخه دی،

نو موړی بزاز وو او د ریشمو د ټوکرانو تجارت یې کوی، د نو موړي نیکه زوطا د کابل وو او د بني تیم الله بن ثعلبه غلام وو، وروسته ازاد کړل سو، دده پلار ثابت مسلمان سو، ځیني خلګ وایي چې هغه هم ازاد وو او هیڅکله غلام سوی نه وو، ثابت خپله په کوچنیوالي د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه په خدمت کي حاضر سو نو حضرت علي رضي الله عنه د هغه او د هغه د اولاد په حق کي د برکت دعاء وکړل، په ۸۰ م هجري کال کي پیدا سو او په ۱۵۰ م هجري کال په بغداد کي وفات سو، د خیزران په هدیره کي دفن سو، په بغداد کي دده قبر مشهور دی، دده په زمانه کي څلور صحابه کرام ژوندي وه: په بصره کي انس بن مالک رضي الله عنه، په کوفه کي عبدالله بن ابي اوفی رضي الله عنه، په مدینه کي سهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه او په مکه کي ابو الطفل عامر بن واصله رضي الله عنه، د امام اعظم رحمة الله علیه لیدنه د هیچا سره ونه سول او نه یې د دوی څخه څه تر لاسه کړل، فقه یې د حماد بن ابي سلیمان څخه تر لاسه کړل او د حدیثو اورېدل یې د عطاء بن ابي رباح، ابواسحاق سبیعي، محمد بن منکدر، نافع، هشام بن عروه، سماک بن حرب او نورو څخه کړي دي، دده څخه عبدالله بن مبارک، وکیع بن جراع، یزید بن هارون، قاضي محمدیوسف، محمد بن حسن شیباني او نورو روایت کړی دی، خلیفه منصور د کوفې څخه بغداد ته منتقل کړ او تر وفات پوري هلته وو، د مروان بن محمد اموي په زمانه کي ابن هبیره د قضاء د ذمه دارۍ پر قبلولو باندي مجبور کول غوښتل مګر ابو حنیفة رحمة الله علیه په سختي سره انکار وکړ، هغه تر لسو ورځو پوري هره ورځ لس دُرې وهی مګر وه یې لېدل چي په هیڅ ډول نه راضي کیږي نو هغه یې پرېښود، کله چې خلیفه منصور، ابو حنیفة رحمة الله علیه عراق ته وبلی نو د قضاء محکمه یې ورکول وغوښتل مګر هغه انکار وکړ، خلیفه قسم وکړ چې تا ته به داسي کول وي، ابو حنیفة رحمة الله علیه هم قسم وکړ چي داسي به هیڅکله نه کوم، د دواړو خواوو څخه په وار وار قسمونه وکړل سول، په پای کي یې امام صاحب بندي کړ او په هم هغه بند کي وفات سو، حکیم بن هشام ویلي دي: په شام کي ما ته د ابو حنیفة رحمة الله علیه په اړه ....یل سول چې ابو حنیفة رحمة الله علیه په امانتدارۍ کي تر ټولو لوی سړی دی، پاچا وغوښتل چي امام صاحب د خزانو د کیلیانو ذمه دار سي کنه نو د دُرو سزا به ورکړل سي مګر هغه د دنیا عذاب د آخرت د عذاب په مقابله کي وزغمی، روایت دی چي ابن مبارک ته د ابو حنیفة رحمة الله علیه په اړه یادونه وسول نو هغه وویل: تاسو د هغه چا یادونه کوئ چي د هغه په وړاندي ټوله دنیا اېښودل سوې ده او هغه د دنیا په پرېښودو سره وتښتېدی، ابو حنیفة رحمة الله علیه د درمیانه قد خاوند وو، غنم

رنګي پر غالبه وه، مخ يې ښکلی، په خبرو کي تر ټولو ښه، ډېر سخي، د خپلو قريبانو او ملګرو ډېر خبري اخيستونکی وو، امام شافعي رحمة الله عليه وايي: امام مالک ته وويل سول چي تاسو ابو حنيفة رحمة الله عليه ليدلی دی؟ هغه وويل: هو، ما داسي سړی ليدلی دی که هغه ستاسو سره ددغه ستني په اړه خبري وکړي چي دا د سرو زرو ده نو يقينا په يو ټينګ دليل سره به يې درته وښيي، امام شافعي رحمة الله عليه وايي: کوم چا ته چي په فقه کي تبحر تر لاسه وي نو هغه د ابو حنيفة رحمة الله عليه د مرستي څخه ماسوا په خپل مقصد کي کامياب کېدای نه سي، امام ابو حامد غزالي رحمة الله عليه وايي: ويل سوي دي چي ابو حنيفة رحمة الله عليه به نيمه شپه تهجد کول، يوه ورځ يو سړی پر هغه لاره تېرېدی نو ده ته په اشاره کولو سره يې بل سړي ته وويل: دا هغه سړی دی چي د الله جل جلاله په عبادت کي ټوله شپه وېښ وي، نو د هغه ورځي څخه به ټوله شپه وېښ وو او وه يې فرمايل: ما ته ددې خبري څخه شرم محسوس کېږي چي خلک زما د عبادت په اړه هغه خبره کوي چي په ما کي نسته، شريک نخعي وايي: ابو حنيفة رحمة الله عليه ډېر ارام او همېشه به په فکر کي ډوب وو او ډېري کمي خبري يې کولې، دا د علم باطني او ديني معاملاتو کي د بوختيا واضحه نښنه ده، ځکه چي کوم چا ته دوه نعمتونه، پټه خوله کېدل او د دنيا څخه بې رغبتي تر لاسه سي نو هغه ته پوره علم تر لاسه کېږي. که چيري موږ د نوموړي د مناقبو او فضائلو تشريح کول پيل کړو نو خبره به اوږده سي او مقصد به د لاسه ورکړل سي، خلاصه دا چي نوموړی عالم، متقي، زاهد، عابد او په علوم شريعت کي امام وو، په دغه کتاب کي موږ دده يادونه کړې ده حال دا چي د ده په واسطه سره يو روايت په دغه کتاب مشکوة کي نسته ځکه مقصد يوازي د نوموړي شان او د کثرت علوم په سبب د نوموړي په نامه او يادونه سره تبرک تر لاسه کول دي.

۱۰۰۸. **محمد بن ادريس شافعي** رحمة الله عليه: دغه امام ابو عبد الله محمد بن ادريس بن عباس بن عثمان بن شافع بن سائب بن عبيد بن عبد يزيد هاشم بن عبد المطلب بن مناف دی، قرشي او مطلبي دی، شافع د ځوانۍ په حالت کي د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ليدنه کړې وه، دده پلار سائب د بدر په غزا کي مسلمان سو، دی د بني هاشم بېرغ پورته کوونکی وو، بندي سو نو په فديه ورکولو سره خلاص سو، او ددې وروسته په اسلام مشرف سو، امام شافعي رحمة الله عليه په غره نامي ځای کي په ۱۵۰ م هجري کال پيدا سو، د دوو کالو په عمر مکې ته راوستل سو، ځيني خلک وايي چي زېږېدنه يې په عسقلان کي سوې ده، او ځيني يمن ښيي. دا هغه کال دی چي په هغه کي ابو حنيفه رحمة الله عليه پيدا سو، ځيني خلک دا هم وايي چي

په هغه ورځ پیدا سو په کومه ورځ چي امام ابو حنیفة رحمة الله علیه وفات سو، امام بیهقي رحمة الله علیه وايي: د زېږېدني د ورځي دغه خصوصیت یوازي په ځینو روایاتو کي مذکور دی، کنه نو په اهل تاریخ کي مشهوره داده چي په دغه کال پیدا سو، محمد بن حکیم وايي: کله چي امام شافعي رحمة الله علیه د مور په نس کي ودیعت کړل سو نو د هغه مور په خوب کي ولېدل چي مشتري ستوری د هغې د نس څخه راووتی او هغه ټوټې ټوټې سو، بیا د هغه برخي په هر ښار کي ولوېدې، یو معبر تعبیر ورکړ چي ستا څخه به یو ستر عالم پیدا کیږي، امام شافعي رحمة الله علیه وايي: ما په خوب کي د رسول الله ﷺ لېدنه وکړل نو ماته یې وفرمایل: اې هلکه! ته څوک یې؟ ما وویل: ستاسو د کورنۍ څخه یم، نو ما ته یې وفرمایل: رانژدې سه، زه ورنژدې سوم نو رسول الله ﷺ د خپلي خولې مبارکي ناړي راواخیستلې، ما خپله خوله خلاصه کړل او رسول الله ﷺ د خپلي خولې مبارکي لعاب زما په شونډو، ژبه او خوله باندي وموښلې او وه یې فرمایل: ولاړ سه، الله دي ستا په ذات کي برکت درکړي، امام شافعي رحمة الله علیه وايي: ما په کوچنیوالي کي رسول الله ﷺ (په خوب کي) په مکه کي د یو ډېر وجیه انسان په شکل کي خلکو ته په مسجد حرام کي پر لمونځ ورکولو باندي ولیدی، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو خلکو ته په مخ کولو سره کښېنستی او هغوی ته یې تعلیم ورکوی، په نژدې کېدو سره ما وویل: تاسو ما ته هم لمونځ راکړئ، نو رسول الله ﷺ د خپل لستوڼي څخه یو ترازو را وایست او ما ته یې راکړ، بیا یې وفرمایل: دا ستا دی، امام شافعي رحمة الله علیه وايي: هلته یو تعبیر کوونکی وو، ما خپل خوب هغه ته ووایه نو هغه وویل: ته به د علم امام یې او ته به پر سنتو باندي قائم یې، ځکه چي د مسجد حرام امام د ټولو امامانو څخه افضل وي، او د ترازو تعبیر دادی چي ته به د شیانو حقیقت ته ورسېږې، خلک وايي چي امام شافعي رحمة الله علیه په پیل کي مسکین وو او کله چي هغه ښوونکي ته وسپارل سو نو د هغه د قریبانو سره معلم ته د تنخواه ورکولو لپاره هیڅ نه وه، معلم به د هغه په تعلیم کي بې فکري کول، مګر کله چي به معلم یو کوچني ته تعلیم ورکوی نو امام شافعي رحمة الله علیه به د هغه د ژبي څخه په وتلو سره یادول، کله چي به معلم د خپل ځای څخه ولاړ سو نو امام شافعي رحمة الله علیه به کوچنیانو ته هغه شیان ور یادول، معلم فکر وکړ نو هغه ته محسوسه سول چي امام شافعي رحمة الله علیه کوچنیانو ته د تعلیم ورکولو په اړه مدرس ته د هغه څخه زیاته ګټه رسوي لکه څرنګه چي د تنخواه په صورت کي هغه د اوس خو معلم د تنخواه غوښتنه پرېښودل،

همدغه د تعليم لړۍ جاري وه او د نهو کالو په عمر کي يې قرآن کريم زده کړ، امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي: د ختم القرآن څخه وروسته زه په مسجد کي داخل سوم او د علماؤ په مجلس کي به کښېنستم، حديثونه او مسائل به مي يادول، زموږ سرای په شعب خيف مکه کي وو، زه دومره غريب وم چي کاغذ مي نه سو رانيولای نو ما به هډوکي راواخيستل او پر هغه به مي ليکل، په پيل کي هغه د فقهي تعليم د مسلم بن خالد څخه تر لاسه کړ، په دغه دوران کي هغه ته معلومه سول چي مالک ابن انس هغه وخت د مسلمانانو امام دی، امام شافعي رحمة الله عليه وايي: زما په زړه کي دا خبره کښېنستل چي زه بايد هغه ته ورسم، نو ما د يو سړي څخه مؤطا عاريتا واخيستل، هغه مي زباني ياد کړل، بيا د مکې والي ته ورغلم او د هغه څخه مي يو خط د مدينې د والي په نامه او بل د امام مالک په نامه واخيست، مدينې ته راغلم او هغه خط مي ورکړ، د مدينې حاکم وويل: زويه! که ته ما د مدينې څخه تر مکې پوري پر پښو تللو باندي مجبور کړې نو دا زما دپاره په نسبت د دغه کار ډېره اسانه خبره ده چي زه د امام مالک دروازې ته ولاړ سم، ما وويل: که د امير رايه وي نو هغه راوغواړئ، امير وويل: دا خو ډېره مشکله ده، کاش چي ته د هغه دروازې ته ورسې او د هغه سره پاته سې، هغه وخت ممکنه ده چي زموږ دپاره هم د هغه دروازه خلاصه سي، بيا هغه پر خپلي سپرلۍ سپور سو او موږ هم د هغه سره وو، يو سړی په مخکي کېدو سره دروازه وټکول، نو يوه توره مينزه راووتل، امير هغې ته وويل: خپل بادار ته ووايه چي زه د دروازې سره يم، هغه دننه ولاړل او ډېر وخت وروسته راغلل، هغې وويل: بادار وايي که څه مسئله وي نو هغه وليکه او را وه يې لېږه، جواب به درکړل سي او که يوه اهمه معامله وي نو تا ته معلومه ده چي پنجشنبه د دغه ډول ضرورت لپاره ټاکل سوې ده، ځکه نو ولاړ سئ، هغه وويل: زما سره په يوه معامله کي د مکې د والي خط دی، هغه دننه ورغلل، او لاس کي يې چوکۍ را اخيستې راووتل او هغه يې کښېښودل، ما وليدل چي امام مالک رحمة الله عليه تشريف راوړئ، ډېر پرهيبت وو، د طيلسان څادر يې پر ځان اچولی وو، والي هغه خط د امام په خدمت کي پيش کړ، کله چي امام مالک رحمة الله عليه دغه جملې ته ورسېدی چي محمد بن ادريس يو شريف سړی دی او دده حال داسي دی نو هغه خط وغورځوی او وه يې فرمايل: سبحان الله د رسول الله صلى الله عليه وسلم علم دغه درجې ته راغلی چي خلک يې د خطو په سفارش تر لاسه کوي، امام شافعي رحمة الله عليه وايي: زه هغه ته ور مخکي سوم او عرض مي وکړ چي الله جل جلاله دي تاسو ته نيکي درکړي زه د عبدالمطلب اولاد يم، زما حالت او قصه داسي او

داسي ده هغه چي زما قصه واورېدل نو تر څه وخته يې ما ته کتل ، امام مالک رحمة الله عليه صاحب فراست بزرگ وو ، بيا يې ما ته وفرمايل: ستا نوم څه دی، ما وويل: محمد، ما ته يې وويل: اې محمد ! د الله جل جلاله څخه بېره کوه، د ګناهو څخه پرهېز کوه ځکه ډېر ژر به ستا شان ظاهر سي، ما وويل: ډېره ښه، بيا يې وفرمايل: الله جل جلاله ستا پر زړه يو وديعت فرمايلی دی هغه د معصيت سره مه يو ځای کوه، بيا يې وويل: کله چي ته راځې نو د ځان سره يو داسي سړی راوله چي مؤطا وواييې، ما وويل: زه به هغه زباني وايم ، بيا د هغه په خدمت کي دوهمه ورځ حاضر سوم او ما قرائت پيل کړ، کله چي به ما د بس کولو اراده وکړل نو هغه به زما قرائت خوښوی او ما ته به يې فرمايل: اې زويه! نور ووايه، تر دې چي په څو ورځو کي ما د مؤطا قرائت مکمل کړ ، ددې څخه وروسته د امام مالک رحمة الله عليه تر وفات پوري زه په مدينه کي مقيم وم، امام شافعي رحمة الله عليه چي به يوه رايه د امام مالک رحمة الله عليه څخه نقل کول نو فرمايل به يې : دا زموږ د استاد امام مالک رحمة الله عليه رايه ده، عبدالله بن امام احمد بن حنبل وايي: ما خپل پلار ته وويل: دغه شافعي کوم سړی دی ځکه زه تاسو اکثر د هغه په حق کي په دعاء کولو وينم، نو هغه وويل: زويه! امام شافعي رحمة الله عليه د ورځي د لمر په ډول وو او د خلګو په حق کي هغه د آمن او عافيت په ډول وو، چي ددغه دواړو قائم مقام يا بدل څوک کيدای سي، ددغه عبدالله وروز صالح بن احمد وويل چي امام شافعي رحمة الله عليه يوه ورځ زما د پلار پوښتني ته راغلی، زما پلار هغه وخت ناروغ وو، صالح وايي : زما پلار را پورته سو د هغه د سترګو په مچولو سره امام شافعي يې پر خپل ځای کښېنوی او خپله ورته مخته کښېنستی، بيا تر يو وخته يې پوښتني کولې ، کله چي امام شافعي رحمة الله عليه ولاړ سو او سپور سو نو زما پلار د هغه رکاب ونيوی او د هغه سره پر پښو ولاړی ، يحيی بن معين چي ددې څخه خبر سو نو هغه وويل: سبحان الله! تاسو د ناروغۍ په حالت کي د هغه سره ولي ولاړ ابست، نو والد صاحب جواب ورکړ، اې ابوزکريا ! که تا د بلي خوا څخه د هغه رکاب نيولی وای نو تا ته به هم ګټې تر لاسه سوي وای، کوم چا ته چي د فقه خواهش وي نو هغه به د هغه د غاتري لکۍ خامخا بويوي، امام احمد بن حنبل وايي: زه يو داسي سړی نه پېژنم چي د هغه نسبت د اسلام سره دومره زيات وي څومره چي د امام شافعي رحمة الله عليه په زمانه کي د امام شافعي رحمة الله عليه وو ، زه د خپلو ټولو لمونځو وروسته د هغه په حق کي د خير دعاء کوم چي اې الله! زما او زما د مور او پلار او امام محمد بن ادريس شافعي مغفرت په برخه کړې، حسين بن محمد زاعفراني وايي: ما

چي کوم کتاب د امام شافعي رحمة الله عليه په مخکي وايه په هغه کي امام احمد بن حنبل خامخا موجود وو، د امام شافعي رحمة الله عليه قول دی چا چي د نفس په عزت سره علم تر لاسه کړ هغه هيڅکله کامياب نه سو مگر چا چي په مفلسۍ او ذلت د نفس او د علماؤ په خدمت سره علم حاصل کړ نو هغه کامياب سو، د دوی وينا ده چي ما هيڅکله د چا سره مناظره ونه کړل نو هغه وخت دا خواهش وسو چي خدای جل جلاله دي هغه ته توفيق ورکړي چي هغه سم سي او د هغه مرسته وکړي او هغه ته د الله جل جلاله رعايت او ساتنه وي او ما هيڅکله د چا سره مناظره ونه کړل مگر دا چي ددغه امر خواهش مي نه وي کړی چي الله جل جلاله حق زما د ژبي څخه واضح کړي يا د هغه د ژبي څخه، يونس بن عبد الاعلی وايي: ما د امام شافعي رحمة الله عليه څخه دا واورېدل چي د يو سړي د شرک څخه ماسوا په لويو گناهو کي اخته کېدل زما په نزد تر دې غوره دي چي هغه د علم کلام په مسائلو کي غور وکړي او ما ته خو قسم په خدای! د اهل کلامو د داسي خبرو خبر سوی دی چي د هغه زه گمان هم نه سم کولای او وه يې فرمايل: کوم څوک چي کلام خپل لباس جوړ کړي نو هغه هيڅکله کامياب نه سو، ابو محمد چي د امام شافعي رحمة الله عليه خريی دی د خپلي مور څخه روايت کوي چي دېر واره مور په يوه شپه کي دېرش واره يا تر دې کم و زيات راتلو نو څراغ د امام شافعي رحمة الله عليه مخته وو، شافعي رحمة الله عليه به په پروت فکر کوی بيا يې مينزي ته آواز کوی چي څراغ راوړه، هغې به څراغ راوړ، څه چي يې ليکل غوښتل هغه به يې وليکل بيا به يې وفرمايل: دا يو سه، د ابو محمد څخه پوښتنه وسول چي د څراغ بېرته ورکولو څخه څه مقصد وو؟ نو هغه وويل: په تياره کي زړه زيات روښانه وي، امام شافعي رحمة الله عليه وفرمايل: په خبرو کي د قوت پيدا کولو دپاره سکوت مرسته کوونکی وي، او د استنباط قوت تر لاسه کولو دپاره فکر په کار راولئ، او دا يې هم وفرمايل چي کوم څوک خپل ورور ته په پټه نصيحت وکړي نو هغه ورسره د اخلاص معامله وکړل او هغه يې سم کړ، مگر کوم څوک چي په څرگنده نصيحت کوي هغه يې بدنام کړ او د هغه سره يې خيانت وکړ، حميدي ويلي دي: امام شافعي رحمة الله عليه په يو دستمال کي د لسو زرو روپو سره مکې ته راغلی، خپله خيمه يې د مکې څخه دباندي ولگول، خلک به ورته راتلل، زه هلته موجود وم، په لږ وخت کي ټولي روپۍ مصرف سوې، اوس امام شافعي رحمة الله عليه په مکه کي داخل سو، مزني وايي: ما د امام شافعي رحمة الله عليه څخه زيات سخي هيڅوک نه دی ليدلی، يو وار د اختر په شپه زه ور سره روان سوم، ما د هغه سره په يوه مسئله کي خبري کولې او د هغه د سرای تر دروازې پوري

ولاړم، هغه وخت يو غلام هغه ته يوه کڅوړه راوړل او وه يې ويل چې بادار تاسو ته سلام ويلی دی او دا يې ويلي دي چې دغه کڅوړه قبوله کړئ، امام هغه کڅوړه واخيستل ، هغه وخت يو سړی راغلی او هغه وويل: اې ابوعبدالله! اوس زموږ کره کوچنی پيدا سوی دی او هيڅ را سره نسته، امام هغه کڅوړه هغه ته ورکړل او خالي لاس په سرای کي داخل سو، د نوموړي فضائل بې شمېره دي ، د ټولي دنيا امام او د مشرق او مغرب په ټولو خلکو کي لوی عالم دين وو ، الله ﷻ د هغه په ذات کي د علومو او فضائلو هغه مقدار يو ځای کړی وو چې نه دده څخه مخکي يو امام ته حاصل سوی دی او نه وروسته، د نوموړي شهرت او يادونه دومره خپره سول چې بل چا ته دغه خبره په برخه نه سول، د مالک بن انس، سفيان بن عيينه، مسلم بن خالد او د دوی څخه ماسوا د ډېرو خلکو څخه يې حديث اورېدلي دي، دده څخه امام احمد بن حنبل، ابوثور ، ابراهيم بن خالد ، ابوابراهيم مزني، ربيع بن سليم مرادي او نورو ډېرو خلکو روايت کړی دی، په ۱۹۵ م هجري کال کي بغداد ته ولاړی ، هلته دوه کاله هستوګن سو او بيا مکې ته ولاړی او څو مياشتي يې قيام وکړ، بيا مصر ته ولاړی او هلته د ماخستن په وخت د جمعې په شپه وفات سو ، په جمعه کي د مازديګر څخه وروسته دفن کړل سو ، د رجب په آخري نېټه په ۲۰۴م هجري کال د ۵۴ کالو په عمر وفات سو ، ربيع وايي: ما د امام شافعي رحمة الله عليه د وفات څخه څو ورځي مخکي په خوب کي وليدل چي آدم عليه السلام وفات سوی دی او خلکو د هغه جنازه پورته کړې ده، په سهار کي ما د ځينو علماؤ څخه ددغه خوب تعبير وپوښتی، نو هغوی وويل: دغه خوب د دنيا تر ټولو لوی عالم مرګ ته اشاره ده ځکه چي الله ﷻ آدم عليه السلام ته علم اسماء ورکړی وو، څو ورځي وروسته امام شافعي رحمة الله عليه وفات سو ، مزني وايي: زه امام شافعي رحمة الله عليه ته په هغه ناروغۍ کي ورغلم چي په هغه کي وفات سو ، ما پوښتنه وکړل چي نن سهار څرنګه وو؟ هغه وويل: زه د دنيا څخه تلونکی يم، د ملګرو څخه جلا کېدونکی يم، د مرګ جام څښونکی او د خپلي بدعملۍ سره يو ځای کېدونکی يم ، او خپل الله ﷻ ته رسېدونکی يم، اوس ما ته معلومه نه ده چي زما روح جنت ته منتقل کيږي چي زه ورته مبارک باد ووايم ، که دوږخ ته چي زه ورسره تعزيت وکړم، بيا يې وژړل او دغه اشعار يې وويل :

شعر:

۱: کله چي زما زړه په قسادت کي اخته سو او زما لاري تنګي سوې نو ما ستا اميد عفو ته رسونکې زينه جوړه کړل، ۲: زما ګناهونه ما ته لوی معلوم سول مګر کله چي ما هغه ته ستا د

عفو په مقابله کي وکتل نو ستا عفوه لویه ثابته سول، ۳: تا ګناهونه معاف کول او د خپلي عفو او مغفرت په سخاوت سره دي پر ما احسان کوی، او زما عزت دي زیاتوی، ۴: که ستا مرسته نه وای نو هیڅ عابد د شیطان څخه هیڅکله خوندي کیدای نه سي او دا ممکن نه ده څکه چي هغه ستا صفي آدم هم د لاري څخه آخوا کړی وو،

احمد بن حنبل رحمة الله عليه وايي: ما امام شافعي رحمة الله عليه په خوب کي ولیدی نو ما ورته وویل: اې وروره! الله جل جلاله ستا سره څه معامله وکړل، هغه وویل: زما مغفرت یې وکړ او یو تاج یې زما پر سر کښېښود، او ما ته یې ښځه راکړل، او ما ته یې وفرمایل: دا د هغه خبري بدله ده چي تا په هغه شیانو باندي کبر ونه کړ چي موږ هغه تا ته درکړي وه، او تا زموږ په درکړل سوو نعمتو باندي تکبر ونه کړ، ټول علماء فقه او اصول و حدیث و لغت و نحو پر دې متفق دي چي امام شافعي رحمة الله عليه ثقه، آمین، عادل، زاهد، متورع، سخي، نیک سیرته او د لوړي مرتبې دی، اوس دده صفتونه چي څومره ذکر کړل سي هغه به پر کوتاهۍ باندي محمول کیږي او څومره خبره چي اوږده سي هغه به مختصره تصور کیږي او بیانونکی به د کوتاهۍ مرتکب وي.

۱۰۰۹. **احمد بن حنبل** رحمة الله عليه: دغه امام ابو عبد الله احمد بن محمد بن حنبل مروزي دی، د بنو شیبان څخه دی، په ۱۴۶م هجري کال په بغداد کي پیدا سو او په ۲۲۳م هجري کال د ۷۷ کالو په عمر په بغداد کي وفات سو، نوموړی په فقه، حدیث، زهد او عبادت کي مقتدی دی، د صحیح اوسقیم، مجروح او معدل معباد دی، په بغداد کي لوی سو او د هغه ځایه یې علم حاصل کړ، د مشائخ حدیث څخه یې حدیث اورېدلي دي، بیا یې د کوفې، بصرې، مکې، مدینې، یمن، شام او جزیرې سفر وکړ، او د هغه زمانې د علماؤ څخه یې حدیث جمع کړل، نوموړي د یزید بن هارون، یحیی بن سعید قطان، سفیان بن عینیه، محمد بن ادریس شافعي، عبدالرزاق بن همام او د دوی څخه ماسوا د نورو ډېرو حضراتو څخه حدیث اورېدلي دي، دده دواړه زامن صالح او عبدالله، او د اکا زوی حنبل بن اسحاق او محمد بن اسماعیل بخاري او مسلم بن حجاج نیشاپوري، ابوزرعه، ابوداؤد سجستاني او د دوی څخه ماسوا ډېرو خلګو دده څخه روایت کړی دی، دا خبره ضروري ده چي د کتاب الصدقات په پای کي د یو بلا ذکر سند حدیث څخه ماسوا امام بخاري رحمة الله عليه دده څخه روایت په خپل کتاب صحیح بخاري نقل نه کړ او احمد بن حسین ترمذي هم دده څخه یو بل حدیث روایت کړی دی، د نوموړي فضائل او مناقب ډېر زیات دی، په اسلام کي دده اثرات مشهور دي، په دین کي دده د مقامات عالیه یادونه ده، د هغه یادونه په آفاق

کي مشهور ده، د هغه تعریف په ټولو هیوادو کي خپور سوی دی. دی په هغه مجتهدینو کي دی چي د هغوی پر قول، رایه او مذهب باندي په ډېرو هیوادو کي عمل کیږي. د اسحاق بن راهویه قول دی چي امام احمد بن حنبل د خدای ﷻ او د هغه د بندګانو په منځ کي پر مځکه دخدای ﷻ حجت دی، امام شافعي رحمه الله په ویل: زه د بغداد څخه روان سوم . ما تر ځان وروسته د امام احمد بن حنبل څخه زیات متقي، متورع ، عالم او فقیه نه پرېښود. احمد بن سعید دارمي وایي: ما هیڅ ځوان د امام احمد بن حنبل څخه زیات د حدیث رسول حافظ او د هغه د معنی او فقه خبردار ونه لیدی ، ابوزرعه وایي چي احمد بن حنبل ته لس لکه حدیث یاد وه ، یو چا پوښتنه وکړل چي تاسو څرنګه معلومه کړل. نو هغه وویل: ما د هغه سره د حدیثو مذاکره وکړل او ډېر ابواب حدیث مي ځیني تر لاسه کړل، ابراهیم حربي وایي: ما احمد بن حنبل ولیدی ، الله ﷻ د هغه په ذات کي هر ډول اولین او آخرین علم جمع کړی وو او هغه ته دومره واک وو چي کومه برخه به یې بیانول غوښتل هغه به یې بیانول، او کوم چي به یې پرېښودل غوښتل هغه به یې پرېښودل، ابوداؤد سجستاني وایي: د هغه مجلس به مجلس آخرت وو، په هغه کي به ددنیا د هیڅ شی یادونه نه وه، محمد بن مسلمه وایي: د حسن بن عبدالعزیز میراث هغه ته د مصر څخه راوړل سو ، هغه یو لک اشرفۍ وې، هغه د امام احمد بن حنبل دپاره درې کڅوړې چي په هري کڅوړې کي زر زر اشرفۍ وې ددغه پیغام سره راواستولې چي دا د حلال میراث څخه وړاندي کوم. تاسو دا قبول کړئ، او په خپله کورنۍ یې مصرف کړې، نوموړي وفرمایل: ما ته ددې ضرورت نسته . زما سره د اړتیا په اندازه مال موجود دی، نو هغه یې بېرته ورکړې. او دهغه څخه یې هیڅ قبول نه کړې، دده زوی عبدالرحمن وایي: د لمانځه وروسته زیات وختونه ما د خپل پلار څخه دا اورېدل چي اې الله! څرنګه چي تا زما مخ د نورو په مخکي د سجدې کولو څخه ساتلی دی همدارنګه زما مخ هم د نورو څخه د سوال کولو څخه خوندي کړې. میمون ابن اصبع وایي: زه په بغداد کي وم ، ما یو آواز واورېدی . نو پوښتنه مي وکړل چي دا څرنګه آواز دی؟ نو خلکو بیان وکړ چي د احمد بن حنبل امتحان کیږي، زه هلته ورغلم . کله چي هغه یوه دُره ووهل سو نو هغه وویل: بسم الله، دوهمه دره چي ووهل سو نو هغه وویل: لاحول ولاقوة الابالله، دریمه دره چي ووهل سو نو هغه وویل: قرآن د الله ﷻ کلام دی مخلوق نه دی، څلورمه دره چي ووهل سو نو دغه آیت (لن یصیبنا الا ما کتب الله لنا) یې وو ایه، همدارنګه نهه ویشت درې ووهل سو، هغه وخت د امام احمد پرتوګ بنې چي د

ټوکر ځخه جوړ وو، پرې سو، د هغه پرتوګ تر نامه لاندې سو، نو امام احمد آسمان ته وکتل او خپلو شونډو ته يې حرکت ورکړ، معلومه نه ده چي څه يې وويل او د هغه پرتوګ پورته سو، يوه اوني وروسته زه هغه ته ورغلم نو ما ورته وويل: ما ته ولېدلې چي تا خپلو شونډي ښورولې، تاسو څه ويل، هغه وويل: ما داسي وويل چي اې الله! زه تا ته ستا د هغه نامه په وسيله سره غوښتنه کوم چي په هغه سره تا عرش پورته کړی دی، تا ته علم دی چي زه پر صحيح لاريم، نو زما پرده مه څرګندوې، احمد بن کندي وايي: ما امام احمد بن حنبل په خوب کي وليدی نو ما پوښتنه ور ځخه وکړل چي الله ﷻ ستاسو سره څه معامله وکړل؟ هغه وويل: زما بخښنه يې وکړل او دا يې وفرمايل چې اې احمد! ته زموږ په معامله کي وهل سوې وې؟ ما وويل: هو، اې پروردګاره! نو وه يې فرمايل: وګوره دا زموږ مخ دی، د هغه لېدنه وکړه، موږ تا ته د ليدني اجازه درکړې ده.

۱۰۱۰. **محمدبن اسماعيل بخاري** رحمه الله: د غه ابو عبد الله محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن مغيره زوی دی، جعفي او بخاري دی، ده ته جعفي ځکه ويل کيږي چي دده نيکه پلار مغيره مخکي د اور عبادت کوونکی وو، يمان د بخاري په لاس مسلمان سوی وو او هغه جعفي د بخارا حاکم وو، ځکه ده ته جعفي او بخاري ويل کيږي ځکه چي هغه دده په لاس اسلام راوړی وو، جعفي د يمن د يوې قبيلې د نيکه نوم دی، جعفي د سعد زوی دی که جعفي ته نسبت وکړل سي نو دغه لفظ د نسبت لپاره هم ويل کيږي، د امام بخاري رحمه الله زېږېدنه د جعې په ورځ په ديارلسمه نېټه د شوال په ۱۹۴م هجري کال کي وسول، او د شوال په اوله نېټه ۲۵۶م هجري کال کي وفات سو، د نوموړي عمر ديارلس ورځي کم ۶۲ کاله وو، نارينه اولاد يې نه وو، امام بخاري رحمه الله د علم حديث په طلب کي د ليري ليري سفر وکړ او د ټولو هيوادو د محدثينو سره يې لېدنه وکړل او په خراسان، جبال، عراق، حجاز، شام او مصر کي يې حديثونه جمع کړل او د سترو حفاظ حديث ځخه يې حديث حاصل کړل، چي په هغوی کي مکي بن ابراهيم بلخي، عبدالله بن موسی، عيسی، ابوعاصم شيباني، علي بن مدينې، احمد بن حنبل، يحيی بن معين، عبدالله بن زبير، حميدي او د دوی ځخه ماسوا نور امامان شامل دي، په ښار کي چيري چي امام بخاري رحمه الله حديث بيان کړل د هغه ځخه ډېرو خلګو حديث تر لاسه کړل، فربري وايي: د امام بخاري کتاب بخاري خپله مصنف د نيوي زره کسانو ځخه واورېدی، اوس د امام بخاري ځخه نقل کوونکي زما ځخه ماسوا ځوک پاته نه دي، امام بخاري چي د مشائخ حديث په خدمت کي

حاضر سو نو هغه وخت د هغه عمر یوازي یوولس کاله وو او د علم طلب یې د لسو کالو په عمر کي وکړ، بخاري فرمايي: ما خپل کتاب بخاري د شپږو لکو څخه زیاتو حدیثونو په انتخابولو سره مرتب کړ، په دې کي چي کوم حدیث مي درج کړ د هغه څخه مخکي مي دوه رکعته لمونځ وکړ ، هغه داهم وايي چي ما ته یو لک صحیح او دوه لکه غیر صحیح حدیثونه یاد دي، د ده په کتاب صحیح بخاري کي د مکرر حدیثونو په شمول اووه زره دوه سوه او پنځه اویا (۷۲۷۵) حدیثونه دي، ویل کیږي چي د مکرر حدیثونو په حذف کولو سره څلور زره حدیثونه پاتیږي، امام بخاري خپل دغه کتاب په شپاړلس کاله کي مرتب کړ ، کله چي امام بخاري بغداد ته ورسېدی او د هغه ځای محدثینو دده خبر وسو نو هغوی یو ځای سول او هغوی سل حدیثونه داسي انتخاب کړل چي د هغه متون او سندونه یې ګډ وډ کړل او د یوه متن حدیث سره د بل متن سند یې ولګوی او د هغه سند یې د بل حدیث سره شامل کړ، لسو کسانو ته یې داسي لس لس حدیثونه ورکړل او هغوی ته وویل سول چي کله د امام بخاري په مجلس کي حاضر سي نو دغه حدیثونه دي د امام بخاري په مخکي ووايي چي د هغه د حفظ حدیث او حفظ سند امتحان واخیستل سي، نو د امام په مجلس کي د محدثینو یوه ډله حاضره سول ، کله چي په اطمینان سره کښېنستل نو د هغه لسو کسانو څخه یو سړی د امام په مخکي حاضر سو او په هغه حدیثونو کي د یوه حدیث په اړه یې د امام څخه پوښتنه وکړل، امام بخاري جواب ورکړ چي زه دا نه پېژنم تر دې چي هغه لس حدیثونه وویل او امام بخاري همدا ویل چي زه یې نه پېژنم، اهل علم د هغه پر انکار کولو باندي پوه سول چي امام بخاري ماهر حدیث دی مګر غیر علماء تر اوسه پوري د امام د واقفیت علم ونه سو ، بیا دوهم سړی حاضر سو او همدارنګه پښتنه سول لکه څرنګه چي مخکي پښتنه سوې وه، تر دې چي لسو کسانو همداسي وکړل، او امام بخاري به یوازي دا ویل چي زه دا نه پېژنم، کله چي ټول کسان د خپلو حدیثونو وړاندي کولو څخه فارغ سول نو امام بخاري اول سړي ته متوجه سو او هغه ته یې وفرمایل : ستا اول حدیث داسي دی او دوهم داسي او دریم داسي ، مطلب لس سره حدیثونه یې په هغه ترتیب وویل او د هغه څخه وروسته د هر متن سره د هغه اصلي سند یو ځای کولو سره ووایه او بیا د پاته نهو کسانو حدیثونه یې هم داسي وکړل، نو هغه وخت ټولو کسانو دده د حفظ اقرار وکړ او ټولو دده د فضل په وړاندي غاړه کښېښته کړل، ابو مصعب احمد بن ابي بکر مدیني وايي: امام بخاري زموږ په خیال کي د امام احمد بن حنبل څخه زیات فقیه او د هغه څخه زیات صاحب

بصیرت دی ، د هغه د مجلس په ملګرو کي یو چا وویل چي ته د حد څخه زیات وړاندي سوې نو ابو مصعب وویل: که ته د امام مالک سره یو ځای سوی وای او د هغه او د امام بخاري مخونه دي لیدلي واي نو خپله به قائل سوی وای چي دواړه فقه او حدیث کي یو ډول دي، امام احمد بن حنبل وایي: خراسان د محمد بن اسماعیل بخاري په ډول شخصیت پیدا نه کړ د هغه قول دی چي د خراسان پر ګلورو کسانو حفظ ختم دی، په هغوی کي یې بخاري هم شمېرلی دی، رجاء بن مزجي وایي چي امام بخاري د علماؤ په مقابله کي هغه فضیلت لري کوم چي نارینوو ته د ښځو په مقابله کي دی، هغه ته یو سړي وویل چي اې ابو محمد! دا څه دي؟ نو هغه وویل: هغه د الله ﷻ د نښو څخه د ځمکي پر سطح ګرځېدونکې یوه نښه ده، محمد بن اسحاق وایي: ما تر آسمان لاندي هیڅوک د محمد بن اسماعیل بخاري څخه زیات د حدیثو عالم نه دی لیدلی، د ابوسعید بن مشیر قول دی چي امیر خالد ابن احمد ذیلي د بخارا حاکم امام بخاري رحمه الله ته پیغام واستوی چي ما ته جامع کتاب او تاریخ راوړي چي زه یې ستاسو څخه واورم، امام بخاري ورته وویل: زه علم نه ذلیل کوم او نه هغه د خلګو دروازو ته وړم، که تاسو ته څه ضرورت وي نو زما مسجد ته راسئ او که تاسو ته دا هر څه ناخوښه وي نو تاسو پاچا یاست ، ما د اجتماع څخه منع کړئ چي د الله ﷻ په مخکي د قیامت په ورځ زما عذر واضح سي، زه خو علم نه پټوم ځکه چي د رسول الله ﷺ ارشاد دی: د کوم چا څخه چي علمي خبره وپوښتل سي او هغه و نه ښیي نو هغه ته به د اور قیزې واچول سي ، نور خلګ بیان کوي چي د بخاري رحمه الله د بخارا څخه د تللو سبب دا وو چي خالد هغه ته درخواست کړی وو چي امام د هغه پر سرای حاضر سي او د هغه کوچنیانو ته تاریخ وښیي. هغه نه ورغلی ، خالد بیا پېغام ور واستوی چي تاسو دومره وکړئ چي زما د کوچنیانو دپاره یو خاص مجلس مقرر کړئ چي په هغه کي د دوی څخه ماسوا نور څوک حاضر نه وي، بخاري دا هم و نه کړل بلکه دا یې وفرمایل چي زه داسي نه سم کولای چي زه خپل مجلس د یو خاص ډلي سره خاص کړم چي نورو خلګو ته دا خصوصیت نه وي، پر دې باندي خالد د هغه خلاف د علماء بخارا څخه مرسته وغوښتل، هغه علماؤ د بخاري پر مذهب اعتراض وکړ نو خالد هغه د بخارا څخه جلا وطنه کړ، امام بخاري د هغوی ټولو خلاف ښېرا وکړل او هغه قبوله سول او په لږ وخت کي هغوی ټول په مصیبتو کي اخته کړل سول .

محمد بن احمد مروزي وایي: زه د رکن او مقام په منځ کي ېده وم، ما رسول الله ﷺ په

خوب کي ولېدی چي وه يې فرمايل: اې ابوزيد! ته به تر کومه پورې د امام شافعي رحمه الله کتاب وايې او زموږ کتاب نه وايې، ما عرض وکړ چې اې د الله رسوله! ستاسو کتاب څه شي دی؟ وه يې فرمايل: د محمد بن اسماعيل بخاري جامع، نجم بن فضل وايي ما رسول الله ﷺ په خوب کي وليدی او محمد بن اسماعيل د رسول الله ﷺ څخه تر شا دی، رسول الله ﷺ چي يو قدم پورته کوي نو امام بخاري هم يو قدم پورته کوي او د رسول الله ﷺ پر نقش قدم خپل قدم ايږدي، يعني د رسول الله ﷺ د نقش اتباع کوي، عبدالواحد بن آدم طواويسي فرمايي: ما رسول الله ﷺ په خوب کي وليدی، د رسول الله ﷺ سره يوه ډله ده، رسول الله ﷺ پر يو ځای باندي ولاړ دی، ما سلام ادا کړ، رسول الله ﷺ جواب راکړ، ما وويل: اې د الله رسوله! تاسو دلته څرنګه پاته ياست؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د محمد بن اسماعيل بخاري په انتظار کي، څو ورځي وروسته موږ د امام بخاري رحمه الله د وفات خبر واورېدی، معلومه سول چي امام بخاري هم هغه وخت وفات سو کوم وخت چي ما رسول الله ﷺ په خوب کي ليدلی وو.

۱۰۱۱. **مسلم بن حجاج** رحمه الله: دغه ابوالحسين امام مسلم دی، د حجاج بن مسلم زوی دی، قشيري او نيشاپوري دی، د حديث د حافظانو او امامانو څخه دی، په ۲۰۴م هجري کال کي پيدا سو او د يکشنبې په ورځ د رجب د مياشتي د ختمېدو څخه شپږ ورځي مخکي په ۲۶۱ م هجري کال کي وفات سو، د عراق، حجاز، شام او مصر سفرونه يې کړي دي، د يحيی بن يحيی، نيشاپوري، قتيبه بن سعيد، اسحاق بن راهويه، احمد بن حنبل، عبدالله بن مسلمه قعنبي او د دوی څخه ماسوا د نورو امامانو او علماء حديث څخه يې حديث حاصل کړل، بغداد ته څو واره راغلی او هلته يې حديث بيان کړل. دده څخه ډېر خلک چي په هغوی کي ابراهيم بن محمد بن سفيان، امام ترمذي او ابن خزيمه شامل دي، روايت کوي، په آخري وار په ۲۵۷م هجري کال کي بغداد ته راغلی، امام مسلم رحمه الله وايي: ما مسند صحيح د درو لکو خپل اورېدلو حديثو څخه په انتخاب کولو سره ليکلی دی، محمد بن اسحاق بن منده وايي: ما د ابوعلي نيشاپوري څخه واورېدل چي هغه ويل: په علم حديث کي تر آسمان لاندي هيڅ کتاب د کتاب مسلم څخه زيات صحيح نسته. خطيب ابوبکر بغدادي وايي: امام مسلم خو يوازي د بخاري پيروي وکړه او د هغه پر علومو يې نظر وکړ. او د هغه پر نقش قدم روان سوی دی، کله چي اما بخاري په آخري وار نيشاپور ته راغلی نو امام مسلم به د هغه سره وو او هغه ته به ورتلی. امام دار قطني وايي: که هلته بخاري نه وای نو امام مسلم ته هلته د تللو او راتللو ضرورت نه وو.

۱۰۱۲. **سلیمان بن اشعث** رحمۃ اللہ علیہ : دغه ابوداؤد سلیمان د اشعث زوی او سجستاني دی، د هغو خلګو څخه دی چي سفرونه یې وکړل او وګرځېدل، او د حدیثو په جمع کولو سره یې کتاب تصنیف کړ، د اهل عراق، خراسان، شام، مصر او جزیرې څخه د روایاتو په اورېدو سره یې ولیکل، په ۲۰۲م هجري کال کي پیدا سو او په څوارلسم شوال په ۲۷۵م هجري کال په بصره کي وفات سو، بغداد ته څو واره راغلی او بیا اخري وار په ۲۷۱ هجري کال د هغه ځایه ووتی، د مسلم بن ابراهیم، سلیمان بن حرب، عبدالله بن مسلمه قعنبي، یحیی بن معین، احمد بن حنبل او د دوی څخه ماسوا د نورو امامانو څخه یې حدیث تر لاسه کړل، دده څخه دده زوی عبدالله او عبدالرحمن نیشاپوري او احمد بن محمد خلال او نور کسان روایت کوي، ابوداؤد په بصره کي هستوګن سو او بغداد ته راغلی او هلته یې خپل تصنیف سنن ابوداؤد روایت کړ، د هغه ځای اوسېدونکو دغه کتاب ځیني نقل کړ او د امام احمد بن حنبل په مخکي یې وړاندي کړ، نو هغه یې په ښه توګه تحسین کړ، ابوداؤد وویل: ما د رسول الله ﷺ څخه نقل سوي پنځه لکه حدیثونه جمع کړل، د هغه څخه ما ددغو حدیثونو انتخاب وکړ چي په دغه کتاب کي مي څلور زره اته سوه جمع کړل، ما صحیح د صحیح، مشابه او د صحیح نژدې درې کوچني ډوله حدیثونه بیان کړي دي، په هغه کي سړي لره د خپل دین دپاره یوازي څلور حدیثونه کافي دي:

۱: د رسول الله ﷺ دغه ارشاد چي د اعمالو دار او مدار په نیتو پوري دی.

۲: د رسول الله ﷺ ارشاد: د سړي د اسلام ښېګڼه داده چي لایعني او پالتو خبري پرېږدي.

۳: د رسول الله ﷺ دغه وینا: سړی تر هغه وخته پوري مؤمن کیدای نه سي تر څو چي هغه د خپل مسلمان ورور دپاره هغه شی خوښ نه کړي کوم چي د ځان دپاره خوښوي.

۴: د رسول الله ﷺ دغه فرمان چي حلال ظاهر دي او حرام هم واضح دي مګر د دواړو په منځ کي مشتبه شیان دي ... ترپایه.

ابوبکر حلال وایي: ابوداؤد په خپله زمانه کي امام وو، دا هغه سړی دی چي دده په زمانه کي هیڅوک په تخریج، علوم معرفت، استخراج او بصیرت کي تر ده مخکي نه سو، صاحب ورع او پیشوا دی، احمد بن محمد وایي: ابوداؤد د اسلام په زمانه کي د حدیث رسول ﷺ حفظ کوونکی او د هغه نقائص او د هغه سند یاد ساتونکو کي یو دی، هغه د اعلی درجې عبادت کونکي، عفیف، نیک او د حدیثو ماهر دی، د ابوداؤد یو لستوڼي پراخ او یو تنګ وو، دده څخه پوښتنه وسول چي الله جل جلاله دي پر تاسو رحم وکړي دا ولي

داسي ده؟ هغه وفرمايل: پراخ لستوڼي د کتابو دپاره دی او د دوهم د پراخ کولو ضرورت نسته، خطابي وايي: سنن ابوداؤد يو شريف کتاب دی، په علم دين کي داسي کتاب نه دی تصنيف سوی، ابوداؤد وايي: ما په خپل کتاب کي هيڅ داسي حديث نه دی درج کړی چي د هغه په پرېښودو باندي د ټولو خلګو اتفاق وي، ابراهيم حربي وايي: کله چي ابوداؤد دغه کتاب تصنيف کړ نو د هغه دپاره حديث داسي نرم کړل سول لکه څرنګه چي د حضرت داؤد عليه السلام دپاره اوسپنه نرم کړل سوې وه، ابن اعرابي د ابوداؤد په اړه وايي: که د چا سره د علومو څخه ماسوا د مصحف څخه چي په هغه کي کتاب الله دی، او بيا د ابوداؤد څخه ماسوا بل هيڅ هم نه وي نو ددغه دواړو کتابو په موجودتيا کي به هغه ته د بل هيڅ علم ضرورت نه وي.

۱۰۱۳. **محمد بن عيسي ترمذي** رحمة الله عليه: دغه ابوعيسی محمد بن عيسی ترمذي دی، په ترمذي کي د دوشنبې په ورځ په ديارلسمه نېټه د رجب په ۲۷۹ م هجري کال وفات سو، يو ستر حافظ حديث دی، په فقه کي يې ښه لاس رسی درلود، د حديثو د امامانو د يوې ډلي څخه يې حديث حاصل کړل، د مشائخ صدر اول سره يې ملاقات وسو لکه قتيبه بن سعيد، محمود بن غيلان، محمد بن بشر، احمد بن منيع، محمد بن مثنی، سفيان بن وکيع، محمد اسماعيل بخاري او داسي نورو ډېرو خلګو څخه يې د حديثو علم تر لاسه کړ، او دهغه څخه ډېرو خلګو حديث تر لاسه کړل چي په هغوی کي محمد بن احمد محبوبي مروزي شامل دی، په علم حديث کي يې ډېر تصنيفات دي او دده کتاب صحيح ترمذي په ټولو کتابو کي ښه کتاب دی، دده په کتابونو کي ترتيب تر ټولو غوره دی او د هغه د ګټې تر ټولو زياتي او تکرار تر ټولو کتابو کم دی، په دغه کتاب کي دوه شيان دي چي په نورو کتابو کي نسته، د مثال په توګه د مذهبو ذکر، د استدلال طرق انواع حديث يعني د حسن، صحيح او غريب بيان، په دې کي جرح او تعديل هم سته، د کتاب په پای کي د کتاب العلل په نامه يوه برخه ده، په دې کي هغه ډېر ښه فوائد جمع کړي دي د هغه مرتبه د هغه چا څخه پټه نه ده چي د هغه څخه خبر سوی وي، ترمذي وايي: ما دغه کتاب ترتيب او د علماء حجاز په مخکي مي وړاندي کړ هغوی د خوښۍ اظهار وکړ، بيا مي د علماء خراسان په مخکي کښېښود هغوی هم خوښ کړ، بيا علماء عراق په مخکي کي وړاندي کړ هغوی هم خوښ کړ، د چا په سرای کي چي دغه کتاب موجود وي نو دا ګڼل پکار دي چي د هغه سره يو نبي موجود دی، چي خبري کوي، په ترمذي کي تاء مکسور او ذال معجمه دی، دا

ترمذي ته منسوب دی او هغه د جیحون سیند پر څنډه باندي د یو مشهور ښار نوم دی.

۱۰۱۴. **احمد بن شعیب نسائي** رحمة الله علیه : دغه ابو عبدالرحمن احمد د شعیب زوی دی، نسائي دی، په مکه مکرمه کي په ۳۰۳ م هجري کال وفات سو او هلته دفن دی، اهل حفظ او صاحب علم او په فقهاؤ کي یو دی هم دی، د لویو لویو مشائخو سره یې ملاقات سوی دی. ده د قتیبه بن سعید، هناد بن سري، محمد بن بشار، محمود بن غیلان، ابوداؤد، سلیمان بن اشعث او نورو مشائخو څخه حدیث حاصل کړل، دده څخه هم ډېرو خلګو چي په هغوی کي ابوالقاسم طبراني، ابوجعفر طحاوي او حافظ ابوبکر، احمد بن اسحاق سني داخل دي، حدیث حاصل کړل، په حدیث، علل او نورو کي دده ډېر کتابونه دي. حافظ مامون مصري وايي: موږ د عبدالرحمن سره طرطوس ته ولاړو. ډېر بزرګان جمع سول او د حفاظ حدیث څخه عبدالله بن احمد بن حنبل او محمد بن ابراهیم او نور کسان هم راغلل او په خپلو کي یې مشوره وکړل چي د شیوخو په مقابله کي د هغوی دپاره کوم سړی تر ټولو زیات مناسب دی، د ټولو اتفاق پر ابوعبدالرحمن نسائي وسو او ټولو د هغه انتخاب وکړ، حاکم نیشاپوري ویلي دي: د ابوعبدالرحمن د فقهي او حدیث په اړه خبري تر دې ډېري زیاتي دي چي د هغه بیان وکړل سي، مګر کوم څوک چي د هغه په کتاب کي غور کوي هغه د کلام په حسن کي حیران پاته سي، هغه وویل: ما د حافظ علي بن عمر څخه څو واره واورېدل چي هغه ویل: ابوعبدالرحمن په خپله زمانه کي د هغه ټولو خلګو څخه مقدم دی کوم چي په دغه علم کي شهرت لرونکي دی، امام نسائي د مذهب د لحاظه شافعي وو، ډېر متقي او د سنتو پیروي کوونکی وو، په نسائي کي پر نون باندي فتحه، سین بېله تشدید او الف ممدوده او همزه دي، دغه لفظ د خراسان یوې سیمې نساء ته منسوب دی.

۱۰۱۵. **ابن ماجه** : دغه ابوعبدالله محمد دی، د یزید بن ماجه زوی دی، د قزوین اوسېدونکی، د حدیثو حافظ او د سنن ابن ماجه مصنف دی، د امام مالک رحمة الله علیه د شاګردانو او لیث څخه یې حدیث اورېدلي دي او دده څخه ابوالحسن قطان او نورو خلګو روایت کړی دی، په ۲۰۹ م هجري کي پیدا سو او په ۲۷۳م هجري کال د ۶۴ کالو په عمر وفات سو.

۱۰۱۶. **عبدالله دارمي**: دغه ابومحمد عبدالله دی، د عبدالرحمن زوی دی، دارمي حافظ حدیث او د سمرقند عالم دی، ده د یزید بن هارون او نضر بن شمیل څخه او دده څخه مسلم، ابوداؤد، ترمذي او نورو روایت کړی دی، ابوحاتم وايي چي دی د خپلي زمانې

امام دی، په ۱۸۱م هجري کال کي پیدا سو او په ۲۵۵م هجري کال کي د ۷۴ کالو په عمر وفات سو.

۱۰۱۷. **دار قطني**: دغه ابوالحسن علي د عمر زوی دی، دارقطني د حدیثو حافظ، امام او مشهور عالم دی، نوموړی د وخت امام او ستر عالم وو، د علوم حدیث او نقائص حدیث واقفیت او د اسماء رجال علم د راویانو معرفت ختم دی، ددې سره د علوم حدیث ماسوا د صدق امانت، اعتماد، عدالت، د عقیدې صحت او د مذهب د سلامتیا او نورو علومو سره ښکلی وو، د مثال په توګه د قرآن علم، د فقهاؤ د مذهبو واقفیت، د حدیثو د علومو پرته، ابوسعید اصطخري څخه یې د فقه شافعي تعلیم حاصل کړ او د هغه څخه یې حدیث هم جمع کړل، په دغه علومو کي علم ادب او شعر هم دي، ابوطیب وایي: دارقطني په حدیث کي امیر المؤمنین دی، هغه د ډېرو خلګو څخه حدیث اورېدلي دي او دده څخه ابونعیم ابوبکر برقاني، جوهري، قاضي ابوطیب طبري او نورو کسان روایت کړی دی، په ۳۰۵ م هجري کال کي پیداسو او د ذي قعده په اتمه نېټه په ۳۸۵م هجري کال کي د چارشنبې په ورځ وفات سو، په دار قطني کي قاف او نون دی، دغه لفظ د بغداد یو پخوانۍ سیمي دارقطن ته منسوب دی.

۱۰۱۸. **ابونعیم**: دغه ابونعیم احمد دی، د عبدالله زوی دی، د اصفهان اوسېدونکی دی، د حلیه مصنف دی، دی د حدیث د باوري مشائخو څخه دی چي د هغه په حدیث عمل کیږي، او د هغه قول ته رجوع کیږي، د ډېري لوړي مرتبې خاوند دی، په ۳۳۴م هجري کال کي پیدا سو او د صفر په میاشت کي په ۴۳۰ م هجري کال په اصفهان کي د ۹۶کالو په عمر وفات سو.

۱۰۱۹. **الاسماعیلي**: دغه ابوبکر دی، نوم یې احمد او د ابراهیم زوی دی، اسماعیلي جرجاني دی، دی امام او دحدیثو حافظ دی، په ده کي حدیث، فقه، اصول، ددین او دنیا سرداري یو ځای ده، ده خپل کتاب صحیح د امام بخاري د ټاکل سوو شرطونو مطابق تصنیف کړی دی، دده څخه دده زوی ابوسعید او د جرجان اهل فقه حدیث حاصل کړل، په ۳۷۷م هجري کال کي پیداسو، عمر یې ۹۴ کاله وو.

۱۰۲۰. **البرقاني**: دغه ابوبکر احمد بن محمد خوارزمي برقاني دی، په خپل ښار کي د ابوعباس بن احمد نیشاپوري او نورو څخه یې حدیث اورېدلي دي بیا جرجان ته ولاړ د اسماعیلي څخه یې حدیث واورېدل، بیا بغداد ته په تلو سره هغه یې خپل هیواد وګرځوی،

هلته يې حديث بيان کړل او باوري ، متقن او فهيم ثبت وو ، خطيب ابوبکر بغدادي وايي: ما په خپل شيوخو کي هيڅوک تر ده زيات ونه ليدی هغه حافظ قرآن، د فقهي ماهر، په علوم عربيه کي، په علم حديث کي دده څو تصانيف دي، په ۳۳۶م هجري کال کي پيدا سو ، او په ۴۲۵م هجري کال کي د ۸۹ کالو په عمر وفات سو ، د جامع منصور په هدېره کي دفن سو ، په برقاني کي باء مسکوره ، ياء مفتوح ، قاف او نون دی .

۱۰۲۱. **احمد سني**: دغه ابوبکر احمد دی، د محمد زوی دی، سني او حافظ حديث دی، د دنيوري امام احمد بن شعيب نسائي او نورو څخه يې حديث روايت کړې دي او دده څخه ډېر خلګ روايت کوي، په ۳۶۴م هجري کال کي وفات سو ، په سني کي پر سين مهمله باندي ضمه او نون مشدده مکسور دی، او ياء تحته مشدده ده .

۱۰۲۲. **بيهقي** رحمة الله عليه: دغه ابوبکر احمد دی، د حسين زوی او بيهقي دی، په حديثو ، د کتابو په تصنيف او د فقهي په خبرتيا کي د خپلي زمانې يوازيني سړی دی، د حاکم ابو عبدالله په لويو شاګردانو کي دی، خلګ وايي چي د حديثو په حافظانو کي اووه کسان داسي تېر سوي دي چي د هغوی تصانيف ډېر ښه دي او د هغوی څخه خلګو ډېره ګټه تر لاسه کړه او هغه دادي :

۱: امام ابوالحسن علي بن عمر دار قطني .
۲: حاکم ابو عبدالله نيشاپوري .
۳: حافظ مصر ابو محمد عبدالغني ازدي .
۴: ابونعيم احمد بن عبدالله اصفهاني .
۵: حافظ مغرب ابو عمر بن عبدالبر .
۶: ابوبکر احمد بن حسين بيهقي.
۷: ابوبکر احمد بن خطيب بغدادي .

بيهقي په ۳۸۴ م هجري کال کي پيدا سو او په نيشاپور کي د جمادي الاولی په مياشت د ۷۴ کالو په عمر وفات سو .

۱۰۲۳. **محمد بن ابي نصر حميدي** : دغه ابوعبدالله محمد دی، د ابونصر فتوح بن عبدالله زوی دی، د اندلس اوسېدونکی او حميدي دی، د کتاب الجمع بين صحيح البخاري ومسلم مصنف دی، نوموړی امام، ستر او مشهور عالم دی، په خپل هيواد کي يې د حديثو اورېدل کړي دي او په مصر کي د مهندس د شاګردانو څخه دی، په مکه کي د

ابن فراس د شاگردانو اونورو څخه او په شام کي د ابن جميع د شاگردانو اونورو خلکو څخه يې حديث اورېدلي دي، بغداد ته راغلی نو د دارقطني د شاگرانو اونورو کسانو څخه يې حديث واورېدل، تاريخ اهل اندلس هم دده تصنيف دی، امير بن ماکولا وايي: ما دده په ډول بې عيبه، عفيف او متورع انسان نه دی ليدلی، په بغداد کي د ذي الحجې په مياشت په ۴۸۸ م هجري کال کي وفات سو، د ۴۲۰ م هجري کال څخه مخکي پيدا سوی دی.

۱۰۲۴. **خطابي** رحمة الله عليه: دغه امام ابو سليمان احمد د محمد زوی دی، خطابي او بستي دی، په خپله زمانه کي څرگند وو، چي هغه ته په گوتو سره اشاره کېدل، ستر عالم، د فقه، حديث، ادب په معرفت کي يوازينی وو، دده مشهور تصنيفات او عجيبه مؤلفات دي لکه معالم السنن، غريب الحديث او داسي نور.

۱۰۲۵. **ابومحمد حسين بغوي** رحمة الله عليه: دغه فقيه ابو محمد حسين دی، د مسعود زوی دی، بغوي او شافعي دی، د کتاب مصابيح، شرح السنه او د فقهي کتاب التهذيب او تفسير کتاب معالم التنزيل مصنف دی، دده نور هم ښه تصنيفات سته، د فقه او حديثو امام وو، ډېر متورع، معتمد عليه، حجت او په دين کي صحيح عقيده لرونکي انسان وو، د پنځمي هجري پيړۍ څخه وروسته په ۵۱۶م هجري کال کي وفات سو، په بغوي کي باء مفتوح، غين معجمه مفتوح دی، د خراسان ښار بغشور ته يې نسبت دی، دغه نسبت د قاعدې خلاف دی، ويل کيږي چي ددغه ښار نوم بغ دی.

۱۰۲۶. **رزين بن معاويه** رحمة الله عليه: دغه ابو الحسين رزين د معاويه زوی دی، حافظ حديث او د التجريد في الجمع بين الصحاح مصنف دی، د ۵۲۰ م هجري کال څخه وروسته وفات سو.

۱۰۲۷. **مبارک بن محمد جرزي**: دغه ابو السادات مبارک د محمد زوی دی، جرزي دی، د ابن اثير په نامه سره مشهور دی، د جامع الاصول، مناقب الاخيار او نهايه مصنف دی، محدث، عالم او د لغت ماهر وو، د سترو امامانو څخه دی، د ډېرو خلکو څخه يې روايت کړی دی، مخکي په جزيره کي وو، بيا په ۵۱۵ م هجري کال کي موصل ته منتقل سو او هلته هستوگن وو، د حج په اراده بغداد ته راغلی بيا موصل ته بېرته ولاړی او هلته د پنجشنبې په ورځ د ذي الحجې په آخري نېټه په ۶۰۶ م هجري کال کي وفات سو.

۱۰۲۸. **ابن جوزي** رحمة الله عليه: دغه ابو الفرح عبد الرحمن دی، د علي بن جوزي زوی دی، حنبلي المذهب او په بغداد کي واعظ وو، دده څو مشهور تصنيفات دي، په ۵۱۰ م هجري کال کي پيدا سو او په ۵۹۷ م هجري کال کي وفات سو.

۱۰۲۹. **امام نووي** رحمة الله عليه : نوموړی ابوزکریا محي الدین یحیی او د شرف زوی دی، نووي د خپلي زماني امام، عالم، فاضل، صاحب ورع، فقیه، محدث، مثبت او حجت دی، دده ډېر تصنیفات او عجیبه تالیفات دي، په فقه کي الروضه، په حدیث کي الریاض او الاذکار، په شرح حدیث کي شرح مسلم او ددې څخه ماسوا معرفة علوم الحدیث واللغة په ډول کتابونه دده د تصنیفاتو څخه دي، نوموړي د لویو مشائخو څخه او دده څخه ډېرو خلګو حدیث اورېدلي دي، د شرح مسلم او الاذکار د روایت اجازه یې ټولو مسلمانانو ته ورکړل، دی دد مشق په یو کلي نوي کي هستوګن وو، هلته لوی سو او ټول قرآن یې یاد کړ، په ۶۵۰ م هجري کال د مشق ته راغلی، هغه وخت یې عمر ۱۹ کاله وو، دلته فقیه سو او پرمختګ یې وکړ، دده ژوند ډېر غریبانه وو، یوازي په قوت الایمان باندي یې قناعت کوی، د جذباتو او خواهشاتو څخه جلا وو، په خوف خدا او عبادت کي به بوخت وو، حقه خبره به یې بې بېري بیانول، د شپې به زیات وخت وېښ وو او په علمي کارو کي به بوخت وو، د رجب په میاشت کي په ۶۷۶ م هجري کال وفات سو، په نوي کي دده قبر دی، ۴۵ کاله ژوندی وو، مؤلف رحمة الله عليه وایي: دده یادونه د کتاب په آخر کي راغلې ده لکه څرنګه چي دده نوم د حروفو په پای کي دی.

یوه بله خبره کول غواړم، ما چي څه وړاندي کړي دي په هغه کي مي یوازي د باور وړ کتابو باندي باور کړی دی لکه د عبدالبر کتاب استیعاب د ابونعیم اصفهاني حلیة الاولیاء، د ابوالسعادات جزري جامع الاصول او مناقب الاخیار، ابوعبدالله ذهبي او دمشقي کتاب کاشفین، د جمعې مبارکي په ورځ د رجب د میاشتي په شلمه نېټه په ۷۴۰ م هجري کال کي ددغه کتاب د تصنیف، مضامینو جمع کولو او ترتیبولو څخه فارغ سوم.

زه د الله جل جلاله تر ټولو کمزور، د خدای جل جلاله د عفو او د هغه د مغفرت امیدلرونکی بنده خطیب محمد بن عبدالله بن محمد یم، دا هرڅه زما د شیخ او آقا مفسرین، سرتاج محققین، د دین او ملت عزت، پر مسلمانانو باندي د خدای جل جلاله قائم سوی حجت، حسین بن عبدالله بن محمد طیبي په مرسته او اعانت سره پوره سول، ما د مشکوة په ډول دغه کتاب هم د خلګو په وړاندي پیش کړ، هغوی د مشکوة په ډول ددغه کتاب تحسین هم وکړ او ډېر یې خوښ کړ.

تمت بالخیر